بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه في الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب ‹ ابو زهير سيف الله غفرله

٤

مكتبه محمديه

بيرون كنج گيټ سنګل ماركيټ پېښور

بسم الله الرحمن الرحيم

من يرد الله به خيرا يفقهه فى الدين (الحديث)

الحق الصريح

پښتو شرح

مشكوة المصابيح

تاليف:

فضيلة الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله

جمع وترتيب ابو زهير سيف الله غفرله

په دې جلد کښې (۲۶۲) احاديثو تشريح شوې ده

٤

مكتبه محمديه

بيرون کنج گيټ منګل مارکيټ پېښور

د كتاب نوم ———— الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح پښتو

د مؤلف نوم ———— الشيخ العلامه ابو محمد امين الله البشاورى حفظه الله

جَمعه وترتيب ———— ابو زهير سيف الله

تعداد ———— ايك هزار نسخے

سنه طباعت ———— ١٤٢٩هـ ربيع الثانى موافق : ٢٠/٤/٢٠٠٨ء

فن ———— الحديث

اخراج ———— ابو سلمان حضرت محمد

ناشر ———— مكتبه محمديه كنج پيښور

مكتبه محمديه

بيرون كنج گيټ پهندو روډ منګل ماركيټ پيښور

مدير : ولى الله

موبائل نمبر : 03018828402



باب صفة الصلاة

مناسبت : مخکښې فرائض خارجيه بيان شو چه هغې ته د مانځه شروط وئيل کيږي اوس دلته فرائض داخليه بيانوي سره د کيفيت او طريقې د مانځه نه۔

د صفت او وصف فرق :

د صفت او وصف په مابين کښې په نزد د اهل عربيه ؤ باندې فرق نشته ځکه «صِفَةٌ» لفظ په اصل کښې «وَصُفٌ» دې لکه د « وَعُدٌ او عِدَةٌ » پشان د مصدر صيغه ده۔

٢– او په نزد د متکلمينو د دواړو ترمينځ فرق دې، او هغه دا چه وصف وائي : «ذکر ما في الموصوف من الصفة» يعني په يو موصوف کښې چه کوم صفات وي د هغې بيانولو ته وصف وائي لکه آيت کښې دي : ﴿ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ﴾ اى ببيانهم يا ﴿ وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ اَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ ﴾ اى مَا تُبَيِّنُ ۔ نو وصف په معنىٰ د بيان دې، او صفت هغه کمالات او صفاتو ته وائي چه په موصوف کښې موجود وي «اى ما تکون في الشيئ او ما قام بالغير»۔ او دلته صفت په معنى د کيفيت او طريقې دې۔

او دصفة الصلاة نه مراد هغه هيئت دې چه حاصل وي مانځه ته د ارکان، فرائض، واجبات او سنن او مستحبات نه او دا صفت بيا شامل دې فرائض، واجبات، سنن او مستحباتو ته يعنى اجزاءِ داخليه د مانځه چه هغه به کله په درجه د فرضيت او وجوب کښې وي او کله به په درجه د سنيّت کښې وي او کله به مستحب وي او ځانله فرائض نه دي مراد۔

او ددې نه مراد هغه طريقه د مانځه ده چه کله انسان هغه اوکړي نو ذمه ئې فارغه کيږي او واجب ورنه ساقطيږي، خو کله ئې چه د شرائط او ارکان او واجباتو سره ادا کړي۔

١– عَنْ اَبِى هُرَيْرَةَ ﷺ : اَنَّ رَجُلاً دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ جَالِسٌ فِى نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ، فَصَلّٰى، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «وَعَلَيْكَ السَّلَامُ، اِرْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ». فَرَجَعَ فَصَلّٰى، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ. فَقَالَ : «وَعَلَيْكَ السَّلَامُ، اِرْجِعْ فَصَلِّ

فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ » ، فَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ – أَوْ فِي الَّتِي بَعْدَهَا – عَلِّمْنِي يَارَسُوْلَ اللهِ! فَقَالَ : « إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوْءَ، ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ، فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَسْتَوِيَ قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ جَالِساً». وَفِيْ رِوَايَةٍ : « ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَسْتَوِيَ قَائِمًا، ثُمَّ افْعَلْ ذٰلِكَ فِيْ صَلَاتِكَ كُلِّهَا». متفق عليه۔

ترجمه : ابو هريره ﷛ نه روايت دے فرمائي چه يو سړے مسجد ته داخل شو او رسول الله ﷺ د مسجد په يو ګوټ کښې ناست وو (نوده اول) مونځ اوکړو (چه د تعديل د ارکان او قومه او جلسے رعايت ئې اونه کړو) بيا د رسول الله ﷺ خواته راغلو په هغه باندے ئې سلام اوکړو. رسول الله ﷺ ورته د سلام جواب ورکړو (وعليك السلام ، ورته ئې اوفرمايل) : واپس لاړ شه او بيا مونځ اوکړه ځکه چه تا مونځ نه دے کړے، هغه لاړو او (د مخکنی حالت په شان) مونځ ئې اوکړو، او د رسول الله ﷺ خواته راغلو سلام ئې اوکړو، هغه د سلام جواب ورکولو سره ورته اوفرمايل : واپس شه بيا مونځ اوکړه ځکه تا مونځ نه دے کړے (دغه شان کار درے ځل اوشو) په دريم يا څلورم کرت دا شخص راغلو عرض ئې اوکړو اے د الله رسوله ! ماته اوښايه (چه زهٔ مونځ څنګه اوکړم؟) نبی عليه السلام اوفرمايل : کله چه ته د مانځه اراده اوکړے نو (اول) (ښه طريقے سره) کامل اودس اوکړه بيا قبلے طرفته مخ کړه او الله اکبر اووايه، بيا د قرآن کوم سورت چه تا ته آسان وی هغه اووايه بيا اطمينان سره رکوع اوکړه بيا سر پورته کړه تردے چه سيده اودريږے بيا په اطمينان سره سجده اوکړه بيا سر پورته کړه تردے چه په اطمينان سره کينے بيا (دويمه) سجده اوکړه بيا سر پورته کړه تردے چه په اطمينان سره کينے (يعنی جلسه د استراحت اوکړه) او په يو روايت کښې دی : بيا سر پورته کړه او سيده اودريږه بيا په خپل تمام مونځ کښې داسے کوه ۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : دا حديث د شهور دے په " حديث المسيء صلاته " يا " حديث مسيء الصلاة " سره يعنی هغه صحابی چه مونځ کښې ئې خطائی کړے وه ۔ دا يو عظيم الشان حديث دے ۔ علامه ابن العربیؒ په شرح د ترمذی عارضة الاحوذی کښې ليکی چه پدے کښې څلويښت مسئلے دی او بيا ئې هغه بيان کړيدی۔

او دا حديث په مختلف الفاظو سره نقل دے ټول به جمع کولے شی ۔

بيا بعض علماؤ پدے حديث کښې دا **قاعده** وئيلے ده چه پدے کښې څه احکام ذکر دی نو دا به ټول واجب او فرض وی او دے کښې چه کوم احکام نه وی ذکر هغه به فرض نه وی ، وجه دا ده چه نبی عليه السلام پدے کښې احکام ذکر کړيدی په صيغه د امر باندے او امر د نبی عليه السلام د

فرضيت دپاره وى او كوم احكام چه پدے كښ نه دي ذكر هغه ځكه فرض نه دى چه دا مقام د تعليم دے، نبى عليه السلام دے صحابى ته د واجباتو تعليم وركوى نو كه پدے كښ بعض واجبات پريدى او بعض ذكر كړى نو بيا به تاخير د بيان راشى د وقت د حاجت نه او دا خو بالاجماع جائز نه ده ليكن دے سره دا خبره زياتوى چه دا خبره به هله وى چه د حديث ټول طرق او الفاظ به راجمع كوى نو كوم كښ چه زيادت راغلے وى په هغے باندے به هم عمل كولے شى لكه هغه زيادات علامه شوكانیؒ په نيل الاوطار (۲/۲۹۴) باب السجدة الثانية ولزوم الطمانينة فى الركوع والسجود الخ كښ جمع كړيدى ـ او هغه دا دى : د اوداسه نه بعد شهادتين وئيل (يعنى دعاء وئيل) تكبير الانتقال، سمع الله لمن حمده (تسميع) وئيل ، اقامت وئيل،قرائة الفاتحة ، وضع اليدين على الركبتين حال الركوع، مد الظهر، تمكين السجود، جلسة الاستراحة ، فرش الفخذ، التشهد الاوسط، الامر بالتحميد والتكبير والتهليل والتمجيد عند عدم استطاعة القراء ة ـ

بيا فرمائى : كه ددے حديث نه ماسوا بل حديث كښ قوى دليل موجود شو ددے په خلاف باندے او ددے د وجوب معارض وو نو په هغه حديث باندے به عمل كولے شى ـ

او كه بل حديث كښ صيغه د امر راغله په يو بل حكم باندے چه پدے حديث كښ هغه نه وى ذكر نو بيا به تاريخ ته ګورو كه هغه صيغه د امر ددے حديث نه مقدم وه نو دا حديث به قرينه صارفه شى ددے دپاره چه دغه صيغه د امر د ندب او استحباب دپاره ده نه د وجوب دپاره ځكه د نبى عليه السلام پدے حديث كښ هغه صيغه د امر نه ذكر كول لوئى دليل دے ددے خبرے چه هغه صيغه د امر د وجوب دپار نه ده ځكه كه د وجوب دپاره وے نو دلته به ئے دے صحابى ته ذكر كړى وے ځكه تاخير د بيان د وقت د حاجت نه جائز نه دے او كه هغه صيغه د امر ددے حديث نه روستو وى نو بيا به عمل په هغه روستنى حديث وى ځكه چه واجبات شرعيه او احكام به وقت په وقت روستو نازليدل او فرض كيدل به، ټول په يو ځل باندے ندى فرض شوى، ځكه كه داسے شى نو بيا به ټول واجبات شرعيه صرف په پنځو كښ منحصر شى كوم چه په حديث د ضمام بن ثعلبهؓ وغيره كښ راغلىٰ دى چه هغه صلاة، صوم، حج زكات او شهادتين دى ځكه هغه هم په مقام د سؤال او تعليم د واجباتو كښ وئيلے شويدے او كه تقدم او تأخر نه وو معلوم نو دا بيا محل د اشكال او احتمال دے ـ نو بيا به اصل براء ت او عدم وجوب وى مګر كه يو دليل موجود شى په انتقال د اصل باندے نو بيا به هغے باندے عمل كيږى۔

او دا خبره خو يقينى ده چه كوم دليل مفيد د زيادت وى په او دے حديث د مسىء الصلاة كښ نه وى او تقدم او تاخر د تاريخ نه وى معلوم نو دا قابل د استدلال نه دے په وجوب باندے ـ

بيا علامه شوكانیؒ وائى : دا تفصيل ضرورى دے او ددے تفصيل مراعات نكول خروج دے د اعتدال نه افراط او تفريط ته ـ نو كوم خلق چه دا وائى ټول واجبات په دے حديث د مسىء

الصلاة کښې ذکر دی او نور نشته نو دا د شریعت احکام بندول دی او هغه فرائض رد کول دی کوم چه ددې حدیث نه روستو راغلي دی په خپل خپل وقت کښې، او د شارع منع کول دی د نورو احکامو د فرض کولو نه او دا خو باطل دی ـ

او کوم خلق چه بغیر د تفصیل نه دا وائي چه پدې حدیث کښې چه څه ذکر دی دا ټول واجب او فرض دی دا هم صحیح نه ده څکه چه پدې کښې هم تفصیل دې، بعض اقوال او افعال په درجه د فرضیت کښې نه دی لکه جلسه د استراحت او داسې نور څیزونه واجب او فرض نه دی ـ نو صحیح خبره دا راووتله چه دا لازمه نه ده چه په یو حدیث کښې دِ ټول فرائض ذکر وی بلکه دلته بعض فرائض ذکر دی د موقع او محل مناسب دې بیانولو ته ضرورت او حاجت وو څکه چه دا اعرابي په بعض احکامو کښې خطاء کیدو چه هغه تعدیل د ارکانو ئې سم نه کول نو څکه ئې ورته دغه مختصر مونځ ذکر کړو او ټول فرائض ئې ذکر نه کړل ـ که ته سوال اوکړې چه دا مقام د بیان دې او تاخیر د بیان د مقام د حاجت نه جائز نه دې نو معلومه شوه چه څومره احکام پدې حدیث کښې دی بس همدا به فرض وی نور به نه وی ؟ ـ

نو ددې **جواب** دا دې چه جهالت په دوه قسمه دې ١ – یو جهالتِ محضه دې ٢ – دویم جهالت ببعض الاحکام دې ـ په جهالت محضه کښې به د حکم ټول اجزاء او فرائض ذکر کولې شی دې دپاره چه انسان د ټول حکم په پوره حقیقت پوهه شی ـ

او کله چه جهالت په بعض احکامو وی نو هلته بقدر الحاجت بیان کیدې شی نو دلته دا سړې په باقي احکامو پوهیدلو خو صرف تعدیل د ارکان ئې برابر نه کول نو ددې وجې نه ورته مختصر مونځ بیان شو چه په هغې کښې تعدیل د ارکان اوخودل شو ـ نو پدې کښې تاخیر د بیانِ د وقت د حاجت نه نشته بلکه حاجت صرف د تعدیل الارکان بیانولو ته وو او هغه بیان شو ـ

بله وجه دا ده چه که پدې حدیث کښې ټول احکام فرض اوګڼړلې شی نو پدې کښې حدیث په بعض روایاتو کښې خو جلسه د استراحت هم ذکره او هغه خو بالاتفاق فرض نه ده بلکه مستحب ده لکه ددې مسائلو تفصیل روستو راروان دې ان شاء الله ـ

فائده : حافظ ابن القیمؒ په جلاء الافهام (١٩٢) کښې ددې حدیث متعلق یوه ښه خبره لیکلې ده هغه فرمائي : پدې حدیث د مسیئ الصلاة باندې متأخرینو په هر څه کښې استدلال کړیدې نو چا چه د فاتحې وجوب نفي کړیدې هغه پدې باندې استدلال کړیدې او چا چه وجوب د تسلیم او صلاة علی النبي نفي کړیدې هغه هم پدې حدیث استدلال کړیدې او چا چه وجوب د اذکار الرکوع والسجود نفي کړیدې هغه هم پدې استدلال کړیدې او چا چه د تکبیرات الانتقالات وجوب نفي کړیدې هغه هم پدې استدلال کړیدې (کل هذا تساهل واسترسال في الاستدلال) یعني دا ټول آساني او چشم پوشي ده په استدلال کښې (یعني لنډ څان خلاص کړی

چه دا كارونه څكه فرض او واجب نه دى چه په حديث د مسيء الصلاة كښې ندى ذكر) او چه حقيقت نه اوكتلې شي نو پدے حديث كښې نفى د وجوب د دے يو شى هم نشته بلكه غايه ددے به دا وى چه دے حديث كښې سكوت دے ددغه شيانو د وجوب او د نفى د وجوب نه نو ددغه شيانو په نورو دلائلو باندے واجبول معارض دى ددے حديث سره (دهغې هر يو دپاره خپل دلائل د وجوب شته نو پدے حديث كښې هغه نه ذكر كيدل نفى د وجوب نكوى)۔

تحقيق الالفاظ : اَنَّ رَجُلاً : ددے رجل نوم خلاد بن رافع ﷺ وو چه د رفاعه بن رافع رضى الله عنه ورور دے لكه دا په روايت د ابن ابى شيبه كښې بيان شويدے ۔

فَصَلّٰى : په روايت د نسائى كښې په حديث د رفاعه بن رافعؓ كښې راغلى دى چه دوه ركعاته ئے اوكړل ۔ بيا ظاهر دا ده چه دا نفل مونځ وو او تحية المسجد وو او په روايت د ابن ابى شيبه كښې ورسره داسے الفاظ دى : «دخل رجل فصلى صلاةً خفيفة لم يتم ركوعها ولا سجودها» نو ددے نه دده خطائى معلومه شوه چه دا صرف په تعديل د اركانو كښې خطاء شو چه ركوع او سجده او قومه او جلسه ئے پوره طريقے سره نه كوله۔

ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ : پدے كښې دا حق د الله تعالى مخكښې كړو په حق د رسول الله ﷺ چه اول ئے د الله دپاره مونځ اوكړو او بيا د نبى عليه السلام خواته راغلو سلام ئے واچولو او د الله حق مقدم دے د مخلوق په حق باندے لكه دا د ملاقات ادب هم دے ۔

فائدة نادرة : سلام اچول په ذاكرينو باندے هم شته دا حديث ئے دليل دے څكه نبى عليه السلام به يا ذكر كولو يا به ئے تعليم او تعلم كولو او پدے ټولو حالاتو كښې سلام اچول پكار دى ۔

وَعَلَيْكَ السَّلَامُ : دا صيغه د جمع هم راغلې ده وعليكم السلام او مفرد صيغه هم، دواړه جائز دى ۔

اِرْجِعْ فَصَلِّ : يعنى دوباره مونځ ته واپس شه لكه دا په روستو حديث د رفاعةؓ كښې راځى (فاعد صلاتك)۔ مونځ بيا اوكړه ۔ بيا دا لازم نه ده چه په هغه مخكنى ځائے كښې به مونځ كوى، بلكه دلته ئے واپس كړو دے دپاره چه د خلقو نه وړاندے مونځ په توجه سره اوكړى او د خلقو په خبرو سره مشغول نه شى۔

فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ : دلته نفى د صحت د مانځه اوشوه او نفى د صحت سره نفى د حقيقت او ذات راځى معنى دا ده چه تا د مانځه حقيقت او ذات ندے ادا كړے څكه دِ مونځ ندے صحيح او پدے كښې نفى د كمال نه ده څكه اصل په نفى كښې دا ده چه ذات دِے منفى كړى ۔ دارنګه كله چه حقيقت منتفى شى نو دغه نفى ګرځولے شى ټولو صفاتو ته نو ګويا كښې هيڅ صفت د مانځه صحيح نه شو ۔ **قاضى** عياضؒ فرمائى : دا حديث دليل دے چه جاهل انسان كله په يو عبادت كښې څه افعال په بے علمئ او جهالت سره اوكړى نو هغه عبادت به جائز او صحيح نه وى څكه دلته نفى د حقيقت شويده په نفى د بعض افعالو ۔ او ددے تحقيق روستو راځى۔

بیا دلته **دوه مسئلې** دي ۱ – یو دا چه بار بار ئے ولے واپس کړیدے ددے څه حکمت دے چه ابتداءً ئے ورته تعلیم ورنکړو؟ نو ددے یو څو حکمتونه دي :

۱ – اول دا چه ده ځان محتاج اونه ګڼړلو بلکه ځان ورته عالم ښکاره شو ددے وجے نه ئے تپوس اونکړو ۔ دیته بعض شارحین وائی : "په خپل علم او پوهه ئے ناز اوکړو" نو هر کله چه هغه تپوس اونکړو نو نبی علیه السلام ورته تعلیم کښ تاخیر اوکړو ځکه هغه له پکار وو چه ابتداء کښ ئے تپوس کړے وے چه یا رسول الله ما څه خطائی اوکړه، زه نه پوهیږم ۔ او روستو ئے ځان محتاج اوګنړو نو ځکه ئے ورته تعلیم هم ورکړو نو زجراً او تادیباً ئے تاخیر سره تعلیم ورکړو۔

لیکن دا وجه صحیح نه ده بلکه کمزورے ده ځکه دا صحابی ډیر ادبناك وو چه اتباعاً بغیر د چون وچرا نه بار بار واپس شو۔

۲ – دویم بار بار ئے پدے وجه واپس کړو چه دا پخپله تپوس اوکړی او علم زده کولو ته ځان تیار کړی نو دا تعلیم به اوقع فی الذهن شی او که ابتداءً تعلیم ورکړی نو متوجه به نه وی نو په خبره به دومره پوهه نشی او د نبی علیه السلام طریقه دا وه چه هغه به خپل مخاطب ځان طرفته متوجه کولو بیا به ئے تعلیم ورکولو ۔

۳ – علامه مازریؒ فرمائی : شاید چه دے سړی دا غلطی نسیاناً یا غافلًا کړی وی نو بار بار واپس کولو سره کیدے شی دے بغیر د تعلیم ورکولو نه خپل اعمال او افعال دُربست کړی او مونځ صحیح اداء کړی نو پدے وجه رسول الله ﷺ اولًا سکوت اختیار کړو نو دا من باب التقریر علی الخطاء نه دے بلکه من باب تحقیق الخطاء دے او دغه شان جواب امام نوویؒ په شرح مسلم (۱۷۱/۱) کښ هم ذکر کړیدے۔

علامه ابن الجوزیؒ فرمائی : تاکیداً لامر الصلاۃ یعنی د صلاۃ د معاملے د اهمیت او تعظیم او تفخیم د وجه نه ئے بار بار واپس کړو ځکه چه مونځ دومره اهم شے دے چه لګ نقصان سره هم خرابیږی نو دوباره کول ئے پکار دی او وقت هم باقی پاتے دے۔

٤ – بعض احناف وائی : چه په ترك د تعدیل الارکان سره کله چه په سهوه طریقے سره ترك شی هم سجده سهو واجبیږی نو ده چه کله طمانینت اولًا ترك کړو نو دا احتمال وو چه ده سهواً ترك کړی وی نو نبی علیه السلام واپس کړو چه دے به سجده سهوه سره د دغه نقصان تلافی او تدارك اوکړی، لیکن هغه ته خو سجده سهوه نه وه معلومه او تپوس ئے هم نه کولو نو ددے وجه نه ئے ورته په اعاده د مانځه حکم اوکړو ۔ لیکن دا وجه ضعیفه او بعیده ده ځکه چه راجح قول دا دے چه تعدیل د ارکان فرض دے په سجده سهوه کار نه کیږی۔

۲ – دویمه مسئله : تعدیل الارکان په مانځه کښ څه حکم لری؟

تعدیل الارکان دیته وائی چه په رکوع او سجده کښې او بیا په قومه او جلسه کښې ملا برابره کړی چه هر اندام خپل خپل ځائے ته اورسی او طمانینت دیته وائی چه رکوع او سجده کښې ملا برابره کړی او په آرام سره ئے اوکړی نو طمانینت خاص او تعدیل عام دے۔

دلته دے صحابیؓ په مانځه کښې د ارکانو تعدیل نه وو کړے نو ځکه ورته د مانځه د اعادے حکم اوکړے شو نو ددے رجے نه اوس ددے په حکم کښې د علماؤ اختلاف دے چه آیا دا واجب او فرض دے او که نه؟۔

مسئلة : الاختلاف فی حکم تعدیل الارکان

۱ – امام شافعیؒ، مالکؒ، احمدؒ، اسحقؒ، داودؒ او اکثر علماء وائی چه د رکوع نه بعد اعتدال او د سجدتین په مابین کښې اعتدال او اطمینان کول فرض دی او دا قول په احنافو کښې د امام ابویوسفؒ دے، امام نوویؒ وائی : دا زمونږ (د شوافعو) او د جمهورو قول دے او ددے نه یوه طائفه یسیره او امام ابوحنیفهؒ خلاف کړیدے۔

او شیخ عبد الله البسامؒ وائی : دا په مذاهبِ اربعه ؤ کښې د جمهور علماؤ مذهب دے توضیح الاحکام (۱۱/۲) نیل الاوطار (۲۸۱/۲)

او تعدیل الارکان نه کولو سره مونځ باطلیږی نو تعدیل الارکان د مانځه رکن دے۔

ددے قول ډیر **دلائل** دی تقریبا اووه احادیث په التنقیح د ابن عبد الهادی کښې ذکر دی :

۱ – اول دلیل : دا حدیث دے۔ شیخ ابو الحسن عبید الله الرحمانی المبارکفوریؒ په المرعات (۱۰/۳) کښې وائی : " دا حدیث صریح دلیل دے چه تعدیل د ارکانو فرض دے او ددے په ترک سره د مونځ ترک راځی ځکه دلته ئے " لم تصل " لفظ وئیلے دے او دا خبره خو معلومه ده چه خلاد بن رافع ﷺ بل کوم رکن د مانځه نه وو پریخودے صرف تعدیل او اطمینان ئے پریخودے وو لکه هغه په بل روایت د ابن ابی شیبه کښې ذکر دی نو معلومه شوه چه په تعدیل پریخودو سره مونځ باطلیږی (ځکه دلته نفی د صلاة شویده او نفی د جنس صلاة په ترک د یو ضروری رکن سره کیږی نو تعدیل رکن او فرض دے)۔

۲ – دلیل : عن ابی مسعود الانصاری انه قال : لا تجزئ صلاة لایقیم فیها الرجل صلبه فی الرکوع والسجود رواه الخمسة وصححه الترمذی (۶۱/۱) نیل الاطار (۲۸۰/۲) وسیأتی فی المشکوة (۸۲/۱)

۳ – بل روایت دے : لایقبل الله صلاة رجل لایقیم صلبه فی الرکوع والسجود۔

٤ – روستو حدیث دحذیفه رضی الله عنه راروان دے : " رأی رجلاً لا یتم رکوعه ولا سجوده فلما قضی صلاته دعاه فقال له حذیفة ما صلیت ! قال واحسبه قال : ولو مت مت علی غیر الفطرة التی فطر الله محمداً ﷺ " بخاری (۱۱۲/۱) ومثله فی ابن خزیمة (۳۳۱/۱) وسیأتی فی الکتاب (۸۳/۱)۔

یعنی حذیفه ﷺ یو سړے اولیدو چه رکوع او سجده ئے پوره طریقے سره نه کوله (تعدیل ئے نه کولو)

نو هغه د مانځه نه روستو راوغوښتو او ورته ئے اووئیل : تا مونځ اونه کړو او که ته پدے حال کښې مړ شے نو ته به په غیر د هغه دین مړ شے کوم باندے چه الله تعالی محمد ﷺ را لیږلے دے۔

دلته هم په ترک د تعدیل باندے موت علی غیر الفطرة حکم لګول شویدے معلومه شوه چه د صحابه کرامو په نزد تعدیل فرض دے ۔

٥- **دلیل** : حدیث د مسلم (١/٢٢٥) کښې د منافق مونځ دا خودلے شویدے چه ټهونګے وهی او تعدیل د ارکانو په کښې نه کوی « تلك صلاة المنافق یجلس یرقب الشمس حتی اذا اصفرت وکانت بین قرنی الشیطان قام فنقر اربعاً لا یذکر الله فیها اِلّا قلیلاً » وقد مرّ فی المشکوة (١/٦٠) ۔

او دیته په بل روایت کښې سرقه وئیل شویده چه د مانځه نه غلا دا ده چه رکوع او سجده پکښې برابره نه کوی او غلا حرامه ده نو تعدیل فرض شو۔

٦- **دلیل** : حدیث : «صلوا کما رأیتمونی اصلی» رواه البخاری ۔

دے حدیث نه هم فرضیت د تعدیل د ارکانو ثابتیږی ځکه چه نبی علیه السلام په ټوله زندګئ کښې یو کرت هم تعدیل الارکان ندی ترک کړی او هغه امر کړے دے چه زما په شان مونځ کوئ نو دا مواظبت دائمی ددے قول سره ملګرے کړه نو ددے نه فرضیت د تعدیل ثابت شو ۔

٧- **دلیل** : دارنګه قرآن کریم کښې حکم شویدے په رکوع او سجده او اقامة الصلاة باندے او دا مجمل دے او ددے بیان نبی علیه السلام په خپل قول او عمل سره کړیدے او هغه دا چه تعدیل او اطمینان باندے د هغه عمل هم دے او امت ته ئے قول او حکم هم کړیدے نو ددے په ترک سره مونځ باطل دے۔

٢- **قول ثانی** : د امام ابوحنیفهؒ او محمدؒ او دا یو روایت د امام مالکؒ دے چه تعدیل فرض نه دے، نو بیا هدایه (١/١٠٧) او عمدة القاری (٦/٦٦) کښې دوه روایتونه ذکر دی ١- یو روایت کښې دی چه تعدیل او قومه او جلسه سنت ده په تخریج د جرجانیؒ کښې ٢- او په تخریج د کرخیؒ کښې دی چه دا واجب دی او دا قول د وجوب علامه ابن نجیم په البحر الرائق شرح کنز الدقائق (١/٥٧٥) طبع دار احیاء التراث) کښې هم ذکر کړیدے او دیته ئے صحیح وئیلے دے او شیخ ابن همامؒ او د هغه تلمیذ ابن امیر الحاجؒ هم غوره کړیدے او دیته ئے صواب وئیلے دے نو هرکله چه دا واجب شو نو ددے په ترک سره به سجده سهو واجبیږی نو ډیر احناف عوام بلکه مولیان دا تعدیل نه کوی او بیا سجده سهو هم نه کوی ۔

دلائل : ١- **دلیل** : قرآن کښې ﴿ارکَعُوا وَاسجُدُوا﴾ حکم راغلے دے په رکوع او سجده باندے او رکوع او سجده لفظ خاص دی چه رکوع په لغت کښې مطلق انحناء (سر ټیټولو) ته وائی او سجده وضع الجبهة علی الارض (تندے په زمکه کیخودلو) ته وائی نو صرف د استواء (نیغوالی) نه مائل کیدل او تندے په زمکه کیخودل په آیت باندے فرض شو ځکه آیت مطلق

دے او د مطلق په ادنیٰ درجه باندے عمل کول په مامور به باندے عمل کولو دپاره کافي دی نو چه فقط انحناء یا وضع الجبهة علی الارض راغله نو رکوع او سجده باندے عمل اوشو او پاتے شو حدیث د" انك لم تصل " نو دا بیان د قرآن نه دے او تقیید د اطلاق د قرآن هم نه ګرځی ځکه چه دا خبر واحد دے او خبر واحد ظني وی پدے سره اطلاق د قرآن نه مقید کیږی ځکه دا بیا نسخ د کتاب الله په خبر واحد جوړیږی او دا خو جائز نه ده (عند هم).

★ – دارنګه دغه حدیث بیان د آیت هم نه جوړیږی ځکه بیان به هله جوړیدل صحیح وے چه قرآن کښ اجمال وے او دلته اجمال نشته ځکه دا قاعده ئے جوړه کړیده چه دا رکوع او سجده لفظ خاص دے او خاص بیّن بنفسه وی، احتمال د بیان نه لری، نو ددے وجے نه وائی چه مطلق رکوع او سجده په قرآن ثابت دی نو دا فرض شو او تعدیل او طمانینت چونکه په حدیث ثابت دی او هغه سره خو فرضیت نه راځی نو دا تعدیل یا په درجه د سنت کښ یا په درجه د واجب کښ پاتے شو.

★ – دارنګه وائی چه مقصود د شارع نفس رکوع او سجده ده او طمانینت او اعتدال دوام علی الفعل ته وائی نه نفس فعل ته او دوام مطلوب نه دے نو صحت د صلاة په طمانینت باندے موقوف نه دے کما فی الهدایه وتنظیم الاشتات (۲۸۱/۱)

الجواب : لیکن محققین علماؤ ددے جواب ورکړیدے چه دا استدلال مردود دے وجه دا ده چه اول خو نص قرآنی مطلق نه دے بلکه مجمل دے ځکه په آیت کښ چه کومه رکوع او سجده ذکر ده د هغے نه مراد لغوی معنیٰ نه ده بلکه د هغے نه شرعی معنی مراد ده ځکه الفاظ د شارع به په معانی شرعیه حقیقیه باندے حمل کولے شی مګر کله چه مانع راشی او دلته هیڅ مانع نشته او د رکوع او سجدے شرعی معنی غیر معلوم ده نو دا محتاج شو بیان ته نو حدیث د ابو هریره (حدیث المسیء فی صلاته) د هغے دپاره بیان شو چه په هغے کښ حکم راغلے دے په اعتدال او طمانینت باندے لهذا دا هم فرض شو نو دا خبره هم غلطه شوه چه وائی طمانینت او اعتدال واجب نه دی ځکه دا غیر مقصود دی) وجه دا ده چه که دا غیر مطلوب او غیر مقصود وے نو نبی علیه السلام خلاد بن رافع ﷺ ولے بار بار واپس کولو او ولے ئے ورته په اعاده د مانځه باندے حکم کولو ، په ترك د سنت باندے خو امر د اعاده نه وی ـ نو معلومه شوه چه اعتدال وغیره هم د رکوع او سجدے په شان فرض دی.

دارنګه که رکوع او سجده مطلق شی نو څوك چه په بے اودسۍ حالت کښ یا د قبلے نه غیر بل طرفته تندے په زمکه کیدی نو دیته هم سجده لغةً وئیلے شی او حال دا چه دا په شریعت کښ معتبره نه ده لکه دا رد علامه عبد الحلیم اللکنوی په حاشیه د نور الانوار (۱۶/۱) کښ او علامه مبارکفوری په المرعاة (۳/۳) کښ کړیدے.

۳- دریم دا چه شیخ عبد الحلیم اللکنویؒ (والد د عبد الحی لکهنویؒ) فرمائی :
وان سلمنا ان النص مطلق فنقول ان هذا الحدیث لیس خبر الواحد بل هو حدیث مشهور تلقاه الامة بالقبول رواه ائمة الحدیث باسانید کثیرة والزیادة علی الکتاب بالخبر المشهور جائزة فتدبر حاشیة نور الانوار (۱۶/۱) یعنی که اومنو چه آیت مطلق دے نو بیا وایو چه دا حدیث خبر واحد نه دے بلکه دا خبر مشهور دے په ډیرو سندونو نقل دے او په خبر مشهور سره زیادت په کتاب الله جائز دے لهذا لکه څنګه چه په قرآن باندے فرضیت ثابتیږی نو په خبر مشهور هم فرضیت ثابتیږی۔
دارنګه دا قاعده هم غلطه ده چه خاص بیّن بنفسه وی او احتمال د بیان نه لری ځکه ددے مطلب خو دا دے چه د پیغمبر بیان او تشریحاتو ته هیڅ ضرورت نه شته (نعوذ بالله) د پیغمبر څه کار دے چه هغه د قرآن د واضح الفاظو تشریح کوی ؟ که دا مطلبه نه وی نو څوك ډِبل مطلب بیان کړی ؟۔ نه بلکه قرآن په پیغمبر نازل دے او هغه وئیلی دی چه رکوع او سجده هغے ته وائی چه په هغے کښې تعدیل او اطمینان وی لکه دا د حدیثونو خلاصه ده نو مونږ به د پیغمبر نه ځان نه مخکښې کوو ۔ د احنافو پدے قاعده باندے ډیر صحیح احادیث رد کړے شویدی ډیر ظلم شویدے۔
نو صحیح خبره دا راوتله چه آیت مجمل دے او د نبی علیه السلام احادیث د هغے دپاره بیان دے ۔ لهذا اعتدال هم فرض شو لکه څنګه چه رکوع او سجده فرض ده ۔
٤- شیخ الاسلام ابن تیمیه په القواعد النورانیة ص (۸۹) کښې ذکر کړیدی :
وایضا فان الرکوع والسجود فی لغة العرب لایکون الا اذا سکن حین انحنائه وحین وضع جبهته علی الارض فامّا مجرّد الخفض والرفع منه فلا یسمی رکوعا ولا سجوداً ومن سمّاه رکوعاً وسجوداً فقد غلط علی اللغة فهو مطالب بدلیل من اللغة الخ ۔ یعنی هسے ټونګے وهلو او خکته پورته کیدو ته رکوع او سجده نه وائی منکر هله به رکوع او سجده وی چه آرام پکښې وی او دا د رکوع او سجدے بعینه لغوی معنی ده ۔ لهذا اعتدال په رکوع او سجده کښې د لغت نه معلوم شو نو دا خبره د احنافو خطاء شوه چه رکوع مطلق انحناء ته وائی نه ! بلکه هغه انحناء ته وائی چه اعتدال او آرام پکښې وی او دغه شان سجده هم۔
۲- **دلیل** : هدایه مولا دا ذکر کوی چه ددے حدیث په آخر کښې په روایت د رفاعه کښې نبی علیه السلام داسے الفاظ وئیلی دی : فاذا فعلت ذلك فقد تمت صلاتك، وان انتقصت منه شیئاً انتقصت من صلاتك (ابوداود والترمذی) نو دلته رسول الله ﷺ د تعدیل پریخودلے شوی مانځه ته ناقص اووئیلو معلومه شوه چه صحت د مانځه په تعدیل الارکان موقوف نه دے او نبی علیه السلام ورته د اعادے حکم اوکړو دے دپاره چه مونځ ئے د کراهت نه محفوظ شی نه دا چه دا باطل دے ۔ **الجواب** : ددے دلیل نه پخپله حنفی عالم عبد الحلیم اللکنوی جواب ورکړیدے

چه ددے زیادت دا معنی ده : ان فعلت ما بيّنت من التعديل على الكمال فقد صليت صلاة تامة وان نقصت من التعديل شيئاً من النقصان مع بقاء اصل التعديل – كما يدل عليه لفظ نقصت -- فقد نقصت من صلاتك بقدر نقصان التعديل فالاخلال بالتعديل رأساً يوجب الفساد ۔

یعنی که تا تعدیل الارکان پوره طریقے سره ادا کړل نو مونځ دِ تمام او پوره شو او که تعدیل کښې دِے معمولی نقصان اوکړو او بالکلیه دِے تعدیل خراب نه کړو نو ستا مونځ ناقص شو په اندازه د نقصان د تعدیل او که بالکلیه تعدیل دِ خراب کړو نو بیا دِ مونځ فاسد دے نو د نقصت لفظ نه معلومیږی چه دا نقصان د تعدیل مراد دے او نه بالکلیه تعدیل پریخودل بلکه اصل تعدیل به باقی وی خو که په تعدیل کښې دِے زیادت کولو نو مونځ به دِے ډیر کامل وی او که تعدیل دِے معمولی کولو نو مونځ کښې به دِے نقصان وی، لهذا دا استدلال صحیح نه شو۔

۲- جواب : نقصت لفظ خو رکوع او سجدے ته هم شامل دے لکه په بعض روایاتو کښې ما نقصت من ذلك لفظ دے چه مذکور سابقا ته اشاره ده نو آیا په رکوع او سجده کښې نقصان کولو سره به مونځ صحیح وی څه ؟ هغه خو تاسو هم صحیح نه ګنړئ ځکه چه مطلق انحناء او وضع الوجه على الارض کښې که چا نقصان اوکړو نو احناف وائی دا رکوع او سجده ئے صحیح نه ده فما هو جوابکم فی الرکوع والسجود فهو جوابنا فی القومه والجلسه فتدبر ۔ نو دا استدلال تام نه دے ۔ **۳- جواب** : علامه عینیؒ پدے باندے داسے رد کړیدے چه دلته د تعدیل پریخودلے شوی مونځ ته ئے ناقص اوویلو دا په ګمان د مونځ کونکی ځکه چه هغه ورته مونځ وائی ورنه د شارع په نزد باندے باطل مونځ دے لکه پدے باندے دلیل دا دے چه د صلاة اضافت ئے مخاطب ته کړیدے «فقد انتقصت من صلاتك» البناية شرح الهداية والمرعاة (٤/٣)

علی بن ابی العز الحنفیؒ وائی : جوابه : ان تسميته اياها صلاة ناقصة لا يدل على اجزائها، فانه لو نقص منها سجدة كانت صلاته ناقصة غير مجزئة (التنبيه : ٢/٥٥٨)۔

دیته ناقص مونځ وئیل په جواز ددے باندے دلالت نه کوی، ځکه که ددے نه یوه سجده ناقصه کړی نو بیا به هم مونځ ناقص وی او جائز به نه وی ۔

که څوك سوال اوکړی (لکه مخکښې هم تیر شو) چه قومه او جلسه ځکه فرض نه دی چه دا دواړه مقصود نه دی بلکه دا مشروع شویدی دپاره د جدائی او فصل بین الرکوع والسجود نو دا رکن نشو بلکه رکوع او سجده رکن دی ؟ ۔

نو ددے جواب دا دے چه دا رأیه ده په مقابله د نص مذکور کښې فلا يسمع كذا قاله عبد الحليم اللكنوى فی حاشیه نور الانوار (١٦/١) قمر الاقمار ۔ نقله عن بحر العلوم انار الله برهانه انتهى وعنه المبارکفوری فی المرعاة (٤/٣)

علامه ابن ابی العز الحنفی فرمائی : وهذه مجرد دعوى لم يُقم عليها دليلاً والله تعالى امرنا

بالصلاة مجملاً وبينها النبي ﷺ بفعله، فالتحق بياناً به، وقد قال ﷺ : وصلوا كما رأيتموني اصلي)) فجميع ما كان يفعله النبي ﷺ في صلاته يكون فرضاً الا ما خرج بدليل ولم يرد معنا دليل على ان القيام من الركوع والقعود بين السجدتين ليسا بفرض ـ بل ورد ما يدل على فرضيتهما، وهو ما روى ابومسعود البدري قال : قال رسول الله ﷺ : لا تجزئ صلاة الرجل حتى يقيم ظهره في الركوع والسجود رواه الامام احمد واهل السنن وقال الترمذي حسن صحيح هذا نص صريح في ان الرفع من الركوع وبين السجدتين والاعتدال والطمانينة فرض لا تصح الصلاة بدونه الى آخر ما قال التنبيه على مشكلات الهداية (۲/۵۵۳)

يعنې د هدايه مولا دا تشه دعوىٰ ده چه دا مقصود نه دی هيڅ دليل ئې پرې ندے پيش کړے او حال دا چه الله تعالى مونږ ته حکم د مانځه کړيدے او هغه مجمل دے نبي عليه السلام هغه په خپل فعل سره بيان کړيدے او هغه دا هيڅ کله ندی پريخې او بل طرفته صريح نص موجود دے چه دال دے په فرضيت د تعديل او طمانينت باندے چه هغه حديث د ابو مسعود البدري دے چه نبي عليه السلام د هغې نه بغير مونځ جائز نه دے گرځولے نو دا صريح نص ولے پريخودلے شي په هسے تش گمان باندے۔

سوال : بعض احناف وائي : (ددے حديث د ابو هريرةؓ نه جواب کښ) چه دا حديث په فرضيت د تعديل دلالت نه کوی بلکه په عدم فرضيت دلالت کوی ځکه نبي عليه السلام دا په اعتدال نه کولو اوليدو تردے چه هغه د مانځه نه فارغ شو او مينځ کښ ئې منع نه کړو نو که چرته تعديل فرض وے او ددے سړی مونځ باطل وے نو ولے ئې هغه پدے حال کښ پريخودو چه باقی مونځ سرته اورسوی بلکه دا باقی مونځ په مخکنی مونځ باندے بناء کول خو باطل دی ځکه چه بناء په فاسد باندے فاسد وی نو د نبي عليه السلام هغه لره پريخودل تردے چه مونځ ئې سرته اورسولو دليل دے چه د هغه مونځ جائز وو مگر دومره وه چه نقصان پکښ راغلو نو ځکه ئې ورته حکم په اعاده اوکړو چه ددے عادت نه منع شي۔

ددے جواب علامه عيني په بنايه کښ دا ورکړيدے چه ددے سړی دا مونځ فاسد او باطل وو نو ځکه ورته نبي عليه السلام حکم په اعاده اوکړو او بار بارئې واپس کړو او دا ئې ورته اووئيل : انك لم تصل (تا مونځ نه دے کړے) او مينځ کښ ئې منع نکړو ځکه چه کيدے شي پخپله صحيح مونځ ته ئې فکر شي ځکه هغه خو لا د مسجد نه وتلے نه دے دارنگه انکارئې پرے اونه کړو ځکه چه دا سړے د بانډو والو نه وو لکه په بل روايت کښ دی (رجل كالبدوي) **او اهل د باديه کښ سختي او جفاء وی نو که ابتداءً ئې ورته حکم کړے وے نو د هغه په زړه کښ به څه واقع شوی وے او دا مقام د تعليم دے او مخکښ تير شو چه دا من باب التقرير على الخطاء نه دے بلکه من باب تحقيق الخطاء دے نو خلاصه دا چه دا حديث د دوی په مدعىٰ باندے بالکل دلالت نه کوی انتهى۔**

دارنگه وايو چه که دده مونځ ناقص وے کما يقوله الاحناف نو بيا نبي عليه السلام ورته په

ميـنـځ د مانـځـه كښې ولـے حـكـم نه كولو حال دا چه نبي عليه السلام خو صرف په ترك د فرض بانديے رد نه كولو بلكه په ترك د سنت بلكه په هر منكر بانديے به ئے رد كولو۔

صـدرالـديـن عـلـي بـن ابـي العز الحنفيؒ (المتوفي : ٧٩٢ هـ) په بل تعبير بانديے داسے جواب وركړيدے (واجيـب بـان تـارك الـطـمانينة مسيء تارك للواجب، فلما ذا اقره النبي ﷺ على الاسائة وترك الـواجـب ؟ فـمـا كان جوابكم عن هذا كان جواب اولئك وذلك ان تاخير الامر اذا كان لمصلحة راجحة كـان حسـنـاً، كـمـا اقر الاعرابي الذي بال في المسجد حتى فرغ من بوله في المسجد للمصلحة الراجحة وكذلك امهال هذا حتى يصلي فانه من تمام حسن التعليم، التنبيه وتعليقه (٢/٥٥٥) ۔

(يعني په روايت د كرخي كښې د امام ابوحنيفه او محمد په نزد طمانينت د واجباتو د مانځه نه دے) نـو وايـو چـه تـارك د طمانينت خو گناهگار دے او تارك د واجبو دے نو ولے نبي عليه السلام هغـه لره پدے گناه او ترك الواجب بانديے باقي پريخودلو نو ددے نه چه تاسو كوم جواب وركوئ هغـه به د قائلينو د فرضيت وي او هغه دا چه تاخير د يو امر كله چه د يو بهترين مصلحت دپاره وي نو دا ښه كار دے لكه څنگه چه نبي عليه السلام يو اعرابي په مسجد كښې بول كولو بانديے باقـي پـريـخـودلـو د وجے د يو مصلحت راجحه نه او هغه دا چه ښائسته تعليم ازده كړي نو دغه شان دلتـه ئے هم دا سړے پدے حالت پريخودلو دے دپاره چه په ښائسته طريقه تعليم واخلي ځكه كه منع ئے كړي نو ډير كرت هغه به اوويريږي نفرت به ئے پيدا شي نو تعليم به قبول نه كړي) انتهىٰ۔

نـو ددے نـه ثـابـتـه شـوه چـه د جـمـهـور عـلـماؤ قول حق دے او د احنافو سره په عدم فرضيت د تـعـديـل او طمانينت بانديے هيڅ صحيح حديث نشته بلكه دغه احاديث او دا حديث د ابو هريره په هغوي بانديے حجت دے۔

ددے وجے نه شبير احمد عثماني په فتح الملهم (٣٣/٣) كښې ذكر كړيدي چه زما په نيز بانديے راجـح دا ده چـه تـعـديـل الاركان او طمانينت فرض او لازم دے دليل دا دے چه الله تعالى مونږ ته په اقامت د صلاة بـانديے امر كړيدے (اقيموا الصلاة) او اقامت وائي : حـفظ الاوقات والحدود ورعاية حقوقها وشروطها وتعديل اركانها) ته نو كه انسان مونځ اوكړي او تعديل د اركانو اونكړي نو هغه اقـامـت د مانځه اونكړو نو هغه د الله په امر بانديے عمل اونكړو نو مونځ ئے باطل دے او څوك چه بغير د طمانينت او تعديل نه تيونگے وهي نو دا يو قسم سخريه ده او د استهزاء مشابه كار دے او د الله د عبادت پوريے توقے مسخريے كول حرام دي ځكه داسے ټكريے وهل د الله د تعظيم خلاف دي نـو د اقـامـت حـكـم بـانديے عمل كول بغير د تعديل او طمانينت نه نه كيږي ددے وجے نه تعديل فرض دے ـ **بيا وائـي** : پـه آيـت كـښې چه ركوع او سجده بانديے حكم راغلي دے نو د هغې نه مراد انـحـنـاء او وضـع الـجـبـهـة على الارض ده خو على وجه العبادة وغاية التعظيم ـ او دا نه حاصليږي مـگـر صـرف پـه طـمـانـينت او اعتدال سره ورنه بيا به د يو نوع استهزاء او استخفاف سره مشابه شي ـ **بيائے** دلائل د فرضيت ذكر كړيدي او بيا ئے فرمائيلي دي : چه پدے حديث الباب كښې چه

د خلاد بن رافع قصه ذکر ده نو دا بدری صحابی دے په ده باندے زما دا گمان نشته چه ده به د فرض په مقدار طمانینت او اعتدال پریخے وی پس د هغے نه چه نبی علیه السلام ورته درے کرته تنبیه ورکړه (بلکه ده د نبی علیه السلام په شان ډیر تعدیل نه کولو ددے وجے نه ئے پرے اعاده اوکړه) او ددے وجے نه صحابه کرام هم وائی چه مونږ ته پته نشته چه دده په مانځه کښې په کوم ځائے باندے عیب دے (لاندری ما یعیب منها – کما فی روایة اسحاق بن ابی طلحة) ـ نو دا د زیاتی مسنون اعتدال پریخودونکے وو ددے وجے نه ئے ورته په کامله طریقه سره د ابتداء د مانځه نه تعلیم ورکړو ـ انظر فتح الملهم (۳۳/۲) وتنظیم الاشتات (۲۸۲/۱)

بلکه علامه طحاوی (۱۳٦/۱) ذکر کړیدی چه نبی علیه السلام په دے حدیث کښې هغه فرض ذکر کړیدی چه د هغے نه بغیر مونځ نه پوره کیږی او دا قول د ابوحنیفهؒ او ابویوسفؒ او محمدؒ دے او علامه عینیؒ په شرح د هدایه (البنایه) کښې ذکر کړیدی چه امام طحاوی اعلم بمذهب ابی حنیفه دے او هغه د امام ابوحنیفهؒ او ابویوسفؒ او محمدؒ په مابین کښې اختلاف نه دے ذکر کړے ـ ددے نه معلومه شوه چه د ائمه ثلاثه هم دا قول دے چه تعدیل الارکان فرض دے کما فی بلوغ الامانی شرح مسند احمد الشیبانی (۱٤٦/۳) طبع احیاء التراث ـ نو گویا کښې دا دریم قول شو د امام ابوحنیفه نه او ددے نه حقانیت د مذهب الجمهور معلوم شو ـ او دا هم معلومه شوه چه اخبار آحاد بیان د قرآن شو او په اخبار احادو هم فرضیت ثابتیږی ـ

او شاه ولی الله دهلویؒ په حجة الله کښې "الامور التی لا بد منها فی الصلاة" عنوان لاندے لیکی : چه لا تجزئ صلاة الرجل حتی یقیم ظهره فی الرکوع والسجود شارع په لفظ د رکنین ذکر کړیدی نو دا رکن دے نو اوگوره شاه صاحب هم د لاصلاة او لا تجزئ نه رکنیت فهموی ـ

تکمیل : د احنافو په نیز د جلسه بین السجدتین حد کښې اختلاف دے :

۱ – بعض مشائخو وئیلی دی کله چه تندے د زمکے نه زائل شی او بیا دوباره ئے د زمکے سره اولگیږی نو دا د دوارو سجدو نه کافی کیږی برابره ده که هر څومره ئے سر پورته کړے وی او دا به یوه سجده نه حسابیږی ـ ۲ – او په قدوری کښې دی چه ادنیٰ ما یطلق علیه اسم الرفع باندے اکتفاء جائز ده یعنی معمولی شان سر پورته کولو نه پس دویمه سجده کول جائز دی او بعض پکښې دا وجه اصح شمارلے ده ځکه چه واجب سر پورته کول دی نو کله چه ادنیٰ رفع ثابت شوه چه صرف تندے ئے د زمکے نه پورته کړو نو دا مؤدی د رکن حسابیږی ـ

۳ – لیکن هدایه مولا دا راجح گرځولے ده چه که سجدے ته نزدے وو نو دا جائز نه ده ځکه عرف کښې به ته ساجد نه وئیلے کیږی او که جلوس ته نزدے وی نو بیا جائز ده ځکه ده ته پدے وقت کښې ساجد وئیلے شی نو ددے مقدار نه پس دویمے سجدے ته تلے شی، او وائی چه دا خبره د امام ابوحنیفهؒ نه روایت شوے ده کذا فی شرح الطحاوی وانظر حاشیة الهدایة (۱۰۱/۱)

او په اعتدال کښې وائي چه د يو تسبيح په اندازه که په رکن کښې حصار شو نو مونځ اوشو او که ددې نه کم وي نو صحيح نه دے انظر الفقه على المذاهب الاربعه (۱/ ۲٤۰) والبحر الرائق (۱/ ۵۷۵) طبع دار احياء التراث۔ دا وو حنفي مذهب۔

او په احاديثو کښې ددې تحديد داسې راغلے دے، پدے روايت کښې دي : (حتى تطمئن جالساً) او په بعض رواياتو ددې حديث کښې د طمانينت تفسير داسې راغلے دے : (حتى تطمئن مفاصلك وتسترخي " او " حتى تستوي جالساً " او " فاقم صلبك حتى ترجع العظام) يعنې قومه او جلسه او رکوع او سجده کښې به دومره حصاريږي چه ټول اندامونه خپل خپل ځائے ته اورسي او هلته سست شي په خپل حال شي او په جلسه کښې پوره برابر کيني هله به دويمه سجده جائز وي ۔

او **حنابله** وائي : په رکوع او سجده کښې او قومه او جلسه کښې اعتدال کول د ارکانو نه دي او ددې دوه اندازې دي ۱ – يو قول دا دے چه انها السكون وان قل ۔ يعني چه په آرام شي اگرکه معمولي آرام وي ۔ ۲ – قول ثاني : بقدر الذكر الواجب ": يعني د واجب ذکر په اندازه چه حصار شي نو دا کافي ده او مجد الدين ابن تيميه وائي : هذا هو الاقوىٰ۔

په الانصاف (۲/ ۱۱۳) کښې علامه علاء الدين المرداويؒ ليکي : ددې دواړو وجو هو فائده دا ده چه کله په رکوع او سجده کښې تسبيحات ترے هير شي يا تحميد په اعتدال کښې هير شي يا سؤال المغفرة په جلسه کښې نو په اول قول سره ئے مونځ صحيح دے ځکه سکون راغلے دے او په دويم قول سره ئے مونځ صحيح نه دے ځکه اذکار ئے نه دي لوستلي او دا دويم قول صحيح دے ۔ انتهىٰ ۔وكذا في توضيح الاحكام (۲/ ۹)

عَلِّمْنِيْ يَارَسُوْلَ اللهِ ! : **فائده نادره** : جاهل که حکم شرعي پريخودو نو دغه عمل به باطل وي لکه دلته تعديل الاركان پاتے شو نو نبي عليه السلام ورته اعاده باندے حکم اوکړو او معاف ئے نه کړو لکه دا خبره قاضيؒ عياض ذکر کړيده ليکن پدے کښې تفصيل دے او هغه دا چه جهالت په دوه قسمه دے : ۱ – يو هغه دے چه روستو د عمل کولو نه زائل شي او د هغه عمل وخت تير شي نو پدے وخت کښې به جاهل ته حکم د اعادے نشي کولے او عبادت به ئے ضائع نه وي لکه واقعه د عدي بن حاتم ﷺ کښې دي چه هغه ډيره موده روژے د نمر ختاه وقت نه نيولے وے په دے گمان چه د خيط ابيض او خيط اسود نه مراد ظاهري تارونه دي نو نبي عليه السلام ورته په اعاده د روژو باندے امر اونکړو دارنگه ابوذر ﷺ يوه مياشت جنابت حالت کښې مونځونه اوکړل پدے خيال چه جنب دپاره تيمم وهل نشته ۔ دارنگه د عمر فاروق په زمانه کښې د رمضان په مياشت کښې په مازيگر کښې سخته تياره جوړه شوه نو خلقو روژه ماته کړه پدے گمان چه ماښام وقت به داخل وي پدے کښې لګ وخت پس نمر را ښکاره شو نو عمر ﷺ په خلقو باندے روژه اونه کړخوله۔

۲- دویم قسم هغه جهالت دے چه په دغه وخت کښې زائل شي او وقت لا تیر نه وي نو بیا به عبادت غیر معتد به وي او دوباره به کولے شي لکه پدے مقام کښې دے سړی باندے اعاده اوشوه او دا قاعده شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ ذکر کړیده کما فی توضیح الاحکام (۲/۱۰) ۔

ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ : استقبال الی القبله په فرائضو کښې فرض دے ۲- په نوافلو کښې هم فرض دے خو کله چه حضر کښې وي او وسع ئے وي عاجز نه وي، یره او مرض نه وي، او که په سورلۍ وي نو بیا استقبال فرض نه دے نو نفل او سنت او وتر هر طرفته کیږی ۔ یو دلیل آیت دے :

﴿ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ﴾ دا نازل دے په باره د سفر کښې کما فی التفاسیر ۔

۲- دویم عمل د رسول الله ﷺ دلیل دے «کان یصلی علی راحلته غیر انه لا یصلی علیها المکتوبة» ۔ او کوم ګاړو کښې چه رکوع او سجده کښې کیږی لکه ریل ګاړی، جهاز، بس وغیره نو فرض هم په سورلۍ کیږی او په فرضو کښې په هر حالت کښې استقبال الی القبلة فرض دے لیکن په اول د مانځه کښې ۔ بیا که مسجد حرام کښې وي نو عین کعبے ته به توجه کوی او که د مسجد نه بهر مکه کښې وي نو بیا مسجد حرام طرفته توجه فرض ده او که بهر دنیا کښې وي نو بیا ټولے مکے طرفته توجه کول کافی دي۔

فَكَبِّرْ : یعنی تکبیر تحریمه اوکړه ۔ دا مسئله مخکښې (۲/۴۶) کتاب الطهارة کښې بیان شویده چه تکبیر تحریمه کښې به کوم الفاظ وائی : اختلاف مخکښې تیر شویدے خو دلته صرف دا واوره چه دا تکبیر تحریمه فرض ده او دا به صرف په لفظ د الله اکبر وئیلے شي دلیل د فرضیت ئے آیت دے ﴿ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ﴾ ۔ او دویم پدے حدیث کښې امر راغلے دے په تکبیر باندے او ددے تکبیر بیان په نورو روایاتو کښې په لفظ د الله اکبر راغلے دے نه نور الفاظ لکه په روایت د ابن ماجه کښې په حدیث د ابی حمید الساعدی کښې دی : «کان رسول الله ﷺ اذا قام الی الصلاة استقبل القبلة ورفع یدیه وقال : الله اکبر قال الالبانی فی صحیح ابن ماجه (۱/۱۳۵) رقم (۶۵۴) والمشکوة (۸۰۲) سنده صحیح وصححه ابن خزیمة وابن حبان، وفی روایة لاحمد : کان اذا قام الی الصلاة اعتدل قائماً ورفع یدیه حتی حاذی بهما منکبیه ......ثم قال : "الله اکبر "انظر الفتح الربانی (۳/۱۵۴) باب صفة الصلاة۔

۲- په حدیث د مسیء الصلاة کښې د طبرانی په روایت کښې دی : عن رفاعة مرفوعاً انه لا تتم صلاة لاحد من الناس حتی یتوضأ فیضع الوضوء مواضعه ثم یقول : الله اکبر اخرجه الطبرانی باسناد صحیح کذا فی صفة الصلاة للالبانی ص (٦٦) والموسوعة الفقهیة المیسرة لحسین بن عودة العوائشة (۲/٦)۔

۳- او ددے په شان روایت د علی ؓ نه نقل دے : انه ﷺ کان اذا قام الی الصلاة قال : الله اکبر، اخرجه البزار باسناد صحیح علی شرط مسلم کذا فی فقه السنة لسید سابق (۱/۱۲۰) وسبل السلام (۱/۲۴۷) ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه د تکبیر (الله اکبر) لفظ نه سوا بل لفظ باندے د مانځه افتتاح جائز نه ده او صرف همدا لفظ متعین دے لکه دا خبره ابن دقیق العیدؒ هم ذکر کړیده چه (ظاهر الحدیث یعیّن

التکبیر) او دا قول د امام مالكؒ، شافعیؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او ابویوسفؒ دے وهو الحق ـ

امام ابوحنیفهؒ او محمدؒ وائی : هر هغه لفظ چه دلالت په تعظیم کوی په هغې باندے افتتاح جائز ده، هغوی د تکبیر نه مراد هر هغه الفاظ اخلی چه دلالت کوی په تعظیم او لوئی والی د الله نو د تکبیر نه لفظ د الله اکبر نه اخلی بلکه معنی ئے اخلی لیکن صحیح دا ده چه تکبیر دواړو ته شاملیږی، خو دلته تریے صرف لفظ د الله اکبر مراد دے، ددے یو دلیل مخکښ ذکر شو چه د هغه تکبیر بیان په لفظ د الله اکبر راغلے دے په فعل او قول د رسول الله ﷺ کښ چه هغه په ټول ژوند کښ د الله اکبر نه سوا بل هیڅ لفظ نه دے وئیلے ومن ادعی فعلیه البیان ـ

۲– دارنګه دا عبادت دے او په عباداتو کښ دا قانون دے چه هلته به تعبّد په هغه الفاظو کولے شی کوم چه نقل وی په هغې کښ به خپل عقل او قیاس نه چلوی نو احتیاط پدے کښ دے چه د الفاظِ شرعیو اتباع اوکړے شی ـ نو دا هم رد دے په بعض خلقو چه هغوی وائی چه په حنفی مذهب کښ عمل دے په احتیاط باندے ـ

۳– دارنګه کله تعظیم مقصود وی په خاص لفظ د الله اکبر سره چه هغه تعظیم په بل لفظ سره شرعا نه حاصلیږی، ځکه چه ددے اذکارو مرتبے مختلفے دی لکه احادیثو کښ ذکر دی او ددے مثال دا دے لکه یو انسان اووائی د رکوع کولو نه مقصود تعظیم کول دی په خضوع سره او ددے په ځائے ددے په شان بل عمل په خضوع سره اوکړی نو خامخا بل عمل د رکوع په ځائے نشی قائمیدے ځکه دلته د شریعت مقصود تعظیم طلب کول دی په خضوع سره په خاص عمل سره نو دغه شان په تکبیر سره هم د شریعت مقصد تعظیم طلب کول دی په خاص لفظ سره چه هغه صرف الله اکبر دے ـ

هدایه مولا وائی :(التکبیر هو التعظیم لغة وهو حاصل) ـ ابن ابی العز الحنفیؒ ددے په رد کښ فرمائی : پدے خبره کښ نظر دے ځکه تکبیر د تعظیم مرادف نه دے بلکه تکبیر ابلغ دے د تعظیم نه نو پدے کښ معنی د تعظیم هم شته او ورسره زیاتی معنی هم ده دلیل پرے دا قول د نبی علیه السلام دے (په حدیث قدسی کښ) چه (العظمة ازاری والکبریاء ردائی) نو صفت د عظمت ئے په منزله د ازار وګرځولو او صفت د کبریاء ئے په منزله د رداء اوګرځولو او مرتبه د رداء د مرتبے د ازار نه پورته وی ددے وجے نه شریعت پدے باندے جهر کول د شعائر الدین نه ګرځولے دے په اکثرو مواضعو کښ لکه په اذان او تکبیر تشریق کښ او په ابتداء د مانځه کښ او انتقالاتو کښ او مونځ خو د شارع د طرفنه معلوم شویدے نو که غیر تکبیر په مقام د تکبیر کښ قائم کیدلے نو نبی علیه السلام به تعلیما للجواز خو یو کرت کړے وے او روستو د مصنف (هدایه مولا) په کلام کښ راځی چه هغه وائی : په جمعه کښ خطبه شرط ده ځکه چه نبی علیه السلام په ټول عمر کښ بغیر د خطبے نه د جُمعے مونځ نه دے کړے (هدایه : ۸۹/۱) نو دلته هم

هغه له پکار وو چه داسې اووائي چه رسول الله ﷺ بغير د الله اكبر نه هيڅ كله مونځ نه دې كړې . او نبي عليه السلام تحريمها التكبير وتحليلها التسليم وئيلې دې نو دا ټول بيان دې د مجمل د كتاب الله الخ التنبيه على مشكلات الهدايه (٢/٥٢٤)

٤- **بل دليل** : د ټول امت مسلمه عمل مستمر دليل دې چه هغوی كله په مانځه كښې شروع كوي نو صرف الله اكبر وائي دا هم دليل دې چه كه بل لفظ جائز وې نو كله به خو هغې سره هم شروع كړې شوي وې نو دا ګويا كښې اجماعِ عملي سكوتي شوه .

ددې وجې نه امام عبد الرحمن بن مهدي رحمه الله نه امام ترمذيؒ نقل كړيدي چه كه يو مونځ كونكې د الله تعالى په نوي (٩٠) نومونو سره مونځ شروع كړي او الله اكبر او نه وائي نو مونځ ئې جائز نه دې صحيح سنن الترمذي (١/٧٦) پدې مسئله كښې دومره تفصيل پدې وجه اوشو چه بعض بدعتيان په بعض اهل السنت والحديث باندې دا سوال كوي چه تاسو مونږ ته په احاديثو كښې د مانځه په شروع كښې الله اكبر لفظ اوښايئ او حال دا چه د دومره احاديثو نه ړانده دي.

المسئلة الثانية : حكم تكبيرة الاحرام :

بيا په حكم د تكبير تحريمه كښې اختلاف دې .

حافظ په فتح الباري (٢/١٧٣) ابواب صفة الصلاة) كښې ذكر كړيدي چه تكبيرة الاحرام عند الجمهور ركن دې او فرض دې ٢- **حنفيه** وائي : شرط دې (او شرط خارج وي د شي نه او ركن داخل وي په شي كښې . او احناف ئې شرط پدې وجه ګڼړي چه وائي : آيت (وذكر اسم ربه فصلى) كښې عطف د صلاة راغلې دې په تكبير باندې او عطف د مغايرت تقاضا كوي نو تحريمه خارج ده د مانځه نه نو بس شرط شوه. نو ثمره د اختلاف ظاهريږي په بناء د نفلو كښې په تحريمه د فرضو باندې چه د ركن والو په مذهب جائز نه ده او د شرط والو په نزد جائز ده . (فعند الاحناف جاز اداء النفل بتحريمة الفرض فمن يحرم للفرض كان له ان يؤدى بها التطوع خلافا للشافعي) البحر الرائق (١/٥٦٣) وحاشية الهداية (١/١١٠)

٣- **علامه ابن المنذرؒ** د امام زهريؒ نه نقل كړيدي چه وائي : تكبير تحريمه سنت ده او په مجرد نيت سره بغير د تكبير نه هم مونځ منعقد كيږي او دا قول امام مالكؒ، اوزاعيؒ، سعيد بن المسيبؒ ته هم منسوب دې، حافظ وائي : دا اقوال ددې علماؤ نه تصريحا ندي نقل بلكه هغوی صرف داسې وئيلي دي چه څوك امام په ركوع كښې لاندې كړي نو تكبير د ركوع كافي كيږي د تكبير تحريمه نه اګركه دا قول كرخي حنفي د ابراهيم بن عُليه او ابوبكر الاصم نه صراحةً نقل كړيدې ليكن هغوی پدې مشهور دي چه د جمهور علماو نه زيات خلاف كوي انتهىٰ . وانظر بدائع الصنائع (١/١٣٠) هغوی وائي : په مانځه كښې په مجرد نيت سره بغير د

تکبیر نه شروع صحیح ده ځکه مونځ د افعالو نوم دے نه د اذکارو، لیکن قول ئے ضعیف دے ۔
علامه ابن قدامهؒ وائی : تکبیر رکن دے او ددے په سهوه او عمد پریخودلو سره هم مونځ نه صحیح کیږی او دا قول د ربیعهؒ، مالکؒ، ثوریؒ، شافعیؒ، اسحاقؒ، ابی ثورؒ او ابن المنذرؒ دے ۔ المغنی (۵٤۱/۱) پدے کښې **راجح قول** دا دے چه تکبیر تحریمه فرض او رکن ده او دلائل د فرضیت ئے مخکښې بیان شول ۔ راجع لتفصیل المسئلة فتح الباری(۱۷۳/۲) سبل السلام (۲۵۹/۱) طبع جمعیة احیاء التراث ، فقه السنة (۱۲۰/۱) الروضة الندیة وتوضیح الاحکام (۱۰/۲) والموسوعة الفقهیة (۵/۲) ونیل الاوطار (۱۸٤/٤)

ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ : دلته دوه مسئلے دی بعض خلق خطاء کیږی فرق نه پیژنی، یو فاتحه خلف الامام ده نو هغه په قراءت کښې راځی، دویم نفس فاتحه لوستل دی برابره ده که امام ئے وائی او که مقتدی یا یواځے وی، نو دلته اختلاف په نفس فاتحه کښې دے چه آیا دا فرض ده، رکن ده او که نه واجب ده شرط او رکن نه ده ۔

۱- احناف وائی : سورتِ فاتحه لوستل واجب دی او فرض نه دی (لکه دا د هغوی اصطلاح ده چه د واجب او فرض فرق کوی) او مطلق قراءت فرض دے ۔ دلیل دا وائی :
قرآن کریم کښې دی : ﴿ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ ﴾ (المزمل)۔
دلته حکم راغلے دے په لوستلو د هر هغه شی چه انسان ته په قرآن کښې آسان وی که هغه فاتحه وی او که غیر فاتحه او حدیث د عباده بن الصامتؓ مرفوعا دے : لاصلاة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب ۔ مسلم (۱۶۹/۱) رواه الجماعة) نو په دے حدیث کښې تعیین د فاتحے راغلے دے نو مونږ نفس قراءت د قرآن که د هر سورت نه وی، فرض کړو په کتاب اللّٰه سره ځکه هغه یقینی دے او فاتحه لوستل واجب شو ځکه دا په حدیث سره ثابته ده او هغه خو خبر واحد ظنی دے ۔ دوی وائی که مونږ آیت مقید کړو په حدیث سره نو لازمیږی تقیید د کتاب اللّٰه په خبر واحد سره او دا خو باطل ده لانه نسخ الکتاب القطعی بالظنی ۔

الجواب : لیکن دا استدلال ضعیف دے د ډیرو وجو نه چه بعضے د هغے نه دا دی :
اول جواب : اول خو دا خبره مونږ بار بار ذکر کړیده چه د احنافو دا قاعده غلطه ده چه خبر واحد ظنی دے بلکه صحیح دا ده چه خبرو احد چه کله صحیح ثابت شی لکه د بخاری او مسلم وغیره احادیث نو دا ټول مفید د یقین دی او پدے سره فرضیت ثابتیږی ځکه دا محتف بالقرائن دی ۔
۲- دویم جواب : نه منو دا خبره چه دا حدیث خبر واحد دے بلکه مشهور بلکه متواتر دے لکه امام بخاری په جزء القرائت کښې فرمائی : (تواتر الخبر عن رسول اللّٰه ﷺ لا صلاة الا بقرائة ام القرآن انتهی) او د احنافو په نزد باندے هم په خبر مشهور سره تقیید او زیادت په کتاب اللّٰه جائز دے ۔
۳- جواب : نه منو دا خبره چه آیت کښې حکم دے په مطلق قراءت په ټولو مونځونو کښې

بلکه آيت نازل شويدے په باره د تهجد مانځه کښې ځکه مخکښې حکم وو ﴿ قُمِ اللَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا نِصْفَهٗ اَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيْلًا اَوْ زِدْ عَلَيْهِ ﴾ نو بيا حکم اوشو په تخفيف د قرائت او د مانځه هغه اندازه پورے کوم چه آسان وى۔ توضيح الاحکام (۲/ ۱۰)

نو د آيت سياق جدا دے او د حديث سياق جدا دے ځکه حديث کښې حکم دے په فاتحه لوستلو په هر مانځه کښې او آيت کښې حکم دے په ما تيسر من القرآن لوستلو په تهجدو کښې نو هر کله چه سياق د دواړو جدا شو نو تعارض رانغلو نو په دواړو عمل ممکن دے۔

٤- جواب : علامه مبارکفورى په تحفة الاحوذى (۱/ ۲۰۷) کښې فرمائى : دے آيت کښې فرضيت د مطلق قرآن بناء دے په دے چه د فاقرأوا نه قرائت مراد شى ليکن دا متفق عليه نه دے بلکه آيت کښې دوه تفسيرونه دى چه هغه تفسير کبير کښې ابوبکر الرازىؒ ذکر کړيدى يو قول دا دے چه ددے نه مراد امر بالصلوة دے اى فصلوا ما تيسر لکم ۔

دويم قول : چه ددے نه مراد قرائت دے ليکن دا دويم قول بعيد دے ۔ علامه آلوسىؒ په تفسير روح المعانى کښې ذکر کړيدى چه دلته د قرائت نه مراد صلوة دے خو تعبير په قرائت سره شويدے لکه څنګه چه د صلوة نه تعبير په باقى ارکانو سره کيږى او ددے نه مراد قراءت اخستل بعيد دى او دا د عام مفسرينو قول دے نو هر کله چه آيت کښې دوه تفسيرونه شو نو استدلال پدے سره په فرضيت د مطلق قرائت صحيح نه شو انتهىٰ دا جواب د عبد الرحمن مبارکفورى صاحب د تحفة الاحوذى وو۔

٥- جواب : که اومنو چه فاقرأوا ما تيسر من القرآن د هر مانځه قرائت ته شامل دے نو بيا وايو چه دا آيت مجمل دے او ددے بيان نبى عليه السلام کړيدے په (لا صلاة) سره چه ما تيسر من القرآن نه مراد فاتحه ده، او دا مطلق نه دے بلکه مجمل دے ځکه دا عبادات دى او عبادات مطلق نه وى بلکه مجمل وى د بيان محتاج وى او دا آيت داسے دے لکه فما استيسر من الهدى نو دلته هم حکم دے په هدى باندے بيا پيغمبرﷺ بيان او تعيين اوکړو چه اقل د هدى يو ګډ دے نو دلته هم د ما تيسر نه مراد فاتحه ده ۔ کذا فى شرح السنه للبغوىؒ (۲/ ۱۷۸) والتنبيه على مشکلات الهداية (۲/ ٥۳٦) **٦- جواب** : امام نووىؒ وغيره فرمائى : چه د ما تيسر من القرآن نه مراد فاتحه ده ځکه دا هر مسلمان ته آسانه ده ځکه چه ما په معنى د الذى دے او ددے نه معين شے مراد دے چه هغه فاتحه ده لهذا د ما تيسر من القرآن مصداق سورت فاتحه ده نو د آيت او د حديث مخالفت رانغے ۔ شرح مسلم (۱/ ۱۷۰)

٧- جواب : فاقرأوا ما تيسر من القرآن آيت عام مخصوص منه البعض دے نو دا ظنى دے نو دلالت نه کوى په فرضيت د مطلق قرائت باندے او ددے تخصيص په دے وقت کښې په خبر واحد سره هم جائز دے او ددے وجه دا ده چه ملا جيون په تفسير احمدى کښې وائى : چه اقل قرائت

زمونږ په نزد يو اوګد آيت دے لکه د آية الكرسى په شان او يا درے واړه آياتونه دی لکه د مدهامتان په شان او وائی همدا اصح قول دے۔
او چا چه دا وئیلی دی چه مطلق يو آيت كه اوګد وی او كه وړوكے نو دا غير معتمد به قول دے، خلاف دے د كتابونو د فقه نه، نو په هر تقدير د مادون الآية مخصوص دے ددے عام نه (يعنی فاقرأوا ما تيسر خو د آيت نه كم ته هم شامل دے ليكن هغه ترے خاص شويدے) نو دا عام ظنی شو نو مناسب ده چه دا دِ دليل نشی په فرضيت د مطلق قراءت او ددے سره دِ معارضه اوكړی هغه حديث چه حجت د شافعیؒ دے انتهى كلامه ۔ تحفة الاحوذی (۱/۲۰۷)
يعنی مطلب دا چه هر كله ددغه آيت نه مادون الآية خاص شو او عام ظنی اوګرځيدو نو اوس ددے نه نور افراد هم خاص كيدے شی نوپدے وجه جمهور علماء ترے فاتحه هم خاص كوی په حديث د لا صلاة لمن لم يقرأ بام القرآن سره نو فاقرأوا ما تيسر من القرآن نه مراد ما سوی د فاتحه نه نور قرائت دے كما فی شرح مسلم (۱/۱۷۰) يا د ما تيسر نه مراد بعينهٖ سورت فاتحه ده او دا ما تيسر خاص شو په فاتحه پورے۔
۸- **جواب** : شاه انور شاه فيض البارى (۲/۲۹۹) كښې عجيب علمی رد كوی وائی :
تمسك الحنفية به على عدم ركنية الفاتحة ليس بصحيح لان الفاتحة وان لم تكن ركنا لكنها واجبة عندنا ايضاً، والسياق سياق التعليم، فلو فرضنا انه لم يعلمه الفاتحة يلزم درج كراهية التحريم فی سياق التعليم، ولا يجوز اصلاً مع انها مذكورة فی حديث رفاعة صراحةً وان كانت محملة فی حديث ابی هريرةؓ الخ۔
حاصل مطلب دا دے چه ددے حديث نه استدلال كول په عدم ركنيت د فاتحه باندے صحيح نه دے ځكه چه فاتحه اګركه زمونږ په نزد ركن نه ده ليكن واجب خو ده نو كه دلته د ما تيسر نه فاتحه مراد نه شی نو بيا به په مقام د تعليم كښې مكروه تحريمی راشی ځكه چه زمونږ په نزد فاتحه واجب ده ددے پريخودل مكروه تحريمی دی نو كه دغه مخاطب په ما تيسر عمل اوكړی او فاتحه او نه وائی نو دا به مكروه تحريمی كار اوكړی او دا كار خو بالكل جائز نه دے، سره ددے نه چه سورتِ فاتحه په حديث د رفاعه كښې صراحةً ذكر ده اګركه په حديث د ابو هريره كښې اجمالاً ذكر ده نو ضرور به د ما تيسر نه مراد فاتحه وی او هغه به فرض وی۔
ددے وجے نه علامه خطابیؒ وائی : «ظاهره الاطلاق والتخيير والمراد منه فاتحة الكتاب لمن احسنها لايجزيه غيرها بدليل قوله : لا صلاة الا بفاتحة الكتاب » ۔ يعنی ظاهر ددے حديث نه اطلاق او تخيير معلوميږی ليكن ددے نه مراد فاتحه ده د قادر دپاره بغير ددے نه مونځ نه كيږی كما فی الحديث۔
۹- **جواب** : آيت كښې د مطلق قرائت اجازه راغلے ده چه د هر سورت نه وی او احناف وائی كه چا مطلق قرائت اوكړو او فاتحه ئے اونه لوستله نو دا به اعاده د مانځه كوی ځكه هغوی فاتحه لوستل واجب ګنړی او كه سهواً ئے پريخوده نو سجده سهوه لازم ده نو دوی هم په آيت عمل او نه كړو ځكه د آيت اطلاق ئے مقيد كړو ځكه آيت اجازه د مطلق قرائت وركوی بغير د اعادے او

سجده سهو نه او دوی وائی چه د فاتحې نه غير په هر سورت لوستو سره اعاده او سجده سهوه لازميږی بلکه سورتِ فاتحه به وائی ـ نو په آيت باندې عمل د کوم ځائې نه راغلو ـ دا عمل به هله راتلې چه دوی سورتِ فاتحه مستحب ګنړلې او مطلق قرائت فرض، بيا که چا فاتحه پريخودلې نو سجده سهوه به نه لازميدلې فتدبر فانه عجيب ـ

بيا احناف استدلال کوی چه پدې حديث د ابو هريره کښې صرف ما تيسر من القرآن ذکر دې او دا مقام د تعليم دې نو که فاتحه فرض وې نو د هغه حکم به ئې هم ورته کړې وې، ددې جواب دا دې چه په حديث د رفاعةؓ کښې امر هم موجود دې عند ابی داود (١٣٢/١) " ثم اقرأ بام القرآن وبما شاء الله ان تقرأ "ـ او په روايت د احمد او ابن حبان کښې دی : « اقرأ بام القرآن ثم اقرأ بما شئت » او دا قانون دې چه ټول طرق د حديث راجمع کړې نو کوم الفاظ چه زائد وی په هغې باندې به عمل کيږی

٢- **علامه نوویؒ** وائی :" ثم اقرأ بما تيسر معك من القرآن " دا محمول دې په عاجز عن الفاتحه باندې ځکه چه ددې سړی د حال نه معلوميده چه دا په سورتِ فاتحه نه پوهيدلو لکه په روايت د رفاعةؓ کښې دی : " جاء رجل كالبدوی " نو دا اعرابی وو نو ځکه ئې ورته په ما تيسر من القرآن حکم اوکړو او دا حکم اوس هم دې چه څوك په سورتِ فاتحه وئيلو قادر نه وی نو هغه چه هر سورت اولولی جائز ده او که په هيڅ قادر نه وی نو بيا به الحمد لله وسبحان الله والله اكبر کلمات وئيلو سره مونځ کوی شرح مسلم (١٧٠/١) او دا خبره شاه انور شاه هم په فيض البارى کښې ذکر کړيده ـ ٣- **احناف** وائی : حديث «لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب » کښې نفی د کمال ده نو د فاتحې نه بغير مونځ کامل نه دې او نفس جواز په قرائت د ما تيسر سره حاصليږی ـ

الجواب : دا خبره د دوه وجو نه غلطه ده ١- اوله وجه دا ده چه په روايت د ابن خزيمه او ابن حبان کښې په صحيح سند سره داسې لفظ راغلې دې : « لا تجزئ صلاة لا يقرأ فيها بفاتحة الكتاب » كما قال النووی فی شرح مسلم (١٧٠/١) والمباركفوری فی التحفة (٢٠٦/١)

او دغه شان روايات په دارقطنی (٣١٧،٣٢٢) مع التعليق المغنی کښې په اسناد حسن سره راغلی دی کما فی التلخيص ونصب الرايه (٣٨٠/١) ـ نو پدې سره دا تاويل باطل شو ځکه دلته نفی د اِجزاء او اِکتفاء شويده چه بغير د فاتحې نه مونځ جائز او صحيح نه دې ـ

٢- دويمه وجه : لا صلاة کښې نفی نه به يا نفی د حقيقت مراد وی يا نفی د کمال اول حقيقت دې او دويم مجاز دې او کله چه په حقيقت باندې عمل ممکن وی نو مجاز ته هيڅ صيرورت نه کيږی ـ امير صنعانیؒ وائی : دلته نفی د ذات ده ځکه صلاة مرکب دې د اقوال او افعالو نه او مرکب کله منتفی کيږی په انتفاء د کل اجزاؤ سره او کله په انتفاء د بعض اجزاؤ سره نو په ترك د فاتحه سره نفی د صلاة شرعيه راغله او د نفی د کمال مقدرولو ته ضرورت نشته ځکه تقدير به هله کولې شی چه کله نفی د ذات صحيح نه وی او دلته نفی د ذات صحيح ده ـ سبل السلام

(۱/۲٦۰) وتحفة الاحوذی (۱/۲۰۷) والمجموع شرح المهذب (۳/۳۲۸)۔

ابو الحسن السندی په حاشيه د ابن ماجه (۱٤۳) كښې فرمائي : واما نفي الكمال فقد حقق الكمال ضعفه لانه مخالف لا يصار اليه الا بدليل وانظر ابكار المنن فی تنقيد آثار السنن (۱۲۷)۔

يعنې نفي د كمال شيخ كمال الدين بن الهمام د هغې ضعف ثابت كړيدے او هغه مخالف ده او بے دليله ده ۔ **شيخ الاسلام** فرمائي : دلته نفي د عمل ده او عمل نه منتفي كيږي مگر هله چه يو شے د هغه د فرائضو نه منتفي شي او دا صحيح نه ده چه يو عمل نفي شي د وجے د نفي كيدو د يو شي د مستحباتو نه ۔ توضيح الاحكام (۲/۹) والقواعد النورانية لشيخ الاسلام ص (٥٤)

شاه ولي الدهلوي په حجة الله كښې فرمائي : الامور التی لا بد منها فی الصلاة **عنوان لاندے ليكي** : وما ذكره النبی ﷺ بلفظ الركنية كقوله ﷺ لا صلاة الا بفاتحة الكتاب وقوله ﷺ لا تجزئ صلاة الرجل حتى يقيم صلبه فی الركوع والسجود وما سمى الشارع الصلاة به فانه تنبيه بليغ علی كونه ركناً فی الصلاة انتهیٰ كلامه۔ **يعنې لا صلاة كښې كامله تنبيه ده چه فاتحه ركن د مانځه دے ۔**

۲ - **قول ثاني** دا دے چه فاتحه ركن او فرض ده او ددے نه بغير د هر هغه چا مونځ نه كيږي چه ددے په لوستلو قادر وي برابره ده امام وي او كه مقتدي وي او يا يواځے مونځ كونكے وي، مسافر وي او كه مقيم، سړے وي او كه ښځه، قائم وي او كه قاعد يا مضطجع ۔ او دا قول د جمهورو علماؤ د صحابه كرام او تابعين وغيره دے او په قول د امام ترمذیؒ دا قول د عمر بن الخطاب، جابر بن عبد اللهؓ، عمران بن الحصين رضي الله عنهم دے او امام نوويؒ د علامه ابن المنذرؒ نه نقل كړي چه دا قول د عثمان بن ابي العاص، ابن عباس، ابي هريره، ابي سعيد الخدري، خوات بن جبير او عباده بن الصامت رضي الله عنهم دے او دا قول د امام زهري، ابن عون، اوزاعي، ابن المبارك، مالك شافعي، احمد، اسحاق، ابوثور، داود او سفيان الثوري رحمهم الله الجميع دے ۔المجموع شرح المهذب (۳/۳۲۷) والترمذی (٥۷) وفتح الباری (۲/۱۹۲)

ددے قول ډير **دلائل** دي چه بعض د هغے نه دا دي :

۱ - **دليل** : حديث د عباده بن الصامت رضي اللهؓ عنه دے مرفوعا : «لاصلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب» (بخاری ۱/۱۰٤) باب وجوب القرائة والترمذی (۱/٥۷) ۔ ددے نه ركنيت د فاتحه معلوميږي كما تقدم فی عبارة الشاهؒ وغيره ۔

۲ - **دليل** : ددے حديث الباب په بعض طرقو كښې امر راغلے دے په فاتحه باندے (كما فی رواية احمد وابن حبان : اقرأ بام القرآن) ۔

۳ - حديث د ابو هريره دے په هغے كښې دي : قسمت الصلاة بيني وبين عبدی نصفين الخ

يعنې الله تعالى فرمائي : زما او زما د بنده ترمينځ سورتِ فاتحه تقسيم ده معلومه شوه چه هر بنده به سورتِ فاتحه وائي (د الصلاة نه مراد فاتحه ده) او پدے حديث باندے ابو هريره استدلال

کړیدے په قرائت خلف الامام لکه روستو به راشی ۔ مسلم (١٦٩/١) وشرح المهذب (٣٢٨/٣) ۔

٤- دلیل : دوام الرسول ﷺ علی الفاتحة : رسول الله ﷺ په ټول ژوند کښې په هر مانځه کښې سورتِ فاتحه لوستلے ده او بیا ئے پرے امت ته حُکم هم کړیدے نو داسے مواظبت او دوام دلیل د فرضیت دے ځکه که دا فرض نه وے نو رسول الله ﷺ به په یو وخت د اوقاتو کښې د سورت الفاتحه په ځائے بل سورت لوستلے وے او قرینه صارفه د وجوب او فرضیت هم نشته ۔ دارنګه تعامل د امت مسلمه هم دلیل دے ځکه چه ټول امت په مونځونو کښې فاتحه لولی تردے چه احناف ئے هم نه پریږدی نو دا هسے علمی اختلاف دے او عمل د ټولو یو دے نو صحیح دا ده چه فاتحه رکن ده او ددے نه بغیر مونځ نه کیږی ځکه چه د ما تیسر بیان په سورتِ فاتحه شویدے او نبی علیه السلام په دغه آیت او حدیث بنه پوهیدو او هغه فاتحه ضروری کړیده نو مونږ له د ځان نه د آیت او د حدیث یا د حدیث او حدیث ترمینځ تعارض پیدا کول جائز نه دی ۔

نو آیت مجمل او دا حدیث د فاتحه ئے بیان شو یا آیت مطلق دے او دا احادیث الباب د هغے مقید او مطلق محمول وی په مقید باندے کله چه حادثه او واقعه یوه وی او دلته هم واقعه یوه ده یا آیت عام دے او دا احادیث الباب خاص دی او دا قانون دے چه الخاص یقضی علی العام ۔ باقی دلائل حدیث الخداج وغیره روستو راروان دے ۔

بیا دا حدیث دلیل دے چه په هر رکعت کښې فاتحه لوستل فرض دی ۔

المسئلة الجانبية : قرائت په څور رکعتونو کښې فرض دے ؟ ددے مسئلے وضاحت به په باب القرائة کښې راشی ان شاء الله ۔

ثُمَّ ارْكَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا : راکعا حال مؤکده دے تاکید د ماقبل کوی ۔ دا الفاظ دلیل دے د جمهورو دپاره په فرضیت د طمانینت په رکوع کښې لکه دا حق قول دے۔

ثُمَّ ارْفَعْ : ای رأسك یعنی بیا سر اوچت کړه ۔ حَتّٰى تَسْتَوِیَ قَائِمًا : یعنی د رکوع نه سر پورته کړه تردے چه په ولاړه باندے بنه برابر شے، په روایت د ابن ماجه کښې دی : حتی تطمئن قائما ۔ دا روایات دلیل دے چه قومه او په هغے کښې اطمینان کول فرض دی ۔

ثُمَّ اسْجُدْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا : دا دلیل دے چه په سجده کښې اطمینان فرض دے او ددے تفصیل په روایت د نسائی کښې داسے دے : «ثم یکبر ویسجد حتی یمکن وجهه وجبهته حتی تطمئن مفاصله وتسترخی» یعنی چه په سجده کښې ئے جوړونه سُست شی او په آرام شی او دا اندازه فرض ده ۔

ثُمَّ ارْفَعْ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ جَالِساً : علامه طیبیؒ لیکی چه پدے مقام کښې کلمه د حتی غایه ده دپاره د اتمام د رکن نو دا دلیل دے چه اطمینان داخل دے په دے ارکانو کښې آهـ ۔ توضیح الاحکام (٧/٢)

بیا حتی تطمئن جالسا نه کومه جلسه مراد ده پدے کښې دوه قوله دی ۔

١ – قول اول : دا چه ددے نه مراد جلسه د استراحت ده یعنی دویم رکعت ته د پورته کیدو په

وخت کښې نیغ مه پاڅه بلکه لګ شان استراحت او دمه اوکړه بیا پاڅیږه ـ
لیکن ددې جلسه د استراحت په فرضیت باندې خو هیڅ عالم قول نه دې کړې او دلته خو فرائض شروع دي نو ددې وجې نه حافظ عسقلانیؒ په فتح الباری (۲/۲۲۲) کښې لیکی : چه د امام بخاریؒ په نزد باندې دا الفاظ (حتی تطمئن جالسا) وهم دې د ابن نمیرؒ راوی نه ځکه دده په خلاف ابواسامه حماد بن اسامهؒ راوی داسې الفاظ وئیلی دی (حتی تستوی قائما) نو جلسه د استراحت ددې روایت نه ثابته نشوه او امام بخاریؒ د ابن نمیرؒ راوی د روایت نه پس د ابواسامهؒ روایت ذکر کړیدې (باب الاستئذان کښې) اشاره کوی دې وهم ته ـ نو روایت د ابواسامهؒ راجح شو د ابن نمیرؒ د روایت نه ـ ۲ ـ **دویم قول** دا دې چه دا الفاظ هم صحیح دی خو ددې نه جالساً فی الرکعة الثانیة للتشهد مراد دې بیا حافظ عسقلانیؒ ددې تائید دا ذکر کړیدې چه په روایت د اسحاق بن راهویهؒ کښې د هغه په مسند کښې دا روایت د ابواسامهؒ نه د ابن نمیرؒ د روایت په شان ذکر کړیدې چه په هغې کښې دا الفاظ دی (ثم اقعد حتی تطمئن قاعداً ثم افعل ذلك فی كل ركعة) نو ددې نه مراد تشهد دپاره کیناستل شو ـ دارنګه په روایت د ابوداودؒ او بیهقیؒ کښې په حدیث د رفاعهؓ کښې داسې الفاظ زیات دی : (فاذا جلست فی وسط الصلاة یعنی التشهد الاوسط فاطمئن وافرش فخذك ثم تشهد) ـ
مګر حافظ فرمائی : چه اول قول غوره دې ـ انظر نیل الاوطار (۲/۲۹۷) والفتح (۲/۲۲۲) دلته مصنف هم دا دویم روایت ددې دپاره نقل کړیدې چه د اول قول غوره والی ته اشاره کوی ـ
فوائد الحدیث : ۱ـ پدې حدیث کښې اکثر فرائض د مانځه بیان شو او بعض اتفاقی فرائض پکښې ندی ذکر شوی چه هغه نیت دې او قعده آخره ده او ترتیب الارکان دې ځکه حدیث کښې لفظ د ثم ثم راغلې دې چه دلالت په ترتیب کوی ـ او بعض اختلافی فرائض هم ندی ذکر لکه تشهد اخیر وئیل، درود وئیل، او سلام ګرځول دا د امام شافعیؒ په نزد واجب دی او سلام ګرځول عند الجمهور واجب دی او تشهد د اکثرو په نزد واجب دې او صلاة علی النبی د امام شافعیؒ سره نور علماء هم واجب ګنړی لکه احمدؒ بن حنبل، امام شعبیؒ، او تشهد اول د امام احمدؒ په نزد واجب دې دغه شان تکبیرات الانتقالات او تسبیحات د رکوع او سجدې عند احمدؒ واجب دی او دلته ندی ذکر شوی نو ددې وجه دا ده چه کوم واجبات اتفاقی دی هغه دې سائل ته معلوم وو نو د هغې بیان ته ضرورت نه وو، دغه شان دا باقی احکام هم ورته معلوم وو پدې وجه ئې ورته صرف هغه احکام ذکر کړل چه په هغې کښې دده مقصد حاصلیدو چه هغه تعدیل الارکان دې او یو رکعت ئې ورته اوخودلو او باقی باندې ئې حواله ورکړه ـ کذا قال البغوی فی شرح السنه (۲/۱۷۸) والنووی فی شرح مسلم (۱/۱۷۱)ـ
۲ـ دا حدیث دلیل دې چه طهارت، استقبال الی القبله، تکبیر تحریمه او قرائت فرائض دی ـ

۳- پدې حديث کښې دعاء الافتتاح، تعوذ، بسم الله، رفع اليدين د تکبيرتحريمه سره، نېږې لاس په ګس لاس کېخودل، تکبيرات الانتقالات، تسبيحات د رکوع او سجدې، هيئات الجلوس، وضع اليد على الفخذ اقامت وغيره نه دي ذکر نو دې کښې بعض واجب دي ځکه په نورو حديثونو کښې په هغې باندې اوامر راغلي دي او بعض مستحب دي ـ

٤- په حديث کښې مشروعيت د حسن التعليم دې او طريقه د امر بالمعروف پکښې ذکر ده چه د جاهل سړي سره به سختي نشي کولې.

٥- مفتي له پکار دي چه کله د هغه نه د يوې مسئلې باره کښې تپوس اوشي نو د هغه مسئلې متعلق ضروري احکام ذکر کړي لکه دلته نبي عليه السلام تعديل الارکان خودلو باندې صرف اکتفاء اونکړه بلکه ابتداء نه ئې ورته ترتيب بيان کړو چه ښه پو هه شي او دا خير خواهي ده ـ

٦- مفتي له پکار دي چه کوم مهم وي هغې باندې اکتفاء کوي يې ځايه تفصيل به نه کوي چه سائل هغه نشي زده کولې او فرائض به په مستحباتو مقدم کوي ـ

۷- په حديث کښې استحباب د سلام د ملاقات په وقت ذکر دې (او وجوب ئې د نورو دلائلو نه معلوميږي) او بيا د سلام جواب ورکول واجب دي او کله چه ملاقات بار بار کيږي نو سلام به هم بار بار اچولې شي اګرکه وقت لګ تير شوې وي ـ

۸- فاتحه په هر رکعت کښې لوستل فرض دي ـ

۹- د مفتي او د خلقو کيناستل په مسجد کښې مستحب دي ـ

۱۰- تاخير د بيان په يو مجلس کښې د مصلحت په بناء جائز دي ـ

۱۱- ثم افعل ذلك في صلاتك كلها نه مراد رکعات د مانځه دي او کلها نه مراد ټول مونځونه دي فرض وي او که نفل وغيره.

۲- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَسْتَفْتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيْرِ وَالْقِرَائَةَ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَكَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ، وَلَمْ يُصَوِّبْهُ، وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ . وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَائِمًا، وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ جَالِسًا . وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ. وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى، وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى . وَكَانَ يَنْهٰى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ، وَيَنْهٰى اَنْ يَفْتَرِشَ الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ، وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيْمِ، رواه مسلم

ترجمه : او عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به مونځ په تکبير سره او

قرائت به ئے په الحمد لله رب العالمين سره شروع كولو او رسول الله ﷺ چه به كله ركوع كوله نو سر مبارك به ئے نه زيات پورته كولو او نه به ئے (ډير زيات) خكته كولو بلكه درميانه به ئے ساتلو (يعني ملا او ځټ به ئے برابر ساتلو) او كله به ئے چه ركوع نه سر پورته كړو نو بغير د سيده اودريدو نه به سجدے ته نه تلو او كله به ئے چه د سجدے نه سر پورته كړو نو بغير د سيده كيناستو نه به (دويمے) سجدے ته نه ورتلو، او د هر دوه ركعتونو نه پس به ئے التحيات وئيله او (په ناسته كښې به ئے) خپله گسه خپه خوره كړه او ښئ خپه به ئے اودروله او هغه به د عقبه د شيطان (د شيطان د ناستے) نه منع كوله او هغه به منع كوله ددے نه چه سړے (په مانځه كښې) د درنده په شان ليچے خورے كړي او هغه به مونځ په سلام وئيلو سره ختمولو ۔ (مسلم) ۔

تشريح : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَسْتَفْتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيْرِ:

فائده : رسول الله ﷺ نه د تكبير نه مخكښې په نيت باندے تلفظ ندے نقل بلكه علماء فرمائي په نيت باندے تلفظ كول د بدعاتو نه دي لكه دا خبره په جلد اول او دويم كښې تفصيلا ذكر شويده وكذا في الشامي والمرقات واغاثه اللهفان (۱۱۱) ۔

او دا حديث د رسول الله ﷺ د عملي مونځ تشريح ده او دا بيان دے ددے حديث (صلوا كما رأيتموني اصلي - رواه البخاري) عائشةؓ ئے دے دپاره امت ته نقل كوى چه امت دده تابعداري اوكړي او په صلوا كما رأيتموني اصلي باندے عمل اوكړي ۔

بالتكبير نه مراد : الله اكبر وئيل دي لكه دا په روايت د ابو نعيم في الحليه كښې راغلي دي ۔

وَالْقِرَائَةَ بِالْحَمْدُ لِلهِ : القرائةَ : منصوب دے عطف دے په الصلا ة باندے او الحمد مجرور دے په باء سره يا مرفوع دے بنابر حكايت ۔

ددے حديث د ظاهر نه دا معلوميږي چه رسول الله ﷺ به د الله اكبر وئيلو نه پس قرائت د الحمد نه شروع كولو نو ددے نه امام مالكؒ استدلال كړے دے په دے چه ثناء او دعاء د استفتاح (سبحانك اللهم وغيره) وئيل نشته بلكه شروع به د الحمد نه كولے شي ۔

۲- **جمهور علماء** وائي : سبحانك اللهم وغيره په نورو احاديثو كښې ثابت دي او پدے حديث كښې د هغې نفي نشته دارنگه د بسم الله وئيلو نفي هم نشته بلكه ددے مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ به جهر سره قرائت د سورتِ فاتحے نه شروع كوله او بسم الله او دعاء الاستفتاح به ئے پټ لوستل لكه دا د نورو احاديثو نه معلومه ده ۔

ابو هريره رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته اوفرمائيل : ارأيت اسكاتك بين التكبير والقرائة ما تقول الخ ددے نه دعاء الاستفتاح معلوميږي او روستو احاديث راروان دي او امام مالك ته دا حديثونه ندي رسيدلي نو مالكيه ددے حديثونو نه د تقليد په وجه محروم شو ۔

المسئلة الثانية : پدے حديث كښې بسم الله هم نه ده ذكر نو آيا د هغې لوستل شته او كه

نه ؟ نو د بسم الله په باره کښې درې مسائل دی :

اوله مسئله : پدې کښې اتفاق دې چه په سورتِ نمل کښې بسم الله جزء د يو آيت دې دارنګه ابتداء د سورتِ برائت کښې بسم الله وئيل نشته ـ او باقي کښې اختلاف دې ـ

۱ – اول اختلاف دا دې چه بسم الله آيا د قرآن نه ده او که نه ؟ ـ **۱ – نو يو قول** دا دې چه بسم الله د قرآن نه نه ده مګر صرف سورت نمل کښې د قرآن نه ده او په ابتداء د سورتونو کښې چه کومه بسم الله ده نو دا راوړې شويده دپاره د امتياز بين السورتين (يعني دې دپاره چه جدائي د يو سورت د بل نه راشي) او دا قول د امام مالکؒ، اوزاعيؒ دې او طحاويؒ د ابوحنيفهؒ او ابويوسفؒ نه نقل کړيدې او ابن قدامهؒ په المغني کښې مختار کړيدې ـ

۲ – جمهور امت وائي چه بسم الله د قرآن مستقل يو آيت دې او دوی جواب ورکوی مخکني قول والا ته چه امتياز بين السورتين دپاره نازليدل منافي ندی د کيدلو د بسم الله د قرآن نه ـ وهو الراجح ځکه دا د قرآن په رسم الخط ليکلې شويده ـ او که دا د قرآن نه نه وې نو د قرآن کريم په رسم الخط به نه وې ليکلې شوې سره ددې نه چه سلفو غيرقرآن د قرآن نه خالي کړيدې ـ

دويمه مسئله : بيا پدې کښې اختلاف دې چه آيا دا د سورتِ فاتحې يا د هر سورت نه جزء ده او که نه ؟ ـ ۱ – نو **يو قول** دا دې چه بسم الله جزء د هر سورت نه ده سوئ د برائت نه او دغه شان جزء د سورتِ فاتحې نه هم ده او دا قول د امام شافعيؒ دې، امام نوويؒ وائي : دا قول د بې شماره علماؤ د سلفو دې او د ابوعمر بن عبد البرؒ نه نقل کوی چه دا قول د ابن عباس، ابن عمر، ابن الزبير، رضی الله عنهم او طاوس، مکحول، عطاء، ابن المنذر، او يوه طائفه د علماؤ رحمهم الله دې وهو اختيار الشوکاني في ارشاد الفحول ـ

۲ – قول ثاني دا دې چه بسم الله صرف د سورتِ فاتحې نه جزء دې (يو آيت دې) او د باقي سورتونو په ابتداء کښې جزء نه دې او دا قول د امام احمدؒ، اسحاقؒ، ابوعبيدؒ، اهل کوفهؒ، اهل مکه، اهل العراق دې او دا يو روايت د امام شافعيؒ نه دې ـ

۳ – قول ثالث دا دې چه بسم الله يو مستقل آيت دې هر ځائې چه ليکلې شوې وی په قرآن کښې نه جزء د فاتحې نه دې او نه جزء د هر سورت نه دې، او دا نازله شويده دپاره ددې چه پدې باندې افتتاح د قرائت اوشي او دې دپاره چه فصل د دوه سورتونو ترمينځ راشي سوئ د سورتِ برائت نه ـ ددې وجې نه دا په بيله کرخه کښې مستقل ليکلې شی، شيخ الاسلام فرمائي: وهو قول عبد الله بن المبارك وهو اوسط الاقوال واعدلها (القواعد النورانية ص : ٤٧)

او دا قول په احنافو کښې د ابوبکر الرازی الجصاصؒ دې او دا احنافو غوره کړيدې امام محمد بن الحسنؒ وائي : «مابين دفتي المصحف قرآن» او دا قول د ابن المبارکؒ دې او يو روايت د امام احمدؒ دې، او دا قول د داود ظاهريؒ دې ـ حافظ زيلعيؒ وائي : دا قول د محققين اهل العلم دې او

احنافو ته دا قول په طريقه د استنباط منسوب دے لکه چه دا خبره د احکام القرآن د جصاص نه معلومه ده نصب الرايه (۳۲۷/۱) او دا به د هر سورت نه جدا لوستلے کيږي او ددے لوستل سنت عمل دے اگرچه جزء نه ده او دا قول راجح دے د وجے د دلائلو نه :

۱- **يو دليل** دا دے چه په مسلم (۱۷۲/۱) او نسائي (۱۹۷/۱) کښې د مختار بن فلفل رضي الله عنه حديث دے چه نبي عليه السلام يو ځل اوده شو بيا رابيدار شو وے فرمائيل : ما باندے اوس پدے ساعت کښې يو سورت نازل شو بيا ئے اولوستل : بسم الله الرحمن الرحيم إنّا اعطيناك الكوثر الخ ۔ او په اتفاق د علماؤ انا اعطيناك سورت درے آيتونه دي نو که بسم الله ددے سورت نه شمار شي نو بيا خو به څلور آيات شي ۔ ۲- **دليل** : امام ترمذي باب فضل سورة الملك (۱۱۲/۲) کښې حسن حديث ذکرکړيدے وکذا اهل السنن : چه نبي عليه السلام فرمائي : ان سورةً من القرآن هي ثلاثون آية شفعت لرجل حتى غفر له وهي سورة تبارك الذى بيده الملك ۔

نو که بسم الله جزء د هر سورت نه وے نو بيا خو به سورتِ ملك (۳۱) آيات جوړ شي ۔

۳- **دليل** : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائي : كان رسول الله ﷺ لا يعرف فصل السورة حتى ينزل عليه بسم الله الرحمن الرحيم وفي رواية : لا يعرف انقضاء السورة رواه ابوداود (۱۲۲/۱) والحاكم (۲۳۲/۱) وقال : انه صحيح على شرط الشيخين والسنن الكبرىٰ (۴۳/۲)۔

معلومه شوه چه بسم الله صرف د سورتونو د جدائي دپاره نازل ده او د هر سورت نه جزء نه ده ۔ نصب الراية (۳۲۷/۱)

٤- امام نوويؒ په شرح مسلم (۱۷۲/۱) کښې وئيلي دي چه حديث د بدء الوحي کښې دي : فجاء الملك فقال له اقرأ فقال ما انا قارئ ثلاث مرات ثم قال له اقرأ باسم ربك الذى خلق ۔

ددے نه معلومه شوه چه بسم الله د سورتونو نه جزء نه ده او نه د اقرأ سورت نه مخکښې ذکر شويده ۔ وكذا في نصب الرايه (۳۲۷/۱)

۵- **دليل** : د سورتِ فاتحه نه هم جزء نه ده دليل دا دے چه حديث د مسلم (۱۷۲/۱) کښې په روايت د ابوهريرهؓ کښې دي : قسمت الصلاة بيني وبين عبدى نصفين فاذا قال العبد الحمد رب العالمين قال الله حمدني عبدى، الحديث وسيأتي نو که بسم جزء د فاتحے نه وے نو دلته به ئے ذکر کړي وے دا ښه واضح او قوي دليل دے او تاويلاتو ته ضرورت نشته ۔

٦- **دليل** : رسول الله ﷺ او خلفاء راشدينو نه په تواتر نقل دي چه هغوي به په مانځه کښې په بسم الله باندے جهر نه کولو كما في نصب الراية (۳۲۹/۱) ونيل الاوطار (۲۱۹/۲) او دا قول شيخ الاسلام ابن تيميه په مجموع الفتاوى (۴۳۴/۲۲) کښې راجح کړيدے ۔

نو که بسم الله د فاتحے نه جزء وے نو چه نبي عليه السلام فاتحه باندے جهر کولے نو ضرور به ئے په بسم الله باندے هم جهر کولے او دا به ئے على سبيل الدوام نه پريخودلے ۔

۷- دلیل : ددے خبرے چه بسم اللہ د قرآن نه ده او دا د اللہ کلام دے : دا دے چه دا یقینی معلومه ده چه کوم صحابه کرامو مصاحف لیکلی دی نو مونږ ته ئے دا رانقل کړی دی چه پدے مصاحفو کښې چه دننه څه لیکل شویدی دا د اللہ کلام دے سره ددے نه چه امت ډیره مبالغه کړیده په تجرید د قرآن باندے چه کوم شے قرآن نه نه دے هغه ئے ترے لرې کړے دے تردے چه آمین ئے هم په کښې نه دے لیکلے سره د هغینه چه آمین د سورت فاتحے نه روستو لوستل سنت دی ـ

نو دا اجماع د امت شوه چه بسم اللہ د قرآن نه حساب ده ـ نصب الرایة (۱/۳۲۹) المرعاة (۳/۱۱۸) فتاوی الدین الخالص (۴/۱۱۹) المجموع شرح المهذب (۳/۳۳۵) ـ

۸- دلیل : حدیث د ابوسعید بن المُعَلّٰی رضی اللہ عنه کښې دی : چه ما ته رسول اللہ ﷺ اوفرمائیل : زه تا ته یو لوئی سورت په قرآن کښې خائم – الحمد لله رب العالمین هی السبع المثانی والقرآن العظیم الذی اوتیته رواه البخاری (۲/۶۴۲) دا حدیث دلیل دے چه فاتحه اووه آیتونه دی او د الحمد نه شروع ده نو که بسم اللہ جزء شی نو بیا به اته آیاتونه شی ـ

۹- دلیل : دارنګه حدیث د ابوهریرةؓ کښې دی : کان رسول الله ﷺ اذا نهض من الثانیة استفتح بالحمد لله رب العالمین ولم یسکت رواه مسلم والطحاوی وسیأتی ـ دا دلیل دے چه بسم اللہ ئے د دویم رکعت په شروع کښې په جهر نه ده وئیلے نو که بسم اللہ د فاتحے نه جزء وے ضرور به ئے په جهر وئیلے ـ

او د شوافعو دلائل اکثر مرجوح دی هغوی وائی : بسم اللہ د فاتحے او د هر سورت نه جزء ده ـ **۱- دلیل** : حدیث د ابوهریرةؓ دے مرفوعا : انه کان یقول الحمد لله رب العالمین سبع آیات احداهن بسم الله الرحمن الرحیم الحدیث نو دلته ئے بسم اللہ یو آیت د فاتحے نه شمار کړو ـ اخرجه البیهقی (۲/۴۵) قال الشیخ الالبانی فی الصحیحة (۳/۱۸۰) رقم (۱۱۸۳) قلت : وهذا اسناد صحیح مرفوعاً وموقوفاً الخ ـ او دارقطنی کښې دی : عن ابی هریرة مرفوعاً : اذا قرأتم الحمد فاقرأوا بسم الله الرحمن الرحیم انها ام القرآن وام الکتاب والسبع المثانی وبسم الله الرحمن الرحیم احدی آیاتها قال الدارقطنی واسناد رجاله کلهم ثقات وروی موقوفاً وقال الیعمری : وجمیع رواته ثقات الا ان نوح بن ابی بلال الراوی له عن سعید بن ابی سعید المقبری عن ابی هریرة تردد فیه فرفعه تارة وقفه اخریٰ وقال الحافظ : هذا الاسناد رجاله ثقات وصحح غیر واحد من الائمة وقفه علی رفعه واعله ابن القطان بتردد نوح وتکلم فیه ابن الجوزی من احل عبد الحمید بن جعفر فان فیه مقالا ولکن متابعة نوح له مما تقویه، نیل الاوطار (۲/۲۲۰) والمجموع (۳/۳۳۷)ـ

الجواب : ۱- دا حدیث د مخکنو احادیثو خلاف معلومیږی نو دے کښې به داسے تاویل اوکړو چه د هغے سره ئے جمع راشی او هغه دا چه دا محمول دے په تشبیه باندے یعنی د بسم اللہ ونیل د فاتحے سره داسے کلك سنت دی ګویا کښې دا د هغے نه جزء ده ـ

دویم جواب : امام بیهقیؒ فرمائی : والصواب انه موقوف وهم اهل الخبرة بهذا الباب ـ یعنی دا روایت

موقوف دے او موقوف د مرفوع معارضه نشي کولے ۔ لکه دا خبره حافظ عسقلاني هم کړیده ۔

۲- **دلیل :** ام سلمهؓ فرمائی : "ان النبی ﷺ قرأ بسم الله الرحمن الرحیم فی الفاتحة فی الصلاة وعدّها آیةً" الحدیث اخرجه ابن خزیمة فی صحیحه والبیهقی فی السنن الکبری (۲/ ٤٤) ، وانظر المجموع (۳/ ۳۳٦) والمغنی (۱/ ۵۵۲) ۔ **الجواب :** دا ټول روایات محمول دي په سنیت د قرائت د تسمیه باندے مخکښ د فاتحے نه او دا دلالت نه کوی په جزئیت باندے بلکه پدے کښ تاکید دے په بسم الله وئیلو باندے په شان د فاتحه ۔ څکه په دویم روایت کښ ام سلمهؓ خپل ګمان ذکر کوی چه نبی علیه السلام دا آیت اوشمارلو او حال دا چه د بسم الله د وئیلو نه دا نه لازمیږی چه دا یو آیت د فاتحے دے ۔ فتفکر !۔ او روایت د دارقطنی کښ کلام دے چه نوح پدے روایت کښ تردد کړیدے په رفع او وقف کښ نو رفع ئے صحیح ثابته نه ده ۔ نو اقله درجه دا چه دا موقوف حدیث دے او دا د مرفوع روایاتو مقابله نشي کولے ۔

۳- **المسئلة الثالثة :** بسم الله به جهراً لوستے شي او که سراً ؟ ۔

۱- یو قول دا دے چه جهر سنت نه دے او دا قول د اوزاعیؒ، ابوحنیفهؒ، او احمد بن حنبلؒ دے او دا قول د ابن المنذرؒ دے او په صحابه کرام او تابعینو کښ د علی بن ابی طالب، ابن مسعود، عمار بن یاسر، ابن الزبیر، الحکم رضی الله عنهم دے او د حماد او ثوری رحمهما الله دے ۔ وحکی عن النخعی وهو المروی عن عمر ۔ المجموع (۳/ ۳٤۲) ونیل الاوطار (۲/ ۲۱۷)

۲- قول ثانی دا دے چه بسم الله په جهر وئیل سنت دی په جهری مانځه کښ او سراً وئیل سنت دی په سرّی مانځه کښ او دا قول امام ترمذیؒ د اکثر اهل العلم نه نقل کړیدے ۔

امام نوویؒ فرمائی : هذا قول اکثر العلماء من الصحابة والتابعین ومن بعدهم من الفقهاء والقراء وعن عمر ثلاث روایات ۔ په صحابه کرامو کښ د عثمان، علی، عمار بن یاسر، ابی بن کعب، ابن عمر، ابن عباس ابوقتاده، ابوسعید، ابو هریره، قیس بن مالك، عبد الله بن ابی اوفی، شداد بن اوس رضی الله عنهم، او په تابعینو کښ د سعید بن المسیب، طاوس، عطاء، مجاهد، ابووائل، سعید بن جبیر، ابن سیرین، عکرمه، او علی بن الحسین رحمهم الله دے ۔ امام نوویؒ د ابوبکر الخطیبؒ نه نقل کړی دی چه هغه تقریبا د اته ویشت (۲۸) تابعینو نومونه ذکر کړیدی او د تبع تابعینو نه ئے ابن ابی ذئب، لیث بن سعد وغیره اووه (۷) اشخاص ذکر کړیدی ۔

او دا قول د امام شافعیؒ دے چه جهر په بسم الله سنت دے ۔

دلائل :ـــ د اول قول دلائل :

۱- **اول دلیل :** انس بن مالك ؓ فرمائی : صلیت مع النبی ﷺ وابی بکر وعمر وعثمان فلم اسمع احداً منهم یقرأ بسم الله الرحمن الرحیم رواه احمد ومسلم وفی لفظ : صلیت خلف النبی ﷺ وخلف ابی بکر وعمر وعثمان فکانوا لا یجهرون ببسم الله الرحمن الرحیم رواه احمد والنسائی باسناد

على شرط الصحيح ۔ **دا صریح حدیث دے پدے چه نبی علیه السلام او خلفاء راشدینو په بسم اللّٰه جهر نه دے کړے ځکه چه هر کله انسؓ وانه وریدل سره ددے نه چه هغه د رسول اللّٰه ﷺ سره سفراً او حضراً ملازم وو نو دلیل دے چه جهر نه دے شوے** (فی عامة الاوقات) ۔

۲- دلیل : دا حدیث د عائشةؓ دے : إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ كان يفتتح الصلاة بالتكبير والقرائة بالحمد لله رب العالمين **او د الحمد لله رب العالمين نه مراد اول آیت د فاتحه دے لکه بل روایت کښې الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم مالك يوم الدين راغلے دے نو دا حدیث هم دلیل دے چه جهر د الحمد نه شروع شویدے او بسم اللّٰه ئے په پټه وئیلے ده ځکه د بسم اللّٰه وئیل خو د ټولو په نزد سنت دی۔ ۳- دلیل : عبد اللّٰه بن مغفلؓ د خپل ځوی نه بسم اللّٰه په جهر واوریدله نو هغه پرے انکار اوکړو او دا ئے ورته اووئیل :** (ای بنی ایاك والحدث) **ځان د بدعت نه بچ کړه ځکه ما د رسول اللّٰه ﷺ او ابوبکر او عمر او عثمان نه روستو مونځونه کړیدی او د هغوی نه ما ندی اوریدلی چه دا ئے لوستلی وی نو ته ئے هم (په جهر) مه وایه** ۔ رواه الترمذی (۱/۳۳) وابن ماجه والنسائی (۱/۱۹۷) والسنن الکبریٰ للبیهقی (۲/۵۲)۔

٤- دلیل : په روایت د انسؓ کښې دی : كما فی الدارقطنی والطحاوی (۱/۱۱۹) واحمد (۳/۲٦٤) فكانوا لا يجهرون ببسم الله الرحمن الرحيم وفی رواية ابن حبان والنسائی (۱/۱۹۷) فلم اسمع احدا منهم يجهر ببسم الله الرحمن الرحيم وفی مسند ابی یعلی الموصلی (فكانوا يستفتحون القرائة فيما يجهر به بالحمد لله رب العالمين وفی لفظ للطبرانی وابن خزيمة والطحاوی (۱/۱۱۹) وكانوا يسرون ببسم الله الرحمن الرحيم ۔ **حافظ زیلعیؒ په نصب الرایه** (۱/۳۲۷) ۔**کښې وائی :** ورجال هذه الروايات ثقات مخرج لهم فی الصحيح ۔

۵-دلیل : د ابن عباسؓ نه تپوس اوشو په جهر د بسم اللّٰه کښې هغه اوفرمائیل : ذلك فعل الاعراب ۔ طحاوی (۱/۱٤۷) واسناده حسن (وفيه شريك) **دا احادیث دلیل دے چه بسم اللّٰه په پټه وئیل سنت دی ۔ د قول ثانی دلائل : دوی وائی په مانځه کښې بسم اللّٰه په جهر وئیل سنت دی : ۱- دلیل : حدیث د ابن عباسؓ کښې دی :** كان النبی ﷺ يجهر ببسم الله الرحمن الرحيم اخرجه الدارقطنی (۱/۳۰۳) رقم (۱۱٤۸) والطبرانی (۱۰/۲۷۷) والحافظ فی التلخيص (۱/۳۸٤) وسكت عنه وقال الدارقطنی هذا اسناد صحيح ليس فی رواته مجروح ۔**جواب ئے روستو راځی** ۔

۲- حدیث د ام سلمةؓ کښې دی : كان رسول الله ﷺ يقطع قرائته بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العالمين، الرحمن الرحيم، مالك يوم الدين، وفی رواية كان النبی ﷺ يقطعها حرفا حرفاً وفی رواية : كان النبی ﷺ اذا قرأ يقطع قرائته آية آية اخرجه ابن خزيمة والحاكم فی المستدرك (۱/۲۳۲) و(۲/۲۳۱) وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبی وصححه ابن خزيمة فی صحيحه كما فی تفسير ابن كثير (۱/۱۷) وصححه النووی فی المجموع (۳/۳٤٦) ۔

شيخ البانیؒ فرمائی : قلت هو كما قالوا لو لا عنعنة ابن جريج لكنه قد توبع كما يأتى فالحديث صحيح انتهى ارواء الغليل (٢/٦٠) رقم (٣٤٣)

نو ددے حدیث نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ د الحمد نه مخکښ بسم الله لوستلے ده نو دا ئے د فاتحے نه کرځولے ده او ظاهره ده چه فاتحه ئے په جهر لوستلے ده نو بسم الله به ئے هم په جهر لوستلی وی۔ ٣- دلیل : د انس بن مالکؓ نه د نبی علیه السلام د قراء ت په باره کښ تپوس اوشو، هغه اوفرمائیل : كانت مداً ثم قرأ : بسم الله الرحمن الرحيم يمد بسم الله ويمد الرحمن ويمد الرحيم ـ بخارى باب مد القرائة، ابوداود رقم (١٤٦٥) والنسائى (٢/١٧٩) وابن ماجه (١٣٥٣) والبيهقى (٢/٥٢) والبغوى فى شرح السنة (١٢١٤) ـ

طریقه د استدلال : ابوبکر الحافظ محمد بن موسیٰ الحازمیؒ فرمائی : وفيه دلالة على الجهر مطلقاً يتناول الصلاة وغيرها لأن قرائة رسول الله ﷺ لو اختلفت فى الجهر بين حالتى الصلاة وغيرها لبيّنها انس ولما اطلق جوابه وحيث اجاب بالبسملة دلّ على ان النبى ﷺ يجهر بها فى قرائته ولولا ذلك لاجاب انس بالحمد لله رب العالمين او غيرها انتهى، الاعتبار فى الناسخ والمنسوخ من الآثار ص (٥٨) والمجموع للنووى (٣/٣٤٧) **یعنی دا حدیث دلیل دے په جهر د بسم الله باندے مطلقا مانځه او بهر د مانځه نه تولو ته شامل دے ځکه که د رسول الله ﷺ قرائت د جهر په مانځه کښ او بهر د مانځه نه مختلف وے نو انسؓ به د هغے بیان کړے وے او مطلق جواب به ئے نه ورکولے، دارنګه کله چه انسؓ په بسم الله سره جواب ورکړو نو دا دلیل دے پدے خبره چه رسول الله ﷺ به په بسم الله باندے په خپل قرائت کښ جهر کولو ولے که داسے نه وے نو بیا به انسؓ په الحمد لله رب العالمین یا بل څه سره جواب ورکړے وے ۔**

٤- دلیل : مخکښ حدیث د انسؓ ذکر شو چه رسول الله ﷺ د انا اعطیناك الكوثر نه مخکښ بسم الله اووئیله اخرجه مسلم فى الصلاة باب حجة من قال البسملة آية الخ واخرجه النسائى (٢/١٣٣) والبيهقى (٢/٤٣) **نو پدے حدیث کښ صراحت دے په جهر د بسم الله خارج د مانځه نه دغه شان په مانځه کښ به هم پدے باندے جهر کولے شی لکه د نورو آیاتونو په شان ۔ انظر المجموع (٣/٣٤٨) ٥- دلیل : اجماع د اهل مدینه ده په زمانه د صحابه کرامؓ کښ پدے جهر باندے او دلیل پدے باندے حدیث د انسؓ دے فرمائی : معاویه رضی الله عنه یو ځل په مدینه کښ جهری مونځ اوکړو نو د فاتحے سره ئے بسم الله اولوستله او د سورت سره ئے اونه لوستله تردے چه قراء ت ئے ختم کړو بیا ئے د سجدے دپاره تکبیر هم اونه لوستلو تردے چه مونځ ئے ختم کړو کله ئے چه سلام واړولو نو دغه مانځه ته چه کوم مهاجرین حاضر وو هغوی ورته د هر طرفنه آوازونه اوکړل اے معاویه !** اسرقت الصلاة ام نسيت ؟ **۔ آیا تا د مانځه نه غلا اوکړه او که درنه هیر شو (راوی وائی) بیا ددے نه روستو چه به معاویهؓ مونځ کولو نو بسم الله الرحمن الرحیم به**

ئے د سورت سره هم لوستله او د سجدے دپاره به ئے الله اکبر هم وئیلو ۔ اخرجه الشافعی فی الام (۱/۱۰۸) والبیهقی (۲/٤۱) والدارقطنی (۱/۳۱۱) والحاکم (۱/۲۳۳) وقال صحیح علی شرط مسلم ولم یخرجاه واحتج بعبد المجید وسائر رواته متفق علی عدالتهم قال البیهقی وتابعه علی ذلك عبد الرزاق عن ابن جریج رواه ابن خیثم باسناد آخر رواه الدارقطنی فی سننه (۱/۳۰۸) رقم (۱۱۷٤) وقال: رجالهم کلهم ثقات ۔ **٦- دلیل : حدیث د انس**ؓ : سمعت رسول الله ﷺ یجهر ببسم الله الرحمن الرحیم اخرجه الحاکم فی المستدرك (۱/۲۳۳) عن شریك بن عبد الله وقال: رواته کلهم ثقات ووافقه الذهبی واورده ابن عبد الهادی فی التنقیح (۱/۳٦٥) ۔

۷- دلیل : محمد بن ابی المتوکل بن ابی السری فرمائی : صلیت خلف المعتمر بن سلیمان الصبح والمغرب وکان یجهر ببسم الله الرحمن الرحیم قبل فاتحة الکتاب وبعدها قال المعتمر ما آلو ان اقتدی بصلاة ابی وقال ابی ما آلو ان اقتدی بصلاة انس وقال انس: ما آلو ان اقتدی بصلاة النبی ﷺ الخ اخرجه الدارقطنی (۱/۳۰۸) والحاکم (۱) و قال: رواته کلهم ثقات وانظر التنقیح (۱/۳٦٥)

ددے نه هم معلومه شوه چه نبی ﷺ بسم الله په جهر سره لوستلے ده ۔

۸- فتح الباری (۲/۲۱۲) کښې حدیث د نعیم بن عبد الله المجمر دے هغه فرمائی : صلیت وراء ابی هریرة فقرأ بسم الله الرحمن الرحیم ثم قرأ بام الکتاب حتی بلغ ولا الضالین فقال آمین وقال الناس آمین ویقول: کلما سجد الله اکبر واذا قام من الجلوس فی الاثنتین قال: الله اکبر ویقول اذا سلم والذی نفسی بیده انی لاشبهکم صلاة برسول الله ﷺ ۔ اخرجه النسائی (۱/۱۳٤) وابن خزیمة فی صحیحه (٤۹۹) وابن حبان (۱۷۹۷) وصححه الشیخ شعیب الارناووط فی تحقیقه موارد الظمآن (۱/۲۰۳) رقم (٤٥۰) والبیهقی (۲/٥۸) والحاکم فی المستدرك (۱/۲۳۲) وقال: صحیح علی شرط الشیخین ووافقه الذهبی، والطحاوی فی شرح معانی الآثار (۱/۱۹۹) نیل الاوطار (۲/۲۱۹)

ددے حدیث نه هم ثابته شوه چه جهر په بسم الله ثابت دے ۔

او دغه شان نور روایات په دارقطنی (۱/۳۰۸) او حاکم (۱/۲۳۲) الدارمی (۱/۲۲٦) او نصب الرایة (۱/۳۲۸) و (۳/۳٦۲) والمجموع شرح المهذب (۳/۳٥۰) ونیل الاوطار (۲/۲۲۰) **کښې اوګوره ۔**

(۳)- قول ثالث : په دے مقام کښې یو دریم قول هم شته چه هغه محاکمه ده د دواړو قولونو او هغه دا چه بسم الله په پټه وئیل سنت د رسول الله ﷺ او د خلفاءِ راشدینو او عام صحابه کرامو او امت عمل دے خو احیانا کله کله جهر هم سنت دے او دا قول د شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ دے چه په مجموع الفتاوی (۲۲/٤۱۰) کښې ئے ذکر کړیدے نو په عام اوقاتو کښې به اسرار کولے شی او کله نا کله جهر ۔ او دا قول حافظ ابن القیم په زاد المعاد (۱/۱۹۹) کښې ذکر کړیدے رد کوی په هغه چا چه وائی : همیشه دپاره جهر په بسم الله سنت عمل دے فرمائی :

وکان یجهر ببسم الله الرحمن الرحیم ویخفیها اکثر مما یجهر بها ولا ریب انه لم یکن یجهر بها دائماً

فی كل يوم وليلة خمس مرات ابداً حضراً وسفراً ويخفی ذلك علی خلفائه الراشدين وعلی جمهور اصحابه واهل بلده فی الاعصار الفاضلة الخ ـ

د جهر په باره کښې چه کوم احاديث راغلی دی هغې کښې مرفوع احاديث چه کوم صحيح دی هغه غير صريح دی او کوم چه صريح دی هغه غير صحيح دی لکه دا خبره حافظ ابن القيم په زاد المعاد (۱/۹۹) او علامه شوکانی په نيل الاوطار (۲/۲۲۳) کښې او علامه زيلعیؒ په نصب الرايه (۱/۳۵۵) کښې او شيخ الاسلام ابن تيميه په فتاوی (۲۲/۲۷٤) کښې ذکر کړيده ـ

او د اخفاء او اسرار د تسميه دلائل صحيح مرفوع صريح روايات دی او د جهر روايات اکثر ضعيف دی او صحيح پکښې غير صريح دی البته موقوف روايات پکښې صحيح شته نو ځکه مونږ اووئيل چه کله نا کله جهر هم سنت دے او هغه روايات دا دی :

د بسم الله د جهر روايات

۱- روايت : سعيد بن عبد الرحمن بن ابزی د خپل پلار نه نقل کوی : صليت خلف عمر فجهر ببسم الله الرحمن الرحيم وكان ابی يجهر ببسم الله الرحمن الرحيم ورجاله ثقات طحاوی (۱/۱٤۷) والسنن الكبری (۲/٤۷) **نو د عمرؓ نه جهر د بسم الله ثابت دے ليکن په الجوهر النقی ذيل البيهقی (۲/٤۷) کښې دی چه** اختلف فی هذا الاثر علی عمر بن ذرؒ (الراوی)۔

۲- د ابن عمر نه نقل دی : انه كان لا يدع بسم الله الرحمن الرحيم قبل السورة وبعدها اذا قرأ بسورة فی الصلاة، طحاوی(۱/۱٤۷) وسنده صحيح لكن فيه عنعنة ابن جريج۔

۳- ازرق بن قيسؒ وائی : صليت خلف ابن الزبير فسمعته يقرأ ببسم الله الرحمن الرحيم غير المغضوب عليهم ولا الضالين بسم الله الرحمن الرحيم ـ وهذا سند صحيح، طحاوی (۱/۱٤۷) وعن بكر المزنی قال : صليت خلف ابن الزبير فكان يجهر بسم الله الرحمن الرحيم وقال : ما يمنع امراؤكم ان يجهروا بها الا الكبر قال ابن عبد الهادی اسناده صحيح انظر نصب الراية (۱/۳۵۷) ـ

٤- شعبیؒ وائی : رأيت علی بن ابی طالب وصليت ورائه فسمعته يجهر ببسم الله الرحمن الرحيم – السنن الكبری للبيهقی (۲/٤۸) وسنده صحيح **ليکن ابن الترکمانی وائی :** روی صاحب الاستذكار (ابن عبد البر) عن علی عدم الجهر من طريقين ـ

د احاديث الجهر نه جوابونه :

کوم علماء چه په جهر د بسم الله قائل نه دی هغوی د جهر والا احاديثو نه جوابونه ورکوی فرمائی : دجهر بالتسميه باره کښې چه کوم روايات راغلی دی هغه اکثر ضعيف او بعض مؤول دی :

هرچه اول حديث د ابن عباسؓ دے نو ددے دپاره ډير طرق دی او ټول ضعيف دی يو طريق حاکم په مستدرك کښې ذکر کړيدے : عن عبد الله بن عمرو بن حسان ثنا شريك عن سالم عن سعيد بن جبير

عن ابن عباس الخ ، حافظ زیلعیؒ وائی : دا حدیث صریح هم نه دے او صحیح هم نه دے صریح خو ځکه نه دے چه پدے کښې داخبره نشته چه دا په مانځه کښې دے او صحیح خو ځکه نه دے چه عبد الله بن عمرو بن حسان په باره کښې امام الصنعه علی بن المدینیؒ وائی : کان یضع الحدیث، عبد الرحمن بن ابی حاتمؒ وائی : سألت ابی عنه فقال : لیس بشیٔ کان یکذب، وقال ابن عدی : احادیثه مقلوبات۔

دویم طریق : دارقطنی ذکر کړیدے : عن ابی الصلت الهروی واسمه عبد السلام بن صالح۔

لیکن دا طریق د اول نه هم زیات ضعیف دے ځکه ابو الصلت متروك راوی دے : قال ابن ابی حاتم سألت ابی عنه فقال : لیس عندی بصدوق، ولم یحدثنی عنه قال الدارقطنی (۱/۳٦٤) رافضی خبیث، اتهم بالوضع وقال النسائی لیس بثقة، نصب الرایة (۱/۳٤٥) وتنقیح التحقیق (۱/٤٦٤)۔

دریم طریق : مسند البزار کښې عن معتمر بن سلیمان ثنا اسماعیل عن ابی خالد عن ابن عباس ان النبی ﷺ کان یجهر ببسم الله الرحمن الرحیم فی الصلاة انتهی قال البزار : واسماعیل لم یکن بالقوی فی الحدیث الخ وهذا الحدیث رواه ابوداود فی سننه والترمذی فی جامعه بهذا السند والدارقطنی فی سننه وکلهم قالوا فیه : یفتتح صلاته ببسم الله الرحمن الرحیم قال الترمذی : لیس اسناده بذاك وقال ابوداود : حدیث ضعیف، ورواه العقیلی فی کتابه واعله باسماعیل هذا وقال : حدیثه غیر محفوظ ویرویه عن مجهول ولا یصح فی الجهر بالبسملة حدیث مسند انتهی (نصب الرایة) وابوخالد مجهول، قاله ابن عدی ۔

څلورم طریق : دارقطنی کښې دی : عمر بن حفص المکی عن ابن جریج عن عطاء عن ابن عباس ان النبی ﷺ لم یزل یجهر فی السورتین ببسم الله الرحمن الرحیم حتی قبض انتهی۔

لیکن عمر بن حفص ضعیف دے قال ابن الجوزی فی التحقیق : اجمعوا علی ترك حدیثه قال البیهقی عمر بن حفص ضعیف لا یحتج به۔

او خطیبؒ ددے حدیث د ابن عباسؓ دپاره طرق ذکر کړیدی چه هغه نه صحیح دی او نه صریح دی ابن عبد الهادیؒ ددے حدیث د ابن عباسؓ نه ډیر جوابونه ذکر کړیدی :

۱– یو دا چه الطعن فی صحته یعنی دا قسم اسانید حجت نه دی اګرکه ددے معارض نه وی موجود او دلته خو صحیح احادیث ددے حدیث معارض دی، بیا وائی که مونږ اومنو چه ددے حدیث رجال ثقه دی نو ددے نه دا نه لازمیږی چه حدیث به صحیح وی تردے چه د هغے نه شذوذ او علت منتفی نه شی ۔ ۲– دویم دا چه پدے حدیث کښې مشهور لفظ د استفتاح دے نه د جهر ۔ ۳– دریم دا چه د ابن عباسؓ نه ددے معارض موجود دے امام احمدؒ په خپل سند د ابن عباسؓ نه نقل کوی : الجهر ببسم الله الرحمن الرحیم قرائة الاعراب، نصب الرایة، والتنقیح، والطحاوی (۱/۱٤۷) وقد مر رقم (٥) فی الدلائل۔ ٤– **طریق** : دارقطنی کښې ذکر دے په هغے کښې سعید بن خیثم متکلم فیه راوی دے قاله ابن عدی او د هغه وراره احمد بن رشد بن خیثم متهم راوی دے وله

احاديث اباطيل ذكرها الطبرى وغيره ـ او د **حديث د ام سلمه** نه جواب دا دے چه دا حديث اګركه سندا صحيح دے ليكن دا صريح نص نه دے په جهر د بسم الله كښې ځكه دلته مقصود د ام سلمهؓ دا دے چه خبر وركوى امت ته چه رسول الله ﷺ به تلاوت په ترتيل سره كولو بيل بيل حرف به ئے جدا لوستلو او يو متصل به ئے نه لوستلو ـ

٢– دارنګه پدے كښې د مانځه تذكره هم نشته او په كوم روايت د مستدرك كښې چه د فى الصلاة ـ لفظ ورسره ذكر دے نو هغه زيادت د عمر بن هارون راوى د طرفنه دے او هغه متكلم فيه مجروح راوى دے ـ امام احمدؒ وائى : لا اروى عنه شيئاً وقال ابن معين : ليس بشئ وكذبه ابن المبارك، نسائى وائى : متروك الحديث دے وقال ابن المدينى : ضعيف جداً (نصب الرايه) ـ

٣– دريم دا چه كه په مانځه كښې وے نو عامو سړو ولے نه نقل كولو چه صرف ام سلمهؓ ئے نقل كوى معلوميږى چه دا ئے په كور كښې ترے اوريدلے دے نه په مانځه كښې ـ

٣– د دريم حديث د انسؓ نه جواب دا دے چه دا حديث هم صريح نه دے ځكه دلته انسؓ د رسول الله ﷺ قرائت بيانوى چه په ترتيل سره وو نو پدے كښې د مانځه تذكره نشته ـ

٢– دويم دا خلاف دے د صريح حديث د انسؓ نه چه هغه نفى د جهر كوى كما مر رقم (١) و (٤) فى الدلائل ـ او د تعارض په وخت نص مقدم وى په ظاهر باندے او دلته لا ظهور هم نشته بلكه اشارةً استدلال دے او د حازمىؒ د خبرے جواب دا دے چه انسؓ ځكه د بسم الله نه شروع اوكړه چه د سورت په ابتداء كښې بسم الله لوستل سنت عمل دے نو ددے نه جهر د كوم ځائے نه معلوم شو ؟ ـ

٤– او د **حديث د انسؓ** – چه مسلم كښې ذكر دے چه انا اعطيناك الكوثر سره ئے بسم الله اووئيله – ددے جواب دا دے چه دا د محل النزاع نه خارج دے ځكه د سورت نه مخكښې خو بسم الله وئيل صحيح ثابت دى او خبره زمونږ په جهر كښې ده په مانځه كښې او قياس ته ضرورت نشته ځكه چه دا عبادات دى او مبنى د عباداتو په توقيف او نقل ده نه په قياسونو ـ نصب الرايه (٣٥٣/١) ـ ٢– دويم : دا هم معارض دے د نفى د انسؓ سره چه فرمائى : فلم اسمع احداً منهم يجهر ببسم الله الخ ـ

٥– او د **اجماع** د اهل مدينه دعوه كول غلط دى او كوم تائيد چه په عمل د معاويهؓ كښې راغلے دے نو د هغے نه جواب دا دے چه د دغه روايت مدار په عبد الله بن عثمان بن خيثم دے او هغه متكلم فيه راوى دے ـ ابن معين وائى : احاديثه غير قوية ابن المدينى وائى : منكر الحديث (نصب الراية)وقال النسائى : لين الحديث ـ نو دا مختلف فيه راوى دے او كله چه دا متفرد وى په يو روايت سره نو هغه روايت غير مقبول وى ـ

٢– دارنګه دغه حديث سندا او متنا مضطرب دے كما فى نصب الراية ٣٥٣/١)

٣– دريم دا چه د اهل مدينه عمل او مذهب قديما او حديثا په ترك د جهر د بسم الله راروان دے

نو د اجماع دعوه غلطه ده بلکه هغوی کښې بعض د بسم الله د قراءت هم قائل نه دی ـ

٤– څلورم دا چه که معاویهؓ د بسم الله جهر ته رجوع کړې وې نو دا به د هغه د شام والا ملګرو نه ضرور مشهور شوی وې او حال دا چه د هغوی نه دا نقل نشته بلکه د هغوی د ټولو خلفاء او علماؤ مذهب ترك د جهر د بسم الله دے او دا ډیره بعیده ده چه د معاویهؓ دِ دغه شان حال وی آیا هغه ګنې د رسول الله ﷺ سره مونځونه ندی کړی؟ نو که رسول الله ﷺ په بسم الله جهر کولے نو معاویهؓ ولے پریخودلو تردے چه رعیت په هغه باندے اعتراض اوکړی معلومه شوه چه دا حدیث د معاویهؓ په باره کښې باطل دے، یا په کښې څه تغیر شویدے ـ یا دا چه دا اعتراض د بسم الله په جهر پریخودو نه وو بلکه هغه تکبیر د سجدے پریخودلے وو ـ نصب الرایة (١/٣٥٥)

٦– حدیث د انسؓ چه په مستدرك کښې راغلے دے چه رسول الله ﷺ جهر په بسم الله کړے ددے جواب دا دے چه دا حمل دے په بعض احیانو باندے بیاناً للجواز یا انسؓ نزدے نه اوریدلے دے، دارنګه پدے کښې هم تصریح د مانځه نشته ـ

٧– او د معتمر بن سلیمان د روایت نه جواب حافظ زیلعیؒ دا ورکړیدے چه دا حدیث معارض دے د بل حدیث د انسؓ سره چه ابن خزیمه په خپل مختصر کښې او طبرانی په معجم کښې راوړیدے : عن معتمر بن سلیمان عن ابیه عن الحسن عن انس : ان رسول الله ﷺ کان یسرّ ببسم الله الرحمن الرحیم فی الصلاة وابوبکر وعمر انتهی التعلیق المغنی علی سنن الدارقطنی (١/٣٠٩)ـ

بله دا چه د حاکم توثیق له دومره اعتبار نشته ځکه دا په اتفاق د علماؤ متساهل فی التوثیق دے او ددے تفصیل په نصب الرایه کښې اوګوره ـ

٣– دریم دا چه دا روایت متکلم فیه دے کما فی التعلیق المغنی علی الدارقطنی (١/٣٠٩) : محمد بن ابی المتوکل لین الحدیث وقد اختلف علیه ـ

٨– د نعیم المجمر روایت په باره کښې حافظ په فتح الباری (٢/٢١٢) کښې وائی : بوّب النسائی علیه الجهر ببسم الله الرحمن الرحیم وهو اصح حدیث ورد فی ذلك وقد تعقب استدلاله باحتمال ان یکون ابوهریرة اراد بقوله اشبهکم ای فی معظم الصلاة لا فی جمیع اجزائها وقد رواه جماعة غیر نعیم عن ابی هریرة بدون ذکر البسملة کما سیأتی قریباً والجواب ان نعیماً ثقة فتقبل زیادته والخبر ظاهر فی جمیع الاجزاء فیحمل علی عمومه حتی یثبت دلیل یخصصه انتهی ومثله فی سبل السلام (١/٢٦٤)ـ

یعنی دا حدیث د جهر د بسم الله په باره کښې د ټولو حدیثونو نه ډیر صحیح دے لیکن دے باندے دا اعتراض شویدے چه احتمال شته چه د ابو هریرهؓ د اشبهکم نه مراد دا وی چه په لوئی لوئی ارکانو د مانځه کښې د رسول الله ﷺ سره مشابه مونځ کوم او ټول اجزاء د مانځه نه وی مراد نو کیدے شی چه جهر د بسم الله د ابو هریره خپله رایه وی او باقی مونځ د رسول الله ﷺ مشابه کوی ـ لیکن جواب دا دے چه نعیم راوی ثقه دے او ده دا زیادت نقل کړے او زیادت د ثقه

راوي مقبول وي او د حديث الفاظ ظاهر دي چه ټول اجزاؤ کښې مشابهت مراد دے نو حديث به په خپل عموم پاتے وي تردے چه دليل د خصوص ئے موجود شي ۔

خلاصه د بحث دا شوه چه په صحيح او صريح احاديثو کښې د بسم الله پټ وئيل راغلي دي او په غير صريح رواياتو کښې بسم الله په جهر سره هم نقل ده او ددے تائيد په عمل د صحابه کرامو کيږي نو دا هم کله نا کله جائز ده ۔

شيخ الباني په تمام المنة ص (١٦٨) کښې وائي : والحق انه ليس في الجهر بالبسملة حديث صريح صحيح بل صح عنه الاسرار بها من حديث انس الخ ۔شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په فتاوى (٢٢/٢٧٤) کښې فرمائي: واما البسملة فلا ريب انه كان في الصحابة من يجهر بها، وفيهم من كان لا يجهر بها، بل يقرأها سراً ولا يقرأها، والذين كانوا يجهرون بها اكثرهم كان يجهر بها تارة ويخافت بها اخرىٰ، وهذا لان الذكر قد تكون السنة المخافتة به ويجهر به لمصلحة راجحة مثل تعليم المامومين فانه قد ثبت في الصحيح ان ابن عباس قد جهر بالفاتحة على الجنازة ليعلّمَهُم انّهَا سنةٌ انتهىٰ۔

يعني صحابه کرامؓ کښې بعض خلکو په بسم الله جهر کولو او بعضو به جهر نه کولو بلکه په پټه به ئے وئيله يا به ئے بالکل نه وئيله او کومو کسانو چه جهر کولو نو په هغوی کښې اکثرو به کله جهر کولو او کله به ئے پټوالے کولو ۔ وجه دا ده چه په يو ذکر کښې کله پټوالے مسنون وي خو په هغے باندے جهر د يو مصلحت دپاره کولے شي لکه تعليم ورکول مقتديانو ته لکه چه ابن عباسؓ په جنازه کښې فاتحه په جهر اولوستله او بيا ئے خلقو ته اووئيل : دا جهر مے ځکه اوکړو چه تاسو ته پته اولګي چه دا سنت عمل دے۔

بيا وائي : (٢٧٤) په صحيح حديث کښې ثابت دي چه عمر بن الخطابؓ به وئيل : الله اكبر سبحانك اللهم وبحمدك الخ او پدے باندے به ئے ډير کرت جهر کولو۔ الموسوعة الفقهية (٢/٢٥)۔

حافظ زيلعيؒ د ابن عبد الهاديؒ نه نقل کوي چه د عبد الله بن زبيرؓ حديث صحيح دے ليکن دا محمول دے پدے چه هغه خلقو ته خبر ورکولو چه د بسم الله وئيل سنت عمل دے ځکه خلفاءِ راشدينو به بسم الله په پټه لوستله نو ډيرو خلقو دا خيال اوکړو چه د بسم الله لوستل به بدعت وي نو بعض صحابه کرامؓ پرے جهر اوکړو کومو نه چه جهر نقل دے، دے دپاره چه خلقو ته دا تعليم ورکړي چه د بسم الله وئيل سنت دي نه دا چه دا کارئے هميشه کولو ځکه چه ابن المنذرؒ د عبدالله بن زبيرؓ نه ترك د جهر د بسم الله هم نقل کړے ۔ انتهى ما في نصب الرايه (١/٣٥٧)۔

ددے وجے نه د کومو صحابه کرامؓ نه چه متضاد دوه عملونه نقل دي نو هغه به پدے تحقيق باندے محمول وي ۔

علامه زيلعيؒ دا هم فرمائي : والصواب في حديث ابن عمر الوقف عليه كما ذكره البيهقي وغيره انه كان يقرأ البسملة للفاتحة وللسورة وقد يجهر بها احياناً او لتعليم المامومين او لغير ذلك من الاسباب۔

يعنى ابن عمرؓ به بسم الله د فاتحه دپاره لوستله او د سورت دپاره او كله كله به ئې پدې باندې جهر كولو او يا به په جهر كښې مقصد تعليم د مقتديانو وو يا به نور اسباب وو۔

پدې باره كښې نور ډير احاديث شته چه حافظ زيلعيؒ په نصب الرايه او ابن عبد الهاديؒ په التنقيح (٣٥٧/١) كښې ذكر كړيدى چه ټول ضعيف دى او پدې باندې متقدمينو علماؤ كتابونه ليكلى دى لكه علامه دارقطنيؒ، ابوبكر الخطيبؒ۔

علامه دارقطنيؒ چه كله مصر ته داخل شو نو خلقو ترې دا مطالبه اوكړه چه احاديث د جهر د بسم الله راجمع كړه نو هغه راجمع كړل بيا ورته اوويل شو چه پدې كښې څه صحيح روايت شته ؟ هغه اوفرمائيل : امّـا عن النبى ﷺ فلا وأمّا عن الصحابة فمنه صحيح ومنه ضعيف ۔ مجموع الفتاوى (٤١٦/٢٢) يعنى د نبى عليه السلام نه پكښې صحيح حديث نشته او هر چه د صحابه كرامو نه دى نو بعض صحيح دى او بعض ضعيف دى ۔ علامه حازميؒ فرمائى : والحقُّ ان كل من ذهب الى اىّ هذه الروايات فهو متمسك بالسنة والله اعلم نصب الرايه والاعتبار للحازمى) ۔ يعنى حقه دا ده : چا چه پدې رواياتو كښې په كومو باندې عمل اوكړو نو دا په سنت باندې عمل كونكې دې۔

فائده : بسم الله وئيل په ابتداء د هر سورت كښې سنت عمل دې لكه دا د مخكنو حديثونو نه معلومه شوه چه انسؓ فرمائى : رسول الله ﷺ د سورت كوثر نه مخكښې بسم الله اووئيله ۔ او پدې باندې امام نسائىؒ باب ايخودې دې : باب قراءة بسم الله الرحمن الرحيم واخرجه مسلم (١٧٢/١)

او د **ابن عمرؓ** نه نقل دى : چه هغه به كله افتتاح د مانځه اوكړه نو تكبير به ئې اوكړو بيا به ئې بسم الله الرحمن الرحيم اووئيله او كله چه به (د فاتحې نه) فارغ شو بيا به ئې بسم الله الرحمن الرحيم اووئيله او هغه به دا وئيل : لـم كُتِبَتُ فى المصحف اِنُ لَمُ يُقُرَأُ ۔ بيهقى (٤٣/٢) يعنى په قرآن كښې ولې ليكلې شويدې كله چه نه وئيلې كيږى۔

طحاوى (١٤٦/١) كښې دى : عن ابن عمر انه كان لا يدع التسمية فى اول القرائة وبعدها وكذا عن ابى هريرة وابن عباس ۔ او پدې حديث د عائشهؓ او حديث د انسؓ كښې چه دى چه رسول الله ﷺ او ابوبكر او عمر او عثمان به قرائت د الحمد نه شروع كولو نو ددې هيڅ منافات نشته څكه دلته مقصود دا دې چه جهر د قرائت به ئې د فاتحې نه كولو نو پدې كښې نفى د بسم الله په پټه وئيلو نشته انظر فتاوى ابن تيميه (٢٧٦/٢٢-٢٧٩)

او مالكيان او ابن جرير چه وائى بسم الله به نه وائى : نو د هغوى سره هيڅ دليل نشته سوئ د مجمل حديث د ابو هريره نه چه قسمت الصلاة بينى وبين عبدى نصفين الخ ۔ چه دې كښې بسم الله نه ده ذكر ۔ ليكن دا خبره خطاء ده څكه هلته خو تقسيم د فاتحې مراد دې او بسم الله خو د هغې نه جزء نه ده كما مرّ ۔ لَمُ يُشُخِصُ رَأْسَهُ : د باب افعال يا باب تفعيل نه دې په معنى د پورته كولو سره ۔ وَلَمُ يُصَوِّبُهُ : د باب تفعيل نه دې، په معنى د سر ښكته كولو سره اصل كښې د بره نه يو

شے لاندے کوزولو ته وائی لکه "صیب" باران ته وائی۔

مطلب دا چه په رکوع کښ به ئے نه ډیر سرټیټولو او نه به ئے ډیر نیغولو بلکه درمیانه به وو او سر به ئے د ملا سره برابر وو۔ حَتّٰی یَسْتَوِیَ جَالِسًا: یعنی د دوه سجدو په مابین کښ به ئے اعتدال او برابر والے کولو۔ وَکَانَ یَقُوْلُ فِیْ کُلِّ رَکْعَتَیْنِ التَّحِیَّةَ: التحیه منصوب دے یا مرفوع دے او مقصود پدے سره مشهوره ثناء ده په التحیات ﷲ الخ سره دے ذکر ته تحیه ځکه وائی چه دا مشتمل دے په ښائسته ثناء او سلام سره او دیته تشهد هم وائی ځکه چه شهادتین پکښ ذکر دی۔ **بیا دلته** د جمهورو علماؤ په نیز باندے دا قید مراد دے چه یقول فی کل رکعتین فی عامة الصلوات دون الوتر۔ یعنی د هر دوه رکعاتو نه پس به ئے التحیات لوستل په عام مونځونو کښ سوئ د وترو نه ځکه وتر بغیر د التحیه نه په یو سلام هم راغلی دی لکه تفصیل به ئے په خپل ځائے راشی ان شاء ﷲ۔ دا وجه ده احناف وتر په یو سلام او یوه قعده سره پدے حدیث رد کوی لیکن جواب دا دے چه دا حدیث هم د عائشةؓ دے او هغه هم د عائشةؓ دے هغه حدیث مستثنیٰ دے ددے حدیث نه۔

بیا بعض علماء دا حدیث دلیل گرځوی په وجوب د تشهد اول او تشهد آخر باندے ځکه دا اگرکه فعل د نبی دے او فعل د نبی سره وجوب نه راځی مگر دا بیاز دے د اجمال د هغه مونځ چه قرآن کښ پدے امر (اقیموا الصلاة) سره او دا قانون دے چه (الافعال لبیان الواجب واجبة)۔ کوم فعل سره چه بیان د واجب کیږی هغه هم واجب وی۔

۲– دارنګه ددے فعل تائید په صلوا کما رأیتمونی اصلی سره شویدے چه هغه امر دے۔

۳– دارنګه مستقل حکم هم راغلے دے په تشهد باندے (اذا قعد احدکم فی الصلاة فلیقل التحیات ﷲ الخ الحدیث) او امر د وجوب دپاره وی کله چه خالی وی د قرینه نه۔

وَکَانَ یَفْرِشُ: دا د نصر او ضرب دواړو نه راغلے دے بکسر الراء وضمها۔

وَیَنْصِبُ: بکسر الصاد۔ یعنی ګوتے د ګسے خپے به ئے په زمکه کیخودلے او پوندے به ئے پورته کړے۔ دا حدیث دلیل دے د هغه علماؤ دپاره چه هغوی د قعدے اولے او د قعدے آخرے د ناستے په مابین کښ فرق نکوی او وائی چه دواړو کښ به یو شان کینی او تورک به نکوی، ځکه چه دلته حدیث مطلق راغلے دے مقید نه دے په قعده اولیٰ باندے او دا مقام د بیان د مانځه د نبی علیه السلام دے لیکن ددے جواب دا دے چه روستو په حدیث د ابوحمید ساعدیؓ کښ د دواړو قعدو د ناستے په مابین کښ فرق راغلے دے نو دا حدیث د قعدے اولے د ناستے طریقه بیانوی او حدیث د ابوحمیدؓ کښ ورسره د قعدے آخرے د ناستے طریقه راغلے ده چه هغه تورک دے، نو حدیث د ابوحمیدؓ مقید شو ددے حدیث دپاره۔

۲– دویم دا چه دلته سیاق هم دلیل دے چه دا اوله قعده بیانوی ځکه مخکښ ذکر شو (وکان

يقول في كل ركعتين التحية الخ) نو متصل ئے وروستو د قعده اولیٰ د ناستې طريقه بيان کړه۔

مسئلة الاقعاء في الصلاة :

وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ : عقبه : په ضمه د عين او سکون د قاف سره ديته اقعاء هم وائي، په احاديثو کښ د اقعاء نه منع هم راغلې ده او اثبات ئے هم راغلے دے، پدے حديث کښ ئے منع شويده دارنګه په حديث د ابن ماجه کښ د انسؓ روايت دے (اذا رفعت رأسك من السجود فلا تقع كما يقعي الكلب) وفي اسناده ابومحمد ضعفه بعض الائمة۔

عليؓ ته ئے فرمائيلي دي : لا تقع بين السجدتين) ابوداود ترمذي، ابن ماجه) وفي اسناده الحارث الاعور۔ او بيهقي (٢/١٢٠) د جابر بن سمره مرفوع حديث راوړيدے : «نهى رسول الله ﷺ عن الاقعاء في الصلاة » **او طاووسؒ** نه نقل دي چه ما د ابن عباسؓ نه تپوس اوکړو چه اقعاء على القدمين څنګه ده ؟ هغه اوفرمائيل : هو سنة ۔ مونږ ورته اووئيل: فانا نرى ذالك من الجفاء اذا فعله الرجل (وفي رواية مسلم : انا لنراه جفاء بالرجل) فقال : «بل هو سنة نبيك محمد ﷺ »– رواه مسلم في الصحيح والبيهقي (٢/١١٩) ۔ طاوسؒ فرمائي : رأيت العبادلة الثلاثة يفعلون ذلك، عبد الله بن عباس، وعبد الله بن عمر وعبد الله بن الزبير يفعلونه ۔ يعنى دا اقعاء به دغه درے واړو صحابه کرامو کوله ۔ بيهقي : (٢/١١٩) قال الالباني في الصحيحة (٣٨٣) اسناده صحيح ۔

نو دے دواړو حديثونو په باره کښ علامه خطابيؒ او ماورديؒ وئيلي دي چه اقعاء منسوخ ده او شايد چه ابن عباسؓ ته به نهي نه وي رسيدلې، ځکه اقعاء کوي، ليکن علامه ابن الصلاحؒ او امام نوويؒ پدے باندے رد کړيدے چه نسخ ته هله ضرورت وي چه کله جمع د احاديثو ممکن نه وي ۔ دويم دلته تاريخ د تقديم او تاخير نه دے معلوم نو دا دعوه د نسخ صحيح نه ده ۔

- نو محققين علماء (بيهقيؒ، قاضي عياضؒ، ابن الصلاحؒ او امام نوويؒ وغيره) ددے دواړو داسے جمع کړيده چه اقعاء په دوه قسمه ده او ددے دوه تفسيرونه دي : ۔

(١) **اوله اقعاء** ما بين السجدتين ده : يعنى چه دواړه پوندے د کناتو سره اولګوي او دپاسه پرے کيني او زنګنونه ئے په زمکه ايخودي وي لکه دا تفسير پخپله د ابن عباسؓ نه نقل شويدے : من السنة : ان تمسّ عقبيك اليتيك، نيل الاوطار (٢/٣١١) والبيهقي (٢/١١٩)۔

(٢) **او دويم** بعد السجدتين اقعاء کول په وخت د پاځيدو کښ لکه بوډاګان چه څنګه پاځي چه د سجدے نه راپورته شي نو زنګنونه اودروي او په پوندو باندے کوناتې کيدي او نيغ نه پاځي او ديته اقعاء الکلب وائي لکه ددے تفسير ابوعبيده معمر بن المثنى او ابوعبيد القاسم بن سلام وغيره داسے کوي : ان يلصق اليتيه بالارض وينصب ساقيه ويضع يديه على الارض كاقعاء الكلب ۔ لکه سپے چه څنګه لاسونه اودروي او کناتي د خپو سره لګوي، ددے وجے نه ددے سره د کلب او سبع وغيره الفاظ راځي لکه دلته ورته عقبة الشيطان وئيل شويده دا ځکه ممنوع ده چه

انسان د جلسة الاستراحت نه محرومیږی، او بله دا چه د حیواناتو سره ځان مشابه کول دی، او دا منع دے ۔ راجع سبل السلام (۱/۲۵٦) ونیل الاوطار (۲/۳۱۱) والبیهقی (۲/۱۱۹) والموسوعة الفقهیة لحسین عودة (۲/۷۲)۔

شیخ البانیؒ په الصحیحه کښې ددے حدیث (۳۸۳) د لاندے لیکی : دا حدیث او آثار دلیل دے په مشروعیت د مذکوره اقعاء او دا سنت عمل دے چه پدے سره عبادت کولے شی او دا کار د عذر په وجه ندے شوے لکه چه بعض متعصبین دا ګمان کوی او دا څنګه کیدے شی حال دا چه دا به عبادله ثلاثه ؤ په اتفاق سره په مانځه کښې کولو ۔او طاوسؒ جلیل القدر فقیه تابعی د هغوی تابعداری کوی او امام احمدؒ په مسائل المروزی (۱۹) کښې وائی (واهل مکة یفعلون ذلك) یعنی د مکے خلق هم دا عمل کوی نو دا سلف کافی دی په اقتداء کښې د هغه چا دپاره چه اراده ئے وی د عمل کولو پدے سنت او د ژوندی کولو ددے سنت ۔ او ددے او د بل سنت چه افتراش دے هیڅ منافات نشته ځکه دا ټولے سنت طریقے دی، کله په یو عمل پکار دے او کله په بل، دے دپاره چه د نبی ﷺ په هر عمل کښې اقتداء او شی او هیڅ یو عمل ضائع نشی انتهیٰ وانظر الموسوعة الفقهیة (۲/۷۳)۔

اُفْتِرَاشَ السَّبُعِ : د سبع نه مراد کلب (سپے) دے لکه دا په بل روایت کښې راغلے دے، افتراش الکلب دیته وائی چه په سجده کښې دواړه لیچے په زمکه باندے کیږدی او څنګلے او ورغوی زمکے سره اولګوی لکه سپے چه څنګه لاسونه په زمکه خوروی، ددے نه منع راغله ځکه چه د سپو سره مشابهت حرام دے نو سنت دا ده چه لیچے به د زمکے نه اوچتے ساتی، او په زمکه باندے به صرف د لاسونو تلی او ورغوی ایږدی ۔

البته که یو انسان په نفلو وغیره کښې اوږده سجده کوی او دا پرے ګرانه وی نو بیا ورله جائز دی چه متے په زنګنونو باندے کیدی، لکه ابن حبان رقم (۱۹۱۸) باب اباحة استعانة المصلی بالرکبة فی سجوده عند وجود ضعف او کبر سن "کښې د ابو هریرةؓ روایت ذکر کړے دے : شکا اصحاب رسول الله ﷺ مشقة السجود علیهم فقال : استعینوا بالرکب، قال شعیب الارناووط : اسناده قوی، رجاله رجال الشیخین غیر ابن عجلان فانه من رجال مسلم وهو صدوق واخرجه الترمذی (۱/٦٤) بهذا الاسناد واحمد (۲/۳۳۹) والحاکم (۱/۲۲۹) وصححه الحاکم علی شرط مسلم ووافقه الذهبیؒ ۔ لیکن تقریب (٦۱۳٦) کښې لیکی چه ابن عجلان باندے اختلطت علیه احادیث ابی هریرة نو حسن الحدیث دے لکن فی غیر روایة ابی هریرة ۔ یعنی صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته د سجدے د مشقت شکایت اوکړو، رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل : په زنګنونو سره مدد حاصل کړئ ۔

وَکَانَ یَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِیْمِ : دا حدیث دلیل دے چه د مانځه نه وتل صرف په سلام سره دی نه په بل عمل سره ځکه دا د نبی علیه السلام دائمی عمل دے او په بل حدیث کښې ئے حصر

کړیدے (وتحلیلها التسلیم) یعنی د مانځه نه وتل صرف او صرف په سلام سره دی، نه په بل څه سره نو دا ټول دلیل دے چه د سلام الفاظ وئیل واجب دی، او احناف ددے احادیثو مخالفت کړیدے چه خروج بصنع المصلی ئے فرض کړے نه سلام۔

٣- وَعَنْ اَبِیْ حُمَیْدٍ السَّاعِدِیِّ ﷺ، قَالَ فِیْ نَفَرٍ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ: اَنَا اَحْفَظُکُمْ لِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ، رَأَیْتُهُ إِذَا کَبَّرَ جَعَلَ یَدَیْهِ حِذَاءَ مَنْکِبَیْهِ، وَاِذَا رَکَعَ اَمْکَنَ یَدَیْهِ مِنْ رُکْبَتَیْهِ، ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهُ، فَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ اِسْتَوٰی حَتّٰی یَعُوْدَ کُلُّ فَقَارٍ مَکَانَهُ فَاِذَا سَجَدَ وَضَعَ یَدَیْهِ غَیْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا، وَاسْتَقْبَلَ بِاَطْرَافِ اَصَابِعِ رِجْلَیْهِ الْقِبْلَةَ، فَاِذَا جَلَسَ فِی الرَّکْعَتَیْنِ جَلَسَ عَلٰی رِجْلِهِ الْیُسْرٰی وَنَصَبَ الْیُمْنٰی، فَاِذَا جَلَسَ فِی الرَّکْعَةِ الْآخِرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْیُسْرٰی وَنَصَبَ الْاُخْرٰی، وَقَعَدَ عَلٰی مَقْعَدَتِهٖ. رواهُ البخاری.

ترجمه: او ابوحمید ساعدی ﷺ په باره کښې روایت شویدی چه ده د رسول اللّٰه ﷺ د صحابه کرامو په یو جماعت کښې اووئیل: زه د رسول اللّٰه ﷺ د مانځه طریقه ستاسو نه زیاته پیژنم، ما رسول اللّٰه ﷺ اولیدلو چه کله به ئے تکبیر کولو نو خپل دواړه لاسونه به ئے د اوګو پورے اوچتول او کله چه به رکوع ته تلو نو خپل دواړه زنګنونه به ئے په دواړو لاسونو مضبوط نیول او خپله ملا به ئے خکته کوله (دے دپاره چه د څټ سره برابره شی) او کله چه به ئے خپل سر (د رکوع نه) پورته کولو نو نیغ به اودریدو تردے چه هر جوړ به خپل خپل ځائے ته واپس شو۔ او کله چه به سجدے ته تلو نو دواړه لاسونه به ئے په زمکه ایښودے (مخامخ) کیخودل پداسے حال کښې چه نه به خورونکے او نه رابندونکے وو هغے دواړو لره۔ او د خپو ګوتے به ئے قبلے طرفته مخامخ کولے او کله چه به د دوه رکعاته کولو نه پس کیناستو نو په ګسه خپه به کیناستو او ښیٔ خپه به ئے اودروله او کله چه به آخری رکعت کولو سره کیناستو نو ګسه خپه به ئے مخے ته اوویسته او دویمه (ښیٔ خپه) به ئے اودروله او په لاندے حصه به کیناستو۔ (بخاری)

تعارف: ابوحمید په ضمه د حاء او فتحه د میم، دده نوم عبد الرحمن بن سعد دے بعض وائی عمرو، بعض وائی: المنذر بن سعد بن المنذر دے انصاری خزرجی، مدنی مشهور صحابی دے اسم کنیه باندے مشهور دے احد او ما بعد ټولو غزواتو کښې ئے شرکت کړیدے، او د یزید د خلافت پورے ژوندے وو په سنه (٦٠) هـ علامه واقدیؒ وائی: په آخر د خلافت د معاویهؓ او ابتداء د خلافت د یزیدؒ کښې وفات شویدے۔ (٢٦) احادیث ئے امت ته رانقل کړیدی۔

الساعدی: منسوب دے ساعده ته چه دا د خزرج پلار دے۔

تشریح: فِیْ نَفَرٍ: نفر اسم جمع دہ اطلاق ئے صرف په سړو باندے کیږی او د درے او د لسو

ترمينځ افراد ترې مراد دي او مفرد من لفظه ورله نشته، يعني دا په يو جماعت د صحابه كرامو کښې ناست وو بلکه يو روايت کښې دي (روستو به راشي) چه په لسو کسانو کښې ئې دا خبره اوکړه، زه ستاسو نه د رسول الله ﷺ په مانځه ډير پوهه يم او په هغه لسو کسانو کښې ابوقتاده بن ربعي، ابواسيد الساعدي، سهل بن سعد، محمد بن مسلمه، او ابو هريره رضي الله عنهم وو او دا کسان ناست وو د يو بل نه ئې امتحان اخستو چه چا ته د رسول الله ﷺ مونځ ښه ياد دے، نو ابوحميدؓ اوونيل ما ته ښه ياد دے نو هغه نورو ملګرو ورته اوونيل پيش کړه ځکه چه ته زمونږ نه د رسول الله ﷺ سره ډير ملازمت والا نه ئې او نه د هغه سره ډير وخت پاتے شوے ئې ـ
کله چه ده دغه مونځ پيش کړو نو ټولو ملګرو ئې تصديق اوکړو لکه روستو فصل ثاني کښې حديث راروان دے ـ اَنَا اَحْفَظُكُمْ : ده ځان ته ولې ډيرحافظ اوونيلو ؟ نو وجه دا ده چه ده ډير توجه او اهتمام سره رسول الله ﷺ ته کتلي دي او دا قانون دے چه اهتمام او توجه کونکے خبره زياته ياده وي د غير اهتمام کونکي نه اګرکه دا ټول صحابه په صحبت کښې برابر دي يا دا چه نورو ته هم ښه ياد دے ليکن ده اول دعوه اوکړه ځکه ورله هغوی تصديق اوکړو ـ
إِذَا كَبَّرَ جَعَلَ يَدَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ : يعني په وخت د تکبير کښې به ئې لاسونه پورته کول ـ

مسئله كيفيات رفع اليدين عند التحريمة :

د تکبير تحريمه دپاره لاسونه اوچتولو کښې يعني په وخت د رفع کښې درے کيفيات په احاديثو کښې راغلي دي او ديته تنوع العبادات وائي او په احاديثو کښې اختلاف تنوع زيات دے او اختلاف تناقض پکښې کم دے کوم چه په ناسخ، منسوخ، او صحيح او ضعيف کښې راځي ـ

١ – **اول كيفيت** : چه لاسونه د تکبير سره په يو ځائے اوچت کړي لکه دا په دے حديث کښې ذکر دي (اذا كبر جعل يديه يعني وقت التكبير يرفع يديه) او په حديث د وائل بن حجرؓ کښې دي : (انه رأى رسول الله ﷺ يرفع يديه مع التكبيرة (ابوداود – صحيح ابي داود : ١/١٣٩) رقم : ٦٦٥) بسند صحيح او د معيت تقاضا دا ده چه د تکبير په ختميدلو سره به لاسونه خکته کوي ـ

٢ – **كيفيت** : تکبير مخکښې او بيا لاسونه اوچتول ـ لکه دا په حديث د مسلم او بخاري کښې د مالك بن الحويرثؓ په روايت کښې دي : كبر ثم رفع يديه)

٣ – **كيفيت** : لاسونه مخکښې اوچتول روستو تکبير کول ـ لکه دا په حديث د ابن عمرؓ کښې دي : (رفع يديه ثم كبّر) اخرجه مسلم (١/١٦٨) والبخاري (١/١٠٢) وصحيح ابي داود رقم (٦٦٣) والنسائي (١/١٤٠) باب رفع اليدين قبل التكبير وانظر صفة الصلاة للالباني ص (٦٠) وتمام المنة (١٧٣) وفتاوى الدين الخالص (٤/٦٥) ـ دا درے واړه کيفيات په مسلم (١/١٦٨) کښې په يو ځائے د ابن عمرؓ او مالك بن الحويرثؓ په روايت کښې راغلي دي ، دا ټول سنت طريقے دي په هر يو چه عمل اوشو صحيح ده، کله په يو او کله په بل او کله په بل عمل پکار دے ـ

د لاسونو او تکبیر په تقدیم کښې اختلاف :

۔ حافظ په فتح الباری کښې فرمائي : په علماؤ کښې په تقدیم د تکبیر په لاسونو پورته کولو باندې هیڅوك قائل نشته لیکن شیخ البانیؒ پرې رد کړیدے چه دا خبره ضعیفه ده بلکه دا یو قول د احنافو دے (تمام المنه ص : ۱۷۳) او په باقي دوه صورتونو کښې اختلاف دے (۱) **شافعي** مالکیه، حنابله وائي : اصح او افضل دا ده چه مقارنت د تکبیر اوشي د رفع الیدین سره۔

(۳)– او احناف وائي : راجح دا ده چه رفع الیدین مخکښې اوشي روستو تکبیر اوشي۔ صاحب الهدایه (۱/۱۰۱) اول کښې د قدوری د عبارت : «ویرفع یدیه مع التکبیر» لاندے لیکي :

والاصح انه یرفع یدیه اولاً ثم یکبر لان فعله نفي الکبریاء عن غیر اللّٰه تعالی والنفي مقدم علی الاثبات "

یعنی په لاسونو سره به د غیر اللّٰه د لوئي والي نفي راشي او په تکبیر سره به اثبات د کبریاء د اللّٰه دپاره راشي او نفي مقدم وي په اثبات باندے۔ لیکن دا خبره غلطه ده وجه دا ده چه دا په عقل خپل سره بل سنت عمل باطلول دي او پخپله ئې مخکښې اوویل چه رفع الیدین مع التکبیر سنت طریقه ده او رسول اللّٰه ﷺ پدے باندے همیش والے کړیدے او بیا روستو دغه خپله خبره ورانوی، او بله عقلي وجه ذکر کوي دا جرأت دے په سنت د رسول اللّٰه ﷺ۔ صحیح دا ده چه تولے طریقے یو شان سنت عمل دے۔

(۲) امام ابویوسف وائي : مقارنت د رفع الیدین د تکبیر سره شرط دے وهو المروی عن الطحاوی کما في الهدایه (۱/۱۰۱) واختاره صاحب التحفة وقاضیخان وانظر حاشیة الهدایه۔

المسئلة الثالثة : الحکمة في رفع الیدین :

په رفع الیدین کښې ډیر حکمتونه دي : (۱) یو پدے کښې اتباع د رسول اللّٰه ﷺ ده چه دا سبب د محبت د اللّٰه دے۔ (۲) دویم دا چه لاسونو اوچتولو کښې اشاره ده دیته چه د غیر اللّٰه لوئي والے ختم او ټوله دنیا شاته گوزار شوه او د اللّٰه لوئي والے ثابت شو ددے وجے نه ددے سره اللّٰه اکبر هم وئیلے شي چه عمل او قول دواړه برابر شي۔

(۳) بعض علماء وائي : تکبیر او رفع الیدین به یو ځائے کوي دے دپاره چه کونړئے اووینی او روند سړے ئې آواز واوری نو دواړه به پوهه شي چه امام مونځ کښې داخل شو۔

(٤) بعض وائي : په رفع الیدین کښې د دنیا گوزارول او عبادت ته پوره متوجه کیدل دي۔

(٥) بعض وائي : رفع الیدین کښې استسلام او انقیاد ته اشاره ده چه اے اللّٰه زه ستا هر حکم ته تابعداریم، او په اللّٰه اکبر وئیلو کښې اشاره شي دیته چه زه په خوله هم دا وایم چه ته لوئي ستا حکم به چلیږي۔ (٦) بعض وائي : اشاره ده رفع الحجاب بین العبد والمعبود ته یعنی د بنده او د اللّٰه په مابین کښې موانع او پردے ختمے شویے۔

المسئلة الرابعة : حكم د رفع اليدين عند الاحرام :

١– جمهور علماء وائي : رفع اليدين د تكبير تحريمه دپاره سنت عمل دے ـ
٢– حافظ ابن حجرؒ فرمائي: د رفع اليدين په وجوب باندے اوزاعیؒ، حميديؒ شيخ البخاری قائل دی ـ ابن حزمؒ وائي : رفع اليدين فرض دی، ددے نه بغير مونځ جائز نه دے، زرقانيؒ وائي : روى الوجوب عن الحميدى وابن خزيمة وداود وبعض المالكية والشافعية ـ

د جمهورو دليل دا دے چه دا په حديث د مسيء الصلاة كښې نـدی ذكر او نه په دے باندے امر راغلے دے ـ علامه شوكانيؒ فرمائي : كوم اهل الاصول چه دا قول كړيدے چه مداومت د رسول ﷺ په يو فعل باندے دليل د وجوب دے نو هغوی دلته هم قول كړيدے په وجوب د رفع اليدين باندے ځكه چه دا هم په طريقه د دوام نقل دی ـ (نيل الاوطار : ٢/ ١٩٠) او ددے تائيد دا دے چه دا مونځ د رفع اليدين والا بيان د اجمال د قرآن دے او دارنګه د صلوا په امر باندے عمل دے ـ

علامه نوویؒ فرمائي : د ټول امت اجماع ده پدے چه رفع اليدين مستحب دی او ابن المنذر هم پدے باندے اجماع نقل كړيده ـ المجموع شرح المهذب : ٣/٣٠٥)

حافظ فتح البارى (٢/١٧٥) كښې فرمائي : رفع اليدين د پنځوس صحابه كرامو نه نقل دی چه په هغے كښې عشره مبشره هم دی او دا د ائمه اربعو په نيز سنت دی (توضيح الاحكام : ٢/١٣)

جَعَلَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ :

المسئلة الخامسة : كيفية رفع اليدين :

لاسونه به كوم ځائے تـه پورته كولے شي ؟ ـ پدے كښې څلور كيفيات راغلی دی : درے قوی احاديثو كښې راغلی دی او يو ضعيف ـ

١– **اول كيفيت** : الرفع الى المنكبين : اوګو پورے پورته كول ـ لكه حديث د ابن عمرؓ كښې دی : ان رسول الله ﷺ كان يرفع يديه حذو منكبيه اذا افتتح الصلاة الخ متفق عليه وسيأتی فی الكتاب : ١/٧٥) ٢– دارنګه دا حديث د ابو حميد الساعديؓ شو ـ

٢– **دويم كيفيت** : الرفع الى الاذنين : د غوږونو بره طرفونو پورے لكه د مالك بن الحويرث حديث كښې دی : ان رسول الله ﷺ كان اذا كبّر رفع يديه حتى يحاذی بهما فروع اذنيه (ابوداود : ١/١٦٨) ـ د فروع الاذنين معنى ده : اعلىٰ طرفونه د غوږونو (وفرع كل شيئ اعلاه : النهاية والموسوعة الفقهية الميسرة : ٢/١١) ـ ٣– **كيفيت** : الرفع الى شحمتى الاذنين : د غوږونو د نرميو پورے : عبد الجبار بن وائل بن حجر د خپل پلار نه نقل كوی : رأيت رسول الله ﷺ يرفع ابهاميه فی الصلاة الى شحمة اذنيه (ابوداود : ١/١١٥) وفی النسائى (١/١٤١) : اذا افتتح الصلاة رفع يديه حتى تكاد ابهاماه تحاذی شحمة اذنيه ـ ليكن ددے په سند كښې د عبد الجبار د خپل پلار سره ملاقات نـدے شوے (لانه وُلد بعد موت ابيه) نو دا سند ضعيف دے (المجموع :

۳/۲۰٦)۔ نو دے روایت کښې د نرمیو د غوږونو پورے راغلل او بعض احنافو چه غوږونو له ګوتے وړل ذکر کړیدی کما فی شرح الوقایه :(۱/۱۳۹)
نو پدے باندے هیڅ صحیح او ضعیف حدیث نشته ـ

٤– **کیفیت** : الرفع الی الصدر : د سینے پورے لاسونه پورته کول لکه دا په حدیث د وائل بن حجرؓ کښې دی : رأیت النبی ﷺ حین افتتح الصلاة رفع یدیه حیال اذنیه قال ثم اتیتهم فرأیتهم یرفعون ایدیهم الی صدورهم فی افتتاح الصلاة وعلیهم برانس واکسیة (ابو داود : ۱/۱٤۰) وفی روایة : قال اتیت النبی ﷺ فی الشتاء فرأیت اصحابه یرفعون ایدیهم فی ثیابهم فی الصلاة (صحیح ابی داود ۱/۱٤۰)

ابن جریجؒ وائی : ما نافع ته اووئیل : اکان ابن عمر یجعل الاولیٰ ارفعهن ؟ قال : لا، سواء، قلت : اشر لی، فاشار الی الثدیین او اسفل من ذلك ـ **یعنی ابن عمرؓ به د سینو یا لاندے پورے لاسونه اوچتول** ـ اخرجه ابو داود (۱/۱۱۵) صحیح موقوفاً صححه ابوداود)

الاختلاف فی ذلک :

دا ټولے طریقے جائز دی لیکن ددے په غوره والی کښې اختلاف دے :

۱– امام نوویؒ د شافعیؒ، مالكؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، ابن المنذرؒ نه او ابن قدامهؒ د امام احمدؒ نه نقل کړیدی چه حذو المنکبین پورے رفع الیدین مستحب دی او دا قول امام بخاریؒ په خپل صحیح کښې غوره کړیدے، چه صرف د حذو المنکبین دپاره ئے دلیل ذکر کړیدے کما قال الحافظ فی الفتح (۲/۱۷٦) او دا قول د جمهور علماؤ دے ـ

۲– **قول ثانی** : احناف وائی : الی الاذنین : یعنی د غوږونو د برابرئ پورے رفع الیدین مستحب دی ـ ۳– **قول ثالث** : د امام احمدؒ نه یو روایت دا دے چه مونږ کونکے اختیار مند دے پدے کښې او فضیلت د یو نشته په بل باندے او دا ابن المنذرؒ د بعض اهل الحدیث نه نقل کړیدے او ددے تحسین ئے کړیدے ـ

عبیدیؒ د طاوسؒ نه نقل کړی چه هغه رفع الیدین اوکړل تردے چه د سر نه ئے هم واړول لیکن امام نوویؒ وائی : دا بے اصله باطله خبره ده ـ المجموع : ۳/۳۰۷)

قول اول والا دا دلیل وائی چه رفع الیدین الی المنکبین ځکه راجح دی چه ددے روایت اصح او اثبت اسناداً دے ځکه دا متفق علیه دے او کوم راویان چه محاذات الاذنین ذکر کوی هغوی مختلف دی او د حذو المنکبین راویان متفق دی ـ

امام نوویؒ شرح مسلم (۱/۱٦۸) او المجموع (۳/۳۰۵) کښې فرمائی : امام شافعیؒ پدے ټولو حدیثونو کښې داسے جمع والے کړیدے چه لاسونه به د اوګو پورے پداسے طریقه اوچت کړی چه اطراف د ګوتو ئے د غوږونو بره طرفونو سره برابر شی او غټه ګوته (ابهام) ئے د غوږونو د نرمیو سره او ورغوی ئے د اوګو سره برابر شی ـ

بیا وائی : امام شافعیؒ دا جمع کړیده او خلقو دده نه دا ښه ګڼړلے ده، او ددے تائید به روستو په فصل ثانی کښې راشی چه حیال اذنیه او شحمة اذنیه الفاظ پکښې راغلی دی ۔

لیکن صحیح خبره دا ده چه دا جمع او تطبیق حسن نه دے ځکه دا بیل بیل انواع دی او راویانو جدا جدا ذکر کړیدی، او هر چه شحمة الاذنین حدیث دے نو هغه ضعیف دے کما تقدم ۔

نو تطبیق ته ضرورت نشته ځکه چه ددے روایاتو خپل مینځ کښې هیڅ تعارض نشته بلکه دا ټول سنت اعمال دی او په مختلف حالاتو باندے محمول دی، کله په یو عمل او کله په بل باندے عمل پکار دے اګرکه رفع الیدین الی المنکبین اکثر دی لکه دا خبره د امام احمدؒ نه ابن قدامهؒ په المغنی : (٥٤٧/١) کښې نقل کړیده ۔ او په ژمی کښې د صدر (سینے) پورے اوچتول هم جائز دی کما مرّ الحدیث فی ذلک۔

بعض علماؤ (لکه امام طحاوی په شرح معانی الآثار ١٤٤/١) کښې داسے جمع کړیده او وئیلی ئے دی چه : حدیث المنکبین محمول دے په ژمی باندے چه صحابه کرامؓ کوټونه او شړئ اچولے وے او عام حالاتو کښې رفع الیدین الی الاذنین مستحب دی او استدلال کوی په حدیث د وائل بن حجرؓ باندے چه ابوداود راوړیدے او شیخ البانیؒ ورته صحیح وئیلے دے : (صحیح ابی داود : ١٤٠/١) رقم : (٦٦٨) مخکښې کیفیاتو کښې تیر شو ۔

لیکن علامه عینیؒ په البنایه کښې دا تصریح کړیده چه دا جمع د تکلفاتو نه ده ۔

بله وجه دا ده چه ددے حدیث د ابوحمید الساعدیؓ او د حدیث د ابن عمر او د حدیث د علی فی الطحاوی (١٤٤/) سره به څه کوے چه دے کښې «اذا کبر جعل یدیه حذاء منکبیه » مطلق راغلے دے نو د احنافو د اصولو مطابق دا په خپل اطلاق جاری کول پکار دی ۔

٣– امام بیهقیؒ پرے دا اعتراض کړیدے چه په حدیث د وائلؓ کښې رفع الیدین الی المنکبین راغلی دی او هغه اولیٰ دے ځکه چه دا د باقی روایاتو سره موافق دے ۔

٤– دارنګه په چامو کښې دننه هم غوږونو پورے رفع الیدین کیدے شی او ده ترے په خپل زعم منکبین اخستی دی او حال دا چه دده په روایت کښې (الی صدره) پورے رفع الیدین ذکر دی نو دا څنګه په رفع الیدین الی المنکبین باندے حمل کوی انظر طرح التثریب (٢٥٩/٢)۔

تنبیه : بعض احناف په رفع الیدین کښې سخت تشدد کوی او دا وائی چه غوږونو له به ګوتے وروړی لکه دا خبره د فقه په کتابونو کښې ذکر ده (شرح وقایه : ١٣٩/١)

لیکن پدے باندے هیڅ دلیل نه د حدیث نه شته او نه د یو صحابیؓ قول شته او نه صحیح قیاس شته او نه پدے باندے کوم معتبر عالم قول کړیدے نو دا کار هسے تکلف دے ۔

علامه عبد الحی لکهنوی په حاشیه (١٠) کښې وائی : وذکر قاضی خان فی فتاواه وصاحب الهدایة فی مختارات النوازل وصاحب الظهیریة المس وتبعهم المصنف وهو لیس بسنة مستقلة فانه لا

دلیل علیه فی روایةٍ والثابت عن النبی ﷺ هوالرفع الی محاذاة الاذنین فحسب اخرجه ابو داود ومسلم الخ

۳– دریم دا چه تطبیق ته هله ضرورت راځي چه کله اختلاف او تعارض راشي او دلته هیڅ اختلاف پدې اعمالو کښې نشته ځکه چه د رسول الله ﷺ نه دا ټولې طریقې خو په یو وقت کښې نه دي راغلي، بلکه مختلف اوقاتو کښې شویدي لکه علامه سنديؒ وائي : لا تناقض بین الافعال المختلفة لجواز وقوع الکل فی اوقات متعددة فیکون الکل سنة الا اذا دلّ الدلیل علی نسخ البعض ...... وقد ذکر بعض العلماء فی التوفیق بسطاً لا حاجة الیه لکون التوفیق فرع التعارض ولایظهر التعارض اصلاً آه (حاشیة النسائی : ۱/۱۴۰) **یعنی ددې افعالو په مابین کښې هیڅ تعارض نشته بلکه ټول په بیل بیل اوقاتو کښې وارد دي نو ټول سنت دي ددې وجې نه تطبیق ته هم ضرورت نشته ۔**

فائده : د رفع الیدین پدې احکامو کښې د سړي او ښځې فرق نشته بلکه سړې او ښځه پدې کښې برابر دي او دلیل په فرق باندې نشته، دارنګه په مقدار د لاسونو پورته کولو کښې هم فرق نشته بلکه کوم عمل چه سړي دپاره بهتر دې هغه د ښځې دپاره هم بهتر دې او د احنافو نه نقل شویدي چه سړې به د غوږونو پورې رفع الیدین کوي او ښځه به ئې اوګو پورې ځکه چه دا د ښځې دپاره ډیر استر (پټونکې) دې نو پدې خبره باندې هیڅ دلیل نشته، بلکه زنانه دِې په کوټه کښې دننه مونځ اوکړي چه ښه ستریټې راشي، دارنګه دا حکمت به مونږ هله بیانولې چه کله فرق په احادیثو کښې موجود وې او د ځان نه بعض اعمال د بعضو خلقو دپاره خاص کول بدعت دې ۔ انظر نیل الاوطار (۱۹۸/۲)

تکمیل : د رسول الله ﷺ په لاسونو پورته کولو کښې طریقه دا وه چه هغه به دواړه لاسونه اوچتول اوګوتو په مینځ کښې به ئې نه کولاوولې راوستلو او نه به ئې یو ځائې کولې او دارنګه لاسونه به ئې خواره وو لکه په حدیث د ابو هریرهؓ کښې دي : کان رسول الله ﷺ اذا دخل فی الصلاة رفع یدیه مدّاً) وسنده صحیح اخرجه ابوداود (۱۱۷/۱) رقم: (۷۵۳) وابن خزیمة (۶۲/۱) وفی النسائی رقم (۸۵۰) (کان یرفع یدیه مدّاً).

په صحیح ابن حبان (رقم: ۱۷۶۶) کښې دي : کان ینشر اصابعه فی الصلاة نشراً) **یعنی ګوتې به ئې خورې وې ۔ سعید بن سمعان وائي ابو هریره ﷺ مسجد بنی زریق ته راغلو او خلقو ته ئې اوفرمایل :** (ثلاث کان رسول الله ﷺ یعمل بهن ترکهن الناس، کان اذا قام الی الصلاة قال هکذا : واشار ابوعامر بیده ولم یفرج بین اصابعه ولم یضمها) اخرجه الحاکم (۲۳۴/۱) صحیح الاسناد ولم یخرجاه والبیهقی (۲۷/۲) کشف النقاب (۲۴۹/۴).

او د مد معنی ده غوږونو طرفته اوږدول او د مد او د نشر مینځ کښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه معنی د دواړو په دغه حدیث د ابن خزیمه کښې راغله چه نه به ئې ګوتې یو ځائې کولې او نه به ئې کولاوولې، او دا طریقه شیخ البانی په صفة الصلاة (۶۰) کښې هم ذکر کړیده ۔

او قبلې طرفته متوجه کولو کښې یو ضعیف جدا حدیث وارد دې، چه مجمع الزوائد

(١٠٢/٢) کښې علامه هيثميؒ د طبراني في الاوسط (٣٥/١) په حواله ذکر کړيدے :
عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ اذا استفتح احدكم فليرفع يديه ويستقبل بباطنهما القبلة فان الله امامه قال الهيثمي : وفيه عمير بن عمران وهو ضعيف قال ابن عدى حدث بالبواطيل عن الثقات وخاصة عن ابن جريج وهذا الاسناد عن ابن جريج انظر ضعيف الجامع رقم (٣٥٧) والضعيفة (٢٣٣٨)۔
او د حديث د مسيئ الصلاة نه استدلال کيدے شي چه هغے کښې " فاستقبل القبله " لفظ دے او دارنګه د مد او نشر الفاظو نه هم استدلال کيږي ځکه مد معنى بره طرفته اوږدول او راخکل او د نشر معنى هم ده خورول او نه موټے کول، نو پدے طريقه سره ورغوي پخپله قبلے طرفته متوجه کيږي ۔ وَاِذَا رَكَعَ اَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ : امکان معنى ده قدرت ورکول يعنى د رکوع په وقت به ئے لاسونو ته قدرت ورکړو په رانيولو د زنګنونو، ددے نه معلومه شوه چه زنګنونه په لاسونو کښې رانيول او ګوتے کولاوول سنت عمل دے لکه بل صحيح ابى داود (٨٠٩) او ابوداود طيالسى کښې راغلے دے (كان يفرج بين اصابعه) او په مستدرك د حاكم (٢٢٣/١) کښې دي : كان اذا ركع فرج بين اصابعه (على شرط مسلم) ۔او حديث د مسئ الصلاة کښې دي : اذا ركعت فضع راحتيك على ركبتيك ثم فرج بين اصابعك الخ (ابن خزيمة :١/ ٣٠١) رقم : ٥٩٤) ابن حبان (١٨٨٤- الاحسان) ددے نه معلومه شوه چه تطبيق؛ (د زنګنونو ترمينځ دواړه لاسونه کيخودل) منسوخ دے او هغه په ابتداء د اسلام کښې وو ۔
ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهٗ : هصر په لغت کښې ديته وائي چه د يو لرګى سريا د ونے څانګه اونيسے او ځان ته ئے راکاږي رامائل کړے، يعنى ملا به ئے راخکته او مائل کړه، په روايت ابوداود کښې ورسره دا تفصيل راغلے دے : (غير مقنع رأسه ولا صافح بخدّه) يعنى سر به ئے نه وو نيغ کړے او د مخ طرف به ئے نه وو راويستلے يو طرفته يعنى ښت به ئے کوږ نه وو۔
حَتّٰى يَعُوْدَ كُلُّ فَقَارٍ مَكَانَهٗ : فقار جمع د فَقَارَةٌ ده، مجازا د يو دپاره جمع استعماليږي، فقار د ملا ډبرئ ته وائي يعنى هغه يو بل سره انختى هډوکى چه د اوګے نه شروع دي او په لکه لمى باندے ختم شويدي ۔ ددے عبارت مطلب دا دے چه د رکوع نه به اوچت شو نو پوره به نيغ برابر شو ۔

مسئله : وضع اليدين بعد الركوع :

پدے مسئله باندے ددے زمانے علماء ډير زور لګوى تردے چه د جانبينو نه رسالے ليکل شوى چه د رکوع نه بعد لاسونه کيخودل سنت عمل دے او بعض وائي : دا بدعت کار دے، لکه شيخ عبد العزيز بن بازؒ مفتى الديار السعوديه پدے رساله ليکلے ده چه دا عمل سنت دے، شيخ البانيؒ پدے رساله ليکلے چه دا عمل بدعت او ګمراهى ده دارنګه، بديع الدين الراشدى السندى صاحبؒ په اثبات رساله ليکلے ده (زيادة الخشوع وقنوط اهل الارسال) او شيخ بشير احمد د هغه په رد کښې رساله ليکلے : (فتنة وضع اليدين بعد الركوع) دارنګه محمد عبد الله

الباولپوری د هغه په تردید کښې رساله لیکلې چه بعض رسالات په فتاوی الدین الخالص (٢٥٣/٤) کښې نقل شوی۔ دا مسئله ډیر تفصیل طلب ده لیکن ددې اجمالي خلاصه دا ده چه وضع الیدین بعد الرکوع ته چه څوك سنت وائي هغوی د عموماتو نه استدلال کوی، او پدې باره کښې هیڅ صحیح صریح حدیث نشته۔ او هغه بعض عام احادیث دا دی :

١- نحن معاشر الانبياء امرنا ان نضع ايماننا على شمائلنا فى الصلاة (ابن عباس مرفوعاً ۔ الطبرانی فی الكبير ورجاله رجال الصحيح مجمع الزوائد : ١٠٥/٢) وابن حبان فی صحیحه : ١٧٦٧ – الاحسان) **نو فی الصلاۃ لفظ دواړو حالتونو ته شامل دے قبل الرکوع او بعد الرکوع۔**

او که ته وائې چه فی الصلاة التحیات کښې هم شته نو هلته هم ښې لاس په ګس لاس کیده؟ جواب دا دے چه التحیه کښې محل معلوم دے چه تشهد دے او په هغې کښې په پتونونو لاسونه کیخودل راغلی دی۔

٢- **حدیث :** كان الناس يؤمرون ان يضع الرجل اليد اليمنى على ذراعه اليسرىٰ فى الصلاة (بخاری)۔

دلته هم فی الصلاة لفظ عام دے۔

٣- **حدیث د وائل بن حجرؓ کښې دی :** رأیت رسول الله ﷺ اذا كان قائماً فى الصلاة قبض بيمينه على شماله – رواه النسائی (١٤١/١) باب وضع اليمين على الشمال)۔

نو دلته قیام عام دے شامل دے قیام اول ته چه قبل الرکوع دے او قیام ثانی ته چه بعد الرکوع دے او کلمه د (اذا) هم د عموم دپاره ده نو هر قیام ته به شاملیږی۔

لیکن بل طرفته نور علماء (البانیؒ، محمد عبد الله الباولپوریؒ، بشیر احمدؒ، عبید الله الرحمانی المبارکفوریؒ) وائي چه وضع الیدین بعد الرکوع سنت نه بلکه مستحب هم نه ده۔ دوی سره پدې مدعیٰ باندې ډیر دلائل دی وهو الراجح دلیلا۔

١- اول دلیل : دا دے چه د رسول الله ﷺ نه دَ مانځه تول حرکات او سکنات تفصیل سره نقل دی او دا عمل په هیڅ حدیث کښې ندے ثابت ولے که ثابت وے نو مونږ ته به رانقل شوی وے۔

٢- دویم دلیل دا دے چه مونځ په ورځ کښې پنځه کرته کیږی او د نوافلو خو شمار نشته او پدې کښې څو مره ډیر رکعاتونه دی، ترڅو چه رسول الله ﷺ به په شپه او ورځ کښې څلویښت رکعاته مونځ کولو عموماً، او سره ددې ډیروالی نه هیڅ صحابی (ښځې او سړی) نبی علیه السلام پدې حالت ندے لیدلے چه د رکوع نه بعد ئے لاسونه په سینه باندې کیخودل۔ او که هغه ایخودلے نو مونږ ته به ضرور رانقل شوی وے ځکه چه صحابه کرامؓ به د نبی علیه السلام د اعمال او احوالو ډیر مراقبت او اهتمام کولو هغوی ته دا پته وه چه دا اعمال امت ته نقل کیږی او دا دین دے نو ځکه به هغوی ددې اعمالو په نقل کولو کښې ډیر سخت احتیاط کولو نو هر کله چه دا عمل هیڅ صحابی نقل نه کړو نو بیا دیته سنت او مستحب وئیل دا په صحابه کرامؓ

باندے بدگمانی ده چه دا عمل هم دین دے او د هغوی نه ندے نقل۔

پدے دلیل د شیخ البانی باندے شیخ ابن باز دا اعتراض کړیدے چه لکه څنګه وضع الیدین بعد الرکوع په سنت کښې صراحةً ندے ثابت نو دغه شان ارسال هم په یو حدیث کښې ندے ثابت نو که ارسال سنت وے نو دا به هم صحابه کرامؓ نقل کړے وے لیکن ددے جواب دا دے چه د ابن باز دا خبره ضعیفه ده، او هغه دا چه دا قاعده ده چه دلیل په اعمالو باندے پیش کولے شی نه په هیئات وضعیه اصلیه باندے کوم اصلی حالت چه خارج د مانځه نه وی نو په مانځه کښې په هغے باندے دلیل نشی پیش کیدے بلکه د اصلی هیئت او حالت نه چه خلاف کیږی په هغے کښې نقل ضروری دے نو ارسال الیدین اصلی حالت دے د انسان دپاره نو په مانځه کښې پدے باندے دلیل پیش کولو ته ضرورت نشته او وضع الیدین عمل دے نو پدے باندے دلیل پیش کول ضروری دی او ددے قاعدے دپاره ډیر مثالونه شته لکه مثلا :

۱– په رکوع او سجده کښې به مونځ کونکے کوم ځائے ته ګوری ۲– په سجده کښې به ګیره کوم ځائے کښې وی، او په تشهد او قعده کښې به د ګس لاس ګوتے کوم ځائے کښې وی آیا کولاوے به وی او که بندے ؟ ۔ ۳– په قیام کښې به د دواړو قدمونو ترمینځ فاصله څومره وی؟ دا ټول اصلی هیئات دی دا د مونځ کونکی اختیار ته سپارل شویدی چه دده وضع څنګه وه هغه شان کولو سره مونځ کول جائز دی که چا پدے کښې یو شے واجب کړو هغه به دلیل راوړی ؟ ۔

شیخ الاسلام په مجموع الفتاوی (۲۲/ ۴۱۰) کښې د جهر بالتسمیه په باب کښې وائی :

ان الذی تتوفر الهمم والدواعی علی نقله فی العادة ویجب نقله شرعاً هو الامور الوجودية فالامور العدمية فلا خبر لها ولا ينقل منها الا ما ظنّ وجوده او احتيج الى معرفته فينتقل للحاجة ولهذا قالوا لو نَقَلَ ناقِلٌ افتراض صلوة سادسة او زيادة على صوم رمضان او حجاً غير حج البيت ونحو ذلك لقطعنا بكذبه آهـ ۔

یعنی عادةً او شرعاً د امور وجودیه نقل کیږی او هر چه عدمی امور دی نو په هغے کښې نقل نه وی مګر هغه امور عدمیه نقل کیږی چه د هغے د وجود غالب ګمان وی، یا د هغے پیژندلو ته ضرورت وی او که کوم عدمی شی ته ضرورت نهٔ وی نو د هغے نقل ته ضرورت نشته لکه څوك شپږم فرض مونځ نقل کړی یا بل حج فرض کړی سوئ د فرضی حج نه یا د رمضان روژه نه زیاتی فرض کړی نو دا به یقینی دروغژن وی ځکه چه دا معدوم دی په شریعت کښې او دیته شرعاً ضرورت نشته نو ددے نقل ته هم ضرورت نشته ۔

۳– **دلیل** : دا حدیث الباب دے (حتی یعود کل فقار مکانه) او حدیث د رفاعه بن رافعؓ مرفوعاً کښې دی : نبی علیه السلام مسیء الصلاة ته داسے اوفرمائیل : فاذا رفعت فاقم صلبك وارفع رأسك حتى ترجع العظام الى مفاصلها، وفي رواية : ثم ارفع رأسك حتى تعتدل قائماً (فيأخذ كل عظم مأخذه) ابوداود : (۱/ ۱۳۲) ترمذی (۱/ ۶۷) ۔

نو دا دواړه حدیثونه واضح دلیل دے چه رسول الله ﷺ به د رکوع نه بعد اودریدو تردے چه هډوکی به خپلو خپلو جوړونو ته واپس شو او پدے باندے ئے حکم هم کړیدے او دا واضحه خبره ده چه هډوکی خپلو خپلو جوړونو ته هله رسیږی چه کله ارسال د لاسونو اوکړے شی او په خپل حال پریخودے شی ځکه که قبض او وضع الیدین اوکړے شی نو پدے کښ هډوکی خپل خپل جوړونو ته نه رسی، لکه ددے تشریح ته حاجت نشته خبره وجدانی ده فتفکر وتجرب ! ۔

شیخ البانیؒ دا حدیث په صفة الصلاة (۱۰۵) کښ ذکر کړیدے، او بیا ئے په تعلیق کښ وئیلی دی چه کوم علماء د حجاز پدے حدیث باندے استدلال کوی دپاره د وضع الیدین بعد الرکوع نو دا بعید جداً دے بلکه دا استدلال باطل دے ځکه چه مقصد پدے حدیث کښ اطمینان کول دی پدے قیام کښ او د وضع الیدین هیڅ تذکره پکښ نشته ۔

٤- **دلیل** او تائید : دا عمل د سلف صالحین نه هم ندے نقل نه د صحابیؓ نه او نه د تابعیؒ وغیره نه نو که دا عمل خیر او سنت وے نو د یو صحابی یا تابعی نه خو به نقل وے، معلومیږی چه ددے د اثبات دپاره استدلال کول ضعیف دی، او د هیڅ عالم د متقدمینو محدثینو قول هم پدے کښ نشته معلومیږی چه ددے عموماتو د احادیثو نه پدے مسئله استدلال کول په محل د نظر کښ دی ۔دا وجه ده چه یو محدث دا باب ندے لګولے (باب وضع الیدین بعد الرکوع) دا د حدیثو په هیڅ کتاب کښ نشته ۔

هر چه دا قول د امام احمدؒ دے چه تویجریؒ په خپله رساله ص (۱۹،۱۸) کښ او شیخ البانیؒ په صفة الصلاة (۱۰۵) کښ ذکر کړیدے او علامه مرداویؒ په الانصاف (۶۳/۲) کښ نقل کړیدے او ابن مفلحؒ په کتاب الفروع (۴۳۳/۱) کښ نقل کړیدے چه هغه نه تپوس اوشو چه بعد الرکوع به ارسال کوی که وضع ؟ نو امام احمدؒ اوفرمائیل : (ان شاء ارسل یدیه بعد الرفع من الرکوع وان شاء وضعها) یعنی د مونځ کونکی اختیار دے که ارسال کوی او که وضع، نو ددے نه هم معلومیږی چه پدے باره کښ مرفوع او موقوف صحیح حدیث نشته ځکه که هغه موجود وے نو بیا امام احمدؒ ولے مونځ کونکی ته ددے عمل اختیار ورکولو، معلومه شوه چه دا صرف د هغه اجتهادی خبره وه، او تاسو ته دا بار بار معلومه شویده چه په عباداتو کښ اجتهاد ته ضرورت نه وی بلکه دا بناء وی په نقل د شارع نه ۔

البته د بعض احنافو نه ددے سنیت او استحباب نقل دے لکه رد المحتار للشامی (۳۲۸،۳۲۷/۱) کښ دی چه هر هغه ځائے چه په هغے کښ مسنون ذکر وی هلته لاسونه کیخودل سنت دی او که مسنون ذکر نه وی نو لاسونه به نه ړدی، یا وائی : وضع الیدین سنت دی په هغه قیام کښ چه په هغے کښ قرارے (حصاریدل) وی، لهذا په قومه کښ هم مسنون ذکر شته اګر که صاحب دهدایه په هدایه (۱۹۸/۱) کښ او صدر الشریعه په شرح وقایه (۱۶۵/۱)

کښې دا قول ندے راجح کړے بلکه وئیلی ئې دي : ویرسل فی القومة ۔ لیکن دا اختلاف د دوی هم قیاسی دے ۔او وائی چه دلته ذکر طویل نشته او وضع الیدین په هغه قیام کښې وی چه هلته ذکر طویل وی ۔

۵- **دلیل** : دا هم دے چه رسول الله ﷺ په سحر مانځه کښې د رکوع نه بعد لاسونه پورته کړل او کفارو ته ئې ښیرے کولے (مسند احمد : ۱۲۷/۳) ۔

دارنګه عام قنوت نازله کښې به نبی علیه السلام، سره د مقتدیانو نه لاسونه پورته کول او په سینه باندے ئې نه ایښی ۔

او دا علماء د اولنی قول د دلائلو نه جواب ورکوی چه دا احادیث عمومات دی او په یو خاص عمل کښې په عموماتو باندے استدلال کول ناروا دی ځکه په عباداتو کښې په عام باندے استدلال کول دپاره د اثبات د یو خاص عبادت، دا په بدعاتو کښې داخلیږی لکه مبتدعین وائی دعاء بعد السنة او بعد الفریضه په هیئتِ اجتماعیه ثابت ده ځکه چه وا ربکم ندے راغلے څه ؟ عام بدعتیان د خپلو بدعاتو د اثبات دپاره د عموماتو نه استدلال کوی بلکه که دا عمل سنت وے نو ښکاره نقل به پکښې راغلے وے ۔

هر چه حدیث د وائل بن حجرؓ دے (اذا کان قائماً فی الصلاة)نو دا په اول قیام کښې دے (قبل الرکوع) او نه قیام ثانی بعد الرکوع ځکه چه په دواړو قیامینو کښې ډیر فرقونه دی یو دا چه اول قیام ډیر مهم دے د دویم نه ځکه چه اول قیام کښې دوه فرائض جمع دی، القیام، والقرائت ، او دویم کښې دغه شان نشته ۔

۲- اول قیام مطلق ذکر کیږی او دویم سره قرینه موجود وی لکه داسے وئیلی شي القیام للرکوع، او په احادیثو کښې ددے ډیر مثالونه دی چه اول قیام بلا قرینه ذکر کیږي ځکه هغه کامل قیام دے او دویم سره قرینه او دلیل او علامه ذکر کیږی لکه حدیث د براءؓ کښې دی : (ما خلا القیام والقعود قریبا من السواء (بخاری) او دویم قیام سره داسے الفاظ ذکر کیږی : (ثم ارفع حتی تعتدل قائما) ۔ رفع او اعتدال قرینه ده چه دا د رکوع نه بعد قیام دے (ثم یقول وهو قائم ربنا لك الحمد) ربنا لك الحمد قرینه ده چه دا قیام بعد الرکوع دے تفصیل فتاوی الدین الخالص (٢٥٨/٤) کښې اوګوره ۔

نو معلومه شوه چه دغه حدیث د وائلؓ کښې هم قیام مطلق ذکر دے اول قیام به ترے مراد وی ځکه د دویم قیام دپاره څه قرینه لفظیه او حالیه نشته او نه چرته په بل حدیث کښې د هغې صراحت شویدے ۔

بدیع الدین الراشدیؒ بل دلیل د اثبات دپاره دا وئیلے دے چه د سدل نه منع راغلے ده ۔

الجواب : دا استدلال صحیح نه دے ځکه چه د ارسال الیدین او سدل په مابین کښې د

محدثينو په نيز باندے فرق دے، سدل په اندامونو کښې نه وي بلکه هغه په جامو کښې راځي کما مرّ في تعريف السدل ـ نور کوم دلائل چه ذکر کړيدی هغه هسے برائے نام دي ذکر کولو ته ئے ضرورت نشته ـ

دلته يوه بله عجيبه قاعده شرعيه فقهيه هم موجود ده او هغه دا چه (اذا دار الشيئ بين كونه مستحباً وبين كونه بدعةً فتركه واجب) ځکه عمل په مستحب لازم نه دے او فعل د بدعت حرام دے فتفکر ـ

نو ثابته شوه چه د رکوع نه پس لاسونه کيخودل سنت ندی، او نه مستحب دي لهذا ددے نه ځان ساتل پکار دي او که څوك د دليل په بناء د هغه اجتهاد ديته رسيدلے وي چه دا عمل سنت دے او دا دلائل ئے نه وي ليدلی نو دا به د هغه اجتهاد وي، پداسے مسئلو کښې به سخت تشدد نشي کولے چه انسان يو بل ته کافر او فاسق او مبتدع اووائی او يو بل پسے مونځونه پريدی او دا رکاوټ جوړ کړی دپاره د دعوت الى الكتاب والسنه پدے کښې اعتدال او انصاف ډير ضروري دے، وبالله التوفيق ـ

فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا : يعنى کله به ئے چه سجده کوله نو لاسونه به ئے د اوګو مخامخ کيخودل مخکښې د زنګنونو کيخودلو نه پداسے حال کښې چه نه وو خورونکے د ليچو لکه چه سپے ئے څنګه خوروی، او نه وو ځان سره يو ځائے کونکے د ليچو، يعنی په زمکه به ئے ليچے هم نه کيخودلے او نه به ئے د تشو سره يو ځائے کولے بلکه لاسونه به ئے د ډډونه ورانددے ساتل او صرف ورغوی به ئے په زمکه جوخت کيخودل، او ددے سره دا هم مراد دے چه خيټه به ئے په ورنونو باندے هم نه اچوله ـ

د سجدے صحيح طريقه : رسول الله ﷺ فرمائی چه ما ته حکم شويدے چه زه په اوه اندامونو سجده اوکړم نو هغه به تندے او پوزه دواړه برابر په زمکه کيخودل ددے وجے نه دا دواړه په احاديثو کښې يو اندام شمارلے شويدے، کله جبهه ذکر کيږی او کله دواړه نو اکتفاء په يو نده پکار، او ورغوی به ئے کله د اوګو لاندے کيخودل او کله به ئے د غوږونو لاندے، د مخ د دواړو اننګو خوا ته (كما في حديث ابي داود، والترمذي، وصححه هو وابن الملقن وهو مخرج في الارواء (۳۰۹) او د غوږونو لاندے کيخودلو روايت په مسلم او ابوداود (۱/۱۱۵) او نسائی کښې بسند صحيح ذکر دے ـ الموسوعه الفقهيه (۲/۶۳)

او نبی ﷺ به لاسونه کولاؤ ساتل او د لاسونو ګوتے به ئے بندولے او کولاوولے به ئے پکښې نه پيدا کولو او قبلے طرفته به ئے متوجه کولے، كما في حديث ابي داود والحاكم وصححه ووافقه الذهبي ـ

او د ضم الاصابع روايت ابن خزيمه، بيهقي اوحاكم راوړيدے وصححه ووافقه الذهبي ـ او

متوجه كولو روايت په صحيح سند سره بيهقي راوړيدے او ابن ابى شيبه په جدا سند سره نقل كړيدے او مرفقين او ذراعين به ئے د زمكے نه جدا ساتل كما في هذا الحديث واخرجه البخارى معلقا وموصولا رقم (٨٢٨) ومسلم (٤٩٨)

او زنګنونه به ئے د يو بل نه جدا ساتل او په زمكه به ئے جوخت لګولى وو او قدمونه به ئے اودرولى وو او په زمكه به ئے جوخت كړى وو او د خپو ګوتے به ئے قبلے طرفته متوجه كړے وے او سرونه به ئے ورله رامات كړى وو او دواړه ګيتۍ به ئے يو ځائے كړے وے او ددے تفصيلات به روستو باب السجود كښ راشى ان شاء الله۔

وَاسْتَقْبَلَ بِاَطْرَافِ اَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ : امام نووىؒ فرمائى : ګوتے هله قبلے ته متوجه كيږى چه انسان ددے خيتہ په زمكه جوخته اولګوى آهـ۔

ددے نه په بل حديث كښ په (يفتخ اصابع رجليه – نسائى) سره تعبير شويدے يعنى ګوتے به ئے ظاهر د خپو طرفته مائل كولے ۔

فَاِذَا جَلَسَ : يعنى د دوه ركعاتو نه پس چه كومه قعده اولىٰ راځى نو په هغے كښ بغير د تورك نه كينى يعنى په چپه خپه به كينى او ښئ خپه به اودروى ۔

د تورك سنيت او طريقه :

قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَنَصَبَ الْاُخْرٰى : دا حديث صريح دليل دے چه په قعده آخره كښ تورك كول سنت عمل دے او ددے تورك دپاره درے كيفيات دى په هر يو باندے عمل كول سنت طريقه ادا كيږى ۔

تورك د وَرِك نه دے كُناتى ته وائى نو تورك معنى ده په كوناتو باندے كيناستل لكه دے حديث كښ ترے تعبير شويدے په (قعد على مقعدته) سره او دا درے واړه كيفيات احاديثو كښ ثابت دى :

۱ – كيفيت : ان يفضى بوركه اليسرىٰ الى الارض ويخرج بقدميه من الجانب الايمن كما في حديث ابى داود ۔ يعنى ګس كوناتے زمكے طرفته ككول او دواړه قدمونه ښى طرفته ويستل او دا طريقه احناف صرف زنانو دپاره مسنون ګنړى لانه استر لها ۔

۲ – دويم كيفيت : ان يفرش اليسرىٰ ويقعد على الارض وينصب اليمنىٰ كما في هذا الحديث للبخارى ۔ يعنى ګسه خپه خورول په زمكه او ښئ خپه اودرول او كوناتے په زمكه كيخودل ۔ دا طريقه د اكثرو شوافعو په نيز مسنون ده په قعده آخره كښ ۔

۳ – كيفيت : ان يجعل قدمه اليسرىٰ بين فخذه وساقه ويفرش اليمنىٰ (اخرجه مسلم) يعنى ګسه خپه د ورون او پونډئ په مينځ كښ ننباسى او ښئ خپه په زمكه خوره كړى، او دا درے واړه كيفيات شيخ البانىؒ صفة صلاة النبى ص (١٤٣) كښ او علامه عبد الحى اللكنوى په عمدة الرعايه حاشيه شرح الوقايه (١/٢٧٠) كښ ذكر كړيدى ۔ وابن القيم في زاد المعاد (١/٢٤٥)

الاختلاف فيه والقول الراجح :

١ – امام مالک وائي : په دواړو تشهدونو کښې تورك سنت دے او سړے او ښځه پدے کښې برابر دي، ليکن دليل نښته سوئ د مبهم حديث نه ـ

٢ – امام شافعي او احمدؒ او اسحاقؒ وائي چه په اوله قعده کښې افتراش او په دويمه قعده کښې تورك افضل دے حافظ په فتح الباري (٢/٢٤٦) کښې فرمائي : د امام احمدؒ نه دے باره کښې مختلف اقوال نقل دي، مشهور قول دا دے چه تورك صرف په هغه مانځه پورے خاص دے چه هغے کښې دوه تشهده وي ـ

امام نوويؒ اختلاف د مذاهبو داسے بيان کړيدے چه د شوافعو په نيز مستحب دا ده چه په تشهد اول کښې مفترشا کيني او په تشهد ثاني کښې متوركا کيني او که مونځ دوه رکعاته وي نو متوركا به کيني كالصبح والجمعه ـ

امام احمدؒ وائي : که مونځ دوه رکعاته وي نو افتراش به کوي او که څلور رکعاته وي نو په اول تشهد کښې به افتراش کوي او په دويم کښې به تورك ـ

٣- او امام ابوحنيفهؒ او ثوريؒ وائي : چه په دواړو قعدو کښې به افتراش کوي اوتورك په هيڅ مانځه کښې مستحب نه دے، المجموع شرح المهذب (٣/٤٥٠) و تحفة الاحوذی (١/٢٤٠) ـ

ابن جريرؒ وائي : سنت په ټولو وارد دے نو په هره جلسه کښې تورك او افتراش اوکړي نو په سنت ئے عمل اوکړو والامر فيه سعة ـ توضيح الاحکام (٢/٩٥) ليکن راجح قول د امام احمدؒ دے د راتلونکو دلائلو په وجه ـ

دلائل : د امام مالكؒ دپاره استدلال شويدے په حديث د يحيیٰ بن سعيدؒ باندے چه دے وائي : ان القاسم بن محمد اراهم الجلوس في التشهد فنصب رجله اليمنیٰ وثنی رجله اليسریٰ وجلس علی وركه الايسر ولم يجلس علی قدمه ثم قال : اراني هذا عبيد الله بن عبد الله بن عمر وحدثني ان اباه كان يفعل ذلك اخرجه مالك في الموطأ نو دلته قاسم بن محمد خپلو شاګردانو ته په تشهد کښې د ناستے طريقه دا اوخودله چه تورك اوکړي ده ته عبيد الله اووئيل : چه دا به زما پلار ابن عمرؓ کولو، نو دلته تشهد مطلق راغلے دے دواړو ته شامل دے ـ

الجواب : ددے حديث معارض بل حديث دے په همدغه سند د يحی بن سعيد : ان القاسم حدثه عن عبيد الله عن عبيد الله بن عمر عن ابيه قال : من سنة الصلاة ان ينصب اليمنیٰ ويجلس علی اليسریٰ اخرجه النسائي (١/١٧٣) يعني په مانځه کښې دا سنت دي چه ښئ خپه اودروي او په ګسه باندے کيني نو تعارض راغلو، ددے تطبيق به داسے اوشي، حديث د مالكؒ به محمول شي په تشهد اخير باندے او د نسائي به محمول شي په تشهد اول باندے ـ

٢- دليل : په بعض الفاظو د حديث د ابو حميد الساعديؓ کښې دي : حتی اذا كانت الجلسة

التی فیها التسلیم اخرج رجله الیسریٰ وجلس علی شقّه متورکاً ۔ نو دے نه استدلال کیدے شي چه هر هغه تشهد چه د هغے نه پس سلام راځي نو په دوه رکعاتوکښې هم د تشهد نه په سلام راځي لهذا پدے کښې به هم تورك کولے شي ۔

الجواب : علامه حافظ ابن القیم په زاد المعاد (٢٤٦/١) کښې فرمائي : دا حدیث صریح الدلالت ندے په دغه مدعیٰ باندے بلکه سباق ددے حدیث دلالت کوي چه دا تورك به صرف په هغه تشهد کښې کیږي چه هغے نه روستو سلام راځي ځلور رکعاتي یا درے رکعاتي مونځ کښې، ځکه چه پدے حدیث کښې مخکښې طریقه د جلوس د تشهد اول دپاره بیان شویده، او قیام د هغے نه او بیا روستو ئے دا الفاظ وئیلي دي : حتی اذا کانت السجدة التی فیها التسلیم جلس متورکاً) نو دا سیاق ظاهر دے پدے کښې چه دا جلوس د دویم تشهد مراد دے ۔ انتهی ۔

٢– بله دا چه دا الفاظ په دوه رکعاتي تشهد کښې نه وئیلے کیږي ځکه په هغے کښې څه التباس نه راځي چه آیا په دے کښې به سلام وي او که نه ؟ تردے چه انسان محتاج شي د هغے بیان ته بلکه هغے کښې خپله سلام راتلل واضح دي، دا هله وئیلے کیږي چه مخکښې یو تشهد ذکروي نو بیا د دفع د التباس دپاره اووئیلے شي چه کله هغه تشهد ته اورسیدو چه په هغے کښې سلام راځي یعني دویم تشهد ته فتفکر ! ۔

٣– دریم دا چه الحدیث یفسر بعضه بعضا ۔ نو پدے حدیث الباب کښې صریح الفاظ دي «فاذا جلس فی الرکعة الآخرة وفی لفظ : فی الرکعة الرابعة» (زاد) نو دے نه معلومیږي چه دا تورك په قعده آخره کښې شویدے او دواړه د ابوحمید ساعديؓ حدیثونه دي ۔ فتدبر ! ۔

امام نوويؒ وائي : د امام شافعيؒ وغیره دپاره دلیل دا دے چه تورك په قعده آخره کښې دے ځکه چه کوم احادیث د تورك او افتراش په باره کښې راغلي دي، هغه مطلق دي دا بیان پکښې نشته چه آیا دا په دواړو تشهدونو کښې دي او که په یو تشهد کښې نو ابوحمید ساعديؓ او د هغه ملګرو افتراش په قعده اوله کښې او تورك په قعده آخره کښې بیان کړو نو دغه مطلق به حمل وي پدے مقید باندے، (خاصکر حادثه هم یوه ده) (تحفة الاحوذی : ٢٤٠/١) ۔

نو د امام شافعيؒ دلیل دا حدیث د ابوحمید ساعديؓ دے چه پدے کښې دواړو تشهدونو ترمینځ فرق شویدے ۔

او ددے حدیث د ابوحمیدؓ نه صاحب الهدایه (١١٢/١) دا جواب کړیدے چه دا طحاوي ضعیف کړیدے، یا دا چه په بوډاوالي او ضعف باندے محمول دے چه نبي علیه السلام کمزورے شوے وو په خپو باندے نشو کیناستے ۔

ددے **جواب** دا دے چه دا غلط جوابونه او بهانے دي، حافظ په درایه (١١٦/١) کښې د هغے جواب ورکړے دے چه د طحاويؒ دے حدیث لره ضعیف ګرځول بے دلیله دي ۔

او په بو داوالی باندے دا حمل کول هم صحیح نه دی ځکه چه ابو حمید ساعدیؓ د رسول الله ﷺ د هغه مونځ طریقه بیانوی چه هغه به پرے همیش والے کولو او دده په بیان باندے لس صحابه کراموؓ دده سره موافقت کړیدے او هغوی یو هم دا عذر نه دے بیان کړے او نه دا چرته په بل حدیث کښ راغلے دے او دا قانون دے چه اعتبار د عموم الفاظو لره وی او دا بیان دے د صلوا کما رأیتمونی اصلی دپاره ۔ انتهیٰ کلام الحافظ ۔

۲– بله دا چه د نبی علیه السلام هر حرکت او فعل چه په عبادت کښ شویوی نو هغه به په تشریع باندے حمل وی او په عذر باندے حمل کول دلیل غواړی او هغه نشته بلکه که نبی علیه السلام د ضعف د وجے نه کولے نو بیا ئے په قعده اولیٰ کښ ولے تورك نه کولو ؟ ۔

شیخ عبد الحی لکنویؒ په التعلیق الممجد کښ انصافی خبره لیکلے ده :

وحمل اصحابنا هذا یعنی حدیث ابی حمید الساعدی علی العذر وعلی بیان الجواز وهو حمل یحتاج الی دلیل ومال الطحاوی الی تضعیفه وتعقبه البیهقی وغیره بما لا مزید علیه فی ذلك الخ ۔

یعنی دا حدیث د ابوحمیدؓ په عذر یا بیان الجواز باندے محمولول محتاج دی دلیل ته او هغه نه دے موجود او طحاوی تضعیف ته میلان کړیدے لیکن بیهقی یرے ښه کامل رد کړیدے ۔

د احنافو سره صریح دلیل نشته صرف مجمل او مطلق احادیثو نه استدلال کوی :

۱– یو حدیث د عائشه مخکښ ذکر شو : وکان یقول فی کل رکعتین التحیة وکان یفرش رجله الیسریٰ وینصب رجله الیسریٰ (مسلم) یعنی پدے کښ د قعده اولیٰ او قعده ثانیه فرق ندے شوے ۔

الجواب : مخکښ دوه جوابه ذکر شو چه پدے حدیث کښ اگرکه د قعده اولیٰ او ثانیه فرق ندے شوے خو په حدیث د ابوحمیدؓ کښ فرق شویدے نو دا به محمول وی په اوله قعده د وجے د حدیث د ابوحمیدؓ نه ۔ ۲– دویم دا چه ځکه محمول دے په اوله قعده چه سیاق د حدیث پرے دلیل دے ځکه مخکښ : «کان یقول فی کل رکعتین التحیة» ۔ کښ د تشهد د الفاظو تذکره اوشوه اوس د هغے د ناستے تذکره کوی، او پدے طریقے سره جمع بین الاحادیث راځی او حدیثونه د یو بل نه معارض کیږی ۔ ۳– **جواب** : د ابوحمید ساعدیؓ حدیث نص صریح دے په ثبوت د تورك په تشهد ثانی کښ او حدیث د عائشہؓ نص نه دے په نفی د تورك کښ بلکه غایة ما فی الباب دا به اوئیلے شی چه حدیث د عائشہؓ ظاهر دے په نفی د تورك کښ او دا اصولی مسلمه مسئله ده چه (النص یقدم علی الظاهر عند التعارض) لهذا دلته به هم نص راجح وی په ظاهر باندے ۔(تحفة الاحوذی : ۱/۲٤۰)۔

۲– **دویم دلیل** : استدلال کوی په حدیث د وائل بن حجرؓ «قال : قدمت المدینة قلت لانظرن الی صلوة رسول الله ﷺ فلما جلس یعنی للتشهد افترش رجله الیسریٰ ووضع یده الیسریٰ یعنی علی فخذه الیسریٰ ونصب رجله الیمنیٰ» (ابوداود : ۱/۱٤٥) الترمذی مع التحفة (۱/۲٤۰)

دا حدیث هم مطلق دے، شامل دے اول او دویم تشهد ته ـ

الجواب : دا محمول دے په تشهد اول باندے د وجے د حدیث د ابو حمید ساعدیؓ نه او ظاهر هم دا ده چه وائل بن حجرؓ د دوه رکعاته مونځ بیان کوی او پدے باندے امام نسائی باب لګولے دے (۲۴۹/۱) باب موضع الیدین عند الجلوس للتشهد الاول ـ د نسائی د صنیع نه هم معلومیږی چه د هغه په نزد هم دا کیفیت د اول تشهد دے ځکه په هغے کښ دی : «اتیت رسول الله ﷺ فرأیته یرفع یدیه اذا افتتح الصلاة ...... فاذا جلس فی الرکعتین اضجع الیسریٰ و نصب الیمنیٰ الخ » نو پدے کښ صراحت سره راغلل چه دا د دوه رکعاتو قعده مراد ده ـ (نسائی : ۱۳۷/۱) وسنده صحیح ـ ونحوه فی ابی داود (۱۴۵/۱) (تمام المنه : ۲۲۳) قال ویقویه حدیث عائشه وابن عمر رضی الله عنهما ـفتاوی الدین الخالص (۳۴۱/٤)

۳– دارنګه استدلال کوی په تیر شوی حدیث د ابن عمرؓ باندے کما فی النسائی (۱۷۳/۱) : «من سنة الصلاة ان تنصب القدم الیمنیٰ واستقباله باصابعها القبلة والجلوس علی الیسریٰ »ـ

الجواب : ددے جواب مخکښ ذکر شو چه دوه عملونه د ابن عمرؓ نه متعارض ثابت دی، نو تطبیق ئے دا دے چه دا حدیث محمول دے په قعده اوله باندے او بل عمل محمول دے په قعده آخره باندے کما مرّ فی الاستدلال لمالکؒ ـ

۴– بله دا چه حدیث د ابن عمرؓ په تردید د تربع کښ وئیلے دے چه هغه سړی تربع کوله نو ابن عمرؓ منع کړو چه افتراش سنت دے ـ

د امام احمد مذهب راجح دے یو خو په مخکنی حدیث د نسائی (۲۴۹/۱) باندے

★ دویم دا چه په مرفوع حدیث د ابن مسعود کښ دی : «کان یقول : اذا جلس فی وسط الصلاة، وفی آخرها علی ورکه الیسری التحیات لله والصلوات» الخ اخرجه ابن خزیمة (۳۵۰/۱) واحمد (۴۵۹/۱) وهو فی المجمع (۱۰۱/۱) فتاوی الدین الخالص (۳۵٤/٤)

یعنی نبی علیه السلام به چه کله په دویمه قعده کښ تورک کولو نو التحیات به ئے وئیل الخ ـ

★ دریم دا چه په حدیث کښ دی «نهی رسول الله ﷺ عن الاقعاء والتورک فی الصلاة»– الصحیحة رقم (۶۸۶۵) (۱۶۷۰) نو تورک منهی عنه دے مګر صرف په یو خاص حالت کښ مشروع دے چه هغه قعده آخره ده په ثلاثی او رباعی مونځ کښ ـ

نو کوم علماء چه په ټولو مونځونو کښ تورک مستحب ګڼړی دا هم ضعیف دے او څوک چه په هیڅ مونځ کښ تورک مستحب نه ګڼړی نو دا هم ضعیف دے ـ ابن ابی العز الحنفی وائی : وتنتظم الادلة بترک التورک فی التشهد الاول، والتورک فی التشهد الثانی، والله اعلم التنبیه علی مشکلات الهدایة (۵۷۶/۲)

خلاصه د بحث : ددے ټول بحث نه دا خلاصه حاصلیږی چه تورک سنت عمل دے او صرف

په تشهد ثاني کښې به کولے شي او ددے سره احاديث د افتراش هيڅ تعارض نه لري ځکه احاديث د افتراش محمول دي په اول تشهد باندے۔
٢- يا محمول دي په صلاة ثنائي باندے، ددے دپاره چه جمع د ټولو رواياتو اوشي۔ تمام المنه (٢٢٣) ۔ ٣- دارنګه احاديث د افتراش ساکت دي د تورك نه او احاديث د تورك کښې زيادت راغلے دے او زيادت باندے عمل کول ضروري وي او د احناف او مالکيانو سره په خپله مدعیٰ باندے هيڅ صريح صحيح حديث ندے موجود بلکه ټول احتمالي احاديث دي، نو دا انصاف نه دے چه انسان صريح احاديث پريدي او هيڅ کله پرے عمل نکوي بلکه دے کار ته بد ګوري د وجے د تقليد مذهبي نه او احتمالي احاديث د صحيح احاديثو متعارض اوګرځوي لکه دا خبره علامه عبد الحي لکنويؒ هم په التعليق الممجد کښې ذکر کړيده اول ئے دغه احاديث الافتراش ذکر کړيدي ۔ بيا ئے وئيلي دي :
ولا يخفى على الفطن ان هذه الاخبار وامثالها لا تدل على مذهبنا صريحاً بل يحتمله وغيره وما كان منها دالاً صريحاً لايدل على كونه في جميع القعدات على ما هو المدعىٰ، والانصاف انه لم يوجد حديث يدل صريحاً على استنان الجلوس على الرجل اليسرىٰ في القعدة الاخيرة وحديث ابي حميد مفصل فليحمل المبهم على المفصل انتهىٰ ، و كذا في تحفة الاحوذي (١/ ٢٤١) والمرعاة (٣/ ١٣)۔
يعني زمونږ په مذهب (حنفي) باندے دا احاديث صراحةً دلالت نکوي بلکه ددے احتمال هم لري او د غير هم او کوم چه صريح دي نو هغه پدے دلالت نکوي چه دا (افتراش) په دواړو قعدو کښې دے لکه چه دا مدعیٰ ده نو انصاف دا دے چه هيڅ حديث ندے موجود چه صراحت سره دلالت اوکړي په مستحب والي د افتراش په قعده آخره کښې (بلکه هغے کښې تورك سنت دے) ځکه حديث ابو حميدؓ مفصل دے او دغه احاديث الافتراش مبهم دي او مبهم حمل وي په مفصل باندے ......دا وو اقرار په قلم د حنفي عالم ۔
حافظ ابن القيم په زاد المعاد (١/ ٢٤٦)۔ کښې وائي : ولم يذكر عنه عليه السلام هذا التورك الا في التشهد الذي يليه السلام الخ ۔ يعني د نبي عليه السلام نه هيڅ کله دا ندي نقل چه هغه تورك په قعده اوله کښې کړے وي بلکه دا صرف د قعده آخري سنت دے ۔
نکتهٔ بديعه : د تورك څه حکمت دے ؟ رسول الله ﷺ نه تورك په دويمه قعده کښې ثابت دے دلته علماؤ ډير حکمتونه او فوائد ذکر کړيدي :
١- يو فائده حافظ ابن القيمؒ دا ذکر کړيده چه تورك ځکه کولے شي چه فرق راشي په مابين د تشهد اول او تشهد ثاني کښې ځکه چه په تشهد اول کښې تخفيف او زر پاځيدل سنت دي نو ناست انسان پدے کښې تيار وي پاځيدلو ته او په تشهد ثاني کښې مقصود اوږد والے وي نو په اطمينان سره کيناستل پکار دي او هغه اطمينان په تورك کښې دے ۔ آه ۔

٢– دويم حكمت : كله چه په دواړو قعدو كښې فرق اوكړے شي چه په اوله كښې افتراش او په دويم كښې تورك نو په مونځ كونكي به د ركعاتونو په شمار كښې شك نه پيدا كيږي ځكه كله چه په هيئت كښې مخالفت وي نو انسان ته زر ياديږي چه زه په اول تشهد كښې يم او كه دويم تشهد كښې ـ مرعاة (١٢/٣).

٣– دارنګه مسبوق انسان چه كله امام او مقتديان په تورك يا افتراش باندے اوويني نو هغه ته به پته لګي چه آيا دا اولنے تشهد دے او كه دويم نو شمار د ركعاتونو به ورته معلوم شي ـ

٤– غټه فائده ئے دا ده چه دا عمل د پيغمبر د بدن نه راوتے دے او د هغه عمل الله تعالى ته ډير محبوب دے نو پدے باندے عمل كولو سره انسان د الله تعالى محبوب جوړيږي په خلاف د هغه چا چه ددے نه جوابونه كوي او د پيغمبر عمل دپاره بهانے ګوري ـ

راجع نيل الاوطار (٣٠٥/٢) وتحفة الاحوذی (٢٤١/١) والمرعاة والمغنی لابن قدامه وزاد المعاد (٢٤٦/١) وتمام المنه تعليق فقه السنة (٢٢٣)، وفتاوی الدين الخالص (٢٤٠/٤) وتوضيح الاحكام (٩٥/٢) وفتح الباری (٢٤٦/٢) والفتح الربانی (١٧/٤).

٤– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ اِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ، وَاِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوْعِ، وَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ رَفَعَهُمَا كَذٰلِكَ، وَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ . وَكَانَ لَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُوْدِ . متفق عليه .

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله مونځ شروع كولو نو لاسونه به ئے د اوګدو برابر پورته كړل او كله به ئے چه د ركوع دپاره تكبير اوكړو او (دارنګه) چه كله به ئے د ركوع نه سر پورته كړو نو دواړه لاسونه به ئے دغه شان (اوګوپورے) پورته كول او (ركوع نه سر پورته كولو وخت كښې به ئے) سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد وئيل (الله د هغه شخص اوري چه څوك د هغه حمدونه وائي يعنې د هغه حمد قبلوي) اے ربه زمونږ! خاص تا دپاره د كمال صفتونه دي، او نبي عليه السلام به په سجدو كښې داسے نه كول ـ (بخاري، مسلم) ـ

تشريح : كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ الخ : پدے حديث كښې مسئله د رفع اليدين ده ـ

رفع العينين - الى تحقيق مسئلة رفع اليدين :

دا مسئله هم د نورو مسائلو په شان اختلافي ده ليكن بعض خلكو پدے كښې د تعصب مذهبي د وجے نه ډير تشدد كړيدے چه د احاديثو نه پكښې انكار شوے دے، كه انصاف ته نظر اوكړے شي او افراط او تفريط نه كار وانخستے شي نو مسئله ډيره آسانه ده، پدے مسئله كښې

علماؤ ډیر تالیفات او تصنیفات کړیدی ۔

امام نووی فرمائی : دا مسئله ډیره مهمه ده، هر مسلمان دیته په ورځ کښې په هر مانځه کښې محتاج دے خاصکر هغه څوك چه طالب د آخرت وی او ډیر مونځ کونکے وی، ددے وجے نه علماؤ ددے ډیر اهتمام کړیدے تردے چه امام ابوعبد الله محمد بن اسماعیل البخاری ددے په اثبات او سنیت باندے لوئی کتاب (قرة العینین) چه مشهور دے په جزء رفع الیدین لیکلے دے او په هغے کښې ئے ډیر روایات راجمع کړیدی او سخت انکارئے کړیدے په هغه چا چه ددے خلاف کوی ۔ ٢– امام بیهقی ٣– امام ابوبکر احمد بن عمرو بن عبد الخالق البزار صاحب د مسند البزار ٤– او امام محمد بن نصر المروزی پدے باندے مستقل کتابونه لیکلی دی ۔ د متأخرینو نه حافظ ابن القیم، امام تقی الدین السبکی، علامه نووی هم ددے مسئلے دپاره مستقل کتابونه لیکلی دی ۔ شرح المهذب (٣٩٩/٣) والاستذكار (١٢٥/٢)

مخکښې دا خبره شویده چه د تکبیر تحریمه په وخت رفع الیدین په اجماع د علماؤ سنت دی صرف د امام حمیدی (عبد الله بن زبیر) شیخ البخاری او ابن خزیمه او اوزاعی او داود او ابن حزم نه ددے د فرضیت او وجوب قول نقل دے او هر چه رفع الیدین دی په مواضع ثلاثه کښې (رکوع ته تلو وخت کښې او رکوع نه بعد او د اولے قعدے نه پورته کیدو وخت کښې) نو ددے په استحباب او عدم استحباب کښې د علماؤ اختلاف دے ۔

١– امام نووی فرمائی : زمونږ (د شوافعو) مذهب دا دے چه دا سنت عمل دے او دا قول د جمهور علماؤ دے د صحابه کرام او تابعینو ۔ امام ترمذی د عبد الله بن عمر، ابن عباس، انس، ابن الزبیر او جابر وغیره صحابه کرامو نه نقل کړیدے ۔ او علامه ابن المنذر ددے سره د ابوسعید الخدری ﷺ زیات کړیدے ...... او امام بخاری په جزء رفع الیدین کښې وائی :

روی هذا الرفع عن سبعة عشر نفساً من اصحاب النبی ﷺ منهم ابوقتادة، وابو اسید الساعدی البدری ومحمد بن مسلمة البدری وسهل بن سعد، وعبد الله بن عمرو، وعبد الله بن عباس، وانس وابوهریرة، وعبد الله بن عمرو بن العاص وعبد الله بن الزبیر ووائل بن حجر ومالك بن الحویرث، وابوموسی الاشعری، وابو حمید الساعدی رضی الله عنهم ۔

امام بخاری د حسن بصری او حمید بن هلال نه نقل کوی چه دوی وئیلی دی : کان اصحاب رسول الله ﷺ یرفعون ایدیهم)۔ یعنی صحابه کرامو به رفع الیدین کول ۔

امام بخاری وائی : نو دے دواړو د یو صحابی استثناء اونکړه ۔ او بیا وائی : ولم یثبت عن احد من اصحاب النبی ﷺ انه لم یرفع یدیه ۔ یعنی د هیڅ صحابی نه ترك د رفع الیدین ندی ثابت، (نو گویا کښې دا اجماعی مسئله شوه د صحابه کرامو په مابین کښې)۔

بیا وائی : وروینا الرفع ایضاً هنا عن عدة من علماءِ اهل مکة واهل الحجاز واهل العراق والشام

والبصرة واليمن وعدة من اهل خراسان منهم: سعيد بن جبير، وعطاء بن ابى رباح ومجاهد والقاسم بن محمد وسالم بن عبد الله وعمر بن عبد العزيز والنعمان بن ابى عياش والحسن بن سيرين وطاوس ومكحول وعبد الله بن دينار ونافع وعبيد الله بن عمر والحسن بن مسلم وقيس بن سعيد وعدة كثيرة ۔

بيا وائي : د ام الدرداءؓ نه نقل دي : انها كانت ترفع يديها وكان ابن المبارك يرفع يديه وعامة اصحابه ومحدثي اهل بخارىٰ منهم عيسىٰ بن موسى وكعب بن سعيد ومحمد بن سلام وعبد الله بن محمد المشيدى ۔ **بيا وائي : عبد الله بن زبير (الحميدى شيخ البخاريؒ) او على بن المدينيؒ او يحى بن معينؒ او احمد بن حنبلؒ او اسحاق بن ابراهيمؒ چه د خپلے زمانے اهل علم (امامان) دي دوى دا عام احاديث د رفع اليدين د رسول الله ﷺ نه ثابت كړيدى او دا به ئے حق ګڼړل آهـ۔**

او امام بيهقى د دغه مذكوره صحابه كرام او تابعينو نه علاوه دا ذكر كړيدى : وروينا عن ابى بكر الصديق وعمر بن الخطاب وعلى بن ابى طالب وجابر بن عبد الله وعقبة بن عامر وعبد الله بن جابر البياضى الصحابيين رضى الله عنهم ۔

بيا وائي : وروينا عن ابى قلابة وابى الزبير ومالك والاوزاعى والليث وابن عيينة ويحيى بن سعيد القطان وعبد الرحمن بن مهدى وابن المبارك ويحيى بن يحيى وعدة كثيرة من اهل الآثار بالبلدان فهؤلاء هم ائمة الاسلام شرقاً وغرباً فى كل عصر آهـ ۔

امام اوزاعيؒ فرمائي : عليه اجماع علماء الحجاز والشام والبصرة انظر المجموع (٣/٣٩٩) وبلوغ الامانى (٣/١٧٠) وجامع الترمذى (١/٣٧ مع التحفة (١/٢١٩)۔

او دا قول د امام شافعيؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، معمرؒ، اوزاعيؒ، ابن عيينةؒ، ابن المباركؒ او د امام مالكؒ آخرى او اصح قول دے ۔ حافظ فتح البارى (٢/١٧٤) كښې وائي ابن عبد البرؒ وائي :

لم يرو احد عن مالك ترك الرفع فيهما الا ابن القاسم والذى نأخذ به الرفع حديث ابن عمر وهو الذى رواه ابن وهب وغيره عن مالك ولم يحكِ الترمذى عن مالك غيره ونقل الخطابى وتبعه القرطبى فى المفهم انه آخر قولى مالك واصحهما ولم ار للمالكية دليلاً على تركه ولا متمسكاً الا بقول ابن القاسم انتهىٰ والتمهيد (٩/٢١٣)۔ **او دا خبره امام شعرانيؒ په خپل ميزان الكبرىٰ (١/١٢٩) كښې ذكر كړيده فرمائي :** ومن ذلك قول مالك والشافعى واحمد باستحباب رفع اليدين فى التكبيرات والرفع منه ۔

محمد بن نصر المروزيؒ وائي : اجمع علماء الامصار على مشروعية ذلك الا اهل الكوفة (نيل الاوطار : ٢/١٩٣)۔ **٢- قول ثانى دا دے چه رفع اليدين پدے مواضع ثلاثه كښې سنت ندى او دا قول د امام ابوحنيفةؒ او سفيان الثوريؒ او اهل كوفه دے بيا د احنافو اقوال پدے باب كښې مختلف دى او آراء ئے متناقض دى۔**

١- نو بعض احناف وائي : چه د تكبير تحريمه نه سوىٰ رفع اليدين جائز ندى ځكه چه دوى وائي ابتداء كښې رفع اليدين په غير د تحريمه كښې مباح وو او بيا روستو منسوخ شو او جواز ئے

پاتے نشو نو رفع اليدين منهى عنه دى او ترك رفع اليدين مامور به، لهذا د هغوى په نيز رفع اليدين مكروه تحريمى دى لكه دا خبره كبيرى شرح المنيه او البدائع كښې ذكر شويده ـ

۲- **قول :** بعضو په كښې داسے مبالغه كړيده وائى چه په رفع اليدين كولو سره مونځ فاسديږى، ځكه چه دا عمل كثير دے، لكه دا خبره امير كاتب الاتقانى صاحب غاية البيان شرح الهدايه كړيده، او ددے خبرے د تائيد دپاره ئے دا قول د مكحول نسفى ذكر كړيدے چه هغه د امام ابوحنيفه نه نقل كوى چه په رفع اليدين فى غير التحريمه باندے مونځ فاسد دے ليكن پدے باندے تقى الدين السبكى الشافعيؒ په خپله زمانه كښې مضبوط رد كړيدے بلكه احنافو پخپله هم پدے روايت باندے رد كړيدے او دا فيصله ئے كړيده چه دا روايت د ابوحنيفه نه شاذ دے، او رفع اليدين فى غير الافتتاح سره مونځ نه فاسديږى نو ددے روايت نه معلوميږى چه دا اختلاف په جواز او عدم جوا د رفع اليدين كښې دے نه په استحباب او عدم استحباب كښې ـ انظر رد هذا القول فى التنبيه على مشكلات الهداية (۲/ ۵۷۰)

۳- بعض نور احناف وائى : رفع اليدين په مواضع ثلاثه كښې جائز دى خو راجح او مستحب دا ده چه رفع اليدين اونه كړے شى او دا قول د هغه احنافو دے چه د احاديثو سره ئے څه نا څه تعلق دے لكه شاه انور شاه كشميرى، رشيد احمد گنگوهى او عبد الحى اللكهنویؒ دے ـ

نو د دوى په نيز باندے استحباب د رفع اليدين منسوخ دے نه جواز او اباحت لهذا اختلاف په استحباب او عدم استحباب د رفع اليدين كښې دے لكه صاحب د الكوكب الدرى (۱/ ۱۲۹) وائى : وكذا فى المرعاة (۳/ ۱۵) : لا خلاف بيننا وبين الشافعى فى جواز الصلاة بالرفع وعدم الرفع، انما النزاع فى ان الاولىٰ هو عدم الرفع او الرفع ؟ فاخترنا الاول واختاروا الثانى ـ

يعنى دا اختلاف صرف په استحباب او عدم استحباب كښې دے ـ

صاحب د فيض البارى (۱/ ۲۵۷) انور شاه كشميرى وائى : قد ثبت الامران (الرفع والترك) عندى ثبوتاً لا مردّ له، ولا خلاف الا فى الاختيار، وليس فى الجواز، فما فى الكبيرى شرح المنية والبدائع " انه مكروه تحريماً " متروك عندى، نعم ان كان عندهما نقل من صاحب المذهب فهما معذوران والا فالقول بالكراهة فى مسئلة متواترة بين الصحابة شديد عندى الخ ـ

او پاتے شوه د نسخ خبره نو هغه غلطه ده، احنافو پخپله په هغے باندے رد كړيدے، صاحب د البدر السارى (۱/ ۲۵۵) وائى : دع عنك حديث النسخ اذ قد شهد العمل بالجانبين فانه اقوى دليل على عدم النسخ (المرعاة ۳/ ۱۶) يعنى د نسخ خبرے لرے اوغورځوه، ځكه چه په دواړو جانبينو باندے عمل شويدے نو دا قوى دليل دے چه دا منسوخ نه دى ـ

دارنگه وائى : ان الرفع متواتر اسناداً وعملاً ولم ينسخ منه ولا حرف انما بقى الكلام فى الافضلية كما صرح به ابوبكر الجصاص فى احكام القرآن ـ يعنى رفع اليدين د عمل او سند په اعتبار سره متواتر

راغلي دي او ددے نه يو حرف هم ندے منسوخ شوے صرف اختلاف په افضليت کښې دے لکه دا خبره ابوبکر جصاص په احکام القرآن کښې کړيده ـ

شاه انور شاه الکشميري فيض الباري (١/٢٥٧) کښې فرمائي : وقد اشتهر فی متأخری الحنفية القول بالنسخ وانما تعلموه من الشيخ ابن الهمام والشيخ اختاره تبعاً للطحاوی – قال : واذا ثبت عندی القول بالجواز ممن هو اقدم فی الحنفية (يعنی به ابابكر الجصاص صاحب احكام القرآن) وساعدته الاحاديث ايضاً فلا محيد الا بالقول به، وخلافه لايسمع فمن شاء فليسمع آهـ ـ

يعني متاخرين احنافو کښې د نسخ خبره مشهوره شويده او دا ئې اصل کښې د شيخ ابن همام نه زده کړيده او هغه پدے کښې تابعداري د طحاوي کړيده (او د طحاوي طريقه په تطبيق د احاديثو کښې اکثره دا ده چه هغه په يو طرف احاديثو باندے د نسخ فتوی لګوي) ـ

ليکن حافظ ابن حجر فرمائي : والطحاوی انما نصب الخلاف مع من يقول بوجوبه كالاوزاعی وبعض اهل الظاهر آهـ ـ **يعني طحاوي چه د نسخ خبره کړيده نو دا په مخالفت د هغه چا چه د وجوب قائل دي يعني وجوب ئې منسوخ دے او د نفس جواز خو هغه هم قائل دے ـ**

بيا کشميري وائي : هر کله چه د رفع اليدين د جواز قول د مخکني (مشر) حنفي (ابوبکر جصاص) نه ثابت شو او احاديث هم ددے موافقت کوي نو بس بل طرف د خلاصئ او تيښتے نشته سوئ ددينه چه د رفع اليدين د جواز قول به کوے، او ددے خلاف خبره به نشي اوريدلے او که څوك ددے خلاف خبره اوري نو دا به د هغه خپل کار وي (بے دليل به وي) ـ

علامه عبد الحی لکهنوي په التعليق الممجد ص (٨٢) کښې وائي : واما دعوی نسخه كما صدر عن الطحاوی مغتراً بحسن الظن بالصحابة التاركين وابن الهمام والعينی وغيرهم من اصحابنا فليس بمبرهن عليها بما يشفی العليل ويروی الغليل ـ **يعني دعوه د نسخ کوم چه د طحاوي نه صادر شويده چه هغه په تارکين صحابه کرامو باندے په حسن ظن کولو سره دوکه شويدے او يا ابن همامؒ او عينيؒ وغيره کړيده نو په هغے باندے هيڅ داسے دليل نشته چه بيمار ته شفاء ورکړي او د تکي تنده ماته کړي ـ**

٢- قول بعض محققين متاخرين من الاحاديث احناف وائي : چه نسخ خو مطلقا نشته بلکه دواړه عملونه مسنون دي ليکن رفع اليدين راجح او اکثر او احب دي د ترك رفع اليدين نه او دا قول د شاه ولی اللهؒ، عبد الحی اللکنوي، علامه سنديؒ وغيرهم دے ـ

شاه ولی اللهؒ الدهلوي محدث الهند (چه احناف ئې د ځان ملګرے ګنړي) په حجة الله البالغة **(٢/٨) کښې فرمائي :** والحق عندی ان الكل سنة والذی يرفع احبّ الیّ ممن لا يرفع، فان احاديث الرفع اكثر واثبت آهـ ـ **يعني حقه خبره دا ده چه دواړه عملونه سنت دي خو کوم خلق چه رفع اليدين کوي هغه ماته د رفع اليدين نه کونکو نه زيات محبوب دي، ځکه د رفع اليدين احاديث ډير**

زيات دي او ډير قوي دي نو شاه صاحب ته اهل الحديث ډير محبوب دي۔

۲- علامه سنديؒ په حاشيه د ابن ماجه (۲۸۲/۱) کښې فرمائي : فالاقرب القول باستنان الامرين والرفع اقویٰ واکثر۔ يعني حق ته زياته قريبه خبره دا ده چه دواړه عملونه سنت دي خو رفع اليدين ډير قوي دي او ډير زيات دي۔

۳- علامه عبد الحي اللکنوی په التعليق الممجد کښې وائي (۸۹) : القدر المتحقق فی هذا الباب هو ثبوت الرفع وترکهٖ کليهما عن رسول الله ﷺ الا ان رواة الرفع من الصحابة جمٌّ غفير، ورواة الترك جماعة قليلة مع عدم صحة الطرق عنهم الا عن ابن مسعود وكذلك ثبت الترك عن ابن مسعود واصحابه باسانيد محتجة بها، فاذن نختار ان الرفع ليس بسنة مؤكدة يلام تاركها الا ان ثبوته عن النبی ﷺ اکثر وارجح الخ ۔ يعني پدے باب کښې تحقيقي خبره دا ده چه رفع اليدين او ترك دواړه د رسول الله ﷺ نه ثابت دي ليکن رفع اليدين چه د کومو صحابه کرامو نه نقل دي هغه لوئی جماعت دے او د ترك راويان وړوکے جماعت دے او بيا د هغوی نه سندونه هم صحيح ندي ثابت صرف د ابن مسعود نه ثابت دے نو پدے وخت کښې مونږ دا خبره غوره کوو چه رفع اليدين سنت موکد نه دی چه ددے په پريخودلو باندے انسان گناهګار او ملامته شي او هر چه ثبوت د رفع اليدين دے نو هغه اکثر دے او ډير غوره دے۔

دلائل د مثبتين ډير زيات دي بعض د هغے نه دا دي :

۱- دليل : دا حديث د ابن عمر دے اخرجه البخاری (۱۰۲/۱) ومسلم (۱۶۸/۱) وابوداود (۱۰٤/۱) والترمذی (۵۹/۱) وغيرهم « رأيت رسول الله ﷺ اذا قام فی الصلاة رفع يديه حتی تکونا حذو منکبيه وکان يفعل ذلك اذا رفع رأسه من الرکوع ويقول سمع الله لمن حمده ولا يفعل ذلك فی السجود »

نو دا صحيح حديث دے او امام بخاری په خپل صحيح کښې په څلور طرقو سره نقل کړيدے۔

پدے حديث د ابن عمر باندے د جديد متعصب مقلدينو اعتراضات :

۱- اول اعتراض دا کوي چه د بخاری پدے روايت کښې عبيد الله بن عمر شيعه راوی دے۔

الجواب : عبيد الله بالکل ثقه او ثبت راوی دے حافظ ابن حجرؒ فرمائي : عبيد الله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب العمری المدنی ثقة ثبت قدم احمد بن صالح علی مالك فی نافع وقدمه ابن معين فی القاسم عن عائشة علی الزهری عن عروة عنها عن الخامسه (تقريب التهذيب : ۲/۱۱٤۱ رقم : ٤۳۲٤)۔

علامه خزرجیؒ فرمائي : عبيد الله احد الفقهاء السبعة والعلماء الاثبات، قال النسائی ثقة وقال ابن معين : عبيد الله عن القاسم عن عائشة الذهب المشتبك بالدرّ آه ۔ يعنې د عبيد الله سند د عائشےؓ نه داسے دے لکه د سرو زرو لړۍ چه په مينځ مينځ کښې ئے ملغلرے وی ۔ خلاصة تهذيب الکمال للخزرجی (۲٤۰/۲) رقم : ٤۵۸۱) وتهذيب الکمال (۱۲٤/۱۹) تهذيب التهذيب (۳۸/۷)

۳– اعتراض : حديث د ابن عمرؓ موقوف دے ؟ ۔ **جواب** : دا دے چه په صحيح البخاری (۱/۱۰۲) کښې دا حديث دوه قسمه ثابت دے مرفوع عن النبی ﷺ هم ثابت دے او ابن عمرؓ نه موقوف هم ثابت دے لهذا هيڅ اشکال نشته، نو په موقوف سره په حديث مرفوع کښې نور تقويت پيدا شو چه راوی پرے پخپله هم عمل کړيدے ۔ نو دا اعتراض د جهالت نه پيدا شويدے ۔

۳– دريم اعتراض : پدے حديث د ابن عمرؓ کښې د سجدے والا رفع اليدين هم راغلی دی قال البخاری : وزاد وکيع عن العمری عن نافع عن ابن عمر عن النبی ﷺ انه کان يرفع اذا رکع واذا سجد آهـ ۔ نو تاسو هغه ولے نه کوئ پکار ده چه په هغے هم عمل اوکړے شی هر کله چه پرے تاسو عمل نه کوئ معلومه شوه چه ستاسو په نيز هم دا حديث ندے ثابت ؟ ۔

الجواب : امام بخاریؒ د دغه اعتراض جواب دا ورکوی چه دا حديث د رفع اليدين عند السجود محفوظ نه دے بلکه شاذ دے لکه چه وائی : المحفوظ ما روی عبيد الله وايوب ومالك وابن جريج والليث وعدة من اهل الحجاز واهل العراق عن نافع عن ابن عمر فی رفع الايدی عند الرکوع واذا رأسه من الرکوع ۔ قرة العينين للبخاری (۱۷۰–۱۷۱) **يعنی دا حديث د عمری محفوظ ندے** ۔

۳– دويم جواب داسے ورکوی : ولو صح حديث العمری عن نافع عن ابن عمر لم يکن مخالفاً للاول الان اولئك قالوا اذا رفع رأسه من الرکوع فلو ثبت لاستعملنا کليهما وليس هذا من الخلاف الذی يخالف بعضهم بعضاً لان هذه زيادة والزيادة مقبولة اذا ثبت آهـ ۔ يعنی دغه حديث د عمری چه د سجدے والا رفع اليدين پکښې ذکر دی که صحيح هم شی نو بيا هم دا د اول مخالف نه دے ځکه چه دغه ټولو راويانو د رکوع والا رفع اليدين ذکر کړيدی او العمری د سجدے والا هم ورسره زيات ذکر کړل نو مونږ په دواړو حديثونو عمل کوو، ځکه چه دا زيادت دے په فعل کښې او زيادت د ثقه راوی چه کله صحيح ثابت شی هغه مقبول وی او دا هغه اختلاف نه دے چه يو بل ته پکښې د مخالفت نسبت اوکړے شی چه فلانے ددے حديث يا د هغه حديث مخالف دے بلکه دلته د سره اختلاف نشته ۔ يعنی کوم راوی چه وائی د سجدے والا رفع اليدين ئے نه کول دا مخالف نه دے د هغه راوی نه چه هغه د سجدے والا رفع اليدين ثابتوی ځکه چه دے راوی ندی ليدلی، او بل ثقه راوی ليدلی دی نو هغه رانقل کړی او زيادت د ثقه مقبول وی ځکه دده سره علم زيات وی ځکه دا مثبت دے او هغه بل نافی، او مثبت مقدم وی په نافی باندے ۔

٤– اعتراض : ابن عمرؓ به رفع اليدين نه کول او د احنافو رأيه ده چه راوی چه د خپل روايت خلاف کوی دا دليل دے چه روايت ئے منسوخ دے ۔

جواب : دا اعتراض نه د احنافو په اضطراب باندے دلالت کوی ځکه مخکښې وائی چه دا عمل د ابن عمرؓ دے او موقوف حديث دے او دلته وائی : ابن عمرؓ به رفع اليدين نکول ۔

ددے **جواب** دا دے چه دا خبره غلطه ده چه ابن عمرؓ به رفع اليدين نه کول بلکه په صحيح

البخاري (١/١٠٢) او جزء رفع اليدين (٥٥رقم : ١٤) كښې امام بخاريؒ په صحيح سند سره د نافع د ابن عمرؓ نه نقل كوي : كـان اذا دخل في الصلاة كبّر ورفع يديه واذا ركع رفع يديه واذا قال سمع الله لمن حمده رفع يديه واذا قام من الركعتين رفع يديه ورفع ذلك الى النبي ﷺ ۔

يعني ابن عمرؓ به چه كله مانځه كښې داخل شو نو الله اكبر او رفع اليدين به ئے اوكړل او د ركوع په وخت به ئے رفع اليدين اوكړل او د سمع الله لمن حمده وئيلو نه روستو به ئے رفع اليدين اوكړل او كله به چه دوه ركعاتونه پورته شو نو رفع اليدين به ئے كول او ابن عمرؓ دا عمل نبي عليه السلام ته رسولے دے چه هغه به دا كولو آهـ ۔

٥- اعتراض : رسول الله ﷺ رفع اليدين كړيدي ليكن پدے حديث د ابن عمرؓ كښې دوام ندے ذكر لهذا هميشه ئے ندي كړي ۔

الجواب : دا خبره غلطه ده ځكه چه رسول الله ﷺ ترمرګه پورے رفع اليدين كړيدي او حديث د ابن عمرؓ كښې لفظ د كان د دوام او استمرار دپاره دے لكه كان غالبا د همدے معنى دپاره استعمال دے حافظ زيلعيؒ فرمائي : لفظ كان يقتضي الدوام – نصب الراية (١/٣١)۔

معلومه شوه چه رفع اليدين نبي عليه السلام هميشه كړيدي او ددے تفصيل به روستو راشي ۔

٢- دليل : حديث د مالك بن الحويرث ﷛ :

عن ابي قلابة انه رأى مالك بن الحويرث اذا صلى كبّر ورفع يديه واذا اراد ان يركع رفع يديه واذا رفع رأسه من الركوع رفع يديه، وحدّث ان رسول الله ﷺ صنع هكذا (البخاري : ١/٧٣٧) مسلم (٢/٧) ابن خزيمة (٥٨٥) احمد (٥/٥٣) ابن ماجه (١/١٤٢) ابوعوانة (٢/٩٤) ۔

ابوقلابةؒ نه نقل دي چه ده مالك بن الحويرثؓ اوليدلو چه كله به ئے مونځ كولو نو الله اكبر ئے اووئيلو او رفع اليدين به ئے اوكړل او كله به چه ركوع ته خكته كيدلو رفع اليدين به ئے اوكړل او كله به ئے چه د ركوع نه سر پورته كړو نو رفع اليدين به ئے اوكړل او بيا ئے دا اووئيل چه رسول الله ﷺ به داسے كار كولو ۔ دا حديث په بل سند سره نصر بن عاصم د مالك بن الحويرث نه نقل كړيدے د هغے الفاظ دا دي : عن نصر بن عاصم عن مالك بن الحويرث : ان رسول الله ﷺ كان اذا كبر رفع يديه حتى يحاذي بهما اذنيه واذا ركع رفع يديه حتى يحاذي بهما اذنيه واذا رفع رأسه من الركوع فقال سمع الله لمن حمده فعل مثل ذلك " اخرجه احمد (٢/٤٣٦) والبخاري (٧٤) رقم (٧) ومسلم (٢/٧) والنسائي (٢/١٢٣) والسنن الكبرى (٢/١٨٢) رقم (٧٦٥) وابوداود (٧٤٥) المسند الجامع (١٥/٢٨رقم : ١١٣٠٣) و (١١٣٠٤) والطيالسي (١٢٥٣) وابن حبان (١٨٦٣)

نو د مالك بن الحويرث نه رفع اليدين عملاً او مرفوعاً دواړه ثابت شو ۔

٣- دريم حديث د ابوهريره ﷛ : عن ابي هريرة قال كان رسول الله ﷺ : اذا افتتح الصلاة كبر

ثم جعل يديه حذو منكبيه واذا ركع فعل مثل ذلك واذا سجد فعل مثل ذلك ولا يفعله حين رأفع رأسه من السجود واذا قام من الركعتين فعل مثل ذلك" اخرجه ابن خزيمة (١/٣٤٤) واسناده حسن وله شاهد عند الدارقطني في العلل كما في التخليص الحبير (١/٢١٩) ورجاله ثقات وقال محقق صحيح ابن خزيمة انه حديث صحيح مع انه حنفي المذهب وصححه النووي في الخلاصة (١/٣٤١)۔ **ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول اللّٰه ﷺ به چه كله مونځ شروع كولو تكبير او رفع اليدين به ئے اوكړل تردے چه د اوګو سره به ئے برابر كړل او كله چه به ئے ركوع كوله نو دغه شان كار به ئے كولو او كله چه به ئے سجده كوله نو دغه شان كار به ئے كولو او د سجدے نه راپورته كيدلو وخت كښې به ئے رفع اليدين نه كول او چه كله به د دوه ركعاتو نه راوچت شو نو رفع اليدين به ئے كول ۔ او دغه شان بل روايت د ابو هريرةؓ دے** قال رأيت رسول اللّٰه ﷺ يرفع يديه اذا افتتح الصلاة حذو منكبيه وحين يركع وحين يسجد اخرجه ابن ماجه (١/١٤٢) رقم : (٨٦٠) ابوداود رقم (٨٢٤) واحمد (٢/١٣٢) وابن خزيمة (١/٣٤٤) بسند صحيح۔

٤- حديث د ابوحميد الساعدي ﷺ : عن محمد بن عمرو بن عطاء قال سمعت ابا حميد الساعدي في عشرة من اصحاب النبي ﷺ فيهم ابوقتادة فقال ابو حميد انا اعلمكم بصلاة رسول اللّٰه ﷺ قالوا لم ؟ فواللّٰه ما كنت اكثر له تبعةً ولا اقدمنا له صحبةً ؟ قال : بلى : قالوا فاعرض ! قال : كان رسول اللّٰه ﷺ اذا قام الى الصلاة كبر ثم رفع يديه حتى يحاذى بهما منكبيه ثم يركع ويضع راحتيه على ركبتيه معتدلًا لا يصوّب رأسه ولا يفتح ثم يرفع رأسه فيه يقول سمع اللّٰه لمن حمده ويرفع يديه حتى يحاذى بهما منكبيه الى ان قال : ثم اذا قام من الركعتين رفع يديه حتى يحاذى بهما منكبيه كما صنع عند افتتاح الصلاة فقالوا صدقت هكذا كان يصلى النبي ﷺ آهـ

(ابن حبان : ٣/١٧١) واللفظ له وابن خزيمة (١/٢٩٨) والبخاري (٨٢٨) وابوداود (١/١٠٥) رقم (٧٣٠) و (٧٣٢) والترمذي (٢٦٠ – ٣٠٤) وابن ماجه (٨٦٢ – ١٠٦٢) والدارمي (١٣٥٦) واحمد (٥/٤٣٤) والبيهقي (١/٧٢) والبغوي (٣/١١) والمنتقى (١٩٢) وصححه الترمذي والبخاري في جزء رفع اليدين وابن تيمية في الفتاوى الكبرى (١/٨٠٥) وابن القيم في تهذيب سنن ابي داود (٢/٤١٦) وقال : حديث ابي حميد هذا حديث صحيح متلقى بالقبول لا علة له وقد اعله قوم بما ابرأه اللّٰه ائمة الحديث منه آهـ وصححه الخطابي في معالم السنن (١/١٩٤) ومحب الدين الطبري في غاية الاحكام (٢/٥٧ رقم : ٢٣٩٦) والالباني في صحيح ابي داود (٧٣٠)۔

ددے حديث په باره كښې امام يحيى بن يحيىؒ فرمائي : من سمع هذا الحديث ثم لم يرفع يديه يعني اذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع فصلاته ناقصة – صحيح ابن خزيمة (١/٢٧٠)

يعني چا چه دا حديث واوريدلو او بيا ئے په دے درے واړو ځايونو كښې رفع اليدين اونه كړل د هغه مونځ ناقص دے ۔ تنبيه: په دے حديث د ابوحميد الساعديؓ كښې عبد الحميد بن جعفر

راوی باندے بعض احناف لکه طحاوی وغیره جرح کړیده (قالوا انه مطعون فی حدیثه)۔

الجواب : طحاوی صاحب ناقد نه وو د جرح او تعدیل په امامانو کښې نه دے شمار لکه دا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیه په منهاج السنة النبویة کښې ذکر کړیده ۔

۲- دویم دا چه عبد الحمید بن جعفر ته امام احمدؒ بن حنبل، ابن معینؒ، ابن عدی الساجیؒ، ابن سعدؒ، ابن نمیرؒ، امام مسلمؒ، ابن خزیمهؒ، ابن حبانؒ، علی بن المدینیؒ، الترمذیؒ، ابن القطانؒ، عبد الحق الاشبیلیؒ، امام بیهقیؒ، امام نسائیؒ، یحیی بن سعید القطانؒ، امام بوصیریؒ، الحاکمؒ، شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ، حافظ ابن القیمؒ، امام المحدثین محمد بن اسماعیل البخاریؒ او حافظ ابن حجرؒ ورته ثقه راوی وئیلے دے او امام بخاریؒ وئیلی دی چه د محمد بن عمرو بن عطاء سماع هم د ابو حمید ساعدی نه ثابته ده (تهذیب التهذیب (۳۰٤/۳) رقم (٤۳٦۹) المستدرک (۵۰۰/۱) ابن ماجه (٤۱۹۳)مع الزوائد للبوصیری، الدوری (۳٤۱/۲) الجرح (۱۰/٦) والکامل (۳۱۸/۵) والثقات (۱۲۲/۷) وطبقات ابن سعد (٤۷٤/۵).او په عبد الحمید بن جعفر باندے د ابو حاتم، نسائی او یحیی بن سعیدؒ جرح د دوی د تعدیل سره متصادم او معارض ده یعنی کله ئے جرح کوی او کله تعدیل نو ددے وجے نه د دوی دغه جرح ساقطه ده ۔ علامه ذهبیؒ د عبد الرحمن بن ثابت بن الصامت په ترجمه کښې د ابن حبان دوه قوله متضاد نقل کوی چه یو قول کښې ضعیف او بل کښې ثقه وائی بیا ذهبیؒ فیصله کوی : فساقط قولان ۔ میزان الاعتدال (۵۵٦/۲) یعنی دواړه اقوال ساقط دی ۔

او د سفیان الثوریؒ جرح په عبد الحمیدؒ باندے د مسئلے د تقدیر د وجے نه امام ذهبیؒ په سیر اعلام النبلاء (۲۱/۷ – رقم : ٤۷۲۲) کښې په هغه رد کړیدے هغه وائی چه په صحیحینو کښې داسے روات نشته چه د قدریت په الزام متهم وی لهذا د دوی حدیث به هیڅکله نشی رد کولے او د طحاوی جرح امام بیهقی ښه په کلکه رد کړیده لهذا د مخالفینو دا جرح بے بنیاده ده او حدیث بالکل بے غباره صحیح أو قابل د حجت دے وکفی لصحته نقل البخاری ایاه ۔

۵- حدیث انس رضی اللہ عنہ : عن حمید عن انس قال : رأیت رسول الله ﷺ یرفع یدیه اذا افتتح الصلاة واذا رکع واذا رفع رأسه من الرکوع ۔ ولفظ الدارقطنی : کان رسول الله ﷺ یرفع یدیه اذا دخل فی الصلاة واذا رفع رأسه من الرکوع واذا سجد (اراد ان یسجد) ۔ اخرجه البخاری فی جزء رفع الیدین (۸) وابن ماجه (۸٦٦) قال البوصیری فی الزوائد (۳۰۰/۱) هذا اسناد صحیح رجاله رجال الصحیحین ۔ واخرجه الدارقطنی (۹۰/۱ – رقم : ٤ ، ۱۱) وقال : والصواب من فعل انس ۔ قال الشیخ ابن دقیق العید فی الامام ورجاله رجال الصحیحین ۔ جلاء العینین ص (۷٦) قال الحافظ فی التلخیص (۲۱۹/۱) حدیث انس رواه ابن خزیمة فی صحیحه هکذا ۔ وقال ابن الملقن فی بدر المنیر ایضا اسناده صحیح علی شرط الشیخین ۔ واخرجه ایضاً ابو یعلی فی مسنده (۸۸/۲) وابن ابی شیبة فی المصنف (۲۳۵/۱) اه

ترجمه : انسؓ فرمائی : ما رسول اللہ ﷺ اولیدلو چه لاسونه به ئے پورته کول کله به ئے چه

د مونځ افتتاح کوله او چه کله به ئے رکوع کوله او چه د رکوع نه به ئے سر رااوچت کړو ـ او د دارقطني الفاظ دا دی چه رسول الله ﷺ به رفع اليدين کول کله به ئے چه د مونځ افتتاح کوله او چه کله به ئے د رکوع نه سر را اوچت کړو او چه کله به ئے اراده د سجدے اوکړه (يعني د قومے نه روستو) نو رفع اليدين به ئے کول ـ

او **انس بن مالک** رضی الله عنه به خپله هم رفع اليدين کول ـ

امام بخاري فرمائي : حدثنا مسدد ثنا عبد الواحد بن زياد عن عاصم الاحول قال رأيت انس بن مالك اذا افتتح الصلاة كبر ورفع يديه ويرفع كلما ركع ورفع رأسه من الركوع ـ جزء رفع اليدين (٩٣ رقم ٢٠) ـ

عاصم الاحول رحمه الله فرمائي : ما انس بن مالك اوليدو چه په افتتاح د مانځه کښے به ئے رفع اليدين کول او د رکوع کولو نه مخکښے او د رکوع نه د اوچتيدلو وخت کښے به ئے هم رفع اليدين کول ـ (البخاري في جزء رفع اليدين رقم (٢٠) ورواته ثقات من رجال الصحيح وعاصم بن سليمان الاحول وثقه احمد وابن معين وابن المديني وابوزرعة والعجلي وابن سعد والبزار وغيرهم ـ له ترجمة في الثقات لا بن حبان (١٧٧/٢) والطبقات لابن سعد (٢٥٦/٧) وحلية الاولياء لابي نعيم (١٨٠/٢) وتهذيب التهذيب (٤٢/٥) ـ

٦- **حديث عبد الله بن الزبير** رضی الله عنه : عن عطاء بن ابي رباح قال : صليت خلف عبد الله بن الزبير فكان يرفع يديه اذا افتتح الصلاة واذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع فسأله فقال عبد الله بن الزبير صليت خلف ابي بكر الصديق رضي الله عنه فكان يرفع يديه اذا افتتح الصلاة واذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع وقال ابوبكر صليت خلف رسول الله ﷺ فكان يرفع يديه اذا افتتح الصلاة واذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع ـ آهـ ـ اخرجه البيهقي في السنن الكبرىٰ (٧٣/٢) وقال رواته ثقات ـ وقال الذهبي رحمه الله في المهذب في اختصار السنن الكبير (٤٩/٢ – رقم : ١٩٤٣) رواته ثقات وقال ابن حجر في التلخيص (٢١٩/٢) رواته ثقات انظر لحال الرجال سير اعلام النبلاء (٢٤٢/٣) و (٤٣٧/٥) او تهذيب التهذيب (٥٤/٩) والتقريب (٢٩٠) . **ترجمه : عطاء بن ابي رباح رحمه الله وائي : ما د عبد الله بن الزبير نه روستو مونځ اوکړو نو هغه رفع اليدين اوکړل کله ئے چه د مونځ افتتاح کوله او چه کله ئے رکوع کوله او چه کله ئے د رکوع نه سر اوچت کړو نو عطاء د ابن الزبير نه پوښتنه اوکړه هغه اووئيل ما د ابوبکر صديق رضی الله عنه پسے روستو مونځ اوکړو هغه په دغه مواضعو کښے رفع اليدين کول او ابوبکر صديق وائي ما د رسول الله ﷺ نه روسته مونځ کولو هغه رفع اليدين په افتتاح د مانځه کښے او د رکوع په وخت او د رکوع نه د اوچتيدلو په وخت کښے کول آهـ** ـ

٧- **حديث جابر بن عبد الله** رضی الله عنهما : ابراهيم بن طهمان عن ابي الزبير «ان جابر بن عبد الله كان اذا افتتح الصلاة رفع يديه واذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع فعل مثل ذلك ويقول رأيت رسول الله ﷺ فعل مثل ذلك" ورفع ابراهيم بن طهمان يديه الى اذنيه» ـ

اخرجه ابن ماجه (٨٦٨) والبخاري في جزئه (رقم : ١٨) قال الحافظ في الدراية (١٥٤/١)

والبوصيري في الزوائد: رجاله ثقات ـ والمزی في تحفة الاشراف (۲/۲۷۵) وقال البيهقي هكذا رواه ابراهيم بن طهمان وتابعه زياد بن سوقة وهوحديث صحيح رواته عن آخرهم ثقات كذا في نصب الراية (۱/۴۱۵) وقال الشيخ محمد عابد السندي في المواهب اللطيفة شرح مسند ابی حنيفة (۱/۱۶۲): وصححه الحاكم والبيهقي وللحديث طرق كثيرة انظر مسند الامام احمد (۳/۳۱۰).

جابر بن عبد الله ﷺ به رفع اليدين كول كله چه به ئے د مونځ افتتاح كوله او چه كله به ئے ركوع كوله او چه كله به ئے د ركوع نه سر را اوچت كړونو هم به ئے رفع اليدين كول او وئيل به ئے چه ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه دغه شان مونځ ئے كولو۔

۸- حديث عثمان ﷺ: عن ابن جريج قال قلت لعطاء قد رأيتك تكبر بيديك حتى تستفتح وحين تركع وحين ترفع رأسك من الركعة وحين ترفعك رأسك من السجدة الاولى او من الاخيرة وحين تستوى من المثنى قال: اجل قلت بلغك ان تكبير الاستفتاح باليدين اكبر مما سواهما؟ قال لا، قلت تخلف باليدين الاذنين؟ قال: لا، قال قد بلغني عن عثمان انه كان يخلف بيديه اذنيه ـ اخرجه عبد الرزاق في المصنف (۲/۷۰) وابن حزم في المحلى (۴/۹۵) راجع جلاء العينين ص (۶۱)

حاصل ترجمه: ابن جريج وائي ما عطاء ته اووئيل چه زه تا وينم چه ته د تكبير تحريمے سره لاسونه اوچتوے او چه كله ته ركوع كوے او چه د ركوع نه اوچت شے نو هم رفع اليدين كوے او چه د اولے سجدے او د آخرے سجدے او يا دوه ركعتونو نه راپاڅے نو رفع اليدين كوے هغه اووئيل: آو يقينا د عثمانؓ نه همدغسے ما ته رارسيدلى دى۔

۹- حديث الاعرابي ﷺ: **امام الحارث بن ابی اسامه په خپل مسند كښے وائي:** حدثنا ابو النصر عن سليمان عن حميد حدثني من سمع الاعرابي يقول: «رأيت النبي ﷺ يصلي قال فرفع رأسه من الركوع ورفع كفيه حتى حاذتا او بلغتا فروع اذنيه كانهما مروحتان» ـ اخرجه الحارث بن ابی اسامة في المسند كما في المطالب العالية (۱/۷۸) لا بن حجر ـ واحمد في المسند (۳/۶) والحافظ في التلخيص (۱/۲۲۰) والبوصيري في مختصر اتحاف السادة المهرة بزوائد المسانيد العشرة (۲/۴۵۲–رقم: ۱۵۲۸) وقال رواه الحارث بسند ضعيف لجهالة التابعي آهـ قلت ويشهد له الاحاديث الصحيحة ـ

يو صحابي (بانډيچي) فرمائي: ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه مونځ ئے كولو او د ركوع نه راوچتيدلو په وخت كښے به ئے رفع اليدين كول او خپل ورغوى ئے برابر او يا د غوږونو نرمو ته ئے اورسول گويا چه دا دواړه لاسونه لكه د پكى پشان وو۔

۱۰- حديث عبد الله بن عباس ﷺ: **امام بخاريؒ فرمائي:** حدثنا مسدد ثنا هُشيم عن ابی حمزة قال رأيت ابن عباس يرفع يديه حيث كبّر واذا رفع رأسه من الركوع آهـ اخرجه البخاري في جزء رفع اليدين (۹۳– رقم ۲۱) وعبد الرزاق في المصنف (۲/۶۹) وابن ابی شيبة (۱/۲۳۵) وقال عبد الله بن الامام احمد في مسائل ابيه (۷۵) حدثني ابي نا هشيم فذكره ورجاله ثقات من رجال الصحيح

ذکرهم فی التهذیب والتقریب وابوحمزة هو طلحة بن یزید الدئلی مولی الانصار وهشیم بن بشیر قد صرح بالسماع فاندفعت تهمة التدلیس والحمد لله ۔

ترجمه : ابوحمزهؒ فرمائی : ما ابن عباسؓ اولیدلو چه رفع الیدین به ئے د تکبیر افتتاح اود رکوع نه د اوچتیدلو په وخت کښې کول ۔ ددې نه معلومه شوه چه د ابن عباسؓ روایت چه د قد افلح المؤمنون په تفسیر کښې پیش کوی نو هغه ضعیف دے په هغې کښې اسحاق بن نجیح الملطی ابو صالح کذاب یضع۔ یعنی دروغجن او موضوعی حدیثونه جوړونکے دے ۔

انظر تنزیه الشریعة (۱/۳۷ رقم: ۲۶۸) الکشف الحثیث (٦٦ رقم: ۱۲۷) ومیزان الاعتدال (۳/۱۷٦)

۱۱- حدیث ابی بکر الصدیق ؓ : عن عبد الله بن الزبیرؓ قال : صلیت خلف ابی بکر الصدیقؓ فکان یرفع یدیه اذا افتتح الصلاة واذا رکع واذا رفع رأسه من الرکوع وقال ابوبکر صلیت خلف رسول الله ﷺ فکان یرفع یدیه اذا افتتح الصلاة واذا رکع واذا رفع رأسه من الرکوع آهـ ۔ **تخریج** : اخرجه البیهقی (۲/۱۰۷ – رقم: ۲۵۱۹) ورجاله ثقات قاله الحافظ فی التلخیص (۱/۲٦۱) واخرجه ابوبکر احمد بن علی بن سعید المروزی فی مسند ابی بکر الصدیق (۲۰٤) واقر علی تصحیح البیهقی الامام الذهبیؒ فی المهذب (۲/٤۹) وذکره السخاوی فی الجواهر المکللة فی الاحادیث المسلسلة ص (۱۵٦) **مذکوره حدیث احمد په مسند احمد کښې هم شته کما فی مجمع الزوائد (۲/۲٦٤) رقم: ۲۷۹۹) وتذکرة الحفاظ (۳/۱۳۳)**

ترجمه : عبد الله بن زبیر ؓ فرمائی : ما د ابوبکر صدیقؓ نه روستو مونځ کولو نو هغه به رفع الیدین د استفتاح په وخت اود رکوع په وخت کښې او د رکوع نه د اوچتیدلو په وخت کښې کول بیا ابوبکر اووئیل ما د رسول الله ﷺ نه روستو مونځ کولو نو هغه هم دغسې رفع الیدین په درې ځایونو کښې کول ۔ او په مسند لبی بکر الصدیق (۲۰٤) کښې دی : عبد الرزاق وائی چه ما د ابن جریج نه بل څوک په مونځ کښې زیات ښائسته او پوره نه دے لیدلے ځکه هغه د عطاء بن ابی رباح او هغه د عبد الله بن الزبیر او هغه د ابو بکر الصدیق نه او هغه د رسول الله ﷺ نه او هغه د جبریل نه او جبریل د الله تعالی نه دغه مونځ زده کړیدے ۔

۱۲- فعلی مرفوع حدیث د عمر بن الخطاب ؓ : امام بیهقیؒ الحکم ته خپل سند رسوی فرمائی : الحکم قال رأیت طاوسا کبر فرفع یدیه حذو منکبیه عند التکبیر وعند رکوعه وعند رفع رأسه من الرکوع فسألت رجلا من اصحابه فقال انه یحدث به عن ابن عمر عن عمر عن النبی ﷺ آهـ ۔ اخرجه البیهقی (۲/۱۰۷ رقم: ۲۵۲۱)

ترجمه : حکم وائی ما طاؤس اولیدو چه الله اکبر ئے اووئیلو بیا ئے لاسونه تر اوګو پورته کړل د تکبیر سره او د رکوع په وخت کښې او د رکوع نه راپورته کیدلو په وخت کښې بیا وائی ما د طاوس د یو ملګری نه تپوس اوکړو نو هغه د ابن عمر نه او ابن عمر د عمر فاروق نه او هغه د

رسول اللهﷺ نه حديث بيان كړو ـ

اعتراض : بعض مقلدين وائى چه پدې حديث كښې رجل مجهول دے چه دا مضر دے په صحت د حديث كښې ؟ ـ **جواب** : دا دے چه دغه رجل په محضر د دغه جماعت كښې حديث بيانوى بيا پرې څوك انكار نه كوى دليل دے چه روايت ثابت دے لهذا دا اعتراض دفع دے ـ

د عمر بن الخطاب رضی الله عنه قولى حديث :

امام بيهقيؒ په الخلافيات كښې عبد الله بن القاسم ته سند رسوى فرمائى :

عن عبد الله بن القاسم قال : بينما الناس يصلون فى مسجد رسول الله ﷺ اذ خرج عليهم عمر بن الخطاب فقال اقبلوا علىّ بوجوهكم اصلى بكم صلاة رسول الله ﷺ التى كان يصلى ويأمر بها فقام مستقبلا القبلة ورفع يديه حتى حاذتا منكبيه ثم كبر ثم ركع و كذلك حين رفع فقال للقوم هكذا كان رسول الله ﷺ يصلى بنا آهـ ـ اخرجه البيهقى فى الخلافيات كما فى نصب الراية (١/٤١٦) قال الزيلعى رجاله معروفون نقلا عن الامام الشيخ ابن دقيق العيد ـ ٢ – وقال ابن سيد الناس فى شرح الترمذى الموسوم بنفح الشذى (٢/٢١٧) رجال اسناده موثقون ـ جلاء العينين ص : (١٠٣) وذكر الحديثين الحافظ فى الدراية (١/١٥٤) قال الحافظ فى التلخيص (١/٢١٨) وعن عمر نحوه ورواه الدارقطنى فى غرائب مالك والبيهقى وقال الحاكم انه محفوظ انتهى ـ

ترجمه : خلقو د رسول اللهﷺ په مسجد كښې مونځ كولو نو دغه وخت كښې عمر فاروق راووتلو نو وے وئيل ما ته مخونه را اوګرځوئ ! چه زه تاسو ته د رسول اللهﷺ مونځ اوكړم هغه مونځ چه خپله ئے هم دغسې مونځ كولو او امر به ئے پرې هم كولو نو عمر بن الخطاب رضی الله عنه پاڅيدو او مخ ئے قبلې ته اوګرځولو او لاسونه ئے د اوګو پورې اوچت كړل بيا ئے تكبير اوكړو بيا ئے ركوع او كړه همدارنګ ئے رفع اليدين كولو چه ښكته به تللو نو قوم ته ئے اووئيل دغه شان به رسول اللهﷺ مونږ ته مونځ كولو ـ

تنبيه : الحمد لله د عمر فاروق رضی الله عنه نه فعلًا او قولًا مرفوع حديث ثابت شو چه رسول اللهﷺ رفع اليدين كړيدى او پدې ئے امر كړيدے بعض منكرينِ حديث مقلدين وائى چه رفع اليدين په قولى حديث كښې ثابت ندى حال دا چه د عمر فاروق دغه حديث كوم چه امام بيهقى په الخلافيات كښې ذكر كړيدے او امام الاحناف حافظ زيلعيؒ هم دغه حديث صحيح كړيدے نو حنفى مقلدينو ته هيڅ عذر د عدم رفع اليدين پاتے نشو ـ او بل قولى حديث په السلسة الصحيحة (٣٢٨٦) (٧/٨٤٨) عن عقبه بن عامرؓ مرفوعا روستو راروان دے ـ

١٣ – حديث على بن ابى طالب رضی الله عنه : امام ابوداودؒ عبيد اللهؒ ته سند رسوى فرمائى : عن عبيد الله بن ابى رافع عن على بن ابى طالب – رضى الله عنه – عن رسول الله ﷺ انه كان اذا قام الى الصلاة المكتوبة كبّر ورفع يديه حذو منكبيه ويصنع مثل ذلك اذا قضى قرائته واراد ان يركع ويصنعه اذا

رفع من الركوع ولا يرفع يديه في شئ من صلاته وهو قاعد واذا قام من السجدتين رفع يديه و كبّر ـ آهـ ـ(ابوداود : (٧٤٤) والترمذى ٣٤٢٣١) وابن ماجه (٨٨٤) والبخارى فى رفع اليدين رقم : ١ – ٦) واحمد (١/٩٣) والطحاوى فى معانى الآثار (١/١٩٩) وفى المشكل (١/٤٨٨) وابن خزيمة (٤٦٤– ٥٨٤) والبيهقى فى السنن الكبرى (٢/٧٤) والدارقطنى (١/٢٨٧– رقم : ١٠٩٤) وهو حديث صحيح) وصححه النووى فى الخلاصة ـ

ترجمه : علی ﷺ د رسول الله ﷺ نه حدیث نقل کوی فرمائی : چه رسول الله ﷺ به کله مانځه ته پاڅیدو نو تکبیر به ئے اوکړو او لاسونه به ئے د اوګو پورے اوچت کړل او چه کله به رکوع ته تللو نو رفع الیدین به ئے کول او چه کله به د رکوع نه را اوچت شو نو رفع الیدین به ئے کول او په ناسته به ئے رفع الیدین نه کول او چه کله به د دوه رکعتونو نه پاڅیدلو، رفع الیدین به ئے کول ـ

د مذکوره حدیث رواة ټول ثقه دی صرف عبد الرحمن بن ابی الزناد چه د هغه په باره کښې امام ذهبیؒ فرمائی : حديثه من قبيل الحسن هو حسن الحديث (سير اعلام النبلاء ٨/١٦٨–١٧٠) یعنی دده حدیث د حسن د قبیلے نه دے ـ **امام ابن المدینیؒ** قاطعه فیصله کوی وائی :

قد نظرت فيما روى عنه سليمان بن داود الهاشمى فرأيتها مقاربة (تاريخ بغداد : ١٠/ ٢٢٩)

یعنی ما د سلیمان بن داود الهاشمی احادیث دده نه اولیدل نو دده احادیث مقارب وو ـ

عبد الحی لکهنویؒ وائی : مقارب الحدیث الفاظ د توثیق دی ـ (الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل ص (٢٧) ـ ددے وجے نه حدیث د علیؓ صحیح حدیث دے امام نووی په خلاصة الاحكام : ١/ ٣٤٠– مرقم : ٥٤٩) کښے ورته صحیح وئیلی دی ـ

حافظ زیلعیؒ وائی :قال الشيخ فى الامام ورأيت عن علل الخلال عن اسماعيل بن اسحاق الثقفى قال سئل احمد عن حديث على هذا فقال صحيح ـ نصب الراية (١/٤١٢) ـ

ترجمه : شیخ ابن دقیق العید په الامام کښے وائی : ما د خلال په علل نومے کتاب کښے لیدلی دی د اسماعیل بن اسحاق الثقفی نه چه وائی د احمد نه تپوس اوشو ددے حدیث په باره کښے هغه اووئیل دا حدیث صحیح دے ـ د حنفی مقلدینو دپاره د زیلعیؒ دغه خبره کافی ده چه حدیث د علیؓ ئے صحیح کړیدے ـ

١٤– حديث – وائل بن حجر ﷺ : عن كليب بن شهاب عن وائل بن حجرؓ قال : قلت لانظرن الى صلاة رسول الله ﷺ كيف يصلى فقام رسول الله ﷺ فاستقبل القبلة فرفع يديه حتى حاذتا اذنيه ثم اخذ شماله بيمينه فلما اراد ان يركع رفعهما مثل ذلك ووضع يديه على ركبتيه فلما رفع رأسه من الركوع رفعهما مثل ذلك فلما سجد وضع رأسه بذلك المنزل من يديه ثم جلس فافترش رجله اليسرى ووضع يده اليسرى على فخذه اليسرىٰ – الى ان قال وحلق الابهام والوسطى ـ الحديث ـاخرجه ابوداود (٧٢٦– ٧٢٧) والترمذى (٢٩٢) والبخارى فى رفع اليدين (٢٦ – ٣٠ – ٧١) وابن ماجه (٨١٠) واحمد (٤/٣١٦)

والدارمی (۱/۳۱٤) والحمیدی (۸۸۵) وابن خزیمة (۱/۲٤۲- رقم: ٤۷۷) و (۱/۳۲۳) ومسلم ٤۱/۱۱٤- رقم: ٤۰۱) بغیر هذا اللفظ۔

ترجمه : وائل بن حجر رضی الله عنه فرمائی: ما اووئیل چه زه به خامخا د رسول الله ﷺ مونځ گورم چه هغه څرنگه مونځ کوی نو رسول الله ﷺ پاڅیدلو مخ ئے قبلے ته کړو او لاسونه ئے تر اوگو پورے اوچت کړل بیا ئے ښے لاس په چپ کیخودلو هر کله چه به رکوع ته خکته کیدلو نو رفع الیدین به ئے کول او بیا به ئے لاسونه په زنگنو نو باندے کیښودل او هر کله چه به ئے سر د رکوع نه راوچت کړو نو رفع الیدین به ئے کول همداسے، هر کله چه به ئے سجده کوله نو سر به ئے د دوه لاسونو په مینځ کښے کیخودلو بیا به کیناستلو او چپه خپه به ئے خوره کړه او چپ لاس به ئے په چپ ورون باندے کیخودو او غټه او مینځنۍ گوته به ئے حلقه کړه۔

فائده : وائل بن حجر د یمن د بادشاه د اولادو نه وو رسول الله ﷺ دده د راتگ نه درے ورځے مخکښے بشارت ورکړے وو (الثقات ۳/٤۲٤) وکتاب مشاهیر علماء الامصار لابن حبان (٤٤ رقم: ۲۷٦) په سنه (۹) هجری کښے چه کوم وفدونه رسول الله ﷺ ته راغلی وو حافظ ابن کثیرؒ په البدایه والنهایه (۵/۷۱) کښے دده د راتگ تذکره کړیده وائل بن حجرؓ په سنه (۱۰) هجرت کښے رسول الله ﷺ ته دوباره راغلے وو (صحیح ابن حبان (۳/۱٦۸) چه پدغه کال کښے هم ده د رسول الله ﷺ د رفع الیدین مشاهده کړیده۔ ابوداود رقم: ۷۲۷ ومسلم: ٤۰۱)۔

د مذکوره دلائلو نه دا ثابته شوه چه وائل د رسول الله ﷺ په آخری عمر کښے راغلے وو او هغه ئے په رفع الیدین باندے لیدلے وو نو په دے کښی رد دے په هغه مقلدینو چه دعوه د نسخه ئے کړیده حال دا چه رفع الیدین په آخری عمر د نبی علیه السلام کښی شویدی۔

بل دلیل دا هم دے چه ناقل د رفع الیدین مالك بن الحویرث دے او هغه مدینے ته د تبوك په کال راغلے وو او دا آخری عمر د رسول الله ﷺ وو پدے وجه ده حدیث د جلسه د استراحت نقل کړیده نو احنافو هلته وئیلی دی چه دا جلسه د بوډا والی د وجه نه شویده نو دے تناقض ته اوگوره چه رفع الیدین ته د ابتداء د اسلام عمل وائی او منسوخ ئے گنړی او جلسه د استراحت چه دا هم مالك بن الحویرث نقل کړیده هغے په آخری عمر د نبی علیه السلام کښی گنړی ؟!۔

۱۵- حدیث - ابو موسی الاشعری رضی الله عنه : عن ابی موسی الاشعری قال: هل اریکم صلاة رسول الله ﷺ فکبر ورفع یدیه ثم کبر ورفع یدیه ثم قال سمع الله لمن حمده ثم رفع یدیه ثم قال هکذا فاصنعوا ولا یرفع بین السجدتین۔ آه۔ اخرجه الدارقطنی (۱/۲۹۱- رقم: ۱۱۰۹) والبیهقی (۲/۲۷) والزیلعی فی نصب الرایة (۱/٤۱۵) من جهة المصنف وسنده صحیح لا غبار علیه رجال اسناده کلهم ثقات فان دعلج بن احمد ثقة ثبت، وعبد الله بن شیرویه ثقة بالاتفاق واسحاق بن راهویه ثقة وامام ولیس هو بمختلط سیر اعلام النبلاء (۲/٤۳٤) النضر بن شمیل: ثقة ثبت، حماد بن سلمة ثقة عابد اثبت الناس فی ثابت وتغیر

حفظه بآخره وسماع النضر عن حماد قبل الاختلاط انظر تهذيب الكمال (۲۵۸/۷) وتقريب التهذيب (۵۲۲) وتذكرة الحفاظ (۷۰٦/۲) وتاريخ بغداد (۳۸۸/۸) ۔ **ترجمه** : ابو موسی اشعریؓ فرمائی چه زه تاسو ته د رسول اللّٰه ﷺ مونځ اوښایم نو تکبیر تحریمه ئے اوکړه او رفع الیدین ئے اوکړل بیا ئے تکبیر اوکړو او رفع الیدین ئے اوکړل بیا ئے سمع اللّٰه لمن حمده اووئیل، بیا ئے رفع الیدین اوکړل بیا ئے اووئیل داسے مونځ تاسو هم اوکړئ! او د سجدو په مینځ کښے به ئے رفع الیدین نه کول ۔

۱٦ – حدیث عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ :

امام الاحناف زیلعیؒ فرمائی : قال البيهقي فقد روى هذه السنة (رفع اليدين) عن ابى بكر الصديق وعمر بن الخطاب وعثمان وعلى وطلحة والزبير وسعد وسعيد وعبد الرحمن بن عوف وابى عبيدة بن الجراح ومالك بن الحويرث وزيد بن ثابت وابى بن كعب **وابن مسعود** وابى موسى وابن عباس والبراء بن عازب والحسين بن على وزياد بن الحارث الصدائى وسهل بن سعد الساعدى وابى سعيد الخدرى وابى قتادة الانصارى وسلمان الفارسي وعبد الله بن عمرو بن العاص وعقبة بن عامر وبريدة بن الحصيب وابى هريرة وعمار بن ياسر رضى الله عنهم انتهى ۔ **قال الشيخ** فى الامام : ورأيت بعد ذلك اسماء اتوقف فى حكايتها الى الكشف من نسخة اخرىٰ منهم ابو امامة وعمير بن قتادة الليثى وابو مسعود الانصارى ومن النساء عائشة وروى عن اعرابى آخر صحابى كلهم عن النبى ﷺ انتهى ۔

نصب الراية (٤١٨/١) والبيهقى فى معرفة السنن والآثار (٢١٨/١) وجلاء العينين ص (٦٠) ۔

د عبارت خلاصه : امام زیلعیؒ د امام بیهقیؒ نه د رفع الیدین راویان چه تقریبا (۲۸) دی ذکر کوی او په هغے ئے هیڅ اعتراض نه دے کړے مع انه حنفی المذهب لکن د امام ابن دقیق العیدؒ قول ئے نقل کړیدے چه هغه وائی د رفع الیدین په بعضو راویانو باندے زه توقف کوم چه د هغے حال ما ته معلوم نه دے چه هغه ابو امامه الباهلیؒ، عمیر بن قتاده اللیثیؓ، ابو مسعود الانصاریؓ، عائشهؓ او یو اعرابی دے ۔

۱۷ – حدیث ابو اسید ۔ ۱۸ – سهل بن سعد ۔ ۱۹ – محمد بن مسلمه رضی اللّٰه عنهم :

دادرے صحابه کرام د ابو حمید الساعدیؓ حدیث په (٤) کښے ذکر شو چه حاضر وو ۔ دا حدیث مخکښے نمبر (٤) کښے ذکر شویدے چه د ابو حمید په مجلس کښے ابو اسید او سهل بن سعد او محمد بن مسلمه ناست وو او هغه د رسول اللّٰه ﷺ نه رفع الیدین ذکر کول او دوئ د هغه تصدیق اوکړو ۔ اوګوره ابوداود (٢٦٧/٢) ابن ماجه (١٠٣/١) ابن حبان (٢٥٧/٣) ابن خزيمه (٢٩٨/١) مسند الشاميين ص (٤٩) الامالى ص (٢٥٨) لابن حجر وجزء رفع اليدين ص (٧٣ – رقم: ٥)

اعجوبة : ددغه مخکښی عبارت نه معلومه شوه چه د ابن مسعود نه هم رفع الیدین ثابت دی، لهذا ددے نه یوه بدیعه فائده راووتله او هغه دا چه احناف د ابن مسعودؓ نه ترک رفع الیدین حدیث پیش کوی خو دلته دِے فکر اوکړی چه د هغه نه خو رفع الیدین هم ثابت شو او

حال دا چه د رفع اليدين والا روايت نور احاديث هم تائيدکوی لهذا د حنفی مقلدينو هيڅ معذرت پاتے نشو ـ

۲۰- حديث : ام الدرداء رضی الله عنها : امام بخاریؒ فرمائی : حدثنا خطاب عن اسماعيل عن عبد ربه بن سليمان بن عمير قال رأيت ام الدرداء ترفع يديها فی الصلاة حذو منكبيها ـ آهـ ـ

عبد ربه بن سليمان وائی : ما ام الدرداء اوليده چه رفع اليدين به ئے د اوګو پورے کول ـ رفع اليدين ص (۹۹– رقم : ٦) او په بل روايت کښے دی :

رأيت ام الدرداء ترفع يديها فی الصلاة حذو منكبيها حين تفتتح الصلاة وحين تركع فاذا قالت سمع الله لمن حمده رفعت يديها وقالت ربنا لك الحمد آهـ ـ جزء رفع اليدين ص (۱۰۰– رقم : ۲۵) ـ

ترجمه : يعنے ام الدرداء به رفع اليدين کول د اوګو پورے چه کله به ئے تکبير تحريمه کوله او چه کله به ئے رکوع کوله او چه کله به ئے سمع الله لمن حمده اوونيله نو رفع اليدين به ئے کول او بيا به ئے ربنا لك الحمد اوونيله ـ

نو دا روايت دلالت کوی چه رفع اليدين لکه چه د سړو دپاره سنت دی نو د زنانه دپاره هم سنت دی ځکه چه د زنانه او مردانه په کيفيت او طريقه د مونځ کښے فرق په شريعت محمدی کښے ثابت نه دے ـلکه دا خبره بار بار تيره شوه ـ

۲۱- قولی حديث : عقبة بن عامر ﷺ : امام طبرانیؒ خپل سند ابو المصعب ته رسوی فرمائی : عن ابی المصعب مشرح بن هاعان المعافری انه سمع عقبة بن عامر يقول فی كل اشارة يشيرها الرجل بيده فی الصلاة بكل اصبع حسنة او درجة آهـ ـ اخرجه الطبرانی فی معجمه الكبير (۱۹۷/۱۷) قال الهيثمی فی الزوائد (۱۰۳/۲) اسناده حسن ـ قال البيهقی فی المعرفة (۲۲۵/۱) ـ قال اسحاق بن راهويه قال عقبة بن عامر الجهنی صاحب رسول الله ﷺ اذا رفع يديه عند الركوع ورفع رأسه من الركوع فله بكل اشارة عشر حسنات واورده الامام عبد الله بن احمد فی مسائل ابيه (۷۰) عنه معلقاً واورده علی المتقی فی كنز العمال (۲۳۹/۷) وفيالسلسلة الصحيحة روی مرفوعاً رقم (۳۲۸٦) (۸٤۸/۷) بسند صحيح ـ**مشرح بن هاعانؒ وائی : ما د عقبه بن عامرؓ نه واوريدل هغه وئيل چه د سړی په هره ګوته اوچتولو په مونځ کښے يوه نيکی ده او يا يوه درجه ده ـ**

۲۲- اثر : نافع فرمائی : ان ابن عمر كان اذا رأی رجلا لا يرفع يديه اذا ركع واذا رفع رماه بالحصی ـ جزء رفع اليدين ص (۵۳) قال النووی باسناده الصحيح ـ المجموع شرح المهذب (٤۰۵/۳)

يعنی ابن عمرؓ به هغه څوك په کانړو ويشتو چه رفع اليدين به ئے نه کول ـ

ټولو صحابه کرامو به رفع اليدين کول

امام بيهقیؒ عبد الملك ته سند رسوی فرمائی : عبد الملك ابن ابی سليمان عن سعيد بن جبير انه سئل عن رفع اليدين فی الصلاة فقال هو شئ يزيّن به الرجل صلاته وكان اصحاب رسول الله ﷺ

یرفعون فی الافتتاح وعند الرکوع واذا رفعوا رؤسهم آه. **ترجمه** : د سعید بن جبیرؒ نه تپوس اوکړے شو د رفع الیدین په باره کښې هغه اووئیل دا یو شے دے چه سرے پرے خپل مونځ ښائسته کوی او د رسول اللّٰه ﷺ ټول صحابه کرامؓ به رفع الیدین کول د افتتاح او د رکوع په وخت او د رکوع نه راوچتیدلو وخت کښې ـ سنن کبرٰی للبیهقی (۷۵/۲) ـ

دا اثر بالکل صحیح دے او ددے ډیر شواهد شته یو د هلال بن حمید دے چه هغه هم دغه شان خبره کړیده او امام بخاریؒ وائی : ولم یثبت عن احد من اصحاب النبی ﷺ انه لم یرفع یدیه ـ جزء رفع الیدین ـ یعنی د هیڅ صحابی نه دا نه دی نقل چه هغه رفع الیدین نه وی کړی ـ

دے لاندینی تابعینو نه هم **رفع الیدین** نقل دی ـ

۱ – **ابو قلابه** ـ مصنف ابن ابی شیبة (۲۳۵/۱) وجزء رفع الیدین رقم : ۵۵)

۲ – **محمد بن سیرین** ـ مصنف ابن ابی شیبة (۲۳۵/۱) الخلافیات ص (۱۰٤) ـ

۳ – **وهب بن منبه** ـ مصنف عبد الرزاق (۶۹/۲، رقم : ۲۵۲٤)

۵ – **القاسم بن محمد** ـ ٦ – **عطاء** ـ ۷ – **مکحول** ـ جزء رفع الیدین رقم : (٦۲) والتمهید (٦۹/۵)

۸ – **نعمان بن ابی عیاش** ـ جزء رفع الیدین رقم : (۵۹) ۹ – **طاوس** ـ السنن الکبری (۷٤/٤)

۱۰ – **سعید بن جبیر رحمهم اللّٰه اجمعین** ـ جزء رفع الیدین رقم : ٤۵۱) والتمهید (٦٤/۵) ـ

خلاصه : دے باره کښې نور احادیث هم شته لیکن یو منصف انسان ته یو صحیح حدیث هم کافی دے چه هغه پرے عمل اوکړی ـ

دلائل الاحناف او د هغے جائزه :

۱ - **اول دلیل** : حدیث د ابن مسعود رضی اللّٰه عنه : عن وکیع عن سفیان (الثوری) عن عاصم بن کلیب عن عبد الرحمن بن الاسود عن علقمة قال قال عبد اللّٰه بن مسعود : الا اصلی بکم صلاة رسول اللّٰه ﷺ فصلی فلم یرفع یدیه الا فی اول مرة آهـ ـ سنن الترمذی (۵۹/۱) وقال حدیث حسن والمحلی (۸۷/٤) ـ دا د احنافو قوی دلیل دے چه په ترک د رفع الیدین کښې ئے پیش کوی او کله کله ئے دلیل گرځوی په نسخ د رفع الیدین باندے ـ **الجواب** : ددے حدیث لس جوابونه دی چه اکثر صاحب د تحفة الاحوذی (۲۲۰/۱) ذکر کړیدی اول جواب : ۱ – دا حدیث ضعیف دے ځکه :۱– **شیخ الاسلام** المجاهد الثقة عبد اللّٰه بن المبارك (۱۱۸ – ۱۸۱ هـ) **وائی** : لم یثبت حدیث ابن مسعود ـ سنن الترمذی (۵۹/۱) **یعنی د عبد اللّٰه بن مسعود حدیث ثابت نه دے ـ او دا جرح په لاندینی کتابونو کښې اوگوره ۱ – ترمذی ـ سنن الترمذی (۵۹/۱)** ـ

۲ – **ابن الجوزی ـ التحقیق (۲۷۸/۱)** وقال : وقال فیه عبد اللّٰه المبارك لا یثبت هذا الحدیث ـ

۳ – **ابن عبد الهادی ـ التنقیح (۲۷۸/۱)** ـ

٤ – **النووی ـ المجموع شرح المهذب (٤۰۳/۳)** ـ

٥– ابن قدامه ـ المغنی (۱/۲۹۵) ـ ٦– ابن حجر ـ التلخیص (۱/۲۲۲) ـ
٧– الشوکانی ـ (۲/۱۸۰) ـ ٨ – البغوی ـ شرح السنه (۳/۲۵)
معلومه شوه چه د ابن المبارك دغه جرح په حدیث د ابن مسعود باندے صحیح او ثابته ده ـ
٢- الامام الشافعی (۱۵۰– ۲۰٤) امام شافعی هم دے حدیث ته غیر ثابت وئیلے دے ـ
شرح الزرقانی علی موطأ مالك (۱/۱۵۸) سبل السلام (۱/۱٦۸) وفتح الباری (۲/۱۷۵) ـ
٣- ابوحاتم الرازی (۱۹۵/۲۷۷) فرمائی : هـذا خطاء وهم الثوری فقد رواه جماعة عن عاصم وقالوا کلهم ان النبی ﷺ افتتح فرفع یدیه ثم رکع فطبق وجعلهما بین الرکبتین ولم یقل احد ما روی الثوری ـ علل الحدیث (۱/۹٦) ـ **٤- احمد بن حنبل** (۱٦٤/۲٤۱هـ) دی اوګوره ـ التمهید لما فی الموطا من المعانی والاسانید (۹/۲۱۹) ـ
٥- الامام الدارقطنی (۳۰٦– ۳۸۵) امام دارقطنیؒ وائی : لم یثبت ـ یعنی دا روایت ثابت نه دے ـ تلخیص الحبیر (۱/۲۲۲) وکتاب العلل للدارقطنی (۱/۳۸٦) ـ
٦– حافظ ابن حبان (۳۵٤) په خپل کتاب الصلاة کښے وائی : هو فی الحقیقة اضعف شئ یعول علیه لأن له عللا تبطله آهـ ـ تلخیص الحبیر (۱/۲۲۲) ـ تهذیب السنن لابن القیم (۲/٤٤۹) ـ
٧– امام ابوداود السجستانی صاحب السنن (۲۰۲– ۲۷۵) وائی :
هـذا حـدیـث مختصر من حدیث طویل ولیس هو بصحیح علی هذا اللفظ ـ سنن ابی داود (۱/٤۷۸) ومشکاة المصابیح رقم (۱۳۲٦) یعنی دغه حدیث د ابن مسعودؓ مختصر دے د اوږد حدیث نه چه صحیح نه دے په دے الفاظو آهـ ـ **٨– یحیی بن آدم** شیخ احمد بن حنبل فرمائی : (نقله البخاری فی الجزء) نظرت فی حدیث عبد الله بن ادریس عن عاصم بن کلیب لیس فیه : لم یعد، فهذا اصح لان الکتاب احفظ عند اهل العلم وفی الکتاب : ان عبد الله قال علمنا رسول الله ﷺ الصلاة فقام فکبر ورفع یدیه ثم رکع وطبّق یدیه فجعلهما بین رکبتیه فبلغ ذلك سعداً الخ قال البخاری وهذا هو المحفوظ عند اهل النظر من حدیث ابن مسعود انتهی کلام البخاری – وانظر التخلیص الحبیر (۱/۳٦٤) وتحفة الاحوذی (۲/۱۰٤) طبع المکتبة التجاریة مکة المکرمة ـ
غرض د بخاری دا دے چه دا حدیث منکر دے ځکه چه په کتاب کښ اصل روایت د تطبیق وو او راوی پکښ د لم یعد لفظ زیات کړو ـ او پدے حدیث باندے د ابوداود پشان جرح لاندینی علماؤ هم ذکر کړیده : ۱- **امام ابن الجوزی** (۵۱۰– ۵۹۷) التحقیق فی اختلاف الحدیث (۱/۲۷۸) قال وقال ابوداود لیس بصحیح آهـ ـ ۲- **ابن عبد البر الاندلسی** (۳٦۸– ٤٦۳) په التمهید (۹/۲۳۰) کښے وائی : قال ابوداود فی حدیث عاصم هذا حدیث مختصر من حدیث طویل ولیس بصحیح علی هذا اللفظ آهـ ـ د ابن عبد البرّ ددے قول نه صاف معلومه شوه چه د ابوداود دغه جرح په حدیث د ابن مسعود باندے ثابته ده ـ ۳- **ابن عبد الهادی** (۷۰۵ – ۷٤٤هـ) په

التنقيح (۲۷۸/۱) کښې دغه جرح ذکر کړيده . **٤- ابن الحجر العسقلاني (۷۷۳- ۸۵۲)** اوګوره التلخيص (۲۲۲/۱) . **٥- شمس الحق عظيم آبادي (۱۲۷۳ – ۱۳۲۹ هـ)** وائي : اعلم ان هذه العبارة موجودة في نسختين عتيقتين عندي وليست في عامة نسخ ابي داود الموجودة . عون المعبود (٤٤٩/٣) . **يعني دغه جرح د ابوداود په حديث د ابن مسعودؓ باندې په دوه نسخو د ابوداود کښې موجوده ده کوم چه ماسره دي او په عامو نسخو (کوم چه ديوبنديانو چاپ کړيدي) هغې کښې دغه عبارت نشته . د پورتني علماؤ د اقوالو نه معلومه شوه چه دغه عبارت د ابوداود صحيح او ثابت دې . ٨- يحيى بن آدم (۲۰۳ هـ)** وائي چه حديث د ابن مسعود ثابت نه دې . اوګوره تلخيص الحبير (٣٦٤/١) . **٩- ابوبكر احمد بن عمرو البزار (۲۹۲ هـ)** وائي : وهو حديث لا يثبت ولا يحتج به . **يعني دغه حديث ثابت نه دې . التمهيد (۲۲۰/۹)**

۱۰- محمد بن وضاح (۲۸۹ هـ) حديث د ابن مسعود ته ضعيف وئيلي دی . التمهيد (۲۲۱/۹).۱۱- امام بخاري (۱۹٤ – ۲۵٦) هم دې حديث د ابن مسعود ته ضعيف او غير ثابت وئيلي دی . اوګوره جزء رفع اليدين ص (۱۳رقم: ۳۲) المجموع شرح المهذب (٤۱۳/۳) وتلخيص الخبير (٣٦٤/١) . **١٢- ابن القطان (٦٢٨ هـ) وائي چه دې حديث کښې : لم يعد لفظ خطاء دې .** نصب الرايه (۳۹٥/۱) .**۱۳- يحيى بن معين . اوګوره** حاشيه جلاء العينين ص (۲۸).

١٤- ابن الملقن (۷۲۳- ۸۰٤هـ) دې حديث ته ضعيف وئيلي دی . حاشيه جلاء العينين ص (۱۱٤). ١٥- الامام الحاكم (۳۲۱- ٤۰٥ هـ) . حاشيه جلاء العينين ص (۱۱٤) وتهذيب السنن لابن القيم (٤٤٩/٢) . **١٦- الامام النووي (٦٣١-٦٧٠) وائي :** اتفقوا على تضعيفه . خلاصة الاحكام من مهمات السنة وقواعد الاسلام (٣٤٢/١رقم: ٥٥٣).

١٧- الامام الدارمي (۲۰۰- غالبا – ۲۸۰ هـ) . اوګوره تهذيب السنن (٤٤٩/٢) ١٨- الامام البيهقي (٣٨٤- ٤٥٨) **حديث د ابن مسعود ته ضعيف وئيلي دی .**

اوګوره مختصر الخلافيات للامام البيهقي (۳۷۸/۱) والمجموع شرح المهذب (٤۰۳/۳) وتهذيب السنن (٤٤٩/٣) . **١٩- محمد بن نصر المروزيؒ (۲۰۲- ۲۹٤ هـ) هم دې حديث ته ضعيف وئيلي دی اوګوره نصب الرايه (۳۹٥/۱) . ۲۰- ابن قدامة المقدسي (٥٤١- ٦٢٠ هـ) وائي : ضعيف : يعني حديث د ابن مسعود ضعيف دې .** المغني (٢٥٥/١) . **٢- امام ابن عبد البر (٣٦٨- ٤٦٣) اوګوره** مرعاة المفاتيح (۲۲۳/۲ ونور العينين ص (۱۱۹) .

حاصل دا شو چه: مذکوره امامان دين چه ثقه او مستند علماء دي او د جرح او تعديل ائمه دي ټولو دې حديث د ابن مسعود ته ضعيف وئيلي دي او دوی ماهرين د فن دي لهذا د دوی خبره به منلې شي .

۲- د ابن مسعود د حديث دويم جواب : د ابن مسعود په دې حديث کښې ټول دارومدار په

سفیان الثوری باندے دے چه هغه ثقه حافظ عابد فقیه راوی دے لیکن سره ددے دے مدلس دے
- لاندے علماؤ ده ته مدلس وئیلے دے۔
١- عبد الله بن المبارک تهذیب السنن ٤١/١٠٢)
٢- یحیی بن سعید القطان ۔ تهذیب السنن (١٩٢/١١)
٣- الامام البخاری ۔ العلل الکبیر للترمذی ٢١/٩٦٦) والتمهید (٣٤/١)
٤- الامام النسائی ۔ طبقات المدلسین لابن حجر ص(٢٢رقم٥١)
٥- یحیی بن معین ۔ الکفایة للخطیب (٣٦١)۔
٦- ابو محمود المقدسی ۔ قصیدة فی المدلسین (٤٧) دویم شعر۔
٧- ابن الترکمانی حنفی ۔ الجوهر النقی (٢٦٢/٨) وقال: الثوری مدلس وقد عنعن۔ **ماهنامه** اهل الحدیث شماره (١٢) ص: (٣٨)
٨- ابن حجر العسقلانی ۔ طبقات المدلسین ص (٣٢) وتقریب التهذیب ص (١٩٧)۔
٩- امام الذهبیؒ وائی: انه کان یدلس عن الضعفاء ولکن له نقد و ذوق و لا عبرة لقول من قال یدلس ویکتب عن الکذابین۔ میزان الاعتدال (١٦٩/٢)۔
یعنی ده به تدلیس کولو د ضعیف رواتو نه لیکن ده دپاره نقد او ذوق شته او د هغه چا قول ته اعتبار نشته چه وائی تدلیس به ئے کولو او د کذابینو نه به ئے حدیث لیکل۔
بیا وائی: لانه کان یحدث عن الضعفاء۔ سیر اعلام النبلاء (٢٧٤/٧)۔
یعنی د ضعیفو راویانو نه به ئے حدیثونه بیانول۔ او بل ځائے کښے وائی: وربما دلس من الضعفاء۔ سیر اعلام النبلاء (٢٤٢/٧) یعنی ډیر کرتے به ئے د ضعیفو رواتو نه تدلیس کولو۔
خلاصه دا چه د سفیان ثوری مدلس راوی دے او د اصول حدیث موافق د مدلس راوی عنعنے والا حدیث ضعیف وی کله چه ورله متابع نه وی او که متابع موجود شی نو بیا به قوی وی، او دلته ورله صحیح متابع نشته۔ ارشاد الساری شرح صحیح البخاری (٢٨٦/١) للقسطلانی۔
علامه عبد الرحمن مبارکفوریؒ وائی: ددے تول تحقیق نه ثابته شوه چه حدیث د ابن مسعود نه صحیح دے او نه حَسن دے بلکه ضعیف دے لا یقوم بمثله حجة، هر چه تحسین د ترمذیؒ دے نو په هغے باندے اعتماد نشته ځکه په هغه کښې تساهل موجود دے او ابن حزمؒ چه ورته صحیح وئیلے دے نو هغه ئے ورته د سند په وجه صحیح وئیلے دے او دا خبره معلومه ده چه صحت د سند مستلزم نه دے صحت د متن لره، علاوه لا دا چه د ابن حزمؒ تصحیح لره په مقابله د تضعیف د حفاظ او نقاد کښې هیڅ اعتبار نشته نو استدلال په دے ضعیف حدیث په ترک د رفع الیدین فی غیر الافتتاح او نسخ باندے صحیح نه دے آه۔
٣- دریم جواب الزامی: پدے حدیث د ابن مسعودؓ کښې خو دا خبره ده چه رفع الیدین ئے په

نورو ځايونو كښې اونكړل نو احناف په وترو كښې او دارنګه په عيدينو كښې ولې رفع اليدين كوي كه دوى وائى چه مونږ د وتر او عيدينو رفع اليدين په نورو رواياتو سره ثابتوو نو مونږ وايو چه رفع اليدين د ركوع او د ركوع نه بعد د صحيحينو د احاديثو نه ثابت دى فما هو جوابكم فهو جوابنا ـ او دا رد په دوى باندې امام بخاري كړيدې كما في نصب الرايه او ددې نه زيلعي جواب هم ندې وركړې ـ كما في التحفه (٢٢٣/١) او بل طرفته د ابن مسعود نه رفع اليدين هم ثابت شو كما مرّ ـ **٤- جواب** : پدې حديث د ابن مسعودؓ كښې د ركوع او د ركوع نه بعد والا رفع اليدين ذكر نه دى لكه په دې باندې امام ابوداود باب ايخودې دې : باب من لم يذكر الرفع عند الركوع ـ سنن ابى داود (٤٧٧/١) او دا اصولي مسلمه قاعده ده چه د عدم ذكر د يو شى نه دا نه لازميږى چه دا به واقع نه وى، لكه دا خبره مشهور محدث حافظ ابن حجر (٨٥٢هـ) كړيده فرمائى : ولا يلزم من عدم ذكر الشيئ عدم وقوعه (الدراية : ١/٢٢٥) باب الاستسقاء ـ

او ابن التركمانى الحنفى (٧٤٥هـ) فرمائى : ومن لم يذكر الشئ ليس بحجة على من ذكره الجوهر النقي (٣١٧/٤) يعنى څوك چه يو عمل ذكر نكړى هغه حجت او دليل نه وى په هغه چا چه هغه ذكر كړې وى، نو د سفيان پدې روايت كښې د ركوع او بعد الركوع رفع اليدين نه ذكر كولو نه دا نه لازميږى چه رفع اليدين به نه وى بلكه په نورو متواترو روايات د صحيحينو وغيره كښې د هغې ثبوت شته ـ

٥- جواب : د سفيان پدې حديث كښې نفى ده او صحيحين وغيره په متواترو احاديثو كښې ددې اثبات دې او دا اصولي مسلمه قاعده ده چه مثبت مقدم وى په نافى باندې لكه امام نوويؒ فرمائى : ان احاديث الرفع اولىٰ لانها اثبات وهذا نفى فيقدم الاثبات لزيادة العلم ـ المجموع شرح المهذب (٤٠٣/٣) يعنى د رفع اليدين احاديث اولىٰ دى ځكه په دوى كښې اثبات دې او عدم رفع اليدين نفى ده نو اثبات به مقدم وى په نفى باندې ځكه چه اثبات والا سره علم زيات وى ـ **متعصب حنفى** كرخى وائى : المثبت مقدم على النافى (نور الانوار : ١٩٧) ونصب الراية (٣٥٩/١) وقال الخطابى فى معالم السنن : والاثبات اولىٰ من النفى ـ

٦- جواب : بعض علماؤ وئيلي دى چه بالفرض كه حديث د ابن مسعود صحيح شى نو بيا ددې مطلب دا دې چه د تكبير تحريمه سره ئې صرف يو ځل رفع اليدين اوكړل او بار بار ئې لاسونه پورته نه كړل لكه شيعه ګان چه څنګه بار بار لاسونه اوچتوى ـ

لكه امام نوويؒ فرمائى : ذكره اصحابنا قالوا : لو صح وجب تاويله على ان معناه لايعود الى الرفع فى ابتداء استفتاحه ولا فى اوائل باقى ركعات الصلاة الواحدة ويتعين تاويله جمعاً بين الاحاديث ـ **يعنى** زمونږ شوافع وائى چه كه حديث د ابن مسعودؓ بالفرض صحيح شى نو تاويل ئې واجب دې نو معنى به ئې دا وى چه د تكبير تحريمې سره به ئې بار بار رفع اليدين نه كول او د هر ركعت په ابتداء كښې ئې رفع

الیدین نه تول او دا تاویل متعین دے دے دپاره چه جمع د احادیثو راشی ۔ المجموع (۳/۴۰۳)

ابن العربی (صوفی حلولی) په الفتوحات'' کتاب کښ لیکی : وغایة المفهوم من حدیث ابن مسعود والبراء انه کان علیه السلام یرفع یدیه عند الاحرام مرة واحدة لایزید علیها ای انه رفع مرة واحدة ولم یصنع ذلك مرتین – ومعنی لم یعد ولا یعود : عدم الرفع فی ابتداء الرکعة الثانیة کما کان فی الاول ذکره فی الفتوحات، المرعاة (۳/۸۳) ۔یعنی معنی ددے حدیث د ابن مسعودؓ او د حدیث د براءؓ دا ده چه نبی علیه السلام به رفع الیدین د تکبیر تحریمه په وخت کښ یو ځل کول او پدے باندے به ئے زیادت نه کولو یعنی په ابتداء کښ به ئے یو ځل رفع الیدین کول او بار بار به ئے په دغه وخت کښ نه کول۔ او د لایعود معنی دا ده چه په دویم رکعت کښ به ئے رفع الیدین نه کول لکه څنګه چه ئے په اول رکعت کښ کول ۔

۷- **جواب** : که حدیث د ابن مسعودؓ بالفرض صحیح هم شی نو دا منسوخ دے او پدے باندے ډیر شواهد دی، ۱- اول دا چه د رسول اللهﷺ نه رفع الیدین مالك بن الحویرث او وائل بن حجر نقل کړیدی او دوی د رسول اللهﷺ سره په (۹- او ۱۰) هجری کښ وافدین وو او دیته علامه سندهی حنفی اشاره کړیده : فان مالك بن الحویرث ووائل بن حجر من رواة الرفع ممن صلی مع النبی ﷺ آخر عمره فروایتهما الرفع عند الرکوع والرفع منه دلیل علی تأخر الرفع وبطلان دعویٰ نسخه فان کان هناك نسخ فینبغی ان یکون المنسوخ ترك الرفع (حاشیة ابن ماجه : ۱/۱۴۰)

یعنی وائل او مالك هغه راویان د رفع الیدین دی چه د رسول اللهﷺ سره په آخری عمر د هغه کښ ئے مونځ کړیدے نو د دوی رفع الیدین نقل کول دلیل دے چه رفع الیدین متاخر دی او ترك رفع الیدین مقدم، او دا دلیل دے په بطلان د دعویٰ د نسخ باندے نو که بالفرض نسخ وی نو پکار ده چه ترك د رفع الیدین منسوخ شی۔

۲- امام بیهقیؒ فرمائی: وقد یکون ذلك فی الابتداء قبل ان یشرع رفع الیدین فی الرکوع ثم صار التطبیق منسوخاً وصار الامر فی السنة الی رفع الیدین عند الرکوع ورفع الرأس منه وخفیا جمیعاً علی عبد الله بن مسعود ۔ (معرفة السنن والآثار : ۱/۱۲۰) ونور العینین لزبیر علی زئ ص (۱۳۱)

یعنی د ابن مسعود دا حدیث په ابتداء د اسلام کښ وو روستو په رفع الیدین کولو باندے منسوخ شو ۔ لیکن راجح دا ده چه نسخ په احتمالاتو نه ثابتیږی او نفس تقدم او تاخر هم سبب د نسخ ندے بلکه نسخ اول تعارض د احادیثو غواړی او دلته تعارض نشته ځکه چه حدیث د ابن مسعودؓ ضعیف دے یا نور جوابونه روستو راځی ۔

۸- **جواب** : د رفع الیدین احادیث متواتر دی او د پنځوس صحابه کرامو نه ثابت دی لیکن د ابن مسعودؓ نه دا هیر شوی وو او دا یواځے نه بلکه د ابن مسعود نه نور هم ډیر مسائل هیر شوی وو (او دا د هغه په شان کښ ګستاخی نه ده بلکه دا تقاضا د بشریت ده) ۱- د ابن مسعود نه دا

هیر شوی وو چه یو امام وی او یو مقتدی وی دا به څنګه اودریږی ؟ ۔
۲– ابن مسعود به تطبیق کولو (په رکوع کښې به ئې دواړه لاسونه د زنګنونو مینځ کښې نیول) سره ددینه چه دا منسوخ وو لیکن دا ترې هیر وو ۔
۳– په سجده کښې لاسونه څنګه کیخودل کیږی دا ترینه هم هیر وو ۔
٤– جمع بین الصلاتین په عرفات کښې د هغې طریقه ترینه هم هیره وه ۔
۵– معوذتین ئې هم د خپل مصحف نه ورانول او وئیل به ئې چه دا د قرآن حصه نه ده بلکه دا دم دپاره نازل شویدی ۔ خلاصة الفتاوی وتنقیح التحقیق (۲/۳۳٤) لابن عبد الهادی ونصب الرایة وتحفة الاحوذی (۱/۲۲۱) نو هر کله چه دده نه دغه مسائل هیر شوی وو نو آیا رفع الیدین ترینه نشی هیریدلے؟، لیکن دا جواب هم ډیر مزه ناک نه دے ۔
۹- **نهم جواب** : مخکښې تیر شو چه د رفع الیدین د احایثو عاملین عشره مبشره او خلفاء راشدین دی او هغه احادیث چه خلفاء راشدینو پرے عمل کړے وی، د فن حدیث په اصطلاح مقدم دی د نورو نه لکه چه حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ما عمل به الخلفاء الراشدون ارجح مما لم یقع به العمل (توجیه القاری : ۱۳۸) بحواله فتح الباری (۱/۳۱۱) خو دا هله چه مونږ اومنو چه احادیث د ترک رفع الیدین ثابت دی لیکن هغه ټول ضعیف دی۔
۱۰- **جواب** : دا حدیث د ابن مسعودؓ که بالفرض صحیح شی نو بیا وایو چه دا حدیث نص نه دے په ترک د رفع الیدین عند الرکوع کښې بلکه ظاهر دے او کوم احادیثو کښې چه رفع الیدین راغلی دی په مواضع ثلاثه کښې هغه نص دی، لکه شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ په فتاوی (۲/۳۷٦) کښې وائی : وابن مسعود لم یصرح بان النبی ﷺ لم یرفع یدیه الا اول مرة، لکنهم رأوه یصلی ولا یرفع الا اول مرة انتهی ۔ یعنی ابن مسعودؓ پخپله تصریح نه ده کړے چه نبی علیه السلام صرف اول کرت رفع الیدین اوکړل بلکه تابعینو ابن مسعود اولیدلو چه صرف اول کرتے ئې رفع الیدین اوکړل او دا خبره معلومه ده چه د تعارض په وقت نص مقدم وی د ظاهر نه، لهذا احادیث د رفع الیدین به مقدم وی په حدیث د ابن مسعود باندے (دا هله چه تعارض راشی) ۔
۱۱- **جواب** : که اومنو چه دا حدیث د ابن مسعود ثابت دے نو بیا وایو چه دا ئې بیانا للجواز پریخودلی، نو رفع الیدین سنت دی او کله کله ئې پریخودل جائز دی ۔
ددے وجے نه امام ابن حزمؒ په المحلی (۴/۳) کښې وائی : ولولا هذا الخبر لکان رفع الیدین عند کل رفع وخفض وتکبیر وتحمید فی الصلاة فرضاً آهـ۔
یعنی که دا حدیث د ترک د رفع الیدین نه وے نو رفع الیدین به د مانځه په هر پورته کیدو او خکته کیدو او تکبیر او تحمید وخت کښې فرض وے ۔
نو دے حدیث مونږ ته دا اوخودله چه ترک هم جائز دے اګرکه رفع الیدین کول بهترین سنت دی ۔

مقلدین خو د ابن حزم په تصحیح ډیر شحاله دی مګر ابن حزمؒ وائی چه رفع الیدین خو سنت ضرور دی، البته فرض نه دی نو د ابن حزمؒ په نزد رفع الیدین خو مره اوچت مقام لری چه سنت ئے ضرور ګنړی فرض به ئے ورته وئیلے خو که دغه حدیث د ترك نه وے ۔ راجع ابکار المنن فی تنقید آثار السنن (۲۰۵) وتحفة الاحوذی (۲۲۱/۱) والمرعاة (۸۳/۳) ونور العینین (۱۳۲) والمحلی (۴/۳) ۔

۲- د احنافو دویم دلیل : حدیث د براء بن عازب ﷺ دے :

یزید بن ابی زیاد عن ابی لیلیٰ عن البراء بن عازب قال : کان النبی ﷺ اذا کبر لافتتاح الصلاة رفع یدیه حتی یکون ابهاماه قریباً من شحمتی اذنیه ثم لا یعود ، شرح معانی الآثار (۲۲٤/۱) للطحاوی ۔

یعنی یزید بن ابی زیاد شیعه راوی په خپل سند سره د رسول اللہ ﷺ نه روایت کوی چه هغه په افتتاح د مانځه کښې اللہ اکبر اوکړو او لا سونه ئے اوچت کړل نرمیو د غوږونو پورے بیا به ئے دوباره نه اوچتول ۔ الجواب : ۱- ددے روایت مرکزی راوی یزید بن ابی زیاد دے چه شیعه او ضعیف راوی دے ځکه شیعه عالم محمد بن جعفر الطبرسی وائی : عده الشیخ الطوسی فی اصحاب الامام الباقر **۔یعنی طوسی (عالم الجرح والتعدیل للشیعه) په اصحابو د امام باقر کښې شمارلے دے ۔** (رجال الشیعة فی اسانید السنة (٤٥٣) ورجال الطوسی رقم (۱٦٥٨)۔

۲- حافظ ابن حجرؒ فرمائی : وکان شیعیاً (تقریب التهذیب : ۳٦٥/۲)

۳- امام محمد بن فضیلؒ وائی : کان یزید من ائمة الشیعة الکبار ۔ **یعنی یزید د شیعه ګانو لوئی امام وو** ۔الکامل لابن عدی (۲۸٥/۷) ۔

دویم دا ضعیف هم دے ۱- ابوحاتم الرازی وائی : لم یکن بالحافظ لیس بالقوی ۔ الجرح والتعدیل (۲۷۲۹/۹) ۔ **۲- یحی ین معین وائی :** لا یحتج بحدیثه ضعیف الحدیث لیس بالقوی ۔ الکامل (۲۷۲۹/۷) ۔**۳- ابوزرعه وائی :** کوفی لین (ضعیف) لا یحتج به ۔ (الجرح والتعدیل)

٤- ابن المبارك وائی ارم به ۔ **یعنی دے اوول**ه ۔ الضعفاء الکبیر للعقیلی (٤/ ۳۸۰)

٥- وکیع بن الجراح وائی : حدیثه لیس بشئ ۔ **یعنی دده حدیث هیڅ شے نه دے** ۔ الضعفاء الکبیر (٤/ ۳۸۰) ۔**۷- ابواسامه وائی :** لو حلف عندی خمسین یمینا قسامة ما صدقته ۔الضعفاء الکبیر (٤/ ۳۸۰) **یعنی که یزید ابی زیاد ما ته پنځوس قسمونه د قسامت اوکړی نو زه پرے تصدیق نه کوم ۔ ۸- العقیلیؒ هم په ضعفاؤ کښې ذکر کړیدے ۔**

۹- امام نسائی وائی : لیس بالقوی ۔ الضعفاء والمتروکین للنسائی رقم : (٦٥١) **یعنی دے قوی نه وو ۔ ۱۰- الجوزجانی :** سمعتهم یضعفون حدیثه ۔

یعنی ما د محدثینو نه اوریدلی دی چه حدیث دده به ئے ضعیف کولو ۔ احوال الرجال رقم (۱۳٥)

۱۱- احمد بن حنبل وائی : حدیثه لیس بذاك ۔ **یعنی حدیث ئے ضعیف دے ۔**

كتاب العلل ومعرفة الرجال (٢/٣٢)۔

١٢- امام ابن عدي وائي : ويزيد من شيعة اهل الكوفة ۔ **يعني دے د كوفے والو د شيعه ګانو نه وو** ۔الكامل (٧/٢٧٣٠) ۔

١٣- امام ابن حزم وائي : ضعيف ۔ **يعني دے ضعيف دے المحلى : (٤٨٤/٧)** ۔

١٤- امام بيهقي وائي : غير قوى ۔ السنن الكبرى (٢/٣٢)

١٥- امام هيثمي وائي : وهو ضعيف : **يعني يزيد ضعيف وو** ۔ مجمع الزوائد (٥/٧١)

۔**١٦- امام ابن كثير هم وائي :** وهو ضعيف ۔ ابن كثير (٢/٨٨) ۔

١٧- ابن التركماني حنفي وائي : مضعف ۔ يعني يزيد ضعيف كړے شويدے ۔ الجوهر النقي (٢/٢٠٨) ۔**١٨- امام ابوداود وائي :** وغيره احب اليّ منه ۔ **يعني بل راوي ما ته دده نه غوره دے** ۔تهذيب الكمال (٣/١٥٣٤) عن ابن نمير ۔

١٩- ابن قانعؒ وائي : ضعيف ۔ تهذيب التهذيب (١١/٢٨٨) ۔

٢٠- ابو احمد الحاكم وائي : ليس بالقوى عندهم ۔

يعني د محدثينو په نزد قوي نه وو ۔ تهذيب التهذيب ١١/٢٨٩) ۔

٢١- البرديجيؒ وائي : ليس هو بالقوى ۔ **يعني دے قوي نه وو ۔ تهذيب التهذيب)** ۔

٢٢- ابن خزيمه وائي : في القلب منه شيئ يعني زړه كښے دده نه څه شته (ضعيف دے تهذيب التهذيب (١١/٢٨٩) ۔**٢٣- الدار قطني وائي :** ضعيف يخطئ كثيرا ويلقن اذا لقن ۔ **يعني ضعيف وو او ډير به خطاء كيدلو او د هر چا خبره به ئے اخستله چه چا به ورته څه وئيل** ۔ تهذيب التهذيب (١١/٢٨٩) ۔**٢٤- ابن فضيل وائي :** كان من ائمة الشيعة الكبار ۔**يعني دے د لويو شيعه امامانو نه وو** ۔ تهذيب التهذيب (١١/٢٨٩) ۔**٢٥- ابن حجر وائي :** ضعيف كبر صار يتلقن وكان شيعيا ۔ **يعني ضعيف وو چه كله بوډا شو نو د هر چا خبره به ئے اخستله او شيعه هم وو** ۔ (تقريب التهذيب) **٢٦- الذهبيؒ وائي :** مشهور سئ الحفظ ۔ **يعني مشهور وو خو حافظه ئے خرابه وه** ۔ المغني في الضعفاء رقم : (٧١٠١) ۔**٢٧- ابن المديني وائي :** ضعيف امره (**يعني دده كار ضعيف وو** ۔ الضعفاء الكبير (٤/٣٨٠) ۔**٢٨- سفيان بن عيينه وائي :** لم يكن سفيان الثورى لا يصف يزيد بالحفظ ۔ الام للشافعي (١/١٠٤) **يعني سفيان ثوري به دے په حفظ نه يادولو** ۔

٢٩- ابن حبان هم په المجروحين (٣/٩٩) كښے ذكر كړيدے ۔

٣٠- الحاكم ابو عبد الله وائي : كان يقلب الاسانيد ويزيد في المتون ولا يميز ۔ نصب الراية (١/٤٠٢)

يعني سندونه به ئے اړول راړول او په متن كښے به ئے زيادت كولو او ددے تميز به ئے هم نه كولو ۔

حاصل دا چه : دغه امامانو يزيد ته ضعيف او شيعه او غير قابل احتجاج وئيلے دے او سبب د ضعف ئے كثرت الخطاء او سوء الحفظ او اختلاط دے يو داسے جم غفير د محدثينو پدے

اتفاق دے چه يزيد بن ابی زياد شيعه او غير قوی دے نو بيا به څنګه دده په حديث استدلال اوکړے شی ؟ نو کومو علماؤ چه ورته ثقه يا صدوق وئيلی دے نو د هغوی قول ددے لوئی جماعت په مقابله کښی مردود دے ۔ يا دا چه ابتدائی حالت ئے ښه وو خو روستو د هغه حافظه خرابه شوے وه نو کومو علماؤ چه د هغه توثيق کړيدے نو دا په ابتداء حالت باندے محمول دے او چا چه تضعيف کړيدے نو دا بعد الاختلاط باندے بناء دے او دا روايت ئے بعد الاختلاط اوريدلے دے کما سيأتی ۔

۲- دويم جواب : دا روايت يزيد بن ابی زياد د اختلاط نه بعد بيان کړيدے ۔

لکه **سفيان بن عيينه وائی** : مونږ ته يزيد بن ابی زياد په مکه کښی همدغه مذکوره حديث داسے بيان کړو ۔ عن عبد الرحمن بن ابی ليلی عن البراء بن عازب قال رأيت النبی ﷺ اذا افتتح الصلاة رفع يديه ۔ كتاب المجروحين لابن حبان (۳/۱۰۰) واللفظ له ومسند الحميدی (۲/۳۱٦) نسخه ديوبندية وغيرها ۔ يعنی پدے قديم روايت کښے د رفع اليدين د نه کولو (لايعود وغيره) ذکر نه وو ۔ سفيان بن عيينه وائی چه : ثم قدمت الكوفة فلقيت يزيد بها فسمعته يحدث بهذا وزاد فيه ثم لم يعد واذا هم لقنوه ۔ كتاب الامام للشافعی (۱/۱۰٤) وجزء رفع اليدين ص (۱۱۸) للبخاری ۔ العلل لاحمد (۱/۱۱٦) وتقدمة الجرح والتعديل (۱٤۳) والدارقطنی (۲/۲۹٤) ۔

يعنی بيا چه زه کوفے ته راغلم او د يزيد بن ابی زياد سره ملاؤ شوم نو ما ترينه همدغه حديث واوريدلو چه په کښی لفظ د (ثم لم يعد – دوباره به ئے نکول) ئے زيات کړو نو چه ما تفتيش اوکړو نو کوفے والا (احنافو) ورته دغه لفظ خودلے وو ۔

او امام بخاری فرمائی : وكذلك روی الحفاظ من سمع يزيد بن ابی زياد قديما منهم الثوری وشعبة وزهير ليس فيه ثم لم يعد ۔ جزء رفع اليدين ص (۱۱۹)۔

يعنی د يزيد بن ابی زياد نه مخکښے د اختلاط نه چه کوم حفاظو اوريدلی دی لکه ثوری، شعبه، او زهير نو د دوئ په رواياتو کښے لم يعد الفاظ نه شته ۔

۳- امام دارقطنی هم فرمائی : يزيد بن ابی زياد په آخر عمر کښے د کوفے والا په تلقين دغه الفاظ (ثم لا يعد) اضافه کړيدی ۔ (سنن دارقطنی : ۲/۲۹٤) ۔

٤- امام ابن عبد البر الاندلسی په التمهيد کښی وائی :

حكی ابن عيينة عنه انه حدثهم به قديماً وليس فيه ثم لا يعود ثم حدثهم به قبل موته فذكر فيه ثم لا يعود قال فنظرت فاذا هو ملحق بين سطرين ۔ حاشية جلاء العينين ص (۱۱۸) ۔ **ترجمه** : سفيان بن عيينهؒ د يزيد بن ابی زيادؒ نه حکايت کوی چه ده به پخوا زمانه کښے دغه حديث خلکو ته بيانولو نو د لايعود لفظ پکښے نه وو بيا د مرګ نه مخکښے چه بيانولو نو د لايعود لفظ به ئے ورسره ذکر کولو بيا وائی ما چه اوکتل دغه لفظ د دوه کرښو مينځ کښے ملحق شوے وو ۔

۵– حافظ ابن حبان وائي : هذا الخبر عوّل عليه اهل العراق في نفي رفع اليدين في الصلاة عند الركوع وعند رفع الرأس منه وليس في الخبر (ثم لم يعد) وهذه الزيادة لقنها اهل الكوفة يزيد بن ابي زياد في آخر عمره فتلقن كما قال سفيان بن عيينة انه سمعه قديماً بمكة يحدث بهذا الحديث باسقاط هذه اللفظة ومن لم يكن صناعته لا يذكر له الاحتجاج بما يشبه هذا من الاخبار الواهية ۔ آهـ المجروحين (۳/۱۰۰) ۔ **يعني دا روايت د كوفي والا په نفي د رفع اليدين كښې پيش كوي او په دې روايت كښې د ثم لم يعد لفظ نه وو او ددې لفظ زياتوالې كوفي حنفيانو يزيد بن ابي زياد ته وخودلو په آخر د عمر كښې كوم وخت كښې چه دده حافظه خرابه شوې وه نو ده د هغوي نه دغه لفظ ياد كړو لكه چه سفيان بن عيينهؒ وائي چه ده په مكه كښې پخوا دا حديث اوريدلې وو او دا الفاظ پكښې نه وو او د كوم شخص چه مشغله علم وي نو هغه به داسې كمزوري روايات د احتجاج په شكل پيش نه كړي ۔ ۳– دريم جواب : يزيد بن ابي زياد مدلس هم دې ۔**

جامع التحصيل في احكام المراسيل (۱۲ رقم : ٦٢) و علوم الحديث للحاكم (۱۰۵) وقصيدة في المدلسين لابي محمود المقدسي والنكت : ۸۹/٦٤٧٤ ورسالة للسيوطي في المدلسين ص (۵) ۔

امام دارقطني او حاكم، ابن حجر، سيوطي، اوعلامه علائيؒ وغيرهم ده ته مدلس وئيلي دي نو دده روايت د عنعنې د وجې هم ضعيف دې ۔ د يزيد په ترك د رفع اليدين كښې چه د ثم لا يعود څو مره مختلف روايات دي په هغه ټولو كښې د سماع هيڅ تصريح نشته، د شعبه په روايت كښې د سماع تصريح شته ليكن په هغې كښې د رفع اليدين نه كولو ذكر نشته نو بس معلومه شوه چه دا روايت د يزيد مدلس دې د عنعنې د وجې نه ضعيف دې ۔

٤– څلورم جواب : پدې حديث كښې د ثم لم يعد الفاظ مدرج دي د يزيد بن ابي زياد د طرفنه دي ۔ علامه شوكانيؒ فرمائي : وقد اتفق الحفاظ على ان قوله ثم لم يعد مدرج في الخبر من قول يزيد بن ابي زياد (نيل الاوطار : ۲/۱۸۰)

او دغه شان قول حافظ په التخليص الحبير (۱/۲۲۱) كښې ذكر كړيدې ۔

خلاصه : دا شوه چه دا حديث ضعيف او غير صريح دې په خپل مفهوم سره ۔

۳– د احنافو دريم دليل او د هغې جواب : محمد بن جابر عن حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبد الله قال صليت مع النبي ﷺ ومع ابي بكر ومع عمرؓ فلم يرفعوا ايديهم الا عند التكبيرة الاولى في افتتاح الصلاة ۔ سنن دارقطني (۱/۲۹۵ رقم : ۱۱۸) وابن عدي في الكامل (٦/۲۱٦۲) والبيهقي في السنن الكبرى (۲/۷۹) وابن الجوزي في التحقيق (۱/۲۷۵ رقم : ٤٦۷) وفي الموضوعات (۲/۹٦) قال الدارقطني تفرد به محمد بن جابر وكان ضعيفا آهـ۔

جواب : دا حديث موضوع دې، ځكه چه ډيروائمو د حديث ديته موضوع وئيلي دي۔

التحقيق (۱/۲۷۵) والموضوعات (۲/۹٦)

امام ابن القیسرانیؒ، امام شوکانیؒ، ابن القیمؒ، ابن عراقؒ هم د موضوعاتو نه شمارلے دے تذکرة الموضوعات ص (٧٥) الفوائد المجموعة ص (٢٩) والمنار المنیف ص (١٣٨) وتنزیه الشریعة (١٠١/٢) ۔ **٢- دویم جواب** : ددے مرکزی راوی محمد بن جابر ضعیف دے چه تقریبا (٢٠) محدثینو دے ضعیف کړیدے ۔ انظر نور العینین ص (١٤١)

تنبیه : د مذکوره جم غفیر په مقابل کښے د دوه اشخاصو تعدیل کومه فائده نه لری ۔ دے تفصیل نه معلومه شوه چه محمد بن جابر د سوء حافظے، اختلاط او تلقین ګیرئ د وجے نه ضعیف او متروک راوی دے ۔

انتهائی معتدل امام **ابوزرعة الرازی** وائی : محمد بن جابر ساقط الحدیث عند اهل العلم۔ الجرح والتعدیل (٢٢٠/٧) یعنی محمد بن جابر د اهل علمو په نیز ساقط الحدیث دے ۔

٣- دریم جواب : محمد بن جابر په آخر عمر کښے د اختلاط ښکار شوے وو دده نه دغه حدیث مخکنی شاګرد نه دے روایت کړے بلکه یو متاخر راوی دے اسحاق بن ابی اسرائیل چه په (١٥٠ هـ) کښے پیدا شویدے (تهذیب التهذیب : ١٩٦/١) او محمد بن جابر تقریبا (١٧٠ هـ) نه څو کاله بعد وفات شویدے ۔ سیر اعلام النبلاء (٢٣٨/٨)

یعنی دده د وفات په وخت کښے تقریبا اسحاق د شلو کالو ځوان وو ددے وجے نه دا حدیث ئے ترینه د اختلاط نه بعد اوریدلے دے ۔

٤- څلورم جواب : حماد بن ابی سلیمان په آخر عمر کښے هم د اختلاط ښکار شوے وو ۔ تهذیب التهذیب (١٥/٣) و مجمع الزوائد (١١٩/١) ۔

د احنافو شپږم دلیل : ابراهیم عن الاسود قال رأیت عمر بن الخطاب یرفع یدیه فی اول تکبیرة ثم لایعود ۔ (الطحاوی (١٢٣/١) والبیهقی بحوالة نصب الرایة (٤٠٥/١) ۔ **ترجمه** : اسود وائی : ما عمر فاروقؓ اولیدلو چه رفع الیدین به ئے په اول د تکبیر تحریمه کښے اوکړل بیا به ئے نه کول ۔

١- اول جواب : دیکښے ابراهیم نخعی کوفی مدلس دے ۔ طبقات المدلسین لابن حجر ص (٢٨ – رقم : ٣٥) جامع التحصیل فی احکام المراسیل ص (١٠٤) معرفة علوم الحدیث للحاکم ص (١٠٨)۔

هر کله چه دا معلومه شوه چه ابراهیم کوفی مدلس دے او دغه روایت ئے معنعن دے او د مدلس معنعن روایت ضعیف وی ۔

امام نووی وائی : والمدلس اذا عنعن لا یحتج به بالاتفاق ۔ نصب الرایة (٣٤/٢) ۔

یعنی مدلس راوی که عنعنه اوکړی نو په اتفاق سره د هغه په روایت استدلال نشی نیول کیدے ۔ **بل علت** : دا هم دے چه که عمر فاروق رفع الیدین نه کونکے وے نو دده جلیل القدر ځوی عبد الله بن عمر به نه کول بلکه معامله بر عکس ده ابن عمر چه چا به رفع الیدین نه کول هغه به ئے په کاڼړو ویشتو ددے وجے نه دا روایت صحیح نه دے ۔

٣- دریم جواب : د عمر فاروق رضی الله عنه نه په صحیح سند سره مونږ رفع الیدین ثابت کړل اوګوره د رفع الیدین دلائل دلیل (٢) بلکه د هغه نه قولی حدیث د رفع الیدین هم ثابت دے اوګوره نصب الرایه (٤١٦/١) او دده نه هم خپل عمل د رفع الیدین په السنن الکبری (١٠٧/٢ رقم : ٢٥١) والمرعاة (٣٥/٣) کښے په صحیح سند ثابت دے .

٤- جواب : که اومنو چه دا اثر صحیح دے نو دا ترك احیاناً دے دپاره د بیان د جواز او دا دلالت نه کوی په ترك دائماً باندے . **٥ – جواب** : دده په سند کښے حمّانی مجهول راوی دے . میزان الاعتدال (٢٨٣/١) او جهالت د راوی موجب د ضعف دے نو قابل استدلال نه دے .

د احنافو اووم دلیل : عن ابی بکر النهشلی ثنا عاصم بن کلیب عن ابیه ان علیاً کان یرفع یدیه فی اول تکبیرة من الصلاة ثم لایعود آهـ . شرح معانی الآثار (٢٢٥/١) ونصب الرایة (٤٠٦/١) عاصم بن کلیب د پلار نه روایت کوی چه علی رضی الله عنه به په تکبیر تحریمه کښے رفع الیدین کول بیا به ئے نه کول

جواب : امام بخاری فرمائی : قال عبد الرحمن بن مهدی ذکرت للثوری حدیث النهشلی عن عاصم بن کلیب فانکره . جزء رفع الیدین ص (٨٢) نو دا اثر ضعیف واهی او منکر دے . السنن الکبری (٨٠/٢) .

٢ - دویم جواب : د علی رضی الله عنه نه په صحیح سند سره رفع الیدین ثابت دی لکه په اثبات د رفع الیدین دلیل (٣) کښے ذکر دی . ابوداود : (٧٤٤) ترمذی (٣٤٢٣) ابن ماجه (٨٨٤) احمد (٩٣/١) طحاوی فی معانی الآثار (١٩٩/١) وغیره کښے نقل کړیدے چه دا اثبات دے او مثبت مقدم وی په نافی باندے کما تقدم .

٣ - جواب : عاصم بن کلیب پکښے دے چه په دے روایت کښے متفرد دے .

ابن حجر عسقلانی وائی : عاصم بن کلیب لیس ممن یحتج به اذا انفرد . التهذیب (٥٦/٥) یعنی عاصم بن کلیب چه کله منفرد وی نو استدلال به پرے نشی کیدے .

امام ابن المدینی وائی : لایحتج به اذا انفرد . یعنی عاصم بن کلیب چه کله منفرد وی نو حجت نه دے . نصب الرایة (٣٥٤/٢) الجرح والتعدیل (٦م٣٥٠) مختصر ابی داود للمنذری (٦١/٤) . **امام ابوداود وائی** : عاصم بن کلیب عن ابیه عن جده لیس بشیئ . نصب الرایة (١٦٨/٤) یعنی عاصم بن کلیب عن ابیه عن جده هیڅ شے نه دے .

د مذکوره تحقیق نه معلومه شوه چه حدیث د علی رضی الله عنه ثابت نه دے بلکه د علی رضی الله عنه نه ثابت رفع الیدین دی لکه دلیل (٣) کښے ذکر دی .

او که دا اثر صحیح هم شی نو بیا د دواړو عملونو تطبیق دا دے چه رفع الیدین سنت دی څه فرض نه دی چه پریخودل ئے حرام وی نو ترك به محمول شی په ترك احیانا باندے دے دپاره چه دواړه حدیثونه د یو بل مقابل نشی . والله اعلم .

٨- د احنافو اتم دليل : عن ابراهيم النخعي قال كان عبد اللّٰه بن مسعود لايرفع يديه في شئ من الصلاة الا في الافتتاح ـ الطحاوي بحواله نصب الراية (٤٠٦/١) ـ **ترجمه : ابراهيم نخعي وائي عبد الله بن مسعود به د تكبير تحريمے نه سِوا نور رفع اليدين نه كول۔**

جواب : عبد الله بن مسعود په (٣٢ هـ) يا (٣٣) هجري كښے وفات شويدے ـ تهذيب التهذيب (٢٥/٦) ـ **او ابراهيم نخعي د (٣٧) نه بعد پيدا شويدے ـ** (تهذيب التهذيب : ١٥٥/١)

لهذا دا سند منقطع دے اوس كه دا سوال اوشي چه ابراهيم نخعي پخپله وائي : اذا قلت عن عبد الله فعن غير واحد كما في تهذيب التهذيب ـ **نو ددے جواب دا دے چه غير واحد او جماعت دواړه نامعلوم دِي لهذا ددينه استدلال مخدوش دے ـ حافظ گوندلوي صاحب ليكي : ددے نه دا نه ثابتيږي چه هغه روايت دِے في نفسه قابل حجت شي ځكه حجت كيدل يا نه كيدل خو په اتصال او انقطاع او صحت او ضعف باندے موقوف دي او دا عبارت پدے دلالت نه كوي چه گنے د ابراهيم نخعي مرويات دِے قابل حجت وي ١- اول خو پدے وجه چه ممكن ده چه دوه درے كوفيان جمع شوي وي هغوي ته ئے حديث اورولے وي او هغه درے واړه ضعيف الحافظه وي ٢- دارنگه پته نه لگي چه سلسله د اسناد د عبد الله پورے څو مره واسطو سره رسيدلے ده كله د تابعي او صحابي ترمينځ دوه څلور واسطے وي ٣- ممكن ده چه د ابراهيم په نزد هغه ثقه وي او د نورو ائمه ؤ په نزد ضعيف وي والجرح مقدم على التعديل آه ـ نور العينين (١٥٩) لزبير عليزئ۔**

امام ذهبيؒ وائي : استقر الامر على ان ابراهيم حجة وانه اذا ارسل عن ابن مسعود وغيره فليس بحجة ـ ميزان الاعتدال (٣٥/١)

يعني د ابراهيم نخعيؒ په باره كښې دا فيصله ده چه دا حجت دے ليكن كله چه د ابن مسعود يا بل چا نه ارسال كوي نو حجت نه دے ـ

امام شافعيؒ وائي : ان ابراهيم النخعي لو روى عن علي وعبد اللّٰه لم يقبل منه لانه لم يلق واحداً منهما ـ كتاب الام (٢٧١/٧ ط مصر) ـ ميزان الاعتدال (٧٥/١- ٣٥) التحقيق الراسخ (١٤٠) نور العينين (١٦٩) للحافظ زبير علي زئ ـ **يعني كه ابراهيم نخعيؒ د عليؓ او عبد الله بن مسعودؓ نه روايت كوي نو دا به مقبول نه وي ځكه دے ددے يو سره هم نه دے ملاؤ شوے ـ**

خلاصه داشوه چه امام شافعيؒ او حافظ ذهبيؒ د ابراهيم نخعي روايات د عبد الله نه ضعيف ثابتوي ـ

٩- د احنافو نهم دليل : ابوبكر بن عياش عن حصين عن مجاهد قال صليت خلف ابن عمرؓ فلم يكن يرفع يديه الا في التكبيرة الاولى من الصلاة ـ معاني الآثار للطحاوي (٥٢٥/١) نصب الراية (٤٠٩/١) ـ **مجاهد وائي چه ما د ابن عمر نه روستو مونځ اوكړو هغه صرف د تكبير تحريمے سره رفع اليدين اوكړل ـ**

۱- جواب : یحیی بن معین وائی : حدیث ابی بکر عن حصین انما هو توهم منه لا اصل له ۔ جزء رفع الیدین ص (۸۸ ۔ **یعنی حدیث د ابوبکر د حصین نه چه کوم د مجاهد د ابن عمر نه په عدم رفع الیدین کښې روایت کوی ددې اصل نشته بلکه هسې وهم دے ۔**

او امام احمد وائی : یعنی هر هغه حدیث چه یحیی بن معین ئې اونه پیژنی هغه حدیث نه دے ۔ تاریخ بغداد (۱۸۰/۱٤)

۲- دویم جواب : د مذکوره حدیث مرکزی راوی ابوبکر بن عیاش دے ۔

۱- ساجی وائی : صدوق یهم ۔ **۲- عن یحیی** بن سعید لو کان ابوبکر ابن عیاش حاضرا ما سألته عن شئ ۔ **یعنی که ابوبکر بن عیاش حاضر وے ما به ترینه هیڅ تپوس نه وے کړے ۔**

۳- ابو نعیم وائی : لم یکن فی شیوخنا احد اکثر غلطا منه ۔ **یعنی زمونږ په شیخانو کښې دده نه بل لوئی غلطی والا نه وو ۔**

٤- امام بزار وائی : لم یکن بالحافظ ۔ **یعنې دے حافظ نه وو ۔** تهذیب التهذیب (۳۰۰/٦ رقم: ۹۳۹۲) ۔ **۵ - نعیم بن حماد وائی :** کان ابوبکر بن عیاش یبزق فی وجوه اصحاب الحدیث ۔ **یعنی ابوبکر بن عیاش به د محدثینو په مخونو توکانړې توکلے ۔** میزان الاعتدال (۳۳۹/۷ رقم: ۱۰۰۲٤) ۔ **٦- محمد بن نمیر وائی ضعیف ۔ ۷- یحیی بن سعید وائی : لا یعبأ به۔**

۸- احمد بن حنبل وائی : ثقه دے خو کثیر الغلط دے ۔

۹- شریک قاضی وائی : دے احمق وو ۔

۱۰- ابن حبان وائی : لما کبر ساء حفظه وکان اذا روی یهم ۔

یعنی چه کله بوډا شو نو حافظه ئې خرابه شوه او ډیر وهم به ئې کولو ۔

۱۱- ابواحمد الحاکم وائی : د محدثینو په نزد حافظ نه وو ۔

۱۲- یعقوب بن شیبه وائی : فضیلت والا وو خو حدیث کښې ئې اضطراب وو ۔

۱۳- ذهبی وائی : حدیث کښې غلطیدو ۔ اوګوره میزان الاعتدال (۳۳۹/۷)

۱٤- ترمذی وائی : کثیر الغلط (۸٤/۲)

۱۵- ابوحاتم وائی : دده دپاره ډیرے غلطیانے دی ۔ (هدی الساری)

۱٦- امام بیهقی وائی : غیر حافظ وو ۔ (السنن الکبری ٤/۱۲)

۱۷- ابن حزم وائی : ضعیف وو ۔ المحلی (۷/٤۸۵)

۱۸- ابن معین وائی ضعیف وو ۔

۱۹- ابن حجر وائی : سیئ الحفظ وو په آخر کښې ئې حافظه خرابه شوې وه دده کتاب صحیح وو ۔ توجیه القاری ص (۳۳٦) ۔

خلاصه : دا چه اکثرو علماؤ ابوبکر بن عیاش ته ضعیف وئیلی دی اګرچه بعضو ورته ثقه

وئيلي دي ليکن جارحين ئې بې شماره دي ددې وجې نه احمد بن حنبل وائي :
رواه ابوبکر بن عياش عن حصين عن مجاهد عن ابن عمر وهو باطل ـ (مسائل احمد برواية ابن هانئ (۱/۵۰) يعنې دغه حديث د ابن عمر نه باطل دې ـ
د مذکوره تفصيل نه معلومه شوه چه ابوبکر بن عياش کثير الغلط سيئ الحفظ وهمي راوي وو نو کچرته دې کوم روايت کښې منفرد وو نو دې به ضعيف شمارل کيدې شي او په دې متنازع فيه حديث کښې دې منفرد دې چه په سند او متن کښې ئې انفراد کړيدې د ثقه راويانو نه نو ددې وجې نه ائمه د حديثو دده روايت باطل او بې اصله ګڼړي ـ
او هر چه بعضې خلق وائي چه دې د صحيح البخاري راوي دې نو جواب دا دې چه په صحيح البخاري کښې دده احاديث په متابعاتو کښې دي په اصولو کښې نه دي ـ (هدى السارى ص (٤٥٦)
۲– دويم دا چه په همدې حديث امام بخاري سخته جرحه کړيده ـ
۳ - دريم جواب : امام عبد الحي لکهنوي وائي :
ابن عمر چه دې حديث کښې عدم رفع اليدين ذکر کړيدې نو دا ددې دپاره چه دا رفع اليدين فرض نشي ـ التعليق الممجد شرح موطأ امام محمد)
ليکن دا هله چه دا حديث ثابت شي خو ثابت نه دې کما ترئ ـ
٤- څلورم جواب : په ابوبکر بن عياش باندې په آخر عمر کښې اختلاط راغلې وو ـ امام ابن حبان په الثقات کښې پدې تصريح کړيده اوګوره ـ الکواکب النيرات في معرفة من اختلط من الرواة الثقات لابن الکيال ص(۴۳۹ – ٤٤٤) ونصب الراية (۱/۴۰۹) والاغتباط بمعرفة من رمي بالاختلاط ص (۲۶)ـ
حافظ ابن حجر وائي : غوره قول دا دې چه کوم رواياتو کښې دده وهم وي (لکه حديث د مجاهد مذکور) نو هغه به پريخودې شي او کوم چه د وهم نه خالي وي هغه به اخستې شي ـ تهذيب التهذيب (۱۲/۳۹)
علامه زيلعيؒ هم د امام بخاريؒ نه نقل کوي : په قديمه زمانه کښې ابوبکر بن عياش روايت د حصين عن ابراهيم عن ابن مسعود مرسل موقوف بيانوي او دا محفوظ دې او هر چه متنازع فيه حديث دې نو دا خطاء فاحش دې پدې کښې د ابن عمر د ملګرو کوم چه ثقه دي مخالفت دې ـ نصب الرايه (۱/۴۰۹) ـ
داوو عام دلائل د احنافو بعض پکښې حديث د حکم پيش کوي :
۱۰ - لسم دليل : (عن الحکم عن مقسم عن ابن عباس عن النبي ﷺ قال : لا ترفع الايدي الا في سبعة مواطن في افتتاح الصلاة واستقبال القبلة وعلى الصفا والمروة وبعرفات وبجمع وفي المقامين وعند الجمرتين ـ جزء رفع اليدين ص (۱۷۱) والبيهقي في السنن الکبرى (۵/۷۳)ـ
جواب : امام حاکم وائي : دا حديث د ډيرو وجوهو نه واهي دې او بيا ئې هغه ذکر کړيدي

چه ۱ – حکم د مقسم نه څلور احادیث اوریدلی دی او دا حدیث پکښ نشته کما قال شعبة بن الحجاج ۔ ۲ – اول دا چه ابن ابی لیلیٰ متفرد دے او اهل الحدیث په دے متفق دی چه د ابن ابی لیلی په روایت به استدلال نشی کیدے ۔

۲ – دویم دا چه روایت د وکیع د ابن ابی لیلیٰ نه موقوف دے په ابن عمر او ابن عباس باندے ۔

۳ – دریم : یو لوئی جماعت د تابعینو نه د ابن عمر او ابن عباس نه په صحیح سندونو سره رفع الیدین نقل کړیدی چه دے دواړو به رفع الیدین کول عند الرکوع والرفع منه ۔

٤ – څلورم : په متواترو اخبارو کښے شته چه رفع الیدین سِوا د دغه اوه ځایونو نه نورو کښے هم کیدے شی لکه استسقاء کښے او د رسول الله ﷺ دِعا د دوس قبیلے دپاره او په مانځه کښ د دعا په وخت او په قنوت نازله د رسول الله ﷺ کښے ۔

۲ – دویم جواب : په ټولو روایاتو د حدیثو کښے ترفع الایدی راغلے دے لکه چه حنفی عالم السروجی وائی : ورواية اصحابنا فی کتب الفقه لا ترفع الایدی لم تذکر فی کتب الحدیث وانما المذکور فیها ترفع الایدی فی سبعة مواطن ۔ التنبیه علی مشکلات الهدایة (۲/٥٦٦) ۔

هر کله چه ثابته شوه چه په ټولو روایاتو کښے ترفع الایدی دے سره د ضعف نه لهذا دے نه استدلال نه صحیح کیږی ځکه ذکر د شی نفی د ما عدا نه کوی لکه چه مخکښے دا قاعده تیره شوه او په نورو مواضعو کښے هم رفع الیدین شته لکه چه مخکښے جواب کښے ذکر شول ۔

نو دلته حصر مراد نه شو دا هله که مونږ دا صحیح اومنو مګر حدیث ثابت نه دے ۔

۳ – دریم جواب : ابن ابی لیلی پکښے دے چه دا حافظ نه دے ۔ نصب الرایه (۱/۳۹۱) ۔ ۔ تقریب التهذیب (۳/۲۸۰ رقم : ٦٠٨١) ۔ یعنی دا ضعیف دے او سئ الحفظ دے دارنګ ده لره یحیی بن سعید ، احمد، شعبه، ابن معین، زائده، البخاری، او نسائی وغیره ضعیف کړیدے ۔ اوګوره تحریر تقریب التهذیب رقم : ٦٠٨١) ۔

شعبه وائی : افادنی ابن ابی لیلی احادیث فاذا هی مقلوبة وقال ایضا ما رأیت اسوأ حفظا منه ۔ الضعفاء للعقیلی (۲/٤٧٤) یعنی ما به د ابن ابی لیلی د احادیثو نه فائده اخسته ومی کتل هغه ټول اپوټه وو ۔ شعبه وائی : ما دده نه بل بدے حافظے والا نه دے لیدلے ۔

خلاصه دا شوه چه حدیث د ابن عباس په لا ترفع الایدی الفاظو بے اصله دے او مخالف دے د صحیح احادیثو لهذا عمل پرے باطل دے ۔ والله اعلم۔

۱۱ – د احنافو یولسم دلیل : عن الاسود قال صلیت مع عمر فلم یرفع یدیه فی شئ من صلاته الا حین افتتح الصلاة ورأیت الشعبی وابراهیم وابا اسحاق لایرفعون ایدیهم الا حین یفتتحون الصلاة آهـ ۔ مصنف ابن ابی شیبة والطحاوی کما فی نصب الرایة (۱/٤٠٥) یعنی اسود وائی ما د عمرؓ سره مونځ اوکړو هغه صرف په افتتاح د مونځ کښے رفع الیدین اوکړل او شعبی او ابراهیم او ابواسحاق به

هم رفع اليدين صرف په افتتاح د مونځ کښې کول ـ
جواب : د عمر فاروق نه په صحيح سند سره مونږ قولي او عملي رفع اليدين ثابت کړيدي چه هغه اصح اسناداً دي ددې اثر نه چه هغه مثبت دي او دا نافي دے او مثبت به مقدم وي په نافي باندے لکه چه دا قاعده مسلمه ده وضاحت ئے شويدے لهذا د عمر فاروق مثبت عمل پدے مقدم دے ـ **۳- دريم جواب** : بار بار تير شو چه که دا حديث ثابت هم شي نو پدے کښې نفي د رفع اليدين نشته بلکه دا سنت عمل دے کله کله د بعض صحابه کرامو پريخودل دليل نه دے چه دا هغوي هيڅکله ندي کړي بلکه اکثر اوقاتو کښې ئے کړيدي او کله ناکله ئے پريخودي هم دي لهذا هيڅ تعارض نشته ـ
د احنافو دولسم دليل : بعض احناف وائي : د رسول الله ﷺ په مسجد کښې منافقان وو او مونځ به ئے کولو او هغوي په تخرگونو (زير بغل) کښې بتان نيولي وو نو رسول الله ﷺ به رفع اليدين کول چه د دوئ بتان اوغورزيږي او رسوا شي ـ
۱ - **جواب** : دا په هيڅ ضعيف يا موضوعي حديث کښې هم نشته ـ
۲- **دويم** د هيڅ صحابي يا تابعي او تبع تابعي نه دا خبره ثابته نه ده ـ
۳- **دريم** که بتان غورځيدلے نو اول تکبير سره ولے نه غورځيدل ـ
٤- څلورم دا چه دا منګړت قصے د صحيح حديث مقابل کښې پيش کول کم عقلي ده ـ
۵- پنځم دا چه مونږ تپوس کوو چه دا بتان چا په تخرگونو کښې نيولي وو ؟ که کافرانو نيولي وو نو هغوي خو د نبي عليه السلام خواته نه راتلل پاتے لا د هغه پسے مونځ کول ! آيا مشرکانو به د نبي عليه السلام سره څه مونځ کولو ؟ او که دا منافقانو نيولي وي نو منافقان خو ځان ته بزرگان او صحابه وئيل، نبي عليه السلام به هغوي ته وئيلي وے چه تاسو خو ځان ته صحابه وايئ او بتان مو په تخرگونو کښې نيولي دي ؟ ـ معلومه شوه چه دا خبره دے عقلو خلقو ده چه هيڅ سوچ او فکر نه لري ـ خو صرف شيطان ورته دا خبرے ښائسته ښکاره کړيدي او د حق نه ئے پرے محروم کړيدي ـ
۱۳- **د احنافو ديارلسم دليل** : بعضے جاهلان وائي : چه احاديثو د رفع اليدين کښې اضطراب دے کله يو ځائے کله دوه ځايونو کله درے ځايونو کله څلورو ځايونو کښې کله هر تکبير کښې ذکر دي نو ددے اضطراب د وجے نه دا حديثو نه قابل عمل نه دي ؟ ـ
جواب : دا دے چه په حديثونو د رفع اليدين کښې هيڅ تعارض نشته څکه د رسول الله ﷺ مونځ مختلفو صحابه کرامو نقل کړيدے چا تکبير تحريمه چا تشهد چا رفع اليدين په مواضعو ثلاثه کښې چا دريم رکعت ته پاڅيدو وخت کښې نقل کړيدي لهذا په ټولو عمل ممکن دے او دا تعارض او اضطراب نه دے ـ

۲– دویم دا چه که دا اضطراب وی نو پکار ده چه احناف وتر اونکړی ځکه رسول الله ﷺ فرمائی : الوتر حق فمن شاء ان یوتر بواحدة ومن شاء ان یوتر بثلاث ومن شاء ان یوتر بخمس الخ ځکه رکعتونو په تعداد کښې اختلاف دے ـ دارنګ اهل الرأی باید چه اودس هم اونکړی ځکه اودس په مختلفو طریقو نقل دے یو یو کرت اندامونه وینځل دوه دوه کرت درے درے کرت) دغسے د رفع الیدین عند التحریمه کله اوګو پورے او کله غوږونو پورے لاسونه پورته کول راغلی دی پکار ده چه اول رفع الیدین هم اونکړی۔

۱۴ - دلیل : بعض جاهل احناف وائی : رفع الیدین نه منع راغلے ده او حدیث د جابر بن سمرهؓ پیش کوی چه په مسلم کښې راغلے : «مالی اراکم رافعی ایدیکم کانها اذناب خیل شمس اسکنوا فی الصلاة »مسلم (۱/۳۳۲) باب الامر بالسکون فی الصلاة ـ نو حکم شویدے په سکون فی الصلاة باندے او رفع الیدین عند الرکوع او عند الرفع منه منافی دی د سکون سره ؟ ۔

۱– الجواب : دا استدلال غلط دے ـ وجه دا ده چه دغه حدیث تفصیل په بل روایت د مسلم کښې راغلے دے او هغه دا چه صحابه وائی : مونږ به رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نو د سلام په وخت کښې به مونږ په لاسونو اشارے کولو سره به داسے وئیل : «السلام علیکم» نو رسول الله ﷺ مونږ ته وکتل او وے فرمایل : مالکم تشیرون بایدیکم کانها اذناب خیل شمس اذا سلم احدکم فلیلتفت الی صاحبه ولا یؤمی بیده ـ او دا دواړه روایتونه په یو باب کښې راغلی دی امام نوویؒ په هغے باندے داسے باب لګولے دے : باب الامر بالسکون فی الصلاة والنهی عن الاشارة ورفعها عند السلام الخ ـ او د امام مسلمؒ طریقه هم دا ده چه مجمل او مفسر دواړه روایتونه یو بل سره نزدے راوړی اشاره کوی چه یو روایت تفسیر د بل وی۔

۲– جواب : ابن ابی العز الحنفیؒ د دغه جواب سره بل جواب دا کوی : نه منو دا خبره چه په مانځه کښې د سکون امر منافی دے د رفع الیدین عند الرکوع والرفع منه سره ځکه د امر بالسکون نه خو دا مراد نه دے چه په مانځه کښې به هیڅ قسم حرکت نه کوی بلکه هغه حرکت منع دے چه هغه منافی د مانځه وی دلیل دا دے چه رکوع او سجدے دپاره او د تکبیر الافتتاح په وخت رفع الیدین دپاره حرکت مشروع دے که اووئیلے شی چه هغه په دلیل سره خارج دی نو وایو چه دغه شان رفع الیدین عند الرکوع والرفع منه هم په دلیل خارج دی نو معلومه شوه چه ددے نه صرف د سلام په وخت په لاس باندے اشاره کول مراد دی انتهیٰ ـ التنبیه (۲/۵۷۱)۔

امام ابن حبانؒ فرمائی : اسکنوا فی الصلاة حکم صرف د سلام په وخت د رفع الیدین کولو باره کښې دے صحیح ابن حبان (۱۸۷۸ – الاحسان)

امام بخاری فرمائی : څوک چه ددے حدیث نه په ترک د رفع الیدین فی المواضع الثلاثة استدلال کوی نو دا بے علمه جاهل دے ـ انظر جزء رفع الیدین ـ

دا وو د احنافو دلائل چه تاسو ته ئے حقيقت معلوم شو ـ

احناف علماء او رفع اليدين

محدث الهند **شاه ولی الله** دهلوی رحمه الله – فرمائی :

والذی يرفع احب الیّ ممن لا يرفع فان احاديث الرفع اكثر واثبت ـ حجة الله البالغة (٢/ ١٠- طبع كراچی) ـ **ترجمه** : هغه كس چه رفع اليدين كوی ما ته ډير خوښ دے د هغه چا نه چه رفع اليدين نه كوی ځكه احاديث د رفع اليدين ډير زيات دی او ډير قوی دی ـ

٢- علامه ابن ابی العز الحنفی المتوفیٰ سنه (٧٩٢) هجری فرمائی :

واحاديث الرفع تكاد تبلغ التواتر فقد رواها عشرة من الصحابة وقيل اكثر من ثلاثين منهم وقد رواها من صلی خلف النبی ﷺ فی آخر عمره كوائل بن حجر ومالك بن الحويرث وهو مذهب اهل الحديث واكثر اهل المدينة الخ وعذر ابی حنيفة وسفيان الثوری ومن وافقهم من علماء الكوفة فی عدم الرفع واضح فانهم تلقوه عن عبد الله بن مسعود وكفی به قدوة ولكن اذا كان عند غيره من الصحابة زيادة وجب علی من بلغته العمل بها كما فی التطبيق الخ التنبيه علی مشكلات الهداية (٢/٥٦٩ – ٥٧٠) ـ

ترجمه : احاديث د رفع اليدين قريب دی چه تواتر ته اورسيږی ځكه لس صحابه كرامؓ ددے راويان دی او چا وئيلی دی چه ديرش (٣٠) صحابه كرام ئے راويان دی، رفع اليدين د رسول الله ﷺ نه هغه صحابه كرامو نقل كړيدی چه د رسول الله ﷺ سره ئے په آخری عمر كښے مونځونه كړيدی لكه وائل بن حجر او مالك بن الحويرث او دا مذهب دے د اهل مدينه او اهل حديثو ـ او د ابوحنيفهؒ او سفيان الثوری عذر په دے باره كښے واضح دے ځكه دوئ عدم رفع اليدين د عبد الله بن مسعود نه اخستی دی ليكن كله چه رفع اليدين د نورو صحابه كرامو نه ثابت دی نو واجب ده په هغه چا چه دغه احاديث ورته اورسيږی چه عمل پرے اوكړی لكه په تطبيق كښ (چه احناف وغيره و د ابن مسعود قول پريخودے دے ځكه بل طرفته صحيح احاديثو كښ زنګنونه په لاسونو كښ نيول راغلی دی) ـ

٣- علامه عبد الحی لكهنوی حنفیؒ فرمائی :

والحق انه لا شك فی ثبوت رفع اليدين عند الركوع والرفع منه عن رسول الله ﷺ وكثير من اصحابه بالطرق القوية والاخبار الصحيحة ـ السعاية ص (٢١٣) ـ حقه خبره دا ده چه د رسول الله ﷺ نه د رفع اليدين په ثبوت كښے هيڅ شك نشته كوم چه د ركوع او د هغے نه د اوچتيدلو په وخت كښے دی او د ډيرو صحابه كرامو نه په قوی طرقو او صحيح احاديثو كښے ثابت دی ـ

او په التعليق الممجد ص (٩١) كښے وائی : ان ثبوته عن النبی ﷺ اكثر وارجح، واما دعوی نسخه فليست بمبرهن عليها بما يشفی العليل ويروی الغليل انتهی ـ

يقينا د رفع اليدين ثبوت د رسول الله ﷺ نه اكثر او زيات راجح دے او هر چه دعوه د نسخ ده

(لکه چه بعض حنفیان ئے کوی) نو دا داسے دعوه ده چه مریض ته شفاء نشی ورکولے او نه تږے سیراب کولے شی۔

٤- **علامه ابو الحسن** السندی حنفی فرمائی : واما قول من قال ان ذلك الحديث (انه كان يرفع يديه ثم لايعود) ناسخ رفع غير تكبيرة الافتتاح فهو قول بلا دليل بل لو فرض في الباب نسخ فيكون الامر بعكس ما قالوا أَوْلٰى مِمَّا قالوا فان مالك بن الحويرث ووائل بن حجر من رواة الرفع ممَّن صلّى مع النبي ﷺ آخر عمره فروايتهما الرفع عند الركوع والرفع منه دليل على تاخر الرفع وبطلان دعوى نسخه فان كان هناك نسخ فينبغي ان يكون المنسوخ ترك الرفع – فالاقرب القول باستنان الامرين والرفع اقوى واكثر آهـ ۔ حاشية ابن ماجه (۱/۱٤۱) ۔

ترجمه : قول د هغه چا چه وائی حدیث د لایعود ناسخ دے د رفع الیدین دپاره دا قول بلا دلیل دے بلکه که پدے باب کښے نسخ فرض کړے شی نو خبره برعکس ده کوم چه دوی وائی (یعنی د دوئ د قول برعکس خبره غوره ده) ځکه مالك بن الحویرث او وائل بن حجر د رفع الیدین رواة دی چا چه د نبی ﷺ سره په آخر عمر کښے مونځونه کړیدی د دوی روایت د رفع الیدین د رکوع والا دلالت کوی چه رفع الیدین تر آخر عمر پورے وو او دلالت کوی په بطلان د دعوے د منسوخیت نو که منسوخیت دلته وی نو مناسب دا ده چه ترك د رفع الیدین منسوخ شی، بس حق ته زیات نزدے قول دا دے چه دواړه (رفع الیدین او نه کول) سنت دی لیکن رفع الیدین زیات قوی ا وډیر زیات دی ۔

٥- **شاه اسماعیل شهید حنفی** : والحق ان رفع اليدين عند الافتتاح والركوع والقيام منه والقيام الى الثالثة سنة غير موكدة من سنن الهدى فيثاب فاعله آهـ ۔ تنوير العينين في اثبات رفع اليدين ص (٥) ۔

ترجمه : حقه خبره دا ده چه رفع الیدین د افتتاح او رکوع والا او رکوع نه پورته کیدا و وخت کښے او دریم رکعت نه پورته کیدو وخت کښے سنت دی لیکن ډیر تاکید والا نه دی د هدایت سنت دی چه کونکی ته پرے ثواب ملاویږی ۔

٦- قاضی ثناء الله پانی پتیؒ فرمائی :

ووقت رفتن برکوع وسر بر داشتن از آن رفع الیدین نزد امام اعظم سنت نیست لکن اکثر فقهاء ومحدثین اثبات آن میکنند (مالا بد منه ص : ۳۸)۔ یعنی رکوع ته تللو وخت کښے او د رکوع نه سر راپورته کولو وخت کښے رفع الیدین د امام ابوحنیفهؒ په نزد سنت نه دی لیکن اکثر فقهاء او محدثین د هغے اثبات کوی ۔

٧- **محدث عبد الحق دهلویؒ فرمائی** : ماراازین چاره نیست کہ اقرار سنیت هردو فعل کنیم ۔

یعنی زمونږ ددینه بله چاره نشته چه د رفع الیدین د کولو او نه کولو دواړو اقرار اوکړو ۔ شرح

سفر السعاده ص (١٧١) ۔
او په مدارج النبوه (١/ ٣٦٠ – طبع لاهور) كښې وائي : پس چاره نيست از قول بسنّيت هر دو فعل ۔
يعني ددينه هيڅ بله چاره نشته چه مونږ رفع اليدين او عدم رفع اليدين دواړو ته سنت اووايو

لطيفه : امام ابو جعفر احمد بن اسحاق بن بهلول وائي :

كان مذهبي مذهب اهل العراق (في عدم رفع اليدين) فرأيت النبي ﷺ في النوم يصلي فرأيته يرفع يديه في اول تكبيرة ثم اذا ركع ثم اذا رفع رأسه من الركوع ۔ سنن الدارقطني (١/ ٢٩٤ – رقم : ١١١٢)۔

ابوجعفرؒ وائي : زما مذهب په رفع اليدين كښې د عراق والا وو (چه رفع اليدين به مې نه كول) نو رسول الله ﷺ مې په خوب كښې اوليدو چه رفع اليدين ئې په اول د تكبير او ركوع ته د تللو وخت كښې او بيا د سر را پورته كولو وخت كښې كول ۔

٨- عصام بن يوسف : عبد الحي لكهنوي حنفي فرمائي :

كان حنفيا و كان يرفع يديه عند الركوع وعند رفع الرأس منه ۔ الفوائد البهية ص (٤٣–٤٨) وفتاوى برهنه (٢٧/٢) ۔ يعني عصام بن يوسف د ابويوسف شاگرد وو او حنفي مذهب والا وو او رفع اليدين به ئې په مواضع ثلاثه كښې كول ۔

خلاصه : دا چه ډير محققين علماءِ احناف هم دے عمل ته سنت وائي او خپله ئې هم عاملين دي ليكن افسوس چه د بعضو متعصبو مقلدينو نه دا بهترين عمل پاتے دے د تقليد د بيمارئ په وجه هداهم الله ۔

فائده : په سجدو كښې رفع اليدين

اول دا چه د رسول الله ﷺ نه په صحيح سند سره رفع اليدين په سجده كښې ثابت دي خو احياناً او د صحابه كرامو نه هم ثابت دي :

١ – نسائي رقم (١٠٩٥) كښې حديث د مالك بن الحويرث نقل كړيدے : ان النبي ﷺ كان اذا دخل في الصلاة رفع يديه واذا ركع فعل مثل ذلك واذا رفع رأسه من الركوع فعل مثل ذلك واذا رفع رأسه من السجود فعل مثل ذلك كله يعني رفع يديه واخرجه رقم (١٠٤٠) باب رفع اليدين للسجود ۔

٢ – لكه عبد الله بن الزبير به رفع اليدين په سجدو كښې كول : ابوداود رقم (٧٣٩) كښې د ميمون المكي روايت دے چه دهٔ عبد الله بن الزبير اوليدو چه خلقو ته ئې مونځ كولو او په لاسونو به ئې اشاره كوله (رفع اليدين) په وخت د قيام او ركوع او سجده كښې او په وخت د پاڅيدو كښې ميمون وائي : زه ابن عباس خواته ورغلم ما عرض اوكړو : ما ابن الزبير په داسے مانځه بانديے اوليدو چه هيڅوك ما په داسے مونځ بانديے نه دے ليدلے نو هغه اشاره مے ورته بيان كړه ابن عباس اوفرمايل : (ان احببت ان تنظر الى صلاة رسول الله ﷺ فاقتد بصلاة عبد الله بن الزبير واسناده صحيح ۔ يعني كه ته غواړے چه د رسول الله ﷺ مونځ اوگورے د ابن الزبير د مانځه

اقتداء کوه۔

۳- دارنګه عبد الله بن عباس به هم کول ۔ ابوداود (۷٤۰) ۔فتاوی الدين الخالص (٤/۸۲)

لهذا کله نا کله پدے باندے هم عمل پکار دے او کان لا يفعل ذلك في السجود به حمل شی په غالب اوقاتو یعنی د سجدو والا رفع اليدين به ئے اکثر اوقاتو کښې نه کول او کله کله ئے کول ۔ دارنګه مثبت مقدم وی په نافي باندے ۔

شيخ البانی فرمائی : وكان احيانا يرفع يديه اذا سجد بيا وائي : قد روى هذا الرفع من عشرة من الصحابة وذهب الى مشروعيته جماعة من السلف منهم ابن عمر وابن عباس والحسن البصرى وطاوس وابنه عبد الله ونافع مولى ابن عمر وسالم ابنه والقاسم بن محمد وعبد الله بن دينار وعطاء وقال عبد الرحمن بن مهدى : هذا من السنة وعمل به امام السنة احمد بن حنبل وهو قول عن مالك والشافعي ۔ صفة الصلاة ص(۱٤۰)۔ یعنی رسول الله ﷺ به کله کله رفع اليدين په سجدو کښې کول او دا رفع اليدين په سجدو کښې د لسو صحابه کرامو نه نقل دی بيا ئے دغه نومونه اخستی دی چه مونږ ذکر کړل او دا قول د مالك او شافعیؒ هم دے او پدے عمل کړیدے امام اهل السنة احمد بن حنبلؒ۔

تنبيه : صاحب د عون المعبود (۱/۲۷۰) او صاحب د مرعاة المفاتيح (۳/۵۳) دیته اشاره کړیده چه احادیث د رفع اليدين د سجدے والا ټول ضعيف دی۔

صحيح خبره : دا ده چه احادیث او آثار پدے باره کښې صحيح دی چه د هغے طريقه دا ده چه رفع اليدين به د اولی سجدے نه چه راپورته شی اوکړی بيا چه دويمے سجدے ته خکته کیږی بيا به ئے اوکړی۔

او بل دا چه اصل په دلائلو کښې اعمال دے نه اهمال نو کله کله په سجدو کښې رفع اليدين کول سنت دی البته د رسول الله ﷺ عادتِ مستمره عدم رفع اليدين عند السجود وو ۔

فائده : ښځه به هم رفع اليدين کوی څکه د ښځے او نر په مانځه کښې په داخلی ارکانو او اعمالو کښې یعنی کيفيت او هيئت د مانځه کښې فرق نشته دا فرق په ضعيف حديثونو او عقلی دليل باندے بناء دے چه زنانه دپاره زياته پرده پکار ده ليکن هغه څه قوی دليل نه دے او احادیث ددے په باره کښې ټول ضعيف دی ۔

ام الدرداء او حفصه بنت سيرين به رفع اليدين کول (بخاری)۔ فتاوی الدين الخالص (٤/۸۳) ۔

خلاصه : رفع اليدين کول ضروری دی ۔

۱- دليل : د رفع اليدين احادیث په صحيحينو (بخاری او مسلم) کښې په صحيح سند سره ثابت دی او د عدم رفع اليدين کښې یو صحيح روايت نشته ددے وجے نه رفع اليدين راجح او ضروری دی او نه کول ئے ثابت نه دی ۔

۲- دليل : عدم رفع اليدين د رسول الله ﷺ نه هرګز ثابت نه دی په صحيح سند سره او نه په

حسن سند سره لهذا رفع اليدين ضروري دی ۔

۳– دليل : د يو صحابي نه په صحيح سند سره ترك رفع اليدين ثابت نه دی ۔

٤– دليل : رفع اليدين متواتر دی ۔

٥– ډیر شماره صحابه کرامو نه رفع اليدين په صحيح سند سره ثابت دی ۔

٦– عبد الله بن عمرؓ به تارك د رفع اليدين په كانړو ويشتو او په رفع اليدين كولو باندے په كانړو ويشتل د يو صحابي نه ثابت نه دی ۔

٧– ډيرو علماؤ رفع اليدين د مانځه ښائست گڼلے دے هيڅ يو عالم ترك رفع اليدين ته د مانځه زينت نه دے وئيلے ۔

٨– د اهل السنة والجماعة متعدد علماؤ په رفع اليدين كتابونه ليكلي دی لكه امام بخاریؒ وغيره او هيڅ يو قابلِ اعتماد عالم او محدث په ترك د رفع اليدين كتاب نه دے ليكلے ۔

٩– په رفع اليدين باندے په هره گوته اوچتولو سره يوه نيكي يا درجه ملاويږي ۔

المعجم الكبير (١٧/١٩٧ – رقم : ٨١٩)۔

او د هر تكبير سره رفع اليدين بعضے رواياتو كښے راغلي دی چه : كان يرفع يديه مع كل تكبيرة في الصلاة المكتوبة ۔ عن عمير بن حبيب (ابن ماجه : ٨٧١)

امام بوصيريؒ وائي : چه په سند كښے ئے رفده بن قضاعه دے چه دے ضعيف دے (التقريب : ٩٢٥) مگر شيخ البانيؒ په صحيح ابن ماجه (٨٦١) (٧٠١) او صحيح ابی داود (٧٢٤) كښ ليكي چه دا حديث صحيح دے لشواهده۔

٢– ابن عباسؓ نه مرفوعا نقل دی : كان يرفع يديه عند كل تكبيرة رواه ابوداود وصححه الالباني في صحيح ابی داود (٧٢٤) وابن ماجه (٨٦٥)

لهذا كله نا كله پدے سنت باندے هم عمل پكار دے چه د هر تكبير سره رفع اليدين اوشی دے دپاره چه عمل په ټولو احاديثو باندے راشي ۔ وانظر فتاوى الدين الخالص (٤/٨٣)

٥– وَعَنْ نَافِعٍ، اَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ اِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ، وَاِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ، وَاِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَفَعَ يَدَيْهِ وَاِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ . وَرَفَعَ ذٰلِكَ ابْنُ عُمَرَ اِلَى النَّبِيِّ ﷺ . رواه البخاری .

ترجمه : او نافع رحمه الله فرمائي : ابن عمر رضی الله عنهما چه به كله په مانځه كښ شروع كوله نو تكبير به ئے وئيلو او خپل دواړه لاسونه به ئے پورته كول او كله چه به ركوع ته ختكته كيدو نو دواړه لاسونه به ئے پورته كول او كله چه به ئے سمع الله لمن حمده اووئيل نو لاسونه به

ئې پورته کول او کله چه به د دوه رکعاتو نه پاڅيدو نو دواړه لاسونه به ئې پورته کول او ابن عمر دا حديث رسول الله ﷺ ته رسولے دے ۔ (يعني هغه وائي چه رسول الله ﷺ هم داسے کار کړيدے)

٦– وَعَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا اُذُنَيْهِ، وَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ فَقَالَ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه، فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ وَفِيْ رِوَايَةٍ : حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوْعَ اُذُنَيْهِ . متفق عليه .

ترجمه : او مالك بن حويرث ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ چه به کله تکبير تحريمه وئيله نو خپل دواړه لاسونه به ئې دومره پورته کول تردے چه غوږونو سره به ئې برابر کړل او کله چه به ئې رکوع نه سر پورته کولو نو سمع الله لمن حمده وئيلو سره به ئې دغه شان کولو (يعني دواړه لاسونه به ئې پورته کول) او په يو روايت کښ دی : چه دواړه لاسونه به ئې د غوګونو بره طرفونو سره برابرول ۔ (بخاری، مسلم) .

حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوْعَ اُذُنَيْهِ : دے حديث کښ لاسونه تر غوږونو پورے پورته کول راغلل نو دا هم جائز دی او دا د تنوع العبادة نه دی کله په يو عمل او کله په بل عمل پکار دے ۔

٧– وَعَنْهُ، اَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ يُصَلِّيْ فَاِذَا كَانَ فِيْ وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهٖ لَمْ يَنْهَضْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا . رواه البخاری.

ترجمه : او د مالك بن حويرث نه نقل دی چه ده نبی ﷺ اوليدلو چه مونځ ئې کولو، نو کله چه به هغه د خپل مانځه په طاق رکعت (يعني اول يا دريم) کښ شو نو ترڅو چه به نيغ نه وو ناست نو نه به پاڅيدو ۔ (بخاری) .

تشريح : فَاِذَا كَانَ فِيْ وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهٖ لَمْ يَنْهَضْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا : د وتر نه مراد تاك رکعت دے چه اول وی او که دريم ۔ لم ينهض : يعني نه به پاڅيدو دپاره د قيام تردے چه برابر به کيناستو د استراحت دپاره ۔

پدے حديث کښ مسئله د **جلسة الاستراحة** ده.

جلسه د استراحت دا يوه خفيفه ناسته ده چه د دويمے سجدے نه مونځ کونکے فارغ شی په اول رکعت کښ مخکښ د پاڅيدو نه دويم رکعت ته يا د دويمے سجدے نه روستو د څلورم رکعت ته پاڅيدو وخت کښ معمولی شان آرام اوکړی ۔ (فقه السنه : ١/١٦٩)

او دا جلسه استراحت دوه قسمه ده (١) واجب (٢) او مستحب ۔ واجب په هغه وخت کښ ده

چه کله ئے امام کوی نو مقتدی به ئے ورسره ضرور کوی ځکه چه اتباع د امام واجب ده او دے دپاره چه تقدم په امام باندے رانشی په وخت د پاڅیدو کښ البته که یو مقتدی د امام د جلسه استراحت په وخت د سجدے نه راپورته شی او امام پاڅیدلے وی نو دے بغیر د جلسه استراحت نه هم پاڅیدلے شی ۔ او یواځی مونځ کونکی دپاره مستحب ده ۔

او ددے په **استحباب او سنیت** کښ د اهل علمو **اختلاف** دے ۔

۱ – امام شافعیؒ، احمدؒ نه نقل دی چه جلسه د استراحت سنت ده کما فی المغنی وزاد المعاد (۲۳۳/۱) المجموع (۴۴۳/۳)۔ (د امام احمد نه یو قول د عدم استحباب هم نقل دے لیکن امام ابن الجوزیؒ په التحقیق : (۳۹۷/۱) او ابن قدامه په المغنی (۵۶۷/۱) کښ او ابوعمر په الشرح الکبیر (۵۶۹/۱) کښ او عبد الرحمن البنا په بلوغ الامانی کښ د امام احمدؒ نه رجوع نقل کړیده چه د امام احمدؒ آخری قول سنیت د جلسة الاستراحت دے او دا اختیار د اسحاق بن راهویهؒ دے، دے په مسائل المروزی (۱٤۷/۱) کښ وائی : مضت السنة من النبی ﷺ ان یعتمد علی یدیه ویقوم شیخاً کان او شاباً (صفة صلاة النبی ص : ۱۲۰)۔

۲ – امام مالکؒ او ابوحنیفهؒ وائی چه دا جلسه د استراحت مستحب او سنت نه ده بلکه دا د ضرورت په وجه شویده او هغه دا چه نبی علیه السلام بوډا ضعیف شوے وو نو نیغ به نشو پاڅیدلے، ددے وجے نه دا صرف د مالك بن الحویرث ﷛ نه نقل ده او د عام صحابه کرامو نه نده نقل او د مالك بن الحویرث وخت د نبی علیه السلام سره لګ تیر شوے وو لهذا دا محمول دے په حالت د کبر او ضعف باندے نو دا سنت نشوه ځکه دا غیر اختیاری شویده ۔ لیکن د دوی دا خبره علامه سندیؒ رد کړیده چه پدے باندے دا اعتراض دے چه نبی علیه السلام مالك بن الحویرثؓ او د هغه ملګروته وئیلی وو (صلوا کما رأیتمونی اصلی) نو دا امر اګرکه د وجوب دپاره نه وی نو اقل درجه ئے دا ده چه دا دِ مستحب شی او دارنګه په دے باندے په بعض روایاتو د مسیئ الصلاة کښ امر راغلے دے انتهیٰ حاشیة البخاری (۱۹۹/۱) و المرعاة (۵۳/۳)

دارنګه صاحب د البحر الرائق ابن نجیم (۶۱۵/۲) هم ددے تردید کړیدے چه دا حمل دلیل ته محتاج دے او حال دا چه نبی علیه السلام فرمائی : داسے مونځ کوئ څنګه چه ما ګورئ چه زه مونځ کوم " انتهیٰ۔

حافظ په الدرایه ص (۱۱۲) کښ د صاحب هدایه ددے قول (هذا یحمل علی حالة الکبر) په جواب کښ وائی : هذا تاویل یحتاج الی دلیل فقد قال النبی علیه السلام لمالك بن الحویرث لما اراد ان یفارقه : صلوا کما رأیتمونی اصلی ولم یفصل له، فالحدیث حجة فی الاقتداء به فی ذلك انتهیٰ یعنی دا په حالت د کبر باندے حمل کول دلیل غواړی او نبی علیه السلام مالك بن الحویرثؓ ته د رخصتیدو په وخت کښ امر اوکړو چه زما پشان مونځ کوئ او هغه ته ئے تفصیل او نه کړو نو

حديث دليل دے چه په جلسه د استراحت كښې به هم د نبي عليه السلام اقتداء كولے شي ـ

٣- دارنګه روستو دلائلو كښې به راشي چه حديث د ابي حميد الساعديؓ كښې هم دا جلسه ذكر ده، چه هغه سره لس صحابه كرام ناست وو. او دا په هيڅ حديث كښې ندى ذكر چه دا صرف په آخري عمر كښې وه ـ ٤- بلكه دا چه د نبي عليه السلام د بدن نه چه په عبادت كښې هر عمل راوتے وي، هغه به محمول وي په شريعت باندے مګر هله چه د هغے په خلاف دليل راشي او دلته د جلسه د استراحت د نفي په باره كښې هيڅ حديث هم نشته ـ

٥- دارنګه كه دا كار نبي عليه السلام د عادت په طريقه كولے نو هغه باندے لازم وه چه دا بيان ئے امت ته كړے وے چه زه دا كار د عذر په وجه كوم او ستاسو دپاره جلوس جائز نه دے حال دا چه رسول اللهﷺ د امت سره په احكامو كښې شريك دے كله چه دليل د خصوص نه وي ـ

٦- وجه دا ده چه لكه څنګه چه مالك بن الحويرثؓ د نبي عليه السلام سره په آخري عمر كښې ملاو شويدے دا خو منئ نو دغه شان د رفع اليدين راوي هم دا دے نو دا دليل دے چه رفع اليدين ندى منسوخ ـ (فتاوى الدين الخالص : ٣٢٦/٤)

د احنافو سره **دوه دلائل** دي : ١- مرفوع حديث د ابي هريره ﷺ : قال كان النبي ﷺ ينهض في الصلاة على صدور قدميه (ترمذي ٦٤/١) ـ يعني نبي عليه السلام به په مانځه كښې د قدمونو په سينو باندے پاڅيدلو (يعني جلسه د استراحت به ئے نه كوله) ـ

الجواب : دا حديث ضعيف جداً دے، امام ترمذيؒ فرمائي : وخالدبن اياس ضعيف عند اهل الحديث ـ حافظ په التقريب ص (١٨٧) رقم (١٦١٧) كښې وائي : خالد بن اياس متروك الحديث (كذافي التحفة : ١٣٨/١) او ددے په سند كښې صالح مولى التوءمه دے شيخ البانيؒ وائي :

صالح مولى التوءمة ضعيف لاختلاطه ـ ضعيف سنن الترمذي (٣٣رقم : ٤٧ وارواء الغليل (٨٣/١) ـ

نو دا حديث قابل حجت نه دے باقي كلام په المرعاة (٥٤/٣) كښې اوګوره ـ

٢- حديث د ابو مالك الاشعريؓ دے چه دا خپل قوم ته لاړو او هغوى ته ئے اووئيل : يا معشر الاشعريين اجتمعوا واجمعوا نساء كم وابناء كم اعلّمكم صلاة النبي ﷺ الحديث ـ يعني اے اشعرينو راجمع شئ او ښځے او اولاد هم جمع كړئ زه درته د نبي ﷺ مونځ زده كوم ـ په هغه حديث كښې دا الفاظ دي : ثم كبر وخرّ ساجداً ثم كبر فرفع رأسه ثم كبر فسجد ثم كبر فانتهض قائماً – اخرجه احمد مع الفتح الرباني (١٥١/٣) ـ نو دے نه معلوميږي چه ابو مالك اشعريؓ دويم ركعت ته نيغ پاڅيدلے دے او جلسه د استراحت ئے نده كړے نو دا دليل دے چه نبي عليه السلام به دا نه كوله ـ

الجواب : ددے حديث نه په يو څو طريقو سره جواب كيدے شي ١- اول دا چه دا حديث ضعيف دے ددے په سند كښې شهر بن حوشب متكلم فيه راوي دے حافظ په تقريب (٢٦٩) رقم (٢٨٣٠)كښې وائي : شهر بن حوشب صدوق كثير الارسال والاوهام دے ـ

۲– دویم دا چه پدے حدیث کښې جلسه د استراحت نه ده ذکر نو دا دپاره د جواز ده چه پریخودل ئې جائز دی، نه دا چه واجب ده ـ

۳– دریم دا چه پریخودل د بعض سنتو د رسول الله ﷺ دا منافی د وجوب دی او د سنیت منافی نه دی ځکه پریخودل د واجب څیز ناجائز دی او چه سنت وی نو د هغې کله پریخودل هم جائز وی نو دا ترك بیانا للجواز دے ـ

٤– څلورم دا چه دے حدیث کښې جلسه د استراحت نه ده ذکر او دا صریح نه دے په نفی د جلسه د استراحت کښې او دا حدیث د مالك بن الحویرثؓ او حدیث ابی حمید الساعدیؓ دا نصوص دی او پدے کښې زیادت دے نو د نافی او مثبت د تعارض په وخت کښې مثبت لره ترجیح وی ځکه دده سره علم زیات وی کما تقدم مرارا ـ

٦– د رسول الله ﷺ نه چه کومو صحابه کرامو د مانځه صفت نقل کړیدے نو هیڅ یو صحابی هم په یو حدیث کښې پوره فرائض او یا سنت ندی روایت کړی بلکه یو صحابی یو فعل، بل صحابی بل فعل، چا سنت نقل کړی دی او چا فرض حسب رؤیت ـ څنګه ئې چه لیدلی دی، د هغې روایت ئې کړیدے نو که پدے حدیث کښې جلسه د استراحت نه وی ذکر نو الحمد لله په نورو احادیثو کښې ذکر ده ـ دارنګه د بعض صحابه کرامؓ نه چه دا نقل دی لکه ابن مسعود، علی، او ابن عمر وغیرهم نه په صحیح اسانیدو چه (انهم كانوا ينهضون فی الصلاة علی صدور اقدامهم كما فی ابن ابی شيبة (۱/۱۵۷) والارواء (۲/۸٤) رقم: (۳٦۲)

نو ددے هیڅ تعارض نشته ددے حدیث د مالك بن الحویرثؓ سره، وجه دا ده چه دا کار هغوی کړیدے په هغه جلسه کښې چه هغې کښې تشهد وو دے دپاره چه ددے حدیث د مالك او د دغه آثارو توفیق او جمع راشی ـ شیخ البانیؒ فرمائی: ددے تائید دا دے چه ابن عمرؓ نه نقل دی چه هغه به په مانځه کښې کله رکعات ته پاڅیدو نو اعتماد به ئې کولو په لاسونو باندے نو دا اعتماد دویم رکعت ته د پاڅیدو په وخت کښې دے او په صدور الاقدام باندے پاڅیدل د اولے قعدے نه د پاڅیدو وخت کښې دی ـ

۲– **جواب**: دا چه دے صحابه کرامو به رسول الله ﷺ په ترك د جلسه استراحت لیدلے وی نو دلیل دے چه ترك هم جواز لری ځکه جلسه د استراحت څه واجبه نه ده بلکه مستحب عمل دے، لس (۱۰) نیکئ پرے ملاویږی ـ

رد المحتار کښې دی: شمس الائمه حلوائی وائی: الخلاف فی الافضلية حتى لو فعل كما هو مذهبنا لا بأس به عند الشافعی ولو فعل كما هو مذهبه لا بأس به عندنا انتهى مرعاة (۲/۵۳) .

یعنی اختلاف پدے مسئله کښې په افضلیت د جلسه استراحت کښې دے نه په جواز او عدم جواز کښې ترڅو چه یو سړی زمونږ پشان عمل اوکړو نو د امام شافعیؒ په نیز هم جائز ده او که د

امام شافعیؒ د مذهب په شان عمل اوکړی (جلسه استراحت اوکړی) نو د احنافو په نیز هم جائز ده۔

اوس **د جلسه د استراحت د سنیت دلائل** اوګوره :۔

١- **اول دلیل** دا حدیث صریح دلیل دے چه دا عمل سنت طریقه ده او د صحیح بخاری حدیث دے ۔ ٢- **دلیل** : په فصل ثانی کښ د ابوحمید ساعدیؓ حدیث دے چه په تېغې کښ دا الفاظ دی : «ثم یعتدل حتی یرجع کل عظم الی موضعه ثم ینهض» اخرجه ابوداود والترمذی (١/٦٧) والبخاری فی جزء رفع الیدین بلفظ : واعتدل حتی یرجع کل عظم فی موضعه ثم نهض وصححه الالبانی فی الارواء (٢/١٤ رقم : ٣٠٥)

٣- **دلیل** : حدیث د مسیئ الصلاة په بعض روایاتو کښ (کوم چه مخکښ ذکر شو) دا الفاظ دی : ثم اسجد حتی تطمئن ساجداً ثم ارفع حتی تطمئن جالساً) ۔ په دے کښ بناء په یو قول باندے جلسه د استراحت مراد ده او دا د بخاری روایت دے او تفصیل ئے مخکښ حدیث د مسیئ الصلاة کښ اوګوره ۔ ٤- **دلیل** : حدیث د ابن عباسؓ دے چه په باب صلاة التسبیح کښ راروان دے (١١٧/١) چه هغه حسن یا صحیح حدیث دے چه په هغې کښ د دویمې سجدے نه روستو لږه شان جلسه د استراحت ده چه په هغې کښ دغه تسبیحات لوستلے کیږی او دا خو احناف هم منی چه هلته به اذکار وائی د جلسه استراحت سره لیکن راجح دا ده چه دا صرف ضمنی دلیل دے ځکه چه صلوٰة التسبیح مونځ د نورو مونځونو پشان نه دے ځکه په دے جلسه د استراحت کښ خو ورسره اذکار دی، او عام مونځونو کښ جلسه د استراحت کښ اذکار نشته بلکه جلسه خفیفه ده لیکن فی الجمله او ضمنا ترے جواز د جلسه د استراحت ثابتیږی ۔

٥- **دلیل** : رسول الله ﷺ دویم او څلورم رکعت ته داسے پاڅیدو لکه عاجن (وړه اغږونکے) چه اعتماد به ئے کولو په زمکه باندے دواړه لاسونو باندے به ئے تکیه لګوله لکه حدیث د مالک بن الحویرثؓ کښ دی : واذا رفع رأسه من السجدة الثانیة جلس واعتمد علی الارض ثم قام (بخاری ١/١١٤) باب کیف یعتمد علی الارض اذا قام من الرکعة) ۔

او په حدیث د ابن عمرؓ کښ دی : ازرق بن قیسؒ وائی : رأیت ابن عمر یعجن فی الصلاة : یعتمد علی یدیه اذا قام فقلت له ؟ . فقال : رأیت رسول الله ﷺ یفعله (بیهقی بسند جید عنه موقوفا ومرفوعاً کما فی الضعیفة تحت الحدیث : ٩٦٧) وصفة الصلاة (١٢١) واخرجه ابن ابی شیبة (١/٣٩٥) وانظر فتاوی الدین الخالص (٤/٣٢٧) والموسوعة الفقهیة (٢/٧٥)

او اعتماد په لاسونو باندے دا په جلسه د استراحت کښ کیږی ۔

٦- **دلیل** : عمل د عمرو بن سلمه الصحابی ؓ دے چه په بخاری (١/١١٣) کښ راغلے دے چه هغه په مسجد کښ او په امامت کښ جلسه د استراحت اوکړه چه د هغه پسے ډیر صحابه کرام او تابعین عظام ولاړ وو ۔ بل د مالک بن الحویرث عمل بلکه د هغه سره لس صحابه ک امو

هم پدې عمل کړيدے لکه په حديث ابوحميد ساعديؓ کښې مخکښې تير شو نو دا څومره ډير صحابه کرام شو چه دا عمل به ئے کولو۔

خلاصه دا چه جلسه د استراحت سنت طريقه ده او پدې باندې به مسلمان چه څان ته د رسول الله ﷺ محب وائي عمل کوي او ددې مخې ته به بهانې نه لټوي او دا د دغه دولس ديارلس بلکه بے شماره صحابه کرامو نه نقل ده چه لس صحابه کرام د ابوحميد تصديق کړيدې او ډير کم داسے سنن دي چه په هغې باندې دومره جم غفير راجمع شوي وي۔

ددې وجې نه امام نوويؒ فرمائي : واعلم انه ينبغي لكل احد ان يواظب على هذه الجلسة لصحة الاحاديث فيها وعدم المعارض الصحيح لها ولا تغتر بكثرة المتساهلين بتركها فقد قال الله تعالى : (قل ان كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله ويغفر لكم ذنوبكم) وقال تعالى : وما آتاكم الرسول فخذوه) المجموع (٣/٢٤٢) يعني هر مسلمان له پدې جلسه د استراحت باندې هميش والے پکار دے ځکه چه حديثونه پدې کښې صحيح ثابت دي او څه معارض حديث ئے هم نشته او پدې مه دوکه کيږه چه اکثر سُست خلق پدې جلسه عمل نه کوي ځکه الله تعالى فرمائي : که د الله سره محبت کول غواړئ نو د پيغمبر خبره اومنئ الخ۔

او څوک ددې صحيح حديثونو د ردکولو دپاره د مذهب په نوم دا عذرونه ګوري چه دا ئے د بوډاوالي په وجه کړيده، يا وائي چه که دا سنت وے نو دا به ټولو هغه صحابه کرامو نقل کړے وے کوم چه د نبي عليه السلام د مانځه کيفيت امت ته نقل کوي۔

يا وائي : که دا سنت وے نو ددے دپاره به ذکر مشروع شوے وے دا ټولے خبرے ضعيفے دي ځکه چه ډير متفق عليه سنن دي او هغه ټولو صحابه کرامو ندي نقل کړي کوم چه د مانځه کيفيت نقل کوي لکه تامين، استعاذه، بسم الله، ذکر د رکوع او سجدې، درود، ثناء دا ټول سنن متفق عليها دي، او ابوحميد ساعديؓ او د هغه ملګري صحابه کرامو د نبي عليه السلام په صفت د مانځه کښې ندي ذکر کړي او دغه شان نورو صحابه کرامو هم ندي ذکر کړي، نو آيا دا سنن به هم رد کولے شي۔ انظر تمام المنة (٢١٢) ونيل الاوطار (٢/٢٢٦) وفتح الباري وتحفة الاحوذي (٢/٢٣٧) ★-دارنګه ددې دپاره ذکر ځکه ندے مشروع شوے چه دا معمولي شان خفيفه جلسه ده چه انسان پکښې څان قيام ته تياروي نو ددې وجې نه پدې کښې بل ذکر مشروع نشو بلکه اکتفاء اوکړے شوه په هغه تکبير کوم چه د قيام دپاره کيږي ځکه تکبير هم د قيام دپاره دے او دا جلسه هم د قيام د تياري دپاره ده۔

نو دا عذرونه د احنافو بے ځايه دي، او د مذهبي تعصب په بناء دي، بلکه مسلمان لره د الله او د هغه رسول نه تسليميدل پکار دي، او جمود په قول د يو امام باندې د مسلمان شيوه نه ده۔

دارنګه کله وائي په فلاني حديث کښې نه ده ذکر او فلاني صحابيؓ به نه کوله ددې جوابونه

مخکښې تیر شو چه دا جلسه څه واجب نه ده چه هر صحابی به ئے کوی بلکه دا سنت طریقه ده نو کله کله پریخودل ئے هم جائز دی والله تعالی اعلم وبالله التوفیق۔

فائده : ددے جلسة الاستراحت یوه فائده خو اتباع د سنت ده۔ ۲- او بله دا چه څوك جلسه د استراحت نه کوی نو د هغوی عام کمزوری او بوډاګان په اقعاء کښې واقع کیږی ګوم نه چه منع راغلے ده نو کله چه انسان په سنت طریقه عمل نکوی نو ضرور به په بل فساد کښې واقع کیږی۔

۸- وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ﷺ : اَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ ﷺ رَفَعَ يَدَيْهِ حِيْنَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ، كَبَّرَثُمَّ الْتَحَفَ بِثَوْبِهِ ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى، فَلَمَّا اَرَادَ اَنْ يَّرْكَعَ اَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنَ الثَّوْبِ، ثُمَّ رَفَعَهُمَا وَكَبَّرَ فَرَكَعَ فَلَمَّا قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَفَعَ يَدَيْهِ، فَلَمَّا سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ . رواه مسلم .

ترجمه : او وائل بن حجر ﷺ نه نقل دی چه هغه نبی کریم ﷺ اولیدلو چه مانځه ته داخلیدو په وخت کښې ئے لاسونو پورته کولو سره الله اکبر اووئیلو بیا ئے لاس په جامه کښې راتاؤ کړه بیا ئے ښے لاس په ګس لاس باندے کیخودلو او کله ئے چه د رکوع کولو اراده اوکړه نو دواړه لاسونه ئے د جامے نه اوویستل بیا ئے پورته کړل او الله اکبر ئے اووئیلو او رکوع ته لاړو او هر کله ئے چه سمع الله لمن حمده اووئیل نو لاسونه ئے پورته کړل او کله ئے چه سجده اوکړه نو د دواړو لاسونو په مینځ کښې ئے اوکړه (یعنی سر مبارك ئے د دواړو لاسونو ترمینځ کیخودلو) (مسلم)۔

تعارف د وائل بن حجر ﷺ : دا د حجر (بضم الحاء وسکون الجیم) بن سعد بن مسروق الحضرمی ځوی دے جلیل القدر صحابی دے ابو هنیده یا ابو هند ئے کنیه ده دا د یمن (حضرموت) د باشا هانو نه عظیم بادشاه وو او د باشا هانو د اولادو نه وو رسول الله ﷺ دده د راتلو نه درے ورځے مخکښې صحابه کرامو ته بشارت ورکړو چه تاسو ته به وائل بن حجرؓ د ورانده زمکے د حضرموت نه راځی په خپله خوښه او د الله او د رسول سره د مینے په وجه، نو کله چه راغلو نبی علیه السلام ورته مرحبا اووئیله او ځان ته ئے نزدے کړو او خپل مجلس کښې ئے نزدے کینولو او څادر ئے ورته خور کړو او په هغے باندے ئے هغه هم کینولو ار خپله هم کیناستو، بعض وائی : ځان سره ئے منبر ته اوخیژولو او دا دعا ئے ورته اوکړه : اللهم بارك فی وائل و ولده و ولد ولده ۔ اے الله دده لره او دده بچو او نمسو له برکت ورکړے۔

په نهم (۹) هجری کښې چه کوم وفود نبی علیه السلام ته راغلی وو حافظ ابن کثیر الدمشقی په هغوی کښې د وائل ﷺ د راتلو تذکره کړیده ۔ البدایة والنهایة (۷۱/۵) ۔ او ددے نه کال پس په لسم هجري کښې دوباره راغلے وو (صحیح ابن حبان :۱٦٨/۳) وغیره ۔

او په دغه كال هم ده رفع اليدين ليدلي وو (سنن ابى داود وغيره باسناد صحيح) ـ
او رسول الله ﷺ د حضرموت په بادشاهانو گورنر مقرر كړو او درے خطونه ئے ورله وركړل يو مهاجر بن ابى اميه ته او بل بادشاهانو ته او د زمكے څه حصه ئے هم ورله وركړه او دده سره ئے معاويه بن ابى سفيان اوليږلو چه هغه ورته اوسپارى او په كوفه كښې دے او دده اولاد اوسيدل او په ولايت د معاويةؓ كښې وفات شو يواويا (٧١) احاديث ئے امت ته نقل كړيدى ـ
افسوس چه بعض متعصبينو دے جليل القدر صحابى (وائل بن حجر) ته ردى بدى وئيلي دى ـ جامع المسانيد (١/٤٥٨) كښې ئے د دروغو روايت نقل كړيدے : ابوحنيفةؒ وائى : ابراهيم نخعي وئيلي دى وائل بن حجر يو اعرابى (باندېچى جاهل) سړے وو (لا يعرف شرائع الاسلام، لم يصل مع النبى ﷺ صلاة قبلها قط فهو اعلم من عبد الله و اصحابه حفظ ولم يحفظوا يعنى رفع اليدين عند الركوع ؟ تحفة المناظر و تناقضات المقلدين ص(٣٣) كتابنا ـ نو اوگوره وائل بن حجر هم اعرابى (باندېچى جاهل) گڼړى او د شريعت په احكامو ئے ناپوهه گڼړى او بيا وائى : ده مخكښې ددے مونځ نه هيڅ كله د نبى عليه السلام سره مونځ ندے كړے ؟ـ
تشريح : ثُمَّ الْتَحَفَ بِثَوْبِهِ : يعنى په جامه باندے ئے ځان پټ كړو او ځان باندے ئے راتاؤ كړه ـ
ددے درے مطلبه دى دوه حافظ بيان كړيدى او بل مباركفورى ـ حافظ وائى : ددے صورت دا دے چه د تكبير په وخت لاسونو اوچتولو سره د هغه د اوږونه جامه پريوتے اوخويدلي وى نو د تكبير نه روستو ئے جامه په اوگو باندے راتاو كړه ـ يا دا چه جامه ترے هيره وه خو چه كله ئے الله اكبر اوكړو نو بيا ورته راياده شوه نو جامه ئے راواخستنه او د اوگو نه ئے راتاوكړه ـ
دا دواړه مطلبونه واضح نه دى ـ ٣– عبيد الله مباركفوريؒ وائى : ظاهر دا ده چه رسول الله ﷺ په مانځه كښې د داخليدو نه مخكښې اول ځادر په اوگه باندے كيښودلو ليكن په اوگو باندے ئے نه وو راتاؤ كړے بلكه سدل او ارسال وو بيا چه كله ئے الله اكبر اوكړو نو په اوگو باندے ئے راتاو كړو انتهىٰ ـ
نو ددے نه دا فائده معلوميږى چه د الله اكبر او رفع اليدين نه بعد چشمے ويستل او په جيب وغيره كښې كيخودل جائز دى او ضرورت په بناء باندے داسے عمل قليل جائز دے ـ
٤– پدے كښې يو څلورم مطلب هم كيدے شى او هغه دا چه رسول الله ﷺ كله رفع اليدين اوكړل نو جامه ئے د اوگو نه زائله شوه نو بيرته راواپس كولو دپاره ئے د ځان نه تاو كړه او كه داسے نه وى نو په عام حالاتو كښې جامه راغونډولو نه منع راغلے ده چه انسان به ځان پسے نه راغونډوى خو دلته د اوگو د ښكاره كيدو خطره وه ځكه ئے التحاف كړيدے ـ والله اعلم ـ

په مانځه كښې د لاسونو په كيخودلو كښې اختلاف:

ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى : ښے لاس په چپ لاس كيخودل په مانځه كښې سنت دى، خو پدے كښې اختلاف شته ـ

۱ – ابن القاسم د امام مالکؒ نه نقل کړيدے چه لاسونه به زوړند نيسی (ارسال به کوی) او دا ئے مشهور قول دے امام نوویؒ فرمائی : اهل مغرب د اصحاب مالکؒ نه په هم دے قول باندے روان دی مگر دا قول د امام مالکؒ نه ضعيف دے۔

دويم ترے ابن عبد الحکمؒ نقل کړے چه وضع اليدين به کوی او دا قول د باقی ټول اهل علم دے۔ امام ترمذیؒ وائی : والعمل علی هذا عند اهل العلم من اصحاب النبی ﷺ والتابعين ومن بعدهم الخ (التحفة : ۱/۲۱۳)

او د امام مالکؒ نه پخپله په موطأ (۱/۱۲۲) کښ نقل دی چه هغه وضع اليدين غوره کوی ځکه چه هغه باب ايخودے دے (باب وضع اليدين احداهما علی الاخریٰ فی الصلاة) بيا ئے اثر د عبد الکريم بن ابی المخارق په وضع اليدين کښ راوړيدے چه د کلام د نبوت نه دا دی چه وضع اليدين احداهما علی الاخریٰ اوکړے شی او بيا ئے حديث د سهل بن سعد ذکر کړيدے (کوم چه روستو راروان دے) کان الناس يؤمرون ان يضع الرجل اليد اليمنیٰ علی ذراعه اليسریٰ الخ۔

مدوّنه کبریٰ کښ دی : چه امام مالکؒ نيے لاس په ګس باندے کيخودل په فرائضو کښ مکروه ګنړی او نوافلو کښ چه کله قيام اوږد شی نو باك نشته چه پدے سره خپل ځان ته تعاون وکړی وکذا فی بداية المجتهد (۱/۹۹) لابن رشد۔

د مالکيه ؤ سره هيڅ دليل صحيح حديث نشته سویٰ ددے نه چه وائی وضع اليدين په حديث د مسیئ الصلاة کښ ندی ذکر۔ **الجواب** : حديث د مسیئ الصلاة کښ خو واجبات د مانځه ذکر دی، په يو حديث کښ ټولے مسئلے نه وی په هغه حديث کښ خو ډير سنن هم ندی ذکر نو آيا د هغے نه به انکار کولے شی څه ؟۔ سره ددے نه چه نور ډير صحيح احاديث په وضع اليدين کښ ثابت دی، يو دا حديث الباب دے دويم روستو حديث د سهل بن سعدؓ دے۔

بعض وائی : پدے ارسال کښ عاجزی زياته ده، او په وضع اليدين کښ خشوع نه وی ليکن ددے جواب دا دے چه دا خبره ضعيفه ده بلکه حافظ ابن حجرؒ فرمائی : علماؤ وئيلی دی چه په دے هيئت کښ حکمت دا دے چه دا د هغه سائل طريقه ده چه هغه ځان ذليل او عاجز کړے وی او لاسونه ئے ايخودی وی، دارنګه په وضع اليدين کښ د عبث لاسونو خوزولو او لوبو کولو نه بنديږی او دا خشوع ته ډير قريب دے۔ انظر النيل (۲/۲۰۱)

حافظ ابن القيمؒ په اعلام الموقعين (۲/۴۰۰) کښ د سنت د رد کولو مثالونو کښ يو مثال دا ذکر کړيدے چه فرمائی : فهذه الآثار قد رُدّت برواية ابن القاسم عن مالك قال ترکه احبّ الیّ)

علامه مبارکفوریؒ په تحفة الاحوذی کښ وائی : چه مالکيه باندے تعجب پکار دے چه هغوی څنګه دغه ضعيف روايت د امام مالك غوره کړيدے سره ددے نه چه په ارسال د يدين کښ هيڅ صحيح حديث نشته او احاديث د وضع اليدين ئے ترك کړيدی انتهیٰ۔

ددے وجه تقلید دے ځکه تقلید د انسان په سترګو باندے پټئ اړوی ـ

نو **خلاصه** دا شوه چه د رسول الله ﷺ او د هغه صحابه کرامو نه ارسال بالکل په صحیح سند نه دے نقل، د ابن الزبیرؓ نه نقل دی چه هغه به ارسال الیدین کولو لیکن د هغے سند ضعیف دے (فیه عمرو بن دینار البصری قهرمان آل الزبیر وهو ضعیف (ابن ابی شیبه : ۳۹۱/۱) وحاشیة الموطأ (۱٤۲/۱)

صرف د بعض تابعینو نه نقل دی لکه ابراهیم نخعیؒ، حسن بصریؒ، او د ابن سیرینؒ وغیره نه نقل دی چه دوی به ارسال کولو، اوزاعیؒ وائی : مصلی مخیّر دے چه وضع الیدین کوی او که ارسال ـ (المجموع : ۳۱۲/۳) لیکن د تابعینو عمل حجت نه وی ـ

اَخْرَجَ یَدَیْهِ مِنَ الثَّوْبِ : په حدیث د مالك کښ مخکښ تیر شویدی چه رفع الیدین په جامه کښ دننه هم جائز دی لیکن مستحب دا ده چه لاسونه د جامے نه بهر کړی په وخت د رفع الیدین کښ.

فَلَمَّا قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ، رَفَعَ یَدَیْهِ : یعنی چه د سمع الله لمن حمده وئیلو د شروع کولو په وخت کښ ئے رفع الیدین هم شروع کړل لکه د مخکښو روایاتو نه معلومیږی او دے نه دا هم معلومه شوه چه سمع الله لمن حمده ذکر د رکوع نه د نقل کیدو دپاره دے او هم د رفع الیدین دپاره دے.

فَلَمَّا سَجَدَ بَیْنَ کَفَّیْهِ : په سجده کښ د لاسونو د کیخودلو دوه **کیفیتونه** دی ۱– یو دا چه لاسونه به د غوږونو لاندے اړدی، او فقه حنفی کښ ئے ددے وجه دا ذکر کړیده چه که د غوږ نه ئے څه کښته پریوځی نو په لاس به پریوځی او مسجد به ګنده نشی او دا کیفیت ددے حدیث نه هم معلومیږی او په حدیث د ابوداود او نسائی کښ بسند صحیح دی : ثم سجد فجعل کفیه بحذاء اذنیه).

۲– **دویم کیفیت** : د اوګو نه لاندے ئے کیږدی : او دا کیفیت په حدیث د ابوحمید کښ راروان دے ـ

وَضَعَ کَفَّیْهِ حَذْوَ اُذُنَیْهِ : اخرجه ابوداود والترمذی وصححه هو وابن الملقن (۸۲/۱) وهو مخرج فی الارواء (۳۰۹) پدے کیفیتونو کښ بعض علماؤ ترجیح حدیث د مسلم او نسائیؒ ته ورکړیده چه اذنین خوا ته کیخودل بهتر دی او حدیث د ابو حمیدؓ کښ جواز دے او بعض علماؤ ددے برعکس خبره کړیده او بعض علماء وائی چه مونځ کونکے اختیار مند دے چه په هر کیفیت باندے عمل کوی ځکه چه دا مختلف اوقاتو کښ شویدی نو کله په یو عمل کوه او کله په بل باندے ـ ٤– او بعض علماؤ ددے جمع کړیده چه لاسونه به د اوګو لاندے کیدی پداسے طریقه چه غوږونو ته ئے سرونه اورسی، نو په دواړو به عمل راشی، لیکن اصح دا ده چه دا د تنوع د عبادات د قبیلے نه دی او په مختلف طریقو باندے شویدی لهذا بیل بیل باندے عمل پکار دے.

فائده : دا حدیث هم دلیل دے چه رفع الیدین منسوخ ندی بلکه وائل بن حجرؓ د (۹ هجری) مسلمان دے ددے نه معلومیږی چه نبی علیه السلام پدے باندے تر مرګه همیش والے کړیدے لکه دا خبره علامه سندیؒ نه هم مونږ مخکښ نقل کړه ـ

۲ - **فائده** : بعض روایاتو کښې راغلي دي چه ابراهیم نخعيؒ چه کله د عمرو بن مره الجملي المرادي نه دا حدیث د وائل واوریدلو نو په طریقه د استبعاد ئې اوویئیل چه وائل صرف په دغه ورځ رسول اللہ ﷺ په رفع الیدین اولیدلو او یاد ئې کړل او عبد اللہ بن مسعود ته دِ نه وی یاد (دا نشي کیدے) کما في الدارقطني والبیهقي والطحاوي ۔

خو پدے باندے علامه عبد الحي اللکنويؒ په التعلیق الممجد (۹۱) کښې رد کړیدے فرمائي چه امام شافعيؒ نه بیهقيؒ په المعرفه کښې نقل کړیدی چه عمل به په قول د وائلؓ کولے شي ځکه هغه جلیل القدر صحابي دے نو د هغه خبره ځنګه د یو تابعي خکته مرتبے والا سړی په خبره رد کړے شي ۔ دویم بخاريؒ په جزء رفع الیدین کښې وائي : دا د ابراهیم نخعيؒ خپل ګمان دے چه وائل صرف یو ورځ لیدلے دے بلکه دے کال له هم راغلے وو او په دغه عمل د رفع الیدین ئې نبي ﷺ او صحابه کرام لیدلي دي انتهیٰ ۔

نو اصح دا ده چه حدیث د وائل بالکل صحیح دے او د ابن مسعودؓ عدم رفع یا ضعیفه نقل ده یا بیانا للجواز ده ۔

---

۹ – وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُوْنَ اَنْ يَّضَعَ الرَّجُلُ الْيَدَ الْيُمْنٰى عَلٰى ذِرَاعِهِ الْيُسْرٰى فِي الصَّلَاةِ، رواه البخاري ۔

ترجمه : او سهل بن سعد ﷺ فرمائي : خلقو ته به حکم کیدو چه مونځ کونکے دِے په مانځه کښې ښے لاس په ګسه لیچه باندے کیدی ۔

تشریح : كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُوْنَ : یعنی صحابه کرامو ته به دا حکم کیدے شو چه ښے لاس په ګس لاس باندے په مانځه کښې کیدی او دا حکم ورته چا کړیدے نو دا ورته نبي ﷺ کړیدے ځکه چه علامه سیوطي په تدریب الراوي (٦٢) کښې لیکي چه کله صحابي امرنا بکذا او نهینا عن کذا یا ددے په شان الفاظ اووائي نو د صحیح قول په بناء به د جمهورو په نزد دا تول مرفوع حدیث وی، ابن صلاحؒ وائي : کله چه امر مطلق ذکر شي نو دا به مصروف کیږي هغه چاته چه هغه امر او نهي کونکے وی، او د هغه د سنت اتباع واجب وی، چه هغه نبي علیه السلام دے او په حدیث د نسائي کښې تعیین د آمر راغلے دے چه هغه نبي علیه السلام دے ۔فتح الباری (۱۷۸/۲)

بیا ددے امر نه خو معلومیږي چه لاسونه کیخودل دِ هم واجب شي لکه چه دا امر په بل حدیث کښې هم راغلے دے (انـا مـعشر الانبیاء ، امرنا بتعجیل فطرنا وتاخیر سحورنا، ووضع ایماننا علی شمـائـلـنـا (الطیالسي وغیره وصححه ابن حبان وقال الشیخ الالباني في احکام الجنائز : ۱۹٤) وسنده صحیح علی شرط مسلم ۔ دارنګه صحابه کرامو ته ئې هم پدے باندے حکم کړیدے نو دا حدیث صالح دے ددے چه وجوب پرے ثابت شي او کوم روایاتو کښې چه من السنة یا من سنن المرسلین لفظ راغلے دے نو شوکانيؒ وائي : چه په لسان د اهل الشرع کښې د سنت مفهوم عام دے فرض او

واجب تولو ته شاملیږي اګرکه اصولیین ئے خاص ګڼري۔

دارنګه د من السنة وغیره الفاظ والا حدیثین ضعیف هم دي، او ددے وجوب تائید دا هم دے چه د علیؓ نه د آیت فصل لربك وانحر تفسیر شوېدے په وضع الیمین علی الشمال سره۔ رواه الدارقطني (۱/۲۸۵) والبیهقي والحاکم وقال انه احسن ما روی في تاویل الآیه۔ لیکن دا تفسیر ضعیف دے۔ کما في تفسیر ابن کثیر (٤/٥٥٨) حدیث منکر اورده ابن ابی حاتم والحاکم وفیه اسرائیل بن حاتم ضعیف۔ ۳- بله دا چه همیشه دوامي عمل د رسول الله ﷺ هم دلیل د وجوب کیدے شي عند بعض العلماء۔

۲- او جمهور علماء وائي چه وضع الیدین سنت موکد عمل دے او فرض او واجب نه دی، دلیل دا وائي چه دا په حدیث د مسيئ الصلاة کښې نهٔ دی راغلی او دا مونږ وئیلي وو چه کوم امرونه په غیر د حدیث د مسیئ الصلاة کښې راشي نو هغے نه به وجوب نه وی مراد او حدیث المسیئ به د هغے دپاره قرینه صارفه وی ځکه که دا امور واجب وے نو په حدیث د مسیئ الصلاة کښې به ذکر شوی وی (نیل الاوطار ۲/۲۰۲)

لیکن راجح دا ده چه ټول فرائض اوواجبات په حدیث د مسیئ الصلاة کښې نهٔ دی ذکر بلکه هلته بقدر الحاجت ذکر دی لهذا ظاهر دا معلومیږي چه وضع الیدین دِے هم واجب شي۔ حسین بن عوده وائي: ما د خپل شیخ (البانيؒ) نه تپوس اوکړو چه وضع الیدین تاسو واجب ګڼرئ؟ هغه جواب راکړو چه وضع الیدین مطلقا واجب دی او په دغه خاص کیفیت مسئوله سره سنت دی۔ انظر الموسوعة الفقهية الميسرة (۲/۹)۔

عَلٰى ذِرَاعِهِ الْيُسْرٰى فِي الصَّلَاةِ : ذراع لیچے ته وائي چه د څنګلے د طرفنه شروع کیږي او په طرف د مینځنئ ګوته ختمیږي او دیته ساعد هم وائي بیا پدے حدیث کښې دا نهٔ دی بیان شوی چه د لیچے په کومه حصه ئے کیخودل خو هغه په حدیث د وائل کښې راغلی دی کما سیأتي۔

مسئله : کیفیة وضع الیدین:

د لاسونو کیخودلو کښې دوه طریقے احادیثو کښې راغلی دی: (۱) وضع (۲) دویم قبض۔ ښیے لاس په ګس لاس کیخودل پدے طریقه چه ښیے لاس بره کیدی په ورغوی د ګس لاس او مروند او لیچه باندے لکه چه دا په حدیث د وائل بن حجر کښې دی: قال: قلت: لانظرن الي رسول الله ﷺ کیف یصلي؟ قال: فنظرت الیه قام فکبر، ورفع یدیه حتی حاذتا اذنیه ثم وضع یده الیمنیٰ علی ظهر کفه الیسریٰ والرسغ والساعد (ابوداود والنسائي: ۱/۱۹۳) وابن حبان (٤٨٥) وابن خزیمة (١/٥٤)۔

او پدے صحیح حدیث باندے ابن خزیمه باب ایخودے دے (باب وضع بطن الکف الیمنی علی کف الیسری والرسغ والساعد جمیعا)۔ نو پدے حدیث کښې بیان راغلو چه د نبي لاس ختیه به د ګس لاس په درے ځایونو کیخودے شي د ورغوی په شا او مروند او لیچه باندے په یو ځائے۔

۲- دويم کيفيت : قبض اليد اليسرىٰ دے يعني په ښي لاس سره ګس لاس رانيول لکه دا په حديث د وائلؓ کښې راغلي دي : رأيت النبي ﷺ اذا كان قائماً في الصلاة قبض بيمينه على شماله (نسائي : ۱/۱۹۳) والدارقطني باسناد صحيح۔ نو دا دواړه طريقې سنت کښې راغلي دي او ديته تنوع في العبادات وائي او ددے په مابين کښې هيڅ تعارض او تدافع نشته ځکه دا په مختلف اوقاتو کښې شويدي۔

بعض علماء لکه رد المحتار (۱/۴۵۴) کښې ددے دواړو جمع ئے په دے طريقه کړيده چه ښي لاس به په ګس لاس باندے کيدي او مړوند به ئے د ښي لاس په کچه او غته ګوته کښې اونيسي او درے ګوتے به په ليچه باندے خورے کړي ۔ ليکن دا طريقه تکلف او بدعت دے او دا جمع بين الاحاديث نه ده بلکه په يو حديث هم عمل نه راځي دواړه خراب شو نو بدعتي سړے په يو حديث هم پوره عمل نشي کولے۔ او دے تطبيق ته ضرورت نشته ځکه تعارض پدے اعمالو کښې نشته هريو بيل بيل سنت عمل دے لکه دا خبره شيخ الباني په صفة صلاة النبي ص (۶۱) کښې ذکر کړيده او دغه طريقے ته ئے دوکه او بدعت وئيلے ده ۔

تنبيه : ددے دواړو طريقو نه معلومه شوه چه ليچه په ليچه باندے کيخودل په هيڅ حديث کښې ندي راغلي لهذا کوم عوام خلق چه دا کار کوي چه ښي ورغوے د ګس لاس په څنګله باندے کيدي يا هغے ته نزدے کيدي او بيا هغه د ښي لاس په ګوتو کښې راونيسي نو دا طريقه هيڅ اصل نه لري ددے نه ځان ساتل پکار دي ۔ وانظر المرعاة (۳/۶۰)

۳- المسئلة الثالثة : موضع وضع اليدين :

ذراعه اليسرى : پدے حديث کښې سهل بن سعدؓ دا ذکر نه کړل چه په کوم ځائے کښې به لاسونه تړي نو پدے کښې اختلاف دے ۔ (۱) **شوافع** وائي : او په قول د نوويؒ جمهور علماء وائي چه لاسونه به د سينے لاندے او د نامه نه بره تړي او دے کښې دويم کيفيت دا چه د سينے دپاسه ئے اوتړي ۔

(۲) **احناف** وائي : تحت السره (د نامه نه لاندے به ئے تړي) ۔

(۳) د **امام احمد** نه دوه روايتونه دي د دغه قولينو مطابق (مسائل احمد کښې عبدالله بن احمد وائي : رأيت ابي اذا صلّى وضع يديه احداهما على الاخرىٰ فوق السرة (ارواء : ۲/۷۰)

او دريم روايت دا چه مصلي دپاره اختيار دے او پدے تخيير باندے اوزاعيؒ او ابن المنذرؒ قول کړيدے ۔ ابن المنذر وائي : لم يثبت عن النبي ﷺ في ذلك شئ فهو مخير (نيل الاوطار : ۲/۲۰۳)

(۴) د **امام مالکؒ** نه دوه روايتونه دي ۱- يو دا چه وضع اليدين تحت الصدر (د سينے لاندے کيخودل) ۲- دويم روايت ارسال اليدين دے اول قول ئے قوي دے ۔

پدے ټولو کښې د جمهورو علماؤ قول قوي دے ۔

دلائل الاقوال -- د جمهورو دلائل دا دي :

۱– حدیث د وائل بن حجرؓ کښې دی : قال صلیت مع النبی ﷺ فوضع یده الیمنی علی یده الیسری فوق صدره وفی روایة علی صدره اخرجه ابن خزیمة (۱/۵٤) وابوالشیخ فی تاریخ اصفهان (۱۲۵) وصححه ابن خزیمه وسنده صحیح وله طریق اخری عند احمد وابی داود والنسائی والدارمی وابن الجارود والبیهقی (۲/۳۰) باسناد صحیح علی شرط مسلم وصححه ایضاً ابن حبان والنووی فی المجموع (۳/۳۱۲)) وابن القیم فی زاد المعاد ـ انظر التنقیح (۱/۳۳۹) (توضیح الاحکام : ۲/۲۱)

نو د نبی علیه السلام نه لاسونه کیخودل په سینه باندې صحیح ثابت شو او په روایت د بزار کښې دی : "عند صدره" (فتح الباری : ۲/۱۷٦) یعنی د سینې په خوا کښې ئې کیخودل ـ شیخ البانیؒ ورته په صفة الصلاة (٦۱) او ارواء الغلیل (۳۵۳) او شیخ عبد الرحمن المبارکفوریؒ ورته په تحفة الاحوذی او ابکار المنن ص (۱۰۷) کښې صحیح وئیلې دې او دې په صحت باندې صاحب د البحر الرائق شرح کنز الدقائق او شیخ محمد قائم السندی خپل کتاب (فوز الکرام) کښې اعتراف کړیدې ـ ابن امیر الحاج چه د ابن همامؒ شاګرد دې او احناف ورته ابن همام ثانی وائی په شرح د منیة المصلی کښې وائی : ان الثابت من السنة وضع الیمین علی الشمال ولم یثبت حدیث یوجب تعین المحل الذی یکون الوضع فیه من البدن الا حدیث وائل بن حجر (المرعاة : ۳/٦۰) او ضیاء المقدسیؒ او علامه ابن الجوزیؒ هم ورته صحیح وئیلې دې ـ او شیخ محمد حیات السندیؒ ورته هم صحیح وئیلې دې (درة فی اظهار غش نقد الصرة : ٦۷) وفتح الغفور للشیخ محمد حیات السندی وصححه ابن سید الناس فی شرح الترمذی والشوکانی فی النیل (۲/۲۰٤) ـ او د حافظ د صنیع نه هم معلومیږی چه د هغه په نیز یا صحیح دې یا حسن ـ التحفة (۱/۲۱٦)

خلاصه دا چه دا حدیث د وائل بالکل صحیح دې او هیڅ قسم طعن پرې نشته دې ـ

۲– **دلیل** : حدیث د قبیصه بن هلب الطائی عن ابیه قال رأیت رسول الله ﷺ ینصرف عن یمینه وعن یساره ورأیته یضع هذه علی صدره – وصف یحیی الیمنی علی الیسریٰ فوق المفصل – ورواة هذا الحدیث کلهم ثقات (غیر قبیصة وهوحسن الحدیث) واسناده متصل (اخرجه احمد ۳/۱۷۲) مع الفتح الربانی وحسن اسناده النیموی فی آثار السنن مع انه حنفی متعصب ـ

او دا حدیث امام ترمذیؒ او ابن ماجهؒ هم زاوړیدې ـ امام ترمذیؒ وائی : حدیث هلب حدیث حسن والعمل علی هذا عند اهل العلم من اصحاب النبی ﷺ والتابعین ومن بعدهم الخ بلوغ الامانی شرح مسند الامام احمد الشیبانی (۳/۱۷۲) نو پدې حدیث باندې هم استدلال د وضع الیدین علی الصدر صحیح دې او ددې حدیث رجال په تحفه الاحوذی (۱/۲۱٦) کښې تفصیلا ذکر شویدی هغې ته رجوع اوکړه وکذا فی ابکار المنن (۱۲۳) وفتاوی الدین الخالص (٤/۹۹)

۳– حدیث مرسل د طاوسؒ دې : امام ابوداود (۱/۱۱۷) نسخه د ابن الاعرابی کښې روایت دې : وهو فی صحیح سنن ابی داود برقم (۷۵۹) بسند صحیح – عن طاوس : قال : کان رسول الله ﷺ یضع

يده اليمنىٰ على يده اليسرىٰ ثم يشد بينهما على صدره وهو فى الصلاة -او دا روايت ابوداود په مراسيل کښې هم راوړيدے ـ او دا حديث اګرکه مرسل حديث دے ځکه طاوسؒ تابعي دے او دده اسناد حسن دے او مرسل حديث د امام ابوحنيفهؒ، مالكؒ، احمدؒ په نزد مطلقا حجت دے او د امام شافعيؒ په نزد باندے هله حجت دے چه په بل سند سره ددے تقويت اوشي برابره ده که هغه مرسل سند وي او که مسند ـ او ددے حديث مؤيد او معاضد هم موجود دے چه هغه حديث د وائل او حديث د هلب الطائي دے ـ (تحفة الاحوذى : ۱/۲۱٦)

دارنګه دا مرسل قابل حجت دے د ټولو علماؤ په نيز باندے اتفاقا ځکه يو خو دا صحيح السند دے تر طاوسؒ پورے دويم دا په ډيرو طريقو موصولاً هم راغلے دے كما فى ارواء الغليل (۷۰/۲) ـ

شيخ البانيؒ فرمائي : فكان حجة عند الجميع، واسعد الناس بهذه السنة الصحيحة الامام اسحاق بن راهويه فقد ذكر المروزى فى المسائل ص (۲۲۲) " وكان اسحاق يوتر بنا ...... ويرفع يديه فى القنوت ويقنت قبل الركوع ويضع يديه على ثدييه او تحت الثديين " ـ

٤- حديث وائل بن حجرؓ کښې دي : قلت لانظرنّ الى رسول الله ﷺ كيف يصلى ؟، قال : فنظرت اليه قام فكبر ورفع يديه حتى حاذتا اذنيه، ثم وضع يده اليمنى على ظهر كفه اليسرىٰ والرسغ والساعد الحديث (رواه احمد : ٤/۳۱۸) وابوداود (۷۲۷) والنسائى (۱٤۱/۱) والدارمى (۳۱٤/۱) وابن الجارود (۱۱۰،۱۱۱) والبيهقى (۲۷/۲، ۲۸، ۱۳۲/۲) ـ شيخ البانيؒ په ارواء الغليل (۶۹/۲) کښې وائي : قلت : وهذا اسناد صحيح على شرط مسلم، وصححه ابن خزيمة كما فى الفتح (۳٦٦/۲) وابن حبان كما فى خلاصة البدر المنير (ق ۲۳ /۱) وكذا صححه النووى فى المجموع (۳۱۲/۳) وابن القيم فى زاد المعاد (۸٥/۱)ـ نو پدے حديث کښې دا راغلل چه رسول الله ﷺ به ښے لاس د ګس لاس د ورغوى په شا او په مړوند او مټ باندے کيخودلو او کله چه انسان ښے لاس په مټ باندے کيدى نو ضرور لاسونه د نامه نه بره راځي او د سينے بيخ ته لګي پدے دِ خلق تجربه اوکړي پخپله به ورته معلومه شي ـ

٥- دليل : زمونږ پدے حديث الباب کښې دي : كان الناس يؤمرون ان يضع الرجل اليد اليمنى على ذراعه اليسرى فى الصلاة (بخارى ۱۰۲/۱) ومالك فى الموطأ (۱٤۳/۱) نو په ليچه باندے لاس کيخودلو سره لاسونه د نامه نه بره راځي فتدبر ـ

نو دا ټول صحيح حديثونه دليل دے ددے خبرے چه سنت طريقه په لاسونو کيخودلو کښې دا ده چه په سينه باندے کيدى يا ئے د سينے خوا ته کيدى او د نامه نه لاندے به ئے نه ږدى ځکه هغے باره کښې هيڅ صحيح حديث نشته لکه چه تا ته به معلومه شي، او بعض علماؤ په آيت (فصل لربك وانحر) استدلال کوى چه لاس په سينه باندے ږده او دا تفسير د علي او ابن عباس نه نقل دے ليکن دا ضعيف سند سره ثابت دے ددے په سند او متن کښې اضطراب دے او د ابن عباس په

روایت کښې هم ضعیف جدا راوی دے (عمرو بن مالك النکری منکر الحدیث (قاله ابن عدی) السنن الکبری (۲/۳۰)۔

دلائل الاحناف او د هغې جائزه او تحقیق :

۱ – دلیل : احناف استدلال کوی په حدیث د علی بن ابی طالبؓ چه هغه فرمائیلی دی : من السنة فی الصلاة وضع الاکف علی الاکف تحت السرة (اخرجه احمد : ۹۲ – وابوداود : ۷۵۶: ۱/۱۱۷) والدارقطنی (۱/۲۸٦) رقم (۱۰۷) والبیهقی (۲/۳۱) وابن ابی شیبة (۱/۳۹۱) انظر الارواء (۲/٦۹) یعنی په مانځه کښې لاسونه د نامه نه لاندے کېښودل سنت دی۔

الجواب : دا اثر ضعیف دے ځکه ددې په سند کښې عبد الرحمن بن اسحاق الواسطی اتفاقی ضعیف راوی دے احمد او ابوحاتم وائی : منکر الحدیث دے، ابن معین وائی : لیس بشیء، بخاری وائی : فیه نظر۔ بیهقیؒ وائی : لایثبت اسناده تفرد به عبد الرحمن بن اسحاق الواسطی وهو متروك۔ امام نوویؒ فرمائی : وهو حدیث متفق علی تضعیفه شرح مسلم (۱/۱۷۳) والمجموع (۳/۳۱۳) والتنبیه (۲/۵۳۱)

۲ – دارنګه ددې په سند کښې زیاد بن زید السوائی دے او هغه مجهول دے کما فی التعلیق المغنی علی سنن الدارقطنی (۱/۲۸٦) والدرایه علی هامش الهدایه (۱/۱۰۱)۔ حافظ فرمائی : وهو حدیث ضعیف۔ فتح الباری (۲/۱۸٦) حافظ زیلعیؒ هم ورته ضعیف وئیلے دے (نصب الرایة : ۱/۳۱٤)۔ شیخ البانیؒ فرمائی : دا حدیث ضعیف دے د عبد الرحمن الواسطی په وجه او دارنګه د هغه نه اضطراب هم پکښې واقع شویدے بیائے هغه اضطراب ذکر کړیدے۔ ارواء الغلیل (۲/٦۹) او بل دلیل د ضعف ددې روایت دا هم دے چه د علی رضی الله عنه نه ابن جریر الضبی عن ابیه په صحیح سند سره نقل کړیدی : رأیت علیاً رضی الله عنه یمسك شماله بیمینه علی الرسغ فوق السرة "۔ دیته علامه بیهقی (۲/۱۳۰) حسن وئیلے دے اما بخاری (۱/۳۰۱) معلق ذکر کړیدے په صیغه د جزم سره او ابوداود په نسخه د ابن الاعرابی (۱/۱۱۷) کښې ذکر کړیدے۔ شیخ البانیؒ ورته حسن وئیلے دے (۲/۷۰)۔ تفسیر قرطبی کښې دی : وروی عن علی انه وضعهما علی صدره : (۲۰/۲۲۱) تفسیر سوره الکوثر۔

نو ددے حدیث نه استدلال د څلورو وجوهو نه صحیح نه دے ۱ – ضعف د عبد الرحمن الواسطی ۲ – جهالت د زیاد السوائی ۳ – دا روایت مخالف دے د صحیح یا حسن روایت د علیؓ نه۔ ٤ – څلورم علت : اضطراب فی السند۔

شیخ عبد الرحمن المبارکفوریؒ د صاحب " الدرة فی اظهار غش نقد الصرة " حنفی نه نقل کوی چه دا حدیث زمونږ د علماؤ د قاعدے مطابق منسوخ هم دے ځکه زمونږ علماء احناف وائی : کله چه یو راوِی د خپل روایت خِلاف عمل اوکړی نو دا دلیل وی په منسوخ کیدو د

روایت باندے، لهذا د احنافو د خپلے خبرے موافق دغه اول حدیث د علیؓ منسوخ کیدل پکارېدی، نو احناف به ددے نه څنګه استدلال اوکړی؟ آیا دا به په قول او فعل د دوی کښې تعارض نه وی؟
ـ تحفة الاحوذی (۲۱۷/۱)

۲- دلیل : حدیث د وائل بن حجرؓ : رأیت النبی ﷺ وضع یمینه علی شماله فی الصلاة تحت السرة اخرجه ابن ابی شیبة (۳۹۰/۱) او نیموی په آثار السنن (۹۰) کښې او عبد الحی اللکهنوی په عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة باب صفة الصلاة (۱۶۵/۱) کښې ذکر کړیدے۔

الجواب : دا سند صحیح دے لیکن د تحت السره لفظ ورسره دس البغات دے یعنی بغاتو د ځان نه په مصنف ابن ابی شیبه کښې ننباسلے دے لکه دا خبره په تعلیق د آثار السنن ص (۹۰) کښې هم ذکر ده او شیخ مبارکفوریؒ په ابکار المنن (۱۱۷) کښې تفصیلا ذکر کړیده او ددے خبرے دپاره ډیر شواهد دی : ۱- **شیخ محمد حیات** السندیؒ حنفی وائی : زمونږ احناف پدے حدیث دلیل نیسی لیکن پدے کښې ډیر کلام دے بیا لیکی : لان هذا الحدیث رواه مسلم وابوداود واحمد باسانید والدارقطنی باسنادین مطلقاً من غیر ذکر موضع الوضع وزاد فیه ابن خزیمة فی صحیحه "علی صدره" وهی زیادة قَبِلها المخالف والموافق منهم النووی والضیاء المقدسی وابن الجوزی وابن حجر العسقلانی وابن حجر المکی وابن امیر الحاج الحنفی وصاحب البحر الرائق حیث قالا : لم یثبت حدیث یعیّن محل الوضع الّا حدیث وائل المذکور ووافق ابن خزیمة علی هذه الزیادة البیهقی۔

بیا فرمائی : واختلفت نسخه ففی البعض ذکر الحدیث مطلقاً من غیر تعیین محل الوضع وفی البعض بزیادة تحت السرة فیحتمل ان هذه الزیادة منشأها ترك الکاتب سهواً نحو سطر فی الوسط ۔

یعنی دا حدیث مسلم، ابوداود او دارقطنی نقل کړیدے او په هغے کښې نه د علی صدره لفظ شته او نه د تحت السرة لفظ شته البته ابن خزیمه په خپل صحیح کښې ورسره علی صدره" الفاظ زیاتی کړیدی او دا زیادت د مخالف او موافق دواړو په نیز مقبول دے چه بعض د هغوی نه نووی، ضیاء المقدسی، ابن الجوزی، ابن حجر العسقلانی، ابن حجر المکی دی ۔ او ابن امیر الحاج او صاحب د بحر الرائق هم وئیلی دی چه په تعیین د محل د وضع الیدین کښې صرف حدیث وائل صحیح ثابت دے او بیا د ابن خزیمه سره امام بیهقی هم پدے زیادت نقل کولو موافقت کړیدے ۔ بیا وائی : د "تحت السرة" د زیادت منشأ د کاتب سهوه ده چه یوه کرخه ئے پریخے ده او لاندے کرخه کښې ئے تحت السره لفظ ددغه روایت سره لیکلے دے ۔

بیا وائی چه پدے حدیث کښې د تحت السرة لفظ نشته ځکه که دا لفظ موجود وے نو متقدمین احنافو به ضرور پدے روایت باندے استدلال کړے وے نو بیا امام ابن الهمام، امام عینی، ابن امیر الحاج، ابراهیم حلبی، صاحب د بحر الرائق او ملا علی القاری ولے د خپلے مدعی د اثبات دپاره دا ندے ذکر کړے سره ددے نه چه دا تول حنفیان دی او دے حدیث ته ئے ډیر

احتیاج هم وو؟۔
۳- دارنګه حافظ زیلعیؒ چه هر قسم آثار د مصنف ابن ابی شیبه نه نقل کوی نو دائے ولے نقل نکړو که دا زیادت د تحت السره پدے حدیث کښې موجود وے نو خامخا به ئے ذکر کړے وے۔
٤- دغه شان سیوطی په الجامع الکبیر کښې د وائل بن حجر نه نهه احادیث د مصنف ابن ابی شیبه نه رانقل کړیدی د بعضو الفاظ دا دی: رأیت النبی ﷺ وضع یمینه علی شماله فی الصلاة" نو سیوطی سره ددے نه چه جامع د هر قسم حدیث دے، دا لفظ د هغه په وخت کښې په دغه حدیث د ابن ابی شیبه کښې نه وو موجود، دارنګه ابن الترکمانی په دوه ضعیف حدیثونو استدلال کړیدے او دا حدیث ئے ندے راوړے۔
٤- حافظ ابن عبد البرؒ په التمهید کښې پدے باب کښې د ابن ابی شیبه نه ډیر زیات نقل کړیدے نو که دا لفظ په ابن ابی شیبه کښې موجود وے هغه به ذکر کړے وے۔
٥- دغه شان علامه عینیؒ د وائل بن حجرؓ علی صدره والا روایت د ابن خزیمهؒ نه نقل کړیدے او بیا ئے وئیلی دی چه احتج الشافعی بحدیث وائل بن حجر۔ او بیا فرمائی: ویستدل علماؤنا الحنفیة بدلائل غیر وثیقة آهـ۔ یعنی د امام شافعیؒ سره حدیث د وائل بن حجر دے او زمونږ د علماؤ دلائل بے اعتماده (ضعیف) دی۔ نو که دا زیادت د تحت السره په مصنف کښې موجود وے نو ضرور به ئے د هغه نه نقل کړے وے ځکه چه هغه خپل ټول تصانیف د ابن ابی شیبه د روایاتو نه ډک کړیدی۔
٦- او ابن امیر الحاج نه مونږ مخکښې عبارت نقل کړو چه په هغے کښې ئے د علی صدره والا روایت ته صحیح وئیلے دے نو که تحت السره زیادت صحیح وے نو دا به ئے ذکر کړے وے۔
انظر تحفة الاحوذی (۲/۲۱٤) والدرة فی إظهار غش نقد الصرة ص (٦۷،٦۹) للشیخ محمد حیات السندی المتوفی (۱۱٦۳هـ) نو ثابته شوه چه دا زیادت ضعیف دے او خطائی ده۔
۳- **دلیل**: اثر د تابعی ابو مجلزؒ دے چه ابن ابی شیبه نقل کړے دے (۱/۳۹۱) حجاج بن حسان وائی: قلت: کیف اضع؟ قال: یضع باطن کف یمینه علی ظاهر کف شماله ویجعلهما اسفل من السرة ۔ **الجواب**: دا قول د تابعی دے او د مرفوع حدیث خلاف دے چه د هغے معارض نشی واقع کیدے، علاوه لا دا چه د ابو مجلز نه وضع الیدین فوق السره ثابت دی۔ (ابکار المنن ص (۱۲۳)۔
٤- **دلیل**: اثر د ابراهیم نخعیؒ ذکر کوی قال: یضع یمینه علی شماله فی الصلاة تحت السرة (مصنف ابن ابی شیبة: ۱/۳۹۰)
الجواب: دا ضعیف اثر دے په سند کښې ئے ربیع بن صبیح سیئ الحفظ راوی دے لکه حافظ په التقریب (۲۰٦ رقم: ۱۸۹٥) کښې دا خبره ذکر کړیده۔ ابکار المنن: ۱۲۳)۔
امام ذهبیؒ فرمائی: الربیع بن صبیح البصری عن الحسن قال ابوزرعة: صدوق وضعفه النسائی وابن

معين المغني في الضعفاء ۱/۳۴۷رقم: ۲۰۹۶) ابن حبان وائي: لايعجبني الاحتجاج به اذا انفرد۔ الثقات لابن حبان (۶/۲۹۹)۔ ذويم دا چه دا د يو تابعي قول دے اود تابعي قول حجت نشي كيدے بله دا چه دا د مرفوع حديث خلاف هم دے فلا يقبل۔

۵- دليل: د نامه لاندے لاسونو كيخودلو كښ تواضع او عاجزي زياته ده۔

الجواب: په سينه كښ زړه دے او زړه ځائے د نيت او توجه دے او عادت پدے باندے بناء دے چه څوك د يو شي حفاظت كوي نو په هغے باندے لاسونه ږدي۔

دارنگه پدے زړه كښ د ايمان د رڼرا حفاظت كيږي نو دا غوره ده چه په زړه باندے لاس كيخودلے شي نه دا چه عورت طرفته اشاره اوشي۔

۲- بله دا چه تحت السره خو عورت وي او په عورت باندے لاس كيخودل يا عورت له گوتے وروړل دا د تعظيم مناسب نه بلكه د استهزاء مشابه كار دے۔

۳- دارنگه هر كله چه لاسونه په سينه باندے كيخودل د نبي عليه السلام نه په صحيح سند ثابت شو نو خشوع بعينه په سينه باندے لاسونو كيخودلو كښ ده ځكه كه داسے نشي نو ددے مطلب خو بيا دا جوړيږي چه العياذ بالله نبي عليه السلام په بے خشوع او بے عاجزئ ځائے كښ لاسونه ايخودي دي۔

٤- څلورم دا چه دا قياس او عقل مخكښ كول دي د الله د رسول ﷺ په خبره او فعل باندے۔

۵- دارنگه عرف كښ هم كوم انسانان چه د بل سره ملاؤ شي نو د احترام دپاره ورته لاسونه په سينه ږدي او داسے نكوي چه د نامه نه لاندے ورته لاس اونيسي ځكه دا خو بيا بل څه ته اشاره ده۔

نو انصاف ته كه نظر اوكړے شي نو د احنافو سره په تحت السره باندے هيڅ صحيح مرفوع حديث نشته او كوم بعض نور روايات د ابو هريره او د انس چه ذكر كوي نو هغه ټول ضعيف قابل حجت نه دي۔ د ابو هريره په روايت كښ هم عبد الرحمن بن اسحاق الواسطي منكر الحديث متروك راوي دے نو دا حديث صالح د احتجاج نه دے او نه د استشهاد او اعتبار لائق دے او په حديث د انسؓ كښ چه هغه په محلى (۳/۳۰ط دار الباز) كښ ذكر دے بلفظ: ثلث من اخلاق النبوة وفيه - ووضع اليمنى على اليسرى في الصلاة تحت السرة) ليكن ددے سند هم ندے معلوم ابن امير الحاج او ابن نجيم وئيلي دي: ان المخرجين لم يعرفوا فيه موقوفاً ولا مرفوعاً لفظ تحت السرة كذا قال الهاشم السندي في رسالته دراهم الصرة ونقله المباركفوري في التحفة (۲/۲۱۵) وانظر التلخيص الحبير (۱/۲۲٤) ومجمع الزوائد (۲/۱۰۵)۔

شيخ البانيؒ وائي: واما وضع اليدين تحت السرة فهو اما ضعيف واما لا اصل له (صفة الصلاة: ۸۸)

بعض احناف په مذكوره اول حديث د وائل بن حجرؓ دا اعتراض كوي چه دا مضطرب دے ځكه دا حديث په صحيح ابن خزيمةؒ كښ په لفظ د على صدره دے او په بزار كښ عند صدره دے او په

ابن ابی شیبه کښې تحت السره دے۔ لیکن **جواب** دا دے چه په حدیث کښې هر یو اختلاف د الفاظو ته اضطراب نه وئیلے کیږي ځکه شرط د اضطراب دا دے چه ټول الفاظ به برابر وي په قوت کښې او ترجیح به یو جانب ته هم نه وي او دلته داسے نه ده بلکه دلته د ابن خزیمه روایت د على صدره او د بزار روایت عند صدره صحیح دي او تحت السره روایت غلط دے ځکه هغه د کاتب خطائي ده نو په غلط روایت سره په صحیح روایت کښې هیڅ علت نه پیدا کیږي دارنګه على صدره او عند صدره کښې منافات هم نشته بلکه دا دواړه جمع کیدے شي هغه دا چه د سینے په آخري حصه چه لاس کیدے نو دا على صدره هم دے او عند صدره هم دے یا دا چه دا د مختلف اوقاتو عملونه دي لکه د رفع الیدین حذو المنکبین او حذو الاذنین پشان مختلف طریقے د عبادت دي په دے کښې اضطراب نه وي۔

شیخ ابو الحسن په رساله (جواز التقلید والعمل بالحدیث) کښې وائي : فقول بعض الحنفیة بالاضطراب فی حدیث وائل مما لا یصغی الیه (تحفة الاحوذی : ۱/۲۱۶)۔

۲– دارنګه نیموي په آثار السنن کښې یوه خطاء خبره کړیده چه حدیث د هلب الطائي امام احمدؒ روایت کړیدے او سند ئې حسن دے لیکن په دے کښې (على صدره) لفظ شاذ غیر محفوظ دے ځکه چه یحیی بن سعید القطان په دے زیادت کښې مخالفت کړیدے د سفیان او سماك نه ځکه چه هغوی دا زیادت نه ذکر کوی او صرف یحیی ذکر کړیدے او بیا ئې د شاذ یو غلط من نفسه تعریف کړیدے۔

ددے **جواب** دا دے چه د شاذ تعریف دا دے (ماروا‌ه الثقة مخالفا لمن هو اوثق منه) او په دے روایت کښې د سره مخالفت نشته بلکه دا زیادت د ثقه دے او زیادت د ثقه راوي مقبول وي، شذوذ خو په هغه وخت راځي چه مخالفت او منافات موجود وي مثلا یو راوي تحت السره ذکر کړي او بل راوي فوق السره نو هله به ذیته شذوذ وائي او دلته دا زیادت غیر منافي دے او زیادت د ثقه راوي چه منافات د نورو روایاتو سره نه لري نو دا په اتفاق د محدثینو مقبول وي لکه ددے تفصیل عبد الرحمن المبارکفوري جزاه الله احسن الجزاء عن الاسلام والمسلمین په تحفة الاحوذي او ابکار المنن ص (۱۳۲) کښې ذکر کړیدے۔

شیخ سندیؒ په حاشیه د ابن ماجه کښې لیکي : وبالجملة فکما صح ان الوضع هو السنة دون الارسال ثبت ان محله الصدر لا غیر، واما حدیث ان من السنة وضع الاکف على الاکف تحت السرة فقد اتفقو على ضعفه کذا ذکره ابن الهمام نقله عن النووي وسکت علیه انتهی

نو ثابته شوه چه اصل وضع الیدین فوق السره على الصدر دي او تحت السره عمل په سنت کښې ندے راغلے لیکن دا خبره زده کول پکار دي چه که چا لاس تحت السره کیخودل یا فوق السره په هر حال کښې د هغه مونځ کیږي صرف مستحب او سنت عمل ترے فوت شو، د خیر نه

محروم شو، ددې وجې نه امام ترمذیؒ اختلاف المذاهب ذکر کړېدې او بیا وائي : (وکل ذلك واسع عند هم) يعنى پدې عملونو کښې فراخي ده هريو باندې عمل جائز دې البته اختلاف په بهتر والی کښې دې نو دا به سبب د جنګ جګړو او فساد نشي ګرځولې، دې دپاره چه د مسلمانانو وحدت ته نقصان او نه رسي ـ

تنبيه : پدې حديثونو کښې چه کوم راجح عمل ذکر شو پدې کښې سړي او ښځې دواړه برابر دي دواړه به په سينه باندې لاسونه ږدي او داسې هيڅ يو صحيح مرفوع حديث نشته چه هغې کښې فرق راغلې وي او حال دا چه "صلوا کما رأيتموني اصلي" حکم سړو او ښځو ته يو شان شامل دې لکه دا د نصوصو د خطاباتو طريقه ده چه سړي ذکر کوي او ښځې په هغې کښې داخل وي ـ ۲ – دارنګه امام ابراهيم نخعيؒ (من صغار التابعين) وائي : تفعل المرأة في الصلاة كما يفعل الرجل اخرجه ابن ابي شيبة (۱/۷۵) بسند صحيح ـ

۳– امام بخاري په خپل کتاب تاريخ صغير ص (۹۲) کښې په صحيح سند سره د ام الدرداء نه روايت کوي : انها كانت تجلس في صلاتها جلسة الرجل و كانت فقيهة انتهى ـ او صحيح بخاري (۲/۲٤۲)ـ يعني ام الدرداء رضي الله عنها به د سړو پشان مونځ کولو ـ

نو احناف چه دا وائي چه سړي به لاسونه تحت السرة تړي او زنانه به ئې په سينه تړي (لانها استر لها) ځکه دا د زنانه دپاره ډير پټونکې دې نو پدې فرق باندې هيڅ دليل د سنت نه هم نشته او نه د يو صحابي قول نه او دارنګه چه وائي ښځه به په سجده کښې خيټه د ورنونو سره لګوي (پرېخه سجده به کوي) نو دې باره کښې چه کوم حديث په مراسيل د ابوداود کښې راغلې دې د يزيد بن ابي حبيب نه نو هغه مرسل ضعيف دې عبد الله بن العمري مشهور ضعيف راوي پکښې دې (انظر صفة صلاة النبي ص : ۱۵۱)

۱۰ – وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا قَامَ اِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُوْلُ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، حِيْنَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ، ثُمَّ يَقُوْلُ وَهُوَ قَائِمٌ : رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَهْوِيْ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَسْجُدُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ، ثُمَّ يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتّٰى يَقْضِيَهَا، وَيُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوْسِ . متفق عليه.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله مانځه ته اودريدو نو په وخت د اودريدو کښې به ئې تکبير اوکړو بيا رکوع ته د تلو په وخت به ئې تکبير کولو بيا به سمع الله لمن حمده اووئيل په وهغه وخت چه د رکوع نه به ئې ملا پورته کړه بيا به ئې د ولاړې په حالت کښې ربنا لك الحمد اووئيل بيا چه به (د سجدې دپاره) ځکته کيدو نو تکبير به ئې اوکړو بيا (د

سجدے نه) سر پورته کولو په وخت به ئے تکبیر اوکړو بیا د مانځه پوره کولو پورے به ئے په مانځه کښې دغه کار کولو او کله چه به د دوه رکعاتو نه پس پورته کیدو نو تکبیر به ئے کولو۔

تشریح : اِذَا قَامَ اِلَی الصَّلَاۃِ : یعنی په وخت د قیام کښې به ئے تکبیر کولو ددے نه امام ابن دقیق العیدؒ دا فائده معلومه کړیده چه تکبیر به په حال د قیام کښې کوی او دا په فرائضو کښې په حالت د قدرت کښې په ولاړه باندے فرض دے نو که په حالت د انحناء کښې تکبیر اوکړی نو دا به تکبیر تحریمه نه وی او سړے به پدے سره مونځ کښې داخلیدونکے نه حسابیږی۔

بیا ابو هریره پدے حدیثونو کښې تکبیرات د نبی علیه السلام نقل کوی غرض ئے دا دے چه د بنی امیه امامانو په مانځه کښې بعض تکبیرات الانتقال پریخودی وو د تساهل په وجه نو ابو هریره ؓ په هغوی باندے رد کولو دپاره دا حدیث نقل کړو چه دا تکبیرات خو به نبی علیه السلام کول ددے پریخودل مناسب نه دی، بیا دا حدیث تفسیر دے د حدیث یکبر فی کل خفض ورفع دپاره۔

مسئله : ازالة الخیالات فی حکم تکبیرات الانتقالات

اوس دلته حکم د تکبیرات انتقال بیانیږی نو پدے کښې د اهل العلم اختلاف دے

۱– بعض وائی : دا تکبیرات واجب دی او دا مشهور قول د امام احمدؒ دے او دا مذهب د اسحاقؒ، داودؒ او ابن حزمؒ دے۔

دلیل : دا وائی چه رسول الله ﷺ پدے باندے مداومت او مواظبت کړے دے او هیڅ کله ئے هم ندی پریخی، او نبی علیه السلام امت ته حکم کړیدے د خپل مانځه په تابعداریٔ باندے (صلوا کما رأیتمونی اصلی) او د هغه امر د وجوب دپاره دے نو لهذا دا تکبیرات واجب شو۔

۲– **دلیل** : حدیث د مسیئ الصلاۃ کښې مخکښې تیر شویدی چه هغه ته ئے ددے تکبیراتو تعلیم ورکړو، او دا ئے ورته اوفرمائیل : (انه لا تتم صلاۃ لاحد من الناس حتی یتوضأ ...... ثم یقول الله اکبر ثم یرکع ...... ثم یقول الله اکبر الحدیث (ابوداود : ۱/۱۳۲) بسند صحیح واخرجه الائمة۔

نو دا واضح دلیل دے چه بغیر د الله اکبر وئیلو نه په انتقال د یو رکن کښې – مونځ نه پوره کیږی او عدم اتمام د ترک د بعض ضروری اشیاؤ په وجه دے۔

۲– امام نوویؒ په المجموع (۳/۳۹۷) کښې وائی : دا تکبیرات ټول سویٔ د تکبیر تحریمه نه سنت دی زمونږ په نیز (شوافع) او دا مذهب د جمهورو علماؤ دے د صحابه او تابعینو او د هغوی نه روستو خلقو، ابن المنذرؒ نه ئے نقل کړیدے : وبهذا قال ابوبکر الصدیق وعمر وابن مسعود وابن عمر وجابر وقیس بن عباد وشعیب والاوزاعی وغیرهم وعوام اهل العلم۔

۳– بعض علماء وائی چه دا تکبیرات الانتقالات سویٔ د تحریمه نه بالکل مشروع نه دی یعنی ددے لوستل سنت او مستحب نه دی او دا قول سعید بن جبیر، عمر بن عبد العزیز، او

حسن بصری ته منسوب دے۔ ابوالحسن بن بطالؒ په شرح د بخاری کښې د معاويه بن ابی سفيان ، ابن سيرين، قاسم بن محمد، سالم نه نقل کړيدے، او امام بغویؒ چه دا خبره ذکر کړيده چه : اتفقت الامة على هذه التكبيرات) نو دا ئے صحيح نه ده شايد چه هغه ته به دا اقوال نه وی رسيدلی ۔ المجموع (۳۹۷/۳)۔

دليل : د جمهورو سره حديث د عبد الرحمن بن ابزیٰ دے : انه صلى مع رسول الله ﷺ وكان لا يتم التكبير) امام ابوداوُدؒ ددے داسے معنی کړيده : معناه اذا رفع رأسه من الركوع واراد ان يسجد لم يكبر واذا قام من السجود لم يكبر۔ **الجواب** : دا روايت ضعيف دے ددے په سند کښې الحسن بن عمران دے، امام بخاری (التاريخ) کښې د ابوداود الطيالسی نه نقل کړيدے : هذا عندنا باطل ۔ طبری په تهذيب الآثار کښې او بزار وئيلی دی : تفرد به الحسن وهو مجهول ۔ وذكره ابن حبان فی الثقات وقال ابوزرعة شيخ ۔ نو دا سند ثابت نه دے۔

که اومنو چه ثابت دے نو بيا ددے داسے معنی پکار ده چه د نورو احاديثو سره ئے تعارض رانشی ۔ او هغه دا چه : لم يتم الجهر او لم يمد) يعنی په تکبير باندے به ئے پوره جهر نه کولو او اوګد ولو به ئے نه ۔ انظر المرعاة (۶۵/۳)

او په کوم حديث د بخاری کښې چه دی عکرمهؒ وائی : صليت خلف شيخ بمكة فكبر ثنتين وعشرين تكبيرة فقلت لابن عباس انه احمق فقال ثكلتك امك سنة ابی القاسم ﷺ (بخاری)۔ نو دا خو يو رد دے په هغه خلقو چه دا تکبيرات مشروع نه ګڼړی دويم دا چه تکبيرات سنت دی ليکن دا خبره زده کول پکار دی چه سنت په شريعت کښې د پيغمبر طريقے ته وائی او هغه به کله په درجه د فرضيت او وجوب کښې وی او کله به په درجه د استحباب کښې وی نو ددے حديث نه نفی د وجوب د تکبيراتو نشی کيدے۔

نو ثابته شوه چه دا تکبيرات الانتقالات واجب دی او پريخودلو ئے سره مونځ باطليږی او د امام نوویؒ دا خبره چه دا تکبيرات ځکه واجب نه دی چه په حديث د مسئ الصلاة کښې پدے تکبيراتو باندے امر نه دے شوے نو دا خبره د هغه بے تحقيقه ده تا مخکښې اوليدل چه هغه ته ئے دا تکبيرات اوخودل او په نه وئيلو ددے تکبيراتو ئے د عدم اتمام الصلاة حکم اوکړو خو امام نوویؒ دے خبرے ته متوجه شوے نه دے۔

او د نبی عليه السلام نه په ترك ددے تکبيراتو کښې هيڅ صحيح حديث نه دے ثابت ۔

فائده : په څلور رکعاتی مونځ کښې (۲۲) تکبيرات الانتقالات دی سره د تکبير تحريمه نه او په درے رکعاتی مونځ کښې (۱۷) تکبيرات دی او په دوه رکعاتی کښې (۱۱) تکبيرات دی سره د تکبير تحريمه نه ۔ نو په پنځو مونځونو کښې سره د تکبير تحريمه نه (۹۴) تکبيرات او بغير د تکبير تحريمه نه (۸۹) تکبيرات جوړيږی ۔

فائده ۲: اول پریخودونکے د تکبیرات انتقالات څوك دے؟ ، پدے باره کښں امام احمدؒ د مطرف نه نقل کړیدی چه ما د عمران بن حصین نه تپوس اوکړو چه (اول من ترك التکبیر) اول تکبیر چا پریخودے دے ؟ هغه اووئیل : (عثمان بن عفان حین کبر وضعف صوته) ـ بعض وائی ددے معنی ده چه جهرئے پریخودے وو ـ

او طبرانی د ابو هریره ﷺ نه نقل کړیدی چه (اول من ترك التکبیر معاویة) ابوعبیدؒ نقل کړیدی چه اول پریخودونکے د تکبیراتو زیاد وو نو ددے تطبیق دا کیدے شی چه اول پریخودونکے عثمان وو او د هغه په تابعداری کښں معاویه او د هغه په تابعداری کښں زیاد پریخودی وی، طحاویؒ وائی : یو قوم به تکبیر د خفض پریخودو نه د رفع ـ او دا د بنو امیه عمل وو اود روستو امت په نزد باندے ددے په کولو اتفاق دے ـ لیکن حقه داده چه عثمان ﷺ جهر پریخوستے دے نه نفس تکبیر لیکن خلقو د هغه غلطه اتباع شروع کړه ـ

ثُمَّ يَقُوْلُ وَهُوَ قَائِمٌ : رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ : دا حدیث دلیل دے چه امام به هم ربنا لك الحمد وائی او مقتدی به ئے هم وائی یواځے مونځ کونکے به ئے هم وائی ځکه دلته ابو هریره د رسول الله ﷺ د مانځه حکایت کوی او هغه سمع الله لمن حمده او ربنا لك الحمد دواړه وئیلی دی نو دا به یا حالت د امامت وی او یا به د منفرد وی، ظاهره دا ده چه دا د امامت حالت دے ځکه دا اکثر او اغلب وی او د جهر تکبیرونه پکښں دی لیکن (صلوا کما رأیتمونی اصلی) روایت ددے تعمیم ته اشاره کوی ------ بیا دلته دوه مسئلے دی :

۱- المسئلة الاولی : طرق التحمید : د ربنا لك الحمد څلور قسمه الفاظ په احادیثو کښں ثابت دی ۱– ربنا لك الحمد لکه دا په دے حدیث متفق علیه کښں راغلل ـ ۲– اللهم ربنا لك الحمد بدون الواو لکه دا په روایت د بخاری او مسلم کښں راغلے دے وصححه الترمذی (۱/ ۶۱) ایضا ـ ۳– ربنا ولك الحمد مع الواو (بخاری ومسلم) ٤– اللهم ربنا ولك الحمد (بخاری : ۱/ ۱۰۹ و ۱۱۰) مسلم (۱/ ۱۶۹) ، ابوعوانه (۲/ ۹۲و۹۳)، أحمد، ابوداود) صفة صلاة النبی (۱۰۲) و کشف النقاب (۳/ ٤۷۲) ـ

حافظ ابن القیمؒ ددے څلورم په باره کښں وائی : چه اللهم او واو دواړه جمع کولو باره کښں نبی علیه السلام نه صحیح ثبوت نشته (زاد المعاد : ۱/ ۲۱۲) لیکن راجح دا ده چه حافظ ابن القیم صاحبؒ تسقیق پدے مقام کښں خطاء دے ځکه چه دا په بخاری (۲/ ۲۳٤) باب ما یقول الامام ومن خلفه الخ کښں او امام نسائی (۲/ ۱۹۵) او ابن ماجه (۸۷۷) او دارمی (۱/ ۳۰۰) کښں د ابو موسی اشعریؓ او ابن عمرؓ او ابو سعیدؓ نه نقل کړے دے کما قال معلق زاد المعاد شعیب الارناووط ـ

۲- المسئلة الثانیة : اختلاف دے چه آیا امام او مقتدی به سمع الله لمن حمده (تسمیع) او ربنا لك الحمد (تحمید) دواړه وائی او که یو ؟ ـ

۱– نو د امام ابوحنيفةؒ قول دا دے چه يواځے مونځ کونکے او امام به فقط سمع الله لمن حمده وائي او مقتدي به فقط ربنا لك الحمد وائي او دا قول ابن المنذرؒ د ابن مسعودؓ، ابو هريرةؓ، شعبيؒ، مالكؒ، او احمدؒ نه نقل کړيدے (حاوی)

صاحب الهدايه (١٠٦/١) وائي : والمنفرد يجمع بينهما في الاصح ـ يعني د امام صاحب اصح قول دا دے چه منفرد به دواړه وائي ـ **۲– امام ابويوسفؒ** او محمدؒ وائي : امام او منفرد به دواړه وائي او مقتدي به صرف سمع الله لمن حمده وائي ـ ليکن سيوطيؒ په الحاوی للفتاوی (٣٦/١) کښې داسے نقل کړيدي : چه ابويوسفؒ، محمدؒ، اوزاعيؒ، او ثوريؒ او احمدؒ وائي چه امام به دواړه ذکرونه وائي او مقتدي به صرف ربنا ولك الحمد وائي ـ

۳– بعض وائي : هر مونځ کونکي دپاره دا مستحب دی چه دا دواړه به وائي امام وي او که مقتدي وي او که منفرد وي او دا قول د عطاءؒ، ابوبردةؓ، محمد بن سيرينؒ، اسحاق بن راهويهؒ، داودؒ، ابوداودؒ، او امام شافعيؒ دے او دا يو قول د امام مالكؒ دے او صاحب د مغني (٥٨٣/١) وائي : دا مشهور قول د امام احمدؒ هم دے او دا قول د اکثرو علماؤ دے بيا ئے پکښې ابو هريرةؓ، ابن مسعودؓ، شعبيؒ، ابن سيرينؒ او شافعيؒ او اسحاقؒ او ابن المنذرؒ ذکر کړيدي او دا قول راجح دے په اعتبار د دليل سره ـ انظر اختلاف الاقوال في نيل الاوطار (٢٧٧/٢) والمغني (٥٨٣/١) والحاوی للفتاوی (٣٦/١) وطرح التثريب (٣٣٢/٢) وانظر ما بعد هذا في باب الركوع رقم الحديث (٧)

دلائل : ۱– احناف ددے حديث نه استدلال کوي : اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا لك الحمد (بخاري ١٠٩/١) صاحب هدايه (١٠٦/١) داسے استدلال کوي چه پدے حديث کښې تقسيم شويدے د امام او مقتدي دپاره چه امام کله سمع الله لمن حمده وائي نو تاسو ربنا ولك الحمد وايئ او تقسيم منافي د شرکت دے نو ځکه به امام دواړه شريك نه وائي او مقتدي به هم دواړه نه وائي ـ ددے **جواب** دا دے چه دا استدلال صحيح نه دے ځکه (١) – چه دا حديث د تقسيم دپاره ندے چلولے شوے بلکه پدے کښې صرف دا مسئله ده چه مقتدي به تحميد وائي لکه څنګه چه امام تسميع وائي نو پدے کښې د امام نه د تحميد نفي نشته او د مقتدي د تسميع نفي نشته ـ (٢) – دويم دا چه پدے حديث کښې مقصود د ربنا لك الحمد ځائے بيانول دی چه مقتدي به کله ربنا ولك الحمد وائي ؟ نو هغه ځائے دا دے چه کله امام سمع الله لمن حمده اووائي نو د هغے نه بعد به مقتدي ربنا لك الحمد وائي ـ (کما في تنقيح تحقيق احاديث التعليق ٣٩٣/١) ځکه ربنا لك الحمد ذکر د اعتدال او استواء دے او سمع الله لمن حمده ذکر د رفع الرأس دے نو مطلب دا چه مقتدي به تحميد په حالت د اعتدال کښې وائي نه مخکښې ـ الحاوی للسيوطي (٣٦/١) نو پدے کښې دا خبره نشته چه امام به ربنا لك الحمد نه وائي او مقتدي به سمع الله لمن حمده نه وائي او د نورو احاديثو نه د دواړو دپاره وينا ثابته ده کما سيأتي

علامه ابن ابی العز الحنفیؒ په التنبیه علی مشکلات الهدایه (۲/۵۴۹) کښې وائی : "د صاحبینو قول قوی دے ځکه دا قول : «فقولوا ربنا لك الحمد» احتمال لری چه ضمیر راجع شی صرف قوم ته او دا احتمال هم لری چه ضمیر قوم او امام دواړو ته راجع شی او حدیث کښې دی چه نبی علیه السلام به دواړه ذکرونه جمع کول نو دا دلیل دے چه امام پدے ضمیر د جمع کښې داخل دے د قوم سره لکه د آمین په وئیلو کښې چه امام د مقتدیانو سره داخل دے ـ انتهیٰ

۳– دریم دا چه دا حدیث د تقسیم دپاره ندے بیان شوے ځکه دا په شان ددے قول د نبی علیه السلام دے چه «اذا قال الامام ولا الضالین فقولوا آمین» نو دلته دا مطلب نه دے چه امام به آمین نه وائی ځکه دا هم تقسیم دے، بلکه مطلب دا دے چه د امام د ولا الضالین د خلاصولو نه روستو به آمین وایئ که ته اووائے چه په بل حدیث کښې آمین وئیل د امام دپاره ثابت دی چه اذا امن الامام فامنوا نو مونږ وایو چه د امام دپاره ربنا لك الحمد او د مقتدی دپاره سمع الله لمن حمده هم په نورو احادیثو کښې ثابت دی ـ نو ثابته شوه چه ددے حدیث مطلب تقسیم نه دے او دا د هدایه مولا بعید استدلال دے چه د احادیثو مطابق نه دے۔

٤– څلورم دا چه که اومنو چه دا حدیث نفی د تحمید د امام او تسمیع د مقتدی کوی نو بیا وایو چه دا احادیث ظاهر دی او بل طرفته د امام دپاره د تحمید لوستل او مقتدی دپاره تسمیع لوستل په نصوصو کښې راغلی دی او دا اصولی مسلمه قاعده ده چه احناف ئے هم خپلو کتابونو کښې په جذبه سره بیانوی چه عند التعارض نص مقدم وی په ظاهر باندے او د نص په مقابله کښې به ظاهر متروك العمل وی۔

دارنګه پدے حدیث کښې سکوت دے د امام د تحمید نه او د مقتدی د تسمیع نه او نور احادیث ناطق دی په ویناد دواړو ذکرینو د دواړو دپاره، او دا هم مسلم قانون دے چه ناطق مقدم وی په ساکت باندے یا منطوق مقدم وی په مفهوم باندے ـ

حافظ ابن قیم الجوزیهؒ د سنت صریحه د ترك مثال کښې دا هم ذکر کړیدی چه دلته د تسمیع المقتدی او تحمید الامام احادیث صحیح صریح دی او دا حدیث «اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا ولك الحمد متشابه دے او پدے متشابه حدیث سره صحیح صریح احادیث احنافو رد کړیدی ـ (اعلام الموقعین ۲/۳۹۹)

۵– علامه سیوطیؒ په الحاوی للفتاوی (۱/۳۷) کښې فرمائی : ددے حدیث معنی دا ده : ربنا لك الحمد اووایئ سره د هغه نه چه تاسو ته معلومه شویده د سمع الله لمن حمده وئیلو نه (یعنی ربنا لك الحمد ملګرے کړئ د سمع الله سره) او نبی علیه السلام ددے په ذکر کولو تخصیص اوکړو وجه دا ده چه صحابه کرامؓ به د نبی علیه السلام جهر په سمع الله لمن حمده باندے اوریدلو ځکه سنت په سمع الله لمن حمده کښې جهر دے او ربنا لك الحمد به ئے نه اوریدلو

غالباً ځکه هغه به ئے پټ وئیلو او هغوی ته دا وینا د نبی علیه السلام معلومه وه چه صلوا کما رأیتمونی اصلی (زما پشان مونځ کوئ) نو د نبی علیه السلام د اقتداء کولو دپاره هغوی ته اووئیل شو ربنا لك الحمد هم وایئ نو هغوی د نبی علیه السلام سره په سمع الله لمن حمده کښ موافق وو نو ځکه ئے هغه ذکر نکړه صرف ربنا لك الحمد وینا ورته نه وه معلومه نو ځکه ئے هغوی ته دا حکم اوکړو چه دا هم وایئ چه زما پوره اقتداء اوکړئ انتهیٰ۔

٦– سیوطیؒ په احنافو رد کوی چه پدغه حدیث کښ دا جمله هم راغلے ده (و اذا صلی جالساً فصلوا جلوساً اجمعون) نو احناف خو دا نه منی ځکه د هغوی په نزد چه امام کله په ناسته مونځ کوی نو مقتدیان به نه کینوی نو هر کله چه دا حکم د احنافو په نیز منسوخ دے نو دغه شان څه مانع دے چه ددے حدیث په اوله جمله کښ دِ هم نسخ یا تخصیص یا تاویل راشی۔ واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال۔

(۳) **دلیل** : صاحب الهدایه (۱/۱۰٦) یو بل عقلی دلیل هم وئیلے دے او هغه دا چه که د امام دپاره ربنا ولك الحمد وئیل مستحب شی نو بیا به دا مام تحمید د مقتدی د تحمید نه روستو شی او دا خلاف دے د موضوع د امامت نه ځکه چه پدے کښ تقدیم د مقتدی راغلو په امام باندے او متابعت ختم شو۔

الجواب : دا دلیل عقلی په مقابله د نص کښ نامنظور دے ۲– بله دا چه متابعت په افعالو کښ ضروری دے او په اقوالو کښ تقدیم په امام باندے جائز دے مثلا امام په سری مونځ کښ فاتحه وائی او ته د هغه نه په بعض الفاظو کښ مخکښ شے یا التحیات وئیلو کښ عام مقتدیان د امام نه مخکښ کیږی وغیره نو پدے کښ هیڅ حرمت نشته ومن ادعیٰ فعلیه البیّان ـ نو د هدایه مولا دا دلیل عقلی په مقابله د نص کښ قیاس دے او دوی خپله وائی چه په مقابله د نص کښ قیاس او عقل لره اعتبار نه وی (انظر التنبیه علی مشکلات الهدایة: ۲/٦۲۲) خو کله چه د مسائلو او د احادیثو نه د جوابونو موقعه راشی نو بیا ترے دا خبره هیره شی۔

بلکه که سوچ اوکړے شی نو دا دلیل برعکس په هدایه مولا باندے رد جوریږی او د قول راجح دپاره دلیل کرخی ځکه مقتدی به یا سمع الله لمن حمده وائی یا نه که نه وائی نو بیا خو تقدیم المقتدی علی الامام راځی ـ بلکه همداسے واقع هم ده ځکه د ډیرو مقتدیانو نه دا اوریدل شویدی چه امام لا سمع الله لمن حمده خلاصه کړی نه وی چه هغه ربنا لك الحمد وئیلی هم وی نو د هدایه مولا دلیل خطاء شو۔

۲– **دویم رد** : علامه ابن ابی العز الحنفیؒ په التنبیه علی مشکلات الهدایه (۲/٥٥٠) کښ فرمائی : فی هذا التعلیل نظر، فانه یشیر الی ان المؤتم یقول : «ربنا لك الحمد» فی حال قول الامام : سمع الله لمن حمده ـ والذی یدل علیه ظاهر السنة ان المؤتم یقول : «ربنا لك الحمد و الله اکبر» بعد الامام فان

في صحيح مسلم من حديث ابي موسى عن النبي ﷺ انه قال : ((اقيموا صفوفكم وليؤمكم اقرأكم فاذا كبر وركع فكبروا واركعوا فان الامام يكبر قبلكم ويرفع قبلكم واذا كبر وسجد فكبروا واسجدوا فان الامام يسجد قبلكم ويرفع قبلكم قال رسول الله ﷺ فتلك بتلك ...... الحديث (رواه مسلم باب التشهد في الصلاة (١/٣٠٣، رقم ٦٢) - **يعني د هدايه مولا پدے تعليل كښ نظر دے ځكه دينه خو معلوميږي چه مقتدى به ربنا لك الحمد د امام د سمع الله لمن حمده سره په يو حال كښ وائى او حال دا چه سنت كښ دا دى چه مقتدى به ربنا لك الحمد او الله اكبر د امام نه روستو وائى الخ۔**

د جمهورو علماؤ دلائل: ١- دليل : دا حديث الباب دے چه صحابى دلته د رسول الله ﷺ د مانځه حكايت ذكر كوى او پدے كښ دوه احتماله دى يو ذا چه دا حالت د امامت وى لكه دا غالبا په احاديثو كښ ذكر كيږى او دا احتمال متعين دے لكه بخارى (١/١١٣) كښ دى ٢- دويم دا چه دا حالت د انفراد وى او ددے تائيد دا دے چه نبى عليه السلام پدے حديث كښ سمع الله لمن حمده سره ربنا لك الحمد هم وئيلے ده او ټول امت ته (سره د امامانو نه) ئے دا حكم كړيدے چه زما پشان مونځ كوئ لهذا د مقتدى او امام او منفرد ټولو دپاره دا ضرورى ده چه دواړه به جمع كوى - انظر المرعاة (٣/٦٤) والحاوى للسيوطى (١/٣٦) ونيل الاوطار (٢/٢٧٨)

٢- دليل : په حديث د مسيئ الصلاة كښ دى : انه لا تتم صلاة لاحد من الناس حتى يسبغ الوضوء –وفيه– حتى يقول سمع الله لمن حمده ...... (ابوداود : ١/٨٣٢) والمحلى لابن حزم (٢/٢٨٨) **نو عموم ددے حديث سمع الله لمن حمده په مقتدى هم واجبوى او په امام او په منفرد هم** - وانظر تمام المنة ص (١٩١). **٣- دليل : بخارى (١/١١٠) حديث د ابو هريرهؓ ذكر كوى :** ان اباهريرة كان يكبر في كل صلاة من المكتوبة وغيرها في رمضان وغيره – **او پدے كښ دى** – ثم يقول سمع الله لمن حمده ثم يقول ربنا لك الحمد " - **نو دا حديث هم واضح دليل دے چه امام به دواړه جمع كوى لكه دلته ابو هريرهؓ امام دے او دواړه ئے وئيلى دى - ٤- دليل : عبد الله بن ابى اوفىٰ ﷺ فرمائى :** كان رسول الله ﷺ اذا رفع ظهره من الركوع قال : سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد ملأ السموات وملأ الارض (بخارى : ١/١١٠) **دا حديث روستو راروان دے۔**

نو دا حديث هم واضح دليل دے چه نبى عليه السلام په فرض مانځه كښ امام دے او تسميع او تحميد دواړه ئے لوستلى دى- ٥- دليل : مسلم (١/١٩٠) كښ د ابوسعيد خدرىؓ حديث دے چه نبى عليه السلام به كله د ركوع نه سر پورته كړو نو داسے به ئے وئيل : اللهم ربنا لك الحمد ملأ السموات وملأ الارض الخ **نو دا هم ظاهر دے په فرض مانځه كښ -**

٦- دارنګه انس بن مالكؓ فرمائى : نبى عليه السلام به چه كله سمع الله لمن حمده اووئيل : نو دومره به ولاړوو (حتى نقول قد اوهم) **تردے چه مونږ به دا اووئيل چه نبى عليه السلام خطاء**

شو او مونځ تريے هير شو نو د ركوع نه پس نبي عليه السلام هسے ندے ولاړ بلكه پدے قيام كښې به ئے اذكار وئيل لكه مخكښې تير شو. نو دا احاديث پدے خبره دال دي چه امام به دواړه جمع كوي. **او مقتدي به ئے هم جمع كوي** ددے دپاره يو دليل دا دے :

١– امام بيهقي په السنن الكبرى (٩٦/٩٥/٢) باب الامام يجمع بين قوله سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد وكذا المأموم) كښې د سعيد بن ابي سعيد حديث ذكر كړيدے چه هغه د ابو هريرةؓ نه واوريدل او هغه خلقو ته امامتي كوله او داسے ئے اووئيل : سمع الله لمن حمده اللهم ربنا لك الحمد الله اكبر يرفع بذلك صوته ونتابعه معا) واخرجه عبد الرزاق (١٦٧/٢) رقم (٢٩١٥) وابن ابي شيبة (٢٤٧/١) يعني مونږ به هم ورسره ددے الفاظو په وينا كښې تابعداري كوله. نو اوګوره ابو هريره او د هغه مقتديانو دواړه جمع كړيدي ددے وجے نه ابن سيرين هم وائي : اذا قال الامام سمع الله لمن حمده قال من خلفه سمع الله لمن حمده.

٢– ابو برده بن ابي موسىٰ الاشعريؒ د امام نه روستو سمع الله لمن حمده اووئيله.

عطاء وائي : يجمع بينهما مع الامام احبّ اليّ.

٣- **دليل** : شيخ البانيؒ يو بل ښه دليل وئيلے دے : او هغه دا چه د ركوع نه بعد دوه قسمه ذكرونه راغلي دي، ١– سمع الله لمن حمده او دا به په وخت د راپورته كيدو كښې وائي، ٢– دويم ربنا ولك الحمد او دا به په وخت د استواء او قومه كښې وائي نو كله چه مقتدي د راپورته كيدو وخت كښې خپل ذكر اونكړي نو په هغه ځائے كښې به د قومے ذكر كوي لكه دا خبره د عام مونځ كونكو نه ليدلے شويده چه هغوي د امام سمع الله لمن حمده لا اوريدلي نه وي چه دوي تريے ربنا لك الحمد مخكښې وئيلي وي او حال دا چه دا د حديث صريح مخالفت دے نو كه څوك ددے نه ځان ساتي نو بيا به په بل مخالفت كښې واقع كيږي چه هغه د پورته كيدو په وخت كښې مشروع ذكر نه وئيل دي. (تمام المنة : ٣٧/١)

او امام نوويؒ هم فرمائي : مونځ ټول په ذكر باندے بناء دے او هيڅ ځائے بغير د ذكر نه خالي نشته نو كه دواړه ذكرونه (تسميع او تحميد) اونه وائي په پورته كيدو او برابريدو كښې نو يو حال خو به ضرور خالي پاتے كيږي د ذكر نه. (شرح مسلم : ٩٠/١) والمجموع : ٤٢٠/٣) وفقه السنة (١٣٧/١)

٤- **دليل** : امام طحاويؒ او ابن عبد البرّ پدے خبره باندے اجماع نقل كړيده چه منفرد به دواړه جمع كوي او امام طحاويؒ دا حجت ګرځولے دے ددے دپاره چه امام به دواړه جمع كوي ځكه چه دا د منفرد په شان دے او دا د مقتدي دپاره هم په جمع كولو كښې حجت ګرځيدلے شي ځكه اصل دا ده چه درے واړه برابر دي په مشروعاتو د مانځه كښې مګر هغه چه شريعت د هغے استثناء كړي وي (الحاوي للفتاوي : ٣٧/١)

٥- **دليل** : رسول الله ﷺ په مانځه كښې دغه دواړه ذكرونه جمع كړيدي (نصب : ٣٧٦/١) او

د هغه نه خلاف ددے ندے ثابت او امت ته ئے د خپلے اقتداء حکم کړیدے اګرکه هغه امامان وی یا مقتدیان وی چه زما د اعمالو تابعداری به کوی (صلوا)۔

۶- **دلیل** : دارقطنی کښ دی، ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : نبی علیه السلام فرمائی : (اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فلیقل من وراء ه سمع الله لمن حمده) کله چه امام سمع الله لمن حمده اووائی : نو روستو مقتدیان دِے (هم) سمع الله لمن حمده اووائی ۔ دارقطنی (۱/ ۳۴۰) نیل الاوطار (۲/ ۲۷۸) ۔نو دا سنت تقریری دے او اجماع د صحابو ده او مخالف ددے ندے موجود ۔ بیا امام ابوحنیفهؒ دا فتوی ولے ورکړیده چه امام به ربنا لك الحمد نه وائی ددے وجه دا ده چه امام ابوحنیفه د خپل استاذ عطاء بن ابی رباحؒ نه تپوس اوکړو چه کله امام سمع الله لمن حمده اووائی نو آیا ربنا لك الحمد به وائی ؟ نو عطاء اوفرمائیل : (ما علیه ان یقول ذلك) په ده باندے ددے په وینا کښ څه ضرر نشته یعنی نه وئیل او وئیل دواړه برابر دی نو امام ابوحنیفه پدے مسئله کښ د خپل استاذ تقلید اوکړو، او عطاء ته پدے باره کښ دغه صحیح حدیثونه نه وو رسیدلی او نه امام ابوحنیفه ته رسیدلی وو پدے وجه ئے دغه خطاء جواب ورکړو او که امام ابوحنیفه ته حدیث رسیدلے وے نو د عطاء نه تپوس کولو ته هیڅ ضرورت نه وو ۔ انظر مسند الامام الاعظم ص (۶۱) للخصفکی نقل هذه الواقعة عن ابن ابی السبع بن طلحه عن ابی حنیفة ۔

نو ددے ډیرو دلائلو نه ثابته شوه چه منفرد، امام او مقتدی ټولو له پکار دی چه ضرور سمع الله لمن حمده نه پس ربنا لك الحمد اووائی او خپل مونځونه د سنت برابر کړی او که څوك دا نه وائی نو د هغه مونځ د سنت خلاف دے او ددے حدیثونو بے دلیله پریخودونکے دے نو اوس د هر چا خپله خوښه وما علینا الا البلاغ ۔

او پدے مسئله باندے سیوطی په الحاوی للفتاوی (۱/ ۳۶) کښ دوه پاڼے رساله لیکلے ده نوم ئے ورله ایخے دے (ذکر التشنیع فی مسئلة التسمیع) وراجع فتاوی الدین الخالص (۴/ ۲۶۴) وطرح التثریب (۲/ ۳۳۲)

---

۱۱ – وَعَنْ جَابِرٍ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَفْضَلُ الصَّلَاةِ طُوْلُ الْقُنُوْتِ . رواه مسلم.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : د ټولو نه بهتر مونځ هغه دے چه په هغے کښ قیام اوږد وی ۔ (مسلم)

تشریح : طُوْلُ الْقُنُوْتِ : قنوت په کلام عربی کښ په ډیرو معانیو باندے مستعمل دے، ابن العربی په شرح د ترمذی (۱/ ۱۷۸) کښ لس معانی ذکر کړیدی : الطاعة، العبادة، دوام الطاعة، الصلاة، القیام، طول القیام، الدعاء، الخشوع، السکوت، ترك الالتفات ۔ او پدے مقام کښ ترے قیام مراد دے لکه ددے تصریح په حدیث د ابوداود کښ راغلے ده ای الاعمال افضل ؟ قال : طول

القیام۔ امام نوویؒ فرمائی: پدے باندے اتفاق د علماؤ دے چه قیام مراد دے۔
بیا پدے حدیث کښې دا مسئله ده چه په مونځونو کښې قیام اوګدول بهتر عمل دے لیکن دا په نفلونو کښې مراد دے ځکه په فرائضو کښې به د مقرر سورتونو نه زیادت نه کوی، بیا دا مسئله مخکښې په جلد (۱/ ۲۴۳) کښې ذکر شویده چه طول القیام افضل دے او که کثرة الرکوع والسجود۔ بعض وائی طول القیام افضل دے او دا قول د احنافو دے دلیل ئې دا حدیث دے او شوافع وائی: کثرة السجود غوره دے ځکه پدے کښې خشوع او ذلت زیات دے او مرفوع روایت د ابو هریرهؓ کښې دی: «اقرب ما یکون العبد من ربه وهو ساجد» (احمد، مسلم، ابوداود، نسائی) نو په سجده کښې انسان الله ته زیات نزدے وی، او کعب بن ربیعهؓ ته ئې اوویل: زما مرافقه به په جنت کښې درته نصیب شي خو (اعنی علی نفسك بکثرة السجود) ددے بعض علماؤ داسے تطبیق کړیدے چه طول القیام مطلقا افضل دے او کثرة السجود په اعتبار د استجابت د دعاء سره افضل دے ځکه ددے سره روستو دا الفاظ راځی (فاکثروا الدعاء) غایة ما فیه انه دلیل علی فضل السجود ولا یلزم من فضل السجود افضیلته علی طول القیام۔
۲– اسحاق بن راهویهؒ وائی: د ورځې مونځ کښې رکوع سجدے زیاتے کول افضل دی او د شپے مونځ کښې طول القیام افضل دے ځکه نبی علیه السلام نه د شپے د مانځه تطویل نقل دے نه د ورځې۔ ۳– شیخ الاسلام ابن تیمیه او حافظ ابن قیمؒ ئې داسے تطبیق کوی: چه د نبی علیه السلام طریقه دا وه چه کله به ئې قیام اوګد وو نو رکوع سجده به ئې هم هغې ته نزدے برابره کوله او چه قیام به لنډ وو نو رکوع او سجده به هم لنډه وه لیکن طول القیام سره د کثرت الرکوع والسجود نه خامخا افضل دے۔ او باقی تفصیل مخکښې ذکر شویدے۔

الفصل الثانی

۱۲– عَنْ اَبِیْ حُمَیْدِ السَّاعِدِیِّ ﷺ، قَالَ فِیْ عَشْرَةٍ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِیِّ ﷺ: اَنَا اَعْلَمُکُمْ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالُوْا: فَاعْرِضْ. قَالَ: کَانَ النَّبِیُّ ﷺ اِذَا قَامَ اِلَی الصَّلَاةِ رَفَعَ یَدَیْهِ حَتّٰی یُحَاذِیَ بِهِمَا مَنْکِبَیْهِ، ثُمَّ یُکَبِّرُ، ثُمَّ یَقْرَأُ، ثُمَّ یُکَبِّرُ وَیَرْفَعُ یَدَیْهِ حَتّٰی یُحَاذِیَ بِهِمَا مَنْکِبَیْهِ، ثُمَّ یَرْکَعُ وَیَضَعُ رَاحَتَیْهِ عَلٰی رُکْبَتَیْهِ، ثُمَّ یَعْتَدِلُ فَلَا یُصَبِّیْ رَأْسَهٗ وَلَا یُقْنِعُ، ثُمَّ یَرْفَعُ رَأْسَهٗ فَیَقُوْلُ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ، ثُمَّ یَرْفَعُ یَدَیْهِ حَتّٰی یُحَاذِیَ بِهِمَا مَنْکِبَیْهِ مُعْتَدِلاً، ثُمَّ یَقُوْلُ: اَللّٰهُ اَکْبَرُ، ثُمَّ یَهْوِیْ اِلَی الْاَرْضِ سَاجِدًا، فَیُجَافِیْ یَدَیْهِ عَنْ جَنْبَیْهِ، وَیَفْتَخُ اَصَابِعَ رِجْلَیْهِ، ثُمَّ یَرْفَعُ رَأْسَهٗ وَیَثْنِیْ رِجْلَهُ الْیُسْرٰی فَیَقْعُدُ عَلَیْهَا، ثُمَّ یَعْتَدِلُ حَتّٰی یَرْجِعَ کُلُّ عَظْمٍ فِیْ مَوْضِعِهٖ مُعْتَدِلاً، ثُمَّ یَسْجُدُ، ثُمَّ یَقُوْلُ: اَللّٰهُ اَکْبَرُ، وَیَرْفَعُ وَیَثْنِیْ رِجْلَهُ الْیُسْرٰی فَیَقْعُدُ

عَلَيْهَا، ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتّٰى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ اِلٰى مَوْضِعِهٖ، ثُمَّ يَنْهَضُ، ثُمَّ يَصْنَعُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ، ثُمَّ اِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ كَمَا كَبَّرَ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، ثُمَّ يَصْنَعُ ذٰلِكَ فِي بَقِيَّةِ صَلَاتِهٖ، حَتّٰى اِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِي فِيْهَا التَّسْلِيْمُ اَخَّرَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى، وَقَعَدَ مُتَوَرِّكًا عَلٰى شِقِّهِ الْاَيْسَرِ، ثُمَّ سَلَّمَ. قَالُوْا: صَدَقْتَ هٰكَذَا كَانَ يُصَلِّيْ. رواه ابوداود والدارمي، وَرَوَى الترمذی وابن ماجه معناه وقال الترمذی: هذا حديث حسن صحيح.

وفي رواية لابي داود من حديث ابي حميد: ثُمَّ رَكَعَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ كَأَنَّهٗ قَابِضٌ عَلَيْهِمَا، وَوَتَّرَ يَدَيْهِ فَنَحَّاهُمَا عَنْ جَنْبَيْهِ، وَقَالَ: ثُمَّ سَجَدَ فَاَمْكَنَ اَنْفَهٗ وَجَبْهَتَهُ الْاَرْضَ، وَنَحّٰى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ، وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، وَفَرَّجَ بَيْنَ فَخِذَيْهِ غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهٗ عَلٰى شَيْءٍ مِنْ فَخِذَيْهِ حَتّٰى فَرَغَ، ثُمَّ جَلَسَ، فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَاَقْبَلَ بِصَدْرِ الْيُمْنٰى عَلٰى قِبْلَتِهٖ، وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُمْنٰى وَكَفَّهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُسْرٰى، وَاَشَارَ بِاُصْبُعِهٖ — يَعْنِي السَّبَّابَةَ — وَفِيْ اُخْرٰى لَهٗ: وَاِذَا قَعَدَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَعَدَ عَلٰى بَطْنِ قَدَمِهِ الْيُسْرٰى، وَنَصَبَ الْيُمْنٰى. وَاِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ اَفْضٰى بِوَرِكِهِ الْيُسْرٰى اِلَى الْاَرْضِ، وَاَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَاحِدَةٍ.

ترجمه: د ابوحمید ساعدی ﷺ نقل دی چه ده د رسول الله ﷺ د لس کسانو صحابه کرامؓ جماعت ته اووئیل چه زه ستاسو نه د رسول الله ﷺ د مانځه (په طریقه) زیات ښه پوهیږم ـ دوی اووئیل: ښه بیان ئے کړه! هغوی اووئیل: چه رسول الله ﷺ به کله مانځه ته اودریدو نو خپل دواړه لاسونه به ئے پورته کړل تردے چه د دواړو اوګو سره به ئے برابر کړل بیا به ئے رکوع اوکړه او دواړه ورغوی به ئے په زنګنونو باندے کیخودل بیا به ئے ملا نیغه کړه او سر به ئے نه خکته کولو او نه به ئے پورته کولو (بلکه سر او ملا به ئے برابر وو) بیا به ئے سر پورته کړو نو سمع الله لمن حمده به ئے اووئیل، بیا به ئے لاسونه پورته کړل تردے چه د دواړو اوګو سره به ئے برابر کړل او نیغ به اودریدو ـ بیا به ئے الله اکبر اووئیل او زمکے طرفته به د سجدے دپاره ورپریوتو او (په سجده کښې به ئے) دواړه لاسونه د اړخونو نهجدا ساتل او د خپو ګوتے به ئے قبلے طرفته راماتے کړے بیا به ئے سر راپورته کړو او ګسه خپه به ئے تاو کړه (یعنی خوره به ئے کړه) په هغے باندے به کینا ستو (جلسه د استراحت به ئے اوکړه) بیا به ښه برابر شو تردے چه هر هډوکے به خپل ځائے ته واپس شو بیا به پاڅیدو بیا به دغه شان کار په دویم رکعت کښې کولو (سوئ د سبحانك اللهم او

اعـوذ بالله لوستلو نه) بیا چه به کله د دوه رکعاتو نه پورته کیدو نو تکبیر به ئے اووئیلو او لاسونه به ئے پورته کړل تردے چه د اوګو سره به ئے برابر کړل لکه څنګه چه په ابتداء د مانځه کښې ئے تکبیر وئیلے وو ـ بیا به ئے دغه شان کار کولو په باقي مانځه کښې تردے چه کله به هغه سجده (یعنی د آخري رکعت دویمه سجده) اوکړه چه د هغے نه پس سلام اړولے شي نو خپله ګسه خپه به ئے اوویستله او ګس اړخ باندے به د تورك په طریقه کیناستو بیا (د تشهد وغیره نه پس) به ئے سلام اوګرځولو هغه صحابه کرامو اووئیل: چه بیشکه تا رشتیا اووئیل رسول الله ﷺ همدغه شان مونځ کولو ـ (ابوداوّدؒ، دارمیؒ) ترمذی او ابن ماجه دا روایت بالمعنی نقل کړیدے او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دے۔

د ابوداوّدؒ په یو روایت کښې د ابوحمیدؓ نه نقل دی: بیا رسول الله ﷺ رکوع اوکړه او دواړه لاسونه ئے په زنګنونو باندے داسے کیخودل ګویا کښې هغه په مضبوطئ سره نیونکے وی او خپل لاسونه ئے (د لیندے) د مزی پشان کړو او دواړه لاسونه ئے د اړخونو نه جدا اوساتل (ګویا کښې دا د مزی مشابه وو او اړخ د لیندے مشابه وو) ـ او راوی وائی: چه بیا سجدے ته لاړو نو خپله پوزه او تندے ئے په زمکه کیخودو او لاسونه ئے د اړخونو نه جدا اوساتل او دواړه ورغوی ئے د اوګو برابر کیخودل او د دواړو ورنونو په مابین کښې ئے کولاو والے راوستو او خپله خیټه ئے د دواړو ورنونو په هیڅ حصه باندے وروانه چول (بلکه جدا ئے اوساتل) تردے چه د سجدے نه فارغ شو بیا کیناستو (پداسے طریقه) چه ګسه خپه ئے خوره کړه او د ښئ خپے سینه ئے قبلے طرفته مخامخ کړه او ښے لاس ئے په ښی زنګون او ګس لاس ئے په ګس زنګون کیخودو او په خپله ګوته یعنی سبابه (مسواکئ) ګوته ئے اشاره اوکړه۔

او د ابوداود په یو بل روایت کښې دی: کله چه به په دوه رکعتونو کیناستو نو د ګس قدم په خیټه به کیناستو او ښے قدم به ئے اودرولو او کله چه به په څلورم رکعت کښې شو نو ګس کوناټے به ئے زمکے سره اولګولو او دواړه خپے به ئے یو طرفته اوویستلے ـ

تشریح: اَنَـا اَعْلَمُكُمْ : **فائده**: علماء لیکی د عالم دپاره دا جائز دی چه د خپل ځان مدح اوکړی کله چه خلق دده نه زده کړه کوی او اووائی چه زه پدے مسئله ښه پوهیږم ځکه چه کله خلقو ته دده مرتبه معلومه شي نو دده خبره به ښه اوری، خو داهله جائز ده چه په نفس کښې ئے عجب او تکبر نه پیدا کیږی۔

په یو روایت کښې ورسره دا هم زیات دی چه هغوی ورته اووئیل: فلم؟ فوالله ما كنت اكثرنا له تبعةً ولا اقدمنا له صحبةً ـ یعنی دا څنګه کیدے شي ځکه چه ته د پیغمبر سره زمونږ نه ډیر نه ئے ګرځیدلے او نه زمونږ نه د هغه سره د ډیرے مودے نه پاتے شوے ئے؟ ـ په روایت د طحاوی کښې دی: قالوا من این؟ قال: رقبت ذلك منه حتى حفظت صلاته ـ یعنی هغوی ورته اووئیل دا د کوم

خائے نہ یاد کړے دے ؟ دہ ورتہ اووئیل : ما ددے نگرانی او اهتمام کړیدے تردے چه د هغه مونځ مے یاد کړیدے (او دا قانون دے چه څوك ډیر متوجه وی نو هغه خبره ښه یادولے شی) ۔

فَاعْرِضْ : کښ فاء فصیحیه ده ۔ ای اذا کنت اعلمنا فاعرض ۔ کله چه ته دعوه د اعلمیت کوے نو پیش کړه ۔ او فاعرض به په کسره د همزه سره وئیلے شی د باب د ضرب نه دے او د فاء د وجے نه همزه ساقطه شویده ۔ او دا د باب افعال نه نه دے څکه اعراض خو بیله معنی ده او دلته عرض مراد دے۔ وَيَضَعُ رَاحَتَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ : په روایت د ابوداود کښ دی : وفرج بین اصابعه ۔

وَيَفْتَخُ اَصَابِعَ رِجْلَيْهِ : فتخ په اصل کښ راماتولو او نرمولو ته وائی دلته ترے مراد دا دے چه خپے به ئے اودرولے او د هغے په خیتو باندے ئے تکیه اوکړه او د گوتو سرونه به ئے قبلے ته متوجه کړل دا په حدیث د بخاری (۱/۱۱٤) باب سنة الجلوس فی التشهد کښ راغلی دی (انه سجد واستقبل باطراف اصابع رجليه القبلة)

ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتّٰى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ فِىْ مَوْضِعِهٖ مُعْتَدِلاً : ددے نه استحباب د جلسه د استراحت معلوم شو په هر هغه رکعت کښ چه په هغے کښ تشهد نه وی یعنی دویم رکعت او څلورم ته پاڅیدو وخت کښ ۔او دا به ښه په اطمینان سره کولے شی ۔ جلتی به پکښ نه کوی ۔

حَتّٰى اِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِىْ فِيْهَا التَّسْلِيْمُ : یعنی کله چه به اخیره قعده کښ کیناستو نو تورك به ئے کولو نو تورك هم بغیر د عذر نه سنت عمل دے او د فیها التسلیم نه مراد اخیره قعده ده په ثلاثی او رباعی مونځ کښ نه په دوه رکعاتو کښ څکه دلته مخکښ اوله قعده بیان شوه (ثم اذا قام من الرکعتین) سره۔ او افضی بورکه الیسری معنی بعینه د وقعد علی مقعدته ده او دا د تورك یوه طریقه ده۔

قَالُوْا : صَدَقْتَ هٰكَذَا كَانَ يُصَلِّىْ : یعنی هغه لس صحابه کرامو دده د وینا تصدیق اوکړو چه همدغه شان مونځ به نبی علیه السلام کولو۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح علی شرط مسلم اخرجه احمد (٥/٤٢٣) والدارمی (۱/۳۱۳/۳۱٤) وابوداود (۷۳۰) والترمذی (۳۰٤) و (۳۰٥) وقال حسن صحیح وابن حبان (٤٩۱) وصححه الالبانی ومدار الحدیث علی عبد الحمید بن جعفر، عن محمد بن عمرو بن عطاء سمعت ابا حمید الخ وعبد الحمید من رجال مسلم ، ثقة صدوق، وثقه احمد وابن معین وابن المدینی وابن سعد وابن حبان، قال النووی اسناده علی شرط مسلم قال الحافظ فی الفتح (۳/٤۰٥) صححه ابن خزیمة وابن حبان واخرجه البخاری فی صحیحه مختصراً انتهی ۔ پدے حدیث باندے ابن الترکمانی حنفی درے اعتراضات کړیدی او علامه عبید الله المبارکفوری په المرعاة (۳/٦٩) کښ د هغے تفصیلاً جوابات ورکړیدی چه مختصرئے دا دے : ۱- اول اعتراض دا چه ددے په سند کښ عبد الحمید بن جعفر دے او دا یحیی بن سعید په حدیث کښ مطعون کړیدے او هغه امام الناس فی هذا

الباب دے۔ **جواب** دا چه عبد الحمید ثقه، صدوق، صالح للاحتجاج من رجال مسلم دے او د طعن دپاره ئے هیڅ وجه نشته ځکه امام احمدؒ او ابن معینؒ او ابن المدینیؒ او ابن سعدؒ او ابن حبانؒ ئے توثیق کړیدے نسائیؒ وائی : لیس به بأس، ساجیؒ وائی : ثقه صدوق، او ابو حاتمؒ : محله الصدق او سعیدؒ پرے پدے وجه طعن کړیدے چه ده په تقدیر کښ خبرے کولے ۔ او هغه قادح فی الروایت نه ده کما هو معلوم ۔ او بله هیڅ وجه د ضعف ئے نشته۔

۲– اعتراض : دا حدیث منقطع دے ځکه محمد بن عمرو بن عطاء دابوحمید نه ندے اوریدلے او نه د ملګرو د ابوحمید نه بلکه مینځ کښ واسطه عباس بن سهل راوی دے اخرجه ابوداود وغیره لیکن جواب دا دے چه بیهقی وائی د انقطاع خبره صحیح نه ده ځکه بخاری په تاریخ کښ دا حکم کړیدے چه محمد بن عمرو د ابوحمید او ابوقتاده او ابن عباس نه اوریدل کړیدی او کوم خلق چه دا وائی چه پدے حدیث کښ خو د ابوقتاده خبره ذکر ده او ابوقتاده خو د علی سره وفات شویدے او هغه په سنه (٤٠) کښ وو او محمد بن عمرو په (۱۲۰) کښ وفات دے نو دا روایت د شعبی دے او شاذ دے او د بعض اهل التاریخ خبره ده ۔ او صحیح خبره چه اهل التاریخ په هغے اجماع کړیده دا ده چه دا د (٥٤) پورے ژوندے وو ۔ (نصب الرایه : ٤۱۱،٤۱۲)

۳– دریم دا چه دا حدیث مضطرب الاسناد والمتن دے ۔ اسناد خو ځکه چه دا عطاف بن خالد د محمد بن عمرو بن عطاء نه روایت کړیدے نو ده د محمد او ابوحمید مینځ کښ رجل مجهول راوړو ۔ او په بل سند عیسی بن عبد الله عن محمد بن عمرو عن عباس بن سهل نه چه دا په یو مجلس کښ ناست وو چه په هغے کښ دده پلار سهل بن سعد او ابو هریره الخ وو ۔

او په یو روایت کښ دی د عباس یا عیاش بن سهل نه او په یو روایت کښ دی عیسی بن عبد الله دا د عباس بن سهل نه او هغه د ابوحمید نه روایت کړیدے نو محمد بن عمرو پدے سند کښ نشته ۔ او اختلاف په متن کښ داسے دے چه عبد الحمید بن جعفر او محمد بن عمرو بن حلحله تورك په جلسه اخیره کښ ذکر کړیدے او عیسی بن عبد الله تورك په جلسه بین السجدتین کښ ذکرکړیدے او قعده اولی او قعده اخیره کښ ئے هیڅ تذکره نه ده کړے او جلسه د استراحت ئے هم نه ده ذکر کړے او په روایت د عتبه بن حکیم عن عیسی وفلیح عن عباس بن سهل نو هغوی د سره تورك نه دے ذکر کړے نه په جلسه اولی کښ او نه په جلسه اخیره کښ او نه بین السجدتین او نه په جلسه استراحت کښ۔

لیکن جواب دا دے چه دا اختلاف موجب د اضطراب نه دے چه قادح شی په صحت د حدیث کښ ځکه جمع او ترجیح ممکن ده بلکه متحقق ده ځکه روایت د عیسی په واسطه د عباس بن سهل محمول دے پدے چه دا د قبیلے د مزید فی متصل الاسانید نه دے او روایت د جزم قاضی وی په روایت د شك او رجل مبهم هغه عباس بن سهل دے او روایت د حسن بن حر د عیسی عن

محمد بن عمرو بن عطاء عن عباس اقوی او ارجح دے د روایت د عتبه عن عیسی عن عباس نه ځکه عتبه اګرکه صدوق دے لیکن یخطئ کثیرا ۔ او حسن بن حر ثقه فاضل دے یا ممکن ده چه دا عیسی اول د محمد بن عمرو عن عباس نه اوریدلے وی او بیا د عباس سره پخپله ملاو شوے وی نو بلا واسطه ئے ترے اوریدلے وی ۔ او ددے د عکس احتمال هم شته ۔او دا څه بعیده نه ده . . .او د تورك اختلاف نه جواب دا دے چه روایت د عبد الحمید ارجح او اصح دے د باقی تولو روایاتو نه دارنګه مثبت مقدم وی په نافی باندے دارنګه سکوت د ذکر سره معارضه نشی کولے ۔

كَأَنَّهٗ قَابِضٌ عَلَيْهِمَا : نو د رکوع طریقه دا ده چه لاسونه به په زنګنونو باندے کیدی او ګوتے به پراخه کړی او په ګوتو کښ به زنګنونه راونیسی او لاسونه به د اړخونو نه جدا کړی۔

وَوَتَّرَ يَدَيْهِ : دا د توتیر نه ماخوذ دے په معنی د وتر جوړولو په لینده باندے یعنی لاسونه ئے کاږه کړل او د دواړه اړخونو نه ئے جدا کړل، دلته ئے د رکوع کونکی د لاس –کله ئے چه زنګنونو ته را اوګده کړی وی او هغه ئے په لاسونو کښ نیولی وی– تشبیه ورکړه د لیندے سره چه په هغے باندے مزے او ربړ راخکلے شوے وی یعنی درے قنجه ۔(کأن یده کالوتر وجنبیه کالقوس) ۔

غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهٗ : یعنی خیټه به ئے نه وه بار کړے (ایخودے) په ورون باندے ۔

وَاَشَارَ بِاُصْبُعِهٖ : پدے کښ دلیل دے چه په تشهد کښ اشاره کول مسنون عمل دے او تفصیل به روستو راشی ۔

يَعْنِي السَّبَّابَةَ : ظاهر دا ده چه دا د مصنف تفسیر دے ۔ سبابه د سبّ نه ده کنځلو ته وائی او د عربو عادت دا وو چه هغوی به د کنځلو په وخت په مسواکئ ګوته اشاره کوله ۔

وَاِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ : دا حدیث صریح دلیل دے په فرق د دواړو قعدو کښ چه په اوله قعده کښ به افتراش کوی او په اخیره قعده کښ به تورك کوی۔

۱۳– وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ﷺ: اَنَّهٗ اَبْصَرَ النَّبِيَّ ﷺ حِيْنَ قَامَ اِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى كَانَتَا بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ، وَحَاذٰى اِبْهَامَيْهِ اُذُنَيْهِ، ثُمَّ كَبَّرَ . رواه ابوداود . وفي روايةٍ لهٗ : يَرْفَعُ اِبْهَامَيْهِ اِلٰى شَحْمَةِ اُذُنَيْهِ . ———————————

ترجمه : او وائل بن حجر رضی الله عنه روایت کوی چه ده نبی کریم ﷺ اولیدو چه کله مانځه ته پاڅیدو نو لاسونه ئے پورته کړل تردے چه دواړه اوګو ته برابر اورسیدل او دواړه غټے ګوتے ئے د غوږونو برابر کړے بیا ئے تکبیر اووئیلو۔ (ابوداود) او د ابوداود په یو روایت کښ دی : چه هغه به غټے ګوتے د غوږونو د نرمیو پورے پورته کولے ۔

تشریح : بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ : حیال په کسره د حاء او فتحه د یاء سره مقابل او برابر ته وائی ۔

وَحَاذٰى اِبْهَامَيْهِ : یعنی نبی علیه السلام غټے ګوتے برابری کړے (مخامخ کړے) د نرمیو د

غوږونو سره د اذنیه نه مراد شحمتی اذنیه دے لکه پدے روستو روایت کښې د هغې تفسیر شویدے۔ شَحْمَةِ اُذُنَيْهِ : دا هغه نرمه غوښه د غوږونو ته وائي چه لاندے زوړنده وي، په روایت د نسائي (۱/۱٤۰) کښې دي : رفع یدیه حتی تکاد ابهاماه تحاذی شحمة اذنیه۔ یعنی نزدے وه چه غټې ګوتې ئې د نرمیو د غوږونو سره برابرې شوې وے۔

بیا دا حدیث دلیل دے د امام شافعي دپاره چه هغه د ټولو روایاتو جمع پدے طریقه کړیده چه لاسونه به اوګو پورے پورته کړي او غټې ګوتې به د غوږونو پورے پورته کړي نو په اذنین او منکبیه دواړو باندے به عمل اوشي او دے جمع ته ډیرو علماؤ حسن وئیلي وه لیکن صحیح دا ده چه جمع ته ضرورت نشته ځکه دا مستقل بیل بیل عملونه دي او تناقض پکښې نشته کما تقدم۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف : لانقطاعه بین عبد الجبار بن وائل وابیه لان عبد الجبار ولد في حیات ابیه لکن لم یسمع منه شیئاً فالحدیث منقطع قال ابن معین والبخاری : لم یسمع عبد الجبار من ابیه شیئاً، وقال عبد الجبار : کنت غلاماً لا اعقل صلاة ابی ،کذا في تهذیب التهذیب اخرجه ابوداود (۷۲٤) والبیهقي (۲/۲۵)۔

۱٤ – وَعَنْ قَبِيْصَةَ بْنِ هُلْبٍ، عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَـؤُمُّـنَا فَيَأْخُذُ شِمَالَهٗ بِيَمِيْنِهٖ . رواه الترمذی وابن ماجه.

ترجمه : قبیصه بن هلب رحمه الله د خپل والد محترم نه نقل کوي فرمائي چه رسول اللهﷺ به مونږ ته مونځ کولو نو (په قیام کښې به ئې) کس لاس په ښي لاس نیولو۔ (ترمذی، ابن ماجه)

تعارف د قبیصه : دا قبیصه طائي کوفي دے، ابن المدیني او نسائي ورته مجهول وئیلي دے امام مسلم په وحدان کښې ذکر کړیدے، ابن المدیني وائي : صرف دده یو شاګرد دے سماك بن حرب، عجلي ورته تابعي ثقه وئیلي دے، ابن حبان په ثقاتو کښې ذکر کړیدے او حافظ په تقریب کښې وائي : مقبول من اوساط التابعین یعنی لین الحدیث دے کله چه دده متابع موجود شي نو حدیث ئې مقبول وي ---- دده پلار هُلب طائي دے هلب اصل کښې ویښتو ته وائي دا چه کله رسول اللهﷺ ته راغلو ګنجے وو هغه ورله په سر لاس راخکلو نو ویښته ئې په سر زرغون شو نو بیا په هلب سره مشهور شو، دا د قبیلے د اطلاق د مصدر دے په موصوف باندے لکه د زید عدل په شان، پدے کښې ضمه د هاء او سکون د لام وئیلے شي او همدا صحیح نقل دے د محدثینو په نزد او احمد شاکر په شرح د ترمذی کښې ورته صحیح وئیلي دے او اهل لغت وائي چه دا په فتحه د هاء او کسره د لام دے د کتف په شان دا ابن درید په الاشتقاق کتاب کښې ذکر کړیدے، او په قاموس کښې فیروز آبادي راجح کړیدے لیکن اول قول صحیح او د محدثینو د ضبط مطابق دے او ددے هلب طائي خپل نوم یزید بن عدی بن قُنافه دے صحابي دے او رسول الله ﷺ خواته راتلو وخت کښې ګنجے وو او د هغه د لاس په برکت روغ شو او بیا کوفه کښې اوسیدو، ابن سعد دا

په طبقه د هغه مسلمانانو کښې ذکر کړیدے چه په فتح د مکه کښې ئے ایمان راوړیدے ـ او صرف دا یو حدیث ترے نقل دے ـ

تشریح :فَيَأْخُذُ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ : دا حدیث دلیل دے چه وضع الیدین په مانځه کښې سنت عمل دے او ارسال خلاف سنت دے او بیا پدے حدیث د قبیصه کښې ورسره په مسند احمد کښې دا زیادت راغلے دے چه : رأیت رسول الله ﷺ یضع یده علی صدره ویأخذ شماله بیمینه ـ او دا زیادت یحیی بن سعید القطان کړیدے علامه مبارکفوری په ابکار المنن کښې لیکی : یحیی بن سعید القطان ثقه حافظ، متقن، امام دے او دده زیادت (علی صدره) منافی ندے د روایت د نورو راویانو سره د سفیان نه نو د محققینو په نیز دا زیادت مقبول دے او تفصیل د مسئلے مع الدلائل مخکښې ذکر شویدے ـ

درجة الحدیث : اسناده حسن، اخرجه احمد (٥/٢٢٦/٢٢٧) ترمذی (٢٥٢) وقال حدیث حسن وابن ماجه (٨٠٩) والدارقطنی ـ قبیصه اگرکه د نسائی او ابن المدینی په نیز مجهول العین دے لیکن دا قاعده ده چه مجهول العین راوی چه د هغه صرف یو شاگرد وی نو که د هغه توثیق نورو امامانو د جرح او تعدیل اوکړو نو د هغه جهالت ختمیږی او روایت مقبول گرځی ددے وجے نه ترمذی ورته حسن وئیلے دے او دا قاعده حافظ شمس الحق عظیم آبادی په خپله رساله کښې چه د طبرانی صغیر (١٦٠) آخر کښې ملحق ده – ذکر کړیده ـ

---

١٥ – وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ فَصَلّٰى فِي الْمَسْجِدِ، ثُمَّ جَآءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : اَعِدْ صَلَاتَكَ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ . فَقَالَ : عَلِّمْنِيْ يَارَسُوْلَ اللهِ ! كَيْفَ اُصَلِّيْ ؟ قَالَ : إِذَا تَوَجَّهْتَ اِلَى الْقِبْلَةِ فَكَبِّرِ، ثُمَّ اقْرَأْ بِاُمِّ الْقُرْآنِ وَمَا شَاءَ اللهُ اَنْ تَقْرَأَ، فَإِذَا رَكَعْتَ فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلٰى رُكْبَتَيْكَ وَمَكِّنْ رُكُوْعَكَ، وَامْدُدْ ظَهْرَكَ . فَإِذَا رَفَعْتَ فَاَقِمْ صُلْبَكَ، وَارْفَعْ رَأْسَكَ حَتّٰى تَرْجِعَ الْعِظَامُ اِلٰى مَفَاصِلِهَا . فَإِذَا سَجَدْتَّ فَمَكِّنْ لِلسُّجُوْدِ. فَإِذَا رَفَعْتَ فَاجْلِسْ عَلٰى فَخِذِكَ الْيُسْرٰى، ثُمَّ اصْنَعْ ذٰلِكَ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ وَسَجْدَةٍ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ . هذا لفظ المصابيح . ورواه ابو داود مع تغيير يسيرٍ، وَرَوَى الترمذی والنسائی معناه . وفي روايةٍ للترمذی : قَالَ : إِذَا قُمْتَ اِلَى الصَّلَاةِ فَتَوَضَّأْ كَمَا اَمَرَكَ اللهُ بِهٖ، ثُمَّ تَشَهَّدْ، فَاَقِمْ، فَإِنْ كَانَ مَعَكَ قُرْآنٌ فَاقْرَأْ، وَاِلَّا فَاحْمَدِ اللهَ، وَكَبِّرْهُ، وَهَلِّلْهُ، ثُمَّ ارْكَعْ.

ترجمه : او رفاعه بن رافع ﷺ فرمائی : چه یو سړے مسجد ته راغلو مونځ ئے اوکړو، بیا د

نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او سلام ئې اوکړو، نبی کریم ﷺ هغه ته اوفرمایل : خپل مونځ دوباره اوکړه ځکه تا مونځ نه دے کړے نو ده اووئیل : ما ته اوښایه اے د الله رسوله ! څنګه مونځ اوکړم ؟ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمایل : کله چه ته قبلے ته مخ کړے نو الله اکبر اووایه بیا سوره فاتحه او څه چه الله غواړی اووایه (یعنی سوره فاتحے سره چه کوم سورت غواړے اووایه) او کله چه ته رکوع ته ځے نو دواړه ورغوی په دواړه زنګنونو کیده، او په رکوع کښې (په اطمینان سره) قائم اوسه او خپل ملا هموار کړه او (بیا د رکوع نه) سر پورته کړه تردے چه هډوکی خپل جوړونو ته واپس شی او کله چه سجده کوے نو ښه سجده کوه (یعنی لاسونه په زمکه کیده) او کله چه (د سجدے نه) سر پورته کړے نو په ګس ورون باندے کینه بیا دغه شان کار په هره رکوع او سجده کښې کوه، تردے چه (په رکوع، سجده، قومه او جلسه کښې ته) په اطمینان شے ـ د حدیث دا الفاظ د مصابیح دی او ابوداود د لږ شان تغیر وتبدیل سره نقل کړیدی دارنګه ترمذی او نسائی هم دا روایت بالمعنی نقل کړیدے او د ترمذی په یو روایت کښې دا الفاظ هم دی : چه کله ته د مانځه اراده اوکړے نو هغسے اودس کوه څنګه چه الله تعالی تا ته د هغے حکم کړیدے بیا کلمه د شهادت اووایه (د اوداسه نه روستو اشهد ان لا اله الا الله الخ دعاء مراد ده) بیا (ښه) مونځ قائم کړه (یا معنی ده : اذان اوکړه او بیا اقامت اوکړه) او د قرآن نه چه څه درته یاد وی هغه اووایه او که هیڅ یاد نه وی نو الحمد لله، الله اکبر او لا اله الا الله وایه بیا رکوع اوکړه ـ

تعارف د رفاعه رضی الله عنه : دده مکمل نوم ابو معاذ رفاعه بن رافع بن مالك بن العجلان الزرقی الانصاری المدنی دے بدری، جلیل القدر صحابی دے، د علی رضی الله عنه سره جنګ جمل او صفین ته حاضر شویدے او په اول د خلافت د معاویه کښې وفات دے او دده پلار په انصارو کښې اول اسلام باندے مشرف شویدے او دے او دده پلار دواړه په لیلة العقبه کښې هم حاضر شویدی یو څو حدیثو نه ترے نقل دی چه درے بخاری ذکر کړیدی۔

تشریح : جَاءَ رَجُلٌ : ددے رجل نه مراد خلاد بن رافع دے ددے رفاعه وررور دے ـ

فَصَلّٰی : په بل روایت کښې دی (صلاة خفيفة لم يتم ركوعها ولا سجودها)۔ ددے ځائے نه دده خطائی معلومیږی چه هغه تعدیل الارکان پوره نه کول۔ اَعِدْ صَلَاتَكَ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ : دا واضح دلیل دے چه ترك تعدیل د ارکانو نه کوی د هغه مونځ باطل دے او واجب الاعاده دے او د تعدیل د ارکانو په پریخودلو سره به اعاده د مانځه کوی او تعدیل الارکان فرض دے ـ

کَیْفَ اُصَلِّیْ ؟ : دلته اختصار شویدے لکه مخکښې تیر شو دده څلورم ځل کښې تپوس اوکړو ددے نه مخکښې رسول الله ﷺ درے ځل واپس کړیدے ـ

ثُمَّ اقْرَأْ بِاُمِّ الْقُرْآن: دا دلیل د جمهورو دے چه د فاتحے لوستل په هر چا باندے فرض دی ـ

مسئلة د ضم السورة : وَمَا شَاءَ اللّٰهُ اَنْ تَقْرَأَ : دا حدیث دلیل دے د احنافو چه ضم د

سورت د فاتحے سره واجب دے او دلته پرے امر راغلو ۔ امام شافعیؒ وائی : ضم د سورت سنت دے۔ **دليل** : صحيح حديث كښې دی : «ام القرآن عوض عن غيرها وليس غيرها عوضا عنها» اخرجه الحاكم ١/٢٣٨) اخرجاه بغير هذا اللفظ ورجال اسناده اكثرهم ائمة وكلهم ثقات ددے نه معلومه شوه چه په صرف فاتحه لوستلو سره هم اكتفاء جائز ده او دليل دے چه دا امر د ماشاء الله د وجوب دپاره نه دے بلكه دا امر د سنت مؤكد په درجه كښې دے او دا قول د جمهورو علماو دے ۔

٢– دارنګه ابو هريرهؓ فرمائى : «فى كل صلاة قراءة فما اَسْمَعَنَا النبيُّ ﷺ اَسْمَعْنَاكُمْ وما اَخْفٰى مِنَّا اَخْفَيْنَا مِنْكُمْ فمن قرأ بام القرآن فقد اجزأت عنه ومن زاد فهو افضل (مسلم : ١/١٧٠) او په روايت د بخاری (١/١٠٦) كښې دی : وان زدت فهو خير (والبيهقى : ٢/٦١) تفسير القرطبى (١/١٢٥) نو دے نه استدلال كوى چه فاتحه فرض ده او باقى قراءت فرض او واجب نه دے بلكه سنت مؤكد دے ۔

ليكن دا مرفوع حديث نه دے بلكه دا د ابو هريره رضى الله عنه موقوف حديث دے چه د مرفوع احاديثو مخالف دے، ځكه چه په دغه مرفوع حديث د رفاعةؓ كښې امر راغلو په قراءت د مازاد على الفاتحه باندے ليكن قرينه موجوده ده چه امر للوجوب نه دے لكه روستو فصاعدا كښې راځى باب القرائة ۔ ★– دارنګه دوام د رسول الله ﷺ علامه د وجوب ده ۔

او كوم حديث د ابن عباسؓ چه بيهقى (٢/٦١) كښې نقل كړيدے چه رسول الله ﷺ دوه ركعاته اوكړل او صرف فاتحه ئے پكښې اولوستله نو هغه ضعيف دے فيه حنظله بن عبد الله او هغه مختلط راوى دے يحيى القطان متروك ګرځولے دے كما فى الجوهر النقى (٢/٦١) او په بل سند كښې ئے شهر بن حوشب متكلم فيه راوى دے او ددے صحيح تاويل هم كيدے شى او هغه دا چه ددے نه مراد روستنى ركعتونه دى۔ابن قدامه ورته په المغنى (١/٥٦٨) كښې سنت وئيلى دى ★ نو اصح دا ده چه زيادت په فاتحه باندے په اولنو ركعتونو كښې سنت موكد يا واجب دے او ددے په ترك سره سجده سهوه لازميږى او كومو علماؤ چه ورته مسنون وئيلى دى نو د هغوى مقصود استحباب نه دے بلكه مقصود دا دے چه فرض نه دے لكه د فاتحے پشان ددے وجے نه فتاوى اللجنة الدائمه (٦/٣٨٧) كښې دی : من اقتصر على الفاتحة زاعماً ان هذا هو السنة فقد غلط وخالف السنة وقد جاء فى بعض طرق المسئ الصلاة عند ابى داود (١/٥٣٧) رقم (٨٥٩) ثم اقرأ بامّ القرآن وبما شاء الله) ۔ يعنى څوك چه په فاتحه باندے اكتفاء كوى پدے ګمان چه دا سنت كار دے نو دے غلط دے او مخالف د سنت دے ځكه چه په حديث د مسئ الصلاة كښې امر راغلے دے په زيادت على الفاتحه باندے ۔ ★ نو معلومه شوه چه مجموعه دلائلو ته اوكتلے شى نو زيادت على الفاتحه به نشى ترك كولے او كه چا پريخودله نو سجده سهوه به ضرور كوى ځكه نبى عليه السلام فرمائى : فمن زاد او نقص فليسجد سجدتين (مسلم : ١/٢١٣) نو ضم د سورت وغيره د فاتحے سره ضرورى دے په ډك ركعاتونو كښې ۔ والله اعلم وبالله التوفيق راجع فتح

الباري والمرعاة (۷۵/۳) وفتاوى الدين الخالص (٤/۲۰۰)

فَمَكِّنْ لِلسُّجُوْدِ : دا د تمکين نه دے په معنى د ځائے ورکولو او قدرت ورکولو دلته مفعول د مکن محذوف دے اى مكن يديك للسجود ـ يعنى لاسونو ته د سجدے دپاره ځائے ورکړه يعنى په سجده کښ لاسونه جوخت لګوه او دا لاسونه لګول د احنافو په نزد سنت دى او د امام شافعى په نزد فرض دى وهوالحق ـ ★ حافظ ابن حجرؒ ددے معنى داسے کوى : فمكّن جبهتك من مسجدك ـ يعنى په ځائے د سجده کښ تندے جوخت اولګوه نو بناء پدے تندے جوخت لګول واجب دى پداسے طريقه چه که لاندے ترے مالوچ وى نو هغه به راټول شى ـ

كُلِّ رَكْعَةٍ : د رکعت نه مراد رکوع ده ـ حَتّٰى تَطْمَئِنَّ : ددے اطمينان نه مراد کيناستل دى په اخيره قعده کښ ځکه اطمينان او استقرار دا په قعده کښ وى يعنى د فراغت پورے دغه شان کار کوه ـ ۲- حافظ ابن حجرؒ وائى : دا راجع دے ټولو مخکنو اعمالو ته نو اطمينان به واجب وى پدغه ټولو ارکانو کښ يعنى په رکوع او قومه، او سجده او بين السجدتين کښ ـ

وفى رواية للترمذى : دا روايت صرف په ترمذى کښ ندے بلکه ابوداود کښ هم راغلے دے نو صرف ترمذىؒ ته نسبت کول په محل د نظر کښ دى ـ

ثُمَّ تَشَهَّدْ، فَاَقِمْ : د تشهد نه مراد د اوداسه نه روستو اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله ﷺ دعاء وئيل دى او د اقم نه مراد مونځ قائمول دى ـ

۲- بعض وائى : د تشهد نه مراد اذان کول دى او د اقم نه مراد اقامت کول دى او همدا قول ظاهر دے ځکه په روايت د ترمذى (۱/٦٦) کښ ورسره فاقم ايضا لفظ دے ـ

فَاِنْ كَانَ مَعَكَ قُرْآنٌ فَاقْرَأْ : ددے حديث نه د احنافو استدلال په عدم رکنيت د فاتحه صحيح نه دے ځکه پدے کښ اجمال دے او دا سړے خو مخکنے مسلمان دے ضرور به ورته څه نا څه قرآن ياد وى خاصکر فاتحه نو ددے قرآن نه مراد فاتحه ده، يا د فاتحے نه علاوه نور قرآن دے ـ

شاه انور شاهؒ وائى : د احنافو استدلال ځکه صحيح نه دے چه احناف خو فاتحے ته واجب وائى او ددے پريخودل مکروه تحريمى دى نو که دلته پدے مقام د تعليم کښ په فاتحه باندے امر اونشى نو بيا خو به مکروه تحريمى داخل شى په مقام د تعليم کښ سره ددے نه چه هغه فاتحه په حديث د رفاعه کښ صراحت سره ذکر ده (ځکه يو حديث د بل تفسير وى) ـ

او دلته ئے ورته دا اووئيل : چه تا ته خو څه ناڅه قرآن ياد دے نو هغه وايه او که بالفرض هغه هم ورته نه وى ياد نو الحمد لله والله اكبر ولا اله الا الله وايه او ددے تفصيل مخکښ ذکر شو ـ

بيا ددے کلماتو د ويلو بار بار لوستل ضرورى نه دى بلکه يو کرت لوستل ئے هم کافى دى ځکه څه دليل او قرينه د تکرار نده ذکر ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الشافعى فى الام (۱/۱۰۲) والدارمى (۱/۳۰۵) وابوداود

(۸۵۹) والنسائی (۲/۱۹۳) وابن حبان فی صحیحه (٤۸٤) والحاکم فی المستدرک (۱/۲٤۱/۱٤۳)
وحدیث الترمذی (۲/۳۰) وابی داود (۸٦۱) حسن۔

۱٦ – وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلصَّلَاةُ مَثْنٰی مَثْنٰی، تَشَهُّدٌ فِيْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ، وَتَخَشُّعٌ وَتَضَرُّعٌ وَتَمَسْكُنٌ، ثُمَّ تُقْنِعُ يَدَيْكَ – يَقُوْلُ : تَرْفَعُهُمَا – اِلٰى رَبِّكَ مُسْتَقْبِلًا بِبُطُوْنِهِمَا وَجْهَكَ، وَتَقُوْلُ : يَارَبِّ ! يَا رَبِّ ! وَمَنْ لَّمْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَهُوَ كَذَا وَكَذَا . وفی روايةٍ : فَهُوَ خِدَاجٌ . رواه الترمذی.

ترجمه : او فضل بن عباس رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : (نفل) مونځ دوه دوه رکعاته دے او په هر دوه رکعاتو کښې التحیات دے او (د مانځه روح) خشوع، عاجزی او اظهارِ د غریبئ دے بیا (مانځه نه پس) الله طرفته لاسونه اوچت کړه (فضل وائی چه د ثم تقنع یدیك نه مراد د نبی علیه السلام دا وو چه مونځ نه بعد ته) خپل رب طرفته لاسونه داسے اوچت کړه چه د لاسونو دواړه تلی ستا مخ طرفته وی (کومه چه د دعاء طریقه ده) او دا وایه اے زما ربه ! اے زما ربه ! او څوك چه داسے اونه کړی (یعنی پدے مخکنئ طریقه عمل اونکړی) نو د هغه مونځ داسے داسے دے (یعنی ناقص دے) او په یو روایت کښې دی : چه د هغه مونځ ناقص دے (ترمذیؒ) ۔

تشریح : اَلصَّلَاةُ مَثْنٰی مَثْنٰی : الصلاة مبتداء ده او مثنیٰ مثنیٰ ئے خبر دے او تشهد فی کل رکعتین ئے دویم خبر دے او دا بیان دے د مثنیٰ مثنیٰ دپاره دغه شان د نور معطوفاتو حال هم دے او مطلب دا دے چه مونځ دوه رکعاته دے چه په هر دوه رکعاتو کښې به تشهد وی نو دا صیغے به په تنوین سره لوستے شی او د امر صیغے نه دی ځکه دا پدے طریقه ندی نقل او څوك چه علم نه لری نو هغه ئے په امر سره نقل کوی حال دا چه دا غلطی ده (توریشتیؒ، وطیبیؒ) پدے کښې علامه عراقیؒ دا راجح کړیده چه دا د فعل مضارع صیغے دی او یوه تاء پکښې حذف شویده او دا قول علامه ابوالحسن المبارکفوریؒ په المرعاه (۳/۷۷) کښې راجح کړیدے او دلیل ئے ورله دا وئیلے دے چه روایت د احمد (٤/۱٦۷) کښې په حدیث د مطلبؓ کښې داسے دی : الصلاة مثنی مثنی، وتشهد وتسلم فی کل رکعتین الخ نو دلته وتشهد وتسلم دا فعل مضارع دی او امر او مصدر نه جوړیږی ۔ او ددے روایت د احمدؒ نه دا هم واضح شوه چه په هر دوه رکعاتو به سلام اړوی او دا د مثنیٰ تشریح ده ۔

نفل مانځه کښې څلور په یو سلام بهتر دی او که دوه ؟ بیا پدے حدیث کښې مقصود دا دی چه نفل مونځ کښې افضل او بهتر دا ده چه دوه دوه رکعاته اوکړی په جدا جدا سلام سره او

پدے کښې به اختلاف روستو په باب الوتر ابتدائی حدیث کښې راشي چه د شپے او دورځے په نفلونو کښې کومه طریقه بهتره ده نو اصل دا ده چه نفل او سنن دوه دوه رکعاته اوکړے شي لکه دا په حدیث د سنن النسائی (۱/۱۴۰) کښې راغلي دي، لیکن ددے نه یو څو صورتونه مستثنیٰ دي: (۱) د ماسپښین سنت، (۲) د جُمعے نه روستو څلور رکعاته (۳) تراویح احیاناً (۴) صلاة التسبیح (۵) د ابن عمرؓ او ابن مسعودؓ نه د جُمعے نه مخکښې څلور رکعاته نفل په یو سلام نقل دي خو هغه سنت ندي، نفل دي، (۶) بعض طرق د وترو (۷) څلور رکعاته نفل قبل العصر په یو سلام سره رواه احمد رقم (۶۵۰) (۱۳۷۵) کما فی الصحیحه (۱/۴۲۱) رقم (۲۳۷) والتحفه (۱/۳۲۹) والدین الخالص (۵/۳۴۰)۔

۱- امام شافعیؒ، احمدؒ وائي: صلاة اللیل والنهار کښې دوه دوه رکعاته جدا جدا سلام سره بهتر دي وهو مذهب الجمهور۔ ۲- امام ابوحنیفهؒ وائي: صلاة اللیل والنهار څلور څلور رکعاته بهتر دي۔ ۳- صاحبین وائي: صلاة اللیل مثنیٰ مثنیٰ دے اوصلاة النهار رباع رباع دے او دا اختلاف په استحباب او افضلیت کښې دے او دلائل د هر قول به په خپل ځائے کښې راشي (وانظر التحفة: ۱/۳۲۹)

وَتَخَشُّعٌ: سکون او تذلل ته وائي او تضرع معنی ده تذلل او مبالغه فی السؤال والرغبة ته۔ بعض وائي: دواړه قریب قریب دي، صرف فرق دا دے چه خشوع په سترګو، بدن او آواز کښې وي او خضوع صرف په بدن کښې وي، بعض وائي: خضوع په ظاهر کښې وي او خشوع په باطن کښې وي۔ وَتَمَسْكُنٌ: د یو سړي د خپل ځان مسکنت ښکاره کولو ته وائي د سکون نه ماخوذ دے ۔ ثُمَّ تُقْنِعُ: دا د اقناع نه دے په معنی د پورته کولو سره یعنی کله چه د مانځه نه فارغ شوے نو سلام واړه وه بیا لاسونه د دعاء دپاره اوچت کړه او خپل حاجتونه د خپل رب نه غواړه۔ لاسونه اوچتول پس د فرض مانځه نه نشته لکه په باب الذکر بعد الصلاة کښې به راشي۔

وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ: یعنی چا چه دا مذکوره کارونه په مانځه کښې اونکړل نو دده مونځ به ناقص وي د فهو ضمیر راجع دے فعل د صلاة ته۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، اخرجه احمد (۱/۲۱۱) رقم (۱۶۷۴) والترمذی (۳۸۵) وفی اسناده عبد الله بن نافع بن العمیاء وهو مجهول قال الحافظ فی التقریب: وقال البخاری: لایصح حدیثه۔

الفصل الثالث

۱۷- عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَلّٰى ﷺ، قَالَ: صَلّٰى لَنَا اَبُوْسَعِيْدِ الْخُدْرِيُّ، فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيْرِ حِيْنَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُوْدِ، وَحِيْنَ سَجَدَ، وَحِيْنَ رَفَعَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ. وَقَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ. رواه البخاری.

ترجمه : سعید بن حارث بن معلی ﷺ وائی چه ابوسعید خدری ﷺ مونږ ته مونځ اوکړو نو کله چه به هغوی د سجدے نه خپل سر اوچت کړو او کله چه به سجدے ته تلو او کله چه به د دوه رکعاتو نه پورته کیدو نو په اوچت آواز به ئے الله اکبر اووئیل او دا به ئے فرمائیل چه ما نبی کریم ﷺ دغه شان (په اوچت آواز تکبیراتو سره) لیدلے دے (بخاریؒ)۔

تعارف : سعید بن الحارث بن ابی سعید المعلی المدنی الانصاری القاص د ثقات التابعین نه دے د طبقه وسطیٰ نه۔

تشریح : حاصل د حدیث دا دے چه کله مروان په مدینه باندے امیر وو نو په دغه زمانه کښ به په مدینه کښ ابو هریره رضی الله عنه خلقو ته مونځ کولونو یوه ورځ ابو هریره رضی الله عنه غائب وو یا مریض وو نو ابوسعید خدریؓ امامت اوکړو پدے کښ هغه تکبیرونه په ابتداء او تکبیرات الانتقالات تول په جهر اولوستل، دے دپاره چه خلق ئے تابعداری اوکړی ځکه مروان د بنوامیه نه وو، هغوی به دا تکبیرونه په جهر نه لوستل، نو ابوسعید په سنت طریقه عمل اوکړو دے دپاره چه خلق ئے زده کړی او د مانځه نه روستو ئے خلقو ته قولی طریقے سره هم تعلیم ورکړو چه پدے طریقه ما رسول الله ﷺ لیدلے دے۔ په روایت د اسماعیلی کښ دی : کله چه ابوسعید سلام اوګرځولو، خلقو ورته اووئیل ؛ قد اختلف الناس علی صلاتك : ستا په مانځه کښ د خلقو اختلاف راپیدا شو نو ابو سعیدؓ منبر ته پاځیدو او وے فرمائیل : انی والله ما ابالی اختلفت صلاتکم او لم تختلف" ما ته ددے خبرے هیڅ پرواه نشته چه ستاسو مونځ ګډوډ کیږی او که نه (خو ما د رسول الله ﷺ تابعداری اوکړه)۔

فائده : ددے حدیث نه معلومیږی چه بنی امیه به بعض تکبیرات د انتقالاتو ترك کول لیکن حافظ فرمائی : والذی یظهر ان الاختلاف بینهم کان فی الجهر بالتکبیر والاسرار به وکان مروان وغیره من بنی امیة یسرون به انتهیٰ۔ ظاهر دا ده چه اختلاف د دوی په مابین کښ په جهر د تکبیر او اسرار د تکبیر کښ دے او مروان وغیره بنی امیه به پدے باندے پټوالے کولو انتهیٰ۔

پدے وجه دلته ابوسعید خدریؓ جهر پدے تکبیراتو اوکړو چه دوی ته سنت عمل اوښائی۔

فائده ۲ : ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه کله د دوه رکعاتو نه پاځیږی نو ددے پاځیدو سره به یوځائے تکبیر وائی او دا مذهب د جمهورو علماؤ دے، امام مالكؒ وائی : کله چه دریم رکعت ته پاځیدو او بنه برابر شو روستو به الله اکبر اوکړی ځکه چه هغه دا د اول د مانځه سره مشابه کړیدے ځکه چه ابتداء کښ مونځ دوه رکعاته فرض وو بیا پکښ زیادت اوشو نو د مزید افتتاح به د مزید علیه د افتتاح په شان وی او دا دلیل بعض مالکیانو وئیلے دے، لیکن بیا خو مالکیانو لره پکار دی چه په دغه وخت کښ ورسره رفع الیدین هم اوکړی دے دپاره چه پوره مشابهت ئے د ابتداء د مانځه سره راشی او حال دا چه د مالکیانو نه پدے باندے څوك قائل نشته

۔ نو اول قول راجح دے ځکه حين لفظ ئے دليل دے ۔

۱۸– وَعَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ : صَلَّيْتُ خَلْفَ شَيْخٍ بِمَكَّةَ، فَكَبَّرَ ثِنْتَيْنِ وَعِشْرِيْنَ تَكْبِيْرَةً . فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ : إِنَّهُ أَحْمَقُ . فَقَالَ : ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ، سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ ﷺ . رواه البخاري.

ترجمه : او عکرمه رحمه الله فرمائي : ما په مکه کښې يو بوډا سړي (يعني ابو هريره) پسے مونځ اوکړو نو هغوی په مانځه کښې دوه ويشت تکبيرونه اووئيل نو ما ابن عباس رضی الله عنه ته اووئيل : چه (داسے معلوميږي چه) دا شخص احمق (ناپوهه) دے (چه دومره زيات تکبيرونه وائي) ابن عباسؓ اوفرمايل : ستا مور دے په تا باندے اوژاړي) دا طريقه خو د ابو القاسم (محمد رسول الله) ﷺ ده ۔ (بخاريؒ)

تشريح : خَلْفَ شَيْخٍ : د شيخ نه مراد ابو هريره رضی الله عنه دے لکه په روايت د احمد، طحاوي او طبراني کښې ذکر دے ۔ بِمَكَّةَ: ددے نه مراد مقام ابراهيم دے او دا د ماسپښين مونځ دے لکه په مستخرج د ابونعيم او اسماعيلي کښې ذکر دے ۔ فَكَبَّرَ : يعني په جهر سره ئے (۲۲) تکبيرونه اووئيل په څلورو رکعاتو کښې سره د تکبير افتتاح او دريم رکعت ته پاڅيدو وخت کښې إِنَّهُ أَحْمَقُ : نه مراد يا جاهل دے يا قليل العقل دے ۔ دلته ئے دے شيخ ته احمقانه نسبت اوکړو اشاره ده چه څوك د دين مخالفت کوي نو هغه ته دا نسبت جائز دے او دلته عکرمه په خپل خيال باندے دا نسبت کوي اصل کښې دے په خطاء دے ۔

ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ : دا عادتي ښيرے دی چه ددے حقيقت ئے اراده نه وی يعني مور دِے بوره شه چه په تا اوژاړي ۔ ابن عباسؓ عکرمهؒ ته دا ښيرے ځکه اوکړے چه هغه يو جليل القدر صحابی ته د حمق او جهالت نسبت اوکړو او حال دا چه هغه ددے حُمق نه بری دے، نو دا ښيرے هغه چا ته هم شامل دی چه ابو هريره ته غير فقيه وائي ۔ سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ : يعني دے شيخ چه دا کوم عمل اوکړو دا خو د رسول الله ﷺ مسنون طريقه ده۔

تنبيه : ددے حديث نه نيموي په آثار السنن کښې استدلال کړيدے چه جلسة الاستراحة پکښې نه ده ذکر نو دا نښ ته ځکه که جلسه د استراحت وے نو بيا به تکبيرات (۲٤) ذکر شوی وے ځکه چه رسول الله ﷺ به د هر کيناستو او پورته کيدو سره الله اکبر وئيلو، ليکن دا استدلال صحيح نه دے وجه دا ده چه مونږ مخکښې وئيلي دی چه جلسه د استراحت يوه خفيفه معمولی ناسته ده پدے وجه شريعت پدے کښې څه ذکر ندے مشروع کړے او دا څه مستقله جلسه نه ده بلکه د پاڅيدو دپاره تيارے دے نو ددے حديث نه نفی د جلسة الاستراحة نه معلوميږي۔ ۲– دويم که اومنو چه نه ده ذکر نو دا نه ذکر کول معلوميږي په اشارة النص سره او مخکښې حديث د مالك

بن الحويرث په عبارة النص سره د هغې په ثبوت باندې دلالت كوى او عبارة النص خو عند الكل مقدم دې په اشاره باندې نو دا استدلال صحيح نه شو۔

---

١٩ – وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ مُرْسَلًا، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُكَبِّرُ فِي الصَّلَاةِ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ، فَلَمْ تَزَلْ تِلْكَ صَلَاتُه ﷺ حَتّٰى لَقِيَ اللهَ تَعَالٰى، رواهُ مالك.

ترجمه: او علي بن حسينؒ په طريقه د مرسل روايت فرمائي: رسول الله ﷺ به چه هر كله خكته او پورته كيدو نو الله اكبر به ئې وئيلو، او رسول الله ﷺ به هميشه دغه شان مونځ كولو تردې چه د الله تعالى سره ئې ملاقات اوشو۔ (مالكؒ)

تعارف د علي بن الحسين: دده مكمل نوم علي بن الحسين بن علي بن ابي طالب مشهور دې په زين العابدين سره او ابو الحسن الهاشميؒ ئې كنيه ده بعض وائي ابو الحسين المدنيؒ دې۔ دا د اهل بيت د اكابرو او ساداتو نه دې او د جليل القدر تابعينو نه دې، حافظ عسقلانيؒ فرمائي: ثقه ثبت، عابد، فقيه فاضل، مشهور۔ زهريؒ وائي: ما رأيت قريشياً افضل منه وما رأيت افقه منه۔ سعيد بن المسيبؒ وائي: ما رأيت اورع منه، دده كرامت دا وو چه په هره ورځ او شپه (شب وروز) كښې ترمرګه پورې زر ركعاته كول او د ډيرو عبادتونو په وجه به ورته زين العابدين وئيلې شو۔ كما في المرعاة (٣/٨١) والله اعلم۔

سفيان بن عيينهؒ وائي: علي بن الحسينؒ حج اوكړو نو كله ئې چه احرام اوتړلو رنګ ئې زيړ شو او رپيدو او د تلبيه وئيلو طاقت ئې نه وو چا ورته اووئيل: ولې تلبيه نه وائې؟ هغه اووئيل: ددې نه يريږم چه زه به لبيك اووايم نو الله به اووائي: لا لبيك نو بيا ورته اووئيل شو: دا خو ضروري ده نو كله ئې چه تلبيه شروع كړه بې هوشي پرې راغله، او د اوښې نه راپريوتو او همدغه شان به پرې بې هوشي تله راتله تردې چه حج ئې پوره كړو نو ډير فضائل لري۔ د پلار سره په جنګ كښې شريك وو ليكن مريض شونو د جنګ نه بچ پاتې شو۔ په سنه (٩٤) هجري كښې د (٥٨) كالو په عمر وفات شو او په بقيع كښې د خپل تره حسن په ځائې باندې دفن شو۔

تشريح: مُرْسَلًا: دا حديث مرسل دې ځكه علي بن الحسين د رسول الله ﷺ سره ملاقات ندې شوې۔ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ: د خفض نه مراد سجدې ته خكته كيدل دي او د رفع نه مراد سجدې نه پورته كيدل دي۔ حافظ عسقلانيؒ فرمائي: كلما خفض عام دې د مانځه ټولو انتقالاتو ته شامل دې ليكن ددې نه د ركوع نه پورته كيدو وخت مستثنىٰ دې په اجماع سره ځكه هغه وخت كښې به سمع الله لمن حمده وائي انتهىٰ۔

لكه ددې تفصيل په نورو رواياتو كښې راغلې دې۔

درجة الحدیث : اسناده مرسل صحیح اخرجه مالك فی الموطأ (۷٦/۱رقم : ۱۷) قال الشیخ عبید الله المبارکفوری فی المرعاة : الحدیث وأن كان مرسلاً لكنه قد تعاضد بما جاء فی الباب من الاحادیث المسندة باللفظ العام کحدیث عمران بن الحصین وابی هریرة عند البخاری ومسلم وحدیث ابی موسی عند احمد وحدیث ابن مسعود عند احمد والنسائی والدارمی والترمذی والطحاوی الخ۔

۲۰ – وَعَنْ عَلْقَمَةَ ،قَالَ : قَالَ لَنَا ابْنُ مَسْعُوْدٍ : اَلا اُصَلِّیْ بِكُمْ صَلاةَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَصَلّٰی، وَلَمْ یَرْفَعْ یَدَیْهِ اِلَّا اَوَّلَ مَرَّةٍ وَاحِدَةٍ مَعَ تَكْبِیْرِ الْإِفْتِتَاحِ. رواه الترمذی وابوداود، والنسائی . وقال ابوداود : لیس هو بصحیح علی هذا المعنی .

ترجمه : او علقمه رحمه الله فرمائی : چه ابن مسعود مونږ ته اوفرمایل : چه زه تاسو ته د رسول الله ﷺ په شان مونځ اونکړم ؟ نو هغه مونږ ته مونځ اوکړو او لاسونه ئې پورته نه کړل مګر صرف یو کرت د تکبیر تحریمه سره ۔ (ترمذی، ابوداود، نسائی)

تشریح : وَلَمْ یَرْفَعْ یَدَیْهِ اِلَّا اَوَّلَ مَرَّةٍ وَاحِدَةٍ مَعَ تَكْبِیْرِ الْإِفْتِتَاحِ : د نسائی (۱۵۸/۱) لفظ دے : فرفع یدیه اول مرة ثم لم یعد۔ ددے حدیث نه احناف په عدم استحباب د رفع الیدین فی المواضع الثلاثه استدلال کوی لیکن پدے کښې تفصیل د مالها او ماعلیها مخکښې مسئله کښې ذکر شویدے چه ددے لس دولس جوابونه دی چه دا حدیث ضعیف دے بالفرض که صحیح یا حسن شی نو پدے کښې نفی ده او په نورو روایاتو کښې اثبات دے او نفی مقدم وی په اثبات ۔ یا دا چه پدے کښې رفع الیدین په مواضع ثلاثه کښې ندی ذکر نورو صحابه کرامو ذکر کړیدی نو دا زیادت د ثقه دے او زیادت د ثقه مقبول وی یا ځا چه دا محمول دے په جواز د ترك د رفع الیدین کما قال ابن حزم فی المحلی (٦/۳)۔

درجة الحدیث : صححه ابن حزم فی المحلی (۸۸/٤) وحسن الترمذی (۲۵۷) واخرجه ابوداود (۷٤۸) والنسائی (۱۹۵/۲) وضعفه الائمة الحفاظ المتقنون كما مرّ قریباً فی تفصیل المسئلة فراجعها۔

۲۱ – وَعَنْ اَبِیْ حُمَیْدٍ السَّاعِدِیِّ رضی الله عنه، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا قَامَ اِلَی الصَّلَاةِ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، وَرَفَعَ یَدَیْهِ، وَقَالَ : اَللهُ اَكْبَرُ . رواه ابن ماجه.

ترجمه : او ابو حمید الساعدی رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ به کله مانځه ته اودریدو نو قبلې ته به ئې مخ کړو او لاسونه به ئې پورته کړل او الله اکبر به ئې اوویلو ۔ (ابن ماجهٔ)

تشریح : وَقَالَ : اَللهُ اَكْبَرُ پدے کښې دا خبره نه ده ذکر چه رفع الیدین به د الله اکبر وئیلو نه مخکښې کوی او که روستو ځکه واو د مطلق جمع دپاره راځی مګر په روایت د ترمذی کښې اوږد

حديث دے او په هغے کښې داسے لفظ دے: ثم قال :نو بيا دا دليل دے په تقديم د رفع اليدين په تکبير باندے او پدے کښې درے طريقے مخکښې په حديث (٣) صفحه (٤٣) کښې ذکر شويدي فراجعها۔

فائده: علامه سندیؒ په حاشيه د ابن ماجهؒ کښې فرمائي: ظاهر د حديث نه معلوميږي چه نبي عليه السلام به په ژبه باندے نيت نه وئيلو (ځکه که هغه نيت وئيلے وے نو هغه به هم ذکر وے) نو ددے وجے نه ډيرو علماؤ نيت په ژبه وئيلو ته بدعت وئيلے دے الخ او همدا حقه خبره ده۔

بيا دلته تعيين د لفظ الله اکبر راغلو چه دا صريح دليل دے د جمهورو دپاره چه تکبير د الله اکبر لفظ نه سوا په بل لفظ باندے صحيح نه دے وقد تقدمت المسئلة فی الحديث الاول صفحه (١٧) تفصيلا۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابن ماجه (٨٠٣) وايضاً اخرجه الترمذی کما فی نصب الراية (١/ ٣١١) وصححه ابن حبان وابن خزيمة کذا قال الحافظ فی الفتح (٣/ ٤٠٢)

---

٢٢ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : «صَلّٰی بِنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الظُّهْرَ، وَفِیْ مُؤَخَّرِ الصُّفُوْفِ رَجُلٌ، فَاَسَاءَ الصَّلَاةَ، فَلَمَّا سَلَّمَ نَادَاهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: يَا فُلَانُ ! اَلَا تَتَّقِیْ اللهَ؟ اَلَا تَرٰی کَيْفَ تُصَلِّیْ ؟ اِنَّکُمْ تَرَوْنَ اَنَّهُ يَخْفٰی عَلَیَّ شَیْئٌ مِمَّا تَصْنَعُوْنَ، وَاللهِ اِنِّیْ لَاَرٰی مِنْ خَلْفِیْ کَمَا اَرٰی مِنْ بَيْنِ يَدَیَّ». رواه احمد.

ترجمه او ابو هريره رضی الله عنه فرمائي چه (يو ځل) مونږ ته رسول الله ﷺ د ماسپښين مونځ اوکړو، په آخری صفونو کښې يو سړے ولاړ وو چه هغه صحيح طريقے سره مونځ اونه کړو، کله چه هغه شخص سلام اوګرځولو نو رسول الله ﷺ هغه ته آواز اوکړو اے فلانيه ! آيا ته د الله نه نه يريږے ؟ آيا ته نه ګورے چه څنګه مونځ کوے ؟ يقينا ستاسو ګمان دے چه تاسو (په مانځه کښې) څه کوئ هغه به په ما باندے پټيږي، قسم په الله يقينا زه روستو نه څيزونه وينم لکه څنګه چه د مخے نه ئے وينم ۔ (احمدؒ)

تشريح : فَاَسَاءَ الصَّلَاةَ : يعني مونځ ئے خراب کولو ۔ ابن حجر وائي : دے سړی په مانځه کښې داسے کار اوکړو چه په هغے سره دده مونځ باطل شو ځکه رسول الله ﷺ الا تتقی الله سره منع کړو چه د الله د مخالفت او عذاب نه يره اوکړه ۔ اَلَا تَرٰی : يعني ته فکر نه کوے ۔ اِنَّکُمْ تَرَوْنَ : دلته رؤيت په معنی د ظن دے يعني ستاسو دا ګمان دے چه په ما باندے به ستاسو کارونه په مانځه کښې پټ وی نه ! بلکه زه په مانځه کښې تاسو د خپلے شانه وينم ۔

لَاَرٰی مِنْ خَلْفِیْ : او دا ليدل د رسول الله ﷺ معجزه ده چه په مانځه کښې به هغه شاته خلق ليدل او دا په خپل حقيقت باندے محمول دے ۔ شيخ عبد الحق الدهلوی په اللمعات کښې

ليكي : الصواب انه محمول على ظاهره وان هذا الابصار ادراك حقيقي بحاسة العين خاص به ﷺ على خرق العادة فكان يرى من غير مقابلة انتهىٰ - **يعني دا د سترګو ليدل وو او حقيقت باندے بناء دي او د رسول الله ﷺ خصوصيت دے چه هغه به د شاتنه خلق ليدل خلاف العادة -**

لکه ددے نه سعدي داسے تعبير کوي :

کسے پرسیده از گم کرده فرزند ۔ که ای روشن گہر پیر خرد مند
زمصرش بوئی پیراہن شنیدی ۔ چرا در چاه کنعانش نہ دیدی
بگفتا حال من برقی جہان است ۔ دمے پیدا ودیگر دم نہانست
گہے بر طارم اعلیٰ نشینم ۔ گہے بر پشت پائے خود نہ بینم

امام نووي ؒ وائي : علماء فرمائي : ددے معنی دا ده چه الله تعالى به د رسول الله ﷺ په شا کښې داسے ادراک پیدا کړو چه هغه به روستو خلق لیدل، او د رسول الله ﷺ دپاره ددے نه هم ډیر عجيبه معجزات شته او ددے نه عقل منع نه کوي او نه شرع بلکه شريعت دا بیان کړیدی نو په ظاهر باندے به پریخودلے شي۔امام احمد بن حنبل ؒ فرمائي : هذه الرؤية رؤية عين حقيقةً انتهىٰ -

بعض وائي : دا د زړه ليدل وو بعض وائي : دا وحي او الهام وو -

بعض وائي : د نبي عليه السلام په شا کښې نرۍ سورې وو په هغے کښې به ئے ليدل کول او چا ته به پته نه لګيدله - ليکن دا اقوال صحيح نه دي بيا دا حالت صرف د مانځه پورے خاص دے ددے وجے نه بهر د مانځه نه به ئے روستو خلق نه ليدل او پدے باره کښې يو روايت هم راغلے دے (انی لااعلم ما وراء جداری**)- (زه نه پوهيږم چه ددے ديوال نه اخوا څه دي ؟) ملا علي القاري د ابن حجر نه نقل کوي : که دا حديث صحيح ثابت شي نو ددے تعارض ددے حديث الباب سره نشته ځکه دا د مانځه نه بهر حالت دے - والله اعلم -**

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد في المسند (٢/٤٤٩) ورجاله ثقات غير ان محمد بن اسحاق مدلس وقد عنعنه لكن الحديث صحيح فقد اخرج البخاري وغيره من طريق اخرىٰ عن ابى هريرة مرفوعاً وآخر بنحوه من حديث انس وهو اول حديث سيأتي في باب الركوع۔

□□□□□□□

باب ما يقرأ بعد التكبير

يعنى هغه اذكار او دعاګانې چه د تكبير افتتاح نه روستو وئيلے كيږي۔
ديته په كتابونو كښې باب الاستفتاح وائي:
مناسبت: مخكښې صفة الصلاة اجمالًا بيان شو اوس ددے هر يو عمل بيل بيل بيان كوي۔
دلته يو څو مسائل دي:
١- **المسئلة الاولى: ما يقرأ بعد التكبير** كښې اختلاف دے:
١- امام مالكؒ نه مشهور قول دا دے چه د الله اكبر نه پس به الحمد لله شروع كوي او تكبير نه پس هيڅ وئيل نشته بلكه فاتحه به شروع كوي۔
د امام مالك دليل: حديث د انسؓ دے «كان النبي ﷺ وابوبكر وعمر يفتتحون الصلاة بالحمد لله رب العالمين» متفق عليه) نو نبي عليه السلام به قراءت د الحمد نه شروع كولو پدے كښې كلمات د استفتاح نشته ليكن دا قول ضعيف دے وجه دا ده چه امام مالكؒ ته د استفتاح د كلماتو حديث نه دے رسيدلے يا رسيدلے دے ليكن د هغه په نيز په عمل ددے كلماتو كښې تعارض ښكاري ځكه مختلف راغلي دي نو په كوم عمل اوكړو، صحيح خبره دا ده چه په احاديثو كښې هيڅ قسم تعارض نشته بلكه دا تنوع د عبادت دے په مختلف طريقو ئے وئيلے شي په بيل بيل وخت كښې۔ او هر چه دغه حديث د انسؓ دے نو د هغے نه مراد قرائت شروع كول د الحمد نه دي او دا خو اتفاقي خبره ده چه قراءت د فاتحے نه شروع كولے شي نو پدے حديث كښې نفي د استفتاح نشته۔
٢- **جمهور** (ائمه ثلاثه) وغيره اهل علم وائي چه د تكبير نه بعد اذكار وئيل سنت عمل دے كوم چه احاديثو كښې راغلي دي او روستو راروان دي سبحانك اللهم، يا اللهم باعد بيني او دا سنت دي او د نبي افعال دي او فعل د نبي د وجوب دپاره نه وي او امر پكښې ندے راغلے۔
اګر كه بعض سلف ورته واجب وائي په صلوا كما رأيتموني اصلي امر سره نو بيا په ترك ددے سره به سجده سهوه لازميږي۔
د جمهورو دليل دا دے چه نبي عليه السلام نه دعاء د استفتاح نقل ده او صحابه كرامو هغے باندے عمل كړيدے او عمر فاروق به په سبحانك اللهم باندے استفتاح كوله او پدے به ئے جهر كولو دے دپاره چه خلق ئے واوري او دغه شان عبد الله بن مسعود رضى الله عنه نه هم۔ (المغني

٥٥١/١) نيل الاوطار(٢/٢١٢)، تحفة الاحوذي (١/٢٠٣)

المسئلة الثانية : ادعية الاستفتاح : د استفتاح پـه مقام ډيرے دعاګانے پـه احاديثو کښې نقل دي پنځه دعاګانے خو مصنف ذکر کړيدي : ١– يوه دعاء پدے حديث کښې ذکر ده اللهم باعد بيني الخ ٢– رسول الله ﷺ به وجهت وجهي للذي فطر السموات والارض حنيفا مسلما وما انا من المشركين، ان صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب العالمين لا شريك له وبذلك امرت وانا من المسلمين (رواه احمد ومسلم والترمذي وصححه عن علي بن ابي طالب ـ (نيل الاوطار (٢/١٩١/١٩١) الفقه الاسلامي لوهبة (٩/٦٢٩٠)

دا د قرآن آيت دے مګر پـه آخر کښې بـه د مونځ کونکي د حال مطابق انا من المسلمين وائي ځکه اول المسلمين خو صرف رسول الله ﷺ دے کما قال بعض العلماء ليکن صحيح دا ده چه وانا اول المسلمين هم وئيلے شي ځکه معنى به دا وي چه زه دے عمل ته اول تابعدار يم ـ انظر صفة الصلاة (٦٤) ٣– سبحانك اللهم الخ دا د عمر فاروق نه نقل ده روستو راځي ـ

٤– يو صحابي الله اكبر كبيراً والحمد لله كثيراً وسبحان الله بكرةً واصيلًا سره استفتاح اوکړه نبي عليه السلام اوفرمايل : ما پدے کلماتو تعجب اوکړو چه د آسمان دروازے ورته کولاوے شوے نو دا سنت تقريري سره ثابت شو ـ (مسلم، نسائي (٨٥٢) ابوعوانة ابونعيم في اخبار اصبهان (١/٢١٠) وذلك في الفريضة) او دا جبير بن مطعم د نبي ﷺ نه په تطوع کښې اوريدلے ده ـ صفة الصلاة (٦٦) ـ

٥– الحمد لله حمداً كثيراً طيباً مباركاً فيه ، (مسلم وابوعوانه، ابوداود : ٧٦٣) احمد (٣/١٠٦) كتاب الدعاء للطبراني (٩٢) ابن السني (١٠٨) يو سړي دا دعاء اولوستله رسول الله ﷺ د هغه تائيد اوکړو او دائے اوفرمائيل چه دولس ملائکو پـه جلتئ سره دا کلمات واخستل وسيأتي۔ دغه شان د شپے مانځه کښې اذکار راغلي دي ـ زمونږ کتاب (مسنون مستند دعاګانے) ته رجوع اوکړه ـ

المسئلة الثالثة : دا اذكار په نوافلو كښې دي او كه فرائضو كښې :

پدے اختلاف دے احناف وائي : چه پـه فرائضو او سنتو کښې پـه دعاء الاستفتاح کښې فرق دے پـه فرائضو کښې بـه صرف سبحانك اللهم الخ وائي او هر چه نوافل دي نو پـه هغے کښې فراخي ده نو پـه هغے کښې دغـه هر قسم دعاء ګانے وئيلے شي او دا مذهب د امام ابوحنيفه او محمد (طرفينو) دے كذا في بذل المجهود (٢/٢٦) او عرف الشذي ص (١٣٤) کښې دي : د ابن امير الحاج نـه نقل کوي چه اذكار وارده عند الاحناف جائز دي پـه نوافلو کښې او پـه فرائضو کښې هم جائز دي خو چه کله د هغے پـه وئيلو کښې پـه خلقو تکليف نـه وي ـ

٢– قول ثاني دا دے چه دا اذکار عام دي پـه نوافل او فرائضو تولو کښې ئے وئيلے شي سوئ د

هغه نه چه هغې سره د تهجد یا صلاة اللیل یا د مکتوبه قید راغلے وی نو بیا به ئے په تولو مونځونو کښې نه وائي او کوم چه مطلق ذکر وی نو هغه په نفل او فرض تولو کښې وئیلے شی ځکه دا باب د عبادت دے او په عبادت کښې قیاس نه جاری کیږی او همدا راجح قول دے نو پدے کښې دغه مخکښې لیکلے شوی اذکار په دواړو کښې وئیل جائز دی ځکه دا په فرائضو کښې هم نقل دی او په نوافلو کښې هم ۔

او بعض دعاګانے د نوافلو پورے خاص دی لکه ۱- اللهم لك الحمد انت نور السموات والارض ومن فیهن ولك الحمد انت قیم السموات والارض الخ پدے کښې داسے الفاظ دی ۔ ابن عباس فرمائی : کان النبی ﷺ اذا قام من اللیل یتهجد قال : اللهم لك الحمد ...... الحدیث (بخاری (۹۳۵/۲) مسلم (۲٦۲/۱) ابوداود (۷۷۱)

۲-دارنګه عائشهؓ فرمائی : کان اذا قام من اللیل یفتتح صلاته : اللهم رب جبرائیل ومیکائیل واسرافیل فاطر السموات والارض عالم الغیب والشهادة انت تحکم بین عبادك فیما کانوا فیه یختلفون اهدنی لما اختلف فیه من الحق باذنك انك تهدی من تشاء الی صراط مستقیم (حسن) ابوداود (۷٦۷)

۳- الله اکبر ثلاثا ذو الملکوت والجبروت والکبریاء والعظمة ۔ حذیفه رضی الله عنه رسول الله ﷺ د شپے په مانځه کښې اولیدو چه دا دعاء ئے اولوستله ۔ الله اکبر ثلاثا الخ (ابوداود : ۱٦٦/۱ رقم : ۸۷٤) نسائی (۱۰۹۷) وکذا فی صفة الصلاة للالبانی (٦۷)

نو ثابته شوه دا خبره چه کومو دعاګانو کښې قید د تهجد یا د نفل راغلے وی او فرضو کښې نه وی ثابت نو هغه به صرف نفل مانځه کښې لوستلے شی او کوم چه دواړو کښې ثابت وی نو دواړو کښې به لوستے شی او په دے کښې د رسول الله ﷺ د احادیثو تابعداری ده ۔

٤- المسئلة الرابعة : په ادعیه د استفتاح کښې کومه دعا ډیره بهتره ده :

۱- امام ابوحنیفه احمد او محمد رحمهم الله وائی : سبحانك اللهم سره شروع کول مستحب دی او نور اذکار د دے په ځائے جائز دی ۔ ۱- **دلیل** دا وائی : ځکه پدے کښې د الله تعالی صفات دی او په نورو اذکارو کښې دعاګانے دی او د الله صفات وئیل غوره دی د دعاګانو نه ۔

۲- **دلیل** : مسلم (۱۷۲/۱) او دارقطنی (۳۰۱/۱) کښې دی چه عمر فاروق به دا په فرض مانځه کښې په جهر لوستله دپاره د تعلیم د خلقو (ان عمر بن الخطاب کان یجهر بهؤلاء الکلمات) معلومیږی چه دا د رسول الله ﷺ دائمی ذکر وو ځکه ئے عمرؓ خلقو ته تعلیم ورکوی ۔

۲- **امام شافعی** رحمه الله وائی : په هغه دعا سره شروع کول بهتر دی کوم چه په حدیث د علیؓ کښې راغلے ده (وجهت وجهی للذی فطر السموات الخ) کما مر (مسلم)

او دوی وائی : دغه حدیث د سبحانك اللهم دومره قوی روایت ندے مرفوعا ۔ او موقوف حدیث د عمر کښې هم انقطاع ده ځکه عبد الله (ابن ابو لبابه) د عمر نه سماع نه ده کړے قاله

النووی وقال الحافظ : فی اسناده انقطاع او مبارکفوری وائی دا حدیث مسلم استطرادا او تبعا راوړیدے نه اصالةً ۔ حافظ په بلوغ المرام کښې وائی : رواه الدارقطنی موصولاً ۔

لیکن صحیح خبره دا ده چه سبحانك اللهم والا حدیث هم صحیح دے کما سیأتی ۔ هدایه مولا دا جواب کوی چه امام شافعیؒ چه کوم روایت د علیؓ ذکر کړیدے هغه محمول دے په نفل مانځه باندے ځکه په نفلو کښې مقصود تطویل وی او فرض کښې خو مقصود اختصار وی کوم چه منافی دے ددے دعاء سره ځکه دے دعاء کښې تطویل دے ۔ لیکن دا قیاس دے په مقابله د نص کښې ۔

او ددے دپاره عبد الحق الدهلویؒ په اللمعات کښې دا دلیل وئیلے دے چه په روایت د نسائی کښې په حدیث د محمد بن مسلمهؓ کښې دی : ان رسول الله ﷺ کان اذا قام یصلی تطوعاً قال الله اکبر وجهت وجهی الخ نو وائی چه دا دلیل دے زمونږ د مذهب دپاره چه دا دعا خاص ده د نفلو پورے۔

لیکن ددے **جواب** دا دے چه په ډیرو روایاتو د حدیث علیؓ کښې : (اذا قام الی الصلاة المکتوبة) هم راغلے دے کما فی ابن حبان وابی داود (۷٦۱) والترمذی کتاب الدعوات والدارقطنی (۱/۳۰۰) ورواه الشافعی وقیده ایضا بالمکتوبه ۔ (نیل الاوطار ۲/۲۱۱) تحفة الاحوذی (۱/۲۰۳)

او د امام مسلم دے حدیث لره په باب صلوة اللیل کښې ذکر کول دلیل نه دے چه دا خاص دے د صلوة اللیل پورے وجه دا ده چه دا په مکتوبه کښې هم راغلے دے نو معلومه شوه چه دا مطلق ذکر دے هر مانځه کښې وئیل ئے مستحب دی ۔ ★–دارنګه که لفظ د تطوع او صلوة اللیل دلیل د خصوصیت ددے دعا شی په نوافلو پورے نو بیا احنافو چه کومه دعا د فرض دپاره غوره کړیده (سبحانك اللهم) هغه دِ هم د نفلو پورے خاص شی ځکه ترمذی او ابوداود رقم (۷۷۵) کښې د ابوسعید په روایت کښې دی : ان النبی ﷺ کان اذا قام من اللیل : کبر ثم یقول سبحانك اللهم وبحمدك الی آخر الدعاء فتفکر وانظر التحفة (۱/۲۰۳) والمرعاة (۳/۸۹)۔ بلکه وجه دا ده چه حدیث کښې دا لفظ دے : اسکاتك بین التکبیر وبین القرائة ما تقول) نه معلومیږی چه دا فرض جماعت مراد دے۔ نو دا قول د احنافو چه دا دعاء (وجهت) د نفلو پورے خاص ده او په فرائضو کښې مشروع نه ده بالکل باطل دے بلکه لکه څنګه چه سبحانك اللهم دواړو کښې نقل ده نو دغه شان وجهت دعاء هم دواړو کښې نقل ده بلکه که قوت د سند ته نظر اوکړے شی نو پکار دا ده چه اللهم باعد بینی وبین خطایای دعاء د ټولو نه بهتره اووئیلے شی ځکه دا متفق علیه حدیث دے۔

او علامه ابن الهمام فتح القدیر کښې ددے حدیث د نقل کولو نه پس وئیلی دی : وهو الاصح من الکل لانه متفق علیه انتهیٰ ددے وجے نه علامه الشیخ عبد الرحمن المبارکفوریؒ صاحب د تحفة الاحوذی (۱/۲۰۳) فرمائی : چه اصح ما ورد فی الاستفتاح حدیث د ابو هریره دے (اللهم باعد والا) نو دا د ټولو نه اول اختیارول پکار دی بیا حدیث د علیؓ (وجهت والا) ځکه دا د مسلم صحیح روایت دے او په ټولو مونځونو کښې ئے اختیارول پکار دی ۔

ليکن مونږ وايو چه دا ټول اذکار د تنوع في العبادات د قبيلې نه دي او هريو باندې عمل کول پکار دي، او کله يوه دعاء او کله بله او کله بله لوستل مناسب دي، دې دپاره چه توجه ښه برابره شي، او عمل په هر حديث باندې اوشي. ددې وجې نه امام محمدؒ فرمائي: چه په مانځه کښې هميشه يوه دعاء لوستل د انسان زړه سختوي او توجه ئې ورته نه پيدا کيږي. او ددې وجې نه رسول الله ﷺ هم بيلې بيلې دعاګانې وئيلي دي نو پدې مقام کښې د مذهب د حفاظت دپاره د يو بل جوابونو ته ضرورت نشته لکه څنګه چه د هدايه مولا عادت دې.

امام بغويؒ فرمائي: وبأي دعاء من الادعية الواردة في هذا الباب استفتح حصل سنة الافتتاح (الروضة الندية ص (١/٩٠٩) لصديق حسن خان بعض حنفي مولیانو دا جواب کړيدې چه سبحانك اللهم به پس د تکبير نه وائي او وجهت به د تکبير نه مخکښې وائي كما في العيني (٣٦/٣) او علامه عبد الحي اللكهنوي په عمدة الرعايه کښې وئيلي دي: متأخرين احناف دا غوره کوي چه انی وجهت وجهي للذي الخ د تحريمې نه مخکښې اولوستې شي ددې دپاره چه دا په احضار د زړه کښې او په جمع د عزيمت کښې کمال پيدا کړي. كما ذكره في النهايه والبنايه وغيرهما.

بيا وائي: لكن هذا مما لا اصل له في السنة وانما الثابت في الاحاديث التوجيه في الصلاة لا قبلها انتهى. يعنې دا هسې بې اصله خبره ده او احاديثو کښې نده ثابته بلکه احاديثو کښې توجيه په مانځه کښې دننه ثابته ده نه بهر د مانځه نه. (تحفة الاحوذي)

هدايه مولا هم دا خبره صحيح کړيده چه توجيه به قبل التكبير وائي ليکن علامه ابن عبد العز الحنفي په التنبيه على مشكلات الهدايه (٥٣٣/٢) کښې په هغه باندې رد کوي: في تصحيحه نظر، فان المروى عن على رضى الله عنه انه قال: كان رسول الله ﷺ اذا قام الى الصلاة كبر ثم قال: وجهت وجهي اخرجه مسلم (١/٥٣٤) رقم (٢٠١) ولم يرد تقديم الاستفتاح على تكبيرة الاحرام، فلا وجه لتصحيحه، بل الصحيح ما كان على الوجه الذي وردت به السنة من اى فعل كان.

ددې مسئلې تفصيل لاندينی کتابونو کښې اوګوره: الفقه الاسلامي وادلته لوهبة الزحيلي (١/٦٨٩) والفقه على المذاهب الاربعة (١/٢٥٦) لعبد الرحمن الجزيري، تحفة الاحوذي (١/٢٠٣) نيل الاوطار (٢/٢١٢) بداية المجتهد (١/٨٩) فتاوى الدين الخالص (٤/١٠٣) والمرعاة (٣/٨٩) والمغني لابن قدامة (١/٥٥٠).

المسئلة الخامسة: د استفتاح دعاګانو کښې جمع جائز ده که نه؟

د امام ابويوسفؒ په نيز وجهت وجهي او سبحانك اللهم دواړه جمع کول جائز دي (هدايه مع التنبيه على مشكلات الهدايه (٥٣٢/٢) او ددې تائيد امام طحاويؒ کړيدې په معاني الآثار کښې (١/) او دا قول د ابواسحاق المروزي او د قاضي ابو حامد الشافعي مذهب هم دې انظر المجموع (٣/٣٢٢) وبذل المجهود (٢/٢٦) ليکن دا قول خطاء دې وجه دا ده چه د رسول الله ﷺ نه پدې

مقام کښې معمولي سکته نقل ده نو که ټولے دعاګانے یا بعض دعاګانے سرہ یو ځائے کوی نو بیا په (اسکاتة) باندے عمل نه راځی۔

دويمه وجه دا ده چه د رسول الله ﷺ نه په صحیح سند سره جمع د دعاګانو او اذکارو پدے مقام کښې نده ثابته لهذا دا عبادت دے نو اقتصار به کولے شی په ورود د نص باندے۔

هدايه مولا د ابو یوسف دلیل دا ذکر کوی : لرواية علی رضی الله عنه ان النبی کان یقول ذلك لیکن علامه ابن ابی العز الحنفی د سروجي رحمه الله نه نقل کوی چه په روایت د علیؓ کښې جمع بین التسبیح والتوجیه نشته۔ نو دا د هدایه مولا خپله دماغی خبره ده۔

٢- نو **صحیح مذهب** د عام علماؤ دے چه جمع بین الاذکار پدے مقام کښې نشته ، او کوم حدیث د جمع بین الاذکار چه د عبد الله بن عمرؓ نه موقوف نقل دے او کله د جابر نه نقل کیږی کما فی نصب الراية (١/٣١٩) ۔ نو هغه ضعیف السند دے فیه عبد الله بن عامر الاسلمی وهو ضعیف ضعفه البیهقی فی السنن الکبریٰ (٢/٣٥) او بل روایت د جابر بن عبد الله دے مرفوعا هغه هم ضعیف دے کما فی السنن الکبریٰ (٢/٢٥) وضعفه البیهقی فی المعرفه ۔ انظر نصب الرایه (١/٣١٩) و مجمع الزوائد (٣/١٠٧) وتعلیق التنبیه علی مشکلات الهدایة (٢/٥٣٣) لعبد الحکیم بن محمد شاکر ۔ او دغه شان د علیؓ نه جمع الاذکار هم په ضعیف السند نقل ده ۔ انظر نصب الرایه (١/٣١٩) ددے وجے نه امام طحاویؒ د جمع بین الذکرین د استحباب دپاره دلیل دا وئیلے دے چه روایت په سبحانك باندے هم راغلے دے او په وجهت هم راغلے دے نو مونږ مستحب اوګنړله چه مونځ کونکے دے دواړه جمع کړی نو امام طحاویؒ ته دا یو حدیث هم صحیح ندے ښکاره شوے ځکه ئے پرے استدلال ندے کړے ۔ انظر معانی الآثار (١/١٤٦) ونصب الرایه (١/٣١٩) وفتاوی الدین الخالص (٤/١٠٥) ۔

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائی : الاستفتاحات الثابتة کلها سائغة باتفاق المسلمین ولم یکن ﷺ یداوم علی استفتاح واحد قطعاً، والافضل ان یأتی بالعبادات المتنوعة علی وجوهٍ متنوعةٍ کل نوع منها علی حدته ولا یستحب الجمع نقله فی توضیح الاحکام (٢/٢٢)۔

١- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : کَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یَسْکُتُ بَیْنَ التَّکْبِیْرِ وَبَیْنَ الْقِرَائَةِ اِسْکَاتَةً، فَقُلْتُ : بِاَبِیْ اَنْتَ وَاُمِّیْ یَارَسُوْلَ اللهِ! اِسْکَاتُكَ بَیْنَ التَّکْبِیْرِ وَبَیْنَ الْقِرَائَةِ مَا تَقُوْلُ ؟ قَالَ : اَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَیْنِیْ وَبَیْنَ خَطَایَایَ کَمَا بَاعَدْتَّ بَیْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اَللّٰهُمَّ نَقِّنِیْ مِنَ الْخَطَایَا کَمَا یُنَقَّی الثَّوْبُ الْاَبْیَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَایَایَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، متفق علیه.

ترجمه : او ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ به د تکبير تحريمه او قراءت ترمينځ خاموشي کوله څه اندازه خاموشي (يعني په اوچت آواز به ئې نه وئيل) نو ما (يوه ورځ) عرض اوکړو، اے د الله رسوله ! زما مور او پلار دِې په تا قربان وی، تاسو د تکبير تحريمه او قرائت ترمينځ خاموش کيدو سره څه وايئ ؟ نبي عليه السلام اوفرمايل : زه دا (دعا) وايم : اللهم باعد الخ اے الله ! زما او زما د گناهونو ترمينځ دومره جدا والے راوله څنګه چه تا د مشرق او مغرب ترمينځ جدائي راوستے ده (يعني زما گناهونه په مکمل طور سره معاف کړه) اے الله ! ما د گناهونو نه داسے پاك کړه لکه څنګه چه سپينه جامه د خيری نه صفا کيږی، اے الله ! زما گناهونه په اوبو، واوره او ګلئ سره اووينځه ۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح : يَسْكُتُ بَيْنَ التَّكْبِيْرِ دا د نصر نه دے سکوت نه ماخوذ دے چپ کيدلو ته وائي، علامه کرماني د بعض رواياتو نه په ضم د اول سره د باب افعال نه نقل کړيدے مگر هغه قول ضعيف دے ۔ اِسْكَاتَةً : (اى عن الجهر او عن القراءة) سکوت اصل مصدر دے او دا مفعول مطلق دے مطلب د حديث دا دے چه رسول الله ﷺ به د الله اکبر وئيلو نه تر الحمد شروع کولو پورے سکته کوله، او دا سکوت به صرف د جهر نه وو او مطلقا چپ کيدل به نه وو، يا د قرآن د لوستلو نه به غلے وو او نور ذکر د استفتاح به ئې لوستلو ځکه که حقيقي سکوت مراد شي نو بيا ابو هريرهؓ څنګه تپوس کوی چه اے د الله رسوله ته پدے مقام کښې کوم ذکر کوے ؟ معلوميږی چه دا سکوت د قرائت نه دے ۔

اِسْكَاتَكَ : دا منصوب دے په فعل مقدر سره اى اسألك اسكاتك ما تقول فيه ۔ تا نه ستا د غلي کيدو تپوس کوم چه ته څه وائے ۔ يا منصوب بنزع الخافض دے اى فى اسكاتك ما تقول فيه ۔ ته د خپل غلي کيدو وخت کښې څه وائے ؟ ۔ علامه ابن دقيق العيدؒ وائي ابو هريره رضي الله عنه د وينا تپوس ولے اوکړو نو ددے وجه دا معلوميږی چه کيدے شي ابو هريرهؓ د رسول الله ﷺ د خولے خوزيدل ليدلی وی نو ورته پته لګيدلے ده چه هغه خو څه وائي نو د هغے د تعيين تپوس ئے اوکړو چه ته کوم ذکر وائے ؟ لکه څنګه چه صحابه کرامؓ فرمائي : مونږ به د رسول الله ﷺ قرائت په سری مانځه کښې د هغه د ګيری په خوزيدلو معلومولو ۔

اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَطَايَايَ : دلته دوه مطلبونه جوړيږی : ۱ – يو دا چه زما او زما د هغه کارونو ترمينځ جدائي راولے چه هغه زه اوکړم نو د هغے نه گناهونه جوړ شي، نو مقصود په دے وخت کښې حفاظت وی او توفيق د پريخودلو د گناهونو وی ۔

۲ – دويم دا چه زما او زما د تير شوی گناهونو ترمينځ جدائي راولے يعني ما ته د تير شوی گناهونو مغفرت اوکړے او د هغے د بد اثر نه مے بچ کړے او په هغے باندے سزا مه راکوے ۔

بيا ئے (مباعده) وراندے والے ذکر کړو په ځائے د مغفرت او عصمت او ترك المواخذه، سره ددينه

چه مباعده په مکان او زمان کښې مستعمليږي پدے کښې کمال ته اشاره ده چه اے الله ! دا گناهونه ما نه بالکلیه زائل کړه او د هغے د بد اثر نه مے داسے وړاندے اوساته لکه یو انسان چه په زمانه یا مکان کښې وړاندے وي۔ كَمَا بَاعَدْتَّ : ای کابعادك بین المشرق والمغرب، مشرق او مغرب ئے ذکر کړل ځکه چه د دواړو یو ځائے کیدل محال دي، نو هغے سره ئے تشبیه ورکړه چه ما سره دغه گناهونه بالکل نزدے نشي ۔ نَقِّنِي : د باب تفعیل نه د امر صیغه ده ۔ يُنَقَّى : د مجهول مضارع صیغه ده۔ الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ : سپینه جامه ئے ذکر کړه وجه دا ده چه پدے باندے خیرې زیات ښکاري په نسبت د نورو رنگونو والا جامه باندے ۔ اشاره ده دیته چه انسان هم ډیر زر خیرنیږي په گناهونو سره او ایمان ئے خړیږي۔ ٢- دارنگه سپینه جامه نه خیرے زر زائله کیږي او د خیرې د ختمیدلو نه پس ډیره ښائسته ښکاري نو ما هم د گناهونو ختمولو نه پس ښائسته کړے ۔ مِنَ الدَّنَسِ : دنس، درن، وسخ الفاظ مترادفه دي خیرې ته وائي ۔

اغْسِلْ خَطَايَايَ : **سوال** : د نبي ﷺ خطایا او گناهونه خو نشته نو څنگه دا دعاء غواړي ؟

الجواب : دا تعلیم دے امت ته چه تاسو داسے دعاء غواړئ ۔ ٢- دویم دا چه دا دعاء د نبي د زیادت درجے طلب کولو دپاره ده ځکه د هغه په استغفار طلب کولو سره درجه اوچتیدله او زمونږ گناهونه رژیږي ۔ ٣- یا نبي علیه السلام ځان گناهگار گنړي نو دا دعاء التقصیر ده چه د الله حق ډیر زیات دے هغه څوك نشي پوره کولے نو ځان گناهگار گنړي او چا چه د الله حق اوپیژندلو نو هغه به ضرور ځان د هغه په حق کښې قاصر او گناهگار گنړي۔

بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ : ثلج واورے ته وائي برد په فتحه د باء او راء سره جمع د بردة ده کلئ ته وائي دا په اصل کښې د وریځے اوبه دي چه په یخه هوا کښې وچے شي او زمکے ته بیا دانے دانے راپریوځي۔ **سوال** دا دے چه خیرن څیزونه خو په گرمو اوبو پاکیږي نو دلته څنگه یخ څیزونه ذکر کوي ؟۔ **الجواب** : شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ ددے یوه ښه وجه بیان کړیده او هغه دا چه گناهونه د شیطان د اور نه او د شهوت د اور نه پیدا کیږي نو د گناهونو په وجه په انسان کښې گرمي پیدا شي بے وقاري پکښې پیدا شي نو اور په یخو اوبو او گلئ او واوره باندے یخیږي – نو دا ورسره مناسب دي (توضیح الاحکام : ٢/١٨) او پدے کښې اشاره ده چه په نیکیو سره زړه یخیږي او په گناهونو سره گرمي او پریشاني پیدا کیږي۔

ونحن نقول : دریے شیان ئے ځکه خاص کړل چه گناه نجاست پیدا کوي (انما المشرکون نجس) او دویم گرمي، بے وقاري پیدا کوي او دریم استرخاء او کسل پیدا کوي ۔ نو د نجاست دپاره ماء راوړل او د حرارت دپاره ئے ثلج راوړه او د کسل او استرخاء دپاره ئے برد راوړل ۔ بلکه دا چه دا علاج المعاصي دے او علاج بالضد همیشه کیږي ۔

بیا علامه خطابي فرمائي : ثلج او برد ذکر کول پس د اوبو نه د تاکید دپاره دي او ددے غسل

(وینځلو) حقیقةً پدے شیانو سره وینځل ندی مراد بلکه مقصود دلته تاکید دے په پاکوالی کښې او مبالغه ده په محوه کولو د ګناهونو کښې۔

بعض وائی : ثلج او برد ئې ځکه ذکر کړل چه دا ډیرے صفا اوبه دی او ددے سره لاسونه او خپے ندی لګیدلی او مستعملے شوی ندی دارنګه خاورے وغیره ورسره ندی یو ځائے شوی نو دا په خپل اصل طهارت باندے پاتے دی نو دا ډیرے مستحقے دی په کامل طهارت حاصلولو کښې ۔

ابن دقیق العید" وائی : درے شیان ئې ذکر کړل مقصود پدے کښې پوره محوه او زائله کیدل د ګناهونو دی ځکه کومه جامه چه باربار په درے پاك ځیزونو سره اووینځلے شی نو هغه ډیره صفا کیږی چه هیڅ قسم خیرے پرے نه ښکاری ۔

علامه طیبی" وائی : د ماء نه مراد عفو د ګناهونو ده او د ثلج او برد نه مراد د رحمت او مغفرت تول اقسام حاصلول دی، دے دپاره چه د عذاب د اور حرارت پرے مړ شی کوم چه په ډیر انتهائی حرارت کښې دے یعنی ګناهونه په منزله د اور د جهنم دی ځکه دا سبب د اور دے نو د هغے د مړ کولو نه ئې تعبیر په غسل سره اوکړو او په هغے کښې ئې مبالغه اوکړه په استعمالولو د یخ شیانو سره چه ښه مړ شی۔

فوائد الحدیث الباقیه : (۱) علامه کرمانی" وائی : درے دعاګانے ئې اوکړے اشاره ده درے قسمه زمانو ته مباعده په مستقبل کښې، او تنقیه د ګناهونه نه فی الحال، او غسل (وینځل) د ګناهونو په ماضی کښې مراد ده یعنی آئنده کښې مے ګناهونو نه وړاندے ساته او فی الحال مے صفا کړه او تیر شوی ګناهونه مے پوره طریقے سره زائل کړه آهـ ۔

بیا مستقبل ئې مقدم ذکر کړو د اهتمام دپاره چه اے الله اول مے د آینده دپاره د ګناهونو نه بچ ساته او فی الحال تیر شوی ګناهونه هم را ته معاف کړه تیر په تیر خو آئنده کښې نوره خطره ده ۔

(۲) دا حدیث دلیل دے چه دا دعاء د استفتاح پس د تکبیر نه مستحب او مشروع ده په فرائض او نوافلو دواړو کښې نو پدے کښې رد اوشو په مشهور قول د امام مالك" چه استفتاح ته مکروه وائی او دا دعاء به رسول الله ﷺ د قرائت نه مخکښې په پټه وئیله۔

(۳) عامه دعاء د استفتاح به په پټه لوستلے شی مګر کله چه جهر ته ضرورت وی لکه روستو مقتدیانو ته تعلیم ورکوی نو بیا به معمولی شان په زوره اووائی لکه عمر فاروق رضی الله عنه سبحانك اللهم په جهر لوستله دپاره د تعلیم د خلقو نو بیا جهر هم جائز دے ۔

(٤) د صحابه کرامو" د دین سره خومره محبت دے چه د رسول الله ﷺ نه د هغه د هر عمل په باره کښې تپوس کوی دے دپاره چه د هغه په ټولو اعمالو او اقوالو کښې اتباع اوکړی۔

۲– وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ – وَفِي رِوَايَةٍ : إِذَا افْتَتَحَ

الصَّلَاةَ – كَبَّرَ، ثُمَّ قَالَ : «وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضَ حَنِيْفًا وَمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، لَا شَرِيْكَ لَهٗ، وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ . اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْمَلِكُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ، اَنْتَ رَبِّيْ وَاَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِيْ، وَاعْتَرَفْتُ بِذُنُوْبِيْ، فَاغْفِرْ لِيْ ذُنُوْبِيْ جَمِيْعًا، اِنَّهٗ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ، وَاهْدِنِيْ لِاَحْسَنِ الْاَخْلَاقِ، لَايَهْدِيْ لِاَحْسَنِهَا اِلَّا اَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّيْ سَيِّئَهَا، لَا يَصْرِفُ عَنِّيْ سَيِّئَهَا اِلَّا اَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ كُلُّهٗ فِيْ يَدَيْكَ، وَالشَّرُّ لَيْسَ اِلَيْكَ .اَنَا بِكَ وَاِلَيْكَ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ، اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ» وَاِذَا رَكَعَ قَالَ : اَللّٰهُمَّ رَكَعْتُ وَبِكَ آمَنْتُ، وَلَكَ اَسْلَمْتُ، خَشَعَ لَكَ سَمْعِيْ، وَبَصَرِيْ، وَمُخِّيْ، وَعَظْمِيْ، وَعَصَبِيْ، فَاِذَا رَفَعَ رَأْسَهٗ ، قَالَ : اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْأَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ وَمَابَيْنَهُمَا وَمِلْأَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ. وَاِذَا سَجَدَ قَالَ : اَللّٰهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ وَلَكَ اَسْلَمْتُ، سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ خَلَقَهٗ وَصَوَّرَهٗ، وَشَقَّ سَمْعَهٗ وَبَصَرَهٗ، تَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ . ثُمَّ يَكُوْنُ مِنْ آخِرِ مَا يَقُوْلُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَالتَّسْلِيْمِ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا اَخَّرْتُ، وَمَا اَسْرَرْتُ، وَمَا اَعْلَنْتُ، وَمَا اَسْرَفْتُ، وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ بِهٖ مِنِّيْ، اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ . رواه مسلم . وفي روايةٍ للشافعي : وَالشَّرُّ لَيْسَ اِلَيْكَ وَالْمَهْدِيُّ مَنْ هَدَيْتَ، اَنَا بِكَ وَاِلَيْكَ، لَا مَنْجَا مِنْكَ وَلَا مَلْجَأَ اِلَّا اِلَيْكَ، تَبَارَكْتَ .

ترجمه : او علي ﷺ فرمائي : نبي كريم ﷺ به چه كله مانځه ته اودريدو او په يو روايت كښې دي "چه كله به ئې مونځ شروع كولو" نو الله اكبر به ئې اووئيلو بيا به ئې دا دعا كوله : اني وجهت الخ (ما خپل مخ هغه ذات ته متوجه كړو چه د آسمان او زمكې پيدا كونكې دې پداسې حال كښې چه حق طرفته مائل يم او نه يم د مشركانو نه، يقينا زما مونځ، زما عبادت (قرباني) اژوند او مرګ خاص الله رب العالمين دپاره دي چه د هغه هيڅ قسمه شريكان نشته او پدې باندې ما ته حكم شويدې او زه د مسلمانانو نه يم، اې الله ! ته بادشاه ئې ستا نه سوا هيڅوك حقدار د بندګۍ نشته، ته زما رب ئې او زه ستا بنده يم، ما د خپل ځان سره ظلم كړيدې او په خپله ګناه مې اقرار كړيدې نو بس ته زما ټول ګناهونه اوبخه ځكه ګناهونه معاف كونكې صرف ته ئې او ما ته ښائسته اخلاقو طرفته هدايت اوكړه (ځكه) ښائسته اخلاقو طرفته صرف ته هدايت كوې او بد اخلاق مانه واړوه (ځكه) بد اخلاق صرف ته اړوې، زه ستا په خدمت كښې حاضر يم او ستا

حکم په ځائے راوړونکے يم، تهول خيرونه ستا په لاسونو کښې دي او شرتا طرفته نه منسوب کيږي، زه ستا په سبب يم، او صرف تا ته رجوع کوم ته برکت والا ئے او ته پورته ذات ئے او ستا نه بخنه غواړم او تا ته توبه اوباسم).

او کله چه به رکوع ته لاړو نو دا (دعا) به ئے لوستله : اللهم لك الخ (اے الله ! ما صرف تا دپاره رکوع اوکړه او په تا مے ايمان راوړيدے او ستا دپاره مے اسلام راوړيدے (يا تا ته تابعداريم)، زما غوږونه، زما نظر او زما نلے او زما هډوکي او زما پلے تا ته عاجزی کوی) .

او کله چه به ئے د رکوع نه سر پورته کړونو داسے به ئے وئيل : اللهم ربنا الخ : اے الله ته زمونږ رب ئے ستا دپاره د کمال صفتونه دي په اندازه د ډکوالی د آسمانونو او زمکو او هغه چه ددوی ترمينځ دی او په ډکوالی د هغه څيز چه ته ئے غواړے ددے نه روستو) او کله چه به ئے سجده کوله نو داسے به ئے وئيل : اللهم لك الخ (اے الله ! ما صرف تا دپاره سجده اوکړه، په تا مے ايمان راوړے او تا ته تابعداريم، زما مخ هغه ذات ته سجده اوکړه چه دا ئے پيدا کړيدے او دے ته ئے شکل ورکړيدے او ددے غوږونه او سترګے ئے کولاوے کړيدی، الله برکت والا دے چه ښائسته پيدا کونکے دے) . بيا آخر هغه څه چه د تشهد او سلام ترمينځ به ئے وئيل (هغه دادی) اللهم اغفرلی : (اے الله ! ما ته هغه ګناهونه معاف کړه چه ما مخکښې کړی او هغه چه ما روستو کړی دی او هغه چه ما پټ کړی او هغه چه ما ښکاره کړی او هغه چه ما کوم اسراف کړيدے او هغه چه ته پرے زما نه زيات خبردار ئے (څکه) ته مخکښې کونکے ئے (بعض بندګانو لره په طاعتونو سره) او ته روستو کونکے ئے (بعض بندګانو لره د ګناهونو په سبب) . نشته حقدار د بندګئ سوا د هغه نه . (مسلمؒ) او په روايت د امام شافعیؒ کښې دی : او شرتا ته نه منسوب کيږی او هغه انسان هدايت والا دے چه ته ورته هدايت اوکړے زه په تا سره موجود يم او تا ته به واپس کيږم، نشته ځائے د نجات ستا د عذاب نه او نشته ځائے د پناهی مګر تا طرفته دے ته برکت والا ئے) .

تشريح : اِذَا قَامَ اِلَى الصَّلَاةِ : دلته صلاة مطلق ذکر دے نفل او فرض دواړو ته شامل دے او د تخصيص دپاره ئے هيڅ دليل نشته بلکه په روايت د ابوداود او مسلم او ترمذی کښې : (اذا قام الی الصلاة المکتوبة) لفظ دے نو د هدايه مولا دا جواب چه دا د نفلو پورے خاص ده باطل دے او کوم روايت د نسائی کښې چه يصلی تطوعاً لفظ راغلے دے نو هغه دليل د تخصيص نه دے بلکه دليل دے چه دواړو کښې ثابت دے نو پدے کښې بهتر والے ددے دعاء ته اشاره اوشوه چه په نفل او فرضو دواړو کښې ئے لوستل پکار دی.

ثُمَّ قَالَ : دا حديث صريح دليل دے چه دا دعاء د استفتاح ده او د تکبير نه روستو به په داخل د مانځه کښې وئيلے شی او د متأخرينو قول خطاء دے چه وائی دا به د تکبير تحريمه نه مخکښې وائی لکه دا خبره مخکښې په عبارت د عبد الحی اللکنوی او ابن ابی العز سره رد کړے شوه .

وَجَّهْتُ يعنى ما خپل مخ په عبادت سره الله طرفته متوجه کړو ـ
وَجْهِيَ : دا په فتحه د ياء او سکون دواړو سره جائز دے ـ
حَنِيْفًا : دا حال دے يعنى مائل من الباطل الى الدين الحق الثابت عليه وهو الاسلام ـ او حنيف د عربو په نيز هغه چا ته وائى چه په دين د ابراهيم عليه السلام روان وى ـ
وَنُسُكِيْ : طاعت او عبادت ته وائى او هر هغه شے چه الله ته پرے انسان نزدے کيږى او عطف ئے په صلاة باندے د قبيلے د عطف د عام دے په خاص باندے ـ
وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ : اى ما آتيه فى حياتى من الاعمال وما يقدره ويجريه الله علىّ فى مماتى لله رب العالمين ـ (توضيح الاحكام) يعنى کوم اعمالو ته چه زه په ژوند کښ راتګ کوم او هغه عملونه چه الله تعالى به ئے په ما باندے راولى په وخت د مرګ کښ دا ټول به د الله دپاره وى ـ
وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ : رسول الله ﷺ دا لفظ دوه طريقو سره لوستلے دے وانا من المسلمين لکه پدے حديث کښ شو ـ ۲ – وانا اول المسلمين ـ علامه سندیؒ وائى رسول الله ﷺ به کله وانا من المسلمين لوستلو دپاره د ارشاد د امت چه د هغه پدے کښ اقتداء اوکړى اګرکه د رسول الله ﷺ سره لائق اول المسلمين دے آهـ ـ ليکن انا اول المسلمين هم په روايت د ابوداود او مسلم کښ ثابت دے بعضو خلقو دا وئيلى دى چه امتى به وانا اول المسلمين نه وائى ځکه چه اول مسلم خو رسول الله ﷺ دے نو که نور خلق داسے لفظ اووائى نو کذب لازميږى ځکه ددے معنى خو دا ده چه ما په هغه وخت کښ اسلام قبول کړيدے چه ټول خلق د هغے نه جدا وو او دا خو دروغ دى ـ ليکن دا خبره ددے خلقو خطاء ده ځکه دلته مقصود د مامور به په عملى کولو کښ مسارعه ده يعنى وائى چه زه به ستا حکم ته اول منده وهم او د ټولو خلقو نه مخکښ به زه تابعدار يم او پدے کښ اخبار نه دے د مخکښ زمانے نه چه ګنے صرف زه اول مسلمان يم او ما نه مخکښ څوک مسلمان نشته ـ او ددے مثال دا آيت دے ﴿قل ان كان للرحمن ولد فانا اول العابدين﴾ اووايه که د رحمان ذات دپاره ولد شى نو زه به اول د عبادت کونکو نه يم نو ثابته شوه چه دا دواړه دعاګانے پيغمبر وئيلى دى او امتى دپاره هم دواړه لوستل جائز دى کله يو لفظ وايه او کله بل ـ او دے کښ هم سړے او زنانه برابر دى ـ راجع صفة الصلاة للالبانى (٦٤) والمرعاة (٤/ ٩٠)
اَنْتَ الْمَلِكُ : يعنى ته بادشاه ئے قادر ئے په هر شى، يا انت المالك الحقيقى لجميع المخلوقات ـ
وَاَنَا عَبْدُكَ : زه ستا بنده يم او پدے اقرار کوم چه ته زما مالك ئے ـ
لَبَّيْكَ : دا تثنيه ده دپاره د تکرار ـ د " الب " نه دے په معنىٰ د اودريدلو سره اى " انا مقيم على طاعتك اقامةً بعد اقامةً " زه ستا طاعت ته بار بار ولاړ يم ـ د الب بالمقام نه دے اذا اقام فيه ـ
وَسَعْدَيْكَ : اى مساعدة لامرك بعد مساعدةٍ ومتابعة بعد متابعة لدينك الذى ارتضيه ـ يعنى زه ستا د امر موافق يم او ستا د دين تابعدار يم ـ

وَالشَّرُّ لَيْسَ اِلَيْكَ : يعنى د شر يواځې نسبت الله تعالى ته نه كيږى داسې به نشى وئيلې يا رب الشر ويا خالق القردة والخنازير اگركه خالق د هر شى د خير او د شر الله تعالى دې دارنگه د شر براهِ راست نسبت الله ته نه كيږى بلكه په صيغه د مجهول سره كيږى لكه (اشر اريد بمن فى الارض) او د خير نسبت براهِ راست (ډائرك) الله تـه كيږى (ام اراد بهم ربهم رشدا) نو مقصود پدې كښې تعليم دې انسانانو ته چه د الله تعالى په ثناء او صفت كښې به ادب كوى او هغه ته به د ښائسته كارونو نسبت كوى نـه د بدو كارونو ـ او ددې معنى دا نده چه الله تعالى قادر ندې په شر يا الله تعالى شر ندې پيدا كړې يا شر بل چا پيدا كړې دې لكه نبى عليه السلام دا رعايت كړيدې په خپله دعاء كښې (وقنى شر ما قضيت) داسې ئې ندى وئيلى (وقنى شرك) رعايةً للادب مع الله ـ

او الله تعالى د خير او د شر دواړو پيدا كونكې دې ځكه د شر په پيدا كولو كښې ډير حكمتونه دى چه بعض حافظ ابن القيم په شفاء العليل فى مسائل القضاء والقدر والتعليل كښې (١٧٨-٢٠٦) كښې ذكر كړيدى ـ بيا د اهل السنة والجماعة عقيده دا ده چه يو خلق د خير او شر دې نو دا كمال دې ځكه چه په دې كښې د الله قدرت دې په پيدا كولو د اضدادو باندې نو الله خالق ددې دواړو دې او دويم كسب د شر دې نو دا نقصان دې او ددې نسبت الله تعالى ته بالكل نه كيږى بلكه ددې نسبت مخلوق ته كيږى چه بنده كاسب د شر دې ددې وجې نه ددې شر نسبت شيطان ته زيات كيږى (من شر الشيطان وشركه) ځكه اول كاسب د شر شيطان دې نو خلق د شر دا نقصان ندې بلكه كسب ئې نقصان دې د پوهې دپاره ددې مثال داسې دې لكه توپك، مشين گن، راكټ لانچر جوړول كمال دې ليكن پدې باندې مسلمان ويشتل نقصان دې بيا الله اگركه خالق د شر دې ليكن د ادب او تعظيم په خاطر الله تعالى ته د شر نسبت به نشى كيدې۔

علماء فرمائى : لا ينسب الشر الى الله تعالى قولًا وفعلًا وخلقاً (د هغه په قول او فعل او خلق كښې شر نشته) بل يدخل الشر فى مفعولاته (يعنى شر د هغه په مخلوق كښې راتلې شى لكه مثلا الله تعالى ابليس لره پيدا كرو نو دا ئې كمال دې ليكن بيا ابليس كښې غلط صفات وو پدې وجه د هغه نه شر پيدا شو چه انسانانو دپاره امتحان اوگرځيدو ـ

پدې كښې بعض علماؤ تاويلى معانى دا هم كړيدى (١) چه الشر لايصعد اليك ـ يعنى شركارونه الله تعالى ته نه پورته كيږى، مقام قبوليت ته نه رسى، بلكه الله تعالى ته پاك كلمات او اعمال پورته كيږى (اليه يصعد الكلم الطيب والعمل الصالح يرفعه)۔

(٢) يا الشر ليس مما يتقرب به اليك بل هو سبب ابعاد ـ يعنى شر سره تا ته نزديكت نشى كيدې بلكه په شر سره ستا نه جدائى راځى۔

(٣) بعض وائى : معنى ئې دا ده : ، الشر ليس شراً بالنسبة اليك يعنى شر ستا په نسبت شر ندې بلكه تا خو د كامل حكمت په بنياد شر پيدا كړيدې ليكن اوس چه څوك دا شر كسب كوى نو دا

به د هغه په نسبت شروی نو حاصل دا شو چه الشر لايدخل فی اسمائك وصفاتك يعنی الله تعالی ته به خير ذات وئيلے شی ليکن شر به ورته نشی وئيلے بلکه صرف خالق ئے دے او کاسب ئے ندے کذا حکی هذه الاقوال النووی ـ

اَنَا بِكَ وَاِلَيْكَ : يعنی زما توفيق په تا باندے دے او التجاء او نسبت مے تا طرفته دے ٢– يا معنی ده : وجودی بايجادك ورجوعی اليك ـ يعنی زما وجود ستا په موجودولو دے يعنی ستا د وجے نه موجود يم او تا طرفته زما واپسی ده ـ ٣– انا بك اعتمد واليك التجئ ـ يعنی زما اعتماد او بهروسه په تا باندے ده او التجاء او پناهی مے تا طرفته ده ـ

تَبَارَكْتَ : يعنی ته د ثناء مستحق ئے ٢– يا ثبت الخير عندك ـ خيرونه ټول تاسره دی ـ ٣– تبارك العباد بتوحيدك ـ په بندګانو کښې برکت ستا په توحيد سره دے ـ ٤– تکاثر خيرك ـ ته د ډيرو خيرونو مالك ئے ـ وتَعَالَيْتَ : ١– يعنی ته د مشابهت د مخلوق نه اوچت ئے ـ ٢– يا ستا قدر او عظمت او قدرت ډير اوچت دے ـ وَمُخِّيْ : مخ اصل کښې مغز ته وائی دلته ترے مراد دماغ دی ـ وَعَصَبِي : پله، پټ ته وائی کوم باندے چه جوړونه راخکل شی ـ

وَمِلْأَ مَا شِئْتَ : يعنی ستا دپاره حمدونه دی په ډك والی د هغه شی چه ته ئے غواړے ـ

بَعْدُ : مبنی دے په ضمه ای بعد السماء والارض وما بينهما ـ او ددے نه مراد عرش، کرسی، جنت وغيره دی ـ پدے ځائے دا دعاء ختميږی، او په بل روايت کښې ورسره نور الفاظ هم شته (اهل الثناء والمجد احق ما قال العبد وکلنا لك عبد اللهم لا مانع لما اعطيت ولا معطی لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد (مسلم : ١٩٠/١) وسيأتی ـ

مَا قَدَّمْتُ : يعنی کوم ګناهونه چه ما مخکښې کړيدی ـ وَمَا اَخَّرْتُ: او هغه ګناهونه او عملونه چه ما روستو کړيدی يعنی هره کوتاهی چه زمانه صادر شويده يا معنی دا ده چه کومه ګناه ما نه روستو زمانه کښې واقع کيږی نو هغه د مخکښې نه معاف کړه ـ

اَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَاَنْتَ الْمُؤَخِّرُ : يعنی ته مخکښې کونکے چا له چه اوغواړے مقامات د سابقينو ته او روستو کونکے ئے د هغوی د مراتبو نه چه چا له چه اوغواړے (قاله البيهقی) ـ

٢– ته مخکښې کونکے ئے خپل اولياؤ لره په اغيارو باندے او روستو کونکے ئے اغيارو لره د خپلو دوستانو نه ـ ٣– بعض وائی : ددے دواړو معنی ده : انت الرافع والخافض ـ بعض خلق پورته کوے او بعض خلك خکته کوے ـ ٤– بعض وائی : انت المعز والمذل : چا له عزت ورکوے او چا له ذلت موافق د خپل حکمت ـ

وَالْمَهْدِيُّ مَنْ هَدَيْتَ : يعنی هدايت والا صرف او صرف هغه څوك دے چه ته ورته هدايت اوکړے ـ لَا مَنْجَا : په الف مقصوره سره مصدر ميمی دے يا اسم مکان دے يعنی نشته ځائے د نجات او خلاصی ـ وَلَا مَلْجَأَ په همزه سره : نشته ځائے د پناهی په وخت د عذابونو او

مصیبتونو کښې۔ دا حدیث ډیر جامع حدیث دے چه د بیل بیل رکن دعاګانے پکښې ذکر شوے او دا دعاګانے په فرض او نفل دواړو کښې لوستل پکار دی۔

۳– وعن انس رضی اللہ عنہ : ان رجلاً جَاءَ فَدَخَلَ الصَّفَّ، وَقَدْ حَفَزَهُ النَّفَسُ، فَقَالَ : اَللّٰهُ اَكْبَرُ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيراً طَيِّبًا مُبَارَكاً فِيهِ، فَلَمَّا قَضٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی اللہ علیہ وسلم صَلَاتَهٗ قَالَ : اَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ ؟ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ . فَقَالَ : اَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ ؟ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ، فَقَالَ : اَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِهَا ؟ فَإِنَّهٗ لَمْ يَقُلْ بَأْساً . فَقَالَ رَجُلٌ : جِئْتُ وَقَدْ حَفَزَنِيَ النَّفَسُ فَقُلْتُهَا . فَقَالَ : لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكاً يَبْتَدِرُوْنَهَا، اَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا . رواه مسلم.

ترجمه : او انس رضی اللہ عنہ فرمائی : (یوه ورځ) یو شخص راغلو او د مانځه په صف کښې داخل شو چه تنګ کړے وو ده لره ساه نووے وئیل : الله اکبر الحمد لله حمدا الخ (یعنی الله ډیر لوئی دے تول صفتونه د کمال الله لره دی چه هغه پاك دی او برکتونو والا دی) کله چه ده مونځ پوره کړو نو رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم اوفرمایل : په تاسو کښې پدے کلماتو باندے چا خبرے اوکړے ؟ تول خلك خاموش شو، نبی علیه السلام بیا اوفرمایل : په تاسو کښې پدے کلماتو باندے چا خبرے اوکړے ؟ (جواب راکړئ!) ځکه هغه څه بده خبره نه ده کړے نو هغه سړی اووئیل : زه راغلم پداسے حال کښې چه ساه تنګ کړے وم نو ما دا کلمات اووئیل : نبی علیه السلام اوفرمایل : ما دولس ملائك اولیدل چه دیته په جلتئ راوړاندی شو چه کوم به ئے (د الله دربارته د تولو نه مخکښې) پورته کوی۔ (مسلم)۔

تشریح : وَقَدْ حَفَزَهُ النَّفَسُ : یعنی تنګ کړے وو ده لره ساه، حفز اصل کښې سختے دیکے ته وائي (خطابیؒ) یعنی ساه ئے تله راتله د وجے د تیز راتلو نه مانځه ته۔

اَلنَّفَسُ : په فتحه د نون او فاء سره ساه ته وائي ۔ حَمْداً كَثِيراً : دا منصوب دے په فعل مقدر سره ای احمده حمدا کثیرا ۔ ۲– یا بدل دے د الحمد نه او جاری دے په محل د الحمد باندے ځکه دا په اصل کښې منصوب دے ای حمدت الله حمدا دے۔

طَيِّبًا : یعنی پاك خالص د ریاء او سمعت نه ۔ فَأَرَمَّ الْقَوْمُ : فتحه د راء او شد د میم دے په معنی د چُپ کیدو سره ای سکتوا۔ وَقَدْ حَفَزَنِيَ النَّفَسُ : دے سړی چه د نبی علیه السلام د تپوس په جواب کښې دا اووئیل چه زما ساه تله راتله او ما دا کلمات اووئیل نو ددے وینا نه مقصد دده بیان د حقیقت او اظهار د واقعه وو او دا ددے کلماتو د وئیلو عذر نه بیانوی۔

فائده: حمدا کثیرا دا کلمات په دریے مواضعو کښې نقل دی ۱ – د ربنا لك الحمد نه روستو ۲ – د پرنجی په وخت لکه په روایت د ابوداود کښې دی چه یو سړی دا کلمات اووئیل نو نبی علیه

السلام اوفرمائیل چه څه دپاسه دیرش ملائکو پورته کړل ۔ روستو باب ما لا یجوز من العمل فی الصلاة کښې به راشی (۹۱/۱) ان شاء الله ۔ ۳- او په افتتاح د مانځه کښې دلته (۱۲) ملائکو اخستې دې ۔ **فائده ۲** : سوال : مخکښې تیر شو چه نبی علیه السلام وائی زه روستو خلق وینم نو دلته څنګه تپوس کوی ایکم المتکلم ؟ ۔ **الجواب** : نبی به افعال لیدل نه اقوال او دلته خوقول شویدے ۔

الفصل الثانی

٤ – عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ قَالَ : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالٰى جَدُّكَ، وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ .رواه الترمذی وابوداود . ٥- ورواه ابن ماجه عن ابی سعید . وقال الترمذی : هذا حدیث لا نعرفه الا من حارثة وَقَدْ تُكُلِّمَ فِيْهِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله مونځ شروع کولو نو داسې به ئې وئیل : سبحانك اللهم الخ (اے الله ! تا لره پاکی ده او مونږ ستا صفتونه وایو، او ستا نوم برکت والا دے او ستا شان اوچت دے او ستا نه سوا هیڅوك حقدار د بندګئ نشته ۔ (ترمذی، ابوداود) او دا ابن ماجه روایت کړیدے د ابوسعید خدری نه او ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث مونږ نه پیژنو مګر صرف د حارثه د طرف نه او په هغه کښې د حافظے د وجې کلام شویدے ۔

تشریح : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ۔ سبحان اسم مصدر دے قائم دے په مقام د مصدر چه هغه تسبیح دے او منصوب دے په فعل مقدر ای اسبحك تسبیحا یعنی زه تا د هر قسم نقصان او عیب نه پاك ګڼړم ۔ وَبِحَمْدِكَ : واو حالیه دے او باء د الصاق ده یعنی اسبحك تسبیحا وانا متلبس بحمدك ۔ پاك ګڼړم تا په داسې حال کښې چه زه ستا دپاره صفتونه هم وایم ۔

وَتَعَالٰى جَدُّكَ : جد عظمت او لوئی والی ته وائی ۲- یا مالدارئ او غنا ته وائی یعنی ستا مالداری دومره اوچته ده چه خرچ کول ورته نقصان نه رسوی ۔

دا حدیث دلیل دے چه استفتاح پدے کلماتو سره هم مشروع ده ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح لشواهده ومتابعاته اخرجه ابوداود (۷۷٦) والترمذی (۲٤۳) وابن ماجه (۸۰٦) والدارقطنی (۲۹۹/۱) رقم (۵) والطحاوی (۱۱۷/۱) والبیهقی من طریق حارثة بن ابی الرجال عن عمرة عن عائشة وقال البیهقی حارثة ضعیف وقال ابن حبان وهو ممن کثر وهمه وفحش خطأه ترکه احمد ویحیی والنسائی (مرعاة) ولکن اخرجه ابوداود (۷۷٦) والدارقطنی (۱۲۲) والحاکم (۲۳۵/۱) والبیهقی من طریق طلق بن غنام ثنا عبد السلام بن حرب الملائی عن بدیل بن میسرة عن ابی الجوزاء عن عائشة به وقال الحاکم صحیح الاسناد ووافقه الذهبی ولکنه منقطع بین ابی الجوزاء وعائشة

فانه لم يسمع منها قال الحافظ فى التلخيص (٨٦) رجال اسناده ثقات ولكن فيه انقطاع وقال المباركفورى الانقطاع مدفوع ففى تهذيب التهذيب (٣٨٤/١) عن ابى الجوزاء قال ارسلت رسولاً الى عائشة يسألها فهذا ظاهره انه لم يشافهها لكن لا مانع من جواز كونه توجه اليها بعد ذلك فشافهها على مذهب مسلم فى امكان اللقاء (المرعاة : ٩٧/٣)۔ **قال** الالبانى فى الارواء (٥١/٢رقم : ٣٤١) ولكنه مع ذلك شاهد جيد للطريق الاولىٰ يرقى الحديث بها الى درجة الحسن ثم الى درجة الصحة بشهادة حديث ابى سعيد وغيره ثم ذكره ۔ واعله ابوداود بانه مخالف للمشهور فانه ليس فيه دعاء الاستفتاح والجواب : قال الالبانى والمباركفورى فى المرعاة (٩٦/٣) واعلال ابى داود ليس بشئ فانه زيادة الثقة وهى مقبولة **واما حديث** ابى سعيد فقد اخرجه ابوداود (٧٧٥) والنسائى (١٤٣/١) والترمذى (١٠،٩/٢) وابن ماجه (٨٠٤) والدارمى (٢٨٢/١) والدارقطنى (١١٢) والبيهقى (٣٥،٣٤/٢) واحمد (٥٠/٢) وقال العقيلى (١٠٣) وقد روى من غير وجه باسانيد جياد آهـ وحسن الالبانى اسناده فى الارواء وانظر صفة الصلاة (٦٦) وقد روى هذا الحديث موقوفاً على عمر ايضاً فى بلوغ المرام قال فى توضيح الاحكام (٢١/٢) الحديث (اى حديث عمر) صحيح رواه مسلم بسند منقطع والدارقطنى موصولا وهو موقوف، قال ابن القيم فى الهدى قد صح ان عمر كان يستفتح به ويجهر به ويعلمه الناس وهو بهذا فى حكم المرفوع، كما ان الدارقطنى رواه موصولاً آهـ وقد صححه الحاكم والذهبى وصح رفع الحديث من عدة طرق، فثبت ان الحديث صحيح موقوفا ومرفوعاً فمن ضعفه بعد هذا فهو اما جاهل او متعسف ۔

٦– وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ﷺ، اَنَّهٗ رَاٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّيْ صَلَاةً قَالَ : «اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْراً . اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْراً، اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْراً وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْراً، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْراً، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْراً . وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا، ثَلَاثًا، اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، مِنْ نَفْخِهٖ وَنَفْثِهٖ وَهَمْزِهٖ . رواه ابوداود وابن ماجه، اِلَّا اِنَّه لم يَذْكُرْ : وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْراً وذكر فى آخره : مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ» وقال عمر : نَفْخُهُ الْكِبْرُ وَنَفْثُهُ الشِّعْرُ، وَهَمْزُهُ الْمُوْتَةُ۔

ترجمه : جبير بن مطعم ﷺ فرمائی : چه ده رسول الله ﷺ اوليدو چه مونځ ئے كولو نو (د تكبير تحريمه نه بعد ئے) دا اووئيل : الله اكبر كبيرا الخ (يعنی الله ډير لوئی او پورته دے، د هغه دپاره ټول صفتونه د كمال دی، او هغه دپاره صبا او بيګاه پاكی بيانوم ـ يعنی د مخكنو كلماتو په شان ئے سبحان الله بكره واصيلا هم درے كرتے اولوستل او بيا به ئے دا وئيل) اعوذ بالله من الشيطان الرجيم الخ : زه د شيطان د تكبر، د هغه د شعرونو (او جادو) او د هغه د وسوسو نه پناه وارم ـ دا حديث ابوداود او ابن ماجه نقل كړيدے البته ابن ماجه والحمد لله كثيرا نه دے ذكر

کړے او آخر کښې ئے من الشيطان الرجيم ذکر کړيدے ۔ دارنګه عمرو راوی وائی : د شيطان د نفخ نه تکبر او د هغه د نفث نه شعر او د هغه د همز نه جنون مراد دے ۔

تعارف د جبير بن مطعم ﷜ : جبير بن مطعم بن عدی بن نوفل بن عبد مناف القرشی النوفلی المدنی ابو محمد ۔ دا بدر د قيديانو په باره کښې رسول الله ﷺ ته راغلے وو بيا ئے د خيبر په کال ايمان راوړو بعض وائی : فتح د مکه کښې ئے ايمان راوړے دے، ابن اسحاق ذکر کړيدی چه رسول الله ﷺ ده ته لس اوښان ورکړل (کان حليما وقورا، عارفا بالنسب) او د ابوبکر نه ئے د نسب علم زده کړے وو او عمرؓ ورته د نعمان بن منذر توره ورکړے وه (٦٠) احاديث ترے نقل دی په مدينه کښې په سنه (٥٨) يا (٨٩) کښې وفات شويدے ۔

تشريح : اَللهُ اَكْبَرُ كَبِيراً : دا الفاظ به څه وخت کښې وائی نو ظاهر دا ده چه دا به د تکبير تحريمه نه روستو د استفتاح په ځائے کښې وائی او دا پخپله تکبير تحريمه نه ده، قرينه دا ده چه کله سړے الله اکبر اوکړی نو فکر کوی چه کوم ذکر به کوم نو که کبيرا وائی نو بيا د الله اکبر او کبيرا ترمينځ فاصله ډيره راځی ۔

٢- دويم کله کله انسان بل ذکر کوی نو هلته خو ورسره کبيرا نشته ۔ نو معلوميږی چه دا به د تکبير تحريمه نه روستو وائی او دا خبره ابن حجر ذکر کړيده ۔

٣- **دليل** حديث د ابوداود الطيالسی (٩٤٧) او سنن ابی داود (٧٦٤) کښې د جبير بن مطعم روايت دے : ان النبی ﷺ لما دخل الصلاة كبّر وقال الله اكبر كبيراً والحمد لله كثيراً (ارواء: ٢/٥٤ رقم: ٣٤٢)

پدے روايت کښې دا کلمات درے ځل وئيل راغلی دی او په بل روايت کښې يو يو ځل وئيل راغلی دی کما فی مسلم وابی عوانه وتاريخ اصبهان (١/٢١٠) وقد مرّ ۔ او هغه زيات صحيح حديث دے ۔ بيا کبيرا منصوب دے په فعل محذوف سره ای کبّرت کبيرا ۔

وقال عمر : دلته د مصنف يا کاتب نه خطائی واقع شويده ځکه دا عمر ندے مراد بلکه دا عمرو بن مره راوی دے لکه په روايت د ابن ماجه کښې صراحت سره ذکر دے ۔

نَفْخُهُ الْكِبْرُ : نفخ د شيطان تکبر او ځان لوئی ګڼړلو ته وائی او نفث د شيطان شعرونو ته وائی ځکه دا په شعرونو باندے پوکے کوی لکه د دم په شان، او دلته خراب شيطانی بے حياء شعرونه مراد دی يا سحر مراد دے۔

وَهَمْزُهُ الْمُوْتَةُ : د ميم ضمه ده او همزه ده دا يو قسم جنون او مرګی دی چه انسان ته عارضيږی کله چه انسان بيدار شی نو بيا ورته پوره عقل راواپس شی ۔

مسئله : اعوذ بالله من الشيطان الرجيم په صحيح حديث کښې راغلے ده ليکن بهر د مانځه نه لکه د غصے په وخت کښې لکه بخاری (٢/٩٠٣) کښې راغلے ده ۔

او د تلاوت په وخت کښې اعوذ بالله کښې ډير الفاظ نقل دی او په هغے کښې راجح :

(١) اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم من نفخه ونفثه وهمزه لکه پدے حدیث الباب کښې ذکر ده ـ (٢) اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم ـ ابن ابی شیبه (١/٢٣٧)
(٣) اللهم انی اعوذ بك من الشیطان الرجیم من همزه ونفخه ونفثه ـ اخرجه احمد (٥/٢٥٣) وباسناد آخر (٦/١٥٦) مرسلا ـ
(٤) اعوذ بالله من الشیطان الرجیم دا د عمر فاروق نه موقوفا ابن ابی شیبه (١/٢٣٧) نقل کړیده لیکن پدے کښې اعمش مدلس راوی عنعنه کړیده ـ او د هغه عنعنه ډیره مضره نه ده ـ دارنګه د عبد الله بن عمرؓ نه هم موقوفا نقل ده چه هغه به تعوذ په دغه طریقه وئیلو (البیهقی : ٢/٣٦) ورواه عبد الرزاق قال : سألت نافعا کیف کان ابن عمرؓ یستعیذ ؟ قال : کان یقول : اللهم اعوذ بك من الشیطان الرجیم واسناده صحیح ـ مصنف عبد الرزاق (٢/٨٤) وابن ابی شیبه (١/١٩٢) وعن ابی سعید الخدری رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ کان یقول قبل القراءة اعوذ بالله من الشیطان الرجیم (واسناده حسن) مصنف عبد الرزاق (٢/٨٦) وعن الحسن مرسلاً کما فی تمام المنة (١٧٦) وهو ضعیف ـ لیکن شیخ البانی رحمه الله په ارواء الغلیل (٢/٥٩ رقم : ٣٤٢) کښې دا دعوه کړیده چه صرف اعوذ بالله من الشیطان الرجیم په غیر د زیادت د السمیع العلیم نه یا آخر کښې د من نفخه ونفثه وهمزه نه په سنت کښې نده راغلے او په حافظ ابن حجرئے رد کړیدے چه هغه صرف دغه تعوذ صحیح ګڼړلے دے او ډیر تفصیل سره ئے د تعوذ روایات راجمع کړیدی او دا ئے ثابته کړیده چه ضرور دا زیادت ورسره په دغه روایاتو کښې شته نو اقتداء د رسول الله ﷺ پدے کښې ده چه دا زیادت ورسره اووئیلے شی یعنی یا (اعوذ بالله من الشیطان الرجیم من نفخه ونفثه وهمزه) یا (اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم) اووئیلے شی او یا جمع اوکړے شی د دواړو آهـ **لیکن** صحیح دا ده چه دا ټول تعوذات لوستل جائز دی البته بهتره دا ده چه السمیع العلیم ورسره اووئیلے شی یا ورسره من نفخه الخ اووئیلے شی لکه دے حدیث د جبیرؓ کښې راغلے ده ـ او بیا دویم نمبر کښې صرف اعوذ بالله من الشیطان الرجیم هم لوستل جائز دی نو دا خبره د قاضیخان چه اعوذ بالله من الشیطان الرجیم سره استعاذه کول بهتر دی – ضعیفه ده بلکه صرف د ابن عمرؓ نه دغه قسم استعاذه په صحیح سند سره ثابته ده او مرفوع روایات پکښې د خدشاتو نه خالی ندی ـ

مسئله : اعوذ بالله په ابتداء د هر مانځه کښې د قرائت نه مخکښې او د ثناء نه روستو لوستل یو ضروری عمل دے ـ **درجة الحدیث** : اسناده حسن اخرجه احمد فی المسند (٤/٨٠، ٨٥) وابو داود (٧٦٤) وابن ماجه (٨٠٧) وابن حبان (١٧٧٥، ٢٥٩٢ : الاحسان) والحاکم فی المستدرك (١/٢٣٥) وابن حزم فی المحلیٰ ـ

٧– وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ ؓ : "اَنَّهٗ حَفِظَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ سَكْتَتَيْنِ : سَكْتَةً اِذَا

كَبَّرَ، وَسَكْتَةً اِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ﴾ فَصَدَّقَهُ اُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ». رواه ابوداود . وروى الترمذى، وابن ماجه، والدارمى نحوه .

ترجمه : او سمره بن جندب ﷺ نه روایت دے چه ده د رسول الله ﷺ نه دوه سکتے (یعنی چپ کیدل) یاد کړیدی، یوه سکته خو د تکبیر تحریمه وئیلو نه بعد او یوه سکته به هغه په هغه وخت کوله چه کله به د غیر المغضوب علیهم ولا الضالین وئیلو نه فارغ شو ـ نو ابی بن کعب ﷺ (هم) د سمره بن جندبؓ ددے قول تصدیق اوکړو۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : سَكْتَتَيْنِ : پدے حدیث کښې په مانځه کښې دوه سکتے ذکر دی یوه سکته د تکبیر تحریمه نه روستو او پدے سکته کښې به دعاء د استفتاح وائی هسے به غلے نه او دریږی لکه ددے بیان په حدیث د ابو هریرهؓ کښې تیر شو چه نبی علیه السلام به پدے مقام کښې اللهم باعد بینی الخ وئیلو ـ ٢- دویمه سکته ده کله چه د فاتحے نه فارغ شی نو غلے به شی او دا ددے دپاره چه تراجع النفس اوشی (یعنی انسان ته ساه راواپس شی) او په راحت کښې شی او مقتدیانو ته پته اولګی چه آمین د قرآن نه ندے ځکه دا ضروری ده چه غیر قرآن به د قرآن نه جدا کولے شی ـ

او دا سکته به په مقدار او اندازه د آمین او بسم الله وئیلو سره وی۔

پدے کښې بعض علماؤ (لکه ابن حزمؒ او زین العرب) وئیلی دی چه پدے سکته کښې به مقتدیان سورت فاتحه لولی او امام به په کښې خپله ساه برابره کړی او دا یو قول حافظ ابن القیمؒ په زاد المعاد (٢٠١/١) کښې د بعض علماؤ نه نقل کړیدے لیکن دا بے دلیله خبره ده ځکه بیا قلب د موضوع لازمیږی، امام به د مقتدیانو تابع شی او ورسره نص هم پدے باره کښې ندے موجود لهذا کوم عرب چه پدے باندے عمل کوی نو دا په اجتهاد سره کوی چه فاتحه وئیل خو په هر چا فرض دی او قرائت ته غوږ کیښودل هم ضروری دی نو ددے وجے نه ئے وئیلی دی چه دا سکته به د فاتحے په مقدار کوی، چه مقتدیان فاتحه اولولی، او دغه شان خبره ابوسلمه بن عبد الرحمن هم کړیده هغه فرمائی : للامام سکتتان فاغتنموا فیها القراءة بفاتحة الکتاب اذا افتتح الصلاة واذا قال ولا الضالین (زاد المعاد : ٢٠١/١) فتح الباری (٢/) او بعض نور آثار شته چه په جزء القرائة د بیهقی کښې ذکر دی۔

٣- یو دریمه سکته هم شته او هغه دا چه کله قرائت ختم کړی او رکوع ته خکته کیږی نو دلته به یو معمولی شان سکته اوکړی (حصار به شی) ددے دپاره چه د تکبیر او د قرائت په مابین کښې فرق راشی ځکه رسول الله ﷺ منع کړیده د وصل د تکبیر نه د قراءت سره (کمافی المرعاة : ١٠٠/٣) او ددے دپاره چه ساه ورته اواپس شی او دا په روایت د ابوداود (١٢٠/١) کښې راغلے ده (انه کان یسکت سکتتین اذا افتتح الصلاة واذا فرغ من القراءة کلها، وفی روایة : واذا فرغ من فاتحة

الكتاب وسورة عند الركوع اى قبل الركوع وبعد الفراغ من القراءة ـ اوپدے **درے سکتاتو** باندے قول کړيدے **امام شافعی**، احمد، اسحاق، او امام اوزاعی رحمهم الله۔

٢- **او امام ابوحنيفةؒ** او مالكؒ وائی چه صرف يوه اولنۍ سکته مشروع ده نه باقی۔

دا ټول روايات د ابوداود وغيره دی په طريقه د حسن عن سمره نقل دی او حسن عن سمره روايت کښې اختلاف دے بعض وائی د حسن سماع د سمرةؓ نه نده ثابته نو بيا دا روايت ضعيف دے نو اوله سکته خو د بخاری په روايت کښې صحيح ثابته ده ليکن د علی بن المدينی (شيخ البخاری) په نزد د حسن سماع د سمره نه ثابته ده۔ کما نقل عنه الامام البخاری۔ تحفة الاحوذی (٢٨٥/١) وعون المعبود (٢٨١/٢) لهذا بيا دويمه او دريمه سکته هم مسنون ده او ددے درے وارو سکتاتو د ثبوت دپاره نور دلائل هم شته او هغه دا چه رسول الله ﷺ په ابتداء د هر سورت کښې د فاتحے نه بعد بسم الله په پټه وئيله نو پدے وخت کښې دا دويمه سکته ثابته شوه۔

او دريمه سکته ددے نه معلوميږی چه رسول الله ﷺ منع کړيده د وصل القرائت بالتکبير نه ـ نو مينځ کښې به ضرور معمولی شان وقفه کولے شی چه تکبير د قرائت نه جدا شی، او ساه ورته واپس شی ـ **٣- دليل** : ابن ابی شيبه (٢٧٥/١) کښې د حسن بصری مرسل روايت نقل دے : كان لرسول الله ﷺ ثلاث سكتات اذا افتتح التكبير حتى يقرأ الحمد واذا فرغ من الحمد حتى يقرأ السورة واذا فرغ من السورة حتى ركع ـ **٣- دارنګه د عمر بن عبد العزيزؒ نه نقل دی چه** : كان عمر بن عبد العزيز له وقفتان وقفة اذا كبر ووقفة اذا فرغ من ام الكتاب (ابن ابی شيبة : ٢٧٦/١)

او ددے عمر بن عبد العزيزؒ په باره کښې انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی : د رسول الله ﷺ نه روستو ما د هيچا پسے مونځ ندے کړے چه هغه د رسول الله ﷺ سره په مانځه کښې زيات مشابه وی ددے ځوان نه ـ (مشكاة : ٨٣/١) دا هم ددے خبرے تائيد کوی چه رسول الله ﷺ به دا دوه سکتے کولے ـ

ملا علی القاریؒ فرمائی : ددے سکتاتو نه مراد د آيتونو په آخر باندے وقف کول دی په دومره مقدار چه د تنفس نه معمولی زيات وی ځکه چه د رسول الله ﷺ نه دا ثابته ده چه هغه به په الحمد رب العالمين وقف کولو او دغه شان په سرونو د آيتونو به ئے وقف کولو او قراء چه سکته بغير د تنفس نه اودريدو ته وائی نو دا د هغوی خپله اصطلاح ده انتهٰی ـ

فائده : بعض احناف ددے دويمے سکتے نه استدلال کوی چه آمين به پټه وائی ځکه دويمه سکته ددے دپاره ده چه آمين پکښې په پټه اووئيلے شی ليکن دا خبره خطاء ده وجه دا ده چه رسول الله ﷺ به آمين په جهر لوستلو او د هغه نه سرا آمين وئيل ندی ثابت نو دا څنګه وئيلے شی چه دا سکته د آمين پټ وئيلو دپاره وه، بلکه ددے وجه مخکښې ذکر شوه چه رسول الله ﷺ به د آيتونو په اختتام باندے وقفه کوله او ددے دپاره چه ساه ورته راواپس شی او بسم الله

اووائی او آمین اووائی، او مقتدیانو ته معلومه شی چه آمین د قرآن نه ندے بلکه دا مستقله کلمه ده ۔ فَصَدَّقَهُ اُبَیُّ بْنُ کَعْبٍ : پدے حدیث کښې قصه ذکر ده چه د سمره او عمران بن حصین اختلاف راغلو په دوه سکتو د مانځه کښې، سمره اووئیل : ما دوه سکتے زده کړیدی، او عمران ورسره دا نه منله، او هغه ویل یوه سکته ما یاده کړیده، او دا دواړه پدے وخت کښې په بصره کښې وو نو ابی بن کعب ته ئے خط اولیږلو او دا په مدینه کښې وو نو ابی بن کعبؓ خط اولیږلو چه سمرهؓ صحیح وائی، نو ابی بن کعبؓ تصدیق اوکړو د سمره بن جندبؓ ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف او حسن، ومعناه صحيح اخرجه احمد في المسند (٧/٥، ١٥، ٢٠، ٢١، ٢٣) والدارمي (٢٨٣/١) وابوداود (٤٩٢/١، ٤٩٣) والترمذي (٢٥١) وابن ماجه (٨٤٤) وابن حبان (٤٤٨) كلهم من طريق الحسن عن سمرة وقد حسن الترمذي حديث الحسن عن سمرة في مواضع من سننه منها حديث : نهى عن بيع الحيوان بالحيوان نسيئة وحديث الجار احق بدار الجار وحديث الصلاة الوسطى صلاة العصر الخ نيل الاوطار (٢٦٤/٢)۔

٨– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : " کَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّکْعَةِ الثَّانِیَةِ اسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ﴾، وَلَمْ یَسْکُتْ " . هكذا في صحيح مسلم، وذكره الحميدي في افراده، وكذا صاحب الجامع عن مسلم وحده.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د دویم رکعت نه پورته کیدو نو قرائت به ئے د الحمد لله رب العالمین نه شروع کولو او غلے به نه پاتے کیدو ۔ (مسلم) دا روایت حمیدی په خپل کتاب افراد کښې ذکر کړیدے، دارنګه صاحب د جامع الاصول هم دا روایت د مسلمؒ نه نقل کړیدے۔

تشریح : د حدیث یو مطلب دا دے چه ابو هریرهؓ دا ثابتوی چه د اول شفعے (دوه رکعاتو) په ابتداء کښې به رسول الله ﷺ ثناء وئیله او د دویمے شفع په ابتداء کښې به ئے ثناء نه وئیله بلکه هغه به ئے صرف د الحمد نه شروع کولو ځکه دا وهم کیدو چه دویمه شفعه د اولے شفعے په شان ده نو آیا پدے کښې به هم ابتداء کښې سبحانك اللهم وائی نو دا وهم ئے دفع کړو په ولم یسکت سره ۔

٢– دویم مطلب دا دے چه نبی علیه السلام به کله دویم رکعت ته پورته کیدو نو شروع د قرائت به ئے د الحمد نه کوله نو من الرکعة کښې به من اجلیه وی یعنی کله چه به د دویم رکعت د وجے نه پاڅیدو نو دویم رکعت ته پاڅیدل مراد دی ۔

علامه شوکانیؒ وائی : دا حدیث دلیل دے چه په دویم رکعت کښې د قرائت نه مخکښې سکته کول مشروع ندی دارنګه تعوذ هم مشروع ندے او دغه شان حکم د روستنو رکعاتو هم دے ۔

(نيل الاوطار : ۲/۲۰۳)

مسئله : آيا اعوذ بالله په هر ركعت كښې ضروري ده

او كه صرف په اول ركعت كښې ؟ نو پدے كښې ۱ – **امام شافعیؒ** فرمائی : كه په هر ركعت كښې ئے د فاتحے نه مخكښې وائی نو دا حسن ده لكه دا خبره امام بيهقیؒ په السنن الكبرى (۲/۳٦) كښې نقل كړيده او بيا ئے وئيلی دی چه دا قول د ابن سيرينؒ نه هم نقل دے (انه كان يستعيذ فی كل ركعة) ـ او شيخ البانیؒ او ابن حزمؒ دا راجح گڼړلے دے ـ او امام نوویؒ په المجموع (۳/۳۲٦) كښې وائی : الاصح فی مذهبنا استحبابه (ای التعوذ) فی كل ركعةٍ وبه قال ابن سيرينؒ ـ

۲ - **امام عطاءؒ**، نخعیؒ، ثوریؒ او ابو حنيفهؒ وائی : صرف په اول ركعت كښې به تعوذ وائی او دا قول شوكانیؒ راجح گرځولے دے، او د ظاهر د احاديثو موافق دے ـ

بعض منشأ د اختلاف دا بيانوی چه څوك تول مونځ يو متصل واحد گڼړی نو هغوی وائی چه په ابتداء كښې اعوذ بالله وئيل كافی دی او څوك چه هر ركعت جدا جدا عمل شماری نو وائی د هرے فاتحے سره اعوذ بالله وئيل پكار دی ـ

ددے قول ثانی دپاره دا حديث دليل دے چه (ولم يسكت) رسول الله ﷺ به په دويم ركعت كښې سكته نه كوله بلكه سمدست به ئے قرائت شروع كولو ـ

شيخ البانیؒ په تمام المنه (۱۷٦) كښې ددے حديث نه دا جواب كړيدے چه پدے كښې تاويل دے او هغه دا چه د سكتے نه مراد د اول ركعت معهوده سكته ده يعنی د اول ركعت په شان اوږده سكته به ئے نه كوله او دا مطلب نه دے چه اعوذ بالله به ئے نه وئيله ـ

ليكن دا تاويل د ظاهر د حديث خلاف دے ځكه كه د سكتے نه مراد دغه معهوده سكته واخستے شی نو بيا پدے حديث كښې څه غټه فائده نه راوځی ځكه بيا خو مناسب وو چه داسے ئے وئيلی وے چه لم يدع بدعاء الاستفتاح بلكه دلته راوی عموم بيانوی چه بالكل به نه چپ كيدلو سوئ د بسم الله نه لكه د هغے دلائل مخكښې تير شويدی ـ

او شيخ البانیؒ دا دليل وئيلے دے چه عموم ددے قول د الله تعالى چه (اذا قرأت القرآن فاستعذ بالله) دليل دے په مشروعيت د تعوذ په هر ركعت كښې ـ ليكن دا استدلال بعيد دے وجه دا ده چه دا په خاص عبادت كښې په عموماتو باندے استدلال دے او په خاص عبادت كښې په عموماتو باندے استدلال صحيح نه وی ځكه ددے نه ډير بدعات پيدا كيږی ـ

ځكه نبی عليه السلام په قرآن ښه پوهيدو او د هغه نه په هر ركعت كښې تعوذ نه دے ثابت ـ نو ضرورت نشته چه مونږ په زوره په عموماتو استدلال اوكړو او تعوذ په ابتداء د هر ركعت كښې ثابت كړو ـ ۲ – دارنگه څلور واړه ركعاتونه مثلاً تول په منزله د يو قرائت دی نو په ابتداء كښې تعوذ كافی دے، په قرآن عمل راغلو ـ

۳- دارنګه که دا عموم مونږ واخلو نو بیا چه څوك قرآنی دعاګانے لولی نو هغے ته هم دا حکم متوجه دے چه اعوذ بالله اووایه نو آیا هلته به هم تعوذ وائی ؟ نو بیا خو پکار ده چه هر قرائت که دعاء وی او که غیر دعاء وی تعوذ وئیل دِے ورته مشروع شی او حال دا چه قرآنی دعاګانو کښې د نبی علیه السلام نه تعوذ وئیل ندی ثابت۔

نو د سنت تابعداری دا ده چه تعوذ صرف په اول رکعت پورے خاص شی، ددے وجے نه علامه شوکانیؒ ددے معنی کوی : لم یسکت ای للثناء و دعاء الاستفتاح والتعوذ (نقله فی المرعاة ۳/۱۰۱) او دغه شان تحقیق حافظ ابن القیمؒ هم په زاد المعاد (۱/۲۳٤) کښې ذکر کړیدے هغه فرمائی : دویم رکعت کښې تعوذ وئیلو کښې دوه قوله دی او دا دوه روایته دی د امام احمدؒ نه هم او حنابلو دا دواړه پدے باندے بناء کړیدی چه آیا د مانځه قرائت یو قرائت دے چه یو استعاذه پکښې کافی شی او که نه د هر رکعت بیل مستقل قرائت دے ؟ نو پدے کښې اتفاق دے چه استفتاح خو د مجموعه مانځه دپاره ده نو دغه شان دِ اعوذ بالله هم د مجموعه قرائت دپاره شی او دا ظاهر ده او بیا ئے دغه حدیث د ابو هریرهؓ (لم یسکت) په دلیل کښې پیش کړیدے او وئیلی ئے دی چه یوه استعاذه ځکه کافی ده چه د دواړو قراءتونو ترمینځ سکوت ندے راغلے بلکه ذکر پکښې راغلے دے نو دا په منزله د یو قرائت شو چه د هغے په مینځ کښې الحمد لله او تسبیح او تهلیل او صلاة علی النبی راغلے وی، بیا فرمائی : والاکتفاء باستعاذة واحدة اظهر ـ او دغه شان خبره فقه السنه (۱/۱۳۳) کښې سید سابقؒ هم ذکر کړیده والله اعلم وانظر فتاوی الدین الخالص (٤/۱۱۲)

.هکذا فی صحیح مسلم : دا رد کوی په صاحب د مصابیح باندے چه دا حدیث په مسلمؒ کښې ذکر دے او تا په فصل ثانی کښې ذکر کړو پکار ده چه په فصل اول کښې دِ ذکر کړے وے نو د خپل شرط مخالفت دِے اوکړو ۔

الفصل الثالث

۹- عَنْ جَابِرٍ، قَالَ : ,,كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلَاةَ كَبَّرَ، ثُمَّ قَالَ : اِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، لَا شَرِيْكَ لَهٗ، وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ . اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ لِاَحْسَنِ الْاَعْمَالِ وَاَحْسَنِ الْاَخْلَاقِ، لَا يَهْدِيْ لِاَحْسَنِهَا اِلَّا اَنْتَ، وَقِنِيْ سَيِّءَ الْاَعْمَالِ، وَسَيِّءَ الْاَخْلَاقِ، لَا يَقِيْ سَيِّئَهَا اِلَّا اَنْتَ،، . رواه النسائی.

ترجمه : او جابر رضی الله عنه فرمائی : نبی کریم ﷺ به چه کله مونځ شروع کولو نو الله اکبر به ئے اووئیلو بیا به ئے دا دعاء اووئیله : ان صلاتی ونسکی الخ (زما مونځ او زما قربانی (عبادت) او زما ژوندن او زما مرګ (تول) د الله دپاره دی چه رب د ټولو مخلوقاتو دے د هغه هیڅ شریك نه

شته او پدې باندې ما ته حکم شویدې او زه اول د منونکو نه یم ـ اې الله ! ما ته د نیك اعمال او ښائسته اخلاقو هدایت اوکړه (ځکه چه) نیك اعمال او ښائسته اخلاقو طرفته صرف ته رهنمائي کولې شې او ما د بدو اعمالو او بدو اخلاقو نه بچ کړه ځکه د بد اعمال او بد اخلاقو نه صرف ته بچ کول کوې ـ (نسائیؒ)

تشریح : وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِیْنَ : دا روایت د نسائي دې لیکن په نسائي کښې وانا من المسلمین لفظ دې او هر چه اول المسلمین لفظ دې نو دا په روایت د دارقطني کښې دې نو دا خطائي ده چه د دارقطني الفاظ ئې د نسائي روایت کښې درج کړیدي ـ

درجة الحدیث : اسناده صحیح ـ اخرجه النسائي (۱/۱٤۲)

---

۱۰ - وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ ﷺ: «اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ کَانَ اِذَا قَامَ یُصَلِّیْ تَطَوُّعاً، قَالَ : اَللّٰهُ اَکْبَرُ : وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِیْفاً، وَمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ . وذکر الحدیث مثل حدیث جابر، اِلَّا اَنَّهٗ قال : وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ . ثم قال : اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْمَلِكُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ، سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ، ثُمَّ یَقْرَأُ». رواه النسائي .

ترجمه : او محمد بن مسلمه رضی الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ به کله نفل مانځه ته اودریدو نو الله اکبر به ئې اووئیلو (او بیا به ئې) وجهت الخ اووئیله : (یعنی : ما خپل مخ هغه ذات طرفته متوجه کړو چه اسمانونه او زمکې ئې پیدا کړیدي پداسې حال کښې چه زه په توحید مضبوط یم او د مشرکانو نه نه یم) (ددې نه بعد راوي) د جابرؓ (مذکوره حدیث) په شان حدیث بیان کړو لیکن محمدؓ (د وانا اول المسلمین په ځائې) وانا من المسلمین الفاظ ذکر کړل ـ بیا ددې نه بعد به رسول الله ﷺ دا وئیل : اللهم انت الملك الخ (اې الله ! ته بادشاه ئې، ستا نه سوا هیڅوك حقدار د عبادت نه شته، ته پاك ئې او ستا دپاره حمدونه دي) ددې نه روستو به رسول الله ﷺ قرائت شروع کولو ـ (نسائیؒ)

د محمد بن مسلمه ﷺ تعارف : محمد بن مسلمه الانصاری الحارثي الدوسي، ابوعبد الله المدني مشهور صحابي دې، ابن عبد البرؒ وائي : دا د افضل صحابه کرامؓ نه دې او هغه دریو کسانو کښې چه کعب بن الاشرف یهودي ئې قتل کړې وو یو دا هم وو تولو غزواتو ته ئې حاضري کړیده سوئ د تبوك نه او بعض غزاګانو کښې نبي علیه السلام د خپل ځان نه روستو په مدینه باندې خلیفه جوړ کړې وو او جنګ جمل او صفین کښې ئې حصه نه وه اخستې او دا د هغه خلقو په شمار کښې دې چه د مصعب بن عمیر په لاس ئې ایمان راوړې وو، او په هغه صحابه کرامو

کښې چه نوم ئے محمد وو دا د ټولو نه مشر وو، شپاړس (۱٦) احادیث ئے امت ته پیش کړیدی، په مدینه کښې په سنه (٤٣) کښې د (٧٧) کالو په عمر وفات شویدے ۔ ابن ابی داود وائی : قتله اهل الشام لکونه اعتزل عن معاویة فی حروبه ۔

تشریح : تَطَوُّعاً : دا قید اتفاقی دے وجه دا ده چه کله د مکتوبه قید هم راځی نو دا د نوافل او سنن پورے خاص ندے بلکه دواړو کښې ثابت دے لکه دا خبره مخکښې تیره شوه ۔

وَاَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ : دا خطائی ده ځکه د نسائی په ټولو نسخو (د هند او مصر) کښې وانا اول المسلمین لفظ دے او انا من المسلمین په حدیث د جابر کښې دے نه په حدیث د محمد بن مسلمه کښې بلکه د محمد بن مسلمه په حدیث کښې وانا اول المسلمین دے نو دا خطائی یا د نساخو ده یا د مصنف نظر اوړیدلے دے او د دواړو روایتونو په فرق بیانولو کښې سهوه شویدے والله اعلم ۔ یا ګمان شویدے چه مونږ چه دا دعاء وایو نو اول المسلمین خو مونږ نه یو لیکن دا ګمان خطاء دے ځکه چه اول په معنی د اکمل المسلمین سره دے یا دا مونږ د رسول الله ﷺ د تابعداریٔ په نیت وایو یا دا چه پدے کښې اشاره ده سبقت د تعمیل د حکم ته چه زه د ټولو نه اول او مخکښې تابعدار یم او اخبار د سبقت نه ندے ۔

بیا رسول الله ﷺ دواړه وئیلی دی، انا اول المسلمین ځکه وائی چه اسلام د هر نبی مقدم وی په اسلام د امتی باندے اګرکه اول المسلمین په قرآن کښې ابراهیم علیه السلام دپاره استعمال دے لیکن هغه په خپل دور کښې اول المسلمین دے او زمونږ پیغمبر په خپل دور کښې، یا زمونږ پیغمبر د ابراهیم علیه السلام د تابعداریٔ په نیت دا کلمات وئیلی دی ۔ علامه عبید الله المبارکفوریؒ لیکی چه ظاهره دا ده چه زمونږ پیغمبر پدے قول باندے مامور دے لکه هغه ته الله تعالی فرمائی : قل ان صلاتی الخ ۔

او کله به ئے " انا من المسلمین " وئیلو، عاجزی او تواضع به ئے کوله چه ځان به ئے د امت نه یو فرد شمارلو لکه هغه به فرمائیل : احشرنی فی زمرة المساکین (مرقات)۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح اخرجه النسائی (۱/۱٤۲)



باب القراءۃ فی الصلاۃ

مخکښې د ثناء په باره کښې احادیث بیان شول اوس د قرائت بحث بیانوی، مناسبت ئې واضح دے۔

بیا د (۱) **احنافو** په نیز باندې قرائت په یو رکعت کښې فرض دے لیکن یو رکعت د هغوی په نیز مونځ نشته لهذا دویم رکعت کښې هم قیاسا قراءت فرض شو او آخری دوه یا یو رکعت کښې اختیار دے ان شاء قرأ وان شاء سبح وان شاء سکت ۔ کما فی الهدایه (۷۳/۱) والبدائع (۱۱۱/۱) برابره ده که قراءت کوی او که تسبیحات (سبحان الله والحمد لله والله اکبر کلمات) وائی او که غلے اودریږی په مقدار د قرائت باندې۔

دلیل دا وائی چه امر په قرائت باندې راغلے دے او امر په یو فعل باندې تقاضا د تکرار نه کوی نو یو کرتے قرائت کول فرض شو ۔ دا د هدایه مولا دلیل دے ۔

علی بن ابی العز الحنفیؒ ئې جواب کړیدے چه علامه سرخسیؒ فرمائی : دا خبره ضعیفه ده ځکه د نبی علیه السلام نه په هیڅ مانځه کښې اکتفاء د قرائت په یو رکعت کښې نده نقل او که دا اکتفاء جائز وے نو هغه به یو کرت خو کړی وے د تعلیم الجواز دپاره (المبسوط ۱۸/۱) ۔ بیا وائی : ددے اشکال نه عجیب جواب دا دے چه نبی علیه السلام په هر رکعت کښې قرائت ښودلے دے ۔ او لکه دا ئې مونږ ته بیان کړیدی چه رکوع او سجده په هر رکعت کښې مکرر کیږی نو دغه شان ئې دا هم بیان کړیدی چه قرائت په هر رکعت کښې مکرر کیږی او د هغه نه چرے دا نه ده ثابت چه هغه بعض رکعاتونو کښې قرائت نه وی کړے ۔ او حال دا چه د هغه فعل بیان دے د مجمل د کتاب الله چه (اقیموا الصلاۃ) دے الخ (التنبیه علی مشکلات الهدایة (۶۷۹/۲)

او د دوی سره پدے خبره هیڅ صحیح دلیل نشته البته دوه اثرین پیش کوی یو د علی بن ابی طالب رضی الله عنه او بل د ابن مسعود رضی الله عنه چه هغوی به په آخری دوه رکعاتونو کښې فاتحه نه لوستله لکه حدیث داسے دے : عن شریك عن ابی اسحاق، عن علی وعبد الله انهما قالا : اقرأ فی الاولیین وسبح فی الاخرین اخرجه ابن ابی شیبة (۳۷۲/۱) و کذا فی المغنی (۵۶۱/۱)

لیکن دا روایت ضعیف دے ددے په سند کښې شریك سیئ الحفظ راوی دے ۲– او ابو اسحاق پکښې مدلس دے او عنعنه سره ئې روایت نقل کړیدے علامه قسطلانیؒ فرمائی : وعنعنة المدلس لا یحتج بها الا ان ثبت سماعه بطریق آخر (ارشاد الساری شرح صحیح البخاری : ۲۸۶/۱)

۳– ابو اسحاق د علی او ابن مسعود رضی الله عنهما سره ملاقات ندے شوے نو دا منقطع او ضعیف روایت شو ۔ دغه شان روایت عبد الرزاق په المصنف (۱۰۰/۲) او ابن ابی شیبه

(۳۷۲/۱) کښې راوړیدې عن الثوری عن ابی اسحاق عن الحارث عن علی قال : کان لا یقرأ فی الاخریین ویسمیهما سبحتین ۔ لیکن دا روایت هم ضعیف دې ۱– ابواسحاق مدلس دې او عنعنه ئې کړیده او سفیان الثوری هم مدلس دې ۲– او حارث په باره کښې امام شعبیؒ وائی : کذاب مشهور ۔ یعنی دا مشهور دروغژن ضعیف راوی دې ۔

په الجوهر النقی (۶۳/۲) کښې دی : وفی التهذیب لابن جریر الطبری : وقال حماد عن ابراهیم عن ابن مسعود : انه کان لا یقرأ فی الرکعتین الاخریین من الظهر والعصر شیئاً ۔

جواب : ۱– دا سند منقطع دې په مابین د ابراهیمؒ او ابن مسعودؓ کښې ځکه د ابراهیمؒ د ابن مسعودؓ سره ملاقات نه دې شوې ۔ ۲– د طبریؒ هم د حماد سره ملاقات ندې شوې، ۳– که بالفرض اومنو چه دا اثر ثابت دې نو بیا وایو چه دلته مقصود قرائت نکول دی او هر چه فاتحه ده نو د هغې وئیل ضروری دی په حدیث سره ۔ ۲– دویمه وجه دا ده چه دا دواړه روایتونه د مرفوع صحیح احادیثو خلاف دی لکه روستو راځی لهذا دا به قابل حجت نه وی په اتفاق د امت مسلمه سره ۔ ۳– دریمه وجه دا ده چه د علی او ابن مسعود رضی الله عنهما نه ددې مخالف آثار هم نقل دی لکه امام بیهقی په السنن الکبریٰ (۶۳/۲) کښې وائی : وقد دل علی هذا – ای الاقتصار علی الفاتحة فی الاخریین – ما روینا عن علی بن ابی طالب وعبد الله بن مسعود وعائشة رضی الله عنهم ۔ یعنی د علی او ابن مسعود او عائشې رضی الله عنهم نه نقل دی چه هغوی به په آخری دوه رکعتونو کښې فاتحه لوستله ۔ وابن ابی شیبة (۳۲۵/۱) وابن المنذر فی الاوسط (۱۱۳/۳) عن ابن مسعود : انه کان یقرأ فی الاولیین بفاتحة الکتاب وما تیسر وفی الاخریین بفاتحة الکتاب ۔انظر تعلیق التنبیه (۶۷۹/۲)

علامه شوکانیؒ په نیل الاوطار (۲۳۲/۲) کښې لیکی : ورواه ابن سید الناس فی شرح الترمذی عن علی وجابر وعن ابن عون والاوزاعی وابی ثور الخ ۔ یعنی د فاتحې په هر رکعت کښې د لوستلو وجوب د علی او جابر الخ نه نقل دی ۔ دارنگه طحاوی شرح معانی الآثار (۱۵٤/۱) کښې د علیؓ نه نقل کړیدی : " انه کان یأمر بالفاتحة فی الاخریین " یعنی علی رضی الله عنه به په آخری رکعتونو کښې د فاتحې په وئیلو حکم کولو ۔

نو ددې نه معلومه شوه چه د علیؓ هغه مخکښې روایت به د احنافو د اصولو مطابق منسوخ حسابیږی ځکه چه احناف وائی کله چه راوی د خپل روایت خلاف عمل اوکړی نو هغه به منسوخ وی ۔ **سوال** : په مصنف عبد الرزاق (۱۰۰/۲) کښې صحیح روایت د علی رضی الله عنه موجود دې : عن معمر عن الزهری عن عبید الله بن ابی رافع : قال کان یعنی علیاً یقرأ فی الاولیین من الظهر والعصر بام القرآن وسورة ولا یقرأ فی الاخریین " یعنی علیؓ به په اولنو رکعتونو د ظهر او عصر کښې فاتحه او سورت لوستلو او په روستنو رکعتونو کښې به ئې قراء ت نه کولو ؟ ۔

الجواب : پدې روایت کښې نفی د قرائت ده سویٰ د فاتحې نه او د فاتحې لوستل خو د علیؓ نه

پخپله ثابت دی لکه دا په روایت د ابن ابی شیبه (۳۷۰/۱) کښې راغلی دی ـ عبد الاعلی عن عمه عن الزهری عن عبید الله بن ابی رافع – وفیه :...... "وفی الاخریین بفاتحة الکتاب" نو اوګوره علیؓ په فاتحه حکم کړیدے ـ په مصنف ابن ابی شیبه (۳۷۰/۱، ۳۷۱، ۳۷۲) کښې د ډیرو صحابو عملونه او امرونه نقل دی چه هغوی به په آخری رکعتونو کښې په فاتحه لوستلو باندے عمل کولو او پدے به ئے حکم کولو لکه عمر بن الخطاب، ابودرداء، ابوبکر صدیق، ابن عمر، عبد الله بن مغفل او عائشه رضی الله عنهم اجمعین ـ

نو ثابته شوه چه په آخری رکعتونو کښې فاتحه نه لوستل د هیڅ یو صحابی نه ندی ثابت، بلکه د صحابه کرامو نه ددے لوستل ثابت دی کما عرفتها ـ

بیا د احنافو د مذهب تشریح دا ده چه فاتحه او ضم السورة دواړه واجب دی او نفس قرائت فرض دے ـ بیا د **امام صاحبؒ** په نیز ادنیٰ قرائت یو آیت فرض دے او د صاحبینو په نزد درے آیات دی یا یو آیت طویله دے او د آیت نه کم خارج دے بالاجماع ـ هدایه (۱۱۸/۱) ـ

لیکن دا خبره هم غلطه ده ځکه ددے نه خودا لازمیږی چه مدهامتان یوه کلمه ده هم قرائت د قرآن شی او اکثر جملے د آیت المداینه ډ قرائت د قرآن نشی او دا خو باطله ده ـ

دارنګه دے نه خو دا لازمیږی چه که یو انسان نیمائی آیت مداینه اووائی نو د هغه مونځ ډے جائز نه شی او حال دا چه عام احناف وائی چه مونځ پدے سره جائز دے ځکه چه دا د درے ورو آیتونو نه زیات دی لکه دا خبره ابن همام فتح القدیر (۱۹۰/۱) کښې ذکر کړیده ـ

(۲)- **قول ثانی** دا دے چه په ټولو رکعاتونو کښې قرائت کول فرض دی، امام نوویؒ شرح مسلم او المجموع (۳۶۱/۳) کښې او حافظؒ فتح الباری (۱۹۲/۲) کښې وائی : دا قول د جمهورو علماؤ دے او ابن سید الناسؒ په شرح د ترمذی کښې د علی بن ابی طالب او جابر رضی الله عنهما او ابن عون، امام اوزاعی او امام ابوثور نه نقل کړیدے ـ نیل الاوطار (۲۳۲/۲)

او دا مذهب د امام شافعیؒ، احمدؒ، او صحیح قول د امام مالکؒ او داودؒ دے ـ

(۳) - **قول ثالث** : امام نوویؒ فرمائی : د حسن بصریؒ او بعض اصحاب داودؒ قول دا دے چه په یو رکعت کښې صرف قرائت واجب دے او دا قول د امام زفرؒ دے لیکن د دوی سره پدے خبره هیڅ صحیح دلیل نشته ـ

(٤) **ابن المنذر** د اسحاق بن راهویهؒ نه نقل کړیدی، که په اکثر رکعاتونو کښې قرائت اوکړی نو جائز ده وهو روایة عن مالكٍ ایضاً (المجموع : ۳۶۱/۳، المغنی لابن قدامة : ۵۶۱/۱، نیل الاوطار : ۲۳۲/۲)

لیکن دے علماؤ سره هیڅ دلیل نشته سویٰ ددینه چه په احادیثو کښې لا تجزیٔ صلاة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب یا لا صلاة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب (التنقیح : ۳۷۰/۱) راغلے دے، وائی : معنی حقیقی د صلاة ټول مجموعه مونځ دے، نه بعض، نو د مجموعه دپاره یو ځل فاتحه

لوستل كافي دي (نيل) نور دلائل په المجموع (٣٦١/٣) كښ ذكر دي مع الاجوبه۔
ددے جواب دا دے چه صحيح ده چه صلاة مجموعه مونځ ته وائي ليكن دلته قرينه او دليل موجود دے چه فاتحه په هر ركعت كښ فرض ده، كما سيأتي۔
او **صحيح قول ثاني دے، د هغے دلائل** دا دي :
١- دليل : حديث د مسيئ الصلاة كښ داسے الفاظ راغلي دي : ثم اقرأ بما تيسر معك من القرآن ...... ثم افعل ذلك في صلاتك كلها، بخاري (١٠٣/١) مسلم (١٦٩/١) او په يو روايت د احمدؒ او ابن حبانؒ او بيهقيؒ كښ په دغه قصه د مسيئ الصلاة كښ داسے لفظ دے : ثم افعل ذلك في كل ركعةٍ (نيل الاوطار : ٢٣٢/٢)۔ نو دا صريح دليل دے چه په هر ركعت كښ قرائت د فاتحے ضروري دے۔ ٢- دارنګه حديث د ابوسعيدؓ كښ دي : امرنا رسول الله ﷺ ان نقرأ بفاتحة الكتاب في كل ركعة – رواه اسماعيل بن سعيد الشاكنجي وهو صاحب الامام احمد انظر التنقيح لابن عبد الهادي (٣٨٤/١) والمغني (٥٦١/١) والنيل (٢٣٢/٢) دا هم واضح دليل دے او امر پكښ راغلے دے دليل دے په فرضيت د فاتحه باندے په هر ركعت كښ۔
٣- ابو قتاده ﷺ **فرمائي** : «ان النبي ﷺ كان يقرأ في كل ركعة بفاتحة الكتاب» بخاري (١٠٧/١)۔
نو د رسول الله ﷺ عمل هم دا دے چه په هر ركعت كښ به ئے فاتحه لوستله او امرئے هم كړيدے۔
نو دا حديثونه ددے خبرے دلائل هم شو چه په حديث د مسيئ الصلاة كښ د صلاتك كلها نه مراد هر ركعت دے ۔ ٤- بعض د مؤيداتو نه دا حديث د جابر رضي الله عنه دے : «من صلى ركعةً لم يقرأ فيها بام القرآن فلم يُصَلِّ الّا وراء الامام» اخرجه مالك في الموطأ دا موقوف اثر دے ۔
ددے وجے نه امام ابن حزم په المحلى (٢٣٦/٣) كښ فرمائي : وقرائة ام القرآن فرض في كل ركعةٍ من كل صلاة اماماً كان او ماموماً او منفرداً، والفرض والتطوع سواء والرجال والنساء سواء انتهىٰ ۔
او همدا حق قول دے د وجے د دغه مخكښنو دلائلو نه ۔
بيا جمهور علماء فرمائي : چه فاتحه لوستل فرض دي او ضم السورة سنت عمل دے نو ثابته شوه چه په هر ركعت كښ به قرائت كولے شي او فاتحه به پكښ ضرور وائي ۔
اعجوبة نادرة :احناف پدے مسئله كښ بيل بيل هر ركعت ته مونځ نه وائي ځكه په روستنو ركعتونو كښ قرائت فرض نه ګنړي، او بيا په هدايه (١٢٨/١) كښ وائي : كه يو امام په روستنو ركعتونو كښ امي خليفه جوړ كړو نو د ټولو خلقو مونځ فاسد شو، امام زفرؒ وائي : نه فاسديږي ځكه فرض قرائت اداء شويدے، او هدايه مولا ځان دپاره دليل دا وائي : ولنا ان كل ركعة صلاة فلا تخلى عن القراءة اما تحقيقاً او تقديراً ولا تقدير في حق الامي لانعدام الاهلية انتهىٰ
يعني هر ركعت مونځ دے نو دا به د قرائت وئيلو نه خالي نه وي يا به تحقيقا قرائت وي يا تقديرا او د امي په حق كښ تقديرا قرائت نشي كيدے ځكه هغه كښ اهليت د قرائت نشته ۔

نو اوګوره پدے مسئله کښې خپله زړه خبره ورته یاده نه ده چه هر رکعت ته مونځ نه وائی او دلته هر رکعت ئې جدا مونځ حساب کړو نو دا سراسر تعارض او حیرانتیا ده او دا د فقه حنفی د نقصان واضح ثبوت دے۔

الفصل الاول

١ – وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ . متفق عليه .وفی روايةٍ لمسلم : لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَصَاعِداً .

ترجمه : او عباده بن صامت ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : نشته دے جائز مونځ دهغه چا چه سوره فاتحه (په مانځه کښې) اونه لولی۔ (بخاری ومسلم) او په روایت د مسلم کښې دی : د هغه چا چه سوره فاتحه او یا ددے نه زیات اونه لولی۔

تشریح :—**فوائد الحدیث** : (١)– پدے حدیث کښې د سورة الفاتحے اهمیت بیانیږی چه ددے نه بغیر هیڅ سونځ صحیح نه دے۔ (٢)– دے سورت دپاره ډیر نومونه دی او ډیر نومونه د یو شی دلالت کوی په فضیلت او اهمیت د هغه باندے، لکه حدیث کښې دیته اعظم سورةٍ فی القرآن الحمد لله رب العالمین وئیلے شویدے ۔ (٣) دیته فاتحة الکتاب ځکه وائی چه په مصحف کښې اول دا لیکلے شویده او په مانځه کښې پدے باندے افتتاح د قرائت کیږی ۔

(٤) سورة الفاتحه حافظ ابن قیّمؒ په خپل تفسیر کښې لیکی چه دا سورت ځکه ډیر اهمیت لری چه سؤال د هدایت صراط مستقیم ته دا لوئی مطلوب دے او ددے حاصلول ډیر اشرف دی پدے وجه الله تعالی خپلو بندګانو ته کیفیت د سؤال اوخودلو او دا حکم ئې ورته اوکړو چه د هغه مخے ته حمدونه او ثناء او تمجید وړاندے کړی بیا ئے د هغوی عبودیت او توحید ذکر کړو نو دا دواړه وسیلے دی د هغوي د مطلوب حاصلولو دپاره او ددے وسیلو سره دعاء نه رد کیږی ۔

(٥) دا حدیث دلیل دے چه سورة فاتحه په مانځه کښې رکن دے او فرض دے د فرائضو د مانځه نه او ددے د لوستلو نه بغیر مونځ صحیح نه دے او په هر رکعت کښې ئې لوستل فرض دی ۔ شاه ولی الله الدهلوی په حجة الله (٤/٢) الامور التی لا بد منها فی الصلاة عنوان لاندے لیکی : وما ذکره النبی ﷺ بلفظ الرکنية کقوله تعالی لا صلاة الا بفاتحة الکتاب فانه تنبيه بليغ علی کونه رکنا فی الصلاة انتهیٰ ۔ یعنی لا صلاة نه رکنیت د فاتحه معلومیږی ۔

(٦) لا صلاة کښې لا نافیه د نفی د ذات دپاره راځی او دا ئے معنی حقیقی ده او د نفی د صفاتو دپاره به هله استعمالیږی چه کله نفی د ذات متعذر شی او دلته نفی د ذات متعذر نه ده ځکه صلاة معنی شرعی ده مرکب دے د اقوال او افعالو نه منتفی کیږی په انتفاء د بعض اجزاؤ سره یا په انتفاء د کل اجزاؤ سره لکه ددے معنی تائید په دے حدیث د عبادةؓ کښې په روایت د دارقطنی

او ابـن خزیمه او ابن حبان وغیره کښې په صحیح سند داسې راغلي دي : " لاتجزئ صلاة لا یقرأ فیها بفاتحة الکتاب" ـ نـو دا روایت صریح نص دې په رکنیت د فاتحه باندې چه د هیڅ تاویل احتمال نه لري او مقتدي او امام او منفرد ټولو ته شامل دې ـ

او احنافو چه دلته د نفي نه نفي د کمال واجبي مراد کړیده او داسې ئې وئیلي دي : لاصلاة کاملةً ـنـو دا د دوه وجوهو نه مردود ده ـ ۱– یوه وجه دا چه دا تاویل په روایت د دارقطني سره مردود دې چه هلته نفي د اِجزاء ده (لاتجزئ) ځکه ددې معنی دا ده چه مونځ جائز او کافي ندې نو په نفي د کـمـال واجبي باندې ئې حمل کول غلط دي ځکه د کمال واجبي په نفي کیدو سره کفایت نه نفي کیـږي ـ ـ ـ علامه شوکاني ؒ فرمائي : دا حدیث دلیل دې په تعیین د فاتحه باندې په مانځه کښې او ددې نه بغیر بل شې نه کافي کیږي ځکه پدې حدیث کښې مذکوره نفي متوجه ده ذات ته کله چه د ذات انتفاء ممکن وي او که نفي د ذات ممکن نه وي نو بیا به نفي متوجه وي هغه شي ته چ ه هـغـه ذات تـه نـزدې وي چـه هـغـه صحت دې نه کمال، ځکه صحت اقرب المجازین دې او کمال ابعد المجازین دې او حمل په اقرب المجازین واجب دې او دلته د نفي متوجه کیدل ذات د صلاة ته ممکن دي، لکه حافظ په فتح الباري کښې وئیلي دي چه د صلا ة نه معنی شرعي مراد ده نه معنی لغوي، ځکه الفاظ شرعیه به محمولولې شي په عرف شرعي باندې، ځکه رسول الله ﷺ د شرعیاتـو د بیان دپاره رالیږلې شوې دې نه د بیان د لغاتو دپاره او هر کله چه صلاة شرعي مـنـفـي شـو نـو بـس نفي د ذات صحیح شوه، ځکه یو مرکب لکه څنګه چه په نفي د کل اجزاؤ سره نـفـي کیـږي نو دغه شان په نفي د بعض اجزاؤ سره هم نفي کیږي نو حاجت رانغلو تقدیر د لـفـظ د صـحـت تـه او نه د اِجزاء او نه د کمال ته ځکه دې ته حاجت د مجبورتیا په وخت راځي چه نـفـي د ذات ممکن نه وي ـ ۲– دویم که اومنو چه دلته نفي د صلاة لغوي دې نو بیا نفي د ذات ممکن نه ده ځکه صلاة خو په خارج کښې موجود دې کما قاله البعض، نو بیا نفي متوجه کیږي صحت او اجزاء ته نه کمال ته ـ

یـو خـو ددې وجې نه چه نفي د صحت او اجزاء اقرب المجازین دې، دویم پدې وجه چه روایت د دارقـطـنـي صـریـح دې په نفي د اِجزاء کښې نو بس همدغه به متعین وي (نیل : ۲/۲۲۹) تحفة الاحوذي (۱/۲۰۷) ★– عـلامـه ابـن الهـمـام ؒ په فتح القدیر (۱/۱۲۰) کښې همدغه شان خبره کـړیده چه : عدم الوجود شرعًا هو عدم الصحة هذا هو الاصل ـ یـعـنـي اصل او حقیقت دا دې چه دلـتـه نفي د صحت ده او لا صلاة لجار المسجد الا فی المسجد الخ ـ او لا صلاة للعبد الآبق ددې حکم خلاف دې ځکه هلته خارجي دلیل موجود دې په صحت د صلا ة باندې نو هغې ثابته کړه چه دلته یو خاص صفت د مونځ منفي دې چه هغه کامل مونځ دې ـ انتهیٰ ـ

★– عـلامه محمود آلوسيؒ په خپل تفسیر روح المعاني (۹/۲۱۰) کښې فرمائي : ومنها قوله

ﷺ لا صلاة الا بفاتحة الکتاب وهو ظاهر فی المقصود اذ التقدیر لا صلاة صحیحة الا بها انتهی ۔

★ – **علامه ابوالحسن السندی په حاشیه د ابن ماجه (۲۷۷/۱) کښې او حاشیه د نسائی (۱۳۷/۲) کښې لیکی** : واما الکمال فقد حقق الکمال (یعنی ابن الهمام) ضعفه لانه مخالف لا یصار الیه الا بدلیل والوجود فی کلام الشارع یحمل علی الوجود الشرعی دون الحسی فمؤدی الحدیث : نفی الوجود الشرعی للصلاة التی لم یقرأ فیها بفاتحة الکتاب فتعین نفی الصحة ...... **بیا وائی** : فالحق ان الحدیث یفید بطلان الصلاة اذا لم یقرأ فیها بفاتحة الکتاب انتهیٰ وانظر تحفة الاحوذی (۲۰۷/۱) ۔ **وقد مر هذه المسئله فی صفحه رقم (۲۳) ۷– فائده : پدے حدیث کښې مسئله د فاتحه خلف الامام بیانیږی۔**

التقریب التمام – والتحقیق التام فی قرائة الفاتحة خلف الامام

د امام پسے روستو سوره فاتحه لوستلو په باره کښې اختلاف تقریبا د صحابه کرامو د دور نه مسلسل راروان دے او دا هم یو اهمه موضوع ده ځکه چه انسان دیته په هر رکعت کښې ضرورت لری او د مونځ فساد او عدم فساد پدے باندے مبنی دے، ددے وجے نه ډیر اهل علمو پدے باندے کتابونه لیکلی دی لکه امام بخاری پدے جزء القرائة لیکلے دے او امام بیهقی کتاب القرائة خلف الامام لیکلے دے۔ لهذا پدے مسئله کښې هر مسلمان له تحقیق کول نهایت ضروری دی ځکه که پدے کښې تحقیق اونکړے شی نو د ټول عمر مونځونه به تباهٔ او بربادٔ سره مخامخ شی او انسان به خبر نه وی۔

او دا مسئله انتهائی آسانه ده که د انصاف او عدل نه کار واخستے شی او د ضد او تعصب او تقلید کړئ د ځان نه جدا کړے شی، ډیر خلق پدے باندے مناظرے او جګړے کوی او خامخا خپل ځان وړکوی او بل پړکوی، نو پدے باره کښې نصوصو ته رجوع پکار ده او د الله او د هغه د رسول د الفاظو نه متاثر کیدل ضروری دی نه د علماؤ د اقوالو نه ۔

نو اول د مسئلے نوعیت بیانولے شی بیا دلائل :

پدے کښې عمومی طور سره درے اقوال دی : اول خو پدے اجماع ده چه د امام او منفرد دپاره فاتحه وئیل ضروری دی، خود مقتدی دپاره آیا ضروری ده او که نه ؟ نو پدے کښې اختلاف دے عمومی درے اقوال دی ۔ ۱ - اول قول : د فاتحه لوستل د امام پسے نشته نه په سری مونځ کښې او نه په جهری مونځ کښې او دا قول د امام ابوحنیفهؒ او د کوفے والو او سفیان الثوریؒ دے ۔

مشهوره دا ده چه د امام ابوحنیفهؒ په نزد قرائت خلف الامام ناجائز دے لکه دا په المجموع (۳۶۵/۳) کښې امام نوویؒ نقل کړیدی چه قرائت خلف الامام معصیت دے، لیکن دا خبره ؤ واضحه وی چه امام ابن حبان رحمه الله لیکی چه امام ابوحنیفه، ابویوسف او محمد رحمهم الله د امام نه روستو قرائت نه وئیل مختار کړیدی او قرائت خلف الامام ته ئے مکروه وئیلی دی، نه

حرام لکه هدایه ، فتح القدیر (۱/۳٤۱) والبنایه (۲/۳۷۵) کښې دی : ویکره عندهما ۔
او دا خبره د میزان د شعرانیؒ او د کتاب (رحمة الامة فی اختلاف الائمة) نه هم ظاهریږی۔
د امام ابوحنیفهؒ نه یو بل روایت د جواز د قرائت خلف الامام هم نقل دے لکه علامه عبد الحی لکهنوی په امام الکلام (۳۰) کښې د مجتبیٰ شرح مختصر القدوری او شرح الکافی للبزوری نه نقل کوی فرمائی : القرائة خلف الامام علی سبیل الاحتیاط حسن عند محمد ومکروه عندهما وعن ابی حنیفة : انه لا بأس بان یقرأ الفاتحة فی الظهر والعصر وبما شاء من القرآن انتهیٰ وکذا فی عمدة الرعایة حاشیة شرح الوقایة (۱/۱۷۲)۔
امام عبد الحی اللکنویؒ په امام الکلام (۳۷) کښې لیکی : وهذا هو الذی اترجی ان یکون مذهباً لهم والتنصیص بالکراهة والحرمة من تخریجات متبعیهم یعنی زما امید دے چه د امام ابوحنیفهؒ او محمدؒ او ابو یوسفؒ به دغه مذهب وی او قرائت خلف الامام ته مکروه یا حرام وئیل د هغوی د متبعینو زیادات دی ۔ **او امام شعرانی**ؒ خو تردے پورے لیکلی چه د امام ابوحنیفهؒ او محمدؒ دا قول " چه مقتدی لره د امام نه روستو فاتحه لوستل ندی پکار"، دا د هغوی پخوانے (قدیم) قول دے ۔(او دا روایت په کتاب الآثار (۱/۱٦۳) کښې ذکر دے وانظر فتح القدیر ۱/۳٤۱)۔
روستو هغوی دواړو ددے نه رجوع کړیده او د مقتدی دپاره ئے په مانځه کښې سورتِ فاتحه لوستل مستحب او مستحسن لیکلی دی لکه د شعرانی عبارت دا دے : ولابی حنیفة ومحمد قولان احدهما عدم وجوبها علی الماموم بل ولا تسن وهذا قولهما القدیم وادخله محمد فی تصانیفه القدیمة وانتشرت النسخ الی الاطراف وثانیهما استحسانها علی سبیل الاحتیاط وعدم کراهتها عند المخافتة للحدیث المرفوع : لا تفعلوا الا بام القرآن الخ غیث الغمام حاشیة امام الکلام ص (۱۵٦)
او د احنافو خپل مینځ کښې اختلافات دی په حکم د قرائت خلف الامام کښې۔
۱– یو قول دا دے چه د امام نه روستو فاتحه لوستل حرام دی، د ابن همام وغیره دا مسلك دے ۔ فتح القدیر (۱/۳٤۱) ۲– دویم مسلك دا دے چه په سری مونځ کښې لوستل مستحسن دی، دا د امام محمدؒ قول دے لکه مخکښې نقل ذکر شو ۔
۳– په سری کښې ئے جائز او په جهری کښې ئے ممنوع ګڼړی، او دا قول ملاعلی القاریؒ مختار کړیدے ۔ ٤– فاتحه خلف الامام جائز ده او واجب نه ده دے ته انورشاه کشمیریؒ ذهاب کړیدے۔
۵– فاتحه خلف الامام په هر حالت کښې مستحسن او مستحب ده، علامه شیخ التسلیم عبد الرحیم شاه صاحب او ابوحفص کبیر د امام محمد شاګرد (متوفی : ۱۷۲ هـ) او مولانا عبد الحی اللکهنوی او علامه عینی رحمهم الله دے طرفته ذهاب کړیدے ۔
٦– فاتحه خلف الامام په هر حالت کښې فرض ده، دے طرفته شاه عبد العزیز ذهاب کړیدے او دا علماء جامد مقلدین ندی، بلکه د تحقیق په بناء ئے داسے اقوال کړیدی ۔

۲- **دویم قول** : فاتحه خلف الامام په سري او جهري ټولو مونځونو کښې فرض ده او ددې نه بغير مونځ نه صحيح کيږي او دا قول د امام شافعیؒ او شوافعو او اهل الحديث دے (توضيح الاحکام ۳٤/۲) او دا يو قول د امام احمدؒ هم دے او دا قول د امام بخاریؒ او اسحاقؒ دے او عام محدثينو دے بلکه امام نوویؒ فرمائي دا قول د جمهورو علماؤ دے المجموع (۳۶۵/۳) علامه قسطلانیؒ په شرح د بخاري کښې ليکي : هذا مذهب الجمهور خلافاً للحنفية (بخاري مصري : ۹٤)

او ددې نه علاوه اکثر صحابه کرام او تابعين وغيره د فاتحه خلف الامام قائل او فاعل وو لکه امام ترمذیؒ فرمائي : وقد اختلف اهل العلم فی القرائة خلف الامام فرأی اکثر اهل العلم من اصحاب النبی ﷺ والتابعين ومن بعدهم القرائة خلف الامام (تحفة : ۲۵۶/۱)

امام خطابیؒ په معالم السنن کښې ليکي : دا قول د مکحول، امام اوزاعي، امام شافعي، او ابو ثور دے (تحفه) ۔ امام بخاریؒ په جزء القرائت کښې ليکي :وقال الحسن وسعيد بن جبير وميمون بن مهران وما لا احصی من التابعين واهل العلم انه يقرأ خلف الامام وان جهر، انتهی (تحفة)۔

امام نوویؒ فرمائي : والذی عليه جمهور المسلمين القرائة خلف الامام فی السرية والجهرية

امام بيهقیؒ فرمائي : وهو اصح الاقوال علی السنة واحوطها ۔ يعنې دا د سنت سره ډير برابر قول دے، او احتياط هم پدے قول کښې دے ۔المجموع (۳۶۵/۳)

بيا ئې د صحابه کرامو او تابعينو نومونه ذکر کړيدي : لکه عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب، عبد الله بن مسعود، ابي بن کعب، معاذ بن جبل، ابن عمر، ابن عباس، ابو الدرداء، انس بن مالك، جابر بن عبد الله، ابو سعيد الخدري، عباده بن صامت، ابو هريره، هشام بن عامر، عمران بن حصين، عبد الله بن مغفل او عائشه رضی الله عنهم اجمعين نه روايتونه نقل دي ۔

او په تابعينو کښې ئې : عرووه بن الزبير، مکحول، شعبیؒ، سعيد بن جبير او حسن بصریؒ رحمهم الله سر فهرست ذکر کړيدي۔ دا وو کلام د بيهقي چه نووي نقل کړو ۔

شيخ عبد القادر جيلاني وائي : تبطل الصلاة بترکها (غنية الطالبين ص: ۱۰)۔

ليکن د امام احمدؒ او عبد الله بن المبارکؒ مسلك په کښې دا دے چه په جهري مونځ کښې قرائت خلف الامام مستحب دے او واجب نه دے لکه امام ترمذیؒ (۹۵/۱) د عبد الله بن المبارك قول داسې ذکر کوي : انما اقرأ خلف الامام والناس يقرأون الا قوم من الکوفيين (تحفة: ۲۵٤/۱) او د امام احمد قول ئې ذکر کړيدے : واختار احمد مع هذا القرائة خلف الامام وان لا يترك الرجل فاتحة الکتاب وان کان خلف الامام ۔ يعنې زه دا غوره کوم چه مونځ کونکے به فاتحه وائي اګرکه د امام نه روستو ولاړ وي ۔ د ابن المبارك د قول نه معلومه شوه چه د کوفې والو د يو ګروه نه سوا باقي تمام علماء د فاتحه خلف الامام قائل دي ۔

۳- **القول الثالث** : دريم قول دا دے چه په سري مونځ کښې فاتحه خلف الامام وئيل ضروري

دی او په جهری کښې به ئے نه وائی او دا قول د امام مالکؒ دے او یو قول د امام احمدؒ دے او ابن ابی العز الحنفی وائی : دا اعدل الاقوال دے او دا مالك او اوزاعی او لیث او اشهر الروایتین د احمد دے (التنبیه علی مشکلات الهدایة (۲/٤ ۹ ۵) او شیخ الاسلام ابن تیمیه په فتاوی کښې راجح گرځولے دے او شیخ عبد الله بن عبد الرحمن البسام په توضیح الاحکام (۳۵/۲) کښې وائی چه دا زما په نیز هم غوره دے، ځکه پدے سره جمع د دلائل الفریقین راځی ۔ او دا رأیه د امام البانی رحمه الله هم ده ۔ دا وو تنقیح الاقوال اوس به راشو دلائل الفریقین ته نو د دریم مسلك دلائل به پخپله معلوم شی۔

دلائل الاحناف : ۱- دلیل : آیت کښې دی : ﴿ واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون ﴾ الاعراف ۔ او کله چه قرآن لوستے شی نو غوږ ورته کیدئ او چپ شئ دے دپاره چه پتاسو رحم اوشی۔ **طریقه د استدلال** : دے آیت کښې حکم شویدے په استماع او انصات باندے نو فاتحه لوستل ددے آیت خلاف دی او د آیت الفاظ عام دے، سری او جهری دواړو مونځونو ته شامل دے، او دا آیت کښې که په خطبه کښې نازل وی او که غیر خطبه کښې خو عموم د الفاظو لره اعتبار وی لهذا سورت فاتحه به نه وائی ۔ ابن الهمامؒ وئیلی دی چه فاستمعوا کښې منع د قرائت خلف الامام په جهری مونځ کښې ده او وانصتوا کښې منع په سری مونځونو کښې ده ۔

الجواب : ددے استدلال نه ډیر جوابات شوی دی چه هغے سره به د آیت صحیح مطلب واضحه شی ۔ **۱- اول جواب** : ددے آیت نه استدلال په ترك د فاتحه خلف الامام د احنافو دپاره صحیح نه دے ځکه هغوی پخپله ددے خبرے تصریح کړیده چه دا آیت معارض دے په بل آیت : فاقرأوا ما تیسر من القرآن) چه دا عام دے شامل دے قرائت د منفرد، امام او مقتدی ټولو ته او جهری او سری ټولو مونځونو ته لکه په تلویح توضیح (باب المعارضه والترجیح) کښې لیکی : مثال المصیر الی السنة عند تعارض الآیتین قوله تعالی فاقرأوا ما تیسر من القرآن وقوله تعالی واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا الخ تعارضا فصرنا الی قول النبی ﷺ : من کان له امام فقرائة الامام له قرائة انتهیٰ وکذا فی نور الانوار ؛ ۱۹۱) نو ددے صراحت نه بعد پدے آیت باندے استدلال کول د تعجب خبره ده ۔ **۲- جواب** : دے آیت کښې نفی د قرائت خلف الامام ده چه په جهر او آواز پورته کولو سره وی ځکه بیا د قرآن د اوریدو نه مشغوله کوی او کله چه قرائت خلف الامام په پټه او نفس کښې کوی نو دا مانع د استماع نه نه واقع کیږی او مونږه هم فاتحه خلف الامام د احادیثو په بناء باندے په پټه وایو او ورسره قرآن ته هم غوږ اږدو او پدے آیت باندے عمل کوو چه واذا قرئ القرآن الخ نو په دواړو عمل راغلو په خلاف د مقلدینو نه چه هغوی کله فاتحه نه وائی نو بیا د امام د قرائت نه په دنیا او دکانداری او فکرونو باندے مشغول وی ۔

او ددے دپاره د احنافو د فقهاؤ اقوال شواهد دی، چه هغوی وائی : خطبه د جُمعے اوریدل

واجب دی او دغه آیت په دلیل کښې راوړی او بیا وائی که خطیب دا آیت (یا ایها الذین آمنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما) اولوستلو نو سامعین به په نفس کښې ځان سره پټ درود اووائی او پدے امر به عمل کوی لکه هدایه کښې دی : الا ان یقرأ الخطیب قوله تعالی یا ایها الذین آمنوا صلوا علیه الخ فیصلی السامع فی نفسه انتهیٰ کفایه کښې د هدایه مولا د قول تشریح داسے بیانوی : قوله فیصلی السامع فی نفسه ای فیصلی بلسانه خفیاً انتهیٰ ۔

عینیؒ په بنایه کښې سوال وجواب ذکر کړیدے چه دلته سامع ته دوه حکمونه متوجه دی یو د خطبے اوریدلو او بل د صلاة او سلام وئیلو او اشتغال په یو باندے فوت کوی بل لره نو جواب ورکوی : قلت : اذا صلی فی نفسه وسکت یکون آتیا بموجب الامرین انتهیٰ ۔ یعنی کله چه سامع په پټه ځان سرة درود وائی او جهر نه کوی، غلے وی نو په دواړو امرونو باندے عمل کونکے گرځی، نو دغه شان مونږ هم فاتحه په جهر سره نه وایو بلکه ځان سره ئے وایو او ورسره امام ته هم غوږ وی ۔

ابن الهمام فتح القدیر کښې د امام ابویوسفؒ نه نقل کړیدی : وعن ابی یوسف ینبغی ان یصلی فی نفسه لان ذلك مما لا یشغله عن سماع الخطبة فکان احرازاً للفضیلتین انتهیٰ یعنی مناسب دی چه درود د ځان سره په پټه اووائی ځکه پدے سره د خطبے د اوریدو نه نه مشغوله کیږی نو پدے کښې به دواړه فضیلتونه راجمع کړی ۔ او دغه شان خبره بعینه مونږه هم کوو چه مقتدی به فاتحه هم وائی چه په حدیث عمل راشی او امام ته به هم غوږ ږدی چه په آیت عمل راشی ۔ نو په آیت او ټولو احادیثو به عمل راشی ۔ نو ابو یوسفؒ وائی چه پټ وئیل منافی ندی د سماع سره نو کوم احناف ئے چه منافی گنړی نو هغوی به امام ابویوسف ته د څه نسبت کوی ؟ ۔

★ – **امام بیهقی** په کتاب القرائة کښې دا ثابته کړیده چه عرب تارك الجهر ته منصت وائی اگرکه هغه په پټه د ځان سره قرائت کوی، کله چه ځوك د هغه قرائت نه اوری (مرعاة ۱۲۶/۳) ۔ نو دا دلیل مثبت د مرام ندے او تقریب تام نه دے ۔

۳- **جواب** : مونږ به په عموم د آیت هله عمل کوو چه دا احادیث کمزوری کړو ځکه حدیثونه به کمزوری وی قابل د عمل به نه وی نو د آیت په عموم به عمل کیږی لیکن هر کله چه د فاتحه خلف الامام په باره کښې صحیح احادیث راغلل نو نبی علیه السلام د آیت په مطلب زمونږ نه ښه پوهیږی، د هغه خبره د قرآن خلاف نه وی او هغه خو امر کړیدے په فاتحه لوستلو لهذا د هغه په امر عمل کول بعینه په آیت باندے عمل کول دی ۔

٤- **جواب** : مونږ منو چه فاستمعوا وانصتوا عام دی مقتدی ته هم شامل دی چه هغه به قرائت خلف الامام نه کوی لیکن پدے کښې تخصیص شویدے په دے قول د نبی علیه السلام : لا صلاة لمن لم یقرأ بفاتحة الکتاب نو لا صلاة اخص دے د دغه عموم نه یعنی فاستمعوا وانصتوا نه به مراد اوریدل د باقی قرائت وی سوئ د فاتحے نه او هر چه فاتحه ده نو هغه خو به ضرور

وائی د وجې د دغه حديث نه لهٰذا په دواړو باندې عمل راغلو آيت کښې به د فاتحې نه علاوه قرائت ته غوږ کيخودل مراد شي دې دپاره چه جمع د دلائلو راشي ۔ يا به آيت حمل شي په ماسوئ د مقتدي باندې په نورو حالاتو کښې ۔ او تخصيص د عموم د آيت په خبر واحد سره په اجماع د علماؤ جائز دې لکه امام رازی په خپل تفسير کښې ليکي : الفقهاء اجمعوا على انه يجوز تخصيص عموم القرآن بخبر الواحد ...... وثبت ان تخصيص عموم القرآن بخبر الواحد لازم فوجب المصير الى تخصيص هذه الآية بهذا الخبر وهذا السوال احسن انتهىٰ۔

علامه نيشاپوريؒ په خپل تفسير کښې ليکي : وقد سلم كثير من الفقهاء عموم اللفظ الا انهم جوّزوا تخصيص عموم القرآن بخبر الواحد وذلك ههنا قوله ﷺ لا صلاة الا بفاتحة الكتاب انتهىٰ ۔

صاحب د غيث الغمام حاشيه امام الكلام کښې ليکي : ذكر ابن الحاجب في مختصر الاصول والعضد في شرحه ان تخصيص عام القرآن بالمتواتر جائز اتفاقاً واما بخبر الواحد فقال بجوازه الائمة الاربعة وقال ابن ابان من الحنفية انما يجوز اذا كان العام قد خص من قبل بدليل قطعي منفصلاً كان او متصلاً وقال الكرخي انما يجوز اذا كان العام قد خص من قبل بدليل قطعيا كان او ظنيا انتهىٰ ۔

يعني د عموم د قرآن تخصيص په خبر واحد سره د ائمه اربعو په نيز جائز دې او دا جواز په دې کتابونو کښې ذکر دې ۔ المستصفى للامام الغزالي، روضة الناظر وجنة المناظر لابن قدامة المقدسي، ارشاد الفحول للشوكاني، شرح الاسنوي على المنهاج للقاضي البيضاوي كما في المرعاة (١٢٧/٣) وتحفة الاحوذي (٢٥٨/١) **٥- جواب** : آيت کښې صرف وجوب د استماع او انصات (سکوت) دې او دا صرف په جهري مونځ کښې کيدې شي نه په سري کښې ځکه په سرّي کښې به څه ته غوږ کيدي او څه ته به چپ شي نو که اومنو چه دا آيت دلالت کوي په منع د قرائت خلف الامام نو دا به دلالت کوي په منع د قرائت په جهري مونځ کښې نه په سري کښې نو مدعىٰ عام ده او دليل خاص دې ۔انظر التنبيه على مشكلات الهداية : (٥٩٦/٢)

٦- **جواب** : آيت دلالت کوي په وجوب د غلې کيدو په حالت د قرائت د امام کښې دې دپاره چه غوږ ورته کيدي، او مطلقا غلې کيدل ندي مراد ځکه په آيت کښې په استماع او انصات باندې حکم شوېدې او استماع به هله موجوديږي چه کله قرائت کيږي او انصات هم مطلق سکوت ته نه وائي بلکه امام رازیؒ په خپل تفسير کبير کښې ليکي : الانصات سكوت مع استماع ۔ يعني انصات هغه چپ کيدلو ته وائي چه سره د اوريدلو نه وي او کله چه د څه شي اوريدل نه وي، نو غلې کيدل به څه ته اوشي، امام عينيؒ په شرح د بخاری کښې وائي : الانصات السكوت مع الاصغاء ۔ ابن ابى العز الحنفي ليکي : ذكر في المغرب : انصت : سكت للاستماع فعلم ان السكوت المجرد لا يقال له الاصغاء ۔(التنبيه : ٥٩٧/٢) او دا تقريبا عام اهل لغت او شروح الحديث ليکلي دي : انظر النهاية للجزري ومجمع البحار للفتني وجواهر القرآن للامام الرازي وشروح الحديث۔ نو انصات صرف په حالت د

قرائت کښې موجودیدے شي او کله چه قرائت نه اوري لکه سري مونځ کښې نو انصات بالکل نشي کیدے، نو دا خبره کول چه استماع په جهري مونځ کښې ده او انصات په سري مونځ کښې دے – بالکل باطله ده او د لغت خلاف ده۔

نو بس مقتدی به فاتحه د امام په سکتاتو کښې وائي په جهري مونځ کښې او د امام قرائت ته به هم چپ کیږي نو په قرآن او سنت دواړو باندے عمل راځي او دا خبره تجربه شویده چه د امام قرائت سره مقتدی بالکل فاتحه هم لوستلے شي او د هغه قرائت ته به ئے هم غوږ وي، نو په استماع او انصات دواړو باندے عمل راځي لکه پدے خبره باندے علامه فاضل لکنویؒ هم اقرار کړیدے، هغه فرمائي: الانصاف الذی یقبله من لا یمیل الی الاعتساف ان الآیة المذکورة التی استدل بها اصحابنا علی مذهبهم لا تدل علی عدم جواز القرائة فی السریة ولا علی عدم جواز القرائة فی الجهریة حال السکتة انتهی امام الکلام ص (۱۰۷) والمرعاة (۳/۱۲۸) والتحفة (۱/۲۵۹)۔

او دا خبره امام بخاریؒ هم په جزء القراءة کښې په یو جدلي انداز سره ذکر کړیده هغه فرمائي: قیل له احتجاجك بقول الله تعالی: فاستمعوا له وانصتوا) ارأیت اذا لم یجهر الامام یقرأ خلفه؟ فان قال: لا بطل دعواه، لان الله تعالی قال: فاستمعوا وانصتوا، وانما یستمع لما یجهر مع انا نستعمل قول الله (فاستمعوا) نقول: یقرأ خلف الامام عند السکتات، انتهیٰ ۔ مونږ وایو چه کله امام جهر سره قرائت نه کوي نو آیا مقتدی به قرائت ځان سره کوي او که نه؟ که هغه اووائي چه نه به کوي نو خپله دعوی ئے باطله کړه ځکه الله تعالی خو فاستمعوا (غوږ کیدئ) وئیلی دي او غوږ خو هغه شي ته کیخودے شي چه هغے باندے جهر کیدے شي او هر چه مونږ یو نو په فاستمعوا باندے عمل کوو ځکه مونږ وایو چه مقتدی به په حالت د جهر کښې د امام په سکتاتو کښې قرائت کوي۔

۷– بعض علماؤ دا **جواب** هم کړیدے چه په آیت سره استدلال کول په منع د قرائت خلف الامام کښې مطلقا – صحیح ندے ځکه دا استدلال به هله صحیح وي چه دلته خطاب د مسلمانانو سره شي او حال دا چه دا ممنوع دے بلکه ظاهره دا ده چه دا خطاب د کافرانو سره دے لکه امام رازيؒ په خپل تفسیر کښې ددے آیت په شان نزول کښې ډیر اقوال مختلفه ذکر کړیدي او پنځم قول ئے دا ذکر کړیدے چه دا خطاب د کافرو سره دے په ابتداء د تبلیغ کښې او دا خطاب د مسلمانانو سره نه دے او بیا ئے ددے قول تحسین کړیدے او په دلائلو ئے ددے اثبات کړیدے هغے ته رجوع اوکړه۔ او دا خطاب د مسلمانانو سره ځکه ندے چه دا آیت نازل شویدے په مقابله د کفارو د مکه کښې چه هغوی یوه منصوبه جوړه کړه چه کله قرآن وئیلے شي نو تاسو به په هغے کښې شور شرغب کوئ، دے دپاره چه ددے پیغمبر خبرے په تاسو اثر اونکړي، او هغه کامیاب نه شي لکه الله تعالی هغه پدے آیت کښې ذکر کړیده: لا تسمعوا لهذا القرآن والغوا فیه لعلکم تغلبون نو ددے په رد کښې الله تعالی او فرمائیل چه قرآن ته غوږ کیدئ چه درباندے رحم اوشي، او دا

خبره فقهاء احنافو هم منلې ده لکه اوګوره، هدایه مترجم بنام عین الهدایه مطبع نولکشور (۱۸۹۶ء جلد (۱/۴۰۳۰) پدې وجه ددې آیت د احادیثو د فاتحه خلف الامام سره هیڅ قسم تعارض نشته ـ ★– دارنګه دا آیت د معراج د شپې نه مخکښې نازل شویدې او کله چه په معراج کښې پنځه مونځونه فرض شو نو د هغې نه بعد په مدینه کښې کال دوه کاله پورې په مانځه کښې خبرې اترې جائز وې او بیا په مدینه طیبه کښې دا آیت نازل شو (قوموا لله قانتین) الله ته په مانځه کښې خاموشئ سره اودرېږئ ـ نو اوګوره دغه آیت فاستمعوا الخ د امام نه روستو خبرو کولو نه منع اونکړه او ددې دپاره مستقل قوموا الخ نازل شو نو څنګه د فاتحه خلف الامام نه منع کولې شي دا د تعجب او سوچ خبره ده ـ

نو معلومه شوه چه آیت په باره د مانځه کښې ندې نازل شوې، او د اجماع دعوه چه چا کړیده هغه غلطه بې دلیله ده ـ کما فی المرعاة (۳/۱۲۸) ـ

سوال : که څوك اووائي چه دا قاعده ده چه عموم د الفاظو لره اعتبار وي او خصوص د سبب لره اعتبار نه وي او دلته خو الفاظ عام دي نو مانځه ته هم شاملېدې شي ؟ ـ

جواب : دغه قاعده هم په خپل ځائې صحیح ده لیکن دلته یوه بله قاعده هم ده او هغه دا چه که یو لفظ په خپل عموم باندې پرېخودې شي نو د هغې نه تعارض او تناقض لازمېږي او که په خپل خاص سبب باندې حمل شي نو تعارض ختمېږي نو په دغه وخت کښې به د تعارض د ختمولو دپاره په خصوص د سبب باندې حمل کولې شي لکه ابن همام په فتح القدیر کښې وائي : لیس من البر الصیام فی السفر دا محمول دې پدې باندې چه دوی ته په روژه کښې ضرر رسیدلو نو ځکه نبي علیه السلام منع کړو، بیا وائي : والعبرة وان کان لعموم الالفاظ لا لخصوص السبب لکن یحمل علیه دفعاً للمعارضة بین الاحادیث الخ نو دغه شان دلته هم که اذا قرئ القرآن په عموم حمل شي نو ددې تعارض او تناقض لازمېږي د آیت فاقرأوا ما تیسر من القرآن او د احادیثو د قرائت خلف الامام سره لهذا دا به په خصوص د سبب حمل شي ـ انظر تحفة الاحوذی (۱/۲۵۹) والمرعاة (۳/۱۲۶)ـ

۲– بله دا چه سکوت او قرائت کول منافات نه لري بلکه حدیث د ابو هریره مخکښې تیر شو چه ارأیتك سکوتك بین القراءة وبین التکبیر ما تقول ؟ نو ابو هریره رضي الله عنه چه د اهل لسان نه دې هغه سکوت او قول دواړه ثابت کړل معلومه شوه چه د سکوت او سري قرائت کولو هیڅ قسم منافات نشته ـ ۲- **الدلیل الثاني** : د احنافو دویم دلیل : حدیث د جابر بن عبد الله، ابن عمر، ابن مسعود، ابي هریره او ابن عباس دې عن رسول الله ﷺ قال : من کان له امام فقراء ته له قرائة وفي روایة : فقرائة الامام له قرائة، اخرجه الدارقطني (۱/۳۳۳) وابن ماجه (۱/۲۷۳) والطحاوی (۱/۱۵۷) وابونعیم في الحلیة (۷/۳۳٤) والبیهقي (۲/۱۶۰) واحمد (۳/۳۳۹) وابن ابي شیبة في المصنف (۱/۳۷۶) والطبراني (۱/۳۶) والموطأ لمحمد (۹۹) وکما في الارواء (۲/۲۶۸) رقم

(٥٠٠) **الجواب** : دا حديث د محققين علماؤ په نيز ضعيف دے حافظ په التلخيص الحبير كښې فرمائي : مشهور من حديث جابر وله طرق عن جماعة من الصحابة و كلها معلولة انتهىٰ ۔

او حافظ ابن كثيرؒ دا د مسند احمدؒ نه نقل كړيدے بيا ئے وئيلي دي : وفى اسناده ضعف (ابن كثير، سبل السلام (١/٢٦١) طبع احياء التراث، تحفة الاحوذى (١/٢٦٠) وعلله الدارقطنىٰ ۔

ليكن د شيخ البانيؒ او حافظ زيلعيؒ په نصب الرايه (٢/٦،١١) كښې تحقيق دا دے چه دا حديث په مجموع الطرق سره صحيح يا حسن دے كما فى السلسلة (٢/٥٧)

نو كه اومنو چه دا حديث صحيح دے نو بيا ددے حديث نه ډير جوابونه دي دے دپاره چه د نورو احاديثو سره ئے تطبيق راشي ۔نو ٢- **دويم جواب** دا دے چه ددے حديث معارضه كښې آيت دے : فاقرأوا ما تيسر من القرآن ځكه دا آيت په خپل عموم سره صريح نص دے په قرائت خلف الامام د مقتدى كښې او حديث دليل دے په منع د قرائت خلف الامام كښې په قول د اكثر اهل علم، نو د احنافو د اصولو موافق آيت په خبر واحد سره څنګه پريخودے شي ؟ ۔

٣- **جواب** : د قراء ت اطلاق په څه كيږي دا بنياد د اختلاف دے نو احناف وائي د قرائت اطلاق په فاتحه او سورت دواړو باندے كيږي او جمهور د فاتحه نه سوئ ته قرائت وائي، ځكه نبي عليه السلام فاتحه د قراء ت نه مستثنىٰ كړيده : فلا تقرأوا بشئ الا بام القرآن ۔ نو جمهور فاتحه ته قرائت نه شاملوي، نو جواب كوي چه قرائت د امام د مقتدى قرائت دے خو سوئ د فاتحے نه ځكه مقتدى به ضرور فاتحه وائي، دا ترے رسول الله ﷺ مستثنىٰ كړيده نو مافوق الفاتحه قرائت به نكوي لهذا د حديثونو مينځ كښې هيڅ تعارض نشته ۔

او دا جواب امام بخاريؒ په جزء القراء ة كښې داسے ذكر كړيدے : فلو ثبت الخبران كلاهما لكان هذا مستثنىً من الاول لقوله : لا يقرأنّ الا بامّ الكتاب، وقوله : من كان له امام فقرائة الامام له قرائة جملة وقوله الا بام القرآن مستثنى من الجملة، كقول النبى ﷺ جعلت لى الارض مسجداً وطهوراً ثم قال فى احاديث اخر : الا المقبرة وما استثناه من الارض، والمستثنى خارج من الجملة، كذلك فاتحة الكتاب خارج من قوله : من كان له امام فقرائة الامام له قرائة مع انقطاعه، انتهىٰ ۔ يعني كه دواړه حديثونه صحيح ثابت شي نو بيا به الا بفاتحة الكتاب مستثنىٰ وي د من كان له امام الخ نه او ددے مثال داسے دے لكه حديث كښې دي : جعلت لى الارض مسجدا الخ يعني زمكه زما دپاره مسجد او پاكونكے جوړه شويده بيا ئے په بل حديث كښې ددے زمكے نه بعض حصه مستثنىٰ كړيده چه هغه مقبره ده نو دغه شان دلته ئے د قرائت نه فاتحه مستثنىٰ كړيده ۔

٤- **خلورم جواب** : دا حديث وارد دے په ماسوئ د فاتحه كښې لكه شيخ عبد الحى اللكهنويؒ په خپله رساله امام الكلام ص (١٥٠) كښې رقم طرازي كوي : قد يقال : ان مورد هذا الحديث هو قرائة رجل خلف النبى ﷺ سبح اسم ربك الاعلى فى الظهر والعصر كما مرّ من طرق عن

جابر فهو شاهد لكونه وارداً فيما عدا الفاتحة انتهىٰ ـ

يعنې وئيلې شي چه شان ورود ددې حديث دا وو چه يو سړي د رسول الله ﷺ نه روستو په ماسپښين يا مازيګر مانځه کښې سبح اسم ربك الاعلى سورت اولوستلو (نو رسول الله ﷺ ورته دغه حديث بيان کړو چه د امام قرائت د مقتدي قرائت دې نو سورت مه وايه) لکه دا په ډيرو سندو د جابر نه نقل شو نو دا شاهد دې ددې خبرې چه دا حديث وارد دې په ماسوئ د فاتحه کښې آهـ ـ او اعتبار اګرکه عموم د الفاظو لره وي ليکن کله به يو حديث په خپل مورد او سبب پورې خاص کولې شي کله چه په هغې سره جمع د احاديثو راځي او تعارض دفعه کيږي لهذا دا واضحه شوه چه ددې حديث د فاتحې سره هيڅ کار نشته بلکه ددې نه مراد دا دې چه مقتدي به د امام سره د فاتحې نه سوئ نور سورتونه نه وائي بلکه په جهري مونځ کښې به غلې اودريږي ـ

او دا خبره حافظ زيلعي په نصب الرايه کښې د امام بيهقيؒ نه هم نقل کړيده ، او په هغې ئې اقرار کړيدې، لکه هغه فرمائي : وحمل البيهقي هذه الاحاديث على ما عدا الفاتحة واستدل بحديث عبادة ان النبي ﷺ صلى الفجر ثم قال : لعلكم تقرأون خلف امامكم قلنا نعم، قال : فلا تفعلوا الا بفاتحة الكتاب، واخرجه ابوداود باسناد رجاله ثقات، وبهذا يجمع الادلة المثبتة للقرائة والنافية انتهىٰ ـ

يعنې په کومو احاديثو چه د قرائت اثبات راغلې دې او په کومو کښې چه نفي راغلې ده د هغې جمع به په دغه مذکوره طريقه کوو چه قرائت به منع وي او د فاتحه لوستل به ضروري وي ـ

٥ – جواب : علامه عبد الحي لکنويؒ په امام الکلام (٥٠) کښې ليکي : دا حديث يعنې من کان له امام الخ نص ندې په ترك د فاتحه کښې بلکه احتمال د فاتحه هم لري او د ماسوئ د فاتحې هم لري، او دغه نور روايات يعنې روايات د عباده وغيره په قرائت خلف الامام کښې دلالت کوي په وجوب د قرائت د فاتحه يا په استحسان باندې په طريقه د نص سره نو مناسب دي چه دغه روايات مقدم شي په دې حديث د جابر باندې قطعا انتهىٰ ـ

بل ځائې کښې ليکي : حديث عبادة نص في قرائة الفاتحة خلف الامام واحاديث النهي والترك لا تدل على تركها نصاً بل ظاهراً وتقديم النص على الظاهر عند تعارضهما منصوص فى كتب الاعلام انتهىٰ ـ

يعنې حديث د عبادةؓ په قرائت د فاتحه خلف الامام کښې نص دې او احاديث د نهي او ترك دا نص ندي په ترك د فاتحه خلف الامام کښې بلکه ظاهر دي او دا د علماؤ په کتابونو کښې ثابته شويده چه کله د نص او د ظاهر تعارض راشي نو نص لره به ترجيح وي، لهذا احنافو له پکار دي چه د شيخ عبد الحي اللکنويؒ پدې خبره يقين اوکړي او په خپلو اصولو عمل اوکړي ـ

امام حازميؒ په کتاب الاعتبار کښې وائي : د ترجيح اصول دا دي چه په يو حديث کښې حکم منطوق وي او په بل حديث کښې محتمل وي نو منطوق به مقدم وي په محتمل باندې ـ انظر تحفة الاحوذى (١/٢٦٠) والمرعاة (٣/١٣٠)

٦- **جواب**: دا حديث د احنافو د اصولو موافق منسوخ دے، نو پدے باندے استدلال كول په منع د قرائت خلف الامام كښې صحيح نه دے، او هغه داسے چه جابرؓ راوى ددے حديث دے او د هغه عمل دا وو چه هغه به قرائت خلف الامام كولو لكه ابن ماجه كښې په صحيح سند سره د هغه عمل موجود دے، دارنګه ددے حديث راوى انس، ابو هريره، ابو سعيد، ابن عباس، على او عمران بن حصين رضى الله عنهم دى او دے ټولو به فاتحه خلف الامام لوستله او د رسول الله ﷺ د وفات نه پس به ئے پدے باندے فتوے وركولے بعضو به په ټولو مونځونو كښې او بعضو به په سرى مونځونو كښې او د احنافو دا قاعده ده (اګركه د جمهورو په نيز خطاء ده) چه كله د يو راوى عمل او فتوىٰ د هغه د روايت خلاف راشي نو دا به دليل وى په نسخ د روايت د هغه باندے، لهذا دا حديث د جابرؓ من كان له امام الخ د احنافو په نيز منسوخ دے نو څنګه ددے نه استدلال كوى؟ - ٧- **جواب**: علامه امير صنعانيؒ په سبل السلام (٢٦١/١) كښې فرمائي: اذا قرئ القرآن او من كان له امام الخ او اذا قرأ فانصتوا دا عمومات دى په فاتحه او غير فاتحه كښې او حديث د عبادةؓ خاص دے په فاتحه پورے نو پدے حديث سره به تخصيص كولے شي په دغه عام كښې آهـ۔ كه نور جوابونه مطالعه كول غواړے نو تحقيق الكلام د شيخ علامه عبد الرحمن المباركفورى او ابكار المنن د هغه ته رجوع اوكړه۔

٣- **دريم دليل** د احنافو: عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: ان رسول الله ﷺ انصرف من صلاة جهر فيها بالقرائة فقال: هل قرأ معى احد منكم آنفاً، فقال رجل: نعم يا رسول الله! فقال: انى اقول: مالى انازع القرآن، قال: فانتهى الناس عن القرائة فيما جهر فيه من الصلوات حين سمعوا ذلك من رسول الله ﷺ ۔ (ابوداود: ١٢٧/١، والترمذى: ومالك فى الموطأ: ١٦٦/١ ومحمد: ٩٥/١، وابن ابىؒ شيبة: ٣٧٥/١) والحديث صحيح كما فى صفة الصلاة (٧١) وصحيح السنن للالبانى۔

دحديث ترجمه او تشريح روستو راروانه ده دلته د جمع د دلائلو په نيت اوليكلے شو۔

احناف وائى: دا حديث دليل دے چه رسول الله ﷺ رد اوكړو په هغه چا چه د امام سره قرائت وائى او ابو هريره يا زهرى وائى چه د نبى عليه السلام پدے وينا سره خلق په جهرى مانځه كښې د قرائت خلف الامام نه منع شو۔ **الجواب**: اول خو پدے حديث باندے دا اعتراض دے چه فانتهى الناس عن القرائة دا قول د امام زهرىؒ دے او مدرج دے پدے حديث كښې لكه دا خبره امام بيهقىؒ په معرفة السنن والآثار كښې او امام ابوداودؒ د محمد بن يحيى بن فارس نه نقل كړيده او محمد بن اسماعيل البخارى په جزء القرواء ة كښې او امام اوزاعىؒ د زهرىؒ نه نقل كړيده او خطيب بغدادىؒ ذكر كړيده۔ حافظ وائى: قوله فانتهى الناس الى آخره مدرج فى الخبر من كلام الزهرى، واتفق عليه البخارى فى التاريخ وابوداود ويعقوب بن سفيان والذهلى والخطابى وغيرهم انتهىٰ۔

نو هر كله چه دا د زهرىؒ قول شي نو بيا پدے استدلال صحيح نه دے ځكه قول د تابعى

بالاتفاق حجت نه دے۔ لیکن دلته حجت دے ځکه چه زهريّ دا د بعض صحابه کرامو نه اوریدلی دی کوم چه دغه مانځه ته حاضر شوی وو۔

دارنګه دا صرف د زهريّ ادراج نه دے بلکه ابوداود کښې (۱۲۷/۱) دا هم ذکر دی: وقال ابن السرح في حديثه قال معمر عن الزهري قال ابوهريرة فانتهى الناس الخ۔ نو معلومه شوه چه دا د ابوهريره خبره ده، لکه ددے تحقیق په تهذیب السنن کښې حافظ ابن القیمؒ کړیدے نو بیا ددے جواب دا دے چه ددے حدیث منافات نشته د قرائت د فاتحے سره ځکه پدے حدیث کښې نفی د قرائت ده ماسویٰ د فاتحے نه ځکه فاتحه په لا تقرأوا الا بام القرآن سره مستثنیٰ ده۔

۲- **جواب**: د الناس نه ټول خلق ندی مراد، ځکه چه ډیر صحابه کرامو به فاتحه خلف الامام په جهری او سری ټولو مونځونو کښې لوستله ددے نه هم معلومیږی چه دلته ماسویٰ د فاتحے نه نور قراءت مراد دے۔ ۳- **جواب الزامی**: پدے کښې د احنافو دپاره پوره استدلال نشته ځکه پدے حدیث کښې دا راغلل چه په جهری مونځ کښې خلق د قرائت نه منع شو نو مطلقا په ټولو مونځونو کښې د قرائت خلف الامام د کراهت دلیل پکښې نشته، نو د فیما جهر نه معلومیږی چه په سری مونځونو کښې به ئے قرائت کولو او حال دا چه احناف خو دا نه مني۔ نو دا استدلال ناقص دے۔

٤- **جواب**: دا حدیث هم د حنفی اصولو مطابق منسوخ دے ځکه دا د ابو هریرهؓ د فتویٰ مخالف دے چه هغه د فاتحه خلف الامام په وئیلو باندے په جهر مانځه کښې فتوی ورکوله لکه حدیث به روستو راشي اخرجه مسلم وابوداود وغيرهما۔ اصح دا ده چه مخالفت نشته ځکه دا په مافوق الفاتحه باندے حمل دے۔

۵- **جواب**: شیخ عبد الحی اللکنویؒ په غیث الغمام (۳۰) کښې لیکی: غاية ما فيه ان النبي ﷺ قال: مالي انازع القرآن، فهو وان دل على النهي فانما يدل على نهي القرائة المفضية الى المنازعة في الجهرية انتهیٰ۔ یعنی پدے حدیث کښې د فاتحه خلف الامام هیڅ نهی نشته صرف دا چه نبی علیه السلام فرمائي: څه وجه ده چه مانه قرآن راخکلے شي نو دا په نهی د قرائت دلالت کوی لیکن په هغه قرائت دلالت کوی چه هغه مفضی کیږی منازعه او جګړے ته په جهری مانځه کښې او کله چه ئے انسان د ځان سره په آرام وائي په جهری یا سری مونځ کښې چه جګړے ته اونه رسی او په امام باندے خبط او ګډوډ والے نه راولی نو بیا پدے کښې هیڅ منع نشته (دا ډیر جامع عبارت دے او د فکر او سوچ مستحق دے)۔

٦- **جواب**: الحديث يفسر بعضه بعضاً۔ ددے حدیث تفسیر په حدیث د عباده بن الصامتؓ کښې داسے راغلے دے چه عباده فرمائي: په سحر مانځه کښې مونږ د رسول الله ﷺ پسے ولاړ وو نو هغه قرائت کولو او قرائت پرے درون شو، کله چه فارغ شو، وے فرمائیل: لعلكم تقرؤن خلف امامكم؟ آیا تاسو د امام نه روستو قرائت کولو؟، دے وائي: مونږ اووئیل: آو، یا رسول الله! نبی

علیه السلام اوفرمایل : لا تفعلوا الا بفاتحة الکتاب فانه لا صلاة لمن لم یقرأ بها ـ یعنی د فاتحې نه سوئ بل هیڅ قرائت مه کوئ او فاتحه لولئ ځکه چه د هغه چا مونځ نه کیږی چه فاتحه اونه لولی، نو دا واضح حدیث دے چه نهی د قرائت ماسوئ د فاتحې نه راغلې ده د فانتهی الناس عن القراءة نه ماسوئ د فاتحې نه باقی سورتونه لوستل مراد دی ـ دا حدیث روستو راروان دے۔

٤- **څلورم دلیل** : حدیث د ابو هریرةؓ مرفوعا : انما جعل الامام لیؤتم به فاذا کبر فکبروا ...... واذا قرأ فانصتوا " مسلم (۱/۱۷٤) وابوداود (۱/۹٦) وعن ابی موسی الاشعری مرفوعاً : واذا قرأ الامام فانصتوا – ابوداود (۱/۱٤۷) واخرجه البیهقی (۲/۱۵۵) والطحاوی (۱/۱۵۹) وابن ابی شیبة (۱/۳۷۷)

پدے باندے یو اعتراض دا شوے دے چه اکثر ائمه حفاظو وئیلی دی چه دا قول : واذا قرأ فانصتوا غیر محفوظ دے لکه دا خبره امام بخاریؒ، ابوداودؒ، ابو حاتمؒ، ابن معینؒ، ابن خزیمهؒ، حاکمؒ، دارقطنیؒ ذکر کړیده ـ او مسلم ورته صحیح وئیلے ده او دیته منذریؒ میلان کړیدے او ابن حزم هم ورته صحیح وئیلے ده، نو د حفاظو قول به د مسلم په تصحیح مقدم وی دوی وائی چه سلیمان التیمیؒ مخالفت کړیدے د تولو شاګردانو د قتادهؒ نه چه هغوی دا لفظ نه ذکر کوی۔

لیکن صحیح دا ده چه سلیمان التیمیؒ د حفاظ متقنین نه دے نو د هغه په حدیث کښې زیادت د ثقه دے لکه ابن الترکمانی په الجوهر النقی (۲/۱۵۵) کښې وائی : ان التیمی جلیل القدر قال شعبة ما رأیت اصدق منه، وفی علل الخلال قلت لاحمد بن حنبل : یقولون اخطأ التیمی قال : من قال : اخطأ التیمی فقد بهت التیمی ولا نسلم انه خالفهم بل زاد علیهم وزیادة الثقة مقبولة وصححه مسلم کما فی صحیحه، وتابعه سعید بن ابی عروبة وعمر بن عامر کما فی البیهقی مع الجوهر النقی (۲/۱۵٦) وفی اسناده سالم وهو ثقة وصححه احمد ایضاً کما فی التمهید والجوهر النقی، وکذلك صحح حدیث ابی موسیٰ وصححه ابن تیمیة وابن حزم والالبانی رحمهم الله۔

نو بیا **جواب** دا دے چه دا محمول دے په ماسوی د فاتحه باندے جمعا بین الاحادیث۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی : واستدل من اسقطها عنه فی الجهریة کالمالکیة بحدیث واذا قرأ فانصتوا وهو حدیث صحیح اخرجه مسلم من حدیث ابی موسیٰ الاشعری ولا دلالة فیه لامکان الجمع بین الامرین فینصت فیما عدا الفاتحة وینصت اذا قرأ الامام ویقرأ اذا سکت انتهیٰ ـ یعنی دا حدیث حمل دے په ماسوئ د فاتحه باندے نو کله چه امام قرائت کوی نو دے به ئے اوری او کله چه هغه سکته کوی نو په سکتو کښې به مقتدی فاتحه وائی نو هیڅ تعارض د احادیثو رانغلو ـ او په سکتاتو کښې د فاتحې لوستلو باندے تقریبا عام علماؤ قول کړیدے ـ او حنفی اکابرینو هم ددے اجازت ورکړیدے لکه : ۱- شاه ولی الله ـ ۲- شیخ رشید احمد ګنګوهی۔ ۳- شیخ ظفر احمد عثمانی (تکمیل البرهان کښې) ٤- علامه عبد الحی اللکنویؒ په امام الکلام (۲۸۱) کښې ـ انظر اقوال العلماء فی توضیح الکلام ص (۵۸۱ تا ۵۹۸) لارشاد الحق اثری ـ امام بخاریؒ چه جزء القراءة کښې وائی : ولو

صح لكان يحتمل سوى الفاتحة وان يقرأ فيما سكت الامام.
دغه شان خبره امام نوويؒ په المجموع کښې ذکر کړېده (۳۱۵/۳)

۲- **جواب**: امام بيهقيؒ په کتاب القراء ة کښې وائي: معنى الحديث: ان الانصات محمول على ترك الجهر، نصب الراية (۱۷/۲) يعنې پدې حديث کښې مطلب دا دے چه په جهر به د امام سره قرائت نه کوی بلکه فاتحه به وائي خو په پټه سره نو پدے کښې نفي د فاتحے نشته۔

۳- **جواب**: دا حديث نص نه دے په ترك د فاتحه کښې او احاديث د قرائت د فاتحے نصوص دی او عند التعارض نص مقدم وی په غير نص باندے۔

دارنګه د امير صنعاني جواب مخکښې ذکر شو چه اذا قرأ فانصتوا د اعام او الا بفاتحة الكتاب خاص دے نو ددے عام نه به تخصيص د فاتحے کولے شي۔ دا د احنافو مرکزی دلائل دی، ددے نه بعد اقوال د صحابه کرامو دی۔

۵- **دليل**: عن ابی الدرداء سئل رسول الله ﷺ أفي كل صلاة قرائة ؟ قال: نعم! قال رجل من الانصار: وجبت هذه؟ فالتفت اليّ وكنت اقرب القوم منه، فقال: ما ارى الامام اذا امّ القوم الا قد كفاهم، اخرجه النسائي (۱۴۶/۱) **الجواب**: امام نسائيؒ فرمائي: هذا عن رسول الله ﷺ خطأ وانما هو من قول ابی الدرداء ونحوه في الطحاوی (۱۵۸/۱) والدارقطني (۳۵۹/۱) باسناد حسن نو يو خو دا حديث موقوف دے او دا خبره دارقطنيؒ، او بيهقيؒ او امام ابن خزيمهؒ او ابوعبد الله الحاکمؒ او يحيى بن صاعدؒ هم کړېده او ددے حديث د مرفوع کيدو نه ئې انکار کړيدے۔ (کتاب القرائة ص: ۱۱۸، ۱۱۹)۔ په مسند احمد (۴۴۸/۶) کښې ددے روايت الفاظ داسے دی: فالتفت اليّ ابوالدرداء وكنت اقرب القوم منه فقال يا ابن اخي ما ارى الامام اذا ام القوم الا قد كفاهم۔ توضيح الكلام ۹۶۶/۲ للاثری۔ ۲- دويم پدے کښې د فاتحے ذکر نشته۔

۶- معاني الآثار د طحاوی (۱۶۰/۱) کښې دی: عبيد الله بن مقسم د عبد الله بن عمر، زيد بن ثابت او جابر بن عبد الله نه تپوس اوکړو: هغوی اووئيل: لايقرأ خلف الامام في شيئ من الصلوات واسناده صحيح، ابن ابی شيبة (۳۷۶/۱) **الجواب**: دا اثر موقوف دے او صريح هم ندے ځکه دلته نفي د قرائت شويده نه د فاتحے دارنګه دا د مرفوع احاديثو مقابله نشي کولے۔

علاوه لا دا چه دا آثار محمول دی په ما عدا د فاتحه باندے يا په ترك جهر باندے دے دپاره چه د صحيح مرفوع احاديثو سره ئې موافقت راشي۔ لکه امام بيهقيؒ په کتاب القراءة ص (۱۴۸) او علامه نووی په شرح مسلم (۲۱۵/۱) کښې دا تطبيق کړيدے۔ توضيح الكلام (۹۹۳/۲)

۷- عمر بن الخطابؓ وائي: ليت في فم الذى يقرأ خلف الامام حجراً (الموطأ لمحمد (۱۰۲/۱) وعبد الرزاق في المصنف (۱۳۸/۲) وسنده ضعيف منقطع لان محمد بن عجلان لم يلق عمر وابن مسعود وعلياً۔ د عليؓ په باره کښې مشهوره ده چه هغه وئيلي دی: «من قرأ خلف الامام فقد اخطأ

الفطرة» (عبد الرزاق: ٢/١٣٧) وابن ابى شيبة (١/٣٣٠) والبخارى فى جزء القراءة (١٣) ولكنه قال: عن المختار بن عبد الله بن ابى ليلىٰ وقال البخارى بعده: وهذا لا يصح، لانه لا يعرف المختار ولا يدرى انه سمعه من ابيه ام لا، وابوه عن على ولا يحتج أهل الحديث بمثله۔

دارنګه سعدؓ باره کښې دی: «وددت الذى يقرأ خلف الامام فى فيه جمرة» (ابن بى شيبة ١/٣٣٠) وجزء القراءة (١٣،١٤) ليکن امام بخاریؒ فرمائی: ددې په سند کښې د سعدؓ د اولادو نه ابن نجاد دې ولم يعرف ولا سُمِّیَ فهو مرسل ضعيف آهـ وقال البخارى: نهى رسول الله ﷺ عن الاحراق بالنار۔

او دغه شان د زيد بن ثابت او ابن مسعود او بعض تابعينو نه څه شيان نقل دی خو هغه ټول امام بخاریؒ ضعيف کړيدی راجع جزء القراءة: (١٣،١٤)

او څه روايات په فتاوى الدين الخالص (١٢٨/٤) کښې اوګوره چه آثار دی چه اکثر غير صحيح دی او بعض په خپله مدعیٰ کښې صريح نه دی ځکه چه هغې کښې نفی د قراءت راغلې ده نه د فاتحې، دارنګه دا په مقابله د مرفوع احاديثو کښې مرجوح دی او يا د هغوی په اجتهاد باندې محمول دی ـ **سوال**: تاسو وايئ چه مدرك د ركوع مدرك د ركعت دې نو هر كله چه دا مدرك د ركعت شو نو هغه خو فاتحه نه ده وئيلې ددې نه معلوميږی چه فاتحه فرض نه ده او بغير د فاتحې نه هم مونځ کيږی؟۔

الجواب: مدرِكْ د ركوع مدرك د ركعت دې او دا نفی د وجوب د فاتحې نه کوی ځکه نبی عليه السلام وائی: فاتحه لازمه ده او پدې مقام کښې نبی معاف کړيده نو قياس او عقل ته ضرورت نشته مثال داسې دې چه قيام هم فرض دې او هغه هم پاتې شويدې نو سوال دا دې چه هغه نه خو فرض پاتې شويدی نو بيا څنګه مدرك د ركوع مدرك د ركعت شو ددې نه خو معلوميږی چه قيام دِې هم فرض نه شی، بلکه دلته به دا وئيلې شی چه دا حالت د ضرورت دې او د ضرورت په وخت فاتحه وئيل دارنګه قيام ساقطيږی ـ بل مثال نبی عليه السلام به بيمارۍ کښې مونځ په ناسته کولو نو صحابهٔ ئې هم ځان سره کينول نو قيام فرض دې ليکن د هغوی نه د امام د تابعدارئ په وجه ساقط شو بامر الرسول۔

نو دا دلائل (روايات) يا مجمل (غير صريح) دی بعض پکښې موقوفات دی او بعض ضعيف دی، صرف يو روايت من كان له امام پاتې شو او هغه هم متكلم فيه دې بعضې ورته صحيح وائی او بعض ورته ضعيف وائی نو دا مقابله د هغه صريح رواياتو نشی کولې کوم چه روستو ذکر کيږی۔

دلائل القول الثانى: چه په سری او جهری ټولو مونځونو کښې به فاتحه خلف الامام ضرور وائی، دلائل ئې دا دی: ١- **دليل**: څلور آيتونه دی: ﴿ فاقرأوا ما تيسر من القرآن ﴾ کښې مخکښې مونږ وئيلی وو چه ددې نه فاتحه مراد ده، او دا حکم عام دې مقتدی، امام او منفرد ټولو ته۔ ٢- ﴿ وان ليس للانسان الا ما سعىٰ ﴾ ددې آيت د عموم نه استدلال کيږی چه انسان ته به صرف د

هغه عمل فائده ورکوی نه د بل چا عمل، لهذا بغیر د عذر نه په فرائضو کښې نیابت نه صحیح کیږی نو د امام فاتحه د مقتدی دپاره کافی نه ده۔

۳– ﴿ واذکر ربك فی نفسك تضرعاً وخیفة ودون الجهر من القول ﴾ (الاعراف : ۲۰۵) ابن کثیرؒ لیکی چه ابن جریرؒ او د هغه نه مخکښې عبد الرحمن بن زید بن اسلمؒ دا وئیلی دی چه : ان المراد بها امر السامع القرآن فی حال استماعه بالذکر ۔ یعنی څوك چه قرآن اوری هغه ته الله تعالی حکم کړیدے چه ذکر په آرام سره کوی ۔ تفسیر ابن کثیر (۱۲۸/۱)

تفسیر زاد المسیر (۲۰٦/۳) کښې قتاده رحمه الله نه نقل دی : ددے نه قرائت الامام سرا فی نفسه لوستل مراد دی۔ نو معلومه شوه چه د قرآن د اوریدو په وخت په آرام سره بغیر د آواز نه لوستل منافی ندی ۔ ٤– ﴿ ولقد آتیناك سبعاً من المثانی والقرآن العظیم ﴾ (الحجر : ۸۷)

امام قتادهؒ فرمائی : مونږ ته دا خبره ذکر شویده چه ددے اووه آیتونو نه مراد سورت فاتحه ده او د بار بار لوستلو مطلب دا دے چه په فرض او نفل په هر رکعت کښې لوستلے کیږی ۔ تفسیر ابن کثیر (۲۵۵/۲) دارنګه زاد المسیر کښې د قتادهؒ نه نقل دی چه مراد تربے قرائت خلف الامام لوستل دی ۔ امام شوکانیؒ فرمائی : ددے آیت مطلب دا دے چه سورت فاتحه په هر مانځه کښې لوستلے کیږی (فتح القدیر : ۳۱۳/٦) جامع البیان کښې دی : فاتحه ته د مثانی وئیلو وجه دا ده چه د هر مانځه په هر رکعت کښې لوستلے کیږی (جامع البیان : ۲۲۸) دا څلور آیتونه د موجبین د فاتحے د طرفنه پیش کیږی او بل طرفته یو آیت دے نو اوس دِے قارئین ددے خپله فیصله اوکړی۔ فاتحه خلف الامام په باره کښې اګرچه فریقین د قرآن مجید آیتونه پیش کوی لیکن قرآن پدے باره کښې نص قطعی درجه نه لری یعنی د قرآن مجید دلالت پدے مسئله کښې دومره واضح نه دے چه د مجتهدینو اختلاف باقی پاتے نشی ددے وجے نه د وضاحت دپاره احادیثو ته رجوع کولے شی بلکه د مونځ ټول تفصیل هم د حدیثونو نه معلومیږی ۔

اوس **احادیث** اوګوره ۔ ۱– **اول** دا حدیث د عباده بن الصامت دے (بخاری ۱۰٤/۱) باب وجوب القرائة للامام والماموم فی الصلوات کلها فی الحضر والسفر وما یجهر فیها وما یخافت)۔ دا حدیث عام دے منفرد، مقتدی او امام ټولو ته شامل دے۔

۲– **دلیل** : حدیث د عباده بن الصامتؓ دے چه په مخکنی دریم دلیل د احنافو کښې ذکر شو (صلی بنا رسول الله ﷺ فقرأ فثقلت علیه القراءة فلما انصرف رسول الله ﷺ من صلاته اقبل علینا بوجهه فقال : انی لاراکم تقرأون خلف امامکم اذا جهر، قال : قلنا : اجل والله یا رسول الله، هذا قال : فلا تفعلوا الا بام القرآن فانه لا صلاة لمن لم یقرأ بها " (احمد : ۳۲۲/۵) والبیهقی فی کتاب القرائة ص (٤٤) وابن حجر فی نتائج الافکار وسنده حسن وصححه البیهقی واخرج ابوداود (۱۲۷/۱) والترمذی (٦۹/۱) ورواه ابوداود عن محمد بن اسحاق عن مکحول عن نافع بن محمود وکذا البیهقی فی کتاب

القرائة ص (٥١) په حديث کښې محمد بن اسحاق مدلس دے ليکن تصريح بالسماع ئے کړيده او دده متابعين يزيد بن يزيد بن جابر او علاء بن الحارث موجود دی کما فی کتاب القراءة للبيهقي (٤٨، ٥١) او مکحول هم مدلس دے ليکن دهغه د محمود بن الربيع نه سماع ثابته ده کما قال البيهقي في معرفة السنن والآثار (١/٢٥٢) وکتاب القراءة، دارنګه د هغه هم متابعين عبد الله بن عمرو بن الحارث دے کما فی المستدرك (١/٢٣٨) او حرام بن حکيم کما فی الدارقطنی (١/٣٢٠) او دے حديث ته ابن حزم په محلی (٢/٢٦٦) کښې صحيح وئيلے دے۔

٣- دليل : عن الزهرى عن محمود بن الربيع عن عبادة بن الصامت قال: قال رسول الله ﷺ: لا صلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب خلف الامام" کتاب القرائة ص (٥٦) واسناده صحيح کما قال انور شاه الکشميرى فى فصل الختام (١٤٧) نو دے حديث کښې ورسره د خلف الامام قيد راغلو نو دا ښه واضح دليل دے۔

٤- دليل : عن انس رضى الله عنه ان النبى ﷺ صلى باصحابه فلما قضى صلاته اقبل عليهم بوجهه فقال: "اتقرأون فى صلاتكم والامام يقرأ فسكتوا فقالها ثلاث مرات فقال قائل او قائلون انا لنفعل، قال: " فلا تفعلوا وليقرأ احدكم بفاتحة الكتاب فى نفسه " اخرجه البخارى فى جزء القراءة (٥٥) والبيهقى فى کتاب القرائة (٥٨) قال الهيثمى فى المجمع (٣/١١٠) رجاله ثقات ورواه الطبرانى وابويعلى ورواه ابن حبان (١٢٦ – موارد) واخرجه فى منتخب كنز العمال على هامش مسند احمد (٣/١٨٦) حافظ زبير علی زئ صاحب ليکی: ددے سند تمام راويان د صحيح بخاری او صحيح مسلم راويان دی مثلا په صحيح بخاری (١/٣٤، ٨٥،٦٣،٣٧،٣٦) وغيره او (٢/٢٥١، ٢٦٢) وصحيح مسلم (١/١٦٤) وغيره وغيره کښې راغلی دے۔ (الكواكب الدرية فى وجوب القرائة خلف الامام فى الجهرية ص: ٢٠) نو دا صريح نص دے چه نور قرائت به د امام پسے نه کوی په جهر مونځ کښې او فاتحه به ضرور لولی ځکه رسول الله ﷺ د دواړو جدا جدا حکم بيان کړو د قرائت نه ئے منع اوکړه او فاتحه لوستلو باندے ئے حکم اوکړو۔

٥- دليل : عن ابى هريرة عن النبى ﷺ قال: من صلى صلاة لم يقرأ فيها بام القرآن فهى خداج ثلاثاً غير تمام فقيل لابى هريرة انا نكون وراء الامام؟ فقال: اقرأ بها فى نفسك فانى سمعت رسول الله ﷺ يقول: قال الله تعالى: قسمت الصلاة بينى وبين عبدى نصفين ولعبدى ما سأل، اذا قال العبد الحمد لله رب العالمين قال الله تعالى: حمدنى عبدى واذا قال الرحمن الرحيم قال الله تعالى اثنى علىّ عبدى واذا قال مالك يوم الدين قال مجدنى عبدى الى آخر الحديث اخرجه الامام مسلم (١/١٧٠) والبخارى فى جزء القرائة (٢٢، ٢٣) ومحمد فى الموطأ (٩٤) والبيهقى فى کتاب القرائة (٢٦، ٣٦) وابن خزيمة (١/٢٤٧) نو دے حديث نه معلومه شوه چه څوك فاتحه نه وائی نو هغه به د الله تعالى د جواب نه محروم وی چه الله وائی حمدنی عبدی، اثنی علی عبدیّ، مجدنی عبدی ۔ او څوك چه فاتحه لولی نو هغه د الله تعالى سره مناجات کوی ۔او د ابو هريرهؓ رايه هم دا ده چه فاتحه به ضرور وائی۔ او د خداج معنى دا ده چه مونځ ئے ناقص او ناتمام دے او ناقص هغه مونځ وی چه څه فرض

پکښې پاتې شوی وی ـ لکه د خداج معنی به روستو راشی ـ

۶- دلیل : عن عبادۃ بن الصامت ان رسول اللّٰہ ﷺ قال : من قرأ خلف الامام فلیقرأ بفاتحة الکتاب " (مسند الشامیین قلمی ص ٤٤٤،٥٤) قال الهیثمی فی المجمع (۲/۱۱۱) رواہ الطبرنی فی الکبیر ورجاله موثقون، وقال السیوطی والعلقمی : حدیث حسن (الجامع الصغیر ص : ۱۷٤) تحقیق الکلام (۱/۹۹) للمبارکفوریؒ والکواکب الدریة لزبیر علی زئ ص (۳۸)۔

نو رسول اللّٰہ ﷺ په فاتحه خلف الامام باندې حکم اوکړو۔

۷- دلیل : عن ابی هریرۃ قال قال رسول اللّٰہ ﷺ : " لا تجزئ صلاۃ لا یقرأ فیها بفاتحة الکتاب، قلت : فان کنت خلف الامام ؟ قال : فاخذ بیدی فقال : اقرأ بها فی نفسك یا فارسی ! " ابن خزیمة (۱/۲٤۸) رقم (٤۹۰) وابن حبان کما فی الموارد (۱۲٦ رقم (٤٥۷) قال الاعظمی اسنادہ صحیح وصححه النووی فی شرح مسلم (۱/۱۷۰) وهو فی ابن حبان (۳/۱۳۹) والصحیح انه موقوف راجع فتاوی الدین الخالص (٤/۱۳۳) ـ **۸- دلیل :** عن ابی قتادۃ ان النبی ﷺ قال : „ اتقرأون خلفی ؟ قلنا نعم، قال : فلا تفعلوا الا بفاتحة الکتاب" البیهقی فی کتاب القرائة (٦۲) وذکرہ فی الکنز برقم (۲۰٥۲۳)۔

۹- دلیل : عن ابن عباس یقول :„اقرأ خلف الامام بفاتحة الکتاب " البیهقی فی کتاب القرائة (۷۷) وصححه کما فی الکنز رقم (۲۲۹۲٦) والسنن الکبریٰ (۲/۱٦۹) باسناد صحیح۔

۱۰- دلیل : وعن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جدہ قال : قال رسول اللّٰہ ﷺ : „ تقرأون خلفی ؟ قالوا نعم، إنا لنهذّ هذاً قال : فلا تفعلوا الا بأم القرآن" کتاب القرائة للبیهقی (٥٤) والبخاری فی جزئه (۱۸) وفیه النضر وثقه العجلی۔

۱۱- دلیل : عن یزید بن شریك انه سأل عمر بن الخطاب عن القرائة خلف الامام فقال : „ اقرأ بفاتحة الکتاب، قلت : وان کنت انت ؟ قال :وان کنت انا قلت : وان جهرت ؟ قال وان جهرت " (المستدرك علی الصحیحین ج۱/۲۳۹) وعنه البیهقی فی کتاب القرائة (۷۱) وفی السنن (۲/۱٦۷) والدارقطنی (۱/۳۱۷) قال الدارقطنی : رواته کلهم ثقات ـ واخرجه البخاری فی جزئه (۱۸) ثم رواہ الدارقطنی باسناد آخر وقال : صحیح، واخرجه ابن ابی شیبة (۱/۳۷۳) وابن حزم فی المحلی (۲/۲٦٦) ـ

نو د عمر بن الخطاب ﷺ هم دا عقیده ده چه فاتحه په هیڅ مانځه کښې د مقتدی دپاره پریخودل نشته ـ **۱۲- دلیل :** عن ابی سعید الخدری ﷺ انه سأل عن القرائة خلف الامام فقال : بفاتحة الکتاب)) (البیهقی فی السنن الکبریٰ (۲/۱۷۰) وکتاب القرائة (۸۰) وجزء القرائة (۱٤) والکامل لابن عدی (٤/۱٤۳۷) ورواته کلهم رواۃ مسلم الا العوام بن حمزۃ المازنی وثقه الجمهور وهو حسن الحدیث بشهادۃ ابن عدی فی الکامل له (۳/٦۹) وقال النیموی فی آثار السنن (٤۸) اسنادہ حسن۔

۱۳- دلیل : جابر رضی اللّٰہ عنه فرمائی : کنا نقرأ فی الظهر والعصر خلف الامام فی الرکعتین الاولیین بفاتحة الکتاب وسورۃ وفی الاخریین بفاتحة الکتاب)) (سنن ابن ماجه : ۱/۱۰٥) والبیهقی فی کتاب

القرائة : ٨١) وقد نقل العلامة السندى فى حاشية ابن ماجه (٢٧٨) عن العلامة البوصيرى : هذا اسناد صحيح رجاله ثقات، (بحواله توضيح الاحكام : ١/١ ٥٠) ورجاله كلهم رجال الصحيحين والسنن الاربعة انظر الكواكب الدرية ص (٧٠).

١٤- دليل : حسان بن عطيه فرمائى : ابو الدرداء ﷺ فرمائى : «لا تترك قرائة فاتحة الكتاب خلف الامام جهر او لم يجهر» كتاب القرائة (٨٢)۔

١٥- دليل : عمران بن حصينؓ فرمائى : «لا تزكوا صلاة مسلم الا بطهور وركوع وسجود وفاتحة الكتاب وراء الامام وغير الامام» كتاب القرائة (٨٢) والبخارى فى جزء القرائة (١٦)

١٦- دليل : د عبد الله بن مسعود رضى الله عنه عمل : ابو مريم الاسدى فرمائى :

صليت الى جنب عبد الله بن مسعود خلف الامام فسمعته يقرأ فى الظهر والعصر (كتاب القرائة والسنن الكبرى (٢/١٦٩) كتاب الثقات لابن حبان (٥/٥٨) وفى سنده شريك بن عبد الله القاضى مختلف فيه ولكن وثقه الجمهور وقال الذهبى : وحديثه من اقسام الحسن (تذكرة الحفاظ : ١/٢٣٢) وقال الهيثمى : وهو حسن الحديث لا سيما فى الشواهد ـ (مجمع الزوائد (٩/١٢٣) توضيح الاحكام (١/٤٨٤) واحسن الكلام (١/٣٥٧)

احناف علماء او قرائت خلف الامام :

١- د عبد الحى اللكنوى تحقيق : علامه عبد الحى ابو الحسنات رحمه الله په التعليق الممجد ص (١٠١) كښې داسې تحقيق كوى : لم يرد فى حديث مرفوع صحيح النهى عن قرائة الفاتحة خلف الامام، وكل ما ذكروه فيه اما لا اصل له واما لا يصح ، وقال ايضا : فظهر انه لا يوجد معارض لاحاديث تجويز القرائة خلف الامام مرفوعاً، فان قلت : هو حديث واذا قرأ فانصتوا، قلت : هو لا يدل الا على عدم جواز القرائة مع قرائة الامام فى الجهرية لا على امتناع القرائة فى السرية او فى الجهرية عند سكتات الامام فان قلت هو حديث : من كان له امام : قلت هو لا يدل على المنع بل على الكفاية، فان قلت : هو آثار الصحابة، قلت : بعضها لا تدل الا على الكفاية وبعضها لا تدل الا على المنع مطلقا وهو ايضاً ليس بصالح لأن المعارضة شرطها تساوى الحجتين فى القوة واثر الصحابى ليس بمساوٍ فى القوة لاثر النبى ﷺ وان كان سند كل منهما صحيحاً وبالجملة لايظهر لاحاديث تجويز القرائة خلف الامام معارض يساويها فى الدرجة ويدل على المنع حتى يقدم المنع على الاباحة ـ **يعنى : هيڅ مرفوع صحيح حديث داسې نشته چه په هغې كښې د فاتحه خلف الامام د لوستلو نه منع راغلى وى او دا ټول كوم حديثونه چه احنافو پيش كړل نو دا يا بې اصله دى يا صحيح نه دى۔**

دارنګه وائي : نو ددې تحقيق نه ښكاره شوه چه د مرفوع احاديثو د قرائت خلف الامام هيڅ معارض حديث نددې موجود نو كه ته سوال اوكړې چه واذا قرأ فانصتوا نه دې څه ؟ نو زه وايم چه دا خو صرف دلالت كوى په عدم جواز د قرائت د امام د قرائت سره يو ځائې په جهرى مونځ

کښې او دلالت نه کوی په عدم جواز د قرائت په سری مونځ کښې او نه په جهری کښې کله چه د امام د سکتو په مینځ کښې قرائت کوی، بیا که ته اووائے چه حدیث من کان له امام دے؟ نو زه وایم چه دا په منع دلالت نه کوی بلکه په کفایت باندے دلالت کوی بیا که ته اووائے چه آثار الصحابه نه دی څه ؟ زه وایم چه بعض په هغې کښې صرف په کفایت باندے دلالت کوی او بعض په مطلقا منع دلالت کوی لیکن هغه صالح ندی د معارضے د صحیح مرفوع احادیثو سره ځکه معارضے دپاره شرط د دواړو دلیلونو په قوت کښې برابروالے ضروری دے او اثر د صحابی په قوت کښې د اثر د نبی ﷺ سره ندے برابر اگرکه د دواړو سندونه به صحیح وی خلاصه د خبرے دا شوه چه د قرائت خلف الامام د جائز والی احادیثو دپاره هیڅ معارض ندے موجود چه هغه ورسره په درجه کښې برابر شی او دلالت اوکړی په منع او بیا مونږ منع مقدم کړو په اباحت باندے۔

۲- **امام محمد** : فاتحه خلف الامام بارهِ کښې امام محمدؒ په سری مونځونو کښې فاتحه لوستلو ته مستحسن وائی بلکه د امام ابوحنیفهؒ هم دغه قول دے او دا رائے د امام محمد د شاگرد رشید ابوحفص کبیر او د هغه نه بعد د شیخ التسلیم نظام الدین الهروی متوفی (۷۳۷ھ) ده (امام الکلام : ٤٦) ۳- **شیخ التسلیم** وائی : لو کان فی فمی جمرة یوم القیامة احب الی من ان یقال لا صلاة لك ۔ (امام الکلام : ٤٨) توضیح الکلام فی وجوب القرائه خلف الامام کے حوالجات : (٦٢) ارشاد الحق اثری۔ ٤- **ملاجیون** په تفسیر احمدی (٤٢٧) مطبوعه کریمی بمبئ) کښې لیکی : فان رأیت الطائفة الصوفیة و المشائخ الحنفیة تراهم یستحسنون قراء ة الفاتحة للمؤتم کما استحسنه محمد ایضا احتیاطاً فیما روی عنه ۔ (امام الکلام : ٤٧)

٥- **عینی** رقم طراز دے : علی ان بعض اصحابنا استحسنوا ذلك علی سبیل الاحتیاط فی جمیع الصلوات ومنهم من استحسنها فی غیر الجهریة ومنهم من رأی ذلك اذا کان الامام لحانا۔ (عمدة القاری : ٦/١٤) وقال عبد الحی فی غیث الغمام (٢١٦) وعلیه فقهاء الحجاز والشام ۔

٦- **علامه علی القاریؒ** لیکی : والامام محمد من ائمتنا یوافق الشافعی فی القرائة فی السریة و هو اظهر فی الجمع بین الروایات الحدیثیة و هو مذهب الامام مالك ایضا ۔ (مرقات ٢/٣٠١)

دا قول د حدیث د مختلف روایاتو په مابین کښې د توفیق یو واضح صورت دے ۔

او علامه **ابن همام** ددے قول (چه قوی قول ترك د فاتحه دے) تردید کښې وائی : ان الاحتیاط هو الخروج عن الخلاف فارتکاب المکروه اولی من الفساد ثم الفساد فی جانب الترك اقوی من الفساد من جانب القرائة فاقواهما الجمع لا المنع کیف وهو مذهب اکثر المجتهدین (فتح المغطا شرح الموطا قلمی : ورق : ٤٠) احتیاط پدے کښې دے چه د اختلاف نه بچ شی نو د مکروه کار ارتکاب کول د فساد نه اولیٰ دی بیا فاتحه نهٔ ویلو کښې فساد زیات دے په نسبت د فاتحه ویلو ۔ نو پدے کښې زیات قوی جمع ده (یعنی په سری مونځ کښې وئیل) نه منع کول ځکه چه دا د اکثرو مجتهدینو

مذهب دے۔

۷– **سلطان المشائخ** نظام الدين اولياء (محمد بن احمد بدايوني دهلوي م (۷۲۵) به د امام پسے فاتحه وئيله چا پرے اعتراض اوکړو نو هغه جواب اوکړو چه د نبي عليه السلام ارشاد دے چه فاتحه څوك نه وائي د هغه مونځ نه کيږي نو زه ددے وعيد (چه د فاتحه لوستونکي په خوله کښې به سکروټه وي) متحمل کيدے شم ليکن دا نشم برداشت کولے چه زما مونځ د الله په نزد باطل اوګرځي ۔ (نزهة الخواطر : ۲/ ۱۲۳ للسيد عبد الحيّ) وتوضيح الكلام (۶۲)

۸– **نواب صديق حسن** خان قنوجي د شمس الدين مرزا مظهر جانان متعلق ليکي : ويقوّى قرائة الفاتحة خلف الامام (ابجد العلوم : ۹۰۰) ومسك الختام (۱/ ۲۱۹) **هغه به قرائت خلف الامام** قوي ګڼړلو ۔ ۹– **دا قول د شاه عبد الرحيم** والد د شاه ولي الله دهلوي دے : *دراقتداء سوره فاتحه ميخواندند ودر جنازه نيز* ۔ (انفاس العارفين ص : ۶۹) يعني هغه به د امام په اقتداء کښې او په جنازه کښې سوره فاتحه لوستله۔ ۱۰– **شيخ محمد عابد سندهي** هم په المواهب اللطيفة شرح مسند ابي حنيفة (۱/ ۸۰ قلمي) کښې په سري مانځه کښې فاتحه خلف الامام لوستلو ته اعدل الاقوال وئيلے دے ۔ او ليکلي ئے دي چه د اکثر متاخرينو ميلان پدے سلسله کښې امام محمد قول طرفته دے ۔ ۱۱– او دا مسلك د شيخ محمد ارشد جونپوري (نزهة الخواطر ص ۲۷۲ ج۲) شيخ احمد الاميتهوي (ايضا ص ۳۱، ۳۲ ج٤) او شيخ عبد الباقي نقشبندي (ايضا ۱۹۹ ج۵) او دا د مرزا حسن علي حنفي دے چه پدے باندے ئے يوه مستقل رساله ليکلے ده او په هغے کښې ئے اثبات د قرائت د فاتحه خلف الامام د کتب حنفيه نه کړيدے ۔ انظر مسك الختام (۱/ ۲۱۹) لصديق حسن خان۔ ۱۲– **شاه ولي الله رحمه الله** ليکي : وان كان ماموما وجب عليه الانصات والاستماع فان جهر الامام لم يقرأ الا عند الاسكاتة وان خافت فله الخيرة فان قرأ فليقرأ قرائة لا يشوش على الامام وهذا اولى الاقوال عندي الخ حجة الله البالغة (۲/ ۶)

۱۳– **شاه عبد العزيز** : فرمائي : *خواندن سوره فاتحه باقتداء امام مقتدي رانزد امام ابوحنيفه ممنوع است ونزد محمد هرگاه که امام خفي بخواند جائز بلکه اولیٰ ونزد شافعي بدون خواندن فاتحه عدم جواز الصلوٰة ونزد فقير هم قول شافعي راجح است واولیٰ۔*

۱٤– **چيلنج** : عبد الحي لکهنويؒ ليکي : لم يرد في حديث مرفوع صحيح النهي عن قرائة الفاتحة خلف الامام وكل ما ذكروه مرفوعاً فيه امام لا اصل له واما لا يصح (التعليق الممجد : ۹۹)

د فاتحه خلف الامام په باره کښې هيڅوك دا نشي پيش کولے چه ددے نه نبي عليه السلام منع کړيده او پدے باره کښې هيڅ مرفوع صحيح حديث ندے موجود۔

۱۵– **ظفر احمد عثمانيؒ** ليکي : *مولانا عبد الحي، ملاجيون کي عبارتوں ميں امام محمدؒ کے قول کا حواله صراحةً موجود ہے۔ اور امام محمدؒ کے قول ميں سري نمازوں کي قيد صراحةً مذکور ہے اور اس ميں کسي کو نزاع نہيں بلکه ہم تو جہري نمازوں ميں بھي امام کي قراءت سے پہلے يا پيچھے مقتدي کو قراءت کي اجازت ديتے ہيں (فاران : ص ۲۹، دسمبر : ۱۹۶۰ء)*

دارنګه لیکي : ''شاہ ولی اللہ نے حجۃ اللہ البالغۃ'' میں اور فقیہ الامت رشید ملت، قطب الارشاد مولانا رشید احمد گنگوہی رحمۃ اللہ علیہ نے اپنی کتاب ''سبیل الرشاد'' میں اس کی تصریح کی ہے کہ جہری کے سکتات میں قرائت خلف الامام جائز ہے۔ (فاران کراچی: ص ۲۸، دسمبر: ۱۹۶۰ء) انظر توضیح الکلام (۱/ ۶۵)

د **شیخ البانیؒ تحقیق** پدے مقام کښې **ضعیف** دے چه وائي من کان له امام والا حدیث ناسخ دے د حدیث د عباده دپاره نو په جهري مونځ کښې به فاتحه نه وائي او سري مونځ کښې به فاتحه وائي ـ وجه د ضعف دا ده چه حدیث د عبادهؓ قوي دے او حدیث د مَن کان له امام متکلم فیه دے دارنګه حدیث د عبادهؓ نص صریح دے او حدیث د من کان له امام غیر صریح دے په ترك د فاتحه کښې ځکه پدے کښې د قرائت خبره ده او په حدیث د عباده کښې د فاتحے خبره ده ـ

قال فی التمهید (۱۱/ ۵۱) لا اعلم فی هذا الباب صاحباً صح عنه بلا خلاف انه قال مثل ما قال الکوفیون الا جابر بن عبد الله وحده ـ ابن عبد البر په التمهید کښې وائي چه : ما ته پدے باب کښې هیڅ یو صحابي نه دے معلوم چه د هغه نه د کوفیانو په شان قول نقل وی سوا د جابر بن عبد الله نه ـ د فاتحه په وئیلو انسان د اختلاف نه اوځي او بالاتفاق مونځ ئے صحیح کیږي او اعاده پرے نشته او که څوك ئے نه وائي نو د اکثرو اماما نو په نیز باندے ئے مونځ فاسدیږي ـ لکه علامه تقی الدین سبکیؒ فرمائي : ان قرائة المأموم الفاتحة خلف الامام فانه اذا فعل ذلك صحت صلاته بلا خلاف فان ابن عبد البر نقل اجماع العلماء علی ان من قرأ خلف الامام الفاتحة فصلاته تامة لا اعادة علیه ـ (فتاوی السبکی : ۱۳۸) توضیح الکلام للاثری (۸۰) لهذا د اختلاف نه د وتلو دپاره **احتیاط** پدے کښې دے چه فاتحه دِے هر مونځ کونکے اووائي ـ والله اعلم وعلمه اتم۔

فائدة عجیبة ناصحة : د فاتحه خلف الامام پریخودونکي درے قسمه خلق دی (۱) یو هغه دی چه یو انسان امي دے په هیڅ نه پوهیږي او یو مفتي ورته فتوی ورکړي چه په مانځه کښې د امام پسے فاتحه مه وایه او د بل عالِم سره چرته نه وی ملاؤ شوے چه هغه ورته مسئله واضحه کړي، نو دا انسان معذور دے او دده مونځ بالکل صحیح دے ځکه دا د صحیح حکم نه ناخبره دے او ګناهګار به مفتي وی چه هغه خطاء فتوی ورکړه ـ

(۲) دویم هغه انسان دے چه هغه د مسئلے تحقیق اوکړو دلائل ئے جانبینو ته اوکتل او اجتهاد ئے دیته اورسیدو چه فاتحه خلف الامام لوستل ندی پکار په سري او جهري دواړو مونځونو کښې یا صرف په جهري مونځ کښې او د آثار او اقوال د اهل علم نه متأثر شو نو دا انسان به ماجور وی اګرکه په مسئله کښې خطاء شوے وی ځکه ده خپله فریضه اداء کړیده چه هغه تحقیق د مسئلے دے او حق ته رسیدل خو د الله په لاس کښې دی لهذا دده مونځ به هم صحیح وی او ماجور به هم وی۔(۳) دریم هغه انسان دے چه هغه ته حق ښکاره شو چه فاتحه لوستل ضروري دی او دا حدیثونه پکښې راغلي دی خو دا سره ددینه وائي زه د امام ابوحنیفه مقلد یم ما دپاره د هغه

وینا کافی ده زه دا حدیثونه نشم منلے یا زه په حدیثونو نه پوهیږم چه امام صاحب راته څه وئیلی وی بس زه به هغه منم نو ددے انسان مونځ فاسد څه چه د هغه په ایمان کښې شك دے ځکه ده د الله نه ما سویٰ بل چا لره حاکم او قانون ساز جوړ کړو او فیصله ئے د الله د رسول نه غیر ته یوړه (فلا وربك لا یؤمنون حتی یحکموك فیما شجر بینهم)

او دا درے قسمه انسانان تقریبا په عام مسائل اختلافیه کښې وی لهذا مسلمانانو له پکار دی چه زړ په هر چا باندے د مونځ د باطل والي یا د کفر فتوی ورنکړی۔

وَفِیْ رِوَایَةٍ لِمُسْلِمٍ : لِمَنْ لَمْ یَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَصَاعِداً : د فاتحے بل نوم ام القرآن دے : دا ورته ځکه وائی چه ام په معنی د اصل او منشأ او مرجع سره دے او دا فاتحه هم د ټول قرآن دپاره په اعتبار د مضامینو سره مرجع ده، ټول قرآن رجوع دے ته کیږی ځکه د قرآن موضوع، العبادۃ والدعاء ده یا العبادۃ والاستعانة زمونږ مشائخ وائی : د ټول قرآن خلاصه په حوامیم کښې راجمع ده، او د حوامیم خلاصه الدعاء والعبادۃ لله ده او دا په سورت فاتحه کښې راجمع ده، ددے وجے نه امام ابن کثیرؒ فرمائی: هاتان الکلمتان ترجع الادیان کلها الیهما ایاك نعبد وایاك نستعین ، دا د ټولو دینونو خلاصه ده ۔ یا ام ورته پدے وجه وائی چه ابتداء د قرآن ددے نه کیږی لکه څنګه چه ابتداء د ولادت هم د مور نه کیږی۔

فَصَاعِدًا : دا د صعود نه دے په معنی د ختلو سره د لاندے نه بره طرفته او دا د اسم فعل صیغه ده، او دلته د صاعد معنی ده زائد او دا منصوب دے په فعل محذوف وجوبا سره ۔ ای فصعد القراءۃ صاعداً ای ذهبت القرائة زائدۃ او دا لفظ په هیڅ حالت کښې نه متغیر کیږی برابره ده حال د مذکر نه وی او که د مؤنث نه۔ تقدیر د عبارت داسے دے : لا صلاۃ لمن لم یقرأ بام القرآن فقط او بأم القرآن فی حال کون قرائته زائدۃ علی ام القرآن ۔ مطلب دا چه ادنیٰ هغه چه په هغے باندے مونځ جائز کیږی او ادنیٰ شے چه په هغے باندے جواز مرتب کیږی هغه فاتحه ده، او که ددے نه ئے زیادت اوکړو نو ښه ده، دا معنی د حال شوه یا دا مفعول مطلق دے د فعل محذوف دپاره ای اصعد صاعدا ای الی ما عدا ام القرآن ۔ یعنی اقرأ قرائة زائدۃ علی الفاتحة ۔یعنی اوخیژه په ختلو سره ماسوی د فاتحے نه یعنی د فاتحے نه زیات قرائت اوکړه، نو پدے وخت کښې به فاتحه لوستل واجب وی او ما زاد علی الفاتحه لوستل واجب نه دی د وجے د نورو احادیثو نه چه دلالت کوی په عدم وجوب د زائد علی الفاتحه او فاء پدے صورت کښې زائده ده، او لازمه به وی د کلمے سره ځکه دا په کلام د عربو کښې بغیر د فاء او ثم نه ندے مستعمل، او په اول صورت کښې به فاء عاطفه وی او دا به د قبیلے د عطف د غیر واجب وی په واجب باندے،او مقصود د حدیث به دا وی چه صحت د مونځ منحصر دے په فاتحه کښې برابره ده که سورت ورسره وی او که نه ؟۔

د فاتحے سره د سورت د ضم کولو حکم ؟

احناف ددے حدیث نه استدلال کوی چه مازاد علی الفاتحه یعنی ضم د سورت د فاتحے سره واجب دے او جمهور علماء وائی دا حکم په باره د منفرد او امام کښې دے او د مقتدی دپاره نه دے، نو په مقتدی باندے د فاتحے نه علاوه لوستل واجب ندی یا په سرّی مونځ باندے حمل دے چه په هغے کښې مقتدی هم زائد لوستے شی۔

حافظ په فتح الباری (٤٨٨/٢) کښې وائی: استدل به علي وجوب قدر زائد وتعقب بانه ورد لدفع توهم قصر الحكم على الفاتحة، قال البخاری فی جزء القرائة هو نظير قوله: تقطع اليد فی ربع دينار فصاعداً انتهى

یعنی پدے لفظ باندے استدلال شویدے چه د فاتحے نه زائد قرائت کول واجب دی، لیکن دا لفظ ددے توهم زائل کولو دپاره وئیلے شویدے چه څوك دا وهم اونکړی چه حکم د لوستلو به صرف د فاتحے پورے بند وی او نور قرائت به صحیح نه وی او امام بخاری وائی: ددے مثال داسے دے چه حدیث کښې دی: تقطع اليد فی ربع دينار فصاعداً یعنی لاس به په څلورمه حصه د دینار کښې قطع کولے شی یا زیات ددے نه، مطلب دا چه فصاعداً لفظ د ادنیٰ مرتبے د حکم د بیانولو دپاره دے سره د شمول نه په بله فائده چه هغه دفع د توهم د حصر د حکم ده په فاتحه کښې، لکه څنګه چه ربع دینار ادنیٰ درجه د قطع د ید ده نو دغه شان فاتحه ادنیٰ درجه د جواز د مانځه ده او حکم د صحت د مانځه په فاتحه باندے یواځے ندے موقوف بلکه که زیادت ورسره وی نو هم مونځ صحیح دے آهـ۔

شیخ عبد الحق الدهلویؒ په اشعة اللمعات کښې د فصاعداً په تفسیر کښې وائی: *پس بخواند فوق فاتحه وزیاده بر آن یعنی فاتحه البته می باید خواند، ومقتصر بر فاتحه هم نیست واگر چیزے زیاده کند نیز درست است انتهی۔*

صاحب د العرف الشذی (١٤٥) وائی: زعم الاحناف مراد الحديث وجوب الفاتحة ووجوب ضم السورة ولكنه يخالف اللغة، فان ارباب اللغة متفقون على ان ما بعد الفاء يكون غير ضروری. وصرح به سيبويه فی باب الاضافة انتهیٰ ۔ یعنی احناف دا ګمان لری چه د حدیث مطلب دا دے چه فاتحه او ضم السورة واجب دی لیکن دا خبره د دوی د لغت خلاف ده ځکه اهل لغتو پدے خبره اتفاق کړیدے چه د فاء نه مابعد حکم غیر ضروری وی او پدے خبره باندے سیبویه په باب الاضافة کښې تصریح کړیده آهـ۔ ا ودغه شان خبره د مظهر د کلام نه هم معلومیږی۔

او کوم احادیثو کښې چه د مازاد او ما تیسر الفاظ راغلی دی، هغه ټول ضعیف دی او قابل د احتجاج ندی، نو وجوب د ضم السورة ترے نه معلومیږی لکه هغه په مرعاة المفاتيح (٧١/٣)۔ کښې اوګوره۔

د جمهورو دلیل: چه مازاد علی الفاتحة واجب نه دے اثر د ابو هریرهؓ دے: قال: فی كل صلاة قرائة فما اسمعنا النبی ﷺ اسمعناكم وما اخفى منا اخفينا منكم فمن قرأ بام القرآن فقد اجزأت عنه ومن زاد فهو افضل (مسلم: ١/١٧٠) وفی البخاری (١/١٠٦): وان زدت فهو خير واخرجه البيهقی

(۶۱/۲) وکذا فی تفسیر القرطبی (۱۲۵/۱) یعنی فاتحه نه ماسوئ لوستل افضل او خیر دے (یعنی فرض او لازم نه دی) لیکن حقه دا ده چه سورت لوستل هم ضروری دی اګرکه فرض به نه وی ځکه دا مخکنے اثر د ابو هریرهؓ دے او د مرفوع او موقوف احادیثو خلاف دے ځکه رسول الله ﷺ د فاتحے لوستلو سره په سورت لوستلو باندے دوام کړیدے لکه کتابونو د حدیث پدے ګواه دی ـ **د عمر اثر :** عن وکیع عن الاعمش عن خیثمة قال : حدثنی من سمع عمر بن الخطاب یقول : لا تجزئ صلاة من لم یقرأ فیها بفاتحة الکتاب وشئ معها- المدونة الکبریٰ (۶۸/۱) ـ

اما قرطبیؒ وائی : وقد ابی کثیر من اهل العلم ترك السورة لضرورة او لغیر ضرورة منهم عمران بن حصین وابوسعید الخدری وخوات بن جبیر ومجاهد وابووائل وابن عمر وابن عباس وغیرهم قالوا : لا صلاة لمن لم یقرأ فیها بفاتحة الکتاب وشئ معها من القرآن فمنهم من حدّه آیتین ومنهم من حدّ آیة ومنهم من لم یحدّ وقال : شئ من القرآن معها، وکل هذا موجب لتعلم ما تیسر من القرآن علی کل حال مع الفاتحة لحدیث عبادة وابی سعید الخدری وغیرهما انتهیٰ یعنی ډیرو اهل علمو د فاتحے سره د سورت پریخودلو نه انکار کړیدے که د ضرورت په وجه وی او که د غیر ضرورت په وجه چه هغوی کښ عمران بن حصین، ابوسعید الخدری، خوات بن جبیر مجاهد، ابووائل، او ابن عمر او ابن عباس وغیرهم (رضی الله عنهم) دی، دوی وائی : د هغه چا مونځ نه کیږی چه د فاتحے سره څه شے د قرآن نه اونه وائی بیا بعضو پکښ دوه آیتونه مقرر کړیدی او بعض یو آیت او بعضو هیڅ تحدید نه دے کړے او دا ئے وئیلی دی چه څه شے د قرآن نه لوستل ضروری دی او دا ټول ددے خبرے ثبوت دے چه د قرآن نه آسانه حصه (په اولنو رکعتونو کښ) د فاتحے سره لوستل ضروری دی په هر حال کښ د وجے د حدیث د عباده او ابو سعید خدری وغیرهما نه ـ انتهیٰ ـ او کومو علماؤ چه دا وئیلی دی چه قرائت د سورت مسنون دے لکه امام نوویؒ وائی : فیه ای فی حدیث ابی هریرة استحباب السورة بعدها وهذا مجمع علیه فی الصبح والجمعة والاولیین من کل الصلوات وهو سنة عند جمیع العلماء وحکی القاضی عیاض عن بعض اصحاب مالك وجوب السورة وهو شاذ مردود ـ نو ددے علماؤ د سنت نه مراد دا دے چه سورت لوستل د فاتحه په شان فرض ندی او دا مطلب نه دے چه دا ضروری ندی لهذا ضم السورة ضروری دے او ددے په ترك سره به سجده سهوه کوی ځکه حدیث دے : فمن زاد او نقص فلیسجد سجدتین (مسلم : ۲۱۳/۱) وانظر الارشاد للسعدی (۱۲) فتاوی اللجنه الدائمه (۳۸۷/۶) کښ دی : من اقتصر علی الفاتحة زاعماً ان هذا هو السنة فقد غلط وخالف السنة وقد جاء فی بعض طرق مسیئ الصلاة عند ابی داود (۵۳۷/۱ رقم : ۸۵۹) اقرأ بام القرآن وبما شاء الله ـ

۲- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ صَلّٰی صَلَاةً لَمْ یَقْرَأْ فِیْهَا بِاُمِّ الْقُرْآنِ فَهِیَ خِدَاجٌ – ثَلَاثًا– غَیْرُ تَمَامٍ . فَقِیْلَ لِاَبِیْ هُرَیْرَةَ : اِنَّا نَکُوْنُ وَرَاءَ الْاِمَامِ . قَالَ :

اِقْرَأْ بِهَا فِيْ نَفْسِكَ، فَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : قَالَ اللهُ تَعَالٰى : قُسِمَتِ الصَّلَاةُ بَيْنِيْ وَبَيْنَ عَبْدِيْ نِصْفَيْنِ، وَلِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ، فَاِذَا قَالَ الْعَبْدُ ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ﴾ قَالَ اللهُ تَعَالٰى : حَمِدَنِيْ عَبْدِيْ، وَاِذَا قَالَ : ﴿ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ قَالَ اللهُ : اَثْنٰى عَلَيَّ عَبْدِيْ . وَاِذَا قَالَ ﴿ مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ﴾ قَالَ : مَجَّدَنِيْ عَبْدِيْ . وَاِذَا قَالَ : ﴿ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴾ قَالَ : هٰذَا بَيْنِيْ وَبَيْنَ عَبْدِيْ، وَلِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ، فَاِذَا قَالَ : ﴿ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ، صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ، غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴾ قَالَ : هٰذَا لِعَبْدِيْ وَلِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ» . رواه مسلم .

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : چا چه يو مونځ اوكړو او په هغے كښې ئے سورت فاتحه او نه لوستله نو د هغه مونځ ناقص دے (نبي ﷺ دا خبره) درے ځله (اوكړه چه ناقص دے) يعني نا تمام دے ـ نو ابو هريره ته اووئيلے شو چه كله مونږ د امام نه روستو يو (نو په هغه وخت كښې به ئے هم وايو؟) هغه اوفرمايل : (آؤ، مګر) د ځان سره ئے په آرام وايه (چه صرف ته ئے اورے) ځكه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه هغه فرمايل : الله تعالى فرمائي : ما مونځ (يعني فاتحه) د خپل ځان او خپلو بندګانو ترمينځ تقسيم كړيدے (يا مونځ (فاتحه) زما او د بنده ترمينځ تقسيم شويده) (داسے چه حمد او ثنا زما دپاره ده او دعاء د بنده دپاره ده) او بنده چه څه غواړي هغه به ورته وركولے شي نو كله چه بنده دا وائي چه الحمد لله رب العالمين (ټول حمدونه او صفتونه خاص الله دپاره دي چه د مخلوقاتو رب دے) نو الله تعالى فرمائي : زما بنده زما صفت بيان كړو، كله چه بنده وائي : الرحمن الرحيم (يعني الله تعالى ډير رحمت كونكے او مهربان دے) نو الله تعالى فرمائي : زما بنده زما صفت بيان كړو، كله چه بنده وائي : مالك يوم الدين (الله تعالى د قيامت د ورځے اختيار مند دے) نو الله تعالى فرمائي : زما بنده زما تعظيم بيان كړو ـ كله چه بنده وائي : اياك نعبد واياك نستعين (يعني اے الله مونږ خاص ستا عبادت كوو او خاص تا نه مدد غواړو) نو الله تعالى فرمائي : دا زما او زما د بنده ترمينځ (مشترك شے دے چه عبادت الله تعالى لره دے او مدد غوښتل د بنده دپاره دي) او زما بنده چه څه غواړي هغه به ورته وركولے شي، كله چه بنده اووائي : اهدنا الصراط الخ (مونږ په نيغه لار روان كړے د هغه خلكو لاره چه په هغوى باندے تا احسان كړيدے چه هغوى باندے نه غضب كړے شويدے او نه ګمراهان دي) نو الله تعالى فرمائي : دا زما د بنده دپاره دي، او بنده چه ما نه څه غواړي هغه به ورته وركولے شي ـ (مسلمؒ) ـ

تشريح : د حديث مقصد دا دے چه د سورتِ فاتحے اووه آيتونه دي درے آيتونه يعني الحمد

نه تر مالك يوم الدين پورې دا خو خالص د الله تعالى په مدح او ثناء کښې دي او يو آيت (اياك نعبد واياك نستعين) د الله او د بنده ترمينځ مشترك دې چه نيم آيت يعنى اياك نعبد د الله د عبادت او بندگئ اقرار دې او نيم آيت يعنى اياك نستعين کښې د بنده د طرف نه حاجت طلب کول او د مدد درخواست دې او روستنى درې آيتونه صرف د بنده په دعاء باندې مشتمل دي۔

فَهِيَ خِدَاجٌ : خداج ناقص ته وائي په نقصان د فساد او بطلان سره ۔ خداج مصدر صيغه ده د خدجت الناقة نه دې چه کله اوښه بچې ګوزار کړي نو استعاره کړې شو د نقصان دپاره ـ زمخشرى په اساس اللغة کښې وائي : من المجاز خدج الرجل فهو خادج اذا نقص عضو منه واخدجه الله فهو مخدج، و كان ذو الثدية مخدج اليد واخدج صلاته نقص بعض اركانه، علامه خطابیؒ وائي : فهي خداج معناه : ناقصة نقص فساد وبطلان (معالم السنن : ١/٢٠٣)۔

نو ددې عبارتونو نه ښکاره شوه چه د خداج معنى ده نقصان د ذات يعنى نقصان د فساد او بطلان دې او د کمال نقصان ندې مراد ځکه دليل پدې باندې حديث د ابو هريرهؓ مرفوعا دې : لايجزئ صلاة لا يقرأ فيها بفاتحة الكتاب قلت فان كنت خلف الامام ؟ قال : فاخذ بيدى وقال : اقرأ فى نفسك يا فارسى (بيهقى كتاب القرائة) بيهقیؒ وائي : ابن خزيمه دا حديث په دليل کښې پيش کړيدې ددې خبرې دپاره چه د خداج نه مراد هغه نقصان دې چه د هغې سره مونځ نه جائز کيږي انتهىٰ۔ او دغه شان خبره ابن عبد البر په الاستذكار کښې کړيده ۔ المرعاة (٣/١٢) وتحفة الاحوذى (١/٢٠٦)۔ غَيْرُ تَمَامٍ : دا بيان د خداج دې يا بدل دې بعض وائي تاكيد دې، نو دا دليل دې چه فاتحه جزء دې د اجزاء او اركانو د مانځه نه ځکه تمام په لغت عربى کښې په اعتبار د وضع سره استعماليږي په بعض هغه څه کښې چه حقيقت بغير د هغه نه نه پوره کيږي۔

فَقِيْلَ لِاَ بِیْ هُرَيْرَةَ : دا قائل ابو السائب عبد الله بن السائب الانصارى دې چه د ابو هريره نه روايت نقل کوي، لکه په يو روايت کښې دي، دې وائي : ما ابو هريره ته اووئيل : يا ابا هريرة انا نكون وراء الامام ؟ يعنى مونږ د امام نه روستو ولاړ يو نو آيا قرائت اوکړو او که نه ؟ نو هغه اوفرمائيل : اقرأ بها فى نفسك الخ ـ يعنى په پټه ئې وايه چه جهر په کښې نه وي (قاله القاریؒ) او دا معنى بيهقیؒ په كتاب القراءة (١٧) کښې هم ذكر کړيده، بعض جاهلان وائي چه نفس خو زړه ته وائي او زړه کښې خو قرائت نه کيږي ؟ ليکن دا خبره د دوى خطاء ده بلکه مقصد دا دې چه ځان سره ئې غلې وايه چه ژبه دِې پرې خوزيږي (باجیؒ) او د زړه قرائت نه دې مراد ځکه هغې ته خو په لغت کښې او په اجماع د اهل اللسان کښې قرائت نه وائي، لکه الله تعالى فرمائي : واذكر ربك فى نفسك تضرعا الخ سيوطیؒ معنى کوي : اى سراً ـ او مخکښې مونږ د هدايه او نورو فقهاؤ قول ذكر کړو چه خطيب آيت د درود وائي نو فيصلى السامع فى نفسه ـ قال فى الكفاية اى فيصلى بلسانه خفيا ـ او ابو هريره ﷺ د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو فتوىٰ ورکوله په فاتحه لوستلو باندې نو دا

دلیل دے چه من صلی صلاة لم یقرأ فیها بفاتحة الکتاب فهي خداج روایت په خپل عموم باندے باقی دے او شامل دے منفرد او امام او مقتدی ټولو ته ځکه راوی د حدیث په مقصد ښه پو هیږی د بل چا نه غالباً ۔ انظر ابکار المنن (۱۳۹)

فَإِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ : دا د ابو هریره رضی الله عنه دخپلے فتوی دپاره (چه قرائت خلف الامام ضروری دے) استدلال دے په حدیث د رسول الله ﷺ او دا بل دلیل دے په وجوب د فاتحه باندے۔ قُسِمَتِ الصَّلَاةُ : دا یا صیغه د متکلم ده او الصلاة مفعول به دے یا صیغه د مجهول ده او الصلاة نائب فاعل دے، د صلاة نه مراد پدے مقام کښ فاتحه ده، دیته ئے صلاة ځکه وئیلے دے چه مونځ بغیر ددے نه صحیح نه دے نو ګویا دا اهم جزء د مانځه دے، ددے وجے نه ددے په نفی سره نفی د مانځه راځی لکه د الحج عرفه په شان چه په حج کښ عرفه یو مهم جزء دے نو ګویا کښ ټول حج نه تعبیر په عرفه سره اوشو نو ددے نه معلومه شوه چه سورت فاتحه په مانځه کښ واجبه ده او ددے نه بغیر د هیچا مونځ نه کیږی امام وی او که مقتدی او که منفرد وی۔

بیا دا تقسیم د فاتحے په اعتبار د معنی سره دے چه نیم کښ د الله تعالی دپاره تحمید او تمجید او ثناء او تفویض ذکر دے او په نصف ثانی کښ سوال د بنده او تضرع او افتقار ذکر دے (نوویؒ)۔

علامه سندیؒ د فرضیت د فاتحه دپاره طریقه د استدلال داسے خودلے ده : ان قسمة الفاتحة جعلت قسمةً للصلاة واعتبرت الصلاة مقسومة باعتبارها ولا یظهر ذلك الا عند لزوم الفاتحة فیها انتهیٰ ۔ یعنی د فاتحے تقسیم ئے د مانځه تقسیم ګرځولے دے او مونځ ئے په اعتبار د فاتحے سره تقسیم کړیدے او دا تقسیم به هله ښکاره کیږی چه په مانځه کښ فاتحه لازمه شی۔

علامه خطابیؒ لا پکښ دا وئیلی دی چه د صلاة نه مراد قرائت دے، او پدے باندے دلیل دا بیانوی چه روستو تفسیرئے ددے په فاذا قال العبد او یقول سره کړیدے معلومیږی چه قول او قرائت مراد دے۔ او قراءت ته هم مونځ وائی پدے وجه چه دا په مانځه کښ واقع دے او جزء دے د مانځه نه لکه ولا تجهر بصلاتك ولا تخافت بها په شان۔

او بل دلیل پدے باندے دا ذکر کوی چه روستو بیني وبین عبدی نصفین لفظ ذکر دے نو که مونځ مراد شی نو په هغے کښ خو د هیچا اشتراك نشته بلکه هغه خالص د الله دپاره وی، نو معلومه شوه چه مراد پدے سره قرائت دے او دا تقسیم په اعتبار د معنی سره دے ځکه که د الفاظو تقسیم واخستے شی نو بیا خو دویم طرف حروف او الفاظ زیاتیږی په اول طرف باندے نو نصفیت او تعدیل نه راځی انتهیٰ ۔ معالم السنن (۲۰۳/۱) المرعاة (۱۱٤/۳)

۲– بعض وائی ددے نصفیت نه مراد نصفیت د آیتونو دے ځکه اولنی درے آیاتونو کښ ثناء ده او روستو دریو کښ سؤال دے او مینځنی آیت نیمه ثناء ده او نیمه دعا ده ۔

وَلِعَبْدِیْ مَا سَأَلَ : یعنی زما د بنده دپاره هغه څه دی چه څه غواړی : ۱– یعنی یا به بعینه

دغه سوال ورله قبول کړم یا به ددې مثل ورکړم چه درجه به ورله پورته کړم او مصیبت به ترې دفع کړم ۲- دویم مطلب : پدې ذواړه نصفین کښې د بنده دپاره هغه نصف دې چه د کوم سوال کوی نو پدې کښې د الله د طرفنه وعده ده چه نصف ثانی به ضرور قبلوم ۳- دریم مطلب : ددې نصف ثانی نه سوئ چه زما بنده څه سوال کوی هغه به هم ورکوم او دا خو به ورله ضرور قبلوم نو پدې کښې بیا زیاته مبالغه ده ۔ حَمِدَنِیْ : حمد په لغت کښې ستودن او ستائش او صفت کولو ته وائی او په اصطلاح کښې : هو الثناء علی الجمیل الاختیاری بقصد التعظیم نعمة کان او غیرها ۔

اَثْنٰی : ثناء وائی : ذکر الخیر باللسان علی جهة التعظیم۔

مَجَّدَنِیْ : مجد شرافت او عظمت ته وائی او تحمید په ښائسته کارونو باندې ثناء وئیلو ته وائی او تمجید په صفاتو د جلال او عظمت باندې ثناء وئیلو ته وائی او ثناء عام ده ټولو ته نو هر یو سره ئې خپل مناسب لفظ ذکر کړو ۔ نو پدې کښې صفات فعلیه او ذاتیه دواړه راغلل۔

وَلِعَبْدِیْ مَا سَأَلَ : دا ئې دوباره راوړو یا خو دلته د ما سئل نه مراد دغه استعانت او عون دې یا ئې تکرار د تاکید دپاره اوکړو او دریم ځل ئې بیا ذکر کړو په هغې کښې اشاره ده نورو سوالونو ته چه د هغې قبلول هم زما وعده ده۔

بیا دا حدیث مونږ مخکښې دلیل گرځولے وو چه بسم الله د فاتحې نه جزء نه ده ځکه دا خو اووه آیات دی او ابتداء ئې د الحمد نه شویده نو که بسم الله جزء وې نو د هغې نه به ئې ابتداء کړې وې دارنگه بیا به آیتونه اته گرځیدلی وې، بعض وائی : دلته خبره د تقسیم بیانول مقصود دې او هغه د الحمد نه شروع کیده نو بسم الله ئې پکښې ځکه ذکر نکړه نو دا نفی د بسم الله نه کوی۔

۳- وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ وَاَبَابَکْرٍ وَعُمَرَ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، کَانُوْا یَفْتَتِحُوْنَ الصَّلَاةَ بِ ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ﴾. رواه مسلم ۔

ترجمه : او انس رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ او ابوبکر او عمر رضی الله عنهما به مونځ د الحمد لله رب العالمین نه شروع کولو۔ (مسلمؒ)

تشریح : ددې حدیث یو مطلب چا دا بیان کړیدې چه دوی به مونځ شروع کولو په قرائت د فاتحې باندې مخکښې د سورت نه نو د الحمد نه مراد سورت فاتحه ده او دا قول د هغه چا دې چه بسم الله په ابتداء د سورت فاتحه کښې ثابته گنړی او دا معنی امام شافعیؒ په کتاب الام (۱۰۷/۱) کښې ذکر کړیده او ترمذی هم د امام شافعی نه نقل کړیده (۵۷/۱) یعنی قرائت به ئې د الحمد نه شروع کولو نو پدې کښې نفی د بسم الله نشته او دې معنی ته امام نسائیؒ اشاره کوی ځکه هغه پدې حدیث باب ایخودې دې : باب البدائة بفاتحة الکتاب قبل السورة ۔

۲- بعض علماؤ ظاهر د حدیث اخستې دې چه بس الحمد نه به شروع کوی او بسم الله به نه

وائی لیکن د نبی او د صحابو د الحمد نه د قرائت شروع کولو نه دا نه لازمیږی چه هغوی به بسم الله په پټه هم نه وی وئیلی ـ ځکه دلته جهر مراد دے یعنی جهر به ئے د الحمد نه کولو او بسم الله به ئے په پټه وئیله ـ او پدے سره عمل په ټولو احادیثو راځی ـ او ددے حدیث باقی تشریح مخکښې په صفحه (۲۹) دویم حدیث د عائشهؓ کښې ذکر شویده ـ

دارنګه دا حدیث دلیل دے چه په بسم الله باندے به جهر نشی کولے، لکه دا سنت طریقه هم ده ـ

٤ – وَعَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا أَمَّنَ الْاِمَامُ فَأَمِّنُوْا . فَاِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِیْنُهُ تَأْمِیْنَ الْمَلَائِکَةِ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ . متفق علیه . وفی روایةٍ : قَالَ : اِذَا قَالَ الْاِمَامُ : ﴿ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَلَا الضَّآلِّیْنَ ﴾ فَقُوْلُوْا : آمِیْنَ . فَاِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِکَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ . هذا لفظ البخاری، ولمسلمٍ نحوه، وفی اُخْریٰ للبخاریّ، قَالَ : اِذَا اَمَّنَ الْقَارِئُ فَأَمِّنُوْا، فَاِنَّ الْمَلَائِکَةَ تُؤَمِّنُ، فَمَنْ وَافَقَ تَامِیْنُهُ تَأْمِیْنَ الْمَلَائِکَةِ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ .

ترجمه: او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : کله چه امام (فاتحے نه بعد) آمین اووائی نو تاسو هم آمین وایئ ځکه (پدے وخت کښې فرشتے هم آمین وائی نو) د چا آمین چه د فرشتو د آمین سره یو ځائے شو نو معاف به شی هغه ته هغه ګناهونه چه ده مخکښې کړی وی (متفق علیه) او په یو روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : کله چه امام غیر المغضوب علیهم ولا الضالین وائی نو تاسو آمین وایئ ځکه د چا (آمین) وینا چه د فرشتو (د آمین) وینا سره برابره شی، د هغه مخکښی ګناهونه به معاف شی دا الفاظ د بخاری دی، او د مسلم د حدیث الفاظ هم ددے مثل دی او په بل روایت د بخاری کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمایل : کله چه قرائت کونکے آمین اووائی نو تاسو (هم) آمین وایئ ځکه پدے وخت کښې ملائك (هم) آمین وائی او د چا آمین چه د فرشتو د آمین سره برابر شو نو هغه ته به مخکښې ګناهونه معاف شی۔

تشریح : اِذَا أَمَّنَ الْاِمَامُ فَأَمِّنُوْا : یعنی کله چه امام آمین وائی نو تاسو هم ورسره آمین وایئ ځکه پدے وخت کښې ملائك هم آمین وائی نو موافقت د نیکانو خلقو سره سبب د مغفرت دے، ددے حدیث نه ثابته شوه چه د امام او مقتدیانو ټولو دپاره آمین وئیل پکار دی، او د علماؤ پدے کښې اختلاف دے ـ

آمین وئیلو کښې اختلاف

(۱) د امام مالکؒ مشهور روایت او یو روایت د امام ابو حنیفهؒ دا دے چه امام به آمین نه وائی او

دا روایت د ابن القاسمؒ دے د امام مالکؒ نه او د مالکیه و په نیز معتمد روایت دے۔
(۲) دویم روایت د امام مالکؒ نه دا دے چه امام به جهری مونځ کښې آمین نه وائی او په سری مونځ کښې به ئے وائی، لیکن ددے علماؤ سره هیڅ دلیل نشته سوی ددے نه چه ابن رشدؒ په بدایة المجتهد (۱۰٦/۱) کښې ذکر کړی چه دوی ته احادیث متعارض ښکاره شویدی ځکه په یو روایت کښې دی، چه کله امام آمین اووائی نو تاسو هم آمین اووائے نو ددے نه د امام دپاره د آمین اثبات کیږی او بل روایت د ابو هریرهؓ چه موطأ مالکؒ کښې راغلے دے، اذا قال الامام غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فقولوا آمین۔
نو ددے نه استدلال کیږی په امام به آمین نه وائی بلکه دا ئے صرف وظیفه د مقتدی اوګرځوله نو امام مالکؒ دویم حدیث ته ترجیح ورکړیده او جمهور اول حدیث ته ترجیح ورکړیده ځکه هغه نص دے، لیکن صحیح دا ده چه د احادیثو په مابین کښې هیڅ تعارض نشته بلکه ټول احادیث چه جمع کړے شی نو دا معنیٰ ترے فهمیږی چه امام به هم آمین وائی او مقتدیان او منفرد به هم آمین وائی او دا روایت د هغے نه ساکت دے۔
او هغه احادیث چه امام نوویؒ په المجموع شرح المهذب (۳٦۹/۳) کښې جمع کړیدی، نو د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابه کرامو نه آمین وئیل ثابت دی، نو دا سنت عمل دے عند الجمهور او د اهل ظواهرو په نیز په مقتدیانو واجب او د امام دپاره سنت دے، ځکه چه مقتدیانو ته امر په آمین وئیلو شویدے نه امام ته والامر للوجوب۔
المسئلة الثانية : لغات آمین : په آمین وئیلو کښې دوه لغتونه دی، افصح او اشهر دا دے چه دا په مدّ او تخفیف د میم سره دے، او همدا په احادیثو کښې نقلاً راغلے دے، ۲– دویم لغت امام ثعلبؒ وغیره وئیلی دی : په قصر او تخفیف د میم سره دے، آمین، ددے نه یو جماعت انکار کړیدے چه دا صرف په ضرورت شعری کښې راغلے دے۔
۳– امام واحدیؒ یو دریم لغت په مد د الف او شد د میم سره نقل کړیدے او دا ئے وئیلی دی چه دا د حسن بصریؒ او حسین بن الفضلؒ نه روایت دے او ددے تائید کښې ئے دا قول د جعفر صادقؒ ذکر کړیدے چه هغه ددے دا معنی کړیده : قاصدین الیك وانت الکریم من ان تخیب قاصداً۔
لیکن امام نوویؒ په دے باندے سخت رد کړیدے چه ابن السکیت او ټول اهل لغت پدے باندے تنصیص کړیدے چه دا د عوامو لحن او غلطی ده، او دا رومبنئ هغه غلطی ده چه د حسین بن الفضلؒ نه صادره شویده چه کله خراسان ته داخل شو بلکه صاحب د تتمةؒ وئیلی دی کله که قصداً چا شد اولوستلو نو مونځ ئے باطل دے، او ابو محمد الجوینی په تبصره کښې او شیخ نصر المقدسیؒ وئیلی دی چه عرب دا لغت نه پیژنی اګرکه مونځ به پرے نه فاسدیږی ځکه دده مقصد دعاء ده۔

المسئلة الثالثة : معنی آمین :

(۱) جمهور اهل لغت او فقهاء وائی چه دا اسم فعل دے په معنی د اللهم استجب سره (اے الله دا دعاء زمونږ قبوله کړے) نو دا طابع او مهر د دعاء شو۔

(۲) بعض وائی : ددے معنی ده (لیکن کذلك) (دغه شان کار دِ اوشی)۔

(۳) بعض وائی : په معنی د افعل سره دے (اے الله داسے کار اوکړه)۔

(٤) بعض وائی : لاتخیب رجائنا (اے الله زمونږ امید مه ضائع کوه)

(٥) بعض وائی : لایقدر علی هذا غیرك (پدے کار باندے صرف ته قادر ئے)

(٦) بعض وائی : هو طابع الله علی عباده یدفع به عنهم الآفات ۔ دا د الله یو مهر دے چه پدے سره د هغوی نه آفتونه لرے کوی۔

(۷) بعض وائی : دا یوه خزانه ده د خزانو د عرش نه، ددے په تاویل او معنی صرف الله پو هیږی۔

(۸) بعض وائی : دا د الله نوم دے لیکن دا قول ضعیف دے۔

المسئلة الرابعة : امام او مقتدیان به شریک آمین وائی او که مخکښ روستو ؟

دوه طریقے دی (۱) **جمهور علماء** وائی : مستحب دا ده چه امام او مقتدی به شریك آمین وائی لکه دا خبره ددے اول روایت نه ظاهریږی (اذا امن الامام) ځکه ددے معنی دا ده چه اذا اراد واذا شرع فی التامین فامنوا ۔ یعنی کله چه امام په آمین وئیلو کښ شروع شو نو تاسو ورپسے سمدست آمین شروع کړئ دے دپاره چه د امام او مقتدی آمین شریك مقارن شی۔

او پدے باندے دلیل حدیث د احمدؒ او نسائیؒ او سراجؒ دے : (اذا قال الامام غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فقولوا آمین فان الملائکة تقول آمین، وان الامام یقول آمین، فمن وافق تامینه تامین الملائکة غفر له ما تقدم من ذنبه الخ ۔ نو پدے حدیث کښ د امام او مقتدی آمین یو ځائے وئیلے شویدے چه ولا الضالین نه پس آمین وایئ ځکه چه امام هم پدغه وخت کښ آمین وائی۔ (توضیح الاحکام : ٤٤/٢)

۲- **قول ثانی** دا دے چه مقتدی به د امام نه روستو آمین وائی ۔ دلیل دا دے چه دلته فامنوا کښ فاء د تعقیب مع الوصل ده، معلومیږی چه روستو به ئے وائی ۔ طرح التثریب (٢٦٨/٢)

لیکن دا قول مرجوح دے وجه دا ده چه دغه حدیث د احمد او نسائی نه معلومه شوه چه امام او مقتدی به شریك آمین وائی ځکه چه حافظ په فتح الباری کښ فرمائی : فمن وافق تامینه تامین الملائکه دلالت کوی پدے خبره چه دا موافقت به په وخت او وینا دواړو کښ وی نو مقتدیان او امام به شریك آمین وائی انتهی۔

بل روایت نه معلومیږی فوافق قوله قول اهل السماء غفر له الخ۔

یعنی ملائك په آسمان کښ آمین وائی پدے وخت د ختمیدو د ولا الضالین کښ نو امام او مقتدیان به ئے هم پدغه وخت کښ وائی نو موافقت د تولو به راشی او علامه خطابی وائی : اذا

امن الامام فامنوا دا مخالف نه دے ددے دویم روایت چه اذا قال الامام غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين ۔ او دارنګه دا دلالت نکوی په تاخير د تامين د مقتدی د امام نه بلکه دا دلالت کوی په معيت او اشتراك باندے په اعتبار د عرف سره څکه دا په شان ددے قول دے: " اذا رحل الامير فارحلوا " يعني کله چه امير په سفر شروع کوله نو تاسو هم ځان سفر کولو ته تيار کړئ دے دپاره چه ستاسو سفر د هغه سره شريك اوشی، او بيا ئے دا وئيلی دی چه دا خبره په بل حديث کښ بيان شويده چه ان الامام يقول آمين والملائكة تقول آمين فمن وافق تامينه تامين الملائكة غفر له ما تقدم من ذنبه ۔ چه دا بهتره خبره ده چه دواړه آمين په يو وخت کښ راجمع شی دپاره د اميد د مغفرت (۱/ ۲۲۴) او د اذا قال الامام ولا الضالين فقولوا آمين معنی ئے دا ذکر کړيده: ای وقال آمين فقولوا آمين ای مع تامين الامام۔

او ابتداء کښ دا قول د شيخ البانیؒ هم وو چه سنت دا ده چه مقتدی به د امام نه روستو آمين وائی او په دغه حديث د ابويعلی عن ابی هريره: (اذا امن الامام فامنو) ئے استدلال کولو او ددے دپاره ئے په السلسله رقم (۲۵۳۴) کښ شپږ وجوه ذکر کړی دی ۔

ليکن روستو ئے ددے نه رجوع اوکړه او وے وئيل چه ما به يوه موده کښ پدے باندے عمل کولو او فتوی به مے ورکوله ليکن بيا مے په بيهقی (۵۹/۲) کښ د ابو هريره موقوف حديث اوليدو چه هغه به د مروان بن الحکم دپاره اذان کولو نو ابو هريرهؓ ورسره دا شرط اولګولو چه ما نه به په ولا الضالين وئيلو کښ سبقت نه کوے تردے چه تا ته معلومه شی چه زه په صف کښ داخل شوم– نو بيا به چه کله مروان ولا الضالين اووئيل نو ابو هريرهؓ به آمين اووئيلو او آواز به ئے پرے اوګد کړو، او دا به ئے وئيل: اذا وافق تامين اهل الارض تامين اهل السماء غفر لهم ۔ يعنی کله چه د زمکے والو آمين د آسمان والو د آمين سره برابر شی نو مغفرت ورته کيږی ۔ (وسنده صحيح)۔ نو ابو هريرهؓ راوی د دغه مخکښ حديث هم دے او ددے هم او دا قانون دے چه راوی د خپل روايت په مطلب ښه پوهيږی د بل چا نه نو پدے وجه ما د ابو هريرهؓ عمل لره اعتبار ورکړو او دا تفسير دے د اذا امن الامام فامنوا ۔ او ددے خبرے بيان دے چه معنی ددے دا ده چه کله امام د آمين وئيلو ځائے ته اورسی نو آمين ورسره شريك وايئ او دا معنی اګرکه ابن عربی بعيده ګڼړلے ده ليکن ددے اثر د وجے نه پدے باندے اعتماد ضروری دے ۔

نو ددے تحقيق نه ثابته شوه چه د امام نه په آمين وئيلو کښ مخکښ کيدل خو بالکل سنت مطهره کښ ندی ثابت بلکه دا مخالفت د سنت دے او روستو پاتے کيدل هم ندی پکار بلکه سنت عمل دا دے چه امام او مقتديان به يو ځائے آمين وائی ۔

لکه دا فتوی په فتاوی اللجنه الدائمه (۶/ ۴۲۴) کښ هم ذکر ده فرمائی:

وبهذه الاحاديث يتضح لك ان المشروع للمامومين ان يؤمّنوا اذا قال الامام ولا الضالين سواء امّن

الامـام او لم يؤمّن وان التامين سنة فى حق الجميع و لا يلزم مراعاة تامين الامام ـ **يعنى د ولا الضالين نه پس آمين وئيل پكار دى كه امام ئے وائى او كه نه اگركه آمين دٔ هر مونځ كونكى دپاره سنت دے او پدے كښې لحاظ د امام د آمين ندے لازم۔ پدے كښې امام طبريؒ وئيلى دى چه ددے دواړو رواياتو نه اختيار معلوميږى چه مقتدى د امام سره شريك آمين وائى او كه روستو ئے وائى دواړه جائز دى** ـ المرعاة (۳/۱۲۱) ـ **ليكن دا قول دده مرجوح دے لما تقدم** ـ

٤- **بعض** وائى : څوك چه امام ته قريب وى نو هغه به د امام سره شريك آمين وائى او چه څوك ترے وړاندے وى نو هغه به ئے روستو وائى ځكه چه د امام آمين وئيل د هغه د قرائت نه لږ په آرام وى نو روستنى صفونه به ئے سم نه اورى، ليكن دا خبره هم بے دليله ده، صحيح خبره هغه ده چه مخكښې تيره شوه چه د دواړو روايتونو جمع پكار ده او هيڅ تعارض پكښې نشته ـ

المسئلة الخامسة : آمين به متصل وائى: مستحب دا ده چه آمين به د ولا الضالين پسے متصل نه وائى بلكه د دواړو په مابين كښې به معمولى شان سكته او وقفه اوكړى دے دپاره چه معلومه شى چه آمين د فاتحے نه ندے او دا په حديث د ابوداود (۱/۱۲۰) كښې راغلے ده ـ انظر المجموع (۳/۳۷۳) وزاد المعاد (۱/۲۰۱) ومجمع الزوائد (۲/۱۰۲)

فائده : امام بخارى پدے حديث : «اذا قال الامام غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين» استدلال كړيدے چه آمين به مقتديان په جهر وائى، او پدے باندے ئے ترجمة الباب وضع كړيده : باب جهر الماموم بالتامين ـ د ترجمة الباب او د حديث په مابين كښې شارحينو ډير مناسبتونه بيان كړيدى، يو دا چه اذا قال الامام فقولوا دلته مقابله راغلے ده د قول سره او دا خو واضحه خبره ده چه امام خو قول په جهر سره كوى نو مقتديان به هم آمين په جهر سره وائى ځكه ظاهره دا ده چه دلته اتفاق په صفت كښې مراد دے ـ

۲- دويمه طريقه دا ده چه دلته فقولوا لفظ مطلق دے او مقيد نه دے په جهر وغيره، او دا قانون دے چه كله قول په مقام د خطاب كښې واقع شى يعنى په قول سره چه كله خطاب اوشى مطلقا نو هغه په جهر باندے محمول وى ـ

۳- دارنگه وائى : مخكښې تير شو چه مقتدى د امام په اقتداء باندے مامور دے او دا هم تير شو چه امام خو جهر كوى نو د هغه د جهر سره به جهر كول لازم وى، ليكن دے باندے دا اعتراض شويدے چه بيا خو پكار ده چه مقتدى قرائت هم په جهر سره اوكړى نو ددے نه حافظ دا جواب وركړيدے چه د جهر بالقرائت نه منع شويده او د آمين نه منع نده شوے لهذا دا داخل پاتے شو په عموم د امر كښې په اتباع د امر ـ او ددے دپاره ئے دا دليل ذكر كړيدے چه عطاءؒ وائى : ده ابن الزبيرؓ نه روستو مقتديانو به په جهر سره آمين وئيلو الخ ـ او روستو به ئے نور دلائل هم راشى ـ فتح البارى (۲/۲۱۲)

فَمَنْ وَافَقَ تَامِيْنُهٗ : ددے موافقت دوه معانی دی ۱ – ابن حبانؒ وغیره وائی دا موافقت په اخلاص او خشوع کښې مراد دے یعنی چا چه د ملائکو په شان په اخلاص او خشوع سره آمین اووئیلو نو مغفرت به ورته اوشی لیکن دا قول مرجوح دے۔ ۲– صحیح دا ده چه دلته موافقت په وخت او وینا کښې مراد دے لکه په بل روایت کښې دی : فمن وافق قوله قول الملائکه، دارنګه بل روایت مخکښې تیر شو چه ولا الضالین نه پس امام هم آمین وائی او مقتدیان هم او ملائك هم نو زمانه د آمین وئیلو به د ټولو شریکه وی ۔ دا خبره بار بار تیره شوه۔

دارنګه بل روایت د ابو هریرهؓ کښې مرفوعا راغلی دی : اذا قال احدکم آمین قالت الملائکة فی السماء آمین فان وافقت احداهما الاخریٰ غفر اللّٰه له ما تقدم من ذنبه (بخاری ومسلم (المجموع ۳۶۹/۳) معلومیږی چه کله په زمکه کښې خلق مونځ کوی په دغه وخت کښې ملائك په آسمان کښې هم صفونه اوتړی۔

بیا کوم ملائك مراد دی ؟ : بعض وائی : حفظه (حفاظت کونکی) ملائك مراد دی لیکن دا قول مرجوح دے ځکه هغه مونږ سره همیشه دی، ۔ بعض وائی : هغه ملائك مراد دی چه کوم نمبر په نمبر زمکے ته راځی او د انسانانو سره په مونځونو کښې شریك کیږی کوم چه یتعاقبون فیکم ملائکه کښې تیر شویدی۔

بیا کوم ملائك چه په زمکه کښې وی هغه هم آمین وائی او کوم چه په آسمان کښې وی هغه هم آمین وائی لیکن ددے سره دا یاد لرل پکار دی چه هغه آمین د ملائکو سره موافق کیږی چه هغه مونځ په اول مستحب وقت کښې کړے وی او په سنت طریقه ئے کړے وی ۔

بیا ددے موافقت څه حکمت دے ؟ نو ددے حکمت باندے الله پوهیږی خو مونږ ته ترے دا فائده راوځی چه موافقت د نیکانو سره لوئی خیر دے، او سبب د مغفرت د ګناهونو دے ۔

غفر له : ددے نه مراد واړه ګناهونه معاف کیدل دی ځکه کبائر په توبه معاف کیږی او دا قول د جمهورو دے لیکن ظاهر دا ده چه کبائر هم معاف کیږی ورحمة اللّٰه واسعة۔

۵– وَعَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیِّ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا صَلَّيْتُمْ فَاَقِيْمُوْا صُفُوْفَکُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّکُمْ اَحَدُکُمْ، فَاِذَا کَبَّرَ فَکَبِّرُوْا، وَاِذَا قَالَ ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ﴾ فَقُوْلُوْا: آمِيْنَ، يُجِبْکُمُ اللهُ، فَاِذَا کَبَّرَ، وَرَکَعَ فَکَبِّرُوْا، وَارْکَعُوْا، فَاِنَّ الْاِمَامَ يَرْکَعُ قَبْلَکُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَکُمْ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : فَتِلْکَ بِتِلْکَ. قَالَ : وَاِذَا قَالَ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ، فَقُوْلُوْا : اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ، يَسْمَعُ اللهُ لَکُمْ . رواهُ مسلم .

ترجمه : او ابو موسی اشعری ﷜ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : کله چه تاسو (د جمعے

سره) مونځ کولو نو (اول) خپل صفونه سيده کړئ بيا دِيے ستاسو نه يو تن ستاسو امام جوړ شي نو کله چه امام الله اکبر اووائی نو تاسو هم الله اکبر وايئ او کله چه امام غير المغضوب عليهم ولا الضالين اووائی نو تاسو آمين وايئ، الله تعالی به ستاسو دعا قبلوی او کله چه امام (رکوع ته د تلو دپاره) الله اکبر اووائی او رکوع ته لاړ شي نو تاسو هم الله اکبر ويلو سره رکوع ته لاړ شئ ځکه امام تاسو نه مخکښې رکوع کوی او مخکښې سر پورته کوی نو رسول الله ﷺ اوفرمايل : د امام سر مخکښې پورته کول د رکوع ته د مخکښې ورتلو په مقابله کښې دی (يا ستاسو د رکوع نه روستو سر راپورته کول په مقابله د روستو تلو کښې دی) او نبی عليه السلام فرمائيلی دی : کله چه امام سمع الله لمن حمده اووائی نو تاسو اللهم ربنا لك الحمد وايئ، الله تعالی به ئے ستاسو دپاره اوری ۔(يعنی قبلوی به ئے)

تشريح : اِذَا صَلَّيْتُمْ : اذا په دوه معانو استعماليږی : ١– اذا د فراغت دپاره ٢– د مقارنت فی الوقت دپاره لکه اذا سمعتم الموذن کښې تير شوی دی۔ دلته هم مقارنت په وخت کښې مراد دے يعنی کله چه تاسو اراده د مانځه اوکړه نو پدے وخت کښې صفونه برابر کړئ۔

ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ اَحَدُكُمْ : دلته د احد نه مراد هغه شخص دے چه اقرأ لکتاب الله وی لکه بل حديث کښې د هغے بيان راغلے دے ٢– يا دا چه دلته عام مراد دے او ديکښې جواز ته اشاره ده او اقرأ لکتاب الله امام جوړول افضل دی ۔ ٣– يا دا په هغه وخت کښې مراد دے چه ټول په قرائت او عمر او فضيلت کښې برابر وی۔ فَاِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوْا : فاء د تعقيب مع الوصل نه معلومه شوه چه مقتدی به د امام نه روستو الله اکبر وائی او دا يوه طريقه ده تقديم خو بالکل ناجائز دے۔

فَقُوْلُوْا : آمِيْنَ : بعض احناف ددے نه استدلال کوی په ترك د قرائت خلف الامام وائی که دا مقام د تعليم دے که قرائت خلف الامام لازم وے نو ضرور به ئے ذکر کړے وے ليکن ددے جواب دا دے چه نبی عليه السلام صحابه کرامو ته د هغے حکم باربار اوکړو نو دلته ئے اکتفاء په شهرت او ظهور اوکړه، دارنګه په طريقه د معارضه وايو چه پدے کښې خو تعوذ او تسميه او ثناء او وضع اليدين هم نه دی ذکر او حال دا چه دا مقام د تعليم دے نو ضرور به دا وائی چه هغه د نورو احاديثو نه معلومی دی نو د منطوق او نص صريح په مقابله کښې به مفهوم او اشاره لره اعتبار نه وی۔

يُجِبْكُمُ اللهُ : ای يستجب لکم۔

د امام نه په تکبير تحريمه او باقی ارکانو کښې د سبقت کولو حکم

فَتِلْكَ بِتِلْكَ : يعنی دغه مخکښې کيدل د امام ستاسو نه ددے جبيره شويده په دغه روستو ورتللو ستاسو تر آخر د مانځه پورے ۔ نو ستاسو رکوع به د هغه د رکوع په اندازه وی او دغه شان سجده نو دا حديث صريح دليل دے چه مقتدی به په ټولو افعال او ارکانو کښې د امام نه روستو والے کوی او مقارنت (يوځائے والے) به نه کوی، نو پدے کښې اتفاق دے چه امام نه مخکښې

تـلـل حرام دی حدیث کښې چـه یره ده ددے نـه چـه سر بـه ئے د خر شی ـ بیا چه ځوك د امام نه مـخـکښې تکبیر تحریمه اوکړی نو پدے کښې اتفاق د مسلمانانو دے چه دا کار حرام دے او د هیڅا دپاره جائـز نـه دے او دده دا مـونـځ نـدے مـنـعقد شوے بلکه دوباره تکبیر کوی لکه دا خبره امام شافعي په کتاب الام (۱۵۶/۱) کښې لیکلے ده : من احرم قبل امامه فصلاته باطلة او عبد الرحمن بن ابی عمر بن قدامه په الشرح الکبیر (۲۶۷/۱) کښې لیکی : فان کبر قبل امامه لم تنعقد صلاته وعليه اعـادة التكبير بعد تكبير الامام ـ او هـر چـه بـاقـي ارکـانو کښې مسابقت کول دی نو پدے باره کښې د عـلماؤ دوه فتوے دی (۱) جمهور علماء وائی : ددے کونکے گناهگار دے او کارئے حرام دے اگرچه مـونـځ ئے فاسد نه دے او وائی چه اصل په جماعت کښې دا دے چه د امام تابعداری سنت عمل دے نـو چـا چه د امام مخالفت اوکړو پس د هغے نه چه خپل فرض ئے د ټولو ارکان او شرائطو برابر اداء کـړل نـو ده بـانـدے اعاده د مانځه نشته اگرکه بعض سنت طریقے ساقط کړی ځکه که یو سړے د امام نـه مخکښې ځانله یواځے مونځ اوکړی نو دا مونځ ئے جائز کیږی او سخت گناهگار به وی په پریښـودلـو د جـمـاعـت ـ نـو دا خبره بـنـاء ده پدے چه جماعت او د امام اتباع فرض نه ده ـ تفسير القرطبی (۳۵۸/۱) ـلیـکـن دویم قول دادے چه دا کار حرام دے او ددے سره ددے انسان مونځ باطل دے او دا قـول د محققین علماؤ دے په صحابه کرامو کښې د ابن عمر، ابن مسعود دے، او امام ابن حزم، امام قرطبی، شیخ الاسلام راجح گرځولے دے او دا قول د امام احمد بن حنبل دے چه هغه په خپله رساله (الرسالة السنية فى الصلاة وما يلزم فيها ص (۳) کښې ذکر کړیدے ـ

امام قرطبی په تـفـسیر قرطبی (۳۵۸/۱) کښې لیکی : ابن عبد البرؒ چه د جمهورو نه دا قول نـقـل کـړو نو دا دلالت کوی پدے خبره چه د مقتدی مونځ د امام د مانځه سره مرتبط نه دے ځکه دلتـه پـه تـقـدیم د مـقـتـدی کـښې اتباع حسي او شرعی دواړه نشته، حال دا چه داسے نه ده د اکثر علماؤ په نیز بلکه صحیح په اثر او عقل کښې اول قول دے (یعنی بطلان د مانځه) ځکه امام ددے دپاره مـقـرر وی چـه د هـغـه د افعالو اقتداء او تابعداری اوکړے شی ځکه دغه معنی د امام ده په قرآن کښې او په لغت کښې (انـي جاعلك للناس اماماً – ای یأتمون بك) ـ نو بس چا چه د خپل امام مـخـالفت اوکړو نو هغه د امام تابعداری اونکړه او نبی علیه السلام دا بیان کړیدی چه اذا فکبروا الـحـدیث : نـو دلته ئے فاء د تعقیب راوړه او بیا ئے سخت وعید ورکړیدے هغه چا ته چه د امام نه مـخـکـښې سر اوچتوی یا د هغه نه مخکښې رکوع ته خکته کیږی چه د هغه سر به د خر شی، او ابـو هریره وائیؓ : (انـمـا ناصيته بيد الشيطن) دده تـنـدے د شیطان په لاس کښې دے ـ او نبی علیه السلام فرمائی : کل عمل ليس عليه امرنا فهو رد ـ نو چا چه قصدا د امام خلاف اوکړو او بـه پـو هه وو چـه مـا تـه د امام په تابعداریٔ حکم شویدے او د هغه د مخالفت نه منع شوے یم نو دے سړی د خپـل مونځ سپکاوے اوکړو او د امر خلاف ئے اوکړو (فـواجب الا تجزئ عنه صلاته تلك) نو واجب

ده چه دده دا مونځ جائز نه شي ـ والله اعلم انتهىٰ ـ

ابن قدامهؒ په المغنى (۶۰۱/۱) كښې ليكي : امام احمدؒ په خپله رساله كښې فرمائي : ليس لمن سبق الامام صلاة لهذا الحديث قال : ولو كانت له صلاة لرجي له الثواب ولم يخش عليه العقاب ـ يعنى څوك چه د امام نه مخكښې والے كوى د هغه مونځ نه كيږى د وجے ددے حديث (اما يخشى الذى) نه، بيا وائى : كه دده مونځ جائز وے نو دده دپاره به د ثواب اميد كيدے شوے او په ده باندے به د عذاب نه يره نه وے.

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په مجموع الفتاوى (۳۳۷/۲۳) كښې فرمائى : واما من سبق امامه الى ركن ساهياً او ناسياً او جاهلاً للحكم فان عليه ان يرجع ليأتى به بعد فان لم يفعل عالماً عامداً بطلت صلاته ولكن الامام احمد – فى رسالته – يرى بطلان صلاته بالسبق مطلقاً سواء كان ساهيا او متعمداً او جاهلاً بالحكم لعموم الاحاديث الخ ـ يعنى څوك چه د امام نه يو ركن ته مخكښې شو په سهوه يا نسان يا ناخبرئ سره نو ده باندے لازم ده چه بيرته راواپس شي او دغه ركن د امام نه روستو اوكړى او كه راواپس نه شو او قصدا او پوهه سره ئے داسے اوكړل نو مونځ ئے باطل دے ليكن امام احمدؒ مطلقا په سبقت باندے مونځ باطل ګنړى ـ

او دا اختلاف بناء دے پدے چه آيا نهى تقاضا د فساد كوى او كه صرف د ګناه نو ابن حزم وغيره اهل ظواهر وائى : نهى تقاضا د فساد كوى او جمهور وائى صرف د اثم او ګناه كوى ـ

عبد الله بن عمر رضى الله عنهما يو سړے اوليدلو چه د امام نه ئے مخكښې والے كولو ورته ئے اوفرمايل : لا وحدك صليت ولا بامامك اقتديت المغنى (۶۰۱/۱) وتفسير القرطبى (۳۵۷/۱) او دغه شان قول د عبد الله بن مسعود نه هم نقل دے آ هـ ـ

ابن عمرؓ يو سړے اوليدلو چه دا كارئے كولو نو هغه اووهلو او په اعاده د مانځه باندے ئے ورته حكم اوكړو صحيح مسلم بشرح النووى (۱۱۹/۴) وصلاة الجماعة ص (۱۸۰) للدكتور صالح غانم السدلان ـ او د عمر رضى الله عنه نه نقل دى چه هغه يو سړے پدے كار اووهلو ورته ئے دغه خبره اوكړه ـ مجموع فتاوى ابن تيميه (۳۳۷/۲۳) ـ

په فتاوى اللجنة الدائمه (۲۸۸/۲، ۲۸۹) رقم الفتوى (۳۶) كښې دا فتوى صادره شويده چه څوك په هيره او سهوه او يا ناخبرئ سره د امام نه يو ركن ته مخكښې والے اوكړى نو دده مونځ صحيح دے او هر چه د امام نه په تكبير تحريمه كښې مخكښې والے دے نو هغه په اتفاق د فقهاؤ سره مبطل د مانځه دے ـ او دا خبره دكتور صالح بن غانم السدلان په كتاب الجماعه (۱۷۶) كښې راجح كريده وهو الراجح عند شيخ الاسلام فى الفتاوى (۳۳۸/۲۳)

المسئلة الثانية : د امام سره به موافقت، مساوات او مقارنت كوى او كه متابعت او تاخير؟ پدے كښې قولين دى : (۱) **د احنافو** په نيز مقارنت واجب دے كما فى المرقاة وحاشية المشكاة

(۱/۱۰۱) او د امام مالكؒ په نيز باندے مستحب دے لكه الشرح الكبير (۱/۶۰۱) كښې دی :
واستحب مالك ان تكون افعاله مع افعال الامام ـ

(۲) او د جمهور علماؤ او امام شافعیؒ په نيز مستحب دا ده چه متابعت به کوی په داسے طريقه چه مقتدی به د امام نه معمولی روستو ځی چه ابتداء د مقتدی د هر فعل به روستو وی د ابتداء د امام نه او لګ شان به روستو وی پداسے شان سره چه مقتدی د امام سره په رکن کښې شريك شی او همدا سنت طريقه ده خو اکثر خلق ددے نه غافل دی، او د دوی په نزد د امام سره مقارنت کول مکروه دی لکه امام ابن قدامه په المغنی (۱/۶۰۰) کښې وائی : والمستحب ان يكون شروع المأموم فی افعال الصلاة من الرفع والوضع بعد فراغ الامام منه ويكره فعله معه فی قول اكثر اهل العلم آهـ ـ يعنی اکثر اهل علم وائی چه مقتدی به د امام سره په يو ځائے شريك يو عمل نه شروع کوی بلکه کله چه امام شروع اوکړه نو روستو به مقتدی شروع کوی ـ

دلائل الجمهور ----- **۱- دليل** : يو دليل دا حديث الباب دے فتلك بتلك ـ يعنی د مقتدی د رکوع او سجده وغيره نه سر پورته کول په مقابله د روستو ورتللو کښې دی دغه ارکانو ته نو سر په سر شو ځکه امام به مخکښې رکوع او سجدے ته ورځی او مخکښې به اوچتيږی او مقتدی به رکوع او سجدے ته روستو ورځی او روستو به اوچتيږی ـ

ابن عبد البر په التمهيد لما فی الموطأ من المعانی والاسانيد (۶/۱۴۷، ۱۴۸) کښې ددے حديث نه روستو ليکی : دل الحديث على ان عمل المأموم يكون بعقب عمل الامام وبعده فلا فصل، لان الفاء – فی قوله فاذا كبر الامام فكبروا – توجب التعقيب والاستعجال، وقد ثبت من جهة الاثر والنظر ان حكم قوله اذا كبر فكبروا فی تكبيرة الاحرام ان يكون فراغ المأموم منها بعد فراغ الامام منها، وابتداؤه بها بعد ابتداء الامام بها، وان كان ذلك معاً فالقياس ان يكون الركوع والسجود وسائر العمل كذلك ـ

يعنی دا حديث دلالت کوی چه د مقتدی عمل به روستو وی د امام د عمل نه او مينځ کښې به ډير جداوالے نه راولی ځکه فاء په فاذا كبر فكبروا کښې د تعقيب مع الوصل والاستعجال دپاره ده يعنی په فاء کښې يو تاخير وی او بل جلتی، او دا خبره عقلا او نقلا ثابته شوه چه په تکبير تحريمه کښې د فاذا كبر فكبروا حکم دا دے چه مقتدی به د امام د فراغت نه بعد تکبير تحريمه وائی او ابتداء د مقتدی به روستو وی د ابتداء د امام نه، او که دواړه يو ځائے شی نو بيا خو قياس تقاضا کوی چه رکوع او سجده او ټول اعمال به دغه شان شی (او حال دا چه دا خو ناروا ده د وجے د احاديثو نه)ـ **۲- دليل** : حديث د ابو هريرهؓ کښې دی : مرفوعاً : انما جعل الامام ليؤتم به فاذا كبر فكبروا واذا ركع فاركعوا واذا سجد فاسجدوا (مسلم) دلته هم فاء د تعقيب دپاره ده يعنی رکوع وغيره د مقتدی به روستو وی د رکوع وغيره د امام نه ـ

۳- دليل : ډير صريح حديث په بخاری (۱/۹۶) او مسلم (۱/۱۸۹) کښې راغلے دے او روستو

په باب ما على المأموم من المتابعه (١٠١/١) كښې راروان دے د براء بن عازب حديث دے : كنا نصلي خلف النبي ﷺ فاذا قال : سمع الله لمن حمده لم يحن احد منا ظهره حتى يضع النبي جبهته على الارض، وفي رواية : حتى يقع النبي ﷺ ساجداً ثم نقع سجوداً بعده (بخارى (٩٦/١) والبيهقى (٩٢/٢) **حافظ ابن حجر** په فتح البارى كښې دا دواړه حديثونه ذكر كړيدى او بيا ئے وئيلى دى : وهذا اوضح فى انتفاء المقارنة يعنى دا حديثونه په مقارنت او مساوات د مقتدى كښې دا مام سره په واضحه طريقه نفى كوى۔ ابن دقيق العيد وائى : حديث د براء دلالت كوى په روستو والى د صحابه كرامو په اقتداء كښې د فعل د رسول الله ﷺ نه الخ المرعاة (٨٢/٤)

او ددے دا مطلب نه دے چه رسول الله ﷺ به ركن پوره كړو او روستو به مقتديانو شروع كوله لكه چه دا خبره ابن جوزیؒ فهم كړيده، بلكه مطلب دا دے چه په انتقالاتو كښې به مقتديان روستو وى د امام نه او امام به د يو عمل په مينځ كښې مشغول وى او د مقتدى به ابتداء وى۔

٤- **دليل** : د سمره بن جندبؓ حديث كښې دى : ان رسول الله ﷺ قال : اذا قمتم الى الصلاة فلا تسبقوا قارئكم بالركوع والسجود ولكن هو يسبقكم – السلسلة الصحيحة (١٣٩٣)

دا حديث هم صريح دليل دے چه امام به ركوع او سجدے ته مخكښې ځى او روستو به مقتديان ځى او شريك تلل منع دى۔

٥- **دليل** : ابن عمرؓ يو سړے اوليدلو چه د امام نه ئے مخكښې والے كولو نو دا ئے ورته اوفرمايل : لا صليت وحدك ولا صليت مع الامام يعنى نه دے يواځے مونځ اوكړو او نه دِے د امام اقتداء اوكړه او بيائے اووهلو او حكم ئے ورته اوكړو چه دوباره مونځ اوكړه۔

نو څوك چه د امام اقتداء نه كوى د هغه نه مخكښې يا هغه سره شريك ځى نو د ابن عمرؓ او ابن مسعودؓ په نيز د هغه مونځ نه كيږى ځكه ورته ابن عمرؓ د دوباره مونځ كولو حكم اوكړو۔ انظر صلاة الجماعة (١٨٠) والزواجر لابن حجر الهيثمى (١٤٧/١)۔

په فتاوى هيئة كبار العلماء (٢٢٣/١) كښې دى : څوك چه د امام نه مخكښې ركوع او سجده اوكړي يا د هغه نه مخكښې پورته شي يا ئے د امام سره شريكه اوكړى نو دا د رسول الله ﷺ مخالف دے او ځان ئے عذاب او د ثواب نه محرومتيا ته وړاندے كړو كه خبره ورته ياده وه او پدے حكم عالم وو – او مونځ ئے هم باطل شو او دوباره راګرځول پرے واجب دى لكه چه دا د ابن عمرؓ نه نقل شويدى ـ او احنافو دا حديثونه حمل كړيدى په دے باندے چه رسول الله ﷺ دا حكم په هغه وخت كښې كړے وو چه كله ئے بدن غټ شوے وو او زر نشو خكته پورته كيدو نو اويريدو چه مقتديان به ما نه مخكښې والے اوكړى نو ورته ئے اوفرمائيل چه زه بنه ركن ته اورسيږم نو بيا به تاسو راځئ ـ ليكن دا حمل محتاج دے دليل ته او پدے خبره هيڅ دليل نشته ـ

خلاصه : نو ددے تحقيق نه معلومه شوه چه د امام نه مخكښې كيدل خو بالكل باطل دى او د

امام سره په يو ځاے شريك كيدل او په انتقالاتو كښې مساوات كول هم مكروه دي او حرام او خلاف سنت دي، دارنګه د امام نه ډير روستو پاتے كيدل هم د هغه د اقتداء خلاف دي چه هغه مثلا ركوع اوكړي او انسان په قيام كښې وي يا امام دويمے سجدے ته ورشي او مقتدي لا په اوله سجده كښې وي نو دا هم حرام دي نو راجح قول د جمهورو دے او دا قول د دكتور صالح بن غانم السدلان په صلاة الجماعة ص (۱۷۸) كښې راجح ګرځولے دے راجع فتاوى الدين الخالص (۲۱۷/۵)۔ وبالله التوفيق۔

پدے روايت فتلك بتلك كښې علامه خطابيؒ دوه معاني نورے ذكر كړيدي : اوله دا چه دا تلك راجع دے دے قول ته : واذا قرأ الامام ولا الضالين فقولوا آمين يجبكم الله ۔ يعني ان الكلمة (آمين) يستجاب بتلك الدعوة التي تضمنتها السورة او الآية يعني دغه د آمين كلمه پدے سره هغه دعاء قبلولے شي كوم چه پدے سورت او آيت كښې راغلے، يعني دا دعاء متعلق ده په آمين پورے كه آمين اووئيل شو نو دعاء به قبوله شي ۔

۲– دويمه معني : دا راجع دے نزدے معطوف عليه ته يعني اذا كبر فكبروا او اركعوا ته مطلب به دا شي چه ستاسو مونځ متعلق دے د مانځه د امام سره نو د هغه تابعداري او اقتداء اوكړئ او د هغه نه مه مختلف كيږئ ځكه ستاسو مونځ صحيح كيږي په مانځه د امام ستاسو ۔ (معالم السنن : ۱/ ۲۳۰)۔ ليكن اوله معني غوره ده كوم چه مونږ ذكر كړه بدليل الحديث ۔

وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه : ددے حديث نه احناف استدلال كوي چه امام به ربنا لك الحمد نه وائي او مقتدي به سمع الله نه وائي ځكه دلته تقسيم شويدے او دا منافي وي د شركت سره ۔ددے جوابونه مخكښې ذكر كوشويدي چه دا استدلال غلط دے بلكه شيخ مباركفوري په ابكار المنن ص (۲۲۰) كښې ليكي چه ددے حديث نه غرض د نبي عليه السلام دا نه دے چه تقسيم كوي د امام او مقتدي په مابين كښې بلكه غرض : وقت د تحميد د مقتدي بيانول دي چه د امام د سمع الله نه پس به مقتدي تحميد وائي او دا ساكت دے د تحميد د امام او د تسميع د مقتدي نه نفيا او اثباتا انتهى ۔

٦–وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ وَقَتَادَةَ : وَاِذَا قَرَأَ فَاَنْصِتُوْا :

پدے الفاظو كښې اختصار دے اصل كښې دا سے دے : عن قتادة عن يونس بن جبير ابي غلاب عن حطان بن عبد الله الرقاشي عن ابي موسى الاشعري نو پدے كښې اشاره ده چه دا زيادت مسلم روايت كړيدے د حديث د ابو هريره او ابو موسى دواړو نه ۔ لكن من طريق جرير عن سليمان التيمي عن قتادة عن يونس بن جبير الخ ۔ ليكن د مسلم د كلام نه معلوميږي چه هغه د ابو هريرهؓ حديث بالكل په خپل صحيح كښې ندے راوړے ځكه هغه نه ابوبكرابن اخت ابي النضر تپوس اوكړو واذا قرأ فانصتوا حديث د ابي هريره څنګه دے؟ مسلم اووئيل : زما په نيز صحيح دے هغه ورته اووئيل

: دا دِے ولے په کتاب کښې ندے ذکر کړے ؟ هغه اووئیل : لیس کل شئ عندی وضعته ههنا، انما وضعت ههنا ما اجتمعوا علیه انتهیٰ۔

وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوْا : یعنی کله چه امام قرائت کوی نو غلی شئ دپاره د قرائت اوریدلو نو دا کار صرف په حالت د جهر کښې کیږی (کما قال السندی فی حاشیة النسائی ۱۴۶/۱) یا د فاتحے نه علاوه قرائت ته غلی شئ لکه نبی علیه السلام ترے هغه مستثنیٰ کړیده۔ باقی تشریح د حدیث مخکښې ذکر شویده۔

۷– وَعَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ ﷺ، قَالَ : «کَانَ النَّبِیُّ ﷺ یَقْرَأُ فِی الظُّهْرِ فِی الْاُوْلَیَیْنِ بِأُمِّ الْکِتَابِ وَسُوْرَتَیْنِ، وَفِی الرَّکْعَتَیْنِ الْاُخْرَیَیْنِ بِأُمِّ الْکِتَابِ، وَیُسْمِعُنَا الْآیَةَ اَحْیَاناً، وَیُطَوِّلُ فِی الرَّکْعَةِ الْاُوْلٰی مَا لَا یُطِیْلُ فِی الرَّکْعَةِ الثَّانِیَةِ، وَهٰکَذَا فِی الْعَصْرِ، وَهٰکَذَا فِی الصُّبْحِ» . متفق علیه.

ترجمه : او ابوقتاده ﷺ فرمائی : نبی ﷺ به د ماسپښین مانځه په اولنو دوه رکعاتونو کښې سوره فاتحه او دوه سورتونه (یعنی هر رکعت کښې به ئے سوره فاتحه او یو سورت) لوستلو او روستنو دوه رکعاتونو کښې به ئے صرف سوره فاتحه لوستله او کله کله به ئے مونږ ته څه آیت اورولو او د دویم رکعت په نسبت به ئے اول رکعت اوږد کولو او دغه شان په مازیګر مانځه کښې او دغه شان په صبا مانځه کښې (بخاری ومسلم)

تشریح : روستنو رکعتونو کښې فاتحه باندے زیادت کول څنګه دی ؟

وَفِی الرَّکْعَتَیْنِ الْاُخْرَیَیْنِ بِأُمِّ الْکِتَابِ : ددے حدیث د ظاهر نه دا ښکاره کیږی چه نبی علیه السلام به په روستنو رکعتونو د ماسپښین کښې د فاتحے نه زیات قرائت نه لوستو، لکه دا عام عادت د رسول الله ﷺ وو لیکن روستو حدیث د ابوسعید خدریؓ نه معلومیږی چه روستنو تش رکعتونو کښې ئے د فاتحے نه سوئ نور سورتونه هم لوستلی دی او دارنګه پدے حدیث کښې د مسلم (۱۸۶/۱) په روایت کښې داسے الفاظ راغلی دی : (ان النبی ﷺ کان یقرأ فی صلاة الظهر فی الرکعتین الاولیین فی کل رکعة قدر ثلاثین آیة وفی الاخریین قدر خمس عشرة آیة او قال نصف ذلك . نو ددے دواړو روایاتو تطبیق امیر یمانیؒ (سبل السلام ۲۶۹/۱) کښې دا ذکر کړیدے چه حدیث د ابوقتادهؓ راجح دے د حدیث د ابوسعیدؓ نه څکه دا حدیث د ابوقتادهؓ متفق علیه حدیث دے او دغه شان من حیث الدرایت هم راجح دے څکه دا اخبار دے په طریقه د جزم او یقین سره او حدیث د ابوسعید وغیره په طریقه د ظن او تخمین سره اندازه ده۔

دریم دا چه دا دواړه سنت طریقے دی، کله په یو عمل او په بل عمل پکار دے۔

او همدا خبره ډیره صحیح ده څکه چه تعارض په دواړو کښې نشته بلکه زیادت کله نا کله

جائز دے بغیر د کراهت نه او پدے باره کښې د ابوبکر صدیقؓ او ابن عمرؓ عمل هم دغه شان ثابت دے چه ابوبکر صدیق په ماښام دریم رکعت کښې (ربنا لا تزغ قلوبنا بعد اذ هدیتنا) آیت اولوستلو کما فی الموطأ لمالك عن ابی عبد الله الصنابحی (فتح الباری : ۲/۲۰۷)

ابن قدامهؒ او علامه باجیؒ دا په دعاء باندے حمل کړیدے لیکن دا حمل دلیل ته محتاج دے بلکه دلته د دعاء هیڅ محل نشته۔

دارنګه نافع فرمائی : عبد الله بن عمر رضی الله عنه به په څلورواړه رکعتونو کښې قراءت کولو په هر رکعت کښې به ئے فاتحه او یو سورت د قرآن لوستلو او ظاهر دا ده چه دا مونږ د هغوی فرض وو ځکه په روایت د محمد کښې دی چه دا کار په ظهر او عصر کښې وو۔ رواه فی الموطأ لمالك (۱/۶۳) والبیهقی (۲/۶۴)۔

امام نوویؒ وائی : دا قول جدید د امام شافعیؒ دے چه په تش رکعتونو کښې په فاتحه باندے زیادت مستحسن ګڼړی او د امام مالكؒ قول دا دے چه زیادت به نه کوی ۔ زیادت مکروه دے ۔ او دا قول د امام احمدؒ او قول قدیم د امام شافعیؒ دے ۔ شرح مسلم (۱/۱۷۱)

۳– او د احنافو نه پدے باب کښې درے اقوال نقل دی ۱– یو دا چه ضم د سورت سره سجده سهوه واجبیږی ۲– دویم دا چه سجده سهوه نه واجبیږی لیکن دا کار مکروه دے ۳– دریم دا چه دا کار نه سنت دے او نه مکروه دے او دا قول د فخر الاسلام دے او ابن عابدین الشامی دا ثابته کړیده چه په فاتحه باندے زیادت کول خلاف الافضل دی او مکروه نه دی لیکن صحیح دا ده چه د مخکنو احادیثو نه معلومیږی چه په فاتحه باندے زیادت کول مکروه هم نه دی او خلاف الافضل هم ندی ځکه دا قول بے دلیله دے بلکه دا کار احیانا مستحب دے ۔ او دغه احادیث ئے دلیل دے، او امام بیهقی په السنن الکبریٰ (۲/۶۴) کښې پدے باندے باب وضع کړیدے : باب من استحب قرائة السورة بعد الفاتحة فی الاخریین ۔

نو د احناف او مالکیه ؤ پدے مقام کښې د صریح حدیث خلاف د کراهت فتوی ورکول غلط دی او دا مسئله ئے خطاء ده ۔ وانظر فتاوی الدین الخالص (۴/۱۹۸) والمرعاة (۳/۱۳۱)

په فتاوی اللجنة الدائمة (۶/۳۹۰) کښې ئے دا د ظهر د مانځه پورے خاص کړیدے لیکن هغه هم بے دلیله دے اصح دا ده چه ټولو مونځونو کښې زیادت مستحب دے ۔

وَيُسْمِعُنَا الآيَةَ أَحْيَاناً : یعنی رسول الله ﷺ به کله نا کله یو آیت په سری مانځه کښې معمولی شان په جهر سره لوستلو دے دپاره چه خلقو ته پته اولګی چه هغه کوم سورت لولی او خلق د هغه اقتداء اوکړی۔

حکم الجهر والاسرار فی القراء ۃ :

بیا پدے کښې دا مسئله ده چه آیا په سری مانځه کښې پټ قراءت کول او په جهری مانځه کښې

په جهر قرائت كول واجب دي او كه نه ؟۔ ۱- **د احنافو** رأيه دا دے چه چا په سرى مونځ كښې جهر اوكړو يا په جهرى مونځ كښې ئے په پټه قرائت اوكړو نو په ده باندے سجده سهوه واجب ده ځكه ده واجب پريخودل (هدايه (۱/۱۵۸) وهو قول مالك ورواية عن احمد ۔

او بيا ددے په مقدار كښې ئے اختلاف كړيدے او اصح قول ئے دا ذكر كړيدے چه قدر ما تجوز به الصلاة يعنى دومره قرائت چه په هغے باندے مونځ قدرے جائز كيږى يعنى درے آيتونه يا يو اوګد آيت، يا مطلق يو آيت او كه ډير معمولى وو د آيت نه كم وو نو دا معاف دے عادةً۔ بعض وائى : په سرى كښې يوه كلمه په جهر لوستلو سره هم سجده واجبيږى ۔

بعض وائى چه په يو مكمل آيت سره واجبيږى بعض وائى : اكثر د يو آيت نه ۔ لكه دا اقوال په مرعاة (۳/۱۳۲) كښې اوګوره۔

۲- **جمهور علماء** وائى چه جهر او اسرار سنت عمل دے او واجب نه دے، ددے په ترك سره سجده سهوه نه واجبيږى او دا قول د اوزاعىؒ، شافعىؒ، احمدؒ، الحسنؒ، سالمؒ، مجاهدؒ، القاسمؒ، شعبىؒ، الحكمؒ، اسودؒ، علقمهٌ او په صحابه كرامو كښې د ابوبكر صديق، عمر فاروق، سعيد بن العاص او انس بن مالك رضى الله عنهم دے ۔ او كله نا كله يو آيت نيم په جهر وئيل د يو مصلحت دپاره بالكل جائز دى ۔ **دليل** : د صحابه كرامو نه مكمل سورت په جهر سره وئيل ثابت دى، او د رسول الله ﷺ نه يو آيت دوه آيتونه ثابت دى ۔

لكه دا حديث د ابو قتاده صريح رد دے په قول د احنافو چه رسول الله ﷺ كله نا كله آيت صحابه كرامو ته اورولے دے، نو كه چا په ټول سرى مونځ كښې جهر اوكړو نو صرف د استحباب خلاف ئے اوكړو او څه واجب ترے ندى پاتى ۔

البته سجده سهوه ورله مستحب ده اګر كه واجب پرے نه ده ځكه په ترك د مستحب هم سجده سهوه مستحب وى، لكه دا فتوى امام احمدؒ وركړيده، چه كه سجده سهوه كوى نو دا ښه كار دے ۔ (المغنى : ۱/۷۱۹) المحلى (۲/۷٤) والمجموع (۳/۳۹۰) و (٤/۱۲۸) وفتح البارى (۲/۱۹٤).

او په حديث د نسائى كښې د براءؓ روايت دے :"كنا نصلى خلف النبى ﷺ الظهر فنسمع منه الآية بعد الآية من سورة لقمان والذاريات، وفى حديث ابن خزيمة عن انس نحوه لكن قال : سبح اسم ربك الاعلى وهل اتاك ۔ د صحابه كرامو اعمال امام بيهقى په السنن الكبرى (۲/۳٤۸) كښې او امام مالك په موطأ (۱/٦۳) كښې ذكر كړيدى مخكښې د ابوبكر صديق عمل ذكر شو چه هغه مابنام په اخرى ركعت كښې جهر سره ربنا لا تزغ قلوبنا بعد اذ هديتنا اولوستلو ۔ موطأ لمالك (۱/٦۳)۔

۲- سعيد بن العاص رضى الله عنه په ظهر يا عصر كښې قراء ت په جهر سره اوكړو نو خلقو ورته تسبيحات اووئيل نو هغه خپل قراء ت بند كړو، كله ئے چه مونځ پوره كړو، وئے فرمائيل : ان فى كل صلاة قراء ة وما حملنى على ذلك خلاف السنة ولكنى قرأت ناسياً فكرهت ان اقطع القراء ة ۔

يعني هر مانځه كښې قرائت دے، او دا كار ما د خلاف سنت په نيت ندے كړے بلكه ما په هيره سره قرائت په جهر شروع كړو نو بيا مے بده اوګڼړله چه زه دا منقطع كړم ۔ (بيهقي ۳٤۸/۲)

۳- انس بن مالك په ظهر او عصر دواړو كښې قراءت په جهر اولوستلو او سجده سهوه ئے اونكړه (بيهقي) ٤- او دغه شان عمل د خباب بن الارت، او عمر بن الخطاب، او ابن مسعود رضي الله عنهم نه نقل دے ۔ انظر البيهقي (۳٤۸/۲).

او د وجوب دپاره هيڅ دليل نشته ځكه چه رسول الله ﷺ پدے حكم ندے كړے او عمل ئے موجود دے چه په سري مانځه كښې ئے بعض قرائت په جهر كړيدے، نو عام اوقاتو كښې په سري كښې په پټه قراءت مستحب دے ليكن كله كله جهر هم جائز دے ۔ انظر فتاوى الدين الخالص (۲۰۳/٤) فتاوى اللجنه (۳۹۲/٦) كښې هم دغه شان خبره ده : ومن جهر في موضع اسرار فقد ترك السنة وصلاته صحيحة ۔ **بيا دا حكم** د امام دے او هر چه منفرد دے نو د هغه اختيار دے چه جهر كوي او كه اسرار ځكه جهر او اسرار د خصائصو د جماعت نه دي لكه هدايه (۱۵۸/۱) كښې هم دا خبره ذكر ده او دا د امام احمدؒ قول دے ۔ كما في المرعاة (۱۳۲/۳) ۔ او د امام شافعيؒ په نزد د منفرد حكم داسے دے لكه د امام په شان نو هغه دپاره هم جهر سنت دے په جهري مونځ كښې ۔

احيانا : اى في احيان، دا دليل دے چه بار بار نبي عليه السلام دا عمل كړيدے.

وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُوْلٰى : يعني رسول الله ﷺ به په اول ركعت كښې قرائت اوګد كولو د دويم ركعت نه ځكه په اول ركعت كښې انسان په نشاط او تازګى كښې وي، او دويم كښې هغه شان تازګى نه وي نو مناسب ده چه دويم كښې تخفيف اوكړي چه خلقو باندے تنګسيا او ملال رانشي ۔ دارنګه دے دپاره چه خلق اول ركعت رالاندے كړي لكه دا علت په روايت د ابوداود او ابن خزيمه كښې ذكر دے راوي وائي : فظننا انه يريد بذلك ان يدرك الناس الركعة الاولىٰ ۔

او دا معمولي شان اوګدول دي ځكه ډير زيات اوګدول هم خلاف سنت دي ۔

د هر مانځه اول ركعت اوګدول مستحب دي او پدے كښې اختلاف

بيا دا حديث دليل دے په استحباب د اوګدولو د اول ركعت باندے ۔

خو پدے كښې اختلاف دے ۱- **امام احمد** او امام محمد بن الحسن مذهب دا دے چه په ټولو مونځونو كښې اول ركعت اوګدول مستحب او سنت دي او دا قول د بعض شوافعو دے دا حديث ئے دليل دے په درے مونځونو كښې او باقي پرے قياس دي ۔

۲- **امام ابوحنيفه** او ابويوسف وائي : دواړه ركعتونه به يو شان كوي مګر صرف د سحر په مانځه كښې به اول ركعت اوګد كوي، دے دپاره چه خلق د جمع مونځ رالاندے كړي ۔ كما في الهداية (۱۲۰/۱) : اعانةً للناس على ادراك الجماعات ۔ او دا وقت د نوم او غفلت دے نو اول ركعت ورته اوګدول پكار دي دے دپاره چه مكمل مونځ لاندے كړي ۔

د دوی سره دلیل روستو حدیث د ابوسعید خدریؓ دے چه په هغے کښې دی چه رسول الله ﷺ به په ظهر کښې په اولنو دوه رکعتونو کښې د دیرش آیتونو په مقدار قرائت کولو نو معلومه شوه چه دواړه رکعتونه ئې یو شان برابر کړی دی۔

او ددے حدیث د ابوقتادهؓ نه ئې دا جواب ورکړیدے چه دلته ئې اول رکعت ته اوګد وئیلے دے پدے وجه چه په اول رکعت کښې ثناء او تعوذ او تسمیه وئیلے شی نو دا تطویل باعتبار الامور الخارجیه دے نه په اعتبار د قرائت سره۔ او **ابن حبان** پکښې لا دا وئیلی دی چه دا تطویل په اعتبار د تطویل د ترتیل سره دے نه په اعتبار د مقروء سره ځکه مقروء په دواړو کښې یو برابر دی لیکن اول کښې ئې ترتیل کړے دے او په دویم کښې ئې ترتیل کښې اختصار کړیدے۔ المرعاة (۱۳۳/۳)۔ **لیکن** راجح دا ده چه نبی علیه السلام به اکثر حالاتو کښې اول رکعت اوګد کولو په اعتبار د قرائت سره نو بس همدا مستحب عمل دے او دا تطویل په اعتبار د تعوذ او ثناء سره او په اعتبار د ترتیل سره نه دے مراد، او ددے خبرے دوه شواهد دی، یو دا چه په حدیث کښې قرائت ذکر دے، نو ظاهر هم دا ده چه تقصیر او تطویل راجع دی قرائت ته۔

دویم دا چه حدیث د عبد الله بن ابی اوفی کښې په ابوداود (۱۲۳/۱) کښې دی: ان النبی ﷺ کان یقوم فی الرکعة الاولی من صلاة الظهر حتی لا یسمع وقع قدم۔

یعنی نبی علیه السلام به په اول رکعت کښې دومره اوګد قیام کولو تردے چه د هیڅ راتلونکی د قدم کشارے به ئې وانه وریدو او تول خلق به جمعے ته راورسیدل۔

نو دا حدیث د ابوقتادهؓ به راجح او مقدم وی په حدیث د ابوسعیدؓ باندے وجه دا ده چه پدے کښې قاعده ذکر ده او حدیث د ابوسعیدؓ کښې تخمین او ظنی اندازه خودلے شویده نو د هغے منافات د اول رکعت د اوګدولو سره نشته ځکه چه نبی علیه السلام به اول رکعت ډیر نه اوګدولو بلکه معمولی شان د دویم رکعت نه اوږدولو او حدیث د ابوقتاده کښې یقینی طور سره د دواړو رکعتونو ترمینځ فرق شویدے۔

پدے کښې بعض علماؤ (لکه شیخ عبد الله البسام) داسے تطبیق کړیدے چه حدیث د ابوقتاده کښې د دواړو رکعتونو ترمینځ قاعده د تفریق ذکر ده او حدیث د ابوسعید مخالف شو ددے قاعدے نه په بعض روایاتو کښې (فیکون جواز الامرین والعمل بالحدیثین) یعنی دواړه عملونه جائز دی او په دواړو حدیثونو داسے عمل پکار دے چه عام اوقاتو کښې اول رکعت اوګدول سنت او کله ناکله برابر کول پکار دی نو هیڅ تعارض نشته توضیح الاحکام (۵۰/۲)

او دا هم ډیره ښه جمع ده او دا جمع صاحب د مرعاة (۱۳/۳) هم ذکر کړیده۔

حافظ په فتح الباری (۱۹٤/۲) کښې د امام بیهقی نه جمع بین الاحادیث داسے نقل کړیده چه که امام د مقتدیانو د رارسیدلو انتظار کوی نو بیا اول رکعت اوګدول پکار دی او که د چا انتظار

نه وی نو بیا دواړه رکعتونه یو شان برابر پکار دی او د عطاء نه هم دغه شان قول عبد الرزاق وغیره نقل کړیدے ۔ انی احب ان یطول الامام الاولی من کل صلاة حتی یکثر الناس، فاذا صلیت لنفسی فانی احرص علی ان اجعل الاولیین سواء ۔

۲- **بعض علماء** وائی : چه په صبا مانځه کښې اول رکعت اوګدول همیشه مستحب دی او باقی مونځونو کښې که د مقتدیانو د زیاتیدو امید وو نو انتظار به کوی او که نه وی نو انتظار به نه کوی او د صبا حکمت ئے دا ذکر کړیدے چه دا مونځ د خوب راحت نه پس کیږی او په دے وقت کښې غوږ او ژبه د زړه سره برابر وی ځکه زړه د دنیاوی اشغالو نه فارغ وی نو ثابته شوه چه اول رکعت اوګدول سنت دی او مساوات هم جواز لری او کله نا کله دویم رکعت معمولی شان اوږدول هم جواز لری ځکه نبی علیه السلام سورة الغاشیه د اعلیٰ نه پس لوستلے ده او هغه خو اوګد دے۔

۸- وَعَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ ﷺ، قَالَ : «كُنَّا نَحْزُرُ قِيَامَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ فَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُوْلَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ قَدْرَ قِرَاءَةِ الٓمٓ تَنْزِيْلُ السَّجْدَةِ، وَفِيْ رِوَايَةٍ : فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِيْنَ آيَةً وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْاُخْرَيَيْنِ قَدْرَ النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ وَحَزَرْنَا فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُوْلَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلٰى قَدْرِ قِيَامِهِ فِي الْاُخْرَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ، وَفِي الْاُخْرَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ» . رواه مسلم.

ترجمه : او ابوسعید خدری ﷺ فرمائی چه مونږ به د ماسپښین او مازیګر په مانځه کښې د رسول الله ﷺ د قیام (مقدار) اندازه کولو نو مونږ اندازه اولګوله چه رسول الله ﷺ به د ماسپښین په اولنی دوه رکعاتونو کښې د الم تنزیل السجده ویلو په مقدار قیام کولو او په یو روایت کښې دی چه په هر رکعت کښې به ئے دیرش آیتونو لوستلو په مقدار قیام کولو او (د ماسپښین) په آخری دوه رکعاتو کښې مونږ د هغے په نیمائی اندازه کړو ۔ او د مازیګر په اولنی دوه رکعتونو کښې د ماسپښین د آخری دوه رکعتونو په مقدار قیام کولو او د مازیګر په آخری دوه رکعتونو کښې د هغے په نیمائی مقدار قیام مونږ اندازه کړو ۔ (مسلم)۔

تشریح : كُنَّا نَحْزُرُ : نحزر د حزر نه دے په معنی د اندازے لګولو سره او دا اندازه کونکی په روایت د ابن ماجه کښې دیرش صحابه ښودلے شویدی ۔

وَفِيْ رِوَايَةٍ : فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِيْنَ آيَةً : په صحیح مسلم کښې دا روایت داسے دے : ان النبی ﷺ کان یقرأ فی صلاة الظهر فی الرکعتین الاولیین فی کل رکعة قدر ثلاثین آیة ۔ نو کوم روایت چه مطلق دے هغه به په دے مقید روایت حمل وی یعنی فی کل رکعه نه به اولنی دوه رکعتونه مراد وی بیا دا حدیث دلیل دے په دے مسئله چه په روستنی رکعتونو کښې هم د فاتحے نه زیادت جائز

دے لکه مخکښې تیر شو ـ دارنګه دا حدیث صریح نص نه دے پدے چه اول رکعت اوږد ندے شوے ځکه دا ددے صحابه کرامو تخمین او اندازه ده او مخکښې حدیث صریح دلیل دے په تطویل د اول رکعت کښې یا دا حدیث دلیل دے په جواز د مساوات د دواړه رکعتونو ـ

۳– دارنګه دا حدیث دلیل دے چه په مازیګر مونځ کښې به قرائت کښې تخفیف کولے شی ځکه دا وقت د کاروباریانو د ستړی والی دے او هر چه د ماسپښین مونځ دے نو دا وخت د خوب دے په غرمه کښې نو اوږدوالے اوکړے شو په مانځه کښې دے دپاره چه روستو خلق ئے هم رالاندے کړی او کله کله به رسول الله ﷺ په ماسپښین مونځ کښې ددے مقدار نه هم زیادت کولو لکه په حدیث د مسلم او نسائی کښې د ابوسعید په روایت کښې دی : چه د ماسپښین مونځ اودریدو نو یو تن به بقیع ته لاړو او قضاءِ حاجت به ئے اوکړو بیا به ئے اودس اوکړو او بیا به راغلو او رسول الله ﷺ به اول رکعت کښې وو دومره اوږد قیام به ئے کولو ـ

۹– وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ؓ، قَالَ : «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ : بِ ﴿وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى﴾ وَفِي رِوَايَةٍ : بِ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى﴾ وَفِي الْعَصْرِ نَحْوَ ذٰلِكَ، وَفِي الصُّبْحِ أَطْوَلَ مِنْ ذٰلِكَ». رواه مسلم .

ترجمه : او جابر بن سمره ؓ فرمائی چه نبی اکرم ﷺ به د ماسپښین په مانځه کښې سوره واللیل اذا یغشی لوستلو او په یو روایت کښې دی چه سوره سبح اسم ربك الاعلی به ئے لوستلو او په مازیګر کښې به ئے ددے په اندازه (آیتونه یا سورت) لوستلو او د سحر په مونځ کښې به ئے ددے نه ډیر اوګد قرائت کولو ـ (مسلم)۔

تشریح : وَفِي الْعَصْرِ نَحْوَ ذٰلِكَ : دا په مختلف احوالو محمول دے کله په بدن کښې نشاط او تازه ګی وی نو انسان مونځ اوګد کوی او کله بدن کښې ستړی والے وی، نو هغه شان اوګد مونځ نه کوی نو ځکه دا اختلاف د سورتونو د اوقاتو راغلے دے ـ

۱۰– وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ؓ، قَالَ : «سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِ ﴿الطُّوْرِ﴾» متفق علیه.

ترجمه : او جبیر بن مطعم ؓ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه د ماښام په مانځه کښې واوریدل چه سوره طورئے لوستلو ـ (بخاری ومسلم)۔

تشریح : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ: دا حدیث جبیر بن مطعم په حالت د کفر کښې اوریدلے دے کله چه دا د بدر د قیدیانو د آزادولو په وخت راغلو نو دا دلیل دے چه راوی په حالت د کفر کښې کوم حدیث اوریدلے وی او پس د اسلام نه د هغے بیان کوی نو دا به مقبول وی۔

بالطُّوْر : دا دلیل دے چه د ماښام مونځ د قصار مفصل پورے خاص ندے بلکه کله ئے سورت طور لوستلے دے او کله ئے سوره اعراف هم لوستلے دے او کله ئے سوره نجم، دخان، او کله مرسلات او کله سبح اسم ربك الاعلیٰ او کله والتین والزیتون او کله کافرون او اخلاص ۔

حافظ عسقلانیؒ دد ے ټولو احادیثو تطبیق داسے کړیدے چه نبی علیه السلام به په ماښام کښ قرائت اوږد کولو یا د بیان د جواز دپاره یا هغه ته معلومه وه چه مقتدیان پدے کښ په مشقت کښ نه پریوځی ۔ او **مروان بن الحکم** به په ماښام مانځه کښ قصار مفصل لوستل نو زید بن ثابت په هغه باندے انکار اوکړو او دا ئے ورته اووئیل چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه هغه به طولَی الطولیین سورتونه لوستل (بخاری ۱/۱۰۵) ۔

لیکن د زید مقصد دا دے چه په قصار مفصل باندے په ماښام کښ همیش والے کول ندی پکار ځکه نبی علیه السلام به عام اوقاتو کښ په ماښام کښ قصار مفصل سورتونه لوستل او کله کله به ئے اوږده سورتونه هم لوستل ۔

فائده : په فجر او ظهر کښ د د طوال مفصل سورتونو تخصیص : فقهاء وائی په فجر او ظهر کښ به طوال مفصل سورتونه وائی (او دا د ابتداء د سورت حجرات نه تر سوره بروج پورے دی) او په عصر او عشاء کښ به اوساط مفصل وائی (او دا د بروج نه تر سوره لم یکن (البینه) پورے دی) او په مغرب کښ به قصار مفصل وائی (او دا د لم یکن نه تر آخر د قرآن پورے دی) نو دد ے تقسیم دپاره څه حدیث دلیل نشته سوئ د خط د عمر فاروق نه چه ابوموسی ته ئے لیږلے چه هغه د کوفے ګورنر وو چه ماښام مانځه کښ قصار مفصل وایه : (طحاوی شرح معانی الآثار: ۱۵۷) ترمذی (۱/۶۷) شرح السنه (۲/۲۲۰)۔

لیکن دد ے **جواب** دا دے چه دا محمول دے په عام حالاتو باندے او پدے کښ نفی د نورو سورتونو نشته ځکه نبی علیه السلام نه د ماښام په مانځه کښ طوال مفصل او اوساط مفصل هم نقل دی نو کوم فقهاء چه په مغرب کښ تخصیص کوی په قصار مفصل سره او نور سورتونه لوستل مکروه ګنړی نو غلط وائی او خبره ئے بے دلیله ده ۔

حافظ عسقلانی ؒ وائی : ما هیڅ مرفوع حدیث ندے لیدلے چه په هغے کښ تصریح وی په قرائت د مغرب کښ په قصار مفصل سره مګر حدیث د ابن عمر چه په ابن ماجه کښ راغلے دے چه نبی علیه السلام په مغرب کښ (کافرون) او (اخلاص) لوستلو لیکن هغه هم په دوام دلالت نه کوی ۔انتهیٰ بلکه هغه حدیث په باره د سنتو د ماښام کښ دے لکه روستو به مشکاة (۱/۸۳) کښ راشی ۔ نو بس قانون دا شو چه کوم صحیح حدیثونو کښ د ماښام په باره کښ کوم سورتونه ثابت دی او همیش والے پکښ نه وی نو دا به جائز وی په غیر د کراهت نه او کوم باندے چه د نبی علیه السلام نه همیش والے صحیح ثابت وی نو هغه به په درجه د استحباب

کښې وی نو په مغرب کښې قصار مفصل مستحب دی مګر کله نا کله نور سورتونه هم لوستل پکار دی، او دا ټول سنت طریقې دی۔

امام ابن خزیمه رحمه الله فرمائی : هذا من الاختلاف المباح، فجائز للمصلی ان یقرأ فی المغرب وفی الصلوات کلها بما احبّ، الا انه اذا کان اماماً استحب له ان یخفف فی القرائة کما تقدم انتهیٰ۔

دا مباح اختلاف دے مونځ کونکی له جائز دی چه کوم سورت ئې زړه غواړی لولی دِ ے په ماښام او ټولو مونځونو کښې مګر که امام وی نو هغه له مستحب ده چه قرائت کښې دِے تخفیف کوی۔ **او دا قول** د امام شافعیؒ دے چه هغه دا مکروه نه ګڼړی بلکه دواړه جائز او مستحب ګڼړی وهو قول ابن المبارك وبه قال احمد واسحاق **کذا نقله فی شرح السنه عنهم** (۲۲۰/۲) **او امام مالکؒ** وائی : قصار مفصل نه ماسویٰ سورتونه لوستل مکروه دی۔ امام ترمذیؒ د مالکؒ نه نقل کړیدی چه هغه په ماښام کښې طوال سورتونه لکه طور، او مرسلات لوستل مکروه ګڼړی نو دا قول ضعیف اوبے دلیله دے۔ او امام شافعیؒ د مالکؒ نه نقل کړیدی چه هغه دا مکروه ګڼړی او بیا ئې وئیلی دی چه زه ورته مکروه نه وایم ځکه دا د رسول الله ﷺ نه نقل شوی دی کذا فی الترمذی (۶۸/۱)۔

او جمهور علماء د هغه احادیثو نه چه دلالت کوی په تطویل د قرائت په مغرب کښې یو څو جوابونه ورکوی وائی (۱) دا په ابتداء زمانه کښې وو او بیا منسوخ شو لکه دا خبره امام ابوداود او محمد ذکر کړیده لیکن جواب دا دے چه نسخ په صرف احتمال سره نه ثابتیږی او امام ابوداود په نسخ باندے دلیل هم ندے پیش کړے صرف د عروهؒ عمل ئې په خلاف د روایت لیدلے دے نو ګمان ئې کړیدے چه عروه ته به ناسخ معلوم وی، حال دا چه ام الفضلؓ وائی : چه آخری مونځ د ماښام چه نبی علیه السلام صحابه کرامو ته اوکړو نو په هغې کښې ئې والمرسلات سورت اولوستلو (بخاری : ۱۰۵/۱) او **صاحب** د التعلیق الممجد هم وئیلی دی چه دا جواب مخدوش دے ځکه دا بناء دے په احتمال د نسخ او نسخ په احتمال نه ثابتیږی او که نسخ اومنلے شی نو پکار ده چه د ام الفضل د حدیث موافق قصار مفصل لوستل منسوخ شی ځکه آخری عمل د نبی علیه السلام په ماښام کښې مرسلات لوستل دی او هغه خو په اوساط مفصل کښې شمار دے۔ انتهیٰ۔

۲– امام محمد په موطأ کښې ذکر کړیدی چه دا احتمال شته چه نبی علیه السلام به بعض سورت (څه حصه) لوستلی وی او بیا به ئې رکوع کړی وی۔

لیکن **جواب** دا دے چه دا اثبات د تفریق په ټولو طوالو سورتونو کښې مشکل دے ځکه په بخاری کښې د جبیر بن مطعم حدیث دلالت کوی چه هغه ټول سوره الطور په ماښام کښې اوریدلے دے نو لیت او لعل فائده نه ورکوی۔

او دغه شان رسول الله ﷺ سوره الاعراف په ماښام دوه رکعتونو کښې لوستلے دے او دا خو

معلومه ده چه ټول قصار مفصل سورتونه نيمائي سوره اعراف ته نه رسي نو د قصار د ثابتولو دپاره تفريق فائده نه ورکوی، كذا في التعليق الممجد ـ او امام طحاویؒ هم دا دعوه کړيده چه نبی علیه السلام به بعض سورت لوستلے وی ليکن د ابن ماجه روايت ددے ترديد کوی چه هغے کښ دی سمعته يقرأ في المغرب بالطور فلما بلغ هذه الآية ام خلقوا من غير شئ ام هم الخالقون الآيات الى قوله المصيطرون كاد قلبي يطير ـ ددے نه معلوميږي چه ټول سورت ئے لوستلے دے ـ

۳- وائي : په بعض احوالو کښ ئے د تعليم د جواز دپاره طوال سورتونه لوستلی دی ليکن جواب دا دے چه که دا کار د بيان د جواز دپاره وے نو مروان چه په قصار مفصل مواظبت او هميش والے کولو نو زيد بن ثابت پرے ولے رد کولو بلکه ددے رد مطلب دا وو چه کله نا کله طوال سورتونه لوستل هم سنت دی ـ او مروان به بيا په زيدؓ باندے دليل نيولے وے چه هغه خو رسول الله ﷺ د بيان د جواز دپاره لوستلی دی۔

دارنګه بيان د جواز دپاره يو ځل لوستل کافي دی او حال دا چه رسول الله ﷺ په ماښام مانځه کښ اوږده سورتونه بار بار لوستلی دی نو ظاهر د احاديثو دا دے چه په ماښام کښ طوال مفصل او قصار او باقي سورتونه ټول سنت دی اګرکه قصار لوستل زيات پکار دی او که څوك صرف قصار مفصل سنت ګڼړي نه نور سورتونه نو دا به د رسول الله ﷺ د طريقے مخالف وی ـ والله اعلم وبالله التوفيق۔

۱۱- وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ، قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ: بِ ﴿وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا﴾ متفق عليه.

ترجمه: او ام فضل بنت حارث رضی الله عنها فرمائي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه د ماښام په مانځه کښ ئے سوره والمرسلات عرفا لوستلو ـ (بخاري ومسلم)

تشريح : دا حديث دليل دے چه په ماښام مانځه کښ قصار مفصل لوستل خاص ندی او رد دے په هغه چا د قصار مفصل سورتونو نه سوئ نور سورتونو ته منسوخ وائي ـ

او دا حديث دلته مختصر ذکر شويدے بخاري (۱/۱۰۵) کښ تفصيلا ذکر دے چه هغے کښ دا الفاظ دی : ان ام الفضل سمعته وهو يقرأ والمرسلات عرفاً فقال يا بنی لقد ذكرتني بقراءة تلك هذه السورة انها لآخر ما سمعت من رسول الله ﷺ يقرأ بها في المغرب ـ يعني ابن عباسؓ پسے خپله مور مونځ ته ولاړه وه نو هغے ترے دا سورت واوريدلو او دا ئے اووئيل چه اے بچيه تا ما ته ددے سورت په لوستلو نبی علیه السلام رایاد کړو چه دا د هغه آخري سورت وو چه په ماښام مانځه کښ ئے لوستلے وو ـ او دا مونځ نبی علیه السلام د ام الفضل کور کښ کړے وو کله چه هغه بيمار وو د کوټے نه حاضرينو خلقو ته راووتو او امامت ئے ورته اوکړو ـ لکه نسائي کښ د هغے الفاظ دا دی : صلى بنا في بيته صلاة المغرب) عمدة القاري (۶/۲۳).

۱۲ – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ ﷺ، ثُمَّ يَأْتِي فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ، فَصَلّٰى لَيْلَةً مَعَ النَّبِيِّ ﷺ الْعِشَاءَ ثُمَّ اَتٰى قَوْمَهُ فَاَمَّهُمْ، فَافْتَتَحَ بِسُوْرَةِ الْبَقَرَةِ، فَانْحَرَفَ رَجُلٌ فَسَلَّمَ. ثُمَّ صَلّٰى وَحْدَهُ وَانْصَرَفَ، فَقَالُوْا لَهُ : اَنَافَقْتَ يَا فُلَانُ ؟ قَالَ : لَا وَاللهِ، وَلَآتِيَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَلَاُخْبِرَنَّهُ، فَاَتٰى رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اِنَّا اَصْحَابُ نَوَاضِحَ، نَعْمَلُ بِالنَّهَارِ، وَاِنَّ مُعَاذاً صَلّٰى مَعَكَ الْعِشَاءَ، ثُمَّ اَتٰى قَوْمَهُ، فَافْتَتَحَ بِسُوْرَةِ الْبَقَرَةِ . فَاَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى مُعَاذٍ، فَقَالَ : يَا مُعَاذُ ! اَفَتَّانٌ اَنْتَ ؟ اِقْرَأْ ﴿ وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا ﴾ ﴿وَالضُّحٰى﴾ ﴿ وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى ﴾ وَ ﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى ﴾ متفق عليه .

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائي : چه معاذ بن جبل به د نبي اکرم ﷺ سره مونځ کولو بيا به راغلو نو خپل قوم ته به ئې مونځ کولو نو يوه شپه ئې د نبي اکرم ﷺ سره د ماسخوتن مونځ اوکړو بيا راغلو خپل قوم ته ئې مونځ اوکړو نو سوره بقره ئې شروع کړه (کله چه قرائت اوګد شو) نو يو سړي د جماعت نه سلام اوګرځولو او ځانله ئې مونځ اوکړو او لاړو نو خلقو (چه دا اوليدل) نو ده ته ئې اوويل : اے فلانيه ! آيا ته منافق شوے (ځکه چه د جماعت نه وتل د منافقانو کار دے) هغه اووئيل : نه ! قسم په الله (زه نه يم منافق شوے) خامخا زه به رسول الله ﷺ ته راځم او هغه ته به خبر ورکوم، نو رسول الله ﷺ خواته راغلو ورته ئې عرض اوکړو : اے د الله رسوله ! مونږ د اوښانو والا يو، د ورځے کار کوو (يعنې د اوښانو په ذريعه اوبه راوباسو او ونے پرے اوبه کوو او ټوله ورځ محنت او مشقت کښې لګيا يو) او معاذ تاسره د ماسخوتن مونځ اوکړو بيا راغلو (مونږ ته ئې په مانځه کښې) سوره بقره شروع کړه (د اوګد قرائت په وجه زه تنګ شوم او سلام مے اوګرځولو) (پدے اوريدو سره) رسول الله ﷺ معاذ بن جبل طرفته متوجه شو ورته ئې اوفرمايل : اے معاذ ! آيا ته فتنه پيدا کونکے ئې (يعنې آيا ته خلقو له د جماعت په پريخودو سره د دين نه بيزاره او فتنه کښې مبتلا کول غواړے ؟ بهتر دا ده چه) ته سوره والشمس وضحاها، سوره والضحى او سوره والليل اذا يغشى او سوره سبح اسم ربك الاعلى اووائې ۔ (بخاري ومسلم)

تشريح : فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ : په روايت د مسلم کښې دي : فيصلي بهم تلك الصلاة نو پدے کښې رد دے په هغه چا چه وائي معاذ چه کوم مونځ قوم ته کولو دا غير وو د هغه مانځه نه چه رسول الله ﷺ سره ئې کړے وو نه ! بلکه همغه مونځ به ئې قوم ته کولو نو د نبي عليه السلام سره به ئې د ماسخوتن مونځ فرض اوکړو او خلقو ته به ئې همدغه مونځ کولو خو دوده دپاره به نفل وو نو ثابته شوه چه اقتداء د مفترضينو د متنفلينو پسے بلا کراهته جائز ده ۔

فوائد الحديث (۱) أفتان نه معلومه شوه چه امام به په مانځه کښې اختصار او تخفيف کوی ليکن ددې مقدار او اندازه به څه وی ؟ يو کس اوږد مونځ کوی هغه وائی دا مختصر مونځ دے بل مختصر مونځ کوی او هغے ته اوږد مونځ وائی نو پدے کښې به د خالق او د مخلوق دواړو رعايت کوی نو د الله حق پدے کښې دادے چه ډير زيات اوږد اوشی چه هميشه ولاړ وی او د بندګانو حق دا دے چه لنډ اوشی نو فيصل پدے کښې عمل د نبی عليه السلام دے کوم چه په حديثونو کښې تير شو چه ماښام ماسخوتن او ماسپښين او سحر کښې به ئے کوم سورتونه وئيل او لس لس کرتے تسبيحات به ئے وئيل نو امام چه دا مونځ کوی نو بس دا مختصر مونځ دے شرعا ـ (۲) : مسئله : اقتداء د مفترض د متنفل پسے جائز ده او که نه ؟ ـ د صحابه کرامو په دور کښې دا مسئله نه وه روستو فقهاؤ جوړه کړيده ـ او ددے بعض تفصيل په جلد (۸۳/۳ او ۳۷٤) حديث الامام ضامن او حديث امامة جبريل کښې تيرشويدے ـ

اختلاف العلماء :--۱- **امام ابوحنيفه** وائی چه اقتداء د مفترض د متنفل پسے جائز نه ده ځکه هغه يوه قاعده اينبے ده او هغه دا چه د امام مونځ متضمن دے مونځ د مقتدی لره او متضمن اقوئ وی د متضمن نه ۲- دويم دا چه پدے کښې بناء د قوی په ضعيف پسے راځی او هغه باطله ده مثال ددے داسے دے لکه بنياد چه په کچه خختو کيږدے، بيا بعضو دده دپاره استدلال کړيدے په حديث د الامام ضامن باندے کوم چه مخکښې جلد (۳) کښې تير شو ليکن هلته دا معنی نه ده چه متضمن دے بلکه دا معنی ده چه امام به ښه مونځ کوی خيانت به په مانځه کښې نکوی بيا ئے پدے باندے ډيرے مسئلے بناء کړيدی ۱- اقتداء القادر بالمومی ۲- اقتداء القاری بالامی ۳- اقتداء اللابس بالعاری ٤- اقتداء القائم بالقاعد (٥) آيا د امام اودس ماتيدل د مقتدی مونځ فاسدوی ؟ دا مسئلے ئے پدے باندے تفريع کړيدی ـ

۲- **قول ثانی** د جمهورو دے چه دا اقتداء جائز ده ځکه د هريو جدا جدا مونځ دے، متضمِن او متضمَن ندی ـ **دليل** : ۱- څلور احاديث صريحه پدے باب کښې راغلی دی ۲- يو دا حديث د معاذ دے چه ده نفل مونځ کولو او مقتديانو فرض او دا حديث تقريری دے ځکه په معاذ پسے ثلاثون عقبيا او اربعون بدريا صحابه کرام ولاړ وو کما فی المحلی (۱٥۲/۳) ـ

يو هم دا اعتراض نه دے کړے پدے خبره چه ته خو متنفل ئے زمونږ په تاپسے مونځ نه کيږی بعضو دلته دا احتمال پيدا کړيدے چه معاذ د نبی پسے نفل کړيدی او دلته ئے فرض اداء کړيدی ـ

الجواب : د نبی پسے مونځ کامل دے او ځانله دومره ندے نو صحابی کامل مونځ ولے نه کوی او فرض هم قوی دی نو په قوی پسے ولے نه کوی ؟ ۲- دويم دا چه د صحابه کرامو په زمانه کښې دا اختلاف نه وو ـ ۳- دريم دا چه نص صريح شته کما فی المشکاة (۱۰۳/۱) اخرجه الدارقطنی وغيره وصححه الحافظ ـ چه اول مونځ فرض دے او دويم نفل (هی له تطوع ولهم فريضة) ۲-

دليل : صلاة خوف كښې نبي دا كار كړيدې چه دوه ځله ئې جمع وركړې ده كما في المشكاة چه هلته احناف حيران شويدي كما في حاشية المشكوة (١/١٢٧) ـ

٣- **دليل** : كما في المحلى (٣/١٥٣) : عبد الله بن الصامت وائي يو صحابي (الحكم بن عمرو الغفاري رضي الله عنه) عمر ته شكايت اوكړو چه مونږ كسكر علاقې ته لاړو د جهاد دپاره د سحر مانځه وخت شو ما جماعت اوكړو نو د بعضو مقتديانو مخې ته ستره نه وه نو ما هغه خلكو ته چه د هغوي مخې ته ستره نه وه دوباره جمع وركړه نو عمر ورته اوليكل چه : صحيح كار دِې كړيدې ـ په بل روايت كښې دي چه ده به مقتديانو ته دوه دوه ركعاته مونځ كولو او سلام به ئې پكښې اړولو نو عمر ورته اووئيل چه ښه كار دِې كړيدې ـ

٤- **دليل** : ديرش عقبيان او څلويښت بدريان صحابه كرامو د معاذ بن جبل ددې عمل تقرير كړيدې او هيچا پرې اعتراض نه دې كړې ـ ابن الحزم فرمائي : فليعلم اهل الجهل : انه كان فيمن يصلي في مسجد بني سلمة – الذي كان يوم فيه معاذ – ثلاثون عقبياً وثلاثة واربعون بدرياً سوى غيرهم ـ المحلى (٣/١٥٢) ٥- **اثر انس** بن مالك رضي الله عنه : د رمضان په مياشت كښې به چه څوك تراويح ته راغلل او ماسخوتن مونځ به ئې نه وو كړې او د خلكو به دوه ركعاته مونځ پاتې وو نو انس به ورته وئيل چه د امام سره شريك شئ او د دا دوه ركعاته د ماسخوتن نه حساب كړئ (او باقي به ځانله اوكړئ)ـ المحلى (٣/١٥٤) وقال : هو قول الاوزاعي والشافعي واحمد وابي سليمان وجمهور اصحاب الحديث ـ

٦- **دليل** : نه منم دا خبره چه نفل ضعيف دي او فرض قوي دي بلكه نفل هم قوي دي او فرض هم قوي دي فرق صرف په اختيار كښې دې نه په اركانو كښې فتدبر ـ

٣- فائده ثالثه : كوم جماعت كښې چه غلط مونځ كيږي نو ځانله مونځ كول اګركه جَمعه ولاړه وي، جواز لري ، دلته دِې سړي ته نبي عليه السلام دا اونه وئيل چه تا ولې سلام اوګرځولو بلكه معاذ ته په غصه شو ـ (٤)- اَفَاتَّقْتَ نه معلومه شوه چه د صحابه كرامو په نيزد جماعت سره مونځ نه كول منافقت دې ـ (٥) نَوَاضِحَ جمع د ناضحةٌ ده هغه اوښانو ته وائي چه د كجورو او فصلونو د خړوبولو دپاره استعماليږي او د كوهيانو نه پرې اوبه ويستلې شي ـ

(٦) أَفَتَّانٌ : يعني ته خلق د دين نه متنفر كونكې او منع كونكې ئې او خلق په فتنه كښې اچوې ـ حافظ وائي : د فتنې نه مراد دلته دا دې چه اوږد مونځ كول سبب دې د وتلو د خلقو د مانځه نه او د جماعت سره د مونځ كولو د بد ګنړلو نه ـ ٢- يا دا معنى ده چه ته خلقو له عذاب وركوې په تطويل د مانځه سره ـ (٧) معاذ ته ئې دغه سورتونه مقرر كړل په نورو رواياتو كښې ورسره والسماء والطارق او سورة البروج هم ذكر دي يعني ددې په شان سورتونه لوستل مراد دي ـ

(٨) مقتدي دپاره د مانځه نه د عذر په وجه وتل جائز دي ـ

(۹) په دین او عباداتو باندې به خلق نشي تنګولې بلکه درمیانه روی به کولې شي.
(۱۰) په موعظه کښې غصه کول جواز لري خو په منکر او خلاف سنت کار باندې نه په مستحباتو. (۱۱) مخامخ کله نا کله یو شخص باندې رد کول جواز لري.
(۱۲) خلاف سنت مونځ چه امام کوي نو جمع پریخودل جواز لري نو ځوك چه ډیر مختصر مونځ کوي هغه پسې هم مونځ ندې پکار لکه نن صبا زمونږ د مساجدو امامان شو.

۱۳– وَعَنِ الْبَرَاءِ ﷺ، قَالَ: «سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ ﴿وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ﴾ وَمَا سَمِعْتُ اَحَداً اَحْسَنَ صَوْتاً مِنْهُ». متفق عليه.

ترجمه: او براء ﷺ فرمائي: ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه د ماسخوتن په مانځه کښې ئې والتین والزیتون وئیل، او ما د رسول الله ﷺ نه ښائسته آواز والا هیڅوك ندې اوریدلې. (بخاري ومسلم)

تشریح: يَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ وَالتِّيْنِ: رسول الله ﷺ به د ماسخوتن په مانځه کښې غالبا درمیانه اوساط مفصل لوستل او معاذ ته ئې هم پدې حکم کړې وو چه اوساط مفصل دِ لولي او دلته ئې چه په اوساط مفصل کښې لنډ سورتونه لوستلي دي نو ددې وجه په روایت د بخاري کښې راغلې ده چه رسول الله ﷺ په سفر کښې وو نو په اول رکعت کښې ئې والتین والزیتون اولوستل او په دویم رکعت کښې ئې انا انزلناه اولوستلو او دا ئې ځکه اولوستل چه سفر کښې اختصار او تخفیف مطلوب وي نو په هغې کښې غالبا اوږدوالې نشي کیدې، او هر چه حضر دې نو په هغې کښې ئې بیا اوساط مفصل کښې اوږده سورتونه لوستلي دي لیکن دا امکان شته چه سفر او حضر دواړو کښې ئې والتین وئیلې وي كما يعلم من البخاري (۱۰۶،۱۰۵/۱) چه بخاري کښې دواړه روایتونه شته یو مطلق دې او بل کښې د سفر حالت دې. او دې سورتونو ته مفصلات ځکه وائي چه ددې ترمینځ په بسم الله سره فصل او جدائي زیاته ده.

۱٤– وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ ﷺ، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ بِـ ﴿قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ﴾ وَنَحْوِهَا، وَكَانَتْ صَلَاتُهُ بَعْدُ تَخْفِيْفاً». رواه مسلم.

ترجمه: او جابر بن سمره ﷺ فرمائي: نبي کریم ﷺ به د صبا په مانځه کښې ق والقرآن المجید سورت لوستلو یا ددې په شان، او د هغه مونځ د صبا د مانځه نه بعد په تخفیف سره وو (یعنې په باقي مونځونو کښې به ئې لږ قرائت کولو) (مسلم)

تشریح: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ: کان لفظ دلته د دوام دپاره نه دې بلکه یا په غالب حالاتو محمول دې چه اکثر به ئې د صبا په مانځه کښې سوره ق لوستلو او یا صرف د وقوع الفعل دپاره دې، ځکه چه بخاري تعليقا ذکر کړیدي چه رسول الله ﷺ کله اذا الشمس کورت لوستلې دې او په مکه

کښې ئې سوره المومنون لوستلې دے او سوره الطور ئې هم لوستلې دے او نبي علیه السلام د صبا په مانځه کښې د شپیتو آیتونو نه تر سلو پورے لوستل په دواړه رکعتونو کښې یا په یو رکعت کښې، کله ئې سوره الروم هم لوستلې دے (نسائی) او کله ئې معوذتین (نسائی) او کله انا فتحنا لك فتحا مبینا (عبد الرزاق عن ابی برده) او کله واقعه (عبد الرزاق) او کله سوره یونس او هود (ابن ابی شیبه) او کله اذا زلزلت (ابوداود) او کله الم تنزیل السجده او هل اتی لکه روستو راځی ۔ او ددے تپولو وجه دا ده چه دا په مختلف حالاتو کښې شویدی کله به زړه فارغ وو نو اوږده سورتونه به ئې لوستل او کله به ئې زړه وغیره مشغول وو یو کار به ئې مخے ته وو نو لنډ سورتونه به ئې لوستل ۔یا نشاط غیر نشاط سره تعلق لري یا د خلقو احوالو سره یا بیانا للجواز دپاره ۔

وَكَانَتْ صَلَاتُهُ: یعني د صبا د مانځه نه روستو به ئې مونځونه مختصر کول یعني قرائت به ئې پکښې غالبا د صبا په نسبت کم وو ۔ ۲– بعض وائي بعد نه مراد زمانه ده یعني رسول الله ﷺ به د هجرت په ابتدائي زمانه کښې قرائت اوږد کولو ځکه ملګري کم وو او مشقت نه وو نو بیا کله چه خلق زیات شو او هغوی ته په اوږد قرائت کولو کښې مشقت وو ځکه هغوی کاروبار والا خلق وو چا به تجارت کولو او څوك به دهقانان وو نو په هغوی باندے د نرمئ او مهرباني کولو په خاطر ئې قرائت لنډ کولو ۔ (قاله القاري) لیکن اول قول غوره دے۔

---

۱۵ – وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ ﷺ: اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ ﷺ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ : ﴿وَاللَّيْلِ اِذَا عَسْعَسَ﴾ . رواه مسلم .

ترجمه: او عمرو بن حریث ﷺ د نبي کریم ﷺ نه اوریدلی دی چه د سحر په مانځه کښې به ئې واللیل اذا عسعس (یعني سوره اذ الشمس کورت) لوستلو ۔ (مسلم)

د عمرو بن حریث ﷺ تعارف : دده مکمل نوم عمرو بن حریث بن عمرو بن عثمان القرشي ابوسعید المخزومي الکوفي وړوکے صحابي دے اتلس احادیث ترے نقل دی، ابن عبد البرؒ فرمائي : نبي علیه السلام ئې لیدلے دے او د هغه نه ئې حدیثونه اوریدلی دی او دده په سرئے لاس راخکلے دے او د برکت دعاء ئې ورته کړے آهـ ۔ د نبي علیه السلام د وفات په وخت د (۱۲) کالو په عمر وو کوفے ته راغلو او هلته ئې ځان له کور جوړ کړو او په هغے کښې اوسیدلو او هلته ئې اولاد هم وو۔او د زیاد په دور حکومت کښې د کوفے ګورنر وو او دغه شان د عبید الله بن زیاد په وخت کښې هم ۔ په سنه (۸۵) کښې وفات دے دده ځوی جعفر دده شاګرد دے ۔

تشریح :وَاللَّيْلِ اِذَا عَسْعَسَ : یعني هغه سورت به ئې لوستلو چه په هغے کښې دا الفاظ دی چه سوره تکویر دے او دا مطلب نه دے چه صرف دا یو آیت به ئې لوستلو او امام بغويؒ د امام شافعيؒ نه په شرح السنه کښې نقل کړیدی چه ددے نه مراد اذا الشمس کورت دے ځکه تول

سورت اګر که وړوکے وی بهتر دی د بعض حصے د اوږد سورت نه۔ عَسْعَسَ : دا د اضدادو نه دے ای اقبل ظلامه او ادبر۔

١٦ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ ﷺ، قَالَ : صَلّٰى لَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ الصُّبْحَ بِمَكَّةَ، فَاسْتَفْتَحَ سُوْرَةَ الْمُؤْمِنِيْنَ، حَتّٰى جَاءَ ذِكْرُ مُوْسٰى وَهَارُوْنَ – اَوْ ذِكْرُ عِيْسٰى – اَخَذَتِ النَّبِيَّ ﷺ سَعْلَةٌ فَرَكَعَ . رواه مسلم .

ترجمه : او عبد الله بن سائب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ مونږ ته په مکه کښې د سحر مونځ اوکړو نو سوره مومنون ئے شروع کړو تردے چه د موسی او هارون ذکر یا د عیسی علیه السلام ذکر راغلو نو نبی کریم ﷺ ټوخی اونیولو (چه د هغے په وجه ئے سورت پوره نکړے شو) نو رکوع ته راخکته شو۔ (مسلم)

د عبد الله بن السائب ﷺ تعارف : عبد الله بن السائب بن ابی السائب صیفی بن عائذ بن عبد الله بن عمر بن مخزوم المکی، دے او دده پلار دواړه صحابه دی او دده پلار د نبی علیه السلام شریك وال وو او عبد الله بن سائب پخپله د مکے والو قاری وو، مکے والو دده نه قرائت زده کړیدے، مجاهد ئے هم په قرائت کښې شاګرد دے، په مکه کښې د عبدا لله بن زبیر د قتل نه مخکښې په سنه (٦٧) کښې وفات دے او دا د عبد الله بن عباس قائد وو کله چه هغه ړوند شوے وو او (٧) احادیث ترے نقل دی، عطاء وغیره دده نه روایتونه نقل کړیدی۔

تشریح : بِمَكَّةَ یعنی په فتح د مکه کښې۔ ذِكْرُ مُوْسٰى : یعنی آیت (ثم ارسلنا موسی واخاه هارون) آیت (٤٥) او ذکر عیسی (یعنی وجعلنا ابن مریم وامه آية (٥٠) آیت دلته کلمه د او شك دے د محمد بن عباد بن جعفر راوی۔

سَعْلَةٌ : په فتحه د سین سره او ضمه هم جائز ده، سعال (ټوخی) ته وائی، په پړپوس باندے چه کله ضرری شے اولګی نو طبیعت ئے دفع کوی نو دُ هغے نه دغه حرکت پیدا شی او ددے ټوخی سبب دا وو چه رسول الله ﷺ پدے آیتونو کښې ژړل او اوښکے ئے پړپوس ته اورسیدلے نو سورت ئے پوره نه کړو۔ دا حدیث دلیل دے چه ټوخے په مانځه کښې مونځ نه باطلوی او ددے نه دا هم معلومه شوه چه د ټوخی وغیره ضرورت په وجه قرائت بندول غوره دی ددے نه چه د ټوخی یا غاړه تازه کولو سره قرائت جاری اوساتی اګر که اوږد مونځ وی، دلته هم د نبی علیه السلام اوږد مونځ اراده وه لیکن دغه ضرورت منع کړو۔

٣ – دارنګه دا دلیل دے چه په فرضو کښې بعض سورت لوستل هم جائز دی، لیکن دا استدلال تام نه دے ځکه چه دلته خو د ضرورت په وجه نیم سورت لوستلے شویدے نو بهتر استدلال د سوره الاعراف نه کیږی چه هغه ئے د ماښام په دوه رکعتونو کښې لوستلے دے او

ابوبکر صدیق رضی الله عنه صحابه کرامو ته د صبا په مانځه کښې په دواړه رکعتونو کښې سوره البقره اولوستله (عبد الرزاق باسناد صحیح) ددے وجے نه امام ابوالفرج ابن قدامه په الشرح الکبیر (٦١٨/١) کښې د امام احمدؒ نه نقل کړیدی چه فرمائی : د سورتونو اواخر او اوساط په مانځه کښې لوستل مکروه نه دی، دلیل ئے دا قول د الله تعالی دے (فاقرأوا ما تیسر من القرآن) او ابوسعید خدریؓ فرمائی : امرنا ان نقرأ فاتحة الکتاب وما تیسر (ابوداود)

او ابن مسعود به په آخری رکعت د سحر کښې د آل عمران آخر او د سوره فرقان آخر لوستلو (الخلال باسناده) او د امام احمدؒ نه دا هم نقل دی چه په فرضو کښې دا کار مکروه دے (نقله المروزی)۔ **لیکن** راجح دا ده چه د سورت د هرے حصے نه قرائت جائز دے ځکه دا تول قرآن دے مګر د رسول الله ﷺ غالب عمل دا وو چه هغه به مکمل سورت لوستلو۔ بخاری (١٠٧/١) کښې دی : کل کتاب الله او باب ئے ایخودے دے باب القراء ة بآواخر السور واوائلها۔

---

١٧ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : کَانَ النَّبِیُّ ﷺ یَقْرَأُ فِی الْفَجْرِ یَوْمَ الْجُمُعَةِ بِ ﴿الٓمٓ تَنْزِیْلُ﴾ فِی الرَّکْعَةِ الْاُوْلٰی، وَفِی الثَّانِیَةِ ﴿هَلْ اَتٰی عَلَی الْاِنْسَانِ﴾. متفق علیه.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ به د جُمعے په ورځ د سحر په مانځه کښې په اول رکعت کښې الم تنزل او په دویم رکعت کښې هل اتی علی الانسان لوستلو ۔ (بخاری ومسلم)

تشریح : الٓمٓ تَنْزِیْلُ الخ : دلته یو حکمت ددے سورتونو او بله مسئله ده ۔

حکمت ددے سورتونو دا دے چه د جمعے په ورځ د سحر مونځ افضل الصلوات دے (کما فی السلسلة الصحیحة (٩١/٤ رقم : ١٥٦٦) او پدے ورځ د جمعه کښې به قیامت قائمیږی او پدے سورتونو کښې د قیامت اهوال دی ۔ ٢ – دارنګه پدے دواړو سورتونو کښې هغه څه ذکر دی چه هغه په ورځ د جمعه کښې پیدا شوی او یا به پیدا کیږی ځکه پدے سورتونو کښې د آدم علیه السلام پیدائش، او د آخرت او حشر العباد او د قیامت احوال ذکر دی، او دا ټول به د قیامت په ورځ کیږی او قیامت به هم د جُمعے په ورځ وی نو ددے سورتونو په لوستلو کښې بندګانو ته دا تذکیرا ونصیحت دے چه مخکنی حالات رایاد کړی او آینده دپاره تیارے اوکړی۔

مسئله په مانځه کښې د تعیین د سورت څه حکم دے؟ احناف وائی : تعیین د سورت د مونځونو دپاره مکروه دے ځکه پدے کښې هجران د باقی قرآن دے او دا ګناه ده، دارنګه پدے کښې دا وهم پیدا کیږی چه بعض قرآن په بعض غوره دے ۔ هدایه (١٢٠/١) شرح وقایه : (١٧٢/١) دا وجه ده عام احناف ددے خبرو هیڅ اهتمام نه کوی۔

٢- **د جمهور** علماؤ مذهب دے او دا قول د عام محدثینو دے چه بعض سورتونه په بعض

مونځونو پورې خاص کول جائز بلکه مستحب دي، خو کله کله به بدلولې شي دې دپاره چه د فرض ګمان اونکړې شي لکه چه د جُمعې د صبا په مانځه کښې دا دواړه سورتونه به نبي عليه السلام هميشه لوستل لکه حافظ عسقلانيؒ وائي : دا صيغه دلالت په مواظبت او اکثار باندې کوي نو هميش والې پدې سورتونو مستحب دې بلکه په حديث د ابن مسعودؓ کښې تصريح په مداومت د نبي عليه السلام پدې سورتونو راغلې ده (الطبراني : يديم ذلك) او په طبراني کبير کښې د ابن عباسؓ په روايت کښې (كل جمعة) لفظ راغلې دې انتهیٰ۔
او دا قول د امام شافعيؒ، احمدؒ، اسحاقؒ او اکثر صحابه کرامو او تابعينو دې لکه ابن المنذرؒ وغيره نقل کړيدي ۔ او د صاحب هدايه وغيره تعليل په مقابله د نص کښې دې بله دا چه امام به تقرير اوکړي چه دا فرض نه دي نو دا مفسدت به ختم شي، لکه علامه سنديؒ هم وائي : بهر تقدير مداومت پدې دواړه سورتونو خير او بهتر دې د مداومت نه په ترك ددې دواړو سورتونو باندې انتهیٰ ۔وانظر التنبيه على مشكلات الهدايه (۲/٥۸٤)۔
علامه عبد الحي په شرح وقايه مصنف باندې رد کوي : چه دا کراهت په هغه صورت کښې دې چه د نبي عليه السلام نه د هغې تعيين نه وي ثابت او کوم تعيين د سورت چه د شارع نه ثابت دې نو هغه مکروه نه دې بلکه هغه سنت دې لکه نبي عليه السلام به د جمعې په صبا کښې الم تنزيل السجده او او هل اتیٰ سورتونه لوستل اخرجه الشيخان ۔ انتهیٰ ۔
ليکن عبد الحي صاحب په عمدة الرعايه (۱/۱۷۳) دارنګه الرسائل کښې ليکي چه احناف نفس تعيين السورة مکروه نه ګنړي بلکه تعيين دائمي او التزامي ته مکروه وائي چه هغه واجب اوګنړلې شي ۔ که داسې وي نو بيا خوښه ده۔
فائده : يو جماعت د شوافعو وائي : د امام دپاره دا اولیٰ دي چه دا سورتونه پريدي، يا سجده پدې سورتونو کښې پريدي ځکه عوام خلق به دا عقيده اوساتي چه دا سورتونه لوستل واجب دي او رد به اوکړي په هغه چاچه دا سورتونه نه وائي بلکه بعض عوام به دا عقيده اوساتي چه د سحر مونځ درې رکعاته دې د امام شافعيؒ په مذهب ځکه چه کله امام سجدې ته خکته شي نو هغه به ګمان اوکړي چه ما نه مخکښې رکوع اوشوه او يوه لطيفه ذکر کوي چه بعض عوام بخاري ته لاړل يو پکښې اووئيل : ما په مکه کښې عجيبه کار اوليدو، شوافع د سحر مونځ درې رکعاته کوي، بل اووئيل : دا کار صرف د جمعې په ورځ کوي ۔ احناف هم وائي چه دا به نه لولي ليکن دا خبرې د سنت په مقابله کښې هيڅ نه دي ځکه چه د عوام کالانعام عقيده جوړيدو له اعتبار نشته، هغوی تپوس ولې نه کوي، دارنګه دا به دومره پاګل وي يا نوې مسلمان به وي چه سجده تلاوت به ئې په مانځه کښې کله نه وي کړې !!۔ نو ثابته شوه چه ددې سورتونو هميشه پريخودل خلاف سنت دي ۔ كما في تعليق المشكاة لرمضان (۳٥۷) او دې يې ځايه وهمونو

له اعتبار نشته۔

١٨ – وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِىْ رَافِعٍ، قَالَ : اِسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ اَبَاهُرَيْرَةَ عَلَى الْمَدِيْنَةِ، وَخَرَجَ اِلٰى مَكَّةَ، فَصَلّٰى لَنَا اَبُوْهُرَيْرَةَ الْجُمُعَةَ، فَقَرَأَ سُوْرَةَ الْجُمُعَةِ فِى السَّجْدَةِ الْاُوْلٰى، وَفِى الْآخِرَةِ ﴿اِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُوْنَ﴾ فَقَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقْرَأُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ . رواه مسلم۔

ترجمه: او عبيد الله بن ابى رافع رحمه الله فرمائى : مروان ابو هريره رضى الله عنه لره په مدينه باندے خليفه (خپل قائم مقام گورنر) مقرر کړو او خپله مکے ته لاړو، نو (د هغه په عدم موجودگئ کښې) ابو هريره رضى الله عنه مونږ ته د جُمعے مونځ اوکړو او هغوى په اول رکعت کښې سوره جمعه او په دويم رکعت کښې سوره اذا جاء ك المنافقون اولوستلو او وے فرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه دا دواړه سورتونه به ئے د جُمعے په ورځ لوستل۔ (مسلم)۔

عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ اَبِىْ رَافِعِ المدنى دا د رسول الله ﷺ د مولىٰ ځوى دے د خپل پلار او مور (سلمىٰ) او على نه ئے روايتونه نقل کړيدى او دا د على او ابو هريره رضى الله عنهما کاتب وو او دا ثقه تابعى دے د طبقه وسطىٰ نه دے۔

تشريح : السَّجْدَةِ الْاُوْلٰى نه مراد رکعت دے۔ دا حديث هم دليل دے چه د جمعے په ورځ دا سورتونه لوستل سنت عمل دے او ددے سورتونو د جمعے د ورځے سره مناسبت دے او منافقان هم د جمعے مانځه ته حاضرى ورکوى نو پدے وجه سوره منافقون کښې هغوى ته توبيخ او تلقين د توبے ذکر دے۔

١٩ – وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقْرَأُ فِى الْعِيْدَيْنِ وَفِى الْجُمُعَةِ بِـ : ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى﴾ وَ ﴿هَلْ اَتَاكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ﴾ قَالَ : وَاِذَا اجْتَمَعَ الْعِيْدُ وَالْجُمُعَةُ فِىْ يَوْمٍ وَاحِدٍ قَرَأَ بِهِمَا فِى الصَّلَاتَيْنِ . رواه مسلم.

ترجمه: او نعمان بن بشير ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ به د اخترونو او د جُمعے په مانځه کښې سبح اسم ربك الاعلى او هل اتاك حديث الغاشيه (سورتونه) لوستل۔ او نعمان وائى : چه کله به اختر او جمعه په يوه ورځ راجمع شو نو په دواړو مونځ کښې به ئے دغه دواړه سورتونه لوستل۔ (مسلم)

تشريح : په روايت د مالك، احمد او مسلم کښې دى چه ضحاك د نعمان بن بشير نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به د سوره الجمعه نه روستو د جمعے په مانځه کښې کوم سورت لوستلو؟ هغه اووئيل : هل اتاك۔ نو پدے باب کښې چه کوم احاديث راغلى دى د هغے خلاصه دا ده چه سنت دا ده چه امام د جمعے د مانځه په اول رکعت کښې سوره الجمعه اووائى او په دويم

کښې سوره المنافقون۔ ۲- یا په اول رکعت کښې سبح اسم ربك الاعلیٰ او په دویم کښې هل اتاك حدیث الغاشیه۔ علامه سندیؒ فرمائی: الاختلاف محمول علی جواز الکل واستنانه وانه فعل تارة هذا وتارة ذاك فلا تعارض فی احادیث الباب انتهیٰ۔ یعنی دا اختلاف محمول دے په جواز د ټولو او سنت والی د ټولو طریقو کله نبی علیه السلام یوه طریقه سره سورتونه لوستلی دی او کله بلے طریقے سره نو هیڅ تعارض نشته۔

بیا دا سورت ئے د جمعے پورے خاص کړو ځکه په سوره الجمعه کښې تیزی ورکړے شویده په حاضریدلو د جمعے او په سعی کولو هغے ته، او په سوره منافقون کښې زجر دے منافقانو ته او تیزی ده په توبه ویستلو سره ځکه منافقان جمعے مانځه ته زیات حاضریږی او په سوره اعلیٰ او غاشیه کښې د آخرت دحالاتو تذکره ده او وعد وعید دے نو ددے جامع مونځ سره ددے لوستل مناسب دی، چه ټول خلق د آخرت دپاره تیارے اوکړی۔

او ددے حدیث نه هم معلومه شوه چه دا سورتونه لوستل په مانځه د جمعه کښې سنت عمل دے، احناف وائی: هر سوْرت چه لولی لوستلے شی او که دا سورتونه لولی نو هم جائز ده لیکن همیش والے به نه کوی چه عوام خلق ئے لازم اونه ګنړی نو د دوی په نزد باندے ددے سورتونو بعینه لوستل سنت ندی لیکن دا خبره د دوی باطله ده حق قول د جمهورو دے ځکه دا په متواترو روایاتو سره د نبی علیه السلام نه نقل دی، لکه دا خبره ابن عبد البرؒ او د ابن رشدؒ ذکر کړیده بلکه د نبی علیه السلام نه ددے سورتونو نه علاوه نور سورتونه ندی نقل نو ثابته شوه چه بس همدا سنت طریقه ده۔

۲۰- وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ: اَنَّ عُمَرَبْنَ الْخَطَّابِ، سَأَلَ اَبَا وَاقِدِ اللَّيْثِيَّ: مَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِي الْاَضْحٰى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ: يَقْرَأُ فِيهِمَا بِ ﴿ قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ ﴾ وَ ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ ﴾ . رواه مسلم۔

ترجمه: او عبید الله فرمائی: عمر فاروق ﷺ د ابوواقد لیثی ﷺ نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به په غټ او وړوکی اختر کښې کوم سورتونه لوستل؟ هغوی اوفرمایل: چه نبی علیه السلام به پدے دواړو مونځونو کښې سوره ق والقرآن المجید او سوره اقتربت الساعه لوستلو۔ (مسلم)

تعارف د عبید الله المدنی: مکمل نوم عبید الله بن عبد الله بن عتبه بن مسعود الهذلی المدنی الامام التابعی الاعمٰی د مدینے د فقهاء سبعه ونه دے، او د عبد الله بن مسعود وراره دے، ثقه او فقیه، ثبت او مامون دے، دا یو جید شاعر وو، امام مالكؒ وائی: كان كثير العلم، امام عجلیؒ وائی: كان جامعا للعلم، او د مدینے د مفتیانو نه وو، او دا په فقه کښې ډیر مقدم وو، متقی وو۔ ابن عبد البرؒ لیکی: دا ښائسته شاعر وو د صحابه کرامو نه تر زمونږ زمانے پورے دده په شان

لـوئـی شاعر ما ته ندے معلوم، او داسے شاعر چه ورسره لوئی فقیه هم وی، په سنه وفات کښې ئے اختـلاف دے، بـعـض وائـی : (۹۴) یا (۹۸) یا (۹۹) کښې وفات دے ۔ انظر طرح التثریب (۱/۸۰) والمرعاة (۳/۱۴۸)

تعارف د ابوواقد اللیثی رضی الله عنه : ابـوواقـد الـلیـثـی، قـدیـم الاسـلام صـحـابی دے، په نوم کښې ئے اختـلاف دے، بـعـض وائـی : الـحـرث بـن مـالك، بعض وائی : ابن عوف، بعض وائی : عوف بن الـحارث ، په اهل مدینه کښې شمار دے، او یو کال په مکه کښې اوسیدلے دے او هلته وفات شو په سنه (۶۸) کښې د (۸۵) کالو په عمر (۲۷) احادیث ترے نقل دی ۔

تشریح : سَأَلَ : عـمـر فاروق دده نه دا تپوس یا پدے وجه اوکړو چه د هغه نه امتحان کوی چه ده تـه خبـره یاده ده او که نه ؟ یا پدے وجه چه زیادت اعتماد او توثیق پیدا کوی، یا د عمر فاروق نه دا مسئله هیره شویده ۔ قاصی عیاضؒ وائی د عمر فاروق کیدے شی شك پیدا شوے وو نو خبره پرے مشتبه شوے وه نو ځکه ئے تپوس اوکړو ، یا پدے تپوس کښې خلقوته ددے مسئلے وضاحت کـول وو او ذیے تـه سـوال د تعلیم وائی یا به د عمر سره بل چا بحث کولو چه نبی علیه السلام په اخترونو کښې سبح اسم ربك او هل اتاك لوستلے دے نو عمر اراده اوکړه چه د هغه په خلاف دلیل او نیسی په هغه حدیث چه هغه ابوواقد هم اوریدلے دے او خپل تائید پیدا کړی۔

عـلامـه عـراقیؒ وائی : دا احتمال هم شته چه عمر فاروق په بعض اخترونو کښې غائب وی، او دغـه اخترونو ته ابوواقد حاضرے شوے وو نو تپوس کوی چه کوم سورتونه ئے اولوستل او پدے کښې څه تعجب نشته چه یو ملازم ملګرے د خپل ملګری نه په بعض حالاتو کښې جدا وی، او د هغـه خبـرے ورتـه او نه رسی، او دا عمل چه رسول الله ﷺ کړے دے کیدے شی چه دا په یو اختر کښې وی یا زیاتو اخترونو کښې وی ۔

ق : یعنی په اول رکعت کښې ئے سوره ق لوستلو او په دویم کښې به ئے اقتربت، نو دا دلیل دے د امـام شـافـعـیؒ او د هغه د موافقینو دپاره چه په عیدینو کښې همدا سورتونه لوستل سنت عمل دے او ددے پـه قرائت کښې حکمت دا دے چه پدے سورتونو کښې د بعث بعد الموت اخبار دے او د تیر شوو اقوامو بیان دے او د مکذبینو د هلاکت بیان دے، او پدے کښې دا تنبیه ده چه لکه څنګه چـه خـلـق اخـتـرونـو تـه راوتلی دی په یو میدان کښې ولاړ دی (ځکه دا اختر مونځ په عیدګاه کښې سـنـت دے) نـو دغـه شان د مرګ نه پس به الله ته په میدان حشر کښې ولاړ وی، او د قبرونو نه به د خواره ملخانو په شان راروان وی ۔ او د سوره اعلیٰ او غاشیه لوستلو وجه دا ده چه په سوره اعلیٰ کـښې تیـزی ورکول دی په مانځه کولو او فطرانه ورکولو باندے لکه عمر بن عبد العزیز او سعید بن المسیب د قد افلح من تزکی وذکر اسم ربه فصلی همدا تفسیر کړیدے نو ځکه دا غوره کړے شو، او غاشیه دے سورت تـه نزدے پیوسته ده نو دا ئے ځکه لوستلے ده او پدے کښې هم د انسانانو

تقسیم دے او د آخرت د ورځے حالات او جزاګانے او سزاګانے ذکر دی ۔
بیا رسول الله ﷺ به هغه دوه سورتونه لوستل او کله به ئے دا دواړه سورتونه لوستل او دواړه سنت عمل دے، دا هم دلیل دے چه تعیین د بعض سورتونو د بعض مونځونو پورے سنت عمل دے او دیته مکروه وئیل بے تحقیقه خبره ده ۔

۲۱– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَرَأَ فِیْ رَکْعَتَیِ الْفَجْرِ : ﴿ قُلْ یَا اَیُّهَا الْکَافِرُوْنَ﴾ وَ ﴿ قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ﴾ . رواه مسلم .

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ د صبا په (سنت) دوه رکعاتو کښې قل یا ایها الکافرون او قل هو الله احد لوستلو ۔ (مسلم)

تشریح : رَکْعَتَیِ الْفَجْرِ : د رکعتی الفجر نه د سحر سنت مراد دی لکه چه دا پدے نوم سره مشهور دی، دے حدیث نه دا معلومه شوه چه د سحر په سنتو کښې نبی علیه السلام دا دوه سورتونه لوستل او دا دومره عجیب سورتونه دی چه رسول الله ﷺ په ډیرو مونځونو کښې لوستلی دی لکه د ماښام په سنتو کښې، د طواف په دوه رکعاتو کښې، او د سحر په سنتو کښې، دا ئے عام عادت وو کله کله به ئے دوه آیتونه لوستل کوم چه روستو حدیث کښې راروان دی، لکه د ابن عمر نه ترمذی، احمد، ابن ماجه او طحاوی نقل کړیدی۔
فرمائی : ما یو میاشت د رسول الله ﷺ مونځ ته کتل نو هغه به د صبا په سنتو کښې دغه دوه سورتونه (الکافرون) او (الاخلاص) لوستلو نو دا دلیل دے چه دا عمل سنت دے ۔
۲– دویم په دے حدیث کښې ورسره فاتحه ذکر نشوه وجه دا ده چه فاتحه مشهوره ده نو اکتفاء ئے په شهرت اوکړه لکه دا کار په عام قولی او فعلی مرفوع احادیثو کښې کیږی نو پدے کښې اشاره ده چه فاتحه لوستل خو ضروری دی د هغے بیان ته ضرورت نشته ځکه د هغے نه بغیر مونځ نه کیږی۔ ۳– دریم پدے کښې رد دے په امام مالکؒ او اکثرو ملګرو د هغه باندے چه هغوی وائی : د سحر په سنتو کښې به صرف فاتحه وائی او سورتونه لوستل نشته ۔
استدلال کوی په قول د عائشهؓ چه هغه فرمائی : نبی علیه السلام د سحر سنت به دومره مختصر کول (حتی انی اقول : هل قرأ فیهما بام القرآن) متفق علیه یعنی زما ګمان به راغلو چه آیا فاتحه به ئے لوستلی وی او که نه ؟۔

الجواب : دا استدلال صحیح نه دے، ځکه د عائشهؓ مقصد دا دے چه رسول الله ﷺ به دا دوه رکعاته مختصر کول دومره مختصر چه زما به ګمان راغلو چه ګویا کښې فاتحه به ئے هم نه وی لوستلی او دا مطلب نه دے چه فاتحه ئے لوستلے ده او نور سورتونه ئے ندی لوستلی، نو دا هم سنت عمل دے چه د سحر سنت به مختصر کولے شی۔
او طحاوی د بعض سلفو نه دا هم نقل کړیدی چه په سنت د صبا کښې هیڅ قرائت نشته فاتحه

به هم نه وائي، ليکن دا دواړه اقوال د سنت خلاف دي او ددې صحيح احاديثو معارض نشي کيدې او دوی هم استدلال کوی په دې حديث د عائشةؓ ليکن تا اوپيژندل چه مقصود د عائشةؓ بيان د اختصار د سنتو د صبا دې نه نفي دِ قرائت ـ او د ابن عمر د حديث نه معلومه شوه چه پدې کښې جهر هم جائز دې ـ

۲۲ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ فِيْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ: ﴿قُوْلُوْا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْنَا﴾ وَالَّتِيْ فِيْ آلِ عِمْرَانَ ﴿قُلْ يَا اَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾». رواه مسلم.

ترجمه: او ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ به د سحر په سنتو کښې د (سوره بقرې دا آيت) قولوا آمنا بالله وما انزل الينا او هغه آيت په آل عمران کښې دې قل ايها الكتاب تعالوا الخ لوستلو ـ (مسلم)

تشريح: قُوْلُوْا آمَنَّا: ددې آيتونو تکميل دا دې: ﴿ قولوا آمنا بالله وما انزل الينا وما انزل الى ابراهيم واسماعيل واسحاق ويعقوب والاسباط وما اوتى موسى وعيسى وما اوتى النبيون من ربهم لا نفرق بين احد منهم ونحن له مسلمون ﴾ بقره: ۱٦ – رکوع) او د آلعمران آيت: قل يا ايها الكتاب تعالوا الى كلمة سواء بيننا وبينكم ان لا نعبد الا الله ولا نشرك به شيئاً ولا يتخذ بعضنا بعضاً ارباباً من دون الله فان تولوا فقولوا اشهدوا بانا مسلمون ﴾ رکوع: ۷) ـ يعنې رسول الله ﷺ به کله نا کله دا دوه آيتونه هم لوستل ـ په روايت د ابوداود کښې د ابو هريره په حديث کښې داسې راغلې دي چه ابو هريره د نبي عليه السلام نه واوريدل چه د صبا په سنتو کښې ئې (قل آمنا بالله وما انزل علينا وما انزل على ابراهيم الخ (العمران ۸٤) په اول رکعت کښې لوستلو او په دويم رکعت کښې ئې ﴿ ربنا آمنا بما انزلت واتبعنا الرسول فاكتبنا مع الشاهدين – آلعمران: ۵۳﴾ يا ﴿ انا ارسلناك بالحق بشيراً ونذيراً ولا تسئل عن اصحاب الجحيم بقره: ۱۱۹﴾ لوستلو صحيح ابى داود رقم (۱۱۲۲) وسنده حسن باب تخفيفهما ـ نو پدې روايت کښې د راوردیؒ (عبد العزيز بن محمد) راوی شك کړيدې، ليکن دا روايت بيهقيؒ راوړيدې بغير د انا ارسلناك نه او په هغې کښې شك نشته نو بس په هغې به عمل کيږي او انا ارسلناك بالحق به په دويم رکعت کښې نه وائي بلکه ربنا آمنا بما انزلت الخ به وائي ـ

او ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چه دا آيتونه لوستل هم سنت دي او اختصار هم سنت دې، او ددې نه سوئ نور آيتونه لوستل هم جائز دي ځکه خاص دا سورتونه او آيتونه لوستل واجب نه دي ـ

فائده بديعه: د سحر د سنتو دپاره ډير احکام او سنت طريقې دي چه مومن له د هغې اهتمام پکار دې چه هغه په فتاوى الدين الخالص (۲۹۷/۵) کښې تفصيلا ذکر شويدي، دلته مختصر

دا چه (۱) د صبا په سنتو کښې دغه سورتونه لوستل سنت عمل دے
(۲) که د شپې ئے مونځ کړے وي او که نه وي خو ددے سنتو مختصر کول سنت عمل دے۔
(۳) په ښائسته طریقے سره کول ئے پکار دي ځکه نبي علیه السلام فرمائي: دا دوه رکعاته د دنیا وما فیها نه بهتر دي (لحسنتهما کما فی الحدیث)۔
(٤) د اذان پسے متصل کول بهتر دي، په بخاري (۱/۱٥٤) د عائشے په مرفوع حدیث کښې دي: فاذا اذن المؤذن وثب فان کانت به حاجة اغتسل والا توضأ وخرج، وفی النسائی (۱/۳٥۳): کان اذا اضاء له الفجر صلیٰ رکعتین۔ **بلکه ابن عمرؓ وائي:** ویصلی رکعتین وکأن الاذان باذنیه قال حماد ای بسرعة (بخاري باب الوتر (۱/۱۳٦) (٥) په کور کښې کول ئے سنت دي۔
(٦) دا دومره اهم دي چه سفر او حضر کښې به نشي پریخوستے او نور سنتونه په سفر کښې پریخودے شي۔ (۷) د سنتو نه روستو دا دعاء درے ځل لوستل سنت دي: اللهم جبرائیل ومیکائیل ورب اسرافیل اعوذ بك من حرّ النار وعذاب القبر۔ الحاکم (۳/٦۲۲) والصحیحة (۱٥٤٤) واسناده حسن۔ دارنګه دعاء النور لوستل هم سنت دي۔ (اللهم اجعل فی قلبی نوراً وفی بصری نوراً وفی سمعی نوراً وعن یمینی نوراً وعن یساری نوراً وفوقی نوراً وتحتی نوراً وامامی نوراً وخلفی نوراً، واجعل لی نوراً (مسلم) وذکره فی الفتح بزیادات (۱۱/۹۸،۹۹)
۸– ددے سنتو نه پس خبرے جواز لري، بعض سلف ئے مکروه ګڼړي لیکن خبره ئے ضعیفه ده، عائشےؓ سره به نبي علیه السلام خبرے کولے۔
۹– د طلوع الفجر نه روستو به ددے سنتو نه سوئ هیڅ نوافل نه کیږي وهو الراجح۔
۱۰– څوك چه کور کښې دا سنت اوکړي او مسجد ته لاړشي او وقت باقي وي نو تحیة المسجد کولے شي۔ ۱۱– کله چه اقامت د مانځه اوشي نو بیا به دا سنت نه کوي، دا ندي جائز، پنځه حدیثونو کښې ددے نه منع راغلے ده، نبي علیه السلام یو سړے – چه د اقامت نه بعد ئے دا سنت کول– راخکلے دے، خپل ځائے کښې به راشي۔ ۱۲– دا سنت چه کله قضاء شي که د فرض مانځه سره وي او که د فرض مانځه نه بغیر وي، نو ددے قضاء راګرځول سنت دي۔ انظر الترمذي (۱/۹٦) وابن ماجه (٥٥٥) وابن خزیمه (۲/۱٦٥) نو کوم احناف چه د قضاء قائل ندي، هغوی خطاء وائي۔ ۱۳– ددے سنتونه پس معمولي شان ډه لګول سنت دي پدے طریقه چه په ښي طرف څملي او څنګل په زمکه اولګوي او ښے لاس د غوږ لاندے کړي۔ او که طویله ډه ولګوي نو هم صحیح ده۔

الفصل الثاني

۲۳– عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ بِبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ

الرَّحِيمِ ». رواه الترمذى، وقال: هذا حديث ليس اسناده بذاك .

ترجمه : اوابن عباس ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ به مونځ په بسم الله الرحمن الرحيم وئيلو سره شروع كولو ـ دا حديث ترمذى روايت كړيدے او وئيلي ئے دي چه ددے حديث اسناد قوى نه دے۔

تشريح : دا حديث په ظاهر كښ ددے خبرے دليل دے چه رسول الله ﷺ به بسم الله په جهر وئيله او امام ترمذى هم ددے نه دا معنى فهم كړيده ځكه ئے پدے باندے داسے باب لګولے دے : باب من رأى الجهر ببسم الله الرحمن الرحيم، ليكن دا حديث ضعيف دے او كه صحيح ثابت شي نو دلته خو جهر ندے ذكر بلكه افتتاح ذكر ده او جهر پكښ نشته۔ بلكه جهر د صحابو نه ثابت دے كله كله۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الترمذى (٢٤٥) والبزار فى مسنده ذكره الهيثمى فى كشف الاستار (١/٢٥٥) رقم (٥٢٦) قال الهيثمى (عند الترمذى انه كان يفتتح الصلاة بها لم يذكر الجهر قال البزار : تفرد به اسماعيل بن حماد بن سليمان وليس بالقوى فى الحديث وابوخالد : احسبه الوالبى) واخرج العقيلى فى الضعفاء الكبير (١/٨٠) ضمن ترجمة اسماعيل بن حماد (٨٨) وقال حديثه غير محفوظ ويحكيه عن مجهول وضعفه ابن عدى فى الكامل فى ضعفاء الرجال (١/٣٠٥) نصب الراية (١/٣٤٥)

٢٤– وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ﷺ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَرَأَ : ﴿ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ ﴾ فَقَالَ : آمِيْنَ، مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ ». رواه الترمذى وابوداود والدارمىّ وابن ماجه .

ترجمه : او وائل بن حجر ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه غير المغضوب عليهم ولا الضالين ئے ولوستو نو آمين ئے اووئيلو آواز ئے پرے اوګد كړو ـ (ابوداود، دارمي، ترمذي)

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (٤/٣١٦) والترمذى (٢٤٨) وابوداود (٩٣٢) والدارمى (١/٢٨٤) والنسائى (٢/١٢٢) وابن ماجه (٨٥٥)۔

تشريح : دا حديث مصنف ددے دپاره راوړو چه د فاتحے نه روستو آمين وئيل هم ضرورى دى، او په زوره (جهر) سره وئيل ئے هم سنت عملي دى، بيا دا آمين يو پدے موقعه كښ راغلے دے بل د دعاء نه روستو هم ډير احاديثو كښ راغلے دے، معاذ بن جبل به د فانصرنا على القوم الكافرين نه روستو لوستلو ـ او روستو به حديث راشي (اوجب ان ختم) ـ

ايقاظ الناسكين الى مسئلة الجهر والاخفاء بالتامين :

دا مسئله ډيره واضحه ده كه انصاف او دلائلو ته اوكتلے شي، هيڅ جګړه پكښ نه واقع كيږي ليكن ددے فساد په دور كښ خلقو ته ډيره مشكله شويده او د شيطان وسوسے خلقو ته زياتے

شویدی، پدے وجه په آمین بالجهر باندے داسے غلطے فتوے لګوی چه د ایمان د زائله کیدو خطره ده او د هغے پورے مسخرے کوی او پدے کښ د ضد بازئ او ډله بازئ او تعصب ښکار شی، د رسول الله ﷺ د احادیثونه نظر کټ شی حال دا چه مومن سړی له پکار دا ده چه کله یوه مسئله مینځ ته راشی نو الله او د هغه رسول ته د وراندے کړی، که په قرآن او حدیث کښ د هغے ثبوت وی نو بس آمنا وسلمنا به وائی او که نه وی، نو بیا د انکار ګنجائش شته، اوس مونږ ددے مسئلے پوره تحقیق کوو او جائزه اخلو چه کوم طرفته حق دے ؟ اول د سلفو علماؤ اختلاف بیا دلائل ذکر کیږی۔

اول خو پدے خبره ځان پو هول پکار دی چه د ټول امت مسلمه پدے باندے اتفاق دے چه که چا په مانځه کښ آمین په جهر سره اووئیلو یا ئے پټ اووئیلو نو د هغه مونځ نه فاسدیږی کما یعلم من المجموع ۔ بلکه اختلاف په استحباب کښ دے چه کوم یو عمل مستحب دے ؟ ۔

۱- قول اول : نو امام نووی فرمائی : امام بوحنیفهؒ او ثوریؒ او مالكؒ په یو روایت کښ وائی : چه په جهری مونځ کښ به په جهر سره آمین نه وائی ۔

۲- قول ثانی : او امام شافعیؒ، احمدؒ او اسحاقؒ، ابن خزیمهؒ، ابن المنذرؒ، داودؒ، او ابن الزبیرؓ فرمائی : آمین بالجهر سنت او مستحب عمل دے ۔ المجموع (۳/۳۲٤) وشرح مسلم (۱/۱۷٦) وهو قول الاکثرین قاله النووی ۔ اوس به راشو دلائلو ته ۔

دلائل الفريق الثانی : **۱- دليل**: آیت کښ راځی (يقيمون الصلاة) (واقيموا الصلاة) پدے آیت کښ د مومنانو صفت مونځ خودلے شویدے او حکم ورته شویدے په مانځه کولو سره او د الصلاة نه مراد هغه مونځ دے چه پیغمبر عملی کړیدے په صلوا کما رأیتمونی سره) الف لام په کښ عهدی دی او د پیغمبر نه په جهری مونځ کښ آمین په جهر سره په احادیثو کښ صحیح ثابت دے لکه روستو د احادیثونه واضح کیږی لهذا د قرآن نه اشارةً ۔ آمین بالجهر ثابت شو۔

۲- دليل : دا حدیث الباب دے (عن سلمة بن كهيل عن حجر بن عنبس عن وائل – رضى الله عنه – قال : كان رسول الله ﷺ اذا قال ولا الضالين قال : آمين، ورفع بها صوته وفى لفظ ومدّ بها صوته وفى رواية : فجهر بآمين، وفى رواية فسمعناها (ترمذى : ۵۸/۱) وابوداود (۱/۱۳٤) رقم (۹۳۲) وابن ماجه (۱/۱٤۲، رقم: ٦۹٦) واحمد (۳/۵۰٦)

پدے روایت کښ بعض خلق دا چا لاکی کوی وائی چه د مد بها صوته معنی دا ده چه د آمین لفظ د الف مد ئے اووئیلو، نو ددے نه جهر نه ثابتیږی، الجواب : دا خبره بے بنیاده ده، اول خو وجه دا ده چه دا احتمال غیر ظاهر دے او هیڅ دلیل پرے نشته، شیخ عبد الحق الدهلوی رحمه الله په اللمعات شرح مشكاة کښ د مد بها صوته معنی کوی : ای بكلمة آمين، يحتمل بها الجهر ويحتمل مد الالف على اللغة الفصيحة والظاهر هو الاول بقرينة الروايات الاخر ففى بعضها يرفع بها

صوته هذا صريح فى معنى الجهر، انتهىٰ ۔ المرعاة (١٥١/٣) يعني پدے لفظ کښې ظاهر احتمال دا دے چه دلته جهر د آمين مراد دے ځکه دليل پدے نور روايات دي چه په هغے کښې رفع بها صوته لفظ دے نو دے سره به څه کوے ؟ لهذا دا صريح دے په معنى د جهر کښې ۔

٢- دويم الزامي رد : که اومنو چه ددے نه مراد مد وئيل دي په الف باندے نو دا هم بعينهٖ دليل دے په جهر باندے ځکه صحابه کرام د نبي عليه السلام د آمين د مد وئيلو نه څنګه خبر شو ؟ دا په دے وجه چه هغه په جهر سره وئيلے دے نو په دوارو احتمالينو سره والحمد لله – جهر د آمين ثابت شو فتدبر ۔ ٣- دريم دا چه صحابه کرام صريح الفاظ وائي : چه مونږ واوريدو، دارنګه وائي : نبي عليه السلام جهر په آمين اوکړو، او آواز ئے پرے پورته کړو لهذا آمين بالجهر د رسول الله ﷺ سنت عمل دے او پدے قوي سندونو سره ثابت دے ۔

٣- دليل : حديث ابى هريره مخکښې تير شو : اذا امن الامام فامنوا ۔ امام شافعيؒ پدے باندے استدلال کړيدے په جهر د آمين ۔انظر المرعاة (١٥٢/٣)

فرمائي د رسول الله ﷺ پدے قول کښې چه اذا امن الامام فامنوا دلالت دے چه امام به آمين په جهر وائي ځکه مقتديان د امام د آمين وخت هله پيژني چه د هغه آمين واوري ۔

٤- دليل : حديث عائشهؓ دے : انهم – اليهود – لا يحسدوننا على شئ كما يحسدوننا على يوم الجمعة التى هدانا الله وضلوا عنها وعلى القبلة التى هدانا الله لها وضلوا عنها، وعلى قولنا خلف الامام آمين ، احمد (١٣٤/٦ ، ١٣٥) والسلسلة الصحيحة (٣١٣/٢) رقم (٦٩١) واسناده جيد ۔

وفى رواية : ما حسدتكم اليهود على شئ ما حسدتكم على السلام والتامين خلف الامام، قال الالبانى فى صفة الصلاة (٧٣) اخرجه البخارى فى الادب المفرد (٩٩١) وابن ماجه (٦٢/٢) وابن خزيمة واحمد والسراج بسندين صحيحين آهـ مطلب د حديث دا دے چه د يهوديانو صفت دا دے چه آمين بالجهر باندے غصه کيږي او خفه کيږي نو څوک چه پدے خفه کيږي په هغه کښې د يهوديانو صفت موجود دے۔ حافظ ابن عبد البرؒ ليکلي دي چه : امام احمد بن حنبلؒ به د هغه کس نه ډير سخت خفه کيدو چه چا به آمين بالجهر بد ګڼړلو، او دا به ئے وئيل چه د رسول الله ﷺ فرمان دے : چه يهوديان تاسو سره په بل هيڅ څيز دومره زيات بغض او حسد نه کوي څومره چه په آمين باندے کوي ۔ (التمهيد لابن عبد البر : ١٥/٧، والقول المقبول فى شرح وتعليق صلاة الرسول ص :٣٦٦) لابى عبد السلام عبد الرؤف)

٥- دليل : حديث ابى هريره : قال كان رسول الله ﷺ اذا فرغ من قرائة ام القرآن رفع صوته بآمين ۔ الحاكم (٢٢٣/١) وحسنه اسناده وقال على شرط الشيخين ووافقه الذهبى والسنن الكبرى (٥٨/٢) وقال العظيم آبادى اسناده صحيح ۔ التعليق المغنى على سنن الدارقطنى (٣٣٧/١) وقال الدارقطنى : هذا اسناد حسن (٣٣٥/١)

٦-دليل : عن نعيم المجمر : قال صليت وراء ابي هريرة فقرأ بسم الله الرحمن الرحيم ثم قرأ بام القرآن حتى اذا بلغ (غير المغضوب عليهم ولا الضالين) فقال : آمين، فقال الناس آمين ـ الحديث ـ وفي آخره : واذا سلم قال : والذي نفسي بيده اني لاشبهكم صلاة برسول الله ﷺ واسناده صحيح ـ رواه النسائي وكذا في المرعاة (١٥٢/٣) **نو ابو هريره رضي الله عنه سره د ټولو مقتديانو نه پيغمبري مونځ کوي او په هغې کښې په جهر سره آمين وائي نو دا اجماع د صحابه کرامو شوه په آمين بالجهر باندې ـ ٧-دليل :** عن عطاءٍ قال : امّن ابن الزبير ومن ورائه حتى ان للمسجد للجةً ـ

يعني عبد الله بن زبير – رضي الله عنه – او د هغه نه روستو مقتديانو آمين دومره په زوره اووئيلو چه مسجد اوکړنګيدو ـ او چپه ئې واخسته ـ (صحيح البخاري تعليقا : ١٠٧/١) مسند الشافعي (٢١٢،١٥) البيهقي (٥٩/٢) عبد الرزاق (٩٦/٢) ابن ابي شيبه (١٨٨/٢) وابن منذر (١٣٢/٣) ومحلى ابن حزم (٢٦٤/٣) ـ **او د بيهقي د روايت الفاظ داسې دي :** قال عطاء : كنت اسمع الائمة وابن الزبير ومن بعده يقولون آمين ومن خلفهم آمين حتى ان للمسجد للجة السنن الكبرى (٥٩/٢)ـ **٨- دليل : امام بيهقي دا هم وائي :** وروينا عن ابن عمر انه كان يرفع بها صوته اماماً كان او ماموماً (السنن الكبرى (٥٩/٢)

او دغه شان روايت د عکرمهؒ تابعي نه هم نقل شويدې ـ (ابن ابي شيبة (١٨٧/٢)

٩-دليل : ابو رافع وائي : ان ابا هريرة كان يوذن لمروان بن الحكم فاشترط عليه ان يسبقه ب (الضالين) حتى يعلم انه قد دخل الصف فكان اذا قال مروان ((ولا الضالين)) قال ابو هريرة آمين يمد بها صوته الحديث اخرجه البيهقي (٥٩/٢) وابوداود وسنده صحيح كما في السلسلة الصحيحة رقم (٢٥٣٤). **ابو هريره رضي الله عنه د مروان نه روستو په مانځه کښې آمين په جهر وئيلې دې ـ**

١٠- دليل : عن عطاء بن ابي رباح قال : ادركت مائتين من اصحاب النبي ﷺ في هذا المسجد – المسجد الحرام – اذا قال الامام : ولا الضالين، رفعوا اصواتهم بآمين (رواه البيهقي : ٥٩/٢، وابن حبان في الثقات : ٢٦٥/٦، والمرعاة : ١٢٠/٣) **عطاء بن ابي رباحؒ فرمائي : ما دوه سوه (٢٠٠) صحابه کرامؓ پدې مسجد حرام کښې موندلي دي چه کله به امام ولا الضالين اووئيلو نو دوي به په اوچت آواز سره آمين وئيلو ـ امام عطاءؒ د امام ابو حنيفهؒ استاذ دې او هغه د خپل استاذ په باره کښې داسې فرمائي :** (مارأيت مثله – ميزان الاعتدال ٧٠/٣ رقم : ٥٦٤٠) **يعني ما د عطاء په شان کس نه دې ليدلې ـ فائده : د رسول الله ﷺ د دور نه را واخله تر اوسه پورې مسجد حرام او مسجد نبوي په آمين بالجهر باندې کړنګيږي د حاجيانو نه تپوس اوکړئ ! نو چه مسجد حرام او مسجد نبوي د څوارلس سوه کالونه را پدې خوا په آمين بالجهر کړنګيږي نو بيا د احنافو مسجدونه ولې د آمين ددې خوږ آواز نه چپ او خاموشه دي ؟ !ـ**

محترمو مسلمانانو ! دا سنت ژوندي کول پکار دي او خپل مسجدونه د حرمينو شريفينو په

شان جوړول پکار دي۔

فائده ثانيه : ددے نه هم دا معلومه شوه چه آمين بالجهر منسوخ نه دے او ابن زبيرؓ چه په مسجد حرام کښ آمين بالجهر وئيلو نو دا د رسول الله ﷺ د وفات نه پس ئے وئيلے دے ځکه عطاء بن ابی رباح تابعي دے او هغه آمين په جهر سره اوريدلے دے نو آيا د رسول الله ﷺ د وفات نه پس هم ګنيے يو حکم شرعي منسوخ کيدے شي ؟ او دا دليل دے چه آمين باندے جهر کول د تعليم دپاره هم نه وو بلکه دا مستقل سنت دي ۔

په آمين بالجهر باندے د صحابه کرامو ﷺ اجماع ده :

چيلنج : علامه مبارکفوريؒ په تحفة الاحوذی (٢٠٩/١) کښ ليکي : ولم يثبت عن احد من الصحابة الاسرار بالتامين بالسند الصحيح ولم يثبت عن احد منهم الانكار على من جهر بالتامين ۔ فقد ثبت اجماع الصحابة – رضى الله عنهم – على الجهر بالتامين على طريق الحنفية فانهم قالوا : ان ابن الزبير افتى في زنجي وقع في بئر زمزم ينزح مائها، وذلك بمحضر من الصحابة ولم ينكر عليه احد فكان اجماعاً ۔ فكذلك يقال : ان ابن الزبير امّن بالجهر في المسجد بمحضر من الصحابة ولم ينكر عليه احد، بل وافقوه وجهروا معه بآمين حتى كان للمسجد للجة فكان اجماع الصحابة على الجهر بالتامين ۔

يعني د هيڅ يو صحابي نه په پټه باندے آمين وئيل په صحيح سند سره نه دی نقل او نه د هيڅ يو صحابيؓ نه په آمين بالجهر ويونکي باندے رد ثابت دے ۔ يقينا په آمين بالجهر باندے د احنافو د اصولو مطابق د صحابه کرامو اجماع شويده (وجه دا ده) چه احناف وائی : کله چه زنجي د زمزم په کوهی کښ اوغورزيدو نو عبد الله بن زبير رضى الله عنه فتوی ورکړه چه د زمزم د کوهی اوبه اوباسئ نو د ابن زبيرؓ دا خبره هيڅ يو صحابيؓ رد نه کړه نو دا اجماع شوه نو دغه شان (د احنافو ددے قاعدے مطابق) چه کله عبد الله بن زبيرؓ د صحابه کرامو په حضور کښ آمين بالجهر اووئيلو او هيڅ يو صحابي په ده باندے رد اونکړو بلکه صحابو د هغه سره موافقت اوکړو او په جهر سره ئے آمين اووئيلو تردے چه مسجد اوکړنګيدو نو په آمين بالجهر وئيلو باندے هم د صحابه کرامو اجماع راغله ۔ او مخکښ حديث د نعيم المجمر ذکر شو ۔

د آمين بالجهر باره کی د علماؤ اقوال :١- علامه ابن الهمام حنفي د هدايه په شرح فتح القدير (٢٥٧/١) طبع پاکستان (١٠٧/١) طبع مصر **کښ ليکي :** ولو كان اليّ في هذا شئ لوافقت بان رواية الخفض يراد بها عدم القرع العنيف ورواية الجهر بمعنى قولها في زبر الصوت وذيله يدل على هذا ما في ابن ماجه (٦٢/٢): كان ﷺ اذا تلا غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال : آمين ۔ حتى يسمع من في الصف الاول فيرتج بها المسجد ۔ **ترجمه :** که پدے معامله کښ ما څه اختيارولے نوما به داسے تطبيق کړے وو چه کوم روايت کښ په خکته آواز وئيل ذکر دی د هغے مطلب دا دے چه ډير په تيزه او په زوره به ئے نه وائی (چه خلقو باندے تشويش راولی) او د جهر د روايت مطلب : لږ

اوچتـول او په نرم آواز سره وئيل دى او پدے خبره باندے د ابن ماجه روايت دلالت كوى چه رسول الله ﷺ به چه كلـه غير المغضوب عليهم ولا الضالين اووئيلو نو آمين به ئے وئيلو تردے چه اول صف والـو بـه واوريدلو نو د آمين وئيلو په وجه به مسجد اوكړنگيدو (ځكه چه كله ډير نرم آوازونه يـو ځائے شى نـو دغه شان حالت جوړيږى)۔ **۲- شيخ عبد القادر جيلانى** پيران پير صاحب په خپل كتاب غنية الطالبين (۱/۱۰) كښې ليكى : والجهر بالقرائة و آمين۔

د ماښام او ماسخوتن او سحر مونځونو كښې به قرائت او آمين په جهر سره وئيلے شى ۔

۳- شيخ عبد الحق محدث دهلوىؒ په اشعة اللمعات شرح مشكاة كښې ليكى : *درباره آمين بالجهر احاديث اكثر واصح آمده است*۔ د آمين بالجهر په باره كښې ډير او زيات صحيح حديثونه راغلى دى ۔ او دغـه شان همدا شيخ عبد الحق دهلوىؒ په مدارج النبوه (۱/٤٠١)كښې رقمطراز دے : ودر آخر فاتحه آمين ميگفت در نمازجهرى به جهر ودر سرّى بخفيه ومقتديان بموافقت آمين گفتند ودرجهر بتامين در نماز جهر احاديث واقع شده ۔ يعنى رسول الله ﷺ به د سورتِ فاتحے په آخر كښې آمين وئيلو، په جهرى مانځه كښې به ئے په جهر سره وئيلو او په خفيه مونځونو كښې به ئے په قلاره آمين وئيلو او مقتديانو به هم د رسول الله ﷺ موافقت كولو او په جهرى مونځونو كښې په جهر سره آمين وئيلو كښې احاديث راغلى دى ۔ مدارج النبوة مترجم اردو ۱/۵۹٦)۔

٤- علامه عبد الحى لكهنوىؒ ليكى : والانصاف ان الجهر قوى من حديث الدليل ۔ انصاف دا دے چه د آمين بالجهر دلائل قوى دى التعليق الممجد ص (۱۰۱).

او په سعايه شرح شرح وقايه (۱/۱۳٦) كښې فرمائى : ولقد طفنا سنين بهذا البيت طراً اجمعين، فوجدنا بعد التأمل والامعان : ان القول بالجهر آمين هو الاصح، لكونه مطابقاً لما روى عن سيد بنى عدنان ورواية الخفض عنه ﷺ ضعيفة، لا توازى روايات الجهر آهـ ۔ واىّ ضرورة داعية الى حمل روايات الجهر على بعض الاحيان او الجهر للتعليم، مع عدم ورود شئ من ذلك فى رواية ۔ والقول : بانه كان فى ابتداء الامر اضعف لان الحاكم قد صححه من رواية وائل بن حجر – رضى الله عنه – وهو انما اسلم فى آواخر الامر كما ذكره ابن حجر فى فتح البارى انتهى ۔ وانظر المرعاة ايضاً (۳/۱۵٦) ۔ يعنى : مونږ ډير اوگرځيدو لـكه څنگه چه تاسو اوگرځيدئ ډير كلونه، ليكن پس د غور او فكر نه دا خبره مونږ تـه ثابتـه شوه چه په زوره آمين وئيل ډير زيات صحيح يعنى بهتر دى، ځكه چه د رسول الله ﷺ د قول او فعل سره مطابق دى، او په پټـه آمين وئيلو كښې چه كوم حديثونه راغلى دى هغه ضعيف دى او هغه د جهر د رواياتو سره نشى برابريدے ۔ **بيا** وائى : او دے خبرے تـه هيڅ ضرورت نشته چه (احناف وائى) آمين ئے كله كله وئيلے دے، او يا ئے آمين د تعليم دپاره پـه جهر وئيلے دے ځـكـه دا دواړه خبرے پـه هيڅ روايت كښې ندى راغلى، او دا خبره خو ډيره ضعيفه ده چه څوك وائى چه آمين بالجهر په ابتداء د اسلام كښې وو (او بيا منسوخ شو) ځكه

چه امام حاکمؒ په صحیح سند سره د آمین بالجهر روایت د وائل بن حجرؓ نه راوړیدے او وائل بن حجرؓ د نبی کریم ﷺ د زندګئ په آخر کښې ایمان راوړیدے لکه څنګه چه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښې ذکر کړیدی آه۔

۵- شاه اسماعیل شهید رحمه الله په خپل کتاب تنویر العینین ص (۷۱) کښې لیکی :
ان الجهر بالتامین اولیٰ من خفضه ۔ (په زوره آمین وئیل د پټ وئیلو نه غوره دی) ۔

۶- اشرف علی تهانوی صاحب په امداد الفتاوی کښې د یو سوال په جواب کښې لیکی : **سوال** : آمین بالجهر کهنا جائز هے یا نهین ؟ **جواب** : جائز هے جیسا که عدم رفع بهی جائز هے او مرجح احد الشقین کا تحقیق هے یا تقلید ۔ **سوال** : آمین په زوره وئیل جائز دی او که نه ؟ ۔
جواب : جائز دی لکه څنګه چه په پټه وئیل جائز دی، په دے دواړو جانبینو کښې ترجیح ورکول د تحقیق د وجے نه دی یا د تقلید د وجے نه ۔ (امداد الفتاوی (۱/ ۱۴۸) ۔

۷- مولوی محمد احمد حنفی د ترمذی په فارسی شرح کښې څلور واړه مذاهب بیانوی لیکی : د آمین بالجهر روایات زیات او ډیر صحیح دی ۔ (ابکار المنن ص : ۱۱۹، آمین بالجهر للشیخ محمد یحیی گوندلوی ص (۱۷۴)

د آمین بالخفیه دلائل او د هغے جائزه : احناف وائی : آمین دعاء ده لکه عطاءؒ فرمائیلی دی : چه آمین دعاء ده (صحیح بخاری ۱/ ۱۰۷) **لهذا** د قرآن د درے آیاتونو نه ثابتیږی چه آمین به په پټه وئیلے شی، آیتونه دا دی : ۱- ادعوا ربکم تضرعاً وخفیة الایة ۔ الاعراف)
۲- واذکر ربك فی نفسك تضرعاً وخیفة ودون الجهر من القول الآیة (الاعراف)
۳- قال قد اجیبت دعوتکما الآیة (یونس) **الجواب** : دا آیتونه حق دی خو ددے نه د آمین په قلاره وئیلو باندے استدلال کول غلط او باطل دی او ددے ډیر وجوه دی : (۱) اوله وجه : هر کله چه د آمین بالجهر په باره کښې صحیح ، محکم او غیر منسوخ احادیث موجود دی نو ددے په مقابل کښې په دغه ذکر شوو آیتونو باندے د آمین بالاخفاء دپاره استدلال کول جهالت، حماقت او په دین کښې تناقض او تقابل پیدا کول دی ځکه که اومنو چه آمین دعاء ده نو په کوم پیغمبر چه دغه ذکر شوی آیتونه نازل شوی دی همدغه پیغمبر مونږ ته دا وئیلی دی چه آمین په جهر او زوره سره وایئ او هغه په خپله هم آمین په جهر سره وئیلے دے لکه مخکښې د صحیح بخاری (۱/ ۱۰۷) روایت کښې او د امام عطاء په قول کښې تیر شو۔ **دغه** شان ابو هریره عمل پدے خبره ګواه دے چه هغه به په مروان خلیفه باندے دا شرط لګولے وو چه ما نه به آمین مخکښې نه وائے او ابو هریره به آمین په زوره وئیلو ۔ اوګوره مصنف عبد الرزاق (۲/ ۹۶) ابن ابی شیبة (۲/ ۴۲۵) والکبری للبیهقی (۲/ ۵۹) وتنقیح التحقیق (۲/ ۳۱۸) او د امام عطاءؒ روایت – چه صحابه کرامو به په مانځه کښې په زوره آمین وئیلو په صحیح بخاری کښې دے (۱/ ۱۰۷) السنن الکبری للبیهقی

(۸۵/۱) رقم (۲٤٥٤)

لهذا هر کله چه په احادیثو کښې آمین بالجهر ثابت شو نو ددے په مقابله کښې د قرآن کریم په عموماتو باندے استدلال کول صحیح نه دی ځکه دا د احادیثو او د قرآن کریم ټکراؤ او تناقض او اختلاف پیدا کول دی او دا طریقه د باطل پرست اهل زیغو ده ، که یو باطل پرست اووائی چه قرآن کریم کښې راغلی دی (ان الصلاة كانت على المومنين كتاباً موقوتاً) مونځ په خپل وقت مقرر دے نو تاسو په عرفات او مزدلفه کښې ولے جمع بین الصلاتین کوئ ۔ نو احناف به ورته څه جواب کوی ؟ ضرور به ورته دا وائی چه آیت هم صحیح دے او احادیث هم صحیح دی خو ددے آیت نه د جمع بین الصلاتین احادیث مستثنی دی ۔ نو دغه شان دِے دلته هم اووئیلے شی چه آمین بالجهر مستثنی دے ددے آیتونو نه دا هله چه مونږ اومنلو چه آمین دعاء ده ۔

دویم جواب : د احنافو د خیال مطابق ددے آیتونو نه خو معلومه شوه چه هر قسمه دعاء په پټه کول پکار دی نو اوس زمونږ سوال دا دے چه بیا ولے رسول الله ﷺ په جهر سره دعاء ګانے کولے ؟ دغه شان صحابه کرامو او تابعینو ولے په جهر سره دعاء کوله ؟ مثلاً هغه به په جهری فرض مانځه کښې سوره فاتحه په جهر وئیله او هغے کښې اهدنا الصراط المستقيم دعاء ده او احناف ئے هم ښه په زوره وائی او د فرض مانځه نه پس ئے ډیرے دعاګانے کړی دی او صحابه کرامو به ترے هغه اوریدلے ۔ قنوت نازله کښې ئے دعاء ګانے په جهر کړیدی ۔

ددے نه معلومیږی چه په هره دعاء باندے جهر کول د قرآن کریم خلاف نه دی ۔

دریم جواب : نه منو دا خبره چه آمین دعاء ده بلکه دا د دعاء دپاره خاتم او طابع (مهر) دے لکه روستو په حدیث د ابوزهیر النمیری کښې به راشی (اوجب ان ختم) یعنی دا مهر د دعاء دے ۔ نو آمین به تابع وی د دعاء که دعاء په جهر وئیلے شی نو آمین به هم په جهر وئیلے شی او که دعاء په پټه اووئیلے شی نو آمین به هم په پټه وئیلے شی ۔

او آمین دعا نه ده ولے که دا مستقله دعاء شی نو بیا احنافو له پکار دی چه څوك صرف آمین آمین وائی نو هغه ته دِے هم دعاء کونکے اووائی ۔

څلورم جواب : د عطاء په قول کښې تاویل دے او مطلب ئے دا دے چه آمین د دعاء مهر دے او په دعاء کښې ضروری جزء دے ، او که دعاء هم شی نو بیا هم د عطاء بل قول ته نه ګورے چه هغه وائی ما دوه سوه صحابه کرام موندلی دی چه آمین به ئے په جهر وئیلو او مصنف عبد الرزاق (۹۷/۲) کښې دی چه ابن جریج وائی : قلت لعطاء : آمين ؟ قال : لا ادعها ابداً، قال : اثر ام القرآن في المكتوبة والتطوع ؟ قال : ولقد كنت اسمع الائمة يقول على اثر ام القرآن : آمين، هم انفسهم ومن ورائهم حتى ان للمسجد للجة ۔ یعنی ما عطاء ته عرض اوکړو : آمین وئیل پکار دی ؟ هغه اوفرمایل : زه ئے هیڅ کله نه پریدم ۔ هغه بیا عرض اوکړو : په فرضو او نفلو دواړو کښې به د سورت فاتحے نه پس

آمین (په زوره) لولی ؟ ۔ عطاء اوفرمایل : ما به د امامانو نه اوریدل چه د سورت فاتحے نه پس به دوی پخپله او د دوی مقتدیانو داسے په زوره آمین وئیلو چه مسجد به کړنګار اوکړو۔

د احنافو دویم دلیل : عن علقمة بن وائل عن ابیه ان النبی ﷺ قرأ غیر المغضوب علیهم و لا الضالین فقال : آمین، وخفض بها صوته ۔ رواه الترمذی (۱/ ۵۸)

علقمه بن وائل د خپل پلار نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین اووئیلو نو (دے نه پس ئے) آمین اووئیلو او آواز ئے پرے خکته کړو۔

الجواب : دا مرکزی دلیل د احنافو دے او پدے کښ دوه تحقیقه دی یو سندی او بل معنوی۔ ددے دواړو نه به معلومه شی چه دا حدیث قابل د استدلال نه دے ۔

سندی تحقیق : ددے روایت ټول طرق د اسناد په مختلف الفاظو نقل دی او د هغه ټولو دارو مدار په امام شعبهؒ باندے دے او امام شعبه پدے روایت کښ په اسناد او متن دواړو کښ خطاء شویدے۔ په روایت د حاکم (۲/ ۲۳۲) مسند احمد (۳/ ۱۱۱) مسند ابی یعلیؒ دارقطنی (۱/ ۳۲۸)، بیهقی (۲/ ۵۷) نصب الرایه (۱/ ۲۸۹) کښ (واخفی بها صوته) الفاظ دی او د حاکم په بل روایت کښ (۲/ ۲۳۲) فی اوائل التفسیر ۔ کښ (ویخفض بها صوته) الفاظ دی او په روایت د صحیح ابن حبان (۴/ ۱۴۶) او بیهقی (۲/ ۵۸) کښ (رافعاً بها صوته) الفاظ دی او دا ټول الفاظ مختلف معانی او مصداقات لری ۔

بیا د بیهقی د روایت تائید ډیرو امامانو محدثینو کړیدے او د (اخفی بها صوته او خفض بها صوته) الفاظ پدے روایت کښ شاذ دی پدے باندے امام شعبه متفرد دے او ددے تائید هیڅ یو امام او محدث نه دے کړے نه ثقه او نه ضعیف او نه ددے روایت تائید په بل موقوف یا مرفوع حدیث کښ راغلے دے بلکه محدثینو د شعبه دغه روایت ته په ښکاره الفاظو ضعیف وئیلی دی ۔ وجه د شذوذ دا ده چه شعبه مخالفت کړیدے د درے ثقاتو او یو ضعیف راوی نه چه هغه شاګردان سلمه بن کهیل دی : ۱–اول سفیان الثوری دے دا احفظ دے د شعبه او ده د سلمه بن کهیل نه په لفظ د (رفع بها صوته) نقل کړیدے (لکه مخکښ په ادله د مثبتین کښ ذکر شو)

۲– دویم : علی بن صالح دے ده د سلمه بن کهیل نه په لفظ د (فجهر بآمین) نقل کړیدے او دده روایت په سنن ابی داود کښ راغلے دے او علی بن صالح ثقه دے ۔

۳– دریم : العلاء بن الصالح دے: امام ترمذی فرمائی : روی العلاء بن صالح الاسدی عن سلمه بن کهیل نحو روایة سفیان۔ والعلاء بن صالح ثقة وثقه ابن معین کما قال الخزرجی فی الخلاصة۔

۴– او ضعیف راوی محمد بن سلمه بن کهیل دے ۔ دده نه ئے هم خلاف کړیدے۔

امام دارقطنی د شعبه دا روایت نقل کړیدے بیا ئے وئیلی دی : هکذا قال شعبة : واخفی بها صوته، ویقال : انه وهم، لان سفیان الثوری، ومحمد بن سلمة وغیرهما رووه عن سلمة بن کهیل فقالوا : ورفع

بها صوته وهو الصواب انتهىٰ دارقطني (۳۳٤/۱) وتحفة الاحوذي (۲۱۱/۱) ۔ يعنى وئيلے شويدى چه امام شعبه پدے روايت كښې په وهم او خطائى كښې پريوتے دے ځكه چه سفيان او محمد بن سلمه او نورو محدثينو دا روايت د سلمه بن كهيل نه نقل كړيدے او هغوى ټولو وئيلى دى چه آمين ئے په اوچت آواز اووئيلو او همدا صحيح خبره ده ۔

لهذا شعبه مخالفت اوكړو د څلورو ملګرو نه نو دده روايت شاذ شو او امام شعبه اګركه ثقه دے ليكن امام سفيان الثورى دده نه اوثق دے او شعبه پدے روايت كښې خطاء شوے هم دے نو دده روايت قابل اعتبار نه شو ۔ حافظ ابن حجر عسقلانىؒ خپله فيصله پدے الفاظو سره كوى :

وقد رجحت رواية سفيان بمتابعة اثنين له، بخلاف شعبة فلذلك جزم النقاد بان روايته اصح ۔ التلخيص الحبير (۳۳۸/۱) يعنى د سفيان حديث ته (چه آمين بالجهر سره دے) د دو تائيدونو په وجه سره د شعبه په روايت باندے ترجيح وركړے شويده (او د شعبه يو متابع هم نشته) دے وجے نه د احاديثو ناقدينو امامانو مضبوطه فيصله كړيده چه د سفيان حديث ډير صحيح دے آھ ۔

علامه عبد الحى لكهنوىؒ ليكى : اتفق الحفاظ – واليهم المرجع في تنقيد الاسانيد – على ان في سنده (اى في سند حديث شعبة) خدشة وخطأ من شعبة – احد رواته – والصحيح لجهر بها وقد ثبت الجهر عن رسول الله ﷺ باسانيد متعددة يقوى بعضها بعضاً ولهذا اشار ابن الهمام في فتح القدير وتلميذه ابن امير الحاج في حلية المحلى شرح منية المصلى الى قوته روايةً الخ انتهىٰ (عمدة الرعاية ۱٦۷/۱) والمرعاة (۱٥٤/۳) **خلاصه** : دا چه د سفيان روايت راجح دے په روايت د شعبه باندے د ډيرو وجوهو نه : ۱– يو دا چه امام سفيان متابع (تائيد) موجود دے ۔ او مرفوع احاديث ئے هم تائيد كوى او د شعبه د روايت متابع نشته ۔

۲– **د امام** شعبه نه د آمين بالجهر روايت هم نقل دے د سفيان د روايت په شان لكه بيهقى په سنن كبرى (٥۸/۲) كښې نقل كړيدے : عن ابى الوليد الطيالسى ثنا شعبة عن سلمة بن كهيل، سمعت حجراً ابا عنبس يحدث عن وائل الحضرمى انه صلى خلف النبى ﷺ فلما قال : ولا الضالين، قال : آمين رافعاً بها صوته، قال البيهقى في المعرفة اسناده صحيح كما في نصب الراية (۳۷۱/۱) التعليق المغنى (۳۳۷/۱) والسنن الكبرى (٥۸/۲) ۔ وانظر فتاوى الدين الخالص (۱٥۹/٤) ۳– امام شعبه پدے روايت كښې په وهم او اضطراب كښې پريوتے دے كله (خفض) روايت كوى او كله (اخفى) او كله (جهر بها صوته) روايت كوى لهذا د شعبه هغه روايت له به اعتبار وى چه د نورو موافق وى۔

٤– د علماؤ پدے اتفاق دے چه كله د سفيان او شعبه ترمينځه اختلاف راشى نو د سفيان روايت ته به ترجيح وركولے شى او صرف د هغه روايت به قابل قبول وى نه د شعبه ۔ لكه دا خبره ډيرو علماؤ كړيده : ۱– ابن معين فرمائى : اذا خالف شعبة سفيان فالقول قول سفيان، نصب الراية (۳٦۹/۱) ۔ واعلام الموقعين (۳٥۷/۲) والتعليق المغنى لشمس الحق العظيم آبادى كله چه د شعبه او

سفيان اختلاف راشي نو د سفيان قول به معتبروي ـ
او دغه شان خبره امام احمد رحمه الله ٣– امام يحيى بن سعيد رحمه الله.
٤–امام ابن عيينه رحمه الله ـ ٥– امام صالح بن جزره رحمه الله ـ
٦–امام ابوداودؒ فرمائي : په هيڅ ځيز کښې د سفيان او شعبه اختلاف نه دے راغلے مگر په هغے کښې سفيان کامياب شويدے او امام شعبه په پنځوس (٥٠) حديثونو کښې د سفيان نه خلاف کړيدي چه په هغے کښې خبره د سفيان معتبره ده ـ (سير اعلام النبلاء : ٧/٢٤٠) وشرح علل الترمذي (١٢٥) ٧– ابوزرعه رحمه الله. ٨– امام ابوحاتم رحمه الله. (مقدمة الجرح والتعديل : ٦٦) ٩– امام ابن حجرؒ فرمائي : هو اتقن واحفظ من شعبة (فتح الباري : ٩/٤٦٨)
دے ټولو اقوالو نه معلومه شوه چه د سفيانؒ روايت (چه آمين بالجهرذكروي) راجح دے د شعبةؒ د روايت نه ـ **معنوي تحقيق** : دا روايت د سند په لحاظ خو ضعيف دے ليكن ددے سره سره دا د احنافو دپاره دليل نشي جوړيدے ځکه چه پدے روايت کښې خفض لفظ راغلے دے او د خفض معنى په لغت کښې په آرام سره آواز کولو ده ليکن چه ډير اوچت نه وي لکه هدايه مولا د اذان د ترجيع معنى ذكر كوي : هو ان يرجع فيرفع صوته بالشهادتين بعد ما خفض بهما – هدايه : (١/٨٧) (يعني چه شهادتين به يو ځل په آرام سره اووائي او بيا به وربانددے آواز اوچت کړي -- او ظاهره خبره ده چه په اذان کښې د مؤذن اول ځل شهادتين هم اوريدلے شي ليکن د دويم ځل په نسبت باندے لږ په ټيټ او خکته او آرام آواز سره وي ـ
او د احنافو لوئي عالم ابن الهمامؒ حنفي هم دا معنى اخستے ده لکه د هغه عبارت مخکښې ذكرشو (لو كان الي في هذا شئ لوافقت بان رواية الخفض يراد بها عدم القرع العنيف الخ) (فتح القدير (١/٢٥٧) طبع پاكستان) يعني د خفض نه مراد دا دے چه تيزه چغه پرے اونه کړے شي چه غوږونه اوكړنگوي بلكه درميانه آواز كول مراد دي ـ نو پدے کښې د پټ وئيلو هيڅ اثبات نشته ځکه د ابن همام مقصد دا دے چه آمين خو ئے په جهر وئيلے دے مگر ډيره چغه ئے پرے نه ده وهلے ـ او د اخفىٰ بها صوته نه هم استدلال صحيح نه دے يو خو دا روايت ضعيف دے دويم دا چه د اخفاء معنى هم دا ده چه تيزه چغه ئے پرے اونكړه ـ ځکه په هغے روايت کښې داسے الفاظ دي :
(فسمعته حين قال : ولا الضالين، قال : آمين واخفى بها صوته ـ (ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه کله ئے ولا الضالين اووئيلو نو آمين ئے اووئيلو او آواز ئے پرے خکته کړو) ـ
نو دے صحابي د رسول الله ﷺ ولا الضالين او آمين وئيل اوريدلي دي نو هر كله چه صحابيؓ ترے آمين واوريدلو نو دا په پټه شو او که په خکاره ؟ دا خو په خکاره شو ولے که په پټه وے نو بيا دغه صحابيؓ ځنگه واوريدو ؟ لهذا كه اومنو چه دا روايت ثابت دے نو بيا ئے هم د آمين بالجهر سره هيڅ منافات نشته ځکه دے روايتونو کښې معنى دا ده چه جهر ئے اوكړو ليكن ډير

تیز جهر نه وو بلکه آرام سره جهرئے اوکړو ـ او دا تاویل نه دے بلکه بعینه د لغت معنی ده ـ راجع (تحفة الاحوذی : ١/١٢٠) وابکار المنن (١٩٠، ٢٠١) واعلام الموقعین (٢/٣٥٧، ٣٥٨)

او په حدیث د ابوداود کښې دی : نبی علیه السلام ابوبکر ته اوفرمائیل : ارفع من صوتك شیئا او عمر ته ئے اوفرمائیل : اخفض من صوتك شیئا ـ مشکوٰة باب صلوٰة اللیل : (١/١٠٧) ـ ددے نه هم معلومیږی چه خفض اخفاء ته نه وائی ـ او دا خفض د جهر منافی نه دے ـ

٣-د احنافو دریم دلیل : عن ابی وائل، قال : کان عمر وعلی رضی الله عنهما لا یجهران ببسم الله الرحمن الرحیم ولا بالتعوذ ولا بتأمین (رواه الطحاوی (١/١٥٠) وابن جریر کما فی آثار السنن ص (١٢٥) یعنی عمر فاروقؓ او علیؓ به بسم الله اوتعوذ او آمین په جهر نه وئیلو ـ

الجواب : دا اثر ضعیف جدا دے ددے په سند کښې سعید بن المرزبان البقال دے ـ امام فلاسؒ او دارقطنیؒ متروك گرځولے دے (الکامل، الکاشف (١/٢٩٥)

٢- بخاری وائی : منکر الحدیث دے (میزان الاعتدال : ٤/٧١) ٣- ابن معین وائی : لا یکتب حدیثه ـ ٤- امام عجلی وائی : ضعیف دے ـ (تهذیب : ٤/٧١) نصب الرایة (٣/٤٤٩) او دے راوی عنعنه هم کړیده او دا مدلس راوی هم دے لهذا دده دا روایت بالکل نا منظور دے ـ ١

٤- دلیل : عن علقمة والاسود کلیهما عن ابن مسعود قال: یخفی الامام ثلاثا : التعوذ، وبسم الله الرحمن الرحیم، وآمین ـ (المحلی لابن حزم ٢/٢٠٦) ابن مسعود به آمین په پټه وئیلو ـ

الجواب : ١- دا روایت بے سنده دے او دا اتفاقی مسئله ده چه بے سنده روایت لره په دین کښې هیڅ اعتبار نه وی ـ ٢- **جواب** : مخکښې مونږ د امام ابوحنیفهؒ د استاذ (عطاء بن ابی رباحؒ) نه روایت نقل کړو چه په مسجد حرام کښې به دوه سوه (٢٠٠) صحابه کرامو آمین په جهر سره وئیلو نو هغه روایت سره به څه کوے !!ـ

٥- دلیل : دارنګه استدلال کوی په دے قول د نبی علیه السلام : لا تبادروا الامام، اذا کبر فکبروا، واذا قال : ولا الضالین، فقولوا : آمین ـ اخرجه مسلم من حدیث ابی هریرة)

وائی : امام به آمین په جهر سره نه وائی ځکه که د امام دپاره آمین بالجهر وئیل مشروع وے نو نبی علیه السلام به د مقتدیانو آمین د ولا الضالین پورے نه معلق کولے بلکه د امام د آمین پورے به ئے معلق کړے وے ـ

الجواب : دا استدلال خو بالکل ذکر کول مناسب نه دی وجه دا ده چه بل روایت کښې ذکر دی : (اذا امن الامام فامنوا) او دا صحیح او مشهور روایت دے نو په دے کښې د مقتدیانو آمین د امام د آمین پورے معلق شویدے یعنی کله چه امام آمین اووائی نو تاسو هم آمین اووایئ ـ نو امام چه فاتحه په جهر اونوستله آمین به هم په جهر اووائی نو مقتدیان به ئے واوری هغوی به هم په جهر آمین اووائی ـ نو د دغه روایت معنی دا ده چه کله امام ولا الضالین اووائی او بیا آمین

اووائي (ځکه د هغه دپاره هم آمين مشروع دے) نو تاسو آمين اووايئ ـ او د امام سره په آمين كښ په يقين سره شريك كيدل هله كيږي چه كله مقتديان د هغه آمين واوري ـ

٦- دليل : بل استدلال كوي په اثر د ابراهيم نخعيؒ باندے چه وائي : خمس يخفيهن الامام : ...... وآمين) (مصنف عبد الرزاق) **الجواب** : ابراهيم نخعيؒ تابعي دے او دا قول ئے د صحيح احاديثو خلاف دے نو هيڅ اعتبار ورله نشته ـ لكه دا خبره علامه عبد الحي لكهنويؒ په السعايه كښ هم ذكر كړيده ـ او د سكتاتو والا روايت نه استدلال كول هم خطاء دی وجه دا ده چه د ولا الضالين نه پس سكته د تراجع النفس دپاره كيږي ـ (كما صرح به قتادة فى بعض رواياته) په هغے كښ د آمين بالجهر او بالاخفاء هيڅ خبره نشته ـ راجع المرعاة (١٥٤/٣)

خلاصه دا شوه چه آمين په جهر سره وئيل د پيغمبر عليه السلام فعلي او قولي او تقريري سنت دی او د خير القرون د دور نه تر اوسه پورے په حرمين شريفين او عامه دنيا كښ پدے باندے په طريقه د تواتر سره عمل كيږي صرف يو دوه درے مملكت والا خلق پدے سنت باندے عمل نه كوي نو د هغوی خپله خوښه خو دا خبره يادول پكار دی چه دے سنت او د غه شان نور سنت طريقو ته سپك كتل او ديته رمبارے وئيل لكه دا د متعصب احنافو نه اوريدلے كيږي چه هغوی دے عمل ته انتهائي سپك ګوري او دا بهانه كوي چه پدے كار سره په مونږ باندے مونځونه ګډوډ كيږي او څوك چه آمين بالجهر كوئ هغوی ته بد بد نسبتونه كيږي، هغوی د كلي محلے د مسجدونو نه بندولے شي او په هغوی باندے د بدنامو لګولو كوششونه كولے شي بل طرفته يے دينه چرسيان، پوډريان فاسقان زناكار فاحش خلق موجود وی هغوی ته هيچا څه اونه وئيل چه دا شری دے يا فسادی دے خو چه څوك په سنت طريقه عمل كوی نو هغوی ته دا قسم ركاوټونه پيدا كولے شي ورونو ! دا د يهوديانو صفت دے چه په آمين بالجهر باندے غصه كيږي نو مسلمان بحيثيت مسلمان له پكار دی چه د كفارو د بدو صفاتو نه ځان بچ كړي او ټول شريعت ته غاړه كيدی او پدے مړو سنتو باندے ددے فساد په دور كښ عمل شروع كړي، بيا آمين بالجهر ټول دين نه دے بلكه دا د دين يوه مسئله ده او دا علامه ده د اهل حقو، پدے وجه دے مسئلے د عقيدے د مسئلے شكل اختيار كړيدے، ځنے خلق ددے د كولو په ځائے ديته سپك ګوری او كوم اهل حق چه پدے باندے عمل كوی د هغوی سپكاوے كوی هغوی مسجدونو نه بندوی ورونو ! د قيامت ورځ حقه ده د الله تعالى مخے ته به ټول انسانان اودريږی ددے تعصبونو نه ځان ساتل پكار دی بلكه پكار دا ده چه يو مسلمان ځان ته مسلمان وائي نو ددے مسئلے تحقيق دِ ے اوكړي او الله او رسول ته دِ ے مخه كړي او دغه دلائلو ته دِ ے په انصاف سره نظر اوكړي او بيا دِ ے پدے او ددے په شان نورو سنت طريقو باندے عمل شروع كړي يقينا چه دا به صحيح محب او عاشق رسول وی ـ

۲۵- وَعَنْ اَبِیْ زُهَیْرِ النُّمَیْرِیِّ، قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ذَاتَ لَیْلَةٍ، فَاَتَیْنَا عَلٰی رَجُلٍ قَدْ اَلَحَّ فِي الْمَسْأَلَةِ، فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ : اَوْجَبَ اِنْ خَتَمَ. فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ : بِأَیِّ شَیْئٍ یَخْتِمُ ؟ قَالَ : بِآمِیْنَ . رواه ابوداود .

ترجمه: او ابوزهیر النمیری ﷺ فرمائی : چه یوه شپه مونږ د رسول الله ﷺ سره اووتلو نو مونږ په یو داسې شخص باندې راغلو چه هغه په دعاء کولو کښې ډیره زاری کوله ـ رسول الله ﷺ اوفرمائیل : واجب ئې کړو که ده ختم کړو یو سړی تپوس اوکړو چه (یا رسول الله) په کوم شی سره ئې ختم کړی ؟ وې فرمائیل : په آمین سره ـ (ابوداود) ـ

د ابوزهیر النمیری ﷺ تعارف : بعض وائی : دا ابوزهیر الانماری دې چه کنیه ئې ابوالازهر دې لیکن راجح دا ده چه دا هغه نه دې او دا صحابی دې په شام کښې اوسیدلو، منذریؒ وائی : دده نوم فلان بن شرحبیل دې، ابوحاتم الرازیؒ وائی : دا په کنیه ندې مشهور نو په نوم به څه اوپیژندې شی او صرف دا یو حدیث ترې نقل دې او دا هم ضعیف دې قاله ابن عبد البرؒ ـ

تشریح : قَدْ اَلَحَّ : د الحاح نه دې په معنی د مبالغې فی السؤال سره ـ اوجب : ای اوجب الجنة لنفسه یا اوجب الاجابة للدعاء یعنی ځان دپاره ئې جنت واجب کړو یا ئې د دعاء دپاره اجابت واجب کړو، بیا دا حدیث دلیل دې چه څوك دعا غواړی نو د هغه دپاره مستحب دی چه په آخر کښې آمین ووائی، ځکه آمین ختم او مهر د دعاء دې او دا سبب د اجابت د دعاء دې ـ

او د باب سره ئې مناسبت دا دې چه فاتحه مشتمل ده په دعاء باندې نو هرڅوك چه دا اولولی امام وی او که مقتدی او که منفرد نو پخپله دعاء دِ آمین ووائی که په مانځه کښې وی او که بهرد مانځه نه وی ـ او ددې حدیث **سبب** د بیانولو دا وو چه ابو مصبح المقرئ وائی مونږ به ابوزهیر النمیری سره کیناستو او دا د صحابو نه دې، نو ښائسته خبرې به ئې کولې، نو په مونږ کښې چه به چا دعاء اوکړه نو ده به ورته اووئیل : دا دعاء ختمه کړه په آمین سره ځکه آمین په مثل د تاپې (طابع ، مهر) دې په صفحه باندې، ابوزهیر وائی : ددې په باره کښې زه تاسو ته خبر درکوم، بیا ئې دغه حدیث بیان کړو الخ ـ

درجة الحدیث : اسناده ضعیف او حسن، اخرجه ابوداود (۹۳۸) والطبرانی فی الکبیر (۲۹۷/۲۲ رقم : ۷۵۶) والدولابی فی الکنی (۳۲) وفی اسناده صبیح بن محرز قال الذهبی : تفرد عنه محمد بن یوسف الفریابی ای انه مجهول وقال ابن عبد البر فی الاستیعاب (۸۰/۴) لیس اسناد حدیثه بالقائم الخ وقال الشیخ عبید الله الرحمانی المبارکفوری : والظاهر ان هذا الحدیث لاینحط عن درجة الحسن فان محمد بن یوسف الفریابی ثقة فاضل وصبیح بن محرز مقبول، ذکره ابن حبان فی الثقات وابومصبح المقرئ ایضاً ثقة ـ او د حدیث معنی بالکل صحیح ده، ځکه پدې معنی ډیر روایات موجود دی

چه آمین په آخر د دعاء کښې وئیل مستحب دی : عن نافع عن ابن عمر : کان اذا ختم ام القرآن، قال آمین لایدع ان یؤمن اذا ختمها ویحضهم علی قولها قال وسمعت منه فی ذلك خبراً ذکره فی کنز العمال برقم (۲۲۱۹۶) عن عبد الرزاق او مخکښې حدیثونه تیر شو ۔ وانظر فتاوی الدین الخالص (۱۶۳/۴)

۲۶– وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ : اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ صَلَّى الْمَغْرِبَ بِسُوْرَةِ الْاَعْرَافِ فَرَّقَهَا فِيْ رَكْعَتَيْنِ، رواه النسائی .

ترجمه : او عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی : چه رسول الله ﷺ د ماښام مونځ په سوره اعراف سره اوکړو چه په دواړو رکعتونو کښې ئے تقسیم کړو ۔ (نسائیؒ)

تشریح : فَرَّقَهَا : یعنی تقسیم ئے کړو په دوه رکعتونو کښې، دا حدیث یو دلیل دے پدے خبره چه د ماښام مونځ رسول الله ﷺ کله نا کله اوږد هم کړیدے چه غیر مفصلات نه اوږد سورت ئے لوستلے دے نو کله نا کله پدے باندے هم عمل پکار دے خو دا اعمل اکثرو خلقو متروك کړځولے دے ۔ ۲– **دویم دلیل** دے پدے خبره چه په فرض مانځه کښې یو سورت په دوه رکعتونو کښې تقسیمولے شی، نیم په یو کښې اووائی او څه په بل کښې اووائی او پدے کښې هیڅ کراهت نشته، علامه زرقانیؒ فرمائی : امام مالكؒ دا کار مکروه ګڼړلے دے ځکه چه هغه ته پدے باب کښې حدیث ندے رسیدلے، ذکره ابن عبد البرؒ ۔ یا ورته رسیدلے دے لیکن دا ئے په بیان الجواز حمل کړیدے، لیکن اوله خبره ظاهره ده ۔ طبرانی کبیر کښې د ابوایوب حدیث کښې دی چه نبی ﷺ به ماښام مانځه کښې سوره انفال لوستلو قال الهیثمی رجاله رجال الصحیح مجمع الزوائد (۱۱۸/۲)

دا هم رد دے په قول د امام مالكؒ چه هغه اوږده سورتونه لوستل په ماښام کښې مکروه ګڼړی ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه النسائی (۱۷۰/۲) وابوداود (۸۱۲) من حدیث زید بن ثابت بمعناه والبیهقی فی الکبری (۳۹۲/۲)

۲۷– وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ، قَالَ : « كُنْتُ اَقُوْدُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ نَاقَتَهٗ فِي السَّفَرِ، فَقَالَ لِيْ : يَا عُقْبَةُ ! اَلَا اُعَلِّمُكَ خَيْرَ سُوْرَتَيْنِ قُرِئَتَا ؟ فَعَلَّمَنِيْ ﴿ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴾ وَ ﴿ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴾ قَالَ : فَلَمْ يَرَنِيْ سُرِرْتُ بِهِمَا جِدًّا، فَلَمَّا نَزَلَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ صَلَّى بِهِمَا صَلَاةَ الصُّبْحِ لِلنَّاسِ، فَلَمَّا فَرَغَ، اِلْتَفَتَ اِلَيَّ، فَقَالَ : يَا عُقْبَةُ ! كَيْفَ رَأَيْتَ ؟ ». رواه احمد وابوداود والنسائی.

ترجمه : او عقبه بن عامر ﷺ فرمائی : ما په یو سفر کښې د رسول الله ﷺ د اوښې مهار نیولو سره راخکلو (روان وم) چه نبی علیه السلام ما ته اوفرمایل : اے عقبه ! آیا زه تا ته دوه بهترین

سورتونه چه لوستلے شویدی (یعنی په ما باندے نازل شویدی) اونه ښایم ؟ نو ماته ئے اوخودل قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ۔ عقبه ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ زه پدے دواړو سورتونو سره ډیر خوشحاله اونه لیدم ۔ بیا چه کله نبی علیه السلام د سحر مانځه دپاره کوز شو نو خلقو ته ئے د سحر مونځ پدے دواړو سورتونو اوکړو، کله چه د مانځه نه فارغ شو نو ما طرفته متوجه شو او وے فرمایل : اے عقبه ! تا (ددے فضیلت) اولیدو ؟ ۔ (احمد، ابوداود، نسائی)

تشریح :كُنتُ اَقُوْدُ : یعنی ما به د رسول الله ﷺ اوښه د مخے نه راخکله ځکه لاره مشکله وه یا د هغے سر مشکل وو یا سخته تیاره وه خطره وه چه اوښه تندك اوخوری او نبی علیه السلام گوزار کړی بیا هر کله چه ده د رسول الله ﷺ سره دا احسان اوکړو نو نبی علیه السلام دده سره دینی احسان کوی نو مسئله ئے ورته بیانه کړه، دارنگه د رسول الله ﷺ عادت مبارك به دا وو چه هغه به په سفر کښ خپل ملگری ددین په فکر او زده کولو باندے مشغول کول ۔

خَیْرَ سُوْرَتَیْنِ قُرِئَتَا : یعنی داسے دوه غوره سورتونه چه د تعوذ په باب کښ لوستلے شی ددے نه بهتر نه شته او یادول ئے هم آسان دی۔

فَلَمْ یَرَنِیْ سُرِرْتُ بِهِمَا جِدًّا : یعنی زه پرے ډیر خوشحاله نه شوم ۔ یا خو وجه دا وه چه هغه ته دا واړه ښکاره شو او دده اراده وه چه اوس به راته لوئی سورت ښائی ۔ ۲- یا پدے وجه چه نبی علیه السلام کله هم پدے اهتمام نه وو کړے نه ئے په کوم مانځه کښ لوستلی وو نو ده معمولی گنړل خو کله چه رسول الله ﷺ پرے عمل اوکړو نو ده ته ئے ددے اهمیت اوخودلو چه اوگوره پدے باندے ما د سحر مونځ اوکړو او د لوئی لوئی سورتونو په ځائے مے پرے اکتفاء اوکړه نو دا ددے اهمیت ته اشاره کوی ۔ ۲- علامه سندیؒ وائی : گویا کښ زړه مشغول وو پدے وجه چه په دغه وخت کښ تیاره وه او لاره سخته وه نو زړه کښ په اکمله طریقه سرور او خوشحالی ښکاره نشوه لکه د غمژن په شان حالت وو ۔

۲- علامه توربشتیؒ وائی : نبی علیه السلام په خیر سورتین سره اشاره اوکړه چه دا حالت کښ چه عقبه پکښ مشغول دے، پدے وخت کښ د هغه دپاره دا سورتونه غوره دی ځکه دا په سفر کښ وو او د شپے تیاره زیاته وه او نبی علیه السلام دے اولیدلو چه محتاج دۍ زده کولو د دیو داسے شی ته چه په هغے سره ځان نه شر دفع کړی نو دا دواړه سورتونه ئے ورته اوخودل ځکه یو خوددے الفاظ مختصر دی او معنی ئے جامع ده او بل یادول ئے آسان دی، خو عقبه د نبی علیه السلام په هغه اشاره دماغ خلاص نه شو چه هغه دده د حال سره موافق وو نو هغه گمان اوکړو چه خیریت به په اوږدوالی د سورت سره وی چه کوم سورت لوئی وی نو هغه به ډیر غوره وی نو ځکه ئے پرے دومره خوشحالی ښکاره نه کړه خو نبی علیه السلام چه کله دا په مانځه کښ اولوستل نو یو اشاره وه ددے عظمت او خیریت ته چه دا د لوئی سورتونو په مقام باندے قائم شو ۔

۲– دویم اشاره ده چه په سفر کښې دغه شان مختصر سورتونه لوستل مناسب دی، ځکه دا حالت د مشقت وی ۔ کَیْفَ رَأَیْتَ : ای کیف وجدت وعلمت عظمة هاتین السورتین حیث اقیمتا مقام الطویلتین ۔ او دا سورتونه ئې ده ته ځلور ځل خودلی دی دوه ځائې باب فضائل القرآن (۱۸۸/۱) کښې او یو ځائې باب الذکر بعد الصلاة (۸۹) کښې او دلته پدې کښې اشاره ده چه د استاذ نه خبره په شوق سره اخستل پکار دی ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه احمد (۱۴۹/۴، ۱۵۰) وابوداود (۱۴۶۲) والنسائی (۱۵۸/۲) وابن ابی شیبة (۶۷/۱) وابن خزیمة (۵۳۵) والحاکم (۵۶۷/۱) وصححه ووافقه الذهبی ۔

۲۸– وَعَنْ جَابِرِبْنِ سَمُرَةَ ﷺ، قَالَ : کَانَ النَّبِیُّ ﷺ یَقْرَأُ فِیْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ لَیْلَةَ الْجُمُعَةِ : ﴿ قُلْ یَا اَیُّهَا الْکَافِرُوْنَ ﴾ وَ ﴿ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ﴾ . رواه فی شرح السنة . ۲۹– ورواه ابن ماجه عن ابن عمر اِلَّا اَنَّهٗ لم یذکر "لَیْلَةَ الْجُمُعَةِ".

ترجمه : او جابر بن سمره ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ به د جُمعې په شپه د ماښام په مانځه کښې قل یا ایها الکافرون او قل هو الله احد لوستلو ۔ دا حدیث شرح السنه کښې منقول دے ۔ او ابن ماجه دا حدیث د ابن عمر ﷺ نه نقل کړے دے لیکن په هغې کښې د لیلة الجمعه الفاظ نشته دے۔

تشریح : ددې حدیث نه معلومیږی چه د جمعې په شپه په ماښام مانځه کښې ئې قل یا ایها الکافرون او قل هو الله احد لوستلی دی لیکن دا حدیث ضعیف دے ۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه ابن حبان (۵۵۲) والبیهقی (۳۹۱/۲) وفی سنده سعید بن سماك بن حرب قال ابن ابی حاتم (۱/۳۲/۲) عن ابیه : متروك الحدیث، واورده ابن حبان فی الثقات وقال : الصواب : انه مرسل ای عن سماك ان النبی ﷺ فذکره ...... لیس فیه ذکر جابر آهـ ولکن عرفت ان سعیداً هذا هو متروك الحدیث ۔ او په دې روایت د ابن عمر کښې هم حافظ ابن حجر فرمائی : ان ظاهر اسناده الصحة الا انه معلول قال الدارقطنی اخطأ بعض رواته فیه والمحفوظ انه قرأ بهما فی الرکعتین بعد المغرب آهـ ۔ حافظ وائی : هغه روایت د ابن عمرؓ په ابوداود کښې په سند صحیح سره دے او ترمذیؒ ورته حسن وئیلے دے انتهیٰ ۔ انظر المرعاة (۱۶۰/۳) وتحقیق المشکاة للالبانی ۔ یعنی رسول الله ﷺ دا دوه سورتونه لوستلی دی لیکن د جُمعې قید هم په کښې نشته او د فرض مانځه قید هم پکښې نشته بلکه صحیح سند سره داسې ثابت دی چه دا ئې د ماښام په سنتو کښې لوستلی دی ۔ لکه روستو حدیث هم دغه شان راروان دے ۔

۳۰– وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ : « مَا اُحْصِیْ مَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقْرَأُ فِیْ

الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ بِ ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ﴾ وَ ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾». رواه الترمذی

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : زه نشم شمارلے چه ما څو کرتے د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه د ماښام مانځه نه پس او د سحر مانځه نه مخکښ دواړو سنتونو کښ به ئے قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد لوستلو۔ (ترمذیؒ) دے حديث لره ابن ماجه د ابو هريره رضی الله عنه نه نقل کړيدے مګر د هغه په روايت کښ "بعد المغرب" الفاظ نشته دے۔

تشريح : مَا أُحْصِيْ : ما نافيه ده يعنى زه طاقت نه لرم چه اوشمارم هغه سورتونه چه رسول الله ﷺ به د ماښام او سحر په سنتو کښ لوستل، پدے کښ اشاره ده کثرت ته نو دا دليل دے چه دا سورتونه پدے دواړو سنتو کښ لوستل مستحب دى۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، اخرجه الترمذی (٣٢) وقال حديث غريب واخرجه العقيلی فی الضعفاء الكبير (٣٨/٣) ضمن ترجمة عبد الملك بن الوليد بن معدان (٩٩٤) وقال : لا يتابع عليه بهذا الاسناد، وقد ضعفه ابوحاتم : وقال البخاری فيه نظر، وقال النسائی : ليس بالقوی، وقال الحافظ فی التقريب : ضعيف، فحديث ابن مسعود هذا ضعيف۔

٣١– ورواه ابن ماجه عن ابی هريرة إِلَّا أَنَّهُ لم يذكر بعد المغرب.

او ابن ماجه دا روايت نقل کړيدے مګر د هغوی روايت کښ بعد المغرب لفظ ندے ذکر کړے۔

او د هغے الفاظ دا دى : عن ابی هريرة ان النبی قرأ فی الركعتين قبل الفجر قل يا ايها الكافرون وقل هو الله احد ابن ماجه (٨١/١) (١١٤٨) بسند صحيح۔

درجة الحديث : ابن ماجه (١١٤٨) باسناد صحيح قاله رمضان والالبانی۔

د مصنف پدے عبارت کښ دوه ايهامه دى يو دا چه ده صرف ابن ماجه ته د ابو هريره ددے روايت نسبت کړيدے حال دا چه دا په مسلم کښ راغلے دے لکه د فصل اول په آخر کښ تير شو او ابوداود او نسائی کښ هم راغلے دے، نو صرف ابن ماجه ته نسبت جيد نه دے۔

٢– دويم دا چه ددے عبارت نه دا ښکاره کيږی چه ابن ماجه حديث د ابن مسعود نه ندے ذکر کړے بلکه صرف د ابو هريره حديث ئے ذکر کړے دے حال دا چه ابن ماجه د ابن مسعود حديث هم په باب ما يقرأ فی الركعتين بعد المغرب کښ راوړيدے، او په هغے کښ هم عبد الملك بن الوليد راوی دے، ليکن په هغه روايت کښ ورسره (فی الركعتين قبل صلاة الفجر) ندی ذکر۔

دلته حديث د ابن مسعود اګر چه ضعيف دے ليکن حديث د ابن عمر په صحيح سند راغلے دے چه رسول الله ﷺ دا دواړه سورتونه د ماښام په سنتو کښ لوستلی دی كما فی ابن ماجه (٨٣٣/١) وابی داود (١٨٥/١) او په سنة الفجر کښ روايت د ابو هريره کوم چه ابن ماجه راوړے دے صحيح دے، او مسلم هم راوړيدے او مخکښ د فصل اول په آخر کښ تير شو۔ وانظر صفة

صلاة النبى (۸۵)

۳۲– وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنَ يَسَارٍ، عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ اَحَدٍ اَشْبَهَ صَلَاةِ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ فُلَانٍ . قَالَ سُلَيْمَانُ : صَلَّيْتُ خَلْفَهُ فَكَانَ يُطِيْلُ الرَّكْعَتَيْنِ الْاُوْلَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ، وَيُخَفِّفُ الْاُخْرَيَيْنِ، وَيُخَفِّفُ الْعَصْرَ، وَيَقْرَأُ فِى الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ، وَيَقْرَأُ فِى الْعِشَاءِ بِوَسَطِ الْمُفَصَّلِ، وَيَقْرَأُ فِى الصُّبْحِ بِطُوْلِ الْمُفَصَّلِ . رواه النسائى وَرَوَى ابْنُ مَاجه اِلٰى " وَيُخَفِّفُ الْعَصْرَ ".

ترجمه : او سليمان بن يسار رحمه الله وائى ابو هريره ﷺ فرمائى : ما د هيڅ يو شخص نه روستو د رسول الله ﷺ د مانځه مشابه مونځ ندے کړے مګر د فلانى شخص نه روستو، سليمان وائى : چه ما هم د هغه شخص پسے مونځ کړيدے ـ هغه به د ماسپښين رومبنى دوه رکعتونه اوګده کول او آخرى دوه رکعتونه به ئے معمولى کول، د مازيګر په مانځه کښ به ئے تخفيف کولو، او د ماښام په مانځه کښ به ئے قصار مفصل او په ماسخوتن کښ به ئے اوساط مفصل او د سحر په مانځه کښ به ئے طوال مفصل لوستل ـ (نسائىؒ)ـ

سُلَيْمَانَ بْنَ يَسَارٍ : دا د ام المؤمنين ميمونه رضى الله عنها مولىٰ دے او دا فقيه وو، فاضل، ثقه، عابد، ورع حجه، او د کبار التابعين نه دے او د مدينے د فقهاء سبعه نه دے د سلم (۱۰۰) هجرى نه مخکښ وفات شويدے، بعض وائى : روستو د سلم نه وفات دے، په تطهير النجاسات کښ دده ترجمه تيره شويده ـ

تشريح : مِنْ فُلَانٍ: احمد په خپل روايت کښ ذکر کړيدى : لامام كان بالمدينه) شرح السنه (۲۲۰/۲) کښ دى : ان فلاناً يريد به اميراً كان على المدينة ـ يعنى د مدينے يو امير مراد دے نوم ئے عمرو بن سلمه دے او دا عمر بن عبد العزيز نه دے ځکه عمر بن عبد العزيز د ابو هريره د وفات نه روستو پيدا شويدے ـ ـ دا حديث بعض علماؤ دليل ګرځولے دے چه په ماښام مانځه کښ قصار مفصل لوستل مستحب دى ليکن مخکښ ذکر شو چه کله نا کله طوال سورتونه لوستل هم سنت دى ـ

درجة الحديث : اسناده حسن على شرط مسلم احرجه احمد (۳۰۰/۲) والنسائى (۱۶۷/۲) وابن ماجه (۸۲۷) وابن خزيمة (۵۲۰) والطحاوى فى شرح معاني الآثار (۲۱۴/۱) وابن حبان (۴۶۳) والبيهقى فى الكبرىٰ (۳۸۸/۲)

۳۳– وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ ﷺ، قَالَ : كُنَّا خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ فِىْ صَلَاةِ الْفَجْرِ، فَقَرَأَ، فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَ ةُ، فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ : لَعَلَّكُمْ تَقْرَأُوْنَ خَلْفَ اِمَامِكُمْ ؟ قُلْنَا : نَعَمْ، يَا رَسُوْلَ

اللهِ ! قَالَ : لَا تَفْعَلُوْا اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَاِنَّهٗ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا. رواه ابوداود والترمذی . وللنسائی معناه، وفی روايةٍ لابی داوٗد، قال : وَاَنَا اَقُوْلُ : مَا لِيْ يُنَازِعُنِيَ الْقُرْآنُ ؟ فَلَا تَقْرَؤُا بِشَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ اِذَا جَهَرْتُ اِلَّا بِاُمِّ الْقُرْآنِ.

ترجمه : او عباده بن صامت رضی الله عنه فرمائی : (یوه ورځ) مونږ د سحر په مانځه کښې د رسول الله ﷺ پسے ولاړ وو نو هغه چه قرائت شروع کړو نو قرائت په هغه باندے دروند شو بیا چه کله هغه د مانځه نه فارغ شو، وے فرمایل : چه شاید تاسو د امام نه روستو قرائت کوئ ؟ مونږ عرض اوکړو : آو یا رسول الله ! نبی علیه السلام اوفرمایل : د سوره فاتحے نه سوا هیڅ مه لولئ ځکه څوك چه دا سورت او نه لولی د هغه مونځ نه کیږی ۔ (ابوداود، ترمذی) ۔ نسائیؒ دا روایت بالمعنی نقل کړیدے او د ابوداود په یو روایت کښې دی : نبی علیه السلام اوفرمایل : ما (په زړه کښې) وئیل چه دا څه اوشو چه قرآن ما نه راښکلے شی، کله چه زه په اوچت آواز قرائت کوم نو تاسو سوا د سورت فاتحه نه ما سره هیڅ مه وایئ ۔

تشریح : دا حدیث واضح دلیل دے چه رسول الله ﷺ په جهری مانځه کښې مقتدیان د قرائت کولو نه منع کړل مگر فاتحه لوستل ئے ورله ضروری کړل۔

فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ: یعنی تلفظ او جهر د قرائت په نبی علیه السلام باندے مشقت او مشکل شو، په روایت د ابوداود کښې ددے تفسیر په فالتبست علیه القرائة سره راغلے دے یعنی په هغه باندے قرائت گډوډ شو ځکه خلق هم په زوره لگیاوو او نبی علیه السلام هم په زوره لگیا وو نو په داسے حال کښې ضرور انسان په قرائت کښې گډوډ کیږی او قرائت وئیل ورته مشکل کیږی۔

مظهرؒ وئیلی دی : نبی علیه السلام باندے قرائت پدے وجه گران شو چه د مقتدیانو آوازونه په قرائت باندے زیات شو ۔ نو ددے نه معلومه شوه چه سنت طریقه دا ده چه مقتدی به قرائت باندے جهر نه کوی بلکه داسے اندازه کښې به ئے وائی چه صرف ځان ته ئے اوروی ۔

لَعَلَّكُمْ : دا تپوس دے او استفهام تقریری دے، په روایت د ترمذی کښې ورسره دا دی : انی اراکم تقرأون وراء امامکم ۔ یعنی ما اولیدل چه تاسو د خپل امام پسے قرائت کولو ۔

لَا تَفْعَلُوْا اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ : دا حدیث واضح دلیل دے په وجوب د فاتحه باندے په مقتدی ۔ علامه خطابیؒ فرمائی : هذا الحدیث نص بان قرائة فاتحة الکتاب واجبة علی من صلی خلف الامام سواء جهر الامام بالقرائة او خافت بها، واسناده جید لا طعن فیه (معالم السنن : ۱/۲۰۵)۔

یعنی دا حدیث صریح دلیل دے چه په مقتدی باندے واجب دی چه فاتحه اولولی برابره ده چه امام جهر سره قرائت کوی او که پټ ۔ ددے نه نور علماء جواب ورکوی چه دلته استثناء راغلے ده او ما بعد د استثناء نه چه کوم شے ذکر وی هغه په درجه د جواز کښې وی نه په درجه د وجوب

کښې، نو نفس جواز او اباحت د فاتحې د لوستلو ثابت شو نه وجوب۔
لیکن دا جواب صحیح نه دے ځکه چه دلته د نفی نه روستو اثبات راتلل مفید د وجوب دی، دلیل پرے روستو الفاظ دی: فانه لا صلاة لمن لم یقرأ بها۔ چه د فاتحې نه بغیر مونځ نه کیږی نو فاتحه د مقتدی دپاره واجب شوه۔
شیخ عبد الحی اللکهنویؒ په سعایه کښې وائی: ثبت بحدیث عبادة وهو حدیث صحیح قوی السند، امره ﷺ بقرائة الفاتحة للمقتدی انتهیٰ۔ طحاویؒ په شرح معانی الآثار (۱/۱۵۷) کښې وائی: اما حدیث عبادة فقد بیّن الامر واخبر عن رسول الله ﷺ انه امر المامومین بالقرائة خلفه بفاتحة الکتاب۔
لیکن البانی صاحبؒ بل جواب ورکوی وائی چه دا حدیث منسوخ دے په فانتهی الناس عن القراءة سره ځکه دا قول د ابو هریرهؓ دے او هغه متأخر الاسلام دے لهذا په جهری مونځونو کښې به قرائت خلف الامام نکوی لکه دا د ابو هریرهؓ ددغه الفاظو نه معلومیږی، او په سری مونځونو کښې به قرائت کوی ځکه لاصلاة حکم دے او دا رأیه د ابن تیمیه رحمه الله هم ده۔
لیکن محدثین جواب کوی چه دا نسخ بالاحتمال ده او دا صحیح نه ده بلکه فانه لا صلاة الا بها) صریح دے او فانتهی الناس غیر صریح دے ځکه په فانتهی الناس کښې منع د قرائت نه شویده، نه د فاتحې نه نو په عام سره به خاص نشی منسوخ کولے۔ ځکه نبی علیه السلام د عام نه پس تخصیص د فاتحې اوکړو چه ما پسے به قرائت نه کوئ مگر فاتحه به خامخا لولئ۔
۲– دویم جواب دا کوی چه فانتهی الناس دا قول د زهری دے (د ابو هریره نه دے) او زهری تابعی دے او د تابعی قول حجت نه دے او که اومنو چه دا قول د ابو هریرهؓ دے نو بیا هم پدے سره نسخ نه ثابتیږی ځکه دلته نهی د قرائت ده چه فاتحه د هغې نه نبی علیه السلام مستثنی کړه۔ دارنګه د علامه عبد الحیؒ نه مخکښې مونږ نقل کړل چه دلته هغه قرائت منع دے چه هغه سبب د منازعې جوړیږی او کله چه مقتدی د ځان سره په آرام آرام فاتحه وائی نو دیکښې منع نشته۔ بله دا چه ابو هریره به فتوی د قراء ت خلف الامام ورکوله کما تقدم نو احنافو دپاره ددے نه استدلال کول بالکل صحیح نه دی ځکه د هغوی د اصولو مطابق دا حدیث منسوخ دے په عمل د ابو هریره۔ فَلَا تَقْرَؤُا بِشَيْئٍ مِنَ الْقُرْآنِ اِذَا جَهَرْتُ اِلَّا بِاُمِّ الْقُرْآنِ: یعنی کله چه زه جهر کوم نو د فاتحې نه سوا به نور هیڅ قرآن نه لولئ ددے مفهوم دا دے چه کله زه جهر د قرائت نه کوم نو بیا د فاتحې نه علاوه نور قرآن هم لوستے شئ۔
درجة الحدیث: اسناده حسن او صحیح اخرجه احمد (۵/۳۲۲) وابوداود (۸۲۳) والترمذی (۳۱۱) والطحاوی فی شرح معانی الآثار (۱/۲۱۵) والدارقطنی (۱/۳۱۸) رقم (۵) والحاکم (۱/۲۳۸) واخرج نحوه النسائی (۲/۱۱٤) او دویم روایت د ابوداود (۸۲٤) په سند کښې نافع بن محمود بن الربیع مجهول دے کما قال الذهبی، لیکن ددے ډیر شواهد او متابعات په صحیح

سندونو سره موجود دی چه صاحب المرعاة (۳/۱٦٤) تفصیلًا ذکر کړیدی ـ

٣٤– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اِنْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ فِیْهَا بِالْقِرَاءَةِ، فَقَالَ : «هَلْ قَرَأَ مَعِیَ اَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفاً ؟» فَقَالَ رَجُلٌ : نَعَمْ، یَارَسُوْلَ اللهِ ! قَالَ : اِنِّیْ اَقُوْلُ . مَا لِیْ اُنَازَعُ الْقُرْآنَ ؟ قَالَ : فَانْتَهَی النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِیْمَا جَهَرَ فِیْهِ بِالْقِرَائَةِ مِنَ الصَّلَوَاتِ حِیْنَ سَمِعُوْا ذٰلِكَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ .رواه مالك واحمد وابوداود والترمذی والنسائی . وروی ابن ماجه نحوه.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : چه رسول الله ﷺ (یو خل) د یو (جهری) مانځه نه راوګرځیدو چه په هغې کښې ئې په جهر سره قرائت کړے وو ـ وے فرمایل : آیا په تاسو کښې یو تن ما سره قرائت کړیدے ؟ یو شخص عرض اوکړو، آو ! یا رسول الله ! نبی علیه السلام اوفرمایل : ما (زړه کښې) ځان سره وئیل څه وجه ده چه قرآن مانه راخکلے شی ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه کله خلقو دا واوریدل نو په هغه مونځونو کښې چه رسول الله ﷺ په هغې کښې قرائت په اوچت آواز کولو د نبی علیه السلام سره د قرائت کولو نه منع شو ـ (مالك، احمد، ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه)

تشریح : مَا لِیْ اُنَازَعُ الْقُرْآنَ : یعنی ما وئیل چه څه وجه ده چه ما نه قرآن راخکلے شی (او ما سره جګړه کیدے شی په قرآن کښې) انازع د مجهول صیغه ده ضمیر پکښې نائب فاعل دے او القرآن مفعول ثانی دے اصل کښې فی القرآن دے یعنی مانه راخکل کیدے شی په قرائت د قرآن کښې ـ منازعه د نزع نه دے په معنی د جذب او راخکلو سره ـ

دے حدیث نه مالکیه استدلال کوی چه په جهری مونځ کښې به فاتحه خلف الامام نه لولی، او په سری کښې به ئې لولی، لیکن دا استدلال صحیح نه دے، وجه دا ده چه په دے حدیث کښې دا مسئله ده چه په جهری مونځ کښې به د امام سره په جهر قرائت نشی کولے چه خبره جګړے او منازعے ته اورسی او زمونږ اختلاف په دے کښې دے چه آیا مقتدی د ځان سره په پټه د امام نه روستو فاتحه وئیلے شی او که نه ؟ نو دا حدیث د دوی مدعٰی موافق نه دے ـ

ابن عبد البرؒ په التمهید کښې وائی : لا تکون المنازعة الافیما جهر فیه الماموم وراء الامام ویدل علی ذلك قول ابی هریرة (وهو راوی الحدیث فی ذلك) اقرأ بها فی نفسك یا فارسی ! ـ (فتح المالك بتبویب التمهید ۲/۱۳۸) ـ

علامه شوکانیؒ په نیل الاوطار (۲/۲۳۸) کښې فرمائی : استدل به القائلون بانه لا یقرأ الموتم خلف الامام فی الجهریة وهو خارج عن محل النزاع لان محل النزاع هو القرائة خلف الامام سراً

والمنازعة انما تكون مع جهر المؤتم لا مع إسراره . بیا وائی : ځکه چه په سری مونځ کښې منازعه نشی کیدے ځکه که سری مونځ کښې هم منازعه راشی نو بیا صحابه کرامو ولے په سری مونځ کښې قرائت کولو، لکه امام زهریؒ هم دا خبره کړیده چه جهری مانځه کښې خلق د قرائت خلف الامام نه منع شو، دارنګه ابو هریره ولے فتوی ورکوله چه جهری او سری مونځونو کښې فاتحه ځان سره وایه . **شیخ عبد الحی** اللکهنویؒ هم په غیث الغمام کښې د احنافو تردید کړیدے چه د منازعے معنی په جهری مانځه کښې صرف متحقق کیږی او که څوك ئے سری مانځه ته شامله وی نو دا غفلت دے د کتابونو د لغت او شروح الحدیث د امامانو نه انتهی .

په حاشیه د شرح الوقایه (۱/۱۷۴) کښې وائی : وفيه ان هذا الحديث لا يدل الا على منع القرائة المشوّشة والمنازعة لا عن مطلق القرائة ولو سراً في السرية او في الجهرية اثناء سكتات الامام ويؤيده ان راوى الحديث وهو اعلم بمفهومه يعنى اباهريرة فقد كان يفتي بقرائة الفاتحة خلف الامام سراً كما اخرجه عنه مالك ومسلم والترمذى وابن ماجه وابو داود وغيرهم آهـ .

دارنګه مخکښې تیر شو چه که اومنو چه دا حدیث د ابو هریره ترك د قرائت خلف الامام ته شامل دے په سری مونځ کښې نو بیا دا محمول دے په ما سویٰ د فاتحه او فاتحه ددے نه نبی علیه السلام مستثنیٰ کړیده، ددے دپاره چه جمع د ټولو احادیثو راشی . او نور جوابونه مخکښې مسئله کښې ذکر شویدی . نو علی کل حال دا حدیث د احنافو دپاره بالکل دلیل نشی جوړیدے .

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك (۱/۸۶،۸۷) واحمد (۲/۲۴۰) وابو داود (۸۲۶) والترمذى (۳۱۱) والنسائى (۲/۱۴۰،۱۴۱) وابن حبان (۴۵۴) واخرج نحوه ابن ماجه فى السند (۸۴۸)

(۳۵،۳۶) – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ وَالْبَيَاضِيِّ، قَالَا : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِنَّ الْمُصَلِّيَ يُنَاجِيْ رَبَّهٗ، فَلْيَنْظُرْ مَا يُنَاجِيْهِ بِهٖ ، وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ بِالْقُرْآنِ . رواه احمد .

ترجمه : او ابن عمر او بیاضی رضی الله عنهما روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : یقینا مونځ کونکے (په مانځه کښې) د خپل رب سره مناجات (جرګه) کوی نو هغه له پکار دی چه د کوم شی مناجات کوی په هغے کښې فکر اوکړی (یعنی ذکر او قرائت دِۓ د زړه په حضور او خشوع او خضوع سره کوی) او د قرآن په لوستلو کښې دِے یو په بل باندے آواز نه پورته کوی . (احمدؒ).

د البیاضی ﷺ **تعارف** : دده نوم فروه بن عمرو بن ودقه دے او بیاضه بن عامر بن زریق ته منسوب دے چه دا یو خاندان دے په انصارو کښې، عقبه او بدر او ټولو غزواتو ته حاضر شویدے رسول الله ﷺ دده او د عبد الله بن مخرمه العامری ترمینځ مواخات جوړ کړے وو او دا به رسول الله ﷺ د کجورو د اندازه کولو دپاره لیږلو، او دا په جهاد کښې د رسول الله ﷺ د دوه اسونو قائد وو هغه

به ئې راخکل، هر کال به ئې د خپلو کجورونه زر وسقه صدقه ویستله، او د علی رضی الله عنه په جنګ جمل کښې ملګرې وو. ددې نوم حافظ په اصابه (۳٤۹/۲) کښې عبد الله بن الغنام ښودلے دے.

تشریح : اِنَّ الْمُصَلِّيَ : ددې وینا سبب دا وو چه رسول الله ﷺ د رمضان په آخری لسو شپو کښې معتکف وو په یوه خیمه کښې چه په دروازه باندې ئې پوزې لګیدلې وو، او خلقو به ډله ډله مونځ کولو، نو یوه شپه ئې د هغې نه سر بهر کړو او د خلقو آوازونه په قرائت باندې پورته شوی وو نو دا ئې اوفرمایل: مونځ کونکے د خپل رب سره مناجات او جرګه کوی نو ولې په یو بل باندې جهر کوئ ځکه چه پدې کښې بل مسلمان ته ضرر رسی او د هغه خشوع خرابیږی نو پدې وجه منع اوشوه . فَلْيَنْظُرْ مَا يُنَاجِيْهِ بِهِ : یعنی سوچ او فکر دې اوکړی چه په کوم شی د الله سره جرګه کوی یعنی خپل ذکر او تلاوت ته دِ فکر کوی او په یو بل باندې په جهر کولو سره دِې خپله خشوع او حضور قلبی نه خرابوی، یعنی ادب سره دِې قرآن لولی، او خلق دِې په قرآن نه تنګوی، خو که چا یواځې قرآن لوستلو چه بل څوك دده د آواز نه نه تنګیدو نو بیا جهر سره قرآن لوستل جائز دی، او که ذ یو بل په آواز خبط راتلو او بل مسلمان ته ضرر رسیدلو نو بیا ناروا دے.

بیا دا حدیث رد کوی په مروجه ختمونو باندې چه خلق ټول په شریکه لګیا وی او د یو بل نه جلتی کوی ځکه دا نهی خارج الصلاة ته هم شامل ده چه مسلمانان به د یو بل خشوع نه خرابوی.

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اما حدیث ابن عمر فاخرجه احمد (۱۲۹،٦۷،۳٦/۲) وسنده صحیح والبزار والطبرانی فی الکبیر ایضاً واما حدیث البیاضی فاخرجه مالك فی الموطأ (۸۰/۱ رقم: ۲۹) واحمد (۳٤٤/٤) قال الهیثمی رجاله رجال الصحیح وللحدیث شاهد من حدیث ابی سعید عند النسائی ـ قال ابن عبد البر : حدیث البیاضی وابی سعید صحیحان ثابتان انتهی وانظر مجمع الزوائد (۲٦٥/۲)

۳۷– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷛، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهٖ، فَاِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوْا، وَاِذَا قَرَأَ فَاَنْصِتُوْا». رواه ابوداود والنسائیُّ وابن ماجه .

ترجمه : او ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی چه امام ددې دپاره مقرر کړې شویدې چه د هغه اقتداء اوکړې شی لهذا کله چه امام الله اکبر وائی نو تاسو هم الله اکبر وایئ او کله چه امام قرائت کوی نو تاسو خاموش شئ! (ابوداود، نسائی، ابن ماجه).

تشریح : لِيُؤْتَمَّ بِهٖ : یعنی امام دې دپاره مقرر دې چه د هغه اقتداء به کولې شی په افعالو کښې دا حدیث دلیل دې چه د امام متابعت ضروری دې نو مقارنت او مساوات او مسابقت او مخالفت د هغه نه ناروا دې مګر که دلیل شرعی ثابت وی، د هغه په مخالفت لکه د ناست سړی مونځ د

ولاړ پسے عند الضرورة جائز دے۔

فَاِذَا کَبَّرَ فَکَبِّرُوْا : یعنی کله چه هغه تکبیر تحریمه (الله اکبر) اووائی یا په حالت د انتقال کښې الله اکبر اووائی نو روستو به مقتدی الله اکبر وائی لکه په بل روایت کښې دی: ولا تکبروا حتی یکبر یعني کله چه امام د تکبیر وئیلو نه فارغ شي روستو به مقتدي تکبیر وائی۔

وَاِذَا قَرَأَ فَاَنْصِتُوْا : پدے حدیث باندے احناف وغیره استدلال کوی چه د امام د قرائت په وخت به مقتدی فاتحه وغیره نه وائی لیکن مخکښې مونږ ددے تحقیق کړیدے چه اول خو دا لفظ په نزد د بعض علماؤ ثابت نه دے ۲– بیا که دا الفاظ ثابت شي نو ددے ډیر مطلبونه مونږ مخکښې مسئله کښې بیان کړیدی ۔ ۱– یو دا چه بخاری وائی : ددے نه مراد به ماسوی د فاتحه وی ځکه فاتحه وئیل خود حدیث په بناء مستثنی دی ۔ ۲– یا دا چه انصات محمول دے په ترک الجهر کما قال البیهقی فی کتاب القرائة (۹۵) ۳– یا دا چه دا حدیث نص ندے په ترک د فاتحه کښې او احادیث د فاتحے وئیلو نصوصو دی فیقدم النص علی غیره ۔

درجة الحدیث : اسناده حسن اخرجه احمد (۴۲۰/۲) وابوداود (۶۰۴) والنسائی (۱۴۲/۲) والدارقطنی فی السنن (۳۳۷/۱رقم: ۱۰) واخرجه نحوه ابن ماجه (۸۴۶) وحسنه الالبانی بطرق فی الارواء (۳۳۳،۳۹۴)

۳۸– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ اَبِیْ اَوْفٰی، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ، فَقَالَ : اِنِّیْ لَا اَسْتَطِیْعُ اَنْ آخُذَ مِنَ الْقُرْآنِ شَیْئًا، فَعَلِّمْنِیْ مَا یُجْزِئُنِیْ، قَالَ، قُلْ : سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، وَاللهُ اَکْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ . قَالَ : یَارَسُوْلَ اللهِ ! هٰذَا لِلّٰهِ، فَمَاذَا لِیْ ؟ قَالَ، قُلْ : اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِیْ، وَعَافِنِیْ، وَاهْدِنِیْ، وَارْزُقْنِیْ، فَقَالَ هٰکَذَا بِیَدَیْهِ وَقَبَضَهُمَا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَمَّا هٰذَا فَقَدْ مَلَأَ یَدَیْهِ مِنَ الْخَیْرِ . رواه ابوداود . وَانْتَهَتْ رِوَایَةُ النسائی عِنْدَ قَوْلِهٖ : اِلَّا بِاللهِ .

ترجمه : او عبد الله بن ابی اوفی ﷺ فرمائی : چه یو شخص د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ! زه (فی الحال) د قرآن نه په څه شی یادولو باندے قادر نه یم پدے وجه ما ته یو داسے څه اوخایه چه زما دپاره کافی شي، نبی علیه السلام اوفرمایل : ته دا وایه ! : سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر ولا حول ولا قوة الا بالله۔ هغه اووئیل : یا رسول الله ﷺ دا خو د الله دپاره دی، نو زما دپاره څه دی ؟ نبی علیه السلام اوفرمایل : (ځان دپاره) دا وایه : اللهم ارحمنی الخ یعنی اے الله په ماباندے رحم اوکړه او ما په عافیت سره اوساته او ما ته هدایت اوکړه او ما ته رزق راکړه ! بیا هغه شخص دواړه لاسونو سره داسے اشاره اوکړه او هغه ئے بند کړل نو رسول الله ﷺ اوفرمایل : هر چه دا شخص دے نو ده دواړه لاسونه د نیکئ نه

ډک کړل ۔ (ابوداود) د نسائی روایت په الا باالله باندے ختم شویدے ۔

تشریح : قُلْ : سُبْحَانَ اللهِ : دا د هغه چا حکم دے چه هغه عاجز وی د قرآن او فاتحے وئیلو نه لکه نوے مسلمان وی، لا فاتحه ئے نه وی یاده کړی، نو مونځ به پدے کلماتو کوی او دا د هغه دپاره د قرائت په ځائے کافی کیږی۔ او دا حدیث دلیل دے چه په وخت د ضرورت کښ فرض ساقطیږی او ددے مثالونه احادیثو کښ موجود دی لکه قیام فرض دے لیکن که امام دِے په حالت د رکوع کښ اوموندلو نو ستا رکعت اوشو او قیام ستا نه ساقط شو دغه شان قرائت د فاتحے فرض دے لیکن که چا امام په حالت د رکوع کښ اوموندلو نو فاتحه وئیل ساقط دی، دارنګه دلته قرائت فرض دے لیکن د ضرورت د عجز په وجه قرائت ساقط شو ۔

فَقَالَ هٰکَذَا بِیَدَیْهِ : یعنی هغه سړی دا شان کار په لاسونو اوکړو یعنی په لاسونو ئے اشاره اوکړه، راوی د هغه د اشارے بیان کوی چه لاسونه ئے راغونډ کړل، یعنی دغه کلمات ئے په ګوتو اوشمارل او هره ګوته ئے راغونډه کړه په شمار د هرے کلمے باندے، بیا راوی ددے اشارے مراد بیانوی په قبضهما سره ۔ یعنی دے سړی اشاره اوکړه دے ته چه زه به دا اوامر داسے محفوظ ساتم څنګه چه یو قیمتی شے په لاسونو کښ رابندولے شی، موټے پرے بند کړی او مطلب ئے دا وو چه تا راته څه اووئیل هغه مے یاد کړل، او ځان سره مے بند اوساتل نو نه به رانه ضائع کیږی ددے وجے نه ورته رسول الله ﷺ دا اووئیل چه دے سړی د خیر نه لاسونه ډک کړل۔

بعض علماء پدے حدیث کښ دا خبره کوی چه دا سړے خو عرب وو، ده ته څنګه فاتحه نه زده کیده نو دا ئے بعیده ګنړلے ده او وئیلی ئے دی چه دا په باره د مانځه کښ ندے بلکه دا دے سړی ورد او وظیفه د نبی علیه السلام نه اخستله چه په هغے باندے به همیش والے کوی لیکن دا خبره محققین علماؤ رد کړیده چه دا نوے مسلمان دے او وخت د مانځه پرے راغلے دے نو ځکه ورته دا کلمات اوخودل شو عام محدثینو ددے نه همدا معنی فهم کړیده او ددے مطابق ئے بابونه تړلی دی۔

درجة الحدیث : اسناده حسن اخرجه ابوداود الطیالسی (۸۱۲) واحمد (۳۵۳/٤) وابوداود (۸۳۲) والنسائی (۱٤۳/۲) فروایته الی قوله ولا قوة الا باللّٰه وابن الجارود فی المنتقی (۱۸۹) وابن حبان (۱۸۰۱) والحاکم (۲٤۱/۱)۔

۳۹– وَعَنِ ابْنِ عباسٍ ﷺ، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَ اِذَا قَرَأَ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی﴾ قَالَ : سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی .رواه احمد وابوداود .

ترجمه : او عبد الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه نبی ﷺ به کله سبح اسم ربك الاعلیٰ لوستلو نو سبحان ربی الاعلیٰ به ئے (د هغے په جواب کښ) وئیل ۔ (احمد، ابوداود)

تشریح : قاعده: د قرآن د بعض آیتونو جوابونه په صحیح احادیثو کښ راغلی دی لکه فبأی آلاء ربکما تکذبان چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته اولوستلو نو هغوی غلی وو رسول

الله ﷺ ورته اوفرمايل : ستاسو ورونو (پيرانو) باندے ما دا سورت اولوستلو نو هغوى ستاسو نه ښه جواب ورکونکى وو) داسے به ئے وئيل : لا بشئ من نعمك ربنا نكذب فلك الحمد۔

مسئلة نادرة : د قرآن د آيتونو جواب په عام تلاوت کښې بهر د مانځه نه په اتفاق د علماؤ سره جائز بلکه مستحب دے۔ ٢- دارنګه نوافل سنن او وترو کښې هم لوستے شى، هر چه فرائض دى نو په دے کښې بعض اذکار په أحاديثو کښې راغلى دى لکه کله چه يو نوے نعمت په انسان باندے اوشى په مانځه کښې الحمد لله وئيلے شى كما ثبت من فعل ابى بكر فى البخارى (٩٤/١) والنسائى (١/١٧٦) باب رفع اليدين والحمد لله والثناء عليه فى الصلاة۔

(٢) د پرنجى په وخت : الحمد لله حمداً كثيراً مباركاً فيه ومباركاً عليه كما يحب ربنا ويرضىٰ يو صحابى اولوستل او نبى عليه السلام د هغے فضيلت بيان کړو ۔ روستو راځى ۔

(٣) يا لکه دا حديث د ابن عباس شو چه د سبح اسم ربك الاعلىٰ جواب ئے ورکړے دے په سبحان ربى الاعلىٰ سره ۔ (٤) امام چه کله خطاء شى نو سبحان الله وئيل د فتحه ورکولو دپاره ورته وئيلے شى ۔ التسبيح للرجال والتصفيق للنساء)

(٥) قنوت نازله په آخرى رکعت کښې لوستے شى هر قسم دعاء چه وى ۔ (عبد الرزاق : ٢/٤٤٦) او عام اوقاتو کښې د فبأى آلاء جواب، او د فبأى حديث بعده يؤمنون جواب په آمنا بالله وحده سره يا د اليس الله باحكم الحاكمين جواب په بلى وانا على ذلك لمن الشاهدين سره راغلى دى نو اوس په دے کښې اختلاف دے چه آيا دا په فرائضو کښې لوستے شى او که نه ؟

١- امام شافعىؒ او محدثين او ابن حزمؒ او امام نوویؒ وائى چه دا دعاګانے او اذکار په نوافل او فرائض ټولو کښې لوستلے شى : **دليل** : يو عموم په احاديثو کښې راغلے دے، قيد د فرائضو پکښې نشته۔ ٢- دويم دا چه دا اذکار دى او اذکار شرعيه په فرضو کښې وئيلے شى او د فرض او نفلو دومره فرق نشته۔

٢- **قول ثانى** د امام احمدؒ او ابو حنيفةؒ دے چه په فرائضو کښې به هغه اذکار وئيلے شى چه د نبى عليه السلام نه صراحةً په فرضو کښې نقل وى، وجه دا ده چه د فرضو حريم ډير قوى دے او تقاضا د اتباع د نبى ﷺ هم دا ده چه کوم اذکار په فرائضو کښې نقل وى نو بس د هغے وئيل به جائز وى، او باقى اذکار وئيل به مناسب نه وى، او د عموماتو نه په خاص عباداتو کښې استدلال کولو نه بدعات پيدا کيږى او رأى او قياس ته په باب د عبادت کښې ضرورت نشته ځکه که دا اذکار په فرضو کښې مشروع وے نو نبى عليه السلام به کړى وے او بيا به مونږ ته رانقل شوى وے ۔ انظر تمام المنة (١٨٥) او دا رأى راجح ده او کوم احاديثو کښې چه قيد د فرض نه وى راغلے يا مطلق جواب وى نو دا عمومات به حمل وى په خارج د مانځه باندے يا په نوافلو او سننو باندے ۔ اوس دے حديث ته راشه په سبحان ربى الاعلىٰ سره جواب ورکول څنګه دى ؟ :

نو دا جواب د څلورو صحابه کرامو نه نقل دے ۱ – بیهقی د علی بن ابی طالب نه نقل کړیدے چه هغه په فرضو کښې ددے جواب ورکړے دے د سحر په مانځه کښې ۔ السنن الکبریٰ (۲/۳۱۱)
۲ – ابو موسی اشعری په جُمعے مانځه کښې دا سورت اولوستلو او جواب ئے ورکړو ۔ السنن الکبری (۲/۳۱۱) باب الوقوف عند آیة الرحمة الخ
۳ – د عمرفاروق نه ٤ – او د ابن عمر او ابن زبیر نه حاکم (۲/۵۲۱) نقل کړیدے ۔
نو دا عمل د صحابه کرامو نه اجتهاداً نقل دے ځکه صحابه کوامو داسے ندی وئیلی چه مونږ نبی علیه السلام لیدلے دے چه داسے عمل به ئے کولو نو دا احادیث موقوف بمنزلة المرفوع نشو او پدے اجتهاد باندے بل دلیل دا دے چه د علی رضی الله عنه نه چا تپوس اوکړو چه آیا ته په قرآن کښې زیادت کوے ؟ نو هغه اوفرمایل: نه! انما امرنا بشیٔ فقلته ۔یعنی ما ته د یو شی حکم اوشو نو ما د هغے جواب ورکړو (ما ته اووئیل شو چه پاکی بیان کړه د خپل رب نو ما سبحان ربی الاعلی اووئیل نو پدے کښې څه بدی ده ؟) ۔
نو که چا پدے دعا باندے عمل اوکړو نو بدعت به نه وی ځکه د صحابه کرامو اجتهاد دے لیکن په فرضو کښې به دا عمل نه کوی ځکه په حدیث کښې پکښې د مکتوبه قید نّدے ثابت ۔
دغه شان مطلق احادیث دا دی : ۱ – د فبأی آلاء ربکما تکذبان جواب ترمذی رقم (۳۵۲۲) بسند صحیح ۔ ۲ – حدیث د موسی بن ابی عائشه کښې دی چه زما د کوټے په سر به یو سړی مونځ کولو چه کله به ئے الیس ذلك بقادر علی ان یحیی الموتی اووئیل نو سبحانك فبلیٰ به ئے وئیل خلقو د هغه نه تپوس اوکړو هغه اووئیل : ما دا د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی والحدیث صحیح انظر ابن کثیر (٤/٤۵۲) ۔ دے کښې هم د مکتوبه او فرض قید نشته ۔
۳ – سوره تین په آخر کښې د بلیٰ وانا علیٰ ذلك من الشاهدین جواب ورکول ضعیف حدیث کښې دی فیه رجل مجهول ۔ اخرجه ابو داود والترمذی واحمد) السنن الکبری (۲/۳۱۰) لیکن په نوافلو کښې ددے استعمالول جائز دی۔
د وجے د عموم د حدیث د حذیفه نه چه نبی علیه السلام سره ما یوه شپه مونځ کولو نو سوره بقره ئے شروع کړه تردے چه نساء، آلعمران ئے هم شروع کړو کله چه به په یو آیت تیریدو چه په هغے کښې به تسبیح وه نو تسبیح به ئے اووئیله وان مرّ بسوال سأل وان مر بتعوذ تعوّذ ثم رکع الحدیث (مسلم : ۱/۲٦٤) وانظر الآثار فی المصنف لعبد الرزاق (۲/٤۵۱) والمحلی (۳/۳۳)
نو په نوافلو کښې هر قسم دعاګانے وئیل جائز دی۔
٤ – او د فبأی حدیث بعده یؤمنون نه پس به نبی علیه السلام آمنا بالله وئیل لیکن دا حدیث ضعیف دے فیه اعرابی مجهول کما فی المرعاة (۳/۱۷۵) والاتقان للسیوطی (۱/۱۰٦) واخرجه عبد الرزاق مرسلا (۲/٤۵۲) نو فرضو کښې به ئے نه وائی۔

۵– او معاذ بن جبلؓ به د بقرې د ختمولو نه پس آمين وئيلو ـ الاتقان (۱/۱۰٦)

نو په فرائضو كښې به هغه دعاء وائي چه هغه په صحيح سند نقل وى او د فرضو قيد ورسره وى، بعض خلق د هل اتاك حديث الغاشيه په آخر كښې اللهم حاسبنى حسابا يسيرا وائى دے باره كښې هيڅ صحيح حديث نشته دا هسې اجتهاد دے نه په فرضو كښې نقل ده او نه په نفلو كښې البته نفلو كښې ئے د اجازه عامه د وجے نه لوستل جواز لرى لكه مخكښې حديث د حذيفه نه اجازه معلومه شوه ـ ددے وجے نه په فتاوى اللجنه (٦/٤٢٤) كښې دى : مقتدى چه د امام د اياك نستعين په وخت استعنا بالله وائى نو دا مشروع او جائز نه ده بلكه پدے باندے مونځ فاسديږى كله چه انسان په مسئله پوهه وى ـ وانظر فتاوى الدين الخالص (٤/٢٧٣)

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه احمد (١/٢٣٢) وابوداود (٨٨٣) واعله بالوقف على ابن عباس وفيه موقوفاً ومرفوعاً ابواسحاق السبيعي وكان اختلط واما الحاكم فقال (١/٢٦٤) صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي وقال العزيزى : هو حديث صحيح، المرعاة (٣/١٧٤) وتعليق المشكاة لرمضان (١/٢٦٥)

٤٠– وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ قَرَأَ مِنْكُمْ بِ ﴿وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ﴾ فَانْتَهٰى اِلٰى ﴿اَلَيْسَ اللهُ بِاَحْكَمِ الْحَاكِمِيْنَ﴾ فَلْيَقُلْ : بَلٰى، وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ . وَمَنْ قَرَأَ ﴿لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ فَانْتَهٰى اِلٰى ﴿اَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلٰى اَنْ يُّحْيِىَ الْمَوْتٰى﴾ فَلْيَقُلْ : بَلٰى، وَمَنْ قَرَأَ ﴿وَالْمُرْسَلَاتِ﴾ فَبَلَغَ ﴿فَبِاَىِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ﴾ فَلْيَقُلْ : آمَنَّا بِاللهِ . رواه ابوداود والترمذى الى قوله : وَاَنَا عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ .

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ فرمايلى دى : څوك چه په تاسو كښې والتين والزيتون (سورت) وائى او (دے آيت) اليس الله باحكم الحاكمين ته اورسى نو دا الفاظ دِے اووائى : بلى وانا على ذلك من الشاهدين (يعنى آو ! زه پدے باندے د ګواهى وركونكو نه يم) او څوك چه سوره لا اقسم بيوم القيامه وائى او (دے آيت) اليس ذلك بقادر على ان يحيى الموتى (يعنى آيا دا په دے باندے قادر نه دے چه مرى دوباره راژوندى كرى) ته اورسى نو اودِے وائى : آو ! (يعنى آو، هغه پدے خبره باندے قدرت لرونكے دے) او څوك چه سوره والمرسلات اووائى او (دے آيت) فبأى حديث بعده يومنون (ددے نه پس به دوى په كومه خبره باندے ايمان راوړى) ته اورسى نو اودِے وائى آمنا بالله (يعنى مونږ په الله باندے ايمان راوړيدے) (ابوداود) او ترمذى دا روايت وانا على ذلك من الشاهدين پورے نقل كړيدے۔

تشريح : اَلَيْسَ اللهُ : علامه مناوىؒ وائى : دا جواب ښكه وركول پكار دى چه دا قول په منزله د

سوال دے نو جواب ته محتاج دے او خق د خطاب دا دے چه مخاطب جواب ورکړی او د غافلانو په شان به خان نه جوړوی۔

درجة الحديث . اسناده ضعيف : اخرجه احمد (۲/ ۲٤۹) وابوداود (۸۸۷) والترمذى (۲۳٤۷) مختصراً الى قوله وانا على ذلكم الخ رفى اسناده تلميذ ابى هريرة قوى الذهن لم ينس منه الوان الابل التى سافر بها الى الحج لكنه اعرابى لم يسم كما فى ابى داود، والعجب من الذهبى انه وافق الحاكم فى التلخيص فى تصحيح الحديث فقال : صحيح وانظر تعليق المشكاة لرمضان (۱/ ۳٦٦) ۔

---

٤١ – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ، قَالَ : خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى اَصْحَابِهٖ، فَقَرَأَ عَلَيْهِمْ سُوْرَةَ الرَّحْمٰنِ مِنْ اَوَّلِهَا اِلٰى آخِرِهَا، فَسَكَتُوْا . فَقَالَ : لَقَدْ قَرَأْتُهَا عَلَى الْجِنِّ لَيْلَةَ الْجِنِّ، فَكَانُوْا اَحْسَنَ مَرْدُوْداً مِنْكُمْ، كُنْتُ كُلَّمَا اَتَيْتُ عَلٰى قَوْلِهٖ ﴿فَبِاَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ قَالُوْا : لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ، فَلَكَ الْحَمْدُ . رواه الترمذى وقال :هذا حديث غريب.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ (يوه ورځ) د خپلو اصحابو يو جماعت ته تشريف راوړو او په هغوی باندے ئے سوره رحمن د اول نه تر آخر پورے اولوستو، صحابه کرامو خاموشی اختيار کړه، (هيڅ جواب ئے نه ورکولو د قرآن د ادب پاره) نبی عليه السلام (چه کله سورت ختم کړو نو) وے فرمايل : دا سورت ما جناتو باندے په هغه شپه اولوستو چه هغوی د اسلام قبلولو او قرآن اوريدلو دپاره جمع) شوی وو او هغوی په جواب ورکولو کښں ستاسو نه بهتر وو، کله چه به زه دے آيت فبأی آلاء ربکما تکذبان (د الله کوم نعمتونه تاسو درغږن ګنړئ) ته اورسيدم نو هغوی به دا جواب ورکولو لا بشیٔ من نعمك ربنا نكذب فلك الحمد (يعنی مونږ ستا د هيڅ نعمت تکذيب نه کوو او ستا دپاره د کمال صفتونه دی) ۔ دا روايت امام ترمذیؒ نقل کړيدے او وئيلی ئے دی چه دا حديث غريب دے۔

تشريح : لَا بِشَيْءٍ : دا جواب هم په نفلو کښں او يا خارج د مانځه نه ورکول پکار دی او فرضو کښں احتياط پکار دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن لشواهده اخرجه الترمذى (۱/ ۳۲۹) وفى سنده زهير بن محمد كان الامام احمد بن حنبل لا يعرفه ولكن قال عبيد الله الرحمانى المباركفورى : لكن له شاهد من حديث ابن عمر اخرجه ابن جرير والخطيب فى تاريخه والبزار والدارقطنى فى الافراد وغيرهم وصحح السيوطى سناده كما فى فتح البيان (۹/ ۱٦۷) والمرعاة (۳/ ۱۷٦)

---

٤ – وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيِّ، قَالَ : اِنَّ رَجُلاً مِنْ جُهَيْنَةَ اَخْبَرَهُ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ

ﷺ قَرَأَ فِي الصُّبْحِ ﴿إِذَا زُلْزِلَتْ﴾ فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا، فَلَا أَدْرِيْ أَنَسِيَ أَمْ قَرَأَ ذٰلِكَ عَمْدًا . رواه ابوداود .

ترجمه : معاذ بن عبد الله الجهني (تابعي) رحمه الله فرمائي : چه د جهينه قبيلے يو شخص ما ته بيان كړيدے چه هغه د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه د سحر په مانځه كښې ئے اذا زلزلت سورت په دواړو ركعتونو كښې اولوستلو نو زه نه پوهيږم چه هغه نه هير شو او كه قصدا ئے داسے اوكړو ۔ (ابوداود)

د معاذ بن عبد الله تعارف : دا معاذ بن عبد الله الجهني المدني تابعي دے صدوق ربما يهم، (حافظ) ابن معين او ابوداود ورته ثقه وئيلے دے او ابن حبان په ثقاتو كښې ذكر كړيدے او دارقطني وائي : ليس بذالك۔

تشريح : أَخْبَرَهُ : ضمير مستتر راجع دے رجل ته او ضمير بارز معاذ ته او صحابي نه ذكر كول هيڅ ضرر نه رسوي حديث ته لان الصحابة كلهم عدول۔

فَلَا أَدْرِيْ : دے صحابي دا تردد او شك اوكړو چه د نبي عليه السلام دا يو وړوكے سورت په سحر مانځه كښې په دواړو ركعتونو كښې په هيره وو او كه قصدا وو ځكه عام عادت د نبي عليه السلام داسے نه وو چه يو سورت په دوه ركعتونو كښې اولولي، نو كيدے شي چه دائے سهوا لوستلي وي، نو بيا به دا د امت دپاره مشروع نه وي، ليكن ظاهر د حديث او د نبي عليه السلام د حال نه دا دے چه دا ئے په قصد سره لوستلي دي او امت ته ددے مشروعيت ښائي چه كله نا كله دا كار هم جائز دے او كه دا كار په سهوه شوے وے نو نبي عليه السلام باندے لازم وه چه د هغے بيان ئے امت ته كړے وے چه خبر دار دا كار جائز نه وو خو ما نه په هيره او سهوه اوشو، او دا قانون دے چه د نبي عليه السلام ټول افعال به په شريعت او عبادت باندے محمول وي تردے چه بيان راشي چه دا كار د ضرورت او سهوه په وجه شوے دے او پدے قانون باندے ډير حديثونه دليل دے او دا قول ابن حجرؒ او شوكانيؒ راجح ګرځولے دے۔

بيا ددے مطلب دا نه دے چه فاتحه ئے نه ده لوستلے او صرف پدے سورت ئے اكتفاء كړيده نه بلكه فاتحه خو صحابه كرامو ته معلومه وه چه هغے نه خو بغير مونځ نه كيږي خو دلته مسئله د ضم د سورت ده نو يو سورت په دوه ركعاتونو كښې لوستل هم جواز لري اګركه افضل دا ده چه په فرائضو كښې جدا جدا سورتونه اولوستے شي ځكه هغه د پيغمبر اكثري عمل دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (۸۱٦) وسكت عنه هو والمنذري، قال الشوكاني : ليس في اسناده مطعن بل رجاله رجال الصحيح ۔

۴۳ـ وَعَنْ عُرْوَةَ، قَالَ : إِنَّ أَبَابَكْرِ الصِّدِّيْقَ ﷺ، صَلَّى الصُّبْحَ، فَقَرَأَ فِيْهِمَا بِسُوْرَةِ الْبَقَرَةِ

فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا .رواهُ مالكٌ .

ترجمه : او عروه بن زبیر (تابعی) رحمه الله فرمائی : (یو ځل) ابوبکر صدیق د سحرمونځ کولو او په دواړه رکعتونو کښې ئې سورت بقره اولوستله (مالكؒ)

تشریح : عروه بن الزبیر التابعي الجلیل المشهور۔ دا حدیث مونږ مخکښې پیش کړے وو دے دپاره چه افضل دا ده چه د سحر مونځ په تیاره کښې شروع شي او ناوخته ختم شي لکه دا خبره امام طحاویؒ او ابن القیمؒ وغیره غوره کړے وه۔

۲– یو سورت په دوه رکعتونو کښې تقسیمول بلا کراهته جائز دی ۔

درجة الحدیث : اسناد رجاله ثقات لکن فیه انقطاع فان عروة لم یدرك ابابکر الصدیق واخرجه مالك في الموطأ (۱/۸۲ رقم : ۳۳)۔

٤٤– وَعَنِ الْفُرَافِصَةِ بْنِ عُمَيْرِ الْحَنَفِيِّ، قَالَ : مَا اَخَذْتُ سُوْرَةَ يُوْسُفَ اِلَّا مِنْ قِرَائَةِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ اِيَّاهَا فِي الصُّبْحِ، مِنْ كَثْرَةِ مَا كَانَ يُرَدِّدُهَا . رواه مالك.

ترجمه : او فرافصه بن عمیر حنفی (تابعی) رحمه الله فرمائی : ما سورتِ یوسف د عثمان بن عفان رضی الله عنه نه (په اوریدلو) یاد کړیدے ځکه هغه به دا سورت د سحر په مانځه کښې زیات لوستلو ۔ (مالكؒ)

د فرافصه تعارف : فُرافِصه بن عمیر د بنوحنیفه قبیلے نه دے، د مدینے د دویمے طبقے د اعلیٰ درجے د تابعینو نه دے، ابن حبانؒ او عجلیؒ ورته ثقه وئیلے دے او دا فرافصه بن الاحوص بن عمرو الکلبی نه دے ۔ لکه ددے ترجمه په تعجیل المنفعه (۳۳۲) کښې اوګوره ۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه په اکثرو حالاتو کښې په یو سورت باندے همیش والے کول جواز لری بیا عثمان خاص سوره یوسف ولے لوستلو ؟ نو علماؤ ددے یو حکمت دا بیان کړیدے چه رسول الله ﷺ ده ته د جنت زیرے ورکړو او دا ئے هم ورته اووئیل : علی بلویٰ تصیبه (ورسره ده ته به مصیبت هم رسیږی) او سوره یوسف کښې په یوسف علیه السلام باندے مصیبت او بلوی ذکر ده نو پدے سورت کښې دده دحال سره مناسبت دے او د مخکښې نه مصیبت دپاره ځان له تسلی ورکول او ځان ورته تیارول دی ۔ ۲– بعض وائی : سوره یوسف چه څوك لولی هغه له به الله تعالی د شهادت سعادت ورکوی او دا ډیره مجربه نسخه ده ۔ والله اعلم ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح اخرجه مالك في الموطأ (۱/۸۳ رقم :۳۵) واخرجه الشافعي ایضاً والبیهقي۔

٤٥– وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، قَالَ : صَلَّيْنَا وَرَاءَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ الصُّبْحَ، فَقَرَأَ فِيهِمَا

بِسُوْرَةِ يُوْسُفَ وَسُوْرَةِ الْحَجِّ قِرَاءَةً بَطِيْئَةً، قِيْلَ لَهُ :اِذاً لَقَدْ كَانَ يَقُوْمُ حِيْنَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ . قَالَ : اَجَلْ . رواه مالك.

ترجمه : او عامر بن ربیعه ﷺ فرمائی چه (یو ځل) مونږ د امیر المومنین عمر فاروق ﷺ نه روستو د سحر مونځ اوکړو نو هغوی په دواړو رکعتونو کښې سوره یوسف او سوره حج په آرام آرام سره اولوستلو، چا عامر رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه پدغه وخت کښې به عمر فاروق د صبا د راختو سره سمدست (مانځه ته) اودریدو ؟ (یعنی په اول وقت کښې به ئے مونځ کولو، ځکه دومره اوګد قرائت هله ممکن دے) هغوی اوفرمایل : آو ! ۔ (مالكؒ)

تشریح : عَامِرِ بْنِ رَبِيْعَةَ : دا خطائی ده په نسخو د مشکاة کښې ځکه په موجوده نسخو د مالك کښې دا عبد الله بن عامر بن ربیعه دے، علامه زرقانیؒ په شرح د موطأ کښې وئیلی دی چه دا عجلی ثقه ګنړلے دےؒ او دده پلار عامر بن ربیعه مشهور صحابی دے د آل خطاب حلیف وو ابو عبد الله ئے کنیت وه او په ټولو غزواتو کښې شریك شویدے او په سنه (۳۲ هـ) کښې وفات دے (۲۲) احادیث ترے نقل دی ۔ او دغه روایت په بیهقی کښې هم په سند د مالك باندے راغلے دے وکذا ذکره ابن الترکمانی فی الجوهر النقی ۔ او دا عبد الله په (٦) هجری کښې پیدا شویدے او د نبی علیه السلام د وفات په وخت د (٥) کالو وو او مدنی ثقه تابعی دے او دا هغه عبد الله بن عامر صحابی نه دے۔ بعض وائی دواړه نسخے صحیح دی او دواړه نقل شویدی اوله بلا واسطه ده او دویمه په واسطه د پلار ده چه عامر بن ربیعه دے ۔

بِسُوْرَةِ يُوْسُفَ : یعنی په اول رکعت کښې ئے مکمل سوره یوسف اولوستلو او په دویم رکعت کښې ئے مکمل سوره حج اولوستلو او دا مقصد معلومیږی د تپوس د یو شخص نه چه هر کله عمر دومره اوګده سورتونه لوستل نو آیا هغه به په اول د صبا کښې مانځه ته اودریدو نو هغه په جواب کښې اووئیل آو ۔ دا حدیث هم دلیل دے چه په اول وقت کښې د صبا مانځه ته اودریدل پکار دی او ناوخته ختمول پکار دی او کله ناکله اختصار هم جواز لری، او دغه شان د خلفاءِ راشدینو عادتِ مبارکه وو چه دا وس نن صبا زمانه کښې نه ښکاره کیږی۔

قِيْلَ لَهُ : ددے قائل په روایت د موطأ کښې هشام بن عروه ښودلے شویدے یا د عروه قول دے او (له) کښې ضمیر یا عبد الله بن عامر ته راجع دے او یا د هغه پلار عامر بن ربیعه ته۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه مالك فی الموطأ (۱/۸۲) رقم (۳٤) ومن طريقه البيهقی (۲/۳۸۹)

٤٦ – وَعَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ اَبِيْهِ، عَنْ جَدِّهٖ، قَالَ : مَا مِنَ الْمُفَصَّلِ سُوْرَةٌ صَغِيْرَةٌ وَلَا كَبِيْرَةٌ اِلَّا قَدْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَؤُمُّ بِهَا النَّاسَ فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ. رواه مالك.

ترجمه: او عمرو بن شعیب د خپل والد نه هغه د خپل نیکه (عبد الله) نه نقل کوی چه هغه به فرمایل: د مفصل هیڅ یو وړوکے او غټ سورت داسے نشته مګر ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے چه خلقو ته به ئے په هغے باندے په فرض مانځه کښې امامتی کوله (او هغه به ئے لوستلو). (مالك)

تشریح : مَا مِنَ الْمُفَصَّلِ : مخکښې مونږ وئیلی وو چه نبی علیه السلام د بیان د جواز په طور باندے د مفصل تمام سورتونه په مختلف اوقاتو کښې په مونځونو کښې لوستلی دی دے دپاره چه خلقو ته دا بیان کړی چه په مانځه کښې هر یو سورت لوستل جائز دی۔

درجة الحدیث : اسناده : رجاله ثقات غیر ان ابن إسحاق مدلس ولم یصرح بالتحدیث وعزو الحدیث لمالك وهم بل اخرجه ابوداود (٨١٤) ورواه البیهقی (٢/٣٨٨)

---

٤٧ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ، قَالَ : قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ بِ ﴿حٰمٓ الدُّخَانِ﴾ . رواه النسائی مرسلاً .

ترجمه: او عبد الله بن عتبه بن مسعود (تابعی) رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ د ماښام په مانځه کښې حم الدخان اولوستلو ۔ دا روایت امام نسائیؒ مرسلا نقل کړیدے (ځکه عبد الله بن عتبه تابعی دے)

تعارف د عبد الله بن عتبه : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ : دا د عبد الله بن مسعود وراره دے، مدنی الاصل دے او کوفه کښې اوسیدلے دے، د نبی علیه السلام زمانه ئے لاندے کړے ده او دا د کبار التابعین نه دے او عجلیؒ او یو جماعت ورته ثقه وئیلے دے، ابن سعدؒ وائی : کان ثقة، رفیعاً، کثیر الحدیث والفتیا، فقیهاً، مات فی ولایة بشر علی العراق سنه : ٧٤هـ)۔

ابن عبد البرؒ وائی دا عقیلی په صحابو کښې شمارلے دے لیکن غلط شویدے بلکه دا تابعی دے او د عبید الله بن عبد الله بن عتبه چه شیخ د ابن شهاب دے د هغه والد محترم دے او دا عمر فاروق په بازار باندے ګورنر مقرر کړے وو او د نبی علیه السلام په ژوند کښې پیدا شو او نبی علیه السلام ته راوستے شو هغه ورله په سر لاس راخکلو او د برکت دعاء ئے ورته اوکړه ۔

تشریح : حٰمٓ الدُّخَانِ : یعنی کله کله رسول الله ﷺ د ماښام په مانځه کښې سوره دخان هم لوستلے دے بیانا للجواز۔

درجة الحدیث : اسناده حسن، ولولا الارسال لان الراوی تابعی وحذف الصحابی لکنه اعتضد بما تقدم من قرائة السور الطویلة کالاعراف والطور والمرسلات فی المغرب (النسائی : ١/١٥٤)

باب الرکوع

رکوع په لغت کښې انحناء (سر ټيټولو) ته وائي او په اصطلاح د شرع کښې: ملا او سر برابرول لاسونه په زنګنونو کيخودل او د رکوع معنی دلته صرف انحناء نه ده بلکه معنی شرعی مراد ده يعنی کومه طريقه باندے چه نبی کريم ﷺ رکوع کړې وی نو هغه به رکوع وی باقی نفس انحناء به رکوع شرعی نه وی۔

بيا رکوع رکن دے په کتاب، سنت او اجماع د مسلمين سره۔

بعض وائی: رکوع ددے امت خصوصيت دے لکه بعض مفسرينو په آيت (وارکعوا مع الراکعين) کښې دا نکته ليکلے ده چه د راکعين نه مراد امت محمد ﷺ دے ځکه چه د يهود او نصاراؤ په مانځه کښې رکوع نه وه او هر چه وارکعی مع الراکعين دے نو د هغے نه مراد رکوع نه ده بلکه صلاة مراد دے ای صلی مع المصلی (يعنی د مونځ ګذارو په شان ته هم مونځ کوه)۔

بيا رکوع داسے عبادت دے چه خارج د مانځه نه نشته او سجده بغير د مانځه نه هم عبادت دے، لکه سجده د شکر، سجده د تلاوت وغيره۔

بيا رکوع په مانځه کښې يوه ده او سجدے دوه دی سوئ د صلاة الکسوف نه چه هلته دوه رکوع دی کما ورد بذلك احاديث کثيرة صحيحة۔ نو ددے حکمت (۱) - يو دا دے چه رکوع مقدمه او وسيله ده د سجدے دپاره او سجده کښې غايتِ تذلل او ډيره خشوع خضوع وی ځکه د انسان اشرف اندام د خپو د پائمال کولو ځائے سره اولګی، نو هر کله چه سجدهٔ کښې ډيره عاجزی وی او هغه مقصود د انسان دے نو مقصود مکررول پکار دی، نه د مقدمے او وسيلے (اقرب ما يکون العبد من ربه وهو ساجد) (۲) - صحيح وجه دا ده چه دا تعبد محض دے (ورجحه فی المرعاة ۱۸۱/۳:) يعنی ددے حکمت بيانولو ته ضرورت نشته بلکه دا خالص د الله د طرفنه عبادت دے چه په هر رکعت کښې به يوه رکوع او دوه سجدے کوئ بس دغه زما تعظيم دے۔

۳- بعض خلق وائی: سجدے ځکه مکرر شوے چه کله ملائکو آدم عليه السلام ته سجده اوکړه نو سرئے پورته کړو، وے کتل چه ابليس نه وه کړے نو ملائکو شکراً دوباره سجده اوکړه چه خه دے چه مونږ د ابليس په شان نه شو، نو بيا الله ته دا عمل خوښ شو نو بندګانو ته ئے د دوه سجدو حکم اوکړو، ليکن دا خبره تاريخی اسرائيلی ده۔

٤- بعض وائی: د تکرار وجه دا ده چه په دے کښې اشاره ده چه انسان اول ددے زمکے نه پيدا شويدے او دوباره به ديته ورګرځی نو په اول ځل ګويا کښې داسے وائی: (منها خلقتنی) اے الله تا

زه ددې نه پیدا کړې یم - او په دویمه کښې وائی : وفیها تعیدنی (او ته به مې دیته دوباره واپس کوې) او په دویم ځل پورته کیدلو کښې وائی : ومنها تخرجنی تارة اخری (او ددې زمکې نه به مې دوباره راوباسې) بیا پدې باب کښې د رکوع بعض احکام او اذکار بیانیږي -

---

۱ – عَنْ اَنَسٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَقِيْمُوا الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ، فَوَاللهِ اِنِّیْ لَاَرَاكُمْ مِنْ بَعْدِیْ .متفق علیه.

ترجمه : انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمایل : (مسلمانانو!) رکوع او سجده صحیح طریقې سره (برابره) کوئ، قسم په الله زه تاسو د خپل شا نه وینم - (بخاری ومسلم)

تشریح : فَوَاللهِ اِنِّیْ لَاَرَاكُمْ مِنْ بَعْدِیْ : یعنی رکوع او سجده برابره نیغه کوئ ملا پکښې برابره کرئ- او په سجده کښې تونګې مه وهئ ځکه زه تاسو د روستو نه وینم -

د نبی علیه السلام په معجزاتو کښې یوه معجزه دا وه چه هغه به په مانځه کښې صرف روستو صف والا لیدل، لکه دا حدیث امام بخاری په باب علامات النبوه کښې ذکر کړیدې-

۲ – بعض وائی : د نبی علیه السلام په شا (څټ) کښې د ستنې د سُم په اندازه وړې سترګې وې چه جامه وغیره د هغې نه مانع نه واقع کیده په هغې به ئې لیدل کول لیکن دا خبره صحیح نه ده، په روایاتو کښې ددې هیڅ ثبوت نشته-

او دا جمله نبی علیه السلام پدې وجه اوفرمائیله چه په بعض ملګرو کښې ئې د مانځه لنډ والې او خراب والې اولیدلو چه خشوع سره او پوره طریقې سره ئې ارکان نه ادا کول نو هغوی ته ئې ترغیب ورکړو او وې یرول چه خبردار ما ته ستاسو حال په مانځه کښې ښکاري، نو رکوع او سجده او خشوع خرابه نکړئ ! - نو ددې حدیث نه دا مسئله ثابته شوه چه امام له پکار دی چه کله په مقتدیانو کښې د مانځه متعلق څه وران کار اووینی چه په هغې تنبیه ورکړي اګرکه هغه خلاف اولیٰ کار وی ځکه دا خیر خواهی او ذمه واری ده-

سوال : دلته رسول الله ﷺ صحابه کرامؓ د خپل ځان نه یرولی دی، نه د الله تعالی نه او حال دا چه د احسان درجه خو دا ده چه د الله لیدل انسان مخې ته کړي چه ما ته ګوري نو د الله لیدل ئې ورته ولې ذکر نکړل ؟ - **الجواب** : ۱ – ددې جواب دا دې چه دلته مقصود اظهار د معجزه وه - ۲ – او بل پدې کښې تنبیه ده په لیدلو د الله تعالي هغوی لره ځکه هر کله چه هغوی پدې وجه مونځ ښائسته کړي چه مونږ ته پیغمبر ګوري نو پدې سره به د هغوی توجه الله تعالی ته نوره هم زیاته شي چه د الله لیدل خو د پیغمبر د لیدلو نه زیات دی -

۳ – دا رنګه دیته اشاره ده چه نبی علیه السلام به د قیامت په ورځ په امت باندې ګواهی کوی نو کله چه صحابو ته پته اولګی چه مونږ نبی علیه السلام وینی نو د عبادت حفاظت به کوی،

دے دپاره چه پیغمبر په هغوی باندے ښائسته ګواهي اوکړي ۔
٤- څلورم جواب : د صحابه کراموؓ په ډله کښې منافقان هم شریك وو هغوی د الله نه نه یریدل، او د نبی نه یریدل څکه هغه پړے حدود قائمول نو بعض خلق په ډنډه یریږي او بعض (صالحین) خلق په وعید یریږي «اصیل له اشاره او کم اصل له کوتك» مصداق دے ۔

۲- وَعَنِ الْبَرَاءِ ﷺ قَالَ : كَانَ رُكُوعُ النَّبِيِّ ﷺ ، وَسُجُودُهُ وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ، وَإِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ، مَا خَلَا الْقِيَامِ وَالْقُعُودِ، قَرِيباً مِنَ السَّوَاءِ . متفق عليه .

ترجمه: او براء بن عازب ﷺ فرمائی : د نبی کریم ﷺ رکوع او سجده، او د دوو سجدو په مابین کښې ناسته او کله به ئے چه د رکوع نه سر پورته کړو (دا څلور څیزونه) ما سوا د قیام او قعود نه (دا ټول) په مقدار کښې تقریبا برابر وو ۔ (بخاري ومسلم)

تشریح : مقصد د حدیث دا دے چه د رسول الله ﷺ د مانځه د اکارنو مقدار داسے وو چه رکوع، قومه، سجده او جلسه به په خپل مینځ کښې تقریبا برابر وو البته قیام کښې به ئے قرائت کولو او په تشهد کښې به ئے التحیات وئیله نو دا به اوږده وو ۔
نو پدے کښې اشاره ده چه پدے ټولو کښې به څه نا څه تفاوت او فرق ضرور وو لیکن د هغے وضاحت ئے اونکړو نو دا دلیل دے چه نبی علیه السلام به په مانځه کښې په رکوع او قومه او جلسه کښې اعتدال او طمانینت کولو اورد دے په هغه چا چه وائی رکوع رکن قصیر دے ۔ نه ! بلکه نبی علیه السلام پدے کښې ډیر اذکار وئیلی دی لهٰذا دا رکن طویل دے ۔
سوال : په بل روایت د مسلم (۱۸۹/۱) کښې خو دا دی چه دا ټول ارکان قریبا من السواء وو او دے روایت کښې ترے قیام او تشهد مستثنیٰ کړیدی ددے څه وجه ده ؟ ۔
الجواب : اصح جواب دا دے چه د نبی علیه السلام مختلف احوال وو، په اکثرو احوالو کښې به ئے قیام او تشهد اوږد وو او باقی ارکان به تقریبا برابر وو او کله کله به ئے ټول ارکان تقریبا برابر وو ۔ ۲- او د حدیث د مسلم بل مطلب دا هم دے چه بالنسبه یو بل ته نزدے وو یعنی د هر رکعت خپل اوګد والے مراد دی یعنی مناسب اوګدوالے ۔

۳- وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا قَالَ : سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه، قَامَ حَتّٰى نَقُوْلَ : قَدْ اَوْهَمَ، ثُمَّ يَسْجُدُ وَيَقْعُدُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتّٰى نَقُوْلَ: قَدْ اَوْهَمَ . رواه مسلم.

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ به چه کله سمع الله لمن حمده اووئیل نو (دومره به)

اودریدو چه مونږ به (زړه کښې) اووئیل چه نبی علیه السلام دا رکعت پریخودو (یا د هغه نه هیر شو) بیا به سجدے ته تلو او د دواړو سجدو په مابین کښې به دومره (ډیروخت پورے) ناست وو چه مونږ به اووئیل چه نبی علیه السلام دا سجده پریخوده (مسلم)

تشریح : د حدیث مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ به کله د رکوع نه سر پورته کړو نو په قومه کښې به دومره حصاریدو چه مونږ به گمان اوکړو چه گویا کښې خطاء شو او از سرِ نوئے دوباره مونځ شروع کړیدے او دغه شان په جلسه کښې به حصاریدو ۔ او دا ډیر حصاریدل به هسے نه وو بلکه اذکار به ئے پکښې کول، او دا حدیث دلیل دے چه امام به ربنا لك الحمد هم وائی کما تقدم څکه دومره وخت حصاریدلو کښې به ضرور ربنا ولك الحمد سره نور اذکار وئیلی وی، او دا فرض مونځ دے۔

قَدْ اَوْهَمَ : فعل ماضی معلوم دے ۔ امام جزرئ فرمائی : اوهم فی صلاته، ای اسقط منها شیئاً یقال اوهمت الشئ اذا ترکته، واوهمت فی الکلام والکتاب اذا اسقطت منه شیئاً، ووهم بکسر الهاء وَهَماً بالتحریك اذا غلط ۔ یعنی په حالت د استواء کښې به دومره وخت تیرولو چه مونږ به گمان اوکړو چه ده هغه رکعت ساقط او پریخودلو کوم دپاره ئے چه رکوع اوکړه او بیرته قیام ته واپس شو ۔ ابن الملك وائی: اوهمته اذا اوقعته فی الغلط ۔ نو دا بیا صیغه د مجهول ده ای اوقع علیه الغلط ووقف سهوا انتهیٰ ، یعنی په خطائی کښې واقع شو او په سهوه سره اودریدو۔

٣– یا معنی ئے نسیان ده ای نسی وجوب الهوی الی السجود او نسی انه فی صلاة او ددے تفسیر په نسیان سره په بل روایت کښې راغلے دے ۔

پدے سنت باندے عام مقلدین (شوافع او احنافو وغیرهم) عمل پریخے دے، بعض متأخرین احناف لا پکښې دا باجه غروی چه پدے احادیثو کښې راوی مبالغه کړیده۔

الجواب : صحابه کرامو د نبی علیه السلام د مانځه متعلق هیڅکله هم مبالغے ندی کړی، دا مبالغے خو دروغ دی آیا دا د صحابه کرامو په باره کښې څوك تصور کولے شی ؟ ۔

بعض خلقو دا دعوه کړیده چه دا په ابتداء د اسلام کښې وو روستو بیا په تخفیف د مانځه باندے حکم اوشو لیکن دا هم بے دلیله تشه دعوه ده، بعض دا بهانه کوی چه دا کارئے په نفل مانځه کښې کړیدے ۔ لیکن دا خبره هم دلیل ته محتاج ده بلکه انس بن مالك د رسول الله ﷺ د فرض مانځه حال ذکر کوی حتی نقول لفظ پرے دلیل دے چه صحابه کرام وریسے روستو ولاړ دی، بل دلیل دا چه ثابت فرمائی: مونږ ته انس بن مالك د نبی ﷺ د مونځ طریقه خودله نو هغه مونځ کولو نو کله به ئے چه سر د رکوع نه راپورته کړو (قام حتی نقول : قد نسی – بخاری ١١٣/١) نو دا اطلاق ددے حدیث دلیل دے چه دا د فرض مانځه حال ذکر کوی۔

بعض وائی : دا کارئے په فرائضو کښې کړیدے لیکن صرف یو کرت نیم، د بیان د جواز دپاره او کان صرف د ربط دپاره دے نه د مواظبت دپاره، لیکن پدے خبره هم دلیل نشته، صحیح دا ده چه

د نبي علیه السلام حال مختلف وو کله به ئې تطویل کولو او کله به ئې تخفیف، نو دا کار بار بار کول جائز دي، خاصکر کله چه مقتدیان او امام په نشاط کښې وي، او دا حدیث یواځې انس هم ندې نقل کړې بلکه د حذیفه او براء مخکښې حدیثونه هم پدې عمل باندې دلیل دې ـ والله اعلم۔

---

٤ - وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُكْثِرُ اَنْ يَّقُوْلَ فِيْ رُكُوْعِهٖ وَسُجُوْدِهٖ : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ . يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ . متفق علیه.

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : نبي کریم ﷺ به په رکوع او سجده کښې دا دعا ډیر په کثرت سره وئیله : سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفر لي ـ (تالره پاکي ده اے الله او ستا دپاره د کمال صفتونه دي اے الله مونږ ته بخنه اوکړه) (پدې وئیلو سره به ئې) په قرآن باندې عمل کولو ـ (ځکه قرآن کښې حکم دې : فسبح بحمد ربك واستغفره) (مسلم)

تشريح : يُكْثِرُ اَنْ يَّقُوْلَ : د اکثار نه دې، ډیر والي ته وائي او ان مصدريه دې اي يكثر هذا القول ـ د بخاري په بل روایت کښې داسې الفاظ دي : ما صلّى النبي ﷺ صلاة بعد ان نزلت عليه اذا جاء نصر الله والفتح الا يقول فيها : سبحانك الحديث يعني نبي علیه السلام ددې آیت د نزول نه بعد هیڅ مونځ بغیر ددې دعاء لوستلو نه ندې کړې نو پدې سره تفسیر اوشو ددې حدیث چه د ډیر والي نه مراد مواظبت او همیش والے دې ـ

يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ : اي يعمل بالقرآن وبما امر به فيه ـ دلته د قرآن نه بعض مراد دې او هغه سورت نصر دې ـ يتأول : دا جمله حال دې د يكثر نه اي يكثر هذا القول حال كونه متأولا للقرآن ـ تأول د اول نه دې رجوع او واپس کیدو ته وائي : مآل مرجع ته وائي ـ امام قرطبيؒ ددې معنی کوي : اي يمتثل ما آل اليه معنى القرآن ـ يعني د قرآن د معنی چه کوم شی ته رجوع کیږي په هغې به ئې عمل کولو ـ بیا **سوال** دا دې چه آیت کښې د مانځه قید نشته بلکه حکم مطلق دې چه د الله تسبیحات وایه نو نبي علیه السلام پدې باندې په مانځه کښې ولې عمل کولو ؟ ـ

الجواب : نبي علیه السلام دا دعاء د مانځه دپاره غوره کړه ځکه چه مونځ غوره حال دې نو په غوره حالت کښې پدې حکم باندې عمل کول دا ډیر بهتر دي، او دې دپاره چه عمل په أمر باندې ډیر په کامل او اتم طریقے سره اوشي ـ

حافظ په کښې لا دا وئیلي دي چه پدې حدیث کښې دا خبره نشته چه نبي ﷺ دا ذکر بهر د مانځه نه ندې کړې بلکه د بعض طرق د مسلم نه دا واضح کیږي چه نبي علیه السلام به دا ذکر په مانځه او بهر د مانځه نه په دواړو حالتونو کښې همیشه کولو ـ

٢ - **سوال** : روستو حدیث نمبر (٦) نه معلومیږي چه رکوع کښې به تعظیم کولے شي او دلته

پکښې دعاء اوویل شوه نو آیا دا د دواړو حدیثونو تعارض نه دے ؟ ـ

الجواب : روستو حدیث کښې امر دے په تعظیم د رب باندے او مفهوم مخالف لره اعتبار نشته نو په رکوع کښې دعاء منع نه ده لکه څنګه چه تعظیم په سجده کښې منع ندے ځکه په رکوع کښې تعظیم د رب منافي ندے د دعاء سره لکه دعاء په سجده کښې دا منافي نده د تعظیم د رب سره ـ ۲– بله دا چه دعاء کښې هم تعظیم د الله وی، صرف د هغه نه غوختے شی ـ

امام ابن دقیق العید ؒ وائی : دا هم ممکن ده چه دا حدیث الباب حمل شی په جواز باندے او روستو حدیث محمول شی په اولویت ا وافضیلت باندے (یعنی دعاء غوختل جائز او تعظیم فی الرکوع بهتر) او دا احتمال هم شته چه نبی علیه السلام په سجده کښې د ډیر والی د دعاء حکم کړے وی، لکه چه دیته اشاره ده په فاجتهدوا فی الدعاء سره او په رکوع کښې چه اللهم اغفرلی راغلے دے نو دا ډیر ندے (بلکه په رکوع کښې تعظیم زیات راغلے دے او دعاء کمه ده او په سجده کښې دعاء زیاته ده او تعظیم کم دے) لهٰذا پدے دواړو حکمونو کښې هیڅ تعارض نشته ـ انتهیٰ ـ

نو په رکوع کښې صرف یوه جمله د دعاء (اللهم اغفرلی) راغلے ده او په سجده کښې ډیرے دعاګانے راغلی دی او دواړه جائز دی ـ

فائده : رسول الله ﷺ به دا دعاء ولے ډیره لوستله ؟ نو وجه دا ده چه پدے آیت کښې نبی علیه السلام ته بشارت دے چه ستا دین پوره شو او ستا د نبوت نعمت پوره کیدونکے دے او وخت دِ نزدے چه د الله سره به ملاویږے او نبوت یو عظیم نعمت دے ددے پوره حق اداء کول مشکل دی نو نبی علیه السلام به د اظهار د تقصیر په طور باندے دا دعاء لوستله چه اے الله ته پاك او لائق د حمدونو ئے که ما نه څه کوتاهی شوی وی ما ته بخنه اوکړه ـ

۲– نووی ریاض الصالحین (باب الحث علی الازدیاد من الخیر فی اواخر العمر) کښې لیکی : دا دعاء به ئے ځکه ډیره لوستله چه انسان کله بوډا شی نو هغه له عبادت ډیرول پکار دی او د الله نه دعاګانے زیاتول پکار دی ځکه چه انسان د الله سره ملاویدونکے دے ـ

فائده ۲ : پدے ذکر او دغه شان په باقی اذکارو د رکوع او سجده کښې درے درے کرتے لوستل ضروری نه دی او دا نه چرته په حدیث کښې ثابت دی چه نبی علیه السلام دا عمل درے ځل کړے، صرف سبحان ربی العظیم او سبحان ربی الاعلیٰ کښې تثلیث راغلے دے او هغه هم ادنیٰ درجه ده او زیات له ئے حد نشته البته په فرائضو کښې به هم د لسو کرتو نه زیات نه وائی کله چه امام وی کما سیأتی الحدیث فیه ـ

تنبیه الاخیار علی الاختلاف فی جمع الاذکار

په احادیثو کښې د رکوع او سجدے ډیر اذکار نقل دی ـ پدے کښې د علماؤ اختلاف دے چه آیا ټول اذکار یا بعض اذکار د یو بل سره په رکوع او سجده کښې جمع کول جائز دی او که نه ؟ ـ

درے اقوال دی چه طحاویؒ ورته اشاره کړیده ۔ **۱- قول اول** د احنافو او ابراهیمؒ نخعی دے چه په رکوع کښې به صرف سبحان ربی العظیم او په سجده کښې به صرف سبحان ربی الاعلیٰ وائی او باقی اذکار منسوخ دی، لکه دا د طحاویؒ تحقیق دے ۔ **دوی استدلال** کوی په حدیث د عقبه بن عامر چه کله فسبح باسم ربك العظیم نازل شو نبی علیه السلام اوفرمایل: دا په رکوع کښې وایئ: اجعلوها فی رکوعکم) او کله چه سبح اسم ربك الاعلیٰ نازل شو نو نبی علیه السلام اوفرمایل: دا په سجده کښې وایئ ۔ طحاوی (۱۶۹/۱) نو دوی دا حدیث ناسخ ګرځولے دے د باقی اذکارو دپاره چه وارد دی پدے باب کښې، لیکن دا قول فاسد دے او د نسخ هیڅ دلیل نشته بلکه ټول اذکار جدا جدا اوقاتو کښې شویدی، دا تنوع العبادات دی او څه تعارض پکښې نشته چه مونږ نسخ ته رجوع اوکړو او رد المحتار ومتنه (۳۴۰/۱) کښې د مشائخو قول ذکر کړیدے چه دا خاص دی په نوافل او تهجدو پورے او که په فرائضو کښې ثابت شی نو بیا به دا خاص وی د منفرد پورے یا د هغه جماعت پورے چه خلق پکښې په اوږد قرائت کولو نه تنګیږی لکه دا قول د شوافعو دے او بیا ئے دیته ترجیح ورکړیده۔

۲- قول ثانی : په رکوع او سجده کښې د اذکارو جمع کول مستحب دی او پدے باره کښې هیڅ توقیت نشته او دا قول د امام شافعی، احمد، او اسحاق او داود رحمهم الله دے او امام نووی په کتاب الاذکار ص (۵۱) کښې راجح کړیدے۔

استدلال کوی په هغه احادیثو چه مختلف اذکار پکښې راغلی دی نو وائی چه دا ټول په یوځل لوستل پکار دی، لیکن دا قید ورسره وائی چه کله امام وی او په مقتدیانو مشقت نه راتلو او که چرے مشقت راتلو نو بیا به جمع نه کوی، بیا نوویؒ وائی : وکذا ینبغی ان یفعل فی اذکار جمیع الابواب ص (۵۱) لیکن شیخ البانیؒ په صفة صلاة النبی ص (۱۰۱) کښې فرمائی : ”ابوالطیب صدیق حسن خانؒ په نزل الابرار ص (۸٤) کښې ددے تعقیب کړیدے او دائے وئیلی دی چه کله به یو ذکر وائی او کله بل، او ما ته هیڅ دلیل نه دے معلوم په جمع کولو د اذکارو او نبی علیه السلام به دا په یو رکن کښې نه جمع کول بلکه کله به ئے دا یو وئیل او کله به ئے دا بل وئیل او اتباع غوره ده د ابتداع نه“۔

شیخ البانیؒ وائی : ان شاء الله چه دا خبره ئے حقه ده لیکن سنت کښې دا ثابت دی چه نبی علیه السلام به دا رکن وغیره ډیر اوګدولو (حتی یکون قریبا من القیام) نو کله چه یو مونځ کونکے د نبی علیه السلام پدے سنت کښې اقتداء کوی نو د هغه دپاره دا کار ممکن ندے مګر په طریقه د جمع کولو د اذکارو سره کوم ته چه امام نوویؒ ذهاب کړے دے او یا په طریقه د تکرار سره کوم چه په بعض اذکارو کښې راغلی دے وهذا اقرب الی السنه والله اعلم انتهیٰ کلامه۔

۳- قول ثالث : رکوع او سجده کښې فرق دے په رکوع کښې جمع کول د اذکارو او ادعیه وندی

پکار او سجده کښې جمع کول جائز دي ځکه رکوع کښې به صرف تعظيم د رب کوی او په سجده کښې اجتهاد فی الدعاء راغلې دے، او دا قول د امام مالكؒ او ابن المبارکؒ وغيره دے او دا راجح دے په اعتبار د ظاهر د نصوصو، ځکه په سجده کښې جمع د أذكارو په نص کښې ثابته ده او په رکوع کښې به صرف هغه اذکار وئيلے شي چه په نص کښې ثابت وي، او جمع به نه کوی۔

ځکه د سجدے په باره کښې امر راغلے په اجتهاد في الدعاء نو هر قسم دعاء او ذکر وئيلے شي او ډير هم جمع کولے شي لکه حديث د مسلم کښې دی (فاكثروا الدعاء) او د کثرت نه مراد کثرت باعتبار العدد دے نو فاجتهدوا او فاكثروا نه معلوميږی چه جمع الاذكار والادعيه جائز ده۔

عبد الله بن مسعود رضى الله عنه به خلقو ته وئيل: (احملوا حوائجكم على المكتوبة) يعنى خپل حاجتونه د فرض مانځه په سجده کښې غواړئ۔ مجمع الزوائد (١٢٩/٢)۔

او د ابن عمرؓ اثر نه هم جواز د جمع په سجود کښې معلوميږی كما فى الحلية (٣٠٤/١) وحياة الصحابة (١٣٧/٣) ومصنف عبد الرزاق۔

ابوبرده وائی: ما د ابن عمر خوا کښې مونځ اوکړو، ما ترے واوريدل چه په سجده کښې ئے وئيل: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْكَ اَحَبَّ شَيْءٍ وَاَخْشَى شَيْءٍ عِنْدِيْ) او دا مے هم واوريدل چه وئيل ئے: ﴿رَبِّ بِمَا اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْراً لِلْمُجْرِمِيْنَ﴾۔ نو دا د صحابی عمل دے، ددے نه د جمع بين الاذكار جواز ثابتيږی او دارنګه هر قسم اذکار په سجده کښې جواز ترے ثابتيږی او د قرآنی آيت وئيل په طريقه د دعاء سره ترے ثابتيږی۔ وانظر فتاوى الدين الخالص (٢٩٦/٤ و ٢٤٩) قال النووى: وظيفة الركوع التسبيح ووظيفة السجود التسبيح والدعاء۔

او دا قول راجح دے ځکه پدے کښې عمل دے په فعل او قول د رسول الله ﷺ باندے ځکه نبی عليه السلام نه په رکوع کښې په يو ځل په يو وخت کښې جمع د اذكارو نده نقل او په سجده کښې ئے قول دا دے چه هر قسم دعاء کولے شئ نو دا قول راجح شو باعتبار الدليل۔

٣- دلته يو قول د ابن حزمؒ دے هغه وائی: رکوع او سجده دواړو کښې جمع بين الاذكار کولے شي خو سبحان ربی العظيم او سبحان ربی الاعلیٰ به ضرور وائی ځکه پدے باندے خصوصی امر راغلے دے نو که نور اذکار ورسره جمع کوی نو جواز لری۔ ليکن دا خبره ضعيفه ده ځکه مخکښې ذکر شو چه رکوع کښې جمع د اذكارو نه عملا نقل ده او نه په قول کښې اجازت نقل دے

المسئلة الرابعة حكم التسبيحات فى الركوع والسجود:

په رکوع او سجده کښې د اذكارو څه حکم دے؟ ١- جمهور علماء وائی: د رکوع او سجدے اذکار مستحب دی او واجب نه دی لکه احناف وائی: که چا سبحان ربی العظيم اووئيل نو مستحب عمل ئے اوکړو او که چا اونه وئيل او هسے راخکته شو، او انحناء ئے اوکړه نو رکوع ئے

اوشوه ـ امام نوويؒ فرمائي : كه قصداً يا سهوا ئے دا اذكار پريخودل مونځ ئے نه دے باطل او نه گناهكار دے او نه پرے سجده سهوه شته ـ

۲- امام احمدؒ او محدثينؒ وائي (او دا قول د اهل ظاهر، ابن حزم هم دے) چه دا اذكار فرض دي، بغير ددے نه مونځ نه كيږي ـ

امام احمدؒ بن حنبل دا هم وائي چه تسبيح په ركوع او سجده كښ واجب دي كه قصدا ئے ترك كړل نو مونځ ئے باطل دے او كه په هيره ترے پاتے شول نو مونځ باطل نه دے مگر سجده سهوه به كوي او دا د هغه نه صحيح قول دے او يو بل قول ئے دا هم دے چه دا تسبيحات سنت دي لكه د جمهورو د قول په شان ـ

۳- اسحاق بن راهويهؒ وائي : دا تسبيحات واجب دي كه قصدا ئے پريخودل مونځ ئے باطل دے او كه ترے هير شو مونځ ئے نه دے باطل ـ او اهل ظاهر ئے مطلقا واجب گڼري ـ وهو الحق ـ او امام خطابيؒ دے قول ته ترجيح وركړيده ـ

او دا قول د وجوب د امام ابن خزيمهؒ نه هم نقل دے ـ راجع بلوغ الاماني شرح مسند احمد الشيباني (۳/۲٦۵) او دا قول راجح دے وجه دا ده چه پدے تسبيحاتو باندے امر د رسول الله ﷺ راغلے دے (اما الركوع فعظموا فيه الرب) او (اجعلوها في ركوعكم) او (اما السجود فاجتهدوا في الدعاء) (واجعلوها في سجودكم) الاذكار للنووي ص (۵۱) والمرعاة (۳/۱۸۸)

۲- دارنگه د نبي عليه السلام مواظبت پدے باندے دليل دے د فرضيت دا چه د امر سره ملگرے شي نو قوي دليل دے ۳- او صلوا كما رأيتموني اصلي نه فرضيت معلوميږي ـ

او د جمهورو سره دليل نشته سوي ددے نه چه وائي دا په حديث د مسيئ الصلاة كښ ندي ذكر او جواب مخكښ تير شويدے چه ټولے مسئلے په يو حديث كښ نه ذكر كيږي ځكه مسيئ الصلاة پدے مسئله خبر وو صرف په تعديل الاركان نه وو خبر او دلته څه قرينه صارفه د وجوب هم نشته لهذا راجح دا ده چه دا فرض شي او پدے قول كښ احتياط هم دے ـ (توضيح الاحكام : ۲/٦۱) والاذكار للنووي ص (۵۱)ـ

المسئلة الخامسة : تكرار الاذكار به څو پورے كولے شي ددے مسئلے تحقيق په فصل ثاني كښ راروان دےـ

۵- وَعَنْهَا، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِهٖ وَسُجُوْدِهٖ : سُبُّوْحٌ، قُدُّوْسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوْحِ . رواه مسلم .

ترجمه : او عائشه صديقه رضي الله عنها فرمائي چه نبي ﷺ به په ركوع او سجده كښ دا وئيل : سبوح الخ (الله پاك دے او د هغه صفات هم پاك دي او هغه رب د فرشتو او روح (جبريل) دےـ (مسلم)

تشريح : سُبُّوْحٌ، قُدُّوْسٌ : دا په ضمه د اول سره دي او دا پكښ افصح او اكثر دے او فتحه هم

جائز ده دا دواړه د الله صفتونه دي، په معنی د مسبّح او مقدّس سره مبالغه د مفعول ده یعنی هغه ذات چه پاك دے د هر قسم نقصان او عیب او شریك نه او قدوس هغه ذات چه پاك دے د هر هغه شی نه چه د خالق سره لائق نه وي نو دواړه د یوبل تاکید دے یا اول کښې پاکي د ذات ده او دویم کښې پاکي د صفاتو ده او دا په ترکیب کښې خبر د مبتداء محذوف دی ای انت سبوح او هو سبوح یا رکوعی وسجودی لمن هو سبوح قدوس، (زما رکوع او سجده هغه ذات دپاره ده چه هغه پاك دے د صفاتو د مخلوق نه)

وَالرُّوحِ : دا یو ملائك دے چه کله اودریږي نو د ټولو ملائکو په اندازه ښکاره کیږي نو دا بیا عطف د خاص دے په عام باندې، ۲- یا ددې نه مراد جبریل علیه السلام دے لکه قرآن کریم کښې وزته روح وئیلې شوېدے (یوم یقوم الروح) او نزل به الروح الامین دا ډیر اشرف او سردار د ملائکو دے ځکه ئے خاص ذکر کړو۔

٦- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلَا اِنِّیْ نُهِیْتُ اَنْ اَقْرَأَ الْقُرْآنَ رَاكِعاً اَوْ سَاجِداً، فَاَمَّا الرُّكُوْعُ فَعَظِّمُوْا فِیْهِ الرَّبَّ، وَاَمَّا السُّجُوْدُ فَاجْتَهِدُوْا فِی الدُّعَاءِ فَقَمِنٌ اَنْ يُّسْتَجَابَ لَكُمْ . رواه مسلم .

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زه منع شوے یم ددے نه چه قرآن د رکوع او سجدے په حالت کښې اولولم هر چه رکوع ده نو په هغې کښې د خپل رب برائی بیان کړئ او هر چه سجده ده نو په هغې کښې په دعاء کولو کښې پوره کوشش اوکړئ، مناسب ده چه دا دعاء ستاسو دپاره قبوله شی ۔ (مسلم)

تشریح : نبی علیه السلام فرمائی زه منع شوے یم چه په رکوع او سجده کښې قرآن اولولم هر کله چه نبی علیه السلام منع شو نو امت مکلف دے په تابعدارئ د نبی لهذا امت هم پدے کښې د قرآن لوستلو نه منع شو۔ بعض ددے حکمت دا ذکر کوی چه د رکوع او سجدے حالت کښې انسان ذلیل او خکته وی الله تعالی ته او قرآن عظیم الشان دے او اشرف الکلام دے نو پدے حالت کښې د قرآن لوستلو کښې بے ادبی راځی کما فی شرح الاقناع ۔ وتوضیح الاحکام (۲/ ٦٠)

لیکن دا وجه خطاء ده وجه دا ده چه د جائضے زنانه په غیره کښې رسول الله ﷺ د قرآن تلاوت کړیدے دارنګه په ملاسته باندے قرآن لوستل جواز لری، پاتے لا مونځ حالت کښې ۔ صحیح دا ده چه ددے منع حکمت الله تعالی ته معلوم دے ۔

۲- بیا دا نهی بعض وائی : نهی تنزیهی ده، صرف مناسب نه ده، او بعض وائی دا نهی تحریمی ده او قیاس هم دا تقاضا کوی چه دا نهی د تحریم ده نو پدے حالت کښې قرآن لوستل حرام دی ځکه د هر رکن دپاره خپل خپل ذکر مقرر دے لهذا د قرآن لوستلو هیڅ معنی نشته ۔

لیکن دے سره دا پیژندل پکار دی چه قرآن لوستل دوه قسمه دی (۱) یو د تلاوت او قرائت په شکل، نو دا په رکوع او سجده کښې ممنوع دی (۲) بل د قرآن لوستل دی د دعاء په شکل، نو دا جواز لری خو صرف په سجده کښې لکه مخکښې مونږ د عبد الله بن عمر عمل ذکر کړو چه هغه به په سجده کښې رب بما انعمت علی فلن اکون ظهيرا للمجرمين۔ آیت لوستلو او دغه شان د ډیر صحابه کرامو نه نقل دی او دلیل پرے دا روستو الفاظ دحدیث دی: فاجتهدوا فی الدعاء۔ ۳– بیا دا نهی نفل او فرض تهولو مونځونو ته شامل ده۔

فَعَظِّمُوْا فِيْهِ الرَّبَّ: یعنی د الله تعالی تعظیم او برائی پکښې بیان کړئ،نو دا برائي او تعظیم به په هغه طریقه کوی کومه چه حدیث کښې راغلے ده چه هغه سبحان ربی العظيم وغیره پدے کښې به دځان نه اذکار وئیل صحیح نه وی۔

فَاجْتَهِدُوْا فِي الدُّعَاءِ: دا حدیث دلیل دے چه په حالت د سجده کښې هر قسمه دعاء طلب کول جواز لری که دنیوی وی او که اخروی وی ځکه دلته حکم شویدے په اجتهاد د عاء باندے نو د ځان نه هم دعاګانے وئیلے شی البته منقولے دعاګانے بهتر او افضل دی او باقی تولے لوستلے شی، مخکښې مونږ اووئیل چه فعظموا فيه الرب نه نفی کوی بعض منقولے دعاګانو د رکوع لره، لکه سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفر لی لره علامه سندیؒ فرمائی: د فاجتهدوا فی الدعاء معنی دا ده چه دا محل د دعاء دے یعنی دعاګانے پکښې جائز دی بغیر د کراهت نه او دغه شان دا محل د تسبیح هم دے آهـ۔

فَقَمِنٌ: ابن رسلان وائی: دا په فتحه د قاف او کسره د میم مصدر دے لا يثنى ولا يجمع ولا يؤنث او که په فتحه د میم شی نو بیا دا وصف او صفت د یو شی دے یؤنث ويثنى ويجمع۔ پدے کښې قمین په یاء سره دریم لغت هم راغلے دے، ددے معنی ده لائق او حقیق۔

اَنْ يُّسْتَجَابَ لَكُمْ: ځکه دا داسے حالت د قربت دے (اقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد) چه انسان الله تعالی ته زیات نزدے وی او بل حدیث کښې دی (اقرب ما يكون الرب من عبده في جوف الليل الآخر) نو د دواړو جانبینو نه قربت دے نو بس دعاء به ډیره زر قبلیږی۔

دعاء یو عظیم عبادت دے ځکه ورته شریعت ډیر ترغیبات ورکوی او دا حدیث دلیل دے په فرضیت د تسبیحاتو د رکوع او د سجدے کما مرَ۔

۷– وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِذَا قَالَ الْاِمَامُ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه فَقُوْلُوْا: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، فَاِنَّهٗ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهٗ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ، غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ. متفق عليه۔

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: کله چه امام سمع الله لمن حمده

اووائي نو تاسو ربنا لك الحمد اووايئ ځکه ذ چا (چه دا) وينا د ملائکو د وينا سره برابره شي نو هغه دپاره به مخکني ګناهونه معاف شي ـ (بخاري ومسلم)

تشريح : اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ : ددے حديث تشريح مخکښ په باب القراءة (۱۵۰) کښ ذکر شويده چه د امام او مقتدي او منفر تولو دپاره سمع الله لمن حمده او ربنا لك الحمد دواړه وئيل سنت دي او اکتفاء په يو باندے کول خلاف سنت دي او د احنافو سره هيڅ دليل صحيح نشته صرف وائي چه دلته قسمت شويدے (والقسمة تنافي الشركة) ليکن دا عقلي خبره ده په مقابله د نص کښ فلا يقبل کما مرّ التفصيل في ص (۱۵۰) ـ اودا قول د جمهورو دے او د صاحبين، امام فضلي، امام طحاوي او شرنبلالي او صاحب المنيه او عام متأخرين احنافو دے کما قال اللکنوي في عمدة الرعايه حاشيه شرح وقايه (۱/۱۶۸) وهو الاصح الموافق لما ثبت عنه ﷺ انه كان يقول بعد سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد **انتهیٰ**۔

مَنْ وَافَقَ : علامه خطابيؒ فرمائي : دا حديث دليل دے چه ملائك د مونځ کونکي سره دا قول (ربنا لك الحمد) وائي او بخنه غواړي او دعاګانو ته حاضريږي او اذکار کوي (يائے په آسمان کښ وائي او موافقت د نيکانو سره فائده لري)

۸- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ اَبِي اَوْفٰى ؓ، قَالَ : «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ قَالَ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه، اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمٰوَاتِ وَمِلْءَ الْاَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ» . رواه مسلم .

ترجمه : او عبد الله بن ابي اوفي رضي الله عنه فرمائي چه رسول الله ﷺ به د رکوع نه خپله ملا مبارکه راپورته کړه نو سمع الله لمن حمده اللهم ربنا الخ (الله قبول کړو حمد د هغه شخص چه د هغه حمد ئے بيان کړو ـ اے الله زمونږ ربه ! ستا دپاره ټول صفتونه د کمال دي په اندازه د ډکوالي د آسمان او زمکے او په اندازه د ډکوالي د هغه شي چه د آسمانونو او زمکے نه بعد ئے پيدا کول غواړے ـ (مسلم)

تشريح : اِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ : يعني په وخت د راپورته کولو د ملا کښ به ئے سمع الله لمن حمده اووئيل، او کله چه به برابر شو د راپورته کيدلو نه پس نو بيا به ئے اللهم ربنا لك الحمد شروع کړه۔ مِلْءَ السَّمٰوَاتِ : يعني په اندازه د ډکوالي د آسمانونو حمدونه دي ستا دپاره ـ دا ملأ يا منصوب دے صفت دے د مصدر محذوف (حمدا مالئا) يا حال دے په معنی د مالئا سره يا منصوب بنزع الخافض دے اى بملأ السموات ـ يا مرفوع دے او صفت د الحمد دے (يعني ستا دپاره داسے حمد دے چه هغه ډکوالے د آسمانونو او د زمکے دے) ـ يا خبر دے د مبتدأ محذوف (هو ملأ السموات)۔ او مقصود پدے کښ کثرت او ډير والے دے۔ ځکه کلام نشي پيمانه کولے

او نه په لوښو كښې ځائيدلے شي بلكه مراد ددے نه ډير والے د عدد دے يعني بالفرض كه دغه كلماتو نه اجسام جوړ شي او ځايونه پرے ډكول شروع شي نو دا كلمات به د ډيروالي په وجه هغه اندازے ته اورسي چه آسمانونه او زمكے به ډك كړي ـ (۲) بعض وائي : مقصود پدے كښې تعظيم القدر دے يعني ددے كلماتو مرتبه ډيره اوچته ده لكه عرب وائي : هذه الكلمة تملأ طباق الارض يعني دا كلمه توله زمكه ډكوي ـ يعني دومره لوئي شان والا ده ـ (۳) بعض وائي : ددے نه مراد اجر او ثواب دے يعني ددے حمدونو او كلماتو اجر او ثواب د آسمانونو او زمكو په اندازه دے ـ

بَعْدُ : اى بعد ذلك يعني ددے مذكوره څيزونو نه علاوه لكه عرش، كرسي وغيره ـ

پدے كښې اشاره ده چه انسان اگركه ډير كوشش او پوره جد وجهد اوكړي د الله په حمد وئيلو كښې هم هغه سر ته نشي رسولے نو انسان عاجز دے او دا د هغه د عجز اقرار دے ـ

په روستو روايت كښې ورسره زيادت هم راغلے دے اهل الثناء الخ او دا حديث دليل دے چه رسول الله ﷺ دومره اوګد اعتدال كړے دے او فرضو كښې ئے دا قسم دعاګانے وئيلي دي، نو ددے په نفلو بانديے حمل كول بے دليله دي ـ

۹ – وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ ، قَالَ : " كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوْعِ قَالَ : اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمٰوٰتِ وَمِلْءَ الْاَرْضِ، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ . اَهْلُ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، اَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ : اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ". رواه مسلم .

ترجمه: او ابوسعيد خدري فرمائي چه رسول الله ﷺ به كله د ركوع نه سر پورته كړو نو دا به ئے وئيل : اے الله زمونږ ربه ستا دپاره حمدونه دي په اندازه د ډكوالي د آسمانونو او ډكوالي د زمكو او په ډكوالي د هغه شي چه ته ئے د آسمانونو او زمكو نه پس پيدا كول غواړے ـ ته د هر قسم تعريف او شرافت مستحق ئے، ته ډير حقدار ئے د هغه څه چه بنده ئے (ستا دپاره) وائي ـ او مونږ ټول ستا بندګان يو، اے الله نشته منع كونكے د هغه شي چه ته ئے وركوے او نشته وركونكے د هغه شي چه ته ئے منع كوے او دولت مند ته د هغه دولت مندي ستا د عذاب نه نفع نشي وركولے (د عذاب نه ئے نشي بچ كولے) ـ (مسلم) ـ

تشريح : اَهْلُ الثَّنَاءِ : دا يا منصوب بالاختصاص او المدح دے اى اخص وامدح اهل الثناء يا منادي ده يعني يا اهل الثناء، يا مرفوع دے اى انت اهل الثناء ـ او ثناء ښائسته صفت او تعريف كولو ته وائي او مجد : عظمت او بزرګي او انتهائي شرافت ته وائي ـ

اَحَقُّ : دا هم مرفوع دے اى انت احق، يعني ته ډير لائق د هغه حمدونو ئے كوم چه دے بنده (پيغمبر يا عام بنده) ستا دپاره اوئيل د بل چا نه ـ (يا ته ډير احق د هغه حمد ئے چه بنده ئے وائي) ـ

بعض وائي : احق مبتداء ده او اللهم لا مانع جمله ئې خبر دے او وكلنا جمله معترضه ده د دواړو ترمينځ او ما مصدريه ده اى احق قول العبد لا مانع لما اعطيت الخ يعني د بنده ډيره لائقه خبره دا راتلونكې خبره ده چه څان اوسپاري الله ته او خپل عجز ښكاره كړي۔

نو دا د بنده د شان سره ډيره مناسبه خبره ده۔ او دے (لا مانع الخ) ته ئې احق اووئيله ځكه په دے كښې تفويض الى الله دے او د هغه په وحدانيت باندے اقرار دے او تصريح ده په دے چه قوت او منع كول ټول د الله په اختيار كښې دي او خير او شر د هغه د طرف نه دي او په دنيا كښې بې رغبتي ده او نيك اعمالو ته متوجه كول دي۔

وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ : د جد درے معانى دي (١) – بمعنى البخت والحظ والنصيب۔ معنى دا ده چه فائده نه رسوي خاوند د بخت ته بخت د هغه يعني اے الله ته چه چا ته څه وركوے نو بختور انسان ئے درنه د بخت په سبب نشي اخستے يا منك بمعنى عندك دے اى لا ينفع ذا الحظ في الدنيا بالمال والولد عندك غناه وانما ينفعه وينجيه العمل الصالح۔ يعني په دنيا كښې په مال او اولادو باندے بختور انسان ته ستا په نزد د هغه مالداري او بختور والے فائده نه وركوي بلكه هغه ته چه فائده رسوي نو هغه صرف نيك عمل دے۔

٢ – دويم جد نيكه ته وائي : معنى دا ده : يعني كه يو سړے د نيكه والا دے نو د نيكه په وجه ستا نه خير نشي حاصلولے بلكه د هر سړي خپل عمل دے لكه پيغمبر خپلے لور ته وائي : (يا فاطمة: لا اغنى عنكِ من الله شيئاً) نو كه يو سړے د پيغمبر نواسے وي، سيّد وي هغه ته دا سيادت فائده نشي رسولے كله چه دغه انسان د الله په ګرفت كښې راګير شي نو ستا د عذاب نه هغه څوك نشي خلاصولے او دا هله چه كله پرے د الله د عذاب فيصله اوشي نو په دے كښې نفي د شفاعت نشته ځكه هغه مخكښې د عذاب نه وي د جهنم د تلو نه مخكښې وي۔

٣ – الجد : مالداري ته وائي، يعني مالدار ته د هغه مال فائده نه وركوي ستا په مقابله كښې چه ستا نه پرے څان خلاص كړي بلكه ستا رحمت او خپل عمل به ئے خلاصوي۔

او كه دا په كسره د جيم سره جِد شي نو بيا كوشش ته وائي يعني انسان ته د هغه اجتهاد او كوشش فائده نه وركوي بلكه هغه ته به د الله رحمت فائده وركوي۔ (مثال ئے داسے لكه نبي عليه السلام فرمائي : لن ينجو احدكم بعمله) ليكن اول قرائت مشهور دے۔

---

١٠ – وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ ﷺ، قَالَ : كُنَّا نُصَلِّي وَرَاءَ النَّبِيِّ ﷺ، فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ، قَالَ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه. فَقَالَ رَجُلٌ وَرَائَهُ : رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْدًا كَثِيْراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيْهِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ : مَنِ الْمُتَكَلِّمُ آنِفاً؟ قَالَ : انَا. قَالَ : رَأَيْتُ بِضْعَةً

وَثَلاثِيْنَ مَلَكاً يَبْتَدِرُوْنَهَا اَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا اَوَّلَ . رواه البخاري.

ترجمه : او رفاعه بن رافع ﷺ فرمائي چه مونږ (يوځل) د نبي كريم ﷺ نه روستو مونځ كولو نو كله چه هغه د ركوع نه سر پورته كړو نو سمع الله لمن حمده ئے اووئيل نو يو سړي د هغه نه روستو ربنا لك الحمد حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه (اے ربه تا دپاره حمدونه دي ډير حمدونه داسے صفتونه) چه (د شرك او رياء نه) پاك او بركت والا دي) اووئيل : نو رسول الله ﷺ چه كله د مانځه نه فارغ شو وے فرمايل : چه اوس (دا كلمات) چا وئيل ؟ هغه شخص عرض اوكړو : زه وم !نبي عليه السلام اوفرمايل : ما څه دپاسه ديرش ملائك اوليدل چه خپل مينځ كښ ئے د يو بل نه جلتي كوله چه دا كلمات به كوم يو اول ليكي ـ (بخاريؒ).

تشريح : بِضْعَةً وَثَلاثِيْنَ : داسے يو حديث روستو د پرنجي په باره كښ راځي ـ بعض وائي : دا دواړه حديثونه يو حديث دے د يو سړي واقعه ده څكه راوي يو دے، ليكن تحقيق دا دے چه دواړو ترمينځ فرق دے څكه هغه روايت كښ څه الفاظ زيات دي، (ومباركا عليه كما يحب ربنا ويرضى) ورسره زيات دي، دارنګه هلته فلم يتكلم احد لفظ دے او دلته (انا) لفظ دے بله دا چه پدے ځائے كښ نور اذكار هم راغلي دي، معلوميږي چه دا ذكر ددے مقام دے او د پرنجي دپاره نه دے ـ وهو الظاهر ـ بيا دا كوم ملائك مراد دي ـ بعض وائي : حفظه ملائك دي ـ ليكن ظاهر دا ده چه دا د حفظه نه ماسوئ نور ملائك دي لكه ددے تائيد په حديث د صحيحينو كښ داسے راغلي دے چه د الله دپاره ملائك دي په لارو كښ ګرځي او د ذكر تلاش كوي) ـ

بيا حكمت په تخصيص ددے عدد كښ څه دے ؟نو حكمت دا دے چه ددے كلماتو حروف (٣٤) دي نو الله تعالى د هغے په شمار ملائك هم راوليږل او په مسلم كښ دولس ملائك ذكر شويدي نو دا بناء دے په شمار د كلماتو څكه كلمات دولس دي بناء په اصطلاح د نحاتو ـ كذا في مجمع البحار لمحمد طاهر الفتني وانظر بلوغ الاماني (٢٧٣/٣) ليكن روايت د مسلم د سبحانك اللهم په ځائے دے لكه چه په باب ما يقرأ بعد التكبير د فصل اول په آخر كښ تير شو ـ

يَبْتَدِرُوْنَهَا : اى يسرع كل ليكتب قبل الآخر ويصعد بها الى حضرة الرب لعظم قدرها ـ

بيا رسول الله ﷺ دا تپوس ولے كولو ؟ نو ددے حكمت شايد دا وي چه سامعين دا اذكار ياد كړي او هغوي هم دغه شان اووائي ـ

بيا دا حديث دليل دے چه ربنا لك الحمد په پته وئيل پكار دي څكه كه تولو وئيلے بيا پته نه لږيدله نو پدے كښ رد دے په علامه بديع الدين الراشدي السندي باندے چه هغه پدے باندے يوه رساله ليكلے ده چه دا به په جهر وائي ـ

الفصل الثاني

١١ – عَنْ اَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْاَنْصَارِيِّ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا تُجْزِئُ صَلَاةُ الرَّجُا

حَتّٰى يُقِيْمَ ظَهْرَهٗ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ. رواه ابوداود والترمذی والنسائی وابن ماجه والدارمي. وقال الترمذي: هذا حديث حسن صحيح.

ترجمه: ابو مسعود انصاري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دی: د هيڅ شخص (تر هغه وخت) مونځ نه جائز کيږي (نه قبليږي) ترڅو چه په رکوع او سجده کښې ملا برابره نه کړي. (ابوداود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي). او امام ترمذیؒ فرمايلي دي: دا حديث حسن صحيح دے.

تشريح: دا حديث مخکښې په مسئله د اعتدال او طمانينت کښې ذکر شويدے او دليل دے چه په مانځه کښې اعتدال الارکان فرض دے، ځکه دلته لفظ د لا تجزئ ذکر دے چه مونځ بالکل جائز نه دے او نفي د جواز نفي د صحت وي، يعنی دا باطل دے چه اعتدال پکښې اونشي.

تعارف: ابو مسعود په وړوکوالي کښې ليلة العقبة کښې حاضر وو او بدر او احد ته ندے حاضر شوے. طبقات ابن سعد (٩/٦). ليکن حافظ پرے رد کړيدے چه دا بدر ته حاضر شويدے او دائے د احاديثو نه ثابته کړيده او بخاري او مسلم او حاکم وغيره په بدريانو کښې ذکر کړيدے.

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه احمد (١٢٢/٤) وابوداود (٨٥٥) والترمذی (٢٦٥) والنسائی (١٨٣/٢) وابن ماجه (٨٧٠) وابن حبان (١٨٤/٣ رقم: ١٨٩٠ - الاحسان)

---

١٢ - وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ﴾ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِجْعَلُوْهَا فِيْ رُكُوْعِكُمْ، فَلَمَّا نَزَلَتْ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى﴾ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اِجْعَلُوْهَا فِيْ سُجُوْدِكُمْ. روه ابوداود وابن ماجه والدارمي.

ترجمه: او عقبه بن عامر ﷺ فرمائي: کله چه دا آيت فسبح باسم ربك العظيم نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمايل: تاسو دا (د سبحان ربی العظيم په صورت کښې) په رکوع کښې شامل کړئ او کله چه دا آيت سبح اسم ربك الاعلى نازل شو نو وے فرمايل: دے لره (د سبحان ربی الاعلى په صورت کښې) په خپلو سجدو کښې داخل کړئ. (ابوداود، ابن ماجه، دارميؒ)

تشريح: اِجْعَلُوْهَا: يعني ددے جواب په رکوع او سجده کښې ورکړئ! علامه سندیؒ وائی: ای اجعلوا التسبيح المستفاد منها. او ددے بيان په بل روايت کښې سبحان ربی العظيم او سبحان ربی الاعلى سره راغلے دے: (حاشيه ابن ماجه) بيا ئے په رکوع کښې العظيم اووئيلو او په سجده کښې ئے الاعلى ددے وجه حافظ ابن حجر العسقلانیؒ دا ذکر کړيده چه اعلى صفت ابلغ دے د عظيم نه نو کوم عمل چه ابلغ في التواضع دے چه سجده ده د هغے سره ئے ابلغ لفظ راوړو.

٢- بله دا چه انسان کله سجدے ته پريوځي نو دا ډير خکته شي نو دده دپاره دا تصور پکار دے

چه اے الله زه ډير خكته او ته ډير اوچت ئے نو تواضع به پكښ پيدا شي ۔

درجة الحديث : اسناده حسن : احمد (۱۵۵/٤) والدارمي (۱۹۹/۱) وابوداود (۸٦۹) وابن ماجه (۸۸۷) والحاكم (۴۷۷/۲) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي وفي اسناده اياس بن عامر ليس بالمعروف وقال العجلي لابأس به وذكره ابن حبان في الثقات وصحح له ابن خزيمة وقال الحافظ في التقريب : صدوق قال النووي : اسناده حسن.

۱۳ – وَعَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : إِذَا رَكَعَ اَحَدُكُمْ فَقَالَ فِيْ رُكُوْعِهٖ : سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَدْ تَمَّ رُكُوْعُهٗ وَذٰلِكَ اَدْنَاهُ، وَاِذَا سَجَدَ فَقَالَ فِيْ سُجُوْدِهٖ : سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَقَدْ تَمَّ سُجُوْدُهٗ، وَذٰلِكَ اَدْنَاهُ. رواه الترمذى وابوداود وابن ماجه . وقال الترمذى : ليس اسناده بمتصل، لان عوناً لم يلق ابن مسعود .

ترجمه : او عون بن عبد الله د ابن مسعود ﷺ نه روايت كوى فرمائى : رسول الله ﷺ فرمايلى دى : كله چه يو تن ستاسو ركوع اوكړى او په خپله ركوع كښ : سبحان ربى العظيم (پاكى ده رب زما لره چه لوئى دے) درے كرته اووائى، نو يقينا دده ركوع پوره شوه او دا ادنىٰ درجه ده او كله چه ستاسو نه څوك سجده كوى او هغه په سجده كښ سبحان ربى الاعلى (پاكى ده رب زما لره چه اوچت دے) درے كرتے اووائى نو يقينا د هغه سجده پوره شوه او دا ادنىٰ درجه ده ۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ) او ترمذیؒ وئيلى دى : چه ددے روايت سند متصل نه دے ځكه د عونؒ ملاقات د ابن مسعودؓ سره ثابت نه دے۔

عون بن عبد الله بن عتبه بن مسعود، ثقه دے د صحابه كرامو نه ئے سماع كړيده، كثير الارسال دے او عبد الله بن مسعود ئے د پلار تره دے۔

تشريح : وَذٰلِكَ اَدْنَاهُ : اى ادنىٰ الكمال : يعنى د كمال درے درجات دى، ادنىٰ درجه ئے درے ځل وئيل دى او اوسط درجه پنځه دى او اعلىٰ درجه ئے اووه كرت دے (قاله الحسن البصرى كذا فى المغنى : ۵۷۸/۱ والتحفة (۲۲۵/۱) بعض وائى : اعلىٰ درجه لس (۱۰) كرته او ادنى درجه درے كرته او مينځ كښ متوسط درجه ده وهو الظاهر كما سيأتى۔

ابن المباركؒ او اسحاقؒ وائى : د امام دپاره پنځه تسبيحات مستحب دى كما فى الترمذى (۶۰/۱) دے دپاره چه روستو خلق درے تسبيحات لاندے كړى وهو المروى عن اسحاق بن ابراهيم ايضاً كما فى بلوغ الامانى (۲۵۹/۳) ليكن علامه شوكانیؒ وائى : د كمال په يو عدد معلوم سره مقيد كولو باندے هيڅ دليل نشته بلكه څومره چه مونځ اوږدوى نو دغه شان تسبيحات به اوږده وائى او څه مقدار ئے ندے معلوم وهو الراجح ليكن د امام دپاره د لسو تسبيحاتو نه زيات

وئیل مناسب نه دی، او دا د جمهورو علماؤ قول دے ۔ پدے کښې ابو مطیع البلخی نه نقل دی چه چا د درے کرتو نه کم اولوستل نو د هغه مونځ ندے جائز (کما فی حاشیة الهدایة (١/ ١١٠)۔

لیکن د جمهورو علماو په نزد بانده یو کرت سبحان ربی الاعلیٰ او سبحان ربی العظیم لوستلو سره مونځ کافی کیږی البته ادنیٰ کامله درجه درے کرت وئیل دی او زیات وئیلو سره اعلیٰ درجه د کمال حاصلیږی او دا اصل سنت دی ۔ لیکن قول د ابو مطیع البلخی به ظاهر وی ځکه چه د درے کرتو نه کم رکوع او سجده به ډیره سپکه وی ۔

هر کله چه ددے نه ادنیٰ درجه د کمال واخستے شوه نو پدے کښې رد راغلو په ډیرو مولیانو او عوامو بانده چه هغوی په رکوع او سجده کښې صرف درے کرتے تسبیحات وائی او بیا غلے وی او زیات ئے نه وائی، حال دا چه دا د سنت خلاف طریقه ده بلکه د دریو نه زیات وئیلو بانده عمل پکار دے او دغه خلك ئے تیول عمر د دریو کرتو. زیات نه وائی نه د امام سره او نه یوائے ۔ والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔

المسئلة :- تکرار الاذکار فی الرکوع والسجود : نو سبحان ربی العظیم او سبحان ربی الاعلیٰ که وائی نو ادنیٰ درجه ئے درے کرت دی او تاك به ئے وائی او که زیات وائی نو بیا د جفت او تاك معلومولو کښې تکلف ته ضرورت نشته ۔ ځکه د نبی علیه السلام نه لس لس کرتے وئیل هم ثابت دی، یا ئے کله د سوره البقره په اندازه هم لوستلی دی او د هغے شمارل خو عادةً ممکن نه دی لیکن که سړے په فرض مونځ کښې د جفت او تاك رعایت اوکړی نو دا به بهتر وی د وجے د عام حدیث نه (ان الله وتر یحب الوتر)۔

او هر چه نور اذکار دی نو د هغے مقدار په احادیثو کښې ندے راغلے لیکن ډیر وئیل ئے پکار دی اګرچه په یو ځل وئیلو هم فرض ادا کیږی لکه سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفرلی لیکن په مسند احمد کښې د عبد الله بن مسعودؓ د حدیث نه معلومیږی چه سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفرلی به هم درے ځل وائی ځکه هغے کښې ورسره ثلاثا لفظ راغلے دے (انظر الفتح الربانی : ٣/ ٢٦٤) وتوضیح الاحکام (٢/ ٦٢) ۔ **لهذا مستحب دا ده چه هغه هم درے کرتے اولوستے شی۔**

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه الشافعی (١/ ٨٩) رقم (٢٤٩) وابو داود (٨٨٦) وقال هذا حدیث مرسل عون لم یدرك عبد الله والترمذی (٢٦١) وقال حدیث ابن مسعود لیس اسناده بمتصل، عون لم یلق ابن مسعود وابن ماجه (٨٩٠) والدارقطنی (١/ ٣٤٣) رقم: ٨) والحدیث مع انقطاعه وعدم اتصال سنده فیه : اسحاق بن یزید الهذلی راویه عن عون وهو مجهول کما فی التقریب فهو مجهول العین والحال معاً المرعاة (٣/ ١٩٧) ولکن قال عبید الله الرحمانی المبارکفوری فی المرعاة بعد ما ذکر الاحادیث فی تثلیث التسبیحات من مجمع الزوائد (٢/ ١٢٨) وهذه الاحادیث وان کان کل منها لا

یخلو عن کلام الا ان بعضها یشد بعضاً وبمجموعها تصلح للاحتجاج بها علی ذلك المطلوب ۔

۱٤ – وَعَنْ حُذَيْفَةَ ﷺ، اَنَّهُ صَلّٰى مَعَ النَّبِيِّ ﷺ وَكَانَ يَقُوْلُ فِىْ رُكُوْعِهٖ : سُبْحَانَ رَبِّىَ الْعَظِيْمِ، وَفِىْ سُجُوْدِهٖ : سُبْحَانَ رَبِّىَ الْاَعْلٰى، وَمَا اَتٰى عَلٰى آيَةِ رَحْمَةٍ اِلَّا وَقَفَ وَسَأَلَ، وَمَا اَتٰى عَلٰى آيَةِ عَذَابٍ اِلَّا وَقَفَ وَتَعَوَّذَ، رواه الترمذی وابوداود والدارمی. وروی النسائی وابن ماجه الی قوله الاعلٰی وقال الترمذیؒ : هذا حدیث حسن صحیح.

ترجمه : او حذیفه ﷺ روایت کوی چه ده د نبی اکرم ﷺ سره مونځ اوکړو نو هغه به په رکوع کښې سبحان ربی العظیم او په سجده کښې سبحان ربی الاعلیٰ وئیلو او د رحمت په هیڅ آیت بانـدې بـه نه راتلو مگر اودریدو به او د هغې سوال به ئې کولو او د عذاب په هیڅ آیت به نه راتلو مگر اودریدو به او د هغې نه به ئې پناهی طلب کوله ۔(ترمذی، ابوداود، دارمی) او ابن ماجه دا روایت د سبحان ربی الاعلیٰ پورې نقل کړیدې او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح دې۔ احناف او مالکیه وائی : دا حدیث محمول دې په نوافلو باندې یعنی دا قسم دعا گانې رسول الله ﷺ په نفل مانځه کښې وئیلی دی ځکه هغوی په فرض مانځه کښې په مینځ د قرائت کښې تعوذ او سؤال جائز نه گڼړی ۔ ملاعلی القاریؒ وائی : ممکن ده چه دا محمول شی په جواز باندې او دا کله کله واقع شویدی انتهیٰ ۔

شیخ عبید الله الرحمانی المبارکفوریؒ لیکی : روایت د مسلم مخکښې تیر شو چه دا کار په صلوة اللیل کښې واقع شویدې ځکه چه مونږ ته هیڅ صریح نص ندې معلوم چه هغه دلالت اوکړی چه دا کار په فرض مانځه کښې واقع شویدې لهذا دا به صرف په نفل او سنت باندې محمول وی او ددې مسئلې تحقیق مخکښې تیر شویدې ۔

او ددې مونځ نه مراد د شپې نفل دی لکه د ابوداود او نسائی په روایت کښې دی (قمت مع رسول الله ﷺ لیلة) معلومیږی چه دا د شپې مونځ دې۔

دارنگه حدیث دلیل دې چه د آیت جواب ورکول د رحمت د تذکرې په وخت د الله رحمت طلب کول او په ځائې د عذاب کښې د الله د عذاب نه پناه طلب کول په مانځه کښې جائز دی ۔

وروی النسائی وابن ماجه الی قوله : دې باندې دا اعتراض دې چه دا خبره ضعیفه ده ځکه نسائی دا مطول هم راوړیدې او دا حدیث د مسلم دې لکه چه امام جزریؒ وئیلی دی نو ددې راوړل په فصل ثانی کښې مناسب ندی مصنف د خپل شرط مخالفت کښې واقع شو ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : ابوداود الطیالسی (٤١٦) واحمد (٣٨٢/٥) والدارمی (٢٩٩/١) وابوداود (٨٧١) واسناد ابن ماجه ضعیف۔

الفصل الثالث

١٥ – وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ، قَالَ : قُمْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَلَمَّا رَكَعَ مَكَثَ قَدْرَ سُوْرَةِ (الْبَقَرَةِ) وَيَقُوْلُ فِيْ رُكُوْعِهِ : سُبْحَانَ ذِيْ الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ . رواه النسائي.

ترجمه : او عوف بن مالك فرمائي : زه د رسول الله ﷺ سره (يو ځل ما نځه ته) اودريدم نو كله چه هغه ركوع ته خكته شو نو د سوره بقرې (لوستلو) په مقدار په هغې كښې حصار شو او په ركوع كښې به ئې دا وئيل : (پاكي ده هغه ذات لره چه د قهر او بادشاهت او تكبر او لوئى والى مالك دې). (نسائي)

تشريح : مَكَثَ : مكث په ضمه د كاف او فتحه دواړه جائز دي په روايت د ابوداود او نسائي كښې دي : زه د رسول الله ﷺ سره يوه شپه اودريدم نو هغه اودريدو او د سورة البقره قرائت ئې شروع كړو نو په آيت د رحمت به نه تيريدو مگر اودريدو او دعاء به ئې غوښته، او په آيت د عذاب به نه تيريدو مگر اودريدو به او پناهي به ئې طلب كوله، بيا ركوع ته راخكته شو په اندازه د قيام، نو دغه دعاگانې ئې اولوستلې، ددې نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به عموما چه څومره قيام اوږد كولو نو ركوع او سجده به ئې هم هغې ته نزدې اوږده كوله او دليل دې چه په ركوع كښې دا ذكر بار بار لوستل بغير د جفت او طاق معلومولو نه جائز دي او دليل دې چه په ركوع كښې جمع د اذكارو نه ده نقل څكه كه رسول الله ﷺ جمع كړې وې نو هغه به عوف نقل كړې وې او نبي عليه السلام به پدې اوږده ركوع كښې نورې دعاگانې هم وئيلې وې مگر هغه ئې ندي وئيلي.

الْجَبَرُوْتِ : دا مبالغه د جبر ده، قهر او غلبې ته وائي.

وَالْمَلَكُوْتِ : دا مبالغه د ملك ده، تصرف ته وائي يعني الله پوره د قهر او غلبې او د پوره تصرف مالك دې چه د هغې انتهاء نشته.

وَالْكِبْرِيَاءِ : د كبر نه دې بالكسر لوئي والى او عظمت ته وائي، نو د العظمه عطف تفسير د ماقبل شو. بعض وائي : كبرياء كښې كمال د ذات وي او په عظمت كښې كمال د صفاتو وي، بعض وائي : كبرياء لوئي او د نقصان نه جدا كيدو ته وائي او عظمت : مرتبه او قدر د احاطې نه بهر كيدو ته وائي. او دې فرق ته په حديث قدسي كښې اشاره ده : الكبرياء ردائي والعظمة ازاري فمن نازعني فيهما قصمته اي كسرته)

درجة الحديث : اسناده صحيح أخرجه النسائي (١/١٦١) وابوداود (٨٧٣) وقال الشوكاني : اسناد رجاله ثقات.

١٦ - وَعَنِ ابْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ : سَمِعْتُ اَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُوْلُ : مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ اَحَدٍ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَشْبَهَ صَلَاةٍ بِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ هٰذَا الْفَتٰى - يَعْنِىْ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ - قَالَ، قَالَ : فَحَزَرْنَا رُكُوْعَهُ عَشْرَ تَسْبِيْحَاتٍ، وَسُجُوْدَهُ عَشْرَ تَسْبِيْحَاتٍ . رواه ابوداود والنسائي.

ترجمه : او سعید بن جبیرؒ فرمائی : ما د انس رضی الله عنه نه اوریدلی دی چه هغه به فرمایل : ما د رسول الله ﷺ د وفات نه بعد ددے ځوان یعنی عمر بن عبد العزیز نه علاوه د هیچا پسے داسے مونځ نه دے کړے چه هغه د نبی علیه السلام د مانځه سره زیات مشابه وی ـ راوی وائی : انس رضی الله عنه فرمائی : مونږ د هغه (یعنی د عمرؒ) رکوع د لس تسبیحاتو (په مقدار) او سجده د لس تسبیحاتو (په مقدار) اندازه کړه ـ (ابوداود، نسائی) ـ

تعارف د سعید بن جبیر : ددے نه مراد سعید بن جبیر بن هشام الاموی الوالبی مولاهم ابو محمد، یا ابو عبد الله الکوفی ئے کنیه ده د جبال الاسلام د علماؤ نه فقیه، عابد، ورع امام حجة علی المسلمین تابعی دے ـ حافظ فرمائی : ثقه، ثبت، فقیه دے او د اوساط التابعین نه دے، په شعبان کښې په سنه ٩٥) کښې په واسط ښار کښې د حجاج بن یوسف الثقفی مخے ته قتل شویدے او پنځوس کالو ته لا رسیدلے نه وو او دده نه روستو په رمضان کښې په همدغه کال بیا حجاج هم وفات شو او دده د مرګ نه بعد حجاج په هیچا باندے نه وو مسلط شوے ځکه چه سعید دعاء کړے وه کله چه حجاج راوغوښتو او هغه ته ئے اوویل : اے سعیده ! په کوم قسم مرګ دِے قتل کړم ؟ نو سعید ورته اوویل اے حجاج ته خپل ځان له غوره کړه چه څه دِے خوښوی بیا ئے اوویل : قسم په الله ته ما په دنیا کښې په یو مرګ نه وژنے مګر الله تعالی به تا په آخرت کښې د هغے په شان قتلوی تردے چه کله ئے سعید د ذبح کولو دپاره په زمکه راګوزار کړو او کلمه د شهادت ئے اوویله نو دا دعاء ئے اوکړه : اللهم لا تسلطه علی احد یقتله بعدی ـ انظر تاریخ ابن خلکان والمرعاة (١٩٩/٣)

او دده د مرګ سبب دا وو چه حجاج بن یوسف عبد الرحمن بن محمد بن الاشعث لره د ترک بادشاه رتبیل سره د قتال کولو دپاره اولیږلو او سعید ئے د فوج په نفقاتو باندے مقرر کړو بیا څه وقت بعد حجاج، ابن الاشعث لره معزول کړو نو سعید هم د هغه ملګرتیا اوکړه هغه هم ځان معزول کړو بیا کله چه حجاج په ابن الاشعث او د هغه په ملګرو باندے کامیاب شو نو سعید اصبهان ته اوتښتیدو نو حجاج د هغه ځائے ګورنر ته اولیکل چه سعید اونیسه نو هغه ګورنر سعید ته سړے اولیږلو چه ددے ځائے نه ځان جدا کړه ! نو هغه لاړو آذربیجان ته او هلته ډیرے مودے پورے اوسیدو (او د هغه ځائے نه به ئے په پټه حج او عمرے هم کولے) آخر دا چه هلته هم

غمژن او خفه شو نو مکے ته ئے پناه راوړه نو هلته دے او دده په شان نور خلق هم وو چه پټ اوسیدل او هیڅچا ته به ئے خپل نوم هم نه خودلو تردے چه په مکه باندے خالد بن عبد الله القسري والي شو نو سعید ته اوویل شو چه دا خوشے سړے دے نو که ته د مکے نه چرته بل خوا لاړ شے دا به درله ښه وی نو سعید اوویل : والله لقد فررت حتی استحییت من الله ولا مفر من قدره) ډیر اوتښتیدم اوس د الله نه حیاء راځی نو ز د الله تقدیر ته ځان سپارم، هر کله چه خالد قسری مکے ته راغلو نو ولید ورته اولیکل چه اهل عراق اونیسی نو سعید بن جبیر او مجاهد او طلق بن حبیب ئے اونیول او هغه ته ئے اولیګل نو طلق خو په لاره کښې وفات شو او مجاهد جیل ته لاړو تردے چه حجاج مړ شو، او دا دواړه ئے د دوه څوکیدارانو سره اولیږل نو یو پکښې د یو حاجت دپاره لاړو او بل ورسره پاتے شو نو سعید ته ئے اوویل : (او پدے وخت کښې د شپے د خوب نه رابیدار شوے وو) اے سعیده ! زه الله ته ستا د وینے نه بیزاریم ځکه ما په خوب کښې اولیدل ما ته اوویل شو : خوار شے د سعید بن جبیر د وینے نه بیزاری اوکړه ! نو څه چرته لاړ شه زه تا پسے نه ګرځم، سعید انکار اوکړو نو دغه څوکیدار دغه شان درے ځل خوب اولیدلو او سعید ته به ئے د تختیدو اجازت اوکړو لیکن سعید په هغے عمل نه کولو ـ نو دوی کوفے ته راوستو او په خپل کور کښې ئے کوز کړو او د کوفے قراء ورته راغلل نو دوی ورسره ښه په خندا خبرے اترے شروع کړے او دوی لور په غیره کښې وه کله چه هغے دوی د خپو قید ته اوکتل وے ژړل، بیا دوی سعید لره حجاج ته بوتلو او د هغه مخے ته اودرولے شو نو حجاج ورته اوویل : اے سعید ! آیا ته ما په خپل امامت او مشرئ کښې نه وے شریک کړے؟ آیا ما فلان فلان کار نه دے کړے ؟ آیا ما ته عامل نه وے مقرر کړے ؟ ـ سعید اوویل : ولے نه ! حجاج : نو ولے دے په ما باندے خروج اوکړو ؟ سعید : زه د مسلمانانو نه یو سړے یم چه کله خطاء کیږی او کله حق ته رسیږی نو د حجاج نفس لګ مزیدار شو ـ

سعید : ابن الاشعث ما نه پدے کار کلك بیعت اخستے وو نو دا بیعت زما په څټ کښې وو، حجاج غصه شو او اوپړسیدو تردے چه د څادر طرف ئے د اوګے نه پریوتو او وے وئیل : اے سعید : آیا زه مکے ته نه یم راغلے چه ابن زبیر مے قتل کړو او د هغه ځائے د اوسیدونکو نه مے بیعت واخستو او ستا بیعت مے امیر المومنین (عبد الملك) دپاره دوباره واخستو؟ نو آیا ته د امیر المومنین دوه بیعتونه ماتوے او د خائك ابن الحائك (د جولا د ځوی ابن الاشعث) د یو بیعت وفا داری کوے؟ قسم په الله زه به دے قتل کړم ـ سعید : زه به په دغه وخت کښې سعید (نیك بخت) یم لکه څنګه چه مور راله نوم ایخے دے ـ نو د هغه د څټ ئے اووهلو کله چه سعید راپریوتو نو درے ځل ئے لا اله الا الله اوویله یو ځل ئے ښکاره کړه او دوه ځل ئے ښکاره نه کړے شوه ـ

ابن جریر وائی : حجاج په سعید باندے راغلو او اراده د سوریدلو ئے وه او یو خپه ئے په زین

کړے بيا ئے فوجيانو ته حکم اوکړو چه څټ وله اووهئ نو څټ ئے اووهل شو.

نو د حجاج عقل بائدے گډوډ والے راغلو او دا آوازونه ئے کول (قيودنا قيودنا) زمونږ هتکړئ خلکو گمان اوکړو چه سعيد په خپو کښں هتکړئ راواپش کول غواړی نو فوجيانو د سعيد دواړه خپے د نيمائی پونډو پورے پريکړے او هتکړئ ئے ترے راواخستے. او حجاج چه به کله اوده کيدو نو خوب کښں به ورته راتلو او د هغه گريوان او اوګه به ئے نيوله او دا به ئے وئيل: اے د الله دشمنه زه دې په څه وجه قتل کړم. نو بيا به حجاج ډير افسوس کولو چه زما د سعيد سره څه کاروو چه هغه مے مړ کړو نو د هغه د وفات نه بعد څلويښت ورځے ئے ژوند تير کړو بعض وائی شپږ مياشتے بعد. البداية والنهاية (۱۰۵/۵) الكامل فی التاريخ (۳٤۷/۲)

تشريح: فَحَزَرْنَا رُكُوعَهُ: مطلب د حديث دا دے چه څومره وخت کښں به هغه رکوع او سجده کوله نو مونږ به په هغے کښں لس لس کرت تسبيحات لوستل لهذا هغه به هم لس يا د هغے نه کم وزيات لوستلی وی نو دا يو تقريبی اندازه شوه. ليکن امام به په خلقو بائدے بوج نه راولی چه مونځ ورته ډير اوږد کړی او د سنت طريقے نه ئے هم ورداسه کړی. خاصکر په قرائت اوږدولو کښں. دا حديث دليل دے د هغه چا چه وائی: کامل تسبيح لس لس کرتے ده امام به ددے نه زيادت نه کوی او د دريو نه به کموالے نه کوی.

درجة الحديث: اسناده حسن او ضعيف ومعناه صحيح: اخرجه ابوداود (۸۸۸) والنسائی (۲۲٤/۲) وفيه وهب بن مانوس قال ابن القطان مجهول الحال وقال الحافظ فی التقريب: هو مستور الحال ولم يوثقه غير ابن حبان (تعليق المشكاة لرمضان: ۳۷۳/۱) وقال الشوكانی: رجال اسناده كلهم ثقات الا عبد الله بن ابراهيم بن عمر بن كيسان ابويزيد الصنعانی، قال ابوحاتم: صالح الحديث وقال النسائی: ليس به بأس وقال الحافظ فی التقريب: صدوق وسكت علی حديثه ابوداود والمنذری وقال الساعاتی فی بلوغ الامانی (۲۵٦/۳) وسنده جيد انظر التقريب وقال العراقی فی (تخريج احاديث الاحياء): اسناده جيد۔ وقال الشيخ الالبانی فی صحيح النسائی (۱۰۸۷) (فی نسخة) حسن الاسناد ان شاء الله۔

۱۷– وَعَنْ شَقِيقٍ، قَالَ: اِنَّ حُذَيْفَةَ رَأٰى رَجُلاً لَا يُتِمُّ رُكُوعَهُ وَلَا سُجُوْدَهُ، فَلَمَّا قَضٰى صَلَاتَهُ دَعَاهُ، فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: مَا صَلَّيْتَ. قَالَ: وَاَحْسِبُهُ قَالَ: وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلٰى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِىْ فَطَرَ اللهُ مُحَمَّداً ﷺ. رواه البخاری.

ترجمه: او شقيق رحمه الله فرمائی: حذيفه رضی الله عنه يو شخص اوليدو چه هغه (په مونځ کښں) خپله رکوع او سجده پوره طريقے سره نه اداء کوله نو کله چه هغه مونځ ختم کړو، حذيفه رضی الله عنه هغه لره راوغوختو او ورته ئے اووئيل: چه تا مونځ اونکړو. شقيق فرمائی

حذيفه رضي الله عنه هغه لره راوغوښتو او ورته ئے اووئيل: چه تا مونځ اونکړو ـ شقيق فرمائي : زما ګمان دا دے چه حذيفه رضي الله عنه هغه شخص ته دا هم اوويل چه که ته (پداسے مونځ سره بغير د توبے نه) مړ شے نو ته به په غير د هغه فطرت (يعني په هغه طريقه چه د اسلام خلاف ده) مړ شے په کوم باندے چه الله تعالى محمد ﷺ پيدا کړيدے ـ (بخاري)

شقيق بن سلمه ابووائل تابعي کوفي مخضرم دے وقد مر ترجمته ـ

تشريح : په روايت د احمد (الفتح الرباني : ٢٦٠/٣) کښې د زيد بن وهب نه نقل دی چه حذيفه بن اليمان مسجد ته داخل شو نو يو سړے ئے اوليدو چه د ابواب کنده (قرية بسمرقند) طرفته ئے نزدے مونځ کولو نو رکوع او سجده ئے پوره نه کوله، کله چه هغه سلام اوګرځولو، حذيفه ورته اوفرمايل : د څو مره وخت نه دا مونځ کوے؟ هغه ورته اووئيل : د څلويښت کالو نه، حذيفه ورته اوفرمائيل : د څلويښت کالو نه تا مونځ ندے کړے : (ولو مُت وهذه صلاتك مت على غير الفطرة التى فطر عليها محمد) او که ته پدے حالت کښې مړ شوے چه دغه شان مونځ دِ کولو نو د هغه دين او سنت نه په ما سوئ به مړ شے په کوم باندے چه محمد ﷺ پيدا شويدے ـ بيا هغه سړی ته متوجه شو او تعليم ئے ورته ورکولو، نو دا ئے ورته اوفرمايل : (ان الرجل ليخفف فى صلاته وانه يتم الركوع والسجود) يعني که يو سړے مونځ لنډ کوی نو رکوع او سجده به ورسره پوره کوی.

دا حديث دليل دے چه مونځ کښې په رکوع او سجده کښې جلتی کول او اطمينان پکښې نه کول مونځ باطلوی ـ حافظ عسقلانئ فرمائي: دا حديث دليل دے چه اطمينان په رکوع او سجده کښې واجب دے او ددے خرابول او پدے کښې خلل پيدا کول مُبطل د مانځه دے، او دليل دے په کفر د تارك الصلاة ځکه ددے حديث ظاهر دا دے چه حذيفه اسلام نفي کړيدے د هغه چا نه چه د مانځه بعض ارکانو کښې خلل واقع کوی نو که څوك ئے بالکليه نه کوی نو دا به په طريق اولیٰ کافر وی، خو دا په هغه وخت چه د فطرت نه دين مراد شي او که د فطرت نه سنت مراد شي لکه د بخاري په روايت کښې (سنة محمد) راغلے دے ـ نو بيا به دا استدلال تام نه وی ـ الفتح الرباني (٢٦١/٣) ليکن د سنت نه اصطلاحي سنت ندی مراد بلکه يوه اسلامي طريقه مراد ده ـ

١٨ ـ وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً، اَلَّذِیْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهٖ . قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهٖ ؟ قَالَ : لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا . رواه احمد .

ترجمه : او ابو قتاده ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ اوفرمايل : د غلا کولو په اعتبار سره د ټولو خلقو نه لوئ غل هغه دے چه د خپل مانځه نه غلا کوی، صحابه کرامو عرض اوکړو يا رسول

الله ! د مانځه نه غلا څنګه کیږی ؟ نبی علیه السلام اوفرمایل : (د مانځه نه غلادا ده چه) رکوع او سجده پوره طریقے سره نه اداء کوی ۔ (احمد) ۔

تشریح : سرِقَةٌ : بکسر الراء او کله په کښې فتحه هم وئیلے شی ۔دے مونځ نه غلاکونکی انسان ته ئے ولے د مال د غلا کونکی شخص نه ډیر بد غل اووئیلو ؟ نو وجه دا ده چه کله څوك مال غلا کړی نو ډیر کرتے په دنیا کښې د هغے نه فائده واخلی او بیا کله په دنیا کښې د مالك نه معافی اوغواړی یا ئے لاس پریکړے شی نو د آخرت د عذاب نه خلاص شی په خلاف د هغه غل نه چه د مانځه نه غلا کوی ځکه چه دا د خپل ځان ثواب اوحق بربادوی او ددے په بدله کښې د آخرت سزا اخلی، او په لاس باندے ورته هیڅ رانشی، دنیا کښې هم ستړے او آخرت کښې په عذاب باندے ګرفتار نو دا ډیر خسران اوتاوانی انسان دے د مال د غلاکونکی نه ۔

دا حدیث هم دلیل دے چه په رکوع او سجده کښې اطمینان فرض دے ځکه دا قسم وعید په حرامو باندے راځی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه احمد (۵/ ۴۱۰) والحاکم فی المستدرك (۱/ ۲۲۹) وصححه المنذری فی الترغیب والترهیب کما فی صحیح الترغیب (۱/ ۲۰۹) وقال الهیثمی فی المجمع (۲/ ۱۲۰) رجاله رجال الصحیح۔

۱۹ – وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُرَّةَ ﷺ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : مَا تَرَوْنَ فِي الشَّارِبِ، وَالزَّانِيْ، وَالسَّارِقِ ؟ – وَذٰلِكَ قَبْلَ اَنْ تُنْزَلَ فِيْهِمُ الْحُدُوْدُ – قَالُوْا : اَللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ . قَالَ : هُنَّ فَوَاحِشُ وَفِيْهِنَّ عُقُوْبَةٌ، وَاَسْوَأُ السَّرِقَةِ الَّذِیْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهٖ . قَالُوْا : وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهٖ يَارَسُوْلَ اللهِ ! قَالَ : لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا . رواه مالك واحمد . وروى الدارمی نحوه.

ترجمه : او نعمان بن مره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : د شراب څکونکی، اوزنا کونکی او غلاکونکی په باره کښې ستاسو څه ګمان دے ؟ (چه هغه څومره ګناهګار دی) او (نبی علیه السلام) دا (تپوس) د حدود نازلیدو نه مخکښې (کړے) وو ۔ صحابو عرض اوکړو چه الله او رسول ښه پوهیږی ۔ نبی علیه السلام اوفرمایل : دا کبیره ګنا هونه دی او پدے کښې سزا (هم) شته او بدترینه غلا هغه غلا ده چه د خپل مانځه نه غلاکوی ۔ صحابو عرض اوکړو یا رسول الله ! انسان د خپل مانځه نه څنګه غلا کوی ؟ وے فرمایل : چه) رکوع او سجده ئے پوره نه اداء کوی ۔ (مالك، دارمیؒ)

تعارف د نعمان بن مره : دا انصاری زرقی، مدنی ثقه د کبار التابعین نه دے ابوحاتم وائی : دده حدیث مرسل دے، ابن عبدالبرّ وائی : د امام مالك سره د نعمان صرف دا یو حدیث دے ۔

تشريح : قَبْلَ اَنْ تُنْزَلَ فِيهِمُ الْحُدُودُ : يعنى د شارب نه ماسوی څکه د هغے په باره کښې هيڅ شے ندے نازل۔
رُكُوعَهَا : دا دواړه ئے خاص ذکر کړل څکه غالبا خلق دا بربادوی او ديته ئے سرقه اووئيله څکه دا هم په امانت کښې خيانت دے د سرقے په شان۔ علامه باجیؒ وائی : دا شخص سارق دے د حفظه او مؤکلين ملائکو نه کوم چه دده حافظان دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه مالك (١/١٦٧) رقم :(٧٣) واخرج الدارمی بنحوه فی الصلاة (٣٠٥) من حديث ابی قتادة وقال عبيد الله الرحمانی : وللمتن شاهد من حديث عمران بن حصين اخرجه البخاری فی الادب المفرد وآخر من حديث ابی سعيد الخدری فی ابی داود الطيالسی فی مسنده ، المرعاة (٣/٢٠٢).

****

باب السجود و فضله

د سجدے فضائل ئے راوړل نه د رکوع ځکه چه ددے مستقل فضائل راغلی دی نه د رکوع، سجده په لغت کښ تذلل مع تطامن وانحناء ـ یعنی هغه عاجزی او خشوع ته وائی چه د اطمینان او سر ټیټولو سره وی او په شریعت کښ: وضع الجبهة علی الارض علی قصد العبادة ۲– وضع سبعة اعضاء علی الارض ۳– یا وضع الوجه علی الارض علی قصد العبادة ـ

نو سجده په قرآن کښ مجمله ده رسول الله ﷺ د هغے بیان اوکړو چه اووه اندامونه به په زمکه اولګوی نو دا به شرعی سجده وی او ماسوئ ددینه صحیح شرعی سجده نه ده ـ

اقسام السجده : (۱) السجدة الصلاتية : (د مانځه سجده) دا په اتفاق د علماؤ فرض ده که دا پاتے شوه نو رکعت به بیا کوی ـ (۲) سجدة التلاوة : دا هم ضروری ده په وجوب او سنیت کښ ئے اختلاف دے روستو به راشی ان شاء الله ـ

(۳) سجدة السهو : دا عند الضرورت کیږی کله چه مونځ کښ زیادت او نقصان اوشی، فرض ده یا واجب ده ځکه نبی علیه السلام امر کړیدے (فلیسجد سجدتین) ـ

(٤)– سجدة الشکر : دا سنت عمل دے په نزد د عام علماؤ خلاف ثابت دے امام ابوحنیفهؒ لره، د هغه په نزد باندے مکروه ده ـ صاحب المرقات (۳/۳۲۸) ورله دا دلیل وئیلے دے چه امام ابوحنیفه مستغرق وو په بحر التوحید کښ نو هغه وئیلی دی چه دا سجده ځکه نشته چه دا کیږی په وخت د نعمت کښ او د الله نعمتونه خو هر وخت کښ زمونږ سره موجود دی، بدن، مال، ژوند دا ټول نعمتونه دی نو په کوم کوم باندے به سجدے کوے بیا خو به همیشه په سجده پروت ئے ـ ددے **جواب** دا دے چه دا عقل دے په مقابله د نص کښ پدے باره کښ تقریبا څوارلس حدیثونه راغلی دی چه رسول الله ﷺ ته به د خوشحالی یو خبر راغلو نو سجده د شکر به ئے کوله کما قالت عائشه ـ کعب بن مالکؓ د زیری په اوریدو کښ سجده اوکړه، علی بن ابی طالب چه خوارج قتل کړل او د هغوی مشر باندے ئے علامه اولیدله کوم چه نبی علیه السلام خودلے وه چه د څنګل په سر به ئے د غوبنے یو غوندارے وی نو علی سجده د شکر اوکړه نو دا عبادت دے او هر چه دغه عقلی خبره ده نو دا هم خطاء ده ځکه چه احادیثو کښ د سجده د شکر موقعه خودلے شویده هغه دا چه کله به د خوشحالی او سرور یو نوے خبر راغلو نو سجده به ئے کوله په زړو دائمی نعمتونو باندے دا سجده نه کیږی ـ

او دا مسئله هم دلیل دے په رد د تقلید باندے چه د امام ابوحنیفهؒ ډیر اقوال د قرآن او حدیث

خلاف شته، دلته ورته حديث ندے رسيدلے نو عقل ئے جنګولے دے ـ نور الايضاح (٤٣) باب سجود التلاوه کښې دی : سجدة الشكر مكروهة عند الامام لا يثاب عليها وتركها اولىٰ وقالا هي سنة يثاب عليها) ـ (٥) سجدة بعد الصلاة : بعض خلق مونځ اوکړی نو د هغے نه بغد يوه سجده کوی او بيا روانيږی دا کار بدعت دے ـ

(٦) سجده لغير الله : غير الله ته سجده کول کفر او شرك دے ځکه سجده غايت التعظيم والتذلل دے دا صرف الله تعالى ته جائز ده د اکرام او تعظيم سجده نه ده جائز ـ نبى عليه السلام فرمائى : که ما حکم کولے چه يو تن دے بل ته سجده اوکړی نو ښځے ته به مے حکم کړے وے چه خاوند ته سجده اوکړی) يعنى که غير الله ته سجده جائز وے نو بيا ښځے له پکار وه چه خاوند ته ئے سجده کولے ځکه ډير حق لری ليکن دا سجده صرف د الله حق دے ـ

(٧) سجده بعد الوتر نسائى پرے باب تړلے دے (٢٥٢/١) قدر السجده بعد الوتر، ليکن په هغے کښې د امام نسائى فهم کښې خطائى واقع شويده ځکه د حديث الفاظ داسے دی : ويسجد قدر ما يقرأ احدكم خمسين آية ـ د هغينه د مانځه دننه سجده مراد ده چه په مانځه کښې به ئے دومره اوګده سجده کوله لکه د پنځوس آيتونو لوستولو مطابق ـ

باقى د سجدے د فضائلو متعلق اختلاف تير شويدے چه د شوافعو په نزد ډيرے سجدے غوره دی او د احنافو په نزد طول القيام غوره دے ـ د شوافعو سره دا احاديث دی فاعنى على نفسك بكثرة السجود (او اقرب ما يكون العبد من ربه وهو ساجد) او ددے قولينو محاكمه هم ذکر شويده فى باب صفة الصلاة صفحه (١٥٨) الحديث الحادى العاشر ـ

الفصل الاول

١ – عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : أُمِرْتُ اَنْ اَسْجُدَ عَلٰى سَبْعَةِ اَعْظُمٍ : عَلَى الْجَبْهَةِ، وَالْيَدَيْنِ، وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَاَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ، وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعْرَ . متفق عليه ـ

ترجمه : ابن عباس ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ فرمايلى دى : ما ته حکم شويدے چه زه (د بدن) په اووه هډوکو يعنى تندے، دواړه لاسونه، او دواړه زنګنونه او د خپو په طرفونو (پنجو) باندے سجده اوکړم او دا (منع کړے شوی دی) چه مونږ جامے او ويښته راټاو کړو ـ (بخارى ومسلم)

تشريح : اُمِرْتُ : نبى عليه السلام ته امر امت ته هم امر دے او امر خو د وجوب او فرضيت دپاره دے لهذا پدے اووه اندامونو باندے سجده کول فرض دی، ددے نه بغير مونځ صحيح نه دے او دا قول د طاوسؒ، امام احمدؒ، اسحاقؒ او امام زفرؒ دے او د امام شافعیؒ اصح قول دے کوم چه متأخرينو راجح ګڼړلے دے چه څوك د اعضاء سبعه نه په يو اندام باندے سجده ترك كړی نو د

هغه سجده نه کيږي نو په ټولو اندامونو سجده کول فرض دي ـ انظر البدائع (۱/ ۱۰۵) ورجحه النووي في المنهاج (٤٧) فقال الاظهر وجوبه آهـ ـ وهو المذهب عند الحنابلة انظر الكافي : (۱/ ۱٤٧) والانصاف (۲/ ٦٦)

۲- **د امام شافعیؒ** دويم قول دا دے چه واجب صرف وضع الجبهه على الارض ده او باقي اندامونه کيخودل مستحب دي او دا قول د مالكؒ او ابو حنيفهؒ هم دے دليل ۱: وائي چه دا امر د وجوب دپاره نه دے بلکه د استحباب دپاره دے او په حديث د رفاعهؓ کښې صرف امر په وضع الجبهه راغلے دے (فليمكن جبهته من الارض) نو باقي اندامونو باندے حکم رانغلو ليکن دا قول جمهورو اصحابو ضعيف ګرځولے دے او ظاهر د حديث دا دے چه امر د وجوب دپاره دے۔

۲- بل حديث د عباس بن عبد المطلب کښې دي : اذا سجد العبد سجد معه سبعة آراب (اعظم) الحديث اخرجه الجماعة (مسلم (۱/ ۳۵۵) الرقم العام (٤٩۱) باب اعضاء السجود) الا البخاري ـ

۳- بله دا چه په احاديثو کښې د هر اندام په کيخودلو جدا جدا امرونه راغلي دي حديث مرفوع د ابن عمرؓ کښې دي : ان اليدين يسجدان كما يسجد الوجه فاذا وضع احدكم وجهه فليضع يديه واذا رفعه فليرفعهما (احمد، ابوداود ۱/ ۱۳٦، نسائي) وسيأتي في آخر هذا الباب۔

روستو حديث د براء کښې دي : اذا سجدت فضع كفيك الخ او د مالكؒ او ابو حنيفهؒ قول ضعيف دے ځکه چه حديث د مسيئ الصلاة کښې نه ذکر کيدل نفي د وجوب نه کوي بلکه پدے باندے جدا جدا امرونه راغلي دي نو قرينه صارفه د وجوب نشته لهذا په اووه اندامونو سجده کول فرض دي۔ ٤- **دليل** : (حتى تطمئن ساجدا ـ حديث المسيء الصلاة) ځکه اطمينان هله راځي چه سبعة اعضاء باندے سجده اوشي او فقه حنفي کښې دي : چه مخ او خپو باندے سجده کول واجب دي که يوه خپه ئے اوچته کړه نو مونځ ئے فاسد دے کما في رد المحتار ومظاهر حق (۱/ ٥٩٥)۔ او ابن عابدين الشامي په شامي کښې په وضع القدمين کښې درے روايات ذکر کړيدي (۱) وضع د دواړو خپو فرض ده (۲) يوه خپه کيخودل فرض دي (۳) دريم دا چه وضع الرجلين سنت ده او فرض نه ده۔ صاحب د مرعات (۱/ ۲۰٦) وائي : په در مختار کښې دي چه مشهور په کتابونو د مذهب کښې اعتماد د فرضيت دے او په اعتبار د دليل او قواعدو سره ارجح عدم فرضيت دے (وضع الرجلين سنت دي او فرض نه دي او دا حاصل د اختلاف دے)۔

او ابن همام دا راجح کړيده چه اووه اندامونو باندے سجده کول واجب دي او مشهور په کتابونو د احنافو کښې دا ده چه وضع الجبهه او يو د خپو فقط واجب ده مرعاة (۳/ ۲۰٦) ـ

اصول د فقه حنفي کښې دليل داسے ذکر کوي چه پدے باقي اندامونو سجده فرض نه ده ځکه چه په کتاب الله کښې سجده مطلق ده يعني وضع الوجه على الارض صرف فرض ده او پدے کښې ورسره باقي اندامونه ندي ذکر بلکه دا ځيزونه په اخبار احادو ثابت دي نو زيادت د خبر واحد په کتاب

الله خو صحیح نه دے لهذا په باقی اندامونو سجده کول فرض نه دی بلکه سنت دی۔

الجواب : دا خبره خطاء ده چه دا زیادت دے په کتاب الله باندے بلکه دا بیان د اجمال د کتاب الله دے ځکه په کتاب الله کښ سجده نه مراد سجده شرعی ده نه لغوی او شرعی سجده محتاج وی بیان ته چه د الله کومه سجده مراد ده نو نبی علیه السلام د هغے بیان اوکړو چه هغه سجده چه د الله مراد ده دا ده چه اوه اندامونو سره وی لهذا اووه اندامونو لګولو نه بغیر سجده کول صحیح نه دی او دا به شرعی سجده نه وی۔

٢– منعی جواب دا دے چه دا احادیث اخبار احاد ندی بلکه دا اخبار مشهوره دی۔

المسئلة الثانیة : د سجده علی الوجه والانف متعلق اختلاف دے :

١– **امام احمد**ؒ نه یو روایت او د اسحاقؒ او سعید بن جبیرؒ مذهب او د محدثینو قول دا دے چه په مخ او پوزه دواړو باندے سجده کول او دواړه په زمکه لګول لازم او فرض دی او په یو باندے اکتفاء کول جائز ندی او دا دواړه د یو اندام په شان دی او دا یو قول د امام مالكؒ دے او په مالکیانو کښ د ابن حبیبؒ او ابو خیثمةؒ مذهب هم دے نو دوی وائی پوزه د تندی سره لګول فرض دی۔

٢– **صاحبین** (ابو یوسف، محمد) او امام مالكؒ، شافعیؒ، (المجموع : ٣/٤٢٥) عطاء، طاوسؒ، او ابن سیرینؒ (حکاه ابن المنذر عنهم) وائی : سجده په انف باندے واجب نه ده بلکه صرف په تندی باندے اکتفاء کول هم جواز لری اګرچه مستحب دا ده چه په دواړو باندے اوکړے شی او صرف په پوزه باندے اکتفاء کول – چه تندے ورسره نه لګوی– نو دا ناجائز ده ۔ انظر الهدایه (١/٥٤) والبدائع (١/١٠٥)

٣– **قول ثالث** : د امام ابو حنیفةؒ دے چه سجده فرض ده علی احدهما یو اځے په تندی هم جائز ده او یو اځے په پوزه هم جائز ده ۔ ابن المنذرؒ فرمائی : (ولا یحفظ هذا عن احد غیر ابی حنیفة) دا قول په امت کښ صرف د امام ابو حنیفةؒ نه نقل دے بل د هیچا نه دے ۔ ابن قدامةؒ په الشرح الکبیر (١/٥٨٧) کښ فرمائی : هذا قول یخالف الحدیث الصحیح والاجماع الذی قبله ۔ دا قول د صحیح حدیث خلاف دے او د هغه اجماع نه خلاف دے چه د امام صاحب نه مخکښو علماؤ او صحابو کړیده۔ پدے اقوالو کښ اول صحیح او باقی ددلیل په لحاظ ضعیف او باطل دی۔

ددے اخیری قول دلیل دا دے چه پوزه او تندے دواړه یو اندام دے نو اکتفاء په یو باندے جائز ده او د قول ثانی والا دلیل دا دے چه تندے اصل دے او پوزه د هغے تابع ده نو یو اځے په تابع باندے اکتفاء کول صحیح نه دی خو یو اځے په اصل باندے اکتفاء کول جائز دی۔

او احناف خو پکښ دا وائی چه آیت کښ سجده مطلق ده نو صرف په انف باندے سجده کولو ته هم اسم د سجدے شاملیږی او بله دا چه د دواړو هډوکے یو دے۔

لیکن ددے جواب دا دے چه جبهه اګرکه انف ته هم شاملیږی لیکن رسول الله ﷺ پدے

باندے جدا حکم کړیدے چه د جبهه نه مخ او پوزه مراد دی لکه دلائلو ته اوګوره :

دلائل المحدثین : --۱-**دلیل :** حدیث د ابن عباسؓ دے (بخاری ۱/۱۱۲) باب السجود علی الانف" کښې ورسره زیادت راغلے دے : امرت ان اسجد علی سبعه اعظم علی الجبهه واشار بیده علی انفه والیدین والرکبتین واطراف القدمین الخ ۔

دے حدیث نه معلومه شوه چه د نبی علیه السلام د جبهه نه مراد تندے او انف دواړه دی ځکه انف ته اشاره کړیده۔ ۲- **دلیل :** حدیث د ابن عباسؓ فی البیهقی (۲/۱۰٤) واخبار اصفهان (۱/۱۹۲) والطبرانی فی الکبیر رقم (۱۱۹۱۷) ان النبی ﷺ اتی علی رجل یسجد علی وجهه ولا یضع انفه فقال ﷺ : ضع انفك یسجد معك وفی لفظ : من لم یلزق انفه مع جبهته بالارض اذا سجد لم تجز صلاته" شیخ البانیؒ په الصحیحه (٤/۱۹۸) رقم (۱٦٤٤) کښې وائی :صحیح لشواهده ۔ نو دا حدیث صریح دے چه څوك پوزه د تندی سره په زمکه جوخت نه لګوی د هغه مونځ جائز نه دے ۔ دلیل دے چه یوائې اکتفاء په یوه باندے ناروا ده ۔

۳- دارنګه د رسول الله ﷺ خپل عمل هم دا وو چه پوزه او تندے دواړه به ئے لګول ۔ بخاری (۱/۱۱۳) کښې حدیث د ابوسعید الخدریؓ کښې دی : انه سجد فی ماء وطین حتی رأیت الطین والماء علی جبهة رسول الله ﷺ وارنبته (ای انفه) لامه خطابیؒ وائی : دا حدیث دلیل دے چه سجده په پوزه او تندی دواړو باندے واجبه ده ځکه که دا واجب نه وے نو بیا به ئے د ختو دککړوالی نه ساتلی وے انتهیٰ المرعاة (۳/۲۰۵) ۔ ★- په روایت د احمدؒ کښې دی : عن وائل بن حجر قال : رأیت رسول الله ﷺ یسجد علی الارض واضعاً جبهته وانفه فی سجوده مسند احمد والفتح الربانی بترتیب مسند الامام احمد الشیبانی (۳/۲۸۲) نو د رسول الله ﷺ دائمی عمل په دواړو لګولو باندے وو او امرئے هم په دواړو باندے کړیدے۔

٤- **دلیل :** عن عکرمة : ان النبی ﷺ قال : لا صلاة لمن لایصیب انفه من الارض رواه الاثرم والامام احمد ورواه ابوبکر بن عبد العزیز والدارقطنی فی الافراد متصلا عن عکرمة عن ابن عباس مرفوعاً والصحیح انه مرسل قاله ابن قدامة فی المغنی (۱/٥٦۰) ملاعلی القاریؒ وائی : والمرسل حجة عندنا وهو فی حکم المرفوع لانه لا یقال مثل هذا بالرأی ۔ ★- لا صلاة لمن لا یصیب انفه من الارض ما یصیب الجبین (الدارقطنی والطبرانی : ۳/۱٤۰) وابونعیم فی اخبار اصفهان ، صفة صلاة النبی للالبانی : (۱۰۸) ٥-**دلیل :** اذا سجد احدکم فلیضع انفه علی الارض فانکم قد امرتم بذلك قاله ابن عباس رواه اسماعیل بن عبد الله المعروف بسمویه فی فوائده عن عکرمة عن ابن عباس المرعاة (۳/۲۰٥) ۔

نور روایات مجمع الزوائد کښې اوګوره ۔

ددے دلائلو نه معلومه شوه چه څوك صرف په پوزه یا صرف تندی باندے اکتفاء کوی د هغه مونځ صحیح نه دے او دوباره به ئے کوی نو پدے قول کښې احتیاط دے لهذا کوم مسلمان سره

چه د خپل مونځ غم وی هغه به دواړه په زمکه لګوی او په همدے طريقه سره اطمينان په سجده کښې راځی او انسان پرے الله تعالیٰ ته نزدے کيږی ـ

فوائد الحديث :(۱) دا حديث دليل دے چه انف او جبهه دواړه يو اندام شمارلے شی او دواړو باندے سجده کول ضروری دی او دواړه جدا جدا ندی ورنه بيا به اندامونه اته شی ـ

(۲) په سجده کښې ډيره خشوع او عاجزی وی ځکه چه د ډيرو اندامونو عبادت پکښې وی ـ

(۳) د يو اندام په بعض حصه باندے سجده کول جواز لری الا الانف ـ شرح الاقناع (۱/۳۵۲) کښې ددے وجه دا بيان کړيده چه په حديث کښې قيد د ټول اندام ندے راغلے ـ

توضيح الاحكام (۲/۶۹)

(٤) آيا اندامونو کښې دا شرط دے چه دا به د زمکے سره متصل لګولے شی او مينځ کښې به حائل نه وی ؟ نو دے باره کښې د علماؤ فتویٰ دا ده چه دا واجب نه ده چه مباشرةً به اندام د زمکے سره لګولے شی حتی فی الجبهه نو که يو سړے په نستونړی يا لمن يا په ول د پټکی سجده اوکړی نو مونځ ئے صحيح دے ليکن د مخ او لاسونو او د زمکے ترمينځ حائل پيدا کول مکروه دی، کله چه عذر د ګرمیٔ او يخنی نه وی وجه دا ده چه مقصود د سجدے نه مباشرت د اشرف الاعضاء دے د زمکے سره دے دپاره چه مکمل طور سره خشوع او تواضع پيدا شی کذا فی شرح الاقناع (۱/۳۵۲) ليکن دے سره دا شرط دے چه تندے او پوزه به په زمکه جوخت لګيږی او که د زمکے سره د حائل په وجه جوخت نه لګيدل نو بيا به جائز نه وی ـ

دليل ددے دپاره دا دے چه : حسن بصری انه امام بخاری تعليقا نقل کوی : (۱/۶۵)

ان اصحاب رسول الله ﷺ كانوا يسجدون وايديهم فی ثيابهم ويسجد الرجل منهم علی قلنسوته وعمامته وصله عبد الرزاق كذا فی فتح البارى (۱/٤۱٤)

نو ددے نه جواز معلوميږی مګر دا هم بهتر نه دے، وجه دا ده چه په بيهقی (۳/۱۰۵) کښې د صالح بن حيوان السبائی مرسل حديث کښې دی : رسول الله ﷺ يو سړے اوليدلو چه سجده ئے په يو اړخ کوله او په تندی باندے ئے پټکے وهلے وو نو رسول الله ﷺ د هغه تندے ښکاره کړو آهـ

★– بل مرسل روايت د عياض بن عبد الله القرشی کښې دی : رسول الله ﷺ يو سړے اوليدلو چه په ول د پټکی باندے ئے مونځ کولو نو هغه ورته اشاره اوکړه چه پټکے دے اوچت کړه او د هغه تندی ته ئے اشاره اوکړه ـ دا مرسل شاهد دے د مخکنی مرسل حديث دپاره ـ

بيا بيهقیؒ په باب الكشف عن الجبهة فی السجود کښې بعض احاديث او آثار راوړی دی چه د مخ او تندی ښکاره کول ترے معلوميږی ليکن هغه محمول دی په افضليت باندے نه په وجوب باندے لکه عباده بن صامتؓ به چه کله مانځه ته اودريدو نو پټکے به ئے د تندی نه لرے کړو ـ ابن عمرؓ نه نقل دی چه هغه به کله سجده کوله او پټکے به ئے په سر وونو

هغه به ئے پورته کړو تردے چه تندے به ئے په زمکه اولګولو الخ ـ

نو معلومه شوه چه بهتره دا ده چه بغير دحائل نه سجده اوکړے شی ليکن دا هم جائز ده چه د حائل سره اوکړے شی خو پدے شرط چه مخ به په زمکه جوخت لګی ـ

صاحب د اعلاء السنن (٢٦/٢) دغه حديث د حسن بصريؒ نقل کولو نه پس وائی : چه دا حديث محمول دے په عذر د ګرمی يا يخنی لکه حديث د انسؓ ئے راوړے دے چه فرمائی : مونږ به د نبی عليه السلام سره مونځ کولو نو يوتن زمونږ به د سجدے په ځائے کښ د سختے ګرمی په وجه طرف د خپلے جامے کيخودلو (بخاری : ٥٦/١) او بيا دغه دوه مرسل حديثونه ئے تائيد کښ پيش کړی دی ـ راجع فتاوی الدين الخالص (٣٣٢/٤)

او شيخ عبد الرحمن السعديؒ فرمائی : په سجده کښ حائل په درے قسمه دے ـ (١) يو دا چه د سجدے د اندامونو نه وی لکه په لاس وغيره باندے سجده کول نو دا خو بالکل جائز نه ده ـ (٢) دويم حائل منفصل يعنی يو جدا حائل وی د بدن د اندامونو نه نه وی، لکه جانماز، دړۍ وغيره وی نو دا جائز ده هيڅ باك نه لری ـ

(٣) دريم حائل متصل بالمصلی : هغه حائل چه د مونځ کونکی پورے پيوست وی لکه پټکے، لستونړے، لمن وغيره نو دا مکروه ده مګر که عذر د ګرمئ ازغی وغيره وی نو بيا بلاکراهت جائز ده ـ توضيح الاحکام (٦٩/٢)ـ

د شوافعو په نزد (په يو روايت کښ) په ول د پټکی او لستونړی وغيره باندے سجده کول مونځ باطلوی کله چه هغه دده په حرکت باندے حرکت کوی او اوږده جامه نه وی ـ المجموع (٤٢٤/٣)

ليکن ددوی دا قول غلط دے حديث د انس پرے رد کوی چه هغے کښ دا دی چه مونږ به سجده کوله په جامو باندے دپاره د ځان ساتلو د ګرمئ نه ـ (فسجدنا علی ثيابنا اتقاء الحر) بخاری ـ

(٦) فائده : په سجده کښ به پوزه مخکښ ږدی او که تندے ؟ نو ددے په بارہ کښ هيڅ صحيح حديث مونږ ته ندے معلوم والله اعلم ـ

(٧) په وړئ، لمخی، بزکی جانماز وغيره باندے مونځ ندے مکروه امام نوویؒ وائی : دا قول د جماهير العلماء دے ـ **شيخ الاسلام** ابن تيميةؒ فرمائی : احاديث او آثار پدے خبره دليل دے چه صحابه کرامو به په حالت د اختيار کښ تندے د زمکے سره جوختولو او مينځ کښ به حائل نه وو او د حاجت په وخت کښ لکه ګرمی وغيره نو پدے کښ به ئے په خپله جامه او پټکی سره ځان بچ کولو لهذا پدے باب کښ اعدل الاقوال دا دے چه د ضرورت نه ماسوئ دا کار مکروه دے ـ توضيح الاحکام (٧٠/٢) او د عبد الرحمن بن مهدی رحمه الله واقعه ئے راوړيده چه امام مالك ده لره جيل ته واچولو کله چه هغه په مسجد کښ څادر اچولے وو ـ (وقال له : اما علمت ان بسط السجادة فی مسجدنا هذا بدعة) مجموع الفتاوی (١٩٢/٢٢)

وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَاب : د ضرب يضرب نه دے كفت په معنى د ضم او يو ځائے كول او جمع كولو سره راځى۔ **مسئله** : د جامو په يو ځائے كولو، راغونډولو كښ دوه صورتونه دى :

(۱) يو دا چه بهر د مانځه نه راغونډ كړى مثلا متے بدے كړى، يا په ملاكښ اوتړى وغيره او بيا په مانځه كښ داخل شى نو دا كار هم په كفت كښ داخليږى (بلكه اصلى كفت هم دا دے) ځكه دا د اعمال الجبابره نه دے۔

(۲) نهايه كښ ابن الاثير ليكى (۱۸٤/٤) ددے نه مراد په لاسونو سره د جامے او ويښتو راجمع كول دى د ركوع او سجدے ته د تللو په وخت كښ نو دا كار منع دے۔

شيخ البانىؒ وائى : دا نهى ځانله د مانځه پورے خاص نه ده بلكه كه د بهر د مانځه نه جامه او ويښته راغونډ كړى او بيا په مانځه كښ داخل شى نو ديته هم نهى شامله ده۔ (صفة صلاة النبى ص : ۱۱۹) لكه حديث كښ دى چه نبى عليه السلام منع كړيده ددے نه چه سرے مونځ اوكړى پداسے حال كښ چه هغه ويښته تړلى وى نو پدے كښ – جامے د ځان پورے تړل چه په زمكه ګنده نشى يا لمن په بډه كښ ننويستل – داخل دى نو دا هم حرام دى دارنګه ويښته غوټه كول چه خاورو كښ ګنده نشى يا د څټ پورے تړل يا ئے د پټكى نه لاندے كول يا په بل شى سره تړل دا ټول حرام دى نو دا كارونه په مانځه كښ دننه او مخكښ د مانځه نه كول او بيا مانځه كښ داخليدل حرام دى۔ او حكمت پدے نهى كښ دا دے چه ويښته او جامه دواړه سجده كوى د مونځ كونكى سره نو اجر به ئے زيات وى او كله چه دا پورته كړے شى يا اوتړلے شى نو اجر به ئے كم شى۔

۲ – بعض وائى : حكمت دا دے چه كله جامه او ويښته پورته كړى او د زمكے نه ئے ساتى نو دا مشابه كيږى د متكبرينو سره نو ځكه منع اوشوه او د ويښتو د تړلو حكمت دا هم دے چه پدے باندے شيطان كينى لكه په سنن ابى داؤد (۱۰۲/۱) باب الرجل يصلى عاقصاً شعره كښ باسناد جيد نقل دى چه ابورافع حسن بن على رضى الله عنه اوليدو چه مونځ ئے كولو او كمځۍ ئے په څټ كښ تړلے وه نو ابورافع هغه پرانستله او دا ئے ورته اوفرمايل : سمعت رسول الله ﷺ يقول : ذلك مقعد الشيطان) دا د شيطان د ناستے ځائے دے۔فتح البارى (۲۳٤/۲)

بيا آيا كه څوك دا حرام كار اوكړى نو مونځ ئے صحيح دے كه باطل ؟۔

۱ – امام نووىؒ په شرح مسلم (۱۹۳/۱) كښ وائى : دا نهى تنزيهى ده او كه پدے حالت كښ مونځ اوكړى نو مونځ ئے صحيح دے ليكن بد كار ئے نه دے كړے او طبرىؒ پدے خبره اجماع پيش كړيده او حافظ عسقلانى هم نقل كړيده۔

۲ – ابن المنذرؒ د حسن بصرىؒ نه وجوب د اعادے نقل كړيدے كما قال الحافظ فى الفتح (۲۳٥/۲) و بلوغ الامانى (۲۸٥/۳)

فائده : كه د يو سړى څادر اغوستے وى يا رومال او د هغه نه په مانځه كښ پريوځى نو د هغے

بيرته راتاوول جائز دي او که نه ؟ په کفت کښې داخليږي او که نه ؟ ۔
نو ظاهر د حديث دا دے چه د هغے راغونډول جائز دي وجه دا ده چه د سدل نه منع راغلے ده او سدل ديته وائي چه يوه جامه په سرباندے يا په اوګه باندے واچوی او د هغے دواړه طرفونه خکته زوړند کړی نو دئے نه منع راغلے ده ځکه دا تشبه د اهل کتابو سره ده او هر چه کفت دے نو دا ندے شامل ديته ځکه کفت په هغه جامه کښې راځي چه د بدن پورے انختي وي ۔
بله دا چه دا قسم څادرونه اچول د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وو نو ديته دا نهي نه شامل او بل طرفته د سدل نهي شامله ده لکه دا خبره په شروح الحديث کښې واضحه شويده ۔ انظر عون المعبود (١/٢٤٥) وفتاوى الدين الخالص (٤/٣٢٣)۔
او د ټوپۍ او پټکو باره کښې امام شوکانيؒ فرمائي : [رفع العمامة اسهل من رفع امامة] نيل الاوطار (٢/٢٨٧) يعني دا کار جائز دے ځکه رسول الله ﷺ به په مانځه کښې امامه (چه د هغه نواسئ ده) پورته کوله لهذا دا دده په نيز په کفت کښې نه داخليږي ۔ مګر که دده نه بار غورځيدلے نو بيا به خشوع نه خرابوی په زياتي حرکاتو ځکه سرتور سر مونځ هم جائز دے ۔ والله اعلم ۔

٢ – وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِعْتَدِلُوْا فِي السُّجُوْدِ، وَلَا يَبْسُطْ اَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ. متفق عليه .

ترجمه : او انس رضى الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : په سجده کښې (اطمينان سره) برابر شئ او په تاسو کښې دِے هيڅ شخص (په سجده کښې) خپلے ليچے د سپی په شان نه خوروی ۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح : وَلَا يَبْسُطْ اَحَدُكُمْ : يعني نه دِے خوروی يو کس ستاسو څنګلے اوليچے خپلے د سپی په شان۔ ددے حال نه ځکه منع راغله چه د خبيث څيزونو سره مشابهت خبيث وی (ليس لنا مثل السوء۔ الحديث) بله دا چه پدے حالت کښې د مانځه سپکوالے او کم اهتمام والے او توجه راځي هرکله چه انسان دا کار کوی معلوميږي چه دده د مانځه سره دومره اهتمام نشته بيا دا حکم د اعتدال د بعض علماؤ په نيز باندے صرف سړو ته شامل دے او د ښځو او د سړو پدے هيئت کښې فرق شته او دا تقريبا د ائمه اربعه وقول دے، ليکن امام بخاريؒ او ابن حزم رايه دا ده چه داخلي امورو او صفت د صلاة کښې د ښځو او سړو فرق نشته البته خارجي امورو کښې فرق شته او بيهقيؒ کښې چه کوم روايات راغلي دي چه دال دي په فرق په داخلي امورو کښې نو هغه ټول ضعيف دي ۔ راجع فتاوى الدين الخالص (٤/٨٤)
اِنْبِسَاطَ الْكَلْبِ : سپی داسے انبساط کوی چه لاسونه ورغوی سره د څنګلو نه په زمکه اړدی او ددے انبساط فعل محذوف دے اى لا يبسط ذراعيه فينبسط انبساط الكلب ۔

ابن العربیؒ په شرح د ترمذی کښې وائي : معتدله سجده دا ده چه دواړو خپو دواړه زنګنونو، دواړو لاسونو او مخ باندې اعتماد او تکیه یو شان اوکړې شي نو که لاسونه سره د څنګلونه په زمکه اولګولې شي نو دا اعتدال نه شو دا اعتدال په هله راځي چه په اووه اندامونو باندې یو شان سجده اوکړې شي۔

۳- وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا سَجَدْتَّ فَضَعْ كَفَّيْكَ، وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ . رواه مسلم .

ترجمه : او براء بن عازب ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دي : کله چه ته سجده کوې نو ورغوي په زمکه کیده او څنګلې د زمکې نه پورته کړه ۔ (مسلم)

تشریح : فَضَعْ كَفَّيْكَ : یعني لاسونه په زمکه کیده چه ګوتې به ئې بندې وي او لاسونه ښکاره وي او د غوږونو او اوږو دواړو لاندې کیخودل جواز لري ۔ او د لاسونو پټول هم جواز لري اګرکه مستحب ښکاره کول دي دلیل د جواز عبد الله بن عبد الرحمن فرمائي : مونږ ته رسول الله ﷺ راغلو او مونږ ته ئې په مسجد د بني الاشهل کښې مونځ اوکړو نو ما اولیدو چه د سجدې په حالت کښې به ئې لاسونه په جامه کښې کیخودل (احمد، وابن ماجه) ۔

بیا پدې طریقه سجده کول ضروري دي مګر صرف یو روایت کښې دا اجازه راغلې ده چه صحابه کرامو رسول الله ﷺ ته شکایت اوکړو چه مونږ په سجده کښې سترې کیږو چه لاسونه مو نیغ نیولي وي، (ځکه د هغوي سجدې به ډیرې اوږدې وې خصوصا په نفلو کښې) نو نبي علیه السلام ورته اوفرمایل : (استعینوا بالرکب ۔ ترمذي ابوداود) ۔ په زنګنونو باندې لیچې کیدئ ۔ دا اجازه صرف په نفلو کښې ده او حدیث کښې څه نا څه کلام هم شته (قال البخاري والترمذي ارساله اصح من وصله) بلکه هغې کښې محمد بن عجلان راوي دې اختلطت علیه احادیث ابي هریرة ﷺ۔

٤- وَعَنْ مَيْمُوْنَةَ، قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا سَجَدَ جَافٰى بَيْنَ يَدَيْهِ، حَتّٰى لَوْ اَنَّ بَهْمَةً اَرَادَتْ اَنْ تَمُرَّ تَحْتَ يَدَيْهِ مَرَّتْ . هٰذَا لفظ ابي داوٗد، كما صرَّح في شرح السنة باسنادِهٖ. ولمسلم بمعناهُ . قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا سَجَدَ لَوْ شَاءَتْ بَهْمَةٌ اَنْ تَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لَمَرَّتْ.

ترجمه : او میمونه رضي الله عنها فرمائي : نبي کریم ﷺ به چه کله سجده کوله نو د خپلو دواړو لاسونو ترمینځ به ئې دومره جدائي ساتله چه که د چیلئ بچي به غوختل چه د هغه د دواړو لاسونو لاندې تیر شي نو تیریدې به شو ۔ دا الفاظ د ابوداود دي لکه چه پخپله بغوي په شرح السنة کښې په خپل سند سره بیان کړیدي او مسلم دا حدیث بالمعنی نقل کړیدې (چه د

هغې الفاظ دا دي) ميمونه فرمائي : نبي عليه السلام به چه كله سجده كوله نو كه د چيلئ بچي به د هغه د لاسونو ترمينځ وتل غوختل نو وتلې به شو .

تشريح : جَافَى : يعني د دواړو اړخونو نه به ئې لاسونه وړاندې ساتل۔

بُهَمَةٌ : جوهري وائي : بهمه د ګډې اولادو ته وائي كه مذكر وي او كه مؤنث يعني ګډه يا كډ جمع ئې بُهَمٌ او بِهَامٌ ده، قاموس كښې ليكي : البهمة اولاد الضأن والمعز ۔ ګډې بيزې دواړو ته وائي نو دې حديث نه معلومه شوه چه په وخت د سجده كښې به دواړه لاسونه د تشو او اړخونو نه جدا ساتي، او دومره به ئې جدا كوي چه كه يوه ګډه دده د اړخ او لاس ترمينځ تيريدل اوغواړي نو تيريدل ئې ممكن وي۔

٥– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكِ ابْنِ بُحَيْنَةَ ﷺ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَبْدُوَ بَيَاضُ اِبْطَيْهِ .متفق عليه.

ترجمه : او عبد الله بن مالك بن بحينه ﷺ فرمائي : نبي عليه السلام به چه كله سجده كوله نو د دواړو لاسونو ترمينځ به ئې جدائي ساتله تردې چه د هغه د دواړو ترخونو سپينوالې به ښكاره شو ۔ (بخاري ومسلم)

تعارف د عبد الله بن بحينه ﷺ : بحينه د مالك بن القشب الازدي د ښځې نوم دې او ابن بحينه صفت د عبد الله دې نه د مالك ۔ ځكه بحينه د عبد الله مور ده نه د مالك، نو دلته د عبد الله د پلار او مور دواړه نومونه ذكر دي، ابومحمد ئې كنيه ده او حليف د بني المطلب دې او ابن بحينه باندې مشهور دې او دا ډير پخوانې مسلمان دې دا ډير عابد، غوره صحابي دې ټول عمر به ئې روژې نيولې، په بطن ريم كښې وفات شويدې چه دا د مدينې نه ديرش ميله فاصله باندې يوه علاقه ده چه د مروان بن حكم دور حكومت وو او دا به د مروان خواته ورتلو او د مروان حكومت په مدينه باندې د سنه (٥٤) نه تر سنه (٥٨) پورې وو ۔ قاله الحافظ۔

تشريح : حَتّٰى يَبْدُوَ بَيَاضُ اِبْطَيْهِ : ددې نه مراد يا د قميص سپينوالې دې، ځكه په عام حالت كښې ترخ تنګوي نو تياره وي او كله چه لاسونه اودرول شي او كولاو والې پكښې راشي نو سپينوالې ښكاره شي۔ ٢– دويم صحيح مطلب دا چه نبي عليه السلام كله كله څادر كښې مونځ كولو (د احرام په شان) نو كله چه به سجدې ته خكته شو نو د لاسونو په جدا كولو سره به څادر جدا شو او ترخونه مبارك به ئې ښكاره شو۔ بعض وائي : د نبي عليه السلام په ترخ كښې ويښته نه وو ليكن دا خبره صحيح نه ده، نبي عليه السلام د عام انسانانو پشان انسان وو او د عام انسانانو په شان احوال به پرې راتلل ليكن هغه به صفائي كوله نو د صفائي د وجې نه به بياض ښكاره كيدو او نبي عليه السلام اشعر البدن وو ۔ امام قرطبيؒ وائي : په سجده كښې ددې هيئت په استحباب كښې حكمت دا دې چه پديسره په مخ باندې اعتماد او تكيه كښې آساني راځي او

پوزه او تندے نه متاثر کیږی او د زمکے په ملاقات ورته ضرر نه رسی۔

بعض وائی: دا هیئت اشبه بالتواضع دے۔ او پدے سره تندے او پوزه په زمکه جوخت لګی، او د سستو خلقو د هیئت نه په کښې جدا والے دے۔ ابن المنیرؒ وائی: ددے حکمت دا دے چه هر اندام مستقل ښکاره شی ترڅو چه یو انسان په دے حالت کښې ډیر ښکاره کیږی او پدے سره هر اندام قبلے ته متوجه شی او بعض اندامونه په بعضو باندے په حالت د سجده کښې اعتماد اونکړی۔

دا حدیث او ددے په شان نور حدیثونه چه په هغے کښې امر په تفریج الیدین راغلی دے دلیل دے چه په سجده کښې به لاسونه جدا ساتی او دا کار واجب دے په هغه وخت کښې چه کله مشقت نه وی یا بل مسلمان ته تکلیف نه رسی ځکه صفونو کښې جوخت اودریدل ضروری دی نو که هلته تفریج اونه شی نو خیر دے مګر د زمکے او د اړخونو نه به ئے ساتی خو ډیر تفریج به نه کوی۔

٦- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ: کَانَ النَّبِیُّ ﷺ یَقُوْلُ فِیْ سُجُوْدِهٖ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ ذَنْبِیْ کُلَّهٗ، دِقَّهٗ وَجِلَّهٗ، وَاَوَّلَهٗ وَآخِرَهٗ، وَعَلَانِیَتَهٗ وَسِرَّهٗ. رواه مسلم.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: نبی علیه السلام به په سجده کښې دا وئیل: اللهم اغفر الخ (اے الله ما ته ټول ګناهونه، واړه، غټ، اولنی او روستنی، ښکاره او پټ ګناهونه معاف کړے۔ (مسلم)

تشریح: دِقَّهٗ: دا تشریح ده د کله۔ وَجِلَّهٗ: دا په کسره د جیم دے لیکن ضمه وئیل پکښې هم جائز دی۔ جلیل او کبیر او غټ ګناهونو ته وائی، واړه ګناهونه ئے مخکښې ذکر کړل ځکه سائل ترقی کوی په سوال کښې۔ دارنګه کبائر غالبا د اصرار علی الصغائر نه پیدا کیږی نو ګویا کښې صغائر وسائل د کبائرو دی او وسیله مقدم وی۔

وَعَلَانِیَتَهٗ وَسِرَّهٗ: دا په نسبت د مخلوق مراد دے، یعنی بندګانو ته ښکاره او د بندګانو نه پټ ګناهونه زما معاف کړے۔

٧- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: فَقَدْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ لَیْلَةً مِنَ الْفِرَاشِ، فَالْتَمَسْتُهٗ، فَوَقَعَتْ یَدِیْ عَلٰی بَطْنِ قَدَمَیْهِ وَهُوَ فِی الْمَسْجِدِ، وَهُمَا مَنْصُوْبَتَانِ، وَهُوَ یَقُوْلُ: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ، لَا اُحْصِیْ ثَنَاءً عَلَیْكَ، اَنْتَ کَمَا اَثْنَیْتَ عَلٰی نَفْسِكَ. رواه مسلم.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی: یوه شپه ما رسول الله ﷺ لره په بستره اونه موندلو، ما تلاش کولو چه زما لاس د هغه د قدمونو په سینه اولګیدو او هغه په سجده کښې

وو او دواړه خپې ئې ولاړې وې او دا دعاء ئې وئيله : اللهم (اے الله! زه ستا د رضا په ذريعه ستا د غضب نه پناه غواړم او ستا د معافي په ذريعه ستا د عذاب نه پناه غواړم او په تاسره ستا د عذاب نه پناه غواړم، زه ستا داسې صفت په شمار کښې نشم راګيرولې، کوم چه تا د خپل ځان صفت کړې دې ۔(مسلم)۔

تشريح : وَهُمَا مَنْصُوْبَتَانِ : آيا په حالت د سجده کښې دواړه خپې د يو بل سره يو ځائې کول سنت دي او که نه؟ نو په روايت د حاكم في المستدرك كښې ورسره دا الفاظ زيات دي : راصاً عقبيه (٢٠١/٢) (٩٧/٣) يعني دواړه ګيټې ئې د يو بل سره يو ځائې کړې وې نو بس سنت طريقه دا ده چه دا هم يو ځائې کړي۔ ٢- شيخ بكر ابوزيد په خپله رساله (لاجديد فى الصلاة) کښې دا روايت شاذ او ضعيف ګرځولې دې په سبب د يحيى بن ايوب، ليکن د هغه خبره په تکلف بناء ده، راجح دا ده چه دا حديث حسن يا صحيح درجه کښې دې ځکه حاکم ورته صحيح على شرط الشيخين وئيلې دې او ذهبي د هغه موافقه کړيده او ابن خزيمه په خپل صحيح (٣٢١/١) کښې (قال الدكتور مصطفى الاعظمى في تعليقه : اسناده صحيح)، ابن حبان بيهقيؒ په (السنن الكبرى (١١٦/٢) کښې او شيخ البانيؒ وغيره علماؤ ورته صحيح وئيلې دې او د يحيى بن ايوب روايت جماعت راوړيدې سوئ د بخاري نه او حافظ په تقريب کښې ليکي : صدوق ربما اخطأ ۔

او دا ضم العقبين د احنافو مذهب دې چه مستحب ئې ګڼړي كما في الدر المختار (٥١٣/١) او حافظ ابن القيم پدې باندې قول کړيدې په بدائع الفوائد کښې او د شوافعو نه بيهقيؒ او بعض حنابله ددې قائل دي ۔

خو که چا د دواړو قدمونو ترمينځ جدا والې اوکړو په سبب د اجتهاد دده چه دا حديث ورته ضعيف ښکاره شوې وي نو بيا به هغه ګناهګار نه وي ورنه مخالف د سنت به وي ۔ راجع للتفصيل فتاوى الدين الخالص (٣١١/٤)

او د رص القدمين دپاره دا لفظ د مسلم هم دليل دې : فوقعت يدى على بطن قدميه) د عائشهؓ لاس په د نبي عليه السلام د دواړو قدمونو په خيټه باندې واقع شو) او دا کار هله کيدې شي چه دواړه قدمونه يو بل سره يو ځائې وي فتدبر ۔

بيا ددې حديث نه دا مسئله هم معلوميږي چه مس المرأه سره اودس نه ماتيږي دلته د عائشهؓ لاس د نبي عليه السلام سره په حالت د مانځه کښې لګيدلې دې ۔

وَبِمُعَافَاتِكَ : اى بعفوك او باب مفاعله ئې راوړه اشاره ده ډيرې عفو ته ۔

وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ : اى اعوذ بذاتك من آثار صفاتك ۔ يا اعوذ بصفات جمالك من صفات جلالك۔ لَا اُحْصِيْ : يعنى زه په شمار کښې نشم راګيرولې او طاقت نه لرم چه ستا داسې صفات بيان کړم څنګه چه ته د هغې مستحق ئې۔ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ : دوه ترکيبه دي (١) کاف

زائد دے او ما په معنی د الذی ای انت الذی اثنیت علی ذلك ثناء یلیق بك فمن یقدر علی اداء حق ثناءك ۔ (٢) یا كاف په معنی د علی دے او عائد د موصول محذوف دے ای انت ثابت دائم علی الاوصاف الجلیلة التی اثنیت بها علی نفسك یعنی ته په هغه اوچتو صفاتو باندے همیشه ئے كوم چه تا د خپل ځان دپاره بیان كړیدی۔

(٣) بعض وائی : انت تاكید دے د ضمیر مجرور او مرفوع وضع شویدے په ځائے د مجرور او كاف په معنی د مثل دے او ما مصدریه ده نو معنی دا شوه : زه ستا داسے صفتونه نشم وئیلے لكه څنګه چه تا د خپل ځان دپاره بیان كړیدی نو پدے كښ اظهار د عجز د بنده دے د اداء د حقوق الله نه ۔ بِرِضَاكَ : په كسره د راء دے نه په فتحه د راء ۔ او كه الف ممدوده ورسره راشی نو بیا به په فتحه د راء سره وی ۔ انظر عقود اللغة للشیخ محمد نقیب۔

٨– وَعَنْ اَبِی هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَقْرَبُ مَا یَكُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَّبِّهٖ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَاَكْثِرُوْا الدُّعَاءَ .رواه مسلم.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : د بنده الله تعالی ته ډیر نزدے كیدل په هغه وقت كښ وی چه كله دے په سجده كښ وی پدے وجه تاسو (په سجده كښ) ډیرے زیاتے دعاګانے كوئ ۔ (مسلم)۔

تشریح: اَقْرَبُ مَا : ما مصدریه ده او كان تامه ده او من ربه متعلق دے د اقرب پورے او خبر د اقرب (حاصل) محذوف دے ای اقرب كون العبد من الرب حاصل له فی حالة السجود ۔ یعنی د بنده ډیر قریب كیدل الله ته په حالت د سجده كښ حاصلیږی ۔

بیا ددے ډیر قریب كیدو وجه څه ده ؟ نو بعض وائی وجه دا ده چه د سجدے په حالت كښ انسان د الله نه دعاء غواړی، ځكه ده ته په دعاء امر شویدے او الله دعاء غوختونكو ته نزدے وی (واذا سئلك عبادی عنی فانی قریب)۔

٢– دویم دا چه سجده د ذلت او انكساری او عاجزی حال دے او دا د بنده په احوالو كښ ډیر پسندیده او محبوب ترین حالت دے د ملنګئ تندے ئے مالك حقیقی ته په خاورو كښ ایخے وی واه، واه دا څومره مزیدار حالت دے چه بنده ایله خپل ځان اوپیژنی چه اصلی حالت زما دا دے چه د خپل مالك حقیقی په تعظیم كښ خپل ځان سترے كړی ۔

٣– دریم دا چه سجده اول هغه عبادت دے چه الله تعالی په هغے باندے د آدم د پیدائش نه پس حكم كړے دے نو څوك چه پدے سره الله تعالی ته ځان نزدے كوی نو دا به ډیر قریب وی الله تعالی ته او بله دا چه پدے كښ مخالفت د ابلیس لعین دے په اوله ګناه كښ چه د الله مخالفت پكښ شویدے۔ علامه قرطبیؒ وائی : دا نزدیكت د مكان په اعتبار نه دے بلكه دا په اعتبار د مرتبه او

کرامت دے یعنی بنده الله تعالی ته زیات مکرم او زیات اوچتے مرتبے والا وی۔
دا حدیث دلیل دے چه الله ته سجدے هم زیاتول پکار دی او په هغے کښې دعاګانے هم ډیرول پکار دی ځکه چه اجابت امید په دے حالت کښې زیات وی۔ دارنګه هر قسم دعاء لوښتل جائز دی ځکه کثرت باعتبار الکم والکیف دواړه کیدے شي۔

۹– وَعَنْهُ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ، فَسَجَدَ، اِعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِيْ، يَقُوْلُ : يَا وَيْلَتٰى ! اُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُوْدِ، فَسَجَدَ، فَلَهُ الْجَنَّةُ، وَاُمِرْتُ بِالسُّجُوْدِ فَاَبَيْتُ، فَلِيَ النَّارُ . رواه مسلم .

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : کله چه ابن آدم (بنده مومن) د سجدے آیت اولولی او سجده اوکړی نو په هغه وخت شیطان ژاړی یو طرف ته جدا شی او وائی چه اے افسوس ! د آدم ځوی ته د سجدے کولو حکم اوشو نو هغه سجده اوکړه او (دهغے په بدله کښې) هغه دپاره جنت دے او ماته د سجدے حکم اوشو نو ما (په سجده نه کولو د الله) نافرمانی اوکړه، نو (ددے په نتیجه کښې) ما دپاره اور دے۔ (مسلم)۔

تشریح : السَّجْدَۃَ نه مراد آیت د سجدے دے، دا شیطان نه مراد ابلیس دے فقط ۔ دا حدیث دلیل دے په فضیلت د سجده باندے چه په دے سره شیطان (دشمن) خفه کیږی بیا دا حدیث بعض علماؤ دلیل ګرځولے دے چه سجده د تلاوت واجب ده لیکن بعض علماء وائی چه دا سنت ده او په دے حدیث کښې ترك السجود نه په طریقه د انکار او تکبر سجده نه کول مراد دی لفظ د ابیت پرے دلیل دے نو ددے نه وجوب د سجدے نه معلومیږی او تفصیل به خپل ځائے کښې راشی۔

۱۰– وَعَنْ رَبِيْعَةَ بْنِ كَعْبٍ ﷺ، قَالَ : كُنْتُ اَبِيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ، فَاَتَيْتُهُ بِوَضُوْئِهٖ وَحَاجَتِهٖ، فَقَالَ لِيْ : سَلْ . فَقُلْتُ : اَسْئَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ . قَالَ : اَوَغَيْرَ ذٰلِكَ ؟ . قُلْتُ : هُوَ ذَاكَ . قَالَ : فَاَعِنِّيْ عَلٰى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ . رواه مسلم .

ترجمه : او ربیعه بن کعب ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ سره شپه تیروله نو ما به هغه ته د اوداسه اوبه او نور ضروریات راوړل (یوه ورځ) ما ته رسول الله ﷺ اوفرمایل : چه (د دین او دنیا د نیکئ نه چه څه غواړے) اوغواړه ! ما عرض اوکړو : زه ستا سره په جنت کښې ملګرتیا غواړم۔
رسول الله ﷺ اوفرمایل : (کومے مرتبے ته چه رسیدل غواړے دا خو ډیره عظیمه ده ددے نه سوا) بل څه اوغواړه ! ما عرض اوکړو : زما سوال خو صرف همدغه دے، نبی علیه السلام اوفرمایل : (نو ددے مرتبے حاصلولو دپاره) ته ما سره د ډیرو سجدو په ذریعه مدد اوکړه ۔ (مسلم)

د ربيعه بن كعب ؓ تعارف: ربيعه بن كعب بن مالك الاسلمي ـ ابوفراس ئې كنيه ده مدني صحابي دے او اصحاب الصفه نه دے بعض وائي د اد رسول الله ﷺ خادم وو او د ډير مخكښې نه ورسره ملګرے شوے وو او سفر او حضر كښې به ورسره لازم وو او بعض علماء وائي: ابوفراس او ربيعه جدا جدا دي او ابو احمد الحاكم، امام بخاري، او ابن عبد البر دا تفريق حق ګڼړلے دے په سنه (٦٣هـ) كښې د حره د واقعې نه پس وفات شويدے صرف دا يو حديث ترے نقل دے ـ

تشريح: أَوْغَيْرَ ذٰلِكَ: اى اتسأل ذلك وغيره ام تسأله وحده ـ واو باندے فتحه ده يعنې آيا دا او ددے نه سوا نور غواړے او كه صرف همدغه غواړے ـ ٢-او كه واو ساكن شي نو بيا به تقدير دا شي: اى تسأل ذلك ام غيره؟ يعني دا غواړے او كه ددے نه غير بل څه غواړے؟ ـ

٣- بعض وائي: واو باندے سكون او فتحه دواړه سره نقل دے بناء په دواړو تقديرونو غير يا مرفوع دے يا منصوب دے كه مرفوع شي نو تقدير داسے دے: فمسئولك هذا او غير ذلك؟ يعني ستا سوال دا دے او كه بل شے، او كه غير منصوب شي: اتسأل هذا وغير ذلك انسب بحالك ـ يعنې ته خو دا سوال كوے او ددے نه غير ستا د حال سره مناسب دے ـ

٤- او كه او ساكن شي او غير منصوب شي ـ نو تقدير به دا شي: تسأل ذلك ا وغير ذلك؟ يعني دا غواړے او كه ددے نه غير بل څه؟ ـ ٥- بعض وائي: او ساكن دے او غير منصوب دے په فعل مقدر تقدير داسے دے: او سل غير ذلك ـ او كه فتحه شي تقدير به دا شي: اتسأل هذا وهو شاق وتترك ما هو اهون منه؟ ـ يعني آيا ته دا غواړے او دا ګران كار دے او ددے نه آسان پريدے ـ اوله توجيه غوره ده ـ هُوَ ذَاكَ: يعني همدا زما مسئول او سوال دے نه غير ـ

عَلٰى نَفْسِكَ: اى على تحصيل حاجة نفسك التى هى المرافقة ـ مطلب دا چه دا حاجت ستا صرف په سوال نشي پوره كيدے بلكه دا به ستا مدد ته هم ضرورت لري ـ

٢- بعض معنٰي كوي: فوافقني بكثرة السجود قاهراً بها على نفسك ـ يعني ما سره به موافقت كوے په ډيرو سجدو سره چه په ځان به زور كوے ـ

او د كثرة السجود نه مراد ډير مونځونه دي، فرائض، سنن، نوافل مستحبات وغيره ـ

حديث دليل دے چه سجده هغه عظيم قربت او عبادت دے چه انسان پرے اوچت درجات حاصلوي او د نبي عليه السلام سره جنت كښې ملګرتيا هله حاصليږي چه كله انسان الله ته زيات نزدے شي او دا كار په ډيرو سجدو كيږي نو مونږ او تاسو هم د الله د نبي سره ملګرتيا غواړو نو سجدے به ډيرو ـ دا حديث دليل دے چه چاتا سره احسان اوكړو نو ته به هم د هغه سره احسان كوے ـ دارنګه ددے صحابي د آخرت سره څومره مينه ده چه د دنيا هيڅ شے نه غواړي او نظر ئې په آخرت لګي تول غم ئې د آخرت سره دے ـ

٣- د جنت دپاره اسباب ظاهريه او باطنيه دواړه تيارول پكار دي ـ

١١ – وَعَنْ مَعْدَانَ بْنِ طَلْحَةَ، قَالَ : لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، فَقُلْتُ : اَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ اَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِيَ اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ، فَسَكَتَ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ، فَسَكَتَ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ . فَقَالَ : سَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ، فَقَالَ : عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ لِلّٰهِ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً، اِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيْئَةً . قَالَ مَعْدَانُ : ثُمَّ لَقِيْتُ اَبَا الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ لِيْ مِثْلَ مَا قَالَ لِيْ ثَوْبَانُ . رواه مسلم .

ترجمه : او معدان بن طلحهؒ فرمائي : زه د رسول الله ﷺ آزاد کړده غلام ثوبان سره ملاو شوم او هغه ته مے عرض اوکړو چه ما ته کوم داسے عمل اوښايه چه دهغے دکولو په وجه الله تعالى ما جنت ته داخل کړي ـ ثوبان رضى الله عنه غلے شو، ما دوباره عرض اوکړو، هغه بيا هم خاموش شو، کله چه ما دريم ځل عرض اوکړو نو هغوى اوفرمايل : چه همدغه سوال ما د رسول الله ﷺ نه کړے وو، نو نبى عليه السلام (زما د سوال په جواب کښې) فرمايلى وو چه ته د الله دپاره سجدے کثرت سره کوه، ځکه چه ته الله تعالى ته يوه سجده نه لګوے مګر الله تعالى به په هغے سره ستا يوه درجه پورته کوى او يوه ګناه به ختموى ـ معدانؒ وائى : ما بيا د ابودرداء رضى الله عنه سره ملاقات اوکړو او د هغه نه مے هم هغه تپوس اوکړو (کوم چه مے ثوبان رضى الله عنه نه کړے وو) نو هغوى هم ما ته هغه جواب راکړو کوم چه ثوبان ؓ راکړے وو ـ (مسلم)

تعارف د معدان بن طلحه : دا شامى ثقه د کبار التابعين نه دے ترمذیؒ وائى : دا معدان بن ابى طلحه دے، د يحيى بن معين په نزد راجح دا ده چه دا معدان بن طلحه دے، د ابن معين قول راجح دے ځکه اهل شام دده په حال ښه خبر دى او هغوى به ده ته ابن طلحه وئيلو ـ

تشريح : فَسَكَتَ : ثوبان ولے غلے شو ؟ نو کيدے شى چه هغه ددے سائل د حال امتحان اخستلو چه دا څومره طلب ګار او شوق لرى ـ بكثرة السجود نه مراد په مانځه کښې سجده کول دى ځکه ددے په سبب انسان الله ته نزدے کيږى کما فى الآيه (واسجد واقترب) ـ دارنګه سجده تلاوت، سجده شکر او هره سجده مشروعه پکښې داخليږى، او دا دليل دے په حجيت د خبر واحد باندے ـ

١٢ – عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ؓ ، قَالَ : رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اِذَا سَجَدَ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ وَاِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ . رواه ابوداود والترمذى والنسائى وابن ماجه والدارمیؒ .

ترجمه : وائل بن حجر ؓ فرمائى : ما رسول الله ﷺ اوليدو کله چه سجدے ته خکته شو نو زنګنونه ئے د لاسونو نه مخکښې کيخودل او کله چه د سجدے نه پورته کيدو نو لاسونه ئے د

زنګنونو نه مخکښې پورته کول ـ (ابوداود، ترمذي، نسائي، ابن ماجه، دارمي)

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه الدارمي (۱/۳۰۳) وابوداود (۸۳۸) والترمذي (۲۶۸) والنسائي (۲/۲۰۵) وابن ماجه (۸۸۲) وابن خزيمة (۶۲۹) وابن حبان (۱۹۰۳) قال الترمذي : حديث حسن غريب لانعرف احداً رواه مثل هذا عن شريك وقال الدارقطني : تفرد به شريك وليس بالقوى فيما تفرد به ـ

۱۳ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا سَجَدَ اَحَدُكُمْ فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيْرُ، وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ .رواه ابوداود والنسائي والدارميُّ . قال ابوسليمان الخطابي : حديث وائل بن حجر اَثْبَتُ من هذا، وقيل هذا منسوخ

ترجمه : او ابوهريره رضى الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دی : کله چه يو تن په تاسو کښې سجده کوی نو د اوښ د ناستې په شان ناسته دې نه کوی بلکه هغه له پکار دی چه دواړه لاسونه د زنګنونو نه مخکښې په زمکه کيدی ـ (ابوداود، نسائی، دارمی) او ابوسليمان خطابیؒ وئيلی دی چه د وائل بن حجر رضی الله عنه حديث ددې حديث نه زيات (صحيح) ثابت دے او چا وئيلی دی چه دا حديث منسوخ دے ـ

تشريح : **وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ**:

مسئله : سجدے ته د ښکته کيدو په وخت به لاسونه مخکښې کوی او که زنګنونه؟

دوه قوله دی : ۱- **اول قول** دا دے چه مستحب دا ده چه زنګنونه مقدم کړی په لاسونو ـ او دا قول د امام ابوحنيفه، شافعی، او مشهور قول د احمد، سفيان ثوری، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله دے ـ ۲- **قول ثانی** : امام مالك، ابن حزم، اوزاعی، حسن بصری، بخاری رحمهم الله ـ كما في صحيح البخاري (۱/۱۱۰) ـ او د امام احمد يو روايت دا دے چه لاسونه به مخکښې ږدی او زنګنونه به روستو ـ كما في المغني (۱/۵۹۰) ابن حزم ورته فرض وائی ـ المحلى (۳/۴۴)

۳- **شيخ الاسلام** ابن تيميہؒ وائی : دواړه امرين جائز دی كما في مجموع الفتاوى (۱/۸۸) او هغه پدے باندے د اجماع دعوه کړيده ليکن علماؤ په هغه باندے رد کړيدے چه د اجماع دعوه صحيح نه ده، ځکه د ابن الحزمؒ مذهب ته هغه توجه نده کړے چه هغه وضع اليدين قبل الركبتين ته فرض وائی ددے نه بغير مونځ نه کيږی ـ المحلى (۳/۴۴) لان الامر للوجوب ـ

شيخ البانیؒ په تمام المنه (۱۹۵) کښې وائی : ظاهر د امر پدے سنت باندے فائده کوی وجوب لره او پدے باندے قول کړيدے ابن حزم رحمه الله الخ

او جمهور ورته مستحب وائی ليکن مونږ وايو چه لاسونه به مخکښې اږدی ځکه احاديث

پدے باب کښې قوی دی او بل طرفته یو روایت موقوف صحیح دے لیکن هغه د مرفوع حدیث خلاف دے فلا یعمل به او باقی ټول روایات ضعیف ښکاری اوس دلائل اوګوره :

دلائل د قول اول : ۱- اول دا حدیث د وائل بن حجر دے ۔ اخرجه ابوداود (۱/ ۱۲۹) والترمذی (۱/۶۱) والنسائی (۱/۱٦٥) والدارمی (۱/۲٤٥) وابن ماجه والطحاوی (۱/۱۸۱) ۔ چه پدے کښې وضع الرکبتین مقدم دی په وضع الیدین باندے ۔

الجواب : دا حدیث ضعیف دے ددے درے طرق دی، هر یو کښې ضعف دے ۱- اول طریق : شریك عن عاصم بن کلیب عن ابیه عن وائل۔ دا د شریك سیئ الحفظ په وجه ضعیف دے او هغه پدے متفرد هم دے او شریك چه په یو روایت متفرد وی نو هغه قوی نه وی کما قال الدارقطنی (۱/٣٤٥)۔

۲- طریق : همام عن محمد بن جحاده عن عبد الجبار بن وائل عن ابیه عن النبی ﷺ ۔ دا هم ضعیف دے منقطع دے ځکه د عبد الجبار د وائل نه سماع نه ده ثابت ۔

۳- طریق : همام عن شقیق عن عاصم بن کلیب عن ابیه عن النبی ﷺ ۔ پدے کښې دوه علتونه دی یو دا مرسل دے او شقیق ابواللیث مجهول راوی دے کما فی التقریب للحافظ ۔ والمیزان للذهبی ۔ نو دا درے واړه طرق ضعیف دی ۔ انظر المرعاة (۳/۲۱۷)

بله وجه دا ده چه دلته شقیق د شریك خلاف هم کړے په وصل او ارسال کښې دا هم موجب د ضعف دے۔ ددے حدیث شواهد شته لیکن د هغے حال هم اوګوره :

۱- انس : قال رأیت رسول الله ﷺ انحط بالتکبیر فسبقت رکبتاه یدیه (دارقطنی (۱/٣٤٥) والبیهقی (۲/۹۹) والحاکم (۲/۲۲٦) قال البیهقی والدارقطنی : تفرد به العلاء بن اسماعیل قلت وهو مجهول فهو شاهد ضعیف ۔ ۲- بل شاهد : ابی بن کعب وائی : کان النبی ﷺ یخر علی رکبتیه ولا یتکئ ۔ ابن حبان (٤٩٧) **الجواب** : هذا حدیث ضعیف مسلسل بالمجهولین محمد بن معاذ مجهول، د هغه پلار او نیکه هم مجهول دی ۔ کما فی المیزان واللسان ۔

۳- بل شاهد : عبد الجبار بن وائل عن ابیه عن النبی ﷺ کان اذا دخل فی الصلاة رفع یدیه ...... فلما اراد ان یسجد وقعت رکبتاه علی الارض قبل ان تقع کفاه فاذا نهض نهض علی رکبتیه واعتمد علی فخذیه ۔ (ابوداود، بیهقی) ۔

الجواب : دا حدیث هم ضعیف منقطع دے ۔ قال النووی فی المجموع (۳/٤٦) : حدیث ضعیف اتفق الحفاظ علی ان عبد الجبار لم یسمع من ابیه ولا ادرکه ۔ نو دا روایت د ټولو شواهدو سره ضعیف دے ۔ علامه مبارکفوری په مرعاة (۲۱۷/۳) کښې وائی : ففی ارتقاء حدیث وائل الی درجة الحسن کلام ولو سلم ان حدیث وائل بن حجر حسن فحدیث ابی هریرة الآتی اثبت واقوی منه کما ستعرف انتهی ۔ یعنی ددے حدیث حسن درجے ته رسیدلو کښې کلام دے (ځکه دا په ټولو طرقو

ضعیف دے) او کـه اومنو چه حسن دے نو بیا وایو چه راتلونکے حدیث د ابو هریره (کوم چه مخکښ مونږ اولیکلو) د دے حدیث نه زیات ثابت او زیات قوی دے۔

۲- دلیل : روایت موقوف باسناد صحیح ۔ طحاوی (۱/۱۸۲) او مصنف عبد الرزاق (۲۹۵۵):
عن علقمة والاسود قالا : حفظنا من عمر في صلاته انه خر بعد ركوعه على ركبتيه كما يخر البعير ووضع ركبتيه قبل يديه ۔ او طحاوی د ابن مسعود نه هم دغه شان روایت نقل کړے لیکن هغه هم ضعیف دے فیـه الحجاج بن ارطاة ، دا روایت د عمر صحیح دے لیکن روستو به راشی چه د بروك البعير نه رسول الله ﷺ په صحیح حدیث کښ منع فرمائیلے ده لهذا دا به محمول وی په اجتهاد د عمر فاروق باندے ۔ او په دے کښ اشاره ده چه اوښ اول په زنګنونو باندے کینی بیا لاسونه ږدی ۔

۳- دلیل : عن ابن ابی لیلیٰ عن نافع عن ابن عمر : انه كان يضع ركبته اذا سجد قبل يديه ويرفع يديه اذا رفع قبل ركبتيه (ابن ابی شیبة : ۱/۲۶۳) ۔ **الجواب :** دا حدیث منکر دے، ابن ابی لیلیٰ سیئ الحفظ دے ۔ ۲- دویم دده نه بل ثقه راوی عبد العزیز مخالفت کړیدے نو وجه د نکارت دا ده چه دا خلاف دے د عمل د ابن عمر نه په بل روایت کښ ۔ د اوو دلائل د اول قول چه په دے کښ صرف یو اثر د عمر فاروق صحیح دے او مرفوع حدیث کښ صحیح نشته ۔

علامه حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد (۱/۲۲۳) کښ دا قول غوره کړیدے لیکن بیا ورته تعارض ښکاره شویدے چه نبی علیه السلام اول فرمائی : فلا يبرك كما يبرك البعير یعنی د اوښ په شان به نه ځکته کیږی او د اوښ کیناستل خو داسے دی چه اول لاسونه لګوی بیا زنګنونه او په همدغه روایت کښ بیا روستو وائی (وليضع يديه قبل ركبتيه) یعنی لاسونه دے د زنګنونو نه مخکښ لګوی ۔ نو په یو حدیث کښ د اولے جملے او د دویمے جملے تعارض راغلو نو بیا جواب کوی چه په دے حدیث کښ په راوی باندے قلب راغلے دے او دا حدیث مقلوب شویدے۔
لیکن محققین علماء فرمائی : حافظ ابن قیمؒ په دے کښ خطاء شویدے، هغه د اوښ کیناستلو ته ندے متوجه شوے، علامه فیروز آبادیؒ په قاموس کښ او علامه طحاویؒ ذکر کړیدی چه د اوښ زنګنونه په لاسونو کښ دی، په خلاف د انسانانو نه نو اوښ د کیناستو په وخت اول زنګون کیدی او لاسونه ئے اودرولی وی، بیا روسته حصه اوباسی بیا لاسونه کیدی، دا معنی بعض راویانو نده پیژندلے په دے وجه به ئے دا روایت برعکس بیانولو لکه ابن ابی شیبه (۱/۲۶۳) کښ د عبد الله بن سعيد عن ابيه عن جده عن ابى هريرة مرفوعا : اذا سجد احدكم فليبتدأ بركبتيه قبل يديه ولا يبرك بروك الفحل، وسنده ضعيف جداً ، عبد الله بن سعيد واهٍ جداً او متهم بالكذب دے۔ **دلائل القول الثانی :** چه لاسونه به مخکښ ږدی ، بیا زنګنونه، دے دپاره چه د بروك الابل (البعير) نه محفوظ شی ځکه اوښ زنګون مخکښ ږدی ۔

۱- دلیل : عن نافع عن ابن عمر رضى الله عنهما انه كان يضع يديه قبل ركبتيه وقال كان النبى ﷺ

يفعل ذلك رواه الحاكم (١/٢٢٦) والبيهقى (٢/١٠٠) والطحاوى (١/١٨١) واسناده صحيح وصححه ابن خزيمة كما فى بلوغ المرام (١/٩١) وقال الحاكم والقلب اليه اميل يعنى من حديث وائل لروايات كثيرة فى ذلك عن الصحابة والتابعين۔

٢- دليل : **دا حديث الباب حديث د ابى هريرةؓ دے** قال قال رسول الله ﷺ : اذا سجد احدكم فلا يبرك كما يبرك البعير وليضع يديه قبل ركبتيه (بخارى فى التاريخ : ١/١٣٩) وابوداود (١/١٢٩) والنسائى (١/١٦٥) والدارمى (١/٢٤٥) والسلسلة الضعيفة (٢/٣٢٨ رقم ٩٢٩) والطحاوى (١/١٨١) والدارقطنى (١/٣٤٥) والبيهقى (٢/٩٩) واحمد (٢/٣٨١) واسناده صحيح وتحقيقه فى الارواء (٢/٧٨) **نو دلته لاسونه مخکښ کيخودلو باندے امر راغلو والامر للوجوب ۔ لکه ابن حزمؒ دے عمل ته فرض وائی ليکن د عمرؓ د عمل د وجے نه به دا امر د استحباب شی ۔**

نو دا حديث ډير قوی دے د حديث د وائل نه ۔ حافظ په بلوغ المرام ص(٩١) کښ فرمائی :

وهو اقوىٰ من حديث وائل بن حجر فان له شاهداً من حديث ابن عمر صححه ابن خزيمة وذكره البخارى معلقاً وموقوفاً ۔ **٢- ابن سيد الناسؒ فرمائی :** احاديث وضع اليدين قبل الركبتين ارجح ۔

٣- ابن التركمانیؒ فرمائی : وحديث ابى هريرة المذكور اولاً يعنى وليضع يديه ثم ركبتيه، دلالته قولية وقد تأيد بحديث ابن عمر فيمكن ترجيحه على حديث وائل لان دلالته فعلية على ما هو الارجح عند الاصوليين انتهىٰ الجوهر النقى (٢/١٠٠) **۔ يعنی حديث د ابو هريره چه په هغے کښ د لاسونو مخکښ کيخودلو بيان دے - راجح دے د حديث د وائل نه ځکه دا قولی حديث دے او حديث د وائل فعلی حديث دے دارنګه د ابو هريره د حديث تائيد په حديث د ابن عمرؓ هم شويدے لهذا دا به راجح وی د اصولينو په طريقه ۔**

٤- ابن العربیؒ په عارضة الاحوذی کښ په بله طريقه ترجيح د حديث د ابو هريرةؓ بيان کړيده چه دا هيئت چه د ابو هريرةؓ په حديث کښ ذکر دے دا منقول دے په مانځه د اهل مدينه کښ نو پدے وجه دا راجح دے په غير باندے۔ پاتے شو دا قول د ابو سليمان الخطابیؒ چه حديث د وائل اثبت دے د حديث د ابی هريره نه نو دا خبره د هغه بے تحقيقه ده وجه دا ده چه تا مخکښ اوپيژندل چه حديث د وائل ضعيف دے سره د تولو شواهدو نه او ترمذیؒ چه حسن ګنړلے دے نو دا د وجے د کثرت د طرق نه ليکن هغه طرق هم ډير ضعيف دی لهذا حسن نه ګرځی او ددے په خلاف د حديث د ابو هريره دپاره قوی شاهد حديث د ابن عمر دے ۔

٣- دليل : حديث د ابی حميد الساعدیؒ کښ دی : ان رسول الله ﷺ كان يهوى محافياً يديه عن جنبيه) ابن خزيمة (١/٣١٧) **نو لاسونه چه د اړخونو نه جدا وی نو تجربه ده چه مخکښ زمکے ته ځی ليکن دا صريح دليل نه دے۔**

نو ددے تحقيق نه معلومه شوه چه سنت طريقه په کوزيدلو کښ دا ده چه لاسونه مخکښ

کړې د زنګنونو نه څکه یو طرفته د مشابهت د اوښانو نه منع راغلې او بل طرفته امر راغلے دے په لاسونو مخکښې کولو باندے ۔ بل طرفته دا حدیث قوي هم دے او شاهد ئے هم قوي دے لهذا دا عمل سنت دے او ددے په خلاف عمل مرجوح دے څکه حدیث ئے ضعیف دے او د ضعف تشریح ئے په رساله د ابواسحاق الحویني الاثري کښې تفصیلا ذکر دے چه هغه رساله په فتاوی الدین الخالص (٢٨٠/٤) کښې نقل شویده ۔ او د ابن قیمؒ د تولو وجو هاتو جوابونه ئے کړیدی ۔ دارنګه ابو سلیمان الخطابيؒ دعوی د نسخ هم صحیح نه ده ۔ شیخ البانيؒ په تعلیق المشکاة (٢٨٢/١) کښې وائی : دا د دوه وجو نه د حق نه وړاندے خبره ده (١) – اوله وجه دا ده چه دا حدیث صحیح سند والا دے او حدیث د وائل ضعیف دے نو ضعیف څنګه ناسخ د صحیح اوګرځی ۔ (٢) – دارنګه حدیث د وائل فعلی دے او حدیث د ابی هریره قولی دے او قولی مقدم وی په فعلی باندے عند التعارض ۔

٣ – دارنګه بله وجه د حدیث د ابو هریره دپاره د نبی علیه السلام فعلی حدیث شاهد هم شته نو پدے کښې قول او فعل دواړه راغلی او په حدیث د وائل کښې صرف فعل دے او مخالف دے د قول نه نو حدیث د ابو هریره راجح شو ۔ وراجع المرعاة (٢١٩/٣)

المسئلة الثانية : د پاڅیدو طریقه څه ده ؟ اختلاف دے ۔ ١- **امام مالکؒ**، شافعيؒ او احمدؒ قول دا دے چه زنګنونه به مخکښې اوچتوی او په لاسونه به اعتماد کوی او دا قول ابن المنذر د ابن عمرؓ، مکحولؒ، عمر بن عبد العزیزؒ، ابن ابی زکریاؒ، او القاسم بن عبد الرحمنؒ نه نقل کړے دے ۔ المجموع (٤٤٤/٤) والمغنی (٦٠٣/١) ٢- **د امام ابوحنیفهؒ** او داودؒ قول دا دے چه زنګون باندے به پاڅیږی او لاسونه به مخکښې اوچتوی۔

دلیل القول الاول :١- دلیل : حدیث العجن دے : عن الازرق بن قیس قال رأیت ابن عمر وهو یعجن فی الصلاة یعتمد علی یدیه اذا قام فقلت له : ما هذا یا ابا عبد الرحمن ؟ قال : رأیت رسول الله ﷺ یفعله (الطبراني فی الاوسط : ١٠٩١/١ رقم : ٣٣٧١) وانظر الصحیحة (٣٨٠/٦ رقم : ٢٦٧٤) والضعیفة رقم : (٩٦٧) (٣٨٩/٢) وتمام المنة (١٩٦)

بل روایت نه معلومیږی چه دا کار سنت عمل دے او د ضعف او بوډا والی په وجه نه دے شوے ۔ ازرقؒ وائی : رأیت ابن عمر اذا قام من الرکعتین اعتمد علی الارض بیدیه فقلت لولده او لجلسائه لعله یفعل هذا من الکبر قالوا : لا ولکن هکذا یکون (البیهقی : ١٣٥/٢) واسناده جید، وجیّده الالبانی فی تمام المنة (٢٠٠) ۔ هکذا یکون صریح دے چه ابن عمر به دا عمل اتباعاً لسنة الصلاة کولو نه د بوډا والی او ضعف په وجه فاندفع تاویل البعض۔

٢ – د مالک بن الحویرثؓ په حدیث کښې دی : فاذا رفع رأسه من السجدة الثانية فی اول رکعة استوی قاعداً ثم قام فاعتمد الارض بیدیه (البخاری : ١١٣/١) والشافعي فی الام (١٠١/١) والبیهقی

(۱۳۵، ۱۳٤/۲) قال الشافعي : وبهذا نأخذ من قام من سجود او جلوس ان يعتمد على الارض بيديه معاً اتباعاً للسنة ـ **۳- دليل : حكيم بن مغيرةؒ فرمائي : ابن عمرؓ به د دوه سجدونه (پس) د قدمونو په سينو پاڅيدونو ماتريے تپوس اوکړو :** فقال : انها ليس بسنة الصلاة وانما افعل ذلك من اجل انى اشتكى (البيهقي : ۱۳٤/۲) **هغه اوفرمائيل : دا کار زما ضرورت دے او سنت د مانځه نه دے۔**

دليل القول الثاني : ۱- دليل : حديث د ابن عمر دے : قال نهى رسول الله ﷺ يعتمد الرجل على يده اذا نهض فى الصلاة (ابوداود (۱۵۷/۱) **ـ ليکن دا روايت ضعيف منکر دے ځکه د عبد الرزاق څلور استاذان دی ۱- احمد بن حنبل او دده په روايت کښې الفاظ دا دی :** نهى ان يجلس الرجل فى الصلاة وهو معتمد على يده) **ـ نو د پاڅيدو قيد پکښې نشته بلکه د جلوس قيد دے او دا روايت په باقي رواياتو راجح دے ځکه دده متابع هم موجود دے۔** كما فى مسند احمد (٦٣٤٧) والمصنف لعبد الرزاق (۱۹۷/۲)۔ **۲- احمد بن شبويةؒ : دده الفاظ دی :** نهى ان يعتمد الرجل على يده فى الصلاة **پدے کښې ورسره د پاڅيدو او کيناستو ذکر نشته ـ ۳- محمد بن عبد الملك الغزال دده الفاظ دی :** نهى رسول الله ﷺ ان يعتمد الرجل على يده اذا نهض فى الصلاة **لکه دغه مخکښې الفاظ دی۔**

٤- محمد بن رافع : دده الفاظ دی : (نهى ان يصلى الرجل وهو معتمد على يده) **پدے کښې ورسره هم هيڅ قيد نشته۔ پدے کښې صرف محمد بن عبد الملك د نهوض قيد ذکر کوی دا اګرچه ثقه کثير الخطأ راوی دے ليکن احمد بن حنبل ته په قوت او حفظ او جلالتِ شان کښې نشي رسيدلے نو روايت يو دے او محمد بن عبد الملك د احمد او باقي ملګرو مخالفت کړيدے نو دا روايت شاذ او منکر شو ـ تفصيل ئے په السنن الکبرى (۱۳۵/۲) او التعليقات الجياد (۳۸/۱) للالباني او فتاوى الدين الخالص (۳۳۵/٤) کښې اوګوره۔**

او محمد بن عبد الملك ته امام نووی مجهول وئيلے كما فى المجموع (٤٤٥/٤)

۲- بله دا چه ددے په معنى کښې احتمال هم شته او هغه دا چه ددے نه مراد استعانت کول دی په لاسونو باندے په وخت د پاڅيدو کښې يعنى د پاڅيدو په وخت کښې به لاس بل شي ته نه اچوی چه د هغے په ذريعه پاڅي۔

۲- دليل : حديث د علی ؓ دے : من السنة اذا نهض الرجل فى الصلاة المكتوبة من الركعتين الاولیين ان لا يعتمد بيديه على الارض الا ان يكون شيخاً كبيراً لا يستطيع (البيهقى : ۱۳٦/۲) وايضاً فى المختارة (۲٦٠/۱) وسنده ضعيف فيه عبد الرحمن بن اسحاق وهو ضعيف وقد ضعفه احمد بن حنبل ويحيى بن معين وغيرهما ـ المجموع (٤٤٥/۳) وشيخه زياد بن زياد السوائى مجهول كما فى الضعيفة (۳۹۳/۲) رقم (۹٦۸) **۳- دليل : حديث ابى هريرة** قال : كان رسول الله ﷺ ينهض فى الصلاة على صدور قدميه (الترمذى ٦٤/۱) والبيهقى: ۱۲٤/۲).

الجواب : دا حديث هم ضعيف دے، ضعفه الترمذى والبيهقى فى السنن الكبرىٰ (۱۲٤/۲)

وقال حديث مالك بن الحويرث اصح). ځکه د خالد بن اياس او صالح دواړو روايت ضعيف دے .المجموع (۳/٤٤٤) ٤– حديث : د وائل کښې دی : واذا نهض نهض على ركبتيه واعتمد على فخذه (رواه ابوداود :۱/۱۲۹) ومثله فى الضعيفة (۲/۳۸۹) رقم (۹٦۷) عن ابن عمر وهو منكر.

الجواب : دا حديث د عبد الجبار بن وائل په وجه منقطع دے .

خلاصه دا شوه چه سنت طريقه دا ده چه په وخت د پاڅيدلو کښې اعتماد اوکړی په لاسونو باندے ځکه روايات پدے باب کښې صريح او صحيح دی او بل طرفته احاديث ټول ضعيف دی سوی د اثر د ابن مسعود نه ليکن علامه بيهقی فرمائی : (والسنة اولىٰ).

وَقِيْلَ هٰذَا مَنْسُوْخٌ : يعنى بعض علماء وائی چه دا منسوخ دے په حديث د مصعب بن سعد عن ابيه قال كنا نضع اليدين قبل الركبتين فامرنا بوضع الركبتين قبل اليدين رواه ابن خزيمة (۱/۳۱۹) .

الجواب : پدے حديث سره دعوىٰ د نسخ باطله ده ځکه دا روايت ضعيف دے في سنده ابراهيم بن اسماعيل بن يحيى بن سلمه بن كهيل وهو يرويه عن ابيه وقد تفرد به وهما ضعيفان . ابراهيم اتهمه ابوزرعة وابوه اسماعيل متروك، قال الحازمي : فى سنده مقال وان المحفوظ عن مصعب عن ابيه حديث نسخ التطبيق انتهىٰ . بلکه ابن حزم په محلى (٤/۱۳۰) کښې ددے په عکس دعوه کړيده چه حديث د ابو هريره ناسخ دے د باقى احاديثو دپاره . المرعاة (۳/۲۲۰)

درجة حديث ابى هريرة : اسناده صحيح اخرجه احمد ۲/۳۸۱) والدارمي (۱/۳۰۳) وابوداود (۸٤۰) والترمذى (۲٦۹) والنسائي (۲/۲۰۷) والطحاوى فى شرح معانى الآثار (۱/۲۵۵) والدارقطنى فى السنن (۱/۳٤٤، ۳٤۵) رقم (۳) والبيهقى فى الكبرى (۲/۹۹) .

---

١٤ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ، وَارْحَمْنِيْ وَاهْدِنِيْ، وَعَافِنِيْ، وَارْزُقْنِيْ .رواه ابوداود والترمذى .

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائی : نبی عليه السلام به د دوو سجدو په مابين کښې دا وئيل : (اے الله ما ته بخښنه اوکړه، او په ماباندے رحم اوکړه او ما ته هدايت اوکړه او (د دواړو جهانو د مصيبتونو او امراض ظاهرى او باطنى نه) مے محفوظ اوساته او ما ته رزق راکړه) . (ابوداود، ترمذى)

تشريح : بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: يعنى په فرض او نفل دواړو کښې ددے دعاء لوستل جواز لرى . اغفر لى : يعنى گناه مے معاف کړه يا تقصير د طاعت زما معاف کړه او رحم اوکړه په ما باندے په تبلولو د عبادت زما.

وَعَافِنِيْ : او روغ مے اوساته د مصيبتونو د دنيا او آخرت او د ظاهری او باطنی امراضو نه .

وَارْزُقْنِيْ : ۱– يعنى رزق حسن راکړه ۲– يا توفيق د طاعت راکړه او په آخرت کښې اوچته

درجه راکړه ـ امام ترمذیؒ وائی : دغه شان روایت شوے د علیؓ نه او دا قول د شافعیؒ، احمدؒ او اسحاقؒ دے چه دا په فرائضو او نوافلو کښې جائز ګڼړی ـ انتهیٰ ـ

درجة الحديث : اسناده حسن او صحيح اخرجه احمد (١/٣٧١) وابوداود (٨٥٠) والترمذی (٢٨٤) وابن ماجه (٨٩٨) والحاكم (١/٢٢٦) والبيهقی (٢/١٢٢) وصححه الحاكم ووافقه الذهبی والحافظ ابن حجر فی بلوغ المرام وقال النووی (٣/٤٣) وسنده جيد قال فی الاذكار (٥٦) حسن، ونقل عنه المباركفوری (حسن) والالبانی فی الكلم الطيب (٩٧) سنده جيد وقال له شاهد من حديث علی موقوفاً (وهو مذكور فی كتاب الدعاء للطبرانی (٦١٥) ايضاً) وفی سندهذا الحديث حبيب بن ابی ثابت ثقة فقيه جليل مدلس وقد عنعن فی الحديث طبقات المدلسين (٣٧) ـ

---

١٥ – وَعَنْ حُذَيْفَةَ ﷺ : اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ : رَبِّ اغْفِرْلِیْ . رواه النسائیُّ والدارمیُّ .

ترجمه : او حذیفه ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ به د دواړو سجدو په مابین کښې دا وئیل : ربِّ اغفرلی (اے الله ما ته بخښه اوکړه) (نسائیؒ، دارمیؒ)

تشريح : رَبِّ اغْفِرْلِیْ : یعنی دا به ئے مکرر وئیلو او دا هم د فرضو پورے خاص نه دے او دا په مختلف اوقاتو باندے محمول دے کله به ئے رب اغفرلی او کله به ئے مخکنئ دعاء لوستله ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه أحمد (٥/٣٩٨) والدارمی (١/٣٠٣، ٣٠٤) وابوداود (٨٧٤) والنسائی (٢/٢٣١) وابن ماجه (٨٩٧) والحاكم (١/٢٧١) والبيهقی (١/١٢١، ١٢٢) وفی سنده ابو العلاء كامل بن العلاء السعدی يروی عن حبيب بن ابی ثابت وكامل هذا وثقه يحيی بن معين وقال الحافظ صدوق يخطئ وانظر المرعاة (٣/٢٢٢) وتعليق المشكاة لرمضان ـ

الفصل الثالث

١٦ – عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ شِبْلٍ ﷺ ، قَالَ : نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ نُقْرَةِ الْغُرَابِ، وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ، وَاَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِی الْمَسْجِدِ كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيْرُ . رواه ابوداود والنسائیُّ والدارمیُّ .

ترجمه : عبد الرحمن بن شبل ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د کارغه د ټونګے وهلو او د درنده ګانو په شان (لاسونو)خورولو نه منع فرمائیلی ده او (ددے نه ئے هم منع فرمائیلی ده چه) یو شخص په مسجد کښې ځائے مقرر کړی لکه چه اوښ ئے مقرر وی ـ (ابوداودؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)

تعارف د عبد الرحمن بن شبل ﷺ : عبد الرحمن بن شبل بن عمرو بن زيد الانصاری الاوسی، احد النقباء المدنی، د صحابه کرامو د علماؤ نه شمار دے په حمص کښې اوسیدو (١٤)

احاديث ترے نقل دی په خلافت د معاويه بن ابی سفيان کښې وفات شويدے۔

تشريح : نُقْرَةِ الْغُرَابِ : يعني د کارغه د ټونګو نه منع ده يعني چه جلتی کوی په رکوع او سجده او قومه او جلسه کښې او اطمينان نه کوی نو دا دليل دے په فرضيت د اعتدال او اطمينان باندے لکه دا په دلائلو کښې ذکر شوے وو په اول حديث د صفة الصلاة کښې۔

وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ : د درنده (سپی) په شان ليچے خورول په سجده کښې۔

يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ : يعني ځان دپاره ځائے نيول او جوړول لکه اوښ چه ځان له يو معين ځائے مقرر کړے وی د وطن په شان ئے نيولے وی مطلب دا چه مونځ کولو دپاره به يو معين خاص ځائے نه مقرر وی چه بل ځائے نه اودريږی، حکمت د نهی څه دے ؟ نو حکمت دا دے چه پدے کار کښې شهرت، رياء او سمعت او شهوت پرستی ده او عادت جوړول دی بيا به عبادت خوند نه درکوی او مختلف ځايونه به درله ګواهی نه کوی او که څوك هلته اودريږی نو بيا به ورسره جګړے ته نوبت رسی۔

فائدة بديعة : مسلمان له پکار دی چه په مانځه کښې او په عام حالاتو کښې ښائسته سيرت او صورت جوړ کړی او د حيواناتو په شان حالت جوړ نه کړی ددے وجے نه په احاديثو کښې د حيواناتو د مشابهت نه منع راغلے ده چه هغه تقريبا نهه مواضع دی۔

(۱) نقرة الغراب والديك ۔ (۲) التفات كالتفات الثعلب ۔ (۳) اقعاء الكلب ۔

(٤) بروك البعير والجمل ۔ (۵) افتراش الكلب وانبساط الكلب ۔ (٦) توطين البعير ۔

(۷) تدبيح الحمار (چه په رکوع کښې ډير سر ټيټ کړی لکه د خره په شان) (۸) عقبة الشيطان۔

(۹) د سلام په وخت کښې رفع اليدين کول كاذناب خيل شمس۔

لکه دا په يو شعر کښې علامه صنعانی په سبل السلام (۲۸۷/۱) کښې ذکر کړيدی :

اذا نحن قمنا فی الصلاة فاننا نهينا عن الاتيان فيها بستة

بروك بعير والتفات كثعلب ونقر غراب فی سجود الفريضة

واقعاء كلب او كبسط ذراعه واذناب خيل عند فعل التحية

وزدنا علی ما ذكره فی شرح قولنا :

وزدنا كتدبيح الحمار بمده لعنق وتصويب لرأس بركعة

نو مسلمان به ددے کارونو نه په مانځه کښې ځان ساتی۔وانظر فتاوی الدين الخالص (۳۰۱/٤)

درجة الحديث : اسناده حسن ،ابوداود (۸٦۲) والنسائی (۲/۲۱٤) وابن ماجه (۱٤۲۹) ۔

۱۷ - وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : يَا عَلِيُّ ! اِنِّیْ اُحِبُّ لَكَ مَا اُحِبُّ لِنَفْسِیْ، وَاَكْرَهُ لَكَ مَا اَكْرَهُ لِنَفْسِیْ، لَا تُقْعِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ . رواهُ الترمذی.

ترجمه : او علی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : اے علی ! زه خوښوم تالره هغه

ځیز چه ځان له ئے خوښوم او بد ګنړم تا لره هغه ځیز چه ځان له ئے بد ګنړم، (یو د بدو کارونو نه دا دے) د دواړو سجدو په مابین کښې اقعاء مه کوه ۔ (ترمذی)

تشریح : لَا تُقْعِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ : د ابن ماجه په روایت کښې ورسره اقعاء الکلب ذکر دے، دے اقعاء نه مراد دا دے چه پونډۍ اودروی او کوناټې او لاسونه په زمکه اولګوی او دا ممنوع دے او کومه اقعاء چه به عبادله ثلاثه کوله او ابن عباس به ورته (سنة نبیکم) وئیله نو د هغے نه مراد دا دے چه کوناټې په پونډو باندے کیدی او پونډی اودروی او سرونه د ګوتو په زمکه کیدی کما قال البیهقیؒ ۔ لهٰذا د احادیثو ترمینځ هیڅ تعارض نشته او ددے تشریح مخکښې صفة الصلاة دویم حدیث (وکان ینهی عن عقبة الشیطان ص۴۷) کښې ذکر شویده ۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف جداً، اخرجه الترمذی (۲۵۴) وابن ماجه (۸۹۴) وقال لا نعرفه الا من حدیث ابی اسحاق عن الحارث عن علی وقد ضعف بعض اهل العلم الحارث الاعور آهـ قلت : لیس بضعیف فقط بل کذبه الشعبی وکذا ابواسحاق السبیعی وهو الراوی عنه ـ تعلیق المشکاة (۱/ ۳۸۰) لرمضان والالبانی ۔

---

۱۸ – وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ الْحَنَفِيِّ ﷺ، قَالَ :قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا يَنْظُرِ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ اِلٰى صَلَاةِ عَبْدٍ لَا يُقِيْمُ فِيْهَا صُلْبَهُ بَيْنَ خُشُوْعِهَا وَسُجُوْدِهَا . رواه احمد .

ترجمه : او طلق بن علی حنفی رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : الله عز وجل د هغه بنده مونځ ته نه ګوری چه په خپل مانځه کښې رکوع او سجده کښې ملا نه سیده کوی ۔ (احمدؒ) – اَلْحَنَفِيِّ منسوب دے قبیله د بنی حنیفه ته ۔

تشریح :خُشُوْعِهَا : رکوع ته ئے خشوع اووئیله اشاره ده دیته چه رکوع کښې مقصود خشوع او انقیاد دے او دا حدیث هم دلیل دے په وجوب د طمانینت او اعتدال باندے په رکوع او سجده کښې ۔ **درجة الحدیث** : ۔اسناده صحیح، اخرجه احمد (۴/۴۲)

---

۱۹ – وَعَنْ نَافِعٍ، اَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُوْلُ : مَنْ وَضَعَ جَبْهَتَهُ بِالْاَرْضِ فَلْيَضَعْ كَفَّيْهِ عَلَى الَّذِيْ وَضَعَ عَلَيْهِ جَبْهَتَهُ، ثُمَّ اِذَا رَفَعَ فَلْيَرْفَعْهُمَا، فَاِنَّ الْيَدَيْنِ تَسْجُدَانِ كَمَا يَسْجُدُ الْوَجْهُ . رواه مالك .

ترجمه : او نافع رحمه الله فرمائی : ابن عمر ﷺ به فرمایل : چا چه خپل تندے په زمکه کیخودو (یعنی سجدے ئے اوکړه) نو هغه له پکار دی چه خپل دواړه لاسونه هم په زمکه په هغه ځائے کیدی چرته ئے چه تندے ایخودے دے بیا چه کله (د سجدے نه) سر پورته کوی نو خپل

دواړه لاسونه دې هم پورته کړي څکه لکه څنګه چه مخ سجده کوي نو دغه شان لاسونه هم سجده کوي ـ (مالكؒ)ـ

تشريح : دا حديث هم دليل دے چه په اووه اندامونو سجده كول ضروري دي او مقصود پدے حديث كښې دا دے چه په سجده كښې د لاسونو د كيخودلو ځائ كوم دے ؟ هغه بيانوي چه دا به مخ ته نزدے وي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه مالك في الموطأ (١/١٦٣رقم: ٦٠) ولا يخدج وقفه في رفعه لان الرفع زيادة وقد جائت من ثقة وهو ايوب السختياني رواها عنه ثقتان ابن علية ووهيب فوجب قبولها واخرجه احمد مرفوعاً (٢/٦) وابوداود (٨٩٢) والنسائي (١/١٦٥) والحاكم (٢٢٦) وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي۔

****

باب التشهد

د تشهد نه مراد کلمه د شهادت وئیل دی او دا په التحیات کښې هم اشرف او اهم جزء دے پدے وجه ټول ذکر ته تشهد نوم ورکړے شو ۔
دلته **دوه قسمه مسئلے** دی : (۱) – الفاظ التشهد (۲) او فعل پدے کښې ۔
د آخری تشهد دپاره کیناستل او الفاظ د تشهد وئیل فرض دی او د ارکانو د مانځه نه دی په نیز د امام شافعیؒ (او دا قول د امام ابن حزم دے په المحلی (۳) کښې) بغیر ددے نه مونځ نه صحیح کیږی او دا قول د حسن بصریؒ، احمدؒ، اسحاقؒ، داودؒ او د عمر بن الخطابؓ، نافع مولی ابن عمرؓ وغیره نه ابن المنذرؒ نقل کړیدے او دا قول د ابو مسعود البدریؓ دے ۔ التنقیح (۱/۴۰۹)
او حنابله وائی : اوله قعده واجب ده او دویمه قعده رکن دے ۔ او دیته د شوافعو مذهب نزدے دے او هغه دا چه وائی : اوله قعده سنت ده چه په سجده سهوه د هغې جبیره کیږی او دویمه قعده رکن دے د مانځه نه ۔ ۲ – امام ابوحنیفهؒ او مالکؒ وائی : جلوس بقدر التشهد واجب دے او هر چه الفاظ د تشهد دی هغه واجب نه دی ۔ کمافی تنقیح التحقیق لابن عبد الهادی (۱/۴۰۹)
د احنافو په نزد باندے قعده اخیره واجب ده او اوله قعده یا واجب ده لکه دا ظاهر الروایت دے او یا سنت ده او د امام مالك په نیز تشهد مطلقا سنت دے کما قال الزرقانی ۔
نو اصح دا ده چه قعده اخیره خو بالاتفاق فرض ده او اوله قعده د واجباتو نه ده لکه دا د احنافو مذهب دے او ددے په ترك سره سجده سهوه لازم ده او جمهور ورته سنت وائی لیکن په ترك سره ئے سجده سهوه لازمه ګنړی (او ابن حزم ورته فرض وائی لیکن په ترك ئے سره سجده سهوه وائی)۔ او الفاظ د تشهد اوله او دویمه قعده کښې فرض دی کما هو مذهب احمدؒ واسحاقؒ اګرکه د اولے قعدے الفاظ په نسیان ساقطیږی ۔
دلیل دا دے : ۱ – رسول الله ﷺ پدے باندے امر کړیدے (قولوا التحیات) روستو راځی ۔ بخاری (۱/۱۱۴) ومسلم (۱/۳۰۲ رقم : ۵۹ باب التشهد فی الصلاة) یا (فلیقل التحیات لله)
۲ – عمر فاروق فرمائی : لا تجزئ صلاة الا بتشهد (اخرجه سعید بن منصور والبخاری فی التاریخ وعبد الرزاق فی المصنف (۲/۲۰۶) والبیقهی فی الکبری (۲/۱۳۹) وفی معرفة السنن (۲/۶۴) معلقاً و کذا فی المنتقی لابن تیمیة مع النیل (۲/۳۱۷) والتنبیه علی مشکلات الهدایة (۲/۵۷۷) وتعلیقه ۔
۳ – نسائی (۱/۲۷۳) کښې باب ایجاب التشهد کښې د ابن مسعودؓ حدیث دے : ((کنا نقول قبل ان یفرض علینا التشهد السلام علی الله، السلام علی جبریل، السلام علی میکائیل فقال علیه السلام : لا تقولوا هکذا، ولکن قولوا التحیات لله الخ)) رواه الدارقطنی (۱/۳۵۰) والنسائی باب ایجاب التشهد

(۴۰/۳) والبیهقي في الکبری (۱۳۸/۲ - ۳۷۸)۔ ظاهر ددې عبارت دا دې چه تشهد په خپل محل کښې فرض دې او مخکښې فرض نه وو۔

هدایه مولا ددې حدیث نه جواب کوی او وائی چه پدې کښې د فرض نه مراد تقدیر دې نو فرضیت د تشهد ثابت نه شو۔ لیکن د هدایه مولا په رد کښې ابن ابی العز الحنفي وائی: چه پدې حدیث کښې عبد الله بن مسعود دا واضحه کړه چه تشهد فرض دې او دا صریح نص دې چه د هدایه مولا په تاویل باندې نشی دفع کولې ځکه پدې کښې (قولوا التحیات لله) امر راغلې دې او امر د وجوب دپاره وی نو دا قرینه په حدیث کښې منع کوی تاویل لره او قرینه صارفه د وجوب نه هم نشته بلکه هدایه مولا پخپله لګ مخکښې حدیث د ابن مسعود راوړیدې چه په هغې کښې دا الفاظ دی (وعلمني التشهد کما یعلمني السورة من القرآن، وقال: قل: التحیات لله، الی آخره۔ (نو پدې کښې امر په تشهد راغلو) ۔ او دا قول د ابن مسعود (اذا قلت هذا فقد تمت صلاتك) منافی نه دې د فرضیت د تشهد سره ځکه پدې کښې دا احتمال شته چه کلمه د (او) د ابن مسعود کلام وی او کله چه دا احتمال راغلو نو پدې سره به (قبل ان یفرض التشهد) د خپل ظاهر نه نشی اړولې۔ او فرض په معنی د تقدیر باندې استعمالول بعید دی پدې مقام کښې په معنی د تقدیر نه استعمالیږی بلکه فرض په معنی د تقدیر په مقدراتو کښې استعمالیږی لکه مکیل، موزون، مذروع او معدوداتو کښې استعمالیږی لکه قاضی چه کله چا له نفقه مقرر کړی نو داسې وئیلې شی: فرض القاضی النفقة ای قدرها) او ددې تائید په قول د عمر فاروق کښې راغلې دې: لاتجوز صلاة الا بتشهد رواه سعید ولا یعرف لهما مخالف من الصحابة رضی الله عنهم) یعنی مونځ بغیر د تشهد نه نه دې جائز اوددې دواړه صحابه کرامو (ابن مسعود او عمر) هیڅ مخالف صحابی نه دې موجود (لهذا په فرضیت د تشهد باندې اجماع د صحابه کرامو راغله او د هدایه مولا تاویل خطاء شو) انتهی ما فی التنبیه علی مشکلات الهدایة (۵۷۷/۲)

۴ – صفة الصلاة ص (۱۶۰) کښې دی: کان ﷺ یقرأ فی کل رکعتین (التحیة) (مسلم، وابوعوانة)۔ (واذا قعدتم فی کل رکعتین فقولوا التحیات الخ (النسائی واحمد والطبرانی فی الکبیر: ۱/۲۵/۳) بسند صحیح دارنګه قعود د تشهد دپاره هم فرض دې ځکه تشهد بغیر د قعود نه نه کیږی او نبی علیه السلام به پدې باندې مداومت کولو او مونږ ته ئې حکم کړیدې (صلوا کما رأیتمونی اصلی) او دا قول راجح دې۔ او هر چه حدیث د علیؓ دې: (اذا جلس مقدار التشهد ثم احدث فقد تمت صلاته) نو دا ضعیف دې انظر التنقیح (۴۰۹/۱۲)۔

---

۱ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ، وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى، وَعَقَدَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ، وَأَشَارَ

بِالسَّبَّابَةِ، وَفِي رِوَايَةٍ : كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ، وَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ، وَرَفَعَ أُصْبُعَهُ الْيُمْنٰى الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ، يَدْعُوْ بِهَا، وَيَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهٖ، بَاسِطَهَا عَلَيْهَا . رواه مسلم

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله په تشهد (یعنی التحیات) کښې کیناستو نو خپل گس لاس به ئے په گس زنگون باندے کیخودو او ښے لاس به ئے په ښی زنگون کیخودو او (ښے لاس به ئے) د درے پنځوس عدد په شان بند کړو او د شهادت په گوته به ئے اشاره کوله ـ او په یو روایت کښې دی : چه کله به نبی علیه السلام په مانځه کښې کیناستو نو دواړه لاسونه به ئے په دواړه زنگنونو کیخودل او د ښی لاس هغه گوته به ئے پورته کړه کومه چه غټے گوتے سره نزدے ده پدے سره به ئے دعاء غوختله، او گس لاس به ئے په (گس) زنگون باندے خور پروت وو ـ (مسلم)

تشریح :كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا قَعَدَ: کان لفظ کله د دائمی طریقے دپاره استعمالیږی کله چه مخالف دلیل موجود نه وی، او په بعض اوقاتو کښې د اکثریت دپاره وی کله چه مخالف دلیل موجود وی او پدے مقام کښې د دوام دپاره دے ځکه رسول الله ﷺ هیڅ کله په التحیات کښې لاسونه په زمکه وغیره نه دی ایخودی، بلکه په زنگنونو ئے ایخودی دی ـ

ددے وجے نه د علماؤ اجماع ده ددے په استحباب باندے او پدے کیخودلو کښې حکمت دا دے چه لاسونه محفوظ شی د لوبو کولو نه او د ادب لحاظ اوکړے شی ـ

بیا په **لاسونو کیخودلو** کښې **دوه طریقے** دی ـ

۱- لاسونه په ورنونو باندے کیخودل دا روستو دویم حدیث کښې راځی د فصل ثانی په حدیث د وائل رضی الله عنه کښې دی : وحد مرفقه الیمنی علی فخذه الیمنیٰ (ابو داود و الدارمی)

او د حد مرفقه معنی دا ده چه د څنګلے طرف د ورون د آخری حصے سره یو ځائے شی او په هغے باندے ورخوره کړی او جدا به ئے نه ساتی، او د گس لاس گوتے به اوږدے پرتے وی په گس ورون باندے ـ کما فی زاد المعاد (١٠/٢٤٨) ـ دلیل : دا حدیث الباب دے : وضع یده الیسری علی رکبته الیسریٰ الخ ـ او لاندے مسئله کښې روایت کښې راځی (واضعا ذراعه الیمنی علیٰ فخذه الیمنی) دا ښه صریح دے پدے معنی کښې ـ

او لاسونه نیغ نیول او په ورون باندے نه خورول خلاف سنت دی لکه دا به روستو راشی ـ

۲- **دویمه طریقه** دا ده چه په ښی لاس به اشاره کوی او په ورون به پروت وی او گس لاس به اوږد کړی او د زنگون سترگے نه به ئے تاؤ کړی دیته تلقیم وائی یعنی زنگون نه به نوړئ جوړه کړی او گس لاس به ورته د خولے په شان کړی ـ دلیل حدیث د عبد الله بن زبیر دے : ویلقم کفه

الیسریٰ رکبته) مسلم: (۱/۲۱٦) وانظر فتاوی الدین الخالص (٤/٣٦٠)۔

وَعَقَدَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِيْنَ : **مسئله** : په مانځه کښې تشهد کښې ګوته اوچتول شته؛ او فقه حنفی کښې د امام صاحب نه دوه روایات دی (۱) یو دا چه اشاره نشته او دا قول د بعضو مشائخو دے لیکن دا د روایت او درایت نه خلاف دے۔ انظر شرح الکبیری لمنیة المصلی (٣٢٨) وبدائع الصنائع (۱/۵۰۱) حجة الله (۱/۱۱) ۲- دویم روایت : چه اکثرو محققینو راجح کړیدے چه اشاره سنت عمل دے انظر التعلیق الممجد (۱۰۹) بدائع الصنائع (۱/۵۰۱) والبحر الرائق شرح کنز الدقائق (۱/٣٢٤) وشرح الیاس (۱/۱۲۸) وشرح الوقایة (۱/۱۷۰) ورد المحتار (۲/۱۹۳) والعرف الشذی (۱/۷۰) والسعایة (۲/۲۱۷) وفتاوی برهنه (۱/۲٣٤) وفتح الملهم (۲/٦۸) وبذل المجهود (۵/٣۱۷) وتزیین العبارة لتحسین الاشارة لملا علی القاری۔

او په احادیثو کښې ددے نقل ډیر زیات دے او راتلونکی احادیث ئے دلیل دے۔ نو کوم ملیان چه دا نه کوی او وائی : احادیث الاشاره مضطرب دی نو د هغوی قول غلط او مضطرب دے۔

۲- **المسئلة الثانية : ګوته به د اول نه اوچتوی ۔دلائل** : ۱- دا حدیث دلیل دے (اذا قعد) لفظ کښې اشاره ده چه په وخت د قعود کښې به ګوته اوچتوی۔ ۲- دا ګوته د دعاء دپاره اوچتولے شی، د رفع الیدین فی الدعاء په ځائے کار ورکوی ځکه دا محل د دعاء دے ۔٣- ابن خزیمه (۱/٣۵٤) رقم (۷۱٦) مالك الخزاعی عن ابیه رأی رسول الله ﷺ قاعداً فی الصلاة واضعاً ذراعه الیمنیٰ علی فخذه الیمنی، رافعاً اصبعه السبابة قد احناها شیئاً وهو یدعو) دے حدیث نه صاف طور سره معلومیږی چه رسول الله ﷺ به د ابتداء د ناستے نه د اشارے دپاره ګوته پورته کوله دا حدیث اګرکه سند کښې ئے مقال دے لیکن د احنافو د اصولو مطابق صحیح دے ځکه مالك الخزاعیؒ مجهول راوی دے او په قرون ثلاثه کښې عند الاحناف مجهول راوی مقبول وی ۔

٤- ابن عمرؓ یو سړے اولیدلو چه په لاس ئے کانړی خوزول په مانځه کښې، هغه ورته اووئیل : دا بے کار کوه لکه څنګه چه رسول الله ﷺ ئے کوی، هغه ورته بیا بیان اوکړو: (فوضع یده الیمنی علی فخذه الیمنی واشار باصبعه التی تلی الابهام فی القبلة ورمی ببصره الیها او نحوها ثم قال هکذا رأیت رسول الله ﷺ یصنع (نسائی : ۱/۲۵۰) وابن خزیمة (۱/٣۵۵)۔

دا حدیث واضح دلیل دے چه د ابتداء نه به اشاره کوی او هر چه په نفی او اثبات کښې پورته کول دی نو موږ چیلنج سره وایو چه دے باره کښې هیڅ صحیح حدیث نه دے ثابت، او «لکنه التوحید» یا (یوحّد بها ربّه) الفاظو کښې حکمت د اشارے ته اشاره ده دا پکښې نشته چه اشاره به په وخت د توحید او کلمه د شهادت کښې کوی۔

ملاعلی القاریؒ فرمائی : معتمد زموږ په نیز دا ده چه ګوتے به هله راغونډوی چه کله اشاره کوی ځکه الفاظ د حدیث مختلف راغلی دی او په دے طریقه جمع د روایاتو راځی ځکه بعض

روایاتو کښې دی چه غونډول د اول د قعود نه دی او بعضو کښې اشاره ده چه عقد بالکل نشته سره د اتفاق نه پدې خبره چه اشاره کول ثابت دی انتهیٰ۔

لیکن دا خبره په محل د نظر کښې ده ځکه د حدیث په الفاظو کښې هیڅ اختلاف نشته ځکه هغه روایات چه په هغې کښې قبض یا عقد ذکر دے نو ټول ظاهر دی پدې کښې چه قبض به د ابتداء د جلوس نه وی، نه د اشارے په وخت، او کوم روایاتو کښې چه اقتصار شویدے په صرف وضع او اشاره کولو باندے په غیر د ذکر کولو د قبض نه نو په هغې کښې هیڅ قسم ادنیٰ اشاره هم عدم قبض ته نشته ځکه هغه مطلق دی او محمول به وی په هغه روایاتو چه په هغې کښې تصریح ده په قبض باندے، مطلق به محمول وی په مقید باندے۔

او ابن الهمامؒ چه دا خبره کړیده چه وضع الکف د قبض الاصابع سره نه متحقق کیږی مګر هله چه اول لاس کیدی او روستوئے راغونډ کړی د اشارے دپاره ۔ نو دا خبره هم صحیح نه ده ځکه چه دا خبره به هله صحیح وے چه د وضع الکف نه مراد بسط او خورول وے او حال دا چه پدے باندے دلیل نشته بلکه پدے قول (ویده الیسریٰ علیٰ رکبته باسطها علیها) کښې اشاره ده چه د اول د قعود نه به قبض د ښی لاس کوی او ښکاره اشاره ده چه ښے لاس به مطلق نه خوروی بلکه دا به په داسے طریقه ږدی چه د اول نه به ئے قبض کړے وی حاصل دا چه ټول روایات ظاهر دی په معیت نه په بعدیت ۔ نیل الاوطار (۲/۳۱٦) وتحفة الاحوذی (۲/۱۵۸) ومرعاة المفاتیح (۳/۲۲۸، ۲۲۹) نو د ابتداء نه تر آخر پورے به اشاره کښې مشغول وی ۔

یَدْعُوْ بِهَا : دا حکمت او فائده د اشارے بیانوی ، نو د اشارے کولو څو حکمتونه دی :

(۱) اوله فائده : پدے سره دعاء کولے شی ۔

(۲) دویم اشاره د توحید دپاره ده یعنی ددے دپاره ده چه الله تعالیٰ یو ذات دے دا په حدیث د خفاف بن ایماء بن رخصه الغفاری کښې دی : (وکان المشرکون یقولون یسحر بها وکذبوا ولکنه التوحید) مجمع الزوائد (۲/۳۳۳) رقم (۲۸٤۳) نیل الاوطار (۲/۳۱٦)

(۳) د شیطان ذلیل کولو دپاره اشاره کیږی او دا د هغه دپاره غشے اوګرز دے کما فی الحدیث : (لهی اشد علی الشیطان من الحدید) ای السبابة (مسند احمد : ۲/۲٦۸) ومجمع الزوائد (٤/١٤)

ابن عمرؓ وائی : هی ندبة الشیطان)د شیطان دپاره غشے دے ۔ مسند الحمیدی (۲/۲۸۸) صفة صلاة النبی (۱۲۳) وسنده صحیح (٤) ابن عباسؓ وائی : هو الاخلاص یعنی الدعاء بالاصبع ۔ ابن ابی شیبة (۲/۳٦۸) والبیهقی (۲/٤۸۹) ۔ یعنی په ګوته باندے دعاء (یعنی اشاره کول) اخلاص دے ۔

(۵) دا تضرع او عاجزی ده ۔ انس فرمائی : ذلك التضرع ۔ البیهقی (۲/٤۸۵) وسنده ضعیف ۔

(٦) پدے اشاره سره مونځ کونکے د سهوه او خطاء نه بچ کیږی کما فی الحدیث : (لا یسهو احد وهو یقول هکذا (الحمیدی : ۲/۲۸۸) وابویعلی (۲/۷۸۵) صفة الصلاة (۱۲۳) صحیح)۔

په دې تولو حکمتونو کښې هیڅ منافات نشته ځکه کیدې شي چه دې تولو فوائدو دپاره اشاره مشروع شوې وي۔

المسئلة الثالثة : کیفیات قبض الاصابع فی الاشارة : د اشارې کیفیات په احادیثو کښې صراحةً درې راغلې دي او په دې تولو باندې عمل کول پکار دي دیته تنوع فی العبادات وائي۔

۱– کیفیت : حلقه جوړول : د قچې ګوتې او وزیرې ګوتې راغونډول او د مینځنۍ او غټې ګوتې نه حلقه (کړۍ) جوړول او په مسواکۍ ګوته باندې اشاره کول دي، دا په فصل ثاني کښې د وائل بن حجرؓ په حدیث کښې راغلې دي۔ (وحلق حلقة نسائی : ۱/۱۸٦) وابوداود (۱/۱۱۲) وابن ماجه (۱/٦۵) وسنده صحیح کما سیأتی انظر سبل السلام (۱/۳۸٤) وعون المعبود (۳/۱۹۵)

۲– کیفیت : وضع الابهام علی الوسطیٰ وعقد الخنصر والبنصر والاشاره بالسبابة : یعنی غټه ګوته په مینځنۍ ګوته کیښودل او قچه او وزیره ګوته راغونډول او اشاره په مسواکۍ ګوته کول کما فی حدیث مسلم (۱/۲۱٦) (ووضع ابهامه علی اصبعه الوسطی)۔

۳– کیفیت : وضع الابهام فی اصل الوسطیٰ : یعنی راغونډول د مینځنۍ او وزیرې او کچې ګوتې دي او ایښودل د سر د غټې ګوتې دې په اول بند د مسواکۍ ګوته باندې او اشاره کول دي په مسواکۍ ګوته باندې کما فی حدیث الباب (مسلم : ۱/۲۱٦) والبیهقی (۲/٤۸۰) رقم (۲۸۳۹) او دیته عقد ثلاثه وخمسین وائي (درې پنځوسو عقد (غوټه) ۔ نیل الاوطار (۲/۳۱٦) وسبل السلام (۱/۳۸٤) **٤– کیفیت** : قبض الاصابع کلها والاشارة بالسبابة کما روی مسلم من حدیث ابن عمر مرفوعاً کان اذا جلس فی الصلاة وضع کفه الیمنی وقبض اصابعه کلها واشار باصبعه التی تلی الابهام۔ یعنی تولې ګوتې رابندول او په مسواکۍ ګوته اشاره کول۔

دا تول کیفیات په زاد المعاد (۱/۲٤۷) کښې ابن القیم او صاحب د تحفة الاحوذی (۱/۲٤۱) ذکر کړیدي۔ شیخ البانیؒ په صفة الصلاة کښې صرف دوه کیفیتونه ذکر کړیدي۔

المسئلة الرابعة : طرق الاشارة : بیا په اشاره کولو کښې دوه طریقې دي (۱) نفس اشاره بدون التحریك۔ عام احادیث په دې باره کښې راغلي دي، او دا قول د جمهورو دې (۲) دویم اشاره مع الحرکت ده یعنی ګوته به خوزوي او دا قول د مالکیه وو دې او په دې باب کښې یو حدیث د وائل بن حجرؓ راغلې دې او هغه قوي حدیث دې۔

جمهور وائي : حرکت ورکول نشته ځکه په حدیث د ابن الزبیرؓ کښې دي : کان النبی ﷺ یشیر باصبعه اذا دعا ولا یحرکها۔ (ابوداود ۱/۱٤۹) والنسائی (۱/۱۸۷) نو په دې حدیث کښې نفي د تحریك راغلې ده او بعض علماء دا حدیث ضعیف ګڼړي لکه شیخ البانیؒ وائي : دې کښې محمد بن عجلان راوي دې او امام نوویؒ او سید سابقؒ په فقه السنه کښې او عبید الله المبارکفوریؒ په مرعاة (۳/۲۳۱) کښې ورته صحیح وئیلې دې او ابوداود او منذري پرې سکوت کړیدې لیکن

راجح دا ده چه دا حسن درجه کښې دے۔
مثبتين علماؤ دپاره دليل حديث د وائل بن حجر دے (ثم وضع اصبعه فرأيته يحركها يدعو بها ۔(ابوداود :۱/۱۱۲) والنسائی (۱/۷۸۶) والطحاوی (۱/۱۴۸) ۔ نو دا حديث صحيح دے ترمذیؒ ورته حسن صحيح وئيلے دے، ابن خزيمهؒ په خپل صحيح (۱/۳۵۴) کښې ذکر کړيدے ۔
امام بيهقیؒ په السنن الکبریٰ (۱/۴۸۲) کښې وائی : يحتمل ان يکون المراد بالتحريك الاشارة بها لا تکرير تحريکها الخ يعنی دا احتمال شته چه د تحريك نه مراد اشاره کول وی نه بار بار خوزول، دے دپاره چه تعارض ئے د حديث د ابن الزبيرؓ سره رانشی۔
علامه شوکانیؒ د بيهقی په تائيد کښې وائی : د بيهقیؒ دے خبرے ته په روايت د ابوداود کښې د وائل بن حجرؓ په حديث کښې اشاره شته او هغه دا چه هلته لفظ د اشار بالسبابة لفظ راغلے دے نه معلوميږی چه د تحريك نه مراد اشاره ده۔ ليکن دا قول ضعيف دے وجه دا ده چه په حديث د ابن الزبيرؓ کښې داسے الفاظ راغلی دی : (يشير باصبعه اذا دعا ولا يحرکها) ۔ ددے نه معلوميږی چه اشاره غير ده د تحريك نه ځکه د اشارے اثبات شويدے او د تحريك نفی شويده ۔
بعض علماء حديث د وائل بن حجرؓ شاذ ګڼړی او وائی چه پدے روايت کښې زائده بن قدامه د عاصم بن کليب نه متفرد دے ځکه په تلامذه د عاصم کښې صرف زائده دا تحريك ذکر کړيدے، لهذا دا روايت شاذ دے۔ ليکن دا خبره صحيح نه ده وجه دا ده چه زائده بن قدامه ثقه راوی دے او زيادت د ثقه مقبول وی ۔ **مثبتين** علماء وائی چه د دواړو حديثونو تطبيق دا دے چه حديث د ابن الزبيرؓ نافی دے او حديث د وائل مثبت دے او مثبت مقدم وی په نافی باندے لهذا حديث د تحريك راجح دے او عدم ذکر په عام رواياتو کښې تحريك لره نه نفی کوی ځکه چه په بعض رواياتو کښې خو ذکر ده۔
ليکن راجح د دواړو قولينو نه يو قول ثالث دے چه دواړه عملونه سنت دی او طريقه د جمع د دواړو روايتونو دا ده چه : (احياناً يحرکها واحياناً لا يحرکها) کله ئے خوزول پکار دی او کله ئے همداسے پريخودل پکار دی بغير د خوزولو نه او د نافی او د مثبت خبرے ته هم ضرورت نشته وجه دا ده چه تقدم او تاخر ته ضرورت په هغه وخت کښې وی چه تعارض موجود وی او دلته دا د مختلف اوقاتو اعمال دی تعارض پکښې نشته کله په يو او کله په بل باندے عمل پکار دے ۔
راجع تمام المنة (۲۱۷،۲۲۲)

المسئلة الخامسة : کيفية التحريک : د خوزولو تحريك به څنګه وی ؟ :
نو ظاهر د احاديثو نه معلوميږی چه دا تحريك به قبلے طرفته خکته بره وی لکه په حديث د ابن عمرؓ کښې دی : واشار باصبعه التی تلی الابهام الی القبلة۔ (النسائی : ۱/ ۲۵۰)وابن خزيمة (۱/ ۳۵۵) نو دلته اشاره قبلے طرفته شويده او قبلے طرفته اشاره خکته بره کيږی ۔

مالکیه وائی چه یمین او شمال طرفته به ئے خوزوی لکه الشرح الصغیر (۱/۲۳۰) او الفقه الاسلامی (۱/۷۱۶) وفقه السنة (۱/۱۴۵) والفقه علی المذاهب الاربعة (۱/۲۶۵) کښې دی:

قال المالکیة: یندب دائماً تحریك السبابة وسطاً من اول التشهد الی آخره، یمینا وشمالاً لا لجهة فوق وتحت۔ لیکن پدے خبره باندے هیڅ دلیل شرعی نشته۔ انظر صحیح ابن حبان (۳/۱۵۹)

نو هریو طرفته خوزول جواز لری او پدے باب کښې به د یو بل سره جګړے نه وی پکار لیکن دا لحاظ پکار دے چه ډیره په زوره به ئے نه خوزوی چه د نورو مونځ کونکو خشوع خرابه کړی او هغوی باندے تشویش راولی بلکه په آرام آرام سره به ئے خوزوی ځکه دا عبادت دے خشوع ورسره پکار ده او په عمل بالحدیث کښې ادنیٰ ما یطلق علیه اسم الحرکة کافی دے۔

۶- **المسئلة السادسة**: اشاره به د ښی لاس په ګوته باندے کوی او د ګڅ لاس چه شل یا پریکړے شوے وی نو د هغه نه د اشارے حکم ساقط دے په ګس لاس باندے اشاره نشته او ددے وضاحت به روستو راشی۔

۷- **المسئلة السابعة**: په یوه ګوته به اشاره کوی لکه روستو به حدیث راشی (احّد، احّد) دارنګه د اشارے نه به نظر نه اړوی لکه مخکښې د ابن عمرؓ په روایت کښې تیر شو۔

۸- **المسئلة الثامنة**: پدے کښې اختلاف دے چه په **اوله قعده** کښې اشاره شته او که نه؟۔

بعض علماء وائی چه په اوله قعده کښې اشاره نشته۔ صرف په آخیره قعده کښې ده ځکه دعاګانے په اخیری قعده کښې وی او اشاره د دعاء دپاره ده۔

لیکن دا قول غلط دے، د سنت خلاف دے، په احادیثو کښې په دواړو قعدو کښې اشاره ثابته ده، لکه بیهقی (۲/۱۳۲) کښې باب الدلیل علی ان هذا سنة الیدین فی التشهدین جمیعاً کښې ئے حدیث د ابن الزبیرؓ راوړیدے: کان رسول اللّٰه ﷺ اذا جلس فی ثنتین او فی اربع وضع یدیه علی رکبتیه واشار باصبعه۔ امام نسائیؒ پدے حدیث د ابن الزبیرؓ باندے باب تړی باب الاشارة بالاصبع فی التشهد الاول ۔ (النسائی: ۱/۱۷۳) وسنده صحیح۔

شیخ البانی صفة صلاة النبی کښې وائی: نبی علیه السلام به اشاره په دواړو تشهدینو کښې کوله او د اشارے چه کوم فوائد دی نو هغه په دواړو کښې راتلے شی۔

۹- **المسئلة**: بعض علماء وائی: چه د **دوو سجدو مینځ** کښې (په جلسه) کښې به هم اشاره کوی په مسواکه ګوته سره دا علماء استدلال کوی په احادیث مطلقه باندے چه په هغے کښې نفس جلوس ذکر دے (اذا جلس، اذا قعد، اشار او نصب اصبعه) دا منطلق الفاظ دی لیکن دا مطلق محمول دی په هغه احادیثو باندے چه هغے کښې (فی التشهد، او فی الرکعتین، یا فی الثنتین یا فی الاربع او فی آخر صلاته) الفاظ راغلی دی، او حدیث د وائل بن حجر کښې چه ددے ذکر راغلے دے کما فی مجمع الزوائد (۲/۳۲۴) رقم (۲۸۰۵) (البزار) نو هغه روایت ضعیف دے فیه

محمد بن حجر قال البخاری فیه بعض النظر وقال الذهبی : له مناکیر میزان الاعتدال (۳/۱۱ ۵)
او بل روایت د وائل کښې هم شته کما فی احمد (۳۱۷/٤) عبد الرزاق (۲/ ٦۸ / ۲۰۲۲) والطبرانی فی الکبیر (۸۱/۳٤/۲۲) وزاد المعاد (۱/۲۳۰)

لیکن ددې جواب البانیؒ په تمام المنه (۲۱٤) کښې دا ورکړیدې چه دا روایت شاذ دې ځکه عبد الرزاق د اشارې نه بعد سجده ثانیه ذکر کړیده او حال دا چه اشاره د سجده ثانیه نه بعد په تشهد کښې ده لکه څنګه چه زهیر بن معاویه صحیح ذکر کړیده په الطبرانی فی الکبیر رقم (۸٤) کښې ئې او ګوره نو عبد الرزاق خطاء شویدې تقدیم تاخیر ئې کړیدې۔ لهذا د دوه سجدو په مابین کښې اشاره کولو باندې صحیح دلیل نشته نو بس دا مستحب نه ده ۔ راجع تمام المنة (۲۱٤) وفتاوی الدین الخالص۔

۲– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا قَعَدَ يَدْعُوْ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُمْنٰى، وَيَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُسْرٰى، وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ، وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلٰى إِصْبَعِهِ الْوُسْطٰى، وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرٰى رُكْبَتَهُ . رواه مسلم .

ترجمه : او عبد الله بن زبیر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د تشهد دپاره کیناستو نو ښے لاس به ئے په ښی پتون او ګس لاس به ئے په ګس پتون کیخودو او په مسواکئ ګوته به ئے اشاره اوکړه (پدې طریقه چه) غټه ګوته به ئے په مینځنئ ګوته کیخوده او زنګون به ئے په ګس لاس کښې (د نوړئ په شان) اونیولو ۔ (مسلم)

تعارف د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه : عبد الله بن زبیر بن العوام القرشی الاسدی، ابوبکر المکی ثم المدنی ۔ دا په اسلام کښې اولنې مولود دې چه په مدینه کښې د مهاجرینو نه پیدا شو مور ئې اسماء بنت ابی بکر هجرت مدینې ته اوکړو او هغه په ده باندې حامله وه، نو د هجرت نه پس په اول کال د هجرت پیدا شو، ابوبکر صدیق دده په غوږ کښې اذان اوکړو او دا ئے په قباء کښې راوړو او بیا ئے نبی علیه السلام ته راوستو او نبی علیه السلام هغه له غیږه کښې کینولو او کجوره ئے راوغوښته او وې ژوله او بیا ئے د هغه د تالو پورې راخکله او لاړې ئے ورله په خوله کښې واچولې، نو خیټې ته ئے اول د رسول الله ﷺ لاړې داخلې شوې بیا ئے ورته د برکت دعاء اوکړه دا کثیر الصیام والصدقه صحابی دې، ذکی وو، غیرتی وو، جنګ کښې ډیر سخت وو، فصیح، د ژبې نه چالاك وو، حق قبلونکې، صله رحمی ډیر قائمونکې وو، مور ئے اسماء بنت الصدیق ده او خاله ئے عائشه صدیقه ده او د مور د طرفنه نیکه ئے ابوبکر صدیق دې او نیا ئے صفیه د رسول الله ﷺ ترور ده، د رسول الله ﷺ سره ئې د اته کالو په عمر بیعت اوکړو او د یرموك جنګ ته حاضر

شویدے او د عمر خطبه چه په جابیه کښې وه هغے ته (هم) حاضر شویدے ۔ د یزید بن معاویه د وفات نه پس په سنه (٦٤) کښې ده دپاره په خلافت بیعت اوکړے شو او په حجاز، عراقیین، یمن او مصر او اکثر شام باندے ئے حکومت کړے دے نهه کاله ئے ولایت اوکړو او حجاج بن یوسف په مکه کښې قتل کړو او په یوم الثلاثاء (۱۷) جمادی الاخری کښې په سنه (۷۳ ھ) کښې ئے په صولئ کړو او خلقو باندے ئے اته کاله حج کړیدے د نبی علیه السلام د وفات په وخت د (۹) کالو وو او دده ډیر مناقب او واقعات دی ۔ انظر المرعـلة ومقرر السیرة للصف الاعدادی لمحمد علی حمار ومحمد عبد الله الانصاری) المکتبة الشاملة)

دده صحیح خلافت وو مروان په ده باندے خروج اوکړو پس د هغه نه چه دده دپاره بیعت اوشو په ټولو اطرافو کښې سوئ د بعض کلو د شام نه نو مروان په دمشق باندے غلبه اوکړه بیا ئے د مصر غزا اوکړه په هغې هم غالب شو او ددے نه پس هغه وفات شو بیا څه موده پس عبد الملک بن مروان د عراق سره جنګ اوکړو نو مصعب بن الزبیر ئے قتل کړو بیا حجاج د مکے غزا اوکړه نو عبد الله ئے قتل کړو او اول کښې عبد الله د یزید بن معاویه د بیعت نه ځان منع کړو او کعبے کښې ئے پناه واخسته (او ځان ته ئے عائذ البیت نوم کیخودو) نو یزید یو لوئی لښکر تیار کړو چه هغوی په مدینه باندے حمله اوکړه چه په وقعة الحرّة سره مشهوره واقعه ده بیا د مدینے نه مکے ته لاړل او ابن الزبیرؓ ئے قتل کړو او بیت الله ئے په منجنیق اوویشتو او هغه ئے اوسوزولو نو پدے کښې ورته د یزید د مرګ خبر راغلو نو فوج بیرته شام ته واپس شو، بیا کله چه حجاج د مکے غزا اوکړه نو د خپلو مشرانو پشان کارونه ده هم اوکړل او بیت الله ئے په منجنیق اوویشتو او ابن الزبیر شجاعت رابنکاره شو چه یواځے ئے د مسجد حفاظت اوکړو او پدے حال کښې ترے عام ملګری جدا شو او قتل کړے شو (۳۳) حدیثو نه ئے نقل کړیدی ۔

تشریح : إِذَا قَعَدَ يَدْعُو : دا دلیل دے چه د ګیناستو سره سمدست به په ګوتے سره اشاره کوی۔

وَيُلْقِمُ كَفَّهُ: دا د القام نه دے په معنی د لقمه ورکولو، د طعام په باب کښې په معنی د ادخال اللقمة فی الفم سره استعمالیږی دلته معنی دا ده چه زنګون به ئے د ګس لاس په ورغوی کښې ورداخل کړو پداسے طریقه چه زنګون به داسے شو لکه لقمه (نوړئ) په لاس کښې ۔

دا دویم کیفیت دے د لاسونو د کیخودلو په زنګون باندے نو ګس لاس په رکبه باندے دپاسه کیخودل هم سنت دی او د زنګون په خوا کښې په ورون باندے کیخودل هم سنت دی ۔

۳– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ : كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ قُلْنَا : اَلسَّلَامُ عَلَى اللهِ قِبَلَ عِبَادِهٖ، اَلسَّلَامُ عَلٰى جِبْرَئِيْلَ، اَلسَّلَامُ عَلٰى مِيْكَائِيْلَ، اَلسَّلَامُ عَلٰى فُلَانٍ . فَلَمَّا انْصَرَفَ

النَّبِيُّ ﷺ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ، قَالَ : لَا تَقُوْلُوْا: اَلسَّلَامُ عَلَى اللهِ . فَاِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ . فَاِذَا جَلَسَ اَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ، فَلْيَقُلْ : اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ، وَالصَّلَوَاتُ ، وَالطَّيِّبَاتُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ – فَاِنَّهٗ اِذَا قَالَ ذٰلِكَ اَصَابَ كُلَّ عَبْدٍ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ – اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ، ثُمَّ لِيَتَخَيَّرْ مِنَ الدُّعَاءِ اَعْجَبَهٗ اِلَيْهِ فَيَدْعُوْهُ . متفق عليه .

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : مونږ به چه کله د نبی ﷺ سره مونځ کولو نو مونږ به (د التحیات په ځائے) داسے وئیل : السلام علی الله قبل عباده الخ (په الله تعالی باندے سلام دے د طرفه د بندګانو نه) په جبریل علیه السلام باندے سلام دے په میکائیل باندے سلام دے او په فلانی (یعنی ملائکو نه په یوه فرشته یا یو نبی باندے) سلام دے (نو یوه ورځ) چه کله نبی علیه السلام سلام واړولو نو مونږ طرفته متوجه شو وے فرمایل : په الله باندے سلام مه وایئ ځکه الله تعالی (خو پخپله) سلام دے (یعنی د هغه ذات د ټولو آفات او نقصاناتو نه محفوظ او سالم دے هغه بندګانو ته سلامتیا ورکوی) لهذا کله چه ستاسو نه څوك د مانځه (په قعده) کښې کینی نو دا دِے اووائی : (ټول تعریفونه او بدنی عبادتونه (مونځونه وغیره) او مالی عبادتونه (یعنی زکوة وغیره) خاص الله دپاره دی - اے نبی (ﷺ) په تا دِے سلام وی او د الله رحمتونه او برکتونه وی، سلام دِے وی په مونږ او د الله په ټول نیك بندګانو باندے- (نبی علیه السلام اوفرمایل :) څوك چه دا کلمات وائی نو ددے برکت د زمکے او آسمان هر نیك بنده ته رسی - (ددے نه پس نبی علیه السلام دا کلمات په شهادتینو باندے ختم کړل چه د ټولو اعمالو اصل او خلاصه ده وے فرمایل :) اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله - بیائے اوفرمایل : ددے نه پس دِے بنده ځان دپاره غوره (کوم چه ده ته خوښه وی) دعاء اختیار کړی او د الله نه دِے دعاء اوغواړی - (بخاری ومسلم)

تشریح : مقصد د حدیث دا دے چه مونږ به کله د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نو داسے الفاظ مو په تشهد کښې وئیل : السلام علی الله قبل عباده - په الله باندے سلام دے د طرفه د بندګانو د هغه نه- نو نبی علیه السلام پدے باندے خبر نه وو ځکه دا به ئے پټ وئیل ، خو یوه ورځ پرے خبر شو نو منع ئے کړل چه په الله باندے سلام مه وایئ وجه دا ده چه سلام معنی ده سلامتیا د آفاتو نه او الله پخپله سلام ذات دے مالك دے د سلامتیا او ورکونکے د سلامتیا دے نو هغه محتاج ندے سلامتیا وئیلو ته - او بیا ئے ورته صحیح طریقه سره د الله د صفاتو تلقین ورکړو- اَلسَّلَامُ عَلٰى فُلَانٍ : ددے فلان نه د هغوی مقصود ملائك وو لکه په روایت د ابن ماجه

(٦٤/١) كښې راغلې دي. فَلْيَقُلْ : كښې دليل دے چه تشهد وئيل فرض دي په دواړو قعدو كښې نو پدے كښې رد دے په يو قول د مالكؒ باندے چه هغه ئے صرف مسنون ګڼړي.

اَلتَّحِيَّاتُ : جمع د تحيه ده او ددے يوه معنى ده سلام . بعض وائي : معنى ئے بقاء ده .

بعض وائي : عظمت دے، يا سلامتيا د آفاتو او نقصان نه يا ملك مراد دے .

ابن قتيبه وائي : التحيات ئے جمع راوړه ځكه د هر بادشاه خاصه تحيه او دالئ وي نو دلته به معنى دا وي : چه هغه تعظيم چه خلق ئے په بادشاهانو باندے كوي ددے ټولو مستحق الله تعالى دے .

وَالصَّلَوَاتُ : دينه يا عام مونځونه مراد دي يا پنځه مونځونه مراد دي يا ټول عبادات، يا دعوتونه الله تعالى دپاره دي، بعض وائي : رحمتونه مراد دي چه رحمت وركونكے صرف الله تعالى دے .

وَالطَّيِّبَاتُ : پاكے خبرے، يا ذكر د الله ، يا اقوال صالحه، لكه دعاء او ثناء .

بعض وائي : التحيات نه مراد عبادات قوليه دي او صلوات عبادات فعليه دي او طيبات صدقات ماليه دي . اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ : په عام مرفوع احاديثو كښې سلام په نبي باندے په صيغه د خطاب دے او بعض صحابه كرامو به د نبي عليه السلام په حيات كښې السلام عليك وئيلو او پس د وفات نه به ئے السلام على النبي په صيغه د غائب وئيلو لكه ابن مسعود، عائشه وغيره به دا فرق كولو كما في البخاري باب الاستيذان (٢/٩٢٦) وابي عوانة والبيهقي (٢/١٣٨) والمصنف لعبد الرزاق) فلما قبض قلنا السلام على النبي الخ. او عام صحابه كرامو به همدغه يو صيغه په ژوند او پس د مرګ نه يو شان لوستله نو ددے نه بريليان استدلال كوي چه پيغمبر حاضر ناظر دے ځكه ورته آواز شويدے . ددے **جواب** دا دے چه رسول الله ﷺ صحابه كرامو ته همداسے لفظ خودلے دے نو مونږ چه دا وايو نو د هغه د تعليم تابعداري كوو لهذا دا اتباع د لفظ د نص ده او د عقل دخل پدے باب كښې نشته (طيبيؒ). ٢– دويم دا چه معراج كښې رسول الله ﷺ په الله تعالى باندے پدے كلماتو ثناء او صفت اوكړو نو الله تعالى هغه ته داسے اووئيل : السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته نو نبي عليه السلام ورسره داسے اووئيل : السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين نو جبرئيل عليه السلام پكښې دا اووئيل : اشهد ان اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله انتهى (ابن الملك). نو دا حكايت د معراج دے په آخر د مانځه كښې چه دا د مومنانو معراج دے لهذا دا صيغه به نه بدليږي (مرقات) ليكن ددے روايت سند نشته صحيح دا ده چه دا مستقل براسه ذكر دے او الله د بندګانو دپاره غوره كړيدے.

٣– **واضح جواب** دا دے چه مونږ بندګان يو د الله او د رسول د خبرو تابعدار يو، په مانځه كښې زانه رسول الله ﷺ داسے وائي چه السلام عليك ايها النبي وايئ او بهر د مانځه نه ددے وئيل ئے حرام كړيدي (لا تجعلوا دعاء الرسول بينكم) او په احاديثو كښې ددے ثبوت غائب ته نشته لهذا يها النبي كلمه وئيل عبادت دے او عبادت كښې قياس كول حرام دي دا به د شارع نه زده كولے

شی ۔ بلـه دا چـه پـه روایت د بزار، طبرانی او طحاوی کښې دی : چه رسول الله ﷺ به ځان دپاره هـم داسې کلمات پـه مانځه کښې لوستـل (السلام علیك ایها النبی) معلومیږی چه دا د الله حکم دې او بهـر د الله حـکم نشته لهذا دا په مانځه پورې خاص دې او صحابه کرامو به بهر د مانځه نه پـه حـالـت د غیبـوبت د رسـول الله ﷺ کـښې ایهـا الـنبـی نه لوستلو ۔ (اوګوره زمونږ رساله ''یے مطلبه چغه'' چه د یارسول الله وئیلو په رد کښې لیکلې شویده)۔

اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا: فائده : ددې حدیث نه معلومیږی چه څوك دعاء غواړی نو اول به ځان دپاره دعاء غواړی بیا بـه بـل چا لـه لـکـه ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی : نبی علیه السلام چه به کله بل چا له دعاء غوښتله نو اول به ئې ځان دپاره اوکړه (صحیح الترمذی ۱٤۱/۳ رقم۲٦۹٦) واصله فی مسلم)۔

وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ : صـالـح : هـغـه انسان ته وائی چه د الله او د بندګانو واجب حقوق اداء کـوی ۔ حـکیـم ترمذیؒ وائی : څوك چه غواړی چه د خلقو سلام ورته اورسی او د هغوی په دعاء کښې بـرخـه حـاصـلـه کړی نو هغه دِې نیك بنده جوړ شی ورنه ددې لوئی فضیلت نه به محروم شی۔ ثُمَّ لْيَتَخَيَّرْ : یـعـنـی ځان دپاره دِې دعا هغه غوره کړی چه ده ته خوښه وی، د دین او د دنیا او آخـرت نـه نـو دا حـدیـث دلیل دې په دوه خبرو باندې اوله دا چه دعاء د سلام اړولو نه مخکښې په مـانـځـه کـښې واجب ده او دا قول د ابو هریره رضی الله عنه او اهل الظاهر دې ۔ ابن حزم رحمه الله فـرمـائـی : (اللهم انی اعوذ بك من عذاب جهنم) د څلورو څیزونو نه پناهی والا دعاء وئیل فرض دی ځکه پدې باندې امر راغلې دې انتهیٰ او پدې کښې احتیاط دې ۔

او طـاوس رحـمـه الله ددې دعـاء پـه نـه وئیلو خپل ځوی ته د مانځه د اعادې حکم اوکړوکما فی مسـلم) ۲– دویمه خبره دا چه دا دعاء عامه ده شامل ده دینی اخروی او دنیوی ټولو څیزونو دپاره دعـاء غـوښـتـل جـائـز دی او دا مذهب د شوافعو او مالکیانو دې خو پدې شرط چه د ګناه دعاء نه وی لـکـه داسې هم وئیلې شی : اللهم ادخلني الجنة او دنیـوی چـه د خلقو د خبرو مشابه وی د هغې غـوښـتـل هـم جائز دی لکه اللهم ارزقنی مالا وارزقنی زوجة جميلة ودراهم جزيلة ځـکه دلته ئې د بنده اختیار ته خبره سپارلې ده۔

۳– احناف وائی : صرف هغه دعاګانې به غواړی چه د نبی علیه السلام نه نقل وی او هغه به نـه غـواړی چه د خلقو د خبرو سره مشابه وی ۔ استدلال کوی په حدیث : ان صلاتنا هذه لا يصلح فيها شئ من كلام الناس) لیکن دا استدلال په محل د نظر کښې دې ځکه چه یو دعاء ده او بل عامې خبرې اتـرې دی نـو دې حـدیـث کـښې عـامـې خبرې مراد دی او دعاء ددې نه مستثنیٰ ده لهذا هر قسمه دعاء لوستـل جواز لری مګر ادعیه ماثوره وئیلو کښې خامخا کمال دې۔

عـلامه علی بن ابی العز الحنفي په التنبیه (۵۷۹/۲) کښې د هدایه (۵٦/۱) مولا ددې عبارت (ولا يدعو بما يشبه كلام الناس تحرزاً عن الفساد) ۔لاندې لیکی : فيه نظر، لانه لو تكلم في هذه الحالة،

او احدث متعمداً لم تفسد صلاته عند ابي حنيفة واصحابه، فكيف اذا دعا بما يشبه كلام الناس ؟!

يعني دا خبره د هدايه مولا (چه د خلقو د خبرو مشابه دعاء به نه كوى چه مونځ ئے فاسد نه شي) پدے خبره كښ نظر دے ځكه كه يو سړے پدے حالت كښ (په وخت د سلام كښ) خبرے اوكړى او يا قصداً ځان بے اودسه كړى نو د امام ابوحنيفةؒ او اصحابو په نيز مونځ ئے نه فاسديږى، نو د خلقو د خبرو مشابه دعاء كولو سره به ئے څنګه فاسد شي ؟!).

بيا وائي : د خلقو د خبرو مشابه دعاء كولو سره مونځ فاسديدو كښ بل نظر دا دے چه دا خبره د ظاهر د حديث د فضاله بن عبيد خلاف ده چه په هغے كښ دى (ثم ليدع بعد بما شاء، ابوداود ٢/٧٧)، ترمذى في الدعوات (٦٥) ، نسائي في كتاب السهو)۔ نو پدے كښ ئے بنده ته اختيار وركړو چه هر قسم دعاء غوختے شي ۔ ليكن اعتداء به په دعاء كښ نه كوى چه كه هغه د يو انسان نه اوكړى نو په هغه باندے عيب او قباحت شمارلے شي لكه داسے اووائى : اللهم ارزقني سكباجة طيبة ۔ (اے الله ما ته مزيداره ښوروا راكړے)۔

بيا هدايه مولا وائي : (اللهم ارزقني) به هم نه وائي ځكه دا مشابه ده د خلقو د خبرو سره (چه د هغے حد دا دے چه ما لا يستحيل سؤاله من البشر) نو دا دعاء هم د بنده ګانو نه غوختے شي لكه وئيلے شي رزق الامير الجيش هدايه (١/٣١٩) لهذا دا به په مانځه كښ نه غواړى ۔

ليكن ابن ابى العز وئيلى دى چه دا خبره هم د هدايه مولا خطاء ده وجه دا ده چه په حديث د ابن عباس كښ دى چه نبى عليه السلام به د دوه سجدو ترمينځ داسے دعاء كوله (اللهم اغفر لي، وارحمني، واجبرني واهدني وارزقني – ترمذى، ابوداود) نو رزق طلب كول د منقول دعاء ګانو نه حساب دى او هدايه مولا پدے سره هم مونځ فاسد ګنړى التنبيه على مشكلات الهداية (٢/٥٨٠)

ليكن دا خبره ياد لرل پكار دى چه رزق طلب كول دوه قسمه دى يو د الله تعالىٰ نه دى او بل د مخلوق نه د دواړو په مابين كښ ډير فرق دے ځكه رزق الله دا د هغه د شان سره مناسب صفت دے او رزق المخلوق خو د هغه د عجز او ضعف او تنګدستيا مناسب وى نو دا به نشى قياس كولے په هغه باندے ۔ وانظر تعليق التنبيه (٢/٥٨٠)

فائده : د تشهد الفاظ د ځليريشت صحابه كرامو نه نقل دى دلته مصنف د درے صحابه كرامو تشهد نقل كړيدے، ابن عباس، ابن مسعود، جابر او دكتور حبيب الله مختار په كشف النقاب عما يقوله الترمذى وفى الباب كښ (٤/٥٤٩، ٥٦٨) كښ د پنځوس نه زيات ذكر كړيدى، حافظ ابن حجرؒ په التلخيص الحبير (١/٢٦٤، ٢٦٨) كښ (١٤) ذكر كړيدى چه هغه فضائل درود كښ شيخ زكريا هم نقل كړيدى، او شيخ البانيؒ په صفة صلاة النبى (١٢٦) كښ (٦) صيغے ذكر كړيدى چه هغه صحيح سند والا دى ۔ او هغه دا دى : ١– تشهد ابن مسعود ٢– تشهد ابن عباس ٣– تشهد ابن عمر ٤– تشهد د ابو موسى الاشعرى ٤– تشهد د عمربن

الخطاب ٦– تشهد د عائشه صدیقه۔

الفاظ د اول خو معلوم دی کوم چه په عام مونځونو کښې عوام خلق وائی۔

۲– د دویم الفاظ : التحیات المبارکات الصلوات الطیبات للّٰه السلام علیك ایها النبی ورحمة اللّٰه وبرکاته، السلام علینا وعلی عباد اللّٰه الصالحین، اشهد ان لا اله الا اللّٰه واشهد ان محمداً رسول اللّٰه وفی روایة (عبده ورسوله) (مسلم وابوعوانة والشافعی والنسائی)

۳– د ابن عمر تشهد رضی اللّٰه عنه : التحیات للّٰه والصلوات والطیبات السلام علیك ایها النبی ورحمة اللّٰه وبرکاته السلام علینا وعلی عباد اللّٰه الصالحین اشهد ان لا اله الا اللّٰه وحده لا شریك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله۔ **٤– تشهد ابو موسی الاشعری** رضی اللّٰه عنه : التحیات الطیبات الصلوات للّٰه السلام علیك ایها النبی ورحمة اللّٰه وبرکاته السلام علینا وعلی عباد اللّٰه الصالحین اشهد ان لا اله الا اللّٰه وحده لا شریك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله (مسلم، ابوعوانة، ابوداود وابن ماجه)

٥– تشهد عمر بن الخطاب رضی اللّٰه عنه : التحیات للّٰه الزاکیات للّٰه الطیبات للّٰه السلام علیك ایها النبی ورحمة اللّٰه وبرکاته السلام علینا وعلی عباد اللّٰه الصالحین اشهد ان لا اله الا اللّٰه واشهد ان محمداً عبده ورسوله۔ **(مالك، بیهقی بسند صحیح موقوف بمنزلة المرفوع)**

٦– تشهد عائشة رضی اللّٰه عنها : التحیات الطیبات الصلوات الزاکیات للّٰه السلام علی النبی ورحمة اللّٰه وبرکاته السلام علینا وعلی عباد اللّٰه الصالحین اشهد ان لا اله الا اللّٰه واشهد ان محمداً عبده ورسوله **(ابن ابی شیبه، والسراج، والبیهقی : ۱٤٤/۲) والصواب انه موقوف علیها۔**

مسئله : کوم تشهد په مانځه کښې لوستل غوره دی ؟ اول خو پدے اتفاق دے چه هر قسم تشهد چه په احادیثو کښې صحیح ثابت وی د هغے لوستل جائز دی خو په افضیلت کښې اختلاف دے۔ ۱– بعض تشهد د حدیث د ابن مسعودؓ غوره کوی او دا قول د احنافو او حنابلو دے بلکه د جمهورو علماؤ دے کما قال الترمذی (٦٥/۱) ۔ وابن قدامه فی المغنی (٦۰۸/۱)

وجه دا ده چه دا اصح ما روی فی التشهد دے په اجماع د علماؤ سره کما قال الترمذی ومحمد بن یحیی الذهلی۔ امام نوویؒ فرمائی : اشدها صحةً باتفاق المحدثین حدیث ابن مسعود، ثم حدیث ابن عباس۔ **۲– دویم دا چه ددے په الفاظو کښې راویانو اختلاف ندے کړے په خلاف د غیر نه ۔ ۳– دا په صیغه د امر راغلے دے ، نه نور۔**

٤– حافظ وائی : وجه د ترجیح دا هم ده چه دے کښې واو د عطف دے په الصلوات والطیبات کښې او واو تقاضا د مغایرت کوی نو دا جدا جدا مستقلے جملے جوړیږی او هره جمله مستقله ثناء ده او باقی روایاتو کښې غالبا واو نشته نو ټول یوه جمله جوړیږی نو ډیره ثناء نه حاصلیږی۔ فتح الباری (۲٤٩/۲) **۲– امام مالكؒ وائی : حدیث د عمر بن الخطاب راجح دے ۔ دلیل دا وائی چه دا عمر فاروق خلقو ته په منبر باندے خودلے دے او هیچا د هغه سره پدے کښې**

نزاع نه ده كړې نو دا اجماع شوه او دليل دے په افضليت ددے باندے ـ ليكن صحيح دا ده چه عدم انكار د صحابه كرامو پدے وجه دے چه دا تشهد لوستل هم جائز دی او دليل ندے په افضليت باندے څكه اكثر صحابه كرامو ددے نه سوئ تشهد لوستلو ـ

٢- بله دا چه دا موقوف دے په عمر باندے دارقطنیؒ وائی : لم يختلفوا فی انه موقوف عليه او ددے په خلاف ابن ابی شيبه د ابن عمر نه نقل كوی چه ابوبكر صديق خلقو ته تشهد داسے اوخودلو لكه ماشومانو ته چه په مكتب كښې سبق خودلے شی التحيات الخ د ابن مسعود د تشهد په شان. ٣- او امام شافعیؒ حديث د ابن عباسؓ راجح او احسن ګڼړلے دے ليكن اول قول راجح دے والله اعلم. فَيَدْعُوْهُ : دا دعاء به د اللهم صل نه روستو وائی لكه نور احاديث راجمع كړه نو دا معنی به وركړی لكه دا د اهل السنت والجماعت مذهب دے چه په يو باب كښې تول حديثونه جمع كوی بيا حكم راوباسی نو دا حديث دليل دے چه دعاء د واجباتو نه ده ـ

٤- وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، فَكَانَ يَقُوْلُ : اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ، الصَّلَوَاتُ، الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ، اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً رَسُوْلُ اللّٰهِ. رواه مسلم ولم اجد فی "الصحيحين" ولا فی "الجمع بين الصحيحين" سَلَامٌ عَلَيْكَ وَسَلَامٌ عَلَيْنَا بغير الف ولام، ولكن رواه صاحب "الجامع" عن الترمذی.

ترجمه : او عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به مونږ ته تشهد داسے خودلو لكه څنګه چه مونږ ته د قرآن د يو سورت خودنه كوی نو هغه به فرمايل : التحيات الخ تول د بركت تعريفونه او تمام مالی او بدنی عبادتونه خاص الله دپاره دی ـ اے نبی ! سلام دِے وی په تا باندے او د الله رحمتونه او بركتونه دِے وی په تا باندے، سلام دِے وی په مونږ باندے او د الله په نيك بندګانو باندے ـ او زه ددے خبرے ګواهی وركوم چه د الله نه سوا هيڅوك حقدار د بندګئ نشته او ګواهی وركوم چه محمد (ﷺ) د الله رسول دے ـ (مسلم)

ولم اجد فی "الصحيحين" : مقصود د مصنف دا دے چه بغوی سلام عليك او سلام علينا بغير د الف لام نه نقل كړيدے ليكن دا په روايت د صحيحين كښې او نه په جمع بين الصحيحين للحميدی كښې شته نو دا په فصل اول كښې ذكر كول مناسب ندی ـ

الفصل الثانی

۵ – عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ ﷺ، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، قَالَ: ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُسْرٰى، وَحَدَّ مِرْفَقِهِ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِهِ الْيُمْنٰى، وَقَبَضَ ثِنْتَيْنِ، وَحَلَّقَ حَلْقَةً، ثُمَّ رَفَعَ اِصْبَعَهُ فَرَأَيْتُهُ يُحَرِّكُهَا يَدْعُوْ بِهَا. رواه ابو داود والدارميُّ.

ترجمه: وائل بن حجر ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت نقل كوى، فرمائى: بيا (د سجدے نه سر پورته كولو نه بعد) رسول الله ﷺ كيناستو او خپله گسه خپه ئے خوره كړه او گس لاس ئے په گس پتون باندے كيخودو او ښى څنگل ئے په ښى پتون باندے نيغ كيخودو او دوه گوتے ئے بندے كړے او (د غټے او مينځنۍ گوتے نه ئے) حلقه جوړه كړه بيا ئے گوته پورته كړه نو ما اوليدلو چه گوته ئے خوزوله پدے سره ئے دعاء (اشاره) كوله۔ (ابوداود، دارمى)

تشريح: وَحَدَّ مِرْفَقِهِ الْيُمْنٰى: مخكښې تير شويدى چه حد په معنى د مد او وضع سره دے نو ددے صحيح معنى دا ده چه (ان يكون طرف مرفقه عند آخر فخذه) يعنى طرف د څنگلے به د پتون د آخر سره وى او دا ظاهر ددے حديث دے او دا معنى د بل حديث نه معلومه ده (اضجع اليسرى ونصب اليمنى ووضع يده اليمنى على فخذه اليمنى) (النسائى: ۱/۲٤۹) يعنى ښے لاس به په پتون باندے ږدى او نه به ئے پورته كوى او پدے حال كښې تكليف نه وى۔ او ددے معنى تائيد په بل روايت كښې مخكښې موږ ذكر كړو چه (واضعاً ذراعه اليمنىٰ على فخذه اليمنى - ابن خزيمة) بناء پدے حد مرفقه مبتداء ده او على فخذه ئے خبر دے او جمله حال دے يا منصوب دے او عطف دے په مفعول د وضع باندے۔ او دے معنى ته حافظ ابن القيم په زاد المعاد (۱/۲٤۸) كښې اشاره كړيده۔

۲ – او شراحو چه كومه معنى كړيده هغه خطاء ده هغوى وائى: على په معنى د عن دے او د حد معنى ده پورته كول يعنى رفع مرفقه عن فخذه وجعل عظم مرفقه كأنه رأس وتد) - يعنى څنگله ئے د پتون نه پورته اوساتله، يا وائى حد په معنى د فصل او منع سره دے نو معنى كوى: فصّل بين مرفقه وجنبه يعنى څنگله او اړخ كښې ئے جدا والے راوستو خو دا معنى صحيح نه ده۔

فَرَأَيْتُهُ يُحَرِّكُهَا: نو دا حديث دليل دے چه تحريك او خوزول د مسواكۍ گوتے سنت عمل دے - يَدْعُوْ بِهَا: دے كښې يو غرض د اشارے ذكر دے چه هغه دعاء غوښتل دى يعنى پورته كوله ئے په دعاء كښې چه هغه تشهد دے او تشهد ته څكه دعاء وائى چه دا مشتمل دے په دعاء۔

مولوى سلام الله حنفى په شرح د موطأ كښې ليكى: وفيه تحريكها دائماً اذ الدعاء بعد التشهد۔ يعنى دے الفاظو نه دا واضح كيږى چه گوته به هميشه خوزوى څكه دعاء د تشهد نه بعد وى نو د اول سر نه تر آخر پورے به ئے خوزوى۔ علامه ناصر الدين الالبانى رحمه الله فرمائى: ففيه

دليل على ان السنة ان يستمر في الاشارة وفي تحريكها الى السلام لان الدعاء قبله ـ صفة صلاة النبي ص (١٥٨) آپ كے مسائل اور انكا حل: (١٤٢/١) لمبشر احمد ربانى ـ

درجة الحديث: اسناده صحيح: رواه احمد (٣١٨/٤) والدارمي (١/٣١٤/٣١٥) وابوداود (٩٥٧) والنسائي (٣٧/٤) وابن خزيمة (٧١٤) والبيهقي (١٣٢/٢) ـ

٦– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُشِيْرُ بِاِصْبَعِهٖ اِذَا دَعَا، وَلَا يُحَرِّكُهَا. رواه ابوداود والنسائي. وزاد ابوداوٗد: وَلَا يُجَاوِزُ بَصَرُهٗ اِشَارَتَهٗ.

ترجمه: او عبد الله بن زبير رضي الله عنه فرمائي: نبي كريم ﷺ به چه كله (په قعده كښې) دعا كوله (تشهد به ئې وئيلو) نو په خپله گوتې سره به ئې اشاره كوله ليكن هغه به ئې نه خوزوله ـ (ابوداود، نسائي) او ابوداود دا الفاظ هم نقل كړيدي چه: او د هغه نظر به د اشارې (د گوتې) نه تجاوز نه كولو ـ

تشريح: اِذَا دَعَا: يعني كله به ئې چه تشهد وئيلو نو اشاره به ئې كوله ـ

وَلَا يُحَرِّكُهَا: د بعض محدثينو په نزد دا روايت ضعيف دې ځكه پدې كښې محمد بن عجلان راوي دې ليكن بنه رأيه دا ده چه دا حسن درجه كښې دې ځكه محمد بن عجلان د مسلم راوي دې او ذهن كښې ئې معمولي شان ضعف دې نو حديث ئې حسن درجه كښې دې، نو دا تحريك د گوتې به په احيان باندې حمل شي او عدم تحريك اكثر دې ـ

درجة الحديث: اسناده حسن اخرجه احمد (٣/٤) وابوداود (٩٩٠) والنسائي (٣٩/٣) وابن خزيمة (٧١٨) وابن حبان (١٩٣٥) والبيهقي (١٣٢/٢) وفي اسناده محمد بن عجلان وفيه ضعف من قبل حفظه الا انه لا ينزل حديثه عن رتبة الحسن ولكن قال الالباني: لكن هذا الحديث في قوله: لا يحركها شاذ او منكر لان ابن عجلان لم يثبت عليه فقد كان تارة يذكره وتارة لا يذكره وهو الصواب ولا يجوز ان يعارض به حديث وائل بن حجر الذي قبله تعليق المشكاة للالباني (٢٨٧/١) ـ د ابن عجلان متابع شته ليكن هغوى دا زيادت نه ذكر كوي ـ

٧– وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: اِنَّ رَجُلًا كَانَ يَدْعُوْ بِاِصْبَعَيْهِ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اَحِّدْ اَحِّدْ. رواهُ الترمذيُّ والنسائيُّ، والبيهقيُّ في الدعوات الكبير.

ترجمه: او ابو هريره رضي الله عنه فرمائي: يو سړي په دواړو گوتو اشاره كوله نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمايل: يو گوتې سره اشاره كوه، يو گوتې سره اشاره كوه ـ (ترمذيؒ، نسائيؒ، بيهقيؒ)

تشریح : کَانَ یَدْعُوْ : یعنی اشاره ئې کوله ۔ رجلا : په روایت د ابوداود او نسائی کښې ددې صراحت شویدے چه سعد بن ابی وقاصؓ په قعده کښې د دواړو لاسونو په ګوتو باندې اشاره کوله یعنی دوه ګوتې ئې پورته کړې نو رسول الله ﷺ پرې راتیر شو، وې لیدلو نو منع ئې کړو او ورته ئې اوویل : اَحِّدْ یعنی په یوه ګوته اشاره کوه آه ځکه انسان چه د کوم ذات نه دعاء غواړي هغه یو دے۔

درجة الحدیث : اسناده حسن ، اخرجه احمد فی المسند (۲/ ۵۲۰) والترمذی (۳۵۵۷) والنسائی (۳/۳۸) والحاکم (۱/ ۵۳۶) وصححه الحاکم ووافقه الذهبی ۔

۸– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ یَّجْلِسَ الرَّجُلُ فِی الصَّلَاةِ وَهُوَ مُعْتَمِدٌ عَلٰی یَدِهٖ. رواه احمد وابوداود . وفی روایةٍ له : نَهٰی اَنْ یَّعْتَمِدَ الرَّجُلُ عَلٰی یَدَیْهِ اِذَا نَهَضَ فِی الصَّلَاةِ ۔

ترجمه : او ابن عمرؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمائیلې ده چه یو شخص په مانځه کښې په خپل لاس باندې تکیا لګولو سره کینی ۔ (احمد، ابوداود) او د ابوداؤد په یو روایت کښې دی : رسول الله ﷺ ددې نه هم منع فرمائیلې ده چه یو شخص په مانځه کښې د پاڅیدو په وخت په لاسونو باندې تکیه اولګوی ۔

تشریح : مُعْتَمِدٌ عَلٰی یَدِهٖ : یعنی رسول الله ﷺ ددې نه منع کړې چه انسان په تشهد کښې په زمکه په لاس تکیه اولګوی بلکه هغه به په زنګنونو او ورنونو باندې ږدی ، ددې منع حکمت دا دے چه دا کار د متکبرانو دے او پدې سره استواء الجلوس زائل کیږی او دا نهی د تحریم دپاره ده۔ نَهٰی اَنْ یَّعْتَمِدَ : دې نه بعض علماء استدلال کوی چه په وخت د پورته کیدو کښې به په لاسونو تکیه نه لګوی لیکن دا روایت شاذ او منکر دے کما تقدم الکلام فی ذلك قریباً۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : عبد الرزاق (۲/۲۹۷) رقم (۳۰۵٤) واحمد (۲/ ۱٤۷) وابوداود (۹۹۲) وابن خزیمة (٦۹۲) والبیهقی فی الکبریٰ (۲/ ۱۳۵) دویم روایت : بیهقی (۲/ ۱۳۵) وابوداود (۹۹۲) منکر روایت دے۔

۹– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ؓ ، قَالَ : کَانَ النَّبِیُّ ﷺ فِی الرَّکْعَتَیْنِ الْاُوْلَیَیْنِ کَاَنَّهٗ عَلَی الرَّضْفِ حَتّٰی یَقُوْمَ . رواه الترمذیُّ وابوداوٗد والنسائیُّ .

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ؓ فرمائی : نبی کریم ﷺ به په رومبنو دوه رکعتونو (یعنی اوله قعده) کښې (د تشهد دپاره دومره) کیناستو ګویا کښې هغه په ګرم کاڼري باندې ناست دے او (په جلتئ سره به) پاڅیدو ۔ (ترمذیؒ، ابوداوؒد، نسائیؒ)

تشریح : كَأَنَّهُ عَلَى الرَّضْفِ : فتحه د راء او سکون د ضاد دے هغه کانړو ته وائی چه په نمر یا په اور باندے گرم شوی وی، مفرد ئے رضفة دے او دا کنایه ده ددے نه چه په اوله قعده کښې به ئے معمولی شان مختصره ناسته کوله یعنی درود او دعاء به ئے پکښې نه وئیله، عبده ورسوله باندے به ئے اکتفاء کوله او حتی یقوم کښې حتی د تعلیل دپاره دے یعنی د وجے د پاڅیدو نه به ئے تخفیف کولو۔

مسئله : آیا په اوله قعده کښې د عبده ورسوله نه سوئ زیادت کول صحیح دی او که نه ؟ ۔

۱ - **د امام شافعیؒ** قول دا دے چه درود وئیل په اول تشهد کښې هم صحیح دی بلکه مستحب دی استدلال کوی په یو حدیث چه د وترو په باره کښې راغلے دے حاصل ئے دا دے : چه عائشهؓ فرمائی : رسول الله نهه رکعاتو وترو کښې په اتم رکعت کښې کیناستو او تشهد او درود ئے اووئیل بیا پاڅیدو ۔ اخرجه مسلم (۲/۱۷۰) وابوعوانة (۱/۳۲٤)۔

او بل حدیث د ابن عمرؓ دے : (کان رسول الله ﷺ یعلمنا التشهد التحیات الخ –وفیه : ثم یصلی علی النبی ﷺ اخرجه الدارقطنی (۲/۳۵۱) او بل حدیث د عبید الله بن بریده عن ابیه دے مرفوعا: (یا بریدة اذا صلیت فی صلاتك فلا تترکن الصلاة علی فیها فانها زکوة الصلاة) ۔

لیکن جواب دا دے چه دا خو صحیح ده چه په وترو کښې په اوله قعده کښې زیادت په تشهد باندے په درود وئیلو سره جائز دے لیکن باقی ځایونو کښې ندی جائز او قیاس ته ضرورت نشته ځکه د وترو کیفیات د باقی فرائضو د کیفیت نه بالکل جدا جدا دی نو پدے کښې قیاس کول د سنت خلاف دی او باب د عباداتو توقیفی دے ۔

او د ابن عمرؓ او ابن بریدهؓ حدیثونه ضعیف دی، اخرجه الدارقطنی (۲/۳۵۱) وفیه موسی بن عبیده وخارجه ضعیفان ۔ او په حدیث د ابن بریده کښې عمرو بن شمر او جابر جعفی ضعیفان دی دارقطنی (۲/۳۵۵) ★– بله دا چه په دغه حدیثونو کښې د اول تشهد قید نشته نو ظاهر دا دے چه د هغے نه دویم تشهد مراد دے ۔ راجع فتاوی الدین الخالص (٤/۳۵۷)

۲ - **قول ثانی** د جمهور اهل العلم دے او دا قول قدیم د امام شافعیؒ دے چه د هغه ډیرو اصحابو صحیح کریدے وائی چه اوله قعده کښې به صرف عبده ورسوله باندے اکتفاء کوی او زیادت به نه کوی او که چا زیادت اوکړو نو سجده سهوه به کوی په نیز د امام شعبیؒ او احنافو باندے کما فی المصنف (۱/۲۹٦) والترمذی والفتح الربانی (٤/۱۹) ورد المحتار باب السهو (۱/٦۳۲) **دلیل** : دا حدیث د ابن مسعود دے چه نبی علیه السلام په اوله قعده کښې زر پاڅیدو او د هغه نه چرته هم دا ندی ثابت چه هغه په اوله قعده کښې درود وئیلے وی او نه ئے امت ته ددے تلقین کریدے او نه د هغه هیڅ صحابی دے عمل ته مستحب وئیلی دی ۔ وانظر جلاء الافهام (۲۰۲) للحافظ ابن قیم الجوزیة۔ **بل دلیل** : حدیث د ابن مسعود دے په ابن خزیمه (۱/۳۵۰) او مسند احمد کښې : (علمنه التشهد، فکان یقول اذا جلس فی وسط الصلاة، وفی آخرها علی ورکه

الیسری ((التحیات)) الی قوله ((عبده ورسوله))، قال : ثم ان کان فی وسط الصلاة نهض حین یفرغ من تشهده))، وان کان فی آخرها دعا بعد تشهده بما شاء الله ان یدعو ثم یسلم انتهی۔ **یعنی په مینځ د مانځه کښې به د عبده ورسوله وئیلو نه پس پاڅیدو او که آخر د مونځ به وو نو بیا به ئې د تشهد نه بعد دعاء غوختله۔ دا دلیل دے چه په اوله قعده کښې به زیادت نه کوی۔**

صاحب د مرعاة (۲۴۳/۳) وائی : ظاهر دا ده چه په اول تشهد کښې به زیادت نه کوی لیکن که زیادت ئې اوکړو نو په هغه باندے سجده سهوه نه ده واجب ځکه شرعی دلیل ندے قائم په وجوب د سجده سهوه باندے په هغه چا په اوله قعده کښې په تشهد باندے زیادت کوی انتهی۔

لیکن راجح دا ده چه که یو انسان قصداً په اوله قعده کښې درود زیات کړی، یا دعاء زیاته کړی د وجے د استدلال نه په مخکنو دلائلو نو په هغه باندے به هیڅ لازم نه وی صرف په اجتهاد کښې به خطاء شوے وی او که څوك په اوله قعده کښې درود وئیلو باندے قائل نه وی او هغه خطاء شی او د درود الفاظ اووائی نو هغه به سجده سهوه کوی ځکه حدیث کښې عام قانون ذکر دے چه په هر زیادت او نقصان به سجده سهوه کوی (فمن زاد او نقص فلیسجد سجدتین قبل ان یسلم : مسلم ۲۱۲/۱) فتاوی الدین الخالص (۳۵۹/٤) **۔نو پدے وخت کښې ده دپاره سجده سهوه کول مستحب دی او که عمداً زیادت اوکړی نو دا کار مکروه دے او دغه شان فتویٰ په ارشاد اولی البصائر لناصر السعدی ص(٤٨) کښې هم ذکر ده ------ د فقهاءِ احنافو نه په اوله قعده کښې د درود وئیلو متعلق مختلف اقوال نقل دی، راجح په کښې د هغوی په نیز دا دے چه په فرائضو او سنن موکده او وترو کښې به په اوله قعده کښې درود او دعاء نه وائی او په نوافل او سنن غیر موکده کښې درود په اوله قعده کښې وئیل جائز بلکه مستحب دی ځکه دوی وائی هر شفع (دوه رکعاته) جدا مونځ دے۔ انظر رد المحتار (۶۳۳/۱) واحسن الفتاوی (۴۹۰/۳) واعلاء السنن (۱۳۱/۳) لیکن د احنافو سره پدے تفرقه باندے هیڅ دلیل د حدیث نه نشته۔**

مسئله : آیا دعاء په اوله قعده کښې وئیلے شی ؟ : ١ – ابن الحزم وائی په دوارو تشهدونو کښې دا دعاء وئیل فرض دی (اللهم انی اعوذ بك من عذاب جهنم الخ) لکه تشهد چه څنګه فرض دے۔ (المحلی: ۳۰۱/۲) استدلال کوی په یو لفظ د حدیث د ابی هریرة مرفوعا باندے : اذا تشهد احدکم فلیستعذ بالله من اربع ......(مسلم : ۲۱۷/۱) والبیهقی (۱۵٤/۲) وغیرهما۔

وائی تشهد عام دے دوارو تشهدونو ته شامل دے ۔لیکن دا استدلال ضعیف دے وجه دا ده چه په مسلم کښې ددے سره په بل روایت کښې د تشهد آخر قید راغلے دے نو دا مطلق به محمول وی په مقید باندے لکه دا د مسلم طریقه ده چه په یو مقام کښې جمع د احادیثو کوی۔

او په بل روایت د نسائی (۱۷٤/۱) کښې اختصار دے لهذا د هغے نه هم استدلال کول واضح نه دی انظر الفتاوی الدین الخالص (۳۵۳/٤) او د هغه روایت تفصیل ابن خزیمة ۳۵۰/۱) احمد

(۴۵۹/۱) ومجمع الزوائد (۱۰۱/۱) کښې راغلي دي۔

۲– قول ثاني دا دے چه تشهد اول کښې تخفیف سنت دے او دعاء او صلاة به پکښې نه وائی۔
او دا حدیث الباب دلیل دے چه تخفیف به کولے شی، بلکه دا چه دعاء کښې شرط دا ده چه مخکښې به ترے درود وئیلے شی لکه دا د نسائی (۲۷۸/۱) د احادیثو نه معلومیږی او درود خو په اول د تشهد کښې نشته لهذا دعاء به هم نه وائی، راجع للتفصیل فتاوی الدین الخالص (۳۵۴/٤)۔

مجمع الزوائد (۱۰۱/۱) کښې دی: عائشهؓ فرمائی: ان رسول الله ﷺ کان لا یزید فی الرکعتین علی التشهد کما فی اعلاء السنن ۱۳۰/۳)۔ **دا بنه واضح دلیل دے۔ او مخکښې مرفوع حدیث د ابن مسعود په حواله د ابن خزیمه (۳۵۰/۱) او مسند احمد هم ذکر شو چه په اوله قعده کښې به ئے د التحیات نه زیادت نه کولو۔**

درجة الحدیث: اسناده صحیح لغیره قال النووی: منقطع الاسناد آه ورجاله ثقات وهو صحیح الاسناد لولا الانقطاع فان اباعبیدة لم یسمع من ابیه یعنی ابن مسعود اخرجه الشافعی (۹۶/۱) رقم (۲۷٤) فی المسند وابوداود الطیالسی (۳۳۱) واحمد فی المسند (۳۸٦/۱) وابوداود (۹۹۵) والترمذی (۳٦٦) والنسائی (۲٤۳/۲) والحاکم (۲٦۹۱) وقال الحافظ فی التلخیص الحبیر: ان للحدیث شواهد باسانید صحیحة یتقوی بها وحسنه الترمذی مع انقطاعه لشواهده وانظر ایضاً المرعاة (۲٤۳/۳) وتعلیق المشکاة لرمضان (۳۸٦/۱) وروی هذا العمل عن ابی بکر وعمر باسناد صحیح۔

الفصل الثالث

۱۰– عَنْ جَابِرٍ ؓ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ: بِسْمِ اللهِ، وَبِاللهِ، اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ. اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، اَسْأَلُ اللهَ الْجَنَّةَ، وَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ. رواهُ النسائیُّ.

ترجمه: او جابر ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ به مونږ ته تشهد داسے را زده کولو لکه څنګه چه د قرآن یو سورت به ئے رازده کولو (داسے به ئے وئیل:) بسم الله وبالله التحیات الخ (یعنی د الله په نوم او د هغه په توفیق سره شروع کوم او ټول تعریفونه او تمام مالی او بدنی عبادتونه خالص الله دپاره دی۔ اے نبی! سلام دے وی په تا باندے او د الله رحمتونه او برکتونه دے وی او په مونږ او په نیک بندګانو دے سلام وی او زه ددے خبرے ګواهی ورکوم چه د الله نه سوا حقدار د بندګئ نشته او ګواهی کوم چه محمد (ﷺ) د الله بنده او د هغه رسول دے۔ زه د الله نه جنت غواړم او په هغه سره د دوزخ نه پناهی غواړم۔ (نسائیؒ)۔

تشريح: بِسْمِ اللّٰهِ، وَبِاللّٰهِ: **مسئله**: آيا په ابتداء د تشهد کښې بسم الله وئيل جائز دي ؟:
نو په عام احاديثو کښې بسم الله وئيل ندي راغلي، صرف دے حديث کښې راغلل ليکن دا روايت ضعيف دے قابل د عمل نه دے نو دا د مخکنو رواياتو مقابله نشي کولے **او دا قول** د امام مالكؒ، اهل المدينه، ابن المنذرؒ او شافعيؒ دے، دليل دا دے چه په صحيح تشهداتو کښې ذکر دِ بسم الله نشته لهٰذا په هغے باندے به اقتصار کولے شي۔ علامه ابن قدامهؒ په المغني (٦١١/١) او بيهقي په السنن الكبرى (١٤٣/٢) باب من استحب او اباح التسميه قبل التحيه کښې ليکي: عبد الله بن عباسؓ د يو سړي نه واوريدل چه بسم الله ئے په تشهد کښې اووئيله نو هغه اورټلو (منع ئے کړو)۔
بيا ابن قدامه وائي: لم تصح التسمية عند اصحاب الحديث ولا غيرها مما وقع فيه الخلاف۔ يعني بسم الله وئيل د محدثينو په نزد ندي ثابت، ليکن بيا وائي: وان فعله جاز لانه ذكر انتهى۔ يعني که بسم الله ئے اولوستله نو جائز ده ځکه دا يو ذکر دے او مونځ د ذکر ځائے دے۔
۲- قول ثاني د بعض شافعيه ؤ دے چه بسم الله وئيل سنت دي كما في فتح الباري (۲۵۲/۲)
دليل: د عمر فاروق نه نقل دي چه هغوی به بسم الله په ابتداء د تشهد کښې وئيله المغني (٦١١/١)۔ حديث د عمر: عبد الرزاق، سعيد بن منصور وغيره ذکر کړيدے او حاکم ورته صحيح وئيلے دے او موقوف دے ليکن په روايت د مالكؒ کښې د زهريؒ نه د عمر فاروق نه ددے معارض زيادت د بسم الله ندے نقل، اګر که د ابن عمرؓ نه موطأ مالك کښې موقوفا بسم الله لوستل ثابت دي، بيهقيؒ وائي: د ابن عمرؓ موقوف روايت صحيح دے ليکن احتمال شته چه دا زيادت د بسم الله هغه د طرفنه وي ځکه دده په مرفوع روايت کښې بسم الله نشته۔ انتهى
راجع المرعاة (٢٤٤/٣) والمغني (٦١١/١) وفتح الباري (٢٥٢/٢)۔ نو صحيح دا ده چه بسم الله په مرفوع احاديثو کښې نه ده ثابته البته موقوف روايت د ابن عمرؓ او عمرؓ پکښې شته ليکن دا د هغه اجتهاد دے لهٰذا بسم الله وئيل ندي پکار دي۔ او كل امر ذي بال نه استدلال هم صحيح نه دے ځکه هغه روايت ضعيف دے۔ او د عموماتو نه استدلال په يو خاص عبادت کښې مناسب نه دي۔۔۔۔دارنګه حافظ فتح الباري (۲۵۲/۲) کښې ليکي: ويدل على عدم اعتبار التسمية انه ثبت في حديث ابن مسعود المرفوع في التشهد وغيره: فاذا قعد احدكم فليكن اول قوله التحيات لله- الحديث، عبد الرزاق عن معمر بسنده ومسلم من عبد الرزاق۔ او په روايت د مسلم (١٧٤/١) کښې دي : واذا كان عند القعدة فليكن من اول قول احدكم التحيات ۔ لهٰذا ددے الفاظو نه معلوميږي چه د تشهد په ابتداء کښې بسم الله وئيل سنت نه دي ځکه دلته امر راغلو چه ستاسو اول قول دِے په قعده کښې التحيات وي۔ والله اعلم۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف، نسائي: ١٧٥/١، ١٨٨) وفي اسناده ايمن بن نابل وفيه ضعف

واخطأ في اسناده قال الدارقطني : ليس بالقوي، خالف الناس وقال يعقوب بن شيبة : فيه ضعف الخ انظر باقي الكلام في المرعاة (٣/٢٤٥)

١١ – وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ : كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى رُكْبَتَيْهِ . وَاَشَارَ بِاِصْبَعِهٖ وَاَتْبَعَهَا بَصَرَهٗ، ثُمَّ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَهِيَ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيْدِ، يَعْنِي السَّبَّابَةَ . رواهُ احمد .

ترجمه : او نافع رحمه الله فرمائی : عبد الله بن عمر ﷺ به چه کله په مانځه (یعنی قعده) کښې کیناستو نو خپل دواړه لاسونه به ئې په دواړو زنګنونو باندې کیخودل او په (مسواکئ) ګوته به ئې اشاره اوکړه او په ګوته پسې به ئې نظر وریسې کړو بیا به ئې فرمائیل : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : دا (په مسواکئ ګوته اشاره کول) په شیطان باندې د نیزې وغیره د ویشتو نه (هم) زیات سخت دی ـ (احمد).

تشریح : وَاَتْبَعَهَا بَصَرَهٗ : یعنی په وخت د اشاره کښې به ئې ګوتې ته کتل نو دا هم سنت طریقه ده چه په وخت د اشاره کښې به خپلې ګوتې ته ګوری او د هغې نه به نظر مخکښې نه بوځی ـ

لَهِيَ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ : مطلب د حدیث دا دې چه د شیطان آرزو او تمنا دا ده چه هر شخص په ضلالت او ګمراهئ کښې اخته شی لیکن کله چه هغه یو مونځ کونکې اووینی چه په ګوته باندې اشاره کوی چه الله یو ذات دې او د شرك نه بیزاری کوی نو د شیطان آرزو او تمنا خاورې شی او دومره تکلیف ورته اورسی لکه څوك چه ئې په نیزه یا توره باندې وهی ـ

لهذا دا اشاره په شیطان باندې د اوسپنې (توره، چاړه توپك) نه هم زیات اثر کوی.

پدې حدیث کښې فائده د اشارې ذکر ده چه هغه د شیطان ذلیل کول.

بیا پدې علت د اشاره کښې دا مسئله ده چه که د یو انسان ښې لاس نه وی نو آیا په ګس لاس باندې به اشاره کوی که نه ؟ ـ پدې کښې دوه قوله دی : (١) اول قول دا دې چه په ګس لاس به اشاره نه کوی ځکه لاس نشته نو اشاره هم ساقطه ده او نبی علیه السلام د چپ لاس د اشارې اجازت هم عند الضرورت ندې ورکړې، لهذا دا عبادت دې او عبادت به د ځان نه نشی ایجاد کولے ـ

٢ – **قول ثانی** دا دې چه ګس لاس باندې به اشاره کوی ځکه علت د اشارې ته اوګوره چه هغه د شیطان ذلیل کول دی دارنګه دا اشاره د دعاء په ځائې قائم مقام ده لیکن د ضرورت په وجه دلته ښې لاس نشته نو د چپ لاس ګوته به اوچتوی ځکه آیت کښې دی : (فاتقوا الله ما استطعتم) لیکن اول قول راجح او احوط دې وجه دا ده چه فاتقوا الله ما استطعتم) کښې په ښې لاس سره اشاره باندې زمونږ استطاعت نشته لهذا په ګس لاس سره به اشاره نه کوی ځکه دا عبادت دې کما مرّ ـ يَعْنِي السَّبَّابَةَ : دا د راوی بیان دې چه هي ضمیر راجع دې السبابة ته ـ

درجة الحديث : اسناده حسن، اخرجه احمد (۲/۱۱۹) والبزار ايضاً كما في مجمع الزوائد (۲/۱٤٠)

۱۲ – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، كَانَ يَقُوْلُ : مِنَ السُّنَّةِ اخْفَاءُ التَّشَهُّدِ . رواهُ ابوداوٗد والترمذیُّ، وقال : هذا حديث حسن غريب.

ترجمه : او ابن مسعود رضی الله عنه به فرمایل: تشهد (یعنی التحیات) په آرام سره وئیل سنت دی ۔ (ابوداود، ترمذی) او ترمذی وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے ۔

تشریح : مِنَ السُّنَّةِ اخْفَاءُ التَّشَهُّدِ : فائده : من السنة لفظ چه کله صحابی اووائی نو دا په حکم د مرفوع حدیث کښې وی او دا قول د جمهورو علماء، فقهاء او محدثینو دے بعض ورته موقوف وائی لیکن طیبیؒ وائی : ولیس بشئ انتهیٰ۔ نو د عامِ محدثینو او فقهاؤ په نیز باندے تشهد به په پټه باندے وئیلے شی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (۹۸٦) والترمذی (۲۹۱) وفی اسنادهما محمد بن اسحاق وهو مدلس وقد عنعنه لكن اخرجه الحاكم (۱/۲۳۰) من طريق اخریٰ وقال : صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبی (مشكاة لرمضان : ۱/۳۸٦) وقال المباركفوری فالحديث لا ينحط عن درجة الحسن (المرعاة : ۳/۲٤٦).

❋❋❋❋❋❋❋❋

باب الصلاة على النبى ﷺ و فضلها

صلاة په لغت عربي كښې په څلورو معنو سره استعمالیږي په اعتبار د منسوب اليه سره لكه دا خبره مشهوره ده ـ بله معنیٰ حافظ ابن قيمؒ په جلاء الافهام ص (۷۸) كښې ذكر كړیده : چه د صلاة معنی ده : ثناء د بنده ده په هغه باندې ـ لكه يا ايها الذين آمنوا صلوا عليه يعنی دده تعظيم اوكړئ او دده ثناء او اوچت شان بيان كړئ ـ

حافظ عسقلانیؒ فرمائی : علامه حليمیؒ فرمائی : د صلاة على النبى معنی تعظيم د هغه دے خو د اللهم صل على محمد معنی دا ده : اے الله د محمد تعظيم اوكړه ـ په دنيا كښې د هغه تعظيم دا دے چه د هغه ذكر پورته كړې او د هغه دين ښكاره كړې او شريعت ئے باقی پريدی او په آخرت كښې د هغه ثواب زياتول او د امت په باره كښې د هغه شفاعت قبلول او مقام محمود كښې د هغه فضيلت راښكاره كول نو د صلوا عليه معنی دا ده : ادعوا ربكم بالصلاة عليه انتهىٰ يعنی د الله نه اوغواړئ چه د پيغمبر تعظيم اوكړی ـ

بيا حليمیؒ وائی : مونږ چه په رسول الله ﷺ درود وايو ددې غرض دا دے چه د الله تعالی ددې امر (صلوا عليه) امتثال راشی او د رسول الله ﷺ چه كوم احسان په مونږ باندې دے د هغې حق اداء كړې شی او په هغې سره د الله تعالی تقرب حاصل شی ـ

ددې وجې نه ابن عبد السلامؒ وئيلی دی : مونږ چه رسول الله ﷺ باندې صلاة وايو نو دا د هغه د پاره سفارش نه دے بلكه الله تعالی مونږ ته حكم كړیدے چه څوك درسره احسان اوكړی نو د هغې بدل وركړئ خو كه مونږ د هغې نه عاجز شو نو بيا به په دعاء سره د هغه بدله خلاصوو ـ

ابن عربیؒ وائی : فائده د درود په نبی عليه السلام باندې راجع كيږی درود ويونكی ته ـ (فتح البارى)

بيا **د صلاة على النبى په حكم** كښې **اختلاف** دے ـ ۱– **ابن جرير** الطبریؒ وائی په پيغمبر باندې درود وئيل مستحب دی او په ژوند كښې يو كرت پكار دے دا قول بے دليله دے ـ

۲– **قول ثانی** : طحاویؒ او حليمیؒ وائی : دا فرض دے (كلما ذكره الذاكر) هر كله چه د پيغمبر نوم ياد كړې شی ځكه امر تقاضا د تكرار نه كوی خو دلته سبب مكرر دے چه هغه د نبی عليه السلام نوم بار بار ياديدل دی كما فی الدر المختار (۳۴۶/۱) والمرعاة (۲۴۷/۳) وبه قال جماعة من الشافعية وقال ابن العربى من المالكية انه الاحوط ـ

۳– **قول ثالث** : په ټول عمر كښې يو كرت وئيل فرض دی په مانځه كښې وی او كه بهر د مانځه نه وی، د كلمه توحيد په شان، دا قول د ابوبكر الرازیؒ دے د حنفيه و نه او د ابن حزمؒ وغيره دے ـ

لهذا صلاة فرض دے د دوی په نزد فی الجمله او په مانځه پورې خاص نه دے، او نه په يو وخت د اوقاتو پورے خاص دے او چا چه تول عمر کښې يو کرت صلاة اووئيلو نو بس فرض د هغه نه ساقط شو اوباقی صلاة وئيل ورله مستحب دی لهذا په اخيری قعده کښې درود وئيل مستحب دی عندهم ۔ لکه دا قول د ابوحنيفهؒ مالکؒ او ثوریؒ دے چه په تشهد اخير کښې صلاة علی النبی مستحب گنړی۔

٤- **قول رابع** دا دے چه په قعده اخيره کښې قبل السلام درود وئيل فرض دی او دا قول د شافعیؒ او احمدؒ او د هغوی د اتباعو دے لهذا صلاة د هغوی په نزد د مانځه د فرائضو نه دے ۔

صاحبِ د الدر المختار وائی : د کرخی او طحاوی اختلاف دے، طحاوی وائی درود هر وقت واجب دے چه نوم د رسول الله ﷺ واخستے شی او دا قول معتمد دے من حيث الدليل او صاحب د البحر وغيره راجح گرځولے دے د وجے د احاديث الوعيد نه لکه رغم، ابعاد، شقاء، بخل او جفاء وعيدونه په پريخودلو راغلی دی او د کرخی په نزد مستحب دے وهو المذهب وعليه الفتویٰ انتهیٰ مختصراً ۔

علامه شوکانیؒ فرمائی : صلاة په اخيری قعده کښې واجب دے په نزد بعض علماؤ او داقول د عمر فاروقؓ، ابن عمرؓ، ابن مسعودؓ، جابر بن زيدؒ، شعبیؒ، محمد بن کعب القرظیؒ، ابوجعفر الباقرؒ دے او دا قول د شافعیؒ، احمدؒ بن حنبل او اسحاقؒ دے او دا قاضی ابوبکر بن العربیؒ مختار کړيدے ۔ ٢- او عند الجمهور واجب نه دے او دا قول د مالکؒ، ابوحنيفهؒ، او احنافو او ثوریؒ اوزاعیؒ، طبریؒ او طحاویؒ دے، متقدمين او متأخرينو د اجماع دعوه کړيده په عدم وجوب باندے ليکن د اجماع دعوه باطله ده او دا قول شوکانیؒ پخپله هم غوره کړيدے چه واجب نه دے انتهیٰ ۔ نيل الاوطار (٢/ ٣٢١)

پدے ټولو کښې راجح قول د طحاویؒ او حليمیؒ دے چه هر وقت چه د نبی نوم ياديږی نو درود وئيل پرے فرض دی لکه صاحب د مرعاة (٣/ ٢٨٥) فرمائی : وظاهر الاحاديث هو الوجوب کلما ذکر وانما حملها علی المبالغة وعلی من اتخذ ترك الصلاة عليه عادةً فهو تاويل بعيد يأباه الاحاديث الواردة فی ذلك وقد استدل بهذه الاحاديث علی وجوب الصلاة فی التشهد الاخير لانها تدل علی وجوب الصلاة کلما ذکر اسمه يعنی ظاهر د احاديثو دا دے چه صلاة علی النبیﷺ واجب دے او په مبالغه باندے ددے حمل کول يا په هغه چا باندے حمل کول چه درود پريخودل د هغه عادت وی نو دا تاويل بعيد دے او د ظاهر دا حاديثو خلاف دے او پدے احاديثو استدلال شويدے چه په تشهد اخير کښې صلاة واجب دے ۔ **ليکن** ددے سره دا قيد وئيل پکار دی چه په اذکار مشروعه کښې درود وئيل نشته لکه په اذان يا کلمه د شهادت يا تشهد يا تلاوت د قرآن کښې د نبی عليه السلام نوم راشی نو په هغه باندے درود وئيل ندی نقل ۔او په تشهد کښې صلاة وئيل هم واجب

دی ئکه دا قول د احمدؒ او شافعیؒ دے وهو الراجح دليلًا ـ

دلائل الوجوب : ۱- دلیل : حدیث د ابی هریرهؓ مرفوعاً : رغم انف رجل ذکرت عنده فلم یصلّ علیّ – صححه الحاکم وحسنه الترمذی) نو پوزه خړ کول بنیرے دی او بدی بیانول دی او د مستحب په پریخودلو باندے ملامتیا او ذم او بنیرے نه وئیلے کیږی جلاء الافهام ص (۲۱٤)

۲- دلیل : حدیث د آمین وئیلو چه نبی علیه السلام د منبر په پوړو باندے درے ځله آمین اووئیلو جبرئیل اووئیل چه هغه انسان چه زما تذکره اوشی د هغه په خوا کښی او په ما باندے درود اونه وائی او بیا مړ شی او اور ته داخل شی نو الله دِ ئے هلاك کړی ما اووئیل آمین ـ (الترمذی وابن حبان فی صحیحه) دا صریح نص دے په وجوب د درود کښی ـ

۳-دلیل : روستو حدیث د انسؓ راروان دے (البخیل من ذکرت عنده فلم یصل علی (نسائی)ـ

٤- الله تعالی فرمائی : صلوا علیه او امر د وجوب دپاره دے ـ

۵- لا تجعلوا دعاء الرسول آیت دلیل دے نو مناسب ده چه د هغه د نوم سره صلاة اووئیلے شی په خلاف د نورامت نه ـ ٦- قتادهؒ نه مرسلا نقل دی : من الجفاء ان اذکر عند الرجل فلا یصلّ علیّ (صلی الله علیه وسلم) جلاء الافهام (۲۱۹) البیهقی) وله شواهد ـ

۷- حدیث د بشیر بن سعدؓ کښی دی : کیف نصلی علیك اذا نحن صلینا) د درود د کیفیت تپوس ئے اوکړو نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل : قولوا اللهم صل الخ نو امر د وجوب دپاره دے (مسلم) حاکم (۲٦٨/۱) والبیهقی (۱٤٧/۲) وابن حبان (۱۹۵۹) وصححوا ـ

نو ددے ابن حبان وغیره د روایت نه معلومه شوه چه دا درود په محل د تعلیم کښی وئیل شویدے نو دلیل دے په وجوب ددے باندے او ددے سره امر پریے هم اوکړے شو ـ

۸- نبی علیه السلام به په تشهد اخیر کښی دائما درود لوستلو او مونږ ته ئے حکم کړے دے چه زما په شان مونځ کوئ نو دلیل دے چه درود په تشهد اخیر کښی واجب دے ، پدے استدلال اعتراضات شته ـ ۹- روستو حدیث د فضاله بن عبیدؓ کښی امر راغلے دے (ثم لیصل علی النبی ثم لیدع بما شاء) احمد ، اصحاب السنن ، ابن خزیمه ، ابن حبان ، الحاکم وصححوا هذا الحدیث ـ

باقی درے احادیث نور شته لیکن ټول ضعیف دی خو که راجمع شی نو څه نا څه تقویت پیدا کوی ـ ۱۰- ابن مسعودؓ فرمائی : لاصلاة لمن لم یصل فیها علی النبی ﷺ (ابن عبد البر فی التمهید) ومثله فی ابن ابی شیبة وفی سنده شریك و جابر الجعفی ـ

۱۱- ابن عمرؓ فرمائی : لا یکون صلاة الا بقرائة وتشهد وصلاة علی النبی ﷺ فان نسیت شیئاً من ذلك فاسجد سجدتین بعد السلام ذکره الحسن بن شبیب المعمری کما فی جلاء الافهام ص (۱۸۲) والتنبیه علی مشکلات الهدایة (۵۷۷/۲)ـ

دلائل غیر الموجبین : ۱- دلیل : دا په حدیث د مسیئ الصلاة کښی ندے ذکر ـ

٢- د ابن مسعودؓ او عبد الله بن عمرو بن العاصؓ حديث دے : نبى عليه السلام حکم کړيدے په تمام د مونځ په قعود قدر التشهد سره او په هغے کښې ئے صلاة على النبى شرط نه دے ګرځولے کما فى بذل المجهود (١٢٢/٢)

٣- **دليل** : اجماع د امت ده پدے چه د نبى نوم په ډيرو ځايونو کښې ذکر کوى او د هغوى سره (صلى الله عليه وسلم) درود نه يو ځائے کوى لکه يارسول الله لفظ به صحابه کرامو وئيلو او صلى الله عليه وسلم به ئے نه وئيلو دارنګه اذان او تشهد کښې ورسره درود نه وائى ـ

دا د هغوى دلائل دى ليکن دا جوابونه او دلائل ضعيف دى د مخکنو دلائلو مقابله نشى کولے وجه دا ده چه په حديث د مسيئ الصلاة کښې ټول فرائض ندى ذکر ځکه ضرورت نه وو ـ

او د حديث د ابن مسعودؓ دا الفاظ : فاذا قلت ذلك فقد قضيت الصلاة فان شئت ان تقوم وان شئت ان تقعد فاقعد وفى رواية : فاذا قضيت هذا او قال فاذا فعلت هذا فقد قضيت صلاتك (ابوداود باب التشهد ١/٢٥٥ واحمد ١/٥٢٨) دا مدرج دى او کلام د نبى عليه السلام نه دے بلکه زهير راوى پکښې اضافه کړيدى کما فى العلل للدارقطنى ـ يا ادراج د ابن مسعود دے (کما قال الخطيب والبيهقى (١٧٤/٢) والدارقطنى وابن حبان کما فى التنبيه ٥١٩/٢) نو موقوف روايت دے ـ جلاء ص (١٨٧) والدرايه (١٧٥/١) ـ

صدر الدين على بن ابى العز الحنفي وائى : (اذا قلت هذا او فعلت هذا) ظاهر دا ده چه دا شك د ابن مسعود دے يعنى ما ته نبى عليه السلام يا اذا قلت هذا فقد تمت صلاتك وئيلے دے يا اذا فعلت هذا فقد تمت صلاتك لفظ وئيلے دے ـ التنبيه على مشكلات الهدايه (٥٧٦/٢)

٢- **جواب** : د ابن مسعودؓ نه ددے مخالف حديث منقول دے فرمائى : يتشهد الرجل ثم يصلى على النبى ﷺ ثم يدعو لنفسه رواه الحاکم بسند قوى قال الحافظ فى الفتح (٥٨/١١) بعد ذکره : هذا اقوئ شئ فقد ثبت الامر بالصلاة عليه قبل الدعاء دل على انه اطلع على زيادة ذلك بين التشهد والدعاء ـ **يعنى** پدے روايت کښې د دعاء نه مخکښې په درود وئيلو باندے امر راغلو نو دا دليل دے چه ابن مسعود ته اطلاع ورکړے شويده چه دا درود به وئيلے شى په مابين د تشهد او دعاء کښې ـ

٣- **جواب رد الزامى** : پدے حديث کښې خو ابن مسعود تشهد فرض ګڼلے دے ځکه هغه وائى چه تشهد او قعده دواړه کله اوکړے شى نو هله به مونځ تماميږى او بغير د دينه مونځ تمام نه دے نو ابن مسعودؓ خو دلته تشهد ته فرض اووئيلو او تماميت د مونځ ئے موقوف کړو په قول د تشهد پورے او د احنافو په نزد جلوس بقدر التشهد فرض دے او تشهد ته فرض نه وائى نو دا د احنافو د مذهب هم موافق نه دے ـ ٤- خلورم دا چه پدے حديث سره د صلاة فرضيت نه خرابيږى وجه دا ده چه پدے حديث کښې سلام هم ندے ذکر شوے او حال دا چه هغه هم فرض دے، د دلائل خارجيه ؤ په وجه دغه شان درود هم د دلائل خارجيه په وجه فرض دے لهذا د حديث

معنی به داسې اوکړو چه د نورو دلائلو سره ئې تعارض او مقابله رانشی، او هغه دا چه فقد تمت او قضيت صلاتك مطلب دا چه قاريت التمام يعنی پوره والی ته نزدې شو او دا مطلب نه دې چه صلاة وئيل او سلام گرځول فرض نه دی او حديث د عبد الله بن عمرو بن العاص (ترمذی ابو داود) معلول دې او ترمذی وائی : ليس اسناده بالقوی فی سنده اضطراب ـ

۲- په هغې کښې عبد الرحمن بن زياد بن انعم الافريقی دې ۳- منقطع بين بكر بن سواد وعبد الله بن عمرو فانه لم يلقه ـ ٤- مضطرب المتن دې ـ

فائدة غريبة : د صلاة او درود دپاره ځلويښت مقامات دی چه بعض په احاديثو کښې ذکر دی او بعض هسې مشهور شويدی او بعض احاديث پکښې صحيح او بعض ضعيف دی او حافظ ابن قيمؒ په جلاء الافهام (۱۸۰) کښې د هغې تفصيل ذکر کړيدې مختصر دا چه :

(۱) اول موضع : قعده آخره پدې کښې خو تقريبا اتفاق دې ـ

(۲) اوله قعده : پدې کښې درود وئيلو کښې اختلاف مخکښې ذکر شو عند الشافعی مستحب دې او عند الجمهور مع الائمه الثلاثه ندې پکار او د جمهورو قول راجح وو ـ

(۳) آخر القنوت : دعاء قنوت چه ختميږی تبارکت ربنا وتعاليت (وصلی الله علی النبی) وئيل كذا فی ارواء الغليل (۱۷۷) ـ (٤) دويم تکبير د جنازه کښې : كما فی النسائی (۱/٤۲۸)

(٥) بعد الاذان كما فی حديث مسلم وقد مر فی المشكاة (۱/٦٥)ـ

(٦) په خطبه د عيدين او جمعه او استسقاء کښې مستحب دې، احاديثو کښې دی چه علیؓ، عمرو بن العاصؓ او ابو موسی الاشعریؓ به په خطبه کښې درود وئيلو ـ

(۷) عند الدعاء :كما سيأتی فی حديث فضالة بن عبيد ـ

(۸) مسجد ته د دخول او خروج په وخت ـ

(۹) صفا مروه باندې ـ ابن عمرؓ به دا کار کولو (ثم يصلی علی النبی ثم يدعو)

(۱۰) هر مجلس کښې درود وئيل ـ كما فی الحديث : ثم تفرقوا ولم يذكروا الله ولم يصلوا علی النبی الا كان عليهم من الله ترة (ابن حبان، حاكم)ـ (۱۱) هر کله چه د رسول الله ﷺ تذکره کيږی ـ (۱۲) د تلبيه نه چه فارغه شی كما فی حديث الدارقطنی وسنده ضعيف وهو من توابع الدعاء ـ (۱۳) د حجر اسود ښکلو وخت کښې درود دا په يو موقوف حديث د ابن عمرؓ کښې راغلی دې ليکن هغه هم ضعيف دې ـ (۱٤) بازار او هر مکان کښې وئيل د ابن مسعودؓ نه نقل دی ـ

(۱٥) کله چه د خوب نه د شپې رابيدار شی (النسائی فی الكبری (۱/٤٥۱) وسنده ضعيف ـ

(۱٦) يوم الجمعه کښې نبی عليه السلام فرمائی : پدې ورځ په ما باندې درود زيات وايئ (بيهقی)

(۱۷) د مجلس نه د پاخيدو په وخت (ليکن دليل نشته) ـ

(۱۸) مساجدو باندې ورتيريدو او ليدو وخت کښې ـ پدې کښې يو ضعيف اثر د علیؓ شته ـ

(۱۹) کله چه قرآن ختم کړی دے باره کښې يو حديث شته ليکن هغه هم مقام د دعاء دے ۔
(۲۰) د شدائد او غمونو او طلب المغفرت په وخت کښې ابی بن کعبؓ ته ئے وئيلی وو (اذاً يكفى همك ويغفر لك ذنبك) روستو راځی ۔
(۲۱) د نبی عليه السلام د نوم ليکلو په وخت، ليکن دے باره کښې احاديث ضعيف دی البته د علماؤ پدے باندے اتفاق دے او دا ادب هم دے ۔
(۲۲) د درس وئيلو او تبليغ په وخت کښې د آدابو نه دے اګرکه حديث کښې ندے راغلے ۔
(۲۳) لس ځل سحر او لس ځل بيګاه کښې وئيل د نبی عليه السلام شفاعت به ورته ملاؤ شی ۔ (صحيح الجامع : ٦٣٥٧) ۔
(۲٤) د ګناه نه روستو درود وئيلو سره ګناه ختميږی ۔ حديث کښې دی (فان الصلاة علىّ كفارة لكم فمن صلّى علىّ صلى الله عليه عشراً) كتاب الصلاة لابن ابى عاصم باسناد حسن)
(۲۵) کله چه فقر او حاجت راشی يا يره وی د واقع کيدو د فقر نه ۔ كما فى حديث ابى نعيم مرفوعاً : كثرة الذكر والصلاة علىّ تنفى الفقر ليکن ددے سند ندے معلوم۔
(۲٦) کله چه د زنانو خِطبه کولے شی نو ابن عباسؓ وائی : پدے وخت کښې هم درود مه يروئ (جلاء : ۲۳٦) وسنده ضعيف فيه جويبر عن الضحاك۔
(۲۷) د عطاس (پرنجی) په وخت مرفوع حديث پکښې نشته البته د ابن عمرؓ نه په کښې روايت شته ليکن هغه هم ضعيف دے (البيهقى)۔
(۲۸) د اودس نه چه فارغه شی پدے باره کښې هم صحيح حديث نشته ۔
(۲۹) کله چه کور ته داخليږی ۔ پدے باره کښې هم صحيح حديث نشته ۔
(۳۰) کله چه خلق د الله ذکر ته راجمع شی۔ (۳۱) کله چه يو شے ترے هير شی او د هغے د يادولو اراده اوکړی نو درود وايه ياد به شی كما فى الحديث وسنده ضعيف۔
(۳۲) کله چه بنده ته يو حاجت راپيښ شی : من صلى علىّ كل يوم مائة مرة قضى الله له مائة حاجة سبعين منها لآخرته وثلاثين منها لدنياه اخرجه ابوموسى المدينى الحافظ وقال سنده حسن ويشهد له حديث فضاله وابى بن كعب۔ (۳۳) د غوږ د آوازونو په وخت ۔ ليکن سند ئے ضعيف دے ۔
(۳٤) د مونځونو نه روستو ليکن حديث پکښې نشته ۔
(۳۵) کله چه ذبح کوی ۔ ليکن پدے کښې هم حديث صحيح نشته ۔ نو وينائے نه ده پکار لکه دا قول د ابو حنيفةؒ او احمدؒ دے ۔ (۳٦) په مانځه کښې چه کله په يو ايت ورتير شو او په هغے کښې د نبی عليه السلام تذکره وی ليکن دا په نوافلو کښې پکار ده نه فرائضو کښې ۔
(۳۷) کله چه يو انسان غريب فقير وی او صدقه ورسره نه وی نو دعاء کښې دِ داسے اووائی اللهم صل على محمد عبدك ورسولك وصل على المومنين والمومنات والمسلمين والمسلمات

فانها زکاۃ له ۔ وفی سنده ابو السمح وابو الهیثم وثبت فی الحدیث الصحیح ان ذکر الله افضل من الصدقة ۔(۳۸) د خوب په وخت او پدے باره کښې حدیث ضعیف جدا دے ۔

(۳۹) هر کلام نه مخکښې درود وئیل کما فی حدیث ضعیف۔

(۴۰) د تکبیرات العید په مابین کښې د ابن مسعودؓ نه درود نقل دے باسناد صحیح رواه اسماعیل بن اسحاق کما فی القول البدیع فی الصلاۃ علی الشفیع للسخاوی ۔ وفتاوی الدین الخالص (۴۰۷/۴) دا مقامات دی چه بعض صحیح دی او بعض ضعیف دی ۔

الفصل الاول

۱ – عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِیْ لَیْلٰی، قَالَ : لَقِیَنِیْ کَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ، فَقَالَ :اَلَا اُهْدِیْ لَكَ هَدِیَّةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِیِّ ﷺ؟ فَقُلْتُ : بَلٰی، فَاهْدِهَا لِیْ . فَقَالَ : سَأَلْنَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ، فَقُلْنَا : یَارَسُوْلَ اللهِ! کَیْفَ الصَّلَاةُ عَلَیْکُمْ اَهْلَ الْبَیْتِ ؟ فَاِنَّ اللهَ قَدْ عَلَّمَنَا کَیْفَ نُسَلِّمُ عَلَیْكَ . قَالَ : قُوْلُوْا : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ، کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ، اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ، کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ، اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ . متفق علیه، اِلَّا اَنَّ مُسْلِماً لَمْ یَذْکُرْ : عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ، فِی الموضعین .

ترجمه : عبد الرحمن بن ابی لیلیٰ رحمه الله فرمائی : ما سره د کعب بن عجره ﷺ ملاقات اوشو نو هغوی اوفرمایل : زه تا ته هغه څیز په هدیه کښې نه پیش کوم چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے ؟ ما عرض اوکړو ۔ ولې نه ! هغوی اوفرمایل : چه مونږ (څو صحابو) د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یا رسول الله ! په تا او ستا په کورنۍ باندے مونږ څنګه درود اولیږو ؟ الله تعالی خو مونږ ته خودلی دی چه په تا باندے څنګه سلام اولیږو ؟ (یعنی د سلام کیفیت مونږ ته تاسو خودلے دے چه هغه د الله خودنه ده خو اوس د درود کیفیت تپوسو) نبی علیه السلام اوفرمایل : (داسے) وایئ : اللهم صل الخ : اے الله ! په محمد او په آل محمد (ﷺ) باندے رحمت نازل کړے لکه څنګه چه تا په ابراهیم او آل ابراهیم باندے رحمت نازل کړے وو یقینا ته ستائیلے شوے، شرافت والا ئے ۔ اے الله ! په محمد (ﷺ) او په آل محمد باندے برکت نازل کړے لکه څنګه چه تا په ابراهیم او آل ابراهیم باندے برکت نازل کړے دے، یقینا ته ستائیلے شوے او شرافت والا ئے ۔ (بخاری ومسلم)

۲– وَعَنْ اَبِیْ حُمَیْدِ السَّاعِدِیِّ ﷺ، قَالَ : قَالُوْا : یَارَسُوْلَ اللهِ! کَیْفَ نُصَلِّیْ عَلَیْكَ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : قُوْلُوْا : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّیَّتِهٖ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی آلِ

اِبْـرَاهِـيْـمَ، وَبَـارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى آلِ اِبْرَاهِيْمَ، اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ . متفق عليه .

ترجمه : او ابوحمید ساعدی ﷺ فرمائی : صحابه کرامو عرض اوکړو اے د الله رسوله ! مونږ په تاسو بانـدے درود څنګه اووایو ؟ رسول الله ﷺ اوفرمایل : (داسے) وایئ ! : (اے الله په محمد (ﷺ) او د هغه په بی بیانو باندے او د هغه په اولادو باندے رحمت نازل کړے لکه څنګه چه تا په ابراهیم باندے رحمت نازل کړیدے او په محمد (ﷺ) او د هغه په بی بیانو او د هغه په اولادو بـانـدے بـرکـت نـازل کـړے لـکه څنګه چه تا په ابراهیم باندے برکت نازل فرمائیلے دے، یقینا ته د صفت لائق او شرافت والا ئے۔

تعارف د عبد الرحمن : عبد الرحمن بن ابی لیلیٰ الانصاری المدنی ثم المکی ثم الکوفی دا د کبار التابعین نه ثقه راوی دے اختلاف دے چه د عمر نه ئے سماع ثابته ده او که نه د جماجم په واقـعـه کـښ وفات شـویـدے په سنه (۸۶ هـ)کښ پلار ئے ابولیلیٰ الانصاری صحابیؓ دے نوم ئے بلال دے یا بُلَیل بالتصغیر یا داود، یا یسار دے، احد او مابعد غزواتو ته حاضر شویدے او د علیؓ د خلافت پورے ژوندے وو۔

د کعب بن عجره ﷺ تعارف : کعب بن عجرة البلوی د انصارو حلیف وو ابو محمد المدنی ئے کـنـیـه ده او مشهـور صـحـابیؓ دے کوفه کښ اوسیدلے دے علامه واقدیؒ وائی : ابتداء کښ د اسـلام نـه روستـو شـو څـه مـوده پـس ئے ایـمـان راوړو او ټـولو غزواتو ته حاضر شویدے ۔ او په حـدیبیه کښ دده په باره کښ رخصت راغلو په سر خرئیلو او فدیه ورکولو کښ څکه دا په حالت د احرام کـښ وو او سپږو ورته ضرر ورکولو نو نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل سر او خرئیوه او فـدیـه ورکـړه ۔ (٤٧) احـادیـث تـرے نـقـل دی ۔ پـه مدینه کښ په سنه (٥١) یا (٥٢) یا (٥٣) کښ وفـات دے د(٤٥) یـا (٤٧) کـالـو پـه عـمـر او دا ملاقات د عبد الرحمن د کعب سره په مسجد حرام کښ په حالت د طواف کښ شوے وو کما فی الطبری ۔

تشریح : آلَا اُهْدِیْ لَكَ هَدِيَّةً : هدیه (ما یتقرب به الی المهدی الیه تَوَدُّداً وَاِكْرَامًا) ته وائی یعنی هر هـغه شے چه په هغے سره یو چا ته نزدیکت حاصلولے شی دپاره د مینه پیدا کولو او اکرام کولو د هغه۔ **فائده** : پـدے حـدیـث کـښ فـضـیـلـت د علم او مرتبه د علم ذکر ده چه په نسبت د ظاهری څیـزونو علم لویه هدیه ده نو چا ته علم ورکول او حدیثونه وریادول لویه هدیه او ډالئ ده او پدے کـښ حرص د صحابه کرامو دے په زده کولو د علم او په بیانولو د علم باندے او د دین خبرے ورته لوئی ښکاره کیدلے۔

فَقُلْنَا : یَارَسُوْلَ اللهِ ! : کعب ځان دپاره د جمع صیغه استعمال کړه ۔ حافظ ابن حجرؒ فرمائی : دا جـمـع ئے پـدے وجـه استعمال کړه چه دده سره پدے مجلس کښ نور صحابهٔ هم موجود وو لکه

بشیر بن سعد والد النعمان، زید بن خارجه الانصاری، طلحه بن عبید الله، ابو هریره، عبد الرحمن بن بشیر کما ثبت بذلك روایات . او که یواځې کعب تپوس کړے وی نو بیا اشاره کوی چه دا تپوس زما پورے خاص نه دے بلکه زما د موافقینو هم دا تپوس دے . مطلب د حدیث دا دے چه الله تعالی مونږ ته کوم حکم کړیدے چه په پیغمبر باندے صلاة او سلام اولیږئ نو د سلام طریقه خو مونږ ته تاسو اوخودله او هغه د الله تعالی خودل دی لیکن اوس تپوس کوو چه درود څنګه اووایو ددے طریقه راوښایه !.

نو ددے حدیث نه معلومه شوه چه عباداتو کښې به قیاسونه او عقلونه نشی چلولے ځکه صحابه کرام اهل لسان (اهل لغت) دی درود د ځان نه جوړولے شی لیکن بیا ئے هم نه جوړوی دلیل دے چه دا توقیفی عمل دے، ددے چل به د رسول الله ﷺ نه زده کولے شی او ددے تپوس وجه دا وه چه دوی ته معلومه شوه چه سلام خو په خاص الفاظو سره وو نو درود به هم دغه شان وی نو ځکه ئے د ځان نه جوړ نه کړو .

مسئله : صلاۃ او سلام توقیفی دی او که نه ؟ (۱) علامه شوکانیؒ تحفة الذاکرین (١٤٢) کښې لیکی : د مانځه نه بهر هر قسمه درود وئیل جواز لری او دا توقیفی ندی نو هره صیغه چه استعمال کړی نو په (صلوا وسلموا) قرآنی امر باندے عمل کیږی ځکه دا مطلق دی نو د ځان نه هم درود او سلام جوړول جائز دی .

۲- **صحیح قول** دا دے چه درود او سلام په نبی علیه السلام باندے توقیفی دی ځکه دا عبادات دی او عبادت کښې به د شارع نه نقل ضروری وی او آیت مطلق نه دے بلکه دا حکم مجمل دے ځکه په عباداتو کښې مطلقات نه وی بلکه دا مجملات دی شارع به ددے بیان کوی، ددے وجے نه صحابه کرامو اول د سلام په باره کښې تپوس اوکړو نو رسول الله ﷺ ورته د هغې صیغه اوخودله او چه کله ئے د صلاۃ په باره کښې تپوس اوکړو نو بیله صیغه ئے ورته اوخودله او نبی علیه السلام عامه اجازه ورنکړه چه څنګه درود او سلام وایئ هغه جائز ده او صحابه کرام اهل لسان دی بیا هم تپوس کوی دلیل دے چه د صحابه کرامو په نیز هم درود او سلام د ځان نه جوړول صحیح نه دی او دیته ئے د الله تعالی تعلیم اووئیلو نو پدے درود او سلام کښې تعلیم د شارع ته ضرورت دے او انسانانو ته د هغې د جوړولو اجازت نشته .

شیخ البانیؒ په صفة الصلاة (١٦٩) کښې وائی : دا صیغې د تشهد سره د اختلاف د انواعو نه پدے ټولو کښې درود په آل النبی او ازواج او ذریت باندے دے د نبی علیه السلام سره نو دا به سنت نه وی او نه به انسان د نبوی امر نافذونکے وی ځوك چه صرف اللهم صل علی محمد) لفظ وائی او نور ورپسے نه وائی بلکه ضروری ده چه یو ددے صیغو به پوره پوره وائی لکه څنګه چه د نبی علیه السلام نه نقل وی.

وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ : آل اهل وعیال ته وائی او ددے معنی تابعدار(اتباع) هم مراد کیږی ۔
او د آل نه کله نفس پخپله انسان مراد وی لکه آل ابراهیم یعنی ابراهیم او د هغه تابعدار دواړه مراد دی نو په آل کښې یو قانون دا دے چه کله آل مضاف شی یو علم ته نو هلته به مضاف او مضاف الیه دواړه مراد وی او کله چه علم مخکښې ذکر وی او بیا آل مضاف شی دغه علم ته نو دلته به صرف مضاف مراد وی ، تجرید به پکښې کولے شی لکه دلته علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم کښې د دویم آل نه صرف اولاد او اتباع مراد دی (انبیاء) دارنګه دا به یو متبوع معظم ته مضاف کیږی نو داسے وئیل صحیح نه دی (آل الحائك، وآل الحجام)
٤– دارنګه آل علم (اسم ظاهر) ته مضاف کیږی او ضمیر ته نه مضاف کیږی مګر ډیر قلیل۔
او راجح قول دا دے چه دا په اصل کښې اول دے بمعنی الرجوع لکه جوهری په صحاح کښې په باب الهمزه والواو واللام کښې ذکر کړیدے کما قال ابن القیم فی الجلاء (١٠٥)
د آل په **مصداق او تعیین** کښې **مختلف اقوال** دی حافظ ابن قیم (٤) ذکر کړیدی :
١– بعض وائی : آل د نبی علیه السلام هغه خلقو ته وائی چه هغوی له صدقه اخستل حرام وی او دا قول د شافعیؒ واحمدؒ دے بیا د دوی په تعیین کښې درے اقوال دی ١– یو دا چه دا بنو هاشم، بنو المطلب دی او دا قول د شافعیؒ دے او یو روایت د احمدؒ دے ٢– یا صرف بنو هاشم مراد دی دا د ابو حنیفهؒ مذهب دے، او یو روایت د احمدؒ دے او ابن القاسمؒ (د امام مالك شاګرد) مختار کړیدے ۔٣– دریم دا چه بنو هاشم او د هغوی نه بره تر غالب پورے مراد دی نو پدے کښې بنو امیه، بنو نوفل او د هغوی نه بره تر غالب پورے ټولے قبیلے داخل دی او دا قول د اشهبؒ (من اصحاب مالك) دے۔

ددے اول قول دپاره دلیل : حدیث دے (اعلمت ان آل محمد لایاکلون الصدقة) بخاری)
٢– **قول ثانی** : آل النبی : د نبی علیه السلام اولاد، ازواجو ته صرف وائی (حکاه ابن عبد البر فی التمهید) دوی وائی : آل او اهل برابر دی چه اهل وعیال او بے بیانو ته وائی او بعض حدیثونو کښې چه ورسره ذریه او ازواج ذکر دی نو هغه به تفسیر وی د باقی احادیثو۔
ددے قول دپاره دلیل حدیث دے : (اللهم اجعل رزق آل محمد قوتاً) دلته ترے اهل وعیال او ازواج وغیره مراد دی۔ ٣– **قول ثالث** : آل النبی ﷺ امت او اتباع مراد دی تر قیامته پورے او دا قول د جابر بن عبد الله رضی الله عنه دے چه بیهقیؒ نقل کړیدے او امام نوویؒ او علامه ازهریؒ غوره کړیدے او دا قول د سفیان الثوریؒ دے ۔ دوی **دلیل** وائی : قرآن کښې دی : (الا آل لوط نجیناهم بسحر) (ادخلوا آل فرعون اشد العذاب) او نبی علیه السلام واثله بن الاسقع ته اوفرمائیل : وانت من اهلی) (البیهقی بسند جید) نو دلته آل تابعدارو ته اووئیل شو ۔
نشوان الحمیری امام اللغة وائی آل نه مراد امت الاجابة دے :

آل النبي هم اتباع ملته من الاعاجم والسودان والعرب
لو لم يكن آله الا قرابته صلى المصلي على الطاغي ابي لهب

٤– قول رابع : دا دے چه آل النبي متقين خلقو ته وائي حكاه القاضي حسينٌ والراغب وجماعة (جلاء : ١١٠) د دوی دليل آيت دے (ان اولياؤه الا المتقون) (انه ليس من اهلك) د دے آيتونو نه معلوميږي چه اهل متقي انسان ته وائي او بد عمل انسان اهل نه دے۔

او دا څلور واړه مصداقات په احاديثو او قرآن کښې راغلي دي په دے کښې حافظ ابن حجرؒ فرمائي : اول قول صحيح دے او دويمه درجه کښې دويم قول دے او دريم او څلورم قول ضعيف دي۔ ځکه صدقه په ټول امت نه ده حرامه۔ ليکن راجح دا ده چه دلته دا څلور واړه معاني ندي مراد بلکه هر ځائے کښې به خپلے خپلے معاني مراد وي۔

او هر چه پدے حديث کښې د آل مصداق دے نو (١) بعض وائي : راجح دا ده چه ددے نه مراد هغه څوك دي چه زكات پرے حرام وي او دا د تفسير زيد بن ارقم دے او صحابي د نبي عليه السلام په مراد ښه پوهيږي لهذا دا به راجح وي او دا زكات چه پرے حرام دے نو د هغے تفسيرئے كړيدے په آل علي، آل جعفر او آل عقيل او آل العباس باندے، حارث او حمزه او د هغوی اولادو ته هم اهل بيت وائي۔

(٢) امام فخر الدين رازی فرمائي : اهل بيت کښې د نبي عليه السلام ازواج مطهرات او اولاد شامل دي او چونکه د عليؓ ربط هم د هغوی سره د فاطمے په وجه زيات وو پدے وجه هغه هم په اهل بيت کښې داخل دے دا قول والا استدلال کوي چه اکثر احاديثو کښې د آل محمد لفظ زيات راغلے دے او په حديث د ابي حميد کښې د هغے په ځائے ازواجه وذريته لفظ دے معلوميږي چه د آل نه مراد ازواج او اولاد مراد دي ليکن دا استدلال ضعيف دے وجه دا ده چه په حديث د ابو هريره فصل ثالث کښې درے واړه راغلي دي ليکن جمع د احاديثو به داسے کولے شي چه په تشهد کښې د آل نه مراد ازواج دي او هغه څوك چه صدقه پرے حرامه وي او پدے کښې اولاد هم داخل دي او ازواجو ته هم آل وئيلے شي كما مر اللهم اجعل رزق آل محمد قوتا۔

باقي اقوال هم شته ليکن هغه ټول ضعيف دي۔

عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ : د ابراهيم عليه السلام تخصيص ئے اوکړو او باقي انبياء ئے ذکر نکړل وجه دا ده چه دا د نبي عليه السلام جد امجد دے او اب الانبياء دے ٢– دويم دا چه په اصولو د دين کښې شريعت محمدي د هغه تابع دے او موږ ته حکم شويدے په اتباع د ملتِ ابراهيمي۔

د آلِ اِبْرَاهِيْمَ نه مراد اسماعيل او اسحاق دي او د هغوی نيك اولاد نو انبياء او صديقون او شهداء او صالحين ټول په کښې داخل دي۔

اعجوبة : شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په مجموع الفتاوی (١/٣٠) کښې او د هغه په تابعداری

کښې حافظ ابن قیمؒ په جلاء الافهام (۱۹۸) کښې دعوه کړیده چه داسې کوم صحیح حدیث نده موجود چه په هغې کښې ابراهیم وآل ابراهیم یو ځائے راغلی وي، نو د دواړو جمع کول په احادیثو کښې نده لیدلی لیکن محققین علماء لیکي چه دا د دے دواړو ذهول او غفلت دے ځکه چه پدے روایت د بخاري کښې دا لفظ موجود دے ۔ شیخ البانيؒ په صفة الصلاة (۱۳۰) کښې لیکي: چه دا دواړه زیادتونه په روایت د بخاري، طحاوي، بیهقي، احمد او نسائی کښې راغلی دي نو د ابن قیم په قول دوکه نشے الخ او د شیخ الاسلام عذر یا غفلت او ذهول دے یا کیدے شي چه د هغه په نسخو کښې دا نه وي لیکلے شوي ۔

اشکال قوي او د هغے ازاله: کما صلیت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم په تشبیه باندے دا اشکال کیږي چه دلته ئے د محمد ﷺ تشبیه ورکړه د ابرهیم علیه السلام سره او قانون دا دے چه مشبه به اصل وي او اغلیٰ او اقویٰ وي د مشبه نه نو ددے نه خو معلومیږي چه ابراهیم علیه السلام د محمد ﷺ نه په درجه کښې اوچت دے او حال دا چه رسول الله ﷺ په اتفاق د امت باندے افضل دے د ابراهیم علیه السلام نه نبی علیه السلام فرمائی: (انا سید ولد آدم ولا فخر) نو دا تشبیه څنګه صحیح کیدے شي؟ ۔

الجواب: ددے اشکال نه تقریباً لس جوابونه دي چه بعض حافظ ابن قیمؒ په جلاء الافهام (۱۵۰) کښې او حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري کښې ذکر کړیدي:

(۱) پدے ټولو کښې اعلیٰ ترین جواب دا دے چه د ابراهیم علیه السلام په آل کښې انبیاء راغلي دي او د رسول الله په آل کښې انبیاء نشته نو کله چه د نبی علیه السلام او د هغه د آل دپاره مثل د هغه درود طلب کړے شو کوم چه د ابراهیم او د هغه د آل دپاره وو او په هغوي کښې انبیاء هم دي نو د محمد ﷺ د آل دپاره د هغوي د شان مطابق درود حاصل شو ځکه هغوي خو د انبیاؤ مراتبو ته نشي رسیدلے نو هغه فضیلت چه د انبیاؤ دپاره زائد وو باقي پاتے شو او په دغه انبیاؤ کښې خو ابراهیم هم دے نو د هغوي فضیلت محمد ﷺ ته پاتے شو نو د رسول الله ﷺ دپاره داسے فضیلت حاصل شو چه هغه غیر ته حاصل نه شو ۔

ددے تفصیل دا دے چه ابراهیم علیه السلام او د هغه آل ته چه کوم درود حاصل دے چه په هغوي کښې انبیاء دي دا به مجموعه تقسیم کړے شي په محمد ﷺ اود هغه په آل باندے او دا خو یقیني خبره ده چه د نبي علیه السلام آل ته هغه شان درود نشي حاصلیدے کوم چه آل ابراهیم ته حاصل وو ځکه هغوي کښې انبیاء موجود دي بلکه آل محمد ته به د هغوي مناسب درود حاصلیږي نو نبي علیه السلام ته خپله حصه درود او هغه زیاتي حصه چه د هغه آل ئے مستحق نه وو – پاتے شوه نو بس نبي علیه السلام ته دوه برخے درود ملاؤ شو چه دا ضرور زیات او افضل دے د هغه درود نه چه ابراهیم علیه السلام ته حاصل وو ۔ ابن القیمؒ ددے جواب صفت

کوی فرمائي: وهذا احسن من كل ماتقدمه.

(۲) بیا وائي: ددې نه هم ښه جواب دا دې چه رسول الله ﷺ په آل ابراهیم کښې داخل دې بلکه دا پکښې غوره آل دې لکه ابن عباسؓ فرمائي: (محمد من آل ابراهيم) نو هر کله چه په آل ابراهیم باندې درود اووئیل شو نو په نبي عليه السلام باندې هم اووئیل شو (ضمنا) بیا الله مونږ ته حکم اوکړو چه په رسول الله ﷺ باندې مستقلا خصوصا درود اووایئ نو پدې کښې په رسول الله ﷺ باندې ډبل (دوه ځل) درود راغې يو ځل مستقلا او بل ځل په آل ابراهیم کښې د داخلیدو په وجه. نو پدې کښې د رسول الله ﷺ په ابراهیم علیه السلام باندې زیات شرافت او فضیلت معلوم شو. ۳- جواب: دا فضیلت جزئي د ابراهیم علیه السلام دې په محمد ﷺ باندې ددې نه دا نه لازمیږي چه ابراهیم علیه السلام من كل الوجوه په نبي عليه السلام باندې غوره دې.

٤- جواب: امام قرطبيؒ په المفهم کښې دا راجح کړیده چه دلته تشبیه د اصل درود ده د اصل درود سره او تشبیه په قدر او اندازه کښې نده او ددې مثال داسې دې لکه آیت دې (انا اوحينا اليك كما اوحينا الى نوح الخ) نو ددې مطلب ځو دا وو چه اصل وحي د پيغمبر داسې ده لکه اصل وحي د نوح علیه السلام الخ او تشبیه په اندازه کښې نده، بلکه کیفیت او اندازه جدا جدا ده نو دلته مطلب دا شو چه په نبي علیه السلام به درود وئیلې شي لکه څنګه چه په ابراهیم علیه السلام وئیل شویدې او دا مطلب نه دې چه د دواړو درود يو شان دې بلکه ډير فرق دې او نور مثالونه لکه كتب عليكم الصيام كما كتب على الذين من قبلكم) يا احسن كما احسن الله اليك) فتفكر او فائده ددې تشبیه په تاکید د طلب وي چه ضرور درود اووایئ یعني اې الله په پيغمبر درود اووایه څکه چه دده نه ځکته مرتبې والا باندې تا درود لیږلې نو ده باندې خو ضرور اولیږه. ۵- جواب: کاف د تشبیه دپاره نه دې بلکه د تعلیل دپاره دې یعني په پيغمبر درود اووایئ ځکه چه په ابراهیم د درود وئیلې دې او هغه خو د پيغمبر نه افضل نه دې. لیکن دا ضعیف دې. ٦- جواب: مشبه به کښې کله مقصود اشهریت وي نو دلته ابراهيم زیات مشهور وو د نبي علیه السلام نه نو ځکه ئې هغه ذکر کړو لهذا د افضلیت خبره پکښې نشته علامه طيبيؒ وائي: ليس التشبيه من باب الحاق الناقص بالكامل بل من باب الحاق ما لم يشتهر بما اشتهر.

یعنی دا تشبیه د ناقص د کامل پورې د الحاق د باب نه نه ده بلکه دا د باب د الحاق د غیر مشهور نه ده په مشهور پورې.

۷- د بعض علماؤ په نيز مشبه به کله مساوي وي د مشبه سره او کله ادنیٰ وي د مشبه نه د ادنی مثال لکه مثل نوره كمشكاة. ۸- جواب: علامه سنديؒ وائي: د نبي عليه السلام د درود تشبیه ئې د ابراهیم علیه السلام د درود سره ورکړه نو دا په نظر سره مجموعه ابراهیم او آل ابراهیم ته ده لکه پدې باندې واو د جمع دلالت کوي مطلب دا چه لکه څنګه چه ابراهیم علیه

السلام او د هغه په آل باندے درود وئیل شویدے نو دغه شان د محمد صلی الله علیه وسلم سره د هغه آل هم شامل کړه په درود وئیلو کښ او عام درود په دوی اوواېه ځکه چه ابراهیم علیه السلام باندے او د هغه په آل باندے تر قیامته پورے وو لکه ملائکو وئیلی وو (رحمة الله وبرکاته علیکم اهل البیت انه حمید مجید) نو یواځے په پیغمبر باندے درود وئیلو کښ فائده کمه وه او کله چه ورسره آل باندے هم درود اووئیلے شی نو فائده به ئے زیاته شی ۔ نو ددے نه دا معلومه نشوه چه ابراهیم افضل دے د رسول الله ﷺ نه ۔

۹- **جواب** : بعض وائی : وجه د شبه دا ده چه هر دواړه درودونه افضل او اولیٰ او اتم دی د درود د پخوانو انبیاؤ نه ۔ ای کما صلیت علی ابراهیم صلاة هی اتم وافضل من صلاة من قبله کذلك صل علی محمد صلاة هی افضل واتم من صلاة من قبله ۔ ۱۰- **جواب** : یا تشبیه په دوام د صلات کښ ده چه لکه څنګه په ابراهیم باندے درود همیشه وو نو پدے پیغمبر باندے هم همیشه دپاره درود وایئ ۔

فائده : په درود کښ لفظ د سیدنا زیاتول څنګه دی ؟ (۱) بعض متأخرین احنافو او شوافعو وئیلی دی چه دا اضافه کول د آدابو نه دی او کله کله ادب په امر باندے مقدم وی لکه اعلاء السنن (۲/۱۷۰) کښ اوګوره او ددے په جواز باندے علامه شوکانیؒ هم قائل دے ۔

(۲) جمهور محدثین او محققین وائی چه ددے اضافه کول بدعت دے او درود عبادت دے او مبنی د عبادت په توقیف ده لهذا صحابه کرامو درود د پیغمبر نه حاصل کړیدے نو د ځان نه الفاظ داخلول ادب نه بلکه خلاف السنت کار دے پیغمبری الفاظو کښ تغییر کول حرام دی کما فی حدیث البراء وبرسولك الذی ارسلت ۔ راجع فتاوی الدین الخالص (۳۷۲/٤) وصفة صلاة النبی (۱۳٦) والضعیفة (۱۸/۳) .

نو د احسن الفتاوی (۲۷/۳) او در مختار (٤٧٩/۱) دیته مستحب وئیل خطاء دی ۔

احناف اقرار کوی چه راجح عمل بالماثور دے او دلته ئے خلاف کړیدے ۔

حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ : مبالغه د ماجد ده د مجد نه دے شرافت ته وائی ۔

فائده : حافظ په فتح الباری کښ لیکی : دا حدیث دلیل دے چه درود د سلام نه جدا کول ندی مکروه ځکه کیفیت د سلام مخکښ ذکر شویدے او روستو بیا د درود کیفیت خودلے شویدے ۔

۳- وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدَةً، صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ عَشْراً. رواهُ مسلم.

ترجمه : او ابو هریره ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ اوفرمایل : څوك چه په ما باندے یو ځل درود اولیږی الله تعالی به په هغه باندے لس ځل رحمت نازل کړی ۔ (مسلم)

تشریح : مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدَةً : یعنی څوك چه په نبی علیه السلام باندے یو ځل درود

اووائی نو الله به په هغه باندے لس رحمتونه اولیږی او څومره چه بنده درود زیاتوی نو الله به په دغه مقدار کښ رحمتونه هم لیږی۔

سوال : دے حدیث کښ لس ځل رحمتونه ذکر دی او په روستو حدیث د عبد الله بن عمرو کښ اوویا (۷۰) صلاة ذکر دی ددے څه تطبیق دے ؟۔

الجواب : ددے تطبیق دا دے چه وحی وخت په وخت جدا نازله شویده ابتداء کښ د لسو درودونو وعده وه بیا نبی علیه السلام ته ددے فضیلت زیات معلوم شو نو هغه ئے بیان کړو۔

اشکال : دا څنګه کیدے شی چه په نبی علیه السلام به یو درود وی او په درود ویونکی به لس رحمتونه وی ؟ ددے جواب دا دے چه یو ځل درود وئیل صفت د درود ویونکی دے او دده جزاء او بدله لس رحمتونه دی د الله د طرف نه، د من جاء بالحسنة فله عشر امثالها مصداق دے او ددے نه دا نه معلومیږی چه په نبی علیه السلام به د الله د طرفنه یو صلاة وی ځکه د الله فضل او رحمت فراخه دے په هغه به ددے نه هم زیات وی۔

۲- جواب : که اومنو چه د الله د طرفنه په نبی باندے یو صلاة دے نو شاید چه دا یو صلاة د الله د طرفنه په شرافت کښ د ایك لاکهـ صلواتو سره برابر وی، یا د هغے نه په شرافت او کرامت کښ د یو لاکهـ ځلو نه هم زیات وی لکه یوه قیمتی ملغلره چه د ایك لاکهـ روپو سره برابره وی ۔

مسئله : پدے کښ **اختلاف** دے چه **درود غوره دے او که عام اذکار** ؟ نو چا یو غوره کړے دے او چا بل، لیکن راجح دا ده چه د موقع او محل اذکار به نه پریدی په درود باندے د موقع او محل اذکار غوره دی د درود نه لیکن اذکار مطلقو کښ بیا درود غوره دے ، د دنیا او آخرت د کارونو نه پدے کښ کفایت دے لیکن ددے سره دا یاد ساتل پکار دی چه د زړه تاثیر ته کتل پکار دی که عام اذکارو سره په زړه باندے تاثیر زیات کیدلو نو بیا به دا غوره وی د درود نه او که د درود تاثیر زیات وو نو بیا به هغه غوره وی۔ اګرکه درود خامخا افضل دے ځکه دا متضمن دے دعاء لره هم او اداء د حق الله او حق العبد او حق النفس لره او دارنګه پدے کښ محبت د رسول الله ﷺ سره دے او په ذکر کښ صرف د الله تعالی تعلق وی د نفس دپاره غوښتل نه وی ۔

الفصل الثانی

٤ – عَنْ اَنَسٍ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ صَلَاةً وَاحِدَةً، صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِیْئَاتٍ، وَرُفِعَتْ لَهٗ عَشْرُ دَرَجَاتٍ . رواهُ النسائیُّ .

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : چا چه په ما باندے یو ځل درود اولیږلو الله تعالی به په هغه باندے لس ځل رحمتونه نازل کړی او لس ګناهونه به ئے معاف شی

او لس درجات به ئې بلند شي ۔ (نسائیؒ)

تشریح : پدې حدیث کښې فضیلت زیات بیان شو درې قسمه فضائل شو نو دا محمول دے په تعدد د وحی باندې ۔ **درجة الحدیث** : اسناده صحیح اخرجه النسائی (۳/۵۰) واحمد (۳/۱۰۲) والبخاری فی الادب المفرد (٦٤٣) وابن ابی حاتم فی علل الحدیث (۲/۱٦۹) رقم: (۲۰۰۱) وصححه ابن حبان، واورده الهیثمی فی موارد الظمآن (۵۹۵) والحاکم (۱/۵۵۰) وصححه ووافقه الذهبی۔

۵ – وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَوْلَى النَّاسِ بِیْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ اَکْثَرُهُمْ عَلَیَّ صَلَاةً . رواه الترمذیُّ .

ترجمه : او ابن مسعود ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : د قیامت په ورځ د ټولو خلقو نه زیات نزدې ماته هغه خلق دی چه په ما باندې درود کثرت سره وائی ۔ (ترمذیؒ)

تشریح : اَوْلَى النَّاسِ : یعنی قیامت کښې ماته نزدې د خلقو نه هغه خلق دی چه په ما باندې درود زیات وائی، ددې وجه دا ده چه په رسول الله ﷺ زیات درود وئیلو سره د هغه سره محبت پیدا کیږی چه هغه سبب د اتحاد دے، علامه مناویؒ وائی : وجه دا ده چه زیات درود وئیل دلالت کوی په صدق محبت او کمال وصلت او تعلق باندې ددې وجې نه منازل د خلقو به په آخرت کښې نبی علیه السلام ته په اعتبار د تفاوت د درود او محبت سره وی ۔

امام ابن حبانؒ فرمائی : دې حدیث کښې دا بیان دے چه نبی علیه السلام ته نزدې به قیامت کښې اصحاب الحدیث دی ځکه پدې امت کښې د دوی نه زیات درود وئونکی بل څوك نشته ۔

علامه خطیب بغدادیؒ فرمائی : مونږ ته امام ابونعیمؒ اوفرمایل : دا ډیر لوئی خاص منقبت او شرافت دے د احادیثو د نقل کونکو دپاره ځکه چه د هیڅ جماعت د علماؤ دپاره په نبی علیه السلام باندې درود د دوی نه زیات وئونکی نشته چه دوی لیکی هم او وائی هم۔

درجة الحدیث : اسناده حسن لغیره : اخرجه الترمذی (٤٨٤) وقال حدیث حسن غریب واخرجه البخاری فی التاریخ الکبیر (۳/۱/۷۷) فی ترجمة عبد الله بن کیسان والطبرانی فی الکبیر (۱۰/۲۱) رقم (۹۸۰۰) وفیه عبد الله بن کیسان وهو الزهری مولی طلحة بن عبد الله بن عوف لم یوثقه غیر ابن حبان وقال الحافظ مقبول، وفی سنده موسی بن یعقوب الزمعی مختلف فی توثیقه وتجریحه انظر تهذیب التهذیب (۱/۳۷۸) ومیزان الاعتدال (۳/۲۲۱) وقال الحافظ صدوق سیء الحفظ ولکن للحدیث شاهد من حدیث ابی امامة بلفظ : صلاة امتی تعرض علیّ فی کل جمعة فمن کان اکثرهم علی صلاة کان اقربهم منی منزلة اخرجه البیهقی وقال الحافظ فی الفتح : لا بأس بسنده انظر المرعاة (۳/۲٦۲)

٦- وَعَنْهُ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِيْنَ فِي الْاَرْضِ يُبَلِّغُوْنِيْ مِنْ اُمَّتِي السَّلَامَ . رواهُ النسائيُّ والدارميُّ.

ترجمه : او ابن مسعود ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : د الله تعالى ډيرے فرشتے دي چه په زمكه كښې سياحت كونكي (گرځيدونكي) دي زما د امت سلام زما خوا ته رارسوي . (نسائي، دارميؒ)

تشريح : اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِيْنَ : سياح معنى ده په زمكه كښې گرځيدونكے، مبالغه ده په سائح كښې . **فائده** : په صحيح احاديثو كښې دا ثابته ده چه رسول الله ﷺ ته د بندګانو صلاة او سلام رسيږي ملائك الله تعالى د دے دپاره مقرر كړيدي هغوى ئے ورته رسوي.

نو په دے كښې ډير عظيم ترغيب دے درود وئيلو ته په پيغمبر باندے ځكه چه الله د دے عظيم شان كار دپاره ملائك مقرر كړيدي لهذا پيغمبر باندے درود ډير وئيل پكار دي ځكه چه رسول الله ﷺ د بنده په يوځل درود وئيلو باندے خوشحاليږي نو بار بار وئيلو سره د هغه خوشحالول پكار دي (شوكانيؒ) او كوم احاديثو كښې چه دا راغلي دي چه رسول الله ﷺ درود اوري نو هغه ضعيف دي لكه روستو به د دے وجے راشي . وانظر فتاوى الدين الخالص (۲/٤٥) رقم (۲۱۸) .

نو ثابته شوه چه رسول الله ﷺ د نزدے او لرے تولو خلقو درود نه اوري نه د جمعے په ورځ او نه په عام اوقاتو كښې.

درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد في المسند (۱/٤٥۲) والنسائي (۳/٤۳) وعزاه المزى فى تحفة الاشراف (۷/۲۱) للنسائي في الكبرىٰ والدارمي (۲/۳۱۷) والحاكم (۲/٤۲۱) وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبي وله متابعات وشواهد.

٧- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَا مِنْ اَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ اِلَّا رَدَّ اللهُ عَلَيَّ رُوْحِيْ. حَتّٰى اَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ . رواهُ ابوداوٗد والبيهقيُّ في الدعوات الكبير .

ترجمه : او ابو هريره ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : نشته يو تن چه په ما باندے سلام اووائي مگر الله تعالى ما ته زما روح راواپس كوي تردے چه زه د هغه د سلام جواب وركوم .(ابوداود، بيهقيؒ)

تشريح : اِلَّا رَدَّ اللهُ عَلَيَّ رُوْحِيْ : **اشكال قوي او د هغے ازاله** :

په دے حديث باندے دا اشكال دے چه د اهل سنت والجماعت دا عقيده ده چه نبي عليه السلام په قبر كښې ژوندے دے په برزخي ژوند سره اگركه د دنيا په اعتبار سره وفات شويدے خو حيات برزخي هغه لره په كامله طريقه ثابت دے او د دے حديث نه خو معلوميږي چه د رسول الله ﷺ

په بدن کښې روح نه وی خو کله چه یو امتی صلاة او سلام وائی نو روح ورته الله راواپس کوی نو راواپس کولو نه معلومه شوه چه مخکښې پکښې روح نه وو۔
دویم دا چه په رسول الله ﷺ باندے خو د ټول عالم د اطرافو نه درود وئیلے کیږی نو هغه ته روح راواپس کول او بیا بیرته ویستل په دومره معمولی اوقاتو کښې ډیر تکلیف لری نو ددے حدیث څه معنی جوړیږی؟
الجواب: ددے اشکال یو جواب بعض علماؤ دا کړیدے چه د روح نه مراد نطق دے یعنی الله ما لره د نطق طاقت راکړی او الله د مړی نه هم (بلا اعادة الروح) نطق ویستلے شی لکه د کانړو بو تو نه۔ لیکن دا جواب ضعیف دے ځکه روح په معنی د نطق سره په کلام عربی کښې ندے راغلے (نقله القاری عن ابن حجرؒ)
۲– **دویم جواب**: ملاعلی القاریؒ په مرقات (۳٤۱/۲) کښې لیکی: (نقلا عن القاضی) د رد الروح معنی دا ده چه د نبی علیه السلام روح مستغرق وی په مشاهده د الله کښې او هغه ته همیشه متوجه وی لکه څنګه چه په دنیا کښې په حالت د وحی کښې او نورو احوالو کښې مشغول وو نود دنیا سره ئے هیڅ تعلق نه وی نو کله چه انسان درود اولیږی نو الله خپل نبی ته اووائی چه په دنیا کښې ستا امتی په تا باندے درود وائی نو هغه دنیا طرفته متوجه شی – نود مشاهدے او د استغراق ددغه افاقے او بیداریٔ نه ئے تعبیر په رد الروح سره اوکړو، نو دا مطلب نه شو چه د پیغمبر نه روح وتلے دے، او بیرته بدن ته راواپس کیږی۔
۳– **بعض جواب** کوی چه حدیث ضعیف دے۔ لیکن وجه د ضعف نشته۔
٤– **جواب**: بعض وائی روح نه مراد ملائك دے لکه په قرآن کریم او احادیثو کښې ملائك ته روح وئیلے شویدے لکه یوم یقوم الروح والملائکة۔ نو ددے نه مراد یو ملك موکل دے چه ملازم دے د رسول الله ﷺ سره او سلام ورته رسوی، علامه ابو الحسن المبارکفوریؒ وائی: دا هم نږدے جواب دے۔ ۵– **جواب**: بعض وائی (لکه سیوطیؒ) چه دلته الا رد الله دا جمله حالیه ده او قد پکښې مقدر دے او حاصل ئے دا دے چه الله تعالی ما ته روح مخکښې د سلام وئیلو نه راواپس کړیدے یعنی زه په قبر کښې ژوندے یم او د هغه د سلام جواب ورکوم او دا مطلب نه دے چه ده ته بار بار روح ځی راځی او سیوطیؒ ددے اشکال د جواب دپاره رساله لیکلے ده (انتباه الاذکیاء بحیاة الانبیاء) سیوطیؒ دا هم وائی چه پدے جواب سره اشکال د اصل نه ختم شو او ددے تائید د معنی په لحاظ سره هم کیږی ځکه رد که په معنی د حال او استقبال سره واخستے شی یعنی چه په دغه وخت کښې ما ته روح راواپس کیږی یا آئنده کښې نو بیا ددے نه دا لازمیږی چه دا روح به بار بار ځی راځی په وخت د تکرار د خلقو کښې درود لره او بار بار روح وتل ننوتلو سره ډیر فسادات راځی ۱– یو درمند کیدل د روح په وتو ننوتو، ۲– دویم په هیڅ نص کښې دا

خبره نه ده ثابته چه د انبیاء او شهداء وغیره روح په برزخ کښې ځی راځی او نبی علیه السلام خو ددې ډیر لائق دې چه د هغه سره دا روح همیشه شی او روح ترې لاړ نشی.

۳- بل پدې کښې مخالفت د قرآن دې چه قرآن کښې صرف دوه مرګه او دوه حیاته ذکر دی، او دې تکرار سره ډیر مرګونه ثابتیږی او دا باطل ده.

٤- دارنګه پدې کښې د متواترو احادیثو مخالفت دې کوم چه دال دی په حیات الانبیاء او کوم شے چه د احادیثو متواترو خلاف وی په هغې کښې تاویل کول واجب دی انتهیٰ.

او سیوطیؒ دا جواب احسن او اقویٰ ګرځولے دے او دا ئے د بیهقیؒ نه اخستے دے لیکن پدے باندے ابوعبد الله محمد بن احمد بن عبد الهادی المقدسیؒ په الصارم المنکی فی الرد علی السبکی (۱۷۹، ۲۳۰) کښې تفصیلًا تردید کړیدے چه دا تاویل د ظاهر د حدیث سره سمون نه خوری ځکه الا رد الله علیّ روحی ئے پس ددے قول نه ذکر کړیدے چه (ما من احد یسلم علی) نو دا تقاضا کوی د رد الروح بعد السلام. او دا تقاضا ددے نه کوی چه روح دِ په بدن کښې همیشه دپاره حاضر موجود وی، او ددے نه جدا مستقل بل حیات او بل مرګ نه ثابتیږی بلکه په برزخ کښې بدن ته د روح راتلل دا برزخی اعاده ده پدے سره د مړی نه نوم د مرګ نه زائله کیږی بلکه مړے د دنیا په لحاظ همغه شان مړ دے او حال دا چه حدیث د براء کښې عذاب القبر او نعیم بیان شویدی او د مړی د حال بیان دے او روح بدن ته راواپس کیږی او دا معلومه ده چه دا روح په بدن کښې همیشه دپاره نه وی نو دا یو قسم برزخی حیات دے.

او دا یو جنس دے ددے لاندے ډیر انواع دا خل دی ځکه بعض ژوند داسے وی چه د دنیا سره ئے تعلق وی په ویښې او په خوب کښې دیته دنیوی حیات وائی ۲- دویم د روح تعلق د بدن سره په برزخ کښې دے او مړی پدے کښې متفاوت دی، د رسولان او انبیاؤ د روح تعلق د بدن سره زیات او کامل وی، د شهداؤ نه ددے وجے نه د هغوی بدنونه نه خاورے کیږی او بیا د شهداؤ د ارواحو تعلق د بدن سره زیات دے د عام مومنانو نه.

۳- دریم د روح تعلق د بدن سره په ورځ د قیامت کښې دے نو اثبات د بعض اقسامو د مرګ منافی ندے د حیات سره لکه دنیا کښې خوب کښې د روح یو قسم د بدن نه اوځی او د هغې نه پس به نبی علیه السلام وئیل: الحمد لله الذی احیانا بعد ما اماتنا. نو ګوره خوب ته ئے مرګ اووئیلو نو معلومه شوه چه بعض اقسام د مرګ منافی ندی د حیات سره په برزخ کښې لهذا په برزخ کښې د رسول الله ﷺ د بدن نه یو قسم روح وتلے وی او د عرش نه ګیر چاپیره چکرے په جنت کښې وهی او د بدن سره ئے هم څه ناڅه تعلق وی نو کله چه سلام واچولے شی په نبی علیه السلام باندے نو هغه ته دغه روح – چه احساس کوی – بدن ته راواپس شی او د سلام جواب ورکړی.

نو خلاصه دا شوه چه رد الروح مړی ته په برزخ کښې او د سلام جواب ورکول دا مستلزم ندی

هغه حيات لره چه كوم په دنيا كښې وى بلكه د دنيا په لحاظ مړ دے او د برزخ په لحاظ ژوندے دے او روح ئې په عليين كښې د رفيق اعلىٰ سره دے او د بدن سره ئې يو خاص قسم تعلق دے چه د سلام جواب وركوى او پدے كښې د وتلو ننوتلو زحمت هم نه وى څنګه چه دنيا كښې وى.

٦- **جواب**: ليكن ددے ټولو نه ښه جواب دا دے چه ددے حديث كيفيت او حقيقت د امور برزخيو سره تعلق لرى چه ددے په حقيقت باندے انسانانو ته علم نه دے وركړے شوے چه روح څنګه بدن ته راواپس كيږى او جواب د سلام څنګه وركوى نو دا واجب الايمان دى او دا زمونږ نه غيب دى لهذا د ايمان بالغيب تقاضا دا ده چه په كوم څيز پوهه نشوے نو هم ايمان به لرے نو ددے حقيقت د متشابهاتو نه دے او زمونږ دپاره پكښې فائده دا ده چه نبى عليه السلام زمونږ په درود وئيلو باندے خوشحاليږى او مونږ ته د هغے په بدله كښې ثواب ملاويږى نو دا اعتراض نه واردېږى چه رسول الله ﷺ نه روح اوځى نو هغه خو وفات شو په برزخ كښې يا روح وتل ننويستلو سره درد رسيږى يا ټول امت ته څنګه په يو ځل جواب وركړى ځكه پدے كښې قياس د غائب دے په شاهد باندے او دا د عقلمند انسان كار نه دے.

بيا پدے حديث كښې دا فضيلت آيا خاص صرف د هغه خلقو متعلق دے چه روضه اقدس ته حاضرى وركوى او هلته سلام كوى، يا په عمومى طور سره ټولو خلقو دپاره دے؟ نو ظاهر دا معلوميږى چه ددے تعلق په عمومى طور دے يعنى برابره ده كه څوك د قبرنبوى په خوا كښې حاضر وى او كه غائب وى او د وړاندے نه درود او سلام ليږى بيا بعض فرق بيانوى چه وړاندے نه سلام ليږل د ملائكو په واسطه رسيږى او د نزدے نه سلام پخپله اورى كما فى المرقات (٣٤١/٢) ومظاهر حق (٦١٧/١) ليكن مخكښې ذكر شو چه د سلام اوريدلو متعلق احاديث ټول ضعيف دى.

درجة الحديث: اسناده حسن، اخرجه احمد (٥٢٧/٢) وابوداود (٢٠٤١) والبيهقى (٢٤٥/٥) وفى سنده ابوصخر حميد بن زياد وقد ضعفه يحيى بن معين مرة ووثقه اخرىٰ والظاهر توثيقه.

٨- وَعَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: لَا تَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قُبُوْراً، وَلَا تَجْعَلُوْا قَبْرِىْ عِيْداً، وَصَلُّوْا عَلَىَّ، فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِىْ حَيْثُ كُنْتُمْ. رواه النسائىُّ.

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائى: ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه فرمايل ئې: خپل كورونه د قبرونو په شان مه ګرځوئ او زما په قبر باندے (د) عيد (په شان ميله) مه جوړوئ. تاسو په ما باندے درود ليږئ ځكه تاسو چه هر چرته يئ ستاسو درود ما ته (د ملائكو په ذريعه) رارسيږى- (نسائىؒ)

تشريح: لَا تَجْعَلُوْا بُيُوْتَكُمْ قُبُوْراً: ددے ډير مطلبونه بيان شويدى (وقد مر فى المجلد

الثالث ۳/ ۵۵۵) یعنی کورونو نه قبرونه مه جوړوئ چه مونځ ذکر او عبادت پکښې نه کوئ بلکه پدے کارونو باندے کورونه مشغول کړئ!.

(۲) بعض وائی : ددے نه مراد کراهت د مونځ دے په مقبرو کښې یعنی کورونو کښې مونځونه کوئ او د مقبرو پشان ئې مه جوړوئ چه هغے کښې عبادت او مونځ نه کیږی او مقبره ئے ذکر کړه ځکه چه شرعاً او حساً مشهوره ده په مونځ کولو باندے.

(۳) یا پدے کښې مقصود تیزی ورکول دی چه په کورونو کښې مونځونه او عبادتونه کوئ ځکه چه مړی په خپلو کورونو (قبرونو) کښې مونځونه نکوی، معلومه شوه چه څوك په کور کښې مونځ نه کوی هغه د مړی په شان دے چه په خپل قبر کښې مونځ نه کوی ـ نو ددے نه مراد به نفل مونځ وی نو کوم کور چه د مانځه نه خالی وی نو دا به په شان د قبر وی او څوك چه په کښې مونځ نه کوی نو هغه به د مړی په شان وی.

(٤) بعض ددے معنی کوی : چه کورونو نه قبرونه مه جوړوئ یعنی کورونو کښې مړی مه خخوئ (لکه ډیر خلق دا وصیت کوی چه ما په کور کښې خخ کړئ دا غلطه ده) ځکه بیا به د مړی او د قبر هیبت د زړه نه اوځی او عیش به مکدر شی او بله دا چه بیا به مفضی شی شرك ته د هغے په خوا کښې به بیا خلق مونځ کوی نو پدے ناروا کښې به اخته شی مرقات (۲/ ۳٤۱) او نبی علیه السلام ددے نه مستثنی دے.

(۵) صاحب مرقات (۲/ ۳٤۲) لیکی : بعض ارباب اللطائف وائی : ددے معنی دا ده چه (لا تجعلوا بیوتکم کالقبور خالیة عن الاکل والشرب للزائرین) یعنی کورونو کښې میلمنو له میلمستیا ورکوئ ځکه مړی چا له میلمستیا نه ورکوی ـ نو په حدیث کښې ترغیب دے چه په کورونو کښې عبادت کوئ او مقبرو کښې عبادت مه کوئ.

وَلَا تَجْعَلُوْا قَبْرِیْ عِیْداً : عید نوم دے د هغه عامے اجتماع چه په طریقه د عادت سره په کال یا میاشت یا هفته کښې راواپس کیږی ـ حافظ ابن قیمؒ فرمائی : عید هر هغه شی ته وائی چه د هغے راتلل او قصد کول معتاد وی که هغه زمانه وی او که مکان.

د معاوده نه ماخوذ دے که مکان مراد شی نو معنی موضع الاجتماع للعبادة وغیرها لکه عرفات مزدلفه وغیره او که زمان مراد شی نو زمان الاجتماع والقصد لکه ایام العید.

مطلب ددے حدیث دا دے چه زما قبر د عید پشان مه گرځوئ یعنی زما قبر د عیدگاه په شان مه گنړئ چه هلته راجمع کیږئ او په زیب وزینت او ډول وسنګار او لهب ولعب سره هلته خوشحالی ښکاره کوئ او د هغے نه لطف او سرور حاصلوئ لکه څنګه چه یهود او نصاراؤ د خپلو انبیاؤ په قبرونو باندے داسے قسم حرکتونه کول.

نو ددے حدیث نه د نن صبا نام نهاد مولیان او بدعت پرستو له سبق اخستل پکار دی چه

هغوى د اولياؤ پـه مزاراتـو او قبـرونـو بـانـدے عيدونـه د خپلو خواهشاتو او دنياوى اغراضو حاصلولو دپاره مناوى او د هغوى په قبرونو باندے د عرس په نوم هغه خرافات او بدعات او ناروا كارونـه بے حيائـى، گـډا، قواليانے او يارانے او غلط تعلقات او شركونه او غير الله ته آوازونه كوى چه هغه په عام كفارو او مشركانو كښې هم نشته او دوى د نذر ونياز او حلواگانو او د عوامو د مالونو حاصلولو او لذات او خواهشاتو او زنانو سره په تعلقاتو او خيټه ډكولو كښې برخه اخلى د دوى په عقلونو پردے راغلى دى چه قرآن او احاديثو ته هيڅ ضرورت نه محسوسوى كه څوك ورته ددے كارونو بدى بيانوى، هغوى وائى دا اولياء الله نه منى او وهابى او صابى دے داسے د مسلمان په جامه كښې مشركانو باندے افسوس پكار دے چه عوام مسلمانانو ئے ځان سره د اولياء او د رسول الله ﷺ د محبت په دعوىٰ كښې مشركان جوړ كړل۔

۲– دويـم مـطلـب: د اختر په شان په كال كښې صرف يو دوه ځل زما د قبر زيارت دپاره مه راځئ بلكه ډير او بار بار حاضرى وركوئ، ليكن دا معنى ظاهره نه ده۔

۳– مـطلـب دا چه زما د قبر نه اختر مه جوړوئ چه هغے ته تاسو واپس كيږئ په وخت د درود وئيلـو كـښې پـه ما باندے يعنى درود صرف په مدينه كښې وايئ او عام ځايونو كښې ئے نه وايئ نو داسے مه كوئ۔ ځكه روستو وائى چه ستاسو درود ما ته د هر ځائے نه را رسى۔

٤– بعض معنى كوى: لا تـجـمـعـوا لـلـزيـارة اجتماعكم للعيد فانه يوم لعب وسرور وحال الزيارة مـخالفة لتلك الحالة يـعـنـى زمـا د قبـر مـلاقـات دپاره داسے مه راجمع كيږئ لكه څنگه چه تاسو اختـرونـو كـښې راجـمـع كـيږئ ځـكه اختر ورځ خو د لوبو او خوشحالو او ډول ورځ وى او د قبر د مـلاقـات حالت د دغه حالت نه مخالف وى، پدے كښې خو انسان ته خپل آخرت او مرگ ياد شى او د دنيـا خـوشـحـالـى تـرے هيره شى۔ نو پدے كښې ترغيب دے فكر آخرت ته او دے فكر ته چه ستاسو پيغمبر د دنيا نه دارِ بقاء ته لاړو نو ستاسو به هم دا حال وى، نو آخرت له تيارے وكړئ۔

★– شيخ الاسلام ابن تيميهؒ وائى: ددے دواړو جملو مناسبت دا دے چه اول كښې ئے حكم اوكړو چه پـه كـور كـښې عبادتـونـه مـونځ، دعـاء او قـرائـت كـوئ او قبـرونـه ترے مه جوړوئ او بيا ئے د مشـركـانـو د مشـابـهـت نـه مـنـع اوكـړه چـه د قبـرونـو پـه خوا كښې عبادتونه او نذر او منښتے او مـونـځـونـه كـوى او تشـبـه د يهـود او نصاراؤ سره كوى او بيا ئے اوفرمايل: ستاسو درود ما ته هر ځائے نه رارسى نو زما د قبر نه اختر او عيد جوړولو ته هيڅ ضرورت نشته۔

نـو پـه حـديـث كـښې كـامـل رد دے په مشركانو بريليانو باندے چه عرسونه او عيد ميلاد النبى مناووى او د قبرونو عبادتونه كوى۔

شيخ الاسلام فـرمائى: دا حديث دليل دے چه د رسول الله ﷺ قبر دپاره سفر كول جائز نه دى او دغه شان د نورو اولياؤ د قبـرونو دپاره سفر كول صحيح نه دى ځكه دا د هغه د قبر نه عيد جوړول

دی ځکه مقصود د زیارت د قبر نه دعاء او درود وئیل دی په هغه باندې او هغه د ټولو ځایونو نه پیغمبر ته رسی نو عید مناوولو ته ضرورت نشته ۔ (اقتضاء الصراط المستقيم) انظر المرعاة (۲۷۵/۳) **درجة الحديث** : اسناده حسن، احمد فی المسند (۳٦۷/۲) وابوداود (۲۰٤۲) وعزو المصنف للنسائی وهم ولم يعزه المزی فی تحفة الاشراف (٤۹۰۹) للنسائی بل عزاه لابی داود فقط وقال شيخ الاسلام : هذا اسناد حسن فان رواته ثقات مشاهير لكن عبد الله بن قانع الصائغ المدنی صاحب مالك فيه لين لا يقدح فی حديثه ووثقه ابن معين۔

۹– وَعَنْهُ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : رَغِمَ اَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهٗ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ، وَرَغِمَ اَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ اَنْ يُغْفَرَ لَهٗ وَرَغِمَ اَنْفُ رَجُلٍ اَدْرَكَ عِنْدَهٗ اَبَوَاهُ الْكِبَرَ اَوْ اَحَدُهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ . رواه الترمذیُّ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : د هغه سړی پوزه دې په خاورو ککړه شی (ذلیله دې شی) چه د هغه په مخکښې زما ذکر اوشی او هغه په ما باندې درود او نه لیږی ۔ او د هغه سړی پوزه دې په خاورو ککړه شی چه په هغه باندې رمضان راشی او د هغه د بخښنې نه مخکښې اوځی (او ده ته پکښې بخښنه اونه شی) او د هغه شخص پوزه دې په خاورو ککړه شی چه مور او پلار یا د هغوی نه یو تن دده سره بوډا والی اومومی او هغوی ده لره جنت ته داخل نه کړی ۔ (ترمذیؒ)

تشريح : رَغِمَ اَنْفُ رَجُل : یعنی د هغه سړی پوزه دې په خاورو ککړه شی یعنی ذلیله او هلاك دې شی او اوډ شرمیږی، دا یا دعاء ده یا جمله خبریه ده۔

ددې په شان بل حدیث دې چه دا بنیرې جبرئیل أوکړې او رسول الله ﷺ د منبر په پوړو درې ځل آمین اوو ئیلو نو پدې حدیث کښې ددې درې اعمالو ډیر اهمیت بیان شویدې چه دا ډیر اوچت عملونه دی او ددې نه استدلال شویدې چه د رسول الله ﷺ نوم هرکله ذکر شی نو درود وئیل ضروری دی د جمهورو په نزد دا محمول دې په استحباب باندې لیکن راجح دا ده چه سخت وعید بیان شویدې لهذا هر ځل درود وئیل ضروری دی ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه احمد (۲۵٤/۲) والادب المفرد (۲٤٦) والترمذی (۳۵٤۵) وقال حسن غريب وله شاهد من حديث كعب بن عجرة بتمامه مرفوعاً واخرج الحاكم (۵٤۹/۱) الفقرة الاولى من هذا الوجه والحديث له شواهد كثيرة ذكرها المنذرى فى الترغيب والترهيب (۲۸۲/۲، ۲۸۳)

۱۰– وَعَنْ اَبِیْ طَلْحَةَ ﷺ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ جَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ وَالْبِشْرُ فِیْ وَجْهِهٖ، فَقَالَ : اِنَّهٗ

جَاءَ نِيْ جِبْرَئِيْلُ، فَقَالَ : اِنَّ رَبَّكَ يَقُوْلُ : اَمَا يُرْضِيْكَ يَا مُحَمَّدُ ؟ اَنْ لَا يُصَلِّيَ عَلَيْكَ اَحَدٌ مِنْ اُمَّتِكَ اِلَّا صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْراً، وَلَا يُسَلِّمَ عَلَيْكَ اَحَدٌ مِنْ اُمَّتِكَ اِلَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ عَشْراً ؟ . رواه النسائيُّ والدارميُّ .

ترجمه : او ابو طلحه رضی الله عنه فرمائی : یوه ورځ رسول الله ﷺ (صحابهٔ کرامو) خواته تشریف راوړو چه مخ کښې ئې خوشحالي وه۔ نو وې فرمایل : زما خواته جبریل علیه السلام راغلے وو، او دا ئې وئیل : چه ستا رب فرمائی : اے محمد ! آیا ته پدې خبره خوشحاله نه ئې چه ستا د امت نه چه څوك په تا باندې درود وائی نو زه به په هغه باندې لس رحمتونه نازلوم او ستا د امت نه چه څوك په تا باندې سلام لیږی په هغه باندې به لس ځل سلام لیږم ۔ (نسائیؒ، دارمیؒ)

تشریح : وَالْبِشْرُ فِيْ وَجْهِهٖ : یعنی د رسول الله ﷺ په مخ مبارك كښې خوشحالي او تازګي ښکاره کیده او ددې خوشحالۍ یوه وجه دا ده چه یو خو پدې کښې د رسول الله ﷺ عظیم شان ذکر دے چه په هغه باندې درود لیږلو سره خلقو ته اجر ملاوېږی بل پدې کښې د رسول الله ﷺ د امت دپاره خیر خواهي او شفقت او مهربانی ده چه ښه ده چه امت ته زما په درود سره دومره فائده رسیږی۔ اَلْبِشْرُ په کسره د باء دے اسم مصدر د استبشار دے ۔ فرح او سرور ته وائی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه احمد (٤/ ٣٠) والنسائی (٣/ ٤٤) والدارمی (٢/ ٣١٧) والحاكم (٢/ ٤٢٠) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبی، وهو صحيح الاسناد بشواهده من طريق ابی طلحة ومن طريق انس۔

۱۱ – وَعَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ، قَالَ : قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! اِنِّيْ اُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ. فَكَمْ اَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِيْ ؟ فَقَالَ : مَا شِئْتَ . قُلْتُ : الرُّبُعَ ؟ قَالَ : مَا شِئْتَ. فَاِنْ زِدْتَّ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ . قُلْتُ : النِّصْفَ ؟ قَالَ : مَا شِئْتَ . فَاِنْ زِدْتَّ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ . قُلْتُ : فَالثُّلُثَيْنِ ؟ قَالَ : مَا شِئْتَ . فَاِنْ زِدْتَّ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ، قُلْتُ : اَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِيْ كُلَّهَا ؟ قَالَ : اِذاً يُكْفٰى هَمُّكَ، وَيُكَفَّرُ لَكَ ذَنْبُكَ .رواه الترمذیُّ.

ترجمه : او ابی بن کعب ﷺ فرمائی : ما اووئیل : اے د الله رسوله ! زه په تا باندې کثرت سره درود لیږم (یعنی ډیر درود وئیل غواړم نو تاسو راته مقرر کړئ) څومره وخت زه ستا د درود وئیلو دپاره مقرر کړم ؟۔ نبی علیه السلام اوفرمایل : څومره چه ستا زړه غواړی ۔ ما عرض اوکړو : آیا څلورمه حصه (وقت مقرر کړم) ؟ هغه اوفرمایل : څومره چه ستا زړه غواړی، او که زیات وقت مقرر کړې نو ستا دپاره به بهتر وی ما عرض اوکړو : آیا نیم (وقت مقرر کړم ؟) وې فرمایل : څومره چه ته غواړې، او که زیات مقرر کړې نو ستا دپاره به بهتر وی ۔ما عرض اوکړو : نو دوه دریمې مقرر

كرم ؟ هغه اوفرمايل : څومره چه ته غواړې او كه زيات مقرر كړې نو ستا دپاره به غوره وى ـ ما عرض اوكړو : څه نو زه به د خپلے دعاء ټول وخت ستا د درود دپاره مقرر كړم، نبى عليه السلام اوفرمايل : (هركله چه ته ټول وخت زما درود دپاره خاص كړې) نو په دغه وخت كښ به دا كافى شى ستا د دنيا او د آخرت د مقاصدو دپاره او ستا گناهونه به معاف شى ـ (ترمذیؒ)ـ

تشريح : عنوان الحديث د درود او سلام هيڅ حد مقرر نه دےـ

اَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِيْ : د صلاة نه مراد درودونه او ذكرونه دى مطلب د حديث دا دے چه ابى بن كعبؓ اووئيل چه ما څه وقت د ذكر كولو دپاره مقرر كړيدے ليكن اوس غواړم چه څه وقت ستا د درود دپاره فارغ كړم نو تاسو راته مقرر كړئ چه څومره حصه د وقت هغے دپاره اوباسم، رسول الله ﷺ د هغه په درخواست باندے د درود وئيلو دپاره هيڅ وقت مقرر نه كړو بلكه هغه ئے خپل اختيار ته پريخودلو او ورته ئے اوفرمايل : چه تا ته معلومه ده چه د درود وئيلو څومره عظيم الشان فضيلت دے نو ته چه دے لره څومره زيات وخت وركوے نو دا به ستا دپاره فائده مند وى نو هغه لګه لګه ترقى كوله تر دے چه ټول وخت ئے ددے دپاره مقرر كړو نو رسول الله ﷺ ورته ددے فضيلت بيان كړو چه د خپلو ذكرونو په ځائے باندے درود وئيلو سره به ستا د دنيا او آخرت نيكى او مقاصد حاصليږى او گناهونه به دے معاف كيږى نو د حديث نه معلومه شوه چه څوك غواړى چه زما د دنيا او آخرت مقاصد او حاجات حاصل شى نو هغه له درود زيات وئيل پكار دى او ددے وجه علماؤ دا ليكلے ده چه په درود سره حوائج پوره كيږى ځكه چه په پيغمبر باندے درود مشتمل دى په ډيرو كمالاتو باندے يو پدے كښ د الله ذكر دے او د الله د حكم تعميل دے، دريم پدے كښ تعظيم د رسول الله ﷺ دے ـ

۳– او د خپلو حقوقو د ادائيګۍ مشغوليدو په ځائے د پيغمبر حق اداء كولو ته ترجيح دهـ

٤–او ځان ته د دعاء كولو په ځائے پيغمبر ته دعاء كول دىـ

٥– دارنګه دا خبره ثابته شويده چه په يو ځل درود وئيلو سره په انسان باندے لس درودو نه د الله د طرفنه وئيلے كيږى ـ ٦– دارنګه څوك چه درود وائى نو هغه د الله او ملائكو سره ځان موافق كوى ځكه چه الله او ملائك هم په رسول الله ﷺ درود وائى نو دا بنده چه كله درود وائى نو دا به د الله د مقربينو نه حساب شى نو كومه دعاء ددے سره برابره كيدے شى ؟ ـ

دارنګه كله چه بنده خپل طلب او رغبت د الله په پسنديده او محبوب شى كښ خرچ كوى او د الله رضا او خوشحالى په خپل خواهشاتو او مقصدونو باندے مقدم كوى نو الله تعالى به د هغه تمام كارونه او مهمات پوره كوى نو دنيوى او اخروى او دينى ټول مقاصد به ئے پوره كيږىـ

نو حديث نه معلومه شوه چه د درود وئيلو لوئى فضيلت دے چه پدے سره تنګى پريشانى ختميږى او فكرات او مهمات د انسان پوره كيږى او گناهونه پرے معاف كيږىـ

يُكْفٰى هَمُّكَ: پدے کښې يوه نسخه تکفى د مخاطب مجهول صيغه ده او همك مصدر په معنى د مفعول دے او منصوب دے مفعول ثانى دے د تكفى دپاره ځکه تكفى(او يكفى) دوه مفعولينو ته متعدى کيږى او اول مفعول نائب فاعل ضمير مستتر (انت) دے يعنى ستا د غمونو كفايت به اوشى۔ او مشهوره نسخه کښې يكفى د غائب مجهول صيغه ده او همك نائب فاعل دے يعنى ستا د غمونو كفايت به کيدے شى۔

فائدة جليلة عطرة : د درود وئيلو فضائل په احاديثو کښې ډير زيات دى حافظ ابن قيمؒ په جلاء الافهام ص (۲٤٦) کښې (۳۳) ذکر کړيدى چه هغه په فتاوى الدين الخالص (٤/۳۸٦) کښې رانقل شويدى۔ ۱- پدے کښې د الله د حکم تعميل دے۔

۲- د الله تعالى سره په درود وئيلو کښې موافقت دے ۔ ۳- د ملائکو سره موافقت دے ۔

٤- درود وېونکى ته لس رحمتونه د الله د طرفنه ملاوېږى ۔ ۵- لس درجات ئے اوچتيږى ۔

٦- لس نيکئ ئے ليکلے کيږى ۔ ۷- لس ګناهونه ئے معاف کيږى۔

۸- د هغه د دعاء د قبليدو اميد کيدے شى کله چه د دعاء نه مخکښې درود اووائى ۔نو دعاء د بنده الله ته رسوى او د درود نه مخکښې دعاء د آسمان او زمکے په مابين کښې زوړنده وى ۔

۹- درود سبب دے د شفاعت د نبى عليه السلام۔ ۱۰- ګناهونه پدے سره ختميږى ۔ ۱۱- پدے سره الله تعالى د بنده مهمات (مقاصد) پوره کوى ۔ ۱۲- د قيامت په ورځ بنده رسول الله ﷺ ته نزدے کيږى ۔ ۱۳- د تنګدست سړى دپاره د صدقے په ځائے قائم مقام جوړيږى ۔

۱٤- پدے سره په انسان الله تعالى او د هغه ملائك درود او رحمتونه ليږى ۔

۱۵- د درود وېونکى زكات او طهارت په درود وئيلو سره راځى۔

۱٦- درود سبب د زيرى د جنت دے مخکښې د مرګ نه ۔ (او پدے کښې يو حديث هم شته) ۔

۱۷- د قيامت د اهوال (تکليفونو يرو) نه د نجات ذريعه ده ۔(وفيه حديث ذكره ابو موسى فى كتابه) ۱۸- درود سبب دے د جواب ورکولو د نبى عليه السلام درود وېونکى ته ۔

۱۹- بنده نه چه څه هير شى په درود وئيلو سره ورته راياديږى۔

۲۰- د بنده نه د بخل نوم ختميږى کله چه په پيغمبر باندے درود وائى ۔

۲۱- د بنده نه فقر ختموى ۔ ۲۲- دا سبب دے دپاره د مجلس خوشبويه کولو او د قيامت په ورځ باندے دغه مجلس د انسان دپاره افسوس نه جوړيږى ۔

۲۳- د نبى عليه السلام د نوم يادېدو په وخت درود وئيلو سره د هغه د بنيرو نه په رغم الانف (پوزه خړ کيدو) سره نجات مومى۔ ۲٤- درود خپل صاحب د جنت لارے ته برابروى او درود پريخودونکے د جنت د لارے نه اړوى ۔ ۲۵- درود سره د مجلس نه بد بوئى ختميږى کوم چه د ذکر په پريخودلو سره راپيدا شوى وى۔ ۲٦- کوم کلام چه په حمد د الله او په درود د پيغمبر باندے شروع

شي نو دا سبب دے د پوره کیدو د کلام۔ ۲۷– درود سبب دے پاره د ډیروالی د رنړا د بنده په پل صراط باندے (وفیه حدیث)۔ ۲۸– پدے سره بنده د جفاء (بے وفائی) نه اوځی۔

۲۹– درود سبب دے د ښائسته صفت د الله تعالی په درود ویونکی باندے په مابین د آسمان او زمکے والو کښ ځکه درود ویونکے د الله نه غواړی چه الله په خپل رسول باندے صفت راولیږی او د هغه اکرام او شرافت اوکړی او جزاء من جنس العمل وی نو ضرور به درود ویونکی ته د هغے نه یو قسم حاصلیږی۔ ۳۰– درود سبب دے د برکت راتلو په بدن د درود ویونکی او عمل او عمر او مصلحتونو د هغه کښ ځکه درود ویونکے د الله نه غواړی چه په پیغمبر او د هغه په آل باندے الله تعالی برکت واچوی او دا دعاء خو قبلیدونکے ده او جزاء من جنس العمل وی پدے وجه بنده ته به هم دغه برکت حاصلیږی۔ ۳۱– درود د الله د رحمت حاصلولو سبب دے۔ ۳۲– درود سبب دے د همیشه والی د محبت ده د رسول الله ﷺ سره او وخت په وخت به دا محبت ده زیاتیږی او دا خو د ایمان یوه عظیمه حصه ده چه د الله د رسول سره به محبت کولے شی۔

روح المجالس ذکره وحدیثه   وهدی لکل ملدد حیران
واذا اضلّ بذکره فی مجلس   فاولئك الاموات فی الحیوان

درجة الحدیث : اسناده حسن اخرجه الترمذی (۲۴۵۷) فی الزهد وقال حسن صحیح واللفظ عنده : ویغفر لك ذنبك والحاکم فی المستدرك (۴۲۱/۲) وقال هذا حدیث صحیح ولم یخرجاه واقره الذهبی واحمد والطبرانی وسندهما جید وحسن انظر المرعاة (۲۸۰/۳) وتحقیق المشکاة لرمضان (۳۹۱/۱)۔

۱۲– وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ ﷺ، قَالَ : بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَاعِدٌ اِذْ دَخَلَ رَجُلٌ فَصَلّٰی، فَقَالَ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَجِلْتَ اَيُّهَا الْمُصَلِّيْ ؟ اِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَّ، فَاحْمَدِ اللّٰهَ بِمَا هُوَ اَهْلُهٗ، وَصَلِّ عَلَيَّ، ثُمَّ ادْعُهٗ . قَالَ : ثُمَّ صَلّٰی رَجُلٌ آخَرُ بَعْدَ ذٰلِكَ، فَحَمِدَ اللّٰهَ، وَصَلّٰی عَلَی النَّبِيِّ ﷺ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ : اَيُّهَا الْمُصَلِّيْ ! اُدْعُ تُجَبْ . رواه الترمذیُّ وَرَوٰی ابوداوٗد والنسائیُّ نحوه .

ترجمه : او فضاله بن عبید ﷺ فرمائی : (یوه ورځ) رسول الله ﷺ ناست وو چه اچانك یو سړے راغلو او مونځ ئے اوکړو او بیا ئے دا دعاء اوکړه : اللهم اغفرلی وارحمنی (اے الله ! ما ته بخنه اوکړه او په ما باندے رحم اوکړه) ۔رسول الله ﷺ اوفرمایل : اے مونځ کونکیه ! تا جلتی اوکړه (د دعاء په طریقه کښ) او بیا ئے ورته اوفرمایل : کله چه ته مونځ کوے او د دعاء دپاره کیناستے نو د الله تعالی هغه شان صفتونه بیان کړه ځنګه چه الله د هغے لائق دے او بیا په ما باندے درود اولیږه او بیا د الله نه دعاء غواړه ۔ فضاله وائی : ددے نه روستو یو بل شخص مونځ کولو هغه د الله

تعالی صفتونه بیان کړل او په نبی ﷺ ئے درود اووئیلو نو نبی علیه السلام ورته اوفرمایل : اے مونځ کونکیه ! (اوس) دعاء غواړه ، ستا دعاء به قبلیږی ۔ (ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ)۔

تشریح : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ : په روایت د نسائی کښې دی چه دا دعاء ئے په مانځه کښې دننه غوښتله په تشهد کښې او په روایت د ابوداود کښې دی چه رسول الله ﷺ د یو سړی نه واوریدل چه په مانځه کښې ئے دعاء کوله او د الله تمجید ئے اونه کړو او په نبی علیه السلام ئے درود اونه وئیلو نو رسول الله ﷺ اوفرمایل : (عجل هذا) دے سړی جلتی اوکړه، بیا ئے راوغوښتو او هغه ته یا بل چا ته ئے اوفرمایل : کله چه یو تن په تاسو کښې مونځ کوی نو اول دِ د خپل رب تمجید او ثناء او وائی بیا دِ نبی باندے درود وائی بیا دِ دعاء غواړی چه څه ئے خوښه وی۔

فَاحْمَدِ اللّٰهَ بِمَا هُوَ اَهْلُهٗ : ددے مطلب بعض علماؤ دا بیان کړیدے چه هر قسم ښائسته صفت بیان کړه لیکن د هغے مصداق عام نه دے بلکه صحیح دا ده چه ددے نه پخپله التحیات لوستل مراد دی، ځکه پدے کښې هغه صفات دی چه لائق دی د الله تعالی سره ۔

امیر یمانیؒ په سبل السلام (۲۹۲/۱) کښې ددے حدیث نه استدلال کوی په وجوب د دعاء او صلاة او سلام په مانځه کښې ځکه په دعاء او صلاة او سلام باندے امر راغلے دے انتهیٰ ۔

او دارنګه پدے حدیث کښې ادب د دعاء ذکر دے چه اول به د الله صفات بیانولے شی او بیا به درود او بیا به دعاء غوښتے شی او پدے کښې اشاره ده چه سائل دپاره دا لائق دی چه د حاجت طلب کولو نه مخکښې مسئول منه ته ځان په وسائلو نزدے کړی ۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه ابوداود (۱۴۸۱) والترمذی (۳۴۷۶) وقال حدیث حسن وفی سنده رشدین بن سعد وهو ضعیف ولکن تابعه عبد الله بن وهب عند النسائی (۱۸۹/۱) واخرجه الحاکم ایضاً (۲۶۸/۱) وقال هذا حدیث صحیح علی شرط الشیخین ولم تعرف له علة ولم یخرجاه قال الذهبی فی التلخیص علی شرطهما۔

---

۱۳ – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ ، قَالَ : کُنْتُ اُصَلِّیْ وَالنَّبِیُّ ﷺ، وَاَبُوْبَکْرٍ وَعُمَرُ مَعَهٗ، فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَی اللّٰهِ تَعَالٰی، ثُمَّ الصَّلَاةُ عَلَی النَّبِیِّ ﷺ، ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِیْ، فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ : سَلْ تُعْطَهْ، سَلْ تُعْطَهْ . رواه الترمذیُّ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : ما مونځ کولو او نبی ﷺ حاضر وو او د هغه سره ابوبکر او عمر هم وو هر کله چه زه (د دعاء دپاره) کیناستم نو ما د الله تعالی صفتونه شروع کړل بیا مے درود په نبی علیه السلام باندے اووئیلو بیا مے ځان دپاره دعاء اوکړه نو نبی کریم ﷺ اوفرمایل : غواړه، درکولے به شی، غواړه درکولے به شی ۔ (یعنی دعاء به دِے ضرور قبلیږی) ۔ (ترمذیؒ)

تشریح : (والنبی) دا مبتداء ده او حاضر خبر ئے محذوف دے۔

تُعَظِّمُهُ : کښې هاء د سکتې ده، یا ضمیر دے راجع دے دعاء ته، نو دا حدیث هم دلیل دے چه د دعاء نه مخکښې حمد او صلاة وئیل پکار دی ځکه دا د اجابت د دعاء دپاره ښه وسیله ده لیکن په مانځه کښې به څرنګ حمد وائی ؟ نو صحیح دا ده چه په التحیات کښې چه کوم ثناء راغلې ده هغه مراد ده۔

درجة الحدیث : اسناده حسن اخرجه احمد فی المسند (۱/۳۸٦)، ٤۰۰، ٤۳۷، ٤٤٥) والترمذی (۵۹۳) وقال حدیث حسن صحیح والطبرانی فی الکبیر (۹/٦۱۷ رقم : ۸٤۱٤) والبیهقی فی الکبریٰ (۲/۱۵۳)

الفصل الثالث

۱٤ – عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ سَرَّهُ اَنْ یُّکْتَالَ بِالْمِکْیَالِ الْاَوْفٰی، اِذَا صَلّٰی عَلَیْنَا اَهْلَ الْبَیْتِ، فَلْیَقُلْ : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ، وَاَزْوَاجِهٖ اُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِیْنَ وَذُرِّیَّتِهٖ، وَاَهْلِ بَیْتِهٖ، کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ . رواه ابو داؤد .

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : څوک چه پدے خوشحالیږی چه پوره (او زیات) ثواب ورته ملاو شی نو هغه چه کله په مونږ اهل بیتو باندے درود وائی نو داسے دِے اووائی : اللهم صل الخ (اے الله رحمتونه اولیږے په محمد (ﷺ) چه امی نبی دے او د هغه په ازواج مطهرات چه د مومنانو میندے دی او د هغه په اولاد او اهل بیت باندے رحمتونه اولیږے لکه څنګه چه تا په ابراهیمؑ باندے رحمتونه نازل کړی وو یقینا ته صفتونو او شرافت والا ئے ۔(ابو داودؒ)

تشریح : اَنْ یُّکْتَالَ : یعنی چه ځانله پیمانه کړی اجر لره یعنی اجر او ثواب واخلی، یا دا صیغه د مجهول ده ای یعطی الثواب ۔ ثواب ورکړے شی ۔

دا روایت هم دلیل دے چه ازواج مطهرات هم په اهل بیت کښې داخل دی ۔

وَذُرِّیَّتِهٖ : ذریه اسم جمع ده، نسل د انسان ته وائی نارینه وی او که زنانه، جمع ئے ذریات او ذراری راځی ذریه اصل کښې خوریدلو ته وائی او دوی هم الله تعالی په زمکه کښې خواره کړیدی ځکه ورته ذریه وائی۔ **درجة الحدیث** : اسناده ضعیف اخرجه ابو داود (۹۸۲) والبیهقی (۲/۱۵۱) رقم (۲٦۹٦) وشعب الایمان (۲/۱۸۹) رقم (۱۵۰٤) وفی اسناده حبان بن یسار الکلابی، قال ابوحاتم : لیس بالقوی ولا بالمتروك، وقال فی التقریب صدوق اختلط واشار الحافظ فی التقریب الی انه لین الحدیث وذکره البخاری فی التاریخ واعل حدیثه وقال ابوداود لاباس به، وذکره ابن حبان فی الثقات وقال الالبانی انه : ضعیف ضعیف ابی داود (۲۰۷) والمشکاة (۹۳۲)

۱۵ – وَعَنْ عَلِیٍّ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَلْبَخِیْلُ الَّذِیْ مَنْ ذُکِرْتُ عَنْهُ فَلَمْ یُصَلِّ عَلَیَّ . رواه الترمذیُّ . ورواه احمد عن الحسین بن علی وقال الترمذی : هذا حدیث

حسن صحیح غریب.

ترجمه : او علی ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: بخیل هغه شخص دے چه د هغه په مخکښ زما تذکره اوشی (یعنی زما نوم یاد شی) او هغه په ما باندے درود او نه وائی - (ترمذیؒ) دا حدیث امام احمدؒ د حسین بن علیؓ نه نقل کړیدے او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن صحیح غریب دے۔

تشریح : اَلْبَخِیْلُ : دا حدیث د امام طحاویؒ دلیل دے چه درود ته واجب وائی په هر مجلس کښ چه نوم واخستل شی وهو الراجح - او البخیل کښ حصر ته اشاره ده یعنی کامل بخیل دا دے چه درود نه وائی دے ته ئے کامل بخیل ځکه اووئیلو چه دده په درود وئیلو کښ څه نقصان نه کیږی بلکه سراسر فائده ده او مشقت هم پکښ نشته څه خرچه ئے پرے نه راځی او بیا ئے هم نه وائی نو دا غټ بخیل دے ددے نه بعد په کلمه د شهادت باندے بخل پاتے دے -

درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه الترمذی (۳۵٤٦) واحمد (۱/۲۰۱) والطبرانی فی الکبیر (۱/۳۹۲) وابن السنی فی عمل الیوم واللیلة (۲۷٦) والحاکم (۱/٥٤۹) وقال صحیح الاسناد ووافقه الذهبی وله شواهد.

۱٦ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ عِنْدَ قَبْرِیْ سَمِعْتُهٗ، وَمَنْ صَلّٰی عَلَیَّ نَائِیًا، اُبْلِغْتُهٗ . رواه البیهقیُّ فِیْ شُعَبِ الایمان .

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمایلی دی: چا چه په ما باندے زما د قبر په خوا کښ درود اوویلو نو زه هغه اورم او چا چه په ما باندے د ورانده نه درود اوویلو نو هغه ما ته (د ملائکو په ذریعه) رارسولے شی - (بیهقیؒ)۔

تشریح : سَمِعْتُهٗ : دے حدیث نه معلومیږی چه نبی علیه السلام درود اوری، لیکن مخکښ مونږ اووئیل چه پدے باره کښ حدیثونه ضعیف دی ندی ثابت، او کوم حدیثونو کښ چه د ملائکو رسول راغلی دی نو هغه ثابت دی۔

اُبْلِغْتُهٗ : مجهول صیغه ده یعنی ما ته رسولے شی (د ملائکو په ذریعه)۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف جداً اخرجه البیهقی فی الشعب وفی اسناده محمد بن مروان السدی وهو کذاب ولذلك اورده ابن الجوزی فی الموضوعات لکن تعقب بان له متابعاً ینجو به الحدیث من اطلاق الوضع علیه کما نقل ابن تیمیة وغیره راجع الضعیفة للالبانی (۲۰۳)۔

۱۷ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ ، قَالَ : مَنْ صَلّٰی عَلَی النَّبِیِّ ﷺ وَاحِدَةً، صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَمَلَائِکَتُهٗ سَبْعِیْنَ صَلَاةً . رواهُ احمد.

ترجمه : او عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمائي : چا چه په نبي كريم ﷺ به يو ځل درود اوويلو نو الله تعالى او د هغه ملائك به په هغه باندے اويا رحمتونه اوليږي ـ (احمدؒ)ـ

تشريح : سَبْعِيْنَ صَلَاةً : دے روايت نه معلوميږي چه د يو درود بدله كښې اوويا درودونو ثواب ملاويږي ليكن اول خو دا حديث موقوف دے ۱– دويم كيدے شي چه دا د اسرائيلياتو نه وي ځكه چه عبد الله بن عمرو يوه رساله موندلے وه چه په هغے كښې د بني اسرائيلو خبرے وے هغه به ئے بيانولے، ۳– يا كه موقوف بمنزلة المرفوع شي چه د نبي عليه السلام نه ئے اوريدلي وي نو بيا ئے د مخكښې حديث (صلى الله عليه عشرا) سره تطبيق دا دے چه دا تعدد الوحي ده ـ

يا بناء دے په اختلاف د اخلاص د بندګانو كه د چا اخلاص زيات وي نو هغه ته اوويا درجه ثواب ملاويږي او چه د چا اخلاص كم وي نو لس ځل درود پرے ليږلے شي ـ

۳– يا حديث د ابو هريره د باب الحسنة بعشر امثالها نه دے او دا حديث د قبيلے د مضاعفة الاجر والثواب نه دے ـ ٤– ملا على القاريؒ ليكي : چه شايد دا اجر خاص وي د جُمعے ورځ پورے ځكه چه بعض رواياتو كښې راغلي دي چه د جُمعے په ورځ اعمال اوويا چنده اجر لري (مرقات : ۳٤۷/۲)

درجة الحديث : اسناده ضعيف او حسن اخرجه احمد فى المسند (۱۸۷/۲) وفيه ابن لهيعة المختلط قال الهيثمى فى المجمع (۱/ ۱٦۰) والمنذرى فى الترغيب والترهيب اسناده حسن وقال السخاوى فى القول البديع بعد ذكر الحديث : رواه احمد وابن زنجويه فى ترغيبه باسناد حسن، وحكمه الرفع اذ لا مجال للاجتهاد فيه وانظر المرعاة (۳۸۸/۳) فهو حسن عند قوم وضعيف عند الالبانى ورمضان بن احمد بن على آل عوف ـ

۱۸– وَعَنْ رُوَيْفِعٍ رضي الله عنه : اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : مَنْ صَلّٰى عَلٰى مُحَمَّدٍ، وَقَالَ : اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِيْ. رواهُ احمد .

ترجمه : او رويفع رضي الله عنه فرمائي : چا چه په محمد (ﷺ) باندے درود اوويلو او (د درود وئيلو نه بعد ئے) اوويل : اللهم انزله المقعد الخ (اے الله ! محمد (ﷺ) ته په هغه مقام كښې ځائے وركړے چه هغه ستا په نيز مقرب دے د قيامت په ورځ ـ نو د هغه دپاره زما شفاعت واجبيږي (احمدؒ)

رويفع بن ثابت بن السكن الانصاري المدني تقدم ترجمته ـ

تشريح : اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ : يعني اے الله دا اورسوه هغه مقام ته چه نزدے دے تا ته د قيامت په ورځ يعني مقام محمود، د مقعد مقرب نه مراد يا جنت كښې نزدے مقام دے يا د قيامت په ورځ مقام محمود مراد دے چه په هغے كښې به رسول الله ﷺ اودريږي او د الله تعريفونه به بيانوي او د امت دپاره به شفاعت كوي ـ ـ ـ رسول الله ﷺ خو به شفاعت تولو مسلمانانو دپاره كوي او داسے نه چه بعضو له به ئے كوي او بعضو له نه نو دلته څنګه وائي چه درود وئيلو نه پس ددے دعاء ويونكو ته به شفاعت لازم شي ؟ نو وجه دا ده چه شفاعت خو به عام وي ليكن څوك چه

درود نه پس دا دعاء وائي نو هغه دپاره به په خاص درجه سره حاصل وي ـ

۲- يا مقصد دا چه پدے حديث كښې درحقيقت اشاره ده چه څوك دا دعاء وائي نو د هغه خاتمه به بالخير وي او الله به ئے خاتمه نه خرابوي ځكه شفاعت د هغه چا كيږي چه هغه مسلمان وفات شوے وي او د كفر په حالت كښې نه وي وفات، لهذا پدے كښې نفي د شفاعت د نور چا نه نشته.

درجة الحديث : اسناده حسن، احمد في المسند (٤/١٠٨) والطبراني في الكبير (٥/١٣، ١٤) (٤٤٨٠) وفي اسناده ابن لهيعة ووفاء بن شريح الحضرمي لم يوثقه غير ابن حبان ولم يرو عنه الا اثنان وقال الحافظ في التقريب مقبول (٥٨١) واورده الهيثمي في المجمع (١٠/١٦٢) وقال: رواه البزار والطبراني في الكبير والاوسط واسانيدهم حسنة، وقال المنذري وبعض اسانيدهم حسنة.

۱۹- وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ ﷺ، قَالَ : خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ حَتّٰى دَخَلَ نَخْلًا، فَسَجَدَ فَاَطَالَ السُّجُوْدَ حَتّٰى خَشِيْتُ اَنْ يَّكُوْنَ اللهُ تَعَالٰى قَدْ تَوَفَّاهُ. قَالَ : فَجِئْتُ اَنْظُرُ، فَرَفَعَ رَاْسَهٗ، فَقَالَ : مَالَكَ ؟ فَذَكَرْتُ لَهٗ ذٰلِكَ، قَالَ : فَقَالَ: اِنَّ جِبْرَئِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ لِيْ : اَلَا اُبَشِّرُكَ اَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُوْلُ لَكَ : مَنْ صَلّٰى عَلَيْكَ صَلَّيْتُ عَلَيْهِ، وَمَنْ سَلَّمَ عَلَيْكَ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ . رواه احمد.

ترجمه : او عبد الرحمن بن عوف ﷺ فرمائي چه (يوه ورځ) رسول الله ﷺ (د مسجد نه يا كور نه) اووتلو تردے چه د كجورو په يو په باغ كښې داخل شو او هلته (الله تعالى ته) په سُجده پريوتو او سجده ئے دومره اوګده اوكړه چه زه اوويريدم (چه هسے نه) چرته الله تعالى هغه لره وفات كړے خو نه دے، نو زه د هغه د كتلو دپاره راغلم (چه ژوندے دے كه وفات شويدے؟) نبي عليه السلام سر پورته كړو او وے فرمايل : څه اوشو ؟ (يعني داسے كومه خبره راپيښه شوه چه په تا باندے دومره ګبراهټ او د غم علامت ښكاري) نو ما هغه ته صورتِ حال ذكر كړو، راوي وائي چه (ددے نه پس) رسول الله ﷺ اوفرمايل : چه جبريل عليه السلام ما ته اووئيل چه آيا تا ته دا خوشخبري (زيرے) نه دركوم چه الله تعالى فرمائي : چه څوك په تا باندے درود اووائي زه به په هغه باندے رحمت ليږم او څوك چه په تا باندے سلام اووائي زه به په هغه باندے سلام ليږم ـ (احمدؒ)

تشريح : نَخْلًا : ددے نه مراد دكجورو باغ دے، فسجد : دا سجده د شكر ده او په ډيرو احاديثو كښې ثابته ده او دا د نوي نعمت حاصليدو په وخت كول سنت عمل دے، دے حديث كښې دا راغلل چه په نبي عليه السلام باندے درود او سلام وئيلو سره د الله د طرفنه په بنده باندے رحمت او سلامونه حاصليږي ليكن مخكښې تير شو چه لس كرته درود پرے ملاويږي.

دويم دا معلوميږي چه بے اودسه باندے دا سجده جائز ده لكه په روايت د مسند احمد كښې

ورسره دي چه اودس ئے مات کړو بیا ئی سجده اوکړه۔ (فتاوی الدین الخالص وجلاء الافهام)۔

درجة الحديث : اسناده حسن احمد في المسند (۱/۱۹۱) والبيهقي (۲/۳۷۰) وفي اسناده عمرو بن ابي عمرو وهو ثقة لكن في حفظه ضعف ينزل عن رتبة الصحة الى الحسن وقال الهيثمي رجاله ثقات واخرجه الحاكم وقال : صحيح الاسناد۔

۲۰ – وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ، قَالَ : اِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوْفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْئٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ عَلٰى نَبِيِّكَ . رواهُ الترمذيُّ .

ترجمه: او امیر المومنین عمر بن خطاب ﷺ فرمائی چه : دعا ترهغه وخت پورے د آسمان او زمکے ترمینځ بنده وی او د هغے نه هیڅ شے نه خیژی ترڅو چه ته په خپل نبی باندے درود او نه وائے ۔ (ترمذیؒ) ۔

تشریح : دا روایت یا موقوف دے او د عمر وینا ده یا موقوف بمنز لة المرفوع دے ځکه دا خبره په رأی او اجتهاد نه وئیلے کیږی کما قال ابن العربیؒ ۔ په نبیك کښ خطاب عام دے خاص مخاطب ندے مراد۔ او دا حدیث دلیل دے ذ هغه علماؤ چه درود په قعده اخیره کښ فرض ګڼړی او دا راجح قول وو او د ابن عمرؓ نه مرفوعا هم نقل دی : لاتکون صلاة الا بقرائة وتشهد وصلاة عليّ قال الحافظ نقله الحسن بن عرفة في جزئه عن العمري في عمل يوم وليلة بسند جيد)

علامه بیهقیؒ په الخلافیات کښ د امام شعبیؒ نه قوی سند سره نقل کړیدی : وهو من کبار التابعین : من لم يصل على النبي ﷺ في التشهد فليعد صلاته ۔

شیخ ابو سلیمان الدارانیؒ فرمائی : کله چه ته د الله نه یو حاجت غواړے نو اوله کښ درود اووایه بیا دعا اوکړه او بیا په آخر کښ درود اووایه ځکه چه الله تعالی په خپل کرم سره د دوه درودونو په مابین کښ دعا نه رد کوی۔

فائده: دعاء به مخکښ کوی او که درود نو صحیح دا ده چه اول به درود وائی بیا به دعاء کوی دلیل : حدیث د ابن مسعود کښ تیر شو بدأت بالثناء على الله تعالى ثم الصلاة على النبي ثم دعوت لنفسي فقال النبي ﷺ : سل تعطه الخ : (ترمذی) او دا په عام احادیثو کښ راغلی دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف او حسن، والحديث صحيح اخرجه الترمذي (٤٨٦) وفيه ابوقرة الاسدي اورده ابن ابي حاتم ولم يذكر فيه جرحاً ولا تعديلاً وقال الذهبي في الميزان والحافظ في التقريب انه مجهول، ويشهد له حديث فضالة بن عبيد مرفوعاً المتقدم رقم (۱۲) في الفصل الثاني (عجلت ايها المصلي)۔

****

باب الدعاء فی التشهد

د تشهد په آخر کښې د دعاء بیان۔

او پدے کښې د مانځه نه روستو راګرځیدلو کیفیت او مسائل د سلام به ذکر کوی، ددے دعاء په حکم کښې اختلاف مخکښې ذکر شو چه واجب دے او هر قسم دعاء لوستل جواز لری لیکن منقول او ماثور ادعیه اولیٰ او افضل دی۔

۱ – عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَدْعُوْ فِي الصَّلَاةِ، يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْمَاْثَمِ وَمِنَ الْمَغْرَمِ . فَقَالَ لَهٗ قَائِلٌ : مَا اَكْثَرُ مَا تَسْتَعِيْذُ مِنَ الْمَغْرَمِ ! فَقَالَ : اِنَّ الرَّجُلَ اِذَا غَرِمَ، حَدَّثَ فَكَذَبَ، وَوَعَدَ فَاَخْلَفَ . متفق علیه۔

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به په مانځه کښې (د تشهد نه بعد) دا دعاء غوختله : اللهم انی اعوذ بك الخ (اے الله زه د قبر د عذاب نه په تا پناه غواړم او د مسیح دجال د فتنے نه په تا سره پناه غواړم او د ژوند او د مرګ د فتنے نه په تا سره پناه غواړم اے الله زه په تا سره د ګناه او قرض نه پناه غواړم نو یو ویونکی ورته اوویل : ستا د قرض نه پناه غوختل ډیر د تعجب خبره ده ؟ (یعنی ولے دومره زیات د قرض نه پناه غواړے) هغه اوفرمایل : (وجه دا ده چه قرض په وجه انسان په ډیرو نقصاناتو کښې واقع کیږی) کله چه سړے قرضدار شی نو خبرے جوړوی او دروغ وائی او وعده کوی نو وعده خلافی کوی (بخاری، مسلم)

تشریح : فِي الصَّلَاةِ : دا لفظ ټول مانځه ته شامل دے لیکن د روستو راتلونکی حدیث په بناء باندے ددے نه د تشهد نه روستو او د سلام نه مخکښې محل مراد دے۔

بیا د جمهور علماؤ په نیز ددے دعاء وئیل مستحب دی۔

(۲ – او د ابن حزم او طاؤس مذهب دا دے چه ددے دعاء لوستل فرض دی ځکه پدے کښې په روستو حدیث کښې امر راغلے دے (فلیتعوذ) او اللهم ربنا فی الدنیا حسنة والا دعاء په فرض مانځه کښې د نبی علیه السلام نه نده نقل البته تمام حالت کښې به ئے دغه دعاء زیاته لوستله خو دعاء ډیره جامعه کامله ده پدے وجه علماؤ عوامو ته ښودلے ده چه دا دعاء وایئ ځکه ډیر جامعیت دے پکښې او ددے حدیث والا دعاء باندے نبی علیه السلام امر کړیدے نو ددے وئیل هم

ضروري دي اګر چه نورې دعاګانې ورسره هم وئيل جواز لري صرف ترغيب او ترهيب د منذري کښې (٣/٥٥٠) باب الترهيب من الحسد کښې د سعد بن ابی وقاصؓ نه نقل کړې دي چه هغه دا دعاء (ربنا آتنا في الدنيا حسنة) په تهجدو کښې اووئيله۔

بيا جمهور ددې حديث دعاء ته مستحب وائي استدلال کوي په (ثم ليتخير من الدعاء اعجبه اليه) نه چه پدې کښې اختيار ورکړې شويدې په هره دعاء لوستلو کښې نو دا دليل دې چه ددې حديث دعاء لوستل فرض نه دي بلکه مستحب دي ځکه که دا واجب او فرض شي نو بيا د اختيار څه معنی ده ؟۔ او ابن حزمؒ وائي چه دا دعاء لوستل فرض دي لکه د تشهد په شان ۔ د طاوس رحمه الله ځوی په مانځه کښې اونه وئيله نو هغوی ورته حکم وکړو د واپسۍ د مانځه کما في مسلم) اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ : نبي عليه السلام د عذاب قبر نه پناه غواړي ځکه دا د ٨
هر مومن صفت دې چه هغه به د عذاب قبر نه يره کوي مونږ مخکښې په جلد اول باب اثبات عذاب القبر کښې وئيلي وو چه قبر دوه مصداقه لري يو کل ما استقر فيه اجزاء الانسان فهو قبره ۔ هر هغه مکان چه د انسان اجزاء په کښې قرارې نيسي دا د هغه قبر دې برابره ده که کنده وي او که د حيوان خيټه وي يا سمندر وي وغيره۔ دويم قبر عرف کښې دغه کندې ته وائي لهذا علی کل حال د مجرم دپاره عذاب د قبر نه انکار کول د مسلمان صفت نه دې ۔

بيا نبی کريم ﷺ د قبر نه پناه غواړي تعبداً او کله پناه غواړي دپاره د تعليم ورکولو امت ته چه تاسو پناه غواړئ ! ۔ مِنَ الْمَأْثَمِ : يا خو مصدر دې يعني ګناه کول ٢ – يا ددې نه مرا د هغه شې دې چه د ګناه سبب او باعث وي يعني مطلب دا چه د هغه اسباب د ګناهونو نه پناه غواړم يا د هغه ګناهونو نه پناه غواړم چه د هغې په نتيجه کښې بنده د عذاب قبر او د الله د ناراضګۍ مستحق ګرځي۔ الْمَغْرَمِ : علامه جزريؒ ليکي : مغرم مصدر دې او په ځائې د اسم وضع شويدې يعني اسم مصدر دې، مراد پدې سره د ګناهونو او معاصيو مغرم او تاوان دې ۔

يا مغرم په معنی د غرم سره يعني قرض مراد ترينه غلبه د دين دې ځکه لګ قرض اخستل به دې ميمونه رضی الله عنها به لګ قرض کولو او حديث به ئې پيش کولو چه (ان الله مع المديون) نو وئيل به ئې چه زه د الله ملګرتيا او امداد حاصلول غواړم۔

٣ – يا دا چه ددې نه مراد هغه قرض دې چه په ناروا کښې وي يا هغه قرض دې چه انسان ئې واخلي او بيا د هغې نه عاجز شي۔

علامه سنديؒ فرمائي : ظاهر دا ده چه ددې نه مراد هغه قرض دې چه هغه په يو سبب د اسبابو سره ګناه ته اورسي۔

حکمت : د قرض نه د پناه طلب کولو باندې يو صحابي ته تعجب اوشو چه په قرض کښې خو داسې کوم بديت نشته چه د هغه نه پناه اوغوښتې شي بلکه پدې سره خو ډير کرتې د

ضرورتمندو ضرورتونه پوره کيږي او په دنياوي حالاتو کښې کافي حد پورې مدد ملاويږي نو رسول الله ﷺ ددې نه څنګه پناهي غواړي، پدې وجه ئې تپوس اوکړو نو رسول الله ﷺ هغه ته ددې حکمت بيان کړو چه د قرض په وجه انسان په ډيرو ناروا وکښې واقع کيږي نو درحقيقت دا د ډيرو نقصاناتو سبب دې او هغه دا چه پدې سره اول خو چه کله د چا نه قرض اخلي نو پدې حالت کښې هم ډير دروغ او خلاف الواقع خبرې کوي او بيا چه کله د چا نه قرض واخلي او موقع د ادائيګۍ راشي نو هغه پکښې وعده خلافي کوي او بيا د وعده خلافئ دپاره غلطې بهانې کوي او دروغ جوړوي چه فلاني فلاني ځائې ته تلې وم څکه خپلې موقع ته راونه رسيدم او کله ورته وائي نن صبا به ئې درکړم کله پکښې منکر هم شي ـ او پدې باندې تجربه شاهده ده چه انسان ته کله قرض ورې راشي نو دا ورسره بد اخلاقي کوي او داسې ورته ښکاري لکه چه دده نه مال تښتوي نو ددې وجې نه زمونږ دا وصيت دې چه د هيچا نه اول قرض مه اخلئ او که قرض واخلئ نو د خپلې نيتيې نه مخکښې مخکښې اداء کوئ، بل چا نه قرض اخله خو خپل موقعه باندې قرض اداء کړه نو پدې سره به ستا اعتبار او ايمان هم نه خرابيږي او الله به درسره مدد هم کوي ليکن نن صبا لوئې مصيبت دا دې چه څوك قرض اخلي نو ابتداء کښې ښه خوشحاله وي لکه چه غنيمت ورته ملاو شي ليکن زړه کښې ئې دا درد نه وي چه پردې مال دې، ما نه به ددې مطالبه کيږي ددې وجې نه اکثرو خلقو له الله توفيق د ادائيګۍ نه ورکوي څکه دده اراده د اداء نه وي او بعض ښه خلق خو اراده د ادائيګۍ لري ليکن غافل وي هرڅه ترې بيا هير شي، وخت په وخت به انسان هغه رايادوي او د هغې دپاره به کوشش کوي يو حديث کښې دي: چا د خلقو مالونه واخستل او اراده د ادائيګۍ وي نو الله به ئې پرې ادا کړي (توفيق به ورکړي) او چا چه مالونه د خلقو واخستل او اراداه د ادائيګۍ نه وي نو الله به ئې پرې هلاك کړي (اوآئنده کښې به توفيق د ادائيګۍ هم نه ورکوي) ډير خلق ولې پداسې پريشانتيا کښې ګرفتار دي وجه دا ده چه هغه پردې مال حلال ګڼړي وائي ما سره نه شته څه به رانه واخلي، پرې وژلې مې نشي، دا دې دينه خلقو خبرې دي، وررونو پدې وصيت باندې عمل اوکړئ نو خلقو کښې به ښه مشهور شئ او هر سړې به درله په آسانئ سره قرض درکوي او د ځان نه کنړه کوتره مه جوړوه چه قرض واخلې او بيا درنه هير شي۔

٢ – وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : إِذَا فَرَغَ اَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الآخِرِ، فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ اَرْبَعٍ : مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ . رواهُ مسلم .

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه کله يو تن ستاسو د آخرى

تشهد (یعنی التحیات) نه فارغ شی نو هغه له پکار دی چه د څلورو څیزونو نه په الله تعالی سره پناه طلب کړی: (۱) د جهنم د عذاب نه (۲) د قبر د عذاب نه۔ (۳) د ژوند او مرګ د فتنې نه (٤) د مسیح دجال د بدئ نه۔ (مسلمؒ)

تشریح: د تشهد آخر نه په آخر د مانځه کښې تشهد مراد دے او دا مطلب نه دے چه دا دعاء به په دویمه قعده کښې وئیلے شی۔ نه بلکه دوه رکعاتی مانځه کښې هم دا لوستے شی خو چه آخر د مانځه وی او تشهد خلاص شی لکه چه د نورو احادیثو نه معلومه ده۔

۳– وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ: اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هٰذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، يَقُوْلُ: قُوْلُوْا: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ. رواهُ مسلم

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی: نبی علیه السلام به دوی (صحابه کرامو) ته دا دعاء داسے خودله لکه څنګه چه به ئے ورته سورت د قرآن خودلو وئیل به ئے داسے وایئ: اللهم انی اعوذ بك الخ ترجمه ئے مخکښې تیره شوه) (مسلمؒ)۔

تشریح: اَلْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ: دجال ته مسیح پدے وجه وائی چه مسیح د مسح نه دے په معنی د ورانولو سره نو ده ته مسیح څکه وائی چه دده یوه سترګه مسح شویده، کانړے دے، ممسوح عینه الیمنی۔ ۲– یا مسیح د مساحت نه دے په معنی د زمکه قطع کولو نو دا به هم په دنیا کښې د شر دپاره ډیر ګرځی۔ بعض معنی کوی چه مسیح معنی ده الممسوح عن کل خیر ای مبعد عنه: یعنی د ټولو نیکیانو او د خیر او برکت خبرو او کارونه بالکل بعید او ناشنا داسے چه په هغه باندے دډیے څیزونو سورے هم نه وی پریوتے او ظاهره ده چه داسے بد خصلتونو والا شخص د دجال نه علاوه بل څوك کیدے شی؟۔ **او عیسی** علیه السلام ته چه مسیح وائی د هغے وجے دا دی: (۱) مسیح ورته څکه وائی چه دا د مور نه داسے پیدا شوے وو لکه په غوړو او تیلو چه غوړ شوے وی۔ (۲) یا زکریا علیه السلام په ده باندے لاس راخکلے وو۔

(۳) یا فعیل بمعنی الفاعل دے یعنی ماسح چه ده به چا باندے لاس راخکلو نو هغه به جوړیدو۔ (٤) یا مسیح بمعنی السائح دے (زمکه کښې ګرځیدونکے) نو دے به هم زمکه کښې ګرځیدو د دین د دعوت دپاره او په یهودو به ئے ردونه کول۔

(۵) یا دا چه ده به (مسوح) ټاټ اغوستلو۔ (٦) یا مسیح اخمص القدمین ته وائی نو دده د خپے دپاره (اخمص) خپره نه وه او قدم به ئے په زمکه باندے جوخت نه لګیدو پوره منډ به ئے نه جوړیدو۔ (۷) بعض وائی: اصل کښې په عبرانئ کښې ماشیخا وو په معنی د مبارك سره۔

(٨) بعض وائي مسيح په عربي کښې صديق ته وائي.
فتنة المسيح نه مراد هغه ناشنا کارونه دي چه د هغه په لاسونو به ئے الله تعالى راښکاره کوي چه په هغې سره به ضعيف الايمان خلق گمراه کوي چه جنت او جهنم به لاس کښې ښکاره کوي، او د انسان نه به روح اوباسي، مور او پلار به ورله راژوندي کوي نو دا ډير لوئي امتحان دے ځکه هر نبي ترے خپل قوم يرولے دے. فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ: محيا په معنى د حيات، او ممات په معنى د موت سره او يا زمانه د ژوند او زمانه د مرگ مراد ده معنى دا چه د دنيا او د مرگ نه پس امتحاناتو نه مو بچ کړے. يا ددے نه مراد د مرگ وخت دے او د قبر سوال وجواب دے (القرطبيؒ).
بعض وائي: د ژوند فتنه دا ده چه د صبر او د رضا د فقدان په وجه د ژوند مصيبتونه او تکليفونو کښې گرفتار شي او نفس په هغه څيزونو کښې مشغول او مستغرق شي چه د حق او هدايت د لارے نه اړول کوي او په گناهونو باندے هميش والے شروع کړي او د هدايت د لارے تابعداري پريدي او د فتنے د مرگ نه مراد دا چه د مرگ په وخت په حالت د نزع کښې شيطان لعين انسان ته حاضر شي او خپل مکر وفريب سره د وسوسو جال خور کړي او انسان په هغې کښې گرفتار کړي او د دنيا نه ئے د کفر او شك په حالت کښې بوځي دغه شان د نکير منکر د سوالاتو سختي او د قبر حيرانتيا او گبراهټ او په عذاب گرفتاريدل تول فتنه د مرگ ده او تخصيص بعد التعميم دے (طيبيؒ). بيا پدے مقام کښې علماؤ دا اشکال ذکر کړيدے چه نبي ﷺ خو معصوم دے هغه ته خو تول گناهونه معاف کړے شويدي نو ولے داسے پناهي غواړي ؟. ددے **اشکال** مختلف جوابونه شويدي (١) يو دا چه مقصود پدے حديث کښې امت دپاره تعليم دے چه تاسو ددے څيزونو نه معافي غواړئ لکه روستو حديث د ابن عباس کښې راځي (كان يعلمهم هذا الدعاء) ٢– يا پدے کښې اظهار د تواضع او عبوديت دے او د الله نه يريدل او هغه ته ځان په هر حالت کښې محتاج گڼړل دي. ٣– دارنگه پدے پناهي طلب کولو سره د رسول الله ﷺ حسنات او درجات پورته کيږي پدے وجه هغه به پدے دعاء باندے هميش والے کولو نو زمونږ دپاره خو ډير ضروري ده سره ددے نه چه مونږ ته خو د مغفرت اعلان هم ندے شوے. ٤– يا دا چه پدے کښې د امت دپاره پناهي طلب کول دي نو معنى دا ده (اعوذ بك لامتي) ليکن مخکني مطلبونه واضح دي.

٤– وَعَنْ اَبِيْ بَكْرِ الصِّدِّيْقِ ؓ، قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُوْلَ اللهِ! عَلِّمْنِيْ دُعَاءً اَدْعُوْ بِهٖ فِيْ صَلَاتِيْ. قَالَ: قُلْ: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْماً كَثِيْراً، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ، فَاغْفِرْ لِيْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِيْ، اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ. متفق عليه.

ترجمه : او ابوبکر صدیق ﷺ فرمائي : ما اووئیل : اے د الله رسوله ! ما ته یوه داسے دعاء اوښایه چه زه ئے په خپل مانځه کښ (د درود نه پس) وایم، هغه اوفرمایل : دا (د دعاء) وایه : اللهم انی ظلمت نفسی الخ (اے الله ! بیشکه ما خپل نفس باندے ډیر ظلم کړیدے او ستا نه سوا څوك ګناهونه نشي بخلے نو ته ما ته بخنه اوکړه په خاص طور سره بخنه او په ما باندے رحم اوکړه یقینا ته بخونکے او رحم کونکے ئے ۔ (بخاری ومسلم) :

د ابوبکر صدیق ﷺ تعارف : دده نوم عبد الله بن عثمان ابی قحافه بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تیم بن مره التیمی ۔ ابوبکر ته الصدیق الاکبر، خلیفة رسول الله ﷺ وصاحبه فی الغار او عتیق وئیلے شی ځکه نبی علیه السلام فرمائي : څوك چه غواړی چه عتیق من النار (د اور نه آزد شخص) ته اوګوری نو ابوبکر ته دِ اوګوری، په سړو کښ اول مسلمان دے، میمون بن مهرانؒ وائي : ابوبکر په نبی علیه السلام باندے د بحیر الراهب په زمانه کښ ایمان راوړے وو، ابوبکر په مکه مکرمه کښ د واقعة الفیل نه دوه کاله او ځلور میاشتے څه ورځے کم پس پیدا شویدے۔ او د رسول الله ﷺ سره تولو مشاهدو او معارکو ته حاضر شویدے او نه ترے په جاهلیت او نه په اسلام کښ جدا شویدے او دا په تولو صحابو کښ افضل دے علی الاطلاق ۔ او دده صرف دا خصوصیت دے چه دده پلار او ځوی او نمسی تول صحابه دی ځکه پلار ئے ابوقحافه هم مسلمان او ځوی عبد الرحمن وغیره ۔ او عبد الله بن زبیر ئے نمسے دے د آسماء ځوی دے۔ دا سپین رنګ والا وو، اشقر (سپین والے ئے سور والی ته مائل) وو، نرم، نرمے بدن والا، نری ورکین والا، لږو ځنړو والا وو۔

عمر فاروق ﷺ وائي : ابوبکر خیرنا وسیدنا واحبنا الی رسول الله او فضائل ئے ډیر زیات دی، په مدینه کښ په لیلة الثلاثاء چه په جمادی الاولیٰ کښ اته ورځے باقی وے په کال (۱۳) هجری کښ د مابنام او ماسخوتن ترمینځ د (۶۳) کالو په عمر وفات شو او دا وصیت ئے اوکړو چه ما ته دِ (زما بی بی) اسماء بنت عمیسؓ غسل راکړی نو د وصیت مطابق هغے ورته غسل ورکړو او هغه پدے ورځ روژه هم وه ۔ او عمر فاروق پرے جنازه اوکړه او د رسول الله ﷺ سره په یوه کوټه کښ خخ شو او خلافت ئے دوه کاله ځلور میاشتے وو ۔ (۱۴۲) احادیث ئے امت ته نقل کړیدی دومره کم حدیثونه ترے نقل دی ځکه چه دده د نبی علیه السلام نه پس ژوند کم وو نو موقعه د بیان نه وه پدے وجه ئے دغه حدیثونه بیان کړیدی ورنه دا عالم په ډیرو باندے وو او دده په تاریخ او سیرت باندے مستقل کتابونه لیکلے شویدی لکه یو ښه کتاب محمد رضا لیکلے دے په ځلورو واړو خلفاؤ او حسنین باندے بیل بیل جلد۔

تشریح : عَلِّمْنِیْ دُعَاءً : دا به په کوم ځائے کښ وائی؟ محل ندے معلوم. نو امام بخاریؒ په خپل صحیح کښ دیته اشاره کوی چه دا به د سلام نه مخکښ وائی او ددے تائید امام نوویؒ او

ابن دقيق العيدؒ او عينيؒ كړيدي وائي چه دا اګرچه عام دے ليکن دلته ترے تشهد اخير مراد دے ځکه چه په مانځه کښې د هر مقام دپاره خاص خاص ذکرونه دي او ددے دعاء محل ندے معلوم نو ددے محل به آخر د تشهد وي لکه د قيام دپاره ذکر قرائت دے او د رکوع او سجدے دپاره خپلے دعاګانے دي او قعود دپاره تشهد دے نو د دعاء بل محل پاتے نشو سوئ د سلام نه مخکښې او د تشهد نه روستو. ٢- علامه فاکهانيؒ وائي: دا دعاء به په رکوع او سجده او آخر د مانځه کښې وائي او ټولو کښې به ئے جمع کوي ځکه پدے دواړه محلونو کښې امر په دعاء راغلے دے لهذا دا هم يوه دعاء ده نو دواړو کښې به ئے لولي. ليکن اول قول راجح دے. هان په مسجده کښې ئے هم وئيلے شي. ظُلْماً كَثِيْراً: دا کله په لفظ د کثيرا نقل کيږي او کله په لفظ د کبيرا سره کما في مسلم. نو کله يو وئيل پکار دي او کله بله.

فوائد الحديث: (١) په حديث کښې د ابوبکر صديق فقاهت ذکر دے چه پدے پوهه وو چه مونځ ډيره نږدے وسيله ده په مابين د بنده او د رب کښې او دا د دعاء د استجابت مقام دے نو پدے وجه ئے د نبي عليه السلام نه مطالبه اوکړه چه ما ته يوه فائده منه دعاء اوښايه چه ددے مقام سره مناسبه وي. (٢) پدے دعاء کښې د بنده اقرار دے په خپلو ګناهونو او اقرار د تقصير دے او توسل دے الله تعالی ته په اسماءِ حسنیٰ سره په وخت د طلب د حاجاتو کښې.

(٣) حديث کښې ترغيب دے طلب د علم ته او سؤال د علماؤ ته خاصکر په مهمو مسائلو او مقاصدو کښې. (٤) دارنګه عالم له پکار دي چه هغه د متعلم خير خواهي اوکړي او هغه شي ته ئے متوجه کړي چه دده دپاره ډير فائده مند وي.

(٥) دا دعاء د سلام نه مخکښې لوستل هم جائز دي سره د نورو دعاګانو نه. او که چا په سجده کښې اولوستله هم جواز لري.

٥- وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ: كُنْتُ اَرٰى رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهٖ وَعَنْ يَسَارِهٖ حَتّٰى اَرٰى بَيَاضَ خَدِّهٖ. رواهُ مسلم.

ترجمه: او عامر بن سعد د خپل پلار محترمؓ (سعد بن ابی وقاص ؓ) نه روايت کوي چه هغه فرمائي: ما په رسول الله ﷺ ليدلو چه نبي او ګس طرفته به ئے (داسے) سلام ګرځولو چه ما به د هغه د اننګو سپينوالے اوليدلو. (مسلمؒ)

عامر بن سعد د سعد بن ابی وقاص ځوئ دے، قريشي، زهري ثقه د اوساط التابعين نه دے په سنه (١٠٤ هـ) کښې وفات دے.

تشريح: يسلم عن يمينه وعن يساره د سلام د حکم متعلق مسئله مخکښې تيره شوه چه راجح قول دا دے چه دا فرض دے او بغير ددے نه مونځ صحيح نه دے.

د مانځه نه په وتلو کښې څو سلامونه دي؟ دا حديث دليل دے په مشروعيت د دوه

سلامونو گرځولو اول ښی طرفته او دویم گس طرفته خو ددے کښې اختلاف دے چه آیا دوه سلامونه فرض دی او که مستحب؟۔ (۱) د امام احمد نه دوه روایتونه دی ۱ – مشهور روایت دا دے چه دواړه سلامونه گرځول فرض دی او یو د بل نه نه کافي کیږی په مانځه کښې ۔ او دا قول امام طحاوی د حسن بن صالح نه نقل کړیدے او د بعض اصحاب مالك قول دے او ابن عبد البرّ د بعض اهل ظواهرو نه نقل کړیدے ۔ ۲ – دویم روایت صاحب مغنی او الشرح الکبیر ذکر کړیدے او هغے ته ئے صحیح وئیلے دے چه اول سلام اړول فرض دی او دویم سنت دی ۔

(۲) د احنافو نه هم دوه روایته دی ۱ – یو دا چه اول سلام واجب او دویم سلام سنت دے۔

۲ – دویم روایت ابن عابدین الشامی، صاحب البرهان او کبیری ذکر کړیدے چه دواړه سلامونه ښی او گس طرفته واجب دی او دا په کلام د صاحب البدائع کښې هم راغلی دی لهذا د دوی په نزد سلام فرض نه دے بلکه د مانځه نه خروج په سلام هم جائز او په کلام وغیره سره هم جائز دے خو که سلام اونه گرځوی نو مونځ ئے صحیح دے البته واجب ترے پاتے شو مکروه تحریمی شو۔ (۳) د امام شافعیؒ په نزد باندے اول سلام فرض او دویم مستحب دے کما فی الام (۱/۱۰٦) والمجموع (۳/٤٨٢) وان اقتصر رجل علی تسلیمة واحدة فلا اعادة علیه قاله الشافعی۔

(٤) علامه شوکانیؒ فرمائی: عبد الله بن موسی بن جعفر د اهل بیت نه وائی چه درے سلامونه گرځول فرض دی یو سلام ښی طرفته او بل گس او بل تلقاء وجهه (مخامخ)۔ دلیل دا وائی چه په حدیث د عائشہؓ کښې دی (چه په فصل ثالث کښې راروان دے) چه نبی علیه السلام به تلقاء وجهه (مخ ته مخامخ) سلام اړولو او پدے حدیث د عامر بن سعد کښې او حدیث د ابن مسعودؓ کښې دوه سلامونه گرځول دی لهذا درے واړه سلامونه به جمع کولے شی لیکن دا قول فاسد دے ځکه دواړه حدیثونه جدا جدا عملونه دی نو جمع کولو باندے هیڅ دلیل نشته انظر النیل (۲/۳٤۲) وبلوغ الامانی (٤/٤١) (٥) د امام مالكؒ په نزد باندے صرف یو سلام فرض دے مخی ته او بیا به ښی طرفته لگ سر راتاؤ کړی او دا قول د ابن عمر، انس بن مالك، سلمه بن الاکوع او عائشه رضی الله عنهم او د حسن بصری، ابن سیرین، او عمر بن عبد العزیز رحمهم الله دے کما قال النوویؒ فی المجموع (۳/٤٨٢) ۔ اگرکه امام مالكؒ په کښې لگ تفصیل کوی او هغه دا چه وائی: که منفرد یا امام وی نو یو سلام به مخی ته اړوی او که مقتدی وی نو درے سلامه به اړوی اول ښی طرفته دویم به امام ته مخامخ د هغه د سلام جواب ورکوی او دریم به گس طرفته اړوی که چرته په گس طرف کښې ئے څوك وی۔

استدلال کوی په فعل د ابن عمرؓ باندے چه هغه به دغه شان درے سلامونه اچول لیکن د هغه سره هیڅ صحابی موافقه نه ده کړه دا د هغه د تفرداتو نه دی (الموطأ، والبیهقی)۔

قاضی ابن العربیؒ فرمائی: (فسلموا واحدة للتحلیل من الصلاة کما احرمتم بتکبیرة واحدة، وسلموا

اخرىٰ تردون بها على الامام، والذى على يساركم، واحذروا عن تسليمة ثالثة فانها بدعة) **يعنى يو سلام اړولو سره انسان د مانځه نه اوځى لكه څنګه چه په يو تكبير سره په مانځه كښ داخليږى او دويم سلام به په جواب د امام او ګس طرف خلقو كښ وى او د دريم سلام نه ځان ساتئ ځكه دا بدعت دے آه۔**

پدے اقوالو كښ د شوافع او مالكيه و قول په اعتبار د دليل سره راجح دے چه يو سلام ګرځول فرض دى او دويم سلام مسنون دے نو كه چا يو سلام باندے اكتفاء اوكړه نو مونځ ئے جائز دے لكه ابن المنذرؒ او نووىؒ پدے خبره باندے اجماع د علماؤ نقل كړيده او دوه سلامونه په يو ځل اړول مسنون دى ځكه دا په ډيرو او عامو احاديثو كښ راغلى دى نو نبى عليه السلام په اكثره زندګئ كښ دوه سلامونه ګرځولى دى او كله نا كله ئے يو باندے هم د بيان الجواز دپاره اكتفاء كړيده د دوه سلامونو احاديث خو بار بار راځى، يو پدے حديث الباب كښ راغلل۔

او د يو سلام ګرځولو دليل د عائشےؓ په حديث كښ راغلے دے چه هغه د رسول الله ﷺ د شپے د مانځه طريقه بيانوى فرمائى : كان رسول الله ﷺ يسلم فى الصلاة تسليمة تلقاء وجهه (رواه الترمذى واحمد كذا فى الفتح الربانى : ٤/٤٤) وفى رواية : ثم يسلم تسليمة واحدة السلام عليكم يرفع بها صوته يوقظنا وانظر ابن ابى شيبة (١/٣٠٠) من كان يسلم تسليمة واحدة والتنقيح (١/٤٢٢)۔

جمهور علماء ددے جواب كوى چه دا حديث ضعيف دے، امام نووىؒ وائى : اتفق اصحابنا فى كتب المذهب على تضعيفه آه۔ **٢- يا دا مخالف دے د هغه حديث د عائشےؓ نه چه په هغے كښ دوه سلامونه ذكر دى، ليكن تحقيق دا دے چه ددے حديث ډير متابعات موجود دى چه د هغے په وجه درجے د صحت ته رسى لكه حافظ په تلخيص كښ وائى :** وروى ابن حبان فى صحيحه وابو العباس السراج فى مسنده عن عائشة من وجه آخر شيئاً من هذا اخرجاه من طريق زرارة بن اوفى عن سعد بن هشام عن عائشة فذكر نحو رواية الامام احمد وقال اسناده على شرط مسلم آه۔

علامه ساعاتىؒ په الفتح الربانى (٤/٤٤) كښ فرمائى : قلت وبهذا تعرف عدم صحة قول العقيلى "ولا يصح فى تسليمة واحدة شيئ" ۔ **يعنى ددے نه معلومه شوه چه د عقيلىؒ دا قول – چه په يو سلام كښ هيڅ حديث صحيح نشته – صحيح نه دے ۔**

او د عائشےؓ د دواړو حديثونو مخالفت هم نشته بلكه دا اعمال محمول دى په مختلف اوقاتو باندے اكثرو اوقاتو كښ دوه سلامونه او كله كله يو سلام باندے هم اكتفاء جائز ده ۔

بله دا چه د يو سلام په باره كښ ځانله د عائشےؓ حديث خو نه دے بلكه نور ډير شے احاديث شته لكه : ٢- سلمه بن اكوعؓ فرمائى : رأيت رسول الله ﷺ صلى فسلم مرة واحدة رواه ابن ماجه رقم (٧٥١) وصحيح ابن ماجه (١/١٥٢) **يعنى ما رسول الله ﷺ اوليدو چه په مانځه كښ به ئے يو ځل سلام اړولو۔ ٣- عبد المهيمن بن عباس بن سهل بن سعد الساعدى د خپل پلار هغه د نيكه نه**

روايت نقل كوى : (سهلؓ فرمائى) ان رسول الله ﷺ سلم تسليمة واحدة تلقاء وجهه (صحيح ابن ماجه رقم : ٧٤٩) وصفة صلاة النبى واحكام الجنائز ص (١٢٨) ـ

٤ – حديث د انسؓ طبرانى فى الاوسط والكبير (٣٢/٢) قال الهيثمى رجاله رجال الصحيح انظر تعليق زاد المعاد (٢٥١/١) لهذا ثابته شوه چه يو سلام هم كله نا كله اړول سنت عمل دے ـ

او د يو سلام وجوب د (تحليلها التسليم) نه معلوميږى ځكه دلته التسليم مطلق دے يو سلام اړولو سره پدے باندے عمل راځى ـ

او چا چه دا جواب كړيدے چه د تسليمة واحدة نه مراد جهر د يو سلام دے چه يو سلام ئے په زوره وئيلے دے نو ددے نه دا معلوميږى چه ګنے بل سلام ئے ندے ګرځولے بلكه دوه سلامونه دى خو يو په جهر سره او بل خفيه طريقے سره شويدے ليكن دا تاويل د دوى د ظاهر د حديث خلاف دے او هيڅ ضرورتً ورته نشته بلكه تول منل پكار دى او خپل مينځ كښ ئے تعارض نشته ـ

راجع للتفصيل نيل الاوطار (٣٤٢/٢) والمغنى (٦٢٥/١) وبلوغ الامانى (٤١/٤) والمجموع (٤٨٢/٣) وتوضيح الاحكام (١١٥/٢) والمرعاة (٢٩٩/٣) والروضة الندية (٩٢/١) للصديق حسن خان وفتاوى الدين الخالص (٤٢٢/٤) ـ

المسئلة الثانية : كيفيات الفاظ السلام : د سلام د الفاظو په احاديثو كښ يو څو كيفيات راغلى دى : (١) السلام عليكم ورحمة الله : دواړو طرفونو ته لكه چه مشهوره طريقه ده كما فى النسائى وابن ماجه وابن ابى شيبه ـ (٢) ښى طرفته السلام عليكم ورحمة الله وبركاته او ګس طرفته السلام عليكم ورحمة الله وئيل لكه دا په ابوداود (١٥٠/١) او ابن خزيمه (٣٥٩/١) كښ راغلى دى : عن علقمة عن وائل عن ابيه قال : صليت مع النبى ﷺ فكان يسلم عن يمينه السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وعن شماله السلام عليكم ورحمة الله – صححه عبد الحق فى احكامه (٥٦/٢) والنووى وابن حجر العسقلانى ورواه عبد الرزاق (٢١٩/٢) وابويعلى فى المسند (١٢٥٣/٣) و الطبرانى فى الكبير (٦٧/٣/٢) بسند صحيح وانظر صفة صلاة النبى ص (١٤٩) ـ

شيخ البانىؒ وائى : «وكان احياناً يزيد فى التسليمة الاولى : وبركاته»

٣ – **كيفيت** : السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ـ دواړو طرفته لكه دا په نسخه د ابن الاعرابى د ابوداود كښ ذكر دى (١٥٠/١) او حافظ ابن حجرؒ دغه روايت د ابوداود باسناد صحيح په بلوغ المرام كښ ذكر كړيدے د وائل بن حجر حديث دے : قال : صليت مع النبى ﷺ فكان يسلم عن يمينه السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وعن شماله السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ـ شيخ مباركفورىؒ فرمائى : پوهه شه چه اكثرو نسخو د ابوداود كښ د دويم سلام سره د (وبركاته) زيادت ندے موجود، دا صرف د اول سلام سره ذكر دے، ددے وجے نه بعضو ګمان كړيدے چه حافظ ابن حجرؒ ددے زيادت د دويم سلام سره په نقل كولو كښ خطاء شويدے ليكن اصل كښ دغه اعتراض

كوګكے انسان خطاء دے ځكه چه دغه زيادت د دواړو سلامونو سره په بعض صحيح معتمدو نسخو كښې موجود دے (تعليق بلوغ المرام : ٩٦) و نقله فى توضيح الاحكام (١١٣/٢) ايضاً ـ

امام ساعاتيؒ فرمائى : حافظ ابن حجرؒ په تلقيح الافكار تخريج الاذكار كښې د نوويؒ په خبره رد كوى چه هغه وئيلى دى چه زيادت د وبركاته روايت فرد دے، ابن حجرؒ ددے دپاره ډير طرق ذكر كړيدى او بيا ئے وئيلى دى چه دا يو څو طرق دى چه پدے سره د وبركاته زيادت ثابتيږى په خلاف د هغه خبرے چه د كلام د شيخ نه معلوميږى چه دا روايت فرد دے ـ انظر بلوغ الامانى (٤١/٤)

ليكن زمونږ په مكتبه كښې د ابوداود په نسخه د ابن الاعرابى (١٥٠/١) كښې په حاشيه باندے دا زيادت موجود دے ـ او دا د عماربن ياسرؓ نه هم مصنف عبد الرزاق (٢٢٠/٢) كښې نقل دے (وفى سنده ابى اسحاق) او د اسود نه په روايت د ابن ابى شيبه (٣٠٠/١) كښې نقل دے او دغه شان حديث چه دواړو طرفته وبركاته پكښې راغلے وى صحيح ابن خزيمه (٣٥٩/١، ٣٦٠) كښې موجود دے ولكن فى سنده ابواسحاق السبيعى مختلط مدلس وقد عنعنه ـ

لهذا ثابته شوه چه دواړو طرفته وبركاته وئيل هم مسنون عمل دے ـ

٤– كيفيت : السلام عليكم ورحمة الله ښى طرفته او صرف السلام عليكم كس طرفته لكه دا په حديث د نسائى (٢٨٥/١) كښې راغلے دے : عن واسع بن حبان قال : قلت لابن عمر اخبرنى عن صلاة رسول الله ﷺ كيف كانت ؟ قال : فذكر التكبير قال : يعنى وذكر السلام عليكم ورحمة الله عن يمينه والسلام عليكم عن يساره وهو حديث حسن صحيح واخرجه احمد وابوالعباس السراج وانظر صحيح سنن النسائى رقم : (١٢٥٣) بسند صحيح ـ

٥– كيفيت : ښى او كس دواړو طرفونوته صرف السلام عليكم وئيل لكه دا په حديث د نسائى (٢٨٥/١) كښې دى صحيح سنن النسائى رقم (١٢٥٨) عن جابر بن سمرة قال : صليت مع رسول الله ﷺ فكنا اذا سلمنا قلنا بايدينا : السلام عليكم وكذا فى مسند احمد مع الفتح الربانى ٤٢/٤)

اګركه مسلم (١٨١/١) كښې الفاظ د السلام عليكم ورحمة الله دى مګر صرف السلام عليكم دواړو طرفته مستقل په مصنف عبد الرزاق (٢١٩/٢) كښې راغلى دى او د معمر نه هم نقل دى چه هغه به دا كار كولو مصنف (٢٢٠/٢) او دا د على رضى الله عنه عمل هم وو لكه مصنف عبد الرزاق (٢١٩/٢) كښې راغلى دى ـ

٦– طريقه : يو سلام مخامخ اړول او لګ شان ښى طرفته مائل كول لكه مخكښې ئے مخارج بيان شول ـ اَرٰى بَيَاضَ خَدِّهٖ : پدے كښې طريقه د سلام ګرځولو ذكر ده، بعض خلق په سلام ګرځولو كښې تول صفت ته ګورى دا ښه طريقه نه ده بلكه سنت طريقه دا ده چه دومره مخ به اړوى چه روستنو خلقو ته ئے اننګے ښكاره شى ـ

٦– وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ ؓ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا صَلّٰى صَلَاةً اَقْبَلَ عَلَيْنَا

بِوَجْهِهٖ .رواه البخاریؒ.

ترجمه: او سمره بن جندب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله مونځ اوکړو (فارغ به شو نو مونږ ته به ئے مخ راوګرځولو . (بخاریؒ).

تشریح: اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ : یعنی مونږ ته به ئے مخ راړولو.

بیا **اشکال** دے چه نورو حدیثونو کښې دی (لکه روستو حدیث نمبر (۷) او (۸) کښې دی) چه رسول الله ﷺ به (ینصرف عن یمینه او ینصرف عن یساره) ښي او ګس طرفته مخ اړولو او دے حدیث نه معلومیږی چه مخ به ئے راړولو او مخامخ به کیناستو نو دا خو د هغے خلاف معلومیږی ددے توفیق به څه وی ؟.

الجواب : نو ددے اشکال په جواب کښې دوه طریقے دی (۱) اوله دا چه بعض علماء وائی دا د مختلفو اوقاتو اعمال دی کله به ښي طرفته کیناستو او کله به ګس طرفته او کله مخامخ فلا اشکال. لیکن دا جواب ضعیف دے د الفاظو سره پوره سمون نه خوری لهذا دا سنت عمل نه دے چه یو طرفته مخ راوګرځوی او په طرف کینی.

۲– دویم جواب دا دے چه د دواړو حدیثونو مطلبونه جدا جدا دی لکه محققین محدثین وائی چه دا به مونږ په مختلف اوقاتو هله محمولوو چه دا ټولے طریقے ثابتے شی او حال دا چه د ینصرف عن یمینه او عن یساره مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ به د سلام ګرځولو نه پس مقتدیانو ته کله په ښي طرفته مخ راګرځولو او کله نا کله به په ګس طرف باندے راتاویدو نو دا مخالف نه دے د مخامخ کیناستو سره ځکه په ټولو حالتونو کښې امام دپاره سنت عمل دا دے چه مقتدیانو ته به مخامخ کینی او د قبلے نه مخ راتاوولو کښې دوه طریقے جائز دی لکه د امام بخاریؒ د طرز نه دا معلومیږی چه هغه باب تړی باب یستقبل الامام الناس اذا سلم (۱/۱۱۷) یعنی امام به کوږ نه کینی د مقتدیانو نه مروړ به نه کینی نو اولنی حدیثونه په باره د انصراف کښې دی یعنی کله به چپ او کله به ښي طرفته راتاویږی خو مخامخ به کینی، نو دا التزام مه کوه چه همیشه به ښي طرفته تاوېږم او دا مقصود د ابن مسعودؓ هم دے په روستو راروان حدیث کښې. **بعض علماء** – هغه حدیثونه چه په هغے کښې انصراف مطلقا راغلے دے – محمول کړیدی په ذهاب الی البیت باندے یا که څه حاجت به ئے پیښ شو نو هغه طرفته به لاړو لکه هغوی وائی : که امام د سلام نه روستو اراده د ناستے نه لری بلکه کورته تلل غواړی یا بل څه ضرورت پسے ځی نو چه سلام واړوی د خپل حاجت ځائے ته د روان شی که ښي طرفته وی او که ګس طرفته یا کورته.

او که اراده د ناستے وی نو بیا به سنت دا وی چه مقتدیانو ته به مخامخ کینی او ښي او ګس طرفته به مائل نه کینی او ښي او ګس طرفته کیناستل اګرکه مباح دی لیکن سنت طریقه نه ده

او دا غوره قول دے او صاحب د مرعاة عبيد الله الرحماني هم غوره کړيدے (المرعاة: ۳/۳۰۴) او پدے تطبيق باندے ډير احاديث دلالت کوی چه په مصنف عبد الرزاق (۲/۲۴۰) کښ ذکر دی۔ وانظر فتاوى الدين الخالص (۴/۴۴۹) تفصيلًا۔

۷– وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ. رواه مسلم.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائی: (د سلام نه پس) نبی کريم ﷺ به (کله) د ښی طرفنه (مقتديانو ته) راګرځيدلو۔ (مسلمؒ)۔

تشريح: يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ: ددے نه مراد اکثر راګرځيدل دی په ښی طرف باندے لکه په روايت د مسلمؒ کښ ددے تصريح موجود ده نو پدے کښ نفی د بل طرف نشته او د انصراف معنی يا ذهاب الى البيت دے يا مقتديانو ته مخامخ راګرزيدل دی من جانب اليمين۔

۸– وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، قَالَ: لَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا مِنْ صَلَاتِهِ، يَرٰى أَنَّ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ لَا يَنْصَرِفَ إِلَّا عَنْ يَمِينِهِ، لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَثِيْرًا يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ متفق عليه.

ترجمه: او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: يو تن دِے په تاسو کښ د مانځه خپل نه د شيطان دپاره څه حصه نه مقرروی (يعنی) دا خبره لازم اوګڼړی چه (د مانځه نه پس به) په ښی طرف راګرځی څکه ما رسول الله ﷺ ليدلے دے چه ډير ډير به د ښی طرفنه راګرځيدلو۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)۔

تشريح: لَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ: مطلب د حديث دا دے چه دا التزام مه کوه چه هميشه په ځان لازم کړے چه زه به د مانځه نه په ښی طرفته راوړم څکه پدے کښ د شيطان خوشحالی ده، او د سنت خلاف کار دے څکه د نبی عليه السلام نه ګس طرفته راګرځيدل هم ثابت دی۔

فائده: ددے حديث نه معلومه شوه چه يو عمل چه ذو وجهين وی په دوو طريقو ثابت وی او يو انسان صرف يو طرف راونيسی او بل هيڅکله نه کوی نو دا د شيطان ملګرے دے او دا کارئے بدعت دے، ددے وجه علماء نه فرمائی: التزام د عبادت مستحبه بدعت دے، دائے ددے حديث نه **معلومه کړيده** کما قال الطيبي في الحديث: ان من اصر على امر مندوب وجعله عزما ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال فكيف من اصر على بدعة او منكر؟ ذكره القاري۔

نو اکثر عمل په ښی طرف راګرزيدو باندے پکار دے او کله کله په ګس طرف ګرزيدل هم پکار دی بعض وائی: د رسول الله ﷺ کوټه ګس طرفته وه څکه پدے طرف ئے مخ اړولے دے يعنی تلے دے۔

۹– وَعَنِ الْبَرَاءِ ﷺ، قَالَ : كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ أَحْبَبْنَا أَنْ نَكُوْنَ عَنْ يَمِيْنِهٖ، يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ. قَالَ : فَسَمِعْتُهٗ يَقُوْلُ : رَبِّ قِنِيْ عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ – أَوْ تَجْمَعُ – عِبَادَكَ رواهُ مسلم .

ترجمه: او براء بن عازب ﷺ فرمائي : کله چه به مونږ د رسول الله ﷺ پسے روستو مونځ کولو نو مونږ به دا خوښول چه مونږ د هغه ښي طرفته شو، دے دپاره چه (هغه د سلام په وخت) رومبے مونږ ته مخ راواړوی - براء رضی الله عنه وائي : چه ما د هغه نه واوریدل چه (دا دعاء ئے) وئیله : رب قنی الخ یعنی اے ربه زما ! ما د خپل عذاب نه بچ کړه په هغه ورځ چه ته به خپل بندګان راپورته کوے – یا راجمع کوے . (مسلم) .

تشریح : يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ : یعنی د سلام په وخت مونږ ته اول مخ راواړوی یعنی مونږ به خوښولو چه د سلام په وخت د نبی علیه السلام نظر په مونږ باندے اولګی نو دلته د یقبل نه مراد مخ راګرځول دی په وخت د سلام کښې نو تعارض ئے د ماقبل حدیثونو سره نشته او دلیل پکښې نشته چه ښي طرفته به کوږ کیناستو کما قال القاضی .

فَسَمِعْتُهٗ يَقُوْلُ : دا دعاء یا په مانځه کښې دننه ده یا بعد السلام مراد دے. دواړه جائز دی.

۱۰– وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ : إِنَّ النِّسَاءَ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ كُنَّ إِذَا سَلَّمْنَ مِنَ الْمَكْتُوْبَةِ قُمْنَ، وَثَبَتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَمَنْ صَلّٰى مِنَ الرِّجَالِ مَا شَاءَ اللهُ. فَإِذَا قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَامَ الرِّجَالُ . رواه البخاریُّ . وسنذکر حدیث جابر بن سمرة فی باب الضحك ان شاء الله تعالٰی .

ترجمه: او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به چه زنانو فرض مانځه نه سلام اوګرځولو نو پابه څیدلے او رسول الله ﷺ او د سړو نه چه به څوك مانځه کښې شامل وو څو مره چه به الله تعالٰی غوختل ناست وو (د ذکر اذکار کولو دپاره او د زنانو د تللو دپاره) بیا کله چه به رسول الله ﷺ پاڅیدو نو ټول سړی به پاڅیدل (او خپل خپلو کورونو ته به تلل) (بخاریؒ) .

تشریح : وَثَبَتَ رَسُوْلُ اللهِ : پدے کیناستو کښې څو مقصدونه دی (۱) یو دا چه اختلاط النساء بالرجال رانشی یعنی د سړو او ښځو ګډوډ والے رانشی ځکه دا اشتراك او اختلاط سبب د عمومی عذاب دے. (۲) دویم لاتمام الاذکار : یعنی اذکارو پوره کولو دپاره به ناست وو او سمدست به نه پاڅیدو ځکه پدے سمدست پاڅیدو باندے پخوانی امتونه هلاك شوی وو .

(۳) دے دپاره چه د یهودو سره مشابهت رانشی کما یأتی.

(٤) چه څوك دا ګمان اونکړی چه څلورو په ځائے شپږ رکعاته فرض دی۔
بعض علماء ددے د مفهوم مخالف نه دا معلوموی چه کله مقتدیان صرف سری وی نو بیا دومره حصاریدل مستحب نه دی بلکه صرف د اللهم انت السلام په مقدار به کینی لکه دا خبره ابن قدامةؒ کړیده لیکن دا خبره په محل د نظر کښ ده وجه دا ده چه د هغه حدیث د عائشةؓ مقصد دا دے چه قبلے ته مخامخ به په دغه مقدار کښ کیناستو او چه مخ راواړوی نو بیا به ناست وی ذکر او اذکار به کوی ددے تفصیل به روستو باب کښ راشی۔
حدیث دلیل دے چه د زنانو جماعت ته حاضریدل جواز لری۔

الفصل الثانی

١١ – وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ ، قَالَ : اَخَذَ بِيَدِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ : اِنِّیْ لَاُحِبُّكَ يَا مُعَاذُ ! فَقُلْتُ : وَاَنَا اُحِبُّكَ يَارَسُوْلَ اللهِ ! قَالَ : فَلَا تَدَعْ اَنْ تَقُوْلَ فِیْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ : رَبِّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ . رواه احمد وابوداوٗد والنسائیُّ، اِلَّا اَنَّ ابا داوٗد لم يذكر : قَالَ مُعَاذٌ وَاَنَا اُحِبُّكَ.

ترجمه : او معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمائی : زما لاس رسول الله ﷺ اونیولو وے فرمایل : زه تا سره محبت کوم اے معاذ! ما اوویل : او زه (هم) تا سره محبت کوم اے د الله رسوله ! نبی کریم ﷺ اوفرمایل : (هر کله چه ما سره محبت ساتے) نو د هر مانځه نه روستو ددے دعاء وینا مه پریږده : رب اعنی الخ اے ربه زما ! ته د خپل ذکر، شکر او ستا په ښائسته عبادت کښ زما مدد اوکړے۔ دا روایت احمدؒ، ابوداوٗدؒ او نسائیؒ نقل کړیدے مګر ابوداوٗدؒ دا دا الفاظ (وانا احبك) نه دی نقل کړی۔

تشریح : دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ : د دبر په عربی کښ دوه معانی راځی (١) یو دبر په معنی د آخر د شی سره چه متصل وی د شی سره لکه دبر الحیوان آخری حصه د حیوان ده نو ددے نه مراد آخر د مانځه دے مخکښ د سلام نه او دا معنی د مصنفؒ په نزد مراد ده په دے وجه ئے دا حدیث پدے باب الدعاء فی التشهد کښ راوړو۔
(٢) دویمه معنی : بعد الصلاة ده څکه دبر وائی روستو د شی ته یعنی د سلام ګرځولو نه روستو به ئے دا ذکر کولو ۔ او دا معنی په روستو حدیث کښ راغلے ده (معقبات لا یخیب قائلهن دبر کل صلاة)۔ **شیخ الاسلام** ابن تیمیةؒ په فتاوی (٥١٢/٢٢) او حافظ ابن قیم په زاد المعاد (٢٤٩/١– ٢٥٠) کښ د اولے معنی غوره والی ته اشاره کړیده وائی : د مونځ کونکی د حال سره دا ډیره لائقه ده چه په آخر د مانځه کښ دعاء اوکړی څکه دے پدے حالت کښ خپل رب ته متوجه وی د هغه سره مناجات کوی او کله چه سلام واړوی نو دغه مناجات زائل شی نو

خرنګ مونځ کونکے په حالت د مناجات او په حالت د قرب او توجه کښې خپل سوال پریدی او پس د مناجات نه سوال اوکړی دا د مصلی د حال نه بعیده ده!۔

دا ډیره جامعه دعاء ده په دے وجه رسول الله ﷺ په دے باندے معاذ بن جبل ته کلك وصیت اوکړو چه دا د هر مانځه نه روستو مه پریده وجه دا ده چه په ټولو نعمتونو کښې لوئی نعمت دا دے چه انسان ته د خپل مالكِ حقیقی د ذکر او د هغه د نعمتونو شکر او د هغه د ښائسته بندګئ توفیق ورکړے شی او د انسان اصلی ژوند هغه دے چه د الله په طاعت او د هغه په ذکر کښې تیر شی۔

۲ – دے حدیث نه دا فائده معلومیږی چه کله یو شخص د چا سره محبت کوی نو د هغه دپاره مستحب دی چه هغه ته د خپل محبت اظهار اوکړی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه احمد فی المسند (٥/٢٤٤، ٢٤٥) وابوداود (١٥٢٢) والنسائی (٣/٥٣) وعمل الیوم واللیلة رقم (١٠٩) وقال الحافظ فی بلوغ المرام: وسنده قوی وقال النووی: اسناده صحیح۔

---

١٣ – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ؓ، قَالَ: اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ، حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الْاَيْمَنِ، وَعَنْ يَسَارِهِ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ، حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الْاَيْسَرِ. رواه ابوداوٗد والنسائیُّ والترمذیُّ. ولم یذکر الترمذی: حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ. وَرَوَاهُ ابن ماجه عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ ؓ.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ به ښی طرفته سلام ګرځولو (داسے به ئے وئیل) السلام علیکم ورحمة الله ۔ تردے چه د ښی اننګی سپینوالے به ئے ښکاره شو او خپل ګس طرفته به ئے سلام ګرځولو وئیل به ئے السلام علیکم ورحمة الله تردے چه د ګس اننګی سپینوالے به ئے ښکاره شو ۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ) ترمذیؒ په خپل روایت کښې حتی یری بیاض خده) الفاظ ندی ذکر کړی او ابن ماجه دا روایت د عمار بن یاسر رضی الله عنه نه نقل کړیدے۔

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه دواړو طرفته به رسول الله ﷺ سلام ګرځولو دلیل پرے کان لفظ دے او ابتداء به د ښی طرفنه کوی او دا سنت عمل دے بعض علماء لیکی که چا ګس طرفته مخکښې سلام اوګرځولو نو هم مونځ اوشو لیکن خلاف سنت عمل ئے اوکړو۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، اخرجه عبد الرزاق فی المصنف (٢/٤٢٤) والترمذی (٢٩٥) وقال حدیث حسن صحیح، وابوداود (٩٩٦) والنسائی (٣/٦٣) وابن ماجه (٩١٤) اما ابوداود فاخرجه من حدیث وائل بن حجر مرفوعاً نحوه۔

---

١٤ – وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ؓ قَالَ: كَانَ اَكْثَرُ انْصِرَافِ النَّبِيِّ ﷺ مِنْ صَلَاتِهِ اِلٰى شِقِّهِ

الْاَيْسَرِ اِلٰى حُجُرَتِهٖ. رواه فى شرح السنة.

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : د مانځه نه پس اكثر ګرزيدل د رسول الله ﷺ ګس طرفته خپلے حجرے طرفته وو.

تشريح : اَكْثَرُ انْصِرَافِ النَّبِيِّ : دلته ګس طرفته ګرزيدلو ته ئے هم اكثر اووئيل ځكه چه دے باندے هم ډيره موده پورے نبي عليه السلام عمل كولو نو ګويا كښ دا اكثر شو د نبي طرفنه او كله به ئے د نبي طرفنه مقتديانو ته ډيره موده مخ ګرځولو نو دا هم اكثر شو په دغه وخت كښ اګركه ښى طرفته مخ اړول زيات وو د ټولو نه.

او يا د انصراف نه مراد پاڅيدل دي يعني سلام چه به ئے واړولو او كور ته به تلو نو ګس طرفته ئے حجره وه ځكه به په هغه طرف پاڅيدو نو ددے نه دا نه معلوميږي چه مقتديانو ته به ګس طرفته كوږ ناست وو او دا احتمال ظاهر دے په خپله معنى كښ.

درجة الحديث : اسناده صحيح دا حديث يو حصه ده د اوګد حديث نه مخكښ نمبر (٨) كښ تير شو لا يجعل احدكم للشيطان شيئا الخ اخرجه البخارى ومسلم واحمد (١/٤٥٩) وابوداود (١٠٤٢) والنسائى (٣/٨١) وابن ماجه (٩٣٠) او امام بغويؒ پكښ دا حصه په شرح السنة كښ روايت كړيده ځكه ئے هغه ته نسبت اوكړو.

١٥ — وَعَنْ عَطَاءِ الْخُرَاسَانِيِّ، عَنِ الْمُغِيْرَةِ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا يُصَلِّيْ الْاِمَامُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ حَتّٰى يَتَحَوَّلَ . رواه ابوداوٗد . وقال : عطاء الخراسانيُّ لم يُدْرِكُ المغيرةَ

ترجمه : او عطاء خراساني د مغيره ﷺ نه روايت كوي چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه امام به په هغه ځائے كښ مونځ نه كوي په كوم ځائے كښ ئے چه (فرض) مونځ اوكړو بلكه هلته نه به اوړي. دا روايت ابوداودؒ نقل كړيدے او وئيلے ئے دي چه د عطاء خراسانيؒ ملاقات د مغيره رضى الله عنه سره (ثابت) نه دے (لهذا دا حديث منقطع دے).

تشريح : عطاء بن ابي مسلم ابو ايوب يا ابو عثمان د شام اوسيدونكے دے د پلار نوم ئے ميسره يا عبد الله دے صدوق راوي دے ډير خطاء كيږي ارسال هم كوي او تدليس هم، طبرانيؒ وائي : د صحابه كرامو نه ئے صرف د انسؓ نه سماع ثابته ده نو دا د صغار التابعين نه دے په سنه (١٣٥) كښ وفات دے.

لَا يُصَلِّيْ الْاِمَامُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ : پدے حديث كښ دا مسئله ده چه امام د پاره سنت دا ده چه د فرض مانځه په ځائے كښ به سنت او نفل نه كوي بلكه ځائے به بدلوي او پدے باندے ډير دلائل دي چه د ډير بل تقويت كوي دے حديث ته بعض علماؤ ضعيف وئيلے دے ليكن راجح دا

ده چه دا حدیث ډیر شواهد لري د هغې په وجه د صحت درجې ته رسی - چه بعض شواهد دا دی:

١- حدیث د ابی هریرةؓ کښې دی مرفوعا: ایعجز احدکم اذا صلی ان یتقدم او یتأخر او عن یمینه او عن شماله (ابن ابی شیبة: ٢/٢٠٨) وفیه لیث وهو ضعیف ولکن حدیثه حسن فی الشواهد وانظر المصنف لعبد الرزاق (٢/٤١٧) ٢- علیؓ فرمائی: من السنة ان لا یتطوع الامام حتی یتحول عن مکانه، اسناده حسن کما فی فتح الباری (٢/٢٦٧)

٣- عطاء بن ابی رباح فرمائی: ان ابن عباس وابن الزبیر وابا سعید وابن عمر کانوا یقولون: لا یتطوع حتی یتحول عن مکانه الذی صلی فیه الفریضة وسنده صحیح - ابن ابی شیبة (٢/٢٠٨) -

٤- عبد الله بن عمروؓ به د امام دپاره دا بده ګنړله چه په هغه ځائے کښې سنت اوکړی په کوم ځائے کښې ئے چه فرض کړی وی - ابن ابی شیبه (٢/٢٠٩) وسنده صحیح -

ددے شواهدو په بناء سنت عمل دا دے چه امام به ځائے بدلوی -

٢- امام بخاریؒ په خپل صحیح (١/١١٧) کښې دا حدیث تعلیقا ذکرکړیدے او لا یصح ئے ورته وئیلے دے نو هغه وائی چه امام که په ځائے د فرض کښې سنت اوکړی نو خیر دے هیڅ باك نشته، ځکه دا حدیث ورته ضعیف ښکاره شویدے د هغه د شروطو برابر نه دے او په جواز باندے ئے استدلال کړیدے په اثر د ابن عمرؓ چه (کان یصلی التطوع فی مکانه اذا امّ الناس کما فی المصنف لعبد الرزاق (٢/٤١٨) (یعنی ابن عمرؓ چه به کله خلقو ته امامت اوکړو نو سنت به ئے په همغه خپل ځائے کښې کول)- لیکن راجح دا ده چه دا حدیث د مغیره د عام علماؤ په نیز صحیح دے نو عمل پرے پکار دے - دارنګه صاحب د مرعات (٣/٣٠٩) لیکی: قد ثبت التنحی فی حدیث معاویة عند مسلم وحدیث علی وهذا یکفی لاثبات التطوع فی غیر موضع المکتوبة اهـ-

یعنی د فرضو ځائے نه خوزیدل په حدیث د معاویةؓ کښې په صحیح مسلم کښې او په حدیث د علیؓ کښې ثابت دی نو د سنت په غیر د ځائے د فرضوکښې د اثبات دپاره دا کافی دلیل دے- (او حدیث د معاویه په باب السنن وفضائلها کښې راځی (١/١٠٥)-

٢- صورت: او د مقتدیانو دپاره آیا ځائے بدلول مستحب دی او که نه؟ علامه عبید الله مبارکفوریؒ فرمائی: د مقتدی او امام دواړو یو حکم دے چه دواړو دپاره مستحب دا ده چه د ځائے نه نقل شی او دلته د امام ذکر کول د تخصیص دپاره نه دی بلکه دا حکم، منفرد او مقتدی ته هم شامل دے او دلیل ئے پرے مخکښې حدیث د ابو هریرةؓ ذکر کړیدے: (ایعجز احدکم) او دارنګه مخکښې تیر شو ابن عباس، ابن زبیر، ابوسعید او ابن عمر به وئیل: د فرضو په ځائے کښې به سنت نه کوی - او دا دواړو ته شامل دے-

مګر ابن عمرؓ، ابن مسعودؓ، عطاءؒ، حسن بصریؒ او محمدؒ وائی: که په خپل ځائے کښې مونځ اوکړی نو هیڅ باك نشته او سعید بن المسیبؒ وائی: غیر الامام لو شاء لم یتحول (ابن ابی شیبة

(۲/۲۰۹) د امام نه سوا مقتدی او منفرد وغیره که غواړی نو ځائے دِے نه بدلوی۔
امام بیهقیؒ (۲/۱۹۰) باب ایخودے دے : باب یتحول الامام من مکانه اذا اراد ان یتطوع فی المسجد ۔ پدے کښې ئے ډیر آثار راوړیدی بیا ئے د ابن عمرؓ روایت ذکر کړیدے چه ده یو سړی ته –چه د خپل فرض مونځ په ځائے کښې ئے سنت کول– دیکه ورکړه او دا ئے ورته اووئیل ما ځکه دیکه درکړه چه ته مخکښې روستو شے۔
لیکن پدے کښې راجحه خبره دا ده چه امام دپاره ځائے بدلول سنت دی او مقتدی دپاره سنت عمل یو د دوه کارونو نه دی (۱) یا به د خپل ځائے نه نقل شی (۲) یا به د دوه مونځونو په مابین کښې خبرے او اذکار کوی او فرضو پسے به سمدست سنتو ته نه پاځی۔
دلیل دا دے چه په مسلم (۱/۲۸۸) کښې باب دے باب النهی عن ایصال صلاة بصلاة سواء کانت الجمعة او غیرها الخ بیا ئے حدیث د عمرو بن عطاء راوړیدے کوم چه مشکاة (۱/۱۰۵) کښې راروان دے (اذا صلیت الجمعة فلا تصلها بصلاة حتی تکلم او تخرج فان رسول الله ﷺ امرنا بذلك الخ نو دے حدیث کښې دلیل دے چه ځائے بدلول واجب نه دی ځکه اختیار ئے ورکړو په دوه کارونو کښې یا وتل یا خبرے کول۔ لهذا څوك چه سمدست مانځه ته پاځیږی او ذکر اذکار نه کوی یا ځائے نه بدلوی نو دا د یهودو مشابه دے او په بدعت باندے عمل کوی والله اعلم۔
حکمت : بیا د مکان بدلولو حکمت څه دے ؟ نو حکمت دا دے چه مختلفې حصے د زمکے د انسان دپاره ګواهی اوکړی (۲) دویم چه نفل د فرضو سره ملتبس (ګډوډ) نشی لکه دیته اشاره کوی حدیث د معاویه کما فی مسلم وسیأتی۔
درجة الحدیث : اسناده صحیح بشواهده اخرجه ابوداود (٦١٦) قال المنذری فی مختصر سنن ابی داود (۱/۳۱۷) وما قاله ابوداود ظاهر فان عطاء الخراسانی ولد فی السنة التی ما ت فیها المغیرة بن شعبة وهی سنة خمسین من الهجرة علی المشهور او یکون ولد قبل وفاته بسنة علی القول الآخر و کذلك فیه علة جهالة عبد العزیز بن عبد الملك القرشی والحدیث صححه الالبانی فی صحیح الجامع الصغیر (۷۷۲۷) و صحیح ابی داود (٦٢٩)

۱٦ – وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ ، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ حَضَّهُمْ عَلَی الصَّلَاةِ وَنَهَاهُمْ اَنْ یَّنْصَرِفُوْا قَبْلَ انْصِرَافِهٖ مِنَ الصَّلَاةِ . رواه ابوداود .

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ به صحابه کرامو ته د مانځه کولو ترغیب ورکولو او هغوی به ئے ددے خبرے نه منع کول چه د مانځه نه پس د نبی علیه السلام د پاڅیدو نه مخکښې پاڅیږی ۔ (ابوداودؒ) ۔
تشریح : حَضَّهُمْ عَلَی الصَّلَاةِ یعنی د جماعت په پابندئ ئے تیزی ورکړه یا ئے مطلقا په مانځه کولو تیزی ورکړه۔ اَنْ یَّنْصَرِفُوْا قَبْلَ انْصِرَافِهٖ : ددے علماؤ دوه مطلبونه بیان کړیدی (۱) یو مطلب

دا چه د انصراف نه مراد قیام او پاسیدل دی کور طرف ته نو د منع مقصد دا دے چه د رسول الله ﷺ د پاسیدلو نه مخکښ به سړی نه پاځی، دے دپاره چه لاره کښ ئے د ښځو سره اختلاط رانشی لکه دا په حدیث د ام سلمهؓ کښ مخکښ تیر شو هغه ددے تفسیر شو۔

(۲) یا د انصراف نه سلام ګرځول مراد دی یعنی د رسول الله ﷺ نه به مخکښ سلام نه اړوئ۔ (۳) بعض وائی: دا په باره د مسبوق کښ دے یعنی مسبوق به د امام د سلام نه مخکښ نه پاڅیږی بلکه کله چه امام سلام واړوی روستو به مسبوق رکعت ته پاڅیږی لیکن اول مطلب واضح او متعین دے۔

درجة الحديث: اسناده صحيح بشواهده، اخرجه احمد (٣/٢٤٠) وابوداود (٦٢٤) وفي اسناده حفص بن بغيل المرهبي وهو مجهول، لكن سند احمد صحيح على شرط مسلم واخرج مسلم (٤٢٦) عن انس بلفظ ...... : فلا تسبقوني بالركوع ولا بالسجود ولا بالقيام ولا بالانصراف فاني اراكم امامي ومن خلفي الحديث۔

الفصل الثالث

۱۷– عَنْ شَدَّادِ بْنِ اَوْسٍ ﷺ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ فِي صَلَاتِهٖ: اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْئَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْاَمْرِ، وَالْعَزِيْمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَاَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَاَسْئَلُكَ قَلْبًا سَلِيْماً وَلِسَاناً صَادِقاً، وَاَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ. رواه النسائيُّ. وروى احمد نحوَهٗ.

ترجمه: شداد بن اوس ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ به په خپل مانځه کښ (تشهد نه بعد) دا دعاء کوله: اللهم انی اسألك۔ اے الله زه تا نه په دین کښ ثابت قدمی او د نیغے لارے د قصد سوال کوم او زه تا نه ستا د نعمت شکر او ستا د ښائسته عبادت سوال کوم او تا نه روغ زړه او رشتینے ژبه غواړم او تا نه هغه نیکی غواړم کوم چه تا ته معلومه ده او د هغه بدئ نه پناه غواړم کومه چه تا ته معلومه ده او معافی غواړم د هغه ګناهونو نه چه تا ته معلوم دی (نسائیؒ، احمدؒ)۔

تشریح: اَسْئَلُكَ الثَّبَاتَ: دا ډیره جامعه دعاء ده یادول ئے پکار دی انسان ته کامل جوړیږی او استقامت ورته ملاویږی او خاتمه ئے په خیر باندے کیږی۔

درجة الحديث: ضعيف بسند وصحيح بسند آخر: اخرجه النسائي (٣/٥٤) بسند منقطع وقد بين ذلك الامام احمد فرواه (٤/١٢٥) من طريق ابي العلاء بن الشخير عن الحنظلي عن شداد والحنظلي لم اعرفه وقد اورده الحافظ في " فصل فيمن ابهم " ولكن ذكر نسبه من التعجيل ص (٥٣٥) لهذه الرواية ولم يذكر فيه جرحاً ولا تعديلا ومن طريقه اخرجه الترمذي (٣٤٠٤) وفيه مجهول، وقال المباركفوري في المرعاة (٣/٣١١) وقد رواه ايضا احمد من طريق الاوزاعي عن حسان بن عطية عن شداد بن اوس

والحاكم من طريق عكرمة بن عمارة عن شداد ابى عمار عن شداد بن اوس وهذان الطريقان كما ترى ليس فيهما انقطاع ولا رجل مجهول ولذلك قال الحاكم صحيح على شرط مسلم واقره الذهبى وقال الشوكانى فى تحفة الذاكرين : وصححه ابن حبان فلا وجه لما قاله العراقى : انه منقطع وضعيف بعد تصحيح هذين الامامين له انتهىٰ وصححه ابوعبد السلام بن عبد الرؤف بن عبد الحنان فى القول المقبول فى تعليق صلاة الرسول ص (٤٦٥) **شيخ ابو عبد السلام فرمائى : كه دا حديثونه دَ البانىؒ د نظر نه تير شوى وے نو په تعليق المشكاة (١/٣٠١) او تخريج الكلم الطيب (١٠٤) او تمام المنه (٢٢٥) او ضعيف الجامع (١٢٨٨) كښې به ئے دے روايت ته مطلقا ضعيف نه وئيلے اگركه په هغه رواياتو كښې د صلاة قيد نشته ليكن لوستل ئے جائز دى انتهىٰ۔**

دارنګه مونږ وايو كه دا حديث ضعيف هم شى نو په مانځه كښې لوستل ئے د (ثم ليتخير من الدعاء اعجبه اليه) د عموم په وجه جائز دى ځكه بهترينه دعاء ده ۔

---

١٨ – وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ فِيْ صَلَاتِهٖ بَعْدَ التَّشَهُّدِ: اَحْسَنُ الْكَلَامِ كَلَامُ اللهِ، وَاَحْسَنُ الْهَدْيِ هَدْىُ مُحَمَّدٍ . رواه النسائىُّ .

ترجمه : او جابر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به په مانځه كښې د تشهد نه پس داسے وئيل : په كلامونو كښې بهترين كلام د الله تعالى دے او ډيره ښائسته د طريقو نه د محمد ﷺ طريقه ده ۔ (نسائىؒ)۔

تشريح : بَعْدَ التَّشَهُّدِ : ددے نه امام نسائىؒ دا فهم كړيده چه دا دعاء د سلام نه مخكښې ده او علامه البانىؒ وائى چه د تشهد نه مراد كلمه د شهادت ده په خطبه د حاجت كښې ليكن راوى د تشهد نه د مانځه تشهد اخستے دے او اختصار ئے كړيدے ځكه چه په روايت د مسلم كښې اوګد ذكر دے په همدے سند د نسائىؒ سره ۔ ليكن فهم د نسائى زيات ظاهر دے ځكه دا روايت صريح دے او د يو صحابى نه دوه روايات نقل كيدے شى دارنګه د البانىؒ خبره په ګمان بناء ده ۔بيا دا حديث په ظاهر كښې خبر دے ليكن معنى ئے دعاء ده ۔يعنى اے الله ما ته ستا د ښائسته كلام او ستا د نبى په ښائسته طريقه باندے تلل رانصيب كړے ۔ والله اعلم ۔

الْهَدْيِ : په فتحه د هاء او سكون د دال، سيرت، طريقه او هيئت ته وائى ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح على شرط مسلم ۔ اخرجه النسائى (١/١٩٣)

---

١٩ – وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُسَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ تَسْلِيْمَةً تِلْقَاءَ وَجْهِهٖ، ثُمَّ يَمِيْلُ اِلَى الشَّقِّ الْاَيْمَنِ شَيْئاً . رواه الترمذىُّ .

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ به په مانځه کښې يو سلام ګرځولو خپل مخ طرفته، بيا به ئے لګ شان مخ ښی طرفته تاؤ کړو.

تشريح : يُسَلِّمُ : يعنی سلام به ئے شروع کولو قبلے ته مخامخ کيدلو سره او بيا به ئے ښی طرفته سر لګ شان مائل کړو. دا حديث دليل دے چه يو سلام ګرځول هم جائز عمل دے او حديث صحيح دے او باقی دلائل ئے په (٧) حديث کښې مخکښې تير شو.

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه الترمذی (٢٩٦) وفيه زهير بن محمد المكی ورواية اهل الشام عنه فيها مناكير وهذا منها لكن روى ابن حبان (٦٦٩) عن عائشة من وجه آخر شيئاً من هذا وسنده على شرط مسلم، وله شواهد ومتابعات قد مرّ ذكرها منّا في المسئلة.

٢٠ – وَعَنْ سَمُرَةَ ﷺ، قَالَ : اَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ اَنْ نَرُدَّ عَلَى الْإِمَامِ. وَنَتَحَابَّ، وَاَنْ يُسَلِّمَ بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ . رواه ابوداود .

ترجمه : او سمره بن جندب ﷺ فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ حکم کړيدے چه مونږ د سلام اړولو په وخت د امام د سلام د جواب نيت اوکړو، او په خپل مينځ کښې د يو بل سره محبت اوساتو او يو بل باندے سلام واچوو (ابوداودؒ)

تشريح : مطلب دا دے چه کله مقتدی سلام ګرځوی نو په هغه وخت کښې به دا نيت کوی چه مونږ د امام د سلام جواب ورکوو يعنی کوم خلق چه د امام ښی طرفته وی نو هغوی به په دويم سلام کښې د امام د سلام جواب ورکولو نيت کوی او په اول سلام کښې به د ښی طرف والا مقتديانو باندے د سلام نيت کوی او کوم مقتديان چه ګس طرف د امام ته وی نو هغوی به په اول سلام کښې د امام د سلام د جواب نيت کوی او کوم مقتديان چه د امام شاته مقابل وی هغوی به په دواړو سلامونو کښې د امام د سلام جواب نيت کوی ددے نه معلومه شوه چه امام به د دواړو سلامونو په وخت په خپلو مقتديانو باندے د سلام اچولو نيت کوی.

دويم حکم دا دے چه مسلمانان به خپل مينځ کښې د يو بل سره محبت کوی او د هغوی سره به په خوش اخلاقئ او نيک عملئ سره تعلقات کوی.

دريم حکم دا دے چه لکه څنګه امام د سلام په وخت د مقتديانو نيت کوی او مقتديان د امام نيت کوی نو دغه شان مقتديان به خپل مينځ کښې هم يو بل باندے ښی او ګس طرفته د سلام اچولو نيت کوی او ددے سره به د ملائکو نيت هم کوی لکه نيت د ملائکو او مومنانو په حديث د ترمذیؒ او احمدؒ کښې بسند حسن ثابت دے او روستو به په باب السنن وفضائلها فصل ثانی کښې راشی (كان رسول الله ﷺ يصلی قبل العصر اربع ركعات يفصل بينهن بالتسليم على الملائكة المقربين ومن تبعهم من المسلمين والمؤمنين).

دينه خو د امام نيت ثابت شو او په حديث د نسائی (١/٢٨٤) او ابوداود (١/٩١٨) کښې د جابر

بن سمرةؓ په روایت کښې راغلې دی بسند صحیح : اما یکفی احدکم ان یضع یده علی فخذه ثم یسلم علی اخیه عن یمینه وعن شماله بلکه مسلم کښې هم راغلې دے (١/٢٨١) دینه معلومه شوه چه مقتدی به په دواړو سلامونو سره نیت کوی۔

لیکن افسوس چه نن صبا دا مسئله د خلقو د دماغو نه وتلې ده او صرف د عادت په طریقه باندے عمل کوی۔ یا ددے نه عام حالاتو کښې سلام اچول هم مراد کیدے شی۔

فائده : ابن عبد الهادیؒ په التنقیح (١/٤٣٥) کښې لیکی : (١) حنابله وائی : په سلام سره به د مانځه د خروج نیت کوی (٢) او احناف او شوافع وائی چه په ملائکو او مقتدیانو باندے به سلام اچولو نیت کوی ۔ بیا وائی د حنابلو دلیل (وتحلیلها التسلیم) دے چه د سلام غرض دا دے چه د مانځه نه پرے خروج اوشی انتهیٰ۔

لیکن صحیح دا ده چه دواړه نیتونه به کوی او دواړو کښې هیڅ منافات نشته، دواړه په احادیثو کښې ثابت دی ۔ راجع المجموع شرح المهذب (٣/٤٧٤) وفتاوی الدین الخالص (٤/٤٢٦)

درجة الحدیث : اسناده ضعیف ومعناه صحیح اخرجه ابوداود (١٠٠١) وفیه سعید بن بشیر وهو ضعیف قال فی التقریب ثم هو من روایة الحسن البصری عن سمرة وهو مدلس ولم یصرح بالسماع منه وقال الحافظ : اسناده حسن آه وسکت عنه ابوداود ولکنه من روایة الحسن عن سمرة ولکن لکل جملة من الحدیث شواهد فی روایات مختلفة۔



باب الذكر بعد الصلاة

يعني د فرض مانځه نه روستو د اذكارو بيان ـ ذكر عام دے دعاء ته هم شامل دے پدے باب كښې هغه احاديث ذكر كيږي چه په هغے كښې د مانځه نه روستو د دعاء او اذكارو اهميت او فضيلت بيان شوے وي ـ

پدے اذكارو كښې دوه قرآني آيات دي (۱) آية الكرسي (۲) او معوذتين۔

او نور ډير اذكار دي بيا بعض اذكار او دعاګانے داسے دي چه د بعض مونځ پورے خاص وي او بعض داسے دي چه ټولو مونځونو كښې كولے شي او بعض داسے دي چه د مانځه نه بغير هم هغه لوستلے شي دا درے واړه اقسام به ذكر كيږي۔

د مانځه نه روستو اذكار وئيل سنت طريقه ده بلكه په بعض اذكارو باندے امر راغلے دے لهذے ددے كول ضروري دي او قرآن امر كړيدے (وادبار السجود) (د مونځونو نه پس ذكر كوئ!)

ليكن شيطان لوئي دشمن دے مبتدعينو ته ئے پدے وخت كښې د اذكارو نه د محرومولو دپاره دعاء اجتماعي اوخودله چه په هغے كښې مشغوله شي او دا شرعي مقرر اذكار ترے پاتے شي دا څومره محرومتيا ده چه دعاء يو مستحب عمل دے په عام حالاتو كښې او پس د مانځه نه په هيئت اجتماعي سره بدعت دے او مبتدعين په دے بدعت باندے زور لګوي او هميش والے پرے كوي او شرعي اذكار د هغوي نه پاتے دي نو مرتيے د اعمالو ئے او نه پيژندل خپل اعمال ئے برباد كړل ـ (دعاء اجتماعي بحث به لګ روستو راشي)۔

الفصل الاول

۱ ـ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كُنْتُ اَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ بِالتَّكْبِيْرِ. متفق عليه.

ترجمه: او ابن عباس ؓ فرمائي چه ما به د رسول الله ﷺ د مانځه ختميدل په تكبير سره پيژندل ـ (بخاري ومسلم) ـ

تشريح: اِنْقِضَاءَ صَلَاةِ: **سوال:** ابن عباسؓ وائي: ما به د رسول الله ﷺ په زمانه كښې د مانځه ختميدل په تكبير پيژندل نو د تكبير نه څه مراد دے؟ ـ

الجواب: (۱) ـ بعض وائي: تكبيرات الانتقالات مراد دي يعني د تكبيرات انتقال په ختميدلو به ما اوپيژندل چه مونځ ختم شو ليكن دا معنى كمزورے ده او د باب مناسب نه ده او

ددې خبرې فائده هم نشته. (۲) - بعض وائي : ددې نه مراد هغه تکبیر دې چه په تسبیح او تحمید کښې وئیلې شي لس لس کرته یا (۳۳) کرته. یعني تسبیحات به ئې شروع کړل او په هغې کښې به ئې الله اکبر وئیلو سره زه پوهه شوم چه سلام ګرځیدلې دې.

لیکن دا قول هم ضعیف دې روستو نه به معلومه شي ځکه د سلام نه روستو به رسول الله ﷺ سمدست دغه تسبیحات نه وئیل بلکه درې کرتې به ئې استغفار اووئیلو بیا به ئې اللهم انت السلام او وئیل نو په استغفارئې ولې نه پیژندلو.

(۳)- بعض وائي : دا د مِنیٰ سره متعلق دې یعني په مِنیٰ کښې به ئې په ایام التشریق کښې چه کله مونځ ختم شو نو په زوره به تکبیرات شروع شو نو ما به اوپیژندل چه سلام اوګرځیدلو. لیکن پدې خبره هم دلیل نشته.

(٤) ظاهر دا ده چه ددې نه مراد د سلام نه روستو تکبیر یعني ذکر وئیل دي.

بیا **سوال** راغلو چه پدې تکبیر سره ځنګه د مونځ ختمیدل معلومیږي بلکه د مونځ ختمیدل خو په سلام معلومیږي نو ابن عباسؓ ځنګه په سلام اونه پیژندلو ؟.

الجواب : ددې اشکال یو جواب دا دې چه ابن عباسؓ پدې زمانه کښې کشر وو پدې وجه ممکن ده هغه به همیشه جماعت کښې نه شریك کیدو نو کور نه به ئې د صحابه کرامو آوازونه واوریدل او کورئې نزدې وو.

(۲) یا دا احتمال شته چه ابن عباسؓ په روستو صفونو کښې ولاړ وو چه هغې ته به د رسول الله ﷺ د سلام آواز نه رسیدلو پدې وجه به هغه د مونځ ختمیدل په سلام نه پیژندل بلکه کله چه به مقتدیانو په اوچت آواز اذکار شروع کړل نو ابن عباسؓ ته به د مانځه د اختتام معلومات اوشو او دا خبره غلطه ده چه رړندوالی زمانه کښې به ئې د مانځه اختتام په تکبیر سره پیژندلو ځکه دده رړندوالې خو په بوډاوالي کښې د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو وو.

المسئلة الثانیة : **تکبیر نه څه مراد دې** ؟ (۱) نو بعض اهل حدیث علماء وائي : ددې نه مراد الله اکبر وئیل دي لکه په عام احادیثو کښې چه کله تکبیر ذکر شي مراد ترې نه الله اکبر وئیل وي کما في لسان العرب (کبر المصلي : اذا قال الله اکبر) او د امام نسائي (۱/۳۹۷) د طرز نه هم معلومیږي چه هغه د تکبیر نه الله اکبر مراد کوي ځکه هغه داسې باب ایخودې دې : (التکبیر بعد تسلیم الامام) او ابوداود (۱/۱۵۰) باب التکبیر بعد الصلاة نه هم معلومیږي.

۲- دویم ددې نه مطلق ذکر مراد دې او دا حدیث مجمل دې ددې تفسیر په بل حدیث د ابن عباسؓ کښې په بخاري او مسلم کښې راغلې دې (ان رفع الصوت بالذکر حین ینصرف الناس من المکتوبة کان علی عهد رسول الله ﷺ) نو مجمل حمل دې په مفسر باندې بلکه دواړه یو حدیث دې ځکه سند یو دې. **دلیل** پدې باندې دا دې چه په ذخیره د احادیثو کښې د نبي علیه السلام او

د هغه د اصحابو نه ندی نقل چه هغوی د سلام نه پس سمدست الله اکبر لفظ وئیلے وی او تکبیر اګر که احتمال د الله اکبر لری لیکن کله په معنی د عام ذکر سره هم راځی لکه (وكبره تكبيرا) اى عظمه تعظيماً) لهذا عام اذکار استغفار او اللهم انت السلام وغیره لوستل مراد دی۔

٢– بل دلیل دا دے چه د حجاز علماؤ دا فهم نه دے کړے۔

٣– بل دلیل دا دے چه د اذکارو په کتابونو کښې دا چرته نشته چه د سلام نه روستو به الله اکبر لفظ وائی۔ ٣– بعض علماء وائی چه الله اکبر او ذکر دواړه مراد دی نو الله اکبر به هم وائی او نور اذکار به هم وائی دلیل دا وائی چه پدے حدیث کښې د تکبیر لفظ راغلے دے او په دغه دویم روایت د ابن عباسؓ کښې لفظ د ذکر دے لهذا دواړه مراد دی نو په دواړو به جهر کوی لکه امام نوویؒ فرمائی : دا حدیث دلیل دے دهغه خبرے چه بعض سلفو وئیلے ده چه په تکبیر او اذکارو باندے رفع الصوت (آواز پورته کول) مستحب دی او دا د ابن حزم ظاهریؒ مذهب هم دے۔ لیکن دویم قول غوره دے۔

المسئلة الثالثة : ذکر بالجهر دے او که نه ؟ : (١) نو قانون خو دا دے (الاصل فی الاذکار الاخفاء) (اصل په ذکر کښې دا ده چه پټ اووئیلے شی) دلیل آیت کښې دی : ﴿ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ تَضَرُّعاً وَّخِيْفَةً وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ ﴾ او حدیث د ابو موسیٰ کښې دی : (ارْبَعُوْا عَلٰی انفسكم فانكم لا تدعون اصما ولا غائبا) ائمه اربعه هم وائی چه ذکر بالخفیه دے۔

امام شافعیؒ په کتاب الام (١٢٧/١) باب كلام الامام وجلوسه بعد السلام کښې لیکی : چه دا جهر د تعلیم دپاره دے (واحسبه انما جهر قليلاً ليتعلم الناس منه ﷺ وذلك لان عامة الروايات التى كتبناها مع هذا وغيرها ليس يذكر فيها بعد التسليم تهليل ولا تكبير الخ۔

او نبی علیه السلام دا معمولی شان جهر ددے دپاره کړیدے چه خلق دا طریقه زده کړی، وجه دا ده چه عام روایاتو کښې دا ندی ذکر چه سلام نه روستو نبی علیه السلام لا اله الا الله یا تکبیر وئیلی وی دارنګه ام سلمهؓ د نبی علیه السلام د مانځه نه روستو حصاریدل ذکر کړیدی او جهرئے پکښې ندے ذکر کړے۔ وانظر المجموع ايضاً (٤٨٧/٣) وعون المعبود (٣٨٣/١) باب التكبير بعد الصلاة۔

٢– **قول ثانی** دا دے چه تکبیر او اذکار به په جهر سره وائی او دا قول د ابن حزم او بعض السلف دے او ابو الحسن عبید الله الرحمانی المبارکفوری په المرعاة (٣١٥/٣) کښې راجح کړیدے۔ **دلیل** دا دے چه د ابن عباسؓ په دواړو حدیثونو کښې تصریح راغلے ده چه ذکر به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د مانځه نه پس په جهر کیدو او بل دلیل حدیث د عبد الله بن زبیر راروان دے چه رسول الله ﷺ به اوچت آواز لا اله الا الله وحده لا شریك له الخ اووئیله ـ شرح السنة (٣٠١/٢) ومسند الشافعي (٩٩/١) لیکن روستو به راشی چه په هغے کښې د جهر لفظ ضعیف دے۔

مګر دا خبره یاد ساتل پکار دی چه د تیز جهر نه به ځان ساتی ځکه اربعوا علی انفسكم کښې د

جهر نه منع راغلے ده بلکه دومره جهر به کوی چه د مسجد په دروازو کښې کوم خلق وی یا خواو شا کښې خلق ئے واوری او پته ورته اولګی چه مونځ ختم شو او تشویش هم په خلقو رانشی او دا قول راجح دے وجه دا ده چه رسول الله ﷺ نه عام اذکار چه د سلام نه روستو راغلی دی او صحابو نقل کړیدی نو دا ئے د هغه د خولے نه اوریدلی دی لکه مخکښې حدیث د براء بن عازب تیر شو رب قنی عذابك ئے اوریدلے دے نو که جهر نه وے نو براء څنګه اوریدلو دارنګه ددے نه معلومه شوه چه مناسب طریقے سره به ذکر کوی او شدید جهر به نه کوی او دغه شان خبره په الفتاوی الاسلامیه (۱/۳۲۰) کښې هم ذکر ده۔

٢- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا سَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ اِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ . رواهُ مسلم

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی : چه رسول الله ﷺ به کله (د فرض مانځه نه) سلام اوګرځولو نو (قبلے ته مخامخ) به نه کیناستو مګر په اندازه ددے دعاء وئیلو : اے الله ته سالم ئے (یعنی د هرقسم عیوب او نقصاناتو نه بچ ئے) او ستا د طرفنه سلامتیا ده، ته برکت والا ئے اے لوئی شان او عزت والا ذات ! ۔ (مسلم)

تشریح : اِذَا سَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ اِلَّا مِقْدَارَ : **اشکال** : ددینه معلومیږی چه زر به پاڅیدو او د نورو احادیثو نه واضح کیږی چه اذکار به ئے پوره کول او د فجر د مانځه نه پس به د نمر خاته پورے ناست وو نو دا حدیث د هغه تولو احادیثو خلاف معلومیږی ؟ ۔

الجواب : (۱) شامی مولا پدے حدیث باندے ندے پوهه شوے نو هغه وائی چه پکار ده چه اذکار بعد السنت اووئیل شی او سنت د فرضو نه مؤخر نکړی ځکه دا کار مکروه دے، صرف د اللهم انت السلام په مقدار به فرق کولے شی او بیا به زر پاڅی ځکه چه سنن مکملات او تابع د فرائضو دی نو سنت به د فرضو سره متصل کوی (الدر المختار و ردالمحتار ۱/۳۵٦) لیکن دا خبره غلطه ده او ډیرو محققین علماؤ پدے باندے رد کړیدے :

۱- وجه دا ده چه سنن مکملات د فرائضو دی خو په اعتبار د آخرت سره نه په دنیا کښې۔

۲- بله دا چه هرکله رسول الله ﷺ او د هغه صحابه کرامو د اذکارو دپاره وقفه کړیده نو بیا هیچا ته دا حق حاصل نه دے چه دیته مکروه اووائی۔

۳- شیخ ګوهر رحمٰن المردانی رحمه الله په تفهیم المسائل (۱۷۱/٦) کښې ددے کراهت تردید بیانوی : فرمائی : سنت توابع د فرائضو دی لیکن د توابع کیدو معنی خو دا نه ده چه دا د فرائضو حصه ده بلکه ددے معنی دا ده چه د هغے وخت بعینه هغه دے کوم چه د فرض مونځونو دے، بله خبره دا ده چه د فرض مونځونو نه بعد ثابت شده اذکار او ادعیه هم تو اد

فرضو دي لهذا د هغې په وجه كه د فرض مانځه او د سنت مانځه ترمينځ فصل (جدائي) راشي نو دا فصل بالامر المسنون دے چه ددے د مكروه كيدو هيڅ نقلي او عقلي دليل موجود نه دے، د مكروه كيدو دپاره خو د نهي ضرورت وي، خواه تنزيهي وي او كه تحريمي او د فرض او سنت په مابين كښې د اللهم انت السلام نه زياتي دعاء يا ذكر كولو باره كښې نهي نه ده موجوده بلكه د هغې ترغيب منقول دے او بعد السنن لره بعد المكتوبه ګرځول معنى مجازي او تكلفي تاويل دے چه د هغې دپاره نه هيڅ قرينه شته او نه هغې ته ضرورت شته نو آخر بغير د څه دليل نه د كراهت حكم ولې او څنګه اولګولے شي ؟ ۔ انتهى

او ددے حديث معنى دا ده چه (لم يقعد مستقبل القبلة الا بهذا المقدار) يعنى قبلې ته په مخامخ نه كيناستو مګر په مقدار د اللهم انت السلام سره يعنى مقتدياتو ته به زر راګرځيدو (او خلقو ته به ئے مخ څكه راګرځولو چه خلق دا ګمان اونكړي چه دا اذكار د مانځه حصه ده) لكه دا معنى علامه ابن القيم په زاد المعاد (١/٢٨٤) او حافظ ابن حجر عسقلانیؒ متوفى (٨٥٢ھ) په فتح البارى (١٣/٣٨٢) فى الدعوات باب الدعاء بعد الصلوة كښې او علامه سنديؒ په شرح مسلم (١/٢١٨) كښې او انور شاه كشميريؒ متوفى (١٣٥٢ھ) په فيض البارى (٢/١٣٤) كښې كړيده او هر چه اذكار دي نو دا بعد السنت نه دي راغلي بلكه بعض احاديثو كښې ورسره بعد المكتوبه قيد راغلے دے نو هغې سره به څه كوے ؟۔

ددے وجے نه شاه ولى الله محدث دهلوى په حجة الله كښې د اذكار بعد الصلاة په بيان كښې ليكى : والاولى ان يأتى بهذه الاذكار قبل الرواتب فانه جاء فى بعض الاذكار ما يدل على ذلك نصاً۔

٢– بله دا چه نبى خو سنت كور كښې كول نو صحابه كرام د هغه د اذكارو نه څه خبر شول چه هغه به دا فلانے ذكر كولو، معلوميږى چه دا اذكار بعد الفرائض وو ۔ ددے وجے نه علامه شمس الائمه سرخسى حلوانىؒ وائى : چه د اوراد او وظائف ويلو په غرض د سنت او فرضو په مينځ كښې وقفه كولو باندے هيڅ مضائقه نشته او دا قول كمال بن الهمام هم اختيار كړيدے ۔ انظر الدر المختار على حاشية رد المحتار (١/٤٩٤) ومظاهر حق (١/ ٦٣٧) والكبيرى شرح منية المصلى (٣٤١،٣٤٢) مولانا رشيد احمدؒ په الكوكب الدرى (١/١٤١) كښې ليكى : ومن الظاهر ان السنن للجبر واتمام الفرائض فلا منافات بينها وبين الاذكار اذ الاذكار متممة لها كالسنن الا ان الزيادة مقتصرة على ما ثبت من الاذكار بين الفرائض والسنن دون مالم يثبت۔

يعنى ظاهره خبره دا ده چه سنن جبيره او اتمام د فرائضو دي نو ددے منافات د اذكارو سره نشته څكه هغه هم متمم د فرائضو دى لكه څنګه چه سنن متمم د فرائضو دى مګر د فرض او سنتو په مابين كښې به صرف هغه اذكار او ادعيه وائى كوم چه ثابتے وى نه هغه چه نه وى ثابتے۔

لهذا ثابته شوه چه د فرضو نه پس سمدست سنتو ته بغير د اذكار ويلو نه پاڅيدل خلاف

سنت دی ، بلکه ضرور به فصل کولے شی ، او امام به د اللهم انت السلام په مقدار قبلے ته مخامخ ناست وی بیا به راګرځی۔ ابن قدامه ؒ د دواړو حدیثونو تطبیق داسے کوی : د عائشهؓ حدیث محمول دے په هغه حالت چه د امام سره په مانځه کښې زنانه نه وی شریك شوی نو امام به زر پاځی او عام احادیث چه په اذکار بعد الفرائض کښې راغلی دی نو دا په هغه حالت محمول دی چه د امام سره زنانه شریك شوی وی ۔ المغنی (۱/۶۳۳)۔

نو صحیح دا ده چه سنت مونځ ته به سمدست نه پاځی بلکه اذکار به پوره کړی البته که یو ضرورت ئے راپیدا شی نو بیا زر پاځیدل هم جائز دی لکه رسول الله ﷺ داسے کار کړیدے او اذکار به بیا په لاره وائی لیکن دا پاځیدل به د یو کار او ضرورت دپاره وی او نه د مانځه دپاره ۔

اشکال : بیا پدے تطبیق باندے دا اشکال راځی چه د سحر او ما ښام په ذکر (لا اله الا الله الخ) کښې به راشی چه د خپے ماتولو نه مخکښې به دا دعاء وائی او ستاسو د تطبیق نه معلومه شوه چه امام به د اللهم انت السلام په مقدار قبلے ته مخامخ حصاریږی او زیادت به نه کوی ۔ نو ددے دواړو تطبیق د امام په حق کښې څه دے ؟ آیا هغه به زر راګرځی په احادیث الانصراف به عمل کوی او که دغه قید باندے به عمل کوی ؟۔

جواب : بعض علماؤ خو ددے دا جواب ورکړیے دے چه په دغه حدیث د عبد الرحمن بن غنم کښې دغه قید د خپے ماتولو ضعیف دے لهذا اشکال نشته مګر دا خبره ضعیفه ده ځکه دغه قید په صحیح او حسن روایاتو کښې راغلے دے لکه رابه شی ۔

۲– راجح دا ده چه احادیث د انصراف زیات دی او دا غالب عادت د نبی علیه السلام وو پدے وجه امام به مقتدیانو ته مخ راګرځوی او که دغه قید باندے عمل اونه شی نو خیر دے ۔

او کیدے شی چه دے قید باندے هغه څوك مامور وی چه هغوی ته مانع نه وی او د امام وظیفه خو مخ راګرځول دی لهذا که هغه دغه قید باندے عمل اونکړی نو دا معذور دے ۔ راجع بلوغ الامانی (۴۱/۴) والدین الخالص (۴۳۶/۴)

۳– وَعَنْ ثَوْبَانَ ؓ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهٖ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا، وَقَالَ : اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ . رواه مسلم .

ترجمه : او ثوبان ؓ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د مانځه نه فارغ شو نو (اول به ئے) درے کرتے استغفار کولو او (بیا به ئے) دا دعاء وئیله : اللهم انت السلام الخ (مسلم)

تشریح : اَسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا : د سلام اړولو نه پس ترتیب د اذکارو دا دے چه اول به استغفر الله درے ځل اووائی بیا به اللهم انت السلام او بیا باقی اذکار او دعاګانے۔ او استغفار به په لفظ د استغفر الله سره وائی لکه امام اوزاعیؒ چه راوی د دغه حدیث دے داسے تشریح کړیده۔

بيا پدے دعاء كښې بعض ناپوهه خلق د ځان نه زيادتونه كوى چه هغه په هيڅ صحيح حديث كښې نـدى ثـابت لكه داسے وائى : اللهم انت السلام ومنك السلام واليك يرجع السلام حينا ربنا بالسـلام وادخلنـا دارك دار السلام او د تباركت نه روستو ربنا وتعاليت زياتوى ـ شيطان لوئى دشمن دے انسان باندے هر عمل خرابول غواړى چه بنده سترے شى او هيڅ اجر ورته ملاؤ نشى څـومـره د افسـوس مـقام دے اول او اخير كښې د رسول الله ﷺ الفاظ او مينځ كښې د خپل طرفنه الـفاظ اضافـه شـو ـ آيا معاذ الله د پيغمبر نه دا جملے هيرے شوے وے يا دعاء ئے ناقص پريخے ده چه امـتيـان بـه ئے پوره كوى !! حال دا چه دا دعاء په دين كښې يو مستقل حيثيت لرى پدے كښې تبديل كول شريعت بدلول دى او پيغمبرى اورادو كښې تبديلى كول بدعت دے ـ

مـجلة البحوث الاسلامـية عـدد : ٢٢ص ٩٦ فتـوى : ٧٦٠) كښې هم پدے زيادتونو باندے ښه رد كـريـدے ـ ملا على القارئ وائى : فـلا اصـل لـه بل مختلق بعض القصاص ـ يـعـنـى دا زيادتونه بے اصـلـه دى او بعض قصه ګو خلقو جوړ كړيدى مـرقـاة(٢/٣٥٨) وانظر القول المقبول شرح وتعليق صلاة الرسول (٤٧٣) اَنْتَ السَّلَامُ : يـعنى ته سلامتيا وركونكے ئے او ستا د طرفنه سلامتيا ده نه د بـل چا د طرفنه ـ يا ذَا الْجَلَال : پـه مسـلـم كښې ورسره يا نشته او په ټولو نسخو د مشكاة كښې ورسره يا شتـه او دا پـه نورو رواياتو كښې د عائشهؓ او ابن مسعودؓ او ابن عمرؓ نه هم راغلے ده بلكه مسـنـد احـمد (الفتح الربانى ٤/٤٦) سنن نسائى، دارمى، ابن ماجه او صحيح ابى عوانه وغيره كښې شته ـ

٤ – وَعَـنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ ﷺ ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَـانَ يَـقُوْلُ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوْبَةٍ : لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَحْـدَهُ لَا شَـرِيْكَ لَـهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ . اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ . متفق عليه .

ترجمه : او مغيره بن شعبه ﷺ فـرمـائى : نبى كريم ﷺ به د هر فرض مانځه نه پس دا دعاء كـوله : لا اله الا الله الخ ـ د الله نه سوا هيڅوك حقدار د بندګئ نشته، هغه يو دے، هيڅ شريك ئے نشتـه، د هغه دپاره بادشاهى ده او هغه دپاره د كمال صفتونه دى، او هغه په هر شى قادر دے ـ اے الله تـه چه كـوم شے وركوے د هغے څـوك مـنـع كونكے نشته او كوم شے چه ته منع كوے د هغے څوك وركونكے نشته او دولت مند لره د هغه دولت ستا د عذاب نه نشى بچ كولے ـ (بخارى ومسلم)

تشريح : مِنْكَ الْجَدُّ : مـن پـه مـعـنى د بدل سره دے دا دعاء بـه صرف د فرض مانځه نه روستو وئيـلے شـى ددے قيـد (مـكـتوبه) نه معلومه شوه چه د سنتو نه روستو دا ذكر كول بدعت دے او سمدست سنتو ته پاڅيدل هم بدعت دے ـ

٥ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ ﷺ، قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا سَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ يَقُوْلُ بِصَوْتِهِ

الْاَعْلٰى : لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيْرٌ .لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ ، لَا اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ، مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُوْنَ . رواه مسلم .

ترجمه: او عبد الله بن زبير ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله د مانځه نه سلام اوګرځولو نو په اوچت آواز به ئے ويل : (نشته حقدار د بندګئ سوا د الله نه، يواځے دے د هغه هيڅ شريك نشته، د هغه دپاره بادشاهي ده او هغه دپاره هر قسم د كمال صفتونه دي او هغه په هر شي قادر دے، د ګناهونو نه منع كيدل او د عبادت كولو طاقت صرف د الله په مدد سره دے، د الله نه سوا هيڅوك حقدار د بندګئ نشته، مونږ د هغه عبادت كوو، د هغه د طرفنه نعمتونه دي او د هغه دپاره اوچت شان دے او هغه دپاره ښائسته صفات دي، نشته حقدار د بندګئ سوا د هغه نه، مونږ هغه دپاره بندګي خالص كونكي يو اګرچه كافران ئے بند ګنړي ـ (مسلم)

تشريح : بِصَوْتِهِ الْاَعْلٰى : دا لفظ په روايت د مسلم كښې نشته او صاحب مشكاة د مسلم نه نقل كړيدے، دارنګه احمد، ابوداود، نسائي هم ذكر كړيدے او دا لفظ پكښې نشته ـ نو مصنف باندے خبط راغلے دے ـ اصل كښې دا لفظ په كتاب الام د شافعي (١٢٧/١) كښې راغلے دے ليكن هغے كښې د لاحول ولاقوة او د لانعبد الا اياه په مينځ كښې لا اله الا الله نشته ـ

لهذا دا به په اوچت آواز نه وائي ـ

امام نوويؒ وائي دا جهر د تعليم دپاره دے لهذا افضل پټ وئيل دي المجموع (٤٨٧/٣)ـ

بيا **سوال** دا دے چه حديث د عائشة ؓ كښې دي چه د سلام نه روستو به ئے اللهم انت السلام وئيلو او دے حديث كښې دي چه لا اله الا الله دعاء به ئے وئيله نو اول به كوم وائي ځكه دواړو كښې اذا سلم لفظ دے ؟ـ **الجواب** : جواب دا دے چه دا په مختلفو احوالو حمل دي كله يوه مخكښې وايه او كله بله يا د اذا سلم معنى اتصال نه دے بلكه د سلام ګرځولو نه پس دا دعاګانے وئيلے شي هره يوه چه مخكښې روستو شي نو په اذا سلم باندے عمل راځي، ځكه هره يوه د سلام نه روستو اووئيلے شوه ـ

---

٦ – وَعَنْ سَعْدٍ ﷺ ، اَنَّهٗ كَانَ يُعَلِّمُ بَنِيْهِ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ، وَيَقُوْلُ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَتَعَوَّذُ بِهِنَّ دُبُرَ الصَّلَاةِ : اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ اَرْذَلِ الْعُمُرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَعَذَابِ الْقَبْرِ . رواه البخاريُّ .

ترجمه : او سعد بن ابي وقاص نه نقل دي چه هغه به خپلو اولادو ته د دعاء دا كلمات ورزده كول او فرمايل به ئے : چه رسول الله ﷺ به د مانځه نه پس پدے سره پناهي غوختله : (اے الله!

زه د بزدلی نه په تاسره پناه غواړم او د بخل نه په تا سره پناه غواړم او د ناکاره عمر نه په تا سره پناه غواړم او د دنیا د فتنے او د قبر د عذاب نه په تا پناه غواړم ۔ (بخاریؒ)

تشریح : **یُعَلِّمُ بَنِیْهِ** : د سعد اولاد نارینه (١٤) او زنانه (١٧) وو لکه طبقات د ابن سعد کښې ذکر شویدی نو دلته بنین ذکر کولو کښې تغلیب دے۔

دا ډیر لوئی مصیبتونه دی ځکه به رسول اللہ ﷺ ددے نه پناهی طلب کوله ۔

او دا دعاء د مانځه په آخر کښې هم لوستل جواز لری او د مانځه نه روستو ئے هم لوستل جواز لری۔ د حدیث نه معلومه شوه چه اولادو ته تعلیم ورکول او د هغوی خیر خواهی کول او هغوی ته تربیت ورکول ضروری عمل دے او د پلار ذمه واری ده ۔

٧– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : اِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِیْنَ اَتَوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالُوْا : قَدْ ذَهَبَ اَهْلُ الدُّثُوْرِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلٰی وَالنَّعِیْمِ الْمُقِیْمِ . فَقَالَ : وَمَا ذَاكَ ؟ قَالُوْا : یُصَلُّوْنَ كَمَا نُصَلِّیْ، وَیَصُوْمُوْنَ كَمَا نَصُوْمُ، وَیَتَصَدَّقُوْنَ وَلَا نَتَصَدَّقُ، وَیُعْتِقُوْنَ وَلَا نُعْتِقُ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَفَلَا اُعَلِّمُكُمْ شَیْئًا تُدْرِكُوْنَ بِهٖ مَنْ سَبَقَكُمْ، وَتَسْبِقُوْنَ بِهٖ مَنْ بَعْدَكُمْ، وَلَا یَكُوْنُ اَحَدٌ اَفْضَلَ مِنْكُمْ، اِلَّا مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ ؟ قَالُوْا : بَلٰی یَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! قَالَ : تُسَبِّحُوْنَ، وَتُكَبِّرُوْنَ، وَتَحْمَدُوْنَ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِیْنَ مَرَّةً . قَالَ اَبُوْصَالِحٍ : فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِیْنَ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالُوْا : سَمِعَ اِخْوَانُنَا اَهْلُ الْاَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا، فَفَعَلُوْا مِثْلَهٗ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ یُؤْتِیْهِ مَنْ یَّشَاءُ . متفق علیه . ولیس قول ابی صالح الی آخره اِلَّا عِنْدَ مُسْلِمٍ . وفی روایةٍ للبخاریّ : تُسَبِّحُوْنَ فِیْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا، وَتَحْمَدُوْنَ عَشْرًا، وَتُكَبِّرُوْنَ عَشْرًا، بدل ثَلَاثًا وَثَلَاثِیْنَ.

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی (یوه ورځ) فقیران مهاجرین د رسول اللہ ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئے اوکړو اے د اللہ رسوله ! دولت مند خلقو اوچت درجات او دائمی نعمتونو (یعنی د جنت په نعمتونو حاصلولو کښې زمونږ نه) مخکښې والے اوکړو ۔ (یعنی هغوی د خپل مال او دولت په وجه ډیر ثوابونه حاصلوی او د جنت د نعمتونو مستحق کیږی او مونږ خو د غربت او فقیرئ په وجه په اوچتو الی د درجاتو کښې د هغوی نه روستو پاتے شو) نبی کریم ﷺ اوفرمایل : دا ځنګه ؟ هغوی عرض اوکړو : هغوی مونځ کوی لکه ځنګه چه مونږ مونځ کوو او هغوی روژے نیسی لکه ځنګه چه مونږ روژے نیسو (پدے اعمالو کښې خو هغوی او مونږ برابر یو لیکن د مال په وجه) هغوی صدقه او خیراتونه کوی او مونږ صدقه او خیرات نشو کولے،

هغوی غلامان آزادوی او مونږ غلامان نشو آزادولے (نو هغوی به ددے اعمالو د ثواب مستحق گرځي او مونږ به محروم یو) رسول الله ﷺ اوفرمایل : آیا زه تاسو ته یو داسے خبره نه ښایم ؟ چه په هغے باندے عمل کولو سره به تاسو د هغه خلقو درجاتو ته اورسیږئ کوم چه تاسو نه مخکښ شویدی او د هغه خلقو مرتبے نه به اوچت شئ کوم چه ستاسو نه روستو دی (یعنی ستاسو نه ئے اسلام روستو راوړیدے یا به روستو پیدا کیږی یا ئے دا اذکار ندی وئیلی) او ستاسو نه به هیڅ یو تن بهتر نه وی مگر هغه شخص چه ستاسو په شان عمل اوکړی (یعنی که مالدارو ستاسو په شان عمل اوکړو نو هغوی به درنه بیا بهتروی) فقراؤ عرض اوکړو : ولے نه ! اے د الله رسوله (هغه کومه خبره ده ؟) نبی کریم ﷺ اوفرمایل : تاسو به د هر (فرض) مانځه نه بعد سبحان الله، الله اکبر، او الحمد لله درے دیرش کرتے وایئ ۔ (د حدیث یو راوی) ابو صالح فرمائی چه : (څه ورځے پس) فقراء مهاجرین (بیا) رسول الله ﷺ ته واپس شو او عرض ئے اوکړو یا رسول الله ! زمونږ مالدارو ورونو زمونږ د عمل حال واوریدو او هغوی هم هغه شان عمل کوی څنگه چه مونږ کوو (نو بیا هغوی زمونږ نه افضل شو) نبی کریم ﷺ اوفرمایل : دا د الله تعالی فضل دے ورکوی چا ته ئے چه اوغواړی (چه هغوی ته ئے مال ورکړیدے او تاسو ته ئے ندے درکړے او دین د تولو شریك دے نو زه هغوی نشم منع کولے) ۔ (بخاری ومسلم) او د ابو صالح قول چه په آخر د حدیث کښ دے صرف امام مسلم نقل کړیدے ۔ دارنگه د بخاری په یو روایت کښ د درے دیرش وئیلو په ځائے دا دی چه د هر مانځه نه بعد لس لس کرتے سبحان الله، الحمد لله او الله اکبر وایئ ۔

تشریح : – فوائد الحدیث : (۱) پدے حدیث کښ د صحابه کرامو نیکو ته پسخیدل او هغے طرفته شوق او رغبت ذکر دے (۲) ذکر اذکار په توجه سره غوره دی د صدقے ورکولو نه ۔

(۳) اختلاف دے چه فقیر صابر غوره دے او که غنی شاکر نو حافظ ابن قیمؒ په عدة الصابرین وذخیرة الشاکرین کتاب کښ پدے لویه مناظره د جانبینو لیکلے ده او د هر فضائل ئے ذکر کړیدی چه فیصله پکښ دا ده چه پدے دواړو کښ کوم ډیر اتقیٰ وی هغه غوره دے کله به فقیر صابر وی لیکن تقوی به ئے کمه وی نو مالداره به ترے غوره شی او کله به مالدار شاکر وی لیکن ډیر اتقیٰ به نه ویٰ نو بیا به فقیر صابر غوره وی ۔ (٤) دا ذکر اذکار د فرائضو نه پس دی ۔

(۵) پدے اذکارو کښ یو څو کیفیات دی هغه ټولو باندے عمل کولو سره په سنت باندے عمل راځی : **۱– کیفیت** : سبحان الله (۳۳) کرته الحمد لله (۳۳) کرته او الله اکبر (۳٤) کرته دا په روایت د مسلم (۲۱۹/۱) کښ راغلے دے او روستو زاروان دے ۔

۲– سبحان الله (۳۳) الحمد لله (۳۳) الله اکبر (۳۳) کرته او آخر کښ لا اله الا الله وحده لا شریك له له الملك وله الحمد وهو علی کل شیئ قدیر وئیلو سره ټول گناهونه معاف کیږی اگرکه د دریاب د زگ په مقدار وی ۔ مسلم (۲۱۸/۱)

۳-**کیفیت** : هر یو (۳۳) کرت وئیل لکه پدے روایت د ابو هریره کښې دی ـ
٤- **کیفیت** : لس لس کرتے وئیل لکه بخاری کتاب الدعوات (۹۳۷/۲) او ترمذی او ابوداود کښې دی۔ ٥-**کیفیت** : یولس یولس (۱۱) کرتے وئیل کما فی مسلم (۲۱۹/۱) لیکن هغه د سهیل راوی الفاظ دی چه د حدیث د ثلاثا وثلاثون نه ئے معلومه کړیده چه هر یو یولس یولس کرته اووئیل شی نو کټ (۳۳) جوړیږی ـ مګر حافظ ابن قیم په زاد المعاد (۱۹۰/۱) کښې لیکی چه دا شاذ کیفیت دے وجه دا ده چه یسبحون او یحمدون او یکبرون دبر کل صلاة ثلاثا وثلاثون نه راوی دا معلومه کړیده چه (۱۱) کرته به هر یو وائی – لیکن هغے کښې راجح احتمال دا دے چه هر یو بیل بیل (۳۳) کرتے وئیل مراد دی آه ـ مګر کله کله پرے عمل کول جائز دی ځکه دوه احتماله پکښې دی۔ ٦- **کیفیت** : سبحان الله (۲۵) الحمد لله (۲۵) الله اکبر (۲۵) لا اله الا الله (۲۵) کرتے لکه روستو روایت راروان دے ـ

(٦) – بعض روایاتو کښې الله اکبر مقدم دے په الحمد باندے او اکثرو کښې الحمد مقدم دے په الله اکبر باندے نو پدے کښې تقدیم تاخیر جائز دے د یو حدیث نه معلومیږی (لایضرك بایهن بدأت رواه مسلم : مشکاة (۲۰۰/۱) او الحمد مخکښې کول په الله اکبر باندے اولیٰ او افضل دی ځکه دا په اکثرو روایاتو کښې راغلی دی ـ وانظر مجموع الفتاوی لشیخ الاسلام (۵۱۶،۵۱۵/۲۲)

دیکښې بله طریقه دا هم کیدے شی چه ټول په شریکه (۳۳) کرتے اووائی سبحان الله، الحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر ـ نو ټول به (۳۳) کرتے شی لیکن دا مجمل روایت دے اولنی واضح دی۔

۸– وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ – اَوْ فَاعِلُهُنَّ -- دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوْبَةٍ : ثَلَاثٌ وَثَلَاثُوْنَ تَسْبِيْحَةً، وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُوْنَ تَحْمِيْدَةً، وَاَرْبَعٌ وَثَلَاثُوْنَ تَكْبِيْرَةً، رواهُ مسلم ـــــــــ

ترجمه : او کعب بن عجره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : د هر فرض مانځه نه پس د لوستلو یو څو کلمات دی چه د هغے ویونکے – یا ئے وفرمایل : د هغے کونکے –(به د ثواب حاصلولو نه محروم نه شی او هغه کلمات دا دی) سبحان الله دری دیرش کرت، الحمد لله دری دیرش کرت او الله اکبر څلور دیرش کرت ـ (مسلم)

تشریح : مُعَقِّبَاتٌ : (روستو راتلونکی کلمات دی) معقبات ورته د دوه وجو نه وائی (لانها عقب الصلاة) ـ یعنی دا د مانځه نه روستو وئیلے کیږی۔ ۲– یا د یو بل نه روستو وئیل کیږی یعنی په یو ځل په طریقه د جمع سره نه وئیلے کیږی۔

نو لس لس کرتے وئیل هم ډیر اجر لري چه د پنځو مونځونو حساب سره مجموعه نیکئ (۱۵۰۰) پنځلس سوه کیږي ځکه یوه نیکی په لس چنده ده ۔ او چه دري دیرش (۳۳) کرتے ئے اووائی نو مجموعه نیکئ پنځه زره شوے او ددې اذکارو مقصد دا دے چه مونځ کښې کومه خشوع خرابه شوی وی د هغې تدارك اوکړی پدے وجه دا ډیر په توجه سره او په سرخکته کولو سره لوستل پکار دی چه د مانځه اجر زیات شی۔

۹– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَنْ سَبَّحَ اللّٰهَ فِیْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِیْنَ، وَحَمِدَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِیْنَ، وَكَبَّرَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِیْنَ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُوْنَ، وَقَالَ تَمَامَ الْمِائَةِ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ، غُفِرَتْ خَطَایَاهُ وَاِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ.

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی : چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : چا چه د هر (فرض) مانځه نه روستو سبحان الله دری دیرش کرت او الحمد لله دری دیرش کرت او الله اکبر دری دیرش کرت اووئیل چه ددے مجموعی عدد نهه نوی (۹۹) دی او د سلو شمار پوره کولو دپاره یو کرت دا دعاء اووائی : لا اله الاالله الخ نو د هغه تمام گناهونه به اوبخلے شی اگرکه د سمندر د زگ برابر وی ۔ (مسلم)

تشریح : دا احادیث په مختلف احوالو باندے محمول دی پدے وجه پدے کښې تعارض نشته کله په یو عمل او کله په بل عمل پکار دے ۔ او په حدیث کښې اشاره ده چه دا ډیر لوئی اعمال دی نو ددې پریخودل مناسب نه دی، انسان ډیرے نیکئ په لگ وخت کښې جمع کولے شی او ډیر گناهونه ئے معاف کیږي ۔

الفصل الثانی

۱۰– عَنْ اَبِیْ اُمَامَةَ ﷺ، قَالَ : قِیْلَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! اَیُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ ؟ قَالَ : جَوْفَ اللَّیْلِ الْآخِرِ، وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوْبَاتِ . رواهُ الترمذیُّ.

ترجمه : ابو امامه ﷺ فرمائی : عرض اوکړے شی اے د الله رسوله ! کوم وخت دعاء ډیره قبلیږي ؟ هغه اوفرمایل : د شپے په آخری حصه کښې (یعنی پیشمنی وقت کښې) او د فرض مونځونو نه بعد ۔ (ترمذیؒ) ۔

تشریح : اَیُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ : په دعاء بعد الفرائض کښې لاسونه اوچتول په احادیثو کښې ندی ثابت بلکه کوم اذکار شرعیه چه راغلی دی د هغې سره لاسونه پورته کول بدعت دے البته امام ابن قیمؒ فرمائی : که څوك خامخا لاس اوچتول غواړی نو تول اذکار شرعیه دې پوره کړی او بیا که دعاء کول غواړی (ادعیه مطلقه) نو لاس اوچتول جواز لری ۔ زاد المعاد (۱/۲۴۹) لیکن دا دعاء بعد الصلاة نه ده بلکه یوه عامه دعاء ده۔

بيا د دعاء د اجابت ډير مواضع دي دلته دوه ځايونه ذكر شو ١– يو د شپې آخري حصه ـ ٢– دويم د فرض مانځه نه روستو شرعي دعاګانې كول ـ

مسئله: دعاء بعد الفرائض په هيئت اجتماعي څه حيثيت لري؟

د فرض مونځونو نه روستو په مطلق طور باندې بغير د څه سبب نه اجتماعي دعاء كول بدعت دې ځكه د رسول الله ﷺ نه او د صحابه كرامو او تابعينو د عمل نه ددې هيڅ دليل نه ملاويږي ـ اوكوم علماء چه د اجتماعي دعاء قائل دي هغوي په متعدد احاديثو استدلال كړيدې ليكن په هغې باندې استدلال كول صحيح نه دي لكه چه تاسو ته به معلومه شي ـ

خو ابتداء كښې د خلاصې په طور يو څو خبرې اوپيژنه ! :

(١) يو دا چه په اجتماعي طور باندې دعاء سره د رفع اليدين نه د مانځه نه بغير په عام حالاتو كښې په احاديثو كښې ثابته ده لكه په استسقاء كښې او په خطبه د جُمعې كښې د رسول الله ﷺ نه يو سړي د باران دپاره مطالبه د دعاء اوكړه نو هغه لاسونه پورته كړل سره د ټولو خلقو نه ـ او د ام سليم په كور كښې ئې اجتماعي دعاء كړيده ـ

(٢) كه يوه حادثه يا يو ضرورت راپيښ شي او امام ته مقتديان اووائي چه زه بيمار يم يا زما فلانې حاجت دې ما دپاره دعاء اوغواړه يا فلاني مريض يا مړي دپاره دعاء اوغواړه نو ددې ثبوت په احاديثو كښې ملاويږي ـ (٣) دريم د فرض مانځه نه روستو ځان دپاره يواځې دعاء غوختل جواز لري كومې چه منقولې دعاګانې دي او په هغې كښې به رفع اليدين نه كوي ـ

(٤) او په ادعيه مطلقه كښې لاسونه پورته كول هم پكار دي ځكه دا رفع اليدين في الدعاء د دعاء د آدابو نه دي او په مطلق دعاء كښې رفع اليدين تقريبا د سل احاديثو نه ثابت دي انظر فتاوى الدين الخالص (٤/٥٥٤) وجلاء الافهام ـ وتفهيم المسائل (٦/١٧٨) للشيخ گوهر رحمان المرداني رحمه الله ـ (٥) په شرعي اذكار او دعاګانو كښې چه د مانځه نه روستو ثابت وي – لاسونه پورته كول ندي جائز بلكه دا بدعت شمارلې شي ـ او بغير د رفع اليدين نه به هغه دعاګانې وئيلې شي لكه په صحيحينو كښې د هغې تذكره راغلې ده انظر كشف الباحث (٩٥) للشيخ اكرام الدين ـ

ددې نه علاوه د فرض مونځونو نه روستو د امام او مقتديانو په شريكه لاسونه د دعاء دپاره پورته كول او بيا په شريكه په مخ باندې راخكل دا بدعت دې او بيا ددې التزام كول بل بدعت دې چه مقتديان تر هغه وخته پورې نه پاڅيږي چه امام دعاء نه وي كړې ګويا كښې د دوی مونځ په دعاء باندې خلاصيږي او دا ئې د مانځه حصه ګرځولې ده او امام كه يوه ورځ دعاء پريدې نو مقتديان پرې فتوى لګوي چه وهابي شويدې او دعاء نه مني، نو دا ډير لوئي بدعت قبيحه دې چه ددې پريخودل واجب دي ـ لكه روستو به د دلائلو او د اقوالو د علماؤ نه واضحه شي ـ او ددې دعاء نحوست دا دې چه شرعي اذكار ددې په وجه نه مقتديان وائي او نه امام بلكه هغه ټول عمر

متروک بلاعمل پاتے وی، نو ددے بدعت په وجه ترے ښائسته سنت طريقه ضائع شوه، بدعتيانو ډيره ګټه اوکړه ؟ !! ۔

اوس هغه **دلائل** چه خلق ئے د اثبات د دعاءِ اجتماعی دپاره پيش کوی او د هغے جائزه :

۱- **دليل** دا وائی : چه پدے حديث د ابوامامهؓ کښ راغلل چه د فرض مونځونو نه بعد دعاء ښه قبليږی لهذا پدے وخت کښ که اجتماعی دعاء اوکړے شی نو لا بهتره ده ۔

الجواب : اول پدے حديث کښ د اجتماعی دعاء هيڅ ثبوت نشته بلکه دا ورسره د ځان نه پيوندونه اچول دی۔ ۲- دويم دا چه دا حديث ضعيف سند والا دے ددے په سند کښ علتونه دی ۱- يو دا چه ابن جريج مدلس دے بلکه دارقطنیؒ وئيلی دی چه د ټولو نه بد تدليس د ابن جريجؒ تدليس دے ځکه هغه په داسے وقت کښ تدليس کوی چه حديث ئے د يو مجروح راوی نه اوريدلے وی لکه حافظ ابن حجرؒ په تهذيب التهذيب او طبقات المدلسين کښ ذکر کړيدی او پدے روايت کښ ابن جريجؒ د تحديث يا سماع صراحت ندے کړے ۔

ب : دارنګه دا سند منقطع دے ځکه عبد الرحمن بن سابط د ابوامامهؓ نه سماع نه ده کړے لکه ابن معينؒ وئيلی دی۔ ج : دارنګه پدے کښ دبر الصلوات اضافه شاذ ده ځکه د ابوامامهؓ نه ددے حديث نور پنځه سندونه هم شته مګر په هغے کښ دا اضافه نشته بلکه په هغے کښ صرف اوله جمله ده يعنی جوف الليل الآخر۔ لکه دا علتونه ټول حافظ ابن حجر په الفتوحات الربانيه (۳۰/۳) کښ ذکر کړيدی ۔ او علامه ابو عبد السلام عبد الرؤف بن عبد الحنان په القول المقبول فی تعليق صلاة الرسول ص (٤٩٥) کښ نقل کړيدی ۔

ليکن شيخ البانی په صحيح الترمذی رقم (۲۷۸۲) کښ ورته حسن وئيلے دے ۔ نو بيا اول جواب کافی دے ۔ چه پدے کښ د اجتماعی دعاء ثبوت نه شته ۔

۲- **دليل** : حديث د انسؓ دے : چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : ما من عبد بسط كفيه فی دبر كل صلاة ثم يقول : اللهم الهی واله ابراهيم واسحاق ويعقوب واله جبريل وميكائيل واسرافيل اسئلك ان تستجيب دعوتی فانی مضطر وتعصمنی فی دينی فانی مبتلی وتنالنی برحمتك فانی مذنب وتنفی عنی الفقر فانی متمسكن الا كان حقاً علی الله عز وجل ان لا يرد يديه خائبتين (عمل اليوم والليلة لابن السنی رقم : ۱۳۸)

الجواب : دا روايت ابو الشيخ په (ثواب) کښ او ابن عساکر راوړيدے کما فی اللآلی المصنوعه (۱۸۲) او ابن السنی (۱۳۸) راوړيدے او د هغوی سند داسے دے : اسحاق بن خالد بن يزيد البالسی ثنا عبد العزيز بن عبد الرحمن البالسی عن خصيف عن انس الخ ۔

نو دا سند سخت ضعيف دے، ۱ – اسحاق بن خالد ضعيف دے ابن عدیؒ وائی : ده ډير متعدد منکر احاديث روايت کړيدی چه د هغے نه معلوميږی چه دا ضعيف دے الكامل (۱/۳۳۷) ميزان الاعتدال (۱/۱۹۰) ۲- د عبد العزيز بن عبد الرحمن احاديث دروغ او منکرت دی لکه امام احمد بن

حنبل وئیلی دی ۔ ★- عبد الله بن احمد او ابن عدیؒ وائی : دده د خصیف نه بیان کړه روایات باطل دی ۔انظر الضعفاء للعقیلی ۶۰۵/۳، الکامل لابن عدی (۹٤۲/۳) ترجمة خصیف (۱۹۲۷/۵) ترجمة عبد العزیز۔ حافظ ابن حبانؒ فرمائی : په ده باند هیڅ قسم احتجاج نشی کیدے۔ المجروحین لابن حبان (۱۳۸/۲) بشیر عیون په تعلیق د ابن السنی کښې لیکی : سنده ضعیف۔

۳- خصیف بن عبد الرحمن سیئ الحفظ دے لکه حافظ ذهبیؒ په کاشف او ابن حجرؒ په التقریب کښې وئیلی دی، ذهبیؒ وائی : ضعفه احمدؒ۔ ابن حجرؒ وائی : دا په آخر کښې مختلط شوے وو ۔ ٤- دارنګه د خصیف او انسؓ ترمینځ انقطاع هم ده ځکه خصیف د انسؓ سره ملاقات او سماع نه ده شوے لهذا ددے علتونو په وجه دا حدیث ضعیف جدا دے (نه دے ثابت)

بالفرض که ثابت شی نو په دے کښې د اجتماعی دعاء نام ونشان هم نشته ځکه دلته ما من عبد مفرد ذکر دے نو دا د منفرد سړی په باره کښې دے ۔

۳- **دلیل** : د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کښې دی : رسول الله ﷺ د سلام اړولو نه بعد مخ په قبله لاس پورته کړو او دا دعاء ئے اوکړه : اللهم خلص الولید بن الولید وعیاش بن ربیعة وضعفة المسلمین من ایدی المشرکین الذین لایستطیعون حیلة ولا یهتدون سبیلاً (تفسیر ابن جریر : ۲۳۷/۵ النساء : آیت : ۹۸) وتفسیر ابن کثیر (۲٤٤/۲) ۔

او تفسیر ابن جریرؒ کښې ورسره دی چه د ظهر د مانځه نه روستو به ئے دا دعاء کوله ۔

الجواب : ددے دلیل رد په درے طرقو دے ۔ (۱) اول دا چه په دے حدیث کښې د اجتماعی دعاء ذکر نشته نو دا خبره د شیخ ګوهر رحمان صحیح نه ده چه وائی هر کله چه رسول الله ﷺ دعاء کوله نو ظاهره ده چه مقتدیانو به هم د هغه سره شرکت کولو او دا د شان د صحابه کرامو نه بعیده ده چه رسول الله ﷺ کله دعاء کوی او هغوی تول په توله د هغه نه پاڅیدلی وی (تفهیم المسائل : ۱۸۵/٦) دا خبره صحیح نه ده ځکه چه دا په احتمال او شك باندے عبادت ثابتول دی، په هیڅ حدیث کښې ورسره دا نشته چه صحابه کرامو ورسره لاسونه پورته کړل لهذا دا انفرادی دعاء ده لکه دا ظاهر د احادیثو دے ۔

۲- **دویم جواب** : دا سند ضعیف دے په دے کښې علی بن زید بن جدعان ضعیف دے لکه تقریب کښې دی۔ (ب) دارنګه په دے سند کښې علی بن زید باندے اختلاف راغلے دے، ابن ابی حاتم په نزد علی بن زید دا حدیث د سعید بن المسیب په واسطه د ابو هریره نه روایت کوی او د ابن جریر په نزد علی دا د سعید بن المسیب په ځائے د عبد الله یا ابراهیم بن عبد الله په واسطه د ابو هریره نه روایت کوی۔

(ج) دارنګه علی بن زید خو دا حدیث دغه شان بیان کړیدے مګر امام زهری چه ثقه او حافظ دے هغه دا حدیث د سعید بن المسیب نه داسے نقل کوی چه رسول الله ﷺ د رکوع نه بعد دغه

دعاء طلب كوله ـ لهذا دا بيا په قنوت نازله كښې داخله ده ـ

ددې حديث د ابو هريره دپاره د سعيد بن المسيب نه علاوه درې سندونه نور هم شته په هغې تولو كښې دا دعاء د دركوع نه بعد ذكر ده لكه هغه مختلف سندونه امام بخاري (٧٩٧) (٨٠٤) (١٠٠٦) (٢٩٣) مسلم (١٧٦/٥) (١٧٨) او ابوعوانة (٢٨٠/٢) وابوداود (١٤٤٢) والنسائي (٢٠١/٢، ٢٠٢) وابن ماجه (١٢٤٤) والدارمي (٢٧٤/١) واحمد (٢٣٩/٢) (٢٥٥) (٣٣٧) وابن الجارود (١٩٧) وابن خزيمة (٦١٥) والطحاوي (٢٤١/١) وابن حبان (٣٠٦/٥، ٣٠٧) والدارقطني (٣٠٨/٢) وابن حزم (١٣٩/٤، ١٤٩) والبيهقي (١٩٧/٢)۔ دې امامانو نقل كړيدى پدې تولو كتابونو د حديث كښې دا دى چه رسول الله ﷺ دا دعاء د ركوع نه بعد كوله، لهذا ثابته شوه چه علي بن زيد باندې پدې روايت كښې وهم راغلې دې او دا دعاء د قنوت نازله دعاء ده۔

او كه د علي دا روايت اومنلې شي هم ددې نه اجتماعي دعاء باندې استدلال نشي كيدې ځكه پدې كښې د يو خاص موقع دعاء ذكر ده ـ

خلاصه دا چه ١ – ددې سند ضعيف دې ٢ – د ضعف سره سره پدې كښې اختلاف هم دې ٣ – ثقه راويانو دا دعاء د ركوع نه بعد ذكر كړيده نو دا روايت منكر شو ـ ٤ – پدې كښې د اجتماعي دعاء قطعاً ذكر نشته ـ

٥ – دا دعاء د عام حالت دعاء نه ده بلكه د يو خاص سبب په بناءِ باندې شويده لهذا ددې نه د عام حالت د هر فرض مانځه نه پس په اجتماعي دعاء باندې استدلال كول صحيح نه دى ـ

٤ – **دليل** : د فضل بن عباسؓ په حديث كښې دى : رسول الله ﷺ اوفرمايل : مونځ دوه ركعاته دى، په هر دوه ركعاتو كښې تشهد اووايه (يعني سلام واړوه) خشوع او خضوع او اطمينان كوه بيا دواړه لاسونه خپل رب ته خواره كړه او يارب يارب وايه څوك چه داسې نه كوي، د هغه مونځ به ناقص وي او په بل روايت كښې دي ددې شخص په باره كښې وئيلې شويدي چه داسې داسې دې ـ

اخرجه عبد الله بن المبارك في المسند (٥٣) والزهد (١١٥٢) ومسند احمد (٢١١/١) و (١٦٧/٤) والترمذي (٣٨٥) وابويعلى (٦٧٣٨) وابن خزيمة (١٢١٣) والعقيلي (٣١٠/٢) والطبراني (٢٩٥/١٨) والبيهقي (٢٨٧/٢) (٢٨٨) وقد مر في آخر الفصل الثاني من صفة الصلاة ـ

الجواب : د دې روايت هم ډير جوابات دى (١) اول دا چه دا روايت ضعيف دې ځكه ددې په سند كښې عبد الله بن نافع بن ابي العمياء مجهول راوي دې او ده ته امام علي بن المديني مجهول وئيلې دې لكه حافظ په تهذيب (٤٦/٦) كښې ذكر كړيدى او په تقريب (٤٥٦/١) كښې ئې مجهول ورته وئيلې دې او د ابن حبان ده لره په ثقاتو كښې (٥٣/٧) كښې ذكر كولو له اعتبار نشته ځكه هغه مجاهيل هم ثقه شماري ، د نورو ائمه و نه ئې قول مخالف دې ـ امام بخاريؒ وئيلې دى : دده حديث صحيح نه دې ـ التاريخ الكبير (٢١٣/٥) والكامل لابن عدي (١٥٤١/٤) حافظ عقيليؒ ددې دوه سندونه ذكر كړيدى بيا ئې وئيلې دى : وفي الاسنادين جميعاً نظر لهذا دا حديث

ضعیف دے۔ ۲- **جواب** : ددے حدیث تعلق د فرض مانځه سره نه دے بلکه نفلی مانځه سره دے ځکه فرض مونځ خو درے او څلور رکعاته هم شته او دے حدیث کښې خو صرف دوه دوه رکعاته کول ذکر دی لهذا ضرور به دا حدیث په نوافلو باندے محمول وی نه په فرائضو۔

امام ابوحاتم دا هم وئیلی دی چه دا حدیث د سنن او نوافلو سره متعلق دے کما فی العلل لابن ابی حاتم (۱/۱۳۳) او امام ابوداود، ابن ماجه، ابن خزیمه او بیهقی دا په باب د صلاة اللیل والنهار مثنی مثنی کښې راوړیدے او هیڅ یو امام د فرض مانځه نه پس دا جتماعی دعاء دپاره پدے باندے استدلال ندے کړے۔

۳- **جواب** : دے روایت کښې خو د واحد مخاطب صیغے دی، لهذا دا د انفرادی دعاء سره متعلق دے، اجتماعی دعاء سره ئے هیڅ قسم تعلق نشته۔ ٤- **جواب** : دارنګه پکار ده چه قائلین د اجتماعی دعاء دیته فرض یا واجب اووائی یا ددے پریخودونکی ګناهګار اوګڼری ځکه چه ددے حدیث په بعض روایاتو کښې وعید راغلے دے او مونځ ناقص شمار شویدے۔

۵- **دلیل** : طبرانی کښې د محمد بن ابی یحیی اسلمی نه روایت دے چه عبد الله بن زبیر یو شخص اولیدو چه د سلام ګرځولو نه مخکښې ئے د دعاء دپاره لاسونه پورته کړل نو هغه ورته اوفرمایل : رسول الله ﷺ به د مانځه د فراغت نه بعد لاسونه پورته کول۔ حافظ هیثمیؒ وائی : رجال ددے سند ثقات دی۔ مجمع الزوائد (۱۰/۱۷۲)

الجواب : اول خو د طبرانی کبیر چهاپ شوی نسخے ناقص دی او په هغے کښې د عبد الله بن زبیرؓ احادیث نشته لهذا ددے حدیث د سند اصلی صورتحال معلوم مشکل دی نو ددے سند راویان اګرکه ثقه وی نو بیا هم پته نه لګی چه آیا سند کښې انقطاع شته او که نه؟ مدلس راوی پکښې شته یا نه او د تحدیث یا د سماع صراحت ئے کړیدے یا نه نو ددے خبرو معلومات نشته بلکه دا حدیث ابن کثیرؒ په جامع المسانید (۷/۵۲۶) رقم (۵٤۹٦) کښې ذکر کړیدے د سلیمان بن الحسن العطار عن ابی کامل الجحدری عن فضل بن سلیمان عن محمد بن یحیی الاسلمی په سند سره او پدے حدیث کښې مقال دے ځکه فضل بن سلیمان مجهول راوی دے شاید چه ددے نه فضیل بن سلیمان مراد وی لکه تهذیب کښې دی نو دا بیا ضعیف راوی دے ابن معین ورته لیس بثقه وئیلے دے۔ او په تعلیق د کتاب الدعاء للطبرانی کښې علامه محمد سعید بن محمد حسن البخاری لیکی چه د سلیمان بن الحسن العطار ترجمه ما نده موندلے لهذا دا هم مجهول راوی دے نو د اصول الحدیث مطابق دا روایت ضعیف دے، پدے به استدلال نشی کیدے۔ وانظر فتاوی الدین الخالص (٤/٤٥٨) ۲- **جواب** : پدے روایت کښې هم اجتماعی دعاء قطعا نه ده ذکر بلکه ددے نه زیات نه زیات انفرادی دعاء باندے استدلال کیدے شی۔

٦- **دلیل** : په طویل حدیث کښې دی : (لا یؤم عبد قوماً فیخص نفسه بدعوة دونهم فان فعل فقد

خانهم) کوم شخص چه د یو قوم امام وی نو هغه له ځان دپاره دعاء ندی کول پکار که داسے ئے اوکړل نو هغه د قوم سره خیانت اوکړو ۔ مسند احمد (٥/٢٥٠، ٢٦٠) (٢٦١) بخاری فی الادب المفرد (١٠٩٦) طهارت باب ایصلی الرجل وهو حاقن والترمذی (٣٥٧) وابن ماجة (٩٢٣) والبیهقی (٣/١٢٩) (١٣٠) والمزی فی تهذیب الکمال (٢/٣٩٣)۔

الجواب: دے حدیث ته امام ترمذی وغیره حسن وئیلے دے مگر ابن خزیمه په خپل صحیح (٦٣/٣) کښ او البانیؒ په ضعیف الجامع (٦٣٤٩) کښ دیته ضعیف وئیلے دے لیکن قول د ترمذی صحیح دے ۔ ٢- دویم دا چه پدے حدیث کښ صرف دا دی چه امام دِ ځان دپاره دعاء نه خاص کوی، پدے کښ خو دا نشته چه مقتدیان به د امام سره په یو ځائے په شریکه اجتماعی دعاء کوی لهذا ددے حدیث نه په اجتماعی دعاء باندے استدلال کول مردود دی ۔

٣- بله دا چه ددے حدیث د ظاهر نه معلومیږی چه ددے تعلق د هغه دعاګانو سره دے چه په مانځه کښ دننه وی او د مانځه د فراغت نه بعد سره ئے تعلق نشته ۔

٤- بله دا چه پدے حدیث کښ خو ددے خبرے ممانعت دے چه امام صرف ځان دپاره دعاء اوکړی او حال دا چه د رسول الله ﷺ په مانځه کښ او د مانځه نه بعد ټولے دعاګانے په لفظ د واحد سره دی لکه دا خبره حافظ ابن قیمؒ هم کړیده، والمحفوظ فی ادعیته ﷺ فی الصلاة کلها بلفظ الافراد کقوله رب اغفر لی وارحمنی واهدنی الخ زاد المعاد (١/٢٥٥)۔

یعنی په ټول مانځه کښ د نبی علیه السلام دعاګانے په لفظ د واحد سره دی لکه رب اغفر لی الخ دارنګه دعاء د استفتاح: اللهم اغسل خطایای الخ ددے وجے نه امام ابن خزیمهؒ په ترجمة الباب کښ دا وئیلی دی چه په احادیثو کښ دا ثابته ده چه د امام دپاره خاص دعاء ځان ته جائز ده او دے مذکوره حدیث ته ئے غیر ثابت وئیلے دے ۔ صحیح ابن خزیمة (٣/٦٣ باب: ١٢٨)

٥- حافظ ابن قیمؒ فرمائی: ما د خپل استاذ شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ نه اوریدلی دی چه هغه وئیلی دی چه دا حدیث د دعاء قنوت وغیره په باره کښ دے چه په دعاء قنوت کښ به صرف ځان ته دعاء نه کوی بلکه مقتدیانو دپاره به د جمع صیغه استعمالوی ۔ زاد المعاد (١/٢٥٦)

٧- **دلیل**: روایت د یزید بن اسود عامری دے چه د خپل پلار نه نقل کوی: صلیت مع رسول الله ﷺ الفجر فلما سلم انحرف ورفع یدیه ودعا ...... وائی ما د رسول الله ﷺ سره د سحر مونځ اوکړو د سلام نه روستو اوګرځید او مقتدیانو ته متوجه شو او دواړه لاسونه ئے د دعاء دپاره پورته کړل۔

الجواب: دا حدیث په ابوداود (٦١٤) والنسائی (٣/٦٧) او ابن ابی شیبه (١/٣٠٢) ادارة القرآن والعلوم الاسلامیه کښ راغلے دے لیکن پدے کښ یو هم د انحرف نه روستو د (رفع یدیه ودعا) لفظ ندے ذکر کړے ۔ بلکه صرف فلما سلم انحرف لفظ دے ۔ معلومه شوه چه چا ته اشتباه شویده او د ابن ابی شیبه حواله ئے ورکړیده او بیا ډیرو علماؤ بغیر د مراجعت نه اصل ته

دا حواله په ابن ابي شيبه ورکړيده لکه مولانا عبد الحی اللکهنوی په فتاوی کښ او د شاه انور شاه په تقرير معارف السنن کښ او مولانا عبد الرحمن مبارکفوریؒ په تحفة الاحوذی کښ او مولانا اشرف علی تهانویؒ په امداد الفتاوی کښ او مفتی کفايت الله په النفائس المرغوبة کښ دغه حواله ورکړيده او اصل ته ئې رجوع نه ده کړې.

علامه گوهر رحمان په تفهيم المسائل (١٨١/٦) کښ ليکی : ما د ابن ابي شيبةؒ دوه نسخو ته چه په کراچی او ملتان کښ طبع شويدی رجوع اوکړه نو دغه الفاظ پکښ ما ته ملاو نشو لهذا ددې روايت نه رفع اليدين فی الدعاء بعد المكتوبة نه ثابتيږی انتهى.

٢– جواب : بالفرض که اومنو چه دا الفاظ شته نو بيا هم پدې کښ د اجتماعی دعاء بالکل هيڅ ثبوت نه ملاويږی ځکه پدې کښ صرف انفرادی دعاء ثابتيږی د نبی عليه السلام سره د نورو صحابه کرامو اجتماعی شکل دِ څوك پيش کړی ؟ ـ دا وو دلائل د قائلين د اجتماعی دعاء بعد الفرائض۔ نور دلائل هم شته ليکن ټول ضعيف دی يا انفرادی مشروع اذکارو نه استدلال دې لکه نبی عليه السلام د سلام نه روستو اللهم انی اسئلك علما نافعا الخ دعاء وئيلې ده ـ نو دا حديث په مدعی باندې دلالت نه کوی۔

دارنګه استدلال کوی په عموم د احاديث د رفع اليدن فی الدعاء باندې چه هغه ډير احاديث دی او صحيح هم دی ليکن د هغې نه استدلال کول خطاء دی ځکه په عام ادعيه کښ رفع اليدين صحيح دی خو هغه په غير مقيد بوقت دعاګانو کښ دی او په مطلق دعاګانو کښ رفع اليدين ادب د دعاء دې، که مونږ ئې د مکتوبه نه پس دعاء پورې خاص کړو نو بيا پکار ده چه په ټولو موقتو دعاګانو کښ رفع اليدين سنت شی لکه مسجد ته د داخليدو او خارجيدو وخت کښ د طعام په وخت، د بازار، يا د جماع په وخت کښ، هر کله چه دغه ادعيه کښ رفع اليدين سنت ندی نو په دعاء بعد المكتوبات کښ هم سنت ندی۔

د علی يو موقوف ضعيف روايت هم پيش کوی : اذا صليتم الصبح فافزعوا الى الدعاء (تاريخ بغداد: ١٥٥/١٢) وابن عساكر فی تاريخ دمشق (٩٨) ـ

الجواب : دا روايت ضعيف جدا دې فيه عباس بن عبد الله بن عصام متهم بالكذب راوی دې انظر المغنی فی الضعفاء (٤٢٩/١) ديوان : ٢٠/٢) القول المقبول (٤٩٦)

خلاصه : د مذکوره تفصيل نه معلومه شوه چه د اجتماعی دعاء د قائلينو سره په اجتماعی دعاء باندې هيڅ قسم دليل نشته، دوی چه په خپله مدعی کوم دلائل پيش کړل هغه د بيت العنکبوت نه هم زيات ضعيف دی، ددوی دعوی دا ده چه اجتماعی دعاء ثابته ده او کوم دلائل چه پيش کوی نو هغه د انفرادی دعاء دی او دوارو خبرو کښ د زمکې او آسمان فرق دې ـ

رسول الله ﷺ په خپل ژوند مبارك کښ (٣٣) زره مونځونه کړيدی او پنځه وخت به صحابه

کرام د هغه سره په جماعت کښې شریك وُو لیکن هیڅ صحابي هم دا اجتماعي دعاء نه ده ذکر کړې نو دا ددې د باطل او مردود کیدو ښه قوي او واضح دلیل دې، صحابه کرامو خو د رسول الله ﷺ واړه واړه افعال هم مونږ ته رانقل کړیدي نو د داسې عظیمې مسئلې په باره کښې څنګه غلې پاتې شو؟ لهذا دا کار بدعتِ قبیحه دې. پدې باره کښې د علماء کرامو اقوال اوګوره!

اقوال العلماء : ١– حافظ ابن قیمؒ په زاد المعاد (٢٤٩/١) کښې لیکي : د سلام نه روستو چه امام او مقتدیان په شریکه دعاء غواړي نو دا د نبي علیه السلام طریقه بالکل نه ده او نه دا په صحیح یا حسن حدیث کښې ثابت ده . بلکه دا کار بدعت دې.

٢– مفتي الدیار السعودیه شیخ ابن باز رحمه الله فرمائي : د نبي ﷺ نه دا نه دي ثابت چه هغه د فرض مانځه نه پس لاسونه د دعاء دپاره پورته کړي وي او نه دا د هغه د صحابو نه ثابت دي نو کوم خلق چه د فرض مانځه روستو لاسونه پورته کوي نو دا بدعت دې چه هیڅ اصل ئې نشته او من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد . الفتاوی الاسلامیه (٣١٨/١).

٣– احسن الفتاوی کښې (٦٧/٣) رشید احمد لیکي : دعاء میں امام اور مقتدیوں کا آپس میں تعلق رکھنا خواہ آہستہ ہی کریں اسکا کسی حدیث سے کوئی ثبوت نہیں.

د شاه انور شاه قول ئې نقل کړیدې : چه د امام سره په یو ځائې باندې دعاء کولو رسم برابره ده سرا وي یا جهرا بدعت دې چه د قلتِ علم او کثرتِ جهل نه پیدا شویدې او د جهالو افراط دې.

بیا ئې ددې مروجه اجتماعي دعاء د بدعت کیدو وجوهات بیان کړیدي (١) اوله وجه دا ده چه عوامو دا دعاء د مانځه د سنن نه شمارلې ده نو ځکه بدعت شو.

(٢) ددې دعاء دومره التزام کوي چه څوك دا دعاء پریدي نو هغه ملامته کوي که یو امام پدې طریقه دعاء نه کوي نو هغه د امامت نه معزوله کولې شي.

(٣) د دعاء د اخفاء په افضلیت باندې د اجماع باوجود په جهر باندې اصرار کوي . ددې وجو هو په بناء د مونځونو نه بعد په عام مساجدو کښې دا عام مروّجه طریقه ختمول پکار دي او علماؤ له ددې نه منع پکار ده . بیا وائي (٦٨/٣) : د التزام په وجه خو یو مستحب عمل هم واجب الترك کیږي پاتې لا دا چه د هغې ثبوت هم نه وي او بیا هغه د مانځه د متعلقاتو نه شمارلې شوې وي پدې وجه د مساجدو امامانو باندې لازم دي چه د جهر رسم خو بالکل ختم کړي او اجتماعا سرّي دعاء متعلق هم مقتدیانو ته دا تبلیغ اوکړي چه دا طریقه د سنت نه ثابت نه ده آ هـ . دا وو د مفتي رشید احمد دیوبندي نصیحت د مساجدو امامانو ته – اوس دیوبندي شاخ احنافو له پکار دي چه پدې نصیحت خو عمل اوکړي!

٤– شاه انور شاه په العرف الشذي (٩٥/١) کښې لیکي : ولیعلم ان الهیئة الاجتماعیة برفع الایدي المتعارفة في العصر بعد المکتوبة نادرة في زمانه علیه السلام وثبت بعد النافلة من الاستسقاء وواقعة في

بيت ام سليم ـ يعنى د مازيګر مانځه نه پس په اجتماعى طريقه دعاء كول د نبى عليه السلام په زمانه كښې نه وو موجود البته د نفل مانځه نه پس لكه په استسقاء اوواقعه د ام سليم كښې دعاء اجتماعى ثابته ده ـ

٥- شيخ اكرام الدين په كشف الباحث (٩٥) كښې ليكى فالدعاء المعتاد بين الناس اما بعد الفرائض او بعد السنن بالكيفية المخصوصة امر لا يثبت من دليل شرعى فهو اعتداء (انه لا يحب المعتدين) يعنى د فرض يا سنتونه پس د خلقو د اجتماعى دعاء اثبات په هيڅ شرعى دليل نه كيږى بلكه دا اعتداء فى الدعاء كښې داخل دے كوم چه الله تعالى نه خوښوى ـ

٦- فتاوى اسلاميه (٣١٨/١) كښې دى : ومايفعله بعض الناس من رفع ايديهم بعد صلاة الفريضة بدعة لا اصل لها لقول النبى ﷺ من احدث فى امرنا هذا ما ليس منه فهو رد (متفق عليه)

يعنى كوم خلق چه د فرض مانځه نه روستو لاسونه د دعاء دپاره اوچتوى نو دا بدعت دے چه هيڅ اصل ئے په دين كښې نشته ـ د يو بل سوال په جواب كښې وائى : الدعاء جهراً عقب الصلوات الخمس والسنن الرواتب او الدعاء بعدها على الهيئة الاجتماعية على سبيل الدوام بدعة منكرة لانه لم يثبت عن النبى ﷺ شيئ من ذلك ولا عن اصحابه رضى الله عنهم ـ

خلاصه دا شوه چه په اجتماعى شكل باندے د فرائضو او سنتو نه روستو دعاء كول قبيح بدعت دے چه ځان ساتل ترے واجب دى ـ والله اعلم ـ

درجة الحديث : اسناده ضعيف والحديث صحيح، عبد الرزاق (٤٢٤/٢) والترمذى (٣٤٩٩) وقال حديث حسن وصححه الالبانى فى صحيح الترمذى (٢٧٨٢) واخرجه النسائى فى عمل اليوم والليلة (١٠٨) والحديث رجاله ثقات لكن فيه عنعنة ابن جريج وكان مدلساً وقد تكلم عليه الزيلعى فى نصب الراية (٢٣٥/٢) وفى الباب عن عمرو بن عبسة عند الترمذى (٣٥٧٤) والنسائى فى عمل اليوم والليلة وقال فى المرعاة (٣٢٦/٣) وايضاً فى سماع عبد الرحمن بن سابط عن ابى امامة كلام قال الحافظ فى الاصابة (١٤٨/٣) لم يسمع من جابر ولا من ابى امامة وقد ادرك هذين انتهى مختصراً ـ

١١- وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ ، قَالَ : اَمَرَنِىْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْ اَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ فِىْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ . رواه احمد وابوداود والنسائىُّ والبيهقىُّ فى الدعوات الكبير .

ترجمه : او عقبه بن عامر ﷺ فرمائى : ما ته رسول الله ﷺ حكم كړيدے چه زه د هر مانځه نه روستو معوذات سورتونه اولولم (احمدؒ، وابوداودؒ، نسائىؒ، بيهقىؒ)ـ

تشريح : بِالْمُعَوِّذَاتِ : په روايت د ابوداود، نسائى، الدعوات الكبير للبيهقى او مستدرك (٢٥٣/١) كښې لفظ د المعوذات دے او فضائل القرآن د ترمذى او صحيح ابن حبان كښې لفظ د معوذتين دے او په روايت د ابن خزيمه او ابن حبان وغيره كښې عام خطاب راغلے دے (تعوذوا) سره ـ

او معوذات هغه سورتونو ته وائي چه د هغې په ابتداء کښې اعوذ لفظ وي يعني د قرآن آخرى دوه سورتونه (قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) مراد دي ليکن معوذات خو جمع ده او سورتونه دوه دي ليکن دوه هم اقل افراد د جمع دي يا د معوذات نه مراد كلمات معوذات دي پدې وجه ئې جمع ذكر كړيده، يا دا چه آخرى درې سورتونه مراد دي قل هو الله احد هم پکښې داخل دې او دينه ئې هم معوذات سره تعبير كړيدې تغليبا يا تعوذ عام دې صراحةً وي او كه معنى.

علامه شوكانيؒ فرمائي : معوذات نه مراد آخرى دوه سورتونه دي ليكن په حديث د ابى امامه كښې باسناد حسن (جيد) كذا في المجمع (١٠٢/١٠) نقل دي چه قل هو الله احد چا مانځه نه روستو اولوستو (لم يمنعه من دخول الجنة الا الموت تحفة الذاكرين ص (١٤٩) وسيأتي .لهذا په معوذات كښې قل هو الله احد هم داخل دې . او دا حديث په طبراني في الكبير كښې هم بسند ضعيف راغلې دې. بعض وائي : معوذات كښې سوره كافرون او اخلاص هم داخل دي او پدې دواړو كښې هم برائت من الشرك دې او التجاء او تعوذ دې په الله باندې نو دا معنىً معوذات دي. لهذا كه څوك آخرى دوه سورتونه اولولي يا درې واړه يا څلور واړه نو عمل په معوذات باندې راځي. ليكن راجح دا ده چه آخرى درې سورتونه مراد دي.

او دا درې آخرى سورتونه په ډيرو مواضعو كښې لوستلې شي لكه په صبا بيګاه كښې ٢- د مصيبت په وخت كښې ٣- د هواء راتلو وخت كښې ٤ - د مانځه نه پس ٥- د مريض د عيادت په وخت (دم دې) كما في المشكاة (١٣٤/١)

درجة الحديث : اسناده صحيح مسند احمد (١٥٥/٤) ابوداود (١٥٢٣) والنسائي (٦٨/٣) وصححه الحاكم (٢٥٣/١) ووافقه الذهبي.

١٢ – وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَأَنْ اَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُوْنَ اللهَ مِنْ صَلاَةِ الْغَدَاةِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اُعْتِقَ اَرْبَعَةً مِنْ وُلْدِ اِسْمَاعِيْلَ. وَلَأَنْ اَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُوْنَ اللهَ مِنْ صَلاَةِ الْعَصْرِ اِلٰى اَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اُعْتِقَ اَرْبَعَةً . رواه ابوداوُد .

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : چه زه د يو داسې خلقو سره كينم چه د سحر مانځه نه تر نمر راختلو پورې د الله ذكر كوي دا ماته ډير محبوب دې د دينه چه زه د اسماعيل عليه السلام د اولادو (عربو) نه څلور غلامان آزاد كړم. او چه زه د يو داسې خلقو سره كينم چه د مازيګر مانځه نه تر نمر پريوتو پورې د الله ذكر كوي ما ته ډير محبوب دې د ددينه چه زه څلور غلامان آزاد كړم . (ابوداود).

تشريح : مِنْ وُلْدِ اِسْمَاعِيْلَ : د اسماعيل د اولادو نه عرب مراد دي دا حديث دليل دې چه عرب

غلامان جوړېدې شي لکه جویریه رضي الله عنها د بني المصطلق نه نیول شوې وه او بیا آزاده کړې شوه، حنین کښې زنانه نیول شوې وې۔ امام ابوحنیفةؒ وائي چه عرب نشي غلامان کېدې لیکن دا خبره ضعیفه ده ځکه اکثر غلامان د رسول الله ﷺ په زمانه کښې عرب وو نو پدې کښې تاویلاتو ته ضرورت نشته چه وائي دا په اشتباه سره غلامان جوړ شوي وو یا دلته د اعتاق نه مراد د شدائد او مصیبتونو او مهالکو نه خلاصول مراد دي، دې جواباتو ته د صریح نصوصو په خلاف کښې هیڅ حاجت نشته۔ بیا د څلورو عدد ذکر کولو کښې حکمت الله تعالی ته معلوم دې۔

٢– بعض وائي: څلور کارونه دي ١– ذکر الله ٢– القعود له ٣– الاجتماع علیه ٤– وحبس النفس الی طلوع الشمس۔ یا ١– قعود لذکر الله ٢– دویم مع قوم ٣– دریم د صبا نه او د مازیګر نه ٤– څلورم پدې ناسته کښې همیش والې کول تر طلوع او غروب پورې۔

درجة الحدیث: اسناده حسن اخرجه ابوداود (٣٦٦٧) ورواه ابویعلی وعزاه بذلك الهیثمي في مجمع الزوائد (١٠/١٠٥) وقال فیه محتسب ابوعائذ وثقه ابن حبان وضعفه غیره۔

١٣– وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِيْ جَمَاعَةٍ، ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللهَ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ لَهٗ كَاَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: تَامَّةٍ، تَامَّةٍ، تَامَّةٍ. رواه الترمذي.

ترجمه: او انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: چا چه د سحر مونځ د جمعې سره اوکړو بیا د نمر راختلو پورې د الله ذکر ته کیناستو بیا ئې دوه رکعاته (اشراق) مونځ اوکړو نو هغه ته به د حج او عمرې برابر ثواب ملاو شي راوي وائي: رسول الله ﷺ اوفرمایل: د پوره حج او عمرې، پوره حج او عمرې پوره حج او عمرې (ثواب به ورته ملاو شي) ۔(ترمذيؒ)۔

تشریح: كَاَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ: تامه دا ئې ورسره تاکید دپاره اووئیل چه پوره اجر به ملاویږي کمې به پکښې نه کیږي او د الله رحمت فراخه دې او ددې وجه دا ده چه پدې کار کښې د نفس د خواهش خلاف زیات دې او کوم عمل چه د خواهش خلاف وي هغې کښې اجر زیات وي او حدیث ثابت دې۔

درجة الحدیث: اسناده حسن، اخرجه الترمذي (٨٥٦) وقال حدیث حسن غریب لکن الحدیث قد ذکره المنذري في الترغیب (١/١٦٤، ١٦٥) والهیثمي في المجمع (١/١٠٤) (واسناد جیده) وله شواهد له بها یرتقي الحدیث الی درجة الحسن۔

الفصل الثالث

١٤– عَنِ الْاَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: صَلّٰى بِنَا اِمَامٌ لَنَا يُكْنٰى اَبَا رِمْثَةَ، قَالَ: صَلَّيْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ، اَوْ مِثْلَ هٰذِهِ الصَّلَاةِ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: وَكَانَ اَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ يَقُوْمَانِ فِي الصَّفِّ

الْمُقَدَّمِ عَنْ يَمِينِهِ، وَكَانَ رَجُلٌ قَدْ شَهِدَ التَّكْبِيرَةَ الْأُولٰى مِنَ الصَّلَاةِ فَصَلّٰى نَبِيُّ اللهِ ﷺ، ثُمَّ سَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ، حَتّٰى رَأَيْنَا بَيَاضَ خَدَّيْهِ، ثُمَّ انْفَتَلَ كَانْفِتَالِ اَبِيْ رِمْثَةَ – يَعْنِيْ نَفْسَهٗ – فَقَامَ الرَّجُلُ الَّذِيْ اَدْرَكَ مَعَهُ التَّكْبِيرَةَ الْاُولٰى مِنَ الصَّلَاةِ يَشْفَعُ، فَوَثَبَ عُمَرُ، فَاَخَذَ بِمَنْكِبَيْهِ، فَهَزَّهٗ، ثُمَّ قَالَ : اِجْلِسْ، فَاِنَّهٗ لَنْ يُّهْلِكَ اَهْلَ الْكِتَابِ اِلَّا اَنَّهٗ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ صَلَاتِهِمْ فَصْلٌ، فَرَفَعَ النَّبِيُّ ﷺ بَصَرَهٗ، فَقَالَ : اَصَابَ اللهُ بِكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ . رواهُ ابوداوٗد.

ترجمه: او ازرق بن قيس رحمه الله فرمائي : (يوه ورځ) زمونږ امام چه د هغه كنيت ابورمثه وو مونږ ته مونځ اوكړو، (دمانځه نه پس) هغوي اوفرمايل : چه ما (يوه ورځ) ددے په شان مونځ د رسول الله ﷺ سره اوكړو۔ ابورمثه وائي : (په هغه مونځ كښ) ابوبكر او عمر رضي الله عنهما (هم) د رسول الله ﷺ ښي طرف ته په اول صف كښ ولاړ وو، يو سړے د مانځه تكبير اولٰى كښ شريك شوے وو ۔ نبي كريم ﷺ مونځ اوكړو او د سلام (په وخت ئے) مخ مبارك ښي ا وكس طرفته دومره راوګرځولو چه مونږ د هغه د اننګو سپينوالے اوليدلو بيا د ابورمثه يعني زما په شان راتاو شو كيناستو ۔ نو هغه سړے چه د تكبير اولٰى نه مانځه كښ شريك وو پاڅيدو او دوه ركعاته مونځ ئے كولو عمر (چه كله دا حالت اوليدلو) فورا پاڅيدو او هغه سړے ئے د دواړو اوګو نه اونيولو او وے خوزولو او ورته ئے اوفرمايل : كينه ! ځكه چه اهل كتاب (يهود او نصارٰى) پدے وجه هلاك شوي وو چه هغوي به د مونځونو په مابين كښ فرق نه كولو، (د عمر دے خبرے اوريدو سره) نبي كريم ﷺ نظر مبارك پورته كړو (ځكه د هغه عادت دا وو چه د سلام نه روستو به ئے سر ټيټولو او اذكار به ئے كول اخوا ديخوا به ئے نه كتل) او وے فرمايل چه اے د خطاب ځويه ! الله ته حق لاريے ته اورسولے (يعني تا رشتيا اووئيل) (ابوداود)

تعارف د ازرق بن قيس : الحارثي البصري د اوساط التابعين نه ثقه راوي دے د يو سل شلم نه بعد وفات شويدے۔ ابارمثه : البلوي التيمي دا د تيم الرباب نه دے بعض وائي التميمي دے نوم كښ ئے اختلاف دے بعض وائي رفاعه بن يثربي يا يثربي بن عوف وغيره دے صحابي دے او ابن سعد ليكي چه دا په افريقه كښ وفات شويدے۔

تشريح : فوائد الحديث : (١) امام به مقتديانو ته د سلام نه پس مخ راګرځوي (٢) ځائے بدلول سنت عمل دے (٣) د مونځونو ترمينځ جدائي راوستل ضروري دي په ذكر سره ځكه عمرؓ دے سړي ته اونه وئيل چه (تقدم او تاخر) بلكه ذكر ته ئے كينولو او ورسره داخبره هم شته چه بيا به ځائے هم بدلوي لكه دا د سابقه روايت نه معلومه شوه ۔

سوال : انه لن يهلك اهل الكتاب كښ حصر دے يعني د اهل كتابو د هلاكت سبب صرف او

صرف دا وو او حال دا چه نور اسباب هم وو لکه اختلاف فی الکتاب وغیره لکه جلد اول (١/٤٥٥) کښې تیر شویدی ۔ **جواب** دا دے : چه دا حصر ادعائی دے دپاره د مبالغے یعنی دا دومره عظیم جرم دے گویا کښې همدائے سبب د هلاکت وو۔

٢- جواب : د اهل کتاب د مونځ کونکو هلاکت دلته مراد دے نه عام اهل کتاب (ملا علی قاریؒ)

اَصَابَ اللّٰهُ : دینه معلومیږی چه دا د عمرؓ اجتهاد وو او اجتهاد هله دلیل دے چه کله تائید وشی او دلته ورله نبی علیه السلام تائید اوکړو ۔ او دے حدیث کښې د عمر فاروق فضیلت ثابتیږی چه هغه ته به الله تعالی د خیر الهام کولو (محدث او ملهم انسان وو)۔

بلهٔ دا معلومیږی چه رسول الله ﷺ به لاندے کتل تو ذکر کښې به خشوع کولے شی خصوصا بعد الصلاة بعض خلق بی وقاری کوی، دا مناسب کار نه دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (١/١٥٥٧) وفيه اشعث بن شعبة وهو لين كما قال الذهبي واشار اليه العسقلاني عن المنهال بن خليفة وهو ضعيف ولكن له شاهداً عند احمد وابى يعلى عن عبد الله بن رباح عن رجل من اصحاب النبي ﷺ ان رسول الله ﷺ صلى العصر، فقام رجل يصلى، فرآه عمر فقال له اجلس فانما هلك اهل الكتاب انه لم يكن لصلاتهم فصل، فقال رسول الله ﷺ احسن ابن الخطاب ذكره الهيثمي في المجمع (٢/٢٣٤) وقال رجال احمد رجال صحيح وصححه الالباني في الصحيحة (٦/رقم ٢٥٤٩) انظر (تراجعات الالباني في الصحيح والضعيف) وكذا في المرعاة (٣/٣٣١)

١٥ – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ﷺ، قَالَ : اُمِرْنَا اَنْ نُسَبِّحَ فِیْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِيْنَ، وَنَحْمَدَ ثَلَاثاً وَثَلَاثِيْنَ، وَنُكَبِّرَ اَرْبَعاً وَثَلَاثِيْنَ، فَاُتِیَ رَجُلٌ فِی الْمَنَامِ مِنَ الْاَنْصَارِ، فَقِيْلَ لَهُ : اَمَرَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ تُسَبِّحُوْا فِیْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ كَذَا وَكَذَا ؟ قَالَ الْاَنْصَارِیُّ فِیْ مَنَامِهٖ: نَعَمْ . قَالَ : فَاجْعَلُوْهَا خَمْساً وَعِشْرِيْنَ، خَمْساً وَعِشْرِيْنَ، وَاجْعَلُوْا فِيْهَا التَّهْلِيْلَ . فَلَمَّا اَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِیِّ ﷺ فَاَخْبَرَهٗ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : فَافْعَلُوْا .رواه احمد والنسائیُّ والدارمیُّ .

ترجمه : او زید بن ثابت ﷺ فرمائی : مونږ ته حکم شویدے چه مونږ د هر مانځه نه روستو سبحان الله دری دیرش کرت او الحمد لله دری دیرش کرت او الله اکبر څلور دیرش کرتے اووایو (زیدؓ فرمائی یوه ورځ) یو انصاریؓ ته په خوب کښې (یوه فرشته راغله) ورته ئے اوویل : تاسو ته رسول الله ﷺ حکم کریدے چه تاسو د هر مانځه نه بعد دومره دومره تسبیحات اووایئ ؟ دے انصاری اوویل : چه آو ! فرشتے اوویل : ددے درے کلماتو تعداد پنځیشت پنځیشت مقرر کړئ او ددے سره لا اله الا الله (هم) پنځیشت کرتے مقرر کړئ (دے دپاره چه سل عدد پوره شی) کله چه صبا

شو نو هغه انصاري د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او د خپل خوب خبر ئې ورته ورکړو رسول الله ﷺ اوفرمايل: پدې باندې عمل اوکړئ! - (احمدؒ، نسائيؒ، دارميؒ)-

تشريح : فَأُتِيَ رَجُلٌ : يعنې راتلل وکړې شو يو انصاري ته يعنې ملائك ورته په خوب کښې راغلو - فاجعلوها : دې سړي ورته اونه وئيل چه د رسول الله ﷺ طريقه مه بدلوه بلکه ملائك ورته بله طريقه بيانوي او دا مخکښنۍ طريقه بدلول نه دي بلکه دا تنوع د عبادات دي او دا بل رخصت دې د الله تعالى د طرفنه چه رسول الله ﷺ ددې تائيد اوکړو ځکه دا نيك خوب وو ورنه د غير معصوم خوب له اعتبار نشته هغه به حکم شرعي نشي جوړولې -

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه احمد (٥/١٨٤) (١٩٠) وصححه الحاكم (١/٢٥٣) ووافقه الذهبي وله شاهد من حديث ابن عمر عند النسائي (١/١٩٨) واسناده حسن -

---

١٦ – وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَلٰى اَعْوَادِ هٰذَا الْمِنبَرِ يَقُوْلُ : مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُوْلِ الْجَنَّةِ اِلَّا الْمَوْتُ، وَمَنْ قَرَأَهَا حِيْنَ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ آمَنَهُ اللّٰهُ عَلٰى دَارِهٖ وَدَارِ جَارِهٖ، وَاَهْلِ دُوَيْرَاتٍ حَوْلَهُ . رواه البيهقيُّ في شُعَبِ الايمان وقال : اسناده ضعيف .

ترجمه : او علي ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه د منبر پدې لرګو واوريدل چه فرمايل ئې : چا چه د هر مانځه نه روستو آية الكرسي اولوستله هغه به جنت ته د داخليدو نه سوا د مرګ نه هيڅ شې منع نه کړي او څوك چه آية الكرسي د خوب ځائې ته د تلو په وخت (يعنې د خوب په وخت) کښې اووائي نو الله تعالى به ده ته دده په کور او د ګاونډي په کور او نور کورونه چه دده نه ګير چاپيره دي امن ورکړي - دا روايت بيهقيؒ په شعب الايمان کښې نقل کړيدې او وئيلې ئې دي چه ددې سند ضعيف دې -

تشريح : پدې حديث کښې د آية الكرسي دا فضيلت راغلو چه انسان پرې جنت ته داخليږي بعض علماء وائي چه د مانځه نه روستو آية الكرسي وئيل ندي ثابت ليکن صحيح خبره دا ده چه دا ثابته ده او ددې حديث دپاره ډير شواهد دي لکه په فتاوى الدين الخالص (٤/٤٣٤) کښې ذکر شويدي۔ **حافظ ابن القيم**ؒ فرمائي : دا حديث بعض علماء صحيح ګڼړي او بعض ئې ضعيف، ليکن ددې دپاره ډير طرق دي چه ټول راجمع شي نو دلالت کوي چه ددې حديث دپاره اصل شته او موضوع نه دې۔ او وائي چه شيخ الاسلام ابن تيميه فرمائي چه ما دا د هر مانځه نه روستو نه ده پريخې، زاد المعاد (١/٢٩٣، ٢٩٤) او شوکانيؒ دې حديث ته صحيح وئيلې دې تحفة الذاکرين (١٤٩) او هر چه جزء ثاني دې نو هغه موضوع دې -

درجة الحديث : اسناده موضوع اخرجه البيهقي في الشعب واورده ابن الجوزي في الموضوعات

وقال : لا يصح ، حبة ضعيف ونهشل كذاب، وللنصف الاول شواهد يصح بها، ذكرها الالباني في الصحيحة رقم (٩٧٢) وابى نعيم في الحلية (٣/٢٢١) وعمل اليوم والليلة (١٤) رقم (١٠٠) للنسائي ـ وكذا في الترغيب (٢/٤٥٣) والمجمع (٢/١٤٨)ـ

١٧ – وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غَنْمٍ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : مَنْ قَالَ قَبْلَ اَنْ يَّنْصَرِفَ وَيُثْنِيَ رِجْلَيْهِ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ وَالصُّبْحِ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ، وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، عَشْرَ مَرَّاتٍ، كُتِبَ لَهٗ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ، وَرُفِعَ لَهٗ عَشْرُ دَرَجَاتٍ، وَكَانَتْ لَهٗ حِرْزاً مِنْ كُلِّ مَكْرُوْهٍ، وَحِرْزاً مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، وَلَمْ يَحِلَّ لِذَنْبٍ اَنْ يُّدْرِكَهٗ اِلَّا الشِّرْكَ، وَكَانَ مِنْ اَفْضَلِ النَّاسِ عَمَلًا اِلَّا رَجُلًا يَفْضُلُهٗ، يَقُوْلُ اَفْضَلَ مِمَّا قَالَ . رواه احمدؒ .

١٨ – وَرَوَى الترمذيُّ نحوهُ عن اَبِيْ ذَرٍّ الى قوله " اِلَّا الشِّرْكَ " ولم يذكر " صَلَاةَ الْمَغْرِبِ " ولا " بِيَدِهِ الْخَيْرُ " وقال : هذا حديث حسن، صحيح غريب .

ترجمه : او عبد الرحمن بن غنم ﷺ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه هغه فرمائیلی دی : څوك چه د سحر او ماښام نه بعد (د مانځه) د ځائے نه د پاڅیدو نه مخکښ او د خپے ماتولو نه مخکښ (یعنی د التحیات د هیئت سره) دا کلمات : لا اله الا الله وحده الخ اووائی نو هغه دپاره د هر یو کرت په بدله کښ به لس نیکئ لیکلے کیږی او د هغه لس گناه به معاف کیږی او لس درجے به ئے پورته کیږی او دا کلمات به د هغه دپاره د هر بد شی او مردود شیطان نه د امان (باعث) وی او د شرك نه علاوه هیڅ گناه به (د استغفار او د الله د رحمت په وجه) ده لره هلاك نه کړی (یعنی که شرك کښ مبتلا شو نو بیا ددے عظیم عمل په وجه هم نشی معاف کیدے) او دا شخص به د عمل په اعتبار د ټولو خلقو نه زیات بهتر وی سوا د هغه شخص نه چه دده نه افضل عمل اوکړی۔ (یعنی دده نه دا کلمات زیات اووائی) ۔ (احمدؒ)۔

تعارف د عبد الرحمن بن غنم ﷺ : دده په صحابی کیدو اختلاف دے امام عجلی دا په کبار ثقات التابعین کښ شمارلے دے او همدا حقه ده، ابن عبد البر وائی : عبد الرحمن بن غنم الاشعری د جاهلیت د زمانے دے او د رسول الله ﷺ په زمانه کښ مسلمان وو لیکن هغه سره ئے ملاقات ندے شوے او معاذ بن جبل رسول الله ﷺ یمن ته اولیږلو نو دے ورسره همیشه ملگرے ووتردے چه معاذ وفات شو او دا په شام والو کښ لوئی فقیه وو او دا هغه شخصیت دے چه په شام کښ عام تابعینو دده نه فقاهت زده کړیدے او دا ډیر جلیل الشان عالم وو په سنه (٧٨) کښ وفات دے ۔

تشریح : وَيُثْنِيَ رِجْلَيْهِ : یعنی مخکښ د خپو راماتولو نه او د تشهد د هیئت بدلونه ۔ دا قید

پدے روایت کښں بعض علماؤ ضعیف گنڑلے دے مګر صحیح دا ده چه ددے حدیث قوی شاهد موجود دے نو پدے باندے عمل پکار دے کما فی الصحیحه (٣٠٣/٦) ۔

فائدة نادرة: دا ذکر ډیر قیمتی ذکر دے پدے وجه په مختلف حدیثونو کښں په مختلف انداز ددے فضائل او طریقے ذکر دی نو لس لس کرتے د سحر او ماښام مانځه نه پس هم راغلے دے لکه پدے حدیث کښں راغلل خو پدے شرط چه د تشهد حالت به ئے نه وی بدل کړے۔

٢ – دانګه صرف د سحر مانځه نه پس هم سل کرتے راغلے دے چه د تشهد په هیئت سره وی خو هغے کښں الفاظ لګ جدا دی لکه حدیث داسے دے: من قال فی دبر صلاة الغداة لا اله الا الله وحده لا شريك لهٗ له الملك وله الحمد، يحيي ويميت بيده الخير وهو على كل شئ قدير مئة مرة وهو ثان رجليه كان يومئذٍ افضل اهل الارض عملاً الا من قال مثل ما قال او زاد على ما قال المعجم الكبير (٣٣٦/٨) (٨٠٧٥) والاوسط (٤٥٠/٤) باسناد حسن الصحيحة (٣٥٣/٦ رقم: ٢٦٦٤)

٣ – او د سحر او ماښام مانځه نه پس لس لس کرتے هم راغلے دے او د هغے الفاظ مختصر دی او فضائل ئے زیات دی او د خپے ماتولو قید هم ورسره نشته لکه حدیث داسے دے: من قال لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير بعد ما يصلى الغداة عشر مرات كتب الله عز وجل له عشر حسنات، ومحى عنه عشر سيئات ورفع له عشر درجات وكن له بعدل عتق رقبتين من ولد اسماعيل، فان قالها حين يمسى كان له مثل ذلك وكن له حجاباً من الشيطان حتى يصبح رواه الحسن بن عرفه فی جزئه (١/٥) والخطيب فى تاريخه (٣٨٩/١٢، ٤٧٢) واسناده صحيح رجاله ثقات رجال مسلم۔ وله شاهد وانظر الترغيب (١٦٧/١) وفيه زيادة لفظ: من قال حين يصبح لا اله الا الله وحده لا شريك له الملك وله الحمد يحيي ويميت وهو على كل شئ قدير عشرمرات كتب الله له بكل واحدة قالها عشر حسنات وحط الله عنه عشر سيئات ورفعه الله بها عشر درجات وكن له مسلحة من اول النهار الى آخره ولم يعمل يومئذ عملاً يقهرهن فان قال حين يمسى فمثل ذلك احمد (٤٣٠/٥) وهذا سند صحيح الصحيحة (١٨٠/١) رقم (١١٤)۔

٤ – دارنګه سحر او ماښام یو یو کرت **لا اله الا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شئ قدير** هم راغلے دے رواه ابوداود وابن ماجه مشکاة (٢١٠/١) باب اذکار الصباح والمساء او همدغه فضائل ئے دی۔

درجة الحديث: اسناده حسن اخرجه احمد (٢٢٧/٤) وسند الترمذى ايضاً حسن فانه من طريق شهر بن حوشب وذكر الالبانى فى السلسلة الصحيحة له شاهداً به يتقوى الحديث والذى قبله من رواية امامة، اخرجه الطبرانى فى الكبير (٣٣٦/٨) رقم (٨٠٧٥) والاوسط (٤٥٠/٤) وابن السنى (١٤٢) وحسنه

١٩ – وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَعَثَ بَعْثاً قِبَلَ نَجْدٍ فَغَنِمُوْا غَنَائِمَ كَثِيْرَةً،

وَاَسْـرَعُـوْا الـرَّجْـعَـةَ . فَقَالَ رَجُلٌ مِنَّا لَمْ يَخْرُجْ : مَا رَأَيْنَا بَعْثًا اَسْرَعَ رَجْعَةً وَلَا اَفْضَلَ غَنِيْمَةً مِنْ هٰـذَا الْبَعْثِ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اَلَا اَدُلُّـكُـمْ عَـلٰـى قَوْمٍ اَفْضَلَ غَنِيْمَةً وَاَفْضَلَ رَجْعَةً ؟ قَوْمًا شَهِـدُوْا صَلَاةَ الصُّبْحِ، ثُمَّ جَلَسُوْا يَذْكُرُوْنَ اللهَ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ، فَاُولٰئِكَ اَسْرَعُ رَجْعَةً ، وَاَفْـضَـلُ غَنِيْمَةً . رواه الترمذيُّ وَقَالَ : هذا حديث غريب وحماد بن ابى حميد الراوىّ هو ضعيف فى الحديث.

ترجمه : او اميـر المـومنين عمر بن الخطاب ﷺ فـرمـائي : چه (يو موقع كښې) نبي كريم ﷺ نـجـد طـرفـتـه يو لښكر اوليږلو نو هغه لښكر (د فتح او كاميابئ نه پس) ډير زيات مالِ غنيمت حاصـل كـړو او پـه جـلـتـي سره (مدينې) ته راواپس شو، په مونږ كښې يو شخص چه ددغه لښكر سره نـه وو تـلـے اووئـيـل : مونږ داسے لښكر نه دے ليدلے چه ددے لښكر په شان دومره جلتئ سره واپـس راغـلـے وى او څان سره ئے دومره مالِ غنيمت هم راوړے وى (نبي كريم ﷺ چه دا واوريدل) وے فـرمـايـل : آيا زه تـاسـو تـه يو داسے جماعت اونه ښايم چه په مالِ غنيمت او زر راواپس كيدو كښې بـه ددے لښكر نه زيات وى، دا هغه جماعت دے چه د سحر مانځه ته حاضر شوى وى او بيا نـاسـت وى تـر نمر ختلو پورے د الله تعالى ذكر كوى دا هغه خلق دى چه په زر واپس كيدو او مالِ غـنـيـمـت راوړو كښې زيات دى۔ دا روايت ترمذى نقل كړيدے او وئيلى ئے دى چه دا حديث غريب دے او ددے يو راوى حماد بن ابى حميد ضعيف دے۔

تشريح : فَقَالَ رَجُلٌ مِنَّا : يـو سـړى پـه طريقه د پسخيدلو او تعجب سره اووئيـل چه دا خو ډير بهـتـرين فوج دے چه زر هم راواپس شو او ډير غنيمت ئے هم راوړو۔ نو هركله چه د دوى توجه د دنيا محبت طرفتـه پيدا شوه نو رسول الله ﷺ په خپل ملګرى زر آخرت ته متوجه كول نو وے فـرمـائـيـل : ددے لښـكـر والـو تـه صرف د فاني دنيا دولت ملاؤ شو او د هغه جماعت خلقو ته په لګ وقـت كـښـې ډيـر ثـواب مـلاؤ شـو چـه هغه به همـيـشه باقى پاتے وى نو وقت هم كم اولګيدو او ثـواب هم زيات ملاؤ شو نو په حديث كښې ترغيب دے چه د سحر وقت ډير قيمتى دے او د عبادت وخت دے۔ او كله چه ملګرى دنيا ته ميلان وكړى نو ترغيب اعمالو ته وركول پكار دى۔

درجة الحديث : اسـنـاده ضـعـيـف ومـعـنى اصل الحديث صحيح اخرجه الترمذى وفيه حماد بن ابى حـمـيـد وهـو ابـن ابـى حـمـيـد وهـو ابـو ابـراهيم الانصارى المدينى وهو ضعيف فى الحديث ورواه البزار وابويعلى وابن حبان فى صحيحه من حديث ابى هريرة لكن بذكر صلاة الضحى مكان الجلوس لذكر الله واوردهـا المنذرى فى الترغيب (١/١٦٦) په روايت د بزار كښې دى چه دا قائل ابوبكر وو په آخر كښې ئے دا الفاظ دى : فـقـال الـنـبى ﷺ يا ابا بكر ! الا ادلك على ما اسرع اياباً وافضل مغنماً ؟ من صلى الـغـداة فـى جـمـاعـة ثم ذكر الله حتى تطلع الشمس وقال : ورجال اسناد ابى يعلى رجال الصحيح وانظر المرعاة (٣/٣٣٧).

باب: مالا يجوز من العمل فى الصلوة وما يباح منه

په مانځه کښې د جائز او ناجائز څيزونو بيان

په فقه حنفي کښې ددې باب عنوان باب المفسدات والمکروهات ذکر کيږي بيا ئے دلته (وما يستحب منه) اونه وئيل چه پدې باب کښې به مستحبات هم ذکر کيږي ځکه چه د هغې بيان مخکښې اوشو اګرکه دلته به داسې کيدې شي چه يو شې ابتداءً مباح وي ليکن روستو به مستحب اوګرځي لکه پرنجې کړل مستحب نه دي ليکن که چا په مانځه کښې پرنجې اوکړو نو الحمد لله وئيل ورله مستحب دي۔

بيا دا باب محرمات، مکروهات او مفسدات وغيره تولو ته شامل دے۔

الفصل الاول

١ – عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ ﷺ قَالَ : بَيْنَا اَنَا اُصَلِّيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، فَقُلْتُ : يَرْحَمُكَ اللهُ، فَرَمَانِيَ الْقَوْمُ بِاَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ : وَاثُكْلَ اُمِّيَاهُ ! مَا شَانُكُمْ تَنْظُرُوْنَ اِلَيَّ فَجَعَلُوْا يَضْرِبُوْنَ بِاَيْدِيْهِمْ عَلٰى اَفْخَاذِهِمْ، فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُوْنَنِيْ لٰكِنِّيْ سَكَتُّ فَلَمَّا صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَبِأَبِيْ هُوَ وَاُمِّيْ مَا رَأَيْتُ مُعَلِّماً قَبْلَهٗ وَلَا بَعْدَهٗ اَحْسَنَ تَعْلِيْماً مِنْهُ فَوَاللهِ مَا كَهَرَنِيْ وَلَا ضَرَبَنِيْ وَلَا شَتَمَنِيْ، قَالَ : اِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصْلُحُ فِيْهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ، اِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيْحُ وَالتَّكْبِيْرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ اَوْ كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، قُلْتُ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! اِنِّيْ حَدِيْثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَقَدْ جَاءَ نَا اللهُ بِالْاِسْلَامِ وَاِنَّ مِنَّا رِجَالًا يَأْتُوْنَ الْكُهَّانَ قَالَ : فَلَا تَأْتِهِمْ قُلْتُ : وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُوْنَ، قَالَ : ذٰلِكَ شَيْءٌ يَجِدُوْنَهٗ فِيْ صُدُوْرِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ، قَالَ : قُلْتُ : وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّوْنَ، قَالَ : كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْاَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهٗ فَذَاكَ، رواه مسلم قوله لٰكِنِّيْ سَكَتُّ هٰكَذَا وَجَدْتُّ فِيْ صحيح مسلم وكتاب الْحُمَيْدِيِّ وَصُحِّحَ فِيْ جَامِعِ الْاُصُوْلِ بِلَفْظَةِ كَذَا فَوْقَ لٰكِنِّيْ۔

ترجمه: معاويه بن حکم ﷺ فرمائي : (يوه ورځ) ما د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو (د مانځه په درميان کښې) اچانک د جماعت نه يو سړي پرنجې اوکړو (په جواب کښې) ما يرحمك الله

اووئيلو (دے اوريدو سره) خلقو زه په سترګو اوويشتم (نيغ نيغ ئے راته کتل شروع کړل چه په مانځه کښې د پرنجي جواب ورکوے؟) ما اووئيل چه زما مور دې ما لره ورك کړي (يعني زه هلاك شو) تاسو ما ته ولې (نيغ نيغ) ګورئ؟ نو هغوی (زما د چپ کولو او د تعجب د اظهار دپاره) خپل ورنونه په خپلو لاسونو باندے وهل شروع کړل (کله چه) ما اوکتل چه خلق زما خاموش کول غواړي (نو زه ډير غصه شوم ځکه ما ته ددے کار د بدئ علم نه وو) ليکن زه خاموش شوم، کله چه نبي کريم ﷺ مونځ اوکړو (نو څه اووايم) زما مور او پلار دې په هغه باندے قربان شي، ما خو داسے ښه تعليم ورکونکے نه د رسول الله ﷺ نه مخکښې ليدلے وو او نه روستو اوليدو ـ قسم په الله! نه هغه ما لره اورټلو، نه ئے اووهلم او نه ئے ما ته بد رد اوويل، (بلکه دومره ئے اوفرمايل) يقينا په دے مونځ کښې د خلقو خبرے مناسب نه دی، مونځ خو تسبيح او تکبير او قرآن لوستلو ته وائي يا نبي عليه السلام ددے په شان څه نور اوفرمايل (يعني راوی ته شك دے چه رسول الله ﷺ دغه الفاظ فرمائيلي وو يا ددے په شان نور الفاظ وو) ما عرض اوکړو يا رسول الله! زه يو نوے مسلمان يم (تراوسه ماته د دين تمام احکام معلوم نه وو) خو الله تعالى مونږ ته خپل اسلام راوړلو (او په هغے باندے مشرف شو اوس به د دين ټول احکام زده کوو بيا ما عرض اوکړو) مونږ نه ډير خلق کاهنانو خواته ځي (ددے په باره کښې څه حکم دے؟) وے فرمايل : ته د دوی خواته هرګز مه ځه!، ما عرض اوکړو : زمونږ نه ډير خلق بد فالي (هم) نيسي ـ وے فرمايل : دا يو داسے شے دے چه دوی ئے په خپلو سينو کښې مومي (يعني دا د دوی محض وهم او د ذهن اختراع ده چه د کارونو په نفع او نقصان کښې هيڅ اثر نه لري) هغوی له د خپلو کارونو نه منع کيدل ندی پکار ـ معاويه رضی الله عنه وائي : ما (بيا) عرض اوکړو : مونږ نه بعض خلق خطونه راکاږي او د هغے په ذريعه هغوی د غيبو څه خبرے وائي، وے فرمايل : د انبياؤ نه يو نبي وو چه هغه به خطونه راخکل نو د چا خط راخکل چه د هغه نبي د خط راخکلو موافق شو هغه به هغه خبره حاصلوی (مسلم)۔

تعارف د معاويه بن الحکم رضی الله عنه : دا د بنو سليم نه مشهور صحابي دے السلمي ورته وائي ـ ابن عبد البر رحمه الله فرمائي : دا په مدينه کښې په بني سليم کښې اوسيدلو او دا يو حديث ترے نقل دے ليکن حافظ عسقلاني رحمه الله فرمائي : يو بل حديث هم ترے نقل دے انتهى ـ خزرجي په خلاصه کښې وائي : ديارلس احاديث ترے نقل دی ـ

تشريح : إِذْ عَطَسَ : د باب د نصر او ضرب نه دے پرنجي ته وائي ـ

يَرْحَمُكَ اللهُ : ظاهر دا ده چه دا ئے په مانځه کښې وئيلے دے او په جواب د الحمد لله کښې ئے وئيلے دے ځکه چه څوك د پرنجي نه پس الحمد لله اونه وائي نو هغه ته يرحمك الله وئيل صحيح نه دی۔ **وَاثُكْلَ أُمِّيَاهُ** : (وا) حرف ندبه دے او ثکل : د زنانه بچي ورکول او بيا په هغے سره خفګان

کولو ته وائی او امیاه په کسره د میم دے اصل کښې امی دے او الف د ندبے ورسره زیاتی شوید ے دپاره د مد الصوت ۔ او هاء د سکتے ده ۔
دا کلمه عرب د تعجب د یو کار دپاره استعمالوی او حقیقت ئے مراد نه وی ۔ مغنی ئے دا ده : ما دِیے مور ورکړی څکه زه هلاك شوم (یعنی زما مور دِ زما په ورك کولو بوره شی)
يَضْرِبُوْنَ : په مانځه کښې چه چا ته څه منافی حالت راپیش شی نو هغه به تسبیح وائی او دلته دیے صحابه کرامو ددیے صحابی دِ چپ کولو دپاره پتونونه وهلی دی نو دا هغه وخت دیے چه تسبیح حکم لا نه وو مشروع شویے ۔
يُصَمِّتُوْنَنِيْ : یعنی ما ته ئے په چپ کیدلو حکم کولو او اشاره ئے کوله ۔ لٰكِنِّيْ سَكَتُّ: ددیے لکن نه مخکښې تقدیر دیے او هغه جواب د لما هم دیے : ١– فلما رأیتهم یصمتونني غضبت وتغیرت ولکن سکت ولم اعمل بمقتضی الغضب ۔ یعنی هر کله چه خلقو زما غلی کول غوختل نو زه غصه شوم او حالت مے بدل شو لیکن بیا غلے شوم او په غصه مے عمل اونکړو ۔ (طیبیؒ) یا تقدیر داسے دیے : لما عرفت انهم یأمرونني بالصمت عجبت لجهلي بقبح ما ارتکبت ومبالغتهم في الانکار عليّ وارادت ان اخاصمهم لکني سکت امتثالاً لانهم اعلم مني ولم اعمل بمقتضی غضبي ولم اسأله عن السبب ۔ علامه سندی وائی : ای اردت ان اسألهم عن سببه لکني سکت (شرح مسلم : ٢٠٣/١) مَا كَهَرَنِيْ : دیته په پښتو کښې قهر وائی یعنی ما ته ئے قهر اونکړو، او ویے نه رټلم ۔
فوائد الحدیث الباقیة : (١) په مانځه کښې پرنجی کونکی دپاره الحمد لله الخ وئیل شته لیکن نور خلق به هغه ته جواب نه ورکوی او دا حدیث ئے دلیل دیے ۔
(٢) فرمانی القوم نه معلومیږی چه په مانځه کښې التفات یمیناً او شمالاً چه څټ ورسره وانه روی جواز لری ۔ (٣) په مانځه کښې اشاره کول جواز لری او پدیے سره مونځ نه خرابیږی ۔ امام بخاری باب تړی (باب الاشارة فی الصلاة) (٤) د حدیث نه معلومه شوه چه عمل قلیل او کثیر په مانځه کښې جواز لری او پدیے سره مونځ نه باطلیږی او نه دا کار مکروه دیے کله دا د حاجت او ضرورت دپاره وی څکه په حدیث کښې فرق د قلیل او کثیر نه دیے شویے، دلته صحابو نظرونه هم کړی دی او ورسره پتونونه ئے هم وهلی دی او اشارے ئے هم کړیدی ۔
(٥) فبابي وامي نه د رسول الله ﷺ خلق عظیم معلوم شو چه دیے شخص ته ئے هیڅ بدرد اونه وئیل ۔ د دعوت اصلی طریقه هم دا ده چه د جاهل سره به نرمی کولے شی (یسروا ولا تعسروا) باندیے عمل دیے او دا طریقه د دعوت ددیے حدیثونو او ددیے په شان حدیثونو نه یادول پکار دی نو هله به پیغمبری دعوت جوړیږی او پدیے کښې په امت څومره شفقت دیے ۔
(٦) ان هذه الصلاة نه معلومیږی چه په مانځه کښې خبرے کول حرام دی برابره ده که د ضرورت خبرے وی او که د غیر ضرورت وی دارنگه دِ مانځه د مصلحت دپاره وی او که د غیر

مصلحت دپاره وی بلکه که یو انسان تنبیه ورکولو ته محتاج شي یا یو داخلیدونکی ته اجازت ورکولو ته محتاج شي نو تسبیح (سبحان الله) به وائی، که سړے وی۔ او که ښځه وی نو لاس به اوتڅوی۔ او دا مذهب د ائمه اربعو دے او د جمهور سلف او خلفو دے او یوه طائفه وائی چه یو د هغوی نه امام اوزاعیؒ دے چه د مانځه د اصلاح دپاره خبرے جواز لری او دلیل پرے حدیث د ذی الیدین دے چه روستو به راشي خو دا خبره په باره د هغه انسان کښ ده چه قصدا خبرے کوی او ښه پوهه وی۔ هو چه هیره سره خبری کونکے دے نو په لږو خبرو د هغه مونځ نه باطلیږی په نیز د امام شافعیؒ، مالکؒ، احمدؒ او جمهورو علماؤ۔

۲– امام ابوحنیفه او کوفین وائی: مونځ ئے باطل دے نو امام ابوحنیفهؒ مطلقاً په مانځه کښ خبرے ناروا ګڼړی برابره ده که قصداً وی او که نسیاناً او د اصلاح د مانځه دپاره وی او که د غیر اصلاح دپاره وی۔ د جمهورو دلیل حدیث د ذی الیدین دے۔

او که جاهل سړے په مانځه کښ خبرے قصداً اوکړی چه تازه اسلام ئے راوړے وی نو هغه هم د ناسی په شان حکم لری نو په لږو خبرو د هغه مونځ نه باطلیږی او دا حدیث د معاویه بن الحکم پرے دلیل دے ځکه نبی علیه السلام ده ته د مانځه د اعادے حکم اونکړو لیکن دا تعلیم ئے ورکړو چه آینده کښ به دا قسم خبرے په مانځه کښ نکوی دا حرامے دی۔ قاله النووی فی شرح مسلم: (١/٢٠٣) **حاصل** دا شو چه په مانځه کښ خبرے کول دوه قسمه دی (۱) یو د اصلاح د مانځه دپاره یا جهالةً خبرے کول دی چه د اسلام د احکامو نه خبر نه وی نو دا بالکل جواز لری او پدے سره مونځ نه ماتیږی او دلیل پدے حدیث د ذی الیدین او دا حدیث د معاویه بن الحکم دے حدیث د ذی الیدین کښ ذی الیدین د اصلاح د مانځه دپاره خبرے کړیدی او پدے حدیث کښ معاویه د حکم شرعی نه په ناخبرئ کښ خبری کړیدی۔ او همدا قول د جمهورو علماوء دے خلافا للحنفیه۔ (۲) دویم بلا ضرورته قصدا بغیر د جهالت نه خبرے کول دی نو دا لګے وی اوکه ډیرے نو مونځ پرے فاسدیږی۔ (ان هـذه الصلاة لا یصلح فیها شئ من کلام الناس) پرے دلیل دے۔ راجع (فقه السنة: ١/٢١٣٩) وبلوغ الامانی (٤/٧٦)۔

او احناف مطلقا خبرو اترو سره مونځ باطل وائی۔ استدلال کوی ددے الفاظو نه (لا یصلح فیها شئ من کلام الناس) چه پدے کښ ئے د خلقو خبری منع کړیدی۔ لیکن جمهور علماء ددے نه جواب کوی چه د کلام الناس نه مراد هغه خبرے دی چه په خپل اختیار سره انسان په علم باندے قصدا بلا ضرورته اوکړی او په جهالت او اصلاح دپاره خبری ددے نه مستثنیٰ دی په دغه حدیثونو سره۔ دارنګه د اصلاح او جهالت سره خبری په کلام الناس کښ داخل نه دی۔

ابن ابی العز الحنفیؒ په هدایه مولا باندے رد کوی فرمائی: چه په سنت کښ تائید د مذهب د امام شافعی موجود دے چه هغه حدیث د ذی الیدین دے ځکه کلام د نبی علیه السلام په هغے

کښې ناسيا وو او کلام د غير نبي د اصلاح د مانځه دپاره وو ـ نو دا دليل د جواز دے ـ او امام طحاويؒ چه دعوه د نسخ کړيده (چه د ذي اليدين والا حديث او په مانځه کښې خبرې کول په ابتداء د اسلام کښې وو چه په مانځه کښې خبرې جائز وے) نو دا دعوه صحيح نه ده ځکه نسخ د کلام په دويم د هجرت په آيت وقوموا لله قانتين سره شويده او د حديث د ذي اليدين راوي ابو هريرهؓ دے او د هغه اسلام په اووم هجري د خيبر په کال وو ـ
دارنګه د عطاءؒ نه نقل دی چه ابن زبيرؓ د ماښام مونځ دوه رکعاته اوکړو سلام نه پس حجر اسود خکلولو ته پاڅيدو نو قوم ورته سبحان الله اووئيله نو هغه اووئيل : ما شانکم ؟ (يعنى څه اوشو) نو بيا باقي مانده مونځ ئے اوکړو او دوه سجدے د سهوئے اوکړے ـ نو دا خبره ابن عباسؓ ته ذکر شوه هغه اووئيل : د نبي عليه السلام د سنت نه ئے څه ندی پريخي ـ رواه احمد (٤٣٧/١) وابن ابي شيبه (٣٩٢/١) ورجال احمد رجال الصحيح ـ التنبيه على مشكلات الهدايه (٦٢٧/٢)
(٧) جاهليت : هغه دور ته وائي چه شريعت لا نه وو راغلے ديته جاهليت ځکه وائي چه د خلقو جهالتونه په کښې زيات وو ـ
(٨) ان هذه الصلاة کښې اشاره ده جنس مونځ ته نو فرض او نفل ټولو ته شامل دے ـ
(٩) من كلام الناس کښې قاضي عياضؒ فرمائي : د کلام اضافت ئے ناس ته اوکړو دے دپاره چه ددينه دعاء او تسبيح او ذکر اوځي ځکه په هغے سره خطاب خلقو ته نه کيږي ـ
(١٠) التسبيح وقراءة القرآن ـ امام نوويؒ وائي : ددے سره دا قيد هم مراد دے (وما في معناه) يعنى نور څيزونه چه ددے په حکم کښې وی هغه هم په مانځه کښې کولے شي لکه تشهد، دعا او سلام هم د مانځه نه دی خو دغه څيزونه ئے بطور تمثيل ذکر کړل ـ
(١١) حديث دليل دے چه تکبير تحريمه فرض ده او جزء د مانځه نه دے او دا قول د جمهورو او شوافعوؒ دے ـ
(١٢) وَاِنَّ مِنَّا رِجَالاً يَأْتُوْنَ الْكُهَّانَ : **تعريف د کاهن :**
په عربو کښې به کاهن هغه خلقو ته وئيل کيدو چه د جنات، شياطين او ارواح خبيثه و سره به ئے تعلق لرلو او شيطانانو به هغه ته دروغ او رشتيا خبرې کولے، دوی به په غلط ناروا طريقو شيطانان تابع کړی وو هغوی به آسمان ته ختل او د ملأ اعلیٰ خبرے به ئے په غلا د ملائکو نه اوريدلے بيا به زمکے ته راکوز شو نو دے کاهن ته به ئے اوخودلے نو کاهن به ورسره سل دروغ يو ځائے کړل او يوه خبره به رشتيا وه او خلقو ته به ئے وئيل چه مونږ په غيبو پوهيږو او د شيطانانو رارسولے خبرو ته به ئے غيب وئيل او پدے طريقه به ئے د علم غيب دعوىٰ کوله او خلقو ته به ئے دا خبرے بيانولے ـ خلقو به د هغوی يوے رشتيا خبرې ته کتل او سل دروغو ته به ئے نه کتل ـ
دا کهانت د رسول الله ﷺ د بعثت نه مخکښې ډير زيات وو او پس د بعثت نه دوی کم وو ځکه

الله تعالی آسمان په شغلو سره محفوظ کړے وو ملائکو به شیطانان په شغلو باندے ویشتل او دا امت اکثر پدے طریقو گمراه شویدے چه پیران خپلو انسی دوستانو ته د غائبو څیزونو چه په زمکه کښې به واقع کیږی د هغے خبر ورکړی او بیائے هغوی جاهل خلقو ته بیان کړی نو جاهلان پرے گمان اوکړی چه دا خو کشف او کرامت دے او دا خبر ورکونکے ورته د الله ولی ښکاره شی او حال دا چه دا د شیطان ولی او قرین وی هغه ورته خبر ورکړے وی لکه دیته اشاره شویده پدے آیت کښې ﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُم مِّنَ الْإِنسِ﴾ نو دا جنی ددے انسی شیطان قرین دوست اوگرځی او دا پیران د دوی تابع شی انسانان ترے فائدے اخلی، هغوی باندے ورك شوی څیزونه پیدا کوی او د خلقو حالونه ورته بیانوی پدے وجه ډیر عوام جاهلان د دوی ددے دوهوکے ښکار شی او دے خلقو ته کمال او کرامت والا وائی - (راجع فتح المجید : ۳۰۰).

امام نووی د امام خطابی نه نقل کوی : چه په عربو کښې کاهنان ډیر قسمه وو تولو به دا دعوه کوله چه مونږ په ډیرو غیبو څیزونو پو هیږو، بعضو به وئیل : زمونږ یو جنی تابع دے چه هغه مونږ ته د غیبو اخبار بیانوی.

۲- بعضو به دا دعوه کوله چه مونږ غیب په خپل فهم او علم سره معلوموو -

۳- بعضو به د څیزونو معلومولو دعوه کوله په مقدمات او اسبابو استعمالولو سره چه د هغے په ذریعه به ئے څیزونه معلومول لکه دا پیژندل چه فلانے شے چا غلا کړیدے او کوم ځائے غلا شوے او کوم شے غلا شویدے - او دا زنانه په چا باندے متهم ده وغیره او دے قسم شخص ته به ئے کاهن وئیلو - بعضو به نجومی او منجم ته کاهن وئیلو - (شرح مسلم : ۱/ ۲۰۳)

تعریف د عرّاف : امام بغوی لیکی : العرّاف الذی یدعی معرفة الامور بمقدمات یستدل بها علی المسروق ومکان الضالة ونحو ذلك (فتح المجید : ۳۰۳) یعنی عرّاف هغه سړی ته وائی چه د اسبابو په ذریعه د څیزونو د معلومات دعوه لری چه د هغه اسبابو په ذریعه غلا شوے شے او د هغے ځائے معلوموی - په بل تعبیر باندے : عراف هغه شخص ته وائی : چه د یو عمل، جادو منتر په ذریعه د یو شی حقیقت بیانوی، د غلا شوی څیزونو معلومات ورکوی -

۳- شیخ الاسلام فرمائی : عرّاف نوم دے د کاهن، منجم، رمال وغیره دپاره - لکه د حازر په شان چه د علم غیب او کشف دعوه کوی د بعضو په نیز عراف بعینه د منجم (نجومی) معنی ده - دارنگه فرمائی : منجم په اسم د عراف کښې داخل دے -

٤- بعض وائی : عراف بعینه کاهن دے او کاهن هغه ته وائی : الذی یخبر عن المغیبات فی المستقبل، وقیل الذی یخبر عما فی الضمیر (فتح المجید) - یعنی د آینده زمانے غائب څیزونو خبر ورکوی او د زړونو د خبرو خبر ورکوی -

امام نووی د عراف او کاهن فرق ذکر کوی : ان الکاهن یتعاطی الاخبار عن الکوائن فی المستقبل

ویدعی معرفة الاسرار والعراف یتعاطی معرفة الشئ المسروق ومکان الضالة ونحوها۔
یعنی کاهن هغه شخص ته وائی چه د راتلونکی زمانې د واقعاتو خبر ورکوی او د پټو څیزونو د پوهې دعوه کوی او عرّاف هغه شخص دے چه د غلا شوی شی معلومات ورسره وی۔
امام احمدؒ فرمائی: العرافة ظرف من السحر والساحر اخبث عرافت د سحر یوه حصه ده او ساحر لوئی خبیث وی۔ ابو السعاداتؒ فرمائی: العراف، المنجم والحازر الذی یدعی علم الغیب وقد استأثر الله تعالی به۔ عراف، نجومی او حازر هغه سړی ته وائی چه د علم غیب دعوه کوی او حال دا چه دا علم الله تعالی خپل ځان دپاره خاص کړیدے (بل چا ته ئے ددے پوهه نه ده ورکړے)۔
رمال: لکه څنګه چه بعض خلقو د علم نجوم یا د شیاطین او جناتو په ذریعه د غیب خبرو معلومولو کوشش کوی نو دغه شان د رمل په ذریعه هم بعض خلق د غیب خبرو ته رسیدل غواړی، نو رمل: د هغه علم نوم دے، چه په هغے کښې د خطوط راخکلو او په هغے سره د حساب لګولو په ذریعه د پټو خبرو د معلومولو کوشش کیږی، دا د جاهلیت والا علوم وو۔ او د رسولانو د علم نه ورسره څه برخه نه وه۔
ددے علم یو جهلك علامه ابن منظورؒ په لسان العرب کښې داسے ذکر کړیدے چه دا هغه علم وو چه: یو سړے به عرّاف ته راغلو او د هغه مخے ته به یو غلام ناست وو نو غلام به دے سړی ته حکم اوکړو چه په شګو کښې ډیرے کرخے (خطوط) راکاږی بیا به ئے هغه ته حکم اوکړو چه اوس دوه دوه کرخے ورانول شروع کړه بیا به ددے کرخو آخر سر ته چه اورسیدل نو که باقی کرخے به جفت پاتے شوے نو دا به دلیل وو د کشاده ګئ او کامیابئ او که تاك به پاتے شوی نو دا به دلیل وو د ناکامئ او نا امیدئ۔ **حکمت د منع**: علماء فرمائی: د کاهنانو خوا ته د راتلو نه نبی کریم ﷺ پدے وجه منع فرمائیلے ده چه دوی د غیبو خبرے بیانوی نو کله نا کله بعض خبرے حق ثابتے شی نو یره ده چه انسان به ددے په سبب په فتنه کښې واقع شی او عقیده به ئے خرابه شی۔
۲- یا پدے وجه چه دوی په خلقو باندے شرائع ګډوډ کوی، وسوسے اچوی او شریعت ددینه منع فرمائیلے ده په ډیرو احادیثو کښې چه څوك کاهنانو او جوګیانو جادوګرو ته راځی او د هغوی تصدیق کوی نو هغه د الله په کتاب باندے کافر دے۔ (بلوغ الامانی: ٤/٧٤)
یَتَطَیَّرُوْنَ: تطیر بد فالی نیولو ته وائی د یو شی نه سپیره والے ګنړل۔ او دا دطِیَرَةٌ نه دے طِیَرَةٌ اوطِیْرَةٌ اوطُوَرَةٌ هغه شی ته وائی چه په هغے سره سپیره والے ګنړلے شی او بد فالی نیولے شی (قاموس) او اصل کښې د عربو عادت وو چه هغوی به مارغان او هوسئ (ظبی) خوا ته راغلل او هغه به ئے شړل که ښی طرفته به روان شو نو دوی به خپل کار پسے تلل او دا به ئے ښه ګنړلو او که ګس طرفته به روان شو نو دوی به د کار نه بند شو او دا به ئے سپیره ګنړلو چه مارغه مې په ګس طرف لاړو کار مے سرته نه رسی۔ دارنګه که لاره کښې به ورته مارغه وغیره راپیښ شو نو

کـه بنی طرفته ګس طرفته به والوړېدل نو دا به ئې سپېره ګنړلو او که د ګس طرفنه به بنی طرفته تیر شو نـو خپـل کـار پسـې بـه روان شـو چـه کـار بـه کېـږي، د طيـره په مقابله کښې تفاول او فأل استـعـمـالـيږي دا اکثر په ښه فال کښې استعماليږي ـ علامه جزريؒ په نهايه کښې ليکي : الطيرة : مصدر تطير، طِيَرَةً كما تقول : تَخَيَّرَ خِيَرَةً ولم يستعمل غيرهما من المصادر۔

ذٰلِكَ شَیْءٌ يَجِدُوْنَهٗ : ددې دوه مطلبونه دی (۱) يو دا چه دا بد فالي نيول يو داسې شې دې چه دې خـلـقـو بـه په سينو کښې موندلو، هسې وسوسه وه او ددې دپاره هيڅ اصل او دليل نه وو چه دوی به هغې استناد او اعتماد کړې وې او نه په کوم کتاب د الله کښې ددې څه ثبوت وو نو ددې په وجه دې دوی د کارونو نه منع نکړي ـ

(۱) امام نوويؒ معنی نقل کوی : يعنی دا بد فالي يو شې دې چه غير اختياري ستاسو سينو ته راځـی نـو په تاسو باندې په دې کښې هيڅ عتاب او ملامتيا نشته ځکه دا ستاسو په کسب ندې حاصل شوې نو تاسو پدې مکلف نه ئې چه دا د خپلو سينو نه اوباسئ ليکن ددې په سبب تاسو د خپـلـو کـارونـو کـښې د تـصـرفـاتـو نـه مه منع کيږئ ځکه دا ستاسو په قدرت کښې ده چه تاسو وسـوسـې لـه هـيـڅ اعتـبـار ورنـکړئ او پدې باندې تاسو مکلف يئ ـ نو رسول الله ﷺ دوی منع کړل د عمل کولو نه په طيره (بدفالي) باندې او ددې په سبب د خپلو تصرفاتو نه د منع کيدو نه۔ او د بـد فـالـئ نـه پـه احاديثو کښې منع راغلې ده نو دا محمول دی په عمل کولو باندې او په نفس سيـنـه کښې راتلو نه منع نشتـه نو که ديو انسان په زړه کښې بد فالي تيره شی مثلا تور کارغه يا ميښـه وينـی نو دده زړه کښې راشی چه کار مې نه کيږی نو ده ته دا حکم دې چه دې له اعتبار مه ورکوه او خپل کار کوه او ددې په وجه ځان د کار نه مه بنده وه ـ

مـلا علی القاريؒ فرمائی : دا هسې وهم دې او شيطاني وسوسه ده چه شيطان غواړی چه د انسان دا عـقـيـده جوړه شی چه د الله نه سوئ هم بل څوك موثر شته لهذا پدې وسوسه دې د کارونو نه نه منع کيـږي انتهیٰ ـ ليـکـن نيك فـالـي دين کښې شته سنت عمل دې كما فی احاديث كثيرة منها حديث خيبر وحديث دخول القرية وحديث الهجرة وحديث كان يعجبه الفال (۳۹۲/۲) باب الفال۔

كَانَ نَبِیٌّ : دا کوم پيغمبر وو چه هغه به علم رمل پيژندلو او خطونه به ئې راخکل او د هغې په ذريعه بـه ئې خبرې مـعلومولې ؟ نو مشهوره دا ده چه دا ادريس عليه السلام دې يا دانيال عليه السلام دې۔

فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهٗ فَذَاكَ : ددې حديث نه د علم رمل جواز نه معلوميږي ځکه په قول د امام خطابيؒ دلتـه رسول الله ﷺ تـعـليـق بالمحال کړيدې يعنی رسول الله ﷺ د زجر په طريقه دا وئيلی دی (فـمـن وافق خطه) چه ددې مطلب دا دې چه د بل هيچا خط د هغه نبی د خط راخکلو سره نشی موافق کيدې ځکه دغه خط راخکل خو د هغه نبی معجزه وه او معجزه خو صرف د نبی د ذات پورې مـحـدود وی هـر کله چه د هغه نبوت منقطع شو نو د هغه معجزات هم ختم شو، لهذا که

څوك خط راكاږي او دا وائي چه دا خط د نبي د خط راخكلو موافق دے نو دا به غلط وائي ځكه د خط موافقت يا په تواتر سره يا په نص سره ثابتيدے شي چه د رسول الله ﷺ نه صحيح طريقه سره منقول وي او هغه نه خو نقل نشته لهذا هر كله چه د يو رمال او د نبي په خط كښې موافقت نشي كيدے نو عمل د رمل اختيارول هم صحيح نه دي۔

(۲) دويم مطلب او معني : د چا خط چه د نبي د خط موافق شو نو هغه دپاره دا خط راخكل مباح دي ليكن مونږ ته په يقيني طور سره دا معلومات نشته چه آيا زمونږ خط د هغه نبي د خط موافق دے او كه نه ؟ نو مونږ دپاره دا كار مباح نه دے مقصد دا دے چه دا كار حرام دے ځكه دا كار به هله مباح وي چه يقين په موافقت راشي او مونږ ته خو د هغے يقين نشته۔

بيا نبي عليه السلام داسے اوفرمايل : فمن وافق خطه فذاك : او داسے ئے اونه وئيل چه دا كار حرام دے، دے دپاره چه څوك دا گمان اونكړي چه پدے نهي كښې به دغه پيغمبر هم داخل وي او د هغه دپاره به هم دا كار حرام وو نو پدے كښې نبي عليه السلام د دغه نبي د احترام حفاظت اوكړو او ورسره زمونږ په باره كښې ئے حكم هم بيان كړو۔ نو حاصل دا شو چه د نبي په حق كښې منع نشته او دغه شان كه تاسو ته د هغه موافقت معلوم شي هم منع نشته ليكن تاسو ته ددے علم نشته لهذا تاسو دا كار مه كوئ !۔

وصُحِّحَ في جامع الاصول : د مصنف غرض ددے كلام نه دا دے چه د لكنى لفظ پدے روايت كښې صحيح ثابت دے ددے په ثبوت كښې هيڅ شك ندے پكار او علماء خو د كذا او صح لفظ د يو لفظ دپاسه په هغه وخت ليكي چه د هغے په ثبوت كښې شك كيدو والا وي نو علماء اوليكي چه دا لفظ صحيح ثابت دے شك ندے پكار او پدے لفظ كښې هم احتمال د شك شته ځكه چه د لكن ذكر كول پدے مقام كښې ظاهر كښې نه صحيح كيږي دارنگه په بعض رواياتو كښې ندے راغلے لكه په روايت د مسند احمد كښې نشته نو پدے وجه صاحب د جامع الاصول ابن الاثير الجزري ددے لفظ دپاسه كذا لفظ ليكلے دے اشاره ده چه دا لفظ صحيح دے او شك پكښې ندے پكار۔ او كه په بعض رواياتو كښې نه وي نو هغه جدا روايت دے ليكن دا روايت هم د لكنى سره صحيح دے۔

---

۲ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : «كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللهِ ! كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلَاةِ فَتَرُدُّ عَلَيْنَا فَقَالَ : «إِنَّ فِي الصَّلَاةِ لَشُغْلاً» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .

ترجمه: او عبد الله بن مسعود ﷛ فرمائي : مونږ به په نبي عليه السلام باندے سلام اچولو او هغه به په مانځه كښې وو نو هغه به زمونږ د سلام جواب راكولو بيا څه ورځے پس كله چه مونږ

د نجاشي (بادشاه) د خوا نه واپس راغلو او د هغه په خدمت کښې حاضر شو، په هغه وقت کښې هغه مونځ کولو (د مخکښې پشان) مونږ په هغه باندې سلام اوکړو هغه زمونږ د سلام جواب رانکړو کله چه هغه مونځ اوکړو نو مونږ عرض اوکړو يا رسول الله! مونږ به تا ته په مانځه کښې سلام کولو تاسو به جواب راکولو نن تاسو جواب ولې ورنکړو؟ رسول الله ﷺ اوفرمايل: مونځ پخپله يو لوئې شغل دې۔ (بخاري ومسلم)۔

تشريح: د رسول الله ﷺ د بعثت په وخت د حبشو بادشاه يو عيسائي وو چه د هغه لقب نجاشي وو چونکه هغه د تورات او انجيل عالم وو پدې وجه کله چه د تورات او انجيل په ذريعه د رسول الله ﷺ نبي برحق کيدل ورته معلوم شو نو د رسول الله ﷺ په رسالت باندې ئې ايمان راوړو او د هغه د حق مطيع او فرمانبردار جوړ شو کله چه په سنه (۹ ھ) کښې د هغه انتقال اوشو نو رسول الله ﷺ ډير خفه شو او صحابه کرامو ته ئې د هغه د مرګ خبر ورکړو او هغوی ئې جنازګاه ته بوتلل او د هغه غائبانه جنازه ئې اوکړله۔

چونکه د نجاشي د رسول الله ﷺ سره زيات محبت او عقيدت وو پدې وجه کله چه مسلمانان د مکې د کفارو د اذيت او تکليفونو نه تنګ راغلل نو اکثر صحابه کرامو د رسول الله ﷺ په اشاره باندې د هغوی ملك ته هجرت اوکړو ځکه هلته امن وو۔ نجاشي بادشاه صحابه کرامو ته پناهي ورکړه او د هغوی خدمتونه ئې اوکړل او بيا مسلمان هم شو څه وقت پورې صحابه کرام هلته اوسيدل کله چه هغوی ته دا علم اوشو چه رسول الله ﷺ د مکې نه هجرت اوفرمائيلو او مدينې ته ئې تشريف يوړو نو هغوی هم مدينې ته راغلل۔

نو پدې حديث کښې عبد الله بن مسعودؓ هم د همدغه واقعې تذکره کوی چه د حبشو نه راتلونکې قافله کښې زه هم شريك وم کله چه مونږ مدينې ته اورسيدو نو رسول الله ﷺ خوا ته ورغلو هغه په مانځه کښې مشغول وو مونږ د خپل معمولِ سابق مطابق په هغه باندې په مانځه کښې سلام اوکړو ليکن هغه مونږ ته په مانځه کښې په خوله سره جواب رانکړو بيا کله چه د مانځه نه فارغ شو نو هغه زمونږ د تپوس او استفسار په جواب کښې اوفرمايل: مونځ پخپله يو لوئې شغل دې يعنې په مانځه کښې د قرآن او تسبيحاتو او دعاء او مناجات لوئې شغل دې نو ددې مناجات د تعظيم او اهميت په وجه د نورو خبرو اترو ګنجائش پاتې ندې يا دا چه مونځ کونکې له پکار دی چه په مانځه کښې پوره انهماك او توجه سره مشغول شي او څه چه وائې په هغې کښې غور او فکر اوکړي او د مانځه نه سوا بل طرفته متوجه نشي (اى شغلا بقرائة القرآن عن الغير) د فصل ثاني په بل روايت کښې ورسره دا هم دي چه رسول الله ﷺ اوفرمايل: الله تعالى په خپله خوښه حکمونه نازلوی نو اوس الله تعالى دا حکم نازل کړيدې چه تاسو به په مانځه کښې خبرې نه کوئ او سلام جواب ورکول هم د يو بل سره خبرې اترې دي نو ددې حديث نه معلومه

شوه چه په مانځه کښې د سلام جواب ورکول په لفظ سره یا د چا سره خبرې اترې کول حرام دي او پدې سره مونځ فاسدیږي او دا قول د اکثرو فقهاؤ دے کما فی شرح السنة۔

په مانځه کښې د سلام جواب په اشارې سره جائز بلکه مستحب دے:

امام خطابیؒ فرمائی: په مانځه کښې د سلام جواب په نطق او لفظ سره ورکول ممنوع دي او د مانځه نه پس جواب ورکول سنت عمل دے او په مانځه کښې په اشارې سره جواب ورکول حسن عمل دے۔ (بلوغ الامانی (٤/٧٦)

علامه شوکانیؒ لیکی: د امام شافعیؒ او جمهور علماؤ په مذهب کښې دا مستحب ده چه په مانځه کښې په اشاره سره جواب ورکړي او دوی استدلال کوی په حدیث د صهیبؓ او حدیث د ابن عمر باندے کوم چه په فصل ثانی کښې راروان دي یا دغه شان نور احادیث (نیل الاوطار: ٢/٣٧٦)۔ وهو مذهب مالك والشافعي واحمد وابی ثور انه یرد السلام بالاشاره۔ (التنبیه)

(٢) امام ابوحنیفه وائی: لایرد ولا یشیر) په مانځه کښې مطلق جواب ورکول جائز نه دي برابره ده که په تلفظ سره وي او که په اشارې سره وي استدلال کوی پدې حدیث د ابن مسعود۔ لیکن ددے نه استدلال صحیح نه دے ځکه دلته د سلام جواب نه ورکول په تلفظ سره مراد دي چه دا منع دي او هر چه په اشارې سره جواب ورکول دي (چه لاس ورته پورته کړي) نو دا په نورو احادیثو سره ثابت دي او پدے حدیث کښې د هغے نفی نشته۔

دارنګه په مرسل د ابن سیرین کښې پدے حدیث کښې دي چه رسول الله ﷺ ابن مسعود ته په اشاره سره جواب ورکړو۔ او که دا حدیث ثابت هم نشي بیا هم دا خبره ضروري ده دے دپاره چه ددے حدیث د نورو احادیثو سره تطبیق او جمع راشي، دارنګه مثبت اولیٰ وي د نافی نه۔ (نیل الاوطار (٢/٣٧٦) وبلوغ الامانی (٤/٧٦) والتنبیه علی مشکلات الهدایة (٢/٦٣٨)

او په مانځه کښې په اشارې سره د سلام جواب ورکولو باره کښې لس احادیث په فتاوی الدین الخالص (١/٢٢٤) کښې اوګوره۔ او په خوله باندے د جواب ورکولو جواز د بعض سلفو نه نقل دے لکه سعید بن المسیب او حسن بصري او قتاده رحمهم الله به په خوله سره جواب ورکولو کښې هیڅ باك نه ګنړلو او د ابوهریره ﷺ نه نقل دي چه هغه باندے به کله سلام واچولے شو او هغه به په مانځه کښې وو نو جواب به ئے ورکړو تردے چه خلقو به واوریدلو او دغه شان عمل د جابر رضی الله عنه نه هم نقل دے (بلوغ الامانی (٤/٧٦)

لیکن ډیره ممکن ده چه دے سلفو ته احادیث د منع نه وي رسیدلی او په حکم سابقه باندے عمل کونکی وي۔

٣- وَعَنْ مُعَيْقِيبٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ: فِي الرَّجُلِ يُسَوِّيْ التُّرَابَ حَيْثُ يَسْجُدُ، قَالَ: إِنْ

كُنْتَ فَاعِلًا فَوَاحِدَةً. (متفق عليه)

ترجمه: او معيقيب ﷺ فرمائي: نبي كريم ﷺ د هغه شخص په باره كښې فرمائي: چه هغه (د سجدے په ځائے كښې) خاوره برابروي (ددے څه حكم دے؟) نو نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: كه برابرول ضروري ګڼړے نو صرف يو كرتے داسے اوكړه ـ (بخاري ومسلم)

د معيقيب ﷺ تعارف: دده نوم دے معيقيب بن ابي فاطمة الدوسي د دوس قبيلے نه دے او د بني عبد شمس حليف دے او سعيد بن ابي العاص آزاد كرده غلام دے۔ بدر ته حاضر شويدے او په پخوانے مسلمان دے په مكه كښې ئے اسلام قبول كړيدے او بيا ئے حبشو ته دويم هجرت كړيدے او هلته اوسيدلو تردے چه نبي عليه السلام مدينے ته راغلو او دا د نبي عليه السلام په خاتم باندے مقرر وو او ابوبكر او عمر په بيت المال باندے وزير خزانه كړے وو ـ ابن عبد البرّ فرمائي: ده باندے جذام (ننكئ) بيماري راغله نو عمر بن الخطاب حكم اوكړو چه مرغوني ده ته وركړئ نو بيمارئ بنده شوه او بيا د عثمانؓ په دور خلافت كښې يا د عليؓ په خلافت كښې په سنه (٤٠) كښې وفات شو متعدد احاديث ئے امت ته رارسولي دي۔

تشريح: فِي الرَّجُلِ: په لفظ د بخاري او مسلم كښې دي: قال في الرجل يعني رسول الله ﷺ په باره د هغه سړي كښې چه په مانځه كښې ئے خاوره او زمكه ځان له برابروله اوفرمايل: چه دا كار مه كوه او كه خامخا ضرورت راپيښ شي چه بغير د برابرولو د زمكے نه سجده ممكن نه وي لكه كانړي وي چه تندے پرے نه لګي يا لوړ جوړ وي نو بيا يو ځل برابرول جواز لري او بار بار به دا كار نه كوي۔ او په روايت د ترمذي كښې داسے الفاظ دي: سألت النبي ﷺ عن مسح الحصى في الصلاة حافظ عسقلاني فرمائي: د حصى او تراب قيد غالبي دے ځكه عام مساجدو كښې دا وي ـ

وجه د منع دا ده چه (١) يو خو پدے كښې عمل كثير راځي چه دا مبطل د مانځه دے (٢) دويم پدے سره خشوع خرابيږي (٣) دريم دا كار د بنده او د رحمت په مابين كښې حائل واقع كيږي ځكه حديث كښې راځي چه انسان ترڅو مانځه ته متوجه وي نو رحمت هغه ته مخامخ وي۔

او يو ځل ځكه مباح شو چه سجده ممكن شي او د تندي په خوګيدو سره د انسان توجه خرابه نشي۔ په روايت د ابن ابي شيبه كښې د ابو صالح السمان نه يو بل حكمت دا ذكر شويدے چه په مانځه كښې ګيتئ مه برابره وه ځكه هر كانړے دا خوښوي چه په هغے باندے سجده اولګولے شي ـ فَوَاحِدَةٌ: يعني فالجائز واحدة يا افعل فعلة واحدة يا افعل مرة واحدة ـ

---

٤ - وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: عَنِ الْخَصْرِ فِي الصَّلَاةِ». متفق عليه۔

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ په مانځه كښې د خصر (تشي باندے لاس

کیخودلو) نه منع فرمائیلے ده ـ (بخاري ومسلم)

تشریح : عَنِ الْخَصْرِ پدے روایت کښې خصر لفظ دے او په روایت د بخاري کښې دی : نهی النبی ﷺ ان یصلی الرجل متخصراً او په روایت د ابوداود کښې دی : نهی عن الاختصار فی الصلاة او ددے اختصار لفظ ډیرے معانی دی : (۱) وضع الید علی الخاصره : (په تشی باندے لاس کیخودلو ته وائی : او دا د اهل لغت او محدثینو معنی ده لکه امام ابوداود ذکر کړیده ـ

(۲) بعض وائی : ددے نه مراد په مانځه کښې اختصار کول دی پداسے شان سره چه رکوع او سجده او قومه او جلسه کښې اعتدال نه وی لکه د منافقانو په شان مونځ وی ـ

(۳) بعض وائی : ددے نه مراد په ترخ کښې امسا نیول او په هغے باندے په مانځه کښې تکیه لګول دی ـ (٤) بعض وائی : په سورت کښې اختصار کول مراد دی چه د اول او آخر نه یو یا دوه آیتونه اولولی ـ (٥) بعض وائی : تلاوت کښې مخکښې روستو وئیل او مینځ کښې آیت د سجدے حذف کول مراد دی او دا کار دے دپاره کوی چه په مانځه کښې سجده د تلاوت رانشی نو دا کار منع شو ـ دا ټولے معانی اګرکه د اختصار لفظ نه اخستل ممکن دی لیکن روایت د تخصر او خصر ددے معانیو انکار کوی او صرف اوله معنی صحیح کوی لکه امام نوویؒ فرمائی : (والصحیح الاول) ـ علامه عراقیؒ وائی : والقول الاول هو الصحیح الذی علیه المحققون والاکثرون من اهل اللغة والحدیث والفقه) لهذا دلته اوله معنی مراد ده چه تشی باندے لاس کیخودل په مانځه کښې صحیح نه دی او حرام دی ـ عند الجمهور دا کار مکروه دے او مونځ پرے ندے فاسد او علامه ابن حزم فرمائی : مونځ پدے سره فاسدیږی ځکه هغه وائی : په ارتکاب د حرامو سره مونځ فاسدیږی ـ **د منع حکمتونه** : په مانځه کښې د خصر نه ولے منع اوشوه نو (۱) وجه دا ده چه دا د یهودیانو عادت دے او د هغوی سره تشبه کول ګناه ده لکه عائشه رضی الله عنها فرمائیلی دی امام بخاری ترے په باب ذکر بنی اسرائیل کښې نقل کړیدی ـ

(۲) یو روایت کښې دی : اختصار د اهل نار د آرام دحالت یوه ذریعه ده ـ

(۳) بعض وائی دا د هیجړاګانو او د هغه خلقو خوئی دے چه د هغوی هیڅ سماجی حیثیت نه وی او انتهائی ذلیله طبقه ده ـ

(٤) کله چه شیطان زمکے ته راکوز شو او هغه ملعون شو نو هغه په تشی لاسونه ایخی ولاړ وو ـ امام ترمذیؒ فرمائی : (ان ابلیس اذا مشی یمشی مختصراً) ابلیس علیه اللعنة چه کله مزل کوی نو هغه په تشی باندے لاسونه ایخودلی وی نو دا د نا امیده خلقو کار دے ـ انظر شرح السنة (٣١٤/٢) (٥) بعض وائی : دا متکبرین مختالینو کار دے ـ

(٦) بعض وائی : کله چه په مصیبت والو باندے څه مصیبت راشی نو هغوی داسے شکل او هیئت جوړوی خاصکر کله چه ماتم کوی نو په تشو باندے لاسونه ږدی نو د هغوی سره

مشابهت هم گناه ده۔ (۷) بعض وائي : شاعر چه کله شعرونه وائي نو داسې هيئت جوړوي نو د هغـه سره مشابهـت هم دے باکو خلقو سره مشابهت دے نو دا د تعظیم د حالت سره مناسب نه دے ۔ حافظ عسقلانیؒ ددے اقوالو ذکر کولو نه پس لیکي : چه پدے کښې اول قول چه د عائشہؓ قول دے ډیر اعلیٰ دے او تولو راجمع کولو کښې هيڅ منافات نشته۔

بیا ددے علتونو نه معلومیږي چه د مانځه نه بهر هم په تشې باندے لاسونه کیخودل مناسب نه دي۔

٥– وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : سَئَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَنِ الْإِلْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ: "هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلٰوةِ الْعَبْدِ". متفق عليه.

ترجمه: او عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه په مانځه کښې د التفات (اخوا دیخوا کتـلـو) پـه بـاره کـښې تپـوس اوکړو نو هغه اوفرمایل : دا (د مانځه) تختول دي چه شیطان ئې د بنده د مانځه نه تختوي (بخاري ومسلم)

تشریح : د حدیث مطلب دا دے چه کله یو شخص مانځه ته په ډیره توجه او ادب سره نه اودریږي بلکه اخوا دیخوا گوري نو شیطان د داسې مونځ کونکي د مونځ کمال راکاږي یعنی پدے اخوا دیخوا کتلو سره دده د مانځه کمال باقي نه پاتے کیږي او مونځ ئې ناقص کرځي۔

امام ابن حبان د انس بن مالك نه مرفوعا حدیث نقل کړیدے : المصلی يتناثر على رأسه الخير من عنان السماء الى مفرق رأسه، وملك ينادى : لو يعلم هذا العبد من يناجي ما انفتل » الضعفاء والمجروحين لابن حبان (۲/ ۲۷۰) یعنـي په مونځ کونکي باندے د هغه آسمان نه د هغه په سر باندے متواتر خیـر او رحمتونه دوریږي او یو ملائك آواز کوي : که دا بنده پدے پو هه شي چه زه د چا (عظیم ذات) سره جرگه کوم نو چرے به هم اخوا دیخوا اونه گوري ۔

کعب بن مالك ﷺ فرمائي : مـا من مؤمن يقوم مصلياً الا وكل به ملك ينادى : يا ابن آدم، لو تعلم ما فی صلاتك ومن تناجي ما التفت (شعب الايمان ۳/ ۱۳۸) تعلیق التنبیه (۲/ ٦٣٦)

یعنی هر مونځ کونکي چه مانځه ته اودریږي نو یو ملائك په هغه باندے مقرر شي چه دا آواز کـوي : اے د آدم ځـویـه ! کـه تـه پو هه شے په هغه خیر او برکات او فائدو باندے چه ستا په مانځه کښې دي او د چا سره جرگه او سرگوشي کوے نو تا به چرے اخوا دیخوا نه کتلے۔

بیا التفات (اخوادیخوا کتل) په څلور قسمه دي :

۱ – **اول التفات بالقلب** : یعـنـي پـه زړه سره بل طرفته متوجه شي او خشوع ئې زائل شي، غـفـلـت پرے راشي نو پدے سره د جمهورو علماؤ په نزد مونځ نه فاسدیږي ځکه خشوع فرض نه ده عـنـد الـجـمهور او د امام غزالیؒ وغیره په نیز په ټول مانځه کښې خشوع فرض ده لهذا که د یو

انسان خشوع زائل شي مونځ ئې فاسد دے۔

٢- دويم التفات بموق العين : (د سترګو په ګوټونو کتل) نو دا قسم التفات د نبي عليه السلام نه هم د ضرورت په وخت نقل دے چه هغه به کله نا کله کولو نو دا جائز دے خو ډيروالے په پکښې نه کوی ځکه چه دا هم خشوع ته نقصان رسوی، خلافِ اولیٰ دے اګرکه مکروه نه دے۔

٣- دريم التفات بالعنق : يعنی ښي اوګس طرفته مخ تاوول چه سينه قبلے ته مخامخ وی نو دا کار مکروه دے په نيز د جمهورو او حرام دے په نزد د اهل ظاهرو، پدے سره شيطان له په مانځه کښې برخه ورکولے شي۔ **٤- التفات بالصدر :** يعنی ښي اوګس طرفته داسے کتل اوکړی چه سينه هم ورسره د قبلے نه واوړی نو که دا کار بغير د حاجت او ضرورت نه وی نو په اتفاق د علماؤ سره پدے سره مونځ فاسديږی ځکه توجه الی القبله فرض ده او هغه زائل شوه لهذا مونځ باطل شو او که ضرورت وی لکه مثلا مار لړم په مانځه کښې وژل يا يو هلاك کيدونکے انسان بچ کول روند د غورزيدلو نه بچ کولو وخت کښې سينه د قبلے نه واوړی نو مونځ جائز دے او په احاديثو کښې ددے اجازت راغلے دے۔

دلته پدے حديث کښې دويم قسم التفات مراد دے يعنی التفات بالعنق ۔ چه دا د اهل ظاهرو په نزد مونځ باطلوی او د جمهورو په نيز پدے سره مونځ نه باطليږی البته په ثواب کښې ضرور نقصان راځی ۔ اخْتِلَاسٌ : اختلاس يو شے په تيزئ سره تختولو ته وائی ۔ دلته يا مصدری معنی مراد ده يعنی اخوا ديخوا کتل د شيطان تختول دی چه د بنده مونځ نه څه برخه ځان دپاره تختوی او هغه ته کامل مونځ نه پريدی ځکه خشوع ورله خرابه کړی ۔

يا دلته د اختلاس نه مراد (شئ يختلس به) دے يعنی اخوا ديخوا کتل يو داسے شے دے چه ددے په ذريعه شيطان د انسان د مانځه نه څه برخه تختوی ۔ يعنی دا ذريعه د اختلاس ده۔

٦- وَعَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَيَنْتَهِيَنَّ اَقْوَامٌ عَنْ رَفْعِهِمْ اَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِی الصَّلَاةِ اِلَی السَّمَاءِ اَوْ لَتُخْطَفَنَّ اَبْصَارُهُمْ . (رواه مسلم)

ترجمه: او ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : خلق دِے په مانځه کښې د دعاء په وخت خپل نظرونه آسمان طرفته اوچتولو نه بند شی، که نه وی نو د هغوی نظرونه به اُوتختولے شی ۔(مسلم)

تشريح : لَيَنْتَهِيَنَّ اَقْوَامٌ : مطلب د حديث دا دے چه رسول الله ﷺ خلقو له منع کوی ددے نه چه هغوی په مانځه کښې د دعاء په وخت آسمان ته نظرونه پورته کړی، او که دوی ددے کار نه منع نه شو نو بيا به د دوی نظرونه اوتختولے شی يعنی ړانده به شی ۔ نو پدے حديث کښې سخت وعيد دے هغه چا ته چه په مانځه کښې آسمان طرفته ګوری، خاصکر د دعا په وخت

ځکه چه مونځ د خشوع او خضوع محل دے نو په پورته کولو د نظر سره د انسان خشوع کښې فرق راځي۔ بيا مسئله دا ده چه په مانځه کښې مطلقاً او خاص طور سره په وخت د دعاء کښې آسمان طرفته نظر پورته کول مکروه دي۔

او ابن حزم رحمه الله فرمائي : پدے سره مونځ باطليږي ځکه دلته سخته سزاء بيان شويده چه سترګے به ئے ړندے شي که دا کار کوي او داسے وعيد په هغه کار باندے وي چه هغه حرام وي او په مانځه کښې ارتکاب د حرامو سره مونځ باطليږي۔

او پدے حديث کښې چه د دعا قيد ذکر دے نو دا قيد غالبي دے ځکه اکثرو حالاتو کښې د دعاء په وخت خلق نظر آسمان ته پورته کوي او دا قيد احترازي نه دے ځکه چه په روايت د بخاري، ابوداود، نسائي او ابن ماجه کښې په حديث د انسؓ کښې بغير د قيد د دعاء نه هم منع راغلے ده، هلته صرف لفظ د (في الصلاة) دے او دعاء ورسره نه ده ذکر لهذا منع په ټول مانځه کښې ده۔

محمد بن سيرين رحمه الله نه نقل دي چه خلقو به په مونځونو کښې اخوا ديخوا کتل نو کله چه ﴿قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ﴾ نازل شو نو خلق خپلو مونځونو ته متوجه شو او خپلے مخے ته ئے کتل شروع کړل او هغوی به دا مستحب ګنړله چه نظر خپل د سجدے د ځائے نه وانه ړوی۔ (ابن ابی شيبه)

او په روايت د حاکم کښې دي چه کله دا آيت نازل شو نو رسول الله ﷺ به سر خکته ساتلو۔ (فطأطأ رأسه)۔ او ددے احاديثو نه معلوميږي چه د نظر پورته کولو منع ددعاء د وخت پورے خاص نه ده۔ او ددے منع حکمت دا دے چه کله انسان آسمان طرفته ګوري نو هغه د قبلے د سمت نه اوځي او د قبلے نه ئے مخ اوړي او د هيئت د مانځه نه لرے شي۔ معالم السنن للخطابي بر حاشيه سنن ابی داود (٤/) بلوغ الاماني (٣/١١٦)

بيا د مانځه نه علاوه د دعاء په وخت آسمان ته نظر پورته کولو کښې اختلاف دے :

(١) بعض علماء وائي چه دا هم مکروه دي لکه دا د قاضي شريح او نورو مذهب دے۔

(٢) او د بعض علماؤ رائے دا ده چه جائز ده وجه دا ده چه آسمان قبله د دعاء ده لکه څنګه چه کعبه قبله د مانځه ده۔ او د منع او کراهت دپاره څه دليل نشته لهذا دا کار بهر د مانځه نه بالکل جائز دے والدليل على الجواز حديث خوله بنت ثعلبه في المجادله (ابن کثير)۔

اَوْ لَتُخْطَفُنَّ : خطف يو شے په تيزئ سره تختولو ته وائي۔ مطلب د حديث دا دے چه پدے دواړو کارونو کښې به يو کار ضرور کيږي يا به د نظر پورته کولو نه منع کيږي او يا به ئے نظرونه تختولے شي۔

٧– وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ ؓ، قَالَ : رَاَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَؤُمُّ النَّاسَ وَاُمَامَةُ بِنْتُ اَبِي الْعَاصِ عَلٰى عَاتِقِهٖ فَاِذَا رَكَعَ وَضَعَهَا وَاِذَا رَفَعَ مِنَ السُّجُوْدِ اَعَادَهَا . متفق عليه.

ترجمه : او ابوقتاده ﷛ فرمائی : ما نبی کریم ﷺ اولیدلو چه خلقو ته ئے امامتی کوله او (هغه نوسئ) امامه بنت ابی العاص د هغه په اوګه باندے ناسته وه کله چه هغه رکوع کوله نو امامه به ئے کیخودله او کله چه به د سجدے نه پورته کیدو نو هغه به ئے (خپلے اوګے ته) راواپس کړه۔ (بخاري ومسلم)

تعارف د امامه بنت ابی العاص : دا د زینب بنت رسول الله ﷺ لور ده او د رسول الله ﷺ په زمانه کښ ماشومه وه د فاطمے د مرګ نه پس علی رضی الله عنه په نکاح واخسته په وصیت د هغے سره بعض وائی : ددے پلار ابو العاص زبیر بن العوام ته ددے وصیت کړے وو نو زبیر رضی الله عنه دا علی رضی الله عنه ته په نکاح ورکړه بیا کله چه علی رضی الله عنه قتل شو او ددے عدت ختم شو نو مغیره بن نوفل بن الحارث رضی الله عنه په نکاح واخسته، حسن بن علی رضی الله عنه ورته په نکاح ورکړه او دا د مغیره په نکاح کښ وفات شوه۔

ابو العاص بن ربیع بن عبد العزی بن عبد شمس بن عبد مناف بن قصی ۔ د ابو العاص په نوم کښ ډیر اختلاف دے بعض وائی : لقیط دے بعض وائی : مقسم دے بعض وائی : قاسم دے بعض وائی مهشم دے بعض یاسر یادوی ۔ خو په کنیه مشهور دے د رسول الله ﷺ زوم دے د زینب بنت رسول الله ﷺ خاوند دے چه دا ئے مشره لور وه دده مور هاله بنت خویلد بن اسد د خدیجے رضی الله عنه خور وه ۔ ده د فتح د مکے نه مخکښ ایمان راوړو او رسول الله ﷺ ته ئے هجرت اوکړو پس د هغے نه چه په بدر کښ کافر قیدی شوے وو او نبی علیه السلام ورته خپله لور زینب په اول نکاح سره واپس کړه او د هغه په نکاح کښ بیا وفات هم شوه او نبی علیه السلام به دده په سخرګنی توب کښ صفت کولو او دده وفات په خلافت د ابوبکر صدیق کښ وو په ذی الحجه سنه (۱۲) هجری کښ ۔ سیرت ابن اسحاق کښ دده تفصیلی واقعات ذکر دی۔

تشریح : پدے حدیث کښ دا مسئله ده چه په مانځه کښ ماشومه جینئ پورته کول او کینول جواز لری او دا قسم عمل کثیر د مانځه منافی نه دے کله چه پدے کښ حکمت او فائده وی او دلته پدے کار کښ ډیر فوائد دی ۔ علامه فاکهانیؒ فرمائی : پدے کار کښ راز دا دے چه اشاره ده چه اے عربو تاسو د جینکو سره مینه نه لرئ او دا نه اخلئ او په جاهلیت زمانه کښ به تاسو لونړه خخولے او مونږ ددے دومره قدر او عزت کوو چه په اهم مقام کښ چه مونځ دے مونږ دا ځان سره پورته کوو او د دوی نه نفرت نه کوو نو پدے کښ د هغوی ردع او رټنه ده چه دا کار مه کوئ او فعل کله د بیان نه ډیر قوی وی نو دیته عملی دعوت وائی۔

۲- ددے حدیث نه زمونږ د اسلام سماحت او فراخی معلومیږی چه د ماشومانو سره دومره محبت کولے شی چه اهم عمل کښ هغه پورته کولے شی نو پدے کښ رد شو په جاهلیت والو او عملی دعوت دے هغوی ته۔ ۳- د رسول الله ﷺ شفقت د ماشومانو سره څومره دے ؟ چه هغه

په مانځه کښې هم نه لري کوی او پدے کښې تواضع د رسول الله ﷺ ده۔
٤- د ماشو ماتو جامے په طهارت باندے محمولولے شي۔
٥- ددينه نه معلومه شوه چه د انسان په معده او خيته کښې چه کوم ګند دے نو هغه په مانځه کښې معاف دے او ظاهري ګندګي نه ځان ساتل ضروري دي۔
٦- ظاهر بدن د انسان پاك دے کله چه ورپورے څه ګند نه وي لګيدلے۔
٧- په مانځه کښې عمل قليل مونځ نه باطلوي يا عمل کثير وي ليکن متفرق (جدا جدا) وي او پرله پسے متواتر متتابع نه وي ۔ او د ضرري حيوان د وژلو دپاره بيا متواتر عمل کثير هم جائز دے ۔٨- زنانه مسه کول اودس نه ماتوي۔ ٩- نبي عليه السلام دا کار د بيان د جواز دپاره کړيدے که چا ته داسے صورت راپيدا شي نو هغه دپاره هم دا عمل بالکل مشروع دے ۔
١٠ - **اختلاف المذاهب** : په مانځه کښې دا کار جائز دے په نزد د امام شافعیؒ او احمدؒ نفل مونځ وي او که فرض، امام وي که منفرد او که مقتدي وي او دا حديث او ددے پشان نور احاديث ئے دليل دے ۔ ٢- امام مالك وائي : په فرض مانځه کښې حمل الصبي مطلقاً جائز نه دے ۔ ٣- امام ابوحنيفهؒ وائي حمل الصبي جائز دے عند الضرورت او مکروه دے په وخت د عدم حاجت کښې ۔ دا دواړه علماء استدلال کوي چه د ماشوم پورته کول او کينول عمل کثير دے او عمل کثير په مانځه کښې مبطل د مانځه دے او که عمل کثير نه وي نو عمل قليل خو ضرور دے او دا هم مکروه دے لهذا دا کار صحيح نه دے ۔ نو دوي پدے حديث کښې تاويلونه کوي :
١- مالکيه وائي : دا په باره د نفل مانځه کښې دے نه فرض مونځ ۔
الجواب : دا خبره غلطه مردوده ده ځکه په دے روايت د مسلم کښې خو (يؤم الناس) لفظ دے يعني خلقو ته ئے امامتي کوله ۔ او په نفلو کښې خو امامتي د رسول الله ﷺ نه معهوده نه ده او پدے تاويل څه دليل هم نشته، دارنګه په روايت د احمدؒ کښې (كما في الفتح الرباني : ١١٨/٤) او نسائي وغيره کښې دي چه دا د سحر مونځ وو (وسنده صحيح) نو دا تاويل غلط شو۔
٢- مالکيه او احناف وائي : دا منسوخ شويدے او دا کار په هغه وخت کښې شوے وو چه په مانځه کښې عمل کثير حرام نه وو کما قال ابن عبد البرؒ انظر المرعاة (٣٥١/٣) ومظاهر حق (٦٥٦/١) **الجواب** : دا تشه دعوه ده هيڅ دليل نشته او نسخ په احتمالاتو نه ثابتيږي۔
٢- دويم دا چه دا قصه د (ان في الصلاة لشغلاً) حديث نه روستو راپيښه شويده ځکه هغه حديث د هجرت نه مخکښې وو يا د هجرت نه لګ روستو وو او دا قصه يقينا د هجرت نه ډيره موده روستو راغلے ده، نو په خپل ګمان باندے د نبي عليه السلام عمل منسوخ کول غلط دي ۔
٣- بعض مالکيه وائي : دا د رسول الله ﷺ خصوصيت وو او هغه ته معلومه وه چه دا زما دپاسه بول نه کوي۔ **الجواب** : دا خبره هم خطاء ده ځکه اصل دا ده چه احکام شرعيه ډے نبي

پورې خاص نه وي مګر کله چه دلیل د اختصاص موجود شي او دلته هیڅ دلیل نشته چه دا کار د نبي پورې خاص دې، صرف د خپل مذهب په بناء دا قول شویدې او پدې باب کښې قیاسونو ته ضرورت نشته. ٤- احناف جواب کوي چه دا کار د ضرورت په بناء شویدې چه د امامه بل څوك نه وو چه هغه واخلي او قلاره ئې کړي نو که نبي علیه السلام دا پریخودلې وې نو دې ژړل او نبي علیه السلام به ئې زیات مشغول کړې وې په نسبت د پورته کولو ددې.

لیکن دا جواب هم غلط دې ځکه پدې دلیل نشته ولې ددې مور چرته تلې وه چه هغې نه اخستله.

٥- علامه خطابيؒ او بعض احناف یو تعجب خیز جواب کوي وائي: کیدې شي چه ماشومه جینۍ پخپله د رسول الله ﷺ پورې انختې وي او رسول الله ﷺ به په وخت د کوزیدو کښې هغې ته اشاره کوله چه کوزه شه او په وخت د پورته کیدو کښې به هغه پخپله ورپورې انختله نو د رسول الله ﷺ عمل صرف اشاره وه خو راوي ددې نه تعبیر اوکړو مجازا چه دا د نبي علیه السلام فعل وو. **الجواب:** دا د حدیث تحریف دې، او په راوي باندې بد ګماني ده او حقائق بدلول دي ځکه حدیث کښې صریح الفاظ دي چه رسول الله ﷺ به کینوله او پورته کوله.

دارنګه په روایت د ابوداود کښې نبي علیه السلام ته د اخذ نسبت شویدې (حتی اذا اراد ان یرکع اخذها فوضعها ثم رکع وسجد حتی اذا فرغ من سجوده وقام اخذها فردها فی مکانها) نو دا صریح دلیل دې چه حمل او وضع د رسول الله ﷺ حقیقةً فعل وو او داسې نه ده چه هغه به پخپله کوزیده ختله. **علامه خطابيؒ** دا هم وئیلي دي چه نبي علیه السلام د خمیصه (شړۍ) په اعلامو باندې مشغول کیدو نو د امامهؓ په پورته کولو خکته کولو خو به ضرور مشغول کیدو.

لیکن امام نوويؒ دده په تعقیب کښې وئیلي دي چه د امامهؓ پورته کولو کښې ډیر فوائد دي نو که زړه مشغول شي خو فوائد ورسره زیات حاصلیږي او هرچه خمیصه ده نو هغې سره زړه مشغولیدل بغیر د فائدې نه دي، دویم دا چه د نبي علیه السلام په زړه کښې عمق زیات وو نو هغه په دې کار نه مشغول کیدو. دارنګه په اعلامو مشغولیدل د فکر او نظر سره تعلق لري او د امامه پورته کول بې فکره هم کیږي. لهٰذا دا څه لازمه نه ده چه د امامه پورته کولو سره به ضرور مشغول شوې وي. نو ظاهر دا ده چه دا د بیان د جواز دپاره وو.

د امام نوويؒ تحقیق: امام نووي ددې حدیث متعلق لیکي: "دا حدیث د امام شافعيؒ او د هغه د موافقینو دپاره دلیل دې چه د ماشوم هلك او جینۍ پورته کول او یا ددې نه سوا پاك حیوان پورته کول په فرض او نفل مانځه کښې جائز دي او بعض اصحاب د مالك رحمه الله دا په نفل مانځه باندې حمل کړیدې او په فرضو کښې ئې منع کړیدې، او دا تاویل فاسد دې ځکه دا قول چه (یؤم الناس) صریح دې یا پشان د صریح دې پدې کښې چه دا په فرض مانځه کښې وو او مخکښې دا خبره ذکر شوه چه دا په سحر فرض مانځه کښې وو. وائي: بعض مالکیانو دعوه

کړیده چه دا کار منسوخ دے او بعضو دعوه کړیده چه دا په نبی علیه السلام پورے خاص دی او بعضو وئیلی دی چه دا کار د ضرورت د وجے نه وو او دا ټولے دعاوی باطلے او مردودی دی ځکه پدے باندے هیڅ دلیل نشته او نه دیته ضرورت شته بلکه دا حدیث صحیح او صریح دے په جواز ددے کار کښې او پدے کښې څه د قواعدو د شرع خلاف نشته ځکه انسان پاك دے او دده په خیټه کښې چه څه نجاست دے هغه معاف دے ځکه هغه (ښکاره ندے بلکه) معده کښې دے او د ماشومانو جامے محمول دی په طهارت باندے او د شریعت دلائل پدے باندے ډیر واضح دی ۔ او افعال په مانځه کښې کله چه قلیل وی یا متفرق (جدا جدا) وی نو مونځ نه باطلوی او نبی علیه السلام چه دا کار کړیدے نو دا د بیان الجواز دپاره او دپاره د تنبیه ورکولو پدے قواعدو باندے چه ما ذکر کړل او پدے کښې رد دے په قول د امام خطابیؒ باندے چه وائی : کیدے شی دا کار بغیر د تعمد او قصد نه خود بخود شوی وی، رسول الله ﷺ دا پورته کړیده ځکه وړپورے انختے وه او هغه قصدا نه ده پورته کړے، او کله چه هغه اودریدو نو د هغه سره همدغه شان باقی پاتے شوه او هغه وئیلی دی : دا گمان نشی کیدے چه رسول الله ﷺ هغے لره قصدا بار بار پورته کړی وی ځکه دا خو عمل کثیر دے او زړه مشغولوی او کله چه د شړئ پټے (او نخے) هغه مشغوله کوی نو د جینئ اوچتول به ئے ولے نه مشغوله کوی ؟ دا وو کلام د خطابی ۔ خو دا باطل دے او تشه بے دلیله دعوه ده او ددے تردید کوی دا قول د راوی په صحیح مسلم کښې (خرج علینا حاملاً امامة فصلی) (چه پدے کښې رسول الله ﷺ ته د حمل او وضع نسبت شویدے) او هر چه قصه د شړئ ده نو دا زړه مشغوله کوی خو بغیر د فائدے نه او د امامه پورته کول مونځ نه منو چه زړه مشغوله کوی او که زړه مشغوله کړی (نو بیا هم) پدے باندے ډیر فوائد او بیان د قواعدو مرتب دے کوم چه مونږ ذکر کړل په خلاف د شړئ نه پس خقه خبره چه د هغے نه عدول کول صحیح نه دی دا ده چه دا حدیث د بیان د جواز دپاره دے او تنبیه ده پدے فوائدو باندے نو دا کار مونږ دپاره جائز دے او (وشرع مستمر الی یوم الدین) او دا تر قیامته پورے همیشه جائز او مشروع کار دے ۔ والله اعلم انتهی ما قال النووی انظر فقه السنة (۱/۲۴۱)

لیکن د نوویؒ دا قول چه پاك حیوان اوچتول جواز لری قیاس په جینئ کوی دا غلط دے ځکه په حیوان اوچتولو کښې هیڅ فائده نشته دارنګه ضرورت هم نشته نو دا زیادت غلط دے۔

او دا قول د بعض احنافو دے چه لکه ابن امیر الحاج په الحلیه کښې ذکر کړیدی چه دا کار په مانځه کښې بالکل جائز دے او تاویلاتو ته هیڅ ضرورت نشته او د امام نوویؒ تائید ئے کړیدے او دیته ئے صواب او حق وئیلی دی چه ددے نه عدول کول صحیح نه دی ۔ انتهیٰ کما فی رد المحتار (۱/۶۱۲) والمرعاة (۳/۳۵۱)

ددے تحقیق نه واضحه شوه چه دا قسم عمل په مانځه کښې مشروع دے او دا که عمل کثیر

وی او کـه قـلـیـل وی خو شریعت جائز کړیدے او دغه فوائد پکښې شته ۔ او کومو علماؤ چه پدے حـدیـث کـښې تـاویلات کړیدی نو هغوی وئیلی دی چه دا عمل کثیر دے او عمل کثیر په مانځه کـښې مبطـل د مـانـځـه دے مگر دا خبره ثابته شوه چه هر عمل کثیر مبطل د مانځه نه وی بلکه هغه عمل کثیر مبطل دِ مانځه وی چه شریعت د هغے اجازت نه وی ورکړے او بغیر د ضرورت او فـوائـدو نـه وی لهـذا تـاویـلاتـو تـه ضـروت نشته ۔لکه دا خبره امام قرطبی ذکر کړیده انظر فتح الباری (١/٤٦٩) حـافـظ عـسـقـلانیؒ فـرمـائی : اکثر اهل علمو دا حدیث محمول کړیدے پدے بـانـدے چـه دا عـمـل متـوالی (پـرلـه پسے) نـه دے ځکه په ارکانود مانځه کښې ورسره طمانینت موجود دےِ (لهذا دا عمل کثیر نه دے نو ځکه مبطل نه دے) ۔

مسئلة مهمة : عمل کثیر څه ته وائی او آیا ددے په کولو مونځ باطلیږی ؟

فقهاؤ د عمل کثیر ډیر تعریفونه ذکر کړیدی :

(١) اصـح تـعـریـف د دوی په نیز دا دے چه د وړاندے کتونکے یقین اوکړی چه دا سړے په مانځه کښې ندے، نو دا به عمل کثیر وی او که د هغه عمل په کولو کښې د یو کتونکی شك شی چه آیا دا شخص په مانځه کښې دے او که نه دے ؟ نو دا عمل قلیل دے۔

(٢) – دویم تعریف : په دواړو لاسونو چه کوم کار کیږی دیته عمل کثیر وائی اگرکه په یو لاس اوکـړے شـی لـکـه پټکے وهل، پرتوګ بډے کول (تړل) دا په دوه لاسونو کیږی خو که څوك ئے په یـو لاس اوکـړی هـم دیتـه بـه عـمـل کثیـر وئیلے شی او کوم کار چه په یو لاس کیږی دا قلیل دے اگـرکـه پـه دواړو لاسـونو اوکړے شی لکه پرتوګ سپړل، توپئ اغوستل او ویستل مگر که درے کرته پرله پسے مکرر شو نو دا به هم بیا عمل کثیر گرځی ۔

(٣) – درے حرکات متوالیه (پرله پسے) کثیر دی او ددے نه چه کم وی هغه قلیل دی ۔

(٤) د یـو فـاعـل چه یو مقصود وی او هغه اوکړی لکه ښځے ته گوتے وړل، هغه په شهوت سره ځـکـلـول یـا مـاشـوم د زنـانـه تیٔ رودل او د هغے نه پیٔ راوتل نو دا عمل کثیر دے پدے سره مونځ فـاسـدیـږی ۔ (٥) د عـمـل کثیـر او قلیل ضابطه رائے د مونځ کونکی ته سپارل شویده که مونځ کـونکی ته هغه عمل زیات ښکاره شو نو دا به کثیر وی او که هغه کم اوګڼړلو نو دا به قلیل وی لـکـه دا اقوال په رد المحتار (١/٤١٩) او فـقـه السنة (١/٢٣٩) او احسن الفتاوی (٣/٤١٨) وفتاوی الدین الخالص (٥/٤٥) کښې اوګوره۔

لیـکـن صـحـیـح خبـره دا ده چه په سنتِ مطهره کښې ددے هیڅ حد او ضابطه نه ده راغلے بلکه ډیر اعـمـال کثیـره پـه مـانـځـه کښې جائز دی او بعض قلیل اعمال دی، لیکن رسول الله ﷺ حرام کړیدی لکه سجده کښې کانړی برابرول (زیات د یو کرت نه) دا حرام شویدی ۔

لهذا پدے باب کښې به رجوع کولے شيِ سنت مطهره ته که په سنت کښې یو عمل ثابت وی نو

هغه اګرکه کثیر وي خو جائز به وي.

ددې وجې نه علامه شوکاني رحمه الباري په السیل الجرار (١/٢٣٥) کښې لیکي :

حقه خبره دا ده چه څوك په مانځه کښې داخل شو نو د هغه مونځ نه فاسدیږي مګر په هغه شي سره چه شریعت دلالت کړې وي په کیدو د هغې باندې چه دا مفسد د مانځه دې لکه اودس ماتیدل، خلقو سره قصدا خبرې کول یا قصدا یو رکن د مانځه پریخودل نو پدې سره به مونځ ماتیږي او ددې نه ماسوئ که چا دعوه اوکړه د فساد د مانځه په یو شي سره نو دلیل به راوړي که دلیل موجود شو نو بس منو به او که موجود نه شو نو دا به محض دعوه وي نه به شي منلې که هغه دا دلیل پیش کړي چه حدیث کښې راغلي دي: اسکنوا فی الصلاۃ) نو وئیلې به شي چه دا حدیث صحیح دې لیکن پدې کښې حکم دې چه په مانځه کښې به حرکات نه کوئ (کوم چه د مانځه نه نه وي) نو چا چه داسې عمل اوکړو چه هغه د مانځه نه نه وي لکه لاس ګروي، یا سر یا خپه ګروي، بغیر د ضرورت نه نو ده د واجبو نقصان اوکړو نو ده باندې به د واجب د پریخودونکي په شان ګناه لازمیږي او هر چه مونځ فاسدیدل دي نو د هغې تذکره پکښې نشته .(د هغې دپاره جدا دلیل راوړل پکار دي ؟) انتهی مخلصا . وانظر فتاوی الدین الخالص (٥/٤٦) .

امام نووئ د قلیل او کثیر په ضابط کښې څلور اقوال ذکر کړیدي او بیا ئې څلورم قول راجح ګرځولې دې او وئیلې ئې دي چه دا صحیح او مشهور قول دې او د جمهورو علماؤ قول دې او هغه دا چه پدې باب کښې به رجوع کولې شي عرف او عادت ته (فلا یضر ما عده الناس قلیلاً کالاشارة برد السلام، وخلع النعل، ورفع العمامة ووضعها، ولبس ثوب خفیف ونزعه وحمل صغیر ووضعه ودفع مار ودلك البصاق فی ثوبه) نو عام خلق چه یو کار قلیل ګڼړي لکه د سلام جواب ورکول په اشارې سره یا چپل ویستل، یا پټکے پورته او کیخودل، او معمولي جامه اغوستل او ویستل او ماشوم پورته کول او کینول او د تیریدونکي دفع کول او په جامه کښې لاړې مږل وغیره نو دا هیڅ ضرر نه ورکوي مانځه ته.

او کوم کار چه خلق ئې کثیر ګڼړي لکه پرله پسې متواتر ډیر قدمونه اخستل او متواتر فعلونه کول نو پدې سره مونځ باطلیږي او دا هم په هغه وخت کښې چه کله متواتر وي او جدائي مینځ کښې نه وي او که مینځ کښې جدائي وي نو هم مبطل نه دې لکه یو قدم واخلي بیا لګ ساعت اودریږي بیا یو قدم دوه واخلي دغه شان سل قدمونو پورې هیڅ ضرر نه رسوي .

بیا وائي : فاما الحرکات الخفیفة کتحریك الاصابع فی سبحة او حکة او حل او عقد فالصحیح المشهور ان الصلاة لا تبطل به وان کثرت متوالیة، لکن یکره) یعنی معمولي حرکات کول لکه په تسبیحاتو کښې ګوتې خوزول یا بدن ګرول یا یو شے سپړدل او غوټه کول نو صحیح مشهوره خبره دا ده چه مونځ پدې کارونو نه باطلیږي انتهی . المجموع (٤/٩٣) فقه السنة (١/٢٤٠)

نو دے علماؤ د نبی علیه السلام نه صادر شوی اعمال په عمل قلیل کښں شمارلی دی۔
شیخ بسام په تیسیر العلام (۲۰۷/۱) کښں لیکی:
فائده: په مانځه کښں حرکت علماؤ په څلور قسمه تقسیم کړیدے په اعتبار د تتبع د نصوص د شارع نه۔ ۱- **اول قسم**: هغه عمل دے چه حرام او مبطل د مانځه دے او دا هغه عمل کثیر دے چه متوالی (پرله پسے) بغیر د ضرورت او بغیر د مصلحت د مانځه نه اوشی۔
۲- **دویم قسم**: هغه عمل دے چه په مانځه کښں مکروه وی او مونځ نه باطلوی او هغه قلیل عمل دے چه بغیر د حاجت نه اوشی او د مصلحت د مانځه دپاره هم نه وی لکه د جامو یا بدن وغیره سره معمولی شان لوبے کول ځکه دا د هغه خشوع –چه په مانځه کښں مطلوب ده –منافی دے او هیڅ حاجت هم ورته نشته۔
۳- **دریم قسم**: هغه حرکت دے چه مباح دے او دا هغه معمولی د حاجت دپاره حرکت دے او د نبی علیه السلام حرکت هم ددے قسم نه دے لکه د هغه ماشومه جینئ پورته کول او یا په مانځه کښں په منبر باندے ختل او بیا کوزیدل او عائشےؓ ته دروازه کولاوول وغیره چه دا کار به ئے د حاجت او بیان د جواز دپاره کولو۔
٤- **قسم رابع**: هغه حرکت دے چه مشروع دے او دا هغه حرکت دے چه د مصلحت د مانځه سره تعلق لری لکه په صف کښں خالی ځائے دپاره مخکښں روستو کیدل او خالی ګاه د بندولو دپاره نزدے کیدل یا حرکت یو محمود او مامور به فعل دپاره وی لکه په صلاة خوف کښں د مونځ کونکی مخکښں روستو کیدل یا حرکت د ضرورت دپاره وی لکه د هلاکت نه یو انسان بچ کول وی۔ وكذا في توضيح الاحكام (٤٧٦/١)
لهذا ثابته شوه چه عمل کثیر دپاره هیڅ حد نشته بلکه دلیل ته به ګورو که دلیل اجازت ورکوله نو جائز به وی او که نه وی نو جائز به نه وی وانظر التفصيل في فتاوى الدين الخالص (٤٨/٥)۔
اجوبة: په دے حدیث کښں په شوافعو باندے قوی اشکال واردیږی او هغه دا چه شوافع په مس المرأه باندے اودس مات ګڼړی برابره ده که صغیره وی او که کبیره وی او دلته خو دوی په مانځه کښں ماشومه جینئ اوچتول جائز ګڼړی لهذا د جینئ په اوچتولو خو اودس مات شو نو بیا باقی مونځ څنګه صحیح کیږی؟ ۔ نو دا مضبوط تعارض دے د دوی په مذهب کښں۔

۸- وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِذَا تَثَاءَبَ اَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ، فَاِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ. (رواه مسلم) وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ: اِذَا تَثَاءَبَ اَحَدُكُمْ فِي الصَّلٰوةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ وَلَا يَقُلْ هَا! فَاِنَّمَا ذٰلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ يَضْحَكُ مِنْهُ.

ترجمه : او ابوسعيد خدري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : كله چه يو تن ستاسو نه په مانځه كښې ارګمے (خوله وازے) اوكړي نو هغه دے دفع كړي څومره ئے چه وس وي ځكه (د خوله وازي په وخت) شيطان (د هغه په خوله) كښې داخليږي . (مسلم) او د بخاري په روايت كښې د ابو هريره رضي الله عنه نه دا الفاظ دي : چه كله تاسو نه يو تن ته په مانځه كښې ارګمے راشي نو هغه دے دفع كړي څومره ئے چه وس وي او ها دے نه وائي (لكه د ارګمي په وخت بے اختياره د خولے نه دا لفظ اوځي) ځكه دا د شيطان د طرف نه دے او هغه ددے نه خاندي۔

تشريح : اِذَا تَثَاءَ بَ : تَثَاءُ بُ هغه ساه اخستلو ته وائي چه د هغے په وجه خوله كولاوه شي چه په پښتو كښې ورته ارګمے او خوله وازے وائي دا راپيدا كيږي د معدے د ډكوالي نه او د بدن د درونه والي او سست والي نه او د حواسو د كدورت نه او پدے سره د زړه د عضلاتو نه هغه بخارات دفع كيږي كوم چه په دغه عضلاتو كښې پيدا شوي وي او دا ارګمے غفلت او سوءِ فهم او سستي او خوب راولي پدے وجه دا د الله تعالىٰ بدي شي او شيطان ته محبوب عمل دے لكه په صحيح حديث كښې دا خبره راغلے ده ځكه پدے كار سره د نفس خواهشاتو طرفته رغبت پيدا كيږي چه خوب دے او په عبادت كښې سستي، ددے په راتلو سره شيطان ته موقعه ملاو شي چه بنده د عبادت نه وران كړي . ددے وجے نه حديث كښې دا حكم اوشو چه په مانځه كښې كله دا ارګمے پيدا شي نو ددے حتى الامكان بندول پكار دي او دا بندول كه په هره طريقه وي لكه غاښونه يو بل سره جوختول او شونډے يوځائے كول او يو طريقه په حديث كښې دا ذكر ده چه په خوله باندے لاس كيدى دے دپاره چه شيطان په خوله كښې داخل نشي لكه دا په روايت د ترمذي كښې راغلے ده : (فليضع يده على فيه) او ددے په معنى كښې كپړه وغيره ايخودل هم دي چه پدے سره دفع شي او خوله ښكاره نه شي۔

★ – شرح السنة (٣١١/٢) كښې امام بغويؒ ليكي : قال ابراهيم اني لاردّ التثاؤب بالتنحنح ـ ابراهيم نخعيؒ وائي : زه ارګمي په تنحنح (غاړه تازه كولو) سره بندوم۔

په ابن ابي شيبه كښې دي چه مجاهد او عكرمه فرمائي : كله چه څوك خوله وازے كوي نو په هغه وخت كښې پكار دي چه د قراءت نه بند شي دے دپاره چه د قراءت نظم ئے خراب نشي۔

او ددے د بندولو او نه راتلو يوه ښه تجربه دا ده چه انسان ددے د راتلو نه مخكښې په زړه كښې راولي چه دا ډير بد كار دے په نبي عليه السلام باندے نه راتلو او دا خيال اوكړي چه اوس به زما په خوله كښې شيطان ننوځي او هغه به راپورے خاندي نو نفرت په زړه كښې پيدا كړي نو سمدست به ئے خوله وازے ختم شي وكما في رد المحتار للشامي۔

علامه ابن عربيؒ ليكي : ارګمي باندے هر حالت كښې آواز ختكته كول او خوله پټول پكار دي او د مونځ حالت ئے خاص كړو ځكه چه دا ډير لائق دے په پټولو د ارګمي سره ځكه په ارګمي

سره انسان د معتدل هيئت نه اوځي او شكل ئې كوږ شي او دا حالت د هر چا سره خاصكر د مونځ كونكي سره مناسب نه دے۔

فَاِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ : حافظ عسقلانیؒ فرمائي : شيطان يا حقيقةً داخليږي ځكه شيطان اګرچه د انسان په وينو كښې ګرځي راګرځي ليكن كله چه انسان ذكر حالت كښې نه وي نو هغه پرے ښه قادر شي او زړه ته ننوځي او هلته بيا وسوسے اچوي يا ذكر د دخول دے او مراد ترينه تمكن او قدرت دے يعني شيطان په ده باندے د ګمراه كولو او وسوسے اچولو قدرت پيدا كړي ځكه څوك چه په يو شي كښې داخل شي نو هغه په هغې باندے قادر شي انتهىٰ۔

وَلَا يَقُلْ هَا ! : يعني دا حكايت دے د آواز د ارګمي كونكي يعني د ارګمي په وخت دے د ها آواز نه اوباسي۔ مِنَ الشَّيْطَانِ : دائے شيطان ته منسوب كړو ځكه ده لره شيطان راپيدا كوي ۔ او هغه پرے خوشحاليږي

٩- وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِنَّ عِفْرِيْتاً مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِيْ فَاَمْكَنَنِيْ اللهُ مِنْهُ فَاَخَذْتُ فَاَرَدْتُّ اَنْ اَرْبِطَهُ عَلٰى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِيْ الْمَسْجِدِ حَتّٰى تَنْظُرُوْا اِلَيْهِ كُلُّكُمْ فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ اَخِيْ سُلَيْمَانَ : رَبِّ هَبْ لِيْ مُلْكاً لَا يَنْبَغِيْ لِاَحَدٍ مِنْ بَعْدِيْ فَرَدَدْتُهُ خَاسِئاً . (متفق عليه)

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : (يوه ورځ) رسول الله ﷺ اوفرمايل : نن شپه د جناتو نه يو ديو(قوي سركش شيطان) راخلاص شو زما خوا ته راغلو دے دپارہ چه زما په مانځه كښې خلل واچوي ليكن الله تعالى زه په هغه باندے قادركړم نو هغه مے اونيولو او اومے غوختل چه د مسجد (نبوي) د ستنو نه يوے ستنے سره ئے اوتړم دے دپاره چه تاسو ټول هغه اووينئ بيا ما د خپل ورور سليمان عليه السلام دا دعا رايادہ كړه (رب هب لي ملكا لا ينبغي لاحد من بعدي) اے ربه ! ما ته يو داسے بادشاهي راكړے چه زما نه روستو د بل هيچا سره مناسب نه وي نو ما هغه ذليل كيدو سره پريخودو ۔ (بخاري ومسلم)

تشريح : تَفَلَّتَ : راخلاص شو ۔ الْبَارِحَةَ : هغه شپے ته وائي چه نزدے تيره شوي وي ۔ يقطع على صلاتي : يعني زما مناجات ئے ختمولو ٢- يا ئے خشوع او كمال د مانځه قطع كولو ٣- يا مخے ته د تيريدو په وجه ٤- يا ئے داسے افعال صادرول چه هغه د مانځه منافي وو ۔

سوال : احاديثو نه معلوميږي چه د رسول الله ﷺ شيطان اسلام راوړيدے يا ئے اسلام نه دے راوړے خو رسول الله ﷺ ترے الله تعالى محفوظ ساتلے دے لكه چه په هغه حديث كښې دوه توجيهات دي ۔ نو دلته څنګه وسوسه اچوي ؟۔

الجواب : دا جدا شيطان دے او د رسول الله ﷺ سره چه كوم دائمي مقرر شيطان وو هغه

اسلام راوړيدے چه هغه د هر انسان سره وي لکه حديث کښې هغے ته قرين من الجن وئيلے شويدے ـ او دلته جدا شيطان راغلے دے وسوسه اچوي، او دا ممکن ده چه يو شيطان د وسوسه نه اچوي او بل شيطان دے واچوي ـ

حَتّٰى تَنْظُرُوْا اِلَيْهِ : يعنې د عبرت په نظر ستاسو مشران او کشران ئے اوګوري ـ په بل روايت کښې دي چه د مدينے ماشومان پرے لوبې اوکړي ـ

فوائد الحديث : (١)– حديث دليل دے چه رسول الله ﷺ بشر دے ځکه چه د شيطانانو وسوسه پرے اثر کوي ـ (٢) – حديث دليل دے چه په مسجد کښې قيدي تړل مباح دي او پدے باندے امام بخاريؒ باب الاسير او الغريم يربط في المسجد تړلے دے ـ

امام مهلبؒ فرمائي : ددے حديث نه دا ثابتيږي چه د چا پورے حق وي او د هغه د تختيدلو نه يريږي نو د هغه تړل په مسجد وغيره کښې جائز دي ـ

(٣) او په مانځه کښې ددے شيطان تړل هم جواز لري او دا اګرکه عمل کثير دے ليکن پدے کښې شريعت اجازه ورکړيده نبي عليه السلام په مانځه کښې دده د تړلو اراده کړيده ليکن د يو مصلحت دپاره ئے پريخودلو او پدے تړلو کښې د مونځ کونکي خشوع برابريږي ځکه چه د شيطان د وسوسونه به خلاص شي او دا کار منسوخ نه دے ـ

(٤) امام خطابيؒ ليکي : دا حديث دليل دے چه انسانان هم پيران ليدلے شي او دا کار څه مستحيل نه دے ځکه جنات اجسام لطيفه دي او جسم هر څومره چه لطيف شي نو د هغے ادراك ممکن دے او هر چه دا آيت دے ﴿ انه يراكم هو وقبيله من حيث لا ترونهم ﴾ نو دا د عامو انسانانو په باره کښې حکم دے چه عام انسانان پيران نشي ليدلے او دا په انسانانو امتحان دے چه د هغوي د شر نه پناهي طلب کړي او کله نا کله على سبيل الندرت ممکن ده چه بعض بندګان پيران اووينې ـ (يا به په خپل شکل نشي ليدلے چه متشکل شي بيا ليدل واقع دي) ـ

علامه کرمانيؒ وائي : دے تاويل ته حاجت نشته ځکه چه په آيت کښې زمونږ ليدل پيرانولره مطلقا نفي نه دي بلکه مطلب دآيت دا دے چه په کومه زمانه کښې مونږ ته پيران ګوري نو په هغه زمانه کښې ئے مونږ نشو ليدلے او دا ممکن ده چه مونږ هغه اووينو په غير د دغه وخت کښې انتهىٰ ـ مرعاة (٣/٣٥٥) او پدے کښې دا احتمال هم شته چه د آيت مطلب دا وي چه تاسو شيطان او جنات په خپل اصلي شکل نشئ ليدلے او کله چه شکل بدل کړي، د انسان په شکل راشي يا د بل حيوان په شکل نو بيا ئے ليدل ممتنع نه دي ـ اول قول راجح دے ـ

(٥) فاخذته نه معلوميږي چه د شيطان عين او ذات نجس نه دے او هغه له ګوتے وړل مونځ نه باطلوي ـ (٦) دا حديث دليل دے چه جنات موجود دي او ددے نه انکار کول د عام نصوصو نه انکار دے ـ (٧) شيطانان او پيران په مختلف شکلونو راتلے شي ليکن کله چه په کوم شکل راشي او په

هغې شکل کښې اونیولې شي نو ځان په بل نشي بدلولې او طاقت ئې هم د هغه شکل والا مطابق شي۔ ۸–حدیث دلیل دې چه جنات په خپل اصلي عنصر ناري ندي باقي پاتې ولې که هغوي په عنصر ناري پاتې وې نو چا به ورسره ګوتې نشوي لګولې حال دا چه نبي علیه السلام او ابو هریره رضی الله عنه رانیولې دی۔ نو د دوي دا عنصر ناري په نورو عناصرو کښې منغمر شویدې۔ تردې چه یخ شویدې۔ لکه په روایت د عائشهؓ کښې دي: نبي علیه السلام فرمائي: (حتی وجدت برد لسانه علی یدی – نسائی) ما د شیطان د ژبې یخوالې په لاسونو کښې محسوس کړو۔

(۹) فذکرت دعوة اخي سلیمان: مطلب دا دې چه سلیمان علیه السلام ته الله تعالی دا طاقت ورکړې وو چه هغه به پیران نیول او په جزیره کښې به ئې قیدي کول د سلیمان علیه السلام په دعاء کښې (وَمُلْكًا لَايَنْبَغِيْ لِاَحَد مِنْ بَعْدِيْ) کښې د باشاهي نه مراد د جنات او شیاطینو مسخر کول او په هغوي باندې تصرف حاصلول دی چونکه سلیمان علیه السلام د الله تعالی نه صرف ځان دپاره دا دعاء طلب کړې وه او دا مرتبه ئې صرف ځان دپاره غوختې وه پدې وجه رسول الله ﷺ دا اونه غوختل چه دا شیطان د مسجد نبوي ستنې پورې اوتړي او داسې طریقه اختیار کړي چه په هغې سره د سلیمان پدې خصوصیت باندې څه نا څه اثر پریوځي۔ او د خپل تصرف اظهار اوشي۔

۱۰ – **سوال**: نبي علیه السلام لره هم دا تصرف ورکړې شو چه شیطان ئې اونیولو او بیا د هغه د تړلو اراده ئې هم اوکړه دارنګه ابو هریره رضی الله عنه هم نیولې وو نو بیا څنګه دا د سلیمان علیه السلام خصوصیت پاتې شو نو د سلیمان علیه السلام دعاء خو قبوله نه شوه؟۔

الجواب: د ملکا نه تړوله بادشاهي مراد ده چه هر قسم تصرفات په جناتو کښې کول د هغوي نه کارونه اخستل او هواګانې مسخر کول او د تخت په هوا باندې الوتل وغیره او نبي علیه السلام لره خو دا تړوله بادشاهي نه ده ورکړې شوې بلکه جزئي جزئي کارونه ورکړې شو نو پدې سره خصوصیت د سلیمان علیه السلام نه خرابیږي ځکه په کومه طریقه چه سلیمان علیه السلام په جناتو کښې تصرف کولو نو په هغه طریقه نبي علیه السلام وغیره ندې کړې صرف رانیول شویدي لیکن پدې کښې هم یو نوعه شائبه ددې وه چه د سلیمان علیه السلام خصوصیت باقي پاتې نشي او د هغه دعاء نه ده قبوله شوې پدې وجه نبي علیه السلام (احتراماً لاخیه سلیمان) دا جنی پریخودلو چه دا هم یو جزء دې د هغه د بادشاهئ نه نو دا هم ما لره پکار نه دې۔ (۱۱) فذکرت نه دا فائده معلومیږي چه که د مونځ کونکي په زړه کښې داسې کارونه تیر شي چه هغه د مانځه نه وي نو پدې سره دده مونځ نه باطلیږي۔

(۱۲) فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا: یعني ما دیکه کړو چه ذلیله، نا امیده او سپک وو۔

۱۰– وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: مَنْ نَابَهُ شَيْئٌ فِيْ صَلٰوتِهٖ فَلْيُسَبِّحْ

فَاِنَّمَا التَّصْفِيْقُ لِلنِّسَاءِ وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ : اَلتَّسْبِيْحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيْقُ لِلنِّسَاءِ.
متفق عليه.

ترجمه : او سهل بن سعد رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چا ته چه په مانځه کښې څه خبره راپیښه شی نو هغه له پکار دی چه سبحان الله اووائی او لاسونه وهل (تهقول یعنی تالی وهل) د زنانو پورې خاص دی او یو روایت کښې دی : سبحان الله وئیل د سړو دپاره خاص دی او تالی وهل د ښځو دپاره (خاص) دی ـ (بخاری ومسلم)

تشریح : مَنْ نَابَهٗ : نوب ئې مصدر دې : یو شی بل کرت راواپس کیدو ته وائی بیا استعمالیږی په هر هغه شی کښې چه انسان ته رسیږی معنی دا ده چه چا ته چه په مانځه کښې څه حادثه اورسی نو سبحان الله دې اووائی مثلاً یو شخص په کوټه کښې په مانځه ولاړ دې او بهر نه ورته چا آواز اوکړو او څوک جواب ورکونکې دده په خوا کښې نه وی نو ده له پکار دی چه سبحان الله دې اووائی که سړې وی او پدې سره دِ د مانځه د مشغولیدو اشاره ورکړی یا امام ته فتح ورکولو دپاره اووائی ـ فَاِنَّمَا التَّصْفِيْقُ : په روایت د مسلم او ابوداود کښې التصفیح لفظ دې علامه عراقیؒ وائی : مشهوره دا ده چه د دواړو معنی یوه ده او سهل بن سعدؓ چه راوی ددې حدیث دې هغه وائی : (التصفیح ہو التصفیق)

او تصفیق دیته وائی : (ان تضرب بظهور اصابع الیمنی صفح الکف الیسری) شرح السنة (٣٢٨/٢) یعنی د ښی لاس د ګوتو په شا طرف باندې د ګس لاس تلې اووهی ـ

٢– علامه قاضی عیاض په اکمال او امام قرطبیؒ په المفهم کښې د دواړو ترمینځ فرق کړیدې چه تصفیح : الضرب بظاهر احدی الیدین علی الاخری وبالقاف الضرب بباطنها علی باطن الاخری ـ یعنی تصفیح : د یو لاس ظاهر د بل لاس په ظاهر باندې وهلو ته وائی او تصفیق : د یو لاس باطن د بل لاس په باطن باندې وهلو ته وائی لکه څنګه ئې چه زنانه په تماشو کښې وهی ـ ٣– د امام مکحول شاګرد عیسی بن ایوب القینی نه امام ابوداودؒ نقل کړیدی هغه وائی : تصفیح : د ښی لاس په دوه ګوتو سره د ګس لاس تلې وهلو ته وائی ـ

او تصفیق : په ټول لاس باندې وهلو ته وائی دپاره د لهو ولعب ـ

مګر امام نوویؒ او امام بغویؒ او امام عراقیؒ درې واړه فرمائی : (تضرب بطن کفها الایمن علی ظهر کفها الایسر ولا بضرب بطن کف علی بطن کف علی وجه اللهو واللعب) ـ یعنی د ښی لاس باطن طرف د ورغوی سره به د ګس ورغوی شا طرف وهی ـ او باطن د ورغوی به د باطن د ورغوی نه نه وهی څکه دا طریقه د لهو او لعب والا ده لیکن که یوه زنانه لهو او لعب کوی نو د هغې مونځ باطل دې څکه دا منافی دی د مانځه سره اګرکه دا کار لګ وی څکه مونځ د لهو او لعب ځائې نه دې ـ (شرح مسلم : ١٧٩/١، شرح السنة : ٣٢٨/٢، طرح التثریب : ٢٥٠/٢) عون

المعبود (١/٣٥٤) بلوغ الامانی (١١١/٤) امام عراقیؒ فرمائی : ظاهر د حدیث تقاضا کوی چه مقصود په تصفیق سره حاصل شی که په هره طریقه سره وی او امام ماوردیؒ په الحاوی کښ وئیلی دی چه ظاهر المذهب دا دے چه تصفیق جائز دے په هره طریقه چه د ښځے خوښه وی (بطناً لبطن او لظهر او ظهراً لظهر او بطن فالکیفیات اربع) طرح التثریب (٢/٢٥٠)

المسئلة الثانية : که یو سړے یا ښځه ددے مشروع طریقے مخالفت اوکړی، سړے تصفیق اوکړی او ښځه تسبیح اووائی نو آیا دا کار به جائز وی ؟ ۔

نو پدے کښ ابن حزم ظاهری رحمه الله فرمائی : سړی دپاره په مانځه کښ تصفیق بالیدین حلال نه دے او که یو سړی په پوهه سره دا کار اوکړو نو مونځ ئے باطل دے ځکه دا کار منهی عنه دے۔ ٢– لیکن جمهور علماء فرمائی : دے کار سره مونځ نه باطلیږی وجه دا ده چه په واقعه د امامت د ابوبکر صدیق کښ راغلی دی چه صحابه کرامو په مانځه کښ لاسونو سره تصفیق اوکړو او رسول الله ﷺ ورته د اعادے د مانځه حکم اونکړو او په هیڅ حدیث کښ نهی ددے نشته بلکه پدے حدیث کښ صرف د سړی او ښځے دپاره خپل حکم بیان شویدے چه ښځه به تصفیق کوی او سړے به تسبیح وائی او دا ئے پکښ نه دی وئیلی چه که سړی تصفیق اوکړو نو مونځ به ئے باطل وی دارنگه په واقعه د امامت د ابوبکر صدیقؓ کښ ئے صحابه کرامو ته دا حکم بیان کړو چه سبحان الله وایئ ځکه تصفیق د زنانو دپاره دے نو ددے نه تحریم د ماعدا نه لازمیږی ځکه که دا حرام وے نو نبی علیه السلام به د ماعدا تحریم بیان کړے وے، او د سړی دپاره تصفیق سره مونځ نه باطلیږی په هغه وخت کښ چه قلیل وی او کله چه ډیر اوشی مثلا درے یا د درے کرتو پرله پسے نه زیات اوشی نو بیا به مونځ باطلوی ځکه دا دده دپاره عمل کثیر شمارلے کیږی ۔ انظر طرح التثریب (٢/٢٤٩)

بیا ابن حزمؒ فرمائی : که زنانه تسبیح اووئیله نو دا کار حسن دے ځکه چه دا تسبیح د الله ذکر دے او مونځ محل د ذکر د الله تعالی دے ۔ انتهیٰ۔

علامه عراقیؒ فرمائی : دا خبره مردوده ده وجه دا ده چه دلته د تسبیح نه مراد هغه تسبیح ده چه د بل چا د تنبیه دپاره اووئیلے شی نه هغه چه د ځان سره پټه اووئیلے شی او د زنانه په تسبیح باندے آواز پورته کول شرعا حسن نه دی ځکه چه ددے په آواز کښ فتنه ده ددے وجے نه هغے د اذان او اقامت وئیلو نه منع شویده ۔ لیکن دا وجه ده غلطه ده صحیح وجه دا ده چه بے ځایه تسبیح په مانځه کښ نشته بدعت رازی، او د ابن حزم قول په قیاس بناء دے او په عباداتو کښ قیاس لره دخل نه وی۔

المسئلة الثالثة : آیا د تسبیح په ځائے نور اذکار کفایت کوی ؟ ۔

ظاهر د احادیثو دا وائی چه ددے په ځائے بل شے نه کافی کیږی ځکه چه تسبیح شعار د تنبیه

دپاره مقرر شویدے لکه په حدیث د سهل بن سعدؓ کښې دی (فانه اذا سبح التفت الیه) لهذا نور ثیزونه ددے په ځائے نه کیږی ځکه کیدے شی چه په تسبیح کښې یو داسے معنی پرته وی چه هغه په نورو اذکارو کښې نه وی ځکه دا د امام د تنبیه او د خطائی د اصلاح دپاره غالبا وئیلے کیږی کله چه په هغه باندے غفلت راغلے وی نو مناسب ده چه د الله تنزیه او پاکی بیان شی چه الله تعالی پاك دے ددے نه چه په هغه باندے سهو او غفلت راشی۔

مګر که په دے سره امام وغیره نه متنبه کیدو نو بل ذکر سره هم د هغه متوجه کول جواز لری لکه قرائت یا د مانځه ذکر ورته په جهر سره اووائی یا ورته نور اذکار اووائی نو ان شاء الله چه دا به هم جائز وی کله چه مقصود اصلاح د مانځه وی اګرکه اقتصار په سنت باندے اولیٰ دے۔

علامه ابن عبد الهادیؒ په التنقیح (١/٤٣٢) کښې لیکی : تنبیه الآدمی بالتسبیح والتکبیر والقرآن لا یبطل الصلاة۔ او دلیل د جواز دا دے چه علی ؓ فرمائی : زما د رسول الله ﷺ سره یو ساعت وو چه زه به ورته یواځې راتلم نو کله چه به زه راغلم او هغه به په مانځه ولاړ وو نو ما ته به ئے تنحنح اوکړو۔ (ان وجدته یصلی فتنحنح دخلتُ) (نسائی : ١/١٧٨)

دارنګه په حدیث د ذی الیدین کښې ذوالیدین خبرے اترے کړے وے د مانځه د اصلاح دپاره او رسول الله ﷺ هغه ته اونه وئیل چه مونځ دوباره راوګرځوه۔

المسئلة الرابعة : حکم التصفیق والتسبیح : درے اقوال دی (١) یا واجب دے یا مندوب دے (٣) یا مباح دے د بعض شوافعو لکه خطابی، تقی الدین السبکی، الرافعی مذهب دا دے چه دا کار سنت دے (نیل الاوطار : ٢/٢٧٢، عون المعبود : ١/٣٥٦)

فوائد الحدیث : (١) په مانځه کښې التفات سره مونځ نه باطلیږی ترڅو چه مصلی د قبلے نه ټول بدن نه وی اړولے (٢) تسبیح په مانځه کښې د سړو دپاره سنت عمل دے او تصفیق د زنانو دپاره۔ (٣) مقتدی چه کله د امام د خبرولو دپاره تسبیح اووائی یا زنانه تصفیق اوکړی نو پدے سره مونځ نه باطلیږی۔ (٤) دارنګه امام ته فتح ورکول جائز دی۔ (٥) تعلیم او تعلم د اصلاح د مانځه دپاره جائز دے۔ (٦) – امام مالك وائی : د سړو او زنانو دواړو دپاره تسبیح مشروع دے نه تصفیق او هر چه دا قول دے (والتصفیق للنساء) نو ددے معنی دا کوی چه د مانځه په غیر تصفیق د زنانو طریقه ده نو دا ئے په طریقه د ذم سره وئیلے دے چه تصفیق خو هغه زنانه کوی چه هغوی ناقص العقل دی او په لهو او لعب کښې ئے کوی لیکن دا قول مردود دے روایت د بخاری په الاحکام کښې ددے تردید کوی چه هغے کښې امر راغلے دے (اذا رابکم شیٔ فلیسبح الرجال ولتصفح النساء)

الفصل الثانی

١١ – عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ؓ، قَالَ : كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ قَبْلَ اَنْ

نَاْتِی الْحَبْشَةَ فَیَرُدُّ عَلَیْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ اَرْضِ الْحَبْشَةِ اَتَیْتُهُ فَوَجَدْتُهُ یُصَلِّیْ فَسَلَّمْتُ عَلَیْهِ فَلَمْ یَرُدَّ عَلَیَّ حَتّٰی اِذَا قَضٰی صَلٰوتَهُ قَالَ : اِنَّ اللهَ یُحْدِثُ مِنْ اَمْرِهٖ مَا یَشَاءُ وَاِنَّ مِمَّا اَحْدَثَ اَنْ لَا تَتَکَلَّمُوْا فِی الصَّلَاةِ فَرَدَّ عَلَیَّ السَّلَامَ وَقَالَ : اِنَّمَا الصَّلَاةُ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَذِکْرِ اللهِ فَاِذَا کُنْتَ فِیْهَا فَلْیَکُنْ ذٰالِكَ شَاْنَكَ . رواه ابوداود .

ترجمه: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : د حبشو د ملك د واپس کیدو نه مخکښې به مونږ په رسول الله ﷺ باندے سلام اچولو او هغه به په مانځه کښې وو نو هغه به مونږ ته د سلام جواب راکولو بیا کله چه مونږ حبشو نه واپس شو زه ورته راغلم اومے موندلو چه مونځ ئے کولو نو ما په هغه باندے سلام اوکړو مګر هغه ما ته د سلام جواب رانکړو تردے چه کله ئے مونځ ختم کړو وے فرمائیل : یقیناً الله تعالی چه کوم حکم اوغواړی ظاهروی نو الله تعالی اوس دا حکم ظاهر کړیدے چه په مانځه کښې خبرے اترے مه کوئ" بیا نبی علیه السلام زما د سلام جواب راکړو او ددے نه بعد ئے اوفرمایل : مونځ صرف د قرآن لوستلو او د الله د ذکر کولو دپاره دے لهذا کله چه ته د مانځه په حالت کښې ئے نو دغه شان حال دِے ستا هم وی (یعنی صرف قرآن لوله او د الله ذکر کوه)۔ **تنبیه** : دا حدیث پدے الفاظو سره په ابوداود کښې نه دے راغلے او دا حدیث نسائیؒ او احمدؒ هم راوړیدے لیکن په هغے کښې هم دا قسم سیاق نشته لهذا دا د مصنفؒ خطائی ده چه په تابعداریٔ د بغویؒ کښې ئے دغه حدیث راوړیدے او اصل کتاب ته ئے رجوع نه ده کړے ۔ مونږ په شرح السنة (۳۰۶/۲) کښې هم دا حدیث اوکتلو د هغے سیاق هم بالکل جدا دے او د ابوداود د حدیث په شان دے لهذا دیته متوجه کیدل پکار دی۔

د ابوداود د حدیث الفاظ دا دی : کنا نسلم فی الصلاة ونأمر بحاجتنا فقدمت علی رسول الله ﷺ وهو یصلی فسلمت علیه فلم یرد علیَّ السلام فاخذنی ما قدم وما حدث فلما قضی رسول الله ﷺ الصلاة قال : ان الله عز وجل یحدث من امره ما یشاء وان الله قد احدث من امره ان لا تکلموا فی الصلاة فرد علی السلام انتهی۔

تنبیه ثانی : پدے روایت کښې دا روستو الفاظ (وقال انما الصلاة لقرائة القرآن الخ) دا هم خطائی ده ځکه دا په حدیث د ابن مسعودؓ کښې ندی راغلی بلکه ابوداود دا الفاظ په اوګد حدیث د معاویه بن الحکم السلمیؓ کښې نقل کړیدی ۔ او د حدیث نه معلومه شوه چه په مانځه کښې سلام اچونکی ته د مانځه نه پس جواب ورکول سنت عمل دے (کما فی شرح السنة : ۳۰۷/۲)

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه الشافعی فی المسند (۱۱۹/۱) رقم (۳۵۱) والنسائی (۱۹/۳) وابوداود (۹۲۴) واحمد (۳۷۷/۱، ۴۰۹، ۴۱۵، ۴۳۵، ۴۶۳) واخرجه البخاری تعلیقاً فی الصحیح (۴۹۶/۱۳) باب قول الله تعالی : کل یوم هو فی شأن)۔ **دویم روایت** : اسناده صحیح وهذه فقرة من حدیث طویل عن معاویة بن الحکم السلمی رضی الله عنه اخرجه ابوداود (۹۳۱) وقد تقدم فی اول هذا الباب۔

۱۲ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ، قَالَ : قُلْتُ لِبِلَالٍ : كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِيْنَ كَانُوْا يُسَلِّمُوْنَ عَلَيْهِ وَ هُوَ فِي الصَّلَاةِ ؟ قَالَ : كَانَ يُشِيْرُ بِيَدِهٖ، رواهُ الترمذيُّ وَهُوَ فى روايةِ النسائيّ نحوَهٗ، وعِوَضُ بلالٍ صُهَيْبٌ.

ترجمه: او ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : ما بلال ته اوویل : نبی علیه السلام به چه کله په مانځه کښې وو او صحابه کرامو به په هغه باندې سلام واچولو نو هغه به څنګه جواب ورکولو ؟ نو بلال اوفرمایل : نبی علیه السلام به په لاس سره اشاره کوله ۔ (ترمذی) او د نسائی په یو روایت کښې د ابن عمر په ځائې صهیبؓ نه دغه شان منقول دی (یعنی د ترمذی په روایت کښې ابن عمر د بلال نه تپوس کړیدې او د نسائي په روایت کښې دا دی چه صهیب د بلال نه دا تپوس کړیدې)

تشریح : يُشِيْرُ بِيَدِهٖ : دا اشاره به په کومه طریقه کوی نو په حدیث د ابن عمر عند ابی داود والنسائی والترمذی کښې راغلی دی چه ورغوې به خور کړی بیا به د هغې باطن طرف ښکته کړی او بره طرف به ئې پورته بوځی (لمعات) په روایت د شرح السنة، ترمذی، ابوداود، بیهقی او نسائی وغیره کښې دی : (فرد الیّ اشارة باصبعه) یعنی په یوه ګوته ئې اشاره اوکړه نو دواړه طریقې جائز دی کله ئې په ټول لاس پورته کولو سره اشاره کړیده او کله ئې صرف یوه ګوته پورته کړیده ۔(شرح السنه) دا حدیث دلیل دې د مذهب د جمهورو دپاره چه په مانځه کښې د سلام جواب ورکول په اشارې سره سنت عمل دې او دا عمل منسوخ نه دې لکه چه بعض احناف دا دعوه کوی ځکه ابن عمر رضی الله عنه به پس د وفات د رسول الله ﷺ نه دا جائز ګڼړلو ۔

۲ – دارنګه که دا په ماقبل د نسخ الکلام باندې محمول شی نو بیا رسول الله ﷺ په خوله ولې جواب نه ورکولو چه اشاره ئې کوله معلومیږی چه دا منسوخ نه دې ۔(ابکار المنن ص ۲٦۰)

او شیخ عبد الحق دهلویؒ هم په اشعة اللمعات کښې ذکر کړیدی چه ظاهر دا ده چه دا حدیث د نسخ د کلام نه روستو دې۔ او د نهی د اشارې په باره کښې چه احناف کوم حدیث پیش کوی (عن ابی هریرة مرفوعاً ...... من اشار فی صلاته اشارة تفهم عنه فلیعد لها، یعنی الصلاة اخرجه ابوداود) نو هغه ضعیف حدیث دې سند کښې ئې محمد بن اسحاق مدلس عنعنه کړیده او زیلعی وائی : (اسناده لیس بشیئ) لکه نصب الرایه او مرعات (۳/۳٦۲) اوګوره ۔ او که ثابت شی نو بیا معنی دا ده چه بغیر د سلام نه د جواب ورکولو نه په مانځه کښې اشارې کول حرام دی ۔

فی روایةِ النسائیّ : ظاهر دا ده چه دا دوه روایتونه دی ځکه ابن عمر د دواړو نه تپوس کړیدې او هر یو ورته دغه جواب ورکړیدې ۔ **فائده** : ابن عمر د بلال او صهیب نه تپوس ولې کولو؟ ځکه چه هغه ورسره وو او ابن عمر کشر وو، حاضر نه وو ۔

تعارف د صهیب ﷺ: صهیب بن سنان ابو یحیی النمری دا مشهور دے په رومی سره ځکه ده د رومیانو ژبه زده کړے وه کله چه دا په وړوکوالی کښې هغوی قیدی کړے وو او دا په اصل کښې د عربو د نمر بن قاسط قبیلے نه دے د دوی منازل او کورونه د موصل په علاقه کښې د فرات نهر په غاړه یو کلی کښې وو چه موصل او جزیرے ته نزدے وه نو رومیانو په دغه طرف باندے حمله اوکړه نو صهیب ئے په وړوکوالی کښې اونیولو او د هغوی سره لوئی شو نو لکنت پکښې پیدا شو نو د هغوی نه کلب قبیلے واخستو بیا هغوی مکے ته راوستو نو عبد الله بن جدعان التمیمی واخستو او آزاد ئے کړو نو د هغه سره اوسیدو تردے چه عبد الله بن جدعان وفات شو او رسول الله ﷺ مبعوث شو ۔ بعض اهل تاریخ دده واقعه داسے بیانوی چه دا کله په رومیانو کښې لوئی شو او عقلمند شو نو د هغوی نه اوتښتیدو او مکے ته راغلو او د عبد الله بن جدعان حلیف جوړ شو او د هغه سره اوسیدو تردے چه هغه وفات شو او ده په مکه کښې اسلام قبول کړے دے پخوانے مسلمان دے ۔ وئیلے شی چه ده او عمار بن یاسر په یو ورځ ایمان زاوړیدے او د رسول الله ﷺ سره په دار الارقم کښې څه دپاسه دیرش کسان وو او دا په مکه کښې د مستضعفین او معذبین فی الله نه وو بیا ئے مدینے ته د علی بن ابی طالب سره هجرت اوکړو په نیمائی د ربیع الاول کښې نو رسول الله ﷺ ئے په قباء کښې لاندے کړو او بدر او ټولو معرکو ته حاضر شویدے، انس بن مالك فرمائی: نبی علیه السلام فرمایلی دی: صهیب سابق الروم ۔ او بعض وائی چه دا آیت ﴿ ومن الناس من یشری نفسه ابتغاء مرضات الله ﴾ د صهیب په باره کښې نازل دے چه کله ده د مکے نه هجرت کولو په لاره روان وو چه د مکے مشرکان ورته راورسیدل او دے ئے د هجرت نه منع کولو نو ده ورته اووئیل: که جنګ راسره کوئ نو زما په غاړه کښې چه څومره غشی دی په دے باندے به مو اوولم او یو هم رانه نشئ تلے خو که صلحه راسره کوئ نو زه رضا یم او هغه دا چه زما په مکه کښې فلانے فلانے مال دے هغه واخلئ او ما پریدئ نو هغوی پریخودو او دا آیت نازل شو۔

او ده ته عمر فاروق وصیت کړے وو چه تر هغه وخته پورے مونځونه ته کوه چه اهل شوریٰ په یو سړی باندے اتفاق اوکړی ۔ او دده نور زیات فضائل دی چه سیر اعلام النبلاء او الاصابة کښې کتلے شی ۔ په مدینه کښې په سنه (۳۸) شوال کښې په خلافت د علیؓ کښې وفات شویدے او بعض وائی په سنه (۳۹) کښې د نوی (۹۰) کالو په عمر وفات دے او په بقیع کښې دفن شویدے ۔

درجة الحدیث: اسناده حسن صحیح: اخرجه الترمذی (۳٦۸) وقال حدیث حسن صحیح ۔ والنسائی (۳/٥) والشافعی (۱/۱۱۹) رقم (۳٥۲) وصححه ابن حبان واورده الهیثمی فی موارد الظمآن (٥۳۸) ورواية النسائی اسنادها صحیح علی شرط الشیخین ۔

---

۱۳ - وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ ﷺ، قَالَ: صَلَّيْتُ خَلْفَ النَّبِيِّ ﷺ فَعَطَسْتُ فَقُلْتُ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ

حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ، مُبَارَكاً عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى، فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ انْصَرَفَ، فَقَالَ : مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلٰوةِ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ اَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّانِيَةَ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ اَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ فَقَالَ رِفَاعَةُ : اَنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهٖ لَقَدِ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَثَلاثُونَ مَلَكاً اَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا. رواه الترمذی وابوداود والنسائی.

ترجمه: او رفاعه بن رافع ﷺ فرمائی : چه یوه ورځ ما د رسول الله ﷺ نه روستو مونځ کولو د مانځه په دوران کښې ما ته پرنجې راغلو ما دا کلمات اوویل : الحمد لله حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه مبارکا علیه کما یحب ربنا ویرضی ۔ (ټول صفتونه د کمال الله تعالی لره دی ډیر زیات صفتونه پاکیزه، برکت والا او چه برکت پکښې اچولې شوې وی څنګه ئې چه الله تعالی خوښوی او هغه پرې رضاء کیږی) رسول الله ﷺ چه کله مونځ اوکړو نو (مونږ طرفته) متوجه شو او وې فرمایل : په مانځه کښې خبرې کونکې څوك وو ؟ (د رسول الله ﷺ د خفګان د ډیرې نه) هیچا خبره اونکړه بیا هغه دغه خبره اوفرمایله : نو هیچا څه اونه وئیل ۔ بیا دریم ځل نبی علیه السلام دغه خبره اوکړه نو رفاعه اووئیل : یا رسول الله! زه یم ۔ رسول الله ﷺ اوفرمایل : په هغه ذات مې قسم دې چه د هغه په لاس کښې زما روح دې (ما اولیدل) چه د دیرشو نه زیاتو ملائکو ددې کلماتو په وړلو کښې جلتی کوله چه د هغوی نه به ئې کوم یو رومبې وړی ۔ (ترمذی، ابوداود، نسائی)

تشریح : دا حدیث د رسول الله ﷺ تعلیم دې او دا په فرض مانځه کښې وارد دې نو څوك چه په مانځه کښې پرنجې اوکړی نو الحمد لله بغیر د څه کراهت نه وئیلې شی او دا حکم منسوخ نه دې لکه چه صاحب مرقات (۲/۱۲) نسخ ته اشاره کړیده ۔

(۲) په مانځه کښې دغه ذکر معمولی شان په اوچت آواز لوستل جواز لری کله چه خوا کښې مونځ کونکو باندې تشویش نه راولی ۔ (۳) دا ذکر ډیر بهترین ذکر دې رسول الله ﷺ ئې صفت کړیدې او د الله تعالی خوښ شویدې چه ملائك ئې ددې د پورته کولو دپاره رالیږلی دی او ددې په مانځه کښې لوستل جواز لری ۔ (٤) صحابی د نبی علیه السلام د تپوس جواب ورنکړو وجه دا ده چه دوی دا خیال وکړو چه دا تپوس په طریقه د رد دې چه زما دا کار به جائز نه وی نو د هیبت او اجلال د وجې نه ئې جواب ورنکړو (یا دا چه نبی علیه السلام زما په دې جواب چرته خفه نه شی) لیکن کله چه دغه توهم په دوباره تپوس سره ختم شو نو بیا ئې انا لفظ اووئیلو ۔

(۵) یصعد بها دلیل دې چه الله تعالی طرفته اعمال پورته کیږی او هغه فوق العرش دې ۔

درجة الحدیث : إسناده صحیح ۔ أخرجه ابوداود (۷۷۳) والترمذی (٤٠٤) وقال حدیث رفاعة حدیث حسن والنسائی (۲/۱٤٥) وقد روی الحدیث من وجه آخر عن رفاعة لیس فیه ذکر العطاس، اخرجه البخاری (۷۹۹) واحمد (٤/۳٤٠) وابوداود (۷۷٠) والنسائی (۲/۱۹٦) وقد اجاب الحافظ

ابن حجر عن اختلاف الحدیثین فی فتح الباری (۲/۲۸٦) فراجعه لکن الظاهر ان ما تقدم فی باب الرکوع وهذه هما قصتان کما یشیر الیه ایراد المصنف فی بابین مختلفین۔

---

١٤ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَلتَّثَاءُ بُ فِی الصَّلٰوةِ مِنَ الشَّیْطَانِ، فَاِذَا تَثَاءَ بَ اَحَدُکُمْ فَلْیَکْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ، رواهُ الترمذیُّ، وفی اُخْرٰی لَهُ ولابن ماجه : فَلْیَضَعْ یَدَهٗ عَلٰی فِیْهِ ۔

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : په مانځه کښې ارګمی کول د شیطان (د اثر) نه دی نو کله چه تاسو نه یوتن ارګمے کوی نو هغه دِے د خپل وس موافق (په هغې آواز) بند کړی ۔ (ترمذی) او د ترمذی یو بل روایت او د ابن ماجه په روایت کښې دا الفاظ دی : (چه نبی علیه السلام دا هم اوفرمایل : چه په مانځه کښې چا ته ارګمے راشی) نو هغه دِے په خپله خوله باندے خپل لاس کیدی ۔

تشریح : فَاِذَا تَثَاءَ بَ : یعنی کله چه په ارګمی کښې شروع کیږی۔

فَلْیَکْظِمْ : ای لیدفعه ولیحبسه ما استطاع ۔ یعنی شونډے بندولو سره دِ بند کړی ۲ – یا غاخونو یو ځائے کولو سره ۳ – یا کپړه، جامه کیخودلو سره ٤ – یا لاس کیخودلو سره ٥ – یا ددے کراهت یادولو سره ٦ – یا په غاړه تازه کولو سره۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح علی شرط مسلم ۔ اخرجه الترمذی (۳۷۰) والروایة الاخری فلیضع یده علی فیه اخرجها الترمذی (۲۷٤٦) واسنادها حسن واما روایة ابن ماجه فاسنادها ضعیف اخرجها ابن ماجه (۹٦۸) وقال فی الزوائد (فی اسناده عبد اللّٰه بن سعید اتفقوا علی ضعفه)۔

---

١٥ – وَعَنْ کَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِذَا تَوَضَّأَ اَحَدُکُمْ فَاَحْسَنَ وُضُوْءَ هٗ ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا اِلَی الْمَسْجِدِ فَلَا یُشَبِّکَنَّ بَیْنَ اَصَابِعِهٖ فَاِنَّهٗ فِی الصَّلٰوةِ . رواه احمد والترمذیُّ وابوداود والنسائیُّ والدارمیُّ۔

ترجمه : او کعب بن عجره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائی : کله چه یو تن ستاسو اودس اوکړی او ښائسته اودس اوکړی بیا مسجد ته د مانځه په اراده اوځی نو هغه دِے د ګوتو په مابین کښې تشبیك (یو بل کښې ګوتے ننباسل) نه کوی ځکه چه دے په دغه وخت کښې (ګویا) په مانځه کښې دے ۔ (احمد، ترمذی، ابوداود، نسائی، دارمی)

تشریح : فَلَا یُشَبِّکَنَّ : تشبیك ګوتے په یو بل کښې ورننباسلو ته وائی مطلب د حدیث دا دے چه کله څوك د اوداسه نه پس د مانځه په اراده مسجد طرفته روان شی نو په لاره او په مسجد کښې دِے د ګوتو ترمینځ تشبیك نه کوی یعنی د یو لاس ګوتے دِے د بل لاس په ګوتو کښې نه

داخلوی ځکه کله چه هغه د مانځه په نیت سره د کور نه اوځی نو ګویا کښې هغه په مانځه کښې دے او تشبیك د خشوع او خضوع منافی دے پدے وجه دا په مانځه کښې او د مانځه په ملحقاتو کښې ممنوع دے۔ نو دا حدیث دلیل دے پدے خبره چه کور نه د وتلو په وخت کښې مسجد پورے او دغه شان په انتظار د مانځه کښې تشبیك مکروه دے۔

دارنګه حدیث نه دا ثابتیږی چه د مانځه قصد کونکی دپاره د مونځ کونکی اجر دے د کوم وخت نه چه کور نه اوځی تردے چه بیرته کور ته واپس شی او دے باره کښې حدیث هم دے: "ځوك چه اودس کړی بیا د مانځه په اراده اوځی نو دا په مانځه کښې دے تردے چه خپل کورته واپس شی نو تشبیك مه کوئ" اخرجه الدارمی والحاکم عن ابی هریرة وهو صحیح علی شرط الشیخین۔

د تشبیك د نهی حکمت : ١- بعض وائی: حکمت دا دے چه تشبیك یو عبث کار دے او عبث حرام دے۔ ٢- بعض وائی: دا د خشوع سره منافی حالت دے۔ ٣- بعض وائی: دا د شیطان عمل دے لکه دا په روایت د ابن ابی شیبه او احمد کښې راغلے دے لیکن سند ئے ضعیف دے۔ ٤- بعض وائی: تشبیك سره انسان ته خوب ورځی او خوب سره اودس ماتیږی نو دا سبب د نقض الوضوء ګرځی۔ ٥- بعض وائی: د تشبیك صورت د اختلاف د صورت مشابه دے او پدے کښې اختلافاتو او ګډوډوالی د حالاتو ته اشاره ده لکه دا په حدیث د ابن عمرؓ کښې په بخاری کښې ذکر دی نو دا ئے د هغه چا دپاره هم حرام اوګرځول چه هغه په حکم د مانځه کښې وی، دے دپاره چه په منهی عنه کښې واقع نشی چه نبی علیه السلام مونځ کونکو ته فرمائی: ولا تختلفوا فتختلف قلوبکم۔ ددے وجے نه ابن عربیؒ وائی: ما یو سړے اولیدو چه د تشبیك لیدل به ئے بد ګڼړل او پدے سره به ئے بد فالی نیوله۔ نو بعض خلق ددے نه بد فالی نیسی دپاره د اختلافاتو نو دا سبب د حرامو ګرځی ددے وجے نه ممنوع شو۔ (نیل الاوطار: ٢/٣٨٠)

هرحکمت چه وی خو دا کار ممنوع دے۔

اشکال قوی او د هغې ازاله : ددے حدیث نه معلومه شوه چه تشبیك منع دے او په باب السهو کښې به راشی چه (په واقعه د ذی الیدین کښې) رسول الله ﷺ تشبیك د لاسونو اوکړو۔ او امام بخاری په صحیح بخاری (مع الفتح: ١/٤٤٨) کښې باب ترلے دے (باب تشبیك الاصابع فی المسجد وغیره) او پدے کښې ئے درے حدیثونه راوړیدی چه دلالت کوی په جواز د تشبیك باندے یو حدیث د ابن عمرؓ: شبّك النبی ﷺ اصابعه اخرجه البخاری فقط۔ ٢- دویم حدیث د ابو موسی الاشعریؓ دے: ان المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضاً وشبّك بین اصابعه۔ ٣- دویم حدیث د ابی هریره رضی الله عنه دے په قصه د ذی الیدین کښې: ثم شبّك بین اصابعه اخرجهما الشیخان۔ نو ددے احادیثو تعارض دے ددے حدیث الباب سره۔ ددے تطبیق به څه وی؟

ازاله : ددے تعارض تطبیق علماؤ په مختلف انداز سره کړیدے (١) یو تطبیق بعض علماؤ دا کړیدے

چه د نهي د تشبيك احاديث د احاديث الجواز سره معارضه نشي كيدے ځكه احاديث د جواز د صحيحينو دي او قوي دي او احاديث د نهي دومره قوي نه دي ليكن دا جواب چندان مزيدار نه دے۔

(۲) علامه ابن المنيرؒ فرمائي: تحقيق دا دے چه ددے احاديثو ترمينځ هيڅ تعارض نشته ځكه كوم تشبيك نه چه نهي راغلے ده نو هغے نه مراد دا دے چه په طريقه د عبث او لوبو سره وي او څه مقصد پكښې نه وي نو دا په مانځه كښې او په مقدمات او لواحقو د مانځه كښې ممنوع دے لكه مسجد ته تلو وخت كښې يا مسجد كښې د ناستے په وخت كښې ځكه دا حالت هم حكماً د مانځه حالت دے ۔ او په حديث د ابو موسى او ابن عمر كښې چه كوم تشبيك راغلے دے نو هغے نه مقصود (تصوير المعنى فى النفس) دے يعني يو مقصد ذهن كښې په طريقه د مثال باندے محسوس ښكاره كول دي او هر چه د ذي اليدين په قصه كښې تشبيك دے نو هغه د نبي عليه السلام نه غير اختياري صادر شويدے ځكه په رسول الله ﷺ باندے د مانځه د سهو په وجه اشتباه د حال راغله ددے وجے نه هغه د غصه ناك شخص په شان ولاړ وو ۔

(۳) تطبيق: حافظ عسقلانيؒ د اسماعيليؒ نه نقل كړيدي چه نهي په هغه صورت كښې ده چه كله په مانځه كښې وي يا قاصد د مانځه وي يا منتظر د مانځه وي ځكه دا حالت هم د مانځه دے او جواز په ماسوا ددے صورتونو كښې دے هر چه حديث د ابو موسى او ابن عمر دي نو پدے معنى كښې ظاهر دي او هر چه حديث د ابي هريره (ذي اليدين والا) دے نو په هغے كښې د رسول الله ﷺ تشبيك واقع شويدے پس د مانځه د ختميدلو نه د هغه په گمان كښې ۔ نو دا په حكم د منصرف من الصلاة كښې دے او كوم روايت كښې چه نهي د تشبيك راغلے ده مادام في المسجد نو هغه ضعيف روايت دے په سند كښې ئے مجهول او ضعيف راوي دے كما قال الحافظ فى فتح البارى (۱/۴۴۸، ۴۴۹) نو هغه صلاحيت د تعارض نه لري او دا صحيح تطبيق دے ۔

(٤) بعض وائي: د نبي عليه السلام فعل مفيد د عدم تحريم دے او دا مانع نه دے د كراهت د غير دپاره ځكه رسول الله ﷺ دا كار على سبيل الندرت كړيدے د بيان الجواز دپاره يا به يو بل ضرورت وو لكه په حديث د ابو موسى او ابن عمر كښې ذكر شو چه تصوير د معنى په اذهانو د خلقو كښې په صورت د محسوس كښې ليكن علامه شوكانيؒ فرمائي: د رسول الله ﷺ فعل ته مكروه وئيل مناسب نه دي نو هغه يو ښه تطبيق كوي:

(۵) ښه تطبيق دادے چه نهي د تشبيك د امت دپاره په خاص الفاظو راغلے ده او د نبي عليه السلام فعل نشي معارض كيدے د هغه قول سره چه امت پورے خاص وي ۔ مطلب دا دے چه نهي د امت پورے خاص ده او د نبي عليه السلام په حق كښې تشبيك جائز وو نو د دواړو حديثونو هيڅ تعارض نشته ۔ نيل الاوطار (۲/۳۸۲) ليكن مخكښے تطبيق د عسقلانيؒ ډير غوره دے ۔(٦) بعض وائي: احاديث د جواز په هغه زمانه كښې وو چه د نهي حكم نه وو راغلے ۔ روستو

بيا نهي راغله لهذا تشبيك ممنوع شو - ليكن دے خبره باندے دليل نشته-

درجة الحديث : اسناده صحيح - اخرجه احمد (٢٤١/٤) والدارمي في السنن (٣٣١/١) وابوداود (٩٠٩) والنسائي (٨/٣) والحديث له شاهدان احدهما عن ابي هريرة عند الدارمي والآخر عن ابي سعيد الخدري عند احمد (٤٥،٤٢/٣)-

١٦ - وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: لَا يَزَالُ اللهُ تَعَالٰى عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلًا عَلَى الْعَبْدِ وَهُوَ فِيْ صَلَاتِهٖ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ فَاِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ. رواه احمد وابوداود والنسائيُّ والدارميُّ.

ترجمه : او ابوذر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : كله چه بنده په مانځه كښې وي نو الله تعالى هغه بنده ته تر هغه وخت پورے متوجه وي ترڅو چه هغه اخوا ديخوا (ښځ اړولو سره) اونه ګوري خو كله چه بنده اخوا ديخوا اوګوري نو الله تعالى هم د هغه نه مخ واړوي -(احمد، ابوداود، نسائي، دارمي)-

تشريح : مقصد د حديث دا دے چه كله بنده په مانځه كښې متوجه وي اخوا ديخوا نه ګوري نو الله تعالى هم هغه ته متوجه وي خو كله چه د مانځه نه توجه بل طرفته واړوي په اخوا ديخوا كتلو سره نو الله تعالى ترے خپله توجه واړوي - بيا دا التفات مكروه دے د دوه وجو نه (١) يو دا چه په دے سره په خشوع كښې نقصان راځي - (٢) دويم حافظ عسقلانيؒ فرمائي : د التفات نه مراد هغه دے چه سينه اوټول ښځ د قبلے نه وانه ړوي نو په دے كارسره هم استقبال الى القبله په ټول بدن سره نه راځي بلكه په بعض بدن سره راغلو نو د دے وجے نه دا كار مكروه شو - (فتح الباري ١٨٦/٢) (٣) علامه شوكانيؒ وائي : دا په دے وجه مكروه دے چه په دے كښې عدم تصميم دے په مخالفت د وسوسے د شيطان - نيل الاوطار (٣٧٩/٢)

مسئله د التفات څه حكم دے؟ : د التفات نه په ډيرو احاديثو كښې منع راغلے ده - ابو الخيرؒ وائي : مونږ د عقبه بن عامر ﷺ نه د دے آيت په باره كښې تپوس اوكړو (الذين هم على صلاتهم دائمون، أهم الذين يصلون ابداً ؟) يعني مومنان هغه خلق دي چه په خپلو مونځو باندے هميش والے كوي، آيا ددينه مراد هغه خلق دي چه هميشه دپاره مونځ كوي؟ عقبه اوفرمايل : (لا ولكنه اذا صلى لم يلتفت عن يمينه ولا عن شماله ولا خلفه (شرح السنة : ٣١٦/٢) يعني نه دا نه دي مراد بلكه ددينه مراد دا دے چه كله مونځونه كوي نو په هغے كښې ښي او ګس او شا طرفته نه ګوري - او په خپل مونځونو كښې توجه باندے هميش والے كوي -

نو د جمهورو علماؤ په نيز دا كار مكروه دے كله چه د حاجت دپاره نه وي او كه حاجت راپيش شي نو بيا جائز دے - صحيح دا ده چه ضرورت دپاره التفات جائز دے اګركه د ښځ په اړولو سره

وی خو سینه به د قبلے نه نه اړوی او که بلاضرورت وی نو بیا اختلاس یختلسه الشیطان دے ۔ د حاجت دپاره التفات دپاره ډیر دلائل دی : مثلاً (۱) حدیث د سهل بن الحنظلیه په صحیحینو او ابوداود کښ راغلے دے چه رسول الله ﷺ یو کندو ته یو فارس اولیږلو د څوکئ دپاره او بیا د سحر په مانځه کښ رسول الله ﷺ هغه کندو طرفته کتل (وهو یلتفت الی الشعب)

بلوغ الامانی (۸۹/۳) نیل الاوطار (۳۷۹/۲) فقه السنة (۲۲۹/۱) المغنی لابن قدامة (۶۹۶/۱) ـ

امام بغویؒ شرح السنه (۳۱۷/۲) کښ لیکی : الالتفات فی الصلاة مکروه فان کان لامر یحدث فلا بأس، بیا ئے دا حدیث ذکر کړیدے۔

۲- **دلیل** : ابن عباس فرمائی : ان رسول الله ﷺ کان یلحظ فی صلاته یمیناً وشمالاً ولا یلوی عنقه خلف ظهره اخرجه الترمذی (۴۸۲/۲) رقم (۵۸۷) ابواب الصلاة باب ما ذکر فی الالتفات فی الصلاة والنسائی (۹/۳) کتاب السهو باب الرخصة فی الالتفات فی الصلاة واحمد (۲۷۵/۱) وشرح السنة (۳۱۸/۲) والحاکم فی المستدرك (۲۳۶/۱) وصححه ووافقه الذهبی ـ وسیأتی قریباً۔

۳- حدیث کښ دی چه کله شیطان په مانځه کښ وسوسه اچوی نو دریے کرتے کس طرفته لاړے توکړه او اعوذ بالله اووایه نو دے کښ التفات کیږی دا ضرورت دے ۔

٤- **دلیل** : امام بخاری باب تړی : باب هل یلتفت لامر ینزل به او یریٰ شیئاً او بصاقاً فی القبلة بیا په ترجمة الباب کښ د سهل حدیث راوړی چه ابوبکر صدیق په مانځه کښ التفات اوکړو نو نبی علیه السلام ئے اولیدو (لویه واقعه ده د مرض الوفات) (فتح الباری : ۱۸۷/۲)

۵- **دلیل** : امام قرطبیؒ په تفسیر قرطبی (۱۰۵/۱۲) کښ لیکی : قال کعب : فاذا اقبلت علی صلاتی نظر الی واذا التفتّ نحوه اعرض عنی) ـ المومنون) یعنی کعب بن مالك رضی الله عنه فرمائی : کله چه به زه مانځه ته متوجه شوم نو رسول الله ﷺ به ما ته کتل او کله چه به ما هغه طرفته التفات اوکړو نو ما نه به ئے مخ واړو ـ فرمائی : دلته کعب بن مالكؓ التفات کړیدے او رسول الله ﷺ هغه ته د اعادے حکم نه دے کړے۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف ـ ومعناه صحیح اخرجه احمد (۱۷۲/۵) والدارمی (۳۳۱/۱) وابوداود (۹۰۹) والنسائی (۸/۳) وفیه ابوالاحوص شیخ الزهری وهو مجهول لم یرو عنه غیره کما قال المنذری (۱۹۰/۱) وفی التقریب انه مقبول من اوساط التابعین ـ ولکن الحدیث لم یضعفه ابوداود فهو حسن عنده انتهیٰ المرعاة (۳۶۸/۳) ــــــــــــــــــــــــــ

۱۷- وَعَنْ اَنَسٍ ﷺ، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ : یَا اَنَسُ ! اِجْعَلْ بَصَرَكَ حَیْثُ تَسْجُدُ . رواه ......البیهقیُّ فی السنن الکبیر من طریق الحسن عن انس یرفعهُ الجزریُّ۔ ــــــــــــــــ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ اوفرمایل : اے انس ! په مانځه کښ هغه ځائے ته نظر اوګرځوه کوم ځائے کښ چه سجده لګوے ـ دا روایت بیهقی په سنن کبیر کښ د انسؓ نه په

طریقه د حسن نقل کړیدے چه هغې ته جزری مرفوع وئیلے دے۔

تشریح : حَيْثُ تَسْجُدُ : مونځ کونکے به په مانځه کښې کوم ځائے ته ګوری ؟

(۱) فقه حنفی کښې دی : په قیام کښې به موضع السجود ته ګوری او په رکوع کښې به قدمونو ته او په سجده کښې به پوزے ته او په تشهد کښې به غیږے ته او په سلام کښې به اوګے ته ګوری۔ او دا قول د شریك القاضی هم دے۔ (طیبی، والنهایه شرح الهدایه)

۲- د امام شافعیؒ (شوافعو) او احمدؒ مذهب دا دے (کما فی المغنی : ۶۹۶/۱) چه په ټول مانځه کښې به موضع السجود ته ګوری او دیته امام احمدؒ خشوع وئیلے ده۔

۳- امام مالكؒ او امام بخاریؒ فرمائی : مونځ کونکے به قبلے طرفته ګوری۔ امام بخاریؒ باب تړی : (باب رفع البصر الی الامام فی الصلاة (فتح الباری : ۱۸٤/۲) او پدے کښې ئے ډیر احادیث ذکر کړیدی چه دلالت کوی په دے خبره چه قبلے طرفته به ګوری۔ یو حدیث د خباب بن الارت دے چه هغه فرمائی : مونږ به د رسول الله ﷺ قرائت معلومولو (باضطراب لحیته) د هغه د ګیری مبارکے په خوزیدلو سره۔ نو امام ته ئے کتل ښکاره ئے معلومه کړه۔

۲- دویم حدیث د براء رضی الله عنه راوړیدے چه صحابه کرامو به د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نو کله چه به رسول الله ﷺ د رکوع نه سر پورته کړو نو صحابه به ولاړ وو تردے چه نبی علیه السلام به ئے اولیدو چه سجدے ته پریوتو۔ دلته ئے هم امام ته کتلی دی۔

پدے کښې راجح قول د امام شافعیؒ او احمدؒ دے لیکن په هغې کښې هم تفصیل دے او هغه دا چه د منفرد او امام او دارنګه مقتدی حکم دادے چه ځائے د سجدے ته به ګوری لکه دا حدیث الباب ئے دلیل دے او دا مطلق دے هیڅ حال پورے مقید نه دے لهذا په قیام وغیره کښې به موضع السجود ته ګوری او ددے حدیث ډیر تائیدات شته چه په هغې سره قوی کیږی۔ او په التحیه کښې به خپلے غیږے ته ګوری او اشارے ته به ګوری او د هغې نه به نظر نه اړوی لکه حدیث د ابن عمرؓ مخکښې باب التشهد کښې تیر شویدے (لا یجاوز بصره اشارته) انظر فتح المالك بتبویب التمهید لابن عبد البر علی موطأ مالك (۲۱۹/۲)

باقی قیدونه لګول چه په سجده کښې به پوزے ته ګوری او په رکوع کښې به خپو ته او په سلام کښې به اوګو ته نو دا عندی بے دلیله قیدونه دی صحیح خبره دا ده چه پدے حالتونو کښې مونځ کونکے خپل اصلی هیئت باندے به پریخودلے شی چه د هغه نظر په هرځائے لګیدلو نو جائز به وی او شریعت په هغې کښې تعیین او تحدید نه دے کړے۔

هاں البته د مقتدی دپاره دا اجازه شته چه امام ته اوګوری کله چه حاجت ورته وی۔ حافظ عسقلانیؒ په فتح الباری (۱۸٤/۲) کښې د زین بن المنیرؒ نه نقل کوی چه د مقتدی امام ته نظر کول د مقاصدو د اقتداء نه دی کله چه مقتدی پوره طریقے سره امام ته ګوری (بغیر د التفات نه)

نو پدے سره به دده د مونځ اصلاح کیږی آهـ

نو د مقتدی دپاره امام ته کتل جائز دی کله چه ورته مخامخ ولاړ وی او ضرورت وی کتلو ته مثلا د هغه نه مونځ زده کوی، یا بل عذر او ضرورت وی د امام آواز ورته نه رسی ـ او که دا ضرورت نه وی نو افضل دا ده چه د خپل سجدے ځائے نه نظر اخوا دیخوا نه کړی ځکه دا کار خشوع ته زیات اقرب دے۔ او پدے سره تطبیق د ټولو احادیثو راځی او دا قول د امام ابوحنیفهؒ هم دے لکه علامه عینیؒ په عمدة القاری (٣٠٦/٥) او ابن عابدین الشامیؒ په رد المحتار (٣٢١/١) کښې لیکی: چه ظاهر الروایت کښې نقل شویدی چه (ان یکون منتهی بصره فی صلاته الی محل سجوده) چه مونځ کونکے به په مانځه کښې د سجدے ځائے ته ګوری ـ وانظر فتاوی الدین الخالص (٢٧٣/٤)۔ حافظ عسقلانیؒ فرمائی: دا ممکن ده چه د امام او مقتدی فرق اوکړے شی نو امام دپاره مستحب ده چه موضع السجود ته نظر اوکړی او دغه شان مقتدی هم مګر که مقتدی د امام لیدلو ته محتاج وی نو بیا امام ته کتل جائز دی او د منفرد حکم د امام پشان دے (چه موضع السجود ته به ګوری) والله اعلم ـ فتح الباری (١٨٤/٢) ـ

فائده: ددے حدیث نه بعض علماؤ استدلال کړیدے په عدم جواز د سترګے پټولو په مانځه کښې ځکه چه کله سترګے پټے شی نو بیا خو موضع السجود ته کتل نه راځی لهذا ددے حکم مخالفت راځی ـ لیکن صحیح دا ده چه دا استدلال بعید دے، او دا په عام حالت کښې حکم دے او که د یو انسان توجه په سترګے پټولو سره جوړیږی نو هغه هم جائز دی لکه ددے دلائل مخکښې تیر شویدی په باب الستر کښې لیکن د سترګو په پټولو د احادیثو نه منع نشته ـ

درجة الحدیث: اسناده ضعیف والحدیث حسن لشواهده ، اخرجه البیهقی فی الکبریٰ (٢٨٤/٢) والعقیلی فی الضعفاء الکبیر (٤٢٧/٣) فی ترجمة عنطوانة رقم (١٤٦٨) وقال عنه مجهول بالنقل حدیثه غیر محفوظ روی عنه الربیع بن بدر والربیع متروك وذکره الذهبی فی المیزان (٣٠٣/٣) وقال عنه: لا یدری من هذا لکن تفرد به علیلة بن بدر واهٍ وقال الحافظ ابن حجر فی لسان المیزان (٣٨٥/٤)(والربیع هو: عُلیلة بالتصغیر) وقال ابن حجر وله طرق تقتضی حسنه کذا فی المرقاة ویؤیده ما رواه ابن جریر وابن ابی حاتم عن محمد بن سیرین ، قال: کان اصحاب رسول الله ﷺ یرفعون ابصارهم الی السماء فی الصلاة فلما نزلت هذه الآیة (قد افلح المومنون الذین هم فی صلاتهم خاشعون) خفضوا ابصارهم الی موضع سجودهم، قال محمد بن سیرین: وکانوا یقولون لا یجاوز بصره مصلاه فان کان قد اعتاد فلیغمض، کذا فی تفسیر ابن کثیر وما روی عن ام سلمة بنت ابی امیة زوج النبی ﷺ انها قالت: کان الناس فی عهد رسول الله ﷺ اذا قام المصلی یصلی لم یعد بصر احدهم موضع قدمیه فتوفی رسول الله ﷺ فکان الناس اذا قام احدهم یصلی لم یعد بصر احدهم موضع جبینه فتوفی ابوبکر وکان عمر فکان الناس اذا قام احدهم یصلی لم یعد بصر احدهم موضع القبله ثم توفی عمر وکان عثمان فکانت الفتنة، فالتفت الناس یمیناً وشمالاً ـ قال المنذری فی الترغیب: رواه ابن ماجه ای فی الجنائز باسناد حسن ـ الا ان موسی بن عبد الله بن ابی امیة المخزومی لم یخرج له من اصحاب الکتب السنة غیر ابن ماجه ولا یحضرنی فیه جرح ولا تعدیل انتهیٰ وانظر المرعاة (٣٦٩/٣)۔

١٨ - وَعَنْهُ، قَالَ : قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَا بُنَيَّ اِيَّاكَ وَالْاِلْتِفَاتَ فِي الصَّلٰوةِ فَاِنَّ الْاِلْتِفَاتَ فِي الصَّلٰوةِ هَلَكَةٌ فَاِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَفِي التَّطَوُّعِ لَا فِي الْفَرِيْضَةِ . رواه الترمذيُّ۔

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : ما ته رسول الله ﷺ اوفرمايل : اے بچوړيه ! په مانځه کښې اخوا ديخوا کتلو نه ځان اوساته ځکه په مانځه کښې (ځټ تاوولو سره) اخوا ديخوا کتل (په آخرت کښې) د هلاکت سبب دے او که کتل خامخا ضروري وي نو په نفلو کښې (خير خه مضائقه نشته) ليکن په فرضو کښې (هرګز) نشته ۔ (ترمذيؒ)

تشريح: هَلَكَةٌ : په مانځه کښې التفات ته ئې هلاکت اووئيلو ځکه چه دا طاعت د شيطان دے او هغه سبب د هلاکت دے۔ علامه شوکانيؒ وائي : التفات ته ئې هلاکت پدے وجه اووئيلو چه دا سبب ګرځي دپاره د نقصان د هغه ثواب کوم چه په مانځه سره حاصليږي ۔

٣ - يا دا يو قسم دے د تسويل او اختلاس د شيطان نه نو ځوك چه التفات زيات کوي نو دا به د شيطان د متبعينو نه وي او د شيطان اتباع خو هلاکت دے ۔ ٤ - يا دا چه پدے کښې اعراض دے د الله تعالىٰ نه او د الله نه اعراض کول سراسر هلاکت دے ۔ نيل الاوطار (٣٧٩/٢)

فَفِي التَّطَوُّعِ : يعنې که خامخا التفات ته ضرورت راپيښ شي نو بيا دے په نوافلو کښې کوي ځکه هغے کښې ډير ګنجائش شته دارنګه په نوافلو کښې اوګدوالے وي نو د انسان التفات ته ضرورت راپيښيږي ۔ البته په فرائضو کښې التفات منع دے ځکه دا د شيطان برخه ده ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف اوحسن ، اخرجه الترمذي (٥٨٩) وقال هذا حديث حسن غريب والحديث صححه العلامة احمد شاكر وقال : فان علي بن زيد بن جدعان ثقة عندنا، وقال الترمذي : صدوق وصحح له حديثاً في السلام وحسن له غير ما حديثٍ ۔ ولكن الحديث ضعيف واعلّه ابن القيم في الزاد (٢٤١/١) بالانقطاع بين سعيد وانس واشار الى ذلك المنذري في الترغيب (١٩١/١) وانظر المرعاة (٣٧١/٣) وضعفه الالباني في ضعيف الترمذي رقم (٩٠)۔

١٩ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ، قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ : كَانَ يَلْحَظُ فِي الصَّلٰوةِ يَمِيْناً وَشِمَالاً وَلَا يُلْوِيْ عُنُقَهٗ خَلْفَ ظَهْرِهٖ . رواه الترمذيُّ والنسائيُّ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به په مانځه کښې ښي او ګس طرفته د سترګو په ګنجونو کتل مګر ځټ به ئې شا ته نه اړولو (ترمذيؒ، نسائيؒ)۔

تشريح : يَلْحَظُ : لحظ د سترګو په طرفونو کتلو ته وائي او نبي عليه السلام به دا کتل د مصلحت دپاره کول او زړه د هغه به پدے کار سره نه غافل کيدو او توجه الى الله به ئې نه خرابيده او کيدے شي چه دا التفات په نفل مونځ کښې وي لکه مخکښې تير شو چه نفل کښې اجازت شته۔

فائده : علامه ابو الحسن المباركفوريؒ ليکي : پدے حديث د ابن عباسؓ کښې چه کوم

التفات ذکر دے چه د احوالو د مقتدیانو د معلومولو یا بل څه مصلحت دپاره به رسول الله ﷺ کولو نو دا په فرائضو کښې هم په اتفاق د علماؤ جائز او مباح دے اگرکه خلاف اولیٰ دے (په غیر د ضرورت نه) او په مخکښې حدیث د انسؓ کښې او په فصل اول کښې چه پنځم حدیث (د عائشه) کښې کوم التفات ذکر دے نو هغه جدا التفات دے د هغې نه مراد هغه التفات دے چه صرف مخ او سر د قبلې نه مائله کولو سره وی او سینه پکښې د قبلې نه وانه ړوی او دا مکروه دے په نزد د ټولو علماؤ کله چه بغیر د حاجت نه وی بلکه د اهل ظاهرو په نیز حرام دے انتهیٰ مرعاة المفاتیح (۳/۳۷۱)۔

درجة الحديث : اسناده صحيح اخرجه احمد في المسند (۱/۲۷۵) والترمذي (۵۸۷) وصححه ابن حبان واورده الهيثمي في موارد الظمآن (۵۳۱)۔

۲۰ – وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ رَفَعَهٗ : قَالَ اَلْعُطَاسُ وَالنُّعَاسُ وَالتَّثَاءُ بُ فِي الصَّلٰوةِ وَالْحَيْضُ وَالْقَيْئُ وَالرُّعَافُ مِنَ الشَّيْطَانِ . رواه الترمذيُّ .

ترجمه : او عدی بن ثابت د خپل والد محترم نه او هغه د خپل والد یعنی د عدی د نیکه نه چه هغوی دا حدیث رسول الله ﷺ ته رسولے دے نقل کوی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : په مانځه کښې پرنجے کول او خوب راتلل، او ارګمے راتلل او د حیض او قیئ (التیٔ) او پوزے نه وینه تلل د شیطان (داثر) نه دی ۔ (ترمذیؒ)۔

تشریح : ددے څیزونو نسبت ئے شیطان ته اوکړو ځکه چه شیطان ددے سره مینه کوی او دا وسیله ګرځوی د مانځه د قطع کولو او د عبادت خرابولو دپاره ضرور په مانځه باندے ددے څیزونو په وجه اثر پریوځی ۔ او دا غالبا د طعام د ډیر والی په وجه پیدا کیږی او شیطان په هغه کار ډیر خوشحالیږی چه هغه مانع واقع کیږی د بنده او د الله تعالی په مابین کښې ۔

بیا د عطاس نه مراد کثرت عطاس دے نو دا منافی نه دے د هغه حدیث سره چه (ان الله يحب العطاس) چه الله تعالی ته عطاس (پرنجے) محبوب دے ځکه د هغې نه مراد معتدل پرنجے دے چه د دریے کرتو نه کم وی ځکه کله چه زیات شی نو د انسان د عبادت مزه او د مناجات لذت ختموی ۔ ملا علی القاریؒ داسے تطبیق کوی : د مانځه نه بهر په نورو اوقاتو کښې پرنجی راتلل الله تعالی خوښوی او مکروه پرنجے هغه دے چه په مانځه کښې راشی ۔

فائده : په حدیث کښې د اولنی دریے څیزونو د ذکر نه بعد ئے فی الصلوة لفظ ذکر کړو او آخری دریے څیزونه ئے جُدا ذکر کړیدی پدے سره دے طرفته اشاره مقصود ده چه اولنی دریے څیزونه مفسد د صلاة نه دی بلکه مکروه دی او آخری دریے څیزونه مفسد د صلاة دی ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف ۔ اخرجه الترمذي (۲۷۴۸) وليس عنده (والرعاف) وقال البخاري : لاادري ما اسم جد عدي ؟ و ذكر يحيى بن معين ان اسمه دينار فالحديث له علتان جهالة ثابت وضعف الراوي عن ابيه وهو شريك بن عبد الله القاضي

١١ – وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ عَنْ اَبِيْهِ، قَالَ : اَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ يُصَلِّيْ وَلِجَوْفِهٖ اَزِيْزٌ كَاَزِيْزِ الْمِرْجَلِ يَعْنِيْ يَبْكِيْ . وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ : رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يُصَلِّيْ وَفِيْ صَدْرِهٖ اَزِيْزٌ كَاَزِيْزِ الرَّحٰى مِنَ الْبُكَاءِ . رواه احمد وروى النسائيُّ الروايةَ الاُوْلٰى وابوداودُ الثَّانِيَةَ۔

ترجمه : او مطرف بن عبد الله بن شخير د خپل والد مكرم نه نقل كوي چه هغوي وئيلي دي چه زه يوه ورځ نبي كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شوم او هغه مونځ كولو او د هغه د سينې (ږږ) نه د كټوي د جوش په شان آواز راتلو يعني ژړل ئې ـ او په يو روايت كښې دي : هغه وئيلي دي : ما نبي عليه السلام اوليدو چه مونځ ئې كولو او د هغه په سينه كښې د جرندې د آواز په شان د ژړا په وجه آواز وو ـ (احمدؒ، او نسائيؒ اول روايت او ابوداودؒ دويم روايت نقل كړيدے)

تعارف د مطرف بن عبد الله بن الشخير الحرشي العامري البصري ثقه عابد فاضل من كبار التابعين، په سنه (٩٥) كښې وفات شويدے ـ او عبد الله بن شخير بن عوف بن كعب عامري صحابي دے او د فتح د مكې مسلمان دے د بني عامر په وفد كښې راغلے وو ـ

تشريح : وَلِجَوْفِهٖ اَزِيْزٌ : ازيز : د كټوئ آواز ته وائي چه كله خوټ كيږي دلته ترې مراد د الله د يرې نه د ژړا آواز دے۔ اَلْمِرْجَلِ : هغه لوښي ته وائي چه اوبه پكښې جوش كولے شي برابره ده اوسپنه وي او كه زيړ وي يا كانړے يا ټكرې وي ديته مِرجل ځكه وائي چه دا كله اودرولے شي نو داسې وي لكه ګويا كښې چه په رجل (خپو) باندې ولاړ وي۔

دا حديث دليل دے چه په مانځه كښې د الله تعالى د يرې نه ژړل مونځ نه خرابوي برابره ده كه ددې آواز سره يو حرف دوه حرفه اوځي يا نه ځكه حديث مطلق دے هيڅ قيد ورسره نشته او دا معنى امام ترمذي، ابوداود او نسائي او مجد بن تيميه هم فهم كړيده ځكه هغوي پدې حديث باندې دغه شان بابونه تړلي دي۔

مسئله : په تأوه، انين او بكاء سره مونځ آيا خرابيږي ؟ (١) امام شعبيؒ او نخعيؒ وائي پدې سره مونځ فاسديږي ـ (٢) مالكيه، حنابله او حنفيه وائي كه د جنت، جهنم او خوف الٰهي د وجې نه ژړا وي نو پدې سره مونځ نه فاسديږي او كه د جسماني شكايت او مصيبت په وجه وي نو مونځ فاسدوي ـ الهدايه (١/٦٦)۔

٣– د امام شافعيؒ مذهب كښې درې قوله دي : ١– يو دا چه كه دده نه ددې ژړا په وجه يو حرف دوه حرفه اووتل نو مونځ به فاسد وي او دا د هغوي په نيز اظهر قول دے وهو المنصوص عن الشافعيؒ في الاملاء۔ ٢– قول ثاني دا دے چه بكاء مطلقا غير مفسد دے ځكه دا د جنس د كلام نه نه ده۔ ٣– قول ثالث : كه خوله ئې بنده وه نو غير مفسد دے او كه خوله ئې كولاوه وه او دوه

حرفه تري ظاهر شو نو مفسد دے ۔ او دا قول پکښ د قفال نه منقول دے ۔ حافظ وائی : قول ثانی اقویٰ دليلا دے ۔ او روستو حديث کښ ئے هم دليل راروان دے ۔
ليکن زمونږ تحقيق دا دے چه ژړا دوه قسمه ده اختياري او غير اختياري اوله مفسد للصلاة ده کله چه حروف ورسره اداء شي ځکه دا بيا تصنع او رياء ده او دويمه بلا اختياره ده که د جهنم يا جنت د وجې نه وي او که د مصيبت د وجې نه وي مفسد نه ده فتدبر ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح ۔ اخرجه احمد(٤/٢٥،٢٦) وابوداود (٩٤) والنسائی (٣/١٣) والترمذی فی الشمائل (٣١٥)۔

٢٢ - وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا قَامَ اَحَدُکُمْ اِلَی الصَّلٰوةِ فَلا يَمْسَحِ الْحَصٰی فَاِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهٗ. رواه احمد والترمذیُّ وابوداود والنسائیُّ وابن ماجه .

ترجمه : او ابوذر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ فرمايلی دی : کله چه يو تن ستاسو مانځه ته اودريږی نو هغه ته دے په لاس سره کانړی نه اړوی ځکه د الله رحمت هغه ته مخامخ وی ۔ (نو پدے کار سره به د هغه نه د الله رحمت واوړی) (احمد، ترمذی، ابوداود، نسائی، ابن ماجه)

تشريح : فَلا يَمْسَحِ الْحَصٰی : د مسح الحصیٰ نه منع پدے وجه اوشوه چه پدے کښ توجه خرابيږی او باقی وجوهات ئے په حديث نمبر (٣) کښ تير شويدی او دلته يوه وجه دا بيان شوه چه د الله رحمت د هغه نه اوړی او يو کرت اجازت د حديث نمبر (٣) نه معلوم شو ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (٥/١٥٠) وابوداود(٩٤٥) والترمذی (٣٧٩) وقال حديث حسن والنسائی (٣/٦) وابن ماجه (١٠٢٧) وفی اسناده فيه ابوالاحوص وهو مجهول لم يرو عنه غير الزهری وهو فی ضعيف الجامع الصغير (٦١١٣) وضعيف الترمذی رقم (٣٨٠) وقد مر الكلام فی ابی الاحوص فی الحديث رقم (١٩)۔

٢٣ - وَعَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : رَاٰی النَّبِیُّ ﷺ غُلَاماً لَنَا يُقَالُ لَهٗ اَفْلَحُ، اِذَا سَجَدَ نَفَخَ، فَقَالَ : يَا اَفْلَحُ : تَرِّبْ وَجْهَكَ . رواه الترمذیُّ.

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : نبی کريم ﷺ زمونږ يو غلام اوليدو چه د هغه نوم افلح وو کله چه به ئے سجده کوله نو (د ځائے صفا کولو دپاره به ئے) پوکے کولو نو رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمايل : اے افلح ! خپل مخ په خاورو کښ ککړ کړه ۔ (ترمذی)۔

تشريح : تَرِّبْ وَجْهَكَ : دا حديث د ابن مسعود، عروه بن الزبير او ابراهيم نخعی دليل دے چه وائی : مونځ کونکے به مخ د زمکے سره لګوی او مينځ کښ به حائل نه راولی ۔ او دا مستحب دے ۔ ٢ - جمهور علماء ددے مخالف دی او د هغوی د طرفنه علامه عراقی جواب کوی : چه رسول الله ﷺ هغه ته په خاورو ... د مونځ کولو حکم نه دے کړے بلکه مقصود

تمکین الجبهه من الارض دے یعنی تندے په زمکه لګول ځکه چه هغه کیدے شی تندے په زمکه نه لګولو ځکه ئے پورته دغه حکم اوکړو۔

بیا دا حکم د ترّب (خاورو سره مخ یو ځائے کړه) ځکه اوشو چه په خاورو کښې تندے کیخودلو سره تواضع او تذلّل او خشوع زیاته حاصلیږی ځکه د تندی پورے خاورے انختل انتهائی تواضع ده۔ ۲ – دا حدیث دلیل دے چه په مانځه کښې نفخ (پوکی کول) مکروه دی، خو پدے کښې هم اختلاف دے: (۱) امام مالکؒ وائی: دا کار مکروه دے خو مونځ پرے نه فاسدیږی او دا قول د احمدؒ او اسحاقؒ دے کما قال الترمذیؒ (بشرح التحفه: ۲۹۷/۱) او دا قول د ابویوسف او اشهبؒ دے کما قال ابن بطالؒ مګر مدونه کښې دا قول ذکر دے چه (النفخ بمنزلة الكلام يقطع الصلاة)۔ ۲ – امام ابوحنیفهؒ او محمدؒ وائی: که اوریدلے شو نو دا په منزله د کلام دے مونځ باطلوی او که غیر مسموع وو نو نه باطلوی او دا حدیث ئے دلیل دے لیکن ددے نه استدلال ضعیف دے یو خو دا حدیث ضعیف دے دویم نبی علیه السلام هغه ته امر بالاعاده نه ده کړی کما قال الحافظ فی الفتح۔ او بل طرفته حدیث د عبد الله بن عمروؓ کښې دی: چه نبی علیه السلام په صلوٰة الکسوف کښې نفخ اوکړه (ابوداود، ترمذی، نسائی، احمد) وذکره البخاری تعلیقا) او د ابوداود د روایت الفاظ دا دی: (ثم نفخ فی آخر سجوده فقال اف، اف) نو پدے کښې صریح رد دے په مذهب د شوافعو، حنابلو او حنفیو باندے ځکه دا الفاظ مسموع دی او دوه حرفه هم پکښې ښکاره شویدی او پدے سره ئے مونځ ناقص نه دے ګرځیدلے، او نفخ کلام نه حسابیږی نه عرفاً او نه لغةً۔

دارنګه احادیثو کښې دی چه د شیطانی وسوسے په وخت اعوذ بالله وئیلو سره ګس طرفته لاړے توکل او تف تف کول خو په اتفاق د علماؤ جائز دی نو نفخ سره هم قطع د مانځه نه راځی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف۔ اخرجه احمد (۳۲۳،۳۰۱/۶) والترمذی (۳۸۲) وقال اسناده ليس بذاك والبيهقی فی الكبری (۲۵۲/۲) والحديث فيه ميمون ابو حمزة قد ضعفه بعض اهل العلم ومع انه توبع (برواية احمد من طريق غير ابی حمزة) ولكن تبقی العلة فی شيخه ابی صالح مولی طلحة لانه لا يعرف، ذكر ذلك الذهبی ولكن قال المباركفوری: ابوصالح ذكره ابن حبان فی الثقات واخرج حديثه هذا فی صحيحه من رواية غير ابی حمزة ميمون عنه ويؤيده حديث حذيفة مرفوعاً: ما من حالة يكون العبد فيها احب الی الله من ان يراه ساجداً، يعفر وجهه فی التراب۔ رواه الطبرانی فی الاوسط (۱۵۸/۶) رقم (۶۰۷۵) والهيثمی (۳۰۱/۱) ولكن سنده ضعيف (المرعاة ۳۷۷/۳)۔

---

۲۴ – وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَلْاِخْتِصَارُ فِي الصَّلَاةِ رَاحَةُ اَهْلِ النَّارِ. رواه فی شرح السنة۔

ترجمه: او ابن عمر ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ فرمايلی دی: په مانځه کښې اختصار (په

تشی باندے لاس کیخودل) د دوزخیانو د آرام اخستلو صورت دے ۔ (شرح السنه)

تشریح : اَلْاِخْتِصَارُ : یعنی په تشی باندے لاس کیخودل د دوزخیانو د راحت یوه طریقه ده یعنی کله چه اور والا په میدان حشر کښ د اوږد اودریدو په وجه په تکلیف شی نو په تشی باندے به لاس کیدی دے دپاره چه راحت ورته ملاؤ شی نو د اور والو سره مشابهت نه دے پکار خاصکر یو د مانځه په حالت کښ۔ د اهل النار نه مراد یهود او نصارئ دی ځکه چه دا اور والا دی (۲) یا د اور والا نه مراد جهنمیان دی یعنی اګرکه پدے کار سره اور والو ته به څه راحت نه حاصلیږی لیکن هغوی به عادةً ږدی۔ بیا دا په غیر د مانځه نه ممنوع ده او که نه ؟ نو علماء وائی ممنوع دی ځکه دا تشبه بالیهود ده ۲ – لیکن ظاهر دا ده چه دلیل د حرمت نشته۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه البیهقی فی الکبریٰ (۲/۲۸۷) وهو منکر فیه عبد اللّٰه بن الازور – ذکره الذهبی فی المیزان (۲/۳۹۱–۳۹۲) وقال عن هشام بن حسان بخبر منکر قال الازدی : ضعیف جداً ثم ذکر هذا الخبر وتقدم نهی عن الصلاة مختصراً۔

۲۵ – وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اُقْتُلُوْا الْاَسْوَدَیْنِ فِی الصَّلَاةِ الْحَیَّةَ وَالْعَقْرَبَ . رواه احمد وابوداود والترمذیُّ والنسائیُّ معناه۔

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی : چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : په مانځه کښ دوه تور خیزونه یعنی مار او لړم اووژنئ ۔ (احمد، ترمذی، او نسائی بالمعنی روایت کړیدے)

تشریح : اَلْحَیَّةَ وَالْعَقْرَبَ بیان دے د الاسْوَدین نه او دواړو ته ئے اسودین اووئیل دا تثنیه تغلیبی ده چه لړم ته ئے د مار نوم ورکړیدے ۔

او دلته خو ذکر د مار لړم اوشو او ددے په حکم کښ هر هغه ضرری شے دے چه د هغه قتل مباح دی لکه مچئ، ماشے وغیره ۔ شرح السنه (۲/) (نیل الاوطار : ۲/۳۱۱)

نو دا حدیث دلیل دے چه د مار لړم په مانځه کښ قتلول بغیر د کراهت نه جائز دي او دا قول د جمهورو علماؤ دے او امام ترمذیؒ د یو جماعت نه ددے کراهت نقل کړے دے چه یو د هغے نه امام ابراهیم نخعیؒ دے۔ امام خطابیؒ وائی : (والسنة اولیٰ ما اتبع ـ معالم السنن : ۱/۲۱۸)

او امام عراقیؒ وائی : په صحابه کرامو کښ لړم په مانځه کښ علی بن ابی طالبؓ او ابن عمرؓ قتل کړیدے کما فی ابن ابی شیبه باسناد صحیح ـ چه ابن عمرؓ په مانځه کښ یوه بڼره اولیدله ګمان ئے اوکړو چه دا لړم دے نو په خپله خپه (یا څپلئ) باندے ئے اووهلو ـ وایضاً اخرجه البیهقی ـ او د تابعینو نه حسن بصریؒ او ابو العالیهؒ او عطاءؒ او مورق العجلیؒ وغیره دی۔

۳– احناف وائی : دا به وژتی خو ډیر مزل به پسے نه کوی او ډیر مزل نه مراد دری متوالی قدمونه دی کله چه درے متواتر متوالی قدمونو ته محتاج شو نو بیا به مونځ فاسدیږی (ذکره

السروجي في المبسوط وكذا في شرح المنيه)۔
ليکن دا خبره صحيح نه ده ځکه چه حديث مطلق دے او د مشي کثير او قليل قيود پکښې نه دي ذکر لهذا که زيات مزل ته محتاج شو نو هم جائز ده ۔ او دا خبره په احنافو کښې ابن الهمامؒ او امام سرخسيؒ کړيده فرمائي: دا حديث په خپل اطلاق سره شامليږي هغه حالت ته چه انسان پکښې محتاج شي عمل کثير ته پدے سره مونځ نه فاسديږي ځکه دا يو عمل دے چه شريعت پکښې رخصت ورکړيدے نو دا مشابه دے د هغه مزل سره چه يے اودسئ نه پس راشي په صورت د بناء على الصلاة يا د کوهي نه اوبه راوبستو يا اودس کولو دپاره لاړ شي ۔ (فتح القدير شرح الهداية: ٢/٣٦٤)
علامه شوکانيؒ فرمائي: مانعينو استدلا کړيدے په حديث: (اسکنوا في الصلاة) او ان في الصلاة شغلاً) سره ليکن ددے نه جواب دا دے چه دا حديث الباب خاص دے نو دغه حديثونه ددے سره معارضه نه کوي ځکه دا د هغې نه مستثنیٰ دي ۔نيل الاوطار (٢/٣٩١)
نو دا اګرچه عمل کثير دے خو شريعت ددے اجازه ورکړيده ځکه نبي عليه السلام ددے خيزونو په قتل امر کړيدے او قتل ددے په دومره آسانه باندے نه کيږي خامخا به قدمونه اخلي، چپړه وغيره به راوړي نو هر کله چه د قتل اجازه راغله نو ورسره ددے اسبابو اجازه هم راغله ۔ (لان الشيء اذا ثبت ثبت بجميع لوازمه) بيا مار لړم وژل څه فرض او واجب نه دي چه خامخا مار لړم اووينې نو ضرور به ئے په مانځه کښې وژني بلکه دا صرف رخصت دے لکه قتادة رحمه الله فرمائي: کله چه تا ته تعرض نه کوي نو مه ئے وژنه خو که څوک ئے وژني نو بالکل اجازه ده ۔
د عمر فاروقؓ نه نقل دي: چه هغه به په مانځه کښې سپګه وژله ۔ رواه سعيد بن منصور كذا في المغني (١/٦٩٨) او حسن بصريؒ به په مانځه کښې سپګے وژلے ۔ او انس بن مالك رضي الله عنه به په مانځه کښې سپګے او ورګے وژلے ۔مرعاة المفاتيح (٣/٣٧٨)
درجة الحديث: اسناده صحيح اخرجه احمد في المسند (٢/٢٣٣، ٢٤٨، ٢٥٥، ٤٧٣، ٤٩٠) والدارمي (١/٣٥٤) وابوداود (٩٢١) والترمذي (٣٩٠) والنسائي (٣/١٠) وابن ماجه (١٢٤٥) والحاكم (١/٢٥٦) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي۔

٢٦ — وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُصَلِّيْ تَطَوُّعاً وَالْبَابُ عَلَيْهِ مُغْلَقٌ فَجِئْتُ فَاسْتَفْتَحْتُ فَمَشٰى فَفَتَحَ لِيْ، ثُمَّ رَجَعَ اِلٰى مُصَلَّاهُ وَذَكَرَتْ اَنَّ الْبَابَ كَانَ فِي الْقِبْلَةِ. رواه احمد وابوداوٗد والترمذيُّ والنسائيُّ نحوَهٗ.

ترجمه: او ام المومنين عائشه رضي الله عنها فرمائي: رسول الله ﷺ به نفل مونځ کولو او دروازه به په هغه باندے بنده وه زه به راغلم ما به د دروازے کولاوول غوښتل نو نبي عليه السلام به (د دروازے کولاوولو دپاره مخامخ) راغلو نو ما ته به ئے دروازه کولاوه کړه بيا به دخپل مانځه

ځائے ته واپس شو (او په خپل مانځه کښې به مشغول شو) او عائشهؓ فرمائی چه دروازه د قبلے په طرف کښې وه ـ (احمدؒ، ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ)

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه د ضرورت په وخت کښې دا قسم کارونه په نفل مانځه کښې کول مونځ نه باطلوی اگرکه متوالی (پرله پسے) اوشی ـ

علامه ابن الملکؒ وائی : د نبی علیه السلام مزل کول او دروازه کولاوول بیا خپل مصلی ته واپس کیدل دلیل دے چه افعال کثیره په مانځه کښې کله چه متوالی وی مونځ نه باطلوی او دا د بعض علماؤ مذهب هم دے ـ انتهی کذا فی المرعاة (٣٧٩/٣) خو دا هم مقید دے په ضرورت باندے نه مطلقاً ـ **درجة الحدیث** : اسناده صحیح ـ اخرجه احمد (٢٣٤،٣١/٦) وابوداود (٩٢٢) والترمذی (٦٠١) والنسائی (١١/٣)

٢٧ ـ وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا فَسَا اَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَنْصَرِفْ وَلْيَتَوَضَّأْ وَلْيُعِدِ الصَّلَاةَ . روه ابوداوٗد، وَرَوَى الترمذیُّ مع زیادةٍ ونقصانٍ ـ

ترجمه : او طلق بن علی رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : کله چه یو تن ستاسو نه په مانځه کښې باد واچوی نو واپس دِے شی او اودس دِے اوکړی او مونځ دِے دوباره راوګرځوی ـ (ابوداود) دا روایت ترمذیؒ هم د څه زیادت او نقصان سره نقل کړیدے) ـ

تشریح : **مسئله** : کله چه مانځه کښې اودس مات شی نو آیا استیناف به کوی او که بناء علی الصلاة دا مسئله په ابتداء د جلد ثانی کښې ذکر شویده ـ هغے ته رجوع اوکړه ـ

او حدیث دلیل دے چه کله اودس مینځ کښې مات شی نو اعاده واجب ده او بناء علی الصلاة جائز نه ده ـ کذا فی المرعاة(٣٨٠)

درجة الحدیث : اسناده ضعیف اخرجه ابوداود (٢٠٥) (١٠٠٥) والترمذی (١١٦٤) وقال طلق بن علی : والصواب علی بن طلق وفی اسناده عیسی بن حطان قال ابن عبد البر : لیس ممن یحتج به واشار الی ذلك الحافظ فی التهذیب ـ

٢٨ ـ وَعَنْ عَائِشَةَ ، اَنَّهَا قَالَتْ : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : اِذَا اَحْدَثَ اَحَدُكُمْ فِي صَلٰوتِهٖ فَلْيَاْخُذْ بِاَنْفِهٖ ثُمَّ لِيَنْصَرِفْ . رواه ابوداود.

ترجمه : او ام المومنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : کله چه یو تن ستاسو نه په مانځه کښې بے اودسه شی نو هغه دِے پوزه اونیسی بیا دِے (مانځه نه) واپس شی (د اوس کولو دپاره) (ابوداود) ـ

تشریح : فائده : حدیث کښې دا ادب دے چه د کوم شی اظهار مناسب نه وی نو د هغے پټول پداسے طریقه چه دروغ پکښې نه وی مستحب دی لکه عمران بن حصینؓ نه موقوفا الادب المفرد کښې نقل دی : (ان فی المعاریض لمندوحة عن الکذب) یعنی په تعریض او توریه کښې د

دروغ نه بچاؤ دے۔ علامه خطابیؒ لیکي : پوزه نیولو باندے ئے ځکه حکم اوکړو چه خلقو لره دا په خیال کښې واچوی چه په ده باندے رعاف بیماری ده او دا د باب د اخذ د ادب نه دے په ستر د عورت کښې او په پټولو د قبیح شی کښې په طریقه د توریه سره او دا د باب د ریاء او دروغ نه نه دی بلکه دا د باب د تجمل او استعمال الحیاء او طلب السلامة من الناس نه دی انتهی معالم السنن (١/٣٤٨) ۔ احناف وائی : وینه اودس ماتوی ځکه پوزه ددے دپاره نیسی چه خلقو ته ښکاره کړی چه زما پوزه وینه شوه او اودس له روان یم ۔

الجواب : دا استدلال په محل د نظر کښې دے، وجه دا ده چه ممکن ده د وینے د صفائی دپاره اوونځی یا دا چه دلته په بله وجه بے اودسه شوے وی نه د وینے په وجه او پوزه نیول د بدګمانی د دفع کولو دپاره وی چه خلق دا ګمان اونکړی چه د مونځ نه اوتختیدلو نو کله چه پوزه اونیسی نو خلقو ته به پته اولګی چه یا خوئے اودس مات شو یا بے اودسه ولاړ وو یا ورته نوره څه مسئله رامخے ته شوه نو د وینے ناقض ګرځیدل ترے د کوم ځائے نه معلوم شو ؟

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (١١١٤) والحاكم (١/١٨٤) وقال صحيح على شرطهما ووافقه الذهبی۔

٢٩ – وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اِذَا اَحْدَثَ اَحَدُكُمْ وَقَدْ جَلَسَ فِيْ آخِرِ صَلَاتِهٖ قَبْلَ اَنْ يُّسَلِّمَ فَقَدْ جَازَتْ صَلَاتُهٗ. رواه الترمذیؒ وقال : هذا حديث اسناده ليس بالقویّ وقد اضطربوا فِیْ اِسْنَادِهٖ۔

ترجمه : او عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائی : چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : کله چه یو تن ستاسو بے اودسه شی په داسے حال کښې چه د مانځه په قعده اخیره کښې ناست وی او سلام ئے لا اړولے نه وی نو د هغه مونځ جائز شو (ترمذی دا روایت کړیدے او وئیلے ئے دی چه دا یو داسے حدیث دے چه ددے اسناد مضبوط نه دے او خلقو ددے په اسناد کښې اضطراب کړیدے)۔

تشریح : جَازَتْ صَلَاتُهٗ : فقه حنفی کښې دی چه سلام ګرځول فرض نه دی لکه دا یو روایت د امام ابوحنیفهؒ نه دے او دا حدیث د هغه دپاره په استدلال کښې د هغه مقلدینو پیش کړیدے او جمهور وائی : سلام ګرځول فرض دی او دے استدلال نه جواب کوی چه یو خو دا حدیث ضعیف دے په ټولو طرقو سره۔

٢ – دویم دا چه دے حدیث کښې مطلقاً حکم دے چه کله د انسان اودس مات شی او په آخر د مانځه کښې وی نو مونځ ئے جائز دے او امام ابوحنیفهؒ خو ورسره د عمد او قصد قید لګوی وائی چه قصداً اودس مات کړی نو هله به ئے مونځ جائز وی او که په خپله غیر اختیاری ئے اودس مات شو نو مونځ ئے جائز نه دے بلکه مونځ واجب الاعاده دے که په هر ځائے کښې وی ځکه هغه

خروج بصنع المصلی فرض ګڼړی نو دا حدیث د هغه دپاره دلیل نشی ګرځیدے بلکه دا د صاحبینو د مذهب موافق دے چه هغوی وائی مطلقاً (اودس ماتیدلو او ماتولو) سره مونځ جائز دے ۔ انظر تفصیل المسئلة فی المجلد الثانی فی باب ما یوجب الوضوء۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف، اخرجه ابوداود (٦١٦) والترمذی (٤٠٨) وقال : هذا حدیث اسناده لیس بذاك القوی وقد اضطربوا فی اسناده وفیه عبد الرحمن بن زیاد بن انعم وهو ضعیف ومع ذلك یعارض الحدیث الصحیح وتحلیلیها التسلیم ۔

الفصل الثالث

٣٠– عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ ؓ : اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ خَرَجَ اِلَی الصَّلَاةِ فَلَمَّا كَبَّرَ انْصَرَفَ وَاَوْمَأَ اِلَیْهِمْ اَنْ كَمَا كُنْتُمْ ثُمَّ خَرَجَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ جَاءَ وَرَأْسُهٗ یَقْطُرُ فَصَلّٰی بِهِمْ فَلَمَّا صَلّٰی قَالَ : اِنِّیْ كُنْتُ جُنُبًا فَنَسِیْتُ اَنْ اَغْتَسِلَ . رواه احمد وَرَوٰی مَالِكٌ عَنْ عَطَاءِ بْنِ یَسَارٍ مُرْسَلًا۔

ترجمه : او ابو هریره ؓ فرمائی: (یوه ورځ) نبی کریم ﷺ مانځه ته اووتلو (مسجد ته راغلو) کله ئے چه الله اکبر اوکړو نو د مانځه نه اوګرځیدو او صحابه کرامو ته ئے اشاره اوکړه چه په خپل حالت اودریږئ، د مسجد نه بهر اووتلو او غسل ئے اوکړو بیا په داسے حالت کښ راغلو چه د سر مبارك نه ئے اوبه څڅیدلے، بیا ئے صحابه کرامو ته مونځ اوکړو کله چه د مانځه نه فارغ شو نو وے فرمایل : ما ته د غسل حاجت وو مګر ما نه غسل کول هیر شوی وو۔ (امام مالك هم دا حدیث د عطاء بن یسارؒ نه په طریقه د ارسال نقل کړیدے)۔

تشریح : فَلَمَّا كَبَّرَ انْصَرَفَ : دا حدیث دلیل دے چه رسول الله ﷺ په مانځه کښ داخل شوے وو او بیا ورته غسل د جنابت یاد شو او صحابه کرامو هم تکبیر کړے وو او په دے باره کښ دوه قسمه احادیث راغلی دی ۔ د بخاری او مسلم په روایت کښ دی چه مانځه کښ لا داخل شوے نه وو بلکه هغے کښ الفاظ داسے دی ١– عن ابی هریرة، قال : خرج رسول الله ﷺ وقد اقیمت الصلاة وعدلت الصفوف حتی اذا قام فی مصلاه قبل ان یکبر انصرف قال علی مکانکم ! ……۔

او د سنن وغیره په روایاتو کښ دا دی چه په مانځه کښ داخل شوے وو لکه بیهقی (٢/٣٩٩) او دارقطنی کښ د انس روایت دے : دخل رسول الله ﷺ فی صلاته فکبر وکبرنا معه ثم اشار الی القوم او په روایت د احمد، ابوداود او بیهقی (٣٩٧/٢) کښ د ابوبکره نه نقل دی : ان رسول الله ﷺ دخل فی صلاة الفجر ۔ حافظ عسقلانیؒ فرمائی : صححه ابن حبان والبیهقی واختلف فی وصله وارساله وقال الالبانیؒ صحیح ابی داود رقم (٢٣٣) صحیح۔

د دواړو احادیثو جمع بعض علماؤ داسے کړیده ١– چه روایت د صحیحینو صحیح دی او روایات د سنن ضعیف دی ۔ او دواړو قصه ئے یوه شمارلے ده، لیکن دا جواب غوره نه دے ځکه

چه د سنن والا روایات هم صحیح دي۔

۲– او بعض وائي چه قصه یوه ده او نبي علیه السلام د مانځه نه مخکښې قوم ته اشاره کړیده او کوم احادیثو کښې چه (دخل او کبر) الفاظ راغلي دي نو هغه په مجاز باندې محمول دي یعني اراد ان یکبر واراد ان یدخل) لکه دا تطبیق صاحب د مرعات راجح کړیدې (۳۸۸/۳)۔

لیکن صحیح خبره دا ده چه واقعې دوه دي یو ځل مخکښې د داخلیدو نه واقع شویده او دوباره بیا په مانځه کښې داخلیدو نه پس واقع شویده او ددې خبرې دپاره شواهد دا دي: ۱– یو خو پدې باره کښې متعدد احادیث راغلي دي په مختلف الفاظو، لهذا تولو نه یوه قضیه جوړول ظاهر نه ښکاري ۔ ۲– دویم دا چه (اومأ، اشار، کبر او دخل) الفاظ صریح دي چه دا حادثه پس د دخول في الصلاة نه واقع شویده۔ ۳– دارنګه ارتکاب د مجاز خلاف الاصل دې دیته صیرورت په حالت د ضرورت کښې کیږي او دلته ضرورت نشته ۔

٤– دارنګه که دا قبل الدخول وې نو بیائې ورته اشاره ولې کوله لکه په صحیحینو کښې ورته اشاره نه ده کړې بلکه قول ئې ورته کړیدې ۔ او دا قول ابن حبانؒ راجح کړیدې او امام نوویؒ ورته اظهر وئیلې دې او ابن عبد البرؒ په التمهید (۱۷۸/۱) کښې راجح کړیدې ۔

هر کله چه دا واقعه بعد الدخول شي نو ددې نه د جمهورو (مالك، شافعي احمد) مذهب ثابتیږي او هغه دا چه د امام مونځ جدا دې او د مقتدیانو مونځ جدا دې نو چه امام بې اودسه مونځ اوکړي او مقتدي خبر نه وي نو د مقتدي مونځ اوشو دلته رسول الله ﷺ ته د تکبیر نه بعد جنابت یاد شویدې او بیا غسل کولو نه بعد ئې مونځ پوره کړیدې او صحابه کرامو د دغه مانځه اعاده نه ده کړې او ددې په باره کښې دلائل په جلد ثاني (۴۳۰/۲) و (۳۷۳/۳) حدیث الامام ضامن کښې ذکر شویدي۔

درجة الحدیث: اسناده حسن ۔ اخرجه احمد في المسند (۴۴۸/۲) وابن ماجه (۱۲۲۰) واسناده حسن وله شواهد من حدیث ابي بکرة وانس وعلي رضي الله عنهم ۔ واسناد روایة مالك عن عطاء صحیح مرسل رواه مالك في الموطأ (۴۸/۱)۔

۳۱– وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ، قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّي الظُّهْرَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَآخُذُ قَبْضَةً مِنَ الْحَصٰى لِتَبْرُدَ فِيْ كَفِّيْ أَضَعُهَا لِجَبْهَتِيْ أَسْجُدُ عَلَيْهَا لِشِدَّةِ الْحَرِّ. رواه ابوداوٗد وَرَوَى النسائيُّ نَحْوَهٗ.

ترجمه: او جابر ﷺ فرمائي: ما به د رسول الله ﷺ سره د ماسپښنین مونځ کولو نو ما به یو موټې د کانړو راخستلو دې دپاره چه زما په لاس کښې یخ شي، ما به هغه د خپل تندي لاندې کیخودل چه سجدې پرې اوکړم د وجې د سختې ګرمۍ نه۔ (ابوداود، نسائي)۔

تشریح : قَبْضَةً : (یو موټے کانړی) دا کارئے په فرض مانځه کښې کړیدے او دا په ضرورت باندے بناء دے مخکښې تیر شویدی چه په څادرئے سجده کړیده او دا راخستل عمل کثیر دے لیکن په مانځه کښې عند الضرورة جواز لری۔

درجة الحديث : اسناده حسن، اخرجه ابوداود (۳۹۹) والنسائی (۱۸۰۰)

۳۲- وَعَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ، قَالَ : قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّيْ فَسَمِعْنَاهُ يَقُوْلُ : اَعُوْذُ بِاللهِ مِنْكَ ثُمَّ قَالَ : اَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ ثَلَاثًا وَبَسَطَ يَدَهُ كَأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ شَيْئًا فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الصَّلَاةِ قُلْنَا: يَارَسُوْلَ اللهِ! قَدْ سَمِعْنَاكَ تَقُوْلُ فِي الصَّلَاةِ شَيْئًا لَمْ نَسْمَعْكَ تَقُوْلُهُ قَبْلَ ذٰلِكَ وَرَأَيْنَاكَ بَسَطْتَّ يَدَكَ قَالَ : اِنَّ عَدُوَّ اللهِ اِبْلِيْسَ جَاءَ بِشِهَابٍ مِنْ نَارٍ لِيَجْعَلَهُ فِيْ وَجْهِيْ فَقُلْتُ : اَعُوْذُ بِاللهِ مِنْكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ قُلْتُ اَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ التَّامَّةِ فَلَمْ يَسْتَأْخِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ اَرَدْتُّ اَنْ آخُذَهُ وَاللهِ لَوْ لَا دَعْوَةُ اَخِيْنَا سُلَيْمَانَ لَاَصْبَحَ مُوْثَقًا يَلْعَبُ بِهٖ وِلْدَانُ اَهْلِ الْمَدِيْنَةِ . رواه مسلم.

ترجمه : او ابودرداء ﷺ فرمائی : (یوه ورځ) رسول الله ﷺ په ولاړه مونځ کولو نو مونږ ترے واوریدل چه وئیل ئے : " زه په الله تعالی سره ستا نه پناهی غواړم بیا هغه درے کرته دا اوفرمایل : چه زه تا باندے لعنت وایم د الله په لعنت ۔ او (دے وئیلو سره) رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک داسے خور کړو کویا چه هغه څه شے رانیسی، کله چه نبی علیه السلام د مانځه نه فارغ شو نو مونږ اووئیل : یا رسول الله ! مونږ نن تا نه په مانځه کښې داسے خبره واوریدله چه ددے نه مخکښې مونږ تا نه نه ده اوریدلے چه تا هغه وئیلی وی او مونږ ته اولیدلے چه تا لاس اوګد کړو ؟ رسول الله ﷺ اوفرمایل : د الله دشمن ابلیس د اور یوه شعله راوړه دے دپاره چه هغه زما مخے ته واچوی نو ما درے کرتے اووئیل : زه تا نه د الله پناهی غواړم، بیا ما اووئیل : چه زه په تا باندے لعنت وایم د الله په پوره لعنت سره ۔نو هغه واپس نه شو نو ما (دا الفاظ) درے کرتے اووئیل ۔ کله چه هغه بیا هم واپس نه شو نو ما (خپل لاس اوګد کړو) چه د هغه رانیول مے غوختل لیکن قسم په الله که د خپل ورور سلیمان علیه السلام دعا نه وے نو هغه به (د مسجد ستنیے پورے) د سحر پورے تړلے شوے وے او د مدینے ماشومانو به په هغه باندے لوبی کولے (مسلم)۔

تشریح : اَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ : یعنی زه تا د الله په هغه لعنت سره لعنتی کوم چه د هغے برابر هیڅ شے نشته ۔ حدیث دلیل دے چه دا کار په مانځه کښې جائز دے او نه دے منسوخ شوے نو اعوذ بالله وئیل مشروع دی اګرکه فرض مونځ وی۔ ۲- او دا حدیث دلیل دے چه ابلیس د جناتو نه دے ۳- او ظاهر دا ده چه دا جدا واقعه ده او مخکښې جدا واقعه وه ځکه دے کښې ورسره زیادت راغلے

دے ـ ٤– او حديث دليل دے چه په مانځه کښ عمل کثير مباحه جائز دے ـ

٣٣– وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ : إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ مَرَّ عَلٰى رَجُلٍ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَرَدَّ الرَّجُلُ كَلَاماً فَرَجَعَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَقَالَ لَهُ : إِذَا سُلِّمَ عَلٰى أَحَدِكُمْ وَهُوَ يُصَلِّيْ فَلَا يَتَكَلَّمْ وَلْيُشِرْ بِيَدِهٖ . رواه مالك.

ترجمه: او نافع رحمه الله فرمائی : عبد الله بن عمر رضی الله عنهما په يو سړی باندے چه مونځ ئے کولو – ورتير شو نو سلام ئے پرے واچولو نو هغه سړی عبد الله ته د سلام جواب په ژبه سره ورکړو، عبد الله بن عمر هغه طرفته راواپس شو او وے فرمايل : چه کله تاسو نه په يو تن د مانځه په حالت کښ سلام اوکړے شی نو هغه دِے خبرے نه کوی بلکه هغه له پکار دی چه (د سلام جواب دپاره) په لاس سره اشاره اوکړی (مالكؒ)۔

تشريح : حديث دليل دے چه په اشاره کولو سره جواب د سلام ورکول سنت عمل دے ٢– اود سلام لفظ کلام دے نو دا په مانځه کښ منع دے ٣– او دا حديث دليل دے چه په مونځ کونکی باندے سلام اچول بالکل بلا کراهته جائز دی او د منع هيڅ دليل نشته او دا قول د امام احمدؒ دے (کمافی المغنی) او يو روايت د مالكؒ دے او دليل پرے حديث دے : چه انصار به داخل شو او رسول الله ﷺ به مونځ کولو نو هغوی به سلام اچولو او رسول الله ﷺ به هغوی ته جواب د لاس په اشاره ورکولو ـ نو دليل دے چه مونځ کونکے به په خوله جواب نه ورکوی ځکه دا مفسد د مانځه دے بلکه د لاس اشاره کافی ده۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه مالك في الموطأ (١٦٩/١) ـ



باب السهو

د سجده سهو بيان

مناسبت : كله چه انسان مانځه كښې وي او په مينځ كښې ورته بعض اعمال راپيښې شي لكه مار لړم وژل نو دا به ضرور پدې كارونو سره سهو كيږي نو اوس ددې بيان كوي چه سجده سهو به څنګه كولې شي. نو په سجده سهوه جبيره د هغه نقصان كيږي چه په مانځه كښې واقع شوې وي.

سهو په لغت كښې : وهو غفلة القلب عن الشيئ وذهاب القلب الى غيره (لسان العرب ٤٠٦/١٤) د يو شي نه د زړه غافله كيدل او د زړه بل طرفته متوجه كيدلو ته وائي.

د سهو، نسيان او خطاء فرق : بعض علماء د سهو او نسيان فرق نه كوي. او د سهو تعريف په نسيان سره كوي كما فى كتاب العين (٢٧٧).

١ – علامه سكاكي په مفتاح العلوم الفن الرابع (١٠٩) كښې داسې فرق كوي : السهو : هو ما يتنبه صاحبه بادنىٰ تنبيه والخطأ ما لا يتنبه صاحبه او ينتبه لكن بعد أتعاب. يعني سهو ديته وائي چه په ادنىٰ تنبيه سره انسان بيداريږي او خطاء كښې انسان په تنبيه باندې نه بيداريږي يا بيداريږي ليكن پس د ډير مشقت نه . ٢ – بعض وائي : سهو هغه غفلت ته وائي چه په ادنىٰ تنبيه سره زائله كيږي، او نسيان (غيبة الشئ عن القلب بحيث يحتاج الى تحصيل جديد) ته وائي : يعني د زړه نه يو شے غائبيدل پداسې طريقه چه جدا حاصلولو ته محتاج وي.

٣ – بعض وائي : النسيان: زوال الصورة عن القوة المدركة مع بقائها فى الحافظة والسهو زوالها عنهما معاً . نسيان د قوت مدركې نه صورت زائله كيدو ته وائي چه په حافظه كښې باقي وي، او سهو د دواړو نه زائله كيدو ته وائي. ٤ – بعض وائي : سهو د هغه شي وي چه انسان ته معلوم وي او كه نه وي، او نسيان د هغه شي وي چه د حضور نه پس غائب شوې وي. ليكن معتمد دا ده چه دواړه مترادفان دي. كليات ابي البقاء ص (٨٠٠)

٤ – بعض وائي : نسيان : زوال الشيئ عن الحافظة والمدركة) يعني يو شے د حافظې او مدركې دواړو نه زائله كيدو ته وائي او سهو صرف د حافظې نه زائله كيدو ته وائي. (كما فى المنطوق بين الفروق) .

بيا يو سهو فى الشئ دې چه بغير د علم نه يو شے پريخودل او بل سهو عن الشئ دې يعني سره د علم نه يو شے پريخودل نو پدې سره فرق راغلو په مابين د هغه سهو كښې چه د نبي عليه السلام نه واقع شويده او په مابين د هغه سهو كښې چه الله ئے بدى بيان كړيده په فويل للمصلين الذين هم عن صلاتهم ساهون) سره.

تنبيه : دا خبره ياد لرل پكار دي چه د رسول الله ﷺ نه په هغه اقوالو كښې هيڅ قسم سهو

واقع کیدل ممکن نه دی چه په هغې کښې د شرعی کارونو خبر ورکول وی یا د دینی احکامو د بیان سره متعلق وی البته رسول الله ﷺ نه په افعالو کښې سهو کیده او هغه هم دد ے حکمت او مصلحت دپاره چه د امت خلق د هغه شان سهوے مسائل زده کړی، او دا اجماعی مسئله ده. نیل الاوطار (۱۳۳/۳) بیا دلته یو څو مسائل واوره چه آینده احادیثو کښې فائده ورکړی.

۱- **اوله مسئله : حکم سجود السهو** : ۱- شوافع وائی : سجده سهو صرف یو ځائے کښې واجب ده چه کله مونځ کونکے مقتدی وی نو د امام په تابعداریٔ کښې به سجده سهو کوی که د امام تابعداری اونکړی مونځ ئے باطل دے او اعاده پرے لازم ده. باقی ځایونو کښې د منفرد او امام دپاره سجده سهو مسنون ده. دا په ټولو اقوالو کښې اضعف الاقوال دے. بے دلیله دے.

۲- مالکیه (امام مالك او ابوثور) وائی : که د نقصان د وجه نه وی نو سجده سهو واجب ده ځکه د نقصان جبیره د سلام نه مخکښې کیږی نو دا سجده د اجزاؤ د مانځه نه ګرځی او که د زیادت د وجه نه وی نو بیا واجب نه ده بلکه سنت ده برابره ده امام وی او که منفرد.

۳- حنابله تفصیل کوی وائی : په افعالو پریخودلو کښې سجده سهوه واجب ده خو چه ارکان نه وی او په اقوالو پریخودو کښې سنت ده. دارنګه وائی : که داسے فعل او قول زیات کړی چه د هغې په قصداً زیاتولو سره مونځ باطلیږی نو سجده سهو واجب ده او په کومو افعالو او اقوالو پریخودلو سره چه مونځ باطل نه ګرځی نو په هغې کښې سجده سهو سنت ده.

٤- احناف وائی : ټولے سجدے سهوے واجب دی، او ددے په ترك مونځ کونکے ګناهګاریږی او مونځ پرے نه باطلیږی فتح الباری (٢٤٢/٤) و الفقه علی المذاهب الأربعة (٧٠٦/١).

٥- ظاهر مذهب دا دے چه سجده سهو واجب او فرض ده او ددے په ترك سره مونځ باطلیږی برابره ده که زیادت شوے وی او که نقصان یا وهم وی او دا قول د محدثینو دے او همدا راجح دے ځکه په راتلونکو حدیثونو کښې امرونه راغلی دی، او امر د وجوب او فرضیت دپاره دے او دا د نبی علیه السلام د فعل نه ثابت دی او د نبی علیه السلام د مانځه افعال محمول دی په بیان باندے او بیان د واجبو واجب وی خاصکر چه صلوا کما رأیتمونی اصلی ورسره ملګرے شی. دارنګه حدیث د مسلم (۹۱/۱) کښې دی : اذا زاد الرجل او نقص فلیسجد سجدتین. نو دا نص قطعی دے.

۲- **المسئلة الثانیة** : سجده سهو قبل السلام ده او که بعد السلام ؟ پدے کښې لس اقوال دی : ۱- **اول قول** : ټولے سجدے د سهو بعد السلام دی او دا قول د احنافو دے او د یو جماعت د صحابو دے لکه علی بن ابی طالب، سعد بن ابی وقاص، ابن مسعود، عمران بن حصین، انس بن مالك، مغیره بن شعبه، عمار بن یاسر ﷺ شو. دوی استدلال کوی په بعض احادیثو چه په هغې کښې بعد السلام سجدے راغلی دی. ۲- **قول ثانی** : ټولے سجدے د سهو قبل السلام دی او دا قول د امام شافعیؒ دے او په صحابه کرامو کښې د ابوسعید الخدری، ابن عباس، معاویه،

عبد الله بن زبير ﷺ دے مع الاختلاف عنهم في ذلك ۔او دا قول د زهري، مكحول، اوزاعي، او ليث بن سعد رحمهم الله او شوافعو دے۔ او امام ترمذيؒ د اكثرو فقهاؤ د مدينه نه او د ابو هريره ﷺ نه نقل كړيدے۔ دوی هم استدلال كوی په بعض احاديثو چه په هغے كښې سجدے قبل السلام راغلی دی۔

۳- **قول ثالث** : امام مالكؒ وائی : د زيادت په صورت كښې بعد السلام او د نقصان په صورت كښې به قبل السلام سجده كوی او دا قول د مزنيؒ او ابو ثورؒ او يو قول د امام شافعيؒ دے۔ دوی سره صحيح نقلی دليل نشته يو ضعيف حديث دے في اسناده عيسى بن ميمون المدني المعروف، ضعّفه الجمهور۔ بلكه عقلی قياسی دليل وائی : چه د نقصان په صورت كښې سجده سهو اصلاح او جبيره وی او دا محاله ده چه اصلاح دِے پس د خروج دمانځه نه اوشی او هر چه صورت د زيادت دے نو هغه د شيطان د ترغيم (ذليله كولو) دپاره ده نو مناسب ده چه د مانځه نه بهر دِے اوشی۔ كما قال ابن عبد البر۔ مگر ابن حزمؒ پدے رد كوی چه دا كوم ځائے ثابت دی چه جبر به خامخا په داخل كښې وی ځكه چه هدی او صيام جبيره د نقصان د حج ده او حال دا چه دا بعد الحج كيږی او عتق الرقبه او صدقه او صيام شهرين جبيره ده د نقصان د وطئ په ورځ د رمضان كښې او دا پس د رمضان نه كيږی ۔ فتدبر۔

٤- **قول رابع** : امام احمدؒ وائی كما حكاه الترمذي عنه : كوم ځائے كښې چه نبی عليه السلام سجده قبل السلام كړی وی هلته به قبل السلام كولے شی او كوم ځائے چه بعد السلام كړی وی هلته به بعد السلام كولے شی او كوم ځائے كښې چه د نبی ﷺ نه نقل نه وی نو هلته به قبل السلام كولے شی۔ او هغه مقامات چه نبی عليه السلام ﷺ په كښې سهوه شويدے پنځه دی ۱- كله اوله قعده پاتے شوه كما في حديث عبد الله بن بحينه ۲- دوه ركعاته ئے د څلورو په ځائے اوكړل كما في حديث ابی هريره ۳- درے په ځائے د څلورو اوكړل كما في حديث عمران بن حصين ٤-پنځه ركعاته (حديث ابن مسعود) ۵- او بل صورت د شك چه څلور به شوی وی او كه درے وغيره۔ (حديث ابی سعيد) پدے كښې په اول او آخر صورت كښې سجده قبل السلام شويده۔ او باقی بعد السلام۔ تحفة الاحوذي (۱/۴۲۵) ۵- **قول خامس** : هر حديث به په خپل محل كښې استعمالولے شی لكه د امام احمدؒ د مذهب په شان او كوم ځائے چه نص نه وی نو كه د نقصان صورت وی سجده به قبل السلام وی او كه زيادت وی نو بعد السلام به وی، او دا قول د اسحاق بن راهويهؒ دے لكه چه ترمذي ذكر كړيدے۔ ٦- **سادس** : كه د شك په صورت كښې بناء على الاقل كوی نو سجده به قبل السلام كوی لكه په حديث د ابن مسعود كښې راغلی دی او كه د شك په صورت كښې تحری باندے عمل كوی نو سجده به بعد السلام كوی لكه په حديث د ابو سعيد او عبد الرحمن بن عوف كښې راغلی دی۔ او دا مذهب د ابو حاتم بن حبانؒ دے او فرق كوی د تحری او بناء على اليقين په مابين كښې چه تحری ديته وائی چه د مونځ كونكی په

مانځه کښې شك پيدا شي چه څلور رکعاته مې اوکړل او که درې خو يو طرفته ئې رجحان وي نو دې وخت کښې به تحري (سوچ، غالب ګمان) کوي او په اغلب ګمان به بناء کوي او غلبه د ګمان به يا د قرائت د سورتونو نه معلومه کړي چه اول رکعت کښې مې فلانے سورت وغيره اولوستو نو کيدې شي چه دا دويم رکعت وي وغيره يا توخې يا تشهد وغيره سره معلوم کړي. او بناء على اليقين ديته وائي چه په دوه او درې رکعاتو کښې ئې شك پيدا شي يا په درې او څلورو کښې او هيڅ طرفته رجحان نه وي بالکل مساوات وي يا شك ئې هميشه شي او قادر په تحري نه وي يا تحري کوي ليکن هيڅ طرفته ئې غلبه دګمان نه پيدا کيږي نو پدې صورت کښې به بناء على الاقل کوي ځکه اقل يقيني دي او شك په زياتي کښې راغلے دے.

٧- **قول سابع** : ساهي اختيار مند دے که قبل السلام ئې کوي او که بعد السلام او صورت د زيادت وي او که د نقصان او دا ابن ابي شيبهؒ د علي ﷺ نه نقل کړيدے او يو قول د امام شافعيؒ دے. **دليل** دا وائي چه دواړه طريقې احاديثو کښې راغلي دي نو بس دواړه سنت دي. او دا قول امام بيهقيؒ غوره کړيدے او علامه ابوالحسن المباركفوريؒ په مرعاة المفاتيح (٤٠٧/٣) کښې او امام امير صنعانيؒ په سبل السلام (٢٠٦/١) کښې غوره کړيدے.

٨- **قول ثامن** : ټولې سجدې بعد السلام دي مګر صرف دوه ځايونو کښې ساهي اختيار مند دے چه قبل السلام ئې کوي او که بعد السلام. ١- يو دا چه اوله قعده پريدي او نيغ پاڅيږي او تشهد اونه وائي. ٢- دويم دا چه صورت د شك وي چه يو رکعت ئې اوکړو او که دوه- يا درې ئې اوکړل او که څلور نو بناء على الاقل به اوکړي او سجده سهو به قبل السلام اوکړي او دا قول د ابن حزمؒ او داود ظاهريؒ دے (المحلى (٨٤/٣، ٨٥) نيل الاوطار (١٣٧/٣).

او همدا قول اقرب الى السنة دے ابن حزمؒ وائي په صورت د بناء على الاقل کښې هم اختيار والا دے نو هغه تحري او بناء على اليقين يو ګرځولے دے ځکه ئې پکښې اختيار وئيلے دے مګر په احاديثو کښې د تحري او بناء على اليقين فرق موجود دے لهذا راجح دا ده چه په صورت د تحري کښې سجده بعد السلام اوکړي او په صورت د شك او بناء على اليقين کښې سجده قبل السلام اوکړي او پدې کښې عمل دے په ټولو احاديثو باندې. او پدې دوه مقاماتو کښې چه سجده قبل السلام ده نو دا روايت د بخاري او مسلم دے او د سنن په رواياتو کښې دا هم راغلي دي چه اوله قعده پاتې شوه نو سجده سهو ئې بعد السلام اوکړه (کما فى مسند احمد (٢٤٧/٤) وابى داود (١٠٣٧) ليکن په سند کښې ئې مسعودي (عبد الرحمن بن عبد الله بن عتبه بن مسعود صدوق اختلط قبل موته راغلے دے مګر عبد الرحمن بن ابى ليلىٰ عن الشعبى ئې متابعت کړيدے نو حديث ئې حسن دے کما فى صحيح الترمذى (٣٦٤) شيخ البانيؒ فرمائي : پدې صورت کښې سجده بعد السلام د مغيره بن شعبه نه هم نقل ده او سعد بن ابى وقاص هم پدې عمل کړيدے

او ابن عباس پدے باندے فتوی ورکړیده – صحیح سنن ابی داود (١٠٣٧) نو بناء پدے باندے يو مقام پاتے شو چه دے کښې قبل السلام ده باقي ټولے سجدے بعد السلام پکار دی۔

دليل ددے قول دا دے چه په ابوداود رقم (١٠٣٨) کښې په اسناد حسن سره د ثوبان نه نقل دی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی: لکل سهو سجدتان بعد ما یسلم) نو دا قولي حدیث دے او قاعده کلیه په کښې ذکر ده چه ټولے سجدے د سهو بعد السلام دی۔ مګر دوه ځایونه ترے مستثنیٰ دی چه هغه په حدیث د عبد الله بن بحینه کښې راغلی دی چه په روایت د نسائی (١/١٨١) کښې ورسره قبل التسليم ذکر دے او په متفق علیه کښې ورسره قبل ان یسلم دے وقد مر۔ او صورت د بناء علی ما استیقن کښې سجده قبل السلام دپاره دلیل روستو حدیث د ابو سعید خدریؓ راروان دے۔

٩- **قول** داود ظاهریؒ وائی: د منصوص مواضعو نه ما سوئ نورو ځایونو کښې سجدے نشته بس کوم ځائے کښې چه نبی ﷺ سجدے کړیدی صرف هغه به کولے شی نه نور۔

١٠- **قول** علامه شوکانیؒ خپل مذهب هم ذکر کړیدے چه کوم ځائے قید د قبل السلام راغلے وی هلته به ئے قبل السلام کوی او کوم ځائے چه بعد السلام قید وی هلته به ئے بعد السلام کوی او کوم ځائے چه مطلق راغلے وی نه ورسره قبل السلام قید وی او نه بعد السلام نو هلته اختیار دے برابره ده که زیادت ئے کړے وی او که نقصان **دليل** دا وائی چه حدیث د مسلم کښې د ابن مسعود ﷺ روایت دے: اذا زاد الرجل او نقص فلیسجد سجدتین) وائی: ټول اسباب د سجده سهو به یا زیادت وی یا به نقصان وی یا به مجموعه وی لهذا پدے صورت کښې اختیار شو مګر دا قول ضعیف دے وجه دا ده چه حدیث کښې قانون کلي راغلے دے که هغه صورت د زیادت وی او که د نقصان خو بعد السلام به وی الا ما استثنی منه فی نص الحدیث۔

فائده: پدے مسئله کښې دا اختلاف په افضلیت کښې دے نه په جواز کښې که چا په هر صورت د سهو کښې قبل السلام سجده اوکړه او که بعد السلام ټول جائز دی مګر اولیٰ قول هغه دے چه مخکښې ذکر شو کما قال النووی ونقل الماوردی وغیره الاجماع علی الجواز۔

٣- **المسئلة الثالثة**: سجده سهو نه بعد تشهد وئیل شته که نه؟ تفصیل ئے فصل ثانی کښې اوګوره۔ **المسئلة الرابعة**: سجده سهو دپاره چه سلام ګرځوی نو دوه دی که یو؟ پدے کښې دوه قوله دی: ١- **اول قول** دا دے چه دوه سلامونه به اړوی ځکه احادیثو کښې سلم لفظ راغلے او سلام چه مطلق ذکر شی نو مراد ترے دوه سلامونه وی۔

د احنافو نه درے روایات نقل دی: العرف الشذی (١/٩٢) کښې دی چه يو قول د احنافو دا دے چه دوه طرفونو ته به سلام اړوی او دا قوی قول دے آه۔ رد المحتار (١/٤٩٥) کښې دی چه يو سلام اصح دے او اختلاف د احنافو ئے ذکر کړیدے۔ او مراقی الفلاح ص (١١٣) کښې وائی: ښی طرفته يو سلام اړول په اصح قول کښې کافی دی۔ او هدایه کښې دی چه دوه سلامونه

صحيح دی۔ او فتح القدير (٤٣٧/١) كښې دی: يو سلام كښې ډير احتياط دے۔ انظر فتاوی الدين الخالص (١٢٨/٥) ٢- **قول ثانی** دا دے چه يو سلام به ښی طرف ته اړوی برابره ده امام وی او كه منفرد او كه مقتدی ځكه د سهو متعلق ټولو احاديثو كښې لفظ د (سلم، ثم سلم، يا لكل سهو سجدتان بعد السلام) راغلے دے او سلام واحد دے ځكه چه احاديثو كښې په مانځه كښې يو سلام كرځول هم راغلی دی كما تقدم فی الابواب السابقة ٢- دارنګه كه دوه سلامه وے نو راويانو به ذكر كولے او په يو حديث كښې هم دوه سلامونه ندی ذكر دليل دے چه يو سلام سنت دے۔ ٣- دريم دا چه د سجده سهو نه مخكښې سلام د مانځه د خروج دپاره نه دے بلكه د هغے نه روستو سجدے كولے شی دپاره د تتميم دمانځه۔ ٤- دارنګه كه دواړو طرفونو ته سلام واړوی نو بيا به مسبوقين د خپل مانځه پوره كولو دپاره پاڅيږی او امام به سجدهٔ سهوے له لاړ شی نو بيا به مسبوقين سجدے ته راواپس كيږی نو مونځ كښې به ئے خلل واقع شی۔

الفصل الاول

١- عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ، قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّ اَحَدَكُمْ اِذَا قَامَ يُصَلِّیْ جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَلَبَّسَ عَلَيْهِ حَتّٰی لَا يَدْرِیْ كَمْ صَلّٰی فَاِذَا وَجَدَ ذٰلِكَ اَحَدٌ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ، متفق عليه۔

ترجمه: او ابو هريره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ فرمائيلی دی: بيشكه يو تن ستاسو چه كله مانځه ته اودريږی نو د هغه خواته شيطان راځی او هغه په شك كښې واقع كوی (ګډوډ والے پرے راولی) تردے چه هغه (مونځ كونكے) پدے نه پوهيږی چه هغه څو ركعته اوكړل، نو كله چه يو تن په تاسو كښې دا كار اومومی نو هغه دِے (په قعده آخره كښې) د ناستے په حالت كښې دوه سجدے اوكړی۔ (بخاری ومسلم)

تشريح: په حديث كښې چه كوم صورت بيان شويدے دا د سهو سره متعلق نه دے بلكه د شك صورت دے او د شك او سهو په مابين كښې فرق دا دے چه په سهو كښې د يو جانب تعين وی چه فلانے شے هير شو او په شك كښې تردد وی چه آيا دا صحيح دے او كه هغه صحيح دے؟ رسول الله ﷺ هيڅ كله په شك او شبه كښې نه دے مبتلا شوے ځكه شك او شبه د شيطان په وجه پيدا كيږی او رسول الله ﷺ ته شيطان وسوسه نشوه اچولے پدے وجه ئے دلته احدكم لفظ ووئيلو، البته د غلبے د استغراق او آخرت طرفته د بے انتهاء توجه په بناء باندے سهوه راتلے شوه ۔ او د شك او سهو په سجدے كولو كښې هيڅ فرق نشته بلكه د دواړو يو حكم دے، چه په دواړو صورتونو كښې سجده كول واجب دی۔

قَامَ يُصَلِّیْ: صلاة لفظ عام دے شامل دے فرض او نفل دواړو ته نو په دواړو كښې سجده سهوه

ضروري ده ځکه د نقصان جبيره او د شيطان ذليله کولو ته انسان په دواړو مونځونو کښې محتاج دے او دا مذهب د جمهورو دے او ابن سيرينؒ او قتادهؒ او عطاءؒ وائي چه نفل مانځه کښې سجده سهوه نه ده مشروع. او دوی استدلال کړيدے چه صلاة مشترك لفظي دے نو عموم ورله نشته ځکه په بعض ځيزونو کښې دواړه مونځونه د يو بل نه جدا دی، نو نفلو ته شامل نه دے.

او جمهور روائي دا مشترك معنوی دے دواړه مونځونو کښې قدر مشترك شته چه هغه تحليل او تحريم او شروط وغيره دی. نو دواړو مونځونو ته شامل دے.

الشيطان نه مراد خنزب شيطان دے چه په مانځه کښې وسوسے اچوی.

فَلَبَّسَ عَلَيْهِ : يعني ګډوډوالے راولي په هغه باندے دا ثلاثي مجرد دی او لبس په فتحه سره ئے مصدر دے اشتباه او اختلاط راتلو ته وائي او مشدد هم صحيح دے د باب تفعيل نه. حديث دليل دے چه که مونځ هر څومره ګډوډ شي نو بيا هم ندے فاسد ۲– دارنګه په وسوسه د شيطان سره هم نه فاسديږی. کَمْ صَلّٰی : يعني چه يو رکعت ئے اوکړو او که دوه يا غير دد ے نه، يعني زړه ئے په وسوسه دومره مشغول شی چه اندازه د مانځه ورته معلومه نشی.

وَجَدَ ذٰلِكَ : يعني کله چه دا خپله ناپوهي اومومي يا تردد اومومی.

فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ : يعني د شيطان د خرکولو دپاره دے دوه سجدے د سهو اوکړی ځکه هغه پرے دا مونځ ګډوډ کړو، او شيطان باندے سجده ډيره درنه لګيږی نو د هغه سره دشمنی دا ده چه هغه له په کوم کار زور ورځی هغه اوکړے شي. بيا دا حديث دليل دے چه انسان په مانځه کښې هرڅومره ډيرے سهوے اوکړی خو صرف دوه سجدے ورله کافي دی. بيا پدے روايت کښې محل د سجدو متعين نه دے مګر امام زهریؒ په روايت د ابوداود کښې پدے حديث کښې دا لفظ ذکر کړيدے : قبل ان يسلم) او دا زيادت په مجموع الطرق د حسن درجه کښې دے کما قال الحافظ فی الفتح والمبارکفوری فی المرعاة او نور احاديث ئے هم تائيد کوی چه د شك دپاره به سجده سهو قبل السلام کوی.

۲–وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ اَبِیْ سَعِيْدٍ ﷺ قَالَ، قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اِذَا شَكَّ اَحَدُكُمْ فِیْ صَلَاتِهٖ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلّٰی ثَلَاثًا اَوْ اَرْبَعًا فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلٰی مَا اسْتَيْقَنَ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ اَنْ يُّسَلِّمَ فَاِنْ كَانَ صَلّٰی خَمْسًا شَفَعْنَ لَهٗ صَلَاتَهٗ وَاِنْ كَانَ صَلّٰی اِتْمَامًا لِاَرْبَعٍ كَانَتَا تَرْغِيْمًا لِلشَّيْطَانِ. رواه مسلم ورواه مالك عن عطاء مرسلاً وفی روايته : «شَفَعَهَا بِهَاتَيْنِ السَّجْدَتَيْنِ.

ترجمه : او عطاء بن يسار د ابو سعيد خدری ﷺ نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : کله چه يو تن په تاسو کښې په مانځه کښې په شك کښې واقع شي او پوهه نه شی چه څو

رکعته مونځ ئې اوکړو آیا درې رکعاته ئې اوکړل یا څلور؟ نو شك دې ګوزار کړي او په کوم عدد چه یقین وي په هغې دې (باقي مونځ) بناء کړي (یعنې دیو عدد تعیین دې اوکړي او په هغې دې مونځ پوره کړي) او بیا د سلام ګرځولو نه مخ دې دوه سجدې اوکړي، نو که ده پنځه رکعاته کړي وي نو دا پنځه رکعاته به د دوه سجدو په ذریعه دده مونځ جفت اوګرځوي او که هغه پوره څلور رکعاته کړي وي نو دا دوه سجدې به د شیطان د ذلت سبب اوګرځي. (مسلم) او امام مالك دا روایت د عطاء نه په طریقه د ارسال نقل کړیدې او د امام مالك په یو روایت کښې دا الفاظ دي: ''مونځ کونکې به ددې دوه سجدو په ذریعه پنځه رکعاته جفت اوګرځوي''.

تشریح: صورت د مسئلې دا دې چه یو شخص مونځ کوي او په مینځ د مانځه کښې ئې شك راپیدا شو دا پته ورته او نه لګیده چه ما څو رکعاته اوکړل؟ نو هغه له پکار دي چه د کم عدد تعیین اوکړي ځکه کم عدد متیقن دې مثلًا هغه ته دا شك راغلو چه ما درې رکعاته اوکړل که څلور؟ نو پدې صورت کښې دې درې رکعاته متعین کړي او باقي مونځ دې پدې باندې پوره کړي یعنې څلورم دې ورسره یو ځائې کړي او بیا په قعده آخره کښې دې د سلام نه مخکښې د سهو دوه سجدې اوکړي، نو که ده په واقع کښې مثلًا پنځه رکعاته کړي وي نو بیا هم څه نقصان نشته ځکه څلور رکعاته فرض شو او یو رکعت او دا دوه سجدې به د دوه رکعاتو په ځائې قائم شي نو مونځ به مکمل شي. او که څلور ئې پوره کړي وي نو پدې سجدو سره به شیطان ذلیله شي ځکه هغه دا شك پیدا کړې وو نو تا هغه په سجده کولو ذلیله کړو او مونځ دې هم مکمل څلور رکعاته اوکړو.

مسئله: که د مانځه د فارغیدو نه پس شك پیدا شي نو هغې ته به اعتبار نشي ورکولې ځکه اصل صحت د مونځ دې نو دا به وسوسه وي او چه ستا په مانځه کښې شك شي نو څه به کوې؟ ۱– **حسن بصریؒ** وائي: هر شك کښې سجده سهوه ده، یعنې که د یو انسان شك شو او پدې نه پوهیدو چه ما زیادت کړې او که نقصان نو بس ده باندې صرف سجدې دي او نور هیڅ پرې نشته. ۲– **جمهور علماء** وائي: بناء علي الیقین به کوي. چه هغه اقل دي. امام نوويؒ وائي دا مذهب د شافعيؒ او جمهورو دې. آه او دا قول د علي، ابوبکر صدیق، عمر، ابن مسعود ﷺ، ربیعهؒ او امام مالك دې او دا حدیث ئې دلیل دې. ۳– **احناف** وائي: ۱– که شك د مصلي عمر کښې یو کرت وي او عادت پرې نه وي نو مونځ د سر نه کول پکار دي ۲– او که شك ډیر وي بار بار راځي عادت ئې نو تحري به کوي یعنې په غالب ګمان به عمل کوي یعنې څو رکعاته چه ورته غالب ګمان کښې یاد وو نو هغو مره دې اوګڼي (علماء دیته تحري وائي) ۳– او که غالب ګمان یو طرفته نه وي نو کم عدد به اختیار کړي (دیته ترك الشك وبناء علي الیقین وائي) مثلًا د ماسپښین مانځه کښې ئې شك شو چه درې رکعاته ئې کړیدي او که څلور او غالب ګمان یو

طرفته هم نه وي نو درے ركعاته به شماركړي او يو ركعت به ورسره بل اوكړي نو مونځ به پوره كړي او آخر كښې به سجده سهو اوكړي. احنافو ددے مختلفو رواياتو د جمع كولو دپاره دا درے خبرے كړي دي نو د اولے خبرے دپاره حديث د عباده (ان رسول الله ﷺ سئل عن رجل سها في صلاته فلم يدر كم صلي فقال ليعد صلاته وليسجد سجدتين قاعداً) او حديث ميمونه بنت سعد (انها قالت: افتنا يارسول الله في رجل سها في صلاته فلا يدري كم صلي قال ينصرف ثم يقوم في صلاته حتي يعلم كم صلي الخ) په طبراني في الكبير كښې راغلي دي چه په هغے كښې د اعادے حكم دے نو دوي دا حمل كړيدے په هغه چا چه عمر كښې يوكرت سهو شويوي ليكن په هغے كښې د عمر خبره هم نشته او دا دواړه حديثونه ضعيف دي په حديث د عباده كښې اسحاق بن يحيى بن عباده دے چه د عباده ﷺ نمسے دے. علامه عراقيؒ او هيثميؒ وائي: د اسحاق د خپل نيكه عباده نه اوريدل ندي ثابت او په حديث د ميمونه كښې عثمان بن عبد الرحمن الطرائفي الجزري مختلف فيه راوي دے چه د مجاهيلو نه روايت كوي. دارنګه عبد الحميد بن يزيد پكښې مجهول راوي دے كما قال العراقي، هيثمي وائي: في اسناده مجاهيل. مجمع الزوائد (٢/١٥١)

نو دا صورت خوترے لرے كړه ضعيف دے، باقي دوه خبرو دپاره دليل په احاديثو د صحيحينو كښې راغلے دے. ٤- **شعبيؒ**، اوزاعيؒ او يو جماعت د سلفو وائي: په صورت د شك كښې چه په عدد د مانځه نه وي پوهه چه څو ركعاته مے اوكړل نوبار بار پرے اعاده د مانځه واجب ده ترديے چه يقين ئے راشي. ٥- **بعض** وائي: درے كرتو پورے اعاده به كوي او كه څلورم ځل ئے شك راغلو نو اعاده پرے نشته. دوي هم استدلال كوي په دغه حديث د عباده او ميمونه باندے ليكن دواړه ضعيف دي. او جمهور علماؤ د بناء علي اليقين او تحري صورتونه يو حساب كړيدي ليكن صحيح دا ده چه دواړو كښې فرق دے كما تقدم.

بيا شك په لغت كښې په زړه كښې مطلق تردد راتلو ته او نه يقين ته وائي او دا عام دے شك اصطلاحي او وهم او ظن او غالب الظن ټولو ته شامل دے. او په اصطلاح د متاخرينو كښې شك تساوي الطرفين ته وائي. نو دلته كه د شك نه مراد تساوي الطرفين شي نو بيا دا صورت د بناء علي اليقين دے يعني غالب ګمان يو طرفته هم نشته چه درے ركعاته دي او كه څلور نو دا څلورم ركعت چه مشكوك فيه دے دا پريده او بناء په يقين اوكړه چه هغه درے ركعاته دي او بل ركعت ورسره يو ځائے كړه بيا د سلام نه مخكښې سجدے د سهو اوكړه.

نو دلته د فليطرح الشك نه مشكوك فيه ركعت مراد دے چه هغه څلورم ركعت دے او وليبن علي ما استيقن نه مراد هغه ركعت دے چه هغه متيقن (يقيني) وي چه هغه اقل دے او هغه درے ركعاته دي ځكه شك په څلورم كښې دے او دريم ركعت خو يقيني دے. او د تحري مسئله روستو راروانه ده. احنافو پدے حديث باندے استدلال كړيدے مګر پدے كښې خو سجده قبل

السلام راغلـه نو پـدے شـق بانـدے ورسره پوره عمل نه کوی۔
فَـاِنْ کَـانَ صَلّٰی خَمْسًا : دے کـښـ فـائـده د سجـدهٔ سهوے بيانوی او دا حديث واضح رد دے په مسئـلـه د ضم د رکعت سادسه باندے کوم چه فقهاءِ احنافو جوړه کړيده هغه دا چه وائی : که يو انسان قعده آخره اونه کړی او بـيـغ پنځم رکعت ته پاځيدو نو که پنځم رکعت کښ ئے سجده نه وه کړے راواپس به شی او آخر کښ به سجدهٔ سهو اوکړی او که سجده ئے اوکړه نو بيا ورله مونځ قطع کول هم جائز دی او که نه ئے قطع کوی نو بيا به ورسره بل شپږم رکعت يو ځائے کړی او ټول مونځ به ئے په نفلو بدل شی عند ابی حنيفه ۔ او صاحبين وائی : هر کله چه وصف د فرضيت باطـل شـو نـو اصـل مـونـځ باطل شو، او که قعده آخره ئے اوکړه او بيا پنځم رکعت ته پاځيدو او سجده ئے اوکړه نو شپږم رکعت به ورسره يو ځائے کوی ځکه يو رکعت نفل مونځ نشته نو شپږم به ورسره يو ځائے کړی دے دپاره چه څلور رکعاته فرض حساب شی او دوه رکعاته نفل او د ترک د واجبـو د وجه نه به سجدهٔ سهو اوکړی۔ ديته مسئلهٔ د ضم السادسه وائی امام نوویؒ شرح مسلم کـښ لـيـکـی : د ضم مسـئـلـه بے دليله ده او دد ے حديث خلاف ده بلکه صحيح مسئله دا ده چه قعده آخره شوی وی او که نه خو راواپس کيږے به هر ځائے کښ چه وے او سجدهٔ سهو به اوکړے دا به د هغه نقصان يا زيادت قائمقام شی او د ضم والا قصے نشته۔

صاحب د مرعات وائی پدے حديث کښ رد دے په هغه چا چه په شك کښ ئے تفصيل کړيدے چه اول کـرت وی يا دوبم کـرت وی ځـکـه حديث مطلق راغلے دے او دا ارفق دے په خلقو باندے ځکه نبی عليه السلام رحمت او رأفت راليږلے شويدے خلقو دپاره ۔ نو اعادے ته ضرورت نشته ۔المرعاة (٣/٤٠٠)

اِتْمَامًا لِاَرْبَعٍ : دا يا مـفـعـول له دے يعنی که ده دغه شکی مونځ کړے وی د وجه د پوره کولو د څلورو رکعتونو نه۔ يا حال دے : يعنی که دغه د شك والا مونځ ئے کړے وی پداسے حال کښ چه پوره کـونـکے وی د څلورو رکعتـونـو نو بس کوم مونځ چه پرے لازم وو هغه ئے ادا کړل بغير د زيادت او نقصان نه۔ ترغيم : د رغام نه ماخوذ دے يعنی شيطان د خاورو سره ککړ کولو يعنی ذليله کولو دپاره شو۔ هر کله چه نبی عليه السلام علت ارغام الشيطان اوګرځولو نو پدے کښ رد راغـلـو پـه ابـو طـالـب الـمـکـی او امام يحيی او امام شافعیؒ باندے (کما فی البحر) چه هغوی وئيلی دی چه سجدهٔ سهو په هغه اسبابو واجبيږی چه قصداً د مصلی نه صادر شوی وی ځکه ارغام د شيطـان پـه هـغـه شـی کيږی چـه هغه د شيطان په سبب راپيدا شوی وی او قصد خو د شيطان نه ندے بلکه دا خو د مصلی نه وی۔ نيل الاوطار (٣/١٤٢)

٣- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ، اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا، فَقِيْلَ لَهُ : أَزِيْدَ فِي

الصَّلَاةِ ؟ فَقَالَ : وَمَاذَاكَ ؟ قَالُوا : صَلَّيْتَ خَمْساً، فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ، وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ : اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ، اَنْسٰى كَمَا تَنْسَوْنَ، فَاِذَا نَسِيْتُ فَذَكِّرُوْنِيْ، وَاِذَا شَكَّ اَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاتِهٖ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ، فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ . متفق عليه

ترجمه : او عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د ماسپښين مونځ پنځه رکعاته اوکړل، نو هغه نه تپوس اوکړے شو چه آيا په مانځه کښې زيادت اوکړے شو ؟ (يعنې د الله د طرفنه حکم راغلو چه څلور رکعاته به پنځه کوئ ؟ او که نه سهوه اوشوه) رسول الله ﷺ اوفرمايل : څه اوشو ؟ صحابه کرامو عرض اوکړو چه تاسو پنځه رکعاته اوکړل (دے اوريدو سره هغه پاڅيدو) نو دوه سجدے ئے د سلام اړولو نه پس اوکړے. او په يو روايت کښې دي : نبي ﷺ اوفرمايل : زه هم ستاسو په شان انسان يم لکه څنگه چه تاسو نه هيره کيږي ما باندے هم هيره راځي. نو کله چه ما نه هير شي نو ما ته ياد دهاني راکوئ ! او کله چه د يو تن ستاسو په مانځه کښې شك راشي نو هغه دِے د صحيح رائے سوچ اوکړي او پدے رائے باندے دِے مونځ پوره کړي، بيا دِے سلام واړوي بيا دِے دوه سجدے اوکړي. (بخاري ومسلم)

تشريح : فوائد الحديث : ١- دا حديث دليل دے چه څوك په سهوه سره پنځه رکعاته اوکړي او په څلورم رکعت ناسته اونکړي نو دده مونځ ندے فاسد بلکه سجده سهوه سره جبيره کيږي. خلافا للحنفيه چه هغوي ئے باطل گنړي. احناف وائي : نبي ﷺ په څلورم رکعت ناسته کړيده بيا پنځم ته پاڅيدلے دے ليکن دا مجرد دعویٰ ده هيڅ دليل پرے نشته څکه ددے نقل نشته کما قال السندي بلکه شاه انور شاه الکشميري په نفي د جلوس باندے په څلورم رکعت کښې تصريح ذکر کړيده د معجم الطبراني نه، هغه وئيلي دي چه په معجم د طبراني کښې نفي د قعدے ده په څلورم رکعت باندے صراحةً نو په مونږ باندے خبره مشکله شوه او ددے خو جواب ضروري دے انتهیٰ (فيض الباري ٢/٤٣٩) بيا د فيض الباري جامع وئيلي دي چه ما د شيخ نه ددے جواب نه دے اوريدلے او نه راته موقع ملاو شويده چه ما ترے د جواب تپوس کړے وے خو بيا هم خبره مشکله ده. انتهیٰ. بله دا چه که مونږ اومنو چه په څلورم رکعت ناست دے نو بيا هم په احنافو باندے اشکال پاتے دے څکه هغوي وائي چه ضم د شپږم رکعت به کوي او دلته اکتفاء په دوه سجدو شويده. على کل حال احناف ددے حديث مخالفت کښې واقع کيږي. امام ابن خزيمهؒ فرمائي : ددے حديث نه عراقينو خلاف کړيدے (فتح الباري ٣/٤٢٤)

٢- په مانځه کښې په سهوه سره زيادت کول مونځ نه باطلوي. ٣- څوك چه په خپله سهوه باندے د سلام نه روستو پوهه شي هم سجده سهوه به کوي. ٤- په مانځه کښې قصداً د اصلاح

دپاره خبرے شویدی نو دا جواز لری او پدے سره مونځ نه فاسدیږی ٥- څوك چه د قبلے نه په سهوه سره واوړی په هغه باندے اعاده د مانځه نشته ـ (فتح الباری)

٦- امام چه کله خطاء شی نو مراجعه به کوی مقتدیانو ته او که مینځ کښ دواړه خبرے اترے اوکړی نو د دواړو مونځ جائز دے۔ او دا قول د جمهورو علماؤ دے من السلف والخلف کما قال النووی فی شرح مسلم (٢١٤/١) صرف امام احمدؒ وائی : چه د مقتدیانو مونځ فاسد دے څکه دوی خبر دی په یقین سره چه مونځ کښ کمے زیاتے اوشو او قصداً خبرے کوی لیکن راجح دا ده چه که دوی خبر وی هم مونځ ئے جائز دے څکه دوی د امام تابع دي او د هغه مونځ چه صحیح شو نو د مقتدیانو مونځ هم اوشو بله دا چه نبی ﷺ صحابه کرامو ته پس ددے خبرو نه دا حکم اونکړو چه تاسو خو مینځ د مانځه کښ قصداً خبرے کړیدی ستا مونځ فاسد دے۔ او آینده کښ دا کار مه کوئ بله دا چه په مسلم (٢١٢/١) کښ دی : ابراهیم بن سوید النخعی (یا ابراهیم بن یزید النخعی علی اختلاف القولین والاول ارجح) فرمائی : مونږ ته علقمه د ماسپښین مونځ کولو نو پنځه رکعاته ئے اوکړل خلقو ورته اووئیل : یا اباشبل ! تا پنځه رکعاته اوکړل، هغه اوفرمایل : هیڅ کله ما ندی کړی، ابراهیم وائی : زه په یو طرف د قوم کښ وو او زه هلك وم نو ما اووئیل : آؤ تا پنځه اوکړل نو ما ته ئے اووئیل : اے اعورا ته هم دا خبره کوے؟ بیا لاړو او دوه سجدے اوکړے بیا ئے سلام واړولو بیا ئے اوفرمایل : عبد الله بن مسعود فرمائیلی دی : چه مونږ ته رسول الله ﷺ دغه شان مونځ اوکړو او آخر کښ ئے دوه سجدے اوکړے او ز مونږ ددے حدیث الباب په شان روایت ئے ذکر کړو۔ ٧- حدیث دلیل دے چه نبی ﷺ عالم الغیب نه دے۔

٨- امام ته فتح ورکول جواز لری کله ئے چه دومره تلاوت نه وی کړے چه په هغے کښ مونځ جائز کیږی۔ دلته نبی ﷺ صحابه کرامو ته حکم کوی چه زه هم انسان یم کله چه ما نه هیره اوشی ما ته فتح راکوئ او د فتح ورکولو دپاره آیت هم دلیل دے وتعاونوا علی البر والتقویٰ ـ

٩- فتح د خارج الصلاة او داخل دواړو نه ورکول جواز لری۔ فقه حنفی کښ دی چه فتح د خارج الصلاة نه منع ده او مفسد د مانځه ده څکه فتح تعلیم او تعلم دے او دا د خارج نه نه صحیح کیږی، مونځ فاسدیږی لیکن راجح دا ده چه مونځ نه فاسدیږی څکه نبی ﷺ ته دلته من وجهٍ د خارج نه فتح ورکړے شوه چه تا زیادت اوکړو۔ او بل دلیل باب ما لایجوز من العمل فی الصلاة کښ تیر شو چه افلح ته نبی ﷺ اوفرمایل : یا افلح ترب وجهك۔

١٠- دا حدیث دلیل دے د هغه علماؤ چه ټولے سجده سهوے بعد السلام دی لیکن دا استدلال په محل د نظر کښ دے څکه چه دلته نبی ﷺ د سلام اړولو نه پس په سهوه پوهه شو صرف دوه سجدے پاتے وے او په داسے صورت کښ خو اتفاق دے چه سجده سهو بعد السلام ده څکه مخکښ د سلام نه خو ممکن نه ده څکه مخکښ نه خو علم په سهو نه وو۔

وَإِذَا شَكَّ اَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاتِهٖ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ: دلته **سوال** دا دے چه دا حديث معارض دے ددے مخکنی حديث د عطاء بن يسارؒ ځکه هلته دی چه په صورت د شك کښې به بناء په متيقن کوی چه هغه اقل دی او دلته وائی چه (تحری، غلبه د ګمان) لره به اعتبار ورکوی؟ ددے **جواب** دا دے چه هلته د شك جدا معنی ده او دلته د شك جدا معنی ده هلته د شك نه تساوی د طرفينو مراد وه چه د انسان داسے تردد او شك وی چه يو طرف ته ئے غالب ګمان نه وی او دلته د شك نه غالب ګمان مراد دے ځکه شك په لغت کښې عام دے شك، ظن، غالب ګمان او وهم ته شامل دے نو اول صورت کښې به بناء على الاقل کوی او دلته غالب ګمان مراد دے نو د يو انسان شك شی پداسے طريقه چه يو طرف ته ئے غالب ګمان وی مثلاً چه درے مے اوکړل يا ئے غالب ګمان وی چه څلور مے اوکړل نو په هغے باندے به باقی مونځ پوره کړی نو که غالب ګمان ئے په دريو جوړ شو نو څلورم به ورسره يو ځائے کړی او که غالب ګمان ئے په څلورو جوړ شو نو پنځم ته به نه پاځی بلکه قعده وغيره دِ ے اوکړی او آخر کښې دِ ے سجده سهوه اوکړی پس د سلام اړولو نه۔

شوافع تحری نه منی نو پدے وجه دے حديث کښې تاويل کوی او دا راجع کوی بناء على الاقل ته نو امام شافعیؒ وائی: فليتحر الصواب معنی دا ده: چه تلاش دِ کړی هغه شے چه دده پرے ګمان وی چه ده ناقص کړيدے نو هغه دِ ے پوره کړی نو تحری دا شوه چه کوم رکعت کښې ئے شك وی هغه دے دوباره اوکړی او بناء على الاقل دِ ے اوکړی۔ مرعاة (۴۰۵/۳)

مګر صحيح دا ده چه دواړه جدا جدا حکمونه دی۔ علامه شوکانیؒ وائی د تحری او بناء على ما استيقن ترمينځ هيڅ تعارض نشته ځکه چه د تحری عامه معنی ده چه طلب ما هو احری الی الصواب يعنی کوم شے چه حق ته ډير نزدے وی هغه طلب کول۔ نو کله چه انسان ته شك عارض شو نو اول به فکر اوکړی چه څو رکعاته مے اوکړل نو غالب ګمان ئے که په اقل راغلو په هغے به عمل اوکړی او که په اکثر راغلو په هغے به عمل اوکړی او که په هيڅ نه پوهيدو چه څو رکعاته اوشو نو په هغه وخت کښې به شك لرے کړی او په اقل به بناء اوکړی نو تحری مقدم ده په بناء على الاقل باندے۔

٤- وَعَنِ ابْنِ سِيْرِيْنَ، عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ، قَالَ: صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِحْدٰى صَلَاتَيِ الْعَشِيِّ- قَالَ ابْنُ سِيْرِيْنَ: قَدْ سَمَّاهَا اَبُوْهُرَيْرَةَ، وَلٰكِنْ نَسِيْتُ اَنَا - قَالَ: فَصَلّٰى بِنَا رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، فَقَامَ اِلٰى خَشَبَةٍ مَعْرُوْضَةٍ فِي الْمَسْجِدِ، فَاتَّكَأَ عَلَيْهَا كَاَنَّهٗ غَضْبَانُ، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى وَشَبَّكَ بَيْنَ اَصَابِعِهٖ، وَوَضَعَ خَدَّهُ الْاَيْمَنَ عَلٰى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرٰى، وَخَرَجَتْ سَرْعَانُ الْقَوْمِ مِنْ اَبْوَابِ الْمَسْجِدِ، فَقَالُوْا: قُصِرَتِ الصَّلَاةُ، وَفِي الْقَوْمِ اَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، فَهَابَاهُ اَنْ يُّكَلِّمَاهُ، وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ فِيْ يَدَيْهِ طُوْلٌ،

يُقَالُ لَهُ : ذُو الْيَدَيْنِ، قَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ! أَنَسِيْتَ أَمْ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ ؟ فَقَالَ : «لَمْ أَنْسَ، وَلَمْ تُقْصَرْ» فَقَالَ: «أَكَمَا يَقُوْلُ ذُو الْيَدَيْنِ؟» فَقَالُوْا نَعَمْ! فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى مَا تَرَكَ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُوْدِهٖ أَوْ أَطْوَلَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهٗ وَكَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُوْدِهٖ أَوْ أَطْوَلَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهٗ وَكَبَّرَ، فَرُبَّمَا سَأَلُوْهُ : ثُمَّ سَلَّمَ ؟، فَيَقُوْلُ : نُبِّئْتُ أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ : «ثُمَّ سَلَّمَ». متفق عليه، ولفظه للبخاري، وفي أُخْرٰى لَهُمَا : فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَدَلَ «لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ»، «كُلُّ ذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ» فَقَالَ : قَدْ كَانَ بَعْضُ ذٰلِكَ يَارَسُوْلَ اللهِ!.

ترجمه : ابن سيرين د ابو هريره ﷺ نه روايت کوي چه رسول الله ﷺ مونږ ته (يوه ورځ) د ماسپښين يا مازيګر مونځ اوکړو -ابن سيرين وائي ابو هريره د هغې نوم ما ته اخستې وو ليکن ما هير کړو- هغه اوفرمايل : مونږ ته (نبي عليه السلام) دوه رکعاته اوکړل ، بيا ئې سلام اوګرځولو، نو په مسجد کښې يو لرګي ته پاڅيدو چه هغه پلن پروت وو نو په هغې باندې ئې تکيه اولګوله ګويا کښې غصه دې. او ښې لاس ئې په ګس باندې کيخودو او يو بل کښې ئې ګوتې ورکړې او ښې اننګې ئې د چپ ورغوي په شا باندې کيخودو، او جلتي کونکي خلق د مسجد د دروازو نه اووتل، نو صحابه کرامو اووئيل : مونځ لنډ کړے شو، او په دے قوم کښې ابوبکر او عمر (هم) وو، هغوي دواړه (هم) يريدل چه د نبي عليه السلام سره (په دے باره کښې) خبرے اوکړي (ځکه د نبي عليه السلام رعب زيات وو او په دے موقعه ئې په طبيعت کښې انقباض شانته ښکاريدو) او په دے خلقو کښې يو سړے وو چه د هغه په لاسونو کښې څه اوګد والے وو، چه هغه ته به ذو اليدين (دوه لاسونو والا) وئيلے شو (يعني رسول الله ﷺ به ورته ذو اليدين وئيلو) هغه اووئيل : يارسول الله ! آيا تا نه هير شو او که مونځ کښې کمي راغلے ؟ نبي ﷺ اوفرمايل : نه ما هير کړي او نه مونځ کم شويدے، (بيا صحابه کرامو ته متوجه شو) وے فرمايل : آيا تاسو هم داسے وايئ څنګه چه ذو اليدين وائي ؟ صحابوٌ عرض اوکړو : آو- (همدغه شان ده) (دے اوريدو سره) رسول الله ﷺ مخکښې شو او کوم رکعاتونه ئې چه پريخي وو هغه ئې اوکړل بيا ئې سلام اوګرځولو بيا ئې الله اکبر اوکړو او د عام سجدو په شان يا د هغې نه اوګده سجده ئې اوکړه، بيا ئې سر راپورته کړو او الله اکبر ئې اووئيلو، بيا ئې سجده اوکړه د مخکښنو سجدو په شان يا د هغې نه اوګده بيا ئې سر پورته کړو او الله اکبر ئې اووئيلو، خلقو د ابن سيرين نه تپوس اوکړو چه : بيا ئې سلام اوګرځولو؟- نو هغه اووئيل : ما ته خبر راکړے شويدے چه عمران بن حصين وئيلي دي : چه بيا ئې سلام اوګرځولو- (بخاري ومسلم) او الفاظ د بخاري دي، او د بخاري او مسلم په يو روايت کښې دي : چه رسول الله ﷺ (ذو اليدين په جواب کښې) د لم انس ولم تقصر په ځائے دا اوفرمايل :

تاسو چه څه وايئ پدے کښې هيڅ نه دي شوي. هغه عرض اوکړو : يارسول الله ! ددے نه څه بعض خو ضرور شويدي.

د ابن سيرين تعارف : دده نوم محمد ابوبکر الانصاري دے دده پلار سيرين د انس بن مالك آزاد کړده غلام دے چه په عين التمر کښې نيولے شوے وو او د جاهليت زمانه ئے موندلے ده او په زمانه د خلافت د ابوبکر کښې قيدي شوے وو دا محمد بصري، ثقه ثبت ، عابد، کبير القدر د کبار التابعين نه دے دده ورونه او خويندے انس، معبد، يحيي، حفصه اوکريمه ټول تابعين دي، او کله چه ابن سيرين مطلق ذکر شي مراد ترے محمد وي. ابو عوانه وائي : ما ابن سيرين په بازار کښې اوليدلو او هر چا به چه ليدلو نو الله به ورته يادېدلو. او ده يو کور په اتيا زره ديناره واخستو نو بيا ئے زړه کښې څه تغير پيدا شو نو هغه ئے پريخودو، حافظ وائي : دا په روايت بالمعنى کولو باندے قائل نه وو د عثمان د خلافت ختميدو نه دوه کاله مخکښې پيدا شو او په نهم د شوال کښې په سنه (۱۱۰ هـ) کښې د (۷۷) کالو په عمر وفات شو.

تشريح : سند ئے ذکر کړو ځکه چه روستو خبره د ابن سيرين ذکر کيږي.

فوائد الحديث : ۱ – حديث نه معلومه شوه چه په مانځه کښې د اصلاح خبرے اگرچه قصداً وي جائز دي دلته د دوه رکعاتو نه پس نبي ﷺ کارونه هم اوکړل او خبرے ئے هم اوکړے او بيا هم ازسرِ نو مونځ واپس اونکړو بلکه باقي پاتے دوه رکعتونه ئے پوره کړل . او دا هغه حديث دے چه احناف ئے حيران کړيدي ځکه د هغوي په نزد باندے په مانځه کښې هر قسم خبرے مطلقاً مفسد د مانځه دي قصداً وي او که سهواً وي. نو هغوي پدے حديث باندے اعتراضونه کړيدي. ۱ – اول اعتراض دا چه دا حديث منسوخ دے او دا د هغه زمانے واقعه ده چه په مانځه کښې د کلام او افعالو جواز نه وو منسوخ شوے روستو بيا په وقوموا لله قانتين سره منسوخ شو . او ددے تائيد پدے سره کوي چه ذو اليدين خو په بدر کښې وفات شويدے او آيت روستو نازل دے او ددے دپاره ئے اقوال د علماؤ پيش کړيدي لکه زهريّ وائي چه دا واقعه قبل بدر ده.

الجواب : ددے جواب دا دے چه آيت قوموا لله قانتين په مکه کښې نازل دے من اوائل ما نزل بمكة دے (پنځم کال د نبوت) او ددے حديث راوي ابو هريره دے او هغه خو په شپږم کال د هجرت ايمان راوړيدے او هغه پخپله پدے واقعه کښې حاضر دے ځکه هغه وائي (صلى بنا رسول الله ﷺ) نو دا صريح دے په حضور د ابو هريره کښې دغه مانځه ته نو دا په مجاز باندے حمل کول لکه طحاويّ چه کړيدے غلط دي. بله دا چه صحابه کرامو کښې دوه کسان وو يو ذو اليدين او بل ذو الشمالين وو د ذو الشمالين نوم دے عمير بن عبد عمرو بن نضله الخزاعي او دا په بدر کښې شهيد دے كما في شذرات الذهب (۳/۱) او هر چه ذو اليدين دے نو د هغه نوم خرباق السلمي دے او هغه د نبي ﷺ نه څه موده روستو وفات شويدے او هغه به دا قصه د نبي ﷺ د وفات نه پس

بيانولـه لـكـه طبراني وغيـره نـقـل كړيدي ـ او دا قول د اكثرو محدثينو او مورخينو دے او ابن حبان، ابن الاثرم او ابن عبد البر غوره كړيدے او علائي وائي همدا خبره صحيح ده. كما في المرعاة (۴۰۸/۳)ونيل الاوطار (۱۳۲/۳) بعض علماؤ جمع داسے كړيده چه داسے قصه دوه كرت واقع شويده د ذي الشمالين او ذي اليدين دواړو سره او ابو هريره په دويمه قصه كښې حاضر دے او اوله قصه ئے مرسلاً ذكر كړيده ـ لكه دا خبره قاضي عياض غوره كړيده ـ يا زهريؒ ته وهم لګيدلے دے، علامه بيهقيؒ د امام حاكم نه نقل كوي: كل من قال ذلك فقد اخطأ انتهىٰ السنن الكبرىٰ (۳۶۷/۲)ـ

۳– او دا احتمال هم شته چه دواړه صحابو كښې ئے هريو ته ذو اليدين او ذو الشمالين وئيلو د هريو دوه نومونه وو نو ځكه دا سبب د اشتباه اوګرځيدو او ابو هريره متأخر الاسلام دے او هغه د ذو اليدين په قصه كښې حاضر دے نو دا واضح ثبوت دے چه دا حديث نه دے منسوخ ـ

بله دا چه ډيرو صحابه كرامو او تابعينو پدے باندے د نبي عليه السلام د وفات نه پس عمل كړيدے كه دا منسوخ وے نو صحابه كرامو ته به معلومه وے ـ

بله دا چه د اصلاح د مانځه دپاره د خبرو جواز ثابته پدے حديث د ذو اليدين نه دے بلكه ډير احاديث دي لكه مخكښې د مسلم حديث كښې د علقمه او ابراهيم نخعي واقعه ذكر شوه ـ دارنګه ابن زبير د ماښام په مانځه كښې دوه ركعاتو كښې سلام واړولو او بيا حجر اسود ته پاځيدو او بيا ئے خبرے هم اوكړے او د هغے نه پس ئے مونځ پوره كړو او سجده سهوه ئے اوكړه، دغه شان معاويه بن الحكم السلمي حديث تير شو چه يو سړي د پرنجي جواب په مانځه كښې وركړو په جهالت، نو د جهالت او نسيان په صورت كښې خبرے جواز لري او دغه شان نور روايات په فتاوي الدين الخالص (۹۲/۵) كښې اوګوره چه دلالت كوي چه دا حديث ندے منسوخ او د رسول الله ﷺ د زمانے نه بعد څو نسخ نه راځي او صحابه كرامو پدے باندے په روستو زمانو كښې عملونه كړيدي چه علقمه او ابراهيم او امام مسلم وغيره په دغه نسخ پوهه نشو او بعض خلقو ته دے هغه معلومه شي كلا وحاشا لله؟ـ

او د احنافو سره بله قرينه په نسخ د حديث د ذي اليدين روايت د عمر دے چه هغه ملګرو ته مونځ كولو نو دوه ركعاتو كښې ئے سلام اوګرځولو نو ملګرو ورته اووئيل چه دوه ركعاته دے اوكړل نو هغه دوباره مونځ اوكړو او دا ئے اووئيل: اني جهزت عيراً من العراق باحمالها واحقابها حتى وردت المدينة. طحاوي (۲۹۴/۱) ددے ۱– يو جواب دا دے چه دا حديث ضعيف دے ځكه دا عطاء بن ابي رباح نقل كړيدے او هغه د عمر فاروق سره ملاقات ندے شوے، نو روايت منقطع دے ځكه عطاء د عثمان د خلافت په مابين كښې پيدا شويدے ـ كما في سير اعلام النبلاء (۷۹/۵) نو په مخالفت د صحيح احاديثو كښې پدے روايت باندے استدلال صحيح نه دے ـ

۲– دویم دا چه دلته عمل باحد الجائزین شویدے ځکه اعاده او بناء دواړه جائز دی۔ فتدبر۔

۳– اعتراض : دا حدیث متناً مضطرب دے ځکه کله وائی د ماسپښین مونځ وو او کله وائی د مازیګر، کله وائی دوه رکعاته اوشو کله وائی درے اوشو۔

ددے جواب دا دے چه اضطراب په دوه قسمه دے یو هغه دے چه تطبیق نشی کیدے نو دا مضر دے او دویم هغه دے چه تطبیق ممکن وی په الفاظو کښ چه د یو بل تفسیر واقع شی لکه دلته بعض تفسیر د بعضو دے نو دا مضر نه دے نو که یو قوی وی او بل ضعیف وی نو ترجیح به ورکړو یو لره او که دواړه قوی وی نو تفسیر به واقع شی او دلته دواړه قوی دی امام بخاری دے حدیث ته صحیح وئیلے دے او که ماسپښین مونځ وی او که د مازیګر څه نقصان نشته ځکه د دواړو احکام یو دی او هر چه د دوه رکعاتو پریخودو واقعه ده نو هغه جدا واقعه ده او د دریو رکعاتو پریخودو جدا واقعه ده روایتونه بدل دی د دریو رکعاتو واقعه روایت د عمران بن حصین دے او دا د ابو هریره روایت دے او که دواړه یوه واقعه شی نو په عدد معین بدلیدو سره څه نقصان هم نه راځی۔ او ډیرو احنافو اقرار کړیدے چه ددے حدیث نه جواب شافی نشته کما قال عبد الحی اللکهنوی وصاحب العرف الشذی و صاحب البحر الرائق کما فی المرعاة (۴۰۹/۳)

۴–فائده : کوم مونځ کښ چه مینځ کښ سهو سره سلام واړوی نو دا بقی مونځ به پوره کوی اګرکه ډیر فصل راغلے وی۔ کما فی المحلی (۷۷/۳)

اِحْدٰی صَلَاتَیِ الْعَشِیِّ : عشی د زوال نه تر غروب الشمس پورے وقت ته وائی نو پدے روایت کښ د هغے تعیین نه دے شوے چه کوم مونځ وو بعض روایاتو کښ دی چه دا د ماسپښین مونځ وو لیکن بعض نورو روایاتو کښ دی چه د مازیګر مونځ وو او همدا خبره راجحه ده ځکه چه دا په جزم سره نقل ده۔ او په تعدد د قصه باندے حمل کول بعید دی۔ فتح الباری۔

وَلٰکِنْ نَسِیْتُ اَنَا : په روایت د نسائی کښ دی چه ابو هریره پکښ شك کړیدے۔

مَعْرُوْضَةٍ فِی الْمَسْجِد : په پلنو باندے د کجورے یوه سته پرته وه ۔ په روایت د بخاری کښ دی فی مقدم المسجد او په روایت د مسلم کښ دی (فی قبلة المسجد)

غَضْبَانُ: غصه ولے وو؟ ځکه چه نفوس طاهره نه چه کله سهو سره نقصان اوشی خفه کیږی نو دلته مانځه کښ سهو اوشوه ځکه ئے طبیعت کښ تغیر راغلو۔

بعض وائی : د مخکښ نه غصه وو پدے وجه سهو شو۔ بعض وائی : په نفس کښ ئے ددے فعل په وجه تردد او شك وو پدے چه غصه معلومیدو۔

فائده : مسجد کښ څملاستل جواز لری ۔ ۲– د مانځه نه بعد تشبیك (ګوتے په ګوتو کښ ننباسل) جائز دی دلته نبی ﷺ اګرچه لا په مانځه کښ دے لیکن د هغه په نزد خارج دے۔

۳–نبی ﷺ د تکلفاتو والا نه دے په ژوند کښ ئے ساده ګی وه بالختونه او تکیه ګانے په پسے نه

ګرځیدلے۔ ٤- راوی په خپل روایت کښې دومره احتیاط کوی چه د نبی ﷺ تول اعمال هم ذکر کوی دا دلیل دے چه صحابه کرامو د نبی ﷺ د هر عمل او قول بیان کریدے۔

سَرَعَانُ الْقَوْمِ : دا په فتحه د سین او عین سره دے او سکون د راء هم جائز دے۔ او ضمه د سین او سکون د راء جمع د سریع هم جائز ده کما حکی عیاض عن الاصیلی۔ او کسره د سین پدے مقام کښې غلطه ده یعنی تادئ والا خلق اووتل یعنی دکومو خلکو چه کارونه وو هغه اووتل۔

يُقَالُ لَهُ : ذُو الْيَدَيْنِ : یعنی نبی ﷺ به ده ته ذو الیدین وئیلو او دا ئے لقب وو او خپل نوم ئے خرباق وو او د بنو سلیم قبیلے نه وو۔ او دا په خلافت د معاویه کښې وفات شویدے ابوعوانه په خپل صحیح کښې وائی : د نبی ﷺ نه بعد ئے ډیره موده تیزه کړیده او په ذی خشب علاقه کښې د عمر فاروق په خلافت کښې وفات دے۔ کما یعلم من الاصابه (٤٨٩/١) او دده لاسونو کښې د نورو خلقو په نسبت اوګدوالے وو او دا په خپل حقیقت بانديے حمل دے۔

قرطبی وائی : ذو الیدین کنایه ده د طول نه یعنی لاسونه ئے اوګده وو یعنی کارونه به ئے ډیر کول یا ئے خرچے ډیرے کولے، بعض وائی : دا لنډ لاسونو والا وو۔ او ابن قتیبه وئیلی دی : چه ده ته ئے ذو الیدین پدے وجه وئیلو چه ده په دواړو لاسونو ګارکولو۔

فَهَابَاهُ : یعنی ابوبکر وعمر د زیات احترام او اجلال او تعظیم د وجه نه په نبی ﷺ باندے اعتراض اونکړو او د ذو الیدین زیات حرص وو په زده کړه د علم باندے۔

فَقَالَ: ذو الیدین دا خبره ولے اوکړه؟ الجواب : مرتبو پیژندلو کښې فرق دے ابوبکر وعمر رضی الله عنهما انتهائی مرتبه پیژندلے وه، د نبی ﷺ مخے له نه ورتلل، او ددے صحابی د هغوی په شان مرتبه نه وه۔ ٢- دویم دا چه ذو الیدین کښې بهادری وه، د دین د تبلیغ او د تعلم دپاره ئے تپوس اوکړو او بعض کسانو کښې بهادری وی۔

بیا سوال دا دے چه ددے حدیث نه معلومیږی چه نبی ﷺ خبر واحد لره اعتبار نه دے ورکړے ځکه ئے د نورو ملګرو نه تپوس اوکړو، جواب دا دے چه دلته د نبی علیه السلام د علم او ددے سړی د علم مقابله ده د نبی علیه السلام علم کښې دی چه ما پوره مونځ اوکړو او دده د هغے مقابله اوکړه نو ځکه د نبی ﷺ شك شو نو تپوس ئے اوکړو او کله چه خبر واحد خالی الذهن ته پیش شي چه د هغه سره مقابله کښې نص نه وی نو خامخا به حجت وی۔

أَكَمَا يَقُولُ ذُو الْيَدَيْنِ؟: یعنی اتقولون کقوله۔ او اکان الامر کما یقول ذو الیدین۔

فَتَقَدَّمَ : دے نه معلومه شوه چه بیرته تیټ تړل نشته بلکه همداسے به راشی او باقی مونځ به مکمل کړی۔ ثُمَّ سَلَّمَ : امام علائیؒ وائی چه ددے حدیث تولو روایاتو کښې سجده بعد السلام راغلی ده آه۔ نو پدے کښې رد دے په امام مالك باندے چه په صورت د نقصان کښې سجده قبل السلام وائی او حال دا چه دلته بعد السلام شویده بلکه دا د احنافو او د ابن حزمؒ د مذهب مطابق دلیل دے۔

ثُمَّ كَبَّرَ : يعني د سلام اړولو نه بعد ئے د سجدے دپاره تكبير اوكړو ـ پدے كښې اختلاف دے چه سجده سهو كله بعد السلام كوى نو آيا تكبير تحريمه به ورله كوى او كه نه صرف د سجدے تكبير كافى دے ؟ نو جمهور علماء وائى : همدغه د سجدے تكبير كافى دے او دا په اكثرو احاديثو كښې راغلى دى او د امام مالك قول دے چه دوه تكبيره به كوى يو د تحريمے دپاره او بل د سجدے دپاره لكه دا په يو روايت د ابوداود كښې راغلى دى ليكن هغه ابوداود شاذ گرځولے دے ـ انظر المرعاة (٤١٦/٣)

فَرُبَّمَا سَأَلُوهُ: يعني شاگردانو د ابن سيرين نه تپوس اوكړو چه آيا نبى ﷺ د سجده سهو نه بعد سلام اړولے دے كه نه ؟ نو هغه د هغوى په جواب كښې اووئيل :

نُبِّئْتُ: سوال : خبر وركونكے مجهول دے نو حديث خو ضعيف كيږى ؟ الجواب : پدے روايت كښې نـدے ذكر او پـه روايت د ابوداود او ابن ابى شيبه (٤٨/١) كښې هغه ذكر دے قال ابن سيرين : حدثنى خالد الحذاء عن ابى قلابة عن عمه ابى المهلب عن عمران بن حصين) او دا درے واړه رجال ثقات دى ـ او دے نه معلوميږى چه د عمران او ابو هريرةؓ دواړو حديثونو واقعه يوه ده لكه دا حافظ په فتح البارى كښې راجح كړيده ـ او دا حديث د جمهورو دليل دے چه د سجده سهو نه روستو تشهد وئيل ندى پكار ځكه دلته صرف سلام ذكر دے او كه تشهد ثابت وے نو دلته به ذكر شوے وے، او بل روايت پكښې ضعيف دے كما سيأتى ـ

الفوائد الباقية : پدے حديث كښې د سجده سهو طريقه اوښودلے شوه چه هر يو دپاره تكبير دے او د سجده سهوے نه بعد به سلام اړوى ـ ٢- يو انسان ته يو لقب وركول دپاره د تعريف جوازلرى خو چه د هغه سپكوالے غرض نه وى ـ ٣- د ډيرو سهو دپاره دوه سجدے د سهو كافى دى اگر كه جنس د سهو مختلف وى، ځكه دلته نبى ﷺ سلام هم اړولے دے او خبرے ئے هم كړيدى او مزل ئے هم كړيدے او آخر كښې ئے په دوه سجدو اكتفاء اوكړه ـ ٤- چا چه دا گمان اوكړو چه ده يو كار كړيدے او بيا ئے اووئيل چه ما دا كار كړيدے يا ئے گمان وى چه ما نه دے كړے او وے وئيل چه ما ندے كړے بيا د هغه د گمان خلاف ښكاره شى نو پدے خبره نه گناهگاريږى ځكه نبى ﷺ دلته اووئيل : كل ذلك لم يكن او حال دا چه سهو شوے وو ـ ٥- عمل كثير او قدمونه اخستل كله چه سهوے سره وى مونځ نه فاسدوى ـ ٦- او ددے حديث د زيد بن ارقم د روايت سره څه تعارض نشته چه هغه وائى : نهينا عن الكلام فى الصلاة ځكه هغه عام دے او دا حديث د ذواليدين خاص دے او د خاص او د عام ترمينځ تعارض نه وى ځكه حالت د سهو مستثنىٰ دے د عام حالت نه ـ كما قال ابن بطال ذكره فى المرعاة (٤١٩/٣)

٥- وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُحَيْنَةَ : اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلّٰى بِهِمُ الظُّهْرَ، فَقَامَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُوْلَيَيْنِ لَمْ يَجْلِسْ، فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، حَتّٰى اِذَا قَضَى الصَّلَاةَ، وَانْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِيْمَهُ، كَبَّرَ وَهُوَ جَالِسٌ،

فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ اَنْ يُسَلِّمَ، ثُمَّ سَلَّمَ. متفق عليه.

ترجمه : عبد الله بن بحينه ﷺ فرمائي : (يوه ورځ) نبي كريم ﷺ صحابه كرامو ته د ماسپښين مونځ اوكړو نود رومبنو دوه ركعاتونو كولو نه پس (نيغ) پاڅيدو او (قعدے دپاره) كينه ناستو، نور خلق هم د رسول الله ﷺ سره پاڅيدل، تردے چه كله مونځ ختميدو ته نزدے شو او خلق د هغه د سلام په انتظار كښې وو، نو هغه په ناسته الله اكبر اووئيلو او دوه سجدے ئے مخكښې د سلام نه اوكړے بيائے سلام اوګرځولو۔ (بخاري ومسلم)

تعارف د عبد الله بن بحينه : عبد الله بن مالك بن القشب الاسدي او الازدي دے او دده مور بحينه ده او پلارئے مالك دے كله دواړه په يو ځائے ذكر كيږي اوكله يواځے پلار يا يواځے مور نو ابن بحينه په الف سره ليكل پكار دي ۔ او بحينه بنت الحارث بن عبد المطلب بن عبد مناف صحابيه ده نبي ﷺ ورته په خيبر كښې ديرش وسقه كجورے وركړے وے ۔ او دا عبد الله پخوانے مسلمان دے كان ناسكاً فاضلاً صائم الدهر، اصابه كښې دي : دا په بطن ريم علاقه كښې اوسيدو چه د مدينے نه ديرش ميله وړاندے ده او هلته په زمانه د مروان كښې وفات دے په سنه (٥٦) كښې۔

تشريح : دے حديث نه معلومه شوه چه كله اوله قعده پاتے شي نو سجده سهو به قبل السلام كولے شي۔ او سجده سهو كښې به تكبير په جهر كولے شي كله چه امام وي لكه د باقي تكبيراتو په شان ۔ د بخاري په يو روايت كښې ورسره دا زيادت هم راغلے دے : وسجدهما الناس معه مكان ما نسي من الجلوس) دے كښې فائده دا ده چه امام كله سهو شي مقتدي اګركه نه وي سهوه شوے خو په تابعدارئ د امام كښې به سجده سهو كوي او پدے باندے ابن حزم اجماع نقل كړيده دارنګه معلومه شوه چه سجده سهوه به صرف د نسيان په صورت كښې كولے شي نه قصداً پريخودلو سره او دا قول د جمهورو دے۔ امام چه سهو نه وي او مقتدي سهو شي په هغه باندے سجده سهو نشته په قول د عامو علماؤ كښې كما في المغني (٦٩٩/١)۔

الفصل الثاني

٦–عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ : اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلّٰى بِهِمْ فَسَهَا، فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ تَشَهَّدَ، ثُمَّ سَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ : هٰذا حديثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او عمران بن حصين رضي الله عنه فرمائي : نبي كريم ﷺ (يوه ورځ) خلقو ته مونځ كولو (چه په مانځه كښې) سهوه شو، نو دوه سجدے ئے اوكړے بيائے تشهد التحيات اووئيلو بيائے سلام واړولو۔ امام ترمذي دا حديث نقل كړيدے او وئيلي ئے دي چه دا حديث حسن غريب دے۔

تشريح : پدے روايت كښې د سجده سهو علت نه دے بيان شوے، چه د څه وجه نه سهو شو او

سجده سهو نه روستو تشهد پکښې ذکر شو۔ **سجده سهو کښې تشهد وئیل شته ؟**

نو اوس ددې په حکم کښې اختلاف دې ۱– احناف او بعض مالکیه او بعض شافعیه وائی : عبده ورسوله نه بعد به سلام اړوی بیا به سجدتین کوی بیا به تشهد د سر نه شروع کوی۔ دلیل حدیث د عمران بن حصین دې۔ ۲– شافعیؒ او احمدؒ وائی : کله چه سجده قبل السلام کوی نو تشهد به نه وائی یعنی اول تشهد ورله کافی دې۔ او کله چه بعد السلام سجده کوی نو ائمه اربعه وائی : چه تشهد به وائی او بیا به سلام اړوی۔ کما فی نیل الاوطار (۱۴۹/۳) والمرعاة (۴۲۲/۳) ۳– انس، حسن، عطاء او جمهور علماء او امام بخاری په خپل صحیح (۱۶۳/۱) کښې وائی : تشهد دوباره نشته فرمائی : (وسلم انس والحسن ولم یتشهدا) انس بن مالك او حسن سجده د سهو نه پس تشهد ندې کړې ۔ جمهور جواب کوی : دا مرفوع حدیث پدې باره کښې شاذ دې او شاذ د اقسامو د ضعیف نه دې کما قال الالبانی فی ضعیف سنن ابی داود ص (۱۰۳) وجه د شذوذ دا ده چه دا مخالف دې د روستو راتلونکی حدیث د عمران بن حصین نه چه هغې کښې سلام ذکر دې او تشهد پکښې ندې ذکر دا رنګه دا مخالف دې د عام احادیثو نه چه هغې کښې هم د تشهد هیڅ قسمه تذکره نشته، بیهقی په سنن کبریٰ (۳۵۵/۲) کښې وائی : والحدیث خطأ اخطأ فیه اشعث) او همدغه وجه د شذوذ ئې ذکر کړیده۔ حافظ ابن حجر فتح الباری (۲۴۷/۴) کښې فرمائی : پدې سند سره په حدیث عمران بن حصین کښې د خالد الحذاء نه ندی ثابت چه هغه تشهد ذکر کړې وی لکه هغه مسلم کښې راغلی دې نو زیادت د اشعث شاذ شو، ددې وجه نه ابن المنذر وائی : لا احسب التشهد فی سجود السهو یثبت۔

او هر چه اثر د ابن مسعود دې چه بیهقی (۳۵۶/۲) مرفوعاً راوړیدې او احمد (۴۲۹/۱) او ابن ابی شیبه (۱۷۷/۲) موقوفاً راوړیدې (عن ابن مسعود مرفوعاً : تشهدت ثم سجدت سجدتین وانت جالس) بیهقیؒ وائی : (هذا غیر قوی ومختلف فی رفعه ومتنه) شیخ البانیؒ په ارواء الغلیل (۱۳۱/۲) او ضعیف ابی داود (۲۲۷) (۱۰۳۹) کښې لیکی : دا په طریق د خصیف عن ابی عبیده عن ابن مسعود نقل دې او پدې کښې ضعف او انقطاع ده۔ او هر چه موقوف روایت د ابن مسعود دې نو هغې کښې ابراهیم نخعی دې ابن ابی شیبه راوړیدې او ابراهیم نخعی سماع د ابن مسعود نه نده ثابته کما تقدم فی بحث رفع الیدین فی المواضع الثلاثه۔

امام نووی شرح مسلم (۲۱۲/۱) کښې لیکی : ولم یثبت فی التشهد حدیث– یعنی بعد السهو۔

شیخ الاسلام په مجموع الفتاوی (۴۸/۲۳) کښې ددې حدیث ضعف پداسې طریقه بیانوی چه ترمذی دې روایت ته حسن غریب وئیلې دې ځکه چه ددې متابع ندې موجود او دا پداسې مقام کښې سبب د ضعف د حدیث وی ځکه رسول الله ﷺ نه سجده بعد السلام ډیر کرتې ثابته ده لکه په حدیث د ابن مسعود او حدیث د ابو هریره حدیث د ذی الیدین او حدیث د عمران بن

حصين كښې تشهد ندے ثابت، كه تشهد ثابت وے نو هغه به ضرور ذكر كړے وے، بلكه دا تشهد اوګډ عمل دے او د پيغمبر نه واړه واړه اعمال صحابو نقل كړيدي نو دا خو به ضرور صحابو ذكر كړي وے، او هر كله چه دا حديث د عمران بن حصين د بل حديث مخالف دے كوم چه په صحيحينو كښې راغلے دے نو دا دليل دے چه دا روايت ضعيف دے الى آخر ما قال.

بله وجه دا ده چه كه تشهد اعاده كړے شي نو دا تقاضا كوي چه دعاء ؤ هم مكرر شي سره ددينه چه هغه خو نزدے تير شويده. دارنګه وائي : كه د سجده سهو نه بعد تشهد مشروع وے نو بيا به دوه سجدے نه وے مشروع شوے ځكه نبي عليه السلام په دوه سجدو باندے فقط حكم كړيدے نه په زيادت باندے او صرف سجدتين ته ئے مرغمتين وئيلى دي نه زائد ته.

او كه بالفرض دا روايت ثابت شي لكه حافظ ابن الحجر په فتح الباري (٣/٧٦، ٧٧) كښې حسن درجه كښې ګرځولے دے هغه فرمائي : لكن قد ورد في التشهد في سجود السهو عن ابن مسعود عند ابي داود والنسائي وعن المغيرة عند البيهقي وفي اسنادهما ضعف فقد يقال : ان الاحاديث الثلاثة في التشهد باجتماعها ترتقي الى درجة الحسن قال العلائي : وليس ذلك ببعيد وقد صح ذلك عن ابن مسعود من قوله اخرجه ابن ابي شيبة. نو بيا به محمول شي په جواز باندے ځكه په صحيحينو كښې دا الفاظ راغلي دي : لكه په حديث د عبد الله بن بحينه كښې ذكر شو : فسجد قبل ان يسلم ثم سلم. او حديث د ذو اليدين كښې دي : ثم سلم. معلوميږي چه د سجده سهو نه بعد ئے سلام اړولے دے او تشهد پكښې ندے ذكر. نو كه چا تشهد اووئيلو نو ان شاء الله چه غلط به نه وي اګر كه بهتر نه دے. علامه مباركفوري په المرعاة (٣/٤٢٢) كښې دواړو ته يو شان جائز وئيلى دي. وانظر فتاوى الدين الخالص (٥/٩٠)

٧– وَعَنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : إِذَا قَامَ الْإِمَامُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ، فَإِنْ ذَكَرَ قَبْلَ اَنْ يَّسْتَوِيَ قَائِمًا فَلْيَجْلِسْ، وَإِنِ اسْتَوٰى قَائِمًا فَلَا يَجْلِسْ، وَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ. رواه ابو داود، وابن ماجه.

ترجمه : او مغيره بن شعبه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : كله چه امام د دوه ركعاته كولو نه پاسي (بغير د قعدے كولو نه نيغ پاخي) نو كه د نيغ برابريدو نه مخكښې ورته ياد شي نو كيني، او كه نيغ اودريدلے وي نو نه دے كيني او (آخر) كښې دے دوه سجدے د سهو اوكړي. (ابو داود، ابن ماجه)

تشريح : مطلب دا دے چه كله امام يا مقتدي دريم ركعت ته بغير د قعده اولى نه پاخيږي نو كه نيغ لا اودريدلے نه وي برابره ده قيام ته نزدے وي او كه قعود ته نو كيني به او سجده سهوه پرے نشته ځكه دده دا فعل قيام نه شمارلے كيږي نو بس دا قعود حساب شو او دا ظاهر د حديث

دے او که نيغ اودريدو نو بيا به نه کيني ځکه چه ده په فرضو کښې شروع اوکړه چه هغه قيام دے نو د غير فرض دپاره به هغه نه منقطع کوی ځکه قعده اوله نده فرض (بلکه سنت ده) او په سجده سهو د هغې جيبره کولے شی لهذا د هغه نه قعده اوله ساقطه شوه خو آخر کښې به سجده سهو اوکړی نبی عليه السلام قعده اوله پريخوده صحابه کرامو ورپسے تسبيح اووئيله خو هغه راواپس نه شو۔ بيا پدے کښې دا تفصيل نشته کوم چه په فقه حنفی کښې راغلے دے چه هدايه مولا وائی که قيام ته نزدے وو نو نه به راګرځی او که قعود ته نزدے وو نو راګرځی به او دا حديث په ډيرو الفاظو نقل دے په يو کښې هم داسے تفصيل نشته لهذا دا خبره ضعيفه ده بلکه صحيح دا ده چه که قيام ته نزدے وی او که قعود ته خو راګرځی به ترڅو پورے چه نيغ ولاړ نه وی۔

مسئله: حکم خو دا شو چه که نيغ اودريدو نو نه به راګرځی ليکن که يو انسان راوګرځی نو څه حکم به وی؟ نو پدے کښې اختلاف دے جمهور وائی که قصداً راواپس شو نو مونځ ئے بيا هم صحيح دے او د امام شافعیؒ په نزد مونځ ئے باطل دے کما فی فتح البارى۔

او د احنافو په نزد هم اختلاف دے خو د هغوی په نزد راجح عدم فساد دے لکه درمختار کښې دی (٥٦١/١) لانه رفض الفرض للواجب وهذا لا يجوز۔ بعض وائی: که قرائت ئے شروع کړے نه وو نو واپس کيږی به۔ دا قول غلط دے۔ کما فی المختارات الحلية ص (٥٤)۔

علامه شوکانیؒ داسے تفرقه کوی چه بيرته راګرځيدل دوه قسمه دی يو دا چه انسان ددے راګرځيدو په حرمت باندے عالم وی او قصداً راواپس شو نو بيا ئے مونځ باطل دے ځکه ظاهر د نهی دلالت کوی چه مونځ ئے فاسد دے بله دا چه ده بل قعود زياتی کړو۔ او که ناسياً راواپس شو يا عالم نه وو په تحريم باندے نو مونځ ئے ندے باطل (زهو الحق) او کله چه پوره ولاړ نه وی نو واپس کيدل واجب دی ځکه امر راغلے دے (اذا قام احدكم من الركعتين فلم يستتم قائماً فليجلس) انتهى ما فی نيل الاوطار (١٤٨/٣)۔ او کله چه انسان نسياناً واپس شی نو سجده سهوه به کوی ځکه چه ده په مانځه کښې زيادت اوکړو او په هر زيادت او نقصان کښې سجده ده۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه ابوداود (١٠٣٦) وقال عقب حديثه (وليس فى كتابى عن جابر الجعفى الا هذا الحديث) وابن ماجه (١٢٠٨) لكن الحديث له متابعة عند الطحاوى فى شرح معانى الآثار (٤٤٠/١) من طريق ابراهيم بن طهمان وقيس بن الربيع وبهما يتقوى الحديث)

الفصل الثالث

٨- عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ: اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ صَلَّى الْعَصْرَ وَسَلَّمَ فِیْ ثَلَاثِ رَكْعَاتٍ، ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَهٗ، فَقَامَ اِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْخِرْبَاقُ، وَكَانَ فِیْ يَدَيْهِ طُوْلٌ، فَقَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ! فَذَكَرَ لَهٗ صَنِيْعَهٗ، فَخَرَجَ غَضْبَانَ يَجُرُّ رِدَاءَهٗ حَتّٰى انْتَهٰى اِلَى النَّاسِ، فَقَالَ: «اَصَدَقَ هٰذَا؟»

قَالُوا : نَعَمْ، فَصَلّٰى رَكْعَةً، ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ. رواه مسلم.

ترجمه : او عمران بن حصین ﷺ فرمائی : چه (یوه ورځ) رسول الله ﷺ مازیګر مونځ اوکړو او درې رکعاتـه کـولو سره ئې سلام واړولو بیا کور ته داخل شو نو هغه ته یو سړے پاځیدو چه هغه ته ئې خرباق وئیلو او د هغه په لاس کښې اوګدوالے وو ورته ئې اوویل: اے د الله رسوله ! او هغه واقعه بیان کړیده (یعنی درې رکعاته کولو باندې سلام ګرځولو باره کښې ئې ورته اوفرمایل) نو رسول الله ﷺ په غـصـه کښې خپل څادر راښکلو سره راووتو تردې چه خلقو ته راورسیدو او وې فرمایل : آیا ذو الیدین صحیح وائی ؟ صحابو اوفرمایل : آو، نو رسول الله ﷺ یو رکعت اوکړو بیا ئې سلام اوګرځولو بیا ئې (د سهوې) دوه سجدې اوکړې بیا ئې سلام اوګرځولو۔ (مسلم)

تشریح : رسول الله ﷺ د درې رکعاتو نه پس سلام واړولو او بیا کور ته لاړو بیا بهر را اووتو خرباق سلمی ﷺ ترې تپوس اوکړو، او مینځ کښې خبرې اترې هم اوشوې او د قبلې نه ئې مخ هم اړولے دے او ددے باوجود رسول الله ﷺ یو رکعت کولو شره آخر کښې سجده سهو باندې اکتفاء اوکړه نو دا دلیل دے چه په مانځه کښې دا کارونه سهواً جواز لری او بیرته اعاده کول بهتر او سنت ندی بلکه خلاف سنت دی ځکه نبی ﷺ صحابه کرامو باندې بیرته د سر نه مونځ اونکړو۔

بیا بعض علماء دا حدیث او مخکنے حدیث د ابو هریره (حدیث د ذی الیدین) دواړه جدا جدا واقعې ګرځوی لکه ابن خزیمه، ابوحاتم بن حبان او امام نووی وغیر هم رحمهم الله – وائی : د دواړو حدیثونو سیاق مختلف دے ځکه د ابو هریرهؓ په حدیث کښې دی چه دوه رکعاتو نه روستو ئې سلام اړولے دے او دے روایت کښې دی چه درې رکعاته بعد او په هغې کښې نبی علیه السلامؑ په مسجد کښې لرګی ته پاځیدلے دے او پدے حدیث د عمران کښې دی چه کور ته داخل شویدے۔ او په دواړو ځایونو کښې خرباق ذو الیدین تپوس کړیدے۔ مګر د اکثرو علماؤ رایه دا ده چه دواړه حدیثونه یوه واقعه ده ۔او دا قول حافظ ابن حجرؒ راجح کړیدے او علامه سندیؒ ورته اظهر وئیلے دے او صاحب د فیض الباریؒ ورته اصوب او نیمویؒ ورته په تعلیق د آثار السنن کښې قوی وئیلے دے او علامه مبارکفوریؒ ورته په مرعاة کښې ظاهر وئیلے دے، دوی وائی : دا د راویانو د واقعې په نقل کولو کښې تبدیلی د الفاظو ده خاصکر چه اوګده زمانه تیره شوی وی نو ضرور داسے مختلف الفاظ نقل کیږی ځکه بعض راویانو نه بعض کیفیات د واقعې په تیریدو د زمانه هیریږی ځکه چه هغوی به بغیر د لیکلو نه بیانول (کما قال السندی فی حاشیة ابن ماجه) دوی وائی چه په دواړو حدیثونو کښې سائل خرباق ذو الیدین دے او غالبه واقعه یو شان ده سوئ د یو دوه ځایونو نه هر چه کور ته داخیدل دی نو شاید چه راوی نبی علیه السلام لره اولیدو چه د خپل ځائې نه لرګی طرفته ورمخکښې شو نو ګمان ئې کړے وی چه کور ته داخل شو ځکه دغه

لرګے د کور په جهت کښې پروت وو یا لرګی طرفته ورتلو نه پس کورته داخل شوے وی او بیرته زر راواپس شوے وی او بیا ترے ذو الیدین تپوس کړے وی۔ مګر حافظ عسقلانیؒ وئیلی دی چه روایت د ابو هریره زیات راجح دے ددے روایت د عمران نه ځکه د هغے مؤید روایت د ابن عمر دے چه دواړو کښې یو شان قصه ده كما اخرجه ابوداود وابن ماجه وابن خزيمة او دغه شان د ذو الیدین خپل بیان کرده واقعه هم د هغے موافقه ده كما اخرجه ابوبكر الاثرم وعبد الله بن احمد فى زيادات المسند او مخکښې د ابن سیرین چه راوی د حدیث د ابو هریره دے د هغه په نزد هم دواړه واقعے یو شان دی۔ د نبئت ان عمران بن حصين الفاظو نه معلومیږی۔ بعضه فى فتح البارى۔

علامه شوکانیؒ وائی : ظاهر قول د ابن خزیمه وغیره دے ځکه پدے کښې د تاویلاتو نه خلاصیدل دی(نيل الاوطار ١٣٩/٣) وهو الظاهر عندنا

٩- وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ ﷺ، قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: «مَنْ صَلّٰى صَلَاةً يَشُكُّ فِي النُّقْصَانِ، فَلْيُصَلِّ حَتّٰى يَشُكَّ فِي الزِّيَادَةِ». رواه احمد.

ترجمه : او عبد الرحمن بن عوف ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : چا چه مونځ کولو چه په هغے کښې ئے په نقصان کښې شك پیدا شی نو هغه له پکار دی چه نور مونځ اوکړی دے دپاره چه شك ئے په زیادت کښې پیدا شی۔ (احمد)

تشریح : مطلب دا دے چه د یو سړی په څلور رکعاتی مونځ کښې شك شو چه درے ئے اوکړل او که څلور او غالب ګمان ئے یو طرفته هم نه وی نو داسے انسان له پکار دی چه دِ ے په زیاتی کښې شك اوکړی یعنی کم عدد دِ ے اختیار کړی لکه په مذکوره صورت کښې دِ ے درے رکعاته اختیار کړی او بل رکعت دِ ے ورسره یو ځائے کړی تردے چه په کمی کښې د شك کولو په ځائے اوس په زیادت کښې شك پیدا شی چه پته نه لګی څلور رکعاته اوشو او که پنځه رکعاته ځکه څوك چه په درے رکعاتو بناء اوکړی او یو بل رکعت ورسره ملاؤ کړی نو دا به اوس شکی کیږی چه دا څلورم دے او که پنځم دے او دغه مطلب د شك فى الزيادت دے۔ خلاصه دا چه په جانب د زیادت کښې شك ګرځول غوره دی د شك نه په جانب د نقصان کښې ۔والله اعلم۔

مسائل تتمیم الباب : ١- المسئلة الاولى : سجده سهو په کومو څیزونو لازمیږی ؟

١- احنافو خو خبره ځانته آسانه کړیده چه بس په ترك د واجباتو باندے واجبیږی او په ترك د سنن او ارکانو باندے سجده نه واجبیږی او دا واجبات (٢٢) دی لکه خلاصه کیدانی او الفقه الاسلامی (٩٣/٣) کښې راغلی دی، لیکن دے دپاره دلیل نشته۔ بیا ددوی په نزد چه کوم واجبات دی هغه د نورو په نزد سنت دی او بعض فرض دی لکه فاتحه د احنافو په نزد واجب او عند الجمهور فرض ده او روستو قرائت عند الاحناف واجب او عند الجمهور مستحب دے۔

۲– **قول ثاني** : حنابلہ وائي : د اقوال او اعمال او ارکانو او سنن ترمینځ فرق دے نو په بعضو کښې واجب ده نه په بعضو کښې. اول به رکن راوګرځوي بيا به سجده سهو اوکړي او فقط سجده سهو ددے نه نه کافي کیږي. وقد مر تشریح هذا المذهب في اول الباب.

۳– **صحیح** منحدثانه قول دا دے چه سجده سهو په یو د دریو څیزونو لازمیږي (۱) زیادت (۲) نقصان (۳) او شك کښې. په قصداً زیادت او نقصان کښې خو سجده سهو نشته ځکه نص پرے ندے راغلے نو کومو علماؤ چه په بعض صورتونو د عمد کښې سجده سهو واجب ګرځولے ده نو قول ئے غلط بے دلیله دے لکه بعض احنافو دا کار کړیدے انظر الفقه الاسلامی (۹۲/۲) ومتن السيل الجرار (۲۸٤/۱) ومراقي الفلاح (۱۱۳)

۴– بیا زیادت او نقصان به یا په ارکان او فرائضو کښې وي یا به په سنن او مندوبات قولي او فعلي کښې وي نو د فرض په زیادت او نقصان کښې پس د پوره کولو د هغې نه سجده سهو واجب ده لکه مخکښې تیر شو چه نبي علیه السلام درے رکعاته اوکړل بیا ئے یو رکعت پوره کړو او آخر کښې ئے سجده سهو اوکړه برابره ده فصل زیات تیر شوے وي او که لګ. دارنګه دا زیادت او نقصان که د جنس د مانځه نه وي او که نه وي.

او هر چه سنن قولي او فعلي کښې زیادت او نقصان دے نو د ابن حزم رحمه الله په نزد په هغے کښې سجده سهو بالکل نشته او هغه پدے باندے ډیر دلائل جمع کړیدي.

او علامه شوکاني ﷫ پکښې دا وئیلي دي چه په ترك د مسنون باندے سجده سهو مسنون ده او واجب نه ده دے دپاره چه فرع په اصل باندے زیاته نشي ځکه مسنون خو واجب نه دی نو سجده سهو به ورله څنګه واجب شي؟ مګر ظاهر د حدیث : فمن زاد او نقص فليسجد سجدتين وهو جالس مسلم (۲۱۳/۱) دلیل دے چه په هر قسمه زیادت دے سجده سهو واجبه شي او نبي علیه السلام اوله قعده (چه مسنون ده عند الجمهور) پریخوده او د هغے اعاده ئے اونکړه او آخر کښې ئے سجده سهو اوکړه. (بخاری ۲۱۳/۱) اګرکه ائمه اربعه او ابن حزم او شوکاني ﷫ قول وائي چه په ترك د مسنون باندے سجده سهو نه ده واجب. او د صورت د شك وضاحت مخکښې تیر شویدے. **المسئلة الثانية** : کومو صورتونو کښې سجده سهو راځي؟ نو احادیثو کښې راغلي صورتونه دا دي : ۱– سجده سهو به هر هغه عمل باندے لازمیږي چه انسان ئے په مانځه کښې سهواً اوکړي لکه خوراك څکاك، خبرے، شعر وئیل، مزل کول، ډډه لګول، قبلے نه شا اړول، یا یو رکعت وغیره زیاتول یا د مانځه په مینځ کښې سلام اړول نو هر کله چه ورته راپاد شي که زمانه لګه تیره شوي وي او که زیاته نو پریخودے شوے رکن وغیره به اوکړي بیا به سجده سهو اوکړي.

۲– د څلورو رکعاتو په ځائے دوه رکعاته کول نو باقي به پوره کړي او سجده سهو به اوکړي.

۳– د څلورو په ځائے درے کول نو یو به ورسره ملګرے کړي او آخر کښې به سجده سهو اوکړي.

٤-قعده اوله چه پريدی او نيغ اودريږی۔
٥- پنځه رکعاته يا زيات اوکړی برابره ده که څلورم رکعت باندے ناست وی او که نه خو تشهد ته به راواپس شی او آخر کښې به سجده سهو اوکړی۔
٦-په ماښام کښې يو رکعت پريدی او دوه رکعاتو کښې سلام واړوی نو سجده سهو به کوی۔ لحديث ابن زبير بيهقی (١/٣٦٠) ٧-کله چه دريم رکعت ته پاڅيږی او بيرته سهواً قعدے ته راواپس شی نو ده زيادت اوکړو لهذا سجده سهو به اوکړی۔
٨-څلورم رکعت کښې يوه سجده پريدی نو هر وخت چه ورته په مانځه کښې رایاده شوه اګرکه د سلام په وخت وی نو اول به دغه پريخودلے شوے سجده پوره کړی او بيا به تشهد دوباره اووائی او سجده سهو به اوکړی او دغه مخکنے عمل ئے لغو شو۔
٩- چا چه قرائت يا رکوع يا سجده په اول يا دويم يا دريم يا څلورم رکعت کښې پريخوده سجده سهو به کوی۔خو که دغه رکوع يا سجده ورته د تشهد يا سلام په وخت ياده شوه نو آيا ددے د آداء کولو نه بعد به باقی مونځ دوباره کوی او که نه ترتيب او موالات ساقط شو پدے کښې قولان دی راجح دا ده چه ترتيب ساقط دے۔ صرف دغه رکن کول او سجده سهو کافی کيږی۔
١٠-که قعده آخره پريدی نو راواپس کيږی به که هر ځائے کښې وی او سجده سهو به کوی۔
١١- که په تشهد اول کښې چا سهواً درود اووئيلو په هغه هم سجده سهو شته ځکه دا هم زيادت غير مشروعه دے په مانځه کښې ۔او که قصداً ئے زيادت اوکړو نو سجده سهو پرے نشته ځکه دا مجتهد مخطئ دے۔

المسئلة الثالثة : کومو صورتونو کښې سجده سهو نه کيږی ؟۔

١- چا چه جلسه د استراحت په سهو سره پريخودله په هغه سجده سهو نشته، ځکه دواړه امرين جائز دی۔ ٢-څوك چه جلسه استراحت نه کوی او سهواً جلسه استراحت دپاره کينی نو په هغه هم سجده سهو نشته ځکه سهواً ئے په سنت عمل اوکړو، او په سنت باندے هر قسم عمل کولو کښې سجده سهو نه وی۔ ٣-مګر که څه کلمات پکښې د التحيات لله والصلوات اووائی نو بيا ئے زيادت اوکړو نو سجده سهو پرے لازم ده۔
٤- که څوك په جهری مونځ کښې اخفاء يا په خفيه مونځ کښې جهر اوکړی سجده سهو پرے لازم نه ده انظر البيهقی (٢/٣٤٧) خو که وے کړه نو څه باك بګر پرے نشته۔
٥- که چا سهواً په مانځه کښې التفات اوکړو نو سجده پرے نشته۔
٦-چا چه په مانځه کښې فکر اوکړو او يا ئے زړه کښې ځان سره خبرے اوکړے نو سجده سهو پرے نشته۔٧-که يو شی ته ئے اوکتل چه پرے پوهه شو يا ئے د مانځه نه غافل کړو۔
٨- چا چه په مواضع منصوصو کښې رفع اليدين پريخودل په هغه هم سجده سهو نشته۔

۹- چا تکبیرات د انتقالاتو پریخودل نو د جمهورو په نزد پرے سجده سهو نشته ځکه دا مسنون دی او کوم علماء چه په وجوب د تکبیرات الانتقالات قائل دی هغوی وائی اول به تکبیر اووائی بیا به آخر کښې سجده سهو اوکړی وهو قول الامام احمد واهل الظاهر والخطابی والشوکانی وابن تیمیة وغیرهم ۔ مګر ددے سره سمع الله لمن حمده اؤ تسبیحات د رکوع او سجدے هم دغه شان حکم لری۔ وهو الراجح۔

۱۰- چا چه د فاتحے نه علاوه قرائت سهواً پریخودو جمهور وائی سجده سهو پرے نشته ځکه دا مسنون عمل دے او احناف وائی واجب دے مګر صحیح دا ده چه سنت مؤکد ئے پریخودل لهذا سجده سهو پکار ده۔

۱۱-د یو سورت نه بل سورت ته نقل کیدلو سره سجده سهو نده لازمه۔

۱۲- چا چه آیت یا څه حصه د آیت د فاتحے نه علاوه پریخوده نو سجده سهو پرے نشته او هر چه فاتحه کښې یو آیت پریدی نو قرائت به دوباره کوی ځکه فاتحه فرض ده او آخر کښې به سجده سهو اوکړی۔ ۱۳- یو آیت مکرر وئیلو سره هم سجده سهو نده لازم۔

۱٤-او فاتحه په یو رکعت کښې مکرر کول یا بعض آیتونه ئے مکرر کول هم سجده سهو نه واجبوی خلافاً للحنفیه۔ ددے ټولو خبرو دلائل په فتاوی الدین الخالص (۱۱۷/٥) کښې تفصیلاً اوګوره۔



باب سجود القرآن

ددے نه مراد سجده د تلاوت ده۔ او دا اضافت د مسبب دے سبب ته تلاوت د قرآن سبب د سجدے دے او محل دے۔

مسائل : حکم سجود القرآن : ددے په حکم کښې اختلاف دے : ١- احناف وائی : واجب ده ٢- حنابله او شافعیه وائی : سنت مؤکد ده کتاب الام (١٣٦/١) ٣- مالکیه وائی سنت ده یا مستحب ده دوه قوله ئے مشهور دی۔ علامه ابن قدامهٔ فرمائی : دا د سنیت قول د عمر فاروق او د عبد الله بن عمر دے (المغنی (٦٥٦/١) ورجحه الشوکانی فی نیل الاوطار (١١٧/٣)

شیخ الاسلام ابن تیمیهٔ د وجوب قول راجح کریدے او همدا حقه خبره ده۔

دلائل الوجوب : ١-دلیل: حدیث د مسلم (٦١/١) کښې دی : او مخکښې باب السجود کښې تیر شو : (اذا قرأ ابن آدم السجدة اعتزل الشیطان یبکی یقول : یا ویلتی امر ابن آدم بالسجود فسجد فله الجنة وامرت بالسجود فأبيت فَلِی النار) دا حدیث دلیل دے چه ابن آدم ته باندے سجده واجب ده، او ددے امر تصدیق نبی ﷺ کریدے والامر للوجوب۔

٢- **دلیل** : قرآنی آیتونو کښې هم امرونه په سجده راغلی دی : ﴿ وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ ﴾ ﴿ فَاسْجُدُوا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوا ﴾ ﴿وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴾ ٣- د کافرانو بدی الله بیان کریده چه دوی سجده نه کوی ﴿ وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴾ نو خوك چه سجده نه کوی هغه مذموم دے معلومه شوه چه سجده واجب ده۔ او دائے د مومنانو صفت شمارلے دے ﴿ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ﴾ ﴿ خَرُّوا سُجَّداً وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴾ ٤- پکار دا ده چه انسان همیشه الله تعالیٰ ته په سجده پروت وے لیکن شریعت مونږ ته نورے سجدے معاف کرے نو د قرآن سجدے خو کول پکار دی۔ ٥- نبی ﷺ عام ځایونو کښې کریدی اوکوم ځائے کښې ئے چه پریخی دی نو د هغے وجه روستو راځی۔ **دلائل الجمهور چه سنت ده : ١- دلیل** : بخاری (١٤٦/١) کښې د عمر فاروق قول دے چه هغه د جُمعے په ورځ سوره نحل په خطبه کښې اولوستو راکوز شو سجده ئے اوکره په بله هفته کښې ئے بیا اولوستو او سجده ئے اونکره او خلقوته ئے اووئیل : یا ایها الناس انما بالسجود فمن سجد فقد اصاب ومن لم یسجد فلا اثم علیه وفی لفظ : انما نمُرُّ بالسجدة ولم تکتب علینا۔ یعنی سجده په مونږ لازم نه ده۔ نور علماء ددے جواب کوی چه فلا اثم علیه او لم تکتب معنی دا ده چه پدے حالت کښې سجده کول لازم نه دی چه کله ئے امام په منبر باندے اولولی، یا سجده خو فی الفور لازم نه ده، یا دا د هغه اجتهاد دے۔

٢- دلیل روستو راځی د زید بن ثابت حدیث کښې دی چه په سوره نجم کښې نبی ﷺ سجده

اونکړه. الجواب : فلم يسجد ها مطلب دا نه دے چه بالکليه ئے اونکړه ځکه د هغه نه خو په دغه سورت کښې سجده هم نقل ده نو مطلب دا دے چه په دغه وخت کښې ئے اونکړه. ٢- يا لم يسجد لعدم سجود القارى وهو زيد. راجحه دا ده چه سجده تلاوت واجب ده.

المسئلة الثانية : سجود القرآن څو دى ؟ تفصيل به ئے فصل ثانى کښې راشى.

المسئلة الثالثة : آيا سجده د تلاوت دپاره اودس، استقبال الى القبلة، او ستر العورة شرط دے او که نه ؟ ١- جمهور علماء وائى : د سجده تلاوت حکم د مانځه په شان دے په ټولو احکامو او شرائطو کښې. ٢- **يو جماعت** د سلفو وائى : د مانځه شرطونه د سجده تلاوت دپاره ضرورى نه دى، او دا قول د ابن عمر ﷺ او د هغه موافقت کړيدے امام شعبيؒ او ابوعبد الرحمن السلمى التابعيؒ او دا قول امام بخارى په خپل صحيح (١٤٦/١) کښې مختار کړيدے. دوى وائى : اودس وغيره ورله ضرورى نه دى. ١- **دليل** : امام بخارى وائى : باب سجود المسلمين مع المشركين. والمشرك لا وضوء له. يعنى د نبى عليه السلام سره مشرکانو سجده کړے وه او د مشرکانو اودس نه وى. دارنګه عام مسلمانان چه په يو مجلس کښې ناست وى نو دا بعيده ده چه ټول دے په اوداسه کښې وى، دارنګه جنات واخله. ٢- او د عبد الله بن عمر نه ئے نقل کړيدے : وكان ابن عمر يسجد على غير وضوء. دارنګه ابن ابى شيبه (١٤/٢) د ابن عمرؓ او شعبيؒ نه نقل کړيدى چه ددے دپاره اودس واجب نه دے. او دا ئے هم ذکر کړيدى چه ابن عمرؓ به د خپلے اوښے نه راکوز شو او اوبه به ئے وارولے بيا به سور شو او سجده به ئے اولوسته بيا به ئے سجده اوکړه په بے اودسئ حالت کښې او بغير د قبلے نه.

٣- **دليل** : بل دليل دا دے چه سجده د تلاوت مونځ نه دے نو دے دپاره د مانځه شرائط ضرورى نه دى لکه دا خبره ابن حزم په محلى (٣٣٠/٣) او امير يمانىؒ په سبل السلام کښې ذکر کړيده هغه فرمائى : اصل دا ده چه طهارت دے شرط نه شى مګر په دليل باندے او دليل د وجوب د طهارت د مانځه په باره کښې راغلى دى او سجدے ته مونځ نه وائى نو څوک چه دا شرط ګڼړى نو هغه به دليل راورى آه. او قياسونو ته ضرورت نشته ځکه چه دا عبادت دے او عبادت کښې قياسونه نه چليږى. که څوک اووائى چه سجده بعض حصه د مانځه ده او بعض حصه د مانځه هم مونځ حسابيږى نو اودس دے ورله شرط شى؟ جواب دا دے چه دا قياس دے خو خطاء دے ځکه تکبير هم بعض حصه د مانځه ده او جلوس او قيام او سلام هم بعض حصه د مانځه ده نو بيا دے پدے کښې هم طهارت شرط شى.

او عثمان بن عفان رضى الله عنه او سعيد بن مسيب رحمه الله نه نقل دى چه حائضه زنانه کله سجده واورى نو په سجده به اشاره کوى او داسے به وائى : رب لك سجدت. (المغنى) المحلى (٣٣٠/٣) **ابو عبد الرحمن السلمىؒ** وائى : بغير د قبلے نه او په روانه باندے هم جائز ده. ابن ابى شيبه (١٥/٢) **عبد الله بن عباس** رضى الله عنهما د هغه سړى متعلق چه سجده اولولى او

د قبلې نه بل طرفته سجده اوکړي – فرمائي : پدې کښې هيڅ باك نشته۔
٤– شيخ الاسلام فرمائي : هر كله چه محدث (بې اودسه) دپاره بې اودسۍ حالت كښې تلاوت جائز دې نو سجده كول ورله په طريق اولىٰ جائز دي ځكه قرائت خو د مجرد سجدې نه ډير لوئې درجه والا دې. (مجموع الفتاوى (٢١/٢٩٣) او په (٢٦/١٩٤) كښې وائي : د هيڅ صحابي نه ددې د طهارت وجوب ندې نقل. امام شوكانيؒ وائي : په احاديثو د سجود التلاوة كښې هيڅ داسې دليل نشته چه د سجدې د تلاوت دپاره اودس شرط كړي او دغه شان احاديثو كښې دا هم نشته چه طهارت د جامو او طهارت د مكان شرط كړي، او هرچه ستر د عورت او استقبال د قبلې دې نو كه امكان وي نو وئيلې شويدي چه دا معتبر دې اتفاقاً انتهىٰ ـ السيل الجرار (١/٢٨٧) فقه السنه (١/١٨٨) **سوال** : بيهقي (٢/٣٢٥) كښې د ابن عمر ﷺ نه په صحيح سند ثابت دي هغه فرمائي : لا يسجد الرجل الا وهو طاهر) نو د ابن عمر د عمل او قول دواړو ترمينځ تعارض راغلو ؟ـ نو ددې **جواب** حافظ په فتح الباري كښې داسې وركړيدې چه د طهارت نه طهارت كبرىٰ مراد دې يعنې جنب به نه وي. ٢– يا دا چه دا په حالت د اختيار كښې دې او اجازت په ضرورت باندې حمل دې. ٣– يا دا چه بې اودسۍ سره كول جائز او اوداسه سره كول اولىٰ او غوره دي. فتاوى الدين الخالص (٥/١٣٥) والمرعاة (٣/٤٣٠)

الفصل الاول

١–عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : سَجَدَ النَّبِيُّ ﷺ بِالنَّجْمِ، وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُوْنَ، وَالْمُشْرِكُوْنَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ په سوره نجم كښې سجده اوكړه او د هغه سره مسلمانانو، مشركانو، جناتو او ټولو انسانانو (هم) سجده اوكړه ـ (بخاريؒ)

تشريح : دا واقعه په مكه كښې راپيښه شوې وه كما في رواية الطبراني في الاوسط) د نبوت (٥) كال وو د رمضان په مياشت كښې نبي ﷺ مسجد حرام ته تشريف راوړو او په هغې كښې يو لوئې جماعت د مشركين قريش سادات او كبراء موجود وو نو هغوى باندې اودريدو او نا څاپي ئې سوره نجم ورته اولوستو. او ددې نه مخكښې دوى د الله كلام نه وو اوريدلې كله چه رسول الله ﷺ سورت نجم اولوستو نو د هغې په آخر كښې ئې فاسجدوا لله واعبدوا د حكم عملي كولو دپاره سجده اوكړه او د شكر اداء كولو دپاره په هغه نعمتونو چه ددې سورت په اول كښې په هغه باندې ذكر شويدي. او مسلمانانو د هغه په تابعدارئ كښې سجده اوكړه او دغه مجلس كښې حاضر مشركانو هم اوكړه ځكه چه كله پدې سورت كښې د لات، منات او عزىٰ نومونه ياد كړې شو نو هغوى هم سجده اوكړه، يا وجه دا وه چه دې سورت كښې د الله د عظمت او جلال يو. چهلك وو او د هغې انواراتو او د هغه د توحيد او كبرياء آثار په دوى هم اوشوتردې چه دوى ته

هيڅ شك پاتے نشو په صدق د رسول الله كښې او دوى بے اختياره شو او د انكار او استكبار آثار ئے ختم شو سوا د يوتن (اشقى القوم) اميه بن خلف نه چه يو موټے خاوره ئے راواخستله او تندى ته ئے پورته كړه او دا ئے اوونيل : دا زما دپاره كافى ده، عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائى : ما هغه اوليدو چه كافر قتل شو۔

بعض وائى چه مشركينو پدے وجه سجده اوكړه چه د مومنانو نه يريدل ليكن دا خبره صحيح نه ده ځكه مكه كښې خو مومنان ضعيف وو نه كفار۔ بعض ددے په وجه كښې يو واقعه پيش كوى چه د نبى عليه السلام د لات منات او عزىٰ د بيان په مينځ كښې شيطان د هغه د خولے نه دا الفاظ اوويستل : تلك الغرانيق العلا وان شفاعتهن لترتجىٰ ۔ نو كله چه مشركانو واوريدل چه نبى عليه السلام زمونږ د معبودانو صفت بيان كړو نو د سورت په اختتام كښې ئے د هغه سره سجده اوكړه۔ ليكن محققين مفسرينو پدے واقعه باندے رد كړيدے چه دا قصه موضوعى ده وكما قال الذهبى وغيره، ځكه پدے كښې په وحى باندے امن ختميږى او شيطان له الله دا تسلط نه دے وركړے چه د پيغمبر په بيان كښې دا كار اوكړى۔ او ددے واقعے ټول سندونه ضعيف او منقطع دى كما قال البزار والبيهقى وابن خزيمه وابن كثير وغيرهم۔ او ښه تفصيل ئے په المرعاة (٤٣٢/٣) او الرحيق المختوم كښې اوګوره۔

حقه وجه هغه ده چه په دوى باندے د قرآن كريم د مواعظه بليغه په اوريدو باندے ناشنا اثر اوشو چه دوى مجبوره شو او بے اختياره ئے سجده اوكړه ځكه مخكښې ئے كله داسے كلام نه وو اوريدلے۔ او بله دا چه مشركان خو د الله د سجدے نه منكر نه وو بلكه الله ته به ئے هم سجدے لګولے ليكن د هغه سره به ئے شرك هم كولو۔ بعض وائى : د دوى د سجدے وجه دا وه چه كله مومنانو الله ته سجده اوكړه نو دوى د هغوى مقابله اوكړه چه مونږ لات او منات او عزىٰ ته سجده كوو۔ بيا ظاهر دا ده چه دا حديث ابن عباس د نبى ﷺ نه اوريدلے دے چه هغه بيانولو ځكه چه دا واقعه د مكے ده او په هغه زمانه كښې ابن عباس وړوكے وو ورته نه وو حاضر شوے۔ جناتو د سجدے نه نبى ﷺ خبر وركړے دے نو ځكه ئے ابن عباس بيانوى۔

بيا دا حديث دليل دے چه په مفصلاتو كښې هم سجده د تلاوت شته رد دے په امام مالك چه هغه ئے نه منى۔

٢- وَعَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ، قَالَ : سَجَدْنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِىْ : ﴿ اِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ﴾ وَ ﴿اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ رواه مسلم۔

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى : مونږ د نبى ﷺ سره په سوره اذا السماء انشقت او سوره اقرأ باسم ربك كښې سجده اوكړه۔ (مسلم)

تشريح : بخارى (١٤٦/١) كښې ددے حديث سره دا واقعه ذكر ده چه ابورافع وائى : ما د

ابو هريره نه روستو د ماسخوتن مونځ اوكړو نو هغه اذا السماء انشقت سورت اولوستو او سجده ئے اوكړه نو ما ترے تپوس اوكړو چه دا دِ څنګه اوكړل؟ هغه اوفرمائيل: پدے سورت كښې ما د ابو القاسم ﷺ پسے سجده كړيدے نو زه به هميشه پدے كښې سجده كوم تردے چه د هغه سره ملاؤ شم. نو دا حديث دليل دے په بله مسئله چه سجده د تلاوت په فرض جهري مانځه كښې هم لوستل جواز لري او دا قول د امام شافعيؒ دے او هغه د فرض او نفل او سري او جهري فرق نه دے كړے ځكه د ابن عمرؓ نه نقل دي چه نبي ﷺ د ماسپښين په مانځه كښې سجده د تلاوت اوكړه بيا پاڅيدو او ركوع ئے اوكړه نو مونږ ګمان اوكړو چه سوره تنزيل السجده ئے اولوستو. ليكن دا روايت ضعيف دے روستو به راشي.

٢– دويم دليل دا دے: عبد الله بن زبير د ظهر يا عصر مونځ اوكړو يو سري ورته اووئيل: تا پنځه ركعاته اوكړل؟ هغه اووئيل: ما يو سورت اولوستو چه په هغے كښې سجده وه. (ابن ابي شيبه)

٢– بعض احناف او بعض حنابله وائي چه په سري مونځ كښې به ئے نه وائي ځكه پدے كښې په مقتديانو باندے ابهام او تخليط راځي. او دا قول صحيح دے ځكه په سري مانځه كښې صحيح نقل نشته او كوم روايات چه راغلي دي هغه ضعيف دي. او دا قول د امام احمدؒ هم دے كما في مسائل احمد لابي داود ص (٣٨) ٣– د امام مالك په نيز باندے په فرض مانځه كښې مكروه ده او يو روايت دا دے چه په سري مانځه كښې مكروه ده كما في فقه السنة (١٩٧/١) وانظر فتاوى الدين الخالص (١٥٢/٥) دا حديث صريح دليل دے چه په مفصلاتو كښې هم سجده د تلاوت شته. او په مفصلاتو كښې سجده د خلفاء اربعه او ائمه ثلاثه وغيره نه نقل ده.

٣– وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ السَّجْدَةَ، وَنَحْنُ عِنْدَهُ فَيَسْجُدُ، وَنَسْجُدُ مَعَهُ، فَنَزْدَحِمُ حَتّٰى مَا يَجِدُ اَحَدُنَا لِجَبْهَتِهٖ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ. متفق عليه.

ترجمه: او ابن عمر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به (يو آيت د) سجدے لوستو او مونږ به د هغه خوا كښې وو نو هغه به سجده كوله او مونږ به (هم) ورسره سجده كوله، نو مونږ به داسے ګنړ شو چه په مونږ كښې به يو تن د خپل تندي دپاره ځائے نه موندلو چه په هغے باندے سجده اوكړي. (بخاري ومسلم)

تشريح: يعني رسول الله ﷺ به آيت د سجدے لوستلو او مونږ به ورسره وو نو كله چه به ئے سجده كوله نو مونږ به هم ورسره سجده كوله نو د ځائے د تنګوالي په وجه او د ساجدينو د ګنړوالي په وجه به تيل شو چه بعض كسانو به د سجدے دپاره ځائے نه موندلو.

١ – **مسئله**: كه يو انسان د ګنړوالي په وجه د سجدے ځائے نه مومي نو هغه به څه كوي؟

پدے كښې اختلاف دے، عمر فاروق نه بيهقي په اسناد صحيح نقل كړيدي چه هغه وائي: (يسجد على ظهر اخيه) د بل مسلمان په شا باندے به سجده كوي او دا قول د كوفينو احمد او

اسحاق دے۔ ٢- عطاء بن ابی رباح، زهري امام مالك او جمهور وائي: انتظار به کوي تردے چه هغوی سر راپورته کړي نو دا به ورځکته شي خو دا اختلاف په فرضي سجده کښې دے لیکن پدے باندے سجده د تلاوت هم جاري کيږي۔

بیا دے حدیث کښې بله مسئله ده هغه دا چه په اوریدونکي باندے هم سجده شته۔ کله چه لوستونکے سجده اوکړي نو اوریدونکے به ئے هم کوي۔

٢- **مسئله**: کله چه لوستونکے سجده اونکړي نو آیا په غوږ کیخودونکي باندے سجده شته او که نه؟ ١- **امام بخاري** په خپل صحیح کښې دا راجح کړیده چه نه به ئے کوي او دا قول د مالکیه او حنابله دے **دلیل** ئے حدیث د ابن مسعود دے چه هغه تمیم بن حذلم ته اووئیل چه هغه یو هلك وو او سجده ئے اولوسته نو ابن مسعود ورته اوفرمائیل: اسجد فانك امامنا فيها- ته سجده اوکړه ځکه چه ته زما امام ئے پدے باره کښې۔(بخاري) بیا ئے دا حدیث الباب هم په دلیل کښې ذکر کړیدے چه دلته نبي ﷺ سره نورو صحابو شریکه سجده کړیده او اول حدیث د ابن مسعود ددے باب هم دے۔ حافظ ابن حجر د تمیم بن حذلم د حدیث تأیید په روایت د زید بن اسلم د ابن ابي شیبه نه هم نقل کړیدے چه هغه فرمائي: یو هلك د نبي ﷺ په خوا کښې سجده اولوسته نو هغه هلك د نبي ﷺ انتظار اوکړو، کله چه نبي ﷺ سجده اونکړه نو هغه اووئیل: یا رسول الله! آیا پدے سجده کښې سجده کول نشته؟ ورے وئیل: ولے نشته لیکن ته زمونږ پدے کښې امام وے، که تا سجده کړے وے نو مونږ به هم کړے وے رجاله ثقات الا انه مرسل۔ قال الالباني انه مرسل صحیح الاسناد۔ الارواء (٢/٢٢٦)

او امام بیهقي (٢/٣٢٤) ددے د استدلال دپاره حدیث د زید بن ثابت هم ذکر کړیدے کوم چه روستو راځي چه ما په نبي ﷺ سوره نجم اولوستو هغه پکښې سجده اونکړه۔ هغه ئے هم پدے باندے حمل کړیدے چه دلته قاري (زید) سجده نده کړے ځکه نبي ﷺ اونکړه۔

٣- **احناف او امام شافعي وائي**: که سجده لوستونکے ئے نه کوي نو اوریدونکے به ئے کوي، په هریو جدا سجده ده المجموع (٤/٥٨)۔ پدے کښې قول اول صاحب د مرعاة (٣/٤٣٦) غوره کړیدے۔ او علامه قسطلاني وائي: سجده د دواړو سره تعلق لري مګر په حق د اوریدونکي کښې کله چه قاري سجده کوي نو ډیره مؤکده ده او کله چه قاري سجده نه کوي نو بیا دومره مؤکده نه ده۔ او همدا خبره راجح ده چه کله قاري سجده کوي نو اوریدونکي باندے هم ضروري ده او کله چه ئے نه کوي نو بیا اوریدونکي له مستحب ده او واجب پرے نه ده۔ ځکه چه آیت ﴿واذا قرئ عليهم القرآن لايسجدون﴾ عام دے پدے کښې ئے د قاري سجده شرط نه ده ګرځولے۔ بیا طریقه دا ده چه کله قاري سجده کوي او خلق ورته خوا کښې ناست وي نو هغوی دپاره هم سجده کول سنت دي۔

٣- **مسئله**: آیا په لاروي باندے چه قصد د اوریدلو ئے نه وي سجده شته؟ راجح دا ده چه

څوك ورته قصداً غوږ کيدی نو په هغه باندې سجده کول واجب دی او چه څوك ئې غير اختياري واوري نو په هغه باندې واجب نه ده لکه داخبره امام بخاري په خپل صحيح (١٤٦/١) کښې هم ذکر کړيده ـ (وهو قول عثمان وابن عباس وعمران وبه قال مالك) بيا ئې د عمران بن حصين قول ذکر کړيدې : چه هغه نه تپوس اوشو: چه يو سړے سجده واوري او ناست ورته نه وي نو آيا سجده به کوی هغه اووئيل: سجده پرې نشته ـ يعنې واجب پرې نه ده ـ

سلمان فارسي سجده واوريدله ورته اووئيل شو آيا ته سجده نه کوے؟ هغه اوفرمائيل : ما لهذا غدونا– مونږ دے سجدې اوريدو له نه يو راغلي ـ البيهقي (٣٢٤/٢) ونحوه في ابن ابی شيبة (٥/٢) عثمان بن عفان وائي : انما السجدة على من استمعها ـ سجده صرف په غوږ کيخودونکي ده ـ **ابن مسعود** او عمران بن حصين فرمائي : ما جلسنا لها ـ (مونږ سجدې ته ناست نه يو) المغني (٦٨٨/١) **ابن عباس** فرمائي : انما السجدة على من جلس لها ـ واسناده صحيح ابی شيبة (٥/٢) **سعيد** بن مسيب به د يو مقرر په خوا کښې کيناستو نو هغه به سجده اولوسته، سعيد به واوريدله او سجده به ئې نه کوله، چا ورته اووئيل : ته ولې سجده نه کوے ؟ هغه اوفرمايل : لست اليه جلست ـ زه سجدې اوريدو ته نه يم ناست ـ البيهقي (٣٢٤/٢)

او پدے قول کښې آساني هم ده څکه د ريډيو وغيره نه به د چا سجده غوږ ته راشي نو هغه باندې که واجبه شي نو حرج به راشي ـ

٢–امام شافعيؒ فرمائي : مستمع باندے د سجدې کول تاکيدی حکم دے او اوريدونکي دپاره مستحب ده او مؤکد نه ده ـ المجموع (٥٨/٤) وفتاوی الدين الخالص (١٤٣/٥)

٣– احناف وائي : په دواړو سجده لازم ده ـ (وروی ذلك عن ابن عمر والنخعي وسعيد بن جبير ونافع واسحاق) وائي : څکه دا سامع د سجدې دے نو ده باندې سجده لازم ده لکه د مستمع په شان ـ مگر راجح قول د امام شافعي دے ـ

---

٤ – وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ﷺ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ «النَّجْمَ» فَلَمْ يَسْجُدْ فِيْهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او زيد بن ثابت ﷺ فرمائي : ما په رسول الله ﷺ باندې سوره نجم لوستو نو هغه په کښې سجده اونکړه ـ (بخاري، مسلم)

تشريح : ددې حديث په باره کښې امام مالك وائي چه دليل دے چه مفصلاتو کښې سجده نشته، ابوثورؒ وائي : چه خاص په سورت نجم کښې سجده نشته، مگر دا قولونه د نورو احاديثو مخالف دی ـ امام شافعيؒ ترے استدلال کوی چه پدے موقعه باندے نبي ﷺ سوره نجم کښې سجده د بيان د جواز دپاره ترك کړيده معلومه شوه چه سجده تلاوت واجب نه ده ـ

احناف پکښې وائي : سجده ئې پدے وجه اونکړه چه کيدے شي نبي ﷺ په بے اودسۍ حالت

کښې وو ۲- یا وقت د کراهت وو ۳- پدې وجه چه سجده د تلاوت فی الفور واجب نه ده ځکه کیدې شي چه نبی ﷺ پدې وخت کښې سجده نه وي کړې بل وخت کښې ئې کړې وي۔ حافظ ابن حجر فرمائي: ارجح احتمال دا دې چه د بیان د جواز دپاره ئې ترك کړیده ځکه که دا واجب وې نو امر به ئې ورته کړې وې آه۔ مګر پدې ټولو کښې زیاته راجحه خبره دا ده چه دلته قاري زید بن ثابت دې هغه اونکړه نو نبی ﷺ هم اونکړه۔ نو دا د مخکښنۍ مسئلې دپاره دلیل شو۔

٥- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَجْدَةُ «صٓ» لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُوْدِ، وَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَسْجُدُ فِيْهَا، وَفِيْ رِوَايَةٍ: قَالَ مُجَاهِدٌ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: ءَ اَسْجُدُ فِيْ «ص»؟ فَقَرَأَ: ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَيْمَانَ﴾ حَتّٰى اَتٰى ﴿فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾ فَقَالَ: نَبِيُّكُمْ ﷺ مِمَّنْ اُمِرَ اَنْ يَّقْتَدِيَ بِهِمْ. رواه البخاري.

ترجمه: او ابن عباس رضی الله عنهما فرمائي: د سوره "ص" سجده د ډیر تاکیدی سجدو نه نه ده، او ما نبی ﷺ لیدلې دې چه پدې سورت کښې به ئې سجده کوله۔ او په یو روایت کښې دي: مجاهد وائي: ما ابن عباس ته اووئیل: آیا زه په سوره ص کښې سجده اوکړم؟ نو هغه دا آیت: ومن ذریته داود وسلیمان نه تر فبهداهم اقتده پورې اولوستو او وې فرمایل: ستاسو نبی ﷺ هم د هغه خلقو نه دې چه هغوی ته حکم په اقتداء د پخوانو انبیاؤ شویدې۔ (بخاري)

تشریح: ابن عباس ﷺ دا ولې اووئیل چه دا سجده د ضروري سجدو نه نه ده؟ نو وجه دا ده چه ددې سجدې په باره کښې د نبی ﷺ نه څه امر او تیزي نه ده راغلې بلکه دا په صیغه د اخبار د داود ﷺ نه نقل ده چه هغه کړې ده، او زمونږ نبی ﷺ پدې آیت کښې سجده په اقتداء او تابعدارئ د داود ﷺ کړیده ځکه هغه ته د پخوانو انبیاؤ په اقتداء حکم شویدې او د هغه انبیاؤ نه یو داود ﷺ دې او هغه خو دا سجده کړیده نو زمونږ پیغمبر هم کړیده یا ئې شکراً کړیده لکه فصل ثالث کښې حدیث راځي۔ **بیا** دلته ابن عباس نبی ﷺ په دې سجده لیدلې هم دې او ددې د اِثبات دپاره ئې د آیت نه استنباط هم اوکړو چه پیغمبر په نیت د اقتداء کړیده۔

★- دا حدیث د هغه علماؤ دلیل دې چه وائي سجده تلاوت واجب ده ځکه چه هر کله سجده د ص د عزائم السجود(ډیر تاکیدی سجدونه نه ده) نو ددې نه ماسوا نورې سجدې ضروري او واجب دي۔ ★- دارنګه حدیث دلیل دې چه دیني احکامو کښې کله تفاوت وي بعض ډیر موکد وي او بعض د هغې نه خکته درجه کښې وي۔ ★- دارنګه حدیث مطلق دې نو په مانځه کښې هم دا سجده کولې شي او بهر د مانځه نه هم۔

عزائم السجود کوم دي؟ نو په یو روایت د علي بن ابي طالب ﷺ کښې دي: عزائم السجود: حم،

والـنـجم، واقرأ، والم تنزيل، رواه ابن الـمـنـذر، او ابن عباس آخرى درے ذكر كړيدى او بعض وائى : الاعراف، او سبحان، او حمٓ او الم تنزيل السجده ذى اخرجه ابن ابى شيبه۔ قاله الحافظ۔

مسئله : آيا ركوع په ځائے د سجدے كافى كيږى او كه نه ؟۔ سجدے دپاره مستقل پاځيدل ضرورى دى او كه نه په ركوع كښې مُجزى كيږى ؟ نو صحيح خبره دا ده چه سجده مستقل عبادت دے او ركوع مستقل او تداخل په عبادات فرضيو كښې صحيح نه دے، په نفلو كښې جواز لرى لكه تحية المسجد كښې اشراق اوكړے شى۔ ٢- **احناف** وائى : كه د ركوع او د سجدے ترمينځ آيتونه متخلل نه شو نو سجده په ركوع كښې مجزئ كول صحيح دى، دوه دليلونه پيش كوى : ١-يو دا چه وخر راكعاً لفظ راغلے دے نو دلته سجدے ته ئے ركوع وئيلے ده، معلوميږى چه دا مجزئ كول صحيح دى۔ **الجواب** : دلته ركوع په معنى د سجدے دے، خو ركوع ئے ځكه استعمال كړيده چه سجدے ته ئے ركوع وئيلے ده، چه ركوع ته پاځيدل پكار دى اگرچه په ناسته هم جواز لرى نو داود عليه السلام په اعلىٰ طريقه عمل كړيدے۔ ٢- دويم دا چه د راكعاً مصداق خو داود عليه السلام دے، او هغه سجده كړيده نه ركوع بيا نبى عليه السلام د هغه تابعدارئ كښې سجده كړيده نو دا داسے شوه لكه ركوع او سجده چه ئے دواړه كړيدى۔

٢- دليل سنن كبرىٰ كښې دى چه ابن مسعود به ركوع كښې سجده كوله او بيا به ئے سجده نه كوله، ليكن ددے حديث صحت او ضعف معلوم نه دے۔او بله دا چه دا موقوف حديث دے او اجتهاد د صحابى دے او هغه حجت نه وى ځكه چه ورسره مرفوع حديث نه وى كما فى الاصول۔او عام علماء وائى چه سجده جدا ده، د ركوع نه او نبى عليه السلام داسے تداخل نه دے كړے۔

الفصل الثانى

٦- عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ : أَقْرَأَنِي رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَمْسَ عَشْرَةَ سَجْدَةً فِي الْقُرْآنِ، مِنْهَا ثَلَاثٌ فِي الْمُفَصَّلِ، وَفِي سُوْرَةِ «الْحَجِّ» سَجْدَتَيْنِ، رواه ابوداود وابن ماجه۔

ترجمه : او عمرو بن العاص رضی الله عنه فرمائى : په ما باندے رسول الله ﷺ په قرآن كښې پنځلس سجدے لوستلى دى، چه د هغينه درے په مفصل (سورتونو) كښې دى او په سوره حج كښې دوه سجدے دى۔ (ابوداود، ابن ماجه)۔

تشريح : مطلب د حديث دا دے چه رسول الله ﷺ ما ته دا حكم كړيدے چه زه په قرآن كريم كښې پنځلس سجدے اولولم۔ اقرأ لفظ په هغه ځائے كښې استعماليږى چه څوك چا ته حكم په قرائت اوكړى۔

د سجود التلاوة شمار او عدد كښې اختلاف :

بيا ددے په عدد كښې اختلاف دے ١-امام احمد، الليث، اسحاق او ابن وهب د مالكيه نه او ابن منذر د شافعيه نه او ابن المبارك او يوه طائفه د اهل علم وائى چه ټولے سجدے (١٥) دى او دا

حديث ئے دليل دے، نو سجده د ص ئے پکښې هم داخله کړيده. ٢- **امام شافعي** وائي: (١٤) دی د سوره ص سجده ئے پکښې نه ده شمارلے او هغه وئيلى دى چه دا سجده د شکر ده او سجده د تلاوت نه ده كما في مختصر المزنى ص (١٦) ومغنى المحتاج (٢١٥/١) ددے وجه نه هغه وئيلى دى دا به په مانځه کښې نشي کولے ځکه سجده د شکر په مانځه کښې مشروع نه ده. او حج کښې دوه سجدے دى. ٣- **امام ابوحنيفه** وائي: (١٤) دى. د سورت حج دويمه سجده ئے نه ده شمارلے بلکه وائي: هغه د تلاوت سجده نه ده بلکه هغه سجده صلاتيه ده، يعنى مونځ کښې سجده مراد ده. او د سورت ص سجده ئے لازمي گنړلے ده. كما فى المبسوط (٦/٢)

٤- **امام مالك** وائي: (١١) يولس سجدے دى، نو هغه ص کښې هم سجده نه منى او مفصلاتو کښې درے سجدے نه منى المرعاة (٤٤٠/٣) **راجح** قول د احمد دے ځکه پدے باره کښې ډير آثار راغلي دی چه دا ټولے سجدے ضروری دی. د ص سجده هم پکار ده او حج کښې دويمه سجده هم ضروری ده. لکه روستو راځي او احناف بغير د څه دليل نه دويمه سجده د حج ضائع کړيده. او دا قول علامه امير صنعانيؒ په سبل السلام (٢١٠/١) کښې راجح کړيدے.

بيا دا پنځلس سجدے کومے دی؟ نو ١- اوله د سوره اعراف په آخر کښې. ٢- دويمه سوره رعد ﴿بالغدو والآصال﴾ ٣- دريمه سوره نحل ﴿ويفعلون ما يؤمرون﴾. ٤- سوره بنی اسرائيل کښې ﴿ويزيدهم خشوعاً﴾ ٥- سوره مريم ﴿خروا سجداً وبكياً﴾. ٦- سوره حج کښې ﴿ان الله يفعل ما يشاء﴾ ٧- سوره حج کښې ﴿وافعلوا الخير لعلكم تفلحون﴾. ٨- سوره فرقان کښې ﴿وزادهم نفوراً﴾ ٩- سوره نمل ﴿رب العرش العظيم﴾ ١٠- سوره الم تنزيل ﴿وهو لا يستكبرون﴾ ١١- سوره ص ﴿وخر راكعاً وأناب﴾. د احنافو په نزد ددے قول سره ﴿وحسن مآب﴾ ١٢- حم السجده کښې ﴿ان كنتم اياه تعبدون﴾ او دا قول د على رضى الله عنه دے. او د ابن مسعود، ابوحنيفه، شافعي او جمهورو په نزد ددے قول سره ﴿وهم لا يسأمون﴾. او ١٣، ١٤، ١٥- په مفصلاتو کښې سوره نجم، انشقت، اقرأ باسم ربك. كذا فى النيل (١١٧/٣).

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه ابوداود (١٤٠١) وابن ماجه (١٠٥٧) والدارقطنى (٤٠٨/١ رقم ٨١) وفى اسناده عبد الله بن منين مجهول قال الحافظ: حسنه المنذرى والنووى وضعفه عبد الحق وابن القطان، وفيه الحارث بن سعيد العتقى وهو مجهول وقال المباركفورى فى المرعاة (٤٤١/٣) عبد الله بن منين وثقه يعقوب بن سفيان كما فى تهذيب التهذيب والتقريب والحارث قال الحافظ انه مقبول: فالظاهر ان الحديث لا ينحط عن درجة الحسن. اهـ ويشهد لكل جملة احاديث اخر.

٧- وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ! فُضِّلَتْ سُوْرَةُ «الْحَجِّ» بِأَنَّ فِيْهَا سَجْدَتَيْنِ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَمَنْ لَّمْ يَسْجُدْ فَلَا يَقْرَأْهُمَا. رواه ابوداود والترمذى، وقال: هذا

حدیث لیس اسناده بالقوی، وفی المصابیح «فَلَایَقْرَأْهَا» کَمَا فِیْ شَرْحِ السُّنَّةِ۔

ترجمه : او عقبه بن عامر ﷺ فرمائی : ما اووئیل : د الله رسوله ! سوره حج ته په دے وجه فضیلت حاصل دے چه پدے کښې دوه سجدے دی ؟ هغه اوفرمایل : آؤ ، اوچا چه دا دواړه سجدے اونکړے نو هغه دِے د دے دواړو سجدو آیتونه نه وائی۔ (ابوداود، ترمذی) اوترمذی وئیلی دی : ددے حدیث سند قوی نه دے، او په مصابیح کښې د شرح السنه په شان د فلا یقرأ هما (نو هغه دوه د سجدو آیتونه دِے نه لولی) په ځائے فلا یقرأ ها (هغه سورت دِے نه وائی) الفاظ دی۔

تشریح : ددے حدیث چا یو مطلب دا بیان کړیدے چه که یو انسان دا سجدے نه کوی نو بیا دِے دا آیتونه پریدی او نه دِے لولی، یعنی که چا د سجدے اراده نه وی نو بیا دِے آیت د سجدے نه وائی۔ لیکن دا مطلب صحیح نه دے ځکه دا د استعمال د عربئ نه خلاف دے ځکه دا قسم الفاظ په عربئ ژبه کښې د زجر او توبیخ دپاره استعمالیږی او مطلب پکښې تیزی ورکول وی ددے سجدو په کولو او مطلب دا دے چه لکه څنګه چه ددے آیتونو قرائت پریخودل مناسب نه دی نو دغه شان پدے کښې سجدے پریخودل هم مناسب نه دی۔ لهذا دا ضرورکوئ۔ او دا حدیث صریح دلیل دے چه په سوره حج کښې دوه سجدے ضروری دی۔ او دا قول د عمر بن الخطاب، علی، عبد الله بن عمر، ابو موسی الاشعری، ابوالدرداء، عمار، ابن عباس ﷺ، او ابو عبد الرحمن السلمی، ابو العالیه او زر بن حبیش – رحمهم الله – دے۔ ابن قدامۃ وائی : ددے صحابو په خپله زمانه کښې هیڅ مخالف نه دے موجود لهذا دا اجماع شوه ۔ ابواسحاق وائی : ما د اوویا کالو نه خلق موندلی دی چه په حج کښې دوه سجدے کوی آه۔ او احناف چه دا وائی چه دا به ځکه نشی کولے چه دا د رکوع سره پیوسته راغلے ده نو مراد ترے سجدہ صلاتیه ده نو دا قیاس دے په مقابله د نص کښې بله دا چه رکوع سره دِے پیوسته هم راشی او بیا دِے هم سجده د تلاوت شی لکه احادیث پدے ګواه دی۔ او سوره نجم کښې د سجدے سره عبادت پوسته شویدے او دلته ورسره عبادت او رکوع دواړه زیات شو نو پدے سره نور تاکید پیدا شو ددے په کولو۔ کما فی اعلام الموقعین (۲/ص۸)

اوس هغه **دلائل او آثار** چه دلالت کوی چه په حج کښې دوه سجدے دی دا دی :

۱– یو دا حدیث الباب دے۔ ۲– عبد الله بن ثعلبه نه نقل دی چه هغه د عمر فاروق پسے د سحر مونځ اوکړو نو عمر په حج کښې دوه سجدے اوکړے۔ البیهقی (۲/۳۱۷)

۳– **نافع وائی** : ابن عمر په حج کښې دوه سجدے اوکړے البیهقی (۲/۳۱۷) باسناد صحیح۔

٤– **ابو عبد الرحمن السلمی** وائی : علی بن ابی طالب به په حج کښې دوه سجدے کولے۔

۵– عبد الله بن مسعود، او عمار بن یاسر ﷺ به په حج کښې دوه سجدے کولے۔

٦– صفوان بن محرز وائی : ابوموسی اشعری ﷺ به په سوره حج کښې دوه سجدے کولے۔ او

يو ورځ ئې د سوره حج آخر اولوستو نو هغه سجده اوكړه مونږ هم ورسره اوكړه البيهقي (٣١٧/٢)
٧-ابو العاليه فرمائي : **ابن عباس** اوفرمايل : په سوره حج كښې دوه سجدې دي او په يو روايت كښې دي : سوره حج ته د دوه سجدو په جه فضيلت وركړې شويدې.
٨- جبير بن نفير د ابو الدرداء په باره كښې وائي چه هغه به په حج كښې دوه سجدې كولې. وانظر المصنف لعبد الرزاق (٣٤١/٣) والمحلى (٣٢٤/٣) وفتاوى الدين الخالص (١٥١/٥)
او ترمذيؒ وائي : (١٨٠/١) وهو مذهب ابن المبارك والشافعي واحمد واسحاق.
فلا يقرأها : دا الفاظ (يعني د واحد مونث په ضمير سره) په بعض نسخو د مصابيح كښې شته ليكن دا غلط دې كما قال ميرك والتوريشتي انظر المرعاة (٤٤٣/٣)
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابوداود (١٤٠٢) والترمذى (٥٧٨) والحاكم (٢٢١/١) والدارقطني (٩) وهو من رواية ابن لهيعة ولكن الراوي عند ابى داود عبد الله بن وهب وحديثه عنه صحيح فانه سمعه قبل الاختلاط آهـ وفي سنده مشرح بن عاهان وهو مقبول عند المتابعة كما في الدين الخالص (١٥٠/٥).

٨- وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ : اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ سَجَدَ فِي صَلٰوةِ الظُّهْرِ، ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ، فَرَأَوْا اَنَّهُ قَرَأَ «تَنْزِيْلَ السَّجْدَةِ». رواه ابوداود.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائي : نبي ﷺ د ماسپښين په مانځه كښې سجده د تلاوت اوكړه بيا راپورته شو نو ركوع ته خكته شو، خلقو گمان اوكړو چه پيغمبر سوره الم تنزيل السجده اولوستو. (ابوداود)
تشريح : د حديث د ظاهر نه دا معلوميږي چه آيت د سجدې ئې اولوستو او سجده ئې اوكړه چه راپورته راشو نو باقي سورت ئې پوره نه كړو بلكه ركوع ته لاړو او دا كار اگركه جائز دې ليكن افضل دا ده چه سجدې نه پورته كيدو نه پس قرائت اوكړي او بيا ركوع ته لاړ شي ليكن كيدې شي چه نبي ﷺ دا كار د بيان د جواز دپاره كړې وي اگركه ددې څه ثبوت هم نشته چه نبي ﷺ باقي سورت پوره نه كړو. بيا صحابه كرامو د محض سجدې نه دا معلومه نه كړه چه نبي ﷺ سوره الم تنزيل السجده لوستلې دې بلكه يو آيت نيم به ئې د رسول الله ﷺ نه اوريدلې وي ځكه چه هغه به كله ناكله په سري مونځ كښې هم بعض آيتونه په جهر سره وئيل چه خلقو ته پته اولگي چه فلانې سورت وايم. دا حديث دليل دې چه په سري مونځ كښې هم سجده د تلاوت لوستل جواز لري مگر سند ئې ضعيف دې.
درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (٨٠٧) والطحاوى في شرح معاني الآثار (٢٠٧/١) والحاكم (٢٢١/١) وفى السند انقطاع بين سليمان التيمي وابى مجلز وسقطت الواسطة وهو امية وهو مجهول كما في التهذيب (٣٢٢/٢) وفي تصحيح الحاكم نظر، انظر المرعاة (٤٤٤/٣) وتعليق المشكاة لرمضان

(١/٤٢٨)

٩- وَعَنْهُ، اَنَّهُ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ، فَإِذَا مَرَّ بِالسَّجْدَةِ، كَبَّرَ وَسَجَدَ وَسَجَدْنَا مَعَهُ. رواه ابوداود.

ترجمه : او ابن عمر رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ به په مونږ باندے قرآن لوستو نو کله چه به په آيت د سجدے ورتيرشو نو الله اکبر به ئے اووئيلو او سجده به ئے اوکړه او مونږ به (هم) ورسره سجده اوکړه۔ (ابوداود)

تشريح : دا حديث يو دليل دے پدے مسئله چه کله يو انسان قرائت ته غوږ اينبے وی او سجده د تلاوت پکښ راشی نو سجده به کوی، لکه څنګه ئے چه لوستونکے کوی۔

٢- دويم دا چه ددے نه معلومه شوه چه د سجده تلاوت دپاره تکبير شته او دا قول د شافعیؒ، احمدؒ او اصحاب الرأی دے برابره ده که په مانځه کښ وی او که بهر وی او دا قول د مالکؒ دے کله چه سجده په مانځه کښ کوی او که بهر د مانځه نه وی نو بيا د هغه نه دوه قوله دی۔

مګر محققين علماء وائی چه د سجده تلاوت دپاره نه اول تکبير شته او نه د پورته کيدو او نه سلام شته او نه رفع اليدين او نه تشهد شته۔ اګرکه مشهور قول د امام احمدؒ دا دے چه : سلام ګرځول واجب دی۔ ليکن ددے تولو په باره کښ هيڅ صحيح روايت نشته سویٰ د تکبير نه چه پدے کښ دا حديث نقل دے ددے وجه نه امام عبد الرزاقؒ وائی : امام ثوریؒ پدے حديث ډير خوشحاله شوے وو امام ابوداود وائی ددے وجه دا ده چه پدے کښ دسجدے د تلاوت تکبير ذکر دے او ددے نه علاوه په هيڅ حديث کښ ندے ذکر۔ ليکن تحقيق دا دے چه دا روايت هم ضعيف دے۔ **امام شافعیؒ** احمدؒ او احناف او مالکؒ وغيره وائی : په مانځه او غير مانځه کښ د سجده تلاوت دپاره دوه تکبيرونه دی يو د خکته کيدو او بل د پورته کيدو، ددوی سره دليل نشته مګر قياس دے په سجده د مانځه باندے مګر دا عبادت دے قياس استعمالول پکښ مناسب نه دی۔

او استدلال کوی په حديث د بخاری (١/١١٦) واحمد (١/٣٨٦) (ان النبی ﷺ کان يکبر فی کل خفض ورفع) ليکن دا د مونځونو په باره کښ دے او عام حديث دے او سجده د تلاوت يو خاص عبادت دے او په خاص عبادت کښ د عموم نه استدلال کول غلط وی۔ که په سجده تلاوت کښ اولنے يا دويم تکبير نقل وے نو صحابه کرامو باندے څنګه پټ پاتے کيدو؟ او حال دا چه ډيرو صحابه کرامو د نبی عليه السلام سجده د تلاوت په ډيرو آيتونو کښ په مختلف مناسباتو کښ نقل کړيده او يو تن پکښ تکبير د سجدے ندے نقل کړے ددے وجه نه صحيح دا ده چه اول تکبير هم اونه وئيلے شی انظر تمام المنة (٢٦٧) وفتاوی الدين الخالص (٥/١٣٨)

اګرچه د ابن مسعود او بعض تابعينو نه نقل دی چه هغوی به د سجده تلاوت دپاره تکبير وئيلو لکه ابن ابی شيبه (٢/٢) (تمام المنه : ٢٦٨) کښ د عطاء بن السائب روايت دے فرمائی :

كنا نقرأ على ابي عبد الرحمن السلمي ونحن نمشي فاذا مر بالسجدة كبر واومأ وسلم وزعم ان ابن مسعود كا يصنع ذلك ـ ليكن دا روايت هم ضعيف دے ځكه عطاء بن السائب مختلط راوی دے او ابن ابی شیبه (۲/۲) او عبد الرزاق (۳۴۹/۳) د ابو قلابه او ابن سیرین نه نقل کړیدی چه دوی دواړو وئیلی دی ګله چه سرے سجده د مانځه نه بهر کوی نو الله اکبر به وائی۔ واسناده صحیح لیکن دا اقوال د تابعینو دی پدے باندے عبادت نه ثابتیږی۔ ابن باز رحمه الله وائی په مانځه کښی به دواړه تکبیره وائی د (یکبر فی خفض ورفع) نه استدلال کوی او بهر د مانځه نه به صرف اول تکبیر وائی۔ انظر الفتاوی الاسلامیة (۳۳۱/۱) لیکن راجح دا ده چه دا استدلال بالعموم دے چه مناسب نه دے کما تقدم۔ لیکن په حالت راهنه کښی د خکته کیدو تکبیر وئیل پکار دی ځکه دغه مذکور حدیث او اثر د ابن مسعو او آثار التابعین چه جمع شی یو قوت پیدا کوی او قول د عامو اهل علمو هم دے نو اول تکبیر شته ان شاء الله تعالیٰ او عطاء ثقه راوی دے او اختلاط پکښی وو لیکن روسته زمانه کښی او دداسے راوی روایت موقوف عنه وی کله چه څه تائید راشی نو بیا قبلیږی۔ انظر تفصیل المسئلة فی فتاوی الدین الخالص (۱۴۰/۵)۔

او هر چه سجدے دپاره پاڅیدل دی نو دا مستحب دی، لکه عائشے دغه شان عمل کړیدے انظر البیهقی (۳۲۶/۲) او بل دلیل پدے باندے آیت ﴿وخر راكعاً واناب﴾ دے ځکه خرور (راپریوتل) د قیام نه وی۔ لکه دا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیه تفصیلًا په مجموع الفتاوی (۱۷۳/۲۳) کښی ذکر کړیده۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (١٤١٣) وابن خزيمة (٥٥٧) والحاكم في المستدرك (٢٢٢/١) وفي اسناده عبد الله بن عمر العمري المكبر وهو ضعيف ضعفه ابن المديني وكان يحيى لا يحدث عنه وقال احمد بن جنبل : كان يزيد الاسانيد، وقال صالح بن محمد : لين مختلط الحديث وضعفه ابن حجر في بلوغ المرام ص (١٠٢) والالباني في تمام المنة (٢٦٧) وخالفه اخوه عبيد الله فرواه بغير لفظ التكبير كما في المستدرك (٢٢٢/١) وعبيد الله هذا ثقة ـ

١٠ـ وَعَنْهُ، اَنَّهُ قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَرَأَ عَامَ الْفَتْحِ سَجْدَةً، فَسَجَدَ النَّاسُ كُلُّهُمْ، مِنْهُمُ الرَّاكِبُ وَالسَّاجِدُ عَلَى الْأَرْضِ حَتّٰى إِنَّ الرَّاكِبَ لَيَسْجُدُ عَلٰى يَدِهٖ. رواه ابوداود.

ترجمه : او ابن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د مکے د فتح په کال یو آیت د سجدے اولوستو نو ټولو خلقو (د پیغمبر سره) سجده اوکړه، په سجده کونکو کښی بعض سواره وو او بعض سجده کونکی په زمکه وو، تردے چه سور انسان به په خپل لاس باندے سجده اوکړه۔ (ابوداود)

تشريح : نبی ﷺ به یا خو آیت د سجدے سره نور آیتونه ملګری کړی وی او لوستلی به ئے وی یا صرف یو آیت د سجدے ئے د بیان د جواز دپاره لوستلے وی۔

حديث دليل دے چه سجده تلاوت په سورلئ باندے كول هم جواز لرى او په لاس باندے سجده كول په حالت د سورلئ كښې جائز دى۔ ابن قدامه په المغنى (٦٥٨/١) كښې ليكى : كله چه په سفر كښې په سورلئ وى نو جائز ده چه په سجده د تلاوت كښې اشاره اوكړى كوم طرفته ئے چه مخ وى، او راكوزيدل ضرورى نه دى او دا كار علىؓ، سعيد بن زيدؓ، ابن عمرؓ، ابن الزبيرؓ، نخعىؒ او عطاءؒ كړيدے او پدے باندے قول كړيدے مالكؒ، شافعىؒ، او اصحاب الرأى ...... او كه روان وى نو بيا به په زمكه سجده لګوى او دا قول د ابو العاليهؒ او اصحاب الرأىؒ دے انتهىٰ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف اخرجه ابوداود (١٤١١) وابن خزيمة (٥٥٦) والبيهقى فى الكبرى (٣٢٥/٢) وفيه مصعب بن ثابت بن عبد الله بن الزبير وهو لين الحديث وقال المنذرى : وقد ضعفه غير واحد من الائمة انتهىٰ ضعفه احمد وابن معين وقال النسائى والدارقطنى ليس بالقوى قال الحافظ فى التقريب : لين الحديث و كان عابداً۔

١١ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمْ يَسْجُدْ فِيْ شَيْءٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ مُنْذُ تَحَوَّلَ اِلَى الْمَدِيْنَةِ. رواه ابوداود۔

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائى : نبى كريم ﷺ د مفصل (سورتونو) نه په هيڅ يو سورت كښې سجده اونكړه د كوم وخت نه چه مدينے ته رانقل شو۔ (ابوداود)

تشريح : هر چه دا حديث د ابن عباس دے چه په مفصلاتو كښې نبى ﷺ سجده نده كړے كله چه مدينے ته نقل شو نو ضعيف دے۔ او كه صحيح شى نو عدم علم د ابن عباس دلالت په عدم باندے نه كوى ځكه د نورو صحابو نه په نورو طرقو نقل ده، او مخكښې روايت د زيد هم تير شو۔ يا ابو هريره مثبت دے او ابن عباس نافى دے او خبره د مثبت منلے كيږى نه د نافى ځكه د مثبت علم زيات وى د نافى نه فتدبر۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه ابوداود رقم (١٤٠٣) والبيهقى فى الكبرى (٣١٣/٢) فى اسناده مطر الوراق وهو كثير الخطأ وعنه ابوقدامة اسمه الحارث بن عبيد الايادي يخطئ كما فى التقريب" وضعفه الالبانى فى ضعيف ابى داود)۔

١٢ – وَعَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ فِيْ سُجُوْدِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ : „سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ خَلَقَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ ". رواه ابوداود والترمذى والنسائى، وقال الترمذىُّ : هذا حديث حسن صحيح۔

ترجمه : او عائشه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ به د شپے د قرآن په سجدو كښې دا دعا وئيله : سجد وجهى الخ (زما مخ هغه ذات دپاره سجده اوكړه چا چه دا پيدا كړيدے او په خپل قدرت او طاقت سره ئے د هغه غوږ او سترګے جوړے كړيدى۔ (ابوداود، نسائى، ترمذى) او

ترمذي وئيلي دي : "دا حديث حسن صحيح دے"۔

تشريح : د شپے قيد اتفاقي دے عائشةؓ د رسول الله ﷺ نه دا تسبيحات د شپے اوريدلي دي پدے وجه ئے شپه ياده کړيده ورنه مطلقاً دا الفاظ که شپه وی او که ورځ وی وئيل ئے جائز بلکه مسنون دی ۔ په روايت د حاکم او بيهقي کښې دی چه دريے ځل به ئے وئيل وصححه ابن السکن۔

او په روايت د بيهقي (۱۸۰/۲) کښې ورسره (فتبارك الله احسن الخالقين) اضافه هم نقل ده۔

او دا حديث او راتلونکے حديث دليل دے چه سجده د تلاوت کښې دغه مسنون اذکار منقوله لوستل مسنون دي برابره ده که فرض مونځ ژی او که نفل وی او که بهر د مانځه نه وی او چا چه دا په خارج د مانځه يا په نفل مانځه باندے حمل کړيدی نو هيڅ دليل ئے نشته۔

احناف وائي : سبحان ربی الاعلیٰ هم ددے په ځائے کافي کيږی۔ او دا قول امام احمدؒ هم کړيدے۔ (کما في المغني : ۶۸۶/۱) اګرکه منقول اذکار ډير اولیٰ او بهتر دی۔

ظاهره دا ده چه هر قسم اذکار لوستل جواز لري ځکه حديث دے (اقرب ما يکون العبد من ربه وهو ساجد فاکثروا الدعاء فقمن ان يستجاب لکم – رواه مسلم) وقد مر في باب السجود۔ نو دا دليل دے چه په هر قسم سجده کښې هر قسم دعاء لوستل جواز لري ددے وجه نه علامه آلوسی په تفسير روح المعاني (۱۰۸/۱۶) کښې فرمائي : علماء فرمائي : د هرے سجدے سره د هغه مضمون مطابق الفاظ جوړول مناسب دي مثلاً د سوره مريم په سجده کښې داسے اووائي : اللهم اجعلني من عبادك المنعم عليهم المهتدين الساجدين لك الباكين عند تلاوة آياتك ۔ الخ ۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه احمد (۳۰/۶) وابوداود (۱۴۱۴) والترمذی (۵۸۰) والنسائي (۲۲۲/۲) والحاکم (۲۲۰/۱) والدارقطني (۴۰۶/۱) والبيهقي (۳۲۵/۲) وقال الحاکم : صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي۔

۱۳ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ؓ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ وَأَنَا نَائِمٌ كَأَنِّي أُصَلِّيْ خَلْفَ شَجَرَةٍ، فَسَجَدْتُ، فَسَجَدَتِ الشَّجَرَةُ لِسُجُوْدِي، فَسَمِعْتُهَا تَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ، فَقَرَأَ النَّبِيُّ ﷺ سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ، فَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَقُوْلُ مِثْلَ مَا أَخْبَرَهُ الرَّجُلُ عَنْ قَوْلِ الشَّجَرَةِ، رواه الترمذی وابن ماجه الا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ : وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او ابن عباس ؓ فرمائي : (يوه ورځ) يو سړے رسول الله ﷺ ته راغلو، وے وئيل : اے د الله

رسوله! ما بیګاه شپه خپل ځان په خوب کښې اولیدو چه زه اوده وم ګویا کښې زه د یوې ونې شاته مونځ کوم نو ما (د تلاوت) سجده اوکړه نو زما د سجدې د وجه نه ونې هم سجده اوکړه نو ما ترې واوریدل چه داسې ئې وئیل: اللهم اکتب الخ (یعنی الله ما له پدې باندې د خپل ځان سره اجر اولیکه او ددې په ذریعه زما نه ګناه لرې کړه او دا سجده زما دپاره د خپل ځان سره ذخیره جوړه کړه او ما نه دا سجده داسې قبوله کړه لکه څنګه چه تا دا د خپل بنده داود ﷺ نه قبوله کړیده۔ (ترمذی)

تشریح: ددې سرې نوم په روایت د ابویعلی او طبرانی فی الاوسط کښې ابوسعید الخدری ذکر شویدې مګر هغه روایت متکلم فیه دې یمان بن نصر راوی پکښې مجهول دې۔

بیا پدې کښې دا احتمال شته چه نبی ﷺ سوره ص لوستلې وی دې دپاره خلکو ته د ابوسعید الخدری د لیدلې شوی خوب مشروعیت ښکاره کړی ځکه فعل ابلغ وی د قول نه۔ نو بیا دا دلیل دې چه سوره ص کښې سجده کول هم ضروری دی یا دا چه نبی ﷺ اتفاقاً یو آیت د سجدې لوستلې دې او دغه دعائې پکښې لوستلې ده۔ نو ددې نه جواز ددې الفاظو معلوم شو۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه الترمذی (۵۷۹) (۳٤۲٤) وابن ماجه (۱۰۵۳) وابن خزيمة (۵٦۲) والعقيلی فی الضعفاء الكبير (۲٤۳/۱) فی ترجمة الحسن بن محمد بن عبيد الله (۲۸۹) والحاكم (۲۱۹/۱) وقال صحيح رواته مكيون، لم يذكر واحد منهم بجرح وهو من شرط الصحيح ولم يخرجاه، ووافقه الذهبی وفی سنده محمد بن يزيد بن خنيس ربما اخطأ ولكن وثقه ابن حبان وابوحاتم وقال الحافظ: هو مقبول والحسن بن محمد ثقة كما فی تهذيب التهذيب (۳۱۹/۲) فسند الحديث حسن او صحيح۔

الفصل الثالث

۱٤- عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَرَأَ «النَّجْمَ» فَسَجَدَ فِيْهَا، وَسَجَدَ مَنْ كَانَ مَعَهٗ، غَيْرَ اَنَّ شَيْخًا مِنْ قُرَيْشٍ اَخَذَ كَفًّا مِنْ حَصًى — اَوْ تُرَابٍ — فَرَفَعَهٗ اِلٰى جَبْهَتِهٖ، وَقَالَ: يَكْفِيْنِيْ هٰذَا. قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَلَقَدْ رَاَيْتُهٗ قُتِلَ كَافِرًا. متفق عليه. وزاد البخاريُّ فی روايةٍ: وَهُوَ اُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ۔

ترجمه: او ابن مسعود ﷺ فرمائی: نبی ﷺ سوره نجم اولوستو او په هغې کښې ئې سجده اوکړه، د هغه سره چه څوك وو هغوی هم سجده اوکړه سوئ د قریشو د یو بوډا نه چه هغه د ګیټو یا د خاورو یو موټې راواخستو او خپل تندی ته ئې پورته کړو او وې وئیل: زما دپاره همدا کافی ده۔ عبد الله بن مسعود فرمائی: ما ددې واقعې نه روستو هغه اولیدو چه د کفر په حالت کښې قتل کړې شو۔ (بخاری ومسلم) او بخاری په یو روایت کښې دا الفاظ هم زیات نقل کړیدی چه: "هغه بوډا امیه بن خلف وو"۔

تشریح: دا واقعه مکه کښې راپیښه شوې ده لکه چه مخکښې ذکر شو۔ امیه بن خلف دا د

ابى بـن خلف بـن وهـب وزرور دے او د قريشو يو معزز سردار او ذى اثر شخصيت وو د اسلام او د رسول الله ﷺ په خلاف چه به کوم سازشونه کيدل نو ده به پکښې ډير لوئى اهم کردار ادا کولو، دده په خپلـه مشرئ ډير فخر او ناز وو، لکه دده واقعې نه معلوميږى چه په يوه موقع رسول الله ﷺ سره يـو مجلس کښې موجود وو تولو مسلمانانو او کافرانو سجده اوکړه نو ده پکښې د غرور او تکبر په ناز سجده اونکړه او کانړى يا موټے د خاورے ئے راواخستو او تندى ته ئے پورته کړو او دا ئے اووئيل چه زما دا کافى ده، زما سجدو ته ضرورت نشته ـ دا هم دده تکبر وو ـ د الله د بندګئ نه مشرئ او تکبر منع کړو ـ بيا بعض مفسرينو ليکلى دى چه دا شيخ د قريشو وليد بن مغيره وو لکـه په سيرت د ابـن اسحاق کښې ذکر دى، ليکن دا قول صحيح نه دے ځکه هغه نه دے قتل شوے ـ بعض وائى : عتبه بن ربيعه دے، بعض وائى : ابواحيحه سعيد بن العاص دے کما رواه الطبرانى ـ بعض وائى : ابو لهب دے کما ذکره ابوحيان فى التفسير من غير مستند بعض وائى : مطلب بن ابى وداعه دے کما فى النسائى والبيهقى (۲/ ۳۱۴) ليکن روايت د بخارى ډير غوره او اصح دے ـ بعض وائى : کيدے شى ابن مسعود بعض نه وى ليدلى او دا تول کسان به وى ـ

بيا دا حديث دليل دے چه اودسه سجده د تلاوت جائز ده ځکه چه په داسے لوئى مجلس کښې د ټولو مسلمانانو اودس کښې کيدل بعيد دى ـ مشرکانو بے اودسه سجده کړيده نبى ﷺ ورته حکم نه دے کړے ـ

۱۵ – وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ : إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ سَجَدَ فِيْ «ص» وَقَالَ : سَجَدَهَا دَاوٗدُ تَوْبَةً وَنَسْجُدُهَا شُكْرًا. رواه النسائى ـ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائى : نبى ﷺ په سوره "ص" کښې سجده اوکړه او وے فرمايل : دا سجده داود (ﷺ) د توبے د قبوليت دپاره کړے وه او مونږ دا سجده (د هغه د توبے په قبوليت باندے د) شکر دپاره کوو ـ (نسائىؒ)

تشريح : يعنى داود ﷺ دا سجده د توبے دپاره کړے وه او زه ئے د شکر دپاره کوم چه بنه دے چه الله د داود ﷺ توبه قبوله کړه ځکه ټول انبياء د يو سرى په شان دى نو په يو باندے نعمت دا په ټولو نعمت دے، نو شکر ئے ويستل پکار دى ـ **بيا** د نبى ﷺ په حق کښې دا سجده د شکر په طور وه او زمونږ په حق کښې د نبى ﷺ د اتباع په طور ده ځکه سجده د آيت د لوستو او اوريدو سره تعلق لرى نو کله چه مونږ دا آيت د سجدے واوريدو او يا مو اولوستو مونږ دپاره سجده کول پکار دى ـ **دا حديث** دليل دے چه سوره ص کښې سجده کول هم مسنون دى او په مانځه او خارج د مانځه ټولو حالاتو کښې ئے کول پکار دى نو د امام شافعىؒ دا قول صحيح نه دے چه وائى دا په مانځه کښې نشته ـ

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه النسائى (۱/ ۱۵۲) قال الحافظ فى الدراية : رواته ثقات وقال ابن كثير : رجاله على شرط البخارى انتهىٰ ـ

باب اوقات النهى

د هغه اوقاتو بيان په هغې كښې مونځ كول ممنوع دى. نهى دلته په معنى د منهى سره دے الاوقات المنهى عن الصلاة فيها. او دا نهى چه شويده نو ددے ډير حكمتونه دى چه الله او رسول ته معلوم دى، بعض روستو احاديثو كښې راځى.

مناسب وه چه دا باب، ئے د باب المواقيت سره راوړے وے، ليكن د مشكاة ډير ښه ترتيب دے، د مصنف بل طرفته توجه ده هغه دا چه اوقات النهى شامل شى سجود التلاوة ته هم ځكه كه مخكښې ئے راوړے وے نو چا به وئيل چه آيا سجدة التلاوة به په اوقات مكروهه كښې كيږى او كه نه؟.

ددے باب خلاصه : په احاديثو كښې اوقات مكروهه ټول پنځه ذكر دى ١- وخت د طلوع الشمس ٢- وخت د غروب الشمس ٣- بعد طلوع الفجر الى طلوع الشمس ٤-بعد صلاة العصر ٥- وخت د استواء الشمس.

د اوقات مكروهه په عدد كښې اختلاف ---١- **امام داود ظاهرى** وائى : هيڅ مكروه وخت نشته، مونځ په هر وخت كښې مطلقاً جائز دے او دا د يو جماعت د صحابه كرامو نه هم نقل دے. ليكن شايد چه هغوى ته د نهى احاديث نه وى رسيدلى. او داود او ابن حزم وائى : احاديث النهى منسوخ دى . مگر ددوى قول ضعيف دے.

٢- **امام شافعىؒ وائى** : اوقات الكراهة پنځه دى، ليكن دا استثناء ات كوى چه پدے اوقات الكراهية كښې صلاة سببى يعنى هغه مونځ چه د يو سبب په وجه كيږى -جائز دے برابره ده كه نفل وى او كه فرض لكه ١- نذرى مونځ ٢- صلاة الجنازه ٣- صلاة العيد ٤-تحية المسجد ٥- صلاة الكسوف ٦- د فوتى مونځ قضاء ٧-سجده د تلاوت ٨- سجده د شكر ٩-ركعتى الطواف ١٠-صلاة الحاجة ١١-صلاة الاستخارة ١٢- د ماسپښين سنت چه قضاء شى نو د مازيگر نه بعد كولے شى. روستو حديث د كريب ذكر كوى. ١٣- د جُمعے مونځ د استواء الشمس په وخت جائز دے. دليل كښې روستو حديث د جبير بن مطعم او حديث د ابى هريره ذكر كوى. او كوم نفلى مونځ چه سبب ئے نه وى هغه پدے اوقاتو كښې ندے جائز.

٣- **امام ابوحنيفه** وائى : اوقاتِ مكروهه پنځه دى ليكن دا بيا دوه قسمه دى ١- يو اوقات ثلاثه دى پدے كښې هر قسم مونځ حرام دے برابره ده اداء وى او كه قضاء .البته د دغه ورځے ماز يگر مونځ (عصر يو مه) جائز دے اوسجده د تلاوت او د جنازے مونځ هم حرام دے البته كه جنازه پدے وقت كښې راوړے شوى (تياره) وى يا تلاوت په دغه وخت كښې كړے شوے وى نو بيا

ددے كول جائز دى. اگر كه ددے اوقاتو نه مؤخر كول ئے 'ولىٰ دى.

دويم قسم وقت مكروه بعد طلوع الفجر الى طلوع الشمس او مابين العصر الى اصفرار الشمس : نو پدے كښې د جنازے مونځ، سجده د تلاوت او قضائى مونځ د صبا د راختلو نه تر نمر ځاته پورے جائز دى او د مازيگر مانځه بعد هم جائز دى، البته نفل مونځ پدے اوقاتو كښې هم مكروه دے. كه څوك پدے اوقاتو كښې نفل شروع كړى نو هغه دپاره ئے ماتول بهتر دى. ځكه د نفلو انعقاد جائز مع الكراهة دے نو دوى هم ددے عموم نه استثناء ات كړيدى. انظر رد المحتار (٢٥٠/١) والمجلد الثالث من هذا الكتاب باب تعجيل الصلاة (١٧٢/٣)

٤- **امام احمد** بن حنبل فرمائى : اوقات مكروهه پنځه دى (لكه د ابو حنيفةؒ او شافعىؒ په شان) مگر هغه وائى : پدے كښې نوافل صرف حرام دى او فرائض، نذرى مونځونه، تحية المسجد په حال د خطبه د جُمعے كښې او دوه ركعاته د طواف – فرضى طواف وى او كه نفلى – نو دا جائز دى. ٥- **امام مالك** وائى : اوقات د كراهت څلور دى وقت د استواء الشمس پكښې مستثنىٰ كوى او ددے كراهت نه منى باقى كښې وائى چه پدے اوقاتو (وقت الطلوع، وقت الغروب، بعد صلوة الصبح و بعد العصر) كښې نوافل مطلقاً حرام دى برابره ده كه سببى وى او كه غير سببى وى او فرائض پكښې جائز دى مگر د جنازے مونځ، سجده د تلاوت د سحر مانځه نه روستو د اسفار نه مخكښې جائز ده او دارنگه د مازيگر مانځه نه پس مخكښې د اصفرار نه جائز ده.

٦- **قول** : پدے ټولو كښې راجح قول جمع د ټولو مذاهبو ده سره د استثناء ات نه او هغه دا چه اوقات د كراهت پنځه دى ليكن كوم استثناء ات چه په احاديثو كښې راغلى دى هغه بعضو منلى دى او بعضو نه دى منلى، مونږ ټول منو او پدے سره ټولو احاديثو باندے عمل راځى. او هغه استثناء ات دا دى : ١- صلاة سببى ٢- صلاة فرضى ٣- جنازه بعد الصبح والعصر ٤- سجدة التلاوة ٥- ركعتان بعد العصر اذا كانت الشمس حية مرتفعة) ٦- عصر يومه عند الغروب. ٧- فجر يومه عند الطلوع وغير ذلك. او ددے ټولو مذاهبو دپاره روستو دلائل ذكر كيږى. اوس د **نهى حكمتونه** څه دى ١- يا خو ترك التشبه بعباد الشمس (يعنى چه نمر عبادت كونكو سره مشابهت رانه شى) ٢- د شيطان د خوشحالئ سبب دے. ٣- دے دپاره چه دا اوقات ذكر او تسبيحاتو ته فارغ شى، او نور حكمتونه او فوائد هم شته چه الله او رسول ته معلوم دى. او ددے استثناء اتو دپاره دلائل په خپل ځائے راځى. او بعض په مجلد ثالث كښې تير شويدى. **بيا** پدے اوقات خمسه و كښې چه كراهت راغلے دے نو دا كراهت اصلى دے ولے كه داسے نه شى نو بيا خو اوقات مكروهه ډير زيات دى، لكه مثلاً كله چه جمع اودريږى نو نفل كول مكروه او حرام دى ٢- امام چه كله د جمعے خطبے ته اوخيژى، ٣- او چه جمع ولاړه وى او يو انسان ځانله مونځ كوى. ٤- مالكيه وائى : د جمعے مانځه نه بعد نفل مكروه دى تردے چه خلق

واپس شي۔ او احناف وائي : د مابنام مانځه نه مخکښ نفل مکروه دي اګرچه خبره ئې خطاء ده۔ کما فی فتح الباری۔

الفصل الاول

۱- عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا يَتَحَرَّى اَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيَ عِنْدَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَلَا عِنْدَ غُرُوْبِهَا. وَفِيْ رِوَايَةٍ : قَالَ : إِذَا طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوْا الصَّلَاةَ حَتّٰى تَبْرُزَ، وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوْا الصَّلَاةَ حَتّٰى تَغِيْبَ، وَلَا تَحَيَّنُوْا بِصَلٰوتِكُمْ طُلُوْعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوْبَهَا، فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ. متفق علیه۔

ترجمه : ابن عمر ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائیلي دي : په تاسو کښې دې يو تن د نمر راختو او ډوبیدو په وخت د مانځه کولو قصد نه کوو۔ او په یو روایت کښې دي : نبي ﷺ اوفرمایل : " کله چه د نمر کناره راوخیژي نو مونځ پریدئ تردې چه نمر ښه ښکاره شي (یعنی د یوې نیزې په مقدار اوچت شي) او کله چه د نمر کناره ډوبه شي نو مونځ پریدئ تردې چه هغه بالکل غائب شي او د نمر ختو او ډوبیدو په وخت د مانځه کولو اراده مه کوئ ځکه نمر د شیطان د دوه ښکرونو ترمینځ راخیژي۔ (بخاري ومسلم)

تشریح : لا یتحری لفظاً جمله خبریه ده لیکن معنیً انشائیه ده، بعض وائي : لا یتحر مجزوم دې لیکن الف پکښې اشباعي دې۔ د حدیث مقصد دا دې چه یو انسان له دا ندي پکار چه هغه د نمر ختو یا نمر پریوتو وخت کښې قصد د مانځه اوکړي چه مخکښې ناست وي مونځ نه کوي لیکن کله چه دا مکروه وخت راځي دې پکښې مونځونه کوي نو دا حدیث دلیل دې د هغه علماؤ دپاره چه وائي : په درې اوقاتو کښې چه منع د مانځه راغلي ده نو هغه مونځ نه منع راغلي ده چه قصداً ئې انسان شروع کوي او که اتفاقي طور سره په دغه وخت کښې مونځ شروع شو د څه سبب په وجه لکه تحیة المسجد، یا جنازه یا سجده تلاوة یا صلاة الاستخاره وغیره نو بیا پدې کښې څه کراهت نشته استدلال داسې کوي چه پدې حدیث کښې تحري او تحین الفاظ راغلي دي او تحري معنی ده قصداً شروع کول او تحین معنی ده وخت متعین کول او مقررول۔ او کله چه انسان د مخکښې نه ورله وخت نه وي مقرر کړې او ناڅاپي دا کارونه راپیښ شي نو هیڅ کراهت نشته او دا حدیث ئې تفسیر ګرځولې دې د حدیث د عمرؓ دپاره چه بخاري کښې راغلې دې (نهی النبی ﷺ عن الصلاة بعد الصبح حتی تشرق الشمس، وبعد العصر حتی تغرب) او دا قول د عائشہؓ هم دې، چه هغې په ابن عمرؓ باندې رد اوکړو چه هغه خطاء شویدې ځکه چه رسول الله ﷺ د تحري د مانځه نه پدې اوقاتو کښې منع کړیده نه د مطلقاً مانځه نه۔ او ددې خبرې تائید پدې حدیث هم کیږي : (من ادرك رکعة من الصبح قبل ان تطلع الشمس فلیضف الیها الاخری) نو ددې نه معلومیږي چه دا نهي مختص ده په باره د هغه چا کښې چه په دغه وخت کښې قصد د مانځه کوي نه د هغه

چا په حق کښې چه اتفاقاً د هغه نه مونځ واقع شي. او دا قول د ابن عمرؓ هم دے. او دا قول ابن المنذر قوي کړيدے.

بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ : ددے مطلب دا دے چه کله نمر راخيژي نو شيطان د نمر مخے ته اودريږي دے دپاره چه د هغه د سر دواړو طرفونو مينځ کښې راوخيژي او پدے کښې د شيطان غرض دا وي چه کوم خلق د نمر عبادت کوي نو شيطان د هغوي قبله جوړه شي نو نبي ﷺ ځکه منع اوکړه چه ددے کفارو سره مشابهت رانشي. نو پدے کښې علت د نهي راغلو چه دا شيطاني وقت دے او په حديث د عمرو بن عبسه کښې به راشي چه پدے وخت کښې کفار ورته سجده لګوي. نو هغه دويم علت د نهي شو. پدے کښې رد دے په امام بغوي باندے چه هغه وائي ددے نهي هيڅ حکمت نه ښکاري بلکه دا نهي تعبدي ده.

فَدَعُوا الصَّلَاةَ : په بل روايت کښې دي اخروا الصلاة : ددے نه دوه ځايونه مستثنىٰ دي يو هغه فرض مونځ چه قضاء ئے راوړي دويم وختي مونځ چه په دے وخت کښې ئے ادا کوي د وجه د هغه حديث نه (من نام عن صلاة او سها عنها فوقتها حين يذكرها) الحديث. او (من ادرك ركعة من الفجر قبل ان تطلع الشمس، ومن ادرك ركعة من العصر قبل ان تغرب الشمس) دارنګه ددے نه مکه هم مستثنىٰ ده لکه روستو راروان دي. **حَتَّى تَبْرُزَ** : ددے نه ښه اوچتيدل مراد دي نه نفس د نمر ښکاره کيدل بلکه چه يو نيزه راپورته شي.

٢- وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ : ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ، أَوْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ، وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ، حَتَّى تَمِيلَ الشَّمْسُ، وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ. رواه مسلم.

ترجمه : او عقبه بن عامر ؓ فرمائي : درے وختونه دي چه رسول الله ﷺ به مونږ منع کولو چه په هغے کښې مونځ اوکړو، يا په هغے کښې خپل مړي خښ (دفن) کړو. (اول) په هغه وخت چه نمر راخيژي تردے چه اوچت شي. (دويم) او کله چه د غرمے قائميدونکے سورے (يعني د نصف النهار) په وخت اودريږي تردے چه نمر مائل شي (د نيمائي آسمان نه) (دريم) او په هغه وخت چه نمر دوبيدو کښې شي تردے چه ډوب شي. (مسلم)

تشريح : **أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ** کښې عموم دے نو د جنازے مونځ ته هم شامل دے.

أَوْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا : د نصر او ضرب نه په معنى د دفن کولو سره استعماليږي.

بيا بعض خلق وائي : ددے نه مراد د جنازے مونځ دے چه پدے اوقاتو کښې به نشي کولے.

٢- ليکن صحيح خبره د امام احمدؒ وغيره ده چه هغه وائي : ددے نه مراد مړي دفن کول دي چه پدے اوقاتو کښې مړي ښخول هم حرام دي او دا هغه حديث دے چه اکثر علماء پرے عمل نه

کوي څکه تاويل پکښې کوي وائي چه ذکر د دفن دے او په طريقه د کنايه ترے مراد دجنازے مونځ دے څکه چه د فن او د مانځه ترمينځ ملازمه ده۔ ليکن دے تاويل ته هيڅ ضرورت نشته وجه دا ده چه صلاة خو مخکښې عام ذکر شو نو په هغے کښې جنازه هم داخله ده نو دلته دفن مراد دے لکه دا خبره محققين علماؤ کړيده علامه سنديؒ فرمائي: دے حديث کښې ظاهري معنی دا ده چه دفن پدے اوقاتو کښې مکروه دے او دے ته د امام احمدؒ قول ميلان کوي۔
علامه بيهقيؒ، امام ابوداودؒ، امام نسائيؒ وغيره پدے باندے د دفن باب ترلے دے۔او دغه تاويل امام نوويؒ هم ضعيف کړيدے۔
مسئله : بيا ددے حديث نه دا مسئله هم واضحه شوه چه د جنازے مونځ پدے اوقاتو کښې مکروه دے په نزد د امام مالكؒ، امام احمدؒ او امام ابوحنيفةؒ او استدلال ئې کړيدے په دے حديث د عقبه او احاديثو مطلقه باندے چه هغه دلالت کوي په کراهت د مانځه پدے اوقاتو کښې ۔ امام شافعيؒ فرمائي: ندے مکروه څکه دا صلاة سببي دے ليکن قول اول ظاهر دے، علامه خطابيؒ وائي : قول الجماعة اولىٰ لموافقة الحديث) ۔
قَائِمُ الظَّهِيْرَةِ نه مراد يا سخته ګرمي ده يا نصف النهار دے څکه په غرمه کښې سورے په يو ځائے ولاړ وي حرکت نه کوي په ظاهري نظر کښې۔
بعض وائي : قائم الظهيره نه يو شخص مراد دے چه په غرمه کښې ولاړ وي څکه چه مسافر خلق په سفر کښې پدے وخت کښې اودريږي ددے دپاره چه د سختے ګرمئ نه راحت حاصل کړي۔
تَضَيَّفُ : دا په اصل کښې تتضيف دے يوه تاء حذف شويده مضارع د باب تفعل ده په معنی د ميلان سره۔

٣- وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : لَا صَلٰوةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ، وَلَا صَلٰوةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغِيْبَ الشَّمْسُ. متفق عليه.

ترجمه : او ابوسعيد خدري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : د صبا د راختلو نه پس مونځ نشته (سوي د دوه رکعاته سنتونه) ترديے چه نمر راپورته شي او د مازيګرمانځه نه بعد مونځ نشته ترديے چه نمر ډوب شي۔ (بخاري ومسلم)
تشريح : بعد الصبح کښې دوه احتماله دي : ١- يو دا چه ددے نه مراد بعد صلاة الصبح دے کما في مسلم يعني د سحر مانځه نه پس مونځونه صحيح نه دي او دا نفي په معنی د نهي ده کما ورد في حديث علي عند النسائي وابي داود يعني د سحر مانځه نه روستو مونځونه به کوئ ۔ لهذا ددے نه مراد بيا نوافل مطلقه دي چه هغه د سحر مانځه نه روستو منع دي او هر چه وختي فوتي مونځ دے نو هغه جائز دے۔ ٢- يا پدے کښې بعد طلوع الصبح معنی هم

صحيح ده يعنى د صبا د راختو نه پس د فرض او سنتو نه علاوه هيڅ قسم نوافل وغيره نه كيږى. فقه حنبلى كښې دى چه قبل صلاة الفجر هر قسم نفلونه كولے شى. ليكن ترمذى كښې صحيح حديث دے چه د صبا د راختو نه پس مونځ نه صحيح كيږى.

بَعْدَ الْعَصْرِ : دلته ورسره دا قيد مراد دے چه نمر به زير شوے نه وى ولے كه نمر اوچت ولاړ وى او په اول وخت كښې مونځ اوشى نو بيا د مازيگر مانځه نه روستو هم دوه ركعاته نفل كول جواز لرى لكه روستو په حديث د كريب كښې دغه مراد دے. او ددے حديث نه هم شوافعو ذوات الاسباب مونځونه مستثنىٰ كړيدى او احنافو تربے فوتى فرض مونځ او د جنازے مونځ او سجده د تلاوت مستثنىٰ كړيدى. وجه دا وائى چه پدے اوقاتو كښې فى نفسه څه كراهت نشته بلكه كراهت پكښې سداً للذريعه دے ځكه چه دا ذريعه گرځى دپاره ددے چه مونځ اداء كړے شى په مكروه وقت كښې ځكه كه پدے وقت كښې د مونځ اجازه وركړے شى نو يو انسان به مونځ اوگد كړى او ادا به ئے كړى په وقت د طلوع الشمس يا وقت الغروب كښې نو په حرامو كښې به واقع شى. **ليكن** ابن الهمام پرے اعتراض كړيدے چه نهى پدے دوه وقتونو كښې هم مطلق ده لكه څنگه چه په اوقاتِ ثلاثو كښې مطلق ده نو تخصيص د نص په خپله رأيه سره ابتداءً جائز نه دے. راجع المرعاة (٣/٤٥٧)

٤–وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ، قَالَ: قَدِمَ النَّبِيُّ ﷺ الْمَدِينَةَ، فَقَدِمْتُ الْمَدِينَةَ، فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ، فَقُلْتُ : أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلوٰةِ. فَقَالَ : صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ، ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ، حَتّٰى تَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ حِينَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ. وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ، ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُوْدَةٌ مَحْضُوْرَةٌ حَتّٰى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ، ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ، فَإِنَّ حِينَئِذٍ تُسَجَّرُ جَهَنَّمُ، فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْئُ فَصَلِّ، فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُوْدَةٌ مَحْضُوْرَةٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ، ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ، وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ. قَالَ قُلْتُ : يَا نَبِيَّ اللهِ! فَالْوُضُوْءَ حَدِّثْنِي عَنْهُ، قَالَ : مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوْءَهُ فَيُمَضْمِضُ وَيَسْتَنْشِقُ فَيَسْتَنْثِرُ، إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ وَفِيهِ وَخَيَاشِيمِهِ، ثُمَّ إِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ، ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ، إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ، ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ، ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ. فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلّٰى فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ وَمَجَّدَهُ

بِالَّذِىْ هُوَ لَهُ اَهْلٌ، وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلّٰهِ، اِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيْئَتِهٖ كَهَيْئَتِهٖ يَوْمَ وَلَدَتْهُ اُمُّهُ. رواه مسلم.

ترجمه: او عمرو بن عبسه رضی الله عنه فرمائي: نبي كريم ﷺ مدينې ته تشريف يوړو، نو زه هم مدينې ته راغلم او په هغه بانديې ورداخل شوم، ما عرض اوكړو: (اے د الله رسوله!) ما ته د مانځه د اوقاتو په باره كښې خبر راكړه! هغه اوفرمايل: "د سحر مونځ اوكړه بيا د مانځه نه بند شه ترديے چه نمر راختو سره اوچت شي ځكه چه نمر كله راخيژي نو د شيطان د دوه ښكرونو ترمينځ راخيژي او په دغه وخت كښې ديته كافران سجده كوي بيا مونځ كوه (يعني مونځونه درله جائز دي) ځكه د مونځ گواهي كيدے شي (يعني ملائك ئے گواهي وركوي) او ديته حاضري (د ملائكو) كيدے شي ترديے چه سوريے (په مقدارد) يو نيزيے اوخيژي (او په زمكه بانديے سوريے او نه لگي د غرمے وخت شي) نو د مانځه نه بند شه ځكه پديے وخت كښې جهنم لمبه كولے شي نو كله چه سوريے رامخامخ (يعني د نيمائي آسمان نه زائل) شي نو مونځونه كوه ځكه د مانځه گواهي كيدے شي، حاضري ورته كيدے شي. ترديے چه ته د مازيگر مونځ اوكړے بيا د مانځه نه بند شه ترديے چه نمر پريوځي ځكه دا د شيطان د دوه ښكرو ترمينځ پريوځي او پديے وخت كښې ورته كافران سجده كوي. عمرو بن عبسه فرمائي: ما اوونيل: اے د الله نبي! د اودس (د فضيلت متعلق) خبر راكړه! وے فرمايل: په تاسو كښې يو تن نشته چه هغه ځان ته د اوداسه اوبه نژديے كړي (راواخلي) بيا مضمضمه اوكړي، پوزنے ته اوبه واچوي او پوزه سونړ كړي مگر د هغه د مخ او خولے او پوزے نه گناهونه پريوزي بيا كله چه مخ اووينځي په هغه طريقه چه څنگه ورته الله حكم كړيدے مگر د هغه د مخ نه د گيرے د طرفونو نه گناهونه د اوبو سره پريوزي بيا چه لاسونه تر څنگلو پورے اووينځي نو د هغه د لاسونو نه گناهونه د گوتو د سرونونه د اوبو سره پريوزي. بيا چه سر مسح كړي نو د سر گناهونه ئے د ويښتو د طرفونو نه د اوبو سره پريوزي بيا چه قدمونه تر گيټو پورے اووينځي نو د خپو گناهونه ئے د گوتو د سرونو نه د اوبو سره پريوزي نو كه دے بيا پاڅيږي او مونځ اوكړي او د الله حمد او ثناء اووائي او د هغه شرافت بيان كړي په هغه صفاتو چه الله د هغے لائق دے، او الله ته زړه فارغه كړي (متوجه وي) نو هغه به د مانځه نه (بعد) د گناهونو نه داسے (پاك) راواپس شي لكه څنگه چه دا په كومه ورځ مور راوړے وو. (مسلم)

تعارف د عمرو بن عبسه: دده كنيه ابو نجيح ده عمرو بن عامر بن خالد السلمي رضي الله عنه صحيح مسلم كښې ئے صرف همدا يو حديث دے.

تشريح: په صحيح مسلم (۸۳۲) كښې ددے حديث نه مخكښې د عمرو بن عبسه د اسلام واقعه ذكر ده دلته مختصر راوړے شويدے. او هغه دا چه عمرو بن عبسه وائي: زه په زمانه د جاهليت كښې وم ما به په خلقو گمان كولو چه دوي په گمراهئ روان دي او په هيڅ دين نه دي او

هغوی به د اوثانو (بتانو) عبادت کولو نو ما د یو سړی په باره کښې واوریدل چه په مکه کښې دے او ناشنا خبرونه ورکوی نو په خپله اوښه کیناستم د هغه خواته راغلم نود رسول الله ﷺ حال دا وو چه پټ پټ به گرځیدو خپل قوم په هغه باندے بهادری کوله نو زه په نرمئ سره په مکه کښې په هغه ورغلم، ما ورته اووئیل: ته څوك ئے؟ هغه اوفرمایل: زه نبی یم. ما ورته اووئیل: نبی څه ته وائی؟ هغه اوفرمایل: زه الله رالیږلے یم. ما اووئیل: په کوم شی ئے رالیږلے ئے؟ هغه اوفرمایل: زه په صله رحمئ، بتانو ماتولو او د هغه په توحید چه هیڅ شے ورسره شریك جوړ نکړے شی -رالیږلے یم. ما ورته اووئیل: تا سره پدے کار کښې څوك ملگری دی؟ هغه اوفرمایل: آزاد او غلام. او د هغه سره په دغه وخت کښې ابوبکر او بلال ملگری وو، ما ورته اووئیل: زه هم ستا تابع کیږم، هغه اوفرمایل: ته ددے طاقت نه لرے نن ورځ، آیا ته زما حالت او د خلقو حالت نه گورے؟ لیکن خپل کلی ته واپس لاړ شه کله چه زما په باره کښې خبر شے چه زه ښکاره (غالب) شوم بیا راشه، دا وائی: زه خپل کلی ته لاړم او رسول الله ﷺ مدینے ته راغے او زه په خپل کور کښې وم نو ما به د هغه متعلق د خبرونو معلومات کولو او د خلقو نه به مے تپوسونه کول کله چه هغه مدینے ته راغے تردے چه زما د کورنئ نه څه کسان مدینے ته راغلل ما ورته اووئیل: د هغه سړی څه حال دے کوم چه مدینے ته راغلے دے؟ هغوی اووئیل: خلق ورته په جلتئ راروان دی او د هغه قوم د هغه د قتل اراده کړے وه لیکن ددے طاقت ئے او نه لرلو نو زه مدینے ته راغلم او رسول الله ﷺ باندے داخل شوم ما ورته اووئیل: یا رسول الله! آیا ما پیژنے؟ هغه اوفرمایل: آؤ ته هغه سړے ئے چه ما سره په مکه کښې ملاؤ شوے وے نو ما ورته اووئیل: یارسول الله ما ته د هغه دین خبر راکړه د کوم تعلیم چه تا ته الله درکړیدے او زه د هغے نه جاهل یم: اخبرنی عن الصلاه باقی حدیث مذکور دے.

اَقْصِرْ: د اقصار نه دے په معنی د بندیدلو او منع کیدو دے.

حِیْنَ تَطْلُعُ: دا علت اگرچه په بعض اوقاتو کښې نه وی لکه مونږ خو مخ په قبله اودریږو نمر ته مو شا وی لیکن نهی عامه ده، اگرکه انسان په حقیقةً شیطان او نمر ته سجده نه کوی لیکن پدے وخت کښې عبادت کول د شیطان د خوشحالئ سبب دے، او مشابهت د کفارو سره دے نو څکه منع اوشوه.

حَتّٰی یَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ: یعنی سورے پورته شی په نیزه یعنی د نیزے سورے پاتے نشی او په زمکه باندے د هغینه هیڅ سورے پرے نه وځی "دا حکم د مکه او مدینه او د هغے دماحول سره متعلق دے څکه په دغه مقاماتو کښې په اوگدو ورځو کښې عین د نصف النهار په وخت سورے بالکل په زمکه نه لگی بیا کله چه نمر جانب مغربی ته مائل شی نو سورے په زمکه واقع شی او دا د ظهر وخت دے. بعض وائی: یستقل د استقلال نه دے په معنی د قلیل گنړلو سره معنی دا ده: تردے چه

سورې د نيزې کم شي په ادنیٰ کميدو سره چه هغه سورې د زوال دې. نيزه ئې ذکر کړه ځکه عربو به وقت د نيزې په اودرولو معلومولو د هغې سورې ته به ئې اوکتل.

تُسَجَّرُ : دا په تخفيف او تشديد دواړو سره جائز دې په معنى د لمبه کولو، بلولو او گرمولو سره دې. اَقْبَلَ الْفَيْئُ . يعنى کله چه سورې مشرقى طرفته ښکاره شي. فيئ هغه سورى ته وائى چه د زوال نه پس وى او ظل عام دې. (نووى) .

دا حديث رد دې په قول د مالك باندې چه هغه وائى استواء الشمس مکروه وخت نه دې.

دارنگه دليل دې چه صلاة سببى په اوقات مکروهه کښې جائز دې. پدې باندې سوال دا دې چه صلاة سببى ولې جائز دې؟ دا احاديث د نهى ډې مستثنیٰ شي د صلاة سببى نه يعنى داسې ډې اووئيلې شي چه صلاة سببى په هر وخت کښې جائز دې مگر پدې اوقات مکروهه کښې ډې جائز نه وى لکه څنگه چه دا خبره احناف وغيره کوى ؟ .

ددې جواب دا دې چه صلاة سببى کښې هم عام الفاظ دى او احاديث د نهى هم عام دى، نو مونږ د صلاة سببى احاديث مستثنیٰ کوو د احاديث النهى نه ځکه چه د احاديث النهى عموم محفوظ نه دې او د صلاة سببى د احاديثو عموم محفوظ دې، ځکه چه د احاديث النهى نه هر مذهب والا استثناء ات کړيدى لکه چه مخکښې تير شوا او د احاديثو د صلاة سببى نه استثناء هيڅ عالم نه ده کړې لکه اذا هم احدكم- اذا اتى احدكم المسجد- فليصلها اذا ذكرها) ددې نه استثناء نده راغلې. لهذا کله چه د عموم محفوظ او عموم غير محفوظ تعارض راشي نو ترجيح عموم محفوظ لره وى ځکه چه عموم محفوظ په منزله د عام غير مخصوص منه البعض وى او عموم غير محفوظ په منزله د عام مخصوص منه البعض دې نو په عام مخصوص عنه البعض کښې علت جارى کيږى په هغه علت سره نور استثناء ات هم کيدې شي. دا وجه ده چه دعلامه شوکانى دې نکتې ته توجه نه ده پيدا شوې نو هغه د دواړو حديثو ترمينځ تعارض گنړلې دې او بيا ئې وئيلې دى چه په مکروه وخت کښې به مسجد ته نه داخليږى ځکه چه د تحية المسجد د حديث او د احاديث د نهى تعارض دې لهذا د اختلاف نه ځان ساتل پکار دى. ليکن حقه هغه خبره ده کوم چه مونږ ذکر کړه.

٤ – حديث دليل دې چه ډيروالې په عبادت کښې بدعت نه دې، بلکه ډيرول هم جواز لرى، علامه عبد الحى اللکهنوى پدې باندې کتاب ليکلې دې (اقامة الحجة على ان الاكثار فى التعبد ليس ببدعة) او دا حديث ئې په دليل کښې راوړيدې. ځکه دلته منع د مانځه نه صرف پدې اوقات مکروهه کښې اوشوه باقى مطلقاً اجازت دې چه هر وخت کښې انسان نفلى مونځ کوى جائز ده.

٥- وَعَنْ كُرَيْبٍ : أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْاَزْهَرِ، أَرْسَلُوْهُ

اِلٰى عَائِشَةَ، فَقَالُوْا : اِقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ، وَسَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ. قَالَ : فَدَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ، فَبَلَّغْتُهَا مَا اَرْسَلُوْنِيْ، فَقَالَتْ : سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ فَخَرَجْتُ اِلَيْهِمْ، فَرَدُّوْنِيْ اِلٰى اُمِّ سَلَمَةَ، فَقَالَتْ اُمُّ سَلَمَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَنْهٰى عَنْهُمَا، ثُمَّ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيْهِمَا، ثُمَّ دَخَلَ، فَارْسَلْتُ اِلَيْهِ الْجَارِيَةَ، فَقُلْتُ: قُوْلِيْ لَهُ: تَقُوْلُ اُمُّ سَلَمَةَ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! سَمِعْتُكَ تَنْهٰى عَنْ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ، وَأَرَاكَ تُصَلِّيْهِمَا ؟ قَالَ : يَا ابْنَةَ اَبِيْ اُمَيَّةَ ! سَأَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ، وَاِنَّهُ أَتَانِيْ نَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ، فَشَغَلُوْنِيْ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ، فَهُمَا هَاتَانِ. متفق عليه.

ترجمه : او کريب رحمه الله فرمائي : عبد الله بن عباس، مسور بن مخرمه او عبد الرحمن بن الازهر (کريب) لره عائشۀ ته اوليږلو او دے دريواړو اووئيل : (زمونږ د طرفنه) په عائشۀ باندے سلام اووايه او د مازيګر مانځه نه روستو د دوه رکعاته مونځ تپوس ترے اوکړه. کريب وائي : زه په عائشۀ باندے داخل شوم، او هغه دريواړو چه د کوم پيغام دپاره ليږلے وم هغه مے ورته اورسولو، عائشۀ اوفرمايل : د ام سلمۀ (خواته لاړ شه، دهغے) نه تپوس اوکړه، نو زه ددے درے صحابو خواته واپس راغلم (او دهغوی نه مے تپوس اوکړو) هغوی زه (بيا) ام سلمۀ خواته اوليږلم، ام سلمۀ (چه زما سوال واوريدو نو وے) فرمائيل : ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلی دی چه ددے دوه رکعاتو نه ئے منع فرمائيلے وه بيا ما (يوه ورځ) اوليدو چه دا دوه رکعاته ئے کول، کله چه هغه (دا دوه رکعاته په مسجد کښ اوکړل او بيا کور ته راداخل شو، يا بهر صحن کښ اوکړل او د کور دننه حصے ته داخل شو) نو ما خادمه هغه ته ورواوليږله او هغے ته مے اووئيل چه رسول الله ﷺ خواته ورشه او ورته اووايه چه ام سلمه وائي چه اے د الله رسوله ! ما تا نه اوريدلی دی چه تا ددے دوه رکعاتو (دکولو) نه منع فرمائيلے وه او (اوس) ته ما پدے دوه رکعاته کولو اوليدلے (ددے څه وجه ده؟) رسول الله ﷺ هغه (خادمے ته اووئيل) (چه ام سلمه ته اووايه چه) اے د ابو اميه لورے ! تا د مازيګر نه روستو د دوه رکعاتو په باره کښ تپوس کړيدے، صورت حال دا دے چه د عبد القيس قبيلے څه خلق (د دين د زده کړے په غرض) زما خواته راغلی وو نو زه هغوی د ماسپښين د دوه روستنو رکعتونو نه مشغوله کړم نو دا هغه دوه رکعاته دی. (بخاری ومسلم)

تعارف د کريب : کريب بن ابی مسلم الهاشمی دے ځکه چه د ابن عباس آزاد کړده غلام دے نو بنو هاشمو ته منسوب شو المدنی ابو رشدين ئے کنيه ده او د اوساط التابعين نه دے په مدينه کښ په سنه (۹۸) کښ په آخر د خلافت د سليمان بن عبد الملک کښ وفات دے.

تعارف د مسور بن مخرمة : مسور بن مخرمه بن نوفل الزهری الصحابی دے، دا او دده پلار

صحابه دې او مور شفاء بنت عوف د عبد الرحمن بن عوف خور ده د عمر بن الخطاب لازم ملګرے وو او د اهل فضل او دين نه دے په مکه کښې د هجرت نه دوه کاله پس پيدا شويدے او مدينے ته په اتم کال د فتح د مکے نه پس په ذى الحجه کښې راوستے شو د شپږو (٦) کالو وو، کله چه يزيد بن معاويه مکے ته فوجونه راوليږل د ابن الزبير د نيولو دپاره نو د منجنيق نه به ئے کانړى ويشتل په هغے کښې مسور بن مخرمه چه په حطيم کښې په مانځه ولاړ وو په يو کانړى اولګيدو پنځه ورځے ژوندے وو بيا وفات شو په هغه ورځ چه د يزيد بن معاويه د مرګ خبر راورسيدو او دا د (٦٣) کالو په عمر وو. **تعارف د عبد الرحمن بن الازهر** : بن عوف القرشى الزهرى الصحابى ابوجبير ئے کنيه ده او د عبد الرحمن بن عوف ورارہ دے۔

تشريح : فوائد الحديث : ١- علم طلب کول د زنانه نه جواز لرى. ٢- د علم د طلب دوه طريقے دى، بالواسطه او بالذات نو دلته بالواسطه دے. ٣- زنانه ته سلام ليږل جواز لرى کله چه فتنه نه پيدا کيږى، او دا سبب د محبت دے خاصکر غائبانه سلام. ٤- خبر واحد حجت هم او مفيد د يقين هم دے ځکه چه ابن عباسؓ کريب يواځے ليږلے دے او د هغه په خبره ئے يقين کړيدے، او ام سلمه جاريه ليږلے ده. ٥- ابن عباس ﷺ ته هم دا مسئله نه وه معلومه ځکه چه دلائل ورته متعارض ښکاره شوى وو.

سَلْ اُمَّ سَلَمَةَ : دا د صحابه کرامو کمال وو چه پخپله په يو مسئله پو هيدل ليکن بل عالم به موجود وو نو مستفتى به ئے بل ته ليږلو دے دپاره چه دا ذمه وارى دده نه ساقطه شى.

فَخَرَجْتُ اِلَيْهِمْ : کريب بيرته ابن عباس ته واپس شو دا ولے ؟ ځکه چه پدے کښې د قاصد ادب دے چه يو استاذے او قاصد يو کار پسے اوليږلے شى نو هغه به د ځان نه تصرفات نه کوى د کوم اجازت چه ورته نه وى شوے بلکه تپوس به کوى، ځکه دوى خو د عائشے پسے ليږلے وو نه د ام سلمه پسے اګرچه دا تپوس د ام سلمه نه بد کار نه وو ليکن کريب بيا هم د ادب لحاظ اوساتلو چه هسے نه چه ابن عباس او د هغه ملګرى خفه نشى دده په تصرف.

يَنْهٰى عَنْهُمَا : ددے دوه رکعاتو په باره کښې بخصوصه نهى نشته بلکه دا ام سلمه فهم کړيده د عامه نهى نه چه د مازيګر نه روستو مونځ کول منع دى. وَأَرَاكَ تُصَلِّيْهِمَا ؟ : ددے نه دا فائده معلوميږى چه کله يو انسان د يو مشر نه يو کار اووينى چه ظاهره کښې د شرع خلاف وى نو هغه له پکار دى چه په نرمئ سره تپوس اوکړى ځکه که هغه نه هير وى نو رجوع به اوکړى او که قصداً ئے کړے وى نو وجه به ذکر کړى.

دارنګه په داسے موقع باندے د بد ګمانى کولو په ځائے تپوس کول پکار دى. چه انسان د بد ګمانى په وجه په ګناه کښې اخته نشى او په تپوس کولو کښې به ددے نه خلاص شى.

يَا ابْنَةَ اَبِىْ اُمَيَّةَ ! : ابو اميه د ام سلمے پلار وو نوم ئے سهيل يا حذيفه بن مغيره المخزومى وو.

ډیر سخي وو، زاد الراکب ئې لقب وو ځکه چه مسافرو ته به ئې توښې ورکولې۔
نبي ﷺ د هغې خوا ته راغلي دې یا ئې په واسطه د وینځې سره هغې ته خطاب کړیدې۔ اوله خبره واضحه ده ځکه چه په روایت د بخاري کښې دي: ثم رأیته یصلیهما حین صلی العصر ثم دخل علي۔ فَشَغَلُوْنِيْ: دینه دا فائده معلومه شوه چه کله د ډیرو مصالحو او مهم کارونو تعارض راشي نو کوم چه ډیر اهم وي هغه به مخکښې کولې شي، ددې وجه نه نبي ﷺ ددې قوم سره د اسلامي احکامو متعلق خبرې مقدم کړې او سنت د ظهر ئې پریخودل تردې چه وخت ئې ختم شو ځکه چه ددې خلقو رهنمائي کول او اسلامي احکام بیانول ډیر مهم وو۔
فَهُمَا هَاتَان: ددې نه معلومه شوه چه د سنت او نوافلو قضائي هم شته نبي ﷺ نه به چه کله تهجد قضاء شو نو د ورځې به ئې دولس رکعاته کول۔ دلته ئې د ماز یګر نه روستو د ماسپښین سنتو قضائي راوړه۔

مسئله: مسیحة العطر فی جواز الرکعتین بعد العصر: د مازیګر نه روستو دوه رکعاته کیږي او که نه؟۔ ١- امام شافعيؒ وائي چه نوافل مطلقه نه کیږي لیکن کله چه سنت د ماسپښین قضاء شي نو بیا ئې د مازیګر نه روستو قضاء راوړل جواز لري عملًا بهذا الحدیث۔
٢- **جمهور** علماء وائي: چه د مازیګر نه تر ماښام پورې مطلقاً نفل نه کیږي او دارنګه سنت هم او هر چه دا حدیث دې نو دا د رسول الله ﷺ خصوصیت دې۔
٣- **اهل ظواهر** (ابن حزم) او محدثینو مذهب دا دې چه د مازیګر نه روستو دوه رکعاته کول جواز لري برابره ده نفل وي او که قضاء د سنتو وي، که هره ورځ وي او که یوه ورځ وي خو شرط دا دې چه د مازیګر مونځ به وختي شوې وي او دا قید حدیث کښې راغلې دې (ابوداود ٢٣٧/١) کښې باسناد صحیح د علي رضي الله عنه روایت دې: (ان النبي ﷺ نهی عن الصلاة بعد العصر الا والشمس مرتفعة) یعني چه نمر پورته ولاړ وي او زیړ شوې نه وي نو د مازیګر نه روستو مونځ منع نه دې۔
او دا هغه حدیث دې چه په دې کښې تدبر اوکړې شي نو ټول اشکالات ختموي، او علي رضي الله عنه په سفر کښې په دې حدیث باندې پخپله هم عمل کړیدې چه مازیګر مونځ ئې اوکړو، خیمې ته ننوتو او دوه رکعاته ئې اوکړل۔ کما قال عاصم بن ضمره۔ (اخرجه ابن حزم في المحلی (٤١/٢) او دا قول حق دې۔ جمهورو صرف د نهي احادیثو لره اعتبار ورکړیدې او دا ئې وئیلي دي چه دا متواتر او صحیح احادیث دي او په دې کښې نهي ده، لیکن بل طرفته ئې احادیث د جواز ته ندي کتلي۔ او پکار دا ده چه هر یو باندې عمل اوشي۔ او محدثینو احادیث النهي په خاص صورت حمل کړیدي چه مازیګر ناوخته شروع کول او په سحر کښې په نوافل مطلقه باندې۔ او احادیث الجواز لره ئې اعتبار کړیدې نو رکعتان بعد العصر ئې جائز کړیدي۔
هر چه دا خبره چه دا خصوصیت د نبي ﷺ دې او ندې دپاره حدیث د ام سلمه پیش کول چه

هغې د نبي ﷺ نه تپوس اوکړو چه آیا مونږ به دا دوه رکعاته قضاء راوړو نبي ﷺ اوفرمایل : نه ـ طحاوي وائي : چه دا حدیث صریح دے په منع د مانځه کښې د مازیګر مانځه نه روستو اګرکه قضاء د سنتو وي ـ نو جواب دا دے چه دا حدیث منکر دے ځکه ذکوان د ام سلمه نه دا حدیث ندے اوریدلے بل پکښې حماد بن سلمه دے او د هغه په کتابونو کښې دا حدیث نشته ـ او حدیث د مسلم کښې دا زیادت نشته ـ المحلی (٣٧/٢)

او کوم روایت د نسائي (٩٧/١) کښې چه دا خبره ده چه ام سلمه وائي : ما رسول الله ﷺ پدے رکعتونو ندے لیدلے نو هغه هم منکر روایت دے او په سند کښې ابو صالح کاتب اللیث ضعیف راوي دے دارنګه سعید بن هلال هم لیس بالقوي راوي دے ـ

٣- دارنګه ام سلمه نه په صحیح سند ثابت دي چه هغې به دا دوه رکعاته کول ـ (مصنف عبد الرزاق والمحلی) او کوم حدیث د ابن عباس کښې چه راغلي دي چه عمر فاروق به د مازیګر نه روستو په مونځ کولو خلق وهل ـ کما في المحلی (٤١/٢) نو د هغې وجه پخپله د عمر نه نقل ده او هغه دا چه عمر فاروق یو ورځ زید بن خالد الجهني په دے دوه رکعتو اولیدو نو عمر په دُره اووهلو نو زید ورته اووئیل اے امیر المؤمنین کله نه چه ما رسول الله ﷺ پدے لیدلے دے نو زه دا نه پریږدم، نو عمر د زید سره کیناستو او دا ئے ورته اووئیل: اے زید (لولا اني اخشى ان يتخذهما الناس سلماً الى الصلاة حتى الليل لم اضرب فيهما) که زه ددے نه نه هیریدلے چه خلق به دا دوه رکعاته ناوخته تر شپے پورے کوي نو ما به پدے باندے څوك نه وهلے) نو دا حدیث صریح عذر د عمر بیانوي چه روستو خلق به راشي او پدے مکروه وختونو کښې به مونځونه کوي ، نو دا نهي سداً للذریعه ده ـ وانظر مجمع الزوائد (٢٢٣/٢) والمشكاة (١٠٤/١ ، ١٠٥) والدين الخالص (١٩٦/٣)ـ اوس دلائل د جواز ډیر زیات دي چه بعض دا دي :

١- مخکښې تیر شو چه (الا والشمس مرتفعة) نو دا حدیث ټول اشکال ختموي ځکه چه ددے نه دا فیصله معلومه شوه چه که مازیګر مونځ وختي اوکړے شي چه نمر اوچت ولاړ وي نو بیا ترے روستو دوه رکعاته کول سنت دي او که مونځ ناوخته اوشو نو نه به ئے کوي نو پدے کښې د احادیثو د نهي او د احادیثو د جواز تطبیق راغلو ـ

٢- علي بن ابي طالب رضي الله عنه به کول ـ ٣- دارنګه عائشه او ام سلمه به د مازیګر نه روستو دوه رکعاته کول ـ مصنف عبد الرزاق والمحلی)ـ ٤- عائشے به په ولاړه دوه رکعاته کول او ام المؤمنین میمونے به په ناسته څلور رکعاته کول نو د هغې نه تپوس اوشو ددے په باره کښې هغې اووئیل: عائشه ځوانه ده او زه بوډۍ یم زه د هغې د دوه رکعاتو په بدل کښې څلور رکعاته کوم ـ المحلی (٤١/٢) ٥- هشام بن عروه فرمائي : مونږ به په مسجد حرام کښې د ابن زبیر سره د مازیګر مونځ اوکړو نو هغه به د مازیګر نه روستو دوه رکعاته کول او مونږ به هم ورسره کول د

هغه نه روستو صف کښې به ولاړ وو. واسناده صحيح. مصنف عبد الرزاق والمحلی

٦- **عائشه** رضی الله عنها فرمائی : (ماترك رسول الله ﷺ ركعتين بعد العصر عندی قط) (بخاری ٨٣/١ ومسلم (٢٧٧/١) .بل روایت د مسلم (٢٧٧/١)کښې دی : عائشه فرمائی : قسم په هغه ذات چه رسول الله ﷺ ئے وفات کړیدے، نبی ﷺ دا دوه رکعاته نه دی پرېښي تردے چه د الله تعالی سره ملاؤ شو الخ ★- په بل روایت کښې دی عائشۀ فرمائی : (صلاتان ما ترکهما رسول الله ﷺ فی بیتی قط سراً ولا علانیةً : رکعتین قبل الفجر ورکعتین بعد العصر (بخاری ٨٣/١) مسلم (٢٧٧/١)ددے نه معلومه شوه چه دا منسوخ هم نه دی.

٧- او په مسلم کښې ثابت دی چه ابوسلمه د عائشے نه ددے دوه رکعاتو په باره کښې تپوس اوکړو نو هغے اوفرمایل : دا دوه رکعاته به رسول الله ﷺ د مازیگر مانځه نه مخکښې کول نو رسول الله ﷺ ددے نه مشغول شو یا ترے هیر شو نو د مازیگر مانځه نه پس ئے اوکړل او بیا ئے پرے همیشه والے اوکړو(وکان اذا صلی صلاة اثبتها – ای داوم علیها) یعنی رسول الله به چه کله یو مونځ شروع کړو نو په هغے به ئے همیش والے کولو.

نو دا حدیث رد دے په هغه چا چه وائی : دا دوه رکعاته صرف د هغه چا په حق کښې جائز دی چه د ماسپښین د روستنو دوه رکعاتو قضائي راوړی. او ددے په باره کښې نورلس روایات فتاوی الدین الخالص (١٩٦/٣) کښې اوګوره. سره د استدلالاتو د مخالفینو نه لنډه دا چه د مخالفینو مستدلات پدے باره کښې د خدشاتو نه خالی نه دی او روایات ئے ضعیف دی. لکه ددے تحقیق په فتاوی الدين الخالص کښې کتلے شی.

الفصل الثانی

٦- عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ : رَأَى النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا يُصَلِّي بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : صَلَاةُ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ فَقَالَ الرَّجُلُ : إِنِّي لَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، فَصَلَّيْتُهُمَا الْآنَ. فَسَكَتَ رَسُولُ اللهِ ﷺ. رواه ابوداود. وَرَوَى التِرمِذِيُّ نحوه، وقال : اسناد هذا الحديث ليس بمتصل لأنَّ محمد بن ابراهيم لم يسمع من قيس بن عمرو. وفی شرح السنة ونسخ المصابيح، عن قيس بن قَهْدٍ نحوه.

ترجمه : محمد بن ابراهیمؒ، د قیس بن عمروؓ نه نقل کوی چه هغه اووئیل : نبی کریم ﷺ یو سړے اولیدو چه د سحر مانځه نه روستو ئے دوه رکعاته کول نو رسول الله ﷺ او فرمایل : د سحر مونځ خو دوه رکعاته دے نو هغه سړی اووئیل : ما هغه دوه رکعاته نه وو کړی کوم چه د فرض مانځه نه مخکښې (سنت) دی، نو اوس مے اوکړل، نو رسول الله ﷺ چپ شو . (ابوداود) او امام

ترمذی هم ددے په شان روایت نقل کړیدے او وئیلی ئے دی چه ددے روایت اسناد متصل نه دے ځکه د محمد بن ابراهیم د قیس بن عمرو نه اوریدل ثابت نه دی، او په شرح السنه او د مصابیح په بعض نسخو کښې د قیس بن قهد نه دغه شان منقول دی۔

تعارف د محمد بن ابراهیم : دا محمد بن ابراهیم بن الحارث بن خالد التیمی المدنی ثقه د صغار التابعین نه دے په سنه (۱۲۰) **او قیس بن عمرو** بن سهل بن ثعلبه انصاری صحابی دے د یحیی بن سعید مشهور تابعی نیکه دے بعض وائی : ده ته قیس بن قهد وائی۔ او ابن ابی خیثمه پدے باب کښې خطاء شویدے هغه وائی : دا دوه کسان دی، او ابن حبان وائی : قهد د عمرو لقب دے۔ کما فی تهذیب التهذیب (۸/۴۰۱) والاصابه (۳/۲۵۵)

تشریح : صَلَاةَ الصُّبْحِ : دا منصوب دے په فعل محذوف سره یعنی صل صلاة الصبح رکعتین۔ یا اتصلی صلاة الصبح رکعتین۔ یعنی د سحر نه روستو خو مونځ نه کیږی نو ته څنګه دا دوه رکعاته کوے۔

مسئله : د سحر سنتو قضاء د مانځه نه بعد شته او که نه ؟ ۱- یو قول دا دے : د سحر سنت چه قضاء شی نو د مانځه نه روستو ئے قضاء راوړل جواز لری او دا قول د ابن عمر ﷺ، عطاء، طاووس او ابن جریج دے ۲- **قول ثانی** دا دے چه د نمر ختاته نه پس به ئے راګرځوی او دا قول د قاسم بن محمد دے او مذهب د اوزاعیؒ، شافعیؒ، احمدؒ بن حنبل او اسحاق بن راهویهؒ دے۔

مګر مشهور او صحیح قول د امام شافعیؒ دا دے چه دا دواړه به د سحر مانځه نه روستو کولے شی او دواړه اداء ګرځی نه قضاء۔ قاله العراقی۔

۳- **امام ابوحنیفه** او ابویوسف وائی : د سحر د سنتو قضاء مستحب ده کله چه د فرضو سره ئے تبعاً قضاء راوړی او کله چه یواځې فوت شوی وی نو بیا ئے قضاء نشته۔ او امام محمد وائی : قضاء به راوړے شی د نمر ختاته نه پس۔ کذا فی البدائع والصنائع وغیره۔

احناف وائی : تبعاً قضاء راوړے شی او اصالةً نشی ځکه چه سنت د خپل محل نه فوت شی نو نفل شی او نفل په وقت مکروه کښې نه کیږی۔ صرف عالمګیری په کتاب الحیل کښې یوه حیله ذکر کړیده چه که څوک غواړی چه د مانځه نه روستو سنت اوکړی نو په مانځه دے اودریږی بیا دے مات کړی نو د لزم النفل بالشروع په قانون به جائز شی۔ الهندیه (۶/۳۹۱) مونږ وایو دے حیلے ته ضرورت نشته، ځکه نصوص په جواز کښې موجود دی کما سیأتی۔

پدے ټولو کښې صحیح قول د امام شافعیؒ دے چه ددے قضاء شته، برابره ده که اصالةً فوت شوی وی او که تبعاً د فرضو سره او د مانځه نه روستو او د نمر ختاته نه پس دواړو صورتو نو کښې ئے قضاء شته۔ وهو الحق الذی لا محید عنه۔ او پدے باره کښې اته مرفوع او موقوف احادیث موجود دی۔ **دلائل د جواز** : ۱-**دلیل** : دا حدیث صحیح او متصل السند دے په روایت د ابن

خزیمه لـکـه روسـتـو راځـي نـو دا دلیـل دے چه رسول الله ﷺ پدے دوه رکعاتو غلے شوېدے او سکوت د نبي ﷺ دلیـل د رضـاء وي نـو دا جائز شو۔ بل روایت د ترمذی کښې دی چه نبي ﷺ ورته اوفرمایل : فلا إذَنْ) یـعـنـي ددے دوه رکعاتو قضـاء پس د مانځه نه پدے کښې څه باك نشته او په روایت د ابن خزیمه کښې دی : ورسول الله ﷺ ینظر الیه فلم ینکر ذلك علیه) ۔ نبي ﷺ ورته کتل او نـه ئـے مـنـع کـولـو۔ ٢– ابن ابی شیبه (٢/ ٢٥٤) کښې دی : عبد الملك د عطاء نه نقل کوی چه یو سړی د نبي ﷺ سره د سحر مونځ اوکړو (فـلـمـا قضی النبی ﷺ قام الرجل فصلی الرکعتین فقال النبی ﷺ «مـا هـاتان الرکعتان ؟ » کـلـه چه نبي ﷺ مـونـځ خـلاص کـړو سړی پاڅیدو هغه دوه رکعاته سنت ئے کول نبي ﷺ اوفرمایل : دا دوه رکعاته څه دی؟۔ هغه سړی اووئیل : زه راغلم او تـه په مانځه ولاړ وے او ما د سحر دوه رکعاته نه وو کړی او بده مے اوګنړله چه زه دا اوکړم او ته په مـانـځـه کـښې ئے نو کله چه تا مونځ ختم کړو زه پاځیدم نو هغه دوه رکعاته مے اوکړل۔ (فضحك النبی ﷺ ولم یأمره ولم ینهه) نو نبي ﷺ اوخندل او نه ئے ورته امر اوکړو او نه ئے منع کړو۔ نو دا هم دلیـل دے چه دا دوه رکعاته د مانځه نه پس جواز لري۔

٣– عـطـاء بـن ابـی رباح د یو انصاري صحابي نه نقل کړی چه رسول الله ﷺ یو سړے اولیدو چه د سحر مانځه نه پس ئے مونځ کولو۔ ده اووئیل: (یـا رسول الله ! لم اکن صلیت رکعتی الفجر فصلیتهما الآن فلم یقل له شیئاً) ایے د الله رسوله ! ما د سحر دوه رکعاته سنت نه وو کړی نو اوس مے اوکړل۔ نو نبي ﷺ ورتـه هیڅ ونه وئیل۔ رواه ابـن حـزم فـی الـمحلی (٢/ ١٥٤) قال العراقی اسناده حسن، وصححه البنداری فی تعلیق المحلی ۔ ٤– ابن ابی شیبه (٢/ ٢٥٥) او محلي (٢/ ١٥٥) کښې د عـطـیه نه نقل دی : رأیت ابـن عـمر قضاهما حین سلم الامام) یـعـنـي عبد الله بن عمر ﷺ د امام د سلام نه روستو ددے دوه رکعاتو قضاء راوړه۔ نو دا د فقیه صحابي عمل دے، دلیل دے په جواز۔

او د نمر خاته وخت کښې قضاء دپاره دلیل دا دے چه حدیث د ابو هریره کښې دی : (ان النبی ﷺ نـام عـن رکـعـتـی الـفـجـر فقضاهما بعد ما طلعت الشمس » کـمـا فـی صحیح ابن ماجه (١/ ١٨٨) رقم (١١٥٥) نبي ﷺ نـمـر خـاتـه اوکړل۔ ٢– او مخکښې حدیث د مسلم (١/ ٢٣٩) تیر شویدے چه لیـلـة الـتـعـریس کښې نبي ﷺ او صـحـابـو نـه د سحر مونځ فوت شو نو بیا ئے سنت هم اوکړل او فرض هم۔ راجع لتفصیل المسئلة فتاوی الدین الخالص (٣/ ١٨٤)

نو ثابته شوه چه دا دوه رکعاته د مانځه نه روستو هم کولے شي او نمر خاته هم، او یو حدیث په بل باندے رد کول نه دي پکار وبالله التوفیق۔

درجة الحدیث : اسـنـاده صحیح متصل، اخرجه الشافعی فی المسند (١/ ٥٧) رقم (١٦٩) واحمد فی المسند (٥/ ٤٤٧) والترمذی (٤٢٢) وابن ماجه (١١٥٤) وابن خزیمة (١١١٦)

امام تـرمذي چه دے حدیث ته مرسل او منقطع وئیلے دے نو دا صرف د هغه په مخصوص

سند سره نه مطلقاً ځکه چه په بل سند سره صحیح متصل مسند راغلی دے لکه هغه ابن خزیمه او ابن حبان په خپل صحیحینو کښې او دارقطنی (١٤٨) او حاکم (١/٢٧٤) او بیهقی (٢/٤٨٣) راوړیدے، په طریق د ربیع بن سلیمان عن اسد بن موسی عن اللیث بن سعد عن یحیی بن سعید عن ابیه عن جده قیس وهذا اسناد صحیح جداً۔ رجاله کلهم ثقات۔ قال الحاکم والطریق صحیح علی شرطهما ووافقه الذهبی علی تصحیحه وقال الشوکانی: قول الترمذی انه مرسل ومنقطع لیس بجید، فقد جاء متصلاً من روایة یحییٰ بن سعید رواه ابن خزیمة فی صحیحه وابن حبان من طریقه وطریق غیره والبیهقی فی سننه وانظر النیل (٣/٣٠) وتفصیله فی المرعاة (٣/٤٦٧)

٧- وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ! لَا تَمْنَعُوا أَحَداً طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ، وَصَلّٰى أَيَّةَ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ». رواه الترمذی، وابوداود، والنسائیُّ.

ترجمه: او جبیر بن مطعم رضی الله عنه فرمائی: نبی ﷺ فرمائیلی دی: اے د عبد مناف اولاد! تاسو مه منع کوئ هیڅوك چه ددے کور (خانه کعبه) نه طواف اوکړی او هر وخت چه غواړی مونځ اوکړی که ورځ وی او که شپه۔

تشریح: نبی ﷺ د عبد مناف اولادو ته خطاب اوکړو ځکه چه د خانه کعبے خدمت او د هغه ځائے انتظامات او نګرانی د هغوی په ذمه وو نو ځکه ئے ورته اوفرمایل: چه هیڅوك طواف نه په هیڅ وخت کښې مه منع کوئ او دارنګه بیا چه د طواف مونځ کوی نو هم مه ئے منع کوئ برابره ده که نفلی طواف وی او که فرضی۔

په حرم مکی (کعبه) کښې مکروه وخت شته او که؟ ١-امام شافعیؒ او احمدؒ فرمائی: ددے نه مراد هر قسمه نفل کول دی اګرکه دوه رکعاته د طواف وی یا نور نوافل وی چه دا په اوقات مکروهه کښې هم په مکه کښې کول جواز لری، وجه دا ده: دے دپاره چه د مکے د شرافت نه خلق په هر وخت کښې فائده واخلی۔ او دا حدیث ئے دلیل دے۔ ٢- او ابن عمر طواف نه پس د سحر مانځه نه روستو دوه رکعاته اوکړل بیائے اوفرمایل: (انما تکره الصلاة عند طلوع الشمس لان النبی ﷺ قال: ان الشمس تطلع بین قرنی الشیطان) (طبرانی فی الاوسط باسناد حسن، مجمع الزوائد (٢/٢٢٨)

دارنګه حافظ ابن عبد البرّ فرمائی: پدے حدیث د جبیر بن مطعم سره د جواز قول قوی کیږی ځکه چه جمهور علماء د مسلمانانو نه هم پدے باندے قول کړیدے ځکه چه ابن عباس او ابن عمر او ابن الزبیر، حسن، حسین رضی الله عنهم او طاووس، مجاهد، قاسم بن محمد، او عروه بن الزبیر رحمهم الله به د مازیګر مانځه نه روستو طواف کولو او بعضو به د سحر مانځه نه روستو طواف کولو او د طواف نه روستو به ئے په دغه وخت کښې دوه رکعاته کول او پدے باندے قول کړیدے امام شافعی، احمد، اسحاق، ابو ثور او داود بن علی رحمهم الله آه۔ او دا په اختلاف

کښې قول د امام طحاویؒ دے او هغه په شرح معاني الآثار کښې وائي : (۲۱۳/۱) واليه نذهب يعني الى الجواز وهو قول سفيان وهو خلاف قول ابي حنيفة وابي يوسف ومحمد رحمهم الله ـ نيل الاوطار (۳۱/۳) ۲- امام ابوحنيفه ابويوسف، او محمد او امام مالك او د هغه موافقين وائي : چه اوقات مکروهه په هر ځائے کښې دي مکه کښې هم شته ـ او د جواز د احاديثو معارضه ئے کړيده په احاديثو د نهي باندے نو هغوی ترجيح جانب د کراهت لره ورکړيده ـ ليکن امير صنعانيؒ په سبل السلام کښې فرمائي : امام شافعيؒ پدے حديث باندے عمل کړيدے او هغه وئيلي دي چه احاديث د نهي عام دي او پدے کښې په ډيرو احاديثو سره تخصيص راغلے دے لکه فوتي مونځ، خوب کښې هير پاتے شوے مونځ وغيره نو ددے عموم ضعيف شو لهذا نور احاديثو سره ئے هم تخصيص جائز شو نو مکه هم ددے نه مستثنیٰ شوه نو په مکه کښې په هر وخت کښې نفل ندی مکروه ـ انتهیٰ ـ

۳- علامه بيهقيؒ فرمائي : پدے حديث کښې چه صلاة ذکر دے احتمال شته چه ددے نه صرف د طواف دوه رکعاته وي نه نور نوافل او دا خبره د آثارو سره ډيره موافقه ده ـ او ديته د علامه خطابي رجحان هم دے لکه هغه دا د بعضو علماؤ نه نقل کړيده معالم السنن (۱۹۵/۲) علامه ابوالحسن المبارکفوريؒ فرمائي : راجح دا ده چه استثناء صرف د دوه رکعاتو د طواف ده نه د نورو مونځونو آه ـ وجه دا ده چه د طواف نه منع خو هيڅ وخت کښې نشته او دوه رکعاته د طواف خو ددے طواف تابع دي لهذا پکار دا ده چه ددے نه هم منع اونشي او د منع احاديث ديته شامل نشي ـ او په باقي مونځونو کښې دغه ضرورت نشته، دارنګه احاديثو کښې ددے مونځ سره طواف پيوسته ذکر شويدے نو دا قرينه ده چه دلته به صرف دوه رکعاته د طواف مراد وي او کوم حديث د ابن حبان کښې چه صرف مونځ ذکر دے نو هغه اختصار د راوي دے او د طواف لفظ ئے پريخے دے ـ راجع المرعاة (٤٦٩/۳)

او دا قول علامه عبد الحي اللکهنوي په التعليق الممجد (۲۰۹) کښې راجح کړيدے فرمائي : شايد چه منصف انسان چه احاطه د دواړو فريقينو د بحثونو اوکړي نو هغه ته پته لګي چه دا جواز د رکعتي الطواف بعد العصر او بعد الصبح مخکښې د طلوع او غروب نه ارجح او اصح ده او وائي : پدے باندے ما عمل کولو کله چه زه په مکه کښې وم چه ما کله طواف الوداع اوکړو نو مقام ابراهيم خواته مے دوه رکعاته کول نو حنفي مطوفينو منع کړم نو ما ورته اووئيل : راجح دا ده چه پدے وخت کښې دوه رکعاته د طواف کيږي ـ او دا د طحاوي مختار دے نو هغوی اووئيل : مونږ ددے نه خبر نه يو او ستا نه مو دا فائده حاصله کړه ـ انتهیٰ ـ

درجة الحديث: اسناده صحيح : اخرجه الشافعي في السنن (٥٧/١) رقم (١٧٠) واحمد (٨٠/٤) والدارمي (٧٠/٢) وابوداود (١٨٩٤) والترمذي (٨٦٨) وقال حديث جبير حديث حسن صحيح،

والنسائی (۱/ ۲۴۸) وابن ماجه (۱۲۵۴) وابن حبان (۱۰۴۵) والحاکم فی المستدرك (۱/ ۴۴۸) وقال : صحیح علی شرط مسلم ولم یخرجاه واقره الذهبی۔

۸– وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ : اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ نَهٰی عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰی تَزُوْلَ الشَّمْسُ اِلَّا یَوْمَ الْجُمُعَةِ . رواه الشافعی۔

ترجمه : او ابو هریره ﷛ فرمائی : نبی کریم ﷺ په نیمائی ورځ (تکنره غرمه) کښې د مونځ کولو نه منع فرمائیلې ده تردې چه نمر زائله شي مګر د جمعې په ورځ (جائز دي)۔ (شافعیؒ)

تشریح : پدې حدیث او راتلونکی حدیث کښې دا مسئله ده چه آیا د جُمعې مونځ د زوال په وخت کښې کیږي او که نه ؟ نو امام شافعیؒ او ابویوسفؒ وائی چه بالکل جواز لري دا حدیث ئې دلیل دے۔ او دا قول د حافظ ابن القیم او شیخ الاسلام ابن تیمیه دے۔

۲– دلیل : بخاری (۱/ ۱۲۰) کښې د سلمان روایت دے : (ویصلی ما کتب له ثم ینصت اذا تکلم الامام الا غفر له ما بینه وبین الجمعة الاخری) نو یصلی ما کتب له عام او مطلق دے وخت د نهی ددې نه ندے خاص کړے۔ نو مصلی ته ئې اجازت ورکړو د نفلی مانځه تر خروج الامام پورې او د کراهت وقت ئې ترې مستثنٰی نه کړو۔

۳– دارنګه حدیث د مسلم (۱/ ۲۷۹) کښې دی :(ثم اتی الجمعة فصلی ما قدر له ثم انصت حتی یفرغ من خطبته) ددې احادیثو نه عموم معلومیږی نو دا واضح دلیل دے چه د استواء الشمس په وخت کښې جمعې په ورځ نفلونه جائز دی۔ **۴–** دارنګه د جُمعې په ورځ به خلق وختی مانځه ته راتلې لکه شریعت دے ته ترغیب ورکړے دے او مونځونه به کوی نو خلق چه کله په مسجد کښې وی او هغوی په مانځه ولاړ وی نو هغوی ته خو د زوال پته نه لګی او د خلقو په اوګو باندې خپې اړول ورله حرام دی نو ددې وجه نه شریعت دا پدې ندے مکلف کړے چه ته به خامخا زوال وخت معلوموې بلکه ده ته ئې حکم د مانځه کړیدے چه څومره مونځ دې خوښ وی کوه او د مکروه وخت تعیین ئې ورته پدې ورځ ندے کړے۔ راجع فتاوی الدین الخالص (۳/ ۲۰۶)

درجة الحدیث : اسناده ضعیف جداً ومعناه صحیح اخرجه الشافعی (۴۰۸) والبیهقی فی الکبری (۲/ ۴۶۴) واسناده ضعیف جداً لان فی سنده ابراهیم بن محمد بن ابی یحیی الاسلمی عن اسحاق بن عبد الله بن ابی فروة وهما متروکان وفی سند البیهقی عطاء بن عجلان متروك وفی سنده الآخر عبد الله شیخ من اهل المدینة (مجهول) آه تعلیق المشکاة لرمضان (۱/ ۴۳۶) والمرعاة (۳/ ۴۷۱)

۹– وَعَنْ اَبِی الْخَلِیْلِ، عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ، قَالَ: کَانَ النَّبِیُّ ﷺ کَرِهَ الصَّلَاةَ نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰی تَزُوْلَ الشَّمْسُ اِلَّا یَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَقَالَ : اِنَّ جَهَنَّمَ تُسَجَّرُ اِلَّا یَوْمَ الْجُمُعَةِ. رواه ابوداود، وقال : ابو الخلیل لم یلق اباقتادة.

ترجمه : او ابو الخليل د ابوقتاده ﷺ نه نقل کوی چه نبی ﷺ د غرمے په وخت مونځ بد گنړلے دے تردے چه نمر زائله شی مگر د جمعے په ورځ (جائزدے) او وئيلے ئے دی چه (د غرمے په وخت) د جمعے د ورځې نه علاوه جهنم لمبه کولے شی۔ دا روايت امام ابوداود نقل کړيدے او وئيلے ئے دی چه ابوالخليل د ابوقتاده سره ملاقات نه دے کړے (نوحديث متصل نه دے)

تعارف د ابو الخليل : دده نوم صالح بن ابی مريم البصری دے چه ابن معين ابوداود، او نسائی ورته ثقه وئيلے دے ابن عبد البر ورته ضعيف وئيلے دے ليکن قول ئے غلط دے، د ابوقتاده ، ابوسعيد او سفينه مولی رسول الله ﷺ نه ارسال کوی۔

تعارف د ابوقتاده : دده نوم ابو قتاده بن ربعی الانصاری الخزرجی السلمی دے د رسول الله ﷺ فارس (شاهسوار) دے احد، او ما بعد غزواتو ته حاضر شويدے په سنه (٥٤) کښې علی المشهور وفات دے د (٧٠) اوويا کالو په عمر۔ بعض وائی : دا د معاويه رضی الله عنه د طرفنه په مدينه والی وو، معاويه چه کله مدينے ته راغلو خلق ورله ورغلل نو دے ته ئے اووئيل : تول خلق زما ملاقات ته راغلل او اے انصارو تاسو رانغلئ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه ابوداود (١٠٨٣) والبيهقی فی الکبری (٤٦٤/٢) واسناده ضعيف فيه انقطاع ابو الخليل لم يسمع من ابی قتادة وزاد الحافظ علة اخریٰ فی تلخيص الحبير (١٨٩/١) وفيه ليث بن ابی سليم وهو ضعيف قدم احمد بن حنبل جابر الجعفی عليه فی صحة الحديث قاله الاثرم۔

الفصل الثالث

١٠ - عَنْ عَبْدِ اللهِ الصُّنَابِحِيِّ قَالَ : قَالَ رسول الله ﷺ : اِنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ وَمَعَهَا قَرْنُ الشَّيْطَانِ، فَاِذَا ارْتَفَعَتْ فَارَقَهَا، ثُمَّ اِذَا اسْتَوَتْ قَارَنَهَا، فَاِذَا زَالَتْ فَارَقَهَا، فَاِذَا دَنَتْ لِلْغُرُوْبِ قَارَنَهَا، فَاِذَا غَرَبَتْ فَارَقَهَا. وَنَهٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنِ الصَّلَاةِ فِیْ تِلْكَ السَّاعَاتِ، رواه مالك واحمد والنسائیُّ .

ترجمه : او عبد الله صنابحی ﷺ فرمائی : چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : نمر چه کله راخيژی نو د هغه سره د شيطان خکروی بيا کله چه اوچت شی نو هغه ترے جدا شی بيا کله چه نمر برابر شی (مينځ د آسمان ته راشی) نو شيطان ورسره يو ځائے شی او کله چه نمر زائل شی نو شيطان ترے جدا شی بيا چه پريوتو ته نزدے شی نو ورسره يو ځائے شی بيا چه پريوځی نو ترے جدا شی او رسول الله ﷺ پدے وختونو کښې د مانځه کولو نه منع فرمائيلے ده۔ (مالكؒ، احمدؒ، نسائیؒ)

تعارف د عبد الله الصُنابحی : صُنابح يو وړه قبيله ده په مراد قبيله کښې ۔ او دده د مشهور نوم په نقل کښې اختلاف دے د امام مالك په روايت کښې عبد الله الصنابحی دے ليکن امام ترمذیؒ د امام بخاریؒ نه نقل کوی چه امام مالك پدے باب کښې په وهم کښې پريوتے دے او دا

ابوعبد الله الصنابحی دے او دا قول یعقوب بن شیبهؒ او علی بن المدینیؒ او ابن عبد البرؒ هم کړیدے۔ مګر راجح دا ده چه دا عبد الله الصنابحی دے او دا صحابی دے ځکه د امام مالك بل متابع موجود دے چه هغه حفص بن میسره دے چه هغه هم د امام مالك په شان عبد الله الصنابحی ذکر کړیدے ۔ او په هغے کښې ورسره دا الفاظ راغلی دی : سمعت رسول الله ﷺ الخ او دغه شان زهیر بن محمد په مسند احمد (٣٤٩/٤) کښې هم د امام مالك متابعت کړیدے۔ او دا صحابی دے۔ کما قال الترمذی والحاکم والیه مال ابن معین وابن السکن والذهبی۔ او هر چه ابوعبد الله الصنابحی دے نو هغه تابعی دے د هغه عبد الرحمن بن عسیله نوم دے او مخضرم دے۔

تشریح : دا روایت اکثر که امام مالك نقل کړیدے مګر بیا هم د هغه مذهب دا دے چه د استواء وخت کښې مونځ کول حرام نه دی۔ ځکه هغه عمل د اهل مدینه له اعتبار ورکوی په مقابله د خبر واحد کښې (چه هغه یو ضعیف قانون دے)۔

فاذا دنت للغروب : غروب ته نزدے کیدو مغنی دا دۀ چه نمر زیر شی او یو طرف ئے په زمکه باندے پریوتو ته نزدے شی۔ نهی عن الصلاة ددے نه مراد نوافل مطلقه دی او ددے نه استثناء ات موجود دی۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه مالك في الموطأ (٢١٩/١) واحمد فی المسند والنسائی (٦٥/١) والبیهقی فی الکبریٰ (٤٥٤/٢) ورجاله ثقات فهو صحیح ان کان عبد الله الصنابحی صحابیاً فقد اختلفوا فیه فمنهم من اثبت صحبته ومنهم من نفاها۔

١١– وَعَنْ اَبِیْ بَصْرَةَ الْغِفَارِیِّ، قَالَ : صَلّٰی بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالْمُخَمَّصِ صَلٰوةَ الْعَصْرِ، فَقَالَ : اِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ عُرِضَتْ عَلٰی مَنْ کَانَ قَبْلَکُمْ فَضَیَّعُوْهَا، فَمَنْ حَافَظَ عَلَیْهَا کَانَ لَهٗ اَجْرُهٗ مَرَّتَیْنِ، وَلَا صَلَاةَ بَعْدَهَا حَتّٰی یَطْلُعَ الشَّاهِدُ، وَالشَّاهِدُ: النَّجْمُ. رواه مسلم.

ترجمه : او ابوبصره غفاری ﷺ فرمائی : (یوه ورځ) مونږ ته رسول الله ﷺ په مخمص علاقه کښې د ماز یګر مونځ اوکړو او بیا ئے اوفرمایل : دا یو داسے مونځ دے چه ستاسو نه په مخکنو پیش کړے شوے وو نو هغوی ضائع کړو (یعنی نه ئے ددے مداومت اوکړو او نه ئے ددے حقوق ادا کړل) نو څوك چه ددے مونځ حفاظت اوکړی (یعنی همیشه ئے کوی او ددے حقوق ادا کوی) نو هغه ته به دوچند اجر وی (اودا ئے هم اوفرمایل :) ددے مونځ نه روستو هیڅ مونځ نشته تردے پورے چه شاهد راوخیژی او شاهد ستورے دے۔ (مسلم)

تعارف د ابوبصره الغفاری : ددۀ نوم حَمِیل دے په فتحه د حاء او کسره د میم یا په ضمه د حاء سره بعض وائی نوم ئے زید بن بَصرَة بن ابی بصره بن وقاص بن حبیب بن غفار دے دده په پلار او نیکه دا ټول صحابه دی او دا حَمِیل فتح د مصر ته حاضر شو او هلته ئے زمکه اورسیده او هلته وفات شو او بیا هلته دفن هم شو کذا فی تهذیب التهذیب (٥٦/٣) والاصابه (١٦٢/١)

(۲۱/٤) او دا هغه صحابي دے چه ابو هريره كله كوه طور ته سفر كولونو ده پرے رد اوكړو چه د مساجد ثلاثه نه علاوه مواضعو ته سفر كول حرام دي. كما مر في (۳/ ٤٩٢)

تشريح: اَلْمُخَمَّصِ : په جبل غير كښې يوه لاره ده چه هغه مكے ته راوتے ده. پدے كښې مَخْمِصْ لفظ لوستل هم جائز دي. د حديث مطلب دا دے چه يهود او نصاراو ته دا مونځ وركړے شو نو هغوى ددے محافظت اونكړو يعنى د هغے لحاظ ئے اونكړو هميشوالے ئے پرے اونكړو په روايت د احمد كښې راغلي دي چه هغوى پكښې سستي اوكړه او دا ئے پريخودو نو تاسو چرته د هغوى په نقش قدم روان نه شئ.

د دوه ځل اجر مطلب دا دے چه يو ځل ورته اجر وركولے شي پدے وجه چه دا نيك عمل ئے اوكړو او هر نيك عمل باندے ثواب ملاويږي اوبل اجر د محافظت او هميش والى دے.

وَلَا صَلَاةَ بَعْدَهَا : دے سره هم هغه شرط دے چه (الاو الشمس مرتفعة) (يعنى چه نمر اوچت ولاړ وي او مونځ وختي شوے وي نو بيا روستو دوه ركعاته كول جواز لري. دے دپاره چه جمع د ټولو احاديثو حَتّٰى يَطْلُعَ الشَّاهِدُ : دا كنايه ده دنمر پريوتو نه ځكه د نمر په پريوتو سره ستورى راخيژي. او ستورى ته ئے شاهد پدے وجه اووئيلو چه شاهد معنى حاضر او ستورى هم په شپه كښې حاضريږي او راخيژي.

۱۲- وَعَنْ مُعَاوِيَةَ، قَالَ : اِنَّكُمْ لَتُصَلُّوْنَ صَلَاةً، لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيْهِمَا، وَلَقَدْ نَهٰى عَنْهُمَا، يَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ. رواهُ البخاريُّ.

ترجمه : او معاويه رضی الله عنه فرمائي : تاسو يو داسے مونځ كوئ او مونږ د رسول الله ﷺ سره په صحبت كښې پاتے شوي يو نو هغه مونږ نه دے ليدلے چه هغه به دا مونځ كولو او يقيناً هغه د مازيګر مانځه نه روستو ددے دوه ركعاتو نه منع فرمائيلے ده. (بخاري)

تشريح : ددے حديث يو مطلب دا دے چه كيدے شي چه معاويه رضی الله عنه دا د عام حديث لاندے داخل كړي وي چه د مازيګر نه روستو مونځ نه كيږي او په خصوصي طور سره ئے د نبي عليه السلام نه ددے په باره كښې ارشاد نه وي اوريدلے لكه دا حديث په بيهقي كښې په ضمير مفرد سره نقل دے يعنى (يصليها او نهى عنها) لفظ دے نو عام مونځ ترے مراد دے.

او دا احتمال هم شته چه د معاويه رضی الله عنه سره خصوصي حديث وي په نهى ددے دوه ركعاتو كښې ليكن دا احتمال ظاهر نه دے ځكه چه مخكښې د مفرد صيغه هم نقل ده د هغے نه معلوميږي چه دا دواړه ئے د عامے نهى لاندے داخل كړي دي او ده چه كومه نفي كړيده نو دا دده د خپل علم مطابق ده. او هر چه عائشه رضي الله عنها ده نو هغے نبي عليه السلام ليدلے دے او دا ئے وئيلي دي چه نبي عليه السلام به دا دوه ركعاته نه سراً پريخودل او نه علانيةً كما مرّ في الدلائل. نو عائشه رضی الله عنها مثبت ده

او معاویهؓ نافي دے او خبره د مثبت مقدمه وي په خبره د نافي باندے۔
او ددے تائید چه معاویه رضي ﷺ سره مستقلًا دلیل نه وو بلکه دا ئے د احادیثو د نهی د عموم لاندے داخل کړي دي دا دے: چه عبد الله بن الحارث بن نوفل فرمائی: مونږ ته معاویه (ﷺ) د مازیګر مونځ اوکړو نو څه خلق ئے اولیدل چه د مازیګر نه روستو ئے مونځ کولو معاویهؓ اوفرمایل: دا څه مونځ دے؟ هغوی اووئیل: دا خو د ابن الزبیر فتویٰ ده۔ نو پدے کښ ابن الزبیر د خلقو سره راغلو معاویهؓ ورته اوفرمایل: دا کومه فتویٰ ده چه ته ئےورکوے، چه خلق دِے مازیګر نه روستو مونځونه کوی؟ - نو عبد الله بن زبیر اوفرمایل: ما ته د رسول الله ﷺ بی بی حدیث بیان کړیدے چه رسول الله ﷺ د مازیګر نه روستو مونځ کړیدے نو معاویه ﷺ عائشےؓ پسے سړے اولیږلو، نو هغے جواب ورکړو: چه دا حدیث د میمونه بنت الحارث دے (هغے نه تپوس اوکړه) نو معاویهؓ د هغے پسے دوه قاصدان اولیږل۔ هغے جواب ورکړو چه: رسول الله ﷺ یو لښکر تیارولو نو هغوی حصار کړو تردے چه مازیګر ناوخته شو نو د مازیګر مونځ ئے اوکړو بیا راواپس شو (کور ته) نو (په کور کښ ئے) هغه مونځ اوکړو کوم چه به ئے د مازیګر نه مخکښ کولو۔ او هغے اوفرمایل: (د رسول الله ﷺ عادت مبارك دا وو) چه رسول الله ﷺ به کله یو مونځ اوکړو یا به ئے یو(نیك) کار کولو نو دا به ئے خوښولو چه په هغے باندے همیش والے اوکړی» نو ابن الزبیر (معاویه ته) اوفرمایل: (الیس قد صلی والله لنصلینه !!) آیا نبی علیه السلام ګنے دا مونځ نه دے کړے! (ولے نه !) قسم په الله مونږ به ئے (هم) کوو۔ آه: اخرجه ابن حزم فی المحلی (۳۹/۲) نو اوګوره د ابن الزبیر حجت غالب شو نو په هغه باندے اعتراض صحیح نه شو پدے وجه معاویه ﷺ غلے پاتے شو دا حدیث دلیل دے چه معاویهؓ ته د نهی خصوصي حدیث نه دے رسیدلے۔ لهٰذا دا دوه رکعاته بعد العصر مستثنیٰ دي د هغه احادیثو د نهی نه۔ والله اعلم۔

---

۱۳ - وَعَنْ اَبِیْ ذَرٍّ، قَالَ: وَقَدْ صَعِدَ عَلٰی دَرَجَةِ الْکَعْبَةِ - : مَنْ عَرَفَنِیْ فَقَدْ عَرَفَنِیْ، وَمَنْ لَّمْ یَعْرِفْنِیْ فَاَنَا جُنْدُبٌ، سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ: لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَلَا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰی تَغْرُبَ الشَّمْسُ اِلَّا بِمَکَّةَ، اِلَّا بِمَکَّةَ، اِلَّا بِمَکَّةَ. رواه احمد، ورزین.

ترجمه: اُو ابو ذرؓ نه روایت دے چه ده پداسے حالت کښ چه د کعبے په پوړئ باندے ختلے وو اوفرمایل: چا چه زه اوپیژندل نو هغه زه (یعنی زما رشتینوالے) اوپیژندلو او چا چه زه او نه پیژندل (نو هغه ته زه وایم چه) زه جندب یم۔ ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دي چه فرمائیل ئے: د سحر مانځه نه پس مونځ نشته تردے چه نمر راوخیژی او د مازیګر نه پس مونځ نشته تردے چه نمر پریوزی مګر په مکه کښ، مګر په مکه کښ، مګر په مکه کښ۔ (احمدؒ، رزینؒ)

تشریح : پدے حدیث باندے بعض علماء دا اشکال کوی چه ددے د عموم نه معلومیږی چه په مکه کښی نوافل مطلقه کول جواز لری او صرف دوه رکعاتو پورے اجازت مختص نه دے؟ لیکن ددے جواب دا دے ددے عموم مقید کړے شویدے په رکعتی الطواف لکه مخکښی چه مقید شو۔

درجة الحدیث : اسناده ضعیف والحدیث صحیح ثابت بشواهده ومنها ما تقدم : اخرجه احمد (١٦٥/٥) والدارقطنی (٤٢٤/١) والبیهقی (٤٦١/٢) وقال الهیثمی فی مجمع الزوائد (٢٢٥/٢) فیه عبد الله بن المؤمل المخزومی ضعفه احمد وغیره ووثقه ابن معین فی روایة وابن حبان وثقه ایضاً وقال یخطئ وبقیة رجال احمد رجال الصحیح آهـ واسناده معلول من اربعة وجوه ١ – انقطاع ما بین مجاهد وابی ذر، ٢ – الاختلاف فی اسناده ٣ – ضعف ابن المؤمل ٤ –ضعف حمید مولی عفراء نقله الزیلعی۔ ولکن اخطأ فی تضعیف حمید لانه من رجال الجماعة ووثقه الترمذی والبخاری واحمد لکن اصل الحدیث یشهد له حدیث جبیر المتقدم (٧) **لکن** قال الشیخ الالبانیؒ فی السلسلة الصحیحة (٣٤١٢) ان الحدیث صحیح واجاب بان ابن المؤمل قد تابعه ابراهیم بن طهمان عن حمید واقام اسناده کما قال البیهقی وعن الاول بانه قد ثبت لقیا مجاهد مع ابی ذر فانه قال: «قد جاء نا ابو ذر» ای جاء بلدنا۔ وان لم یثبت سماعه منه فهو من مراسیل مجاهد ومراسیله خیر من مراسیل غیره من التابعین فهو مرسل صحیح یمکن تقویته ببعض الشواهد ومنها : حدیث لا صلاة بعد العصر حتی تغرب الشمس ؟ فقال : ان هذه البلدة بلدة لیست کغیرها– طحاوی شرح معانی الآثار (٣٩٦/١) والبیهقی (٤٦٣/٢)۔

وبهذا القدر قد تمّ المجلد الرابع من "الحق الصریح" بعون الله وحسن توفیقه ویلیه المجلد الخامس من – باب الجماعة وفضلها– باذن الله وحسن مشیته التامة وبالله التوفیق۔

وختاماً نسئل الله ان ینفع به کما نفع بامثاله انه ولی ذلك والقادر علیه ونسئل الله تعالی ان یجعله فی میزان حسناتنا ولا یجعله وبالا علینا آمین۔

وسبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك وصلی الله علی النبی محمد وعلی آله وصحبه اجمعین۔

حرره ابومحمد امین الله لیلة الاثنین (٣/٢/١٤٢٩هـ)

وفرغت من تکمیله فی محرم الحرام (٢/سنه : ١٤٢٩) الموافق : ٢٥/٣/٢٠٠٩)صباح یوم الجمعة (ابوزهیر)۔



فهرست مضامین الحق الصریح

صفحه	مضامین
٣	باب صفة الصلاة – د صفت او وصف فرق
٤	حدیث مسیء الصلاة او په هغې کښې قواعد او فوائد
٨	تعدیل الارکان په مانځه کښې څه حکم لري ؟ د تعدیل الارکان د فرضیت (٧) دلائل
١٦	تکمیل : د جلسه بین السجدتین په حد کښې اختلاف
١٧	فائده نادره : د حکم شرعي نه جاهل په دوه قسمه دے
١٩	تکبیر تحریمه فرض ده او صرف په الله اکبر سره او پدے کښې اختلاف
٢٠	المسئلة الثانية : حکم تکبیرة الاحرام ـ (٣) اقوال والراجح فیها
٢١	مسئله : آیا سوره فاتحه لوستل فرض دي ؟ او پدے کښې اختلاف مع الدلائل
٢٧	فوائد حدیث المسيء الصلاة
٢٩	د تکبیر نه پس ثناء وئیل شته او رد په امام مالك چه هغه وائي نشته
٣٠	د بسم الله وئیلو متعلق درے قسمه مسائل او تفصیلاً مباحث چه جزء د فاتحے نه ده ؟
٣٣	بسم الله به جهراً لوستے شي او که سراً ؟ دلائل الجانبین
٣٧	د بسم الله د جهر روایات ...... د احادیث الجهر نه جوابونه
٤٣	فائده : بسم الله په ابتداء د هر سورت کښې لوستل سنت عمل او دلائل
٤٤	مسئلة الاقعاء في الصلاة : او د اقعاء اقسام
٤٧	مسئله : کیفیات رفع الیدین عند التحریمة
٤٨	د لاسونو او تکبیر په تقدیم کښې اختلاف------ الحکمة في رفع الیدین
٤٩	المسئلة الرابعة : حکم د رفع الیدین عند الاحرام – کیفیات رفع الیدین والاختلاف فیه
٥١	تنبیه : غوږونو له کوتے وروړل په هیڅ حدیث کښې نشته
٥٢	تکمیل : د رفع الیدین سنت طریقه او پدے کښې ښځے او سړي برابروالے
٥٣	مسئلة : وضع الیدین بعد الرکوع از دلائل الجانبین
٥٨	د سجدے صحیح طریقه
٥٩	د تورك سنیت او درے طریقے او پدے کښې اختلاف

تورك صرف په څلور رکعاتي یا درې رکعاتي مانځه کښې دې او د تورك حکمت ٦٤
رفع العینین الی تحقیق مسئلة رفع الیدین فی المواضع الثلاثة ٦٥
دلائل د مثبتینو (٢٢) دي او پدې کښې قولي حدیثونه .... ٧٨، ٨٢
تولو صحابه کرامو به رفع الیدین کول ٨٢
دلائل الاحناف (١٤) او د هغې جائزه ٨٣
احناف علماء او رفع الیدین ١٠٢
په سجدو کښې رفع الیدین ١٠٤
د هر تکبیر سره رفع الیدین هم کله نا کله سنت دي ١٠٦
جلسه د استراحت څه ته وائي او د هغې په ثبوت کښې اختلاف ١٠٨
د جلسه استراحت د سنیت دلائل (٦) ١١١
تعارف د وائل بن حجر رضی الله عنه ١١٣
په مانځه کښې د لاسونو په ترلو او کیخودلو کښې اختلاف ١١٤
په سجده کښې د لاسونو په کیخودو کښې دوه کیفیتونه دي ١١٦
په قیام کښې د لاسونو کیخودو کښې دوه کیفیتونه دي (١) وضع (٢) قبض ١١٨
موضع وضع الیدین : لاسونه به کوم ځائے ږدي، سینه او که نامه نه لاندې ١١٩
دلائل الاحناف او د هغې جائزه او تحقیق ١٢٢
ښځه او سړے دواړه به په لاسونو کیخودو کښې برابر دي ١٢٧
ازالة الخیالات فی حکم تکبیرات الانتقالات ١٢٨
المسئلة الاولیٰ طرق التحمید : (٤) ١٣٠
المسئلة الثانیة : امام او مقتدی دواړه به سمع الله لمن حمده او ربنا لك الحمد وائي ١٤٠
تعارف د قبیصه رضی الله عنه ١٤٣
تعارف د رفاعه بن رافع رضی الله عنه -- مسئلة د ضم السورة مع الفاتحة ١٤٥
نفل مانځه کښې څلور په یو سلام بهتر دي او که دوه ؟ ١٤٨
بنو امیه به تکبیرات په پټه وئیل ١٥٠
تعارف د علي بن الحسین رحمه الله ١٥٢
باب ما یقرأ بعد التکبیر المسئلة الاولیٰ : ما یقرأ بعد التکبیر کښې اختلاف ١٥٦
المسئلة الثانیة : ادعیة الاستفتاح ١٥٧
المسئلة الثالثة : دا اذکار په نوافلو کښې دي او که فرائضو کښې ١٥٧
المسئلة الرابعة : په ادعیه د استفتاح کښې کومه دعا ډیره بهتره ده ؟ ١٥٨

المسئلة الخامسة : د استفتاح دعاګانو کښې جمع جائز ده که نه ؟ ۱۶۰
حمداً کثیراً طیباً مبارکاً په درې مواضعو کښې نقل دی ۱۷۰
تعارف د جبیر بن مطعم رضی الله عنه ۱۷۳
مسئله : اعوذ بالله من الشیطان الرجیم طریقې - او کومه به لولی ؟ ۱۷۴
په مانځه کښې څو سکتتات دی ؟ ۱۷۵
مسئله : آیا اعوذ بالله په هر رکعت کښې ضروری ده ؟ ۱۷۸
د محمد بن مسلمه رضی الله عنه تعارف ۱۸۰
قرائت په هر رکعت کښې فرض دے او د ادنیٰ قرائت مقدار ۱۸٤
لاصلاة کښې د نفی حقیقت ۱۸٦
التقریب التام - والتحقیق التمام فی قراء ة الفاتحة خلف الانام ۱۸۸
احناف علماء او قراء ت خلف الامام اقوال (۱۵) ۲۰٦
فائدة عجیبة : د فاتحه خلف الامام پریخودونکی درې قسمه دی ۲۰۹
د فاتحې سره د سورت د ضم کولو حکم ؟ ۲۱۰
آمین وئیلو کښې اختلاف ۲۱۷
المسئلة الثانية : لغات آمین ۲۱۸
المسئلة الثالثة : معنی آمین ۲۱۹
المسئلة الرابعة : امام او مقتدیان به شریك آمین وائی او که مخکښې روستو ؟ ۲۱۹
المسئلة الخامسة : آمین به د ولا الضالین سره متصل نه وائی بلکه سکته پکار ده ۲۲۱
د امام نه په تکبیر تحریمه او باقی ارکانو کښې د سبقت کولو حکم ۲۲۳
المسئلة الثانية : د امام سره به موافقت، مساوات او مقارنت کوی او که متابعت او تاخیر؟ ۲۲۵
روستنو رکعتونو کښې فاتحه باندې زیادت کول څنګه دی؟ ۱۲۹
په جهری او سری مونځونو کښې د جهر او اسرار حکم ۲۳۰
د هر مانځه اول رکعت اوګدول مستحب دی او په دې کښې اختلاف ۲۳۲
فائده : په فجر او ظهر کښې د طوال مفصل سورتونو تخصیص : ۲۳٦
اقتداء د مفترض د متنفل پسې جائز ده او په دې کښې اختلاف (وقد مر فی المجلد (۳). ۲٤۰
د عبد الله بن السائب رضی الله عنه تعارف ۲٤٤
مسئله : په مانځه کښې د تعیین د سورت څه حکم دې ؟ ۲٤۵
تعارف د عبید الله المدنی ۲٤۸
تعارف د ابوواقد اللیثی رضی الله عنه ۲٤۹

فائده بدیعه : د سحر سنتو دپاره دیر (۱۳) احکام او سنن دی ۲۵۱
ایقاظ الناسکین الی مسئلة الجهر والاخفاء بالتامین (مسئلة تفصیلیة مع الدلائل ۱۰) ۲۵۳
په آمین بالجهر باندې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجماع ده ۲۵۷
د آمین بالجهر باره کښې د علماؤ اقوال (۷)........ ۲۵۷
د آمین بالخفیه دلائل او د هغې جائزه........ ۲۵۹
د ابوزهیر النمیری رضی الله عنه تعارف........ ۲۶۶
د مالی انازع القرآن صحیح مطلب........ ۲۷۵
د البیاضی رضی الله عنه تعارف ۲۷۵
قاعده : د بعض آیتونو جواب ورکول په صحیح احادیثو کښې راغلی دی او د هغې بیان ۲۷۸
د معاذ بن عبد الله تعارف........ ۲۸۳
د فرافصه بن عمیر رحمه الله تعارف ۲۸٤
تعارف د عبد الله بن عتبه ۲۸۶
باب الرکوع - رکوع لغوی معنی او د رکوع د نه تکرار وجه ۲۸۷
د تولو ارکانو قریباً من السواء کیدو مطلب او سوال او جواب........ ۲۸۹
تنبیه الاخیار علی الاختلاف فی جمع الاذکار - فی الرکوع (درې اقوال)........ ۲۹۲
المسئلة الرابعة : حکم التسبیحات فی الرکوع والسجود........ ۲۹٤
په حالت د سجده کښې هر قسمه دعاء کول جواز لری........ ۲۹۷
په رکوع او سجده کښې د تسبیحاتو مقدار........ ۳۰۳
المسئلة : تکرار الاذکار فی الرکوع والسجود........ ۳۰٤
تعارف د سعید بن جبیر تفصیلاً........ ۳۰۷
تعارف د نعمان بن مره التابعی........ ۳۲۲
باب السجود وفضله- د سجدې لغوی معنی - اقسام السجده ۳۱۳
په اووه اندامونو سجده فرض ده او اقوال العلماء ۳۱٤
المسئلة الثانیة : د سجده علی الوجه والانف متعلق اختلاف او رد په احنافو........ ۳۱۶
په وریځ بزئی جانماز وغیره باندې مونځ ندې مکروه ۳۱۹
د جامو په راغوندولو کښې ذوه صورتونه دی دواړه ناجائز او ددې حکمت........ ۳۲۰
تعارف د عبد الله بن بحینه رضی الله عنه........ ۳۲۳
په سجده کښې دواړه خپې یو ځائې کول سنت دی ۳۲۵
د ربیعه بن کعب رضی الله عنه تعارف........ ۳۲۸

تعارف د معدان بن طلحه ۳۲۹
مسئله: سجدې ته د خکته کیدو په وخت به لاسونه مخکښې کوی او زنګنونه ۳۳۰
رکعت ته د پاڅیدو طریقه څه ده ؟ ۳۳٤
تعارف د عبد الرحمن بن شبل رضی الله عنه ۳۳۷
فائده بدیعه : په مانځه کښې د حیواناتو د مشابهتونو طریقې.. ۳۳۸
باب التشهد – دلته دوه مسئلې دی : الفاظ التشهد او فعل پدې کښې.. ۳٤۱
په التحیات کښې لاسونو کیخودو کښې دوه طریقې ۳٤۳
په مانځه کښې په تشهد کښې ګوته اوچتول سنت دی ۳٤٤
ګوته به د اول نه اوچتوی – دلائل ۳٤٤
د اشارې حکمتونه (٦).. ۳٤٥
المسئلة الثالثة : کیفیات قبض الاصابع فی الاشارة ـ د اشارې کیفیات (٤) ۳٤٦
المسئلة الرابعة : طرق الاشارة –خوزول او نه خوزول دواړه جائز دی ۳٤٦
کیفیة التحریك – څنګه ئې خوزوی.. ۳٤۷
٦– المسئلة السادسة : اشاره به د ښی لاس په ګوته کوی ۳٤۸
۷– المسئلة : په یوه ګوته به اشاره کوی.. ۳٤۸
۸– مسئله : اشاره په اوله قعده کښې شته او که نه ؟ اختلاف ۳٤۸
۹– د دوه سجدو ترمینځ اشاره شته او که نه ؟.. ۳٤۸
تعارف د عبد الله بن الزبیر رضی الله عنه ۳٤۹
السلام علیك ایها النبی نه د بریلیانو استدلال او جواب ۳٥۲
په آخر د مانځه کښې هر قسمه دعا غوختل جائز دی او رد د ابن ابی العز په احنافو.. ۳٥۳
الفاظ التشهد ۳٥٤
کوم تشهد په مانځه کښې لوستل غوره دی ؟ ۳٥٥
مسئله: آیا په اوله قعده کښې د عبده ورسوله نه زیادت کول صحیح دی ؟.. ۳٦۰
مسئله : آیا دعا په اوله قعده کښې وئیلې شی ؟.. ۳٦۱
مسئله : آیا په ابتداء د تشهد کښې بسم الله وئیل جائز دی ؟.. ۳٦۳
مسئله آیا په ګس لاس باندې اشاره کولې شی ؟ کله چه ښې لاس نه وی ۳٦٤
باب الصلاة علی النبی ﷺ وفضلها – د صلاة علی النبی حکم کښې اختلاف...... ۳٦٦
فائدة بدیعة د صلاة (درود) دپاره څلوېښت مقامات دی.. ۳۷۰
تعارف د عبد الرحمن بن ابی لیلی ۳۷۳

د كعب بن عجره رضى الله عنه تعارف ٣٧٣
مسئله : صلاة او سلام توقيفي دي او كه نه ؟ ٣٧٤
د آل مصداق او تعيين كښې مختلف اقوال دي (٤) ٣٧٥
د كما صليت په تشبيه باندې اشكال قوي او د هغې ازاله په لس جوابونو ٣٧٧
په درود كښې د سيدنا لفظ زياتولو حيثيت ٣٧٩
مسئله : درود غوره دې او كه عام اذكار؟ ٣٨٠
فائده : نبي عليه السلام ته درود د ملائكو په ذريعه رسي او هغه ئې نه اوري ٣٨٢
نبي عليه السلام ته د سلام په وخت د روح وپس كيدو اشكال او د هغې ازاله تفصيلاً ٣٨٢
لا تجعلوا بيوتكم مقابر مطلبونه او د قبر نه عيد جوړولو مصداق ٣٨٦
د درود وئيلو فضائل (٣٢) او غوره والې .... (٣٩١) ٣٩٠
باب الدعاء في التشهد ٣٩٩
د قرض نه د پناهي طلب كولو حكمت ٤٠٠
د مسيح الدجال وجه د تسميه ٤٠٢
د ابوبكر صديق رضى الله عنه تعارف ٤٠٤
د مانځه نه په وتلو كښې څو سلامونه دي ؟ ٤٠٥
المسئلة الثانية : كيفيات الفاظ السلام (٦) ٤٠٨
د سلام نه روستو مقتديانو ته راګرځيدل سنت طريقه ده او دې باره كښې سوال وجواب ٤١٠
د امام دپاره ځائے بدلول د مانځه نه پس ضروري دي او مقتديان به څه كوي ؟ ٤١٦
باب الذكر بعد الصلاة - آيا د مانځه نه بعد الله اكبر وئيل سنت دي؟ ٤٢٢
د تكبير نه څه مراد دې؟ ٤٢٣
المسئلة الثالثة : ذكر بالجهر دې او كه نه ؟ ٤٢٤
لم يقعد الا مقدار اللهم انت السلام الخ اشكال ٤٢٥
د سلام نه روستو به اول كوم ذكر كوي؟ ٤٢٩
د مانځه نه روستو د تسبيحاتو كيفيات (٦) ٤٣٢
مسئله : دعاء بعد الفرائض په هيئت اجتماعي څه حيثيت لري؟ ٤٣٤
اقوال العلماء في ذلك ٤٤١
تعارف د ازرق بن قيس ٤٤٥
تعارف د عبد الرحمن بن غنم رضى الله عنه ٤٤٨
فائدة نادرة : لا اله الا الله وحده لا شريك له الخ ذكر ډير قيمتي دې او ددې اوقات او فضائل ٤٤٩

باب ما لايجوز من العمل في الصلاة وما يباح منه ٤٥١
تعارف د معاويه بن الحكم رضي الله عنه ٤٥٢
تعريف د کاهن او عراف او رمال او کاهنانو ته د راتلو د منع حکمت ٤٥٥
په مانځه کښې د سلام جواب په اشارے سره جائز بلکه مستحب دے ٤٦١
د معيقيب رضي الله عنه تعارف ٤٦٢
په مانځه کښې د خصر (تشي باندے لاس کيخودو) د منع حکمتونه ٤٦٣
په مانځه کښې التفات (اخوا ديخوا) کتل په څلور قسمه دي ٤٦٤
تعارف د امامه بنت ابي العاص ٤٦٧
په مانځه کښې د ماشوم پورته کولو کښې اختلاف - د امام نووي تحقيق ٤٦٨
مسئلة مهمة : عمل کثير څه ته وائي ؟ ٤٧١
فائده : په مانځه کښې حرکت په څلور قسمه دے ٤٧٣
د تثاؤب (خوله وازي) د دفعه کولو (٥) طريقے ٤٧٤
جنات موجود دي او هغوي په خپل عنصري شکل باندے باقي نه دي ٤٧٧
د تصفيق او تصفيح فرقونه ٤٧٨
که څوک تصفيق اونکړي نو څه حکم به وي ٤٧٩
آيا د تسبيح په ځائے نور اذکار کفايت کوي؟ ٤٧٩
المسئلة الرابعة : حکم التصفيق والتسبيح ٤٨٠
په مانځه کښې د سلام جواب ورکول د لاس په اشاره سنت عمل دے ٤٨٢
تعارف د صهيب رضي الله عنه ٤٨٣
د تشبيك د نهي حکمت - اشکال قوي او د هغے ازاله ٤٨٦
مسئله : د التفات څه حکم دے ؟ ٤٨٨
مسئله : مونځ کونکے به په مانځه کښې کوم ځائے ته گوري او رد په احنافو ٤٩٠
تعارف د مطرف بن عبد الله الشخير ٤٩٤
مسئله : په تأوه، انين او بکاء سره مونځ آيا خرابيږي ؟ ٤٩٤
باب السهو - د سهو لغوي معني او د سهو او نسيان او خطاء فرقونه (٤) ٥٠٥
اوله مسئله : حکم سجود السهو ٥٠٦
دويمه مسئله : سجده سهو بعد السلام ده که قبل السلام ؟ (١٠) اقوال ٥٠٦
مسئله رابعه : سجده سهو دپاره دوه سلامونه دي او که يو ؟ ٥٠٩
د شك په صورت کښې د سجدے په باره کښې اختلاف ٥١٢

د شپږم رکعت ضم کولو مسئله غلطه ده ۵۱۵
د تحري او د شك فرق او شوافع تحري نه منی نو تاويلونه کوی ۵۱۷
د ابن سيرين تعارف ۵۱۹
په مانځه کښې د مانځه د اصلاح خبرې جائز دی ۵۱۹
د ذو اليدين حديث کښې احکام او فوائد او د ذو اليدين نوم او په دې باره کښې اختلاف ۵۱۹
تعارف د عبد الله بن بحينه رضی الله عنه ۵۲٤
آيا سجده سهو نه پس تشهد وئيل شته ؟ ۵۲۵
دريم رکعت ته نيغ اودريدو نه پس به نه راګرځی ليکن که راوګرځی نو بيا ؟ ۵۲۷
مسائل تتميم الباب – مسئله : سجده سهو په کومو ځيزونو لازميږی ؟ ۵۲۹
مسئله ثانيه : په کومو صورتونو کښې سجده سهو راځی ۵۳۰
مسئله ثالثه : په کومو صورتونو کښې سجده سهو نه کيږی؟ ۵۳۱
باب سجود القرآن – حکم سجود القرآن الوجوب وهو الظاهر ۵۳۳
مسئله : آيا سجده د تلاوت دپاره اودس، استقبال الی القبله او نور شرائط ضروری دی؟ ۵۳٤
مسئله : که يو انسان د ګڼړوالی په وجه د سجدې ځائے اونه مومی نو څه به کوی؟ ۵۳۷
مسئله : کله چه لوستونکے سجده اونکړی نو آيا په اوريدونکی باندے شته ؟ ۵۳۸
مسئله : آيا په غير اختياری آيت د سجدے اوريدو باندے سجده شته ؟ ۵۳۸
عزائم السجود کوم دی ؟ ۵٤۰
مسئله : آيا په رکوع کښې سجده مجزی کيږی ؟ ۵٤۱
د سجدو التلاوة په شمار او عدد کښې اختلاف ۵٤۱
په سورة الحج کښې دوه سجدے ضروری دی او د هغې دلائل ۵٤۳
د سجده تلاوت طريقه کښې اختلاف ۵٤۵
باب اوقات النهی – د اوقات مکروهه په عدد کښې اختلاف ۵۵۱
د اوقات مکروهه کښې د عبادت کولو د نهی حکمتونه ۵۵۲
جنازه په اوقات مکروهه کښې جائز ده او که نه ؟ ۵۵۵
تعارف د عمرو بن عبسه رضی الله عنه ۵۵۷
تعارف د کريب، د مسور بن مخرمه او د عبد الرحمن بن الازهر ۵٦۰
مسئله : منيحة الفطر فی جواز الرکعتين بعد العصر – او د دې دلائل ۵۷۳ ۵٦۲
تعارف د محمد بن ابراهيم او تعارف د قيس بن عمرو ۵٦۵
مسئله : د سحر سنتو قضاء د مانځه نه بعد شته او که نه؟ دلائل د جواز ۵٦۵

په حرم مکي کښې مکروه وخت شته او که نه؟ ... ۵٦۷
آيا د جمعې مونځ د زوال په وخت کيږي او که نه؟ اختلاف ... ۵٦۹
تعارف د ابو الخليل او تعارف د ابوقتاده رضی الله عنه ... ۵۷۰
تعارف د عبد الله الصنابحی رضی الله عنه او دده په نوم کښې اختلاف ... ۵۷۰
تعارف د ابوبصرة الغفاري رضی الله عنه ... ۵۷۱
اختتام الکتاب ... ۵۷٤

